د میرویس اباسین لخوا سکین شو

# عزیز التفاسیر

د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر

ابو حذیفه

مولوي سلطان عزیز عزام

ناشر

دار الكنوز العلمية

Downloaded from: bawarketabtoon.com

بسم الله الرحمن الرحیم

- د دې کتاب لیکنه د الله ﷻ په توفیق په دار الهجرة (پېښور - پاکستان) کې په ۱٤۱۱/۲/۳ هـ ق = ۱۳٦۹/٦/۲ هـ ش نیته د جمعې د شپې په دوه بجو پیل، او په ۱٤۲٦/٤/۱۲ هـ ق = ۱۳۸٤/۱/۳۱ هـ ش نیته پای ته ورسیده.
- په ۱٤۲۹/۱/۱ هـ ق= ۱۳۸٦/۱۰/۲۰ هـ ش نیته یې بیا کتنه، تصحیح او ډیزاین ترسره شوه او د الله ﷻ په فضل چاپ ته چمتو شو.
- له شروع نه تر پایه وربانديې اوولس کاله، څلور میاشتې او اوولس ورځې تیرې شوي، البته په دې حساب کې هره میاشت د دیرشو ورځو په لحاظ نیولې شوې ده.
- کمپوز: مولوي تبیان الحق عزیز حقاني. تصحیح: قاضي اسامه عزیز، د (دکتور اظهار الحق عزیز، نبراس الحق عزیز او حذیفه عزیز) په همکارۍ. ډیزاین: نبراس الحق عزیز، د حذیفه عزیز په همکارۍ.

# څلورم چاپ

## ۱٤۳۷ هـ ق / ۱۳۹۵ هـ ش


## د دې کتاب ټول حقوق محفوظ دي



د اړیکو پتې:

۱) برېښنالیک: azizultafasir@gmail.com

۲) ګرځنده تلفون: (۰۰۹۲۳۰۰۵۸٤٦۳۵۱)، (۰۰۹۲۳۱٦۵۲۷۹۳۰۳)



د لاسته راوړلو پتې:

۱) رشیدیه کتب خانه، کابل، افغانستان.

ګرځنده تلفون: (۰۷۷۱۹٦۱۰۲۸)، (۰۷۹۰۹٦٤۲۸۰۷)

۲) رشیدیه کتب خانه، صدف پلازه، محله جنګي، د قصه خواني شاته، پېښور، پاکستان.

تلفون: (۰۹۱۲۵٦٥٥۳۸)


Downloaded from: bawarketabtoon.com



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدۡ جَآءَتۡكُم مَّوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡ وَشِفَآءٞ لِّمَا فِي ٱلصُّدُورِ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ۝٥٧ قُلۡ بِفَضۡلِ ٱللَّهِ وَبِرَحۡمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلۡيَفۡرَحُواْ هُوَ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ ۝٥٨ ﴾

[۵۷] ای خلکو! یقینًا تاسو ته د خپل رب ﷻ د پلوه وعظ (نصیحت) درغلی دی او (هم) د هغو (مرضونو) دپاره شفا (درغلې ده) کوم چې په زړونو کښې (تحقق) مومي، او (هم) هدایت (د دنیا او آخرت لاربښوونه درغلې ده) او (بالآخره تاسوته) خاص د مؤمنانو دپاره رحمت (درغلی دی چې همدوی ترې استفاده کوي).

[۵۸] (ای پیغمبره! خلکو ته د الله ﷻ د پلوه) ووایه چې: خاص د الله ﷻ په فضل او خاص د الله ﷻ په رحمت باندې (دې دوی خوښ او خوشاله شي، نه په دنیاوي ثروتونو باندې).

(بیا ورته ووایه چې که دوی خوښېږي) نو خاص په همدغه (مذکور فضل او رحمت) باندې دې خوښ (او خوشاله) شي. (ځکه چې) دا د هغو شیانو څخه بهتر دی کوم چې دوی یې راغونډوي.

## ارتباطونه

۱_ وړاندې ایتونه د الله ﷻ د وحدانیت او د قیامت د ورځې د اثبات پورې مربوط وه. او په دې ایتونو کښې د نبي کریم ﷺ د رسالت اثبات ته اشاره شوې ده، چې لومړنی دلیل یې قرآن کریم دی.

۲_ هلته د دنیا بې ارزښتي بیانه شوې ده چې د فدیه ګرځولو په توګه یوه کافر ته هم د عذاب الخلد څخه نجات نه شي ورکولی. او دلته د قرآن کریم ارزښت او اهمیت ته اشاره شوې ده چې د ذکر شوي عذاب څخه د خلاصون یوازینی لاره ده او بس.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! ټول خلک مخاطب کړه چې: ای خلکو! تاسو ته د خپل رب ﷻ د پلوه ستاسو د تربیه کولو او د عذاب الخلد څخه د نجات درکولو دپاره یو عظیم الشان کتاب درغلی دی څو تاسو ترې دنیاوي او اخروي استفادې وکړئ. دا کتاب لاندې صفات لري:

۱_ دا کتاب د یو پلوه ستاسو په خیر غوښتنه او نصیحتونو باندې ډک دی او د بله پلوه پکښې د عذاب الخلد څخه د خلاصون لاره نغښتې ده چې ډېره په اسانه ترې ځانونه بچ کولی شئ.

۲_ دا کتاب د هغو ټولو مرضونو دپاره ښه کافي شافي دوایي ده په کومو باندې چې ستاسو زړونه مریضان دي او یا مریضان کېږي، لکه: کفر، نفاق، عناد، حسد، چغلګري او داسې نور.

۳_ دا کتاب تاسو ته د دنیا د مشکلاتو حل لارې هم ګرځندوي او د آخرت مشکلات مو هم په همدې کتاب باندې حل کېږي. دا کتاب ستاسو دپاره د دواړو دنیاوو رڼا ده.

۴_ بالآخره دا کتاب د ټولو عالمونو دپاره رحمت دی. ترڅو چې په دې کتاب باندې عمل د خینو خلکو د پلوه روان وي نو دا دنیا به نه ورانېږي که څه هم ټول خلک یې عملي نه کړي. په

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خاصه توګه د مؤمنانو دپاره ډېر لوی رحمت دی چې دوی ترې د دنيا او آخرت استفاده کوي، نو په تلاوت باندې يې اجرونه او ثوابونه لاس ته ور وړي او په عمل باندې يې مشکلات حل کوي.

ای پيغمبره! کله چې دا کتاب (قرآن کريم) ذکر شوي صفات لري نو خلکو ته يو ځل بيا دا خبره اعلانه کړه چې دوی دې د الله ﷻ په همدغه فضل او په همدغه رحمت باندې خوشاله شي او په دنياوي مالونو اوثروتونو باندې دې نه خوشالېږي او نه دې ورباندې غولېږي. او دا ځکه چې دغه شيان دوی ته په دنيا کښې دوام نه په برخه کوي او په آخرت کښې د عذاب الخلد څخه نجات نه شي ورکولی.

## توضيحات

۱ـ د دغو څلورو کلمو ﴿ مَّوْعِظَةٌ ﴾، ﴿ شِفَآءٌ ﴾، ﴿ هُدًى ﴾، ﴿ رَحْمَةٌ ﴾ معناوې واضحه دي او ټولې په قران کريم کښې موجوديت لري، خو مونږ فقط لاندې وضاحت ورکوو چې:

الف: ﴿ مَّوْعِظَةٌ ﴾، ﴿ شِفَآءٌ ﴾ په تخليه پورې اړه لري چې عملاً اوعقيدةً پرې خلک د بديو او ناجائزه کارونو څخه خلاصېږي.

ب: ﴿ هُدًى ﴾، ﴿ رَحْمَةٌ ﴾ په تحليه باندې دلالت کوي چې د بديو څخه په خلاصون باندې علاوه، خلک پرې خپل ځانونه ښائسته کړي. او دا خو څرګنده ده چې تخليه په تحليه باندې مخکښې وي نو ځکه د قرآن کريم څلور واړه صفات په ذکر شوي ترتيب سره نازل کړی شوه، والله ﷻ أعلم.

۲ـ ځينو مفسرينو کرامو[1] د دې کلماتو ﴿ بِفَضْلِ ٱللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِۦ ﴾ دپاره په دې مقام کښې اته ډوله تفسيرونه ليکلي دي. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: "فَضْل الله" د اسلام څخه عبارت دی او "رَحْمَتَه" د قرآن کريم معنی ورکوي.

ب: " فَضْل الله" علم دی او "رَحْمَته" محمد ﷺ دی.

ج: " فَضْل الله" قرآن کريم دی او "رَحْمَته" د نبي کريم ﷺ سنت (احاديث) دي، او داسې نور.

زمونږ په فکر ذکر شوې دواړه کلمې که څه هم د مفهوم په اعتبار سره يوه د بلې څخه جدا ده مګر په مصداقاتو کښې سره دواړه متحدې دي. کوم شی چې د الله ﷻ رحمت وي هغه د الله ﷻ فضل هم دی او کوم شی چې د الله ﷻ فضل دی هغه يې رحمت هم دی. شايد چې علماوو کرامو به يې يو يو مصداق د مثال په توګه ذکر کړی وي او حصر به يې مطلب نه وي.

﴿ قُلْ أَرَءَيْتُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ لَكُم مِّن رِّزْقٍ فَجَعَلْتُم مِّنْهُ حَرَامًا وَحَلَٰلًا قُلْ ءَآللَّهُ أَذِنَ لَكُمْ أَمْ عَلَى ٱللَّهِ تَفْتَرُونَ ﴿٥٩﴾ وَمَا ظَنُّ ٱلَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٦٠﴾ ﴾

(۱) زاد المسير ج۴ ص۳۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵۹] (ای پیغمبره! کفارو ته) ووایه چې: ماته خبر راکړئ ایا هغه شی چې الله ﷻ ستاسو دپاره (د غیبو څخه) نازل کړی (پیدا کړی) دی چې د روزۍ څخه عبارت دی، نو (تاسو په دوه برخو ویشلی دی چې) څینې مو ترې حرام ګرځولي دي او څینې مو (ترې) حلال (ګڼلي دي). ورته ووایه چې ایا الله ﷻ تاسو ته (په دې کار کښې) اذن کړی دی، یا په الله ﷻ باندې دروغ تړئ؟ (بلکې تاسو په الله ﷻ باندې دروغ تړئ).

[۶۰] او د هغو کسانو څه ګومان دی (چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي، چې الله ﷻ به) د قیامت په ورځ (ورسره څه وکړي؟ الله ﷻ به یې د عذاب الخلد سره مخامخ کړي).

(او دا څکه چې) یقیناً الله ﷻ په (ټولو) خلکو باندې (په دنیا کښې) د فضل خاوند دی (چې قرآن کریم یې وراستولی دی) مګر اکثره خلک شکر نه وباسي (او دستور العمل یې نه ګرځوي).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې ټول خلک پوه کړی شوي وه چې قرآن کریم ستاسو دپاره د دنیا او آخرت هدایت او لاربښود دی. په دې ایتونو کښې د کفارو خلکو عکس العمل ته اشاره شوې ده چې د هدایت لاره یې پرېښې ده او د تحلیل او تحریم حق یې خپلو ځانونو ته ورکړی دی او په دې باندې علاوه د قرآن کریم د خوښولو په عوض یې دنیائي مال او ثروت خوښ کړی دی.

## د مطلب خلاصه

یعني: ای پیغمبره! هغه کفار (مشرکان) مخاطب کړه او پوښتنه ترې وکړه کومو چې دنیاوي مال او ثروت خوښ کړی دی او په خپلو مالونو کښې پرته د قرآني هدایت څخه تصرف کوي، داسې پوښتنه چې:

۱ـ کومه روزي چې الله ﷻ تاسو ته د غیبو څخه پیدا کړې ده، چې د اسمانه یې اوبه نازلې کړې دي او د ځمکې څخه یې وربانديې نباتات او باغونه راشنه کړي دي، دا راته ووایاست چې ایا دا کارونه تاسو پخپله کړي دي او که د الله ﷻ څخه په غیر بل چا ترسره کړي دي؟.

نو دوی به ضرور جواب درکړي او ایا به په خپلو زړونو کښې جواب وکړي چې: زمونږ او زمونږ د څارویو روزي یوازې د الله ﷻ په اختیار کښې ده او بس.

۲ـ بیا ترې پوښتنه وکړه او ورته ووایه چې ایا هغه د تحلیل او تحریم قانون د الله ﷻ د پلوه دي کوم چې تاسو په خپلو مالونو او خپلو څارویو کښې د اجراء لاندې نیولي دي، او که تاسو د خپله ځانه جوړ کړی دی چې د بوتانو په نامه سره په خپلو ځانونو باندې په لوی لاس حلاله روزي حرامه ګرځوئ؟

د دې پوښتنې هم بل جواب نشته بې د دې چې: ذکر شوی قانون د الله ﷻ د پلوه نه دی، بلکې مونږ د خپله ځانه جوړ کړی دی.

۳ـ که دوی جواب درکړي چې ذکر شوی قانون الهي قانون دی نو بیا ورته ووایه چې الهي قانون هغه دی کوم چې د پیغمبرانو علیهم السلام په لاس باندې رالېږل شوی وي نو که تاسو په خپل لاس جوړ

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړی شوي قانون ته د الهي قانون لقب ورکوئ نو دا راته ووایاست چې:

ایا الله ﷻ تاسو ته اجازه کړې ده چې دغسې قانون جوړ کړئ، او که په الله ﷻ باندې دروغ تړئ او په خپل بشري قانون باندې د الهي قانون نوم ږدئ؟

د دې پوښتنې هم بل جواب نشته بې د دې څخه چې دا په الله ﷻ باندې افتراء کول دي. او دا ځکه چې د دوی په لاس کښې هیڅ دلیل او حجت نشته چې د هغه په استناد د خپلو مفتریاتو نسبت الله ﷻ ته وکړی شي.

۴ـ ای پیغمبره! د ذکرو شوو درېوو منفي جوابونو سره-سره مشرکان (کفار) د خپل باطل دریځ څخه لاس نه اخلي او په الله ﷻ باندې خپلو دروغو تړلو ته ادامه ورکوي. نو د دوی څه ګومان دی چې الله ﷻ به ورسره د قیامت په ورځ څه وکړي؟ ایا د کفریاتو څخه به ورتېر شي؟ ایا د عذاب الخلد څخه به نجات ورکړي؟

هلته به الله ﷻ دوی د دائمي عذاب سره مخامخ کړي او د کفریاتو او جنایاتو د بښنې فضل به پرې ونه کړي. ځکه چې الله ﷻ خو په خلکو باندې په دنیا کښې د لوی فضل خاوند دی، چې هغه قرآن کریم یې نازل کړی دی کوم چې په تېر شوي ایت کښې یې څلور ګوني صفات بیان شوي دي، او هم یې خلکو ته توصیه کړې ده چې دنیا ته مه خوشالېږئ بلکې د الله ﷻ فضل او رحمت ته خوشاله شئ: خو افسوس چې د خلکو اکثریت ناشکره دی او قرآن کریم خپل دستور العمل نه جوړوي.

## توضیحات

۱ـ مشرکانو چې په خپلو ځانونو باندې کوم حلال رزقونه د بوتانو په نامه باندې حرام کړي وه. د هغو ډېر مثالونه د الأنعام په سورت کښې تېر شوي دي او څلورو مثالونو ته یې په [المائدة:۱۰۳] ایت کښې هم اشاره شوې ده. هملته دې وکتلی شي.

۲ـ په ذکرو شوو ایتونو کښې د ﴿ قُلْ ﴾ کلمه دوه ځله نازله شوې ده چې دوهم ځل د اول ځل دپاره د تاکید معنی ورکوي او د دواړو دپاره دا جمله ﴿ ءَآللَّهُ أَذِنَ لَكُمْ أَمْ عَلَى ٱللَّهِ تَفْتَرُونَ ﴾ مقوله واقع شوې ده. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې ای پیغمبره! مشرکانو ته ووایه او ښه په کلکه ورته ووایه چې ایا تاسو د خپلو روزیو (حرامو او حلالو ته) وېشل د الله ﷻ په اجازه باندې کوئ او که په الله ﷻ باندې دروغ تړئ؟.

﴿ وَمَا تَكُونُ فِى شَأْنٍ وَمَا تَتْلُواْ مِنْهُ مِن قُرْءَانٍ وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ ۚ وَمَا يَعْزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِى ٱلسَّمَآءِ وَلَآ أَصْغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرَ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٦١﴾ ﴾

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۱] او (ای پیغمبره!) ته په یو مهم کار کښې نه کېږې (نه مشغولېږې) او ته د مهم کار د کبله د قرآن کریم څه (ایتونه) نه لولوې (مګر مونږ په تا باندې حاضر یاستو). او (ای خلکو!) تاسو (هم) هیڅ عمل نکوئ (پرې نه مشغولېږئ) مګر مونږ په تاسو باندې په هغه وخت کښې هم حاضر یاستو کله یې چې تاسو کوئ (په کولو یې پیل کوئ او انجام ته یې رسوئ او یا یې په منځکښې پرېږدئ).
او (ای پیغمبره!) ستا د رب ﷻ څخه د یوې ذرې په اندازه (کوم شی) نه په ځمکه کښې غائب کېدلی شي او نه په اسمان کښې. او د دغې (ذرې) څخه نه وړوکی شی شته او نه ترې لوی (شته) مګر په روښانه کتاب (لوح محفوظ) کښې (لیکل شوی) دی.

## ارتباطونه

۱_ په وړاندېنیو ایتونو کښې دا مضمون هم تېر شوی وه چې د مفتریانو څه خیال دی چې الله ﷻ به د قیامت په ورځ ورسره څه وکړي. په دې ایتونو کښې د الله ﷻ د علم او پوهې عمومیت بیان شوی دی چې یوازې مفتریان نه بلکې د هرچا سره به د خپل علم په مطابق چال چلند وکړي.
۲_ هغه ایتونه په دې باندې ختم شوي وه چې د خلکو اکثریت ناشکره او اقلیت یې شاکران دي. دلته د دغو دواړو ډلو (ناشکرانو او شاکرانو) سزا او جزا ته اشاره شوې ده، چې د الله ﷻ څخه د هیچا حال پټ نه دی.

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس نو د شاکرانو او ناشکرو حالات په لاندې ټکو کښې په خلکو باندې قرائت کړه څو دوی د دنیاوي ژوند په نتیجه باندې ښه پوه شي.
۱_ ای پیغمبره! ته چې په هر عالي شان کښې مشغول یې، چې یا د خلکو په لاربنودانه کښې مصروف یې او یا سوچونه او فکرونه وهې چې په څه ډول به کفار د ضلالت څخه خلاص کړې او د جنت په لور به یې روان کړې، ستا دا ټولې هلې ځلې مونږ ته معلومې دي.
همدارنګه ستا هغه عالي شان هم زمونږ څخه پټ نه دی په کوم کښې چې ته په خلکو باندې په ډېر اخلاص او په ډېر صمیمیت سره د قرآن کریم ایتونه تلاوت کوې او د الله ﷻ دین ته د خلکو دعوت کوې.
۲_ همدارنګه زمونږ د پلوه ـبالمقابلـ خلک مخاطب کړه چې په دنیا کښې ستاسو ټول کړه وړه مونږ ته څرګند دي، ستاسو هیڅ عمل نه دی (برابره خبره ده چې نېک وي او که بد) مګر هغه زمونږ څخه غائب نه شي جوړېدلی.
یا په بل عبارت: تاسو هر عمل زمونږ په وړاندې پیل کوئ او زمونږ په وړاندې یې انجام ته رسوئ، مګر دا بېله خبره ده چې څوک زمونږ څخه ډارېږي او څوک نه ډارېږي.
۳_ ای پیغمبره! ستا د رب ﷻ څخه نه په ځمکه کښې او نه په اسمان کښې د یوې ذرې په اندازه څه شي پټېدلی شي او نه ترې غائب کېدلی شي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴ـ په دغه شامل او کامل علم باندې د پاسه، نه په دنیا کښې د یوې ذرې څخه کوچنی کوم شي شته او نه ترې لوی څه شي موجودیت لري مګر دغه ټول په روښانه کتاب یعنې لوح محفوظ کښې ساتلی شوی دی.

لنډه دا چې ستاسو ټول کړه وړه مونږ ته څرګند دي او زمونږ سره برسېره په لوح محفوظ باندې ستاسو په اعمال نامو کښې ثبت هم دي. نو د قیامت په ورځ به هر چاته د هغه د حال سره مطابقه سزا یا جزا ورکړو.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ ﴾ جمله کښې الله ﷻ د نبي کریم ﷺ د کارونو او اعمالو څخه د ﴿ شَأْنٍ ﴾ په کلمې سره تعبیر وکړ، او د نورو خلکو کارونو ته یې د ﴿ وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ ﴾ جمله نازله کړه او په اعمالو سره یې تعبیر کړه.

دا ځکه چې "شَأْن" په هغه کار او هغه عمل کښې استعمالېږي چې ډېر اهمیت ولري او د لوړ مقام خاوند وي[۱] او پوره واضحه ده چې د نبي کریم ﷺ هر یوه عمل او هر یوه کار لوړ مقام درلود چې د قیامت د ورځې پورې ترې ټول امت د رڼا استفاده کوي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې د ﴿ وَمَا تَتْلُوا۟ مِنْهُ مِن قُرْءَانٍ ﴾ په جمله کښې د ﴿ مِنْهُ ﴾ ضمیر څه شي ته راجع دی؟

مونږ وایو چې: د دغه ضمیر په مرجع کښې علماوو کرامو ښه اوږد بحث کړی دی او څو متعدد مراجع یې ورته ښودلي دي[۲]. مګر کوم شی چې مونږ ته بې تکلفه په زړه پورې برېښي هغه دا دی چې ذکر شوی ضمیر ﴿ شَأْنٍ ﴾ ته راجع دی او د "مِنْ" توری پکښې اجلیه دی[۳].

نو د معنی حاصل یې داسې راوخي چې: ای پیغمبره! ستا کړه وړه زمونږ څخه پټ نه دي، نو ته په هیڅ مهم کار کښې مشغول نه یې او نه د باارزښته کار له کبله څه قرآن کریم لولوي (قرائت کوي) مګر مونږ په هغه باندې حاضر یاستو، چې کار دې ګورو او قرائت دې اورو.

## افاضه څه معنی؟

۳ـ د ﴿ تُفِيضُونَ ﴾ کلمه د "إِفَاضَة" څخه اشتقاقه شوې ده. "إِفَاضَة" خو اصلاً د اوبو د توېولو نوم دی، لکه چې عربان وایي: "أَفَاضَ إِنَاءَهُ"[۴] په خپل لوښي باندې یې اوبه ورتوی کړې یعنې د اوبو څخه یې دومره ډک کړ چې په څنډو باندې یې ښکته توی شوې.

---

(۱) روح المعاني ج۱۱ ص۱۴۳، مفردات الراغب ص۱۶۰
(۲) البحر المحیط ج۶ ص۷۹: التفسیر الکبیر ج۱۷ ص۱۲۲
(۳) المحرر الوجیز ج۹ ص۶۰
(۴) مفردات الراغب ص۴۰۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو[۱] د ﴿ تُفِيضُونَ ﴾ کلمه په "تَعْمَلُونَ" سره ترجمه کړې ده. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې ای خلکو! ستاسو هیڅ عمل هم زمونږ ځخه نه شي غائب کېدلی، مونږ ورباندې په هغه وخت کښې هم حاضر یاستو چې تاسو ورباندې پیل کوئ او په هغه وخت کښې هم چې تاسو د عمل لاندې نیولي وي او بالآخره په هغه وخت کښې هم چې انجام ته یې ورسوئ او فراغت ترې حاصل کړئ.

﴿ أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ﴿٦٣﴾ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ ۚ لَا تَبْدِيلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٦٤﴾ ﴾

[۶۲] خبردار! یقینًا د الله ﷻ دوستان چې دي نه په دوی باندې (د الله ﷻ د پلوه) ډار شته او نه به دوی (د الله ﷻ د پلوه) غمژن شي.

[۶۳] (أولیاء الله) هغه کسان دي چې ایمان یې راوړی وي، او وي دوی چې (د مناهیو ځخه) پرهېزګاري کوي.

[۶۴] د همدوی دپاره په نژدې (حقیر) ژوند کښې زېری (خوشالي) ده او په آخرت کښې هم (د دوی دپاره زیری اوخوشالي ده). د الله ﷻ کلماتو (خبرو او وعدو) ته هیڅ بدلول نشته. دغه چې ده همدا لویه کامیابي ده.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ د خپل کامل علم شمولیت بیان کړی وه چې نه د متقیانو او دوستانو کړه وړه د الله ﷻ ځخه پټېدلی شي او نه د جنایتکارانو او دښمنانو جنایات ترې ځنګ کولی شي. په دې ایتونو کښې یې د یو پلوه خپل دوستان معرفي کړي دي او د بله پلوه یې د کامل علم په بنیاد د دوی نېکه جزا ټاکلې ده.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! الله ﷻ په هر شي باندې پوهېږي، نه ترې د دوستانو نېک اعمال پټ دي او نه ترې د دښمنانو جنایات پټېدلی شي. په دې باندې علاوه د الله ﷻ په نومونو کښې یو نوم شاکر دی چې د هیچا عمل نه ضائع کوي. نو په همدې بنیاد خپل امت ته لاندې نکات اعلان کړه او په ډاګه خبر ورکړه چې:

۱ـ خبردار! د الله ﷻ په دوستانو باندې نه د الله ﷻ د پلوه ځه ډار شته او نه به دوی غمژن شي.

(۱) تفسیر الطبري ج۱۱ ص۱۲۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هو! که دوی د خپلې کمزورۍ له کبله په ډار یا غم کښې واقع شي نو هغه بېله خبره ده.

۲_ د الله ﷻ دوستان هغه خلک دي کومو چې ایمان راوړی وي او پرهېزګاري کوي (د شرک او کفریاتو او هم د ګناهونو څخه ځانونه ساتي) او هم خپل ایمانونه په صالحه اعمالو سره ښائسته کوي.

۳_ د الله ﷻ په نزد د ذکرو شوو دوستانو دپاره هم په دنیا کښې خوشالي او بشارت دی چې په زړونو باندې به یې سکینه ورنازله کړي او د اضطراب او وارخطایي څخه به یې بچ وساتي او هم به د خوشالۍ خوبونه ګوري. او همدارنګه به په آخرت کښې هم د خوشالیو او بشارتونو سره مخامخ شي چې د زنکدن څخه به یې بشارتونه پیل شي او په اطمنان سره به جنت ته ور داخل شي.

۴_ ذکر شوي اجرونه او ثوابونه د الله ﷻ د پلوه دي. د الله ﷻ په وعدو کښې تبدیل نشته، نه څوک تغیر ورکولی شي او نه یې څوک د پوره کولو مخه نیولی شي.

۵_ ای پیغمبره! دغه ده ډېر لویه کامیابي، چې فنا وربانديې نه ورځي.

## توضیحات

۱_ د ﴿ أَوْلِيَآءَ ﴾ کلمه د "وَلِيّ" د کلمې جمعه ده چې د "وَلْي" _لکه "ضَرْب" _ څخه اشتقاقه شوې ده.

"وَلْي" اصلاً د نژدېکت معنی ورکوي[1] برابره خبره ده چې نژدېکت په مکان کښې وي او که په زمان کښې، په نسب کښې وي او که په دین کښې، بالآخره په صداقت کښې وي او که په نصرت کښې.

مګر په اکثره وختونو کښې ذکره شوې کلمه د "عَدُوٌّ" (دښمن) د کلمې په مقابل کښې استعمالېږي، چې په دې تقدیر د محب (دوست) یا محبوب (ګران) څخه عبارت ګڼله کېږي[2].

۲_ لکه څنګه چې مؤمنان د الله ﷻ اولیاء دي همدارنګه الله ﷻ هم د مؤمنانو ولي دی، لکه چې فرمایي: ﴿ ٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ [البقرة: ۲۵۷] یعنې الله ﷻ د هغو کسانو ولي دی چې ایمان یې راوړی وي.

## اولیاء الله څوک دي؟

۳_ ټول خلک په دوه وو ګروپونو باندې ویشلی شوي دي، چې یو ګروپ اولیاء الله دی او بل ګروپ اولیاء الشیطان دی.

الله ﷻ مونږ ته د اولیاوو ګروپ راوپېژاند چې د هغې ډلې څخه عبارت دی چې ایمان یې راوړی وي او هم تقوی دار وي. نو بالمقابل اولیاء الشیطان د هغې ډلې څخه عبارت شو چې ایمان یې نه وي راوړی او د الله ﷻ څخه نه ډارېږي یعنې تقوی نه لري. نو د اولیاء الله په ګروپ کښې د شمول دپاره اساسي شرط تقوی او پرهېزګاري ده.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۵۷۰

(۲) تفسیر القاسمي ج۹ ص۴۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې اشاره کړې ده چې: «مُؤْمِنٌ تَقِيٌّ وَفَاجِرٌ شَقِيٌّ»[١] يعنې: خلک ټول په دوه ګروپه باندې ويشلي شوي دي چې يو تقوی دار مؤمن دی او بل جنايتکار بدبخته دی.

## د تقوی مراتب او درجات

۴ـ مونږ د [البقرة:٢] ايت لاندې ليکلي دي چې تقوی متعددې مرتبې لري. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: چې سړی د شرک او کفر څخه تقوی وکړي.

ب: چې د کبيره ګناهونو څخه ځپل ځان وساتي.

ج: چې د صغيره ګناهونو څخه هم پرهيز وکړي.

د: چې په نېکو اعمالو کښې د کم اخلاصۍ څخه ځپل ځان وژغوري. او داسې نور.

نو لکه څنګه چې تقوی مختلفې درجې لري همدارنګه په أولياء الله وو کښې هم مختلف درجات شته دی.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي: چې کله د أولياء الله وو په ډله کښې د شمول دپاره تقوی شرطه شوه نو په کار دي چې په دغې ډله کښې مجانين (ليونيان) او ماشومان شامل نه شي، ځکه چې دوی نه په تقوی پوهېږي او نه تقوی پېژني. حال دا چې دوی خو د أولياء الشيطان په ډله کښې هم شامل نه دي؟

مونږ وايو چې: ځينو علماوو کرامو خو دوی يوه منځنۍ ډله ګڼلې ده چې نه په أولياء الله وو کښې شامله ده او نه د أولياء الشيطان په ډله کښې شموليت لري[٢]. مګر زمونږ په نزد ذکر شوي کسان حکمًا د أولياء الله وو د ګروپ څخه شمېرل کېږي. نو لکه څنګه چې دوی حکمًا ايمان درلودونکي دي همدارنګه د حکمي تقوی څخه هم خالي نه دي. نو په دې تقدير بايد په ﴿ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ﴾ کښې تقوی عامه واخستله شي چې حقيقي تقوی او حکمي تقوی دواړو ته شامله شي.

لنډه دا چې د ليونيان او ماشومانو په شمول ټول مؤمنان أَوْلِيَاءُ الله دي[٣]، که نوره هيڅ تقوی ونلري نو دا تقوی خو لري چې د کفر څخه يې پرهيز کړی دی او په ايمان باندې مشرف شوي دي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۶ـ که څوک وايي چې: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «خِيَارُكُمُ الَّذِينَ إِذَا رُءُوا ذُكِرَ اللهُ»[۴] ستاسو

---

(١) سنن ابي داؤد ج٢ ص٣۴١

(٢) تفسير القاسمي ج٩ ص٩۴

(٣) تفسير الطبري ج١١ ص١٣٢

(۴) سنن ابن ماجه ص٣٠٣

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غوره هغه کسان دي چې کله دوی ولیدل شي نو الله ﷻ یادول کېږي (یعني خلکو ته د دوی په لیدلو سره الله ﷻ وریادېږي).

او په څینو روایاتو کښې شته چې د نبي کریم ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې: «يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَنْ أَوْلِيَاءُ اللهِ» یعني: ای د الله ﷻ پیغمبره! أولیاءُ الله څوک دي؟ نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: «الَّذِيْنَ إِذَا رُؤُوْا ذُكِرَ اللهُ»[۱] یعني: هغه کسان دي چې کله دوی ولیدل شي نو الله ﷻ یادول کېږي.

نو پوښتنه دا ده چې د ذکرو شوو احادیثو څخه خو څرګندېږي چې ټول مؤمنان أولیاء الله نه دي؟

مونږ وایو چې: په ذکر شوو احادیثو کښې مطلب دا نه دی چې أولیاء الله توب همدوی پورې مختص دی، بلکې مطلب یې دا دی چې همدغه لقب باید همدوی ته ورکړی شي او د همدې لقب (أولیاء الله) دپاره د هرچا څخه دوی زیات لیاقت لري. یعني دوی د همدغه نامه دومره زیات استحقاق لري ته به وایې چې بل څوک یې لیاقت نه لري.

## یو مثال او یو نظیر

۷_ د ذکر شوي مطلب د ښه وضاحت دپاره لاندې یو مثال او یو نظیر ولولئ:

الف: د همدغه مطلب مثال دا دی چې ټول مؤمنان عالمان دي، که بالفرض نور هیڅ علم ونلري دومره علم خو لري چې الله ﷻ واحد او لا شریک دی او هم محمد ﷺ په حقه پیغمبر دی. مګر په عرف او د خلکو په محاوراتو کښې هر یو مؤمن د عالم په نامه باندې څوک نه یادوي ترڅو چې هاغومره علم زده کړي کوم چې د زمانې په خلکو کښې رواج وي.

ب: او نظیر یې د نبي کریم ﷺ لاندې حدیث شریف دی چې په یوه اوږده حدیث کښې یې فرمایلي دي چې: «لَا يَزْنِي الزَّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ»[۲] زنا کوونکی زنا نه کوي کله چې په زنا باندې مشغول وي حال دا چې هغه به مؤمن وي. یعني په دغه حالت کښې د نومورې سره د مؤمن نوم چندان مناسب نه دی او ښه مطابقت ورسره نه لري. ته به وایې چې په دغه حال کښې بالکل مؤمن نه دی.

لنډه دا چې کله د مؤمن کلمه مطلقه ذکره شي نو کامل مؤمن ترې مرادېږي، او همدارنګه چې کله أولیاء الله په اطلاق سره ذکر شي نو کامل أولیاء الله ترې مرادېږي.

## په أولیاء الله کښې د شمول دپاره عصمت شرط نه دی

۸_ په أولیاء الله وو کښې د شمول دپاره په دریمه درجه کښې تقوی شرط ده، چې په کفر باندې علاوه د کبیره ګناهونو او هم د صغیره ګناهونو څخه سرې خپل ځان وساتي[۳]، اما د ګناهونو څخه پکښې عصمت شرط نه دی، چې بالکل ترې ګناه صادره نه شي. نو په همدې بنیاد أولیاء الله

(۱) سنن النسائي الکبری ج۷ ص ۳۶۲؛ حلیة الأولیاء ج۱ ص۶
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص ۳۳۶
(۳) تفسیر ابي السعود ج۴ ص۱۵۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په لاندې درېوو ګروپونو باندې وېشل کېږي:

الف: يوه ډله هغه أولياء الله دي چې کله-کله ترې ګناه صادرېږي مګر سمدستي توبه وباسي او په خپله ګناه باندې ندامت ښکاره کوي.

ب: بله هغه ډله ده چې د ګناه څخه عصمت نه لري مګر د دې سره سره ګناهونه ترې نه صادرېږي او الله ﷻ ورته ترې اجتناب اسانوي.

ج: درېمه لويه درجه د هغو أولياء الله وو ده چې د ګناهونو څخه عصمت لري. دا د پيغمبرانو علیهم السلام ټولګی دی چې د ټولو په سر کښې زمونږ پيغمبر (محمد ﷺ) واقع دی. الله ﷻ دې د ده شفاعت زمونږ په برخه کړي.

## په نفلي عبادتونو سره د أولياء الله درجات لوړېږي

۹_ که څه هم د أولياء الله په ټولګي کښې د شمول دپاره کفايت کوي چې سړی الهي اوامر په ځای کړي او د نواهيوو څخه يې ځان وساتي، مګر د دې سره-سره څومره چې په نفلي عبادتونو او په مستحباتو کښې ځوک وړاندې تېرېږي همغومره يې درجه لوړېږي او د الله په وړاندې يې مقبوليت زياتېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې شرحه ولولئ:

په يوه اوږده قدسي حديث کښې نبي کريم ﷺ د الله ﷻ څخه حکايت کړی دی چې: «وَلَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ فَكُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا وَإِنْ سَأَلَنِي لَأُعْطِيَنَّهُ وَلَئِنْ اِسْتَعَاذَنِي لَأُعِيذَنَّهُ»[1] يعنې: او همېشه وي زما بنده چې ماته په نوافلو (مستحباتو) باندې خپل ځان را نژدې کوي، آن تردې چې زه يې محبوب وګرځوم (د ولايت لوړه درجه ورکړم)، نو زه د ده هغه غوږ شم چې دی پرې اورېدل کوي (نو ناجائز شيان نه اوري) او زه د ده هغه سترګې شم چې دی پرې لېدل کوي (غير مشرعو شيانو ته نه ګوري) او هم زه د ده هغه لاس شم په کوم باندې چې دی نيول کوي (حرامو ته يې نه ور وړاندې کوي) او زه د ده هغه پښه شم په کومه باندې چې دی تلل کوي (ناروا وو پسې حرکت نه کوي، يعنې د مناهيوو څخه به ورته د ځان ساتنه اسانه کړم)، او (بالآخره) که زما څخه څه وغواړي نو ضرور او هرو مرو به يې ورکړم او که په ما باندې د څه شي څخه پناه طلب کړي نو هرو مرو (ضرور) به پنا ورکړم.

نو څه لرې نه ده چې ځينې أولياء الله د نوافلو او مستحباتو په ذريعه په يوه درجه کښې د يوې رتبې څخه بلې رتبې ته ورسولی شي (الله ﷻ پوهېږي چې په يوه درجه کښې به څومره رتبې وي) او يا حتی د لومړۍ درجې څخه دوهمې درجې ته ورپورته کړی شي.

اما درېمې درجې ته هيڅوک په نېکو اعمالو باندې نه شي پورته کېدلی، ځکه چې دا د پيغمبرانو علیهم السلام درجه ده او نبوت پورې اختصاص لري او نبوت خو کسبي شی نه دی.

[1] صحيح البخاري ج۲ ص۹۶۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## أولیاء الله څه نښې لري؟

۱۰ـ أولیاء الله د نورو خلکو څخه په لباس او پوښاک باندې نه جدا کېږي چې یا دې ښه اوږده چپن ولري یا دې د ښې سپینې پګړۍ خاوند وي او یا دې بله امتیازي نښه ولري چې خلک یې ورباندې وپېژني.

أولیاء الله لکه چې په علماوو کرامو او أهل التصوف کښې موجودیت لري همدارنګه په تجارانو او دهقانانو کښې هم تحقق موندلی شي، بلکې د خلکو په یو قشر (یوه ډله) کښې هم داسې موانع نشته چې د أولیاء الله توب سره دې ضدیت ولري. دا ځکه چې هرڅوک چې ښه تقوی او دینداري ولري د اولیاء الله په ډله کښې داخلېدلی شي که څوک یې په دغه نامه باندې وپېژني او یا یې ونه پېژني، بلکې دغه ډله د الله ﷻ په نزد محترمه ډله ده او پوره پېژاندل یې د قیامت د ورځې پورې توقف لري اما په دنیا کښې یې غټه نښه تقوی ده او بس. د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ ﴾ [الحجرات:۱۳] یعنې یقیناً ستاسو ښه د کرامت خاوند د الله ﷻ په نزد ستاسو ښه تقوی دار دی او بس.

ب: یوه ورځې د نبي کریم ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې په خلکو کښې څوک بهتر (افضل او اکرم) دی؟. نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «أَتْقَاهُمْ»[۱] یعنې: څوک چې زیات تقوی دار وي (په شریعت باندې ډېر کلک وي).

## سوال جواب

۱۱ـ که څوک وایي چې ایا خوارق د أولیاء الله دپاره علامات نه دي؟

مونږ وایو چې: خوارق او فوق العاده شیان د أولیاء الله د لازمو صفاتو څخه نه دي ترڅو د دوی دپاره علامات وګڼلی شي[۲].

نو أولیاء الله نه په غیبو باندې پوهېږي، ځکه چې دا د الله ﷻ خاصه ده، او نه د دوی د هر فرد دپاره خوارق شته. بلکې په دوی کښې چې د کوم یوه دپاره خوارق ورکړه شي هغه هم پرې یقین نه شي کولی چې دا به رحماني وي، او تردد لري چې دا چرته شیطاني خوارق نه وي. او دا ځکه چې:

خوارق لکه څنګه چې الله ﷻ خپلو دوستانو ته ورکوي همدارنګه کله-کله یې خپلو دښمنانو ته هم د استدراج په توګه ورکوي. نو جوګیان او کاهنان هم کله کله د خوارقو خاوندان جوړېدلی شي، حتی دجال هم استدراجي خوارق لري. نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې د دجال ډېر خوارق ښودلي دي، یو یې دا دی چې «فَيَأْمُرُ السَّمَاءَ أَنْ تُمْطِرَ فَتُمْطِرَ»[۳] یعنې: دجال به د خپلو پېروانو د قانع کولو دپاره اسمان ته امر وکړي چې وورېږه نو اسمان به د وربنت (باران) په ورولو باندې پیل وکړي.

---

[۱] صحیح البخاري ج۱ ص۴۷۳

[۲] تفسیر المظهري ج۵ ص۴۱؛ تفسیر القاسمي ج۹ ص۵۵

[۳] جامع الترمذي ج۲ ص۴۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنګه نبي کريم ﷺ د اولياء الله وو د خوارقو په باره کښې فرمايلي دي چې «قدْ كانَ فيمن قبلكم من بني إسرائيل رجالٌ يكلَّمون من غير أن يكونوا أنبياء فإن يكُ من أمتي منهم أحدٌ فعمرُ»[١] يعني يقيناً ستاسو څخه وړاندې په بني اسرائيلو کښې داسې سړي وه چې د هغوی سره (د پرښتو د پلوه) خبرې کېدلې (او په زړونو کښې به يې ورته د خير الهام کاوه) حال دا چې دوی به پيغمبران نه وه، نو که زما په امت کښې د دې ډول سړيو څخه څوک وي نو هغه به عمر (الفاروق ﷺ) وي يعني نوموړی د دغه ډول دپاره لومړنی مستحق دی.

## په اولياء الله وو باندې به نه خوف وي او نه حزن

١٢ـ په دې مقام کښې الله ﷻ اولياء الله وو ته دا وعده هم ورکړې ده چې په دوی باندې به نه د الله ﷻ د پلوه خوف (ډار) وي او نه به دوی (د دنيا په پرېښودلو باندې) غمژن شي.

موږ په همدې هکله د [البقرة ٣٨] ايت لاندې ښه کافي معلومات ليکلي دي ـ والحمد لله ـ چې بيا ليکلو ته يې ارتيا نه ګورو.

## أولياء الله وو ته بشارتونه دي

١٣ـ الله ﷻ خپلو اولياوو ته وعده ورکړې ده چې ﴿ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِى ٱلْءَاخِرَةِ ﴾ يعني دوی ته په نږدې ژوند کښې هم زيری دی او په آخرت کښې هم.

د آخرت زيري او خوشالي خو پوره څرګنده ده، شرحه کولو ته ارتيا نه لري، اما د دنياوي بشارت او زيري په تفسير کښې علماوو کرامو ښه ډېر صورتونه ښودلي دي، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف مشهوره دا ده چې دنياوي بشارتونه يې د صالحو خوبونو څخه عبارت دی، چې پخپله اولياء الله يې وګوري او يا د دوی دپاره ولېدلی شي.

يو ځل نبي کريم ﷺ وفرمايل چې «لمْ يَبْقَ من النُّبُوَّةِ إلاّ المُبَشِّراتُ» يعني د نبوت څخه څه شی پاتې نه دی (ختم شوی دی) مګر مبشرات (زيري ورکوونکي) پاتې دي صحابه وو کرامو ﷺ وويلې چې «وما المُبَشِّراتُ» (ای د الله رسوله!) مبشرات څه شی دي؟. نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې «الرُّؤْيا الصَّالحةُ»[٢] يعني مبشرات صالحه (نېک) خوبونه دي.

همدارنګه يوه ورځې ابو الدرداء ﷺ د نبي کريم ﷺ څخه د دې جملې ﴿ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ د تفسير پوښتنه وکړه، نو نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې «هيَ الرُّؤْيا الصَّالحةُ يراها المُسْلِمُ أوْ تُرَى لهُ»[٣] يعني دا د صالحه خوبونو څخه عبارت دي چې يو مسلمان يې پخپله وګوري او يا ورته ولېدلی شي (بل څوک يې ورته وګوري).

---

(١) صحيح البخاري ج١ ص٥٢١

(٢) صحيح البخاري ج٢ ص١٠٣٥

(٣) جامع الترمذي ج٢ ص١٤٢

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا د یو پلوه، او د بله پلوه که څه هم د پیغمبرانو علیهم السلام څخه په غیر د نورو مسلمانانو خوبونه حل او حرمت نه شي ثابتولی او په بل چا باندې حجت نه شي جوړېدلی مګر د خپله لېدونکي دپاره خو د زړه د اطمنان او د اضطراب د لرې کېدلو ذریعه ګرځېدلی شي، بلکې د همده دپاره د ګومان یو سبب دی چې د بشارت دپاره همدومره کفایت کوي.

ب: دنیاوي بشارت د دې څخه عبارت دی چې خلک يې وستايي او د ښو شاهدي ورباندې ووايي. د وضاحت دپاره لاندې حدیث ولولی:

یوه ورځې ابو ذر الغفاري ﷺ د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! سړی (پرته د ریا کارۍ څخه) یو عمل کوي نو خلک يې پرې وستايي او په همدې سبب ورباندې ثناء ووايي (د دې څه حکم دی)؟. نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤْمِنِ»[۱] دغه د مؤمن عاجل بشارت دی چې په دنیا کښې ورکړی شو (چې الله ﷻ په خلکو کښې مقبولیت وربېرزو کې).

ج: دنیاوي بشارت هغه بشارت دی کوم چې د ځنکدن په وخت کښې أولياء الله وو ته ورکولی کېږي[۲]، لکه چې په [فصلت: ۳۰] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

د: دا بشارتونه د هغو بشارتونو څخه عبارت دي کوم چې ځینې أولياء الله وو ته د جنتي ګرځېدلو اطمنان ورکړی شوی وي. لکه عشره مبشره او داسې نور[۳].

هـ: ځینې لا وايي چې دا بشارتونه د هغو ایتونو او هغو احادیثو څخه کنايې دي کوم چې په دنیا کښې أولياء الله وو ته خبر ورکړی شوی دی چې تاسو ته به په آخرت کښې داسې داسې نعمتونه درکړی شي[۴].

و: دا هم څه لرې نه ده چې دنیاوي بشارت د غلبې څخه عبارت وي، چې الله ﷻ خپلو دوستانو ته هرومرو په خپلو دښمنانو باندې غلبه ورکوي. لکه چې فرمايي: ﴿ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴾ [الصافات: ۱۷۳] او یقیناً زمونږ لښکر هرو مرو غلبه موندونکی دی.

زمونږ په فکر ذکر شوي ټول بشارتونه د ﴿ لَهُمُ ٱلْبُشْرَىٰ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ د جملې لاندې داخلېدلی شي او څه منافات هم سره نه لري، نو په کار دي چې دغه جمله په ټولو باندې تفسیره شي.

## یادونه

۱۴_ که څه هم زمونږ څخه په دې مقام کښې خبره ډېره اوږده شوه مګر که څوک د دې څخه هم اوږد بحث غواړي نو هیله ده چې ځینو تفاسیرو[۵] ته مراجعه وکړي.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۸۸
(۲) تفسیر ابي السعود ج۴ ص۱۶۰
(۳) تفسیر المظهري ج۵ ص۴۲
(۴) زاد المسير ج۴ ص۳۹
(۵) تفسیر الخازن ج۳ ص۲۶۷؛ تفسیر القاسمي ج۹ ص۵۰؛ روح المعاني ج۱۱ ص۱۴۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ إِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٦٥﴾ أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ شُرَكَاءَ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿٦٦﴾ ﴾

[۶۵] (ای پیغمبره!) تا دې د دوی (مشرکانو) خبرې غمژن نه کړي (ځکه چې) یقیناً (په هر وخت کښې) ټوله غلبه الله ﷻ لره (مختصه) ده، همدی ﷻ اورېدونکی (او) پوه دی (د هغوی ویناوې اوري او په زړونو باندې یې پوه دی).

[۶۶] خبردار! یقیناً خاص الله ﷻ لره هغه څوک (مملوکین) دي کوم چې په اسمانونو کښې دي (لکه پرښتې) او هغه څوک هم (د ده ﷻ مملوکین دي) کوم چې په ځمکو کښې دي (لکه انسانان او پېریان نو د دوی څخه په غیر نور مخلوقات خو یې مملوکات دي او دي).

او هغه کسان چې د الله ﷻ څخه په غیر (د بل چا یا بل شي) بلنه کوي هغوی (په حقیقت کښې) د شرکاوو پېروي نه کوي (ځکه چې الله ﷻ شریکان نه لري. بلکې) هغوی (په حقیقت کښې) پیروي نه کوي مګر د ګومان، او نه دي دوی مګر اټکل کوي (دروغ جوړوي).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ د أولیاء الله په هکله مهرباني کړې وه چې: ﴿ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ دوی به نه غمژن کېږي. په دې ایتونو کښې رئیس الأولیاء (محمد ﷺ) ته تسلیه ورکړه شوې ده چې مه غمژن کېږه. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! د مشرکانو (کفارو) ستغې سپورې خبرې او لاپې شاپې دې تا غمژن نه کړي. دا ځکه چې ټوله غلبه د الله ﷻ پورې مختصه ده، هیڅوک یې د ارادې مخه نه شي بندولی، او الله ﷻ اورېدونکی دی، ستا د دښمنانو ټولې خبرې اترې اوري، او په هغه څه باندې پوهېږي چې ته د دوی په خبرو باندې څومره زیات زوروېږې او څومره ورباندې خپه کېږې. نو خپله حوصله مه خرابوه آخرنی کامیابي همدا ستا ده، چې د ټولې دنیا مالک ستا ملګری دی.

۲ـ ای پیغمبره! خلکو ته یو ځل بیا اعلان وکړه چې: خبردار! څوک چې په اسمانونو کښې دي او څوک چې په ځمکو کښې دي او د عقل خاوندان دي، لکه پرښتې او پیریان او انسانان، دوی ټول د الله ﷻ ملکیت دي. او مملوکین خو هیڅکله د مالک سره اشتراک نه شي درلودلې، نو د همدې کبله د الله ﷻ سره په ځمکو او اسمانونو کښې نه څوک شریک شته او نه شریک ته احتیاج لري.

۳ـ نو مشرکانو چې په خپلو بوتانو باندې د شریکانو نوم اېښی دی او په دې عقیده ورته خپل

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سرونه ښکته کوي چې دوی د الله ﷻ شریکان دي. دا کار په حقیقت کښې د شریکانو عبادت نه دی ځکه شریکان خو په واقع کښې موجودیت نه لري. نو په حقیقت کښې دوی د خپلو خواهشاتو پیروي کوي او د شیطان عبادت کوي، بلکې دوی فقط د خپلو ګومانونو متابعت کوي او په ګومان سره وایي چې دا د الله ﷻ شریکان دي.

ای پیغمبره! بوت پرستان نه دي مګر اټکل کوي او په خپل خیال او چرت کښې د الله ﷻ سره شریکان دروي.

## توضیحات ·

۱_ الله ﷻ په ﴿ مَن فِي السَّمَوَٰتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ ﴾ کښې د "مَنْ" توري نازل کړ چې اکثره وخت د علم په خاوندانو کښې استعمالېږي.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: اګاه اوسئ! د علم خاوندان لکه پرښتې او پیریان او هم انسانان د الله ﷻ مملوکین دي، بې عقله شیان لکه جمادات او کاڼي بوټي خو هرو مرو د الله ﷻ مملوکات دي، او پوره واضحه ده چې مملوک د مالک سره اشتراک نه شي درلودلی.

نو د همدې مقدمې لازمه نتیجه دا ده چې بوت پرستانو ته خپل باطل معبودان د الله ﷻ شریکان برېښي خو واقعیت دغسې نه دي.

## د عربیت یو تحلیل

۲_ مفسرینو کرامو[۱] د دې جملې ﴿ وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ شُرَكَاءَ ﴾ د اعراب تحلیل داسې کړی دی چې د ﴿ شُرَكَاءَ ﴾ کلمه یې ﴿ وَمَا يَتَّبِعُ ﴾ دپاره مفعول ګڼلې ده او د ﴿ يَدْعُونَ ﴾ دپاره یې مفعول مقدر اخستی دی چې د هغه ځخه یې هم په "شُرَكَاء" باندې تعبیر کړی دی. نو تقدیر یې داسې راوخي چې: "وَمَا يَتَّبِعُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللهِ شُرَكَاءَ شُرَكَاء" یعنې کوم کسان چې د الله ﷻ ځخه په غیر د شرکاوو بلنه (عبادت) کوي هغوی په حقیقت کښې د شرکاوو پیروي نه کوي بلکې د مملوکینو پیروي کوي.

زمونږ په فکر که د ﴿ يَدْعُونَ ﴾ دپاره د "شُرَكَاء" کلمه مقدره ونه ګڼله شي هم مطلوبه معنی لاس ته راځي. یعنې کوم کسان چې د الله ﷻ ځخه په غیر بلنه کوي هغوی په حقیقت کښې د شرکاوو پیروي نه کوي بلکې د خپلو خواهشاتو او شیطاني فرمایشاتو پیروي کوي، چې د مملوکینو عبادت ته یې هځولي دي.

ځینې وایي چې په ﴿ وَمَا يَتَّبِعُ ﴾ کښې د "ما" توری استفهامیه دی او ﴿ شُرَكَاءَ ﴾ د ﴿ يَدْعُونَ ﴾ دپاره مفعول دی. نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: ځوک چې د الله ﷻ ځخه په غیر د شریکانو بلنه (عبادت) کوي، دوی د ځه شي پیروي کوي؟ دوی پیروي نه کوي مګر د ګومان.

---

(۱) البحر المحیط ج۶ ص ۸۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِتَسْكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ
لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٦٧﴾ قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدًا ۗ سُبْحَٰنَهُۥ ۖ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ۖ لَهُۥ مَا فِى
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۚ إِنْ عِندَكُم مِّن سُلْطَٰنٍۭ بِهَٰذَآ ۚ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا
تَعْلَمُونَ ﴿٦٨﴾ قُلْ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴿٦٩﴾ مَتَٰعٌ فِى
ٱلدُّنْيَا ثُمَّ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ ثُمَّ نُذِيقُهُمُ ٱلْعَذَابَ ٱلشَّدِيدَ بِمَا كَانُواْ يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾ ﴾

[۶۷] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو ته يې شپه (توره تياره) د دې دپاره ګرځولې ده چې تاسو پکښې ارام وکړئ، او هم يې درته ورځ د ليدلو خاونده ګرځولې (جوړه کړې) ده (چې تاسو پکښې ليدل کتل وکړئ). يقيناً په دغو (کارونو) کښې د داسې قوم دپاره (د وحدانيت) لوی دلايل دي څوک چې اورېدل کوي.

[۶۸] دوی (کفار) وايي چې الله ﷻ ولد نيولی دی. ده ﷻ ته (د ولد نيولو څخه) پاکي ده، همدی ﷻ بې پروا (بې نيازه) دی، خاص همده ﷻ ته (د ملکيت په توګه) هغه شيان دي کوم چې په اسمانونو کښې دي او کوم چې په ځمکو کښې دي.

ستاسو سره (ای کفارو!) په دغه (قول) باندې هيڅ حجت (او برهان) نشته، ايا تاسو په الله ﷻ باندې هغه (خبره) وايئ (تړئ) چې په هغې باندې تاسو نه پوهېږئ (په حجت باندې يې نه شئ اثبات کولی).

[۶۹] (ورته) ووايه (ای پيغمبره! چې): يقيناً هغه کسان چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي (برته د حجت څخه ورته ولد ثابتوي) دوی به برى مونده نه کړي (د الله ﷻ د عذابه به خلاص نه شي).

[۷۰] (دوی لره) په دنيا کښې څه لږه استفاده شته، بيا (نو) خاص مونږ ته د دوی بېرته راتلل دي، بيا به (نو) دوی ته سخت عذاب په دې سبب وروڅکو چې دوی (په دنيا کښې) وه چې کفر يې غوره کاوه.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنيو ايتونو کښې دا مضمون هم شامل وه چې ټول مخلوقات د الله ﷻ ملکيت دی. په دې ايتونو کښې د ملکيت حجت ته اشاره شوې ده چې ټول تصرفات د همده ﷻ په اختيار کښې دي.

۲ـ هلته مشرکان ښودلې شوي وه چې د ګومان پيروي کوي. دلته د همدې مطلب تاکيد نازل شوی دی، چې د خپلو کفرياتو دپاره هيڅ برهان او دليل نه لري.

## د مطلب خلاصه

يعني: ای پيغمبره! د ذکرو شوو مطالبو د ښه وضاحت او تثبيت دپاره په خلکو باندې لاندې نکات قرائت کړه:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره يې (ای خلکو!) شپه د ارامۍ وخت جوړ کړی دی چې استراحت پکښې کوئ، او ورځ يې ستاسو دپاره داسې رڼا او روښانه ګرځولې ده چې تاسو پکښې لبدل کتل کوئ او د روزۍ لارې چارې پکښې لټولی شئ.

نو که بالفرض الله ﷻ ټول اوقات شپه (تياره) جوړ کړې‌وی نو ستاسو د کارو بار مخه به بنده شوې وی، او که ټول يې رڼا ورځ ګرځولې وی نو د ارامۍ وخت به مو نه وی موندلی او د ستوماني له کبله به د هلاکت سره مخامخ شوي وی.

الله ﷻ د دنيا په پيدايښت کښې خکه ستاسو ضروريات په نظر کښې نيولي دي چې تاسو د الله ﷻ مملوکين ياست او هر مالک د خپلو مملوکينو دپاره ضروريات پوره کوي او خوراک او څښاک وربرابروي.

نو که بالفرض بل هيڅ دليل موجوديت ونلري هم د شپې او ورځې په پيدايښت کښې ښه کافي دلايل شته چې يقيناً الله ﷻ مطلق مالک دی او تاسو مطلق مملوکين ياست. مګر د هغه قوم دپاره چې دلايلو ته غوږ ونيسي او د زړه په غوږونو يې واوري.

۲_ ای پيغمبره! کفار يوه بله خبره هم کوي چې د بوتانو د شرک څخه ډېره بدتره او نالايقه ده. هغه دا چې دوی وايي چې الله ﷻ ولد نيولی دی. څينې وايي چې پرښتې بنات الله دي، او څينې وايي چې عيسی ﷺ او عزير ﷺ ابناء الله دي. نو ته د دغې نالايقې خبرې په رد کښې دوی ته ووايه چې:

الف: الله ﷻ د اولاد نيولو څخه پاک او منزه دی، چې نه ورسره اولاد نيول مناسبت لري او نه يې اولاد نيولی دی.

ب: الله ﷻ د هر شي څخه بې پروا دی او د هر حيثه غني دی، حال دا چې اولاد درلودل د احتياج غټه سرچينه ده.

ج: څه چې په اسمانونو کښې دي او څه چې په ځمکو کښې دي هغه ټول د الله ﷻ ملکيت دی، بلکې ټول مخلوقات په دې کښې يو برابر دي چې د الله ﷻ په نزد د مملوکيت حيثيت لري، نو ايا دا خبره معقوله ده چې مملوک د مالک سره شريک جوړ شي؟ ايا مملوکيت او ولديت سره منافات نه لري؟

ايا دا خبره د انصافدار سړي سره مناسبه ده چې د مخلوقاتو د جملې څخه په څينو باندې ګوته کېږدي چې دا د الله ﷻ اولاد دي او نور يې اولاد نه دي؟ ايا په دغې ترجيح بلا مرجح باندې قول کول بې انصافي نه ده؟.

د: ای مشرکانو! ستاسو سره خو په الله ﷻ باندې د ولديت د ورتپلو دپاره څه دليل او برهان هم نشته.

هـ: ايا نو تاسو په الله ﷻ باندې هغه څه ورتپئ په کومو باندې چې ستاسو علم نشته او دليل ورباندې نه شئ اقامه کولی.

يا په بل عبارت: کله چې تاسو د الله ﷻ څخه د ولديت په نفي کولو کښې دلايلو ته غوږ نږدئ او

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په ثبوت باندې يې دليل نه شئ درلودلى، نو تاسو ته په كار دي چې سكوت وكړئ، چې نه پوهېږو چې الله ﷻ اولاد لري او كه نه؟. دا خو تاسو ته هيڅ مناسبه نه ده چې پرته د دليل څخه يې د ثبوت څنډه غوره كړئ او په همغې باندې كلك شئ، داسې كار به څناور هم ونه كړي.

٣_ اى پيغمبره! په پاى كښې ذكرو شوو عناديانو ته په لاندې مطالبو باندې خبر وركړه:

الف: هرڅوک چې په بل چا نه بلكې په الله ﷻ باندې دروغ تړي، دوى كاميابي نه شي موندلى او د نجات لاره نه شي درلودلى. د دغــې خلكو عاقبت خراب دى.

ب: هو! دوى ته څو ورځې فرصت وركول كېږي چې د دنيا څخه څه لنډه تنګه استفاده وركړي او څو ورځې پكښې مزې چړچې وكړي.

ج: مګر د همدغې لږې استفادې څخه وروسته د دوى ورتلل بل چا ته نه دي بلكې مونږ ته به را تاوېږي او هيڅ د نجات لار به مونده نه كړي.

د: نو كله چې مونږ ته راجع شي نو هلته به دوى ته شديد او كلك عذاب وروڅكوو او په دې سبب باندې به يې پكښې مبتلا كړو چې دوى په دنيا كښې په كفرياتو باندې كلك وه او هيڅ دليل او برهان ته يې غوږ نه ايښوده.

## توضيحات

١_ د الله ﷻ څخه د ولديت په نفي كولو كښې د [البقرة:١١٦] ايت لاندې ښه پوره شرحه تېره شوې ده ـوالحمد لله ـ بيا ليكلو ته يې اړتيا نه ګورو.

## سلطان څه معنى؟

٢_ د ﴿ سُلۡطَٰنٍۭ ﴾ كلمه د "سَلاطَة" څخه اخستلې شوې ده چې په بل چا باندې د اقتدار قائمولو څخه عبارت ده[١]. مګر د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چې ﴿ سُلۡطَٰنٍۭ ﴾ د حجت معنى وركوي[٢].

رښتيا چې هغه اقتدار په زور باندې نه شي قائم كېدلى كوم چې په حجت او برهان سره قائمېږي. خلك وايي چې: په سلو نفرو باندې وهلى ښه دى نه په يو نفر باندې ملامته.

نو په دې مقام كښې يې د معنى حاصل واضحه دى چې: اى مشركانو! ستاسو سره خو په خپلو شركياتو باندې حجت نشته، نو په كار دي چې په خپلو كفري عقائدو باندې كلك پاتې نه شئ:

﴿ وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ نُوحٍ إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ إِن كَانَ كَبُرَ عَلَيۡكُم مَّقَامِي وَتَذۡكِيرِي بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَعَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡتُ فَأَجۡمِعُوٓاْ أَمۡرَكُمۡ وَشُرَكَآءَكُمۡ ثُمَّ لَا يَكُنۡ أَمۡرُكُمۡ عَلَيۡكُمۡ غُمَّةٗ

---

(١) مفردات الراغب ص٢٤٤
(٢) تفسير القاسمي ج٩ ص٦٢

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ثُمَّ ٱقْضُوٓاْ إِلَيَّ وَلَا تُنظِرُونِ ﴿٧١﴾ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى
ٱللَّهِ ۖ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٧٢﴾ فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِي ٱلْفُلْكِ
وَجَعَلْنَٰهُمْ خَلَٰٓئِفَ وَأَغْرَقْنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾

[۷۱] او (ای پیغمبره!) په دوی (کفارو) باندې (د عبرت دپاره) د نوح ﷺ مهم خبر (مهمه قیصه) قرائت کړه:

هغه وخت (وریه یاد کړه) چې نوح ﷺ خپل قوم ته وویلې چې: ای زما قومه (عزیزانو)! که چرته په تاسو باندې زما دریځ او د الله ﷻ په ایتونو سره زما (بیا بیا) پند درکول ګران شوي وي (او نور یې تحمل نه شئ کولی) نو (زما دا اعلان واورئ چې) ما خاص په الله ﷻ باندې توکل کړی دی (هیڅ نه ډارېږم).

نو تاسو سره د خپلو شریکانو (کومکیانو او باطلو معبودانو زما په باره کښې) خپل کار راغونډ کړئ (یوه پرېکړه وکړئ)، بیا دې په تاسو باندې خپل کار (خپله پرېکړه) پټه (او مشکله) هم جوړه نه شي (چې یا پرې تول خبر نه یاست او یا د تجدید النظر وړ وي)، بیا همدغه فیصله ماته راورسوئ (په ما باندې یې عملي کړئ) او مهلت مه راکوئ.

[۷۲] (دا دی زما دریځ چې د مرګ د وخته پورې به تغیر ونخوري) نو (ای قومه!) که تاسو (اوس هم زما د دعوت څخه) مخونه اړوئ (او تکذیب ته ادامه ورکوئ) نو (زما بل اعلان واورئ هغه دا چې) ما خو ستاسو څخه څه اجرت نه غوښتی دی (او نه یې درڅخه غواړم او نه مو څه راکړي دي چې په بېرته اخستلو باندې یې وډار شم)، زما اجرت خو نه دی مګر په الله ﷻ باندې دی او ماته (د الله ﷻ دپلوه) امر کړی شوی دی چې زه د غاړه ایښودونکو څخه جوړ شم.

[۷۳] نو هغوی د ده تکذیب وکړ (تکذیب ته یې ادامه ورکړه) نو مونږ نوح ﷺ او هغه چاته نجات ورکړ کوم چې د ده سره په بېړۍ کښې وه (ورسره پورته شوه) او همدوی مو (په ځمکه کښې) خلیفګان وګرځول. او (بالآخره) مونږ هغه خلک غرق کړه کومو چې زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کاوه نو وګوره چې عاقبت د ډارولی شوو کسانو خلکو څنګه شو؟

## ارتباطونه

۱ـ د دې سورت د پیل څخه الله ﷻ د خپل وحدانیت او د نبي کریم ﷺ د رسالت او هم د قیامت د ورځې د قیام دپاره په بېلو بېلو ډولونو سره دلایل قائم کړه چې: ای کفارو! د دغو دلایلو په رڼا کښې د خپلې عقیدې فساد اصلاح کړئ که نه نو د بد انجام سره به مخامخ شئ.

په دې ایتونو کښې یې تقریباً د سورت تر پایه پورې د هغو خلکو انجام ته اشاره کړې ده کومو چې د پیغمبرانو علیهم السلام اصلاحاتو ته اعتناء نه وه کړې.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ وړاندې الله ﷻ فرمايلي وه چې په أولياء الله وو باندې نه خوف شته او نه به غمژن شي. دلته د دوی د ډلې څخه د يوه ولي الله (نوح ﷺ) حالت بيان شوی دی چې د خپل مشرک قوم د تهديداتو څخه نه په ډار کښې واقع شو او نه يې ورباندې چرت خراب شو.

۳_ هلته د بوتانو ناتوانی ته اشاره شوې وه او دلته همدغه ناتواني د يو مثال په ضمن کښې واضحه شوې ده، چې د نوح ﷺ قوم ته خپلو بوتانو د غرقېدلو څخه نجات ورنه کړی شو.

۴_ همدارنګه په دې ايتونو کښې نبي کريم ﷺ ته تسلي ورکول مرموز دي، چې د نوح ﷺ قوم هم ستا د قوم پشان بوت پرستان وه او په کفر باندې کلک وه مګر نوح ﷺ ورته بې حوصلې نه شو نو ته هم بايد خپله حوصله خرابه نه کړې او وارخطا نه شې؛ ځکه چې د دعوت إلی الله په هکله ستا زښت ډېر ملګري (پيغمبران عليهم السلام) پخوا تېر شوي دي.

۵_ په وړاندې نژدې ايتونو کښې الله ﷻ فرمايلي وه چې په الله ﷻ باندې دروغژنان کامیابي نه شي ترلاسه کولی او د دنيا څخه د استفادې کولو وخت ډېر لږ دی. په دې ايتونو کښې د څو مثالونو په ضمن کښې په همدغو مطالبو باندې څه رڼا اچولې شوې ده.

## د مطلب خلاصه

يعنې ای پيغمبره! د دلايلو د تېرولو څخه وروسته اوس نو په خلکو باندې د دروغژنانو څو مثالونه قرائت کړه، چې د ټولو په سر کښې د نوح ﷺ او د ده ﷺ د قوم مثال واقع دی، چې د دوی دپاره پکښې د عبرت اخستلو ډېر مهم درس نغښتی دی. دغه قيصه دوی ته په لاندې ټکو کښې خلاصه کړه:

۱_ نوح ﷺ خپل قوم مخاطب کړه چې: ای زما قومه! که زما دريغ په تاسو باندې درونډ تمام شوی وي، چې څو سوه کاله په يوه خبره باندې ولاړ يم او الله ﷻ واحد او لا شريک ګڼم او ستاسو په شرکياتو کښې ګډون نه کوم، او هم که دا خبره هم په تاسو باندې درنه تمامه شوې وي چې شپه او ورځ تاسو هم خپل دريغ ته دعوت کوم او وخت په وخت مو د الله ﷻ د وحدانيت دلايلو ته متوجه کوم او د بوتانو د بطلان دلايل درته اوروم، لنډه دا که تاسو زما په موجوديت باندې په تنګ شوي ياست او غواړئ چې ما ووژنئ او يا مې رجم کړئ (لکه چې همداسې نيت مو کړی دی) نو په دې باره کښې هم زه خپل دريغ تاسو ته اعلانوم چې: زما خاص په الله ﷻ باندې توکل او اعتماد دی او تاسو ته په صراحت سره وايم چې:

الف: ای زما قومه! تاسو د خپلو شريکانو او کومکيانو په شمول زما په هکله خپله خبره راغونډه کړئ او د تردد څخه يې وباسئ؛ چې قتل يې کړو او يا يې رجم کړو، بلکې په هره طريقه چې ما وژنئ هغه طريقه مشخصه کړئ.

ب: په دې باندې علاوه زما د وژلو يا زورولو په باره کښې خپل کار بنه علني (په ډاګه) کړئ ترڅو پکښې تاسو ټول اشتراک وکړئ او هيڅوک پکښې بې برخې پاتې نه شي. ځکه چې زما

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



موجودیت ستاسو د ټولو دپاره غم ګرځېدلی دی.

ج: نو کله مو چې په همدې اړه خبره یوه کړه او ټولو پرې اتفاق وکړ نو بیا په چالاکۍ سره تصویب شوی مصیبت (مرګ وي او که درد) ماته راورسوئ. او هیڅ مهلت ماته مه راکوئ.

۲_ ای زما قومه (عزیزانو)! دا دی زه یو ځل بیا خپل ځان تاسو ته درپېژنم چې:

الف: زه نه ستاسو د غابن چیچي څخه ډارېږم او نه مې ستاسو په لاپو پروا شته چې د خپل دریغ څخه واوړم.

ب: ما نه تاسو ته پخوا تمه کړې ده او نه یې درته وروسته کوم. او نه په تاسو باندې کوم قلنګ لرم چې د هغه په قطعه کولو او یا بېرته په اخستلو باندې به یې وډار شم.

ج: زه صرف لله في الله تاسو ته دعوت درکوم، که بالفرض ما ستاسو څخه په خپل دعوت باندې څه غوښتلي نو ستاسو به د عدم قبول دپاره بهانه جوړه وي.

د: زه خو خپل ټول اجر د الله ﷻ څخه غواړم او همده ﷻ ماته د اجر د راکولو وعده راکړې ده او د مزدورۍ راکول یې منلي دي.

هـ: بالآخره دغه (د توحید دعوت) ما پخپله نه دی پیل کړی بلکې زه د همدغه کار دپاره د الله ﷻ د پلوه توظیف شوی یم او په همدغه کار باندې مامور یم. او هم ما دغه ماموریت قبول کړی دی او غاړه مې ورته ایښې ده.

نو زما څخه هیڅکله تمه ونه کړئ چې زه به د دعوت إلی الله څخه لاس واخلم او خپل ماموریت به د پښو لاندې کړم.

۳_ ای پیغمبره! نوح ﷺ خپل قوم نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله د الله ﷻ وحدانیت ته دعوت کړ او د شرکیاتو پرېښودلو ته یې ترغیب کړ. د دعوت إلی الله په هکله یې زښت ډېر تکالیف وګالل او د کفارو د تهدیدونو او غابن چیچي پروا یې ونه کړه، خو د دعوت وروستنۍ نتیجه یې دا را ووتله چې:

الف: هغوی خپلو شرکیاتو ته ادامه ورکړه او نوح ﷺ ته یې د دروغو نسبت وکړ، چې ته الله ﷻ مونږ ته د پیغمبر په صفت نه یې را استولی.

ب: نو مونږ نوح ﷺ ته او هغو کسانو ته چې د ده د بېړۍ اندیوالان وه او ایمان یېورباندې راوړی وه نجات ورکړ او د غرقېدلو څخه مو بچ کړه.

ج: برسېره په نجات ورکولو باندې مو همدوی ته د ځمکې خلافت ورکړ او ښارونه مو په همدوی باندې اباد کړه.

د: مګر بالمقابل مو هغه خلک په دریاب کښې ټول غرق کړه کومو چې زمونږ ایتونو او معجزاتو ته د دروغو نسبت کاوه او دلایلو ته یې غوږ نه ایښوده او هم یې نوح ﷺ په مرګ او رجم باندې تهدیداوه او خپل ځانونه یې د ځمکې واکداران ګڼل.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ ای پیغمبره! ته وګوره چې د هغو خلکو انجام څنګه شو چې د پیغمبر په ډارولو باندې نه ډارېده؟ نو په کار دي چې ستا د امت کفار د ذکرو شوو کفارو څخه د عبرت درس زده کړي او خپل انجام هېر نه کړي. ایا د دوی کفر د هغوی د کفر څخه کم دی؟ ایا هغوی د دوی غوندې مشرکان او بوت پرستان نه وه؟ ایا هغوی ته د نوح ﷺ د وژلو پلان معکوسه نتیجه ورنه کړه او په هدفه دام کښې پخپله ونه نښتل کوم یې چې د نوح ﷺ دپاره خور کړی وه؟.

## توضیحات

۱_ که څه هم د نوح ﷺ قوم ته الله ﷻ نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله فرصت ورکړ، چې د دنیا د سازوسامان څخه یې استفاده وکړه، خو دغه ټوله استفاده نظر آخرت ته ډېره لږه استفاده وه. الله ﷻ فرمایي چې: ﴿فَمَا مَتَـٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ﴾ [التوبة:۳۸] یعنې نو نږدې (حقیر) ژوند څخه استفاده کول د آخرت (د دائمي نعمتونو) په مقابله نه دي مګر ډېر لږ دي.

نو په کفري دولتونو کښې چې کوم یو دولت څو سوه کاله دوام وکړي، په کار دي چې د چا سره دا خیال پیدا نه شي چې دوی د الهي عذاب څخه محفوظ پاتې شوه. د الله ﷻ په کلام کښې بدلون رابدلون نشته. لنډه دا چې د الله ﷻ د کلام مصداق وروسته کېږي خو دروغ کېږي نه، چې بالکل مصداق مونده نه کړي.

## مقام څه معنی؟

۲_ په ﴿مَّقَامِى﴾ کښې د "مَقَام" د کلمې معنی واضحه ده چې د ودرېدلو ځای یا زمانې ته ویل کېږي. خو په دې مقام کښې یې علماوو کرامو لاندې تفسیرونه کړي دي[1]:

الف: نوح ﷺ د خپل ځان څخه د کنایې په توګه په خپل مکان سره تعبیر کړی دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای عزیزانو! که زما موجودیت (ژوند) په تاسو باندې درونه وي....

ب: مقام د بقاء معنی ورکوي. یعنې که زما باقي پاتې کېدل په تاسو باندې درانه وي، چې نهه نیم سوه کاله ستاسو په منځکښې باقي پاتې یم.

ج: مقام د قیام په معنی سره دی، یعنې که زما ودرېدل په تاسو باندې درانه تمامېږي چې زه ستاسو په مجالسو کښې دعوة إلى الله ته پورته کېږم او تاسو ته په ولاړه باندې خطابه درکوم.

لکه چې د عیسی ﷺ عادت وه چې خپلو ملګرو ته به یې په ولاړه خطابه ورکوله او دوی به ورته ناست وه[2]، نبي کریم ﷺ به هم په اکثرو وختونو کښې په ممبر باندې د وعظ او تبلیغ دپاره پورته کېده چې صحابه کرامو ﷺ به ورته په ناسته غوږ ایښی وه.

ذکرې شوې معناوې سره څه منافات نه لري، خو مونږ ته ذهن ته راځي چې دلته به معنوي قیام

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۹ ص۶۴؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۲۷۳

(۲) روح المعاني ج۱۱ ص۱۵۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مطلب وي چې په پښتو کښې ترې په دریځ سره تعبیر کوو. یعنې که زما دریځ او خط السیر په تاسو باندې ګران وي چې په سوو کلونو کښې مې تغیر ورنه کړ او لاس مې ترې وانخست....

## د اجماع معنی

۳ـ په ﴿ فَأَجْمِعُوٓاْ أَمْرَكُمْ ﴾ کښې د 'أجْمِعُوا' کلمه د اجماع څخه عبارت ده[۱]. یعنې ای مشرکانو! زما د وژلو یا د زوررولو په هکله خپل متفرق افکار راټول کړئ او په اتفاق سره یې تصویب وکړئ او په اجراء باندې یې عزم وکړئ او د تردد څخه یې وباسئ چې اجراء یې کړو او که نه.

## د 'غُمَّةً' تفسیر

۴ـ د ﴿ غُمَّةً ﴾ کلمه د پټولو معنی ورکوي، لکه چې نبي کریم ﷺ د میاشتې په باره کښې فرمایلي دي چې: «فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدُرُوا لَهُ»[۲] یعنې که د روژې میاشت په تاسو باندې پټه شوه، چې د وریځې او ګرد غبار د کبله مو ونه شوه لیدی، نو بیا ورته اندازه وکړئ (او د شعبان د میاشتې ورځې دېرش پوره کړئ).

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راوځي چې: کوم تصویب چې تاسو زما په باره کښې وکړئ نو هغه مه پټوئ، ځکه چې پټول خو به یې هلته ضرور وي چې زما د تښتېدلو خطر موجود وي، زه خو تاسو ته اطمنان درکوم چې زه تښتېدونکی نه یم. د څرګندونې بله وجه یې دا ده چې تاسو ټول به زما په وژلو کښې اشتراک وکړئ او جمعیت به مو ښه پیاوړی شي.

ځینې مفسرینو کرامو یې حاصل داسې اخستی دی چې: زما په باره کښې چې تاسو کوم تصویب وکړ نو هغه د اشکال او ابهام څخه وباسئ او د تجدید النظر ځای پکښې مه پرېږدئ[۳].

## قضاء وېږنئ!

۵ـ په ﴿ ثُمَّ ٱقْضُوٓاْ إِلَيَّ ﴾ کښې د ﴿ ٱقْضُوٓاْ ﴾ کلمه د 'قضاء' څخه اشتقاقه شوې ده، 'قضاء' اصلاً فیصلې ته ویل کېږي. د فیصلې تنفیذ هم د قضاء په نامه يادېږي چې قولي فیصله تمامه شي او د عمل جامه واغوندي. مګر کله چې وربورې د ﴿ إِلَيَّ ﴾ توری تعلق ونیسي، لکه چې دلته یې وربورې تعلق نیولی دی، نو بیا ورسره د ایصال او رسولو مفهوم هم زیاتېږي[۴].

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: ای مشرکانو! تاسو بیا خپلې فیصلې ته عملي جامه ور واغوندئ او په ما باندې یې تطبیق کړئ او هیڅ انتظار راته مکوئ او هیڅ مهلت مه راکوئ.

---

(۱) مفردات الراغب ص۹۵
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۲۵۵
(۳) تفسیر الطبري ج۱۱ ص۱۴۲
(۴) تفسیر المنار ج۸ ص۴۶۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د حق ویلو د مخنیوي دوه مهم عوامل

۶_ مونږ ته د افغانستان په څوارلس کلن انقلاب کښې ښه څرګنده شوه بلکې هر چا ته معلومه ده چې په حق باندې د خولې پټولو عمده عوامل همغه دي کومو ته چې نوح ﷺ اشاره کړې ده.

هغه دا چې:

الف: ډېر خلک د ډاره حق پټوي، چې یا په خپل سر وډار شي، یا په مال او یا په بل شي.

ب: ډېر خلک د تمې د کبله هم په حق باندې خوله پټوي، چې یا مالي ورکړې ته په تمه وي، یا یې د چوکۍ نیولو ته سترګې په لار وي او بالآخره یا په دغو مطالبو باندې بریالي شوي وي خو د دوام او پاینښت په تمه په حق باندې خوله نه شي ښوروړلی.

## سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې د نوح ﷺ قوم د ده په باره کښې څه پرېکړه وکړه؟

مونږ وایو: چې الله ﷻ د همدوی د خولو څخه داسې حکایت کوي چې: ﴿ قَالُواْ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمَرْجُومِينَ ﴾ [الشعراء:۱۱۶] یعنې دوی وویلې چې مونږ خو دې ډېر په تنګ کړي یاستو، نور تاته صبر نه شو کولی، نو که ته د خپل دریغ څخه لاس وانخلې ای نوحه (تاته وایو ښه پوه شه) نو ضرور هرو مرو به ته د رجم کړی شوو څخه وګرځې او د ډبرو لاندې به ووژل شې. په نتیجه کښې د هغوی د مهلت موده ختمه شوه او دنیاوي استفاده یې پوره شوه نو ټول پوپناه شوه.

﴿ ثُمَّ بَعَثْنَا مِنۢ بَعْدِهِۦ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَآءُوهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُواْ لِيُؤْمِنُواْ بِمَا كَذَّبُواْ بِهِۦ مِن قَبْلُ ۚ كَذَٰلِكَ نَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿٧٤﴾ ﴾

[۷۴] بیا مونږ د ده (نوح ﷺ) څخه وروسته نور پیغمبران خپلو قومونو ته (وخت په وخت) ولېږل نو دوی (پېغمبران علیهم السلام) هغوی (خپلو قومونو) ته د څرګندو دلایلو (او معجزاتو) سره ورغله. خو هغوی (قومونه) نه وه چې په هغه شي باندې ایمان راوړي په کوم شي باندې یې چې لا د (پېغمبرانو د ورتګ څخه) وړاندې تکذیب کړی وه (او پرې کافر شوي وه بلکې خپل پخواني تکذیب ته یې ادامه ورکړه).

(ای پیغمبره) په دغه ډول سره مونږ د تجاوز کوونکو په زړونو باندې مهر لګوو (لکه څنګه مو چې د هغوی په زړونو باندې مهر لګولی وه).

## د مطلب خلاصه او توضیحات

۱_ د نوح ﷺ څخه وروسته ډېر پیغمبران تېر شوي دي، خو د مشهورو پیغمبرانو علیهم السلام نومونه دا دي: هود ﷺ، صالح ﷺ، ابراهیم ﷺ، لوط ﷺ، شعیب ﷺ او داسې نور.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ په دې مقام کښې د نورو پیغمبرانو حالاتو ته فقط په اشاره باندې اکتفاء وکړه او وړاندې يې د نوح ﷺ حالات څه تفصیلوار بیان کړه او په راتلونکو ایتونو کښې يې د موسی ﷺ حالاتو ته لږ څه زیات تفصیل ورکړی دی؟

مونږ وايو _والله ﷻ اعلم_: دا ځکه چې:

الف: د نوح ﷺ قوم بوت پرستان وه، لکه څنګه چې قریش (د قرآن کریم لومړني مخاطبین) بوت پرستان وه، نو دوی په غوږ باندې ووهلی شوه لکه څنګه چې هغوی ته د الله ﷻ عذاب څخه بوتانو نجات ورنه شو کړی نو تاسو ته هم نجات نه شي درکولی.

ب: چا ته چې موسی ﷺ وراستولی شوی وه هغوی سخت متکبران وه، تردې چې د دوی مشر (فرعون) په خپل ځان باندې د رب نوم اینبی وه، الله ﷻ د همده د خولې څخه حکایت کړی دی چې: ﴿ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴾ [النازعات:۲۴] یعنې زه ستاسو لوی رب یم. او دا خبره يې هم ترې حکایت کړې ده چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَأُ مَا عَلِمۡتُ لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرِي ﴾ [القصص: ۳۸] یعنې: ای (د مغرورو خلکو) ډلې! زه خو ستاسو دپاره د خپل ځان څخه په غیر په بل معبود باندې علم نه لرم، یعنې تاسو ته بل معبود نشته.

همدارنګه د قرآن کریم لومړني مخاطبین هم سخت متکبران وه. نو دوی ته اشاره ورکړه شوه چې لکه څنګه چې د فراعنه وو د تکبر کاسه نسکوره شوه همدارنګه به ستاسو تکبر هم د خاورو سره خاورې شي. نو ښه دا ده چې لږ سترګې راوغړوئ.

۳_ که څه هم ځینو علماوو کرامو په ﴿ كَذَّبُواْ ﴾ کښې مستتر ضمیر د نوح ﷺ قوم ته راجع کړی دی او د معنی حاصل يې داسې اخستی دی چې مونږ د نوح ﷺ څخه وروسته دهرو قومونو ته پیغمبران ولیږل خو دوی په هغه څه باندې ایمان رانه وړو کوم ته چې لا وړاندې د نوح ﷺ قوم د دروغو نسبت کړی وه.

مګر مونږ ته بهتره ښکاري چې ذکر شوی ضمیر به په ﴿ قَوۡمِهِمۡ ﴾ کښې هغه قوم ته راجع وي کوم ته چې په ﴿ كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْ ﴾ کښې ضمیرونه راجع دي. نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې مونږ دهرو قومونو ته پیغمبران علیهم السلام ور واستول خو دوی د تکذیب څخه لاس وانخلې، خو دوی په هغه شي باندې ایمان رانه وړو کوم ته يې چې د پیغمبرانو علیهم السلام د ورتګ څخه وړاندې د کذب نسبت کاوه او په خپل پخواني کفر او تکذیب باندې کلک پاتې شوه.

﴿ ثُمَّ بَعَثۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِم مُّوسَىٰ وَهَٰرُونَ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ بِـَٔايَٰتِنَا فَٱسۡتَكۡبَرُواْ وَكَانُواْ قَوۡمٗا مُّجۡرِمِينَ ۝٧٥ فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ مِنۡ عِندِنَا قَالُوٓاْ إِنَّ هَٰذَا لَسِحۡرٞ مُّبِينٞ ۝٧٦

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قَالَ مُوسَىٰٓ أَتَقُولُونَ لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمْۖ أَسِحْرٌ هَٰذَا وَلَا يُفْلِحُ ٱلسَّٰحِرُونَ ﴿٧٧﴾ قَالُوٓاْ أَجِئْتَنَا لِتَلْفِتَنَا عَمَّا وَجَدْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَا وَتَكُونَ لَكُمَا ٱلْكِبْرِيَآءُ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا نَحْنُ لَكُمَا بِمُؤْمِنِينَ ﴿٧٨﴾ ﴾

[۷۵] بیا مونږ د دوی (د ډېرو پیغمبرانو) څخه وروسته موسی ﷺ او (د ده ورور) هارون ﷺ د خپلو ایتونو (معجزاتو) سره فرعون او د ده (د مجلس) مشرانو ته ولېږل، نو دوی (د هغوی دواړو د منلو څخه) لويي وکړه (او ترې منکر شوه) او دوی جرم (جنایت) کوونکی قوم وه.

[۷۶] نو کله چې زمونږ دپلوه دوی ته حق (دین) ورغی (ور ورسېد) نو دوی (سمدستي) وویلې چې: یقیناً دغه (حق) ښکاره جادو دی.

[۷۷] موسی ﷺ (د دوی د خبرې په رد کښې) وویلې چې: ایا (سمدستي پرته د سوچ څخه) تاسو د حق په باره کښې وایئ (چې یقیناً دا ښکاره جادو دی) هرکله چې تاسو ته درشي (بې درنګه پرې دغه حکم کوئ)، ایا دغه (چې تاسو یې په سترګو ګورئ) جادو دی؟ (ایا جادو داسې وي؟). او (په دې باندې علاوه دا یقیني خبره ده چې) جادوګران فلاح (کامیابي) نه شي موندلی (او تاسو به ډېر ژر وګورئ چې زه به کامیاب شم).

[۷۸] دوی (فرعونیانو) وویلې چې: ایا ته مونږ ته د دې دپاره راغلی یې چې ته مونږ د هغې لارې څخه واړوې په کومه باندې چې مونږ خپل پلرونه موندلي دي (او د هغوی څخه را پاتې ده)؟ او (بل د دې دپاره راغلی یې چې) د (مصر) په ځمکه کښې مشري (یا حکومت) ستاسو دواړو پورې (مختص) وګرځي؟ (دا به هیڅکله ونشي) او (مونږ هوښیار یاستو، ستا په مطلب باندې پوهېږو د همدې لپاره) مونږ نه یاستو چې تاسو دواړو ته معتقدین (باور کوونکي) جوړ شو.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

یعنې: مونږ د نوح ﷺ څخه وروسته زښت ډېر پیغمبران خپلو خپلو امتونو ته ورلېږلي دي، چې وخت په وخت یې هغوی ته الهي ارشادات رسولي دي. او داسې امت نه دی تېر شوی چې په هغه کښې پیغمبر نه وي تېر شوی. آن تر دې چې موسی ﷺ او هارون ﷺ مو فرعون او د ده کابینې او د ده د مجالسو غړیانو ته واستول. نو ای پیغمبره! اوس نو د فرعونیانو سره د دوی دواړو څه ناڅه حالات خپل امت ته د عبرت دپاره په لاندې ټکو کښې قرائت کړه:

۱_ موسی ﷺ او د ده ورور (هارون ﷺ) دواړو د خپل رسالت د اثبات دپاره ښې ښې معجزې فرعونیانو ته ورورې.

۲_ مګر هغوی مجرم قوم وه، جرم او جنایت یې خوی او عادت جوړ شوی وه، نو د همدې کبله یې د معجزاتو د منلو څخه تکبر وکړ او ورته تسلیم نه شوه چې ایمان یې پرې راوړی وی.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ کله چې زمونږ دپلوه هغوی ته موسی ﷺ حقایق وړاندې کړه او په معجزاتو باندې یې د حقایقو واقعیت اثبات ته ورساوه حتی چې فرعونیان ورباندې قلبًا قانع شوه، نو سمدلاسه یې د معجزاتو څخه انکار وکړ او د څرګند جادو نوم یې ورباندې کېښود چې دا جادو دی او موسی ﷺ او هارون ﷺ جادوګران دي.

۴_ موسی ﷺ د هغوی نظر رد کړ او ورته یې وویلې چې: ای فرعونیانو! عجیبه ده چې تاسو په حق (حقایقو) باندې د جادو نوم ږدئ او هیڅ فکر او سوچ نه کوئ بلکې د ورتلو سره سم وایاست چې دا جادو دی.

۵_ ایا دغه معجزات جادو دي؟ حال دا چې جادوګران خو کامیابي نه شي ترلاسه کولی خو تاسو به _إن شاء الله ﷻ_ د هر ژر وګورئ چې زه کامیابي ترلاسه کړم.

۶_ کله چې فرعونیانو ونه شو کړی چې په معجزاتو باندې د جادو نوم تثبیت کړي نو د ایمان د نه راوړلو دپاره یې لاندې پلمې ونیولې:

الف: یوه دا چې په کوم دین باندې چې مونږ روان یاستو دا مونږ ته د پلرونو او نیکونو څخه راپاتې دی او ته غواړې چې مونږ د دغه دین څخه واړوې. نو په دغه مطلب کښې به ته هیڅکله بریالی نه شې.

ب: بله دا چې کوم دین چې تا راوړی دی دا په حقیقت کښې یو چل او فریب دی. ته غواړې چې د همدغه چل په ذریعه عوام وغولوې او سیاسي زعامت ترلاسه کړې. ته غواړې چې مونږ د دغې ځمکې (مصر) څخه وباسې او پخپله پکښې یو اسرائیلي حکومت جوړ کړې. حال دا چې د دغې ځمکې اصلي اوسېدونکي مونږ یاستو او تاسو خو د بل وطن څخه دلته هجرت کړی دی.

نو ای موسی! د حکومت خوبونه مه ګوره، او خپل ځان وپېژنه، مونږ به هیڅکله تا د یو پیغمبر په حیث قبول نه کړو او نه به ته په خپل سیاسي پلان کښې کامیاب شې.

## توضیحات

۱_ که څه هم علماوو کرامو[۱] د دغو جملو ﴿ قَالَ مُوسَىٰٓ أَتَقُولُونَ لِلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمۡۖ أَسِحۡرٌ هَٰذَا ﴾ په تعریب کښې څه نور وجوه لیکلي دي مګر کوم شی چې مونږ ته څرګند او متبادر برېښي هغه دا دی چې:

الف: په ﴿ قَالَ مُوسَىٰٓ ﴾ کښې د ﴿ قَالَ ﴾ دپاره لاندې جملې مقولات دي:

﴿ أَتَقُولُونَ لِلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَكُمۡ ﴾، ﴿ أَسِحۡرٌ هَٰذَا ﴾، ﴿ وَلَا يُفۡلِحُ ٱلسَّٰحِرُونَ ﴾.

ب: اما د ﴿ أَتَقُولُونَ ﴾ دپاره چې کومه جمله مقوله واقع شوې ده هغه مقدره ده، چې په "إِنَّ هَٰذَا لَسِحۡرٌ مُّبِينٌ" په جمله باندې ترې تعبیر کولی شو، چې لږ وړاندې ذکره ده.

---

[۱] تفسیر الکشاف ج۲ ص۳۶۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې موسی ﷺ فرعونیان مخاطب کړه چې: ایا تاسو پرته د سنجش څخه په حق باندې د ښکاره جادو نوم ږدئ؟ دا خو ډېره بې انصافي ده. ایا دغه (معجزات) جادو دي؟ ایا زه جادوګر یم؟ که داسې وي نو زه به فلاح (کامیابي) مونده نه کړم ځکه چې جادوګران فلاح نه شي موندلی. مګر زه خپله کامیابي په سترګو ګورم او لږ وخت وروسته به یې تاسو هم وګورئ چې زه څنګه کامیابي ترلاسه کوم.

## لفت څه معنی؟

۲_ په ﴿ لِتَلْفِتَنَا ﴾ کښې د "تلفت" کلمه د "لفت" _لکه "ضرب"_ څخه اشتقاقه شوې ده. "لفت" تاوولو ته ویل کېږي. د همدې اصل څخه د "التفات" کلمه هم جوړه شوې ده چې یوه شي ته د سترګو د ور اړولو څخه عبارت ده. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای موسی! ته غواړې چې مونږ د خپلې پلارنۍ تګلارې څخه د خپل ځان طرف ته تاو کړې؟ په دې مطلب به کامیاب نه شې.

## کبریاء څه شي ته وایي؟

۳_ که څه هم د کبریاء معنی واضحه ده چې لویي او خپل ځان لوی ګڼل دي، مګر په دې مقام کښې ځینو علماوو کرامو[1] په پاچاهۍ سره هم تعبیره کړې ده. نو د معنی حاصل یې بیا داسې کېږي چې: ایا ته غواړې (ای موسی!) چې د مملکت واګې دې یوازې ستاسو دواړو په لاسو کښې پرېوزي او نور خلک دې ترې لاس په سر شي؟

## الهي دعوت ته یې سیاسي رنګ ورکړ

۴_ فرعونیان په دې پوهېده چې جادوګران د خپل جادو څخه څه دنیاوي ګټې پورته کوي خو هیڅکله یې د جادو په زور چرته کوم حکومت نه دی رانسکور کړی او نه یې د حکومت د چپه کولو هڅه کړې ده، د دوی ټولې هڅې او هلې ځلې دخلکو د خوشاله ساتلو او پیسو پیدا کولو دپاره وي.
مګر د دې سره-سره فرعونیانو د موسی ﷺ دعوت ته سیاسي رنګ ورکړ او ورته یې وویلې چې ته غواړې چې حکومت رانسکور کړې او د یوسف ﷺ غوندې یو ځل بیا د مصر په مملکت باندې منګولې خښې کړې. دا ټول د دې دپاره چې عوام په غُصه او د خپل ځان سره یې ملګري کړي.
مونږ ته په تجربه ثابته شوې ده چې اکثره متکبران د همدغه فرعوني چل څخه کار اخلي او عوام غولوي، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

﴿ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ٱئْتُونِي بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٍ ﴿٧٩﴾ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلْقُوا۟ مَآ أَنتُم مُّلْقُونَ ﴿٨٠﴾ فَلَمَّآ أَلْقَوْا۟ قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئْتُم بِهِ ٱلسِّحْرُ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبْطِلُهُۥٓ إِنَّ ٱللَّهَ

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۶۷۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لَا يُصۡلِحُ عَمَلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٨١﴾ وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿٨٢﴾

[۷۹] او فرعون (خپلو پولیسو ته) وویلې (فرمان يې ورکړ) چې ماته (د مملکت) هر یو پوه جادوګر راولئ (زه غواړم چې د موسی ﷺ د جادو مقابله وکړم).

[۸۰] نو کله چې (پوه) جادوګران (ده ته) ورغله (ورغونډ شوه او په میدان کښې مقابلې ته ودرېده) نو موسی ﷺ دوی ته وویلې چې هغه څه واچوئ کوم چې تاسو يې اچوونکي یاست (په جادو باندې خپل وسه تمامه کړئ).

[۸۱] نو کله چې دوی (جادوګرانو پړي او همساګانې د جادو په توګه په میدان کښې) واچولې نو موسی ﷺ وویلې (او جادوګران يې مخاطب کړه چې): هغه څه چې تاسو پرې راتګ کړی دی (نندارې ته مو وړاندې کړي دي همدغه) جادو دی (نه هغه چې زه يې وړاندې کوم)، یقیناً الله ﷻ به يې ژر باطل (ناکام) کړي (او بطلان به يې خلکو ته ورڅرګند کړي)، بې شکه الله ﷻ د مفسدانو عمل نه اصلاح کوي (چې بطلان يې پټ پاتې شي).

[۸۲] او (بې شکه) الله ﷻ حق په خپلو حکمونو (اوامرو) سره حق جوړوي (واقعیت يې خلکو ته ورښکاره کوي) اګر که مجرمان (جنایتکاران دا کار) نه خوښوي (او پرې خپه کېږي مګر مخنیوی يې نه شي کولی).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې هغه محاوره (مباحثه) وه کومه چې فرعونیانو د موسی ﷺ سره کړې وه او د فرعون څخه يې پکښې الهام اخستی وه. یا په بل عبارت: د هرچا څخه وړاندې پخپله فرعون په معجزاتو باندې د جادو نوم کېښود او د خپلو مجالسو غټانو ته يې په خوله کښې ورکړه چې دغسې وایاست. په دې ایتونو کښې هغې محاورې ته اشاره ده کومه چې موسی ﷺ د جادوګرانو سره ترسره کړې وه.

## د مطلب خلاصه

یعنې: فرعون خو د معجزاتو د لیدلو سره سم په هغو باندې د جادو نوم کېښود او خواصو او عوامو ته يې په خولو کښې ورکړه چې همدغه خبره تکراروئ څو په مونږ باندې پړه وانچوله شي. نو ذکره شوې مقابله په لاندې توګه پیل شوه:

۱ـ بیا د ذکرې شوې بهانې په تعقیب فرعون په خپل ټول قلمرو کښې فرمان صادر کړ چې ماته هر پوه یقیني جادوګر راولئ؛ څو په عمومي میدان کښې خلکو ته څرګنده شي چې زه رښتیا وایم او موسی ﷺ یقیني جادوګر دی.

۲ـ کله چې جادوګران راغونډ شوه او په میدان کښې مقابلې ته ودرېده نو په موسی ﷺ باندې يې غږ وکړ چې: ای موسی! ته خپل وار مخکښې کوې چې مونږ جواب درکړو او که مونږ خپل وار

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مخکښې کړو او ته یې جواب راکوې؟.

۳ـ نو موسی ﷺ دوهم شق خوښ کړ، چې تاسو په میدان کښې د جادو په زور هغه څه واچوئ چې تاسو یې اچوونکي یاست، یعني تاسو خپل زور تمام کړئ.

۴ـ کله چې جادوګرانو پړي او همساګانې میدان ته وغورزولې او د خلکو په نظر کښې یې په حرکت باندې راوستلې او په میدان کښې یې د مارانو تېل ماتېل جوړ کړ، نو موسی ﷺ دوی مخاطب کړه چې:

ای جادوګرانو! تاسو چې په کوم شي باندې راتګ وکړ دا ربښتیانی جادو دی. ډېر ژر به خلکو ته هم ځرګند شي چې د جادو څخه په غیر بل شی نه دی. او دا ځکه چې الله ﷻ به یې بطلان ښکاره کړي او د دغه مفسدانه عمل د فساد څخه به پرده پورته کړي او بالآخره هرچاته به جوته شي چې دغه کار د اصلاح دپاره صورت نه دی نیولی بلکې د افساد دپاره عملي بڼه ورکړه شوې ده.

۵ـ په دې باندې علاوه، په سات ګړی کښې به الله ﷻ په خپلو فرمانونو سره د حق حقیقت خلکو ته ځرګند کړي او هم به د باطل بطلان خلکو ته ورو پېژني، که څه هم دا کار مجرمان او جنایتکاران نه خوښوي. دوی خو غواړي چې حق او باطل خلط ملط او ګډوډ پاتې شي.

## توضیحات

۱ـ کله چې موسی ﷺ د اول ځل دپاره فرعون توحید ته دعوت کړ، چې زه پیغمبر یم په ما باندې ایمان راوړه، نو هغه ترې د نبوت د اثبات دپاره معجزه وغوښتله. نو موسی ﷺ ورته سمدستي د خپلې همسا څخه (د الله ﷻ په إذن) اژدها جوړه کړه.

جادوګرانو ته همدغه خبره رسېدلې وه نو ځکه دوی د مقابلې په وخت کښې د نورو جادوګرې څخه فقط د جادو په زور د مارانو او د ښامارانو په جوړولو باندې برید وکړ.

۲ـ په دې باندې علاوه، د ﴿ بِكُلِّ سَـٰحِرٍ عَلِيمٍ ﴾ جملې څخه اشارةً معلومېږي چې په عین وخت کښې جادوګرۍ ډېره ترقي کړې وه او ټول وطن په همدې شق کښې په استاذانو او شاګردانو باندې ډک وه، مګر فرعون صرف تکړه تکړه جادوګران راوغوښتل.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې په دې کښې څه حکمت وه چې موسی ﷺ په مقابله کښې اولنی نوبت جادوګرانو ته ورکړ؟

مونږ وایو چې دغه کار لاندې ګټې درلودلې:

الف: که موسی ﷺ خپل وار وړاندې کړی وی نو څه لرې نه وه چې جادوګران بالکل د مقابلې څخه صرف نظر شوي وی. خلک وایي چې: "إِنَّمَا يَعْرِفُ ذَا الْفَضْلِ مِنَ النَّاسِ ذَوُوهُ" یعني یقیناً بل څوک د فضل خاوندان دومره نه شي پېژندلی لکه څنګه یې چې د فضل خاوندان پېژني.

د همدې کبله کله چې جادوګرانو د معجزې ننداره وکړه نو په ایمان باندې مشرف شوه.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په دې صورت کښې به فرعون ته ښه بهانه لاس ته ورغلې وی، هغه دا چې جادوګرانو په جادو باندې پیل ونه کړ که نه نو د موسی ﷺ ښامار به یې تس نس کړی وی. لکه چې د جادوګرانو مسلمانېدلو په وخت کښې یې په هغوی باندې تور پورې کړ چې تاسو په جادو ځرګندولو کښې اخلاص ښکاره نه کړ او په قصدي توګه مو ورته خپل ځانونه ملامته کړه.

ج: دا هم څه لرې نه وه چې د معجزې د اژدها د هیبته به ټول خلک متفرق او خواره واره شوي وی، نو بیا به ټولو خلکو نه وی لیدلي چې د جادوګرانو جادو په څه ډول د منځه لاړ.

﴿ فَمَآ ءَامَنَ لِمُوسَىٰٓ إِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّن قَوْمِهِۦ عَلَىٰ خَوْفٍ مِّن فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِمْ أَن يَفْتِنَهُمْ ۚ وَإِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿٨٣﴾ وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوْمِ إِن كُنتُمْ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ ﴿٨٤﴾ فَقَالُواْ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٥﴾ وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾ ﴾

[۸۳] نو موسی ﷺ ته عقیده ونه کړه (ایمان یې پرې رانه ووړ) مګر (د یعقوب ﷺ) اولادونو چې د موسی ﷺ د قومیانو څخه عبارت دي، (ایمان یې راووړ) خو د فرعون څخه په ډار باندې او (هم) د خپل جمعیت څخه (په ډار باندې) چې فرعون به یې په فتنه کښې واچوي (او معذب به یې کړي).

او (دوی په دغه خوف کښې حق په جانب وه ځکه چې) یقیناً (د مصر) په ځمکه کښې فرعون برلاسی (او سرکشه) وه او یقیناً نوموړی د مسرفانو څخه وه (چې په تعذیب کښې هم د حد څخه تېرېدونکی وه).

[۸۴] او موسی ﷺ خپل قوم ته وویلې (څو یې اضطراب او وارخطایي ورکه شي) چې: ای زما قومه! (زما عزیزانو!) که تاسو یاست چې (واقعاً) په الله ﷻ باندې مو ایمان راوړی وي (لکه چې واقعاً مو پرې ایمان راوړی دی) نو خاص په همده ﷻ باندې توکل وکړئ (او دارېږئ مه) که تاسو غاړه ایښودونکي یاست (نو په الله ﷻ باندې توکل کولو ته هم غاړه کېږدئ).

[۸۵] نو دوی (اسرائیلیانو) وویلې چې مونږ خاص په الله ﷻ باندې توکل کړی دی (دا حکم موهم ومانه)، ای زمونږ ربه! مونږ د ظالم قوم (فرعونیانو) دپاره فتنه مه ګرځوه (چې د دوی د تعذیب محل مونږ واقع شو).

[۸۶] او (ای زمونږ ربه!) مونږ ته په خپل رحمت سره د کافر قوم (فرعونیانو) څخه نجات راکړه (او زمونږ د تعذیب وسه مه ورکوه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د موسی ﷺ د نبوت نهایي نتیجه بیانه شوې ده او هم پکښې د موسی ﷺ او د بني اسرائیلو پورې اړوندو څو خبرو ته اشاره شوې ده، چې حاصل یې داسې راځي:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

ای پیغمبره! یوازې دا نه چې موسی ﷺ جادوګرانو ته په مقابل کښې ماتې ورکړه بلکې موسی ﷺ د فرعونیانو په دعوت کښې ډېرې هلې ځلې وکړې او ډول ډول معجزات یې ورته څرګند کړه، خو د ده ﷺ د دعوت نهایي نتیجه دا راوختله چې:

۱_ په موسی ﷺ باندې د فرعون د قوم څخه د ګوتو په شمار څو محدودو کسانو ایمان راووړ، چې د قوم په مقابل کښې د یادولو قابل نه دي. اما د موسی ﷺ خپل قوم (اسرائیلیانو) ټولو ایمان راووړ، که کوم یو بې ایمانه پاتې شوی وي نو هغه دلته د تذکر وړ نه دی، خو دوی هم د یو پلوه د فرعون څخه ډارېدل چې د کومې خوا څخه را باندې خبر نه شي نو په فتنه کښې به مو واچوي او د تعذیب سره به مو مخامخ کړي بیا نو معلومه نه ده چې مونږ به د تعذیب سره سره په ایمان باندې ثابت قدمه پاتې شو او که نه. او د بله پلوه د خپل ټولګي څخه ډارېدل چې په دوی کښې کوم یو فرعون ته زمونږ جاسوسي ونه کړي. یا په بل عبارت: چرته په مونږ کښې کوم یو دستوري سړی نه وي داخل شوی چې زمونږ راز به ټول افشاء کړي.

۲_ دوی ځکه د فرعون څخه ډارېدل چې په هغه وخت کښې نوموړی په ځمکه کښې په ټولو خلکو باندې د پاسه او زورور وه. خو د دې سره-سره د چوکاټ څخه وتلی سړی وه (څه به یې چې خوښه شوه همغه به یې کول او د الهي حدودو څخه لا څه چې د انساني حدودو څخه هم تجاوز کوونکی سړی وه).

۳_ کله چې د موسی ﷺ قومیان ډېر وارخطا وه، چې زمونږ په ایمان باندې فرعونیان خبر نه شي، نو موسی ﷺ دوی ته په لاندې ډول باندې اطمنان ورکړه چې:

الف: ای زما عزیزانو! تاسو خو په الله ﷻ باندې ایمان راوړی دی، نو که همدا خبره ربښتیا وي او تاسو په حقه باندې په الله ﷻ باندې عقیده کړې وي نو په همده ﷻ باندې توکل وکړئ او وارخطا کېږئ مه، الله ﷻ به تاسو ته د فرعونیانو څخه نجات درکړي.

ب: یا په بل عبارت: که تاسو په ربښتیانې توګه د الله ﷻ د اوامرو پیروي کوئ او د همده ﷻ احکامو ته غاړه ږدئ نو د ده ﷻ یو امر خو دا هم دی چې ښه په کلکه ودرېږئ او د اضطراب او وارخطایۍ څخه ځانونه خلاص کړئ.

۴_ بني اسرائیل د موسی ﷺ په ارشاداتو باندې ډاډه شوه او ټولو په یوه خوله وویلې چې: مونږ بالکل په الله ﷻ باندې توکل کړی دی، هرڅه چې را پېښېږي، را پېښېږي به، مونږ لکه څنګه چې په الله ﷻ باندې ایمان راوړی دی همدارنګه یې اوامرو ته هم منقاد او غاړه اېښودونکي یاستو.

مګر د دې سره-سره خپل رب ﷻ ته سوال کوو چې ای زمونږ ربه! مونږ د ظالم قوم فتنه مه جوړوې، چې مونږ د هغوی د تعذیب لاندې واقع شو، او یا د استدراج په توګه زمونږ د تعذیب توان ورکړې، چې جنایات یې لا غټ شي او ستا د غضب ښه لایق جوړ شي.

ای زمونږ ربه! مونږ کمزوري انسانان یاستو او په خپل ایمان باندې ډارېږو چې بېرته مو کفر ته اړ نه باسي. ای زمونږ ربه! بلکې څنګه چې ستا پیغمبر (موسی ﷺ) مونږ ته د نجات وعده راکړې ده

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په خپل رحمت سره همدغه وعده راته پوره کړه چې د کفارو د تعذیب څخه بچ پاتې شو. بالآخره ای زموږ ربه! دغه کافر او ظالم قوم پوښتنا کړې او د هلاک سره یې مخامخ کړې.

## توضیحات

۱ـ موږ د [البقرة:۱۲۴] ایت لاندې لیکلي دي چې د ﴿ ذُرِّيَّةٌ ﴾ کلمه د اولادې معنی ورکوي او ځینې علماء کرام وايي چې په صغیرانو (ماشومانو) اولادونو کښې استعمالېږي.

اما په دې مقام کښې د ذکرې شوې کلمې په مصداق کښې اختلاف دی: چې دغه اولاده د فرعون د قوم پورې مربوطه وه او که د موسی ﷺ په قوم پورې. دا اختلاف په ﴿ إِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّن قَوْمِهِ ﴾ کښې د ضمیر له کبله منځته راغلی دی چې تفصیل یې دا دی:

الف: ځینې علماء کرام وايي[1] چې دغه ضمیر فرعون ته راجع دی. اما دوی د ﴿ ذُرِّيَّةٌ ﴾ د کلمې دپاره لاندې مصداقونه ښودلي دي:

اول: دغه کلمه په دې مقام کښې د قلیل یعنې لږ معنی ورکوي[2]. نو د فرعون د قومیانو څخه چې څوک په ایمان باندې مشرف شوي وه د لاندې څو معدودو کسانو څخه عبارت وه[3]:

۱ـ د فرعون مېرمن (آسیه علیها الرحمة). ۲ـ د فرعون خزاندار. ۳ـ او د خزاندار مېرمن. ۴ـ د فرعون د لور ماشطه (د سر ګومنځوونکې). ۵ـ یو بل سړی چې په پټه باندې یې د موسی ﷺ پلوي کوله. ۶ـ بالآخره ټول جادوګران چې دوی هم د فرعون د قومیانو څخه وه[4].

دوهم: د فرعونیانو څخه چې څوک په ایمان باندې مشرف شوي وه هغوی د هغو اویا زره کورنیو څخه عبارت دي د کومو چې مورګانې د بني اسرائیلو څخه وې او پلرونه یې قبطیان (د فرعون قومیان) وه. او اولاد خو په نسب کښې د مور پیرو نه ګڼلی کېږي بلکې د پلار د نسب څخه شمېرلی کېږي.

په دې صورت کښې د ﴿ ذُرِّيَّةٌ ﴾ کلمه په خپله معنی (اولاد) سره ده. او په عربي ژبه کښې دا عادت دی چې هغه خلک د اولاد په نامه باندې یادوي چې د چا مورګانې د پلرونو د قومیت څخه نه وي. د همدې کبله هغه خلک د (الأبناء) په نامه یادېږي کوم چې فارسیانو ښځو د جنګونو له کبله په یمن کښې زېږولي وه چې هلته د بندیانو په حیث بیولې شوې وې[5].

ب: ځینې نور علماء کرام وايي چې ذکر شوی ضمیر موسی ﷺ ته راجع دی. اما دوی د موسی ﷺ د قومیانو څخه د هغو کسانو دپاره لاندې مصداقات په ګوته کوي کوم چې په ایمان باندې مشرف شوي وه:

---

(۱) المحرر الوجیز ج۹ ص۷۸
(۲) تفسیر الخازن ج۳ ص۲۷۷
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۲۷
(۴) المحرر الوجیز ج۹ ص۷۹
(۵) المحرر الوجیز ج۹ ص۷۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: دوی د هغو کسانو څخه عبارت دي کوم چې اسرائیلي ښځو قبطي ښځو ته ورکړي وه څو د مرګ څخه یې بچ کړي، البته په هغه وخت کښې چې فرعون د اسرائیلي ماشومانو په وژلو باندې پیل کړی وه. دوی چې کله غټ شوه او موسی ﷺ مبعوث شو نو د هرچا څخه وړاندې پرې همدوی ایمان راوړ[۱].

دوهم: کله چې موسی ﷺ هلته د پیغمبر په حیث ورغی نو خپلو قومیانو هم ورباندې په اوله وهله (وخت) کښې ایمان را نه ووړ مګر د دوی د مرګ څخه وروسته د دوی اولاده په ایمان باندې مشرفه شوه[۲].

دریم: د موسی ﷺ د قومیانو څخه سپینږیرو او بوډاګانو ایمان رانه ووړ بلکې ځوانانو او خام عمري خلک په ایمان باندې مشرف شوه[۳]، چې فرعون یې لا جرئت نه وو تخریب کړی او د استقلال روحیه یې لا کښې نه وه مړه کړې.

## تبصره

۲ـ مونږ ته بهتره برېښي چې په ﴿ مِّن قَوْمِهِۦ ﴾ کښې ذکر شوی ضمیر موسی ﷺ ته راجع دی او د "مِنْ" توری د ﴿ ذُرِّيَّةٌ ﴾ د کلمې دپاره بیان واقع شوی دی، چې د یعقوب ﷺ د اولادې څخه عبارت ده. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې په موسی ﷺ باندې بل چا ایمان رانه ووړ مګر د یعقوب ﷺ اولاده په ایمان باندې مشرفه شوه چې د موسی ﷺ د قومیانو څخه عبارت ده.

مونږ څکه ذکره شوې کړنلاره خوښه کړه چې:

الف: راتلونکی ایت شریف همدغه ډول تفسیر تائیدوي چې: ﴿ وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰقَوْمِ إِن كُنتُمْ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ ﴾ او موسی ﷺ وویلې چې: ای زما قومه! که تاسو په الله ﷻ باندې (ربښتیانی) ایمان راوړی وي نو په الله ﷻ باندې توکل وکړئ او ډارېږئ مه.

که بالفرض د ﴿ ذُرِّيَّةٌ ﴾ کلمه د ټول قوم څخه عبارت نه وی او ټول قوم په ایمان باندې نه وي مشرف شوی نو موسی ﷺ به هم ټول قوم ته د ډاډ ورکولو خبرې نه وی کړې، بلکې ټوله توجه به یې د هغوی دعوت ته ګرځولې وی.

ب: په دې تفسیر سره د ﴿ ذُرِّيَّةٌ ﴾ کلمه په خپله معنی باندې پاتې کېږي چې "اولاده" ده. د یعقوب ﷺ اولادې ته د اسباط لقب ورکړی شوی دی، او مونږ د [البقرة:۱۳۶] ایت شریف لاندې لیکلي دي چې اسباط د اولادې څخه عبارت دی چې لمسیانو او کړوسیانو ته هم شاملېږي.

یا په بل عبارت: په نورو ځایونو کښې د یعقوب ﷺ د اولادې څخه په اسباط باندې تعبیر شوی

---

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۳۶۴
(۲) تفسیر القاسمي ج۹ ص۷۰
(۳) روح المعاني ج۱۱ ص۱۶۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ې او دلته ترې په ﴿ ذُرِّيَّةٌ ﴾ سره تعبير وکړی شو. خو څرګنده شي چې دغه دواړه کلمې په مفهوم او مصداق کښې متحدې دي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: د ذکر شوي طرز التفسير په اعتبار سره هغه حصر د منځه ځي کوم چې د ﴿إِلَّا﴾ توري څخه څرګندېږي. دا ځکه چې په موسی ﷺ باندې خو يوازې خپلو قوميانو ايمان نه وو راوړی بلکې د فرعونيانو څخه هم ځينې خلک په ايمان مشرف شوي وه. لکه چې په لومړنی توضيح کښې ورته اشاره شوې ده؟

مونږ وايو چې: ذکر شوی حصر اضافي حصر دی. چې ځيل قوم پرې ايمان راوړی او د فرعون قوم ورباندې ايمان رانه وړی. د دغه ډول حصر سره د ځينو فرعوني افرادو ايمان راوړل څه منافات نه لري.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې: په دغه عبارت ﴿ عَلَىٰ خَوْفٍ مِّن فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيهِمْ ﴾ کښې د "ملأ" کلمه خو هغه ټولګي ته ويل کېږي چې دوی په يوه فکر باندې متفق وي[1] چې د همدې کبله يې په خلکو باندې هيبت اچولی وي. او ظاهره دا ده چې د "هِمْ" ضمير فرعون ته راجع دی، حال دا چې فرعون مفرد دی او ذکر شوی ضمير د جمعې دی؟

مونږ وايو چې: د ذکر شوي تطبيق دپاره خو علماوو کرامو زښت ډېر جوابونه کړي دي[2]، مګر کوم جواب چې مونږ ته په زړه پورې ښکاري هغه دا دی چې ذکر شوی ضمير فرعون ته راجع نه دی بلکې په ﴿ ذُرِّيَّةٌ مِّن قَوْمِهِ ﴾ کښې د ﴿ ذُرِّيَّةٌ ﴾ يا "قوم" کلمو ته راجع دی. لکه څنګه چې د ﴿ أَن يَفْتِنَهُمْ ﴾ په جمله کښې د "هُمْ" ضمير بالاتفاق د ذکرو شوو دواړو کلمو څخه يوې کلمې ته راجع دی.

نو په دې تقدير د يو پلوه د ضميرونو د انتشار (ګډوډۍ) مخه نيوه کېږي او د بله پلوه مطابقت حاصلېږي چې ذکرې شوې دواړه کلمې هره يوه معناً جمعه ده.

نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې په موسی ﷺ باندې يوازې خپلو قوميانو ايمان راووړ خو دوی د يو پلوه د فرعون څخه ډارېدل، چې په ايمان راوړلو به يې په غُصه شي، او د بله پلوه يې د خپل ټولګي څخه خطر درلود، چې په دوی کښې به دستوري خلک راننوتلي وي او فرعون ته به زمونږ ټول اسرار ورسوي او لا څه زياتې خبرې به هم را پسې وتړي، نو مونږ به په ايمان راوړلو سره د فرعوني غټ امتحان سره مخامخ شو. الله ﷻ دې زمونږ سره کومک وکړي چې بېرته موکفر ته وانه ړوي.

## فِتْنَة څه معنی؟

۵_ ځينو علماوو کرامو[3] په ﴿ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴾ کښې د ﴿ فِتْنَةً ﴾ معنی

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۹۲
(۲) روح المعاني ج۱۱ ص۲۶۸؛ تفسير القرطبي ج۸ ص۳۶۹
(۳) الدر المنثور ج۴ ص۳۸۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



داسې اخستې ده چې: ای زمونږ ربه! فرعونیانو ته زمونږ په تعذیب باندې قدرت ورنه کړې، که نه نو دوی به لا زیات په کفر کښې ورقوي شي او ګومان به وکړي چې که مونږ په حقه نه وی او اسرائیلیان په باطله نه وی نو نن ورځ به دوی زمونږ د تعذیب لاندې واقع نه وی او مونږ به په دوی باندې مسلط نه وی.

مونږ ته بهتره برېښي چې د ﴿ فِتۡنَةٗ ﴾ کلمه په هغې معنی باندې واخستله شي کومه چې د وړاندېنی جملې ﴿ أَن يَفۡتِنَهُمۡ ﴾ څخه اخستله کېږي. نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې: ای زمونږ ربه! لکه څنګه چې تاته زمونږ زړونه معلوم دي، چې مونږ په ایمان راوړلو سره د دې څخه دارېږو چې فرعونیان مو د تعذیب د شدت له کبله بېرته کفر ته وانه ړوي، نو ای زمونږ ربه! دغه ظالم قوم ته وسه مه ورکوې چې مونږ د خپلو تعذیبي عملیاتو محل وګرځوي او خپلې غُصې راباندې سړې کړي. ای زمونږ ربه! مونږ ته د دوی څخه نجات راکړه چې ایمان مو محفوظ پاتې شي او د خطر سره مخامخ نه شو.

## د ایت شریف ارشاد

۶- څرنګه چې اسرائیلیانو د سوال څخه وړاندې په الله ﷻ باندې د توکل اظهار وکړ چې: ﴿ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡنَا ﴾ او بیا يې د سوال لاسونه پورته کړه چې: ﴿ رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾؛ نو معلومه شوه چې په الله ﷻ باندې د توکل معنی دا نه ده چې څوک د اسبابو د ترتیب څخه لاس واخلي او یا د سوال کولو دروازه -چې د کامیابۍ یو مهم سبب دی- په ځان باندې وتړي، بلکې د توکل معنی دا ده چې سړی د اعتماد په لحاظ سره د اسبابو څخه خپل نظر قطعه کړي او په الله ﷻ باندې کامل اعتماد وکړي چې هرڅه د همده ﷻ په اختیار کښې دي او بس. دا ځکه چې د اسبابو په ترتیب باندې مونږ مکلف یاستو او دا زمونږ فریضه ده.

خلک وایي چې: "لَوْ لَا الأَسْبَابُ لَرُفِعَ الْإِمْتِحَانُ" يعني که اسباب نه وی نو د امتحان لمن به ټوله شوې وی او هیڅوک به د امتحان لاندې نه وی واقع شوي.

﴿ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰ وَأَخِيهِ أَن تَبَوَّءَا لِقَوۡمِكُمَا بِمِصۡرَ بُيُوتٗا وَٱجۡعَلُواْ بُيُوتَكُمۡ قِبۡلَةٗ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَۗ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٨٧﴾ وَقَالَ مُوسَىٰ رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيۡتَ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَأَهُۥ زِينَةٗ وَأَمۡوَٰلٗا فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِكَۖ رَبَّنَا ٱطۡمِسۡ عَلَىٰٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ وَٱشۡدُدۡ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُواْ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ﴿٨٨﴾ قَالَ قَدۡ أُجِيبَت دَّعۡوَتُكُمَا فَٱسۡتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيلَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٨٩﴾ ﴾

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸۷] او مونږ موسی ﷺ او د ده ورور (هارون ﷺ) ته وحي وکړه چې تاسو دواړه خپل قوم لره په مصر (په ښار) کښې په کورونو کښې واوسوئ او (هم) تاسو (ټول) خپل کورونه (په خپلو کورونو کښې) جوماتونه (د لمونځونو ځایونه) جوړ کړئ او (خپل) لمونځونه ودروئ (د ټولو حقوقو سره یې اداء کړئ). او (ای موسی!) مؤمنانو ته (په نجات او د دښمن په اهلاک) زېری ورکړه.

[۸۸] او موسی ﷺ وویلې چې: ای زمونږ ربه! یقیناً تا فرعون او د ده (د مجلس) غټانو (غړو) ته په نړدې (حقیر) ژوند کښې د سنګارولو شیان او مالونه ورکړي دي (دا د دې دپاره چې دوی الله ﷻ ته راجع شي). ای زمونږ ربه! (د دغې ورکړې نتیجه دا شوه) چې ستا د لارې څخه (پخپله هم بې لارې شي او نور خلک هم) بې لارې کړي.

ای زمونږ ربه! د دوی په مالونو باندې محوه (او نابودي) ور نازله کړه او په زړونو باندې یې کلکوالی ورښکته کړه، نو دوی به تر هغه (وخته پورې) ایمان رانه وړي تر څو چې دردناک عذاب وګوري.

[۸۹] الله ﷻ وویلې چې ستاسو دواړو دعاوې (سوالونه) قبول کړی شوه، نو تاسو دواړه باثباته اوسېږئ (وارخطا کېږئ مه) او د هغو کسانو د لارې پیروي مه کوئ کوم چې نه پوهېږي (په دغسې مواقعو کښې وارخطا کېږي او د الله ﷻ حکمتونه په نظر کښې نه نیسي).

## ارتباط

د وړاندېنيو ایتونو مضمون دا وه چې موسی ﷺ خپل قوم ته په توکل علی الله ﷻ باندې توصیه وکړه او هغوی دغه توصیه قبوله کړه او بیا یې الله ﷻ ته د خپل نجات غوښتلو لاسونه پورته کړه.

په دې ایتونو کښې دوی ته د نجات زیری ورکړی شوی دی او هم د سوال د قبول ځینې مقدماتي کارونو ته اشاره شوې ده.

## د مطلب خلاصه

یعني: او کله چې د فرعونیانو تکبر او غرور اوج (لوړې درجې) ته ورسېد او کوم فرصت چې مونږ دوی ته د ایمان راوړلو دپاره ورکړی وه هغه ختم شو، نو مونږ اراده وکړه چې دوی ته د پوښنا کولو دنیاوي جزا ورکړو. نو د جزا ورکولو نقشې په لاندې شرحې سره صورت ونیوه:

۱ــ د هر څه څخه وړاندې مونږ موسی ﷺ او د ده ورور (هارون ﷺ) ته لاندې ارشادات وحي کړه چې:

الف: اوس نو د فرعونیانو د هلاکت وخت نژدې شوی دی، تاسو خپل قوم ته توصیه وکړئ چې په مصر کښې په خپلو کورونو کښې اوسېدانه غوره کړي، نه دې په ښار کښې د هر تلل راتلل کوي او نه دې د مصر څخه دباندې په سفر باندې ووځي.

ب: همدارنګه تاسو په خپلو کورونو کښې د لمونځونو دپاره داسې ځایونه جوړ کړئ چې قبلې ته

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مخامخ وي، نو هملته خپل لمونځونه په جمې سره اداء کړئ، ځکه چې لمونځ د نجات ډېره لویه وسیله ده.

ج: په دې باندې علاوه، ای موسی! مؤمنانو (خپلو قومیانو او پیروانو) ته زېره ورکړه چې ستاسو د نجات سوال قبول شوی دی او په نن سبا کښې به الله ﷻ د دښمن بېخ او بنیاد وباسي او تاسو ته به دنیاوي خوشالي او اخروي خوشالي دواړه په نصیب کړي.

۲_ کله چې موسی ﷺ په یقین سره پوه شو چې په نن سبا کښې په فرعونیانو باندې بېخ ویستونکی عذاب ورنازلېږي او هم پوه شو چې د دې ځخه وروسته دوی ایمان نه راوړي، نو الله ﷻ ته یې د سوال لاسونه پورته کړه، چې په هر یو سوال باندې به یې هارون ﷺ د "آمین" اواز پورته کاوه چې: ای ربه! دغه سوال قبول کړې.

موسی ﷺ په لاندې ډول باندې سوالونه پیل کړه چې:

الف: ای زمونږ ربه! تا خو په خپل فضل سره فوعونیانو ته په دنیا کښې ښه پراخه مالونه او نعمتونه ورکړي وه او په دې باندې علاوه د زینتي (ډول او سنګار) شیانو کمی دې هم په دوی باندې نه وه کړی. برسېره پر دې، دوی ته دې اخروي نعمتونه هم ورکړه چې زه او زما ورور (هارون ﷺ) دې د پیغمبرانو په حیث ورواستولو ځو دوی د دواړو ډولو نعمتونو (مادي او معنوي) شکریه اداء کړي او ستا په لاره باندې سم لاړ شي.

مګر دوی بالعکس د معنوي نعمتونو ځخه انکار وکړ او په مادي نعمتونو باندې دومره مغرور او متکبران شوه چې هم یې پخپله ګمراهۍ ته لاس واچاوه او هم یې ستا د لارې ځخه نور خلک بې لارې کړه.

ب: ای زمونږ ربه! فرعونیانو د دنیاوي نعمتونو ځخه داسې بده استفاده وکړه او په ګمراهۍ کښې یې ترې کار واخست لکه چې تا د همدې دپاره ورکړي وي چې خلک پرې ګمراه کړي.

ج: ای زمونږ ربه! د فرعونیانو مالونه او مادي نعمتونه محوه (نابود) کړه، همدومره خوشالي او پراخي یې بس ده، نور ټال او مهلت مه ورکوه.

د: ای زمونږ ربه! د دوی زړونه نور هم ورکلک کړه او ښه قوي مهر ورباندې ولګوه، چې دوی ترهغه ایمان رانه وړي ترڅو چې دردناک عذاب په سترګو وګوري، په هغه وخت کښې به ورته د ایمان راوړل ځه ګټه ونه شي رسولی او دا ځکه چې اضطراري ایمان ستا په نزد مقبول نه دی.

۳_ الله ﷻ موسی ﷺ او هارون ﷺ دواړه مخاطب کړه چې ستاسو دواړو سوالونه (زمونږ په نزد) قبول کړی شوه، خو تاسو دواړه لاندې ارشادات په نظر کښې ونیسئ:

الف: تاسو دواړه ثابت قدمه اوسئ او بالکل مطمئن شئ چې عذاب نازلېدونکی دی.

ب: او د هغو خلکو د لارې پیروي مه کوئ کوم چې په دغسې موضوعاتو کښې وارخطا کېږي او د عذاب په نزول باندې عجله کوي او د مصالحو او حکمتونو موجودیت په نظر کښې نه نیسي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ اکثرو مفسرینو کرامو[۱] د لاندې دواړو جملو مضمون متحد ګڼلی دی او یوه ورته د بلې د تاکید ښکاره شوې ده چې:

لومړۍ: ﴿ أَن تَبَوَّءَا لِقَوْمِكُمَا بِمِصْرَ بُيُوتًا ﴾. دوهمه: ﴿ وَٱجْعَلُوا۟ بُيُوتَكُمْ قِبْلَةً ﴾.

هغه دا چې کله فرعونیانو په بني اسرائیلو باندې د تعذیب کړۍ ورتنګه کړه او د دوی د عبادت ځایونه یې رنګ کړه، نو الله ﷻ موسی ؑ او هارون ؑ (دواړو) ته هدایت وکړ چې د خپل قوم دپاره په مصر کښې څه کوټې وټاکئ، چې دوی پکښې هملته عبادت وکړي. او خپلې همدغه ټاکلې شوې کوټې جوماتونه وګرځوئ، چې هم پکښې د جمې لمونځونه اداء کړئ او هم پکښې خپلې مشورې ترسره کړئ.

مګر کوم شی چې مونږ ته ذهن ته راځي ـ والله اعلم ـ هغه دا دی چې ذکرې شوې دواړه جملې هره یوه په بیل-بیل مطلب باندې دلالت کوي. نو د لومړۍ جملې څخه مونږ ته دوه مطلبه ذهن ته راځي:

یو دا چې خپلو قومیانو ته توصیه وکړئ چې په ښار کښې واوسېږي او اطرافو یا بهر ته لاړ نه شي او بالآخره باید د فرعونیانو د تېرې له کبله څوک هجرت ونه کړي او څوک چې د ښار څخه بهر وي هغوی ژر تر ژره ښار ته راوبلئ څو د هغې نقشې څخه بهر پاتې نه شي کومه چې ستاسو د نجات او د فرعونیانو د هلاکت دپاره د الله ﷻ د پلوه ټاکلې شوې ده.

په همدې مطلب باندې د ﴿ بِمِصْرَ ﴾ د کلمې زیادت دلالت کوي. که نه نو کورونه خو په بل ځای کښې نه وه بلکې ټول په ښار کښې واقع وه.

بل دا چې په ښار کښې هم باید دوی په خپلو کورونو کښې واوسېږي او د کورونو څخه بهر مرور او عبور ونه کړي، څو د ټاکلې شوې نقشې څخه ونه ووځي چې یا بندي شي او یا ورته بل ضرورت وریښښ شي او د اسرائیلي اجتماع څخه ګوښه پاتې شي. په همدې مطلب باندې د ﴿ بُيُوتًا ﴾ کلمه دلالت کوي.

اما دوهمه جمله مونږ د همغه مطلب د اداء کولو دپاره کافي ګڼو کوم چې مفسرینو کرامو لیکلی دی، او لږ څه وړاندې ورته اشاره وشوه.

### "بَوَّاء" څه معنی؟

۲ـ د "بَوَّآ" کلمه اصلاً د "بَوَاء" ـ لکه "بَقَاء" ـ څخه اخستله شوې ده. "بَوَاء" دېته ویل کېږي چې په یوه ځای کښې د یوه شي ټول اجزاء (برخې) په مساوي توګه موقعیت ولري چې ټیټ او جګ پکښې نه وي[۲].

---

[۱] تفسیر الطبري ج۱۱ ص۱۵۵؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۲۷۸؛ تفسیر ابي السعود ج۴ ص۱۷۱

[۲] مفردات الراغب ص۶۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې راوځي چې موږ موسی ﷷ او هارون ﷷ ته توصيه وکړه چې خپل ټول قوميان د څرمې د ښار په کورونو کښې واوسوي او هيڅوک بهر پرېنږدي.

## قبله يعني څه؟

۳ـ د ﴿ قِبْلَةً ﴾ کلمه خو اصلاً هغه حالت ته وضعه شوې ده په کوم حالت باندې چې مخ اړوونکی موصوف وي، لکه چې د اهل العربيه په نزد د (فِعْلَةٌ) وزن د حالت د بيان دپاره وضعه شوی دی. خو په عرف کښې په هغه مکان باندې دلالت کوي کوم ته چې لمونځ کوونکی په لمانځه کښې مخامخ ودرېږي[۱].

مګر په دې مقام کښې اکثرو مفسرينو کرامو[۲] د ذکرې شوې کلمې څخه د لمانځه ځايونه (جوماتونه) مراد کړي دي. او دا ځکه چې د لمانځه ځايونه عموماً داسې جوړېږي چې په هغه ځای باندې په امتيازي توګه مشتمل وي کوم ته چې لمونځ کوونکی مخامخ ودرېږي. لکه چې زموږ په جوماتونو کښې د قبلې طرف په امتيازي توګه د "محراب" په شکل جوړ شوی دی.

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې په خپلو کورونو کښې د لمانځه دپاره ځايونه جوړ کړئ چې په دغو ځايونوکښې د قبلې جهت معلوم او څرګند وي.

موسی ﷷ ځکه خپل امت ته په دغه سخت وخت کښې په لمانځه باندې د کلکوالي امر وکړه چې لمونځ د مشکلاتو څخه د خلاصون دپاره کونجي (کلي) ده. د ښه وضاحت دپاره لاندې حديث شريف ولولئ:

حذيفه ﷺ وايي چې: «كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا حَزَبَهُ أَمْرٌ صَلَّى»[۳] يعني د الله ﷻ پيغمبر ﷺ وه چې کله به ترې کوم کار راچاپېر شو (غمژن به يې کړ) نو لمونځ به يې کاوه (او د الله ﷻ څخه به يې مشکل د حل کولو دپاره سوال کاوه).

## په دغه وخت کښې د بني اسرائيلو قبله

۴ـ که څه هم موږ د [البقرة:۱۴۵] ايت لاندې د يهودو د قبلې په هکله هغه معلومات ليکلي دي کوم چې د نجات څخه وروسته يې د دوی د قبلې پورې تعلق درلود. اما د نجات څخه وړاندې په مصر کښې د دوی (بني اسرائيلو) د قبلې په هکله مفسرينو کرامو مختلف اقوال ليکلي دي[۴] چې د دوی قبله په دغه وخت کښې کعبه شريفه، يا په بيت المقدس کښې صخره او يا بل ځای وه.

نو څرنګه چې په دې باره کښې نصوص موجوديت نه لري او برسېره پر دې تعين ته يې چندان ضرورت هم نشته، نو بهتره دا ده چې سړی پکښې سکوت وکړي[۵] چې د دوی قبله هره يوه چې وه

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۰۷

(۲) البحر المحيط ج۶ ص۹۷؛ التفسير الكبير ج۱۷ ص۱۴۷؛ تفسير البغوي ج۲ ص۳۶۵

(۳) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۸۵

(۴) روح المعاني ج۱۱ ص۱۷۱؛ التفسير الكبير ج۱۷ ص۱۴۷

(۵) تفسير المنار ج۱۱ ص۴۷۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو موسی ﷺ دوی ته امر وکړ چې په خپلو کورونو کښې همغې قبلې ته د لمانځه دپاره مخامخ ځایونه وټاکي.

## د "زِينَةً" معنی

۵ـ مفسرینو کرامو د ﴿ زِينَةً ﴾ کلمه په دې مقام کښې په هغو شیانو باندې تفسیره کړې ده په کومو باندې چې ډول او سنګار حاصلېږي، لکه ګاڼې او لباس، فرشونه او سامانونه او هم نور تجملي شیان چې په سنګار کښې ترې کار اخستل کېږي[۱].

## سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې ډول او سنګار خو د ضروریاتو د پوره کولو څخه وروسته تحقق مومي، نو په دې کښې څه حکمت دی چې د هغو مالونو څخه وړاندې ذکر کړی شو په کومو باندې چې د ژوند لومړني ضروریات پوره کېږي، او په ذکر کښې وروسته نه کړی شو؟

مونږ وایو چې: په هغه وخت کښې مصریان په ډول او سنګار باندې دومره زیات مین وه تردې چې دا شیان به یې د حیاتي ضروریاتو څخه وړاندې ګڼل، بلکې د دوی د مالونو زیاته برخه به په تجملي شیانو کښې مصرف کېده.

د ځینو خلکو څخه مو اورېدلي دي چې فرعون خپله ږېره په سرو یاقوتو باندې ښائسته کړې وه. د نوموړي د خولې څخه الله ﷻ د موسی ﷺ د نبوت څخه د انکار په هکله دا جمله هم راحکایت کړې ده چې: ﴿ فَلَوْلَآ أُلْقِيَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِّن ذَهَبٍ ﴾ [الزخرف: ۵۳] یعنې: که موسی ﷺ رښتیانی پیغمبر وی نو په ده باندې د سرو زرو بنګړي ولې نه دي اچولي شوي (او په سرو یاقوتو باندې یې ولې ږېره نه ده ښائسته کړی شوې).

## د طمس معنی

۷ـ د ﴿ ٱطْمِسْ ﴾ کلمه د "طمس" ـ لکه "ضرب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. د یوه شي نښې او اثار د منځه وړل او محوه کول د طمس په نامه یادېږي[۲]. نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای ربه! د فرعونیانو د مالونو اثار او نښې نښانې محوې او نابودې کړې چې د دې څخه وروسته نه په چا باندې ظلم او تېری وکړی شي او نه خپل بغاوت او سرکشۍ ته ادامه ورکړی شي. او دا ځکه چې د همدغه مالونو په سبب دوی په ځمکه کښې فساد او تخریب کوي.

خو یوه مفسر، چې اصلاً پخپله د مصر اوسېدونکی دی، ذکره شوې کلمه داسې تفسیر کړې ده چې[۳]: ای زمونږ ربه! د فرعونیانو مالونه د استفادې څخه محوه او نابود کړې چې په عبثیاتو او

(۱) تفسیر الکشاف ج۲ ص۳۶۵
(۲) مفردات الراغب ص۳۱۶
(۳) الجواهر للطنطاوي ج۶ ص۷۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تزیناتو او بالآخره په داسې شیانو کښې یې ولګوي چې دوی ترې نه دنیاوي استفاده وکړی شي او نه اخروي. نوموړي د فرعونیانو د مالونو د مصارفو د وجوهو څخه لاندې شیان هم ګڼلي دي چې:

الف: پخوانیو مصریانو به د خپلو مالونو غټه برخه په عیشیاتو کښې مصرف کوله، چې د مړو دپاره به یې د سرو زرو او سپینو زرو تابونه جوړول او خزانې به یې ورسره دفنولې.

ب: دوی به د مړو په قبرونو باندې بې اندازې غټ مصارف کول او په لعل او یاقوتو باندې به یې سنګارول.

ج: حتی چې په ۱۹۲۳ عیسوي کال په یوه هدیره کښې یوه ډېره لویه خزانه وموندله شوه چې بې اندازې لوړ قیمته غمي پکښې ځای په ځای شوي وه، خو د دغې خزانې په منځکښې د یوه پاچا کالبوت را تاو کړی شوی وه[۱].

د: د خپلو ځانونو په ډولې کولو باندې به یې ډېر غټ مصارف کول، حتی نارینه وو به په ډېره کښې د لوړ قیمت غمي او جواهرات زوړندول او په لاسونو کښې به یې د سرو زرو وښې اچول او داسې نور.

مونږ وایو: که څه هم ذکر شوي واقعات به حقیقت لري مګر په دې مقام کښې یې د تفسیر په حیث قبول مشکل دی. دا ځکه چې که بالفرض فرعونیانو ذکر شوي کارونه د موسی ﷺ د ښېراوو په اثر کړي وي نو په کار دي چې د ښېراوو د قبول څخه وړاندې یې ذکر شوي عیشیات نه وی کړي، حال دا چې ذکر شوی مفسر وایي چې دا کارونه د مصر قدیمه رواجوانه دي.

## سوال جواب

۸ــ که څوک وایي چې د دې جملې ﴿ وَٱشۡدُدۡ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ ﴾ معنی خو دا ده چې: ای ربه! د فرعونیانو په زړونو باندې کلکوالی ورنازل کړې او مهر پرې ولګوې ترڅو د هغه وخته پورې ایمان رانه وړي چې دردناک عذاب وګوري او هغه اضطراري حالت ته ورسېږي په کوم کښې چې ایمان مقبول نه دی.

نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه ډول ښېرا کول د یوه پیغمبر د شان سره مناسب دي؟ د دغې ښېرا معنی خو دا ده چې: ای ربه! فرعونیان د کفر په حالت کښې مړه کړې؟

مونږ وایو چې: د موسی ﷺ ذکره شوې ښېرا کټ مټ هغې ښېرا ته ورته ده کومه چې نوح ﷺ خپل قوم ته کړې وه چې: ﴿ وَلَا تَزِدِ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا ضَلَٰلٗا ﴾ [نوح:۲۴] یعنې ای ربه! ته کفارو (ظالمانو) ته مه زیاتوه مګر ګمراهي (او بې لارې).

نوح ﷺ ذکره شوې ښېرا د هغه څخه وروسته وکړه چې الله ﷻ ورته خبر ورکړ: ﴿ أَنَّهُۥ لَن يُؤۡمِنَ مِن قَوۡمِكَ إِلَّا مَن قَدۡ ءَامَنَ ﴾ [هود:۳۶] یعنې مونږ نوح ﷺ ته وحې وکړه چې ستا د قوم څخه نور

---

(۱) الجواهر للطنطاوي المصري ج۶ ص۸۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خلک ایمان نه راوړي، مګر چا چې ایمان راوړی دی همغوی ستا د قوم د مؤمنانو ډله ده او بس.

همدارنګه کله چې موسی ﷺ ته الله ﷻ امر وکړ چې: ﴿ وَبَشِّرِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ [یونس:۸۷] مؤمنانو ته د دښمن په هلاکت او د دوی په نجات باندې زیری ورکړه، نو د موسی ﷺ یقین راغی چې فرعونیان زیاتې په ایمان باندې نه مشرف کېږي. نو د همغه شي ښېرا یې ورته وکړه کوم چې ده ته په وحې باندې ثابت شوی وه او خپل مبارک زړه یې ورباندې یخ کړ.

د ذکرې شوې ښېرا نظیر دا جمله ده چې: "لَعَنَهُ الله". البته کله چې د ابلیس ذکر وشي. که بالفرض همدغه جمله څوک ونه وایي او ابلیس ته لعنت ونه غواړي هم هغه خو ملعون دی، مګر د دغې جملې په تکرار سره سړی خپل ځان ښکاره کوي چې زه هم د شیطان دښمن یم.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۹_ که څوک وایي چې ذکر شوي سوالونه خو ټول یوازې موسی ﷺ کړي وه حال دا چې د قبول په مرحله کښې ورسره الله ﷻ هارون ﷺ هم ملګری کړ چې: ﴿ قَدۡ أُجِيبَت دَّعۡوَتُكُمَا ﴾ ستاسو دواړو ښېراوې قبولې کړی شوې؟

مونږ وایو چې: د عبدالله بن عباس رضي‌الله‌عنهما او د ابو هریره رضي‌الله‌عنه څخه روایت دی چې کله موسی ﷺ ذکر شوي سوالونه د الله ﷻ حضور ته وړاندې کول، هارون ﷺ به ورباندې د "آمین" اواز پورته کاوه[۱]. او د آمین کلمه خو د دعاء څخه په غیر بل شی نه دی، یعنې ای ربه! دغه سوال قبول کړې. نو په حقیقت کښې دوی دواړه سوال کوونکي وه.

## سوال جواب

۱۰_ که څوک وایي چې په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د سوالونو د اجابت څخه وروسته دوی دواړه مخاطب کړه چې: ﴿ وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيلَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴾ او تاسو دواړه د هغو خلکو پیروي مه کوئ چې هغوی نه پوهېږي؟

مونږ وایو چې: د عبدالله بن عباس رضي‌الله‌عنهما څخه روایت دی چې: «يَزْعُمُوْنَ أَنَّ فِرْعَوْنَ مَكَثَ بَعْدَ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً»[۲] خلک ګومان کوي چې یقینًا د دغې ذکرې شوې ښېرا څخه وروسته هم فرعون څلوېښت کاله ژوندی پاتې شو (او مهلت ورکړی شو).

نو الله ﷻ دوی دواړه مخاطب کړه چې: ستاسو سوالونه خو قبول شوي دي مګر عملي صورت به یې لږ څه وروسته تحقق مومي، نو تاسو ته په کار دي چې د ناپوهانو په شان بې صبري او وارخطايي ونه کړئ.

خو په ذکر شوي روایت کښې د «يَزْعُمُوْنَ» د کلمې څخه څرګندېږي چې رئیس المفسرین رضي‌الله‌عنه په

---

(۱) الدر المنثور ج۴ ص۳۸۵، تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۲۹
(۲) الدر المنثور ج۴ ص۳۸۵؛ روح المعاني ج۱۱ ص۱۷۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځلوښت کلنی فاصله باندې چندان مطمئن نه دی. نو الله ﷻ په حقیقت باندې د هر شه پوهېږي.
احتمال لري چې د «سَنَةٌ» کلمه به د ځینو راویانو څخه سهواً د "یَوْمًا" په بدل کښې روایت شوې وي
او دا ځکه چې د فرعون په مقابل کښې د موسی ﷺ دعوت ټول ټال ایله شل کاله[1] او یا ځلوښت
کاله[2] دوام کړی دی.

﴿ وَجَـٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ وَجُنُودُهُۥ بَغۡيٗا وَعَدۡوًاۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ
أَدۡرَكَهُ ٱلۡغَرَقُ قَالَ ءَامَنتُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱلَّذِيٓ ءَامَنَتۡ بِهِۦ بَنُوٓاْ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَأَنَا۠ مِنَ
ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٩٠﴾ ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٩١﴾ فَٱلۡيَوۡمَ نُنَجِّيكَ
بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنۡ خَلۡفَكَ ءَايَةٗۚ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ عَنۡ ءَايَٰتِنَا لَغَٰفِلُونَ ﴿٩٢﴾
وَلَقَدۡ بَوَّأۡنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ مُبَوَّأَ صِدۡقٖ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ فَمَا ٱخۡتَلَفُواْ حَتَّىٰ جَآءَهُمُ
ٱلۡعِلۡمُۚ إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُواْ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴿٩٣﴾ ﴾

[۹۰] او مونږ بني اسرائیل د بحر (بحیره قلزم) څخه تېر کړه نو فرعون او د ده لښکرو دوی د بغاوت او تجاوز له کبله تعقیب کړه (دریاب ته ورپسې ورښکته شوه) آن تر دې چې ده (فرعون) ته غرقېدل ور ورسېده (په اوبو کښې ډوب شو) نو ویې ویلې چې: ما عقیده کړې ده (ایمان لرم) چې یقیناً شان دا دی چې د عبادت لایق نه دی مګر هغه اقدس ذات دی چې بني اسرائیلو پرې ایمان راوړی دی، او زه (همده ﷻ ته) د غاړې اېښودونکو څخه یم.

[۹۱] (نو فرعون ته وویل شو چې) ایا اوس (پرې ایمان راوړې) حال دا چې د دې څخه وړاندې دې ترې نافرماني کوله او د مفسدانو (فساد کوونکو) څخه وې (نو ستا ایمان قبول نه دی).

[۹۲] (دا هم ورته وویلی شوه چې) نو نن ورځ به دې (یوازې) بدن (لاش) ته نجات ورکړو (او د دریاب څخه به یې بهر واچوو، دا هم) د دې دپاره چې ته هغو خلکو ته (د الله ﷻ د کامل قدرت) یوه لویه ننبه جوړه شي کوم چې (د قیامت د ورځې پورې) له تا وروسته (راتلونکي) دي.
او یقیناً زمونږ د ایتونو (د قدرتي نښانو) څخه ډېر خلک ضرور غفلت کوونکي دي (ترځو دوی راوښښ شي).

[۹۳] او یقیناً مونږ بني اسرائیل په سپېڅلي ځای کښې واوسول او هم مو دوی ته د پاکېزه (او لذیذو خوراکونو) څخه روزي ورکړه.

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۳۶۷
(۲) تفسیر القرطبي ج۷ ص۲۶۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو (څه وخت وروسته دوی هم انحراف او اختلاف وکړ خو) دوی دا اختلاف ونه کړ (مگر په هغه وخت کښې یې وکړ) چې دوی ته علم ورغی (یا په بل عبارت: د جهالت څخه یې منشا نه وه نیولې بلکې د لجاجت د کبله مختلف شوه).

یقیناً ستا رب ﷻ به د دوی په منځکښې د قیامت په ورځ په هغو (مسائلو) کښې فیصله وکړي په کومو کښې چې دوی (په دنیا کښې) اختلاف کاوه.

## ارتباط

په دې ایتونو کښې د هغې نقشې تعمیل ته اشاره شوې ده د کومې د تعمیل وعده چې بني اسرائیلو ته ورکړه شوې وه، چې دښمن به مو هلاک شي او تاسو ته به ډېرې خوشالۍ درکړی شي.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! بیا مونږ د بني اسرائیلو سره په خپله وعده باندې وفا وکړه، چې د دوی دښمن مو هلاک کړ او دوی ته مو نجات ورکړ او په فرعونیانو باندې مو خپله ټاکلې نقشه عملي کړه. نو په دې مقام کښې په خپل امت باندې د ذکرو شوو مطالبو لاندې نکات قرائت کړه:

۱ـ د هرڅه څخه وړاندې مونږ بني اسرائیلو ته امر وکړ چې د قلزم دریاب په لوري حرکت ورکړئ چې ستاسو مربوط کسان په مصر کښې یو هم پاتې نه شي. یا په بل عبارت: د فرعون زړه مو په دې قانع کړ چې بني اسرائیلو ته د وطن پرېښودلو اجازه ورکړي.

۲ـ کله چې دوی د ښار څخه ووتل نو فرعون په خپله اجازه باندې پښېمانه شو او نیت یې وکړ چې دوی د لارې څخه راستانه کړي. نو په همدې منظور یې ښه غټ لښکر راغونډ کړ چې د ده مهم اشخاص (د کابیني غړي) پکښې ټول شامل وه، نو پخپله یې د عمومي قومندان په حیث د بني اسرائیلو مظلومانو ټولگی تعقیب کړ.

۳ـ د فرعونیانو لښکر د بني اسرائیلو د ټولگي سره په داسې موقع کښې ولیده چې هغوی د قلزم دریاب څنډې ته رسېدلي وه. نو د همدې کبله هغوی هک پک او حیران شوه چې د یو پلوه فرعوني لښکر را روان دی او د بله پلوه دریاب مخه بنده کړې ده، نو دا خبره یقیني ده چې مونږ د فرعوني لښکر په لاس کښې پرېوتلو او هغه مظالم به را باندې څو چنده کړي کوم به یې چې را باندې پخوا اجراء کول.

۴ـ موسی علیه السلام دوی ته ډاډ ورکړ چې د الله ﷻ وعده حقه ده، وارخطا کېږئ مه، ډېر ژر به الله ﷻ مونږ ته د خلاصون لاره را وښایي.

۵ـ په عین وخت کښې مونږ موسی علیه السلام ته امر وکړ چې دریاب په همسا باندې ووهه څو تاسو ته لاره درکړي.

۶ـ کله چې موسی علیه السلام په خپله همسا باندې دریاب وواهه نو په دریاب کښې سمدستي دولس کوڅې جوړې شوې او اوبه د غرونو غوندې ځای په ځای ودرېدلې.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يا په بل عبارت: د دولسو كوڅو ديوالونه د اوبو څخه تشكيل شوه او لاندې ځمكه يې وچه كلكه شوه چې په ختو كښې د پښو ډوبېدلو خطره د منځه لاړه.

۷_ نو موسى ﷺ د خپل قوم دولس واړو قومونو ته امر وكړ چې هر قوم دې په خپله كوڅه كښې ورښكته او د درياب څخه دې بلې خوا تېر شي.

۸_ بني اسرائيلو همدغه امر عملي كړ او هر قوم په خپله كوڅه كښې په حركت شو.

۹_ په داسې وخت كښې چې بني اسرائيل د درياب په معجزانه كوڅو كښې توزيع شوي وه او هيڅوک يې د درياب په غاړه پاتې نه وه؛ فرعوني لښكر هلته ورسېد.

۱۰_ د دې كبله چې فرعون او د ده لښكر باغيان (ظالمان) او د انسانيت د حد څخه هم تجاوز كوونكي خلک وه، نو بني اسرائيل يې په درياب كښې هم د تعقيب لاندې ونيوه، او درياب ته ورپسې ورښكته شوه (په درياب كښې يې هم وزغلول).

۱۱_ خو څه وخت چې بني اسرائيل د درياب بلې خوا ته پورېوتل او د فرعوني لښكر وړاندېني خلک د درياب بلې خوا ته نه وه پورېوتلي او آخرني خلک يې هم درياب ته ورښكته شوه نو مونږ درياب ته امر وركړ چې اوس نو خپل طبعي حركت پيل كړه.

۱۲_ سمدستي د اوبو ځاى په ځاى ولاړ ديوالونه په حركت شوه او فرعوني لښكر د غرق سره مخامخ شو.

۱۳_ مگر كله چې فرعون ته ښه څرگنده شوه چې دا يې د ژوند وروستنى وخت دى نو دا كلمات يې په لوړ اواز سره وويلې چې: ما ايمان راوړى دى، دا يقيني خبره ده چې د عبادت لايق بل څوک نه دي مگر هغه اقدس ذات دى چې بني اسرائيلو ورباندې ايمان راوړى دى، زه هم همدغه اقدس ذات ته د غاړه اېښودونكو څخه يم او په خپلې پخوانۍ كړنلارې باندې پښېمانه يم.

۱۴_ د فرعون د ذكر شوي اضطراري ايمان په رد كښې ده ته وويل شو چې: ايا ته اوس ايمان راوړې؟ حال دا چې د دغه حالت څخه وړاندې دې د الله ﷻ څخه عصيان كاوه او د مفسدانو څخه وې، چې برسېره پر خپل كفر باندې نور خلک دې هم كفر ته هڅول او مجبورول.

۱۵_ اى فرعونه ستا دغه اضطراري ايمان زمونږ په نزد باندې مقبول نه دى چې ستا د نجات وسيله جوړ شي او تا د غرق څخه خلاص كړي.

۱۶_ نن ورځ مونږ فقط ستا بدن (بې روحه كالبوت) ته د درياب څخه نجات وركوو. دا هم له دې كبله نه چې تا په ايمان راوړلو باندې خوله وښوروله، بلكې د دې دپاره چې د قيامت د ورځې پورې د نورو متكبرانو او جابرانو دپاره تا يوه معجزه وگرځوو. څو په راتلونكي كښې بل څوک ستا دريغ خپل نه كړي.

۱۷_ اما دا خبره چې راتلونكي متكبران ستا څخه د عبرت درس نه اخلي، د دې اصلي وجه دا ده چې په خلكو كښې زياتره زمونږ د معجزاتو څخه غافل دي او ځانونه يې پرې راندہ كاڼه اچولي

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي. که نه نو زمونږ معجزات خو څه کمبود نه لري، بلکې ټول مخلوقات دلالت کوي چې زمونږ سره شریک نشته.

۱۸_ ای پیغمبره! دا وه د بني اسرائیلو د نجات وعده چې مونږ ورپوره کړه او نجات مو ورکړ. اوس نو په خلکو باندې د هغوی د دوهمې وعدې پوره کول په لاندې ټکو کښې قرائت کړه:

الف: دوی مو په نجات باندې علاوه په ربنتیني مقام کښې ووسول او د شام او فلسطین ځمکې مو همدوی ته ورکړې، البته کله چې دوی د عمالقه وو سره جهاد وکړ او د هغوی د قبضې څخه یې ذکر شوي ترو تازه وطنونه ویستل.

ب: دوی ته مو په دغو وطنونو کښې پاکیزه او سپېڅلې خوراک او څښاک ورکړ، او هر ډول مادي او معنوي نعمتونه مو ورپېزو کړه.

۱۹_ مونږ په خپله وعده باندې وفا وکړه مګر بني اسرائیلو په خپلو وعدو وفا ونه کړه او د څه وخته څخه وروسته یې په خلاف او شقاق او هم د خپل کتاب په تحریف او تاویل باندې پیل وکړ.

د دوی دغه اختلاف او ګډوډي، بلکې بې دیني، له دې کبله نه وه چې دوی نه پوهېده بلکې د علم سره سره یې بې دینی ته لاس واچاوه او اختلافات یې رامنځته کړه. حتی چې (ای پیغمبره!) ستا هغې خبرې ته یې بدلون ورکړ کومه چې د دوی په کتاب کښې ثبته وه، څو په خلکو باندې ستا د منلو په هکله اختلاف واقع کړي.

۲۰_ ای پیغمبره! د بني اسرائیلو د اختلافاتو د حل کولو دپاره خو الله ﷻ په تا باندې قرآن کریم نازل کړی دی چې په دنیا کښې پرې خپل مشکلات د منځه یوسي. اما د قیامت په ورځ خو به په یقیني توګه ستا رب ﷻ د دوی تر منځ په اختلافي مسائلو کښې فیصلې وکړې نو دوی به هلته په خپله کړنلاره باندې پښېماني ښکاره کړي. نو لکه څنګه چې د اضطرار په حالت کښې د فرعون ایمان مقبول ونه ګرځېده، دوی ته به هم اضطراري پښېماني څه ګټه ونه شي رسولی.

## توضیحات

۱_ په دې باره کښې چې بني اسرائیلو د قلزم د بحیرې په لور حرکت وکړ، مفسرین کرام لاندې دوه نظره لري:

الف: ځیني وایي چې دوی د فرعونیانو څخه په پټه او په خفیه توګه په ذکر شوي عمل باندې لاس پورې کړ خو کله چې هغوی ورباندې خبر شوه نو د تعقیب لاندې یې واقع کړه[1].

ب: ځیني نور وایي چې موسی علیه السلام فرعون ته د دوه وو شیانو دعوت ورکړی وه: یو دا چې په ما باندې ایمان راوړه او د کفر څخه لاس واخله، او بل دا چې بني اسرائیلو ته اجازه ورکړه چې زه یې بېرته خپل اصلي ټاټوبي (وطن) ته بوځم.

[1] روح المعاني ج۱۱ ص۱۸۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د ډېر کش مکش څخه وروسته فرعون لومړنی دعوت رد کړ او قطعي جواب یې ورکړ، مګر دوهم دعوت یې ومانه او وطن ته د ستنېدلو اجازه یې ورکړه.
خو چې کله فرعون د بني اسرائیلو د بېرته تللو د حرکت څخه خبر شو او هم د هغوی په حرکت سره ناپاکه خدمتونه (لکه د خاک اندازونو پاکول) ځای په ځای پاتې شوه، نو په خپله اجازه باندې پښېمانه شو او د بېرته راګرځولو اراده یې وکړه[۱].

## تبصره

۲ـ مونږ ته داسې برېښي چې ذکر شوي دواړه نظرونه یو تر بله څه منافات نه لري. څه لرې نه ده چې فرعون اجازه ورکړې وي، خو څرنګه چې موسی ﷺ ته د فرعون بې لوزي او وعده خلافي معلومه وه او پوهېده چې په خپله خبره باندې به ونه درېږي، نو د همدې کبله به یې په خفیه توګه حرکت کړی وي او د تګ په وخت کښې به یې اطلاع نه وي ورکړې چې مونږ لاړو.
بیا به نو فرعون خپله خبره (اجازه ورکول) د پښو لاندې کړې وي او د وعده خلافۍ دپاره به یې دا بهانه نیولې وي چې تاسو ولې پرته د سابقه اطلاع څخه حرکت وکړ او زه مو خبر نه کړم.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې د بني اسرائیلو بېرته راستنول خو چندان مشکل کار نه وه، نو په فرعون باندې څه باعث وه چې پخپله یې د لښکر قومنداني په لاس کښې واخستله او په سر کښې روان شو. دا کار خو د یوه جنرال په ذریعه هم صورت موندلی شو. حتی د منطقې فرعونیانو هم د بې دفاع بني اسرائیلو د وړاندې تګ مخه نیولی شوه؟
مونږ وایو چې: د ذکرې شوې خبرې اصلي وجهه خو دا ده چې الله ﷻ غوښتل چې فرعون خپل مقتل (د وژلو ځای) ته ور ورسوي او د ده په وتلو سره د غټانو څخه هیڅوک پاتې نه شي او ټول هلاک شي. اما د اسبابو په اعتبار سره څه لرې نه ده چې فرعون لاندې وجوهو ته کتلي وي:
الف: څرنګه چې ساحران د فرعون د پلوه د موسی ﷺ د مقابلې دپاره را ټول کړی شوي وه خو په نتیجه کښې یې په موسی ﷺ باندې ایمان راووړ او ورسره ملګري شوه، نو شاید چې فرعون به ډار شوی وي که پخپله په تعقیب کوونکو کسانو کښې شامل نه شي احتمال شته چې دوی هم په موسی ﷺ باندې ایمان راوړي. حال دا چې دوی خو د ساحرانو غوندې بې وسلې نه دي چې خطر ترې شتون نه لري، دوی خو ټول مسلح دي که د موسی ﷺ ملګري شي او د حکومت په مقابل کښې پیاوړې جبهه تشکیله کړي نو خطر به یې ډېر زیات وي، په دې باندې علاوه دا وېره هم شته چې په قصدي توګه یې مخه خوشې کړي چې ځئ په مخه مو ښه.
ب: ترڅو موسی ﷺ بهانه ونه نیسي چې مونږ ته فرعون اجازه راکړې ده، مونږ بېرته نه ستنېږو. نو چې پخپله په تعقیب کښې شامل وي نو ورته به ووایي چې اجازه نه اجازه.

(۱) تفسیر القاسمي ج۹ ص۷۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## فرعون د دنیا ځخه کافر تېر شوی دی

۴_ټول علماء کرام په اتفاق او اجماع سره عقیده لري چې فرعون د دنیا ځخه د کفر په حال کښې تېر شوی دی او د مرګ په حال کښې چې نوموړي د ایمان کومه چیغه پورته کړې ده هغه د الله ﷻ په نزد باندې د قبول مقام ته نه ده رسېدلې[۱].

برسېره په دې، په همدې مضمون باندې همدغه ایت شریف ﴿ ءَآلْـَٔنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ ﴾ دلالت کوي. لاندې څه نور دلایل یې هم ولولئ:

الف: موسی ﷺ الله ﷻ ته سوال کړی وه چې: ای ربه! د دوی په زړونو باندې کلکوالی واقع کړه (مهر پرې ولګوه) څو ترهغه ایمان رانه وړي چې دردناک عذاب وګوري.

الله ﷻ ذکر شوی سوال قبول کړ چې: ﴿ قَالَ قَدْ أُجِيبَت دَّعْوَتُكُمَا ﴾ [یونس:۸۹] یقیناً ستاسو دواړو سوالونه قبول کړی شوه.

نو معلومه شوه چې فرعون په داسې حال کښې مړ شوی دی چې په زړه باندې یې مهر لګېدلی وه.

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ اللهَ لَيَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ مَا لَمْ يُغَرْغِرْ»[۲] یقیناً الله ﷻ د بنده توبه ضرور قبلوي ترڅو چې د غرغرې حالت ته نه وي رسېدلی (چې روح یې ستوني ته ورسېږي).

ج: ټولو مجتهدینو اجماع کړې ده چې د نا امیدۍ په حالت کښې د ایمان راوړل مقبول نه دي[۳]، چې د سړي یقین او باور راشي چې دغه دی مرګ راغی او د ژوند امید قطعه شو.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: د ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَدْرَكَهُ ٱلْغَرَقُ قَالَ ءَامَنتُ ﴾ معنی خو دا ده چې فرعون د غرق په وخت کښې ذکرې شوې چیغې وکړې. حال دا چې په هغه وخت کښې خو د چا د خولې ځخه اواز نه شي پورته کېدلیَ او اوبه یې مخه نیسي؟

مونږ وایو چې:

الف: د غرق ځخه د غرقېدلو مقدمات مطلب دي. یعنې نوموړي په هغه وخت کښې ذکر شوی اواز پورته کړ چې د غرقېدلو علامات یې ولیده[۴].

ب: د ﴿ قَالَ ءَامَنتُ ﴾ ځخه په ژبه باندې ویناً مطلب نه ده بلکې نفسي کلام ترې مراد دی. یعنې د غرق په حالت کښې فرعون په زړه کښې ذکره شوې وینا تېره کړه[۵].

---

(۱) روح المعاني ج۱۱ ص۱۸۴
(۲) سنن ابن ماجه ص۳۱۴
(۳) روح المعاني ج۱۱ ص۱۸۷؛ تفسیر القاسمي ج۹ ص۷۶
(۴) تفسیر الکشاف ج۲ ص۳۶۷
(۵) التفسیر الکبیر ج۱۷ ص۱۵۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: مګر مونږ ته بهتره برېښي، چې په فوق العاده توګه به فرعون ته د عين غرق په حالت کښې د خبرو توان ورکړی شوی وي، څو ترې الله ﷻ مونږ ته حکايت وکړي.

## يادونه

۶ـ څرنګه چې د فرعون په ايمان او عدم ايمان کښې بحث کول چندان ارزښت نه لري، نو مونږ پکښې بحث نور نه اوږدوو. نو که د چا اوږده بحث ته رغبت وي هيله ده چې ځينو اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړي[1].

## د فرعون د کالبوت (لاش) په باره کښې څه معلومات

۷ـ مونږ غواړو چې د فرعون د هغه لاش په هکله لاندې معلومات محترمو لوستونکو ته وړاندې کړو کوم ته چې د ﴿ فَٱلۡيَوۡمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ ﴾ په کلماتو کښې اشاره شوې ده، هغه دا چې:

الف: کله چې بني اسرائيل د بحر څخه پورېواته او فرعونيان پکښې غرق شوه نو د دوی ګومان نه وه چې فرعون به غرق شوی وي، نو الله ﷻ درياب ته امر وکړ چې د نوموړي لاش (کالبوت) په خپله غاړه باندې وغورزوه، ترڅو پرې د هغوی باور راشي. درياب همدا کار وکړ، بلکې د همغه وخته را په دې خوا اوبه مړی نه قبلوي او سرته يې را پورته کوي څو ټولو خلکو ته څرګند شي[2].

ب: د فرعون لاش د سينا د ټاپو وزمې ځمکې په غربي طرف درياب کښې موندل شوی وه. په همدغه ځای کښې يو غر دی چې د "جبل فرعون" په نامه يادېږي، او هلته يوه چينه ده چې د "حمام فرعون" نوم ورباندې اېښودلی شوی دی[3].

ج: يو مصری مفسر وايي[4] چې که څوک د ذکر شوي ايت شريف په معنی باندې نه پوهېږي نو زمونږ د وطن (مصر) موزيمونو ته دې مراجعه وکړي چې:

اول: زمونږ د مصر په موزيمونو کښې اوس هم د پخوانيو پاچاهانو لاشونه په صندقونو کښې بند پراته دي چې کفنونه يې نه دي خراب شوي او اندامونه يې يو د بل څخه نه دي جدا شوي. د دغو لاشونو ځينې لاشونه درې زره کاله، ځينې څلور زره کاله، ځينې پنځه زره کاله او ځينې لا آن شپږ زره کاله سابقه لري.

دوهم: د هغه فرعون لاش په کوم چې بحث روان دی او د "فرعون موسی" لقب يې ګټلی دی، د هغه اوږدوالی يو متر او دوه اويا سانتي (۷۲، ۱) دی او پلنوالی يې څلوېښتو سانتيو ته رسيږي[5].

---

(۱) روح المعاني ج۱۱ ص۱۸۵؛ تفسير القاسمي ج۹ ص۷۶؛ تفسير الخازن ج۳ ص۲۸۳؛ حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۲ ص۲۸؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۳

(۲) تفسير البغوي ج۲ ص۳۶۷

(۳) تفهيم القرآن ج۲ ص۴۴۸

(۴) الجواهر للطنطاوي ج۶ ص۷۹

(۵) الجواهر للطنطاوي ج۸ ص۸۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ﴿مُبَوَّأَ صِدۡقٍ﴾ څه معنی؟

۷_ مونږ د [يونس:۲] ايت لاندې ليکلي دي چې په عربي ژبه کښې دا عادت شته چې د يو شي د ډېر توصيف او مدحې دپاره د صدق کلمه استعمالوي.

نو په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې کېږي چې مونږ بني اسرائيل په ډېر ښائسته او سپېڅلی ځای کښې واوسول.

پاتې شوه دا خبره چې هغه سپېڅلی ځای کوم دی چې الله ﷻ ترې په ﴿مُبَوَّأَ صِدۡقٍ﴾ سره تعبير کړی دی. نو د دې ځای په تعين کښې علماوو کرامو تقريبًا پنځه قوله کړي دي[1] چې:

الف: شام او بيت المقدس يې مصداق دی.

ب: أردن او فلسطين د ﴿مُبَوَّأَ صِدۡقٍ﴾ معنی ده.

ج: جنوبي شام، يعني هغه وطن چې په فلسطين باندې شهرت لري. او داسې نور.

په هر تقدير، په دې مقام کښې د بني اسرائيلو څخه همغه مشخص خلک مطلب نه دي کوم چې د بحر څخه تېر شوه بلکې مطلب د دوی څخه ټوله مجموعه ده چې لمسيو او کړوسيو ته يې هم شاملېږي. دا ځکه چې د غزاګانو څخه وروسته له بحر نه د پورېوتلو خلکو اولاده په شام او فلسطين باندې مسلطه شوه او پخپله دوی خو ټول عمر د سينا په ټاپو وزمې ځمکه کښې تېر کړ.

﴿فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ مِّمَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ فَسۡـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقۡرَءُونَ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكَۚ لَقَدۡ جَآءَكَ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ﴿٩٤﴾ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَتَكُونَ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٩٥﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ حَقَّتۡ عَلَيۡهِمۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٩٦﴾ وَلَوۡ جَآءَتۡهُمۡ كُلُّ ءَايَةٍ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ﴿٩٧﴾﴾

[۹۴] نو (ای پيغمبره!) که (بالفرض المحال) ته د هغه شي (قرآن کريم) څخه په شک کښې واقع يې کوم چې مونږ تاته درنازل کړی دی نو (د شک د ويستلو دپاره) د هغو خلکو څخه پوښتنه وکړه کوم چې ستا څخه وړاندې (اسماني) کتاب لولي.

(خو ځکه ته شکمن نه يې چې) يقينًا تاته د خپل رب ﷻ د پلوه حق درغلی دی نو ته هرو مرو د شک کوونکو د ډلې څخه مه جوړېږه (او نه به ترې هيڅکله جوړ شې).

[۹۵] او (هم) هرو مرو ته د هغو کسانو څخه مه جوړېږه کوم چې د الله ﷻ ايتونو ته د دروغو نسبت کوي نو ته به د زيانکارانو (تاوانيانو) څخه وګرځې.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

[1] زاد المسير ج۴ ص۵۳؛ روح المعاني ج۱۱ ص۱۸۹

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹۶] یقیناً هغه کسان چې په دوی باندې ستا د رب ﷻ خبره ثابته شوې ده (چې دوزخیان دي) دوی ایمان نه راوړي (که څه هم ستا تاریخي واقعي بیان د ایمان راوړلو دپاره کفایت کوي).

[۹۷] (دوی ترهغې ایمان نه راوړي) اگر چې دوی ته هره یوه (فرمایشي معجزه) ورشي (ورکړې شي) ترڅو چې درد ناک عذاب وگوري.

## ارتباط

په دې ایتونو کښې په هغو مضامینو باندې یوې تبصرې ته اشاره شوې ده کوم چې د نوح ﷺ او د موسی ﷺ د حالاتو په بیان کښې وړاندې تېر شوه. هغه دا چې که بالفرض نبي کریم ﷺ په حقه پیغمبر نه وی او الله ﷻ ورته وحې نه وی کړې نو د هغوی د حالاتو څخه به یې یوه وړکې څنډه هم نه وی بیان کړې.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! ته په حقه د الله ﷻ د پلوه خلکو ته وراستولی شوی یې، که نه نو ته خو نه د نوح ﷺ په کشتۍ کښې پورته شوی یې او نه د موسی ﷺ سره ملگری وې چې کله هغه د فرعوني لښکر د تعقیب لاندې واقع شو. نو خپل امت لاندې نکاتو ته متوجه کړه:

۱ـ څوک چې ستا په نبوت کښې شک لري نو هغه دې د اهل الکتابو (یهودو او نصاراوو) څخه پوښتنه وکړي چې د نوح ﷺ او د موسی ﷺ حالات کټ مټ همدغسې نه وه لکه څنگه چې تا په خلکو باندې قرائت کړه؟

همدارنگه ای پیغمبره! که بالفرض المحال ته پخپله د هاغو حقائقو څخه شکمن یې کوم چې مونږ تاته درنازل کړي دي نو ته هم د هغو اهل الکتابو څخه پوښتنه وکړه کوم چې ستا څخه وړاندېني کتابونه لولي. ته هغوی ته ووایه چې: تاسو په انصاف سره خبر راکړئ چې ایا ربښتیا زما بیانات د واقع سره برابر نه دي؟

۲ـ ای پیغمبره! لکه څنگه چې تا د پخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام حالات په سترگو نه دي لیدلي، همدارنگه ته خو په لیک او لوست هم نه پوهېږې چې د هغوی تاریخ دې لوستی وي، او تا د چا سره شاگردي هم نه ده کړې چې کوم استاذ درته معلومات درکړي وي. بلکې حقیقت دا دی چې تا ته د خپل رب ﷻ د پلوه حقایق وحې کړی شوي دي او ته په حقه پیغمبر یې. نو نه دې ستا په نبوت کښې نور خلک د شک کوونکو څخه جوړېږي او نه ته پخپله په دغې ډله کښې شاملېږه.

۳ـ ای پیغمبره! هرڅوک چې ستا په نبوت کښې شک کوي هغوی په حقیقت کښې د الله ﷻ د ایتونو (دلایل) تکذیب کوي (د دروغو نسبت ورکوي). نو ته هرومرو د هغوی کسانو څخه مه کېږه څوک چې د الله ﷻ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي، که نه نو ته به هم د هغوی په شان د زیانکارانو (تاوانیانو) څخه وگرځې.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴ـ ای پیغمبره! ستا د نبوت د اثبات دپاره ستا همدغه غیبي بیانات کفایت کوي مګر د چا په زړونو باندې چې مهر لګېدلی دی او ستا د رب ﷻ خبرېورباندې متحققې شوې دي (چې دغه ډول خلک ایمان نه راوړي) نو دوی رښتیا ایمان نه راوړي او د ایمان د نه راوړلو دپاره د بهانې او پلمې په توګه فرمایشي معجزې غواړي.

۵ـ مګر حقیقت دا دی چې دغه ډول خلک به هیڅکله ایمان رانه وړي، که څه هم دوی ته ټول فرمایشي معجزات ورکړ شي، ترڅو چې په دوی باندې د فرعون غوندې حال نه وي ورغلی. یا په بل عبارت: دوی به هله ایمان راوړي چې دردناک عذاب وګوري او ایمان راوړلو ته مجبور او مضطر جوړ شي. خو افسوس چې د الله ﷻ په نزد اضطراري ایمان د قبلولو وړ نه دی، د همدې کبله د فرعون اضطراري ایمان مقبول ونه ګرځېد او د دنیا څخه د کفر په حال کښې لاړ.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ شَكٍّ ﴾ کلمه د دې دپاره وضعه شوې ده چې د سړي په نزد دوه متنافي شیان یو برابر وي او یوې خوا ته هم ترجیح موجودیت ونه لري[1]. نو شک هم د جهل (ناپوهۍ) یو ډول دی او چرته چې شک موجود وي نو جهل به ورسره ضرور موجودیت لري.

په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: ای پیغمبره! که بالفرض تاته دا دواړه خبرې یو برابرې وي چې قرآن کریم به په حقه د الله ﷻ د پلوه درنازل شوی وي او که نه؛ نو د اهل الکتابو څخه پوښتنه وکړه چې حقیقت درته معلوم شي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲ـ که څوک وایي چې ایا ـالعیاذ بالله ـ نبي کریم ﷺ د قرآن کریم په حقانیت کښې څه شک درلود چې الله ﷻ ورته د شک ویستلو لار وروښودله؟

مونږ وایو چې: د همدغه سوال د جوابولو دپاره مفسرینو کرامو زښت ډېر جوابونه کړي دي[2] چې اکثره غیر متبادر دي. که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ ته فقط لاندې جواب په زړه پورې ښکاري:

نبي کریم ﷺ د قرآن کریم په حقانیت کښې څه شک او تردد نه درلود. د همدې کبله یې (کله چې ذکر شوی ایت شریف نازل شو) وفرمایل چې: «لَا أَشُكُّ وَلَا أَسْأَلُ»[3] زه نه شک لرم او نه پوښتنه کوم.

مګر څرنګه چې په قرآن کښې د عربي ژبې (محاورې) ټول اسالیب (طریقې) او باریکۍ مراعاتې شوې دي، ترڅو دوی ته بهانه په لاس ورنه شي چې مونږ څکه د قرآن کریم د مقابلې څخه عاجز یاستو چې په هغه کښې زمونږ د ژبې نزاکتونه (باریکۍ) نه دي مراعات شوي، که د قرآن کریم د

(۱) مفردات الراغب ص۲۷۱
(۲) التفسیر الکبیر ج۱۷ ص۱۶۱؛ زاد المسیر ج۴ ص۵۴
(۳) تفسیر الطبري ج۱۱ ص۱۶۸؛ تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۳۲؛ الدر المنثور ج۴ ص۳۸۹؛ عون المعبود ج۱۴ ص۱۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بیان طرز د عربیت سره مطابق وي نو مونږ به ضرور یو سورت لاڅه بلکې د هر سورتونه جوړ کړي وي؛ نو د دې ژبې د بیان د اسالیبو څخه یو اسلوب (طریقه) دا ده چې کله-کله هغه مخاطب چې متیقن (پوه) وي داسې ګڼل کېږي لکه چې هغه ناپوه او شکمن وي.

په دغه ایت شریف کښې همدغه اسلوب معمول ګرځولی شوی دی. د همدې کبله د قرآن کریم د نزول په وخت کښې هیچا ذکر شوی اعتراض ونه کړ. که نه نو هغوی خو د اعتراض د ځای موندلو ته د هرچا څخه زیات خوشالېده.

پاتې شوه دا خبره چې په دې مقام کښې د ذکرې شوې طریقې په معمول ګرځولو کښې څه حکمتونه دي. نو مونږ وایو چې: الله ﷻ د خپل کتاب په اسرارو باندې د هر ښه پوهېږي خو احتمال شته چې لاندې حکمتونه به هم په نظر کښې نیولی شوي وي:

الف: ترڅو خلک په غوړ باندې ووهلی شي چې دا قرآن کریم د نبي کریم ﷺ خپل تصنیف نه دی، که نه نو ذکر شوی اسلوب به ورته په کار نه وی اچولی شوی.

ب: مشرکان اشارةً متوجه کړی شوي دي چې که تاسو په قرآن کریم کښې شک لرئ نو خپل شک په دغې طریقه وباسئ؛

ج: د بیان دغه طرز (ډول) په زیات وثوق (اطمنان) باندې دلالت کوي.

که بالفرض په قرآن کریم کښې څه اشتباه وی نو ضرور به نبي کریم ﷺ ته هدایت شوی وی چې خوله پرې پټه کړه چې اهل الکتاب خبر نه کړې، که نه نو دروغ به دې افشاء شي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې اهل الکتابو خو خپلو کتابونو ته تحریف ورکړی وه او په دې باندې علاوه، هغوی خو د قرآن کریم د حقانیت څخه منکر وه، نو دغسې خلکو ته سوال راجع کول څه ګټه درلوده؟

مونږ وایو چې:

الف: د اهل الکتابو څخه هغه کسان مطلب دی کوم چې واقعًا اهل الکتاب وه، چې په خپل کتاب کښې یې تحریف نه وه کړی او په قرآن کریم باندې یې ایمان راوړی وه، لکه عبدالله بن سلام او نور.

ب: همدوی ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِندَهُۥ عِلْمُ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ [الرعد:۴۳] یعني ای پیغمبره! کفارو ته ووایه چې: زما او ستاسو ترمنځ الله ﷻ د شاهد په حیث بس دی (کفایت کوي) او هغه څوک هم چې د هغوی په نزد د کتاب علم دی.

ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ وَمَنْ عِندَهُۥ عِلْمُ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ څخه د یهودو او نصاراوو منصفان علماء اخستي دي.

ج: په دې باندې علاوه، د اهل الکتابو عداوت په هغه وخت کښې اوج ته ورسېد کله چې نبي کریم ﷺ مدینې منورې ته هجرت وکړ او دوی مستقیمًا د دعوت الی الله لاندې واقع شوه.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما د هجرت څخه وړاندې خو ځينو كسانو د قرآن كريم په حقانيت باندې اعتراف كاوه خو د ايمان د نه راوړلو دپاره يې نورې پلمې جوړولې، چې دا عربو پورې خاص دي او داسې نور. د همدې مطلب ښه وضاحت په لاندې قيصه كښې[1] ولولئ:

، يوه ورځې قريشو اهل الكتابو ته يوه جرګه ولېږله څو د نبي كريم ﷺ په هكله د هغوى څخه پوښتنه وكړي چې ايا دا رښتياني پيغمبر دی، ايا ستاسو په كتاب (تورات) كښې يې ذكر شته؟!

په هغه وخت كښې اهل الكتابو په پرېنده توګه اعتراف وكړ چې دا رښتياني پيغمبر دی او په تورات كښې يې ذكر شته. كله چې ذكره شوې جرګه بېرته مكې معظمې ته ورستنه شوه او د اهل الكتابو شهادت يې ورته حكايت كړ نو هغوى وويلې چې دا او هغه (تورات، قران) دواړه د جادو كتابونه دي. الله ﷻ همدغه حكايت ته اشاره كوي چې: ﴿ قَالُوا۟ سِحْرَانِ تَظَٰهَرَا ﴾ [القصص:۴۸] يعنې مشركان وايي چې دا دواړه كتابونه (قرآن كريم او تورات) د جادو دوه كتابونه دي چې يو د بل تائيد كوي.

﴿ فَلَوْلَا كَانَتْ قَرْيَةٌ ءَامَنَتْ فَنَفَعَهَآ إِيمَٰنُهَآ إِلَّا قَوْمَ يُونُسَ لَمَّآ ءَامَنُوا۟ كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَذَابَ ٱلْخِزْىِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَمَتَّعْنَٰهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٩٨﴾ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَءَامَنَ مَن فِى ٱلْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا ۚ أَفَأَنتَ تُكْرِهُ ٱلنَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُوا۟ مُؤْمِنِينَ ﴿٩٩﴾ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تُؤْمِنَ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَيَجْعَلُ ٱلرِّجْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٠٠﴾ قُلِ ٱنظُرُوا۟ مَاذَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَمَا تُغْنِى ٱلْءَايَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠١﴾ فَهَلْ يَنتَظِرُونَ إِلَّا مِثْلَ أَيَّامِ ٱلَّذِينَ خَلَوْا۟ مِن قَبْلِهِمْ ۚ قُلْ فَٱنتَظِرُوٓا۟ إِنِّى مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴿١٠٢﴾ ثُمَّ نُنَجِّى رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۚ كَذَٰلِكَ حَقًّا عَلَيْنَا نُنجِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ ﴾

[۹۸] نو (د كفارو د هلاكو شوو ښارونو څخه) ولې يوه داسې كلي (ښار) تحقق ونه موند چې (نافرمانو اوسېدونكو) يې ايمان راوړی وی، نو چې ايمان ورته ګټه رسولې وی (په دنيا او آخرت كښې يې نجات وركړی وی. يعنې هيڅ هم دا كار ونه كړ) مګر (يوازې) د يونس ﷺ قوم (ذكره شوې كرنلاره خپله كړه) هر كله چې دوی ايمان راوړ نو د دوی څخه مو په نژدې ژوند كښې د رسوايي عذاب پورته كړ او د څه وخته (د مرګ د وخته) پورې مو ورته ګټه ورسوله (د دنيايي استفادې موقع مو په فوق العاده توګه وركړه).

Downloaded from: bawarketabtoon.com

(۱) روح المعاني ج۲۰ ص۹۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹۹] اوکه چېرته ستا د رب ﷻ اراده شوې وی نو هرومرو به هغو ټولو خلکو په مجموعي توګه (بالاختیار) ایمانْ راوړی وی کوم چې په ځمکه کښې (اوسېدونکي) دي. (نو د ټولو خلکو د ایمان راوړلو فقط یو صورت شته چې په زور ایمان راوړي) ایا نو ته په خلکو باندې د زور ځخه کار اخلې ترڅو دوی (ټول) مؤمنان وګرځي؟

[۱۰۰] او هیڅ نفس ته (هیچا ته) دا نشته چې (بالاختیار) ایمان راوړي مګر د الله ﷻ په اذن (توفیق) سره (چې په دلایلو کښې د عقل ځخه کار واخلي). او الله ﷻ په هغو کسانو باندې پلیتي (کفر) وراچوي کوم چې د عقل ځخه کار نه اخلي.

[۱۰۱] (ای پیغمبره! خلکو ته) ووایه چې: تاسو وګورئ چې هغه شیان څومره (ډېر) دي چې په اسمانونو او ځمکو کښې (د الله ﷻ په وحدانیت باندې دلالت کوي خو تاسو ترې استفاده نه کوئ)؟

او(ای پیغمبره! اصلي خبره دا ده چې) دلایل او ډاروونکي (پیغمبران) د داسې قوم ځخه د عذاب مخه نه شي نیولی کوم چې (قصداً) ایمان نه راوړي (او زړونه یې مهر ولاک شوي وي).

[۱۰۲] نو ایا دوی انتظار وباسي (دوی منتظر نه دي) مګر د هغو کسانو د بدو ورځو مثل (ورځو) ته (منتظر دي) کوم چې د دوی ځخه وړاندې تېر شوي (هلاک شوي) دي. (نو ورته) ووایه چې انتظار وکړئ (مزه به یې وڅکئ) زه هم ستاسو سره د انتظار کوونکو ځخه یم (چې کله به درباندې عذاب نازلېږي).

[۱۰۳] (ای پیغمبره د پخوانیو بدې ورځې داسې وې چې دوی به مو هلاک کړه او) بیا به مو خپلو پیغمبرانو ته نجات ورکړ او همدارنګه به مو هغو کسانو ته (نجات ورکړ) چې ایمان به یې راوړی وه (په پیغمبرانو باندې).

(ای پیغمبره!) مونږ همدارنګه په خپل اقدس ذات باندې (دا خبره ثابته ګرځولې ده) ثابته چې مونږ به مؤمنانو ته (د همېشه دپاره) نجات ورکوو (او دښمنان به یې هلاک کوو).

## ارتباطونه

۱ـ وړاندې ایتونه په دې تمام شوي وه چې د کومو کفارو چې په زړونو باندې مهر وهلی شوی دی هغوی د دردناک عذاب د لیدلو ځخه پرته ایمان نه راوړي. په دې ایتونو کښې هغو کفارو ته اشاره شوې ده چې زړونه یې لا د مهر لګېدلو حالت ته نه وي رسېدلي.

۲ـ دلته هغه سوال جواب شوی دی کوم چې د وړاندېنیو ایتونو ځخه پورته کېدلی شو. هغه دا چې څه وجه ده چې ټول خلک بالاختیار ایمان نه راوړي. نو حاصل یې داسې راوځي چې:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د کومو کفارو چې په زړونو باندې مهر وهلی شوی دی هغوی په داسې وخت کښې ایمان نه راوړي چې دوی ته ګټه ورسولی شي، بلکې هغه وخت ته یې ټالوي چې هلته ایمان راوړل د الله ﷻ په نزد مقبول نه دي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ چې د پخوانیو سرکښانو څومره قومونه پوپنا کړي دي او بېخ مو د دوی ویستلی دی، دوی ټولو د عذاب د نزول په وخت کښې ایمان راوړی دی خو ایمان ورته ګټه نه ده رسولې او زمونږ په نزد مقبول نه دی ګرځېدلی چې ایمان ورته ګټه رسولې وی او د عذاب مخه یې ترې اړولې وي.

مګر صرف د یونس ﷺ قوم ته د عذاب د نزول په وخت کښې په فوق العاده توګه ایمان ګټه ورسوله او د عذاب مخه یې ترې واړوله. نو مونږ د دوی څخه شرموونکی عذاب پورته کړ او د څه وخته پورې مو دوی ته فرصت ورکړ چې د نژدې ژوند څخه استفاده وکړي.

اما د قیامت په ورځ لکه څنګه چې د نورو خلکو سره محاسبه صورت نیسي دوی به هم د محاسبې لاندې واقع شي. نو څوک چې د مرګ د ورځې پورې په ذکر شوي ایمان باندې ولاړ پاتې شوي دي هغوی ته به د نورو مؤمنانو په ضمن کښې نېکه جزا ورکړو، او چا چې د خپل ایمان څخه انحراف کړی دی نو هغه به د سزا سره مخامخ کړو.

ای پیغمبره! اوس نو هغه سوال جواب په لاندې ټکو کښې قرائت کړه کوم چې د چا ذهن ته ورځي چې ټول خلک ولې ایمان نه راوړي. هغه دا چې:

۱ـ ای پیغمبره! که ستا رب ﷻ غوښتې وی (اراده یې کړې وی) چې ټول خلک دې په ایمان باندې بالاختیار مشرف شي نو ضرور به د ځمکې ټولو اوسېدونکو بالاختیار ایمان راوړی وی او هیڅوک به کافر نه وی پاتې شوي. الله ﷻ د دې کار څکه اراده نه ده کړې چې دا د حکمت څخه مخالف دی.

نو کله چې الله ﷻ د ټولو خلکو ایمان راوړلو ته اراده نه ده کړې خو د دې سره سره ستا زړه غواړي چې د ځمکې پر مخ هیڅوک کافر پاتې نه شي نو ستا د غوښتنې معنی دا ده چې ته د خلکو څخه هغه څه کول غواړې کومو ته چې الله ﷻ د موجودیت اراده نه ده کړې. ایا ته غواړې چې خلک په ایمان راوړلو باندې مجبور کړې، چې پرته د اختیاره د اضطرار په توګه ایمان راوړي؟ حال دا چې ته ښه پوهېږې چې اضراري ایمان د الله ﷻ په نزد مقبول نه دی.

۲ـ ای پیغمبره! هیڅوک داسې نه شي کولی چې پرته د الله ﷻ د ارادې او پرته د ده ﷻ د اجازې (توفیق) څخه بالاختیار ایمان راوړي.

دا د الله ﷻ کار دی چې ځینو ته د ایمان راوړلو توفیق ورکوي، البته هغو خلکو ته چې د خپل عقل څخه کار اخلي او ورکړی شوي وسائل په همدې باره کښې په کار اچوي. بالمقابل الله ﷻ په هغو کسانو باندې پلیتي (کفر) وراچوي کوم چې د عقل څخه کار نه اخلي (په دلایلو او براهینو کښې په ښه نیت سره تفکر نه کوي).

۳ـ ای پیغمبره! د ایمان راوړلو دپاره خو بې اندازې دلایل شته دي خو چې څوک ترې کار واخلي، بلکې هر مخلوق په خالق باندې په ډاګه دلالت کوي. نو ته خلکو ته ووایه چې تاسو خو وګورئ اوسترګې رنې کړئ چې په اسمانو او ځمکو کښې څومره دلایل موجود دي؟ ایا تاسو یې د شمېر لاندې راوستلی شئ؟

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ ای پیغمبره! اصلي خبره دا ده: څوک چې د عقل څخه کار نه اخلي، د دلایلو موجودیت او د ډاروونکو ډارول هغو ته څه ګټه نه شي رسولی او د تعصب او جهالت مخه یې نه شي نیولی ترڅو ایمان راوړي. په دغسې قوم باندې د الله ﷻ د عذاب خبرې تحقق موندلی دی نو دوی خپله تګلاره هیڅکله نه بدلوي.

۵_ نو دغسې خلک د بل شي انتظار نه وباسي، دوی فقط همدې ته منتظر دي چې د هغسې بدو ورځو سره مخامخ شي د کومو سره چې پخواني عنادیان مخامخ شوي وه. نو بیا به دوی ایمان راوړي خو د الله ﷻ په نزد به مقبول نه وي، لکه څنګه چې د فرعون ایمان مقبول نه شو.

۶_ نو ای پیغمبره! دوی مخاطب کړه او اخطار ورکړه چې د خپل هلاک انتظار وکړئ، مونږ هم ستاسو سره ستاسو هلاک او بد عاقبت ته منتظر یاستو.

۷_ ای پیغمبره! د پخوانیو عنادیانو کفارو سره زمونږ کړنلاره دا وه چې په هغوی باندې به مو عذاب ورنازل کړ او بیا به مو خپلو پیغمبرانو او د دوی ملګرو مؤمنانو ته نجات ورکړ. د بېلګې په توګه: مونږ موسی ﷺ او بني اسرائیلو ته نجات ورکړ او فرعونیان مو د هلاک سره مخامخ کړه.

۸_ ای پیغمبره! مونږ په خپل ځان باندې تفضلاً لازمه ګرځولې ده چې مؤمنانو ته نجات ورکړو.

## توضیحات

۱_ که څه هم د یونس ﷺ او د ده د قوم قصې ته د "الأنبیاء" او "الصافات" په سورتونو کښې اشارې شوې دي مګر څنو مفسرینو کرامو[1] په دې مقام کښې هم ډېره مفصله لیکلې ده. که څوک فرصت لري نو هملته دې مراجعه وکړي خو مونږ فقط د لاندې ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: یونس ﷺ یو پیغمبر وه چې د عراق (موصل) په ښار کښې د نینوی ښارګوټي ته د پیغمبر په صفت ورلېږل شوی وه.

ب: د ښه اوږده دعوت څخه وروسته خلکو غوږ جواب ورکړ چې ایمان درباندې نه راوړو.

ج: یونس ﷺ دوی ته خبر ورکړ چې تاسو به تر درېوو ورځو پورې ضرور د الهي عذاب سره مخامخ شئ.

د: د ذکر شوي تهدید څخه وروسته یونس ﷺ د ښار څخه بهرته لاړ، حال دا چې د الله ﷻ څخه یې د وتلو اجازه نه وه اخستې.

هـ: د ښار اوسېدونکي خبر شوه چې یونس ﷺ د ښار څخه بهر ووت، نو یقین یې راغی چې عذاب ضرور راتلونکی دی. د همدې کبله دوی ډېر تالاش وکړ چې یونس ﷺ مونده کړي او خپل ښار ته یې بېرته راستون کړي او د یوه حقاني پیغمبر په حیث یې ومني، خو افسوس چې لاس ته ورنغی.

و: دا د یو پلوه، او د بله پلوه د عذاب مقدماتي آثار هم ورڅرګند شوه؛ چې تکه توره وریځ راپورته شوه او د نینوی ښار یې احاطه کړ.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۳۶۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ز: نو الله د ښاریانو په زړونو کښې په اخلاص سره پښېمانې واچوله او ټول په اخلاص سره د کفر څخه توبه تائب شوه.

ح: ټول ښاریان (واړه او زاړه) بېدیا ته ووتل او په سوالونو او ژړاوو باندې یې پیل وکړ. حتی چې ساکښ څاروي یې هم بیدیا ته ویستلي وه.

ط: نو الله ﷻ د دوی توبه قبوله کړه او د عذاب مخ یې تري واړاوه بلکې نجات یې ورکړ.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د فرعون توبه د اضطرار په حالت کښې قبوله نه کړه او د یونس ؑ د قوم توبه یې مقبوله کړه؟

مونږ وایو چې:

الف: په فرعون باندې الهي عذاب احاطه کړې وه او اضطراي حالت یې یقیني شوی وه، اما د یونس ؑ قوم خو لا د عذاب د حملې لاندې نه وه واقع شوی بلکې محض د عذاب څه نښې او اثار یې لیدلي وه. نو د دوی مثال داسې دی لکه چې یو مریض په خپل ځان باندې د مرګ څخه وډار شي او ایمان راوړي، خو د غرغرې په حالت کښې واقع نه وي[۱]. نو په دغسې وخت کښې ایمان مقبول دی. د همدې کبله نبي کریم ﷺ خپل تره (ابو طالب) په همدغسې وخت کښې ایمان ته دعوت کړ خو هغه قبول نه کړ[۲].

مګر د ﴿ كَشَفْنَا ﴾ د کلمې څخه څرګندېږي چې دوی هم د عذاب له حملې لاندې واقع شوي وه او څه برخې یې ورباندې خوړې شوې وې.

ب: الله ﷻ ته د فرعون زړه معلوم وه چې په اخلاص سره یې توبه نه وه ویستلې، او د یونس ؑ د قوم په اخلاص باندې پوه وه چې یې د کفر څخه یې لاس اخستی دی او رښتیانی ایمان یې راوړی دی[۳].

مګر دا جواب هم مونږ ته ډېر خوندور نه برېښي، ځکه چې د اضطرار په حال کښې خو د هرچا اخلاص زیات وي، لکه چې الله ﷻ د مشرکانو څخه حکایت کوي چې: ﴿ فَإِذَا رَكِبُوا۟ فِى ٱلْفُلْكِ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾ [العنکبوت: ۶۵] یعنې کله چې مشرکان په بېړیو کښې سواره شي نو الله ﷻ په داسې حال کښې بلي چې خپل دین یې همده ﷻ ته سوچه ګرځولی وي (هیڅ تګي پکښې نه وي) مګر هرکله چې مونږ وچې ته نجات ورکړو نو سمدستي دوی شرک کوونکي جوړ شي.

ج: نو له همدې کبله اکثره مفسرین کرام عقیده لري[۴] چې د اضطرار په حال کښې د یونس ؑ

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۷ ص۱۶۵؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۳۰
(۲) اسباب النزول للواحدي ص۲۲۸ في سورة القصص
(۳) البحر المحیط ج۶ ص۱۰۸؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۲۹۱
(۴) روح المعاني ج۱۱ ص۱۹۳؛ تفسیر الطبري ج۱۱ ص۱۷۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د قوم توبه په اختصاصي توګه مقبوله ګرځولې شوې وه. شاید چې دوی ته د اختصاص ورکولو وجوه به دا وي چې:

اول: یونس ﷺ پرته د الهي اجازې ښار پرېښی وه او د آخره پورې یې خپل دعوت ته ادامه ورنه کړه، نو الله ﷻ دده قوم معذور وګاڼه او توبه یې د دوی قبوله کړه. امّا موسی ﷺ خو د الله ﷻ په اجازې باندې حرکت کړی وه او په اصطلاح د وروستنۍ سلګۍ پورې یې دعوت ته ادامه ورکړه. یا په بل عبارت: موسی ﷺ ته الله ﷻ اطلاع ورکړې وه چې فرعونیان ایمان نه راوړي، ستا مسؤلیت بشپړ شو، د مصر څخه ووځه. او یونس ﷺ ته خو یې دغه اطلاع نه وه ورکړې چې ستا دعوت انجام ته رسېدلی دی.

دوهم: فرعونیانو خپل پیغمبر (موسی ﷺ) وځغلاوه او د وژلو یا رانیولو دپاره یې تعقیب کړ. او د یونس ﷺ قوم خو -بالعکس- د خپل پیغمبر پلټنه کوله چې ایمان پرې راوړي، خو پیغمبر ترې تللی وه.

## د ایت شریف اشاره

۳- د یونس ﷺ د قوم له قیصې نه د اشارې په توګه معلومېږي چې دا هم د همدوی پورې اختصاص لري چې په خپل پیغمبر باندې یې په مجموعي توګه ایمان راوړی وه. په پیغمبرانو کښې بل داسې پیغمبر نه دی تېر شوی چې ټول امت یې په منلو باندې اتفاق کړی وي. د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث ولولئ:

نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «عُرِضَتْ عَلَيَّ الأُمَمُ فَجَعَلَ يَمُرُّ النَّبِيُّ مَعَهُ الرَّجُلُ وَالنَّبِيُّ مَعَهُ الرَّجُلانِ وَالنَّبِيُّ مَعَهُ الرَّهْطُ وَالنَّبِيُّ لَيْسَ مَعَهُ أَحَدٌ»[1] یعنې: په ما باندې امتونه راوړاندې کړی شوه (زما په وړاندې تېر کړی شوه) نو وړاندې کول (داسې) پیل شوه چې: یو پیغمبر به تېرېده یو سړی به ورسره وه، او پیغمبر به تېرېده چې دوه سړي به ورسره وه او پیغمبر به تېرېده چې ډله به ورسره وه، او پیغمبر به تېرېده چې هیڅوک به ورسره نه وه (چې هیچا به پرې ایمان نه وه راوړی).

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴- که څوک وایي چې ایا نبي کریم ﷺ غوښتل چې خلک د اکراه په توګه ایمان راوړلو ته مجبور کړي، چې الله ﷻ ورته دا خطاب نازل کړ چې: ﴿ أَفَأَنتَ تُكْرِهُ ٱلنَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُوا۟ مُؤْمِنِينَ ﴾ یعنې ایا ته غواړې چې په خلکو باندې زور وکړې ترڅو دوی مؤمنان جوړ شي. نو پوښتنه دا ده چې نبي کریم ﷺ خو ښه پوهېده چې د اکراه ایمان د الله ﷻ په نزد باندې مقبول نه دی، ایا دا ډول غوښتنه د ده ﷺ سره مناسبه وه؟

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۸۵۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: د عبدالله بن عباس رضي‌الله‌عنهما د روايت په مطابق[۱]، نبي كريم ﷺ د ټولو خلكو په بالاختيار ايمان راوړلو باندې ډېر حرص كاوه، نو الله ﷻ ورته توصيه وكړه چې د ټولو خلكو د بالاختيار ايمان راوړل خو د الله ﷻ په اراده كښې نشته او كوم شي ته چې الله ﷻ اراده ونه كړي هغه تحقق نه شي موندلی، نو د ټولو خلكو ايمان راوړل داسې برېښي لكه چې ته د ټولو خلكو څخه اضطراري ايمان غواړې حال دا چې دا خو ته نه غواړې. نو بهتره دا ده چې د ټولو خلكو په ايمان نه راوړلو باندې دومره غمژن نه شې چې له ډېره غمه خپل ځان ووژنې.

ذكر شوي مضمون ته الله ﷻ اشاره كړې ده چې: ﴿ لَعَلَّكَ بَٰخِعٌ نَّفۡسَكَ أَلَّا يَكُونُواْ مُؤۡمِنِينَ ﴾ [الشعراء:۳] يعني شايد ته (له ډېره غمه) د خپل ځان وژونكی شې چې دوی ټول مؤمنان نه جوړېږي.

﴿ قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي شَكّٖ مِّن دِينِي فَلَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِينَ تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِنۡ أَعۡبُدُ ٱللَّهَ ٱلَّذِي يَتَوَفَّىٰكُمۡۖ وَأُمِرۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٠٤﴾ وَأَنۡ أَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿١٠٥﴾ وَلَا تَدۡعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَۖ فَإِن فَعَلۡتَ فَإِنَّكَ إِذٗا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠٦﴾ وَإِن يَمۡسَسۡكَ ٱللَّهُ بِضُرّٖ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَۖ وَإِن يُرِدۡكَ بِخَيۡرٖ فَلَا رَآدَّ لِفَضۡلِهِۦۚ يُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٧﴾ ﴾

[۱۰۴] (اې پيغمبره! عمومي اعلان وكړه او) ووايه چې: اې خلكو كه چېرته تاسو زما د دين په هكله په شک كښې ياست (زما دين نه پېژنئ) نو (زما د دين څو مهم ټكي دا دي چې) زه د هغه چا عبادت نه كوم چې تاسو بدون د الله ﷻ څخه (د هغوی) عبادت كوئ، لكن زه د هغه الله ﷻ عبادت كوم چې تاسو قبض كوي (ارواګانې مو اخلي)، او (هم) زه امر كړی شوی (مامور كړی شوی) يم چې (په دوامداره توګه) د يقين كوونكو (له ډلې) څخه وګرځم (و ووسم).

[۱۰۵] او (ماته توصيه شوې ده چې) خپل مخ دې (در نازل شوي) دين ته (په كامله توګه) په داسې حال كښې ورواړوه چې (د ټولو باطلو اديانو څخه همدغه دين ته) ميلان كوونكی (وراوښتونكی) يې، او (هم دا) چې ته هرومرو د مشركانو څخه مه جوړېږه.

[۱۰۶] او (هم دا چې) ته د الله ﷻ په غير د هغه شيّ (بوت) بلنه (عبادت) مه كوه چې نه درته ګټه رسولی شي او نه درته ضرر رسولی شي. نو كه (بالفرض المحال دا كار) وكړې نو يقيناً ته به په دغه وخت كښې د ظالمانو د ډلې څخه شمېرل شوی يې.

[۱] تفسير القرطبي ج۸ ص۳۸۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[١٠٧] او (هم راته ويل شوي دي چې) كه چرته الله ﷻ تا ته څه ضرر ورسوي (سختي درباندې دروليږي) نو د دې (سختۍ) پورته كوونكى نشته مگر همدى ﷻ دى (او بس). او كه چرته تاته د خير اراده وكړي (چې خوشالي دركړي) نو (دا به د الله ﷻ فضل وي او) د ده ﷻ د فضل تاوونكى هيڅوك نشته (هيڅوك پكښې اختيار نه لري). الله ﷻ دخپلو بندگانو څخه هغه چا ته خپل فضل ورسوي چې اراده يې ورته وشي، او همدى ﷻ بښوونكى (او) مهربان دى.

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو كښې د نبي كريم ﷺ دا تمه غوښه شوې ده چې ټول خلك به پرې په اختيار سره ايمان راوړي او د ځمكې پر مخ به هيڅوك كافر پاتې نه شي. په دې ايتونو كښې د كفارو دا تمه پرې كړى شوې ده چې نبي كريم ﷺ به د دوى باطل دين ته ور واوړي او په خپل حق دين باندې به پښې كېږدي.

## د مطلب خلاصه

يعني اى پيغمبره! ته خلكو ته خپله ديني كړنلاره واضحه كړه، ترڅو د يو پلوه د دوى هغه تمه په قطعي توگه غوڅه شي چې ته به د دوى باطل دين ته ور واوړې، او د بله پلوه په دې باندې هم په يقيني توگه پوه شي چې ته د خپل حق دين څه برخې د دوى له دين سره خلط كولى هم نه شې، چې معجوني دين ترې جوړ شي، او بيا يې دواړه طرفه پيروي وكړئ. نو ټول خلك مخاطب كړه چې:

اى خلكو! كه تاسو زما د دين څخه په شك كښې ياست نو زه تاسو ته خپل دين په لاندې ټكو كښې خلاصه كوم، نور تاسو فكر وكړئ چې ستاسو له دين سره يې توافق ممكن دى او كه محال. ټكي دا دي:

١ـ زه د الله ﷻ څخه پرته د هغو كسانو او هغو شيانو عبادت نه كوم، كوم چې تاسو ورته په عبادت باندې سرونه ټيټ كړي دي. د دغسې پېروۍ تمه له زما نه غوڅه كړئ.

٢ـ زه د هغه الله ﷻ عبادت كوم چې مونږ او تاسو يې ټول پيدا كړي ياستو او بيا مو مړه كوي او بالآخره د قيامت په ورځ به مو د قبرونو څخه راپورته كړي.

٣ـ ذكره شوې كړنلاره ما پخپله خان ته.نه ده جوړه كړې بلكې زه مامور او مكلف يم چې د هغو كسانو څخه خپل ځان شمېر كړم كوم چې د الله ﷻ په يووالي او د شرك په بطلان باندې ايمان درلودونكي دي.

يا په بل عبارت: زه په دغې لاره كښې يوازې نه يم بلكې يو لك او څلېرشت زره ـزيات يا كم ـ پيغمبران عليهم السلام په همدغې لاره باندې تېر شوي دي او د همدغې لارې پيروۍ ته يې دعوتونه چلولي دي.

٤ـ زه د الله ﷻ د پلوه مخاطب كړى شوى يم چې ته خپله ټوله توجه همدغه الهي دين ته واړوه او د نورو ټولو باطلو اديانو څخه په بشپړه توگه خپل ځان په څنگ وساته. يا په بل عبارت: زه د خپل

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دین له یوه وړوکي جزء څخه هم نه تېرېدنه کولی شم او نه پکښې د باطلو ادیانو یوه وړوکي جزء ته ځای ورکولی شم.

۵ـ ماته د الله ﷻ د پلوه توصیه شوې ده چې د ټولو باطلو ادیانو څخه عموماً خپل ځان په څنګ وساته او خصوصاً د مشرکانو د ډلې څخه خپل ځان مه جوړوه، چې معجوني (ګډوډ) دین ورسره ترتیب کړې.

۶ـ ماته دا توصیه هم شوې ده چې د الله ﷻ څخه په غیر د هغو شیانو بلنه مه کوه کوم چې تاته د پیروۍ په صورت کښې ګټه نه شي رسولی او د بې اطاعتۍ په صورت کښې تاته د ضرر رسولو توان نه لري.

ماته دا ویل شوي دي که ته دا کار وکړې نو ته به په دغه وخت کښې د الله ﷻ د مقربو بندګانو څخه نه بلکې ته به د ظالمانو له ډلې څخه وشمېرلی شي.

۷ـ ما ته ویل شوي دي چې:

الف: که تا ته الله ﷻ څه سختې دروسوي نو د دغې سختۍ پورته کوونکی او لرې کوونکی نه دی مګر فقط الله ﷻ دی او بس (د هیڅا توان نشته چې نجات درکړي).

ب: او که الله ﷻ تاته د خیر او کومې خوشالۍ اراده وکړي نو دا به د الله ﷻ فضل او کرم وي، نو په دغه صورت کښې به هیڅوک مونده نه شي چې د الله ﷻ د فضل مخه ستا څخه واړوي او تاته ونه رسېږي. دا ځکه چې الله ﷻ د خپل فضل پخپله باندې توزیع کوونکی دی، هرچا ته یې چې د خپلو بندګانو څخه اراده وشي هغه ته یې رسوي. نه یې څوک مخنیوی کولی شي او نه پکښې د چا هو یا نه ځایېږي.

۸ـ بالآخره ای خلکو! تاسو ټول پوه شئ چې الله ﷻ ښښونکی او مهربان دی؛ نو که تاسو د کفر او شرک څخه لاس واخلئ نو په پخوانیو شرکیاتو او کفریاتو باندې به مو ونه نیسي او برسېره پر دې د نېکیو توفیق به هم درکړي.

## توضیحات

۱ـ په دغه ایت شریف کښې ـچې اوس د بحث لاندې دی ـ هغه اسلوب (طریقه) معموله ګرځولې شوې ده کومه چې په [یونس:۹۴] ایت کښې معموله ګرځولې شوې وه، چې پوره بیان یې هملته تېر شوی دی. هغه دا چې: مشرکانو په خپل خیال یقین درلود چې د دوی دین د نبي کریم ﷺ د دین سره بالکل منافات لري او هغه ﷺ په خپل دین باندې دومره کلک دی چې د را اوښتلو امکان یې نشته. خو د دې سره‌سره دوی داسې وګڼل شوه لکه چې دوی په ذکر شوي مطلب کښې شکمن وي. نو د شک د پورته کولو دپاره نبي کریم ﷺ ته توصیه وشوه چې د خپل دین څو مهم ټکي ورباندې قرائت کړه.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شاید چې د دې اسلوب (طریقې) د استعمال حکمت به په دې مقام کښې دا وي چې ترڅو د ایمان راوړلو دپاره د مشرکانو اذهان اماده کړي شي. یعنې ستاسو او د ایمان راوړلو ترمنځ یوازې ذکر شوی شک حائل (مانع) دی، نو که تاسو په دغې شرحې باندې د خپل شک مخنیوی وکړئ نو دستي به په ایمان باندې مشرف شئ.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د سختئ (مشکلاتو) د رسولو په هکله د ﴿ وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ ﴾ کلمه نازله کړه او د خیر رسولو څخه یې د ﴿ وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ ﴾ سره تعبیر وکړ. حال دا چې خیر او شر (دواړه) د الله ﷻ په اختیار کښې دي؟

مونږ وایو: که څه هم د دغې تفرقې دپاره ځنو مفسرینو کرامو[1] څو متعدد جوابونه کړي دي، مګر کوم شی چې په تبادر (چالاکۍ) سره د سړي ذهن ته ورځي هغه دا دی چې دلته به "تفنن في العبارة" په نظر کښې نیول شوی وي، څو د مطلب په اداء کولو کښې عبارتونه متعدد جوړ شي، چې پوره شرحه یې په علم البدیع کښې ذکره ده، والله ﷻ اعلم.

﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۖ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴿١٠٨﴾ وَٱتَّبِعْ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ وَٱصْبِرْ حَتَّىٰ يَحْكُمَ ٱللَّهُ ۚ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿١٠٩﴾ ﴾

[۱۰۸] (ای پیغمبره!) ووایه چې ای خلکو! یقیناً تاسو ته د خپل رب ﷻ د پلوه حق (دین) درغلی دی؛ نو هرڅوک چې لاره مونده کړي (دین قبول کړي) نو بې شکه د خپل ځان دپاره یې لاره مونده کړه (ګټه یې همده ته راجع ده)، او هرڅوک چې لاره ورکه کړي (دین قبول نه کړي) نو بې شکه د خپل ځان (په ضرر) باندې یې لاره ورکه کړه (ټول ضرر یې خاص همده ته متوجه دی). او زه خو په تاسو باندې څارونکی (ذمه وار) نه یم (ټاکلی) شوی.

[۱۰۹] او (ای پیغمبره!) ته د هغه شي پیروي کوه کوم چې تاته (د خپل رب ﷻ دپلوه) وحې کېږي، او (د کفارو په اذیتونو باندې) صبر کوه ترڅو چې الله ﷻ حکم (فیصله) وکړي.
او همدی ﷻ د حکم کوونکو (فیصله کوونکو له جملې څخه) ډېر بهتر فیصله کوونکی دی.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د یو پلوه د حق دین ځانګړي صفات بیان شوي وه او د بله پلوه د نبي کریم ﷺ مسؤلیت په تمامه معنی اداء کړی شوی وه. په دې ایتونو کښې د یو پلوه خلکو ته خپل

(۱) تفسیر القاسمي ج۹. ص۸۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مسوڵیت په خپلو غاړو وراچولی شوی دی او د بله پلوه نبي کریم ﷺ ته توصیه شوې ده چې په خپل دریغ باندې کلک ودرېږي.

## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! کله چې تا په خلکو باندې د خپل دین ځانګړې صفات بیان کړه او خپل مسوڵیت دې پوره کړه، نو اوس دغو ټکو ته توجه وکړه:

۱ـ د هر شي ځخه وړاندې یو ځل بیا ټول خلک مخاطب کړه او خپلو مسوڵیتونو ته یې متوجه کړه چې:

الف: ای خلکو! تاسو ته خو د بل چا د پلوه نه بلکې د خپل رب ﷻ د پلوه حق دین درغلی دی چې اختصاصي صفات یې تاسو په واضحه توګه واورېده او ما خپل مسوڵیت په بشپړه توګه اداء کړ، نو اوس ستاسو خپل کار دی چې ایمان وربانديې راوړئ او که خپل ځانونه په جهالت کښې پرېږدئ:

نو هرڅوک چې په ذکره شوې دیني لاره باندې لاړ شي نو ګټه یې فقط خپل ځان ته ده. او څوک چې دغه لاره پرېږدي او په غلطه لاره باندې لاړ شي نو دا یقیني خبره ده چې خپل ځان یې له خطر سره مخامخ کړه او په لوی لاس یې د هلاکت کندې ته ور ودانګل.

ب: زما همدومره مسوڵیت وه چې حق دین مې تاسو ته در ورساوه. زه په تاسو باندې نه د محافظ او څارونکي په توګه مقرر کړی شوی یم، چې ستاسو د کړو وړو څارنه وکړم، او نه زه ستاسو د کړو وړو ذمه وار یم چې ستاسو مسوڵیت ماته راجع کړی شي.

۲ـ ای پیغمبره! په خپل دریغ باندې کلک ودرېږه او صرف د هغه شي پیروي کوه کوم چې تاته د خپل رب ﷻ د پلوه وحې کېږي. او هم صبرناک (ثابت قدمه) اوسه او د کفارو په اذیتونو باندې حوصله مه خرابوه او استقامت د لاسه مه ورکوه، آن تر هغه وخته پورې چې الله ﷻ ستا او د کفارو په منځکښې په حقه فیصله وکړي.

او دا ځکه چې همدی ﷻ د ټولو فیصله کوونکو او حکم کوونکو بهتر فیصله کوونکی او حکم کوونکی دی، چې ټول کارونه یې په عدل باندې ولاړ دي.

## یادونه

۳ـ که څوک غواړي چې د دې سورت د مطالبو خلاصه ولولې نو ځینو اوږدو تفاسیرو[۱] ته دې مراجعه وکړي.

د الله ﷻ په توفیق د "یونس" سورت ترجمه او تفسیر بشپړ شو.

۱۳۷۵/۹/۱۵ هـ ش

Downloaded from: bawarketabtoon.com

(۱) تفسیر المنار ج۱۱ ص۴۹۴

# هود(۱۱)

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د عبدالله بن عباس رضی‌الله‌عنهما په روایت دا سورت مکي سورت دی[۱] او د جمهورو علماوو کرامو هم همدا نظر دی[۲]، د دې سورت د نزول په وخت کښې د مشرکانو د پلوه په نبي کریم ﷺ باندې ډېر زیات تېری روان وه.

په دغه وخت کښې د نبي کریم ﷺ تره (ابو طالب) مړ شوی وه چې د ده ﷺ څخه به یې دفاع کوله او أم المؤمنین خدیجة الکبری رضی‌الله‌عنها هم وفاته شوې وه چې د نبي کریم ﷺ زړه ته د اطمنان ورکولو دپاره یوه لویه تسلي ورکوونکې وه[۳].

د همدې کبله نبي کریم ﷺ په دغه کال باندې د "عام الحزن" نوم کېښود، یعنې "د غم کال".

۲ـ په دې سورت کښې د هود ﷺ نوم هم څو ځایه ذکر شوی دی نو د هود په نوم سره نوموړی شوی دی. خو مطلب دا نه دی چې ټول بحث یې د هود ﷺ په حالاتو باندې څرخېږي.

۳ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

الف: ټول ایتونه یې یو سلو درویشت (۱۲۳) دي[۴].

ب: د کلماتو شمېر یې یو زر شپږ سوه (۱۶۰۰) دی، او د حرفونو شمېر یې نهه زره پنځه سوه اوه شپېته (۹۵۶۷) دي[۵].

### د دې سورت موضوعات

۴ـ دا سورت هم د نورو مکي سورتونو غوندې په عقیدوي موضوعګانو باندې بحث کوي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د الله ﷻ د وحدانیت اثبات.

ب: د نبي کریم ﷺ د نبوت د ثبوت دلایل.

ج: د قیامت د ورځې د قیام ضرورت او په دغې ورځ کښې د محاسبې تحقق او د نتائجو نوعیت.

په دې باندې علاوه، په دې سورت کښې د څو پیغمبرانو علیهم‌السلام حالات هم بیان شوي دي، ترڅو د یو پلوه پرې نبي کریم ﷺ متسلي شي او د بله پلوه کفار په غوږ ووهلی شي چې ستاسو عاقبت هم د خسران او تاوان څخه په غیر بل شی نه دی.

ځینو مفسرینو کرامو[۶] د دې سورت مضامین خلص کړي دي او په متعددو بابونو او فصلونو کښې یې واضحه کړي دي. نو که څوک فرصت لري او مطالعه یې کړي ګټوره به ورته واقع شي.

---

(۱) الدر المنثور ج۴ ص۳۹۶
(۲) روح المعاني ج۱۱ ص۲۰۲
(۳) في ظلال القرآن ج۴ ص۱۸۴۰
(۴) تفسیر البغوي ج۲ ص۳۷۲
(۵) تفسیر الخازن ج۳ ص۲۹۶
(۶) تفسیر المنار ج۱۲ ص۱۹۸؛ تفسیر المراغي ج۱۲ ص۱۰۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د دواړو سورتونو تناسب

۵_ دغه دواړه سورتونه (یونس، هود) سره یو تر بله کلک تناسب لري. لاندې ځو مثالونه یې ولولئ:

الف: دواړه مکي سورتونه دي او د عقایدو بحث ته دواړه زیات متوجه دي.

ب: هلته د نوح ﷺ حالاتو ته څه اشاره شوې وه او دلته پرې پوره رڼا اچولې شوې ده، لکه چې دا د هغه تفصیل وي.

ج: هلته هم د قرآن کریم په باره کښې ټولې دنیا ته د مقابلې دعوت (چلنج) ورکړی شوی وه او دلته هم همدغه کار صورت نیولی دی او داسې نور.

د: دا سورت هم د یوه پیغمبر (هود ﷺ) په نامه نومولی شوی دی لکه څنګه چې هغه سورت د یوه پیغمبر (یونس ﷺ) په نوم یاد شوی دی.

هـ: بالآخره دواړه سورتونه د ﴿ الٓر ﴾ په تورو باندې پیل شوي دي.

## سوال جواب

۶_ که څوک وایي چې یوه ورځ ابو بکر الصدیق ﷛ پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! څه وجهه ده چې ته بې وخته سپین ږیری شوې؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «شَيَّبَتْنِي هُودٌ وَالْوَاقِعَةُ وَالْمُرْسَلَاتُ وَعَمَّ يَتَسَاءَلُونَ وَإِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ»[۱] یعنې زه د هود سورت او دغو نورو سورتونو سپین ږیری کړم. همدارنګه ذکر شوی حدیث په نورو عبارتونو سره هم روایت شوی دی[۲]؛ نو پوښتنه دا ده چې هغه څه شی دی چې دغه سورت پرې مشتمل دی او د نبي کریم ﷺ د سپین ږیرتوب سبب ګرځېدلی دی؟

مونږ وایو چې: علماوو کرامو په دې باره کښې لاندې وجوهات لیکلي دي:

الف: په دې سورت کښې د هلاکو شوو قومونو د ځینو قیصو د بیان څخه وروسته دا ارشاد ﴿ فَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطۡغَوۡاْ ﴾ نازل شوی دی. یعنې: نو ای پیغمبره! ته هم لکه څنګه چې درته امر شوی دی مستقیم اوسه او هغه څوک دې هم باثباته اوسېږي چا چې ستا سره الله ﷻ ته رجوع کړې ده (ایمان یې راوړی دی) او تاسو ټول طغیان او سرکښي مه کوئ.

نو څه لرې نه ده چې نبي کریم ﷺ به په دې باندې غمژن شوی وي چې هسې نه چې زما امت د هلاکت سره مخامخ شي لکه څنګه چې پخواني قومونه هلاک شوي وه. لکه چې په ﴿ فَٱسۡتَقِمۡ ﴾ کښې د "ف" توری همدې مطلب ته اشاره کوي[۳].

د همدغې وجهې تائید په هغه خوب سره هم لاس ته راځي چې: د علماوو کرامو څخه یوه کس د نبي کریم ﷺ څخه په خوب کښې پوښتنه کړې وه چې: ای د الله رسوله! په سورت هود کښې هغه کوم شی دی چې ستا د سپین ږیرتوب سبب جوړ شوی وه؟ نو نبي کریم ﷺ ورته ذکره شوې جمله

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۵
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۳۵
(۳) تفسیر القرطبي ج۹ ص۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ښودلې وه چې زه ﴿ فَٱسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ ﴾ سپین ږیری کړم[۱].

ب: ځینې علماء کرام وایي چې د دې سورت او د دې سورت د امثالو له کبله ځکه نبي کریم ﷺ سپین ږیری شوی (یعنې غمژن شوی) وه چې دا د قیامت د ورځې د حالاتو په بیان باندې مشتمل دي او دغه حالات خو د قیامت په ورځ د ماشومانو څخه بوډاګان جوړوي[۲]. لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ يَوْمًا يَجْعَلُ ٱلْوِلْدَٰنَ شِيبًا ﴾ [المزمل:۱۷] یعنې ای کفارو! که تاسو په خپل کفر باندې کلک پاتې شئ نو په داسې ورځ کښې به د عذاب څخه خپل ځانونه څنګه وساتئ چې هغه د ډېرو مشکلاتو له کبله ماشومان سپین ږیري کوي؟!

نبي کریم ﷺ ته خو الله ﷻ د قیامت په حالاتو باندې دومره علم ورکړی وه لکه چې هغه حالات یې په مبارکو سترګو باندې لیدلي وي. په همدې مضمون باندې د ده ﷺ لاندې حدیث ډېره ښه رڼا اچوي چې په یوه اوږده حدیث کښې یې فرمایلي دي: «وَاللهِ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلاً وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا»[۳] یعنې په الله ﷻ مې دې سوګند وي که چرته تاسو په هغه څه باندې پوهېدی چې زه پرې پوهېږم نو لږ به مو خندلي وي او ډېر به مو ژړلي وي.

نو کله به چې نبي کریم ﷺ د قیامت مشکلات راپه زړه کول نو په خپل امت باندې د زړه سوي له کبله به غمژن کېده، غمونه خو د سړي وېښتان سپينوي.

ج: ځینې مفسرین کرام وایي[۴] چې نبي کریم ﷺ د الله ﷻ د کتاب په اسرارو باندې ډېر ښه پوهېده، څه ضرور نه ده چې مونږ د ده ﷺ خبرې ته وجوه ولټوو. نو کېدی شي چې د غمژن کېدلو وجوه یې ذکر شوي وجوه وي او یا نور وي چې مونږ پرې علم نه لرو.

مونږ ته همدغه دریم قول غوره ښکاري، والله ﷻ أعلم.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ الٓر ۚ كِتَٰبٌ أُحْكِمَتْ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ۝١ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ ۚ إِنَّنِى لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ ۝٢ وَأَنِ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ يُمَتِّعْكُم مَّتَٰعًا حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى وَيُؤْتِ كُلَّ ذِى فَضْلٍ فَضْلَهُۥ ۖ وَإِن تَوَلَّوْا۟ فَإِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيرٍ ۝٣ إِلَى ٱللَّهِ مَرْجِعُكُمْ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ۝٤ ﴾

(۱) الدر المنثور ج۴ ص۳۹۸
(۲) تفسير الخازن ج۳ ص۲۹۶
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۱۴۲
(۴) روح المعاني ج۱۱ ص۲۰۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ډېر مهربان (او) ډېر بارحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

(دا کتاب) داسې کتاب دی چې ایتونه یې (د نواقصو او خلل ورننوتلو څخه) محکم کړی شوي دي (او په حکمت باندې ډک کړی شوي دي) بیا (د ټولو ضروریاتو دپاره) تفصیل دار کړی شوي دي (چې هیڅ شی پکښې پټ نه دی پرېښودل شوی).

(دا کتاب څکه ذکر شوي صفات لري چې) د حکیم او خبیر (اقدس ذات) د پلوه (نازل کړی شوی) دی.

[۲] (ای پیغمبره! خلکو ته ووایه) چې: تاسو (د بل هیچا) عبادت مه کوئ مګر د الله ﷻ (او بس)، یقیناً زه ستاسو دپاره د همدغه (اقدس ذات ﷻ) د پلوه ډاروونکی او زیری ورکوونکی یم (او بس).

[۳] او (هم ورته ووایه) چې د خپل رب ﷻ څخه (د پخوانیو کفریاتو) مغفرت وغواړئ (ایمان راوړئ او) بیا همده ﷻ ته (په هر کار کښې) رجوع وکړئ (ایمان ته ادامه ورکړئ) ترڅو تاسو ته د ټاکلي وخته (مرګه) پورې (د دنیا څخه) د ښائسته (نیکي) استفادې موقع درکړي او (هم) په صالحه اعمالو کښې د هر زیادت خاوند ته (زیات اجر) ورکړي.

او که تاسو (د دغه کتاب څخه) مخونه واړوئ نو زه په تاسو باندې د لویې ورځې (قیامت) له عذابه ډارېږم.

[۴] خاص الله ﷻ ته ستاسو بېرته ورستنېدل دي او (هم) همدا ﷻ په هر شي باندې د قدرت څښتن دی (ستاسو بېرته ژوندي کول ورته څه مشکل کار نه دی).

## ارتباط

وړاندېنی سورت (یونس) په دې تمام شوی وه چې: ای پیغمبره! د هغه شي پیروي کوه کوم چې تاته وحې کېږي. په دې ایتونو کښې همغه شی بیان شوی دی په کوم باندې چې نبي کریم ﷺ ته د پیروۍ امر کړی شوی دی، چې قرآن کریم دی.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د هر شي څخه وړاندې د ډېر مهربان او ډېر بارحمه الله ﷻ په نامه دا کلام پیل کړه چې:

۱ـ تاته الله ﷻ داسې قرآن کریم درنازل کړی دی چې خپل ځان پخپله ثابتوي. یا په بل عبارت: د دې کتاب د معجزاتو څخه همدا هم د ایمان د راوړلو دپاره کفایت کوي چې دا د همغو تورو څخه جوړ دی د کومو څخه چې د عربو کلامونه جوړېږي او جوړ شوي دي، لکه ا، ل، ر او داسې نور، خو د دې سره سره د ټولې دنیا فصحاء او بلغاء یې د مقابلې څخه عاجز دي او د ده د سورتونو څخه د یوه سورت په جوړولو باندې توان نه لري.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ د معنی په اعتبار سره هم همدغه کتاب یوه لویه معجزه ده چې:

الف: ایتونه یې له حکمت څخه ډک دي، چې نه پکښې څوک د ګوتې د ایښودلو ځای موندلی شي او نه پکښې څه خلل او نیمګړتیاوې شته.

ب: خو په دې باندې علاوه دا کتاب تېر شوي حالات او راتلونکي حالات کټ مټ بیانوي، چې هیڅ تخلف پکښې نه موندلی شوی دی او نه به پکښې وموندلی شي.

ج: دا کتاب د داسې اقدس ذات (ﷻ) د پلوه نازل کړی شوی دی چې هم د حکمت خاوند دی او هم په هر شي باندې خبردار دی. نو له همدې کبله دا کتاب هم په حکمت باندې ډک دی او هم پکښې وړاندیني او ورستني علوم ځای په ځای کړی شوي دي.

۳_ ای پیغمبره! نو ته ټول خلک مخاطب کړه او د دې کتاب د نزول مطالب ورته تشریح کړه. ورته ووایه چې:

الف: ای خلکو! تاسو د الله ﷻ څخه پرته د هیچا او هیڅ شي عبادت مه کوئ. د عبادت مستحق نه دی مګر همدی ﷻ دی او بس.

ب: زه تاسو خپل عبادت ته نه رابلم بلکې زه فقط تاسو د الله ﷻ د پلوه داروم چې که تاسو د دې کتاب توصیه د پښو لاندې کړئ نو په دنیا او آخرت کښې به د مشکلاتو سره مخامخ شئ. دا د یو پلوه، او د بله پلوه زه د الله ﷻ د پلوه تاسو ته زیری درکوونکی یم خو که تاسو د دې کتاب په مقتضی عقیده او عمل برابر کړئ او په عملي چوکاټ کښې یې پیاده کړئ.

ج: ای خلکو! د خپل رب ﷻ څخه د پخوانیو ګناهونو مغفرت وغواړئ نو تاسو به په تېرو شوو کفریاتو باندې هیڅکله ونه نیسي. ستاسو رب ﷻ په تاسو باندې ډېر مهربان او بارحمه دی.

د: ای خلکو! یوازې الله ﷻ ته توبه تائب شئ او په دې کتاب باندې خپل ایمان ته ادامه ورکړئ، چې په دې کښې ستاسو د دنیا او آخرت ګټه نغښتې ده.

ه: نو که تاسو دا کتاب دستور العمل وګرځاوه نو الله ﷻ به تاسو ته په دنیا کښې خوندور ژوند درکړي او د مرګ د وخته پورې به د دنیا څخه ډېره پاکیزه او مزناکه استفاده وکړئ.

و: په دې باندې علاوه، د الله ﷻ په نزد به ستاسو یو بځری عمل هم ضائع نه شي او څوک چې هرڅومره زیاتې ښېګڼې وکړي نو هغوی ته به په دنیا او آخرت کښې زیات اجرونه او بدلې ورکړي.

ز: ای خلکو! که تاسو د دې معجزانه کتاب ارشادات د پښو لاندې کړئ او له منلو نه یې مخونه واړوئ نو زه په تاسو باندې د یو پلوه د دنیاوي عذاب څخه داړېږم، چې د پخوانیو کفري قومونو غوندې به په تاسو باندې عذاب درنازل شي. او د بله پلوه ستاسو د آخرت غم راسره دی چې هلته به د لویې ورځې د عذاب سره لاس او ګرېوان شئ:

ح: ای خلکو! تاسو هیڅکله د الله ﷻ په حضور کښې د ودرېدلو څخه خلاصون نه شئ موندلی. او ستاسو خاص همده ﷻ ته رجوع ده. که ژاړئ او که خاندئ د همده ﷻ په حضور کښې به ودرېږئ او حساب کتاب به درسره کېږي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ط: ای خلکو! تاسو دا خیال ونه کړئ چې خاورې شوي کالبوتونه به مو بېرته ژوندي نه شي کړی. او دا ځکه چې الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت خاوند دی، ده ﷻ ته بیا راژوندي کول داسې دي لکه څنګه يې چې اول ځل تاسو ژوندي کړي یاست.

## توضيحات

۱ـ دا ایتونو د دې سورت (هود) دپاره داسې حیثیت لري لکه چې د همدې سورت عنوان وي. یا په بل عبارت: په دې سورت کښې تر آخره پورې د ذکرو شوو ایتونو مطالب په ډول-ډول اساليبو (طریقو) باندې بیانېږي. هغه مطالب دا دي:

الف: د قرآن کریم حقانیت، ب: د الله ﷻ توحید، ج: په دنیا او آخرت کښې د نېکانو جزا، د: په دنیا او آخرت کښې د متکبرینو او کفارو سزا، هـ: د قیامت د ورځې قیام او د خلکو هلته ورستنېدل. و: بالآخره د الله ﷻ کامل قدرت.

## د أُحْكِمَتْ او فُصِّلَتْ معناوې

۲ـ که څه هم علماوو کرامو د ﴿ أُحْكِمَتْ ﴾ په تفسیر کښې څلور قوله کړي دي او د ﴿ فُصِّلَتْ ﴾ په هکله يې شپږ ډوله تفسیر کړي دي[1]، مګر مونږ ته لاندې تفسیرونه غوره ښکاري:

الف: ﴿ أُحْكِمَتْ ﴾ معنی دا چې: الله ﷻ دا کتاب د نواقصو د موجودیت څخه پاک ساتلي دي چې هیڅکله پرې چا د عیب داسې ګوته نه ده ایښې چې په کوم دلیل باندې اتکاء ولري، او نه به يې پرې څوک کېږدي.

همدې مضمون تـه الله ﷻ اشـاره کـړې ده چې: ﴿ لَّا يَأْتِيهِ ٱلْبَٰطِلُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِۦ ﴾ [فصلت: ۴۲] یعنې دغه کتاب ته نه د مخې د پلوه باطل (دروغ) راتلای شي او نه د شا د پلوه ورنه ننوتلی شي.

ب: ﴿ فُصِّلَتْ ﴾ معنی دا چې: دا کتاب د ټولو ضروریاتو په تفصیل او بیان باندې مشتمل دی لکه چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ تِبْيَٰنًا لِّكُلِّ شَىْءٍ ﴾ [النحل: ۸۹] یعنې او مونږ په تا باندې کتاب (قرآن کریم) په داسې حال کښې درنازل کړی دی چې د هر شي بیانوونکی دی.

## یادونه

۳ـ مونږ په ﴿ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ ﴾ او ﴿ أَنِ ٱسْتَغْفِرُوا۟ ﴾ کښې د "أن" دواړه توري د ﴿ أُحْكِمَتْ ﴾، ﴿ فُصِّلَتْ ﴾ دپاره تفسیریه ګڼلي دي. ځکه چې دغه دواړه کلمې اشارةً د قول معنی (ویلو) نه متضمنې دي.

(۱) زاد المسير ج۴ ص۶۲- روح المعاني ج۱۱ ص۲۰۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! د دې کتاب د تحکیم او تفصیل (اسرارو) په هکله خلکو ته ووایه چې: تاسو د بل هیچا او بل هیڅ شي عبادت مه کوئ مگر د الله ﷻ او بس، یقیناً زه ستاسو دپاره د همده ﷻ د عذاب څخه ډاروونکی یم او د همده ﷻ په نعمتونو باندې زیری ورکونکی یم. او تاسو د خپل رب ﷻ څخه مغفرت وغواړئ.

مگر مفسرینو کرامو پکښې نور ډولونه تفسیرونه هم کړي دي[1]. که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې د استغفار او توبې څه فرق دی چې دواړه په یوه ایت شریف کښې ذکر شوي دي؟

مونږ وایو چې: علماوو کرامو دلته څو متعدد جوابونه کړي دي[2]، خو کوم جواب چې مونږ ته په تبادر سره ذهن ته راځي هغه دا دی چې: د ﴿ ٱسۡتَغۡفِرُواْ ﴾ معنی په دې مقام کښې دا ده چې د خپلې کفرې کړنلارې څخه لاس واخلئ: او په ﴿ ثُمَّ تُوبُوٓاْ ﴾ کښې دې اشاره ده چې بیا همدغه حالت ته د مرگ د ورځې پورې ادامه ورکړئ، ترڅو د لاندې ایت شریف په مصداق کښې شامل شئ چې: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ ﴾ [فصلت: ۳۰] یعنې: یقیناً هغه کسان چې اقرار کوي چې زمونږ رب الله ﷻ دی (ایمان راوړي او) بیا پرې مستقیم اوسي نو ملائک به هغو ته په جنت سره زیری ورکړي.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: په دې مقام کښې الله ﷻ هغو خلکو ته د ښائسته ژوند وعده ورکړې ده کوم چې د پخوانیو کفریاتو څخه مغفرت وغواړي او الله ﷻ ته په ایمان راوړلو باندې رجوع وکړي، حال دا چې مونږ د ډېر مؤمنان په تریخ ژوند کښې گورو چې روزي یې تنگه وي او د مشکلاتو سره مخامخ وي؟

مونږ وایو[3] څه لرې نه ده چې صالح خلک د ټولنې د فساد له کبله د روزۍ د تنگسې سره مخامخ شي، او پوره واضحه ده چې دنیاوي عذاب کله کله د جنایتکارانو څخه نورو ته هم تجاوز کوي.

په دې باندې علاوه، نېکان په دنیا کښې د روزۍ دتنگسې سره مخامخ کېږي، ترڅو الله ﷻ دوی ته لوی اجرونه ورکړي، خو د زړونو سکون او اطمنان د لاسه نه ورکوي. او پوره څرگنده ده چې د سړي ژوند په وارخطايي او اضطراب باندې ترخېږي، نه د روزۍ په تنگۍ باندې.

---

(۱) البحر المحیط ج۶ ص۱۲۰

(۲) التفسیر الکبیر ج۱۷ ص۱۸۱

(۳) في ظلال القرآن ج۴ ص۱۸۵۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ أَلَآ إِنَّهُمۡ يَثۡنُونَ صُدُورَهُمۡ لِيَسۡتَخۡفُواْ مِنۡهُۚ أَلَا حِينَ يَسۡتَغۡشُونَ ثِيَابَهُمۡ يَعۡلَمُ مَا

يُسِرُّونَ وَمَا يُعۡلِنُونَۚ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ۝٥ ﴾

[۵] خبردار! يقيناً دوی (کفار) چې دي خپلې سينې د دې دپاره تاووي ترڅو د الله ﷻ څخه (هغه څه) پټ کړي (کوم چې دوی په زړونو کښې پټ ساتلي دي). خبردار! الله ﷻ په هغو شيانو باندې پوهېږي کوم چې دوی يې (په زړونو يا مجالسو کښې) پټوي او په هغو شيانو باندې (هم پوه دی) کوم چې دوی يې څرګندوي (په ټولو وختونو کښې پرې پوهېږي خو په خاصه توګه) په داسې وخت کښې هم (پوهېږي) چې دوی ځانونه په خپلو جامو (او پوښاکونو) باندې په پرده کښې جوړوي (او خيال کوي چې څوک به راباندې نه پوهېږي).
(په دې ټولو باندې علاوه) يقيناً الله ﷻ د سينو (زړونو) په حالاتو باندې پوه دی (چې لا بهر ته نه وي راوتلي).

## ارتباطونه

۱_ وړاندېنې ايتونه د الله ﷻ د قدرت د عموم په بيان باندې تمام شوي وه او په دې ايت کښې د الله ﷻ د علم عموم ته اشاره شوې ده.

۲_ هلته د قرآن کريم ارشادات بيان شوي وه چې قران کريم ستاسو څخه دا-دا شی غواړي او دلته د خلکو غبرګون بيانېږي، لکه چې د شان نزول په روايتونو کښې پرې رڼا اچولې شوې ده.

## شان نزولونه

د ذکر شوي ايت په شان نزول کښې علماوو کرامو څه متعدد روايتونه ليکلي دي[۱] لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

۱_ عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې ځينو مسلمانانو ته حياء ورتله، البته کله به چې دوی د خپلو مېرمنو سره جنسي ارتباط نيوه او يا به يې اودس ماتاوه حال دا چې دوی به خپل ځانونه نه وه پټ کړي او څه پوښاک به يې نه وه اغوستی. نو الله ﷻ ذکر شوی ايت شريف نازل کړ[۲].

۲_ د منافقانو څخه يو سړي، چې "الأخنس بن شُريق" نومېده، د نبي کريم ﷺ سره يې په زړه کښې زياته کينه او عداوت درلود او په ظاهر کښې يې ورسره ډېره ښه وضعه کوله، تا به ويل چې نوموړی د خپل زړه حالت د الله ﷻ څخه او يا د نبي کريم ﷺ څخه پټوي؛ نو الله ﷻ ذکر شوی ايت شريف نازل کړ[۳].

---

(۱) زاد المسير ج۴ ص۶۴
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۶۷۷
(۳) اسباب النزول للواحدي ص۱۷۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ په مشرکانو کښې داسې کس هم وه چې خپلې کوتې ته به ننووت او د کور پردې به یې راخورې کړې او هم به یې خپله سینه زنګنونو ته ورتاوه کړه او خپل ځان به یې په جامه او پوښاک کښې ونغښت، نو بیا به یې د خپله ځانه سره ویلې چې: «هَلْ یَعْلَمُ اللهُ مَا فِيْ قَلْبِيْ»[1] یعنې ایا الله ﷻ په هغه څه باندې پوهېږي چې زما په زړه کښې پټ دي؟ (بلکې نه پوهېږي)!.

۴_ ځینې کفار به چې د نبي کریم ﷺ سره ملاقي شوه نو خپل سرونه به یې ټیټ کړه او خپلې سینې به یې ترې تاوې کړې او هم به یې شاګانې ور واړولې او په خپلو مخونو باندې به یې پردې ورخورې کړې ترڅو د دوی سترګې په نبي کریم ﷺ باندې ونه لګېږي: «وَهُمْ یَظُنُّوْنَ اَنَّ ذٰلِكَ یَخْفٰی عَلَیْهِ وَعَلَی اللهِ فَنَزَلَتْ»[2] یعنې د دوی دا ګومان وه چې د دوی په ذکره شوې عمل باندې نه نبي کریم ﷺ پوهېږي او نه الله ﷻ پوهېږي. نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ.

## تبصره

۵_ ذکر شوي روایتونه سره څه منافات نه لري، څه لرې نه ده چې ټولو تحقق موندلی وي، د ایت مفهوم خو په ټولو صادقیږي او سلفو صالحینو خو په مصداقاتو باندې د شان نزولو اطلاق کاوه[3]. په مصداق کښې دا ضرور نه ده چې د ایت شریف سره دې هغه په یوه وخت کښې متحقق شوی وي، نو ځرنګه چې ایت شریف په مکه کښې نازل شوی دی نو زمونږ په نظر اصلي شان نزول به یې د کفارو او مشرکانو واقعات وي، والله ﷻ أعلم.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د قرآن کریم د ارشاداتو په مقابل کښې د مشرکانو تګلاره دا ده چې دوی هڅه کوي او زیار وباسي چې د الله ﷻ څخه خپل کفري حالات پټ کړي.

نو ته اګاه اوسه چې کفار خپلې سینې راغبرګوي او زیار وباسي چې د الله ﷻ څخه او هم ستا څخه خپل حالات پټ کړي مګر دا حالات نه شي پټولی، دا دی د هغوی پټ کړی شوي حالت مو تاسو ته افشاء او بربنډ کړ.

او هم ته کفار اګاه او خبر کړه چې الله ﷻ په هغه وخت کښې هم د دوی په پټو او ښکاره حالاتو باندې پوهېږي په کومو حالاتو کښې چې دوی خپل ځانونه په جامو کښې راونغاړي او خیال وکړي چې اوس نو مونږ د هرچا څخه پټ شوو او هیڅوک راڅخه خبر نه دی.

ای پیغمبره! د الله ﷻ څخه هیڅ شی نه شي پټېدلی، حتی چې هغه حالات هم ورته ځرګند دي چې د خلکو په زړونو کښې ګرځي راګرځي.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۳۷۳

(۲) المحرر الوجیز ج۹ ص۱۰۵

(۳) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ په ظاهر کښې داسې برېښي چې د "الا" توری د نبي کریم ﷺ په تنبیه (خبرداری) باندې دلالت کوي، خو په حقیقت کښې ذکره شوې خبرداري کفارو ته ورکوله کېږي چې: خبردار! ستاسو د پټېدلو هڅې بابېزه او بې فائدې دي، الله ﷻ ته هرڅه معلوم دي، حتی ستاسو د پټولو هڅې هم ترې نه شي پټېدلې.

## ثناء څه معنی؟

۲ـ د ﴿ يَثْنُونَ ﴾ کلمه د "ثناء" څخه اشتقاقه شوې ده. ثناء خو اصلاً د دوه وو شیانو تاوولو او نغښتلو ته ویل کېږي[۱] مګر په دې مقام کښې یې علماوو کرامو لاندې معناوې کړې دي[۲]:

الف: ﴿ يَثْنُونَ صُدُورَهُمْ ﴾ یعنې کفار د قرآن کریم د منلو څخه اعراض کوي. نو په دې تفسیر سره ثناء کلمه د کنایې یا مجاز په توګه د مخ اړولو څخه عبارت ګرځي، خکه څوک چې څه شی قبلوي نو هغه ته مخامخ ورځي او خپله سینه ترې نه کږوي.

ب: دغه کلمه د پټولو څخه کنایه ده. یعنې منافقان د نبي کریم ﷺ عداوت او د قرآن کریم نه منل په زړونو کښې پټوي، لکه چې خپلې سینې یې ورباندې ورتاوې کړې وي.

ج: کفارو به حقیقتًا همدغسې کول، خپلې سینې به یې تاوولې راتاوولې څو خپل ځانونه په جامو کښې ښه ونغاړي او څه یې چې په زړونو کښې دي هغه (په خپل خیال) ښه پټ وساتي حتی چې الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ پرې پوه نه شي.

## تبصره

۳ـ مونږ ته بهتره برېښي چې ذکره شوې کلمه د "ما یطلق علیه الثناء" (هر هغه شي چې د ثنا اطلاق پرې کېږي) په تاویل سره عامه واخستله شي، ترڅو ټولې معناوې پکښې شاملې شي او د شان نزول په ټولو روایاتو باندې تطبیق ومومي.

هذا ما وفقنا الله في إتمام تفسير الجزء الحادي عشر من أجزاء القرآن الكريم، ونسأله أن ييسر لنا إتمام ما قصدناه، ويزيدنا علمًا فيما يحب ويرضى، والحمد لله و الصّلوة والسلام على رسول الله وعلى آله وأصحابه أجمعين.

۱۳۷۵/۱۰/۱ هـ ش

---

(۱) لسان العرب ج۱۴ ص۱۱۵

(۲) روح المعاني ج۱۱ ص۲۰۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي ٱلْأَرْضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا ۚ كُلٌّ فِي كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٦﴾﴾

[۶] او په ځمکه باندې هیڅ حرکت کوونکی شی (ساکښ) نه دی مګر په الله ﷻ باندې (تفضلا) د هغه روزي ده، او (هم) الله ﷻ د هغه په استقرار ځای او ساتنځای باندې پوه دی (په دې باندې علاوه) هر شی په ځرګند کتاب (لوح محفوظ) کښې (لیکلی شوی) دی.

## ارتباط

د وړاندېني ایت مضمون دا وه چې الله ﷻ د انسانانو په ټولو حالاتو باندې پوه دی، په دې ایت کښې همدغه مضمون تعقیب شوی دی چې یوازې د انسانانو نه بلکې د ټولو ساکښانو حالات ورته معلوم دي.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! الله ﷻ ته د انسانانو ټول حالات معلوم دي بلکې همدی ﷻ د ټولو ساکښانو په حالاتو باندې پوه دی، د همدې کبله یې د ټولو ساکښانو د روزۍ ورکولو التزام کړی دی او د هر ساکښ اصل مسکن او عارضي مسکن ورته ټول معلوم دي.

په دې باندې علاوه، د ټولو ساکښانو حالات هم په یوه داسې کتاب کښې ثبت دي چې هلته د ټولو مخلوقاتو کیفیات پوره ځرګند دي، د مثال په توګه هلته لکه څنګه چې د هر ساکښ روزي لیکلې شوې ده چې فلانی شی به خوري او فلانی به اغوندي، همدارنګه هلته لیکلي شوي دي چې په فلاني وخت کښې به وړې کېږي او په دومره اندازه خوراک باندې به مړېږي او داسې نور.

که بالفرض المحال الله ﷻ کامل علم نه درلودی نو هر ساکښ ته به یې د روزۍ ورکولو ذمه واري هم نه وی کړې او نه به دغه کار امکان درلودلی وی.

## توضیحات

۱_ د ﴿دَآبَّة﴾ کلمه د "دَبِیب" _لکه "حبیب"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "دَبِیب" هغه حرکت ته ویل کېږي کوم چې په ډېره کراری باندې صورت نیولی وي لکه چې یو ماشوم یا بوډا حرکت وکړي، مګر په عام عرف کښې په څلور پښې څاروي یا په اس پورې اختصاص لري، خو په دې مقام کښې د ټولو مفسرینو کرامو په اتفاق سره لغوي معنی مراده ده[1] چې ټولو ساکښانو ته شامله ده.

نو د معنی حاصل داسې راوځي چې: هرساکښ چې په ځمکه باندې یا د ځمکې په داخل کښې او بالآخره یا په دریابونو باندې او یا د دریابونو په داخل کښې حرکت کوي او د یو ځای څخه بل

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خای ته انتقالیږي هغو ټولو ته د روزۍ د ورکړې التزام الله ﷻ کړی دی. که ذکر شوي ساکښان خای په خای پراته وي او یا خپل استوګنځایونه بدل رابدل کړي هم د روزۍ په ورکړه باندې یې څه اثر نه پرېوزي.

## رزق څه معنی؟

۲ـ د "رزق" کلمه په لاندې معناوو باندې استعمالیږي[1]:

الف: کومه ورکړه چې دوامداره (مستمره) وي، برابره خبره ده چې په دنیا کښې وي او که په آخرت کښې.

ب: د هرچا ټاکلې شوې برخه، برابره خبره ده چې د مال څخه وي او یا د دنیاوي جاه او جلال څخه او یا د علم او یا بل شي څخه.

ج: هغه خوراک او څښاک چې د یوه ساکښ ګېډې ته رسیږي او د هغه د نشا او نمو او هم د ژوند د بقا سبب جوړیږي.

په دې مقام کښې همدغه دریمه معنی مراده ده.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي: الله ﷻ د ساکښانو د رزق په التزام کښې د "عَلَي" توری نازل کړی دی چې: ﴿ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزْقُهَا ﴾ حال دا چې ذکر شوی توری په دغسې ځایونو کښې د وجوب دپاره استعمالیږي او په الله ﷻ باندې خو د رزق ورکړه واجبه نه ده بلکې د فضل او مرحمت په توګه روزي خورو ته روزي ورکوي؟

مونږ وایو چې: یقیناً په الله ﷻ باندې د بل چا د طرفه څه شی نه شي واجبېدلی ځکه چې په ده ﷻ باندې دپاسه آمر نشته، اما د روزي خورو روزي یې پخپله په خپل اقدس ذات باندې واجبه کړې ده او ضروري یې ګرځولې ده.

په بندګانو باندې ځینې احکام د الله ﷻ د پلوه واجب شوي دي مګر مونږ کولی شو چې ځینې نفلي عبادتونه په خپلو ځانونو باندې د نذر په توګه واجب وګرځوو.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي: هرکله چې الله ﷻ ساکښانو ته د روزۍ د ورکړې وعده کړې ده نو په کار دي چې څوک د لوږې نه وی مړ شوی ځکه چې د الله ﷻ په وعده کښې خو خلف نشته، حال دا چې کله کله ځینې روزي خواره د لوږې هم مړه کېږي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په کار وه چې د روزۍ د موندلو تالاش او کوښښ په مونږ باندې نه وی واجب شوی، ځکه چې الله ﷻ یې ذمه واري کړې ده؟

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۹۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



موږ وايو چې: د رزق (روزۍ) ورکړه په لاندې دوه وو ډولونو باندې وېشله کېږي:

الف: يو دا چې بدون د سببه په معجزانه توګه ورکړی شي، لکه د بي بي مريمې رضي الله عنها رزق چې په [آل عمران: ۳۷] ايت کښې ورته اشاره شوې ده. په دې ډول رزق کښې نه تالاش (کسب) ته ضرورت شته، نه پکښې تالاش څه اثر لري او بالآخره نه يې الله ﷻ د ورکړې وعده کړې ده.

ب: بل هغه دی چې اسبابو پورې تعلق لري، په دې ډول رزق کښې کسب ضرور دی او پلټنه يې واجبه ده. په ايت شريف کښې د همدغه دوهم ډول رزق وعده ذکره ده چې الله ﷻ خپله وعده د هر ساکښ دپاره پوره کړې ده او هر يوه ته يې د خپل رزق د موندلو لارې چارې ښودلي او اسباب يې ورته مسخر کړي دي، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ ٱلَّذِىٓ أَعْطَىٰ كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴾ [طه: ۵۰] يعني: زموږ رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې هر شي ته يې د هغه سره موافق شکل او صورت ورکړی دی او بيا يې هر يوه ته لاربښودانه هم کړې ده چې څنګه ګوزاره وکړي، څنګه وخوري، څنګه وڅښي او داسې نور.

په دغه ډول رزق کښې کله-کله بندش هم پېښېږي خو دا بندش د ذکرې شوې وعدې سره څه منافات نه لري او دا ځکه چې دغه بندش په حکمتونو باندې ولاړ دی چې يوازې الله ﷻ پرې پوهېږي او بس. د ښه وضاحت دپاره لاندې وضاحت ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ ذَلُولًا فَٱمْشُوا۟ فِى مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا۟ مِن رِّزْقِهِۦ ﴾ [الملك: ۱۵] يعني: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ځمکه يې ستاسو دپاره مسخره (تابعداره) ګرځولې ده نو تاسو د دې په اوږو (لوړو ژورو) کښې لاړ شئ (وګرځئ را وګرځئ) او د الله ﷻ د (ښاکلي) رزق څخه وخورئ.

دوهم: او هم فرمايي چې: ﴿ وَلَوْ بَسَطَ ٱللَّهُ ٱلرِّزْقَ لِعِبَادِهِۦ لَبَغَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ [الشورى: ۲۷] يعني: او که چرته الله ﷻ د خپلو ټولو بندګانو دپاره رزق بې اندازې پراخه کړی وی نو دوی به ضرور په ځمکه کښې بغاوت کړی وی.

دريم: او هم فرمايي چې: ﴿ ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِى ٱلنَّاسِ ﴾ [الروم: ۴۱] يعني په وچه او لمده (درياب) کښې د خلکو د (جنايتونو) د کبله فساد څرګندېږي او په ساکښانو باندې د روزۍ تنګي او وچکالي صورت نيسي، حتی چې ځينې د همدغې تنګسې د کبله د مرګ سره مخامخ کېږي.

## يوه عجيبه قيصه

۵ـ يوه ورځې د حاتم الاصم عليه الرحمه سره يوه سړي لاندې سوال جواب وکړ:

سړی: ستا روزي له کومه کېږي؟

حاتم الاصم عليه الرحمه: ماته الله ﷻ روزي راکوي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سړی: ایا الله ﷻ په تا باندې د آسمانه سره زر او سپین زر ورو‌ي؟

حاتم علیه‌الرحمة: ای ساده سړیه! ستا دا خیال دی چې یوازې اسمان د الله ﷻ په واک او اختیار کښې دی، خبره داسې نه ده بلکې اسمان او ځمکه دواړه د الله ﷻ ملکیت دی نو که د اسمانه راباندې روزي را ونه ورو‌ي نو د ځمکې د پلوه خو یې راته راخوتوي[1].

## د مستقر او مستودع معناوې

۶_ که څه هم موږ د الله ﷻ په فضل سره د [الأنعام:۹۸] ایت لاندې په ذکرو شوو دواړو کلمو باندې ښه مفصل بحث کړی دی چې بیا لیکلو ته اړتیا نه ګورو، مګر دلته ورباندې فقط لاندې معلومات اضافه کوو:

د عبد الله بن عباس رضي‌الله‌عنهما څخه روایت دی چې: «مُسْتَقَرُّهَا الْمَكَانُ الَّذِيْ تَأوِيْ إِلَيْهِ وَتَسْتَقِرُّ فِيْهِ لَيْلًا وَنَهَارًا وَمُسْتَوْدَعُهَا الْمَوْضِعُ الَّذِيْ تُدْفَنُ فِيْهِ إِذَا مَاتَتْ»[2] (په دې مقام کښې) د ساکښ مستقر د هغه مکان څخه عبارت دی په کوم کښې چې اوسېږي او د شپې او ورځې پکښې استقرار مونده کوي. او 'مُستودع' یې د هغه ځای څخه عبارت دی په کوم کښې چې دفنېږي کله چې مړ شي.

یعنې الله ﷻ هر ساکښ ته خپله تاکلې شوې روزي رسوي او هیڅ ساکښ ترهغه نه مړ کېږي ترڅو چې خپله تاکلې شوې روزي ختمه کړي. د زیات وضاحت دپاره د یوه چینجي قیصه ولولئ:

## د یوه چینجي قیصه

۷_ کله چې موسی علیه‌السلام الله ﷻ د نبوت په ورکړه باندې سر لوړی کړ نو خپل کامل علم او کامل قدرت یې ورته د یوه چینجي په قیصه کښې ورڅرګند کړ، د دې قیصې څو مهم ټکي دا دي:

الف: الله ﷻ موسی علیه‌السلام ته امر وکړ چې دغه ډبره په همسا باندې ووهه! یعنې یوه ډبره یې ورته وښودله.

ب: په وهلو باندې د نوموړې ډبرې په منځکښې بله ډبره راڅرګنده شوه، چې هغه یې ووهله نو دریمه ډبره را لوڅه شوه.

ج: کله چې موسی علیه‌السلام دریمه ډبره په همسا باندې ووهله او ماته شوه نو په منځکښې یې یو وړوکی چینجی راووت چې د یوې ذرې په اندازه کوچنی وه.

د: دغه چینجي په خوله کښې خپله روزي (رزق) نیولې وه او موسی علیه‌السلام ترې داسې کلمات واورېده چې: «سُبْحَانَ مَنْ يَرَانِيْ وَيَسْمَعُ كَلَامِيْ وَيَعْرِفُ مَكَانِيْ وَيَذْكُرُنِيْ وَلَا يَنْسَانِيْ»[3] پاکي ده هغه اقدس ذات لره چې ما ګوري او خبرې مې اوري او ځای مې پېژني او زه یې په یاد یم او هېروي مې نه.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۹ ص۷

(۲) تفسیر البغوي ج۲ ص۳۷۴، تفسیر الطبري ج۱۲ ص۱

(۳) روح المعاني ج۱۲ ص۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ عَرْشُهُۥ عَلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۗ وَلَئِن قُلْتَ إِنَّكُم مَّبْعُوثُونَ مِنۢ بَعْدِ ٱلْمَوْتِ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٧﴾ وَلَئِنْ أَخَّرْنَا عَنْهُمُ ٱلْعَذَابَ إِلَىٰٓ أُمَّةٍ مَّعْدُودَةٍ لَّيَقُولُنَّ مَا يَحْبِسُهُۥٓ ۗ أَلَا يَوْمَ يَأْتِيهِمْ لَيْسَ مَصْرُوفًا عَنْهُمْ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٨﴾ ﴾

[۷] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې اسمانونه او ځمکې يې په شپږو ورځو کښې په داسې شان سره پيدا کړي دي چې عرش يې په اوبو باندې وه (د عرش او اوبو ترمنځ بل شی حائل نه وه).

(دا ټول) د دې دپاره چې تاسو (د اسلام په دين باندې) امتحان کړي چې ستاسو کوم يو د عمل دحيثه ډېر ښه دی (او کوم لږ ښه دی او بالآخره کوم يو بد دی).

او که ته (ای پيغمبره! کفارو ته) ووايې چې: يقيناً تاسو د مرګ څخه وروسته (د قبرونو څخه) راپورته کړی شوي ياست (ضرور به راپورته کړی شئ) نو هرومرو به هغه کسان ووايي کومو چې کفر غوره کړی دی چې دغه (خبره يا دغه قرآن) نه دی مګر ښکاره جادو دی (د خانه جوړ کړی شوی دی او د الله ﷻ د پلوه نه دی).

[۸] او که چرته مونږ د دوی څخه د شمارلې شوې مودې (ورځو) پورې عذاب وروسته کړو نو هرومرو به (د خندنې په توګه) دوی ووايي چې دا عذاب څه شی ايساروي؟ (دا ولې ټال شو؟ دستي ولې نه نازلېږي؟).

(ای پيغمبره! اعلان وکړه چې) خبردار! په کومه ورځ کښې چې هغه (عذاب) دوی ته ورشي (درباندې ورنازل شي) نو ددوی څخه به بېرته ګرځولی شوی نه وي (هيڅوک به يې مخه ونه شي نيولی) او په دوی باندې به د هغه شي (جزا) ورچاپېره شي په کوم باندې چې دوی وه چې خندنې به يې پرې کولې.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندې ايت کښې الله ﷻ د هر ساکښ دپاره د رزق (روزۍ) د ورکولو تضمين بيان کړی وه، په دې ايتونو کښې د ذکر شوي تضمين مصداق ته اشاره شوې ده چې اسمانونه او ځمکې يې پيدا کړې دي او د ساکښانو د روزۍ بندوبس يې پکښې کړی دی.

۲ـ هلته د مادي رزق بيان وه او دلته معنوي رزق (قرآن کريم) ته اشاره کېږي چې مشرکان يې ناشکري کوي، د جادو نوم ورباندې ږدي او بالآخره استهزاء او مسخرې ورباندې کوي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

یعني: ای پیغمبره! اوس نو لاندې نکاتو ته د خلکو توجه ور واړوه:

۱_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د ساکښانو د روزۍ برابرولو ته یې لا په هغه وخت کښې اراده کړې وه په کوم وخت کښې چې نه ساکښان موجود شوي وه او نه اسمانونو او ځمکو موجودیت موندلی وه.

۲_ په دغه وخت کښې یوازې عرش العظیم او اوبه موجودې کړی شوې وې چې د دغو دواړو ترمنځ نه اسمانونو تحقق درلود او نه ځمکو، تا به ویل چې عرش العظیم په اوبو باندې ایښی دی.

۳_ پیدایښت په لاندې ډول تحقق موندلی کړ:

الف: په دوه ورځو کښې الله ﷻ ځمکې پیدا کړې.

ب: په نورو دوه وو ورځو کښې یې په ځمکه باندې غرونه کېښودل او برکتونه (معدنونه او نورشیان) یې پکښې ځای په ځای کړه او هم یې پکښې د قیامت د ورځې پورې د ټولو ساکښانو ارزاق (روزي ګانې) په اندازه کړې.

ج: په دوه وو نورو ورځو کښې یې اسمانونه پیدا کړه چې ټولې شپږ ورځې جوړېږي.

۴_ ای پیغمبره!: الله ﷻ انسانان د دې دپاره نه دي پیدا کړي چې فقط وخوري او وڅښي او خپل رب ﷻ ونه پېژني بلکې د دې دپاره یې پیدا کړي دي چې په خوراک او څښاک سره خپل ژوند وساتي او د خپل رب ﷻ په عبادت باندې مصروف شي.

۵_ نو د همدې کبله الله ﷻ د مادي رزق په څنګ کښې د معنوي رزق بندوبس هم کړی دی ترڅو تاسو (ای انسانانو!) د امتحان او ازمېښت لاندې واقع کړي ترڅو تاسو ته هم څرګنده شي چې څوک نېک عمله دی او څوک نېک عمله نه دی او بالآخره ترڅو درڅرګنده شي چې د چا یوازې عمل ناکاره دی او د چا عمل او عقیده دواړه فاسد دي، چې د قیامت په ورځ هرڅوک د مکافات یا مجازات سره مخامخ شي.

۶_ ای پیغمبره! بالمقابل د مشرکانو (کفارو) خیال دا دی چې دوی د څارویو غوندې صرف د خوراک او څښاک دپاره پیدا کړی شوي دي چې د مادي ارزاقو څخه په غټه پیمانه استفاده کوي او په معنوي ارزاقو باندې عقیده نه لري.

۷_ نو کله چې ته دوی معنوي رزق ته متوجه کړې او ورته ووایې چې یقینًا تاسو به د مرګ څخه وروسته بېرته را ژوندي کړی شئ او د الله ﷻ په حضور کښې به د محاسبې دپاره ودرولی شئ نو هغه کسان به تاته جواب درکړي کومو چې کفر اختیار کړی دی او ګومان کوي چې دوی صرف د خوراک او څښاک دپاره پیدا کړی شوی دي داسې جواب چې: دا قرآن خو نه دی مګر جادو دی، نه د قیامت ورځ راتلونکې ده او نه به مونږ د مزګ څخه وروسته د قبرونو څخه د دوهم ځل دپاره راژوندي کړی شو.

۸_ ای پیغمبره! بیا چې ته کله دوی ته ووایې چې د الله ﷻ څخه وډار شئ، د آخرت څخه انکار

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مه کوئ او قرآن کريم ته (چې ستاسو معنوي رزق دی) د جادو لقب مه ورکوئ، که نه نو الله ﷻ به د اخروي عذاب څخه وراندې (چې حتمًا راتلونکی دی) په دنيا کښې هم په تاسو باندې عذاب درنازل کړي، نو د دوی جواب دا وي چې:

۹_ مونږ د عذاب څخه نه دارېږو، که ته رښتيا وايې نو رابانديې رانازل دې کړی شي او ټال دې نه ورکول کېږي

۱۰_ نو کله چې مونږ د دوی څخه د حکمتونو په بنياد دنيوي عذاب څو شمارلې شوې ورځې وروسته کړو او د دوی د غوښتنې سره سم يې وربانديې ورنازل نه کړو نو هرومرو به دوی ستا څخه د استهزاء او تمسخر په توګه پوښتنه وکړي چې موعود عذاب ولې ټال دی؟ څه شي ايسار کړی دی؟ هله ژر شه را باندې را نازل يې کړه که ته په خپله خبره کښې صادق يې

۱۱_ ای پيغمبره! مشرکانو ته چې ته د کوم عذاب وعده ورکوې هغه داسې عذاب نه دی چې دوی يې څه مخه ونيولی شي، هغه چې کله دوی ته ورشي نو په هيڅ صورت سره به د دوی څخه بېرته ناو نه کړی شي او د هرې خوا څخه به دوی احاطه کړي

يا په بل عبارت: د خپلو مسخرو او استهزاګانو د جزا لاندې به په داسې دول واقع شي چې نه به يې د ستنولو وسه وي او نه به د نجات لاره موندلی شي

## توضيحات

۱_ د [الأعراف ۵۴] ايت لاندې د ﴿ سِتَّةِ أَيَّامٍ ﴾ په هکله څه معلومات ليکلي شوي دي _ والحمد لله_ چې بيا ليکلو ته يې ارتيا نه ګورو خو په دې مقام کښې فقط لاندې معلومات وراضافه کوو

دلته څکه الله ﷻ د شپږو ورځو ذکر وکړ چې د دغو شپږو ورځو د جملې څخه په دوه وو ورځو کښې الله ﷻ ځمکه د انسانانو د اوسېدانې دپاره مساعده وګرځوله چې د ارزاقو تخمونه يې پکښې وشيندل او معدنونه يې پکښې موجود کړه او د برکتونو څخه يې ډکه کړه، لکه چې فرمايي ﴿ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِن فَوْقِهَا وَبَارَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ ﴾ [فصلت ۱۰] يعني الله ﷻ په دوه وو ورځو کښې ځمکه پيدا کړه او په دوه وو ورځو کښې يې ورباندې غرونه نصب کړه چې د اضطراري حرکت څخه يې ځای په ځای ودروله. تا به ويل چې مېخونه يې ورباندې ټک وهل، او هم يې پکښې برکتونه (ښېګڼې) واچولي او رزقونه يې پکښې په اندازه کړه نو د ځمکې خلقت په څلورو ورځو کښې تکميل شو او بالآخره په دوه وو ورځو کښې الله ﷻ اسمانونه پيدا کړه چې مجموعه شپږ ورځي جوړېږي.

## عرش العظيم په اوبو باندې وه

۲_ د ايت شريف څخه څرګندېږي چې د اسمانونو او ځمکو خلقت د اوبو او د عرش العظيم د خلقت څخه وروسته صورت نيولی دی

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د یوه حدیث شریف څخه فتح الباري شرح صحیح البخاري استنباطه کړې ده چې د اوبو خلقت د عرش څخه هم وړاندې وه، حدیث دا دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «كَانَ اللهُ وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ غَيْرُهُ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ»(۱) یعنې الله ﷻ موجود وه او د ده ﷻ څخه په غیر بل هیڅ شی موجود نه وه او د الله ﷻ عرش العظیم په اوبو باندې وه.

اما د لاندې پوښتنو جوابونه یوازې الله ﷻ ته معلوم دي، مونږ ته پکښې نه یقیني معلومات شته او نه پکښې د بحث ضرورت لرو:

الف: اوبه د څه شي څخه پیدا کړی شوي وي؟

ب: اوبه په څه شي باندې ولاړې وې؟

ج: عرش العظیم د اوبو سره اتصال درلود او بیا ترې پورته شو؟ او که د فوقیت معنی یې دا ده چې د دواړو ترمنځ بل شی موجود نه وه؟

که څه هم ډېرو علماوو کرامو(۲) دا جمله ﴿ وَكَانَ عَرْشُهُۥ عَلَى ٱلْمَآءِ ﴾ په همدغې وروستنی معنی سره تفسیره کړې ده، والله أعلم بحقیقة الحال.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي: د دې جملې ﴿ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ﴾ څخه سړي ته ذهن ته داسې ورځي چې الله ﷻ یوازې د ډېر ښه عمل د څرګندونې دپاره انسانان د امتحان لاندې واقع کړي دي، حال دا چې امتحان خو د لاندې مطالبو ښکارندوی دی:

الف: چې د نیکو اعمالو خاوندان د بدو اعمالو د خاوندانو څخه جدا شي.

ب: چې په نېکو اعمالو کښې هغه اعمال هم جدا شي چې ډېر بهتر وي او فضیلت یې زښت ډېر وي.

ج: همدارنګه په بدو اعمالو کښې هم لږ بد او ډېر بد یو تربله بېل شي.

د: بالآخره په امتحان باندې خو د عقایدو کیفیتونه هم څرګندېږي.

نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنیاد داسې عبارت نازل نه کړی شو چې ذکرو شوو ټولو مطالبو ته شامل شوی وی؟

مونږ وایو چې: ذکره شوې جمله د عقیدې بیان ته هم د اشارې په توګه متضمنه ده او دا ځکه چې هیڅ عمل ترهغه د نیکو اعمالو په قطار کښې نه شي ودرېدلی ترڅو چې ورسره نېکه عقیده ملګرې نه وي او د بدو اعمالو وضاحت هم ترې په ضمني توګه معلومېږي، لکه چې وایي: "تُعْرَفُ الأشْيَاءُ بِأضْدَادِهَا" شیان په خپلو اضدادو باندې پېژاندلی کېږي.

بالآخره په احسن عمل باندې د دې دپاره صراحت وکړی شو _والله ﷻ اعلم_ ترڅو عمل کوونکی ورته ترغیب شي او هرڅوک زیار وباسي چې په نیکو اعمالو کښې احسن عمل پسې هڅه وکړي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۵۳

(۲) التفسیر الکبیر ج۱۸ ص۸۷؛ تفسیر القاسمي ج۹ ص۹۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## "أمّة" څه معنی؟

۴_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د ﴿ أُمَّةٍ ﴾ د کلمې په معناوو کښې د [الأنعام:۳۸] ایت لاندې ښه کافي بحث کړی دی، خو په دې مقام کښې ورباندې اضافه کوو چې ذکره شوې کلمه په قرآن کریم کښې په لاندې څلورو معناوو باندې استعماله شوې ده(۱):

الف: د شریعت (دین) په معنی، الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ إِنَّ هَـٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ ﴾ [الأنبیاء:۹۲] یقینًا دا ملت (د اسلام دین) ستاسو یو ملت (دین) دی.

ب: د مقتدی او پېشوی په معنی، الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ كَانَ أُمَّةٗ ﴾ [النحل:۱۲۰] یقینًا ابراهیم ﷺ یو (دیني) مشر (او مقتدی) وه.

ج: د خلکو یو ټولګی چې د کیفیاتو څخه یوه کیفیت سره راغونډ کړي وي، الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَلِكُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولٞ ﴾ [یونس:۴۷] او د خلکو د هر ټولګي دپاره پیغمبر دی.

د: د څه مودې په معنی. الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَٱدَّكَرَ بَعۡدَ أُمَّةٍ ﴾ [یوسف:۴۵] یعنې کوم سړي ته (چې یوسف ﷺ د خوب تعبیر کړی وه) هغه سړي ته د یوسف ﷺ خبره د څه مودې وروسته ورپه زړه شوه.

په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه په همدغې څلورمې معنی کښې استعماله شوې ده، نو حاصل یې داسې کېږي چې کله د مشرکانو څخه په شمار څو ورځې یعنې څه موده د عذاب نزول وروسته شي نو هغوی به د خندنې په توګه وایي چې دا عذاب څه شي ایسار کړی دی؟

د دې خبرې څخه به د هغوی مطلب دا وي چې ته دروغ وایې عذاب نه نازلېږي.

کله چې نبي کریم ﷺ هغوی ته په عذاب باندې اخطار ورکړ نو دوی په ذکره شوې خبره باندې لا زیادت وکړ چې که دا (قرآن کریم) رښتیا وي نو په مونږ باندې دې د اسمانه ډبرې را ووروې، چې پوره بیان یې د [الأنفال:۳۲] ایت لاندې تېر شوي دي، والحمد لله ﷻ.

﴿وَلَئِنۡ أَذَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِنَّا رَحۡمَةٗ ثُمَّ نَزَعۡنَٰهَا مِنۡهُ إِنَّهُۥ لَيَـُٔوسٞ كَفُورٞ ۝٩ وَلَئِنۡ أَذَقۡنَٰهُ نَعۡمَآءَ بَعۡدَ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّيٓۚ إِنَّهُۥ لَفَرِحٞ فَخُورٌ ۝١٠ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَـٰٓئِكَ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٞ ۝١١﴾

[۹] او که مونږ بنیادم ته د خپله جانبه رحمت وروڅکو (ورکړو او) بیا یې ترې واخلو نو (هغه ناامیدي او ناشکري کوي څکه چې) یقینًا بنیادم ناامیده اوناشکره دی.

[۱۰] او که مونږ هغه ته د داسې سختیو څخه وروسته چې ده ته رسېدلې وي نعمت (خوشالي) وروڅکو (ورکړو نو) ضرور هرومرو هغه (فقط همدا وایي چې) سختی راڅخه لاړې (تېرې شوې او

(۱) اضواء البیان ج۲ ص۱۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بېرته راګرځېدل يې په خيال کښې نه ورځي.

يقيناً بنيادم (په دغه وخت کښې) ضرور خوشالېدونکی (او) فخر کوونکی دی.

[۱۱] مګر (په غم او ښادۍ کښې) هغه کسان (ذکر شوي کيفيتونه نه لري) کوم چې صبر کوي او صالح (نېک) عملونه کوي.

دغه کسان چې دي دوی لره (د الله ﷻ په نزد) د ګناهونو مغفرت او (په آخرت کښې) لوی اجر دی (چې په اندازه يې يوازې الله ﷻ پوهېږي او بس).

## ارتباط

د وړاندېنيو ايتونو مطلب دا وه چې الله ﷻ د انسانانو د استفادې دپاره دنيا پيدا کړې ده ترڅو د مادي رزقونو څخه (د خپل ژوند د بقاء په خاطر) ګټه پورته کړي او خپل رب ﷻ وپېژني چې په بله دنيا (آخرت) کښې هم د خوشاليو خاوند جوړ شي.

په دې ايتونو کښې د انسان کمزوري طبيعت ښودلی شوی دی چې که د الله ﷻ کومک ورسره ملګری نه وي نو په امتحان کښې نه شي کامیابېدلی، نو ځکه د معنوي استفادې دپاره الله ﷻ کتابونه نازل کړه او پيغمبران علیهم السلام يې را واستول چې د آخرت لارښوونه ورته وکړي.

## د مطلب خلاصه

يعنې: ای پيغمبره! انسان ډېر کمزوری او ضعيف دی چې نه د خوشالۍ تاب لري او نه د مشکلاتو په مقابل کښې مقاومت کولی شي بلکې په دواړو حالونو کښې د خپل رب ﷻ څخه غافل جوړېږي او په امتحان کښې ناکامېږي، دا ځکه چې:

۱ـ که مونږ بنيادم ته د خپله جانبه نعمت او خوشالي ورکړو (سره د دې چې دغه ورکړه يوازې او يوازې زمونږ د رحمت پورې اړه لري او بس) او بيا يې ترې د حکمتونو په بنياد بېرته واخلو نو په دغه وخت کښې د يو پلوه نوموړی بنيادم نااميده کېږي او ګومان کوي چې بيا به په ما باندې خوشالي رانه شي، بلکې الله ﷻ هېروي.

او د بله پلوه ناشکره جوړېږي او د تېرو شوو خوشاليو شکريه نه کوي، يا په بل عبارت: په دغه وخت کښې پخوانی حالت نه وربه يادېږي چې الله ﷻ ورباندې صرف د خپل رحمت د کبله (بدون د استحقاقه) خوشالي او نعمتونه ورنازل کړي وه.

۲ـ او که بالعکس مونږ بنيادم ته نعمتونه ورکړو البته د هغو مشکلاتو څخه وروسته چې ده ته رسيدلي وي او ډېر يې غمژن کړی وي، نو په دغه وخت کښې هم نوموړی بنيادم الله ﷻ نه يادوي او شکريه يې نه کوي بلکې د ده حالات داسې ګرځي:

الف: نوموړی دستي فقط همدا خبره کوي چې سختي راځخه لاړه او د مشکلاتو څخه خلاص شوم. داسې نه وايي چې خپل رب ﷻ راځخه سختي لرې کړه او د مشکلاتو څخه يې خلاص کړم (الْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى مَا أَنْعَمَ عَلَيَّ).

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: نوموړی دومره خوشالېږي چې ته به وايې د دغه نعمت د بېرته اخستلو امکان بالکل نشته او دا به دوامداره وي.

ج: نوموړی په نورو بنیادمانو باندې فخر کوي او نورو ته په سپکه سترګه ګوري چې تاسو حقیر یاست او زما سره سیالي نه شئ کولی.

۳_ هو! هغه کسان په امتحان کښې کامیابېږي چې د معنوي رزق (اسلامي دین) څخه استفاده وکړي او په غم او خوشالۍ دواړو حالونو کښې خپل ځان اداره کړي، هم د ناشکرۍ څخه خپل ځان بچ وساتي او هم د تفاخر او تکبر څخه، او په دې باندې علاوه نېک عملونه هم وکړي نو دغو کسانو لره د الله ﷻ په نزد هم د ګناهونو مغفرت دی او هم دوی ته لوی اجر دی.

## توضیحات

۱_ مونږ د [البقرة:۴۵] ایت لاندې د صبر درې معناوې د الله ﷻ په توفیق لیکلي دي چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، مګر دلته ورباندې دومره اضافه کوو چې مونږ ته په تجربه ثابته شوې ده چې په مصیبتونو باندې صبر کول نسبت دې ته اسان دي چې سړی په نعمتونو باندې صبر وکړي او خپل ځان د ګناهونو څخه اداره کړي او بالآخره خپل ځان د ناشکرۍ څخه بچ وساتي.

## په غم او ښادۍ کښې د مؤمن سړي حالت

۲_ لاندې حدیث شریف په غم او ښادۍ کښې د مؤمن حالت ډېر ښه تمثیل کړی دی:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «عَجِبْتُ لِلْمُؤْمِنِ، إِذَا أَصَابَهُ خَيْرٌ حَمِدَ اللهَ وَشَكَرَ، وَإِنْ أَصَابَتْهُ مُصِيبَةٌ حَمِدَ اللهَ وَصَبَرَ، فَالْمُؤْمِنُ يُؤْجَرُ فِي كُلِّ أَمْرِهِ، حَتَّى يُؤْجَرَ فِي اللُّقْمَةِ يَرْفَعُهَا إِلَى فِيِّ امْرَأَتِهِ»[1] یعني: زه د مؤمن حالت ته په تعجب یم چې که خیر (خوشالي) ورته ورسېږي د الله ﷻ حمد وایي او شکر کوي (نو الله ﷻ اجر ورکوي) او که مصیبت ورته ورسېږي هم د الله ﷻ حمد وایي او صبر کوي (نو الله ﷻ اجر ورکوي) نو (په همدې بنیاد) مؤمن سړي ته په خپل هر یو کار کښې اجر ورکولی کېږي، حتی په هغې لمړۍ باندې هم اجر ورکولی کېږي کومه چې د خپلې مېرمنې خولې ته پورته کوي (هغې ته واجبي نفقه مونده کوي).

﴿ فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ بَعْضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيْكَ وَضَآئِقٌۢ بِهِۦ صَدْرُكَ أَن يَقُولُوا۟ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ كَنزٌ أَوْ جَآءَ مَعَهُۥ مَلَكٌ ۚ إِنَّمَآ أَنتَ نَذِيرٌ ۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ وَكِيلٌ ﴿١٢﴾ ﴾

[۱۲] نو شاید چې (د مشرکانو په خیال) ته د ځینو هغو احکامو پرېښودونکی شې کوم چې تا ته وحې کېږي (او دوی پرې خپه دي) او (هم شاید چې ته د دوی په خیال) د ځینو احکامو (په تبلیغ) باندې زړه تنګی شې (کوم چې هغوی یې تحمل نه شي کولی).

Downloaded from: bawarketabtoon.com

[1] مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۳۶۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دې کبله چې هغوی وایي چې ولې په ده (نبي کریم ﷺ) باندې (غیبي) خزانه نازله نه شوه (او) یا ولې د ده سره ملکه (پرښته) رانغله.

(ته ورته په جواب کښې ووایه چې) یقینًا زه (فقط) ډاروونکی یم (د خپلو احکامو د پرېښودلو یا د ملکې د را وستلو اختیار زما سره نشته).

او الله ﷻ په هر شي باندې وکیل (مراقبت) دی (هرڅه د همده ﷻ په اختیار کښې دي او بس).

## ارتباط

د وړاندېنیو ایتونو لنډ مطلب دا وه چې انسان کمزوری دی ترڅو چې په اسلامي دین باندې منګولې خښې نه کړي نو د لوی اجر مستحق نه شي جوړېدلی، په دې ایت کښې د یو پلوه د اسلامي دین ضرورت ته اشاره شوې ده او د بله پلوه نبي کریم ﷺ ته توصیه شوې ده چې د کافرو انسانانو د غبرګون د اثر لاندې واقع نه شي.

## شان نزول

د دې ایت په شان نزول کښې څو متعدد واقعات روایت شوي دي، لاندې مثالونه یې ولولئ:

۱ـ د مکې معظمې مشرکانو نبي کریم ﷺ ته وړاندیز وکړ چې: "لَوْ تَرَكْتَ سَبَّ آلِهَتِنَا وَتَسْفِيْهَ آبَاءِنَا لَجَأْنَا لِسَنَاكَ وَاتَّبَعْنَاكَ"[۱] یعني که ته زمونږ د معبودانو کنځل پرېږدې او هم زمونږ پلرونو ته د حماقت (سادګۍ) نسبت ونه کړې نو مونږ به ستا سره ناسته پاسته وکړو او هم به دې پیروي وکړو. نو ذکر شوی ایت شریف نازل شو.

۲ـ څینو قریشو نبي کریم ﷺ ته وړاندیز وکړ چې مونږ ته د مکې غرونه سره زر جوړ کړه او څینو نورو وویلې چې مونږ ته داسې ملائک رابښکته کړه چې ستا په نبوت باندې زمونږ په وړاندې شاهدي ورکړي چې ته په حقه پیغمبر یې. نو دغه ایت نازل شو[۲].

## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! مشرکان غواړي چې تا په حیلو او پلمو سره د لاندې دوه وو کارونو مرتکب کړي:

۱ـ یو دا چې د هغه شریعت څخه کوم چې تاته درنازل شوی دی څینې ارشادات د پښو لاندې کړې او د تبلیغ څخه یې صرف نظر شې.

۲ـ بل دا چې په غیرو معقولو غوښتنو سره تا زړه تنګی کړي او د زړه تنګۍ د کبله ته د ټول شریعت په ابلاغ باندې ډېره کېږدې او پرې چپ پاتې شې.

د مشرکانو د غیرو معقولو غوښتنو څخه څه مثالونه دا دي:

---

(۱) المحرر الوجيز ج۹ ص۱۱۹

(۲) روح المعاني ج۱۲ ص۱۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دوی ستا په باره کښې وايي چې که دی په رښتيا پيغمبر وي نو ولې پرې د غيبو څخه خزانه نه نازلېږي چې د مکې معظمې ټول غرونه او يا اقلا د صفا غونډۍ ورته سره زر وګرځولې شي، ترڅو په ټولو مالدارانو باندې امتياز مونده کړي.

ب: که د ده د نبوت دعوه رښتيا وي نو ولې ورسره پرښته نازله نه شوه چې په ټولو مجالسو کښې يې د ده په نبوت شهادت ورکړی وی او زمونږ يقين راغلی وی چې نوموړی په خپله دعوه کښې صادق دی.

٣ـ نو ای پيغمبره! پام کوه چې هيڅکله د مشرکانو د غيرو معقولو غوښتنو د اثر لاندې واقع نه شي، چې يا د بوتانو د عبادت بطلان بيان نه کړې او يا تېر شوي بوت پرستان په حقه وبولې.

همدارنګه پام کوه چې د هغوی د بې هوده وړانديزونو د کبله زړه تنګی نه شې چې د شريعت په ابلاغ کښې درڅخه څه سستي او کمزوري صادره شي.

۴ـ ای پيغمبره! کوم شيان چې مشرکان ستا څخه غواړي هغه يو هم نه ستا په واک اختيار کښې دي او نه يې تا دعوه کړې ده چې زه دا-دا کار کولی شم.

ته خو فقط د الله ﷻ د عذابه ډاروونکی يې او بس، په هر شي باندې خو يوازې الله ﷻ د واک او اختيار خاوند دی چې د حکمت په بنياد يې ترسره کوي، نه ستا په اختيار کښې د خزانو نازلول شته او نه ته پرښتې رابښکته کولی شې.

## توضيحات

١ـ که څوک وايي چې د "لَعَلَّ" توری خو د توقع دپاره وضعه شوېدی چې مونږ ترې په شايد سره تعبير کوو، نو په کومه جمله باندې چې داخل شي د هغې جملې مضمون ته د واقع کېدلو تمه پيدا کېږي(١). د ذکر شوي قانون مطابق د ﴿ فَلَعَلَّكَ تَارِكٌۢ بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ ﴾ د جملې د مضمون حاصل داسې راوخي چې: ای پيغمبره! شايد چې ته خپل ځينې احکام د تبليغ څخه پرېږدې.

نو پوښتنه دا ده چې ايا د نبي کريم ﷺ د شان سره دې خبرې مناسبت درلود چې د ځينو احکامو د عدم تبليغ تمه ترې وکړی شي؟

مونږ وايو چې: که څه هم علماوو کرامو د همدغې پوښتنې دپاره څو متعدد جوابونه کړي دي(٢) مګر کوم جواب چې مونږ ته په زړه پورې ښکاري هغه دا دی چې په ذکره شوې جمله کښې مشرکان په غوږ باندې وهل شوي دي چې تاسو خو د نبي کريم ﷺ څخه د ځينې شريعت د پرېښودلو تمه کوئ خو دا کار کېدونکی نه دی، الله ﷻ خپل پيغمبر ته توصيه کوي چې د دغسې عمل څخه په جدي توګه ځان وساته.

همدارنګه تاسو خو غواړئ چې نبي کريم ﷺ زړه تنګی کړئ خو الله ﷻ ورته ارشاد کوي چې په خپله

---

(١) مفردات الراغب ص٤٧١

(٢) تفسير الخازن ج٣ ص٣٠٧؛ روح المعاني ج١٢ ص١٨

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړنلاره باندې دوام وکړه او د مشرکانو تمه پرې کړه او ورته ووایه چې زه فقط د الله ﷻ پیغام رسوونکی یم زما په لاس کښې د تکوینانو څخه یو شی هم نه شته.

## یادونه

۲_ د مشرکانو د دې خبرې تفصیلي ذکر د [الإسراء ۹۳] ایت لاندې راروان دی _ان شاء الله ﷻ_ چې په نبي کریم ﷺ باندې ولې غیبي خزانه نازله نه شوه. او د دوی د دې خبرې تفصیلي بیان د [الأنعام ۸] ایت لاندې تېر شوی دی _والحمد لله ﷻ_ چې د نبي کریم ﷺ سره ولې د شاهد په توګه پرښته نازله نه شوه. نو هبله ده چې په خپلو-خپلو ځایونو کښې وکتلی شي.

﴿ أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۖ قُلْ فَأْتُوا۟ بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِۦ مُفْتَرَيَٰتٍ وَٱدْعُوا۟ مَنِ ٱسْتَطَعْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٣﴾ فَإِلَّمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَكُمْ فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَآ أُنزِلَ بِعِلْمِ ٱللَّهِ وَأَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٤﴾ ﴾

[۱۳] بلکې ایا دوی (مشرکان) وایي چې نبي کریم ﷺ د خپله خانه (په دروغو باندې) قرآن کریم جوړ کړی دی؟

ته (ای پیغمبره! په جواب کښې ورته) ووایه چې که (بالفرض ما دا کار کړی وي) نو تاسو د قرآن کریم (د سورتونو) په مثل (فقط) لس سورتونه راوړئ چې (په دروغو باندې د خانه) جوړ کړی شوي وي او (هم د کومک دپاره درته) هغه څوک دروبولئ کوم چې د الله ﷻ څخه په غیر ستاسو توان رسېږي. که تاسو (په ذکر شوي تهمت کښې) رښتیني یاست (نو ضرور یې مقابله وکړئ).

[۱۴] نو (ای مشرکانو!) که تاسو ته دوی (کومکیانو هم) مننه ونه کړه (او خپل عجز یې ښکاره کړ حال دا چې تاسو هم عاجز یاست) نو پوه شئ چې یقینًا قرآن کریم د الله ﷻ په (کامل) علم سره نازل کړی شوی دی (ځکه یې تاسو مقابله نه شئ کولی) او (هم پوه شئ چې) د عبادت لایق نه دی مګر همدی ﷻ دی (او بس). نو (ای مشرکانو!) ایا تاسو (اوس) غاړه ایښودونکي یاست؟ (ایا تاسو په تهمت لګولو پښېمانه یاست)؟.

## ارتباط

د قرآن کریم په حقانیت او د نبي کریم ﷺ په نبوت باندې چې مشرکانو کوم تهمت لګولی وه او په وړاندې ایتونو کښې ورته اشاره شوې وه، په دې ایتونو کښې د یو پلوه په هغه باندې صراحت شوی دی او د بله پلوه د نوموړي تهمت د محوه کولو طریقه ښودلې شوې ده نو حاصل یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! مشرکان چې په تا باندې د خزانې یا پرښتې د نزول غوښتنه کوي په اصل کښې هغوی ستا نبوت او د قرآن کریم حقانیت دواړه دروغ ګڼي. بلکې دوی وایي چې دا کتاب یې د

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپله خانه جوړ کړی دی او الله ﷻ ته یې د دې دپاره په دروغو نسبتوي ترڅو خپل کتاب ته اعتبار ورکړي او د خلکو اعتماد پرې تر لاسه کړي. نو ته دوی ته داسې ووایه:

۱ـ ای مشرکانو! تاسو خو زما په شان عرب یاست او مورنۍ ژبه مو عربي ده، نو کله چې زه یوازې په یو سر باندې (ستاسو په ګومان) ټول قرآن کریم په دروغو جوړولی شم نو تاسو خو په مجموعي توګه د دې قرآن کریم د سورتونو غوندې په دروغو باندې لس سورتونه جوړ کړئ.

۲ـ په دې باندې علاوه، د دغو لسو سورتونو د جوړولو دپاره هرځومره کسان چې ستاسو توان کیږي چې د کومک استفاده ترې وکړئ هغوی هم د الله ﷻ څخه په غیر دروبلئ:

که بالفرض تاسو په ذکر شوي تهمت کښې رښتیني یاست، یا په بل عبارت: که ستاسو ذکره شوې خبره تهمت نه وي او واقعیت وي، نو تاسو ذکر شوی کار وکړئ.

۳ـ نو کله چې تاسو ټول د کومکیانو په شمول د لسو سورتونو د جوړولو توان نه لرئ نو ما یوازې په یو سر د قرآن کریم د جوړولو توان د کومه کړ؟ د انساني نوعي په افرادو کښې تفاوت شته مګر دومره فاحش تفاوت خو په هیڅ حیواني نوعه کښې تحقق نه شي موندلی، د همدې کبله ما په تاسو باندې په هغو څلوېښتو کلونو کښې ذکر شوی فوقیت نه درلود کوم چې د نبوت څخه وړاندې مې په تاسو کښې تېر کړی دی او تاسو ته د لمر په شان څرګند دی.

۴ـ ای پیغمبره! دا هم ورته ووایه چې ای مشرکانو که تاسو ته خپلو کومکیانو هم مننه ونه کړه او خپل عجز یې وړاندې کړ او تاسو ترې پخپله هم عاجزان شوئ نو تاسو ته په کار دي چې په لاندې شیانو باندې د زړه څخه باور وکړئ:

الف: تاسو باید پوه شئ چې نبي کریم ﷺ ذکر شوی کتاب (قرآن کریم) د خپله خانه نه دی جوړ کړی او بې شکه الله ﷻ په حقه نازل کړی دی او په غیر متناهي علومو باندې یې مشتمل ګرځولی دی چې هرڅوک یې د مقابلې او سیالۍ څخه عاجز دي.

ب: باید تاسو په دې باندې هم پوه شئ چې یقینًا په حقه سره معبود هیڅوک نشته مګر یوازې او یوازې الله ﷻ دی، لکه چې همدې خبرې ته دغه کتاب دعوت کوي.

ج: بالآخره مشرکان مخاطب کړه چې ایا تاسو اوس د قرآن کریم حقانیت ته غاړه ایښودونکي یاست؟ ایا ستاسو ذکره شوې اشتباه پورته شوه؟ ایا تاسو د ذکر شوي تهمت څخه لاس اخستونکي یاست؟

ای مشرکانو! کله چې د خپلې ناتوانۍ سره-سره تاسو د خپل شرک څخه لاس نه اخلئ نو معلومه شوه چې تاسو صرف عناد نیولي یاست او بس.

## توضیحات

۱ـ مونږ ـ لله الحمد ـ د قرآن کریم د اعجاز په هکله د [البقرة: ۲۲] ایت لاندې ښه کافي بحث کړی دی چې دوهم ځل بحث ته یې اړتیا نه ګورو، هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۲_ په دوهم ایت کښې چې مونږ کومه ترجمه او تفسیر غوره کړی دی هغه مونږ ته متبادر او بې تکلفه ښکاري چې لاندې لحاظونه پکښې د نظر لاندې نیولی شوي دي:

الف: ټول دوهم ایت مو په ﴿ فَأْتُوا ﴾ باندې عطف ګڼلی دی چې د ﴿ قُلْ ﴾ په مقوله کښې شامل دی.

ب: په ﴿ فَإِلَّمْ يَسْتَجِيبُوا ﴾ کښې مو مستتر ضمير ﴿ مَنِ ٱسْتَطَعْتُم ﴾ ته راجع اخستی دی او په خطابي ضمائرو سره مو مشرکان مخاطب ګڼلي دي.

اما ځینو مفسرینو کرامو پکښې لاندې لحاظونه د نظر لاندې نیولي دي:

اول: دوهم ایت د ﴿ قُلْ ﴾ په مقوله کښې شامل نه دی بلکې په ﴿ قُلْ ﴾ باندې یې عطف ګڼلی دی.

دوهم: ذکر شوی مستتر ضمير یې مشرکانو ته راجع اخستی دی او په خطابي ضمائرو سره یې مؤمنان مخاطب کړي دي. نو د معنی حاصل یې داسې راویستلی دی چې:

ای مؤمنانو! که مشرکانو ستاسو د وړاندیز اجابت ونه کړ او د قرآن کریم د مقابلې څخه عاجز شوه نو تاسو لاندې ټکو ته متوجه شئ:

الف: تاسو پوه شئ او خپلې عقیدې ته په دې باندې ادامه ورکړئ چې قرآن کریم په حقه د الله ﷻ د پلوه نازل کړی شوی دی، چې په غیبو علومو باندې مشتمل دی او د مشرکانو تهمت څه ثبوت نه شي موندلی.

ب: او هم په دې باندې ښه پوره مطمئن شئ چې بې شکه د الله ﷻ څخه په غیر بل هیڅوک په حقه معبود نشته او مشرکان په باطله لاره باندې روان دي.

ج: نو ایا تاسو ای مؤمنانو! په دوامداره توګه الله ﷻ ته غاړه ایښودونکي یاست؟

﴿ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَـٰلَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ ﴿١٥﴾ أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا۟ فِيهَا وَبَـٰطِلٌ مَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾ ﴾

[۱۵] هرڅوک چې (په خپلو اعمالو سره) نژدې (حقیر) ژوند او د همدې ژوند ډول (سنګار) اراده کوي (غواړي او آخرت پکښې په نظر کښې نه نیسي) نو (که زمونږ اراده وشي) دوی ته به د خپلو عملونو (نتیجه او جزا) په دنیا کښې پوره ورکړو، حال دا چې دوی به په دنیا کښې د خپل استحقاق د کمبود سره مخامخ نه کړی شي.

[۱۶] دغه کسان (چې دنیا غواړي) هغه کسان دي چې دوی لره په آخرت کښې نه دی مګر اور (دوزخ) دی.

او (د همدغو کسانو) هغه اعمال په آخرت کښې ضائع دي کوم چې دوی (په دنیا کښې) کړي وه

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(يا په بل عبارت: دوی د آخرت د اجر دپاره بالکل نېک اعمال نه لري) او (همدارنګه په دنیا کښې هغه څه باطل (بې ثباته) دي کوم چې دوی لګیا دي کوي يې.

## ارتباط

په دې ایتونو کښې د هغې اشتباه جواب ته اشاره نغښتې ده کومه چې د وړاندېنيو ایتونو څخه د چا ذهن ته ورتله، هغه دا چې هر کله چې مشرکان د قرآن کریم د مقابلې څخه عاجز شوه او ورته جوته شوه چې دا کتاب په حقه د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی او نبي کریم ﷺ د خپله خانه نه دی جوړ کړی، خو د دې سره-سره دوی د شرکیاتو څخه لاس نه اخلي او بوتانو ته په سجده پراته دي، نو ایا دا به مناسبه نه وه چې الله ﷻ ورباندې دنیاوي رزق بند کړی وی او د روزۍ د تنګسې سره يې مخامخ کړي وی؟ د جواب حاصل دا دی چې:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! که الله ﷻ د جنایتونو د امله سمدستي نیول کولی نو د ځمکې په سر باندې به يو ساکښ هم ژوندی نه وی پاتې شوی. الله ﷻ خو د ځمکې ټولو ساکښانو ته د روزۍ ورکولو ذمه واري کړې ده، نو د همدې کبله د روزۍ په باره کښې د ساکښانو سره په لاندې قانون باندې عمل کوي البته ترڅو پورې چې الهي حکمت د بل څه غوښتنه ونه کړي.

## د روزۍ د ورکړې قانون

۱ـ هرڅوک چې د دنیاوي ژوند او د دنیا د ډول او سنګار غوښتنه وکړي او د اسبابو پورې يې تماس ونیسي نو هغوی ته مونږ د اعمالو نتیجه پوره ورکوو او هیڅ کمبود پکښې نه واقع کوو، که څه هم تماس نیوونکي مشرکان او کفار وي.

يا په بل عبارت: کروندګرو ته -مثلاً- د ځمکې حاصلات پوره ورکوو که څه هم د دوی نیت يوازې دنیا وي او د آخرت د ګټلو اراده ورسره نه وي.

او که څوک په دنیاوي منافعو باندې دپاسه آخرت هم په نظر کښې ونیسي نو هغوی ته دنیا او آخرت دواړه ورکوو (زمونږ سره خو د یوه شي کمبود هم نشته) نو څرنګه چې د دغو مشرکانو (چې په وړاندې ایتونو کښې ورته اشاره شوې ده) صرف دنیا مطلب ده نو دوی ته دنیاوي رزق د هغوی د کسب مطابق ښه پراخه ورکوو مګر هغوی ته په آخرت کښې د اور څخه په غیر بل شی نشته.

۲ـ همدارنګه د هغوی اعمال ضائع او بې نتیجې دي، که بالفرض دوی د آخرت په نیت کړي وي، دا ځکه چې د اخروي اجر او ثواب دپاره عقیده ضروري شرط دی او کفار خو اکثره په آخرت باندې عقیده نه لري، او څوک چې په آخرت باندې عقیده لري (لکه یهود او نصارا) د هغوی عقیده په دې زمانه کښې تر هغه د الله ﷻ په نزد مقبوله نه ده ترڅو چې په آخر الزمان پیغمبر باندې ایمان راوړي. نو د همدې کبله د هغوی په اعمالو باندې په آخرت کښې اجر نه ورکول کېږي او په دنیا کښې بقا نه لري.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

١ـ د ذكرو شوو ايتونو په مصداق كښې علماء كرام متعدد نظرونه لري[١] لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: ځينې علماء كرام وايي چې دا ايتونه د كفارو په هكله نازل شوي دي لكه چې وړاندې بېرته ايتونه همدا نظر تائيدوي چې د كفارو په بحث باندې مشتمل دي[٢].

ب: ځينې نور وايي چې دلته هغه مؤمنان مراد دي كوم چې په نيكو اعمالو كښې يا د خير نيت ونه كړي او يا بالكل د ريا كارۍ دپاره نېک عمل وكړي[٣]، لكه چې همدا مضمون په ډېرو احاديثو كښې منعكس شوى دى د لاندې يوه حديث مضمون ولولئ:

نبي كريم ﷺ درې كسان (د قرآن كريم قاري، د في سبيل الله شهيد او د ډېرو مالونو خاوند) ښودلي دي چې دوى درېواړه به د الله ﷻ په حضور كښې دعوه وكړي چې مونږ قرائت او شهادت او هم د مال وركړه د الله ﷻ دپاره كړي وه، مګر الله ﷻ به د هر يوه دعوه رد كړي او مخاطب به يې كړي چې: «كَذَبْتَ»[۴] يعنې ته دروغ وايې، تا د دې دپاره ذكر شوى عمل كړى وه چې خلک درباندې آفرين ووايي، نو په دنيا كښې درباندې آفرين ويل شوى دى. نو دوى درېواړه به اور ته واچولى شي.

### تبصره

٢ـ مونږ ته داسې برېښي چې ذكر شوي ايتونه به په عبارة النص سره د كفارو په باره كښې نازل شوي وي خكه چې بحث په همدوى كښې روان دى، مګر په اشارة النص سره به رياكارانو مؤمنانو ته هم شامل وي چې په خپلو اعمالو سره صرف دنيا مطلب كړي او د آخرت څخه غافل شي.

### "توفية" څه معنى؟

٣ـ د ﴿ نُوَفِّ ﴾ كلمه د "توفية" څخه اشتقاقه شوې ده چې د يو شي پوره وركولو ته ويل كېږي[٥].

همدغه معنى په دې مقام كښې د ﴿ لَا يُبْخَسُونَ ﴾ په جمله باندې تاكيده شوې ده چې د "بَخس" ـلكه "نَصْر"ـ څخه اخستله شوې ده، "بَخس" دې ته وايي چې د يو شي په وركړې كښې د ظلم په توګه نقصان واقع كړى شي[۶].

نو د معنى حاصل يې داسې راځېږي: هرڅوک چې په خپلو اعمالو سره دنيا غواړي نو مونږ به هغه ته خپل اعمال پوره وركړو او په پوره وركړه كښې به پرې هيڅ تېرى ونه كړى شي.

---

(١) زاد المسير ج۴ ص٧٠
(٢) تفسير البغوي ج٢ ص٣٧٧
(٣) تفسير القرطبي ج٩ ص١۴
(۴) جامع الترمذي ج٢ ص۶٣
(٥) مفردات الراغب ص۵۶۶
(۶) روح المعاني ج١٢ ص٢۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


هو! د اعمالو پوره ورکړه په لاندې دوه دوو صورتونو سره تعبیر کېدلی شي:

الف: یو دا چې د هغوی اعمال به مطلوب نتائج ورکړي چې د کښت او زراعت څخه به حاصلات راخلي او په صنعتونو باندې به یې مقرره اغراض مرتب شي. یعنې تخنیکي او ساینسي عملونه به یې بې نتانجو پاتې نه شي، لکه الوتکې او عراده جات او نور شیان.

ب: بل دا چې هغوی ته به په نیکو اعمالو باندې په دنیا کښې اجرونه او عوضونه هم ورکړی شي چې د افتونو څخه به بچ وساتل شي او عمرونه به یې اوږده شي او هم به پرې دنیاوي نعمتونه پراخه کړی شي او داسې نور.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې کفار خو نېک عمل نه لري ځکه چې د عمل د نېک ګرځېدلو دپاره ایمان او عقیده ضرور ده، حال دا چې د هغوی سره ایمان او عقیده نشته؟

مونږ وایو چې: په آخرت کښې د نېک عمل دپاره ایمان ضرور دی چې بدون د ایمانه پرې هلته اجر او ثواب نه ورکولی کېږي، اما د دنیاوي اجر دپاره خو ایمان ضرور نه دی، د دنیاوي نېکو اعمالو لاندې مثالونه ولولئ:

الف: چې کفار صلة الرحم (د خپلوانو سره خپلولي) وکړي.

ب: چې دوی فقیرانو ته کومک ورکړي، لکه چې ځینو کفري دولتونو د افغان مهاجرینو سره د هجرت په اوږدو کښې کومکونه وکړه او د بشري مرستو په نامه به یې یادول.

ج: چې دوی لارې جوړې کړي او سرکونه پاخه کړي او یا نهرونه وکني او بندونه راپورته کړي او یا نور داسې کارونه وکړي چې مخلوقات ترې ګټه پورته کوي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وایي چې: په ایت شریف کښې الله ﷻ هغو کسانو ته مطلقه وعده ورکړې ده کوم چې په خپلو اعمالو باندې یوازې دنیا غواړي، حال دا چې د هغوی (کفارو) ځینې اعمال بې نتیجې هم پاتې کېږي؟

مونږ وایو چې: د قرآن کریم ځینې ایتونه ځینې نور تفسیروي نو همدغه ایت شریف په بل ځای کښې دېر ښه تفسیر شوی دی، الله ﷻ فرمایي: ﴿ مَّن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ﴾ [الإسراء:۱۸] یعنې: هرڅوک چې (په خپلو اعمالو سره) عاجله دنیا غواړي (او آخرت یې هېر کړی وي) نو په تلوار سره به په دنیا کښې هغه څه ورکړو چې زمونږ اراده (ورته) وشي (مګر) د هغه چا دپاره چې مونږ یې ورته وغواړو.

لنډه دا چې چې هر یو کار د الله ﷻ په ارادې پورې موقوف دی، برابره خبره ده چې د ارادې ذکر پکښې وکړی شي او که نه، د الله ﷻ اراده په حکمتونو باندې ولاړه ده چې پوره علم یې همده ﷻ پورې اختصاص لري او بس.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## حبط څه معنی؟

۶_ په ﴿ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا ﴾ په جمله کښې د ﴿ حَبِطَ ﴾ کلمه د "حَبَط" _لکه "ضرب"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د ضياع او بربادۍ معنی ورکوي. د اعمالو ضائع کېدل په لاندې درې ډوله باندې صورت نيولی شي[1]:

الف: چې اعمال صرف دنياوي وي، لکه د مشرکانو او کافرانو عملونه چې اخرت يې په نظر کښې نشته.

ب: چې اعمال اخروي وي مګر د الله ﷻ د رضاء په نيت نه وي عملي شوي، لکه د رياکارانو لمونځ او روژه.

ج: چې اعمال اخروي وي او د الله ﷻ د رضاء دپاره ترسره شوي وي مګر په مقابل کښې يې څه بد عملونه وي چې د هغوی په عوض کښې د خپل خاوند د لاسه لاړ شي او د بدۍ تله يې درنه شي.

په دې مقام کښې اوله معنی مراده ده ځکه چې کفار خو اصلا اخروي عملونه نه لري چې په آخرت باندې يې عقيده نشته، که بالفرض عقيده پرې ولري نو په سرته رسولو کښې يې د الله ﷻ رضاء په نظر کښې نه نيسي.

## سوال جواب

۷_ که څوک وايي چې: د ذکر شوې جملې څخه چې کومه معنی څرګنديږي عين همدغه معنی د ﴿ وَبَاطِلٌ مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ د جملې څخه هم د سړي ذهن ته ورځي، نو پوښتنه دا ده چې ايا دا جمله د هغې جملې د تاکيد دپاره نازله شوې ده؟

مونږ وايو چې: ځينو مفسرينو کرامو دا جمله د هغې دپاره تاکيد ګڼلې ده[2].

مګر څرنګه چې د تاکيد څخه تاسيس بهتر دی نو ښه دا ده چې په تاسيس باندې حمله کړی شي چې د ﴿ بَاطِل ﴾ کلمه په اصل کښې د هغه شي دپاره وضعه شوې ده کوم چې ثبات او بقاء نه لري. نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې د کفارو عملونه په آخرت کښې ثواب او اجر نه لري او په دنيا کښې ثبات او بقاء نه لري چې دنيا ټوله فاني ده.

﴿ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِۦ وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ وَمِن قَبْلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامًا وَرَحْمَةً ۚ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ۚ وَمَن يَكْفُرْ بِهِۦ مِنَ ٱلْأَحْزَابِ فَٱلنَّارُ مَوْعِدُهُۥ ۚ فَلَا تَكُ فِى مِرْيَةٍ مِّنْهُ ۚ إِنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٧﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ۚ أُوْلَٰٓئِكَ يُعْرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمْ وَيَقُولُ ٱلْأَشْهَٰدُ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ كَذَبُوا

(۱) مفردات الراغب ص۱۰۵
(۲) البحر المحيط ج۶ ص۱۳۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عَلَىٰ رَبِّهِمْ ۚ أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ ﴿١٨﴾ الَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا
عِوَجًا وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ ﴿١٩﴾ أُولَٰئِكَ لَمْ يَكُونُوا مُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَمَا كَانَ
لَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ۘ يُضَاعَفُ لَهُمُ الْعَذَابُ ۚ مَا كَانُوا يَسْتَطِيعُونَ السَّمْعَ وَمَا
كَانُوا يُبْصِرُونَ ﴿٢٠﴾ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٢١﴾
لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْأَخْسَرُونَ ﴿٢٢﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ
وَأَخْبَتُوا إِلَىٰ رَبِّهِمْ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٢٣﴾ مَثَلُ الْفَرِيقَيْنِ
كَالْأَعْمَىٰ وَالْأَصَمِّ وَالْبَصِيرِ وَالسَّمِيعِ ۚ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾

[۱۷] ایا نو هغه څوک چې د خپل رب ﷻ د پلوه په روښانه (حق دین) باندې وي او د خپل رب ﷻ د پلوه وریسې شاهد (معجز کتاب هم ورغلی) وي (ورنازل شوی وي) او (بالآخره) د دې (شاهد) څخه وړاندې د موسی ﵇ کتاب (تورات هم پرې په داسې حال کښې شهادت ورکړی وي چې د خلکو دپاره) مقتدی او رحمت وه (نو ایا د ذکر شوي دین خاوند او د ده پیروان د هغو خلکو په شان دي چې هغوی نه روښانه دین لري او نه شاهد او بالآخره نه ورته کوم اسماني کتاب شاهدي ورکوي)؟

دغه ډله (د روښانه دین خاوندان) په دې (قرآن کریم) باندې ایمان راوړي (خپل ایمان ته پرې ادامه ورکوي) او د (مختلفو) ډلو څخه (لکه یهود، نصارا او نور) هرڅوک چې پرې کافر شي نو د وعدې (د پوره کولو ځای یې) اور دی (چې په ابدي توګه به پکښې اچول کېږي).

نو (ای پیغمبره!) د همدې (قرآن کریم) څخه په شک کښې مه کېږه (ستا پیروان دې پکښې شک او شبهه نه کوي ځکه چې) یقیناً همدا (قرآن کریم) ستا د رب ﷻ دپلوه حق دی (په حقه درنازل شوی دی) مګر اکثره خلک ایمان نه راوړي (او شک پکښې کوي).

[۱۸] او د هغه چا څخه لوی ظالم بل څوک دی چې (په بل چا نه بلکې) په الله ﷻ باندې دروغ تړي. دغه (دروغژنه ډله به) په خپل رب ﷻ باندې (د قیامت په ورځ) ور وړاندې کړی شي (د ده ﷻ په حضور کښې به ودروله شي) او شاهدان (د محشر خلک) به (هم) ووایي چې دغه ډله هغه کسان دي چې په خپل رب ﷻ باندې یې دروغ تړلي وه.

(ای پیغمبره! اعلان وکړه چې) خبردار! د الله ﷻ لعنت په ظالمانو باندې دی.

[۱۹] هغه ظالمان چې د الله ﷻ د لارې څخه (خلک) اړوي او همدې (لارې) ته کوږوالی لټوي (شکونه پکښې پیدا کوي) او دوی په آخرت باندې همدوی کافران دي.

[۲۰] (ای پیغمبره! د ذکرو شوو کافرانو په هکله به د قیامت په ورځ دا اعلان هم وکړی شي چې)

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه ډله په ځمکه (دنیا) کښې (د الله ﷻ) عاجزي کوونکې نه وه (په الله ﷻ باندې زورور نه وه لکه څنګه چې پرې نن ورځ زورور نه دی) او (همدارنګه) دوی ته د الله ﷻ څخه په غیر (هلته هم) دوستان نه وه (لکه چې دلته ورته نشته).

دوی ته به دوه چنده عذاب ورکړی شي (چې نور خلک یې ګمراهان کړي وه او پخپله هم ګمراهان وه ځکه چې) دوی (د زیات عناد د کبله) وسه (حوصله) نه درلوده (چې قرآن کریم) یې اورېدلی وی او (هم یې حوصله نه وه چې د الله ﷻ د توحید د لایل یې) لیدلي وی (او ایمان یې راوړی وی).

[۲۱] دغه ډله هغه کسان دي چې خپل ځانونه یې په تاوان کښې اچولي دي او د دوی څخه هغه څه (بوتان) ورک شوه چې دوی به (په الله ﷻ باندې) په دروغو تړل (په درد یې هیڅ دوا نه شوه).

[۲۲] (دا) یقیني خبره ده چې بې شکه په آخرت کښې همدوی زیات زیانکاران دي.

[۲۳] یقیناً هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او نیک عملونه یې کړي وي او (هم یې) خپل رب ﷻ ته تواضع کړې وي (د همده ﷻ څخه ډارېږي) دغه ډله دجنت ملګري دي دوی به پکښې همېشه وي.

[۲۴] (د ذکرو شوو) دواړو فرقو (ډلو) مثال (داسې دی) لکه د ړانده او کاڼه او (هم لکه) د اورېدونکي او لیدونکي. ایا (دا) دواړه (ډلې) د مثال د حیثه یو تربله برابرې دي؟ ایا نو تاسو پند نه اخلئ (ادنی فکر نه کوئ)؟.

## ارتباط

د یوې اشتباه د جوابولو څخه وروسته په دې ایتونو کښې د خبرې مخ ببرته اصلي موضوع (محمد ﷺ په حقه پیغمبر دی او قرآن کریم ربښتیانی کتاب دی) ته اووښتی دی او یوه په زړه پورې تبصره پرې شوې ده چې حاصل یې داسې راووخي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! څرنګه چې مشرکان د قرآن کریم د مقابلې څخه عاجز شوه او پوره جوته شوه چې ته په حقه پیغمبر یې او هغه په حقه د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی نو اوس خپل امت متوجه کړه چې د خپلو ځانونو سره انصافي فیصله وکړي او لاندې نکات پرې قرائت کړه:

۱ـ ایا نو هغه څوک چې لاندې صفات ولري د هغه چا غوندې کېدلی شي چې هغه ترې بې برخې وي:

الف: څوک چې د خپل رب ﷻ د پلوه په روښانه لاره باندې روان وي او د خپل دین په حقانیت باندې د زړه د کومې باور لري او سر یې پرې خلاص وي.

ب: برسېره پر دې چې په خپل دین باندې باوري وي د خپل رب ﷻ د پلوه د ده د دیني خط السیر په تعقیب شاهد هم ورغلی وي چې همدغه لاره حقه ده په کومه باندې چې ته روان یې. یا په بل عبارت: د قرآن کریم په شهادت سره یې هم تائید شوی وي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

ج د قرآن کریم شهادت لا څه چې پخواني اسماني کتابونه پرې ټول عموماً شاهدي وايي چې همدغه لاره حقه ده، او د موسی ﷺ کتاب (تورات) چې د خلکو دپاره امام (منلی شوی کتاب وه او د الله ﷻ د پلوه لوی رحمت وه) هم په ذکر شوي مطلب باندې شاهدي ورکوي او تصدیق یې کوي پوره واضحه ده چې د ذکر شوو صفاتو خاوند د هغه چا څخه زښت زیات فرق لري چې هغه په پوره تیاره کښې روان وي، په خپله کړنلاره باندې نه عقلي دلیل لري او نه نقلي، فرق یې دا دی:

اول د صفاتو خاوندان په اطمنان او ډاډه زړه باندې د قرآن کریم په حقانیت باندې عقیده لري چې نه ورباندې څه اشتباه ورځي او نه یې څوک د خپلې تګلارې څخه اړولی شي.

دوهم بالمقابل څوک چې ذکر شوي صفات نه لري هغوی په قرآن کریم باندې باور نه کوي او درګرده فرمایشي معجزې غواړي خو د فرمایش د پوره کېدلو سره-سره د خپلې تګلارې څخه نه اوړي

۲ـ ای پیغمبره! نو د الله ﷻ فیصله دا ده چې د اسلامي ټولنې څخه پرته نور هرڅومره مختلف ګروپونه فقط په همدغې یوه لاره باندې د دوزخ د اوره نجات موندلی شي چې په قرآن کریم باندې عقیده او باور وکړي، که نه نو د ټولو دپاره دوزخ ټاکلی شوی دی.

۳ـ ای پیغمبره! کفار خو زیار وباسي چې تا ته او ستا پیروانو ته د قرآن کریم په حقانیت کښې شک او شبهه درواچوي، نو پام کوه چې د هغوی غوښتنې ته میلان قدرې هم ونه کړې او په خپله تګلاره باندې کلک اوسېږه، دا ځکه چې همدغه قرآن کریم ستا د رب ﷻ د پلوه په حقه باندې درنازل شوی دی چې په خپل ځان باندې پخپله شاهدي وايي مګر اکثره خلکو قصد کړی دی چې ایمان رانه وړي که څه هم هر ډول معجزات وګوري.

۴ـ ای پیغمبره! د هغه چا څخه به بل غټ ظالم څوک وي چې په بل چا نه بلکې په الله ﷻ باندې دروغ وتړي چې زه پیغمبر یم او پیغمبر نه وي؟ او هم به د هغه چا څخه څوک لوی ظالم وي چې د الله ﷻ پیغمبر ته او هم د الله ﷻ کتاب ته د دروغو نسبت وکړي چې دا واقعیت نه لري؟

## د کفارو د آخرت حالات

۵ـ ای پیغمبره! همدغه خلک چې د خپل رب ﷻ پیغمبر او کتاب ته د دروغو نسبت کوي د قیامت په ورځ به یې داسې حال وي:

الف: دوی ټول به د خپل رب ﷻ حضور ته بوتللی شي او د نجات لاره به مونده نه کړي او د الهي عتاب لاندې به واقع شي.

ب: دوی به هلته په خپلو کفریاتو باندې پرده وانه اچولی شي او دا ځکه چې متعدد شاهدان به د دوی په کفریاتو باندې شاهدي ورکړي، لکه ملائک او د دوی خپل-خپل اندامونه.

۶ـ بیا به د محشر په میدان کښې د ټولو عالمونو په وړاندې داسې اعلان وشي چې خبردار! د الله ﷻ لعنت په هغو ظالمانو باندې دی کوم چې په دنیا کښې دا عادتونه درلودل:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: چې پخپله هم د حقې لارې څخه اووښتي وه چې نه یې په معجزه باندې قناعت کاوه او نه یې حقاني دلایلو ته غوږ اینښوده.

ب: او نور خلک یې هم د حقې لارې څخه اړول او پښو ته یې ډېرې ور اچولې چې یا ایمان رانه وړي او یا بېرته مرتد شي.

ج: چې د الله ﷻ حقې لارې ته یې خنډونه او کوږوالی لټول او په همدې هڅه کښې وه چې کومه شبهه او اشتباه مونده کړي او د خپلو کفریاتو دپاره ترې د بهانې کار واخلي.

د: لنډه دا چې دوی په بیا ژوندون باندې عقیده نه درلوده او ترې منکران وه.

۷ـ هلته به دا اعلان هم وشي چې دغه ډله په دنیا کښې هم زورور نه وه او نه یې د الله ﷻ څخه په غیر داسې دوستان درلوده چې د الله ﷻ څخه یې په زور یا شفاعت سره خلاص کړي وی، او دا دی نن ورځ د محشر په میدان کښې هم نه په زور باندې خانونه خلاصولی شي او نه د شفاعتګرو په شفاعت سره او نه شفاعتګر لري.

۸ـ ای پیغمبره! ذکرو شوو کفارو ته به دوه چنده عذاب ورکړی شي، ځکه چې:

الف: دوی د قرآن کریم یا د اسلام د دین سره ډېر سخت حساسیت درلود حتی چې دوی د دې خبرې حوصله نه درلوده چې اقلا قرآني دلایل واوري او غوږ ورته کېږدي.

ب: او نه یې دا حوصله درلوده چې د الله ﷻ په مخلوقاتو کښې نظر واچوي او د توحید دلایل د زړه په بصیرت سره وګوري.

د همدې کبله دوی هڅه کوله چې د خپلو خانونو غوندې نور خلک هم بې لارې کړي، نو ځکه به د قیامت په ورځ کښې د دوی جزا دوه چنده او درنه وي.

۹ـ ای پیغمبره! دغه ډله خلک هغه خلک دي چې خپل خانونه یې په لوی لاس په تاوان کښې واچول او د هدایت د اسبابو څخه یې ګټه پورته نه کړه.

دوی په دروغینو معبودانو پورې ونښتل مګر نن ورځ یې ورته هیڅ ګټه ونه شوه رسولی او په درد باندې یې هیڅ دواء نه شوه، ته به وایې چې بالکل ترې لا درکه شوي دي.

۱۰ـ نو د همدې کبله د قیامت په ورځ په یقیني توګه همدوی سخت زیانکاران دي چې د خپل تاوان (زیان) هیڅ تلافي او چاره نه شي کولی او ابدي عمر یې په دوزخ کښې شو.

۱۱ـ ای پیغمبره! بالمقابل چا چې په قرآن کریم باندې ایمان راوړی وي او هم یې نېک عملونه په دنیا کښې ترسره کړي وي او هم یې خپل رب ﷻ ته عاجزي کړې وي او د ده ﷻ په هدایتونو باندې یې تکبر او لويي نه وي کړې، نو دغه ډله د جنت دائمي ملګري دي چې هیڅکله به یې د جنت سره انډیوالي پرې نه کړی شي، بلکې همدغه ډله د کامیابانو ډله ده.

۱۲ـ ای پیغمبره! د قیامت په ورځ به خکهٔالله ﷻ د مؤمنانو اوکفارو ترمنځ ډېره عظیم الشانه جدايي راولي چې دوی دواړو په دنیا کښې لاندې فرقونه درلودل:

الف: کفار د ړندو په شان وه او مؤمنانو د بیناوو او سترګورو مثال درلود.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: هغوی د مور زادي کنو غوندې وه او دوی د اورېدونکو په شان وه.
نو ایا دغه دواړه ډلې د صفت او حالت د حیثه یو تربله برابرېدلی شي؟
نو ایا تاسو د وړاندېنیو بیاناتو تذکر او یادښت نه کوئ چې الله ﷻ د معنوي ړوندوالي او معنوي کوڼوالي د لرې کولو دپاره قرآن کریم نازل کړی دی؟
نو ای کفارو! که تاسو لږ غوندې تفکر وکړئ نو د ذکر شوي ناکاره مثال د تطبیق څخه به خانونه خلاص کړئ او په ایمان باندې به مشرف شئ.

## توضیحات

۱_ که څه هم په دې جمله ﴿ أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِۦ وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ ﴾ کښې د ﴿ بَيِّنَةٍ ﴾ معنی واضحه ده چې هغه ښکند دلیل ته ویل کېږي په کوم کښې چې هیڅ خفاء نه وي، برابره خبره ده چې دغه دلیل عقلي وي او که نقلي. همدارنګه برابره خبره ده چې وضاحت یې په تجربه ثابت شوی وي او که په سترګو لیدل کېږي[1].

همدارنګه د ﴿ شَاهِدٌ ﴾ معنی هم پوره څرګنده ده چې هیڅوک پکښې اشتباه نه کوي، مګر علماوو کرامو په دې مقام کښې د ذکرو شوو دواړو کلمو د مصداقاتو په تعین کښې متعدد قولونه کړي دي چې تقریبًا اتو (۸) یا ورپورته عدد ته رسېږي[2].

خو کوم مصداقات چې مونږ ته د دې مقام سره مناسب برېښي هغه دا دي:

د ﴿ بَيِّنَةٍ ﴾ کلمه د اسلامي دین څخه عبارت ده چې د حقانیت څرګندوالی یې د لمر په شان واضحه دی، الله ﷻ خپل پیغمبر ته ارشاد کوي چې: ﴿ قُلْ إِنِّي عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَكَذَّبْتُم بِهِۦ ﴾ [الأنعام: ۵۷] یعني ای پیغمبره! کفارو ته ووایه چې: زه د خپل رب ﷻ د پلوه په حق (واضحه) دین باندې یم او تاسو ورته د دروغو نسبت کوئ.

او د ﴿ شَاهِدٌ ﴾ د کلمې څخه په دې مقام کښې قرآن کریم مراد دی چې په خپل حقانیت باندې د اعجاز د کبله پخپله شاهدي ورکوي چې مخلوقات یې د مقابلې څخه عاجز وه او عاجز به وي. په همدې مراد باندې متصله ټکړه ﴿ وَمِن قَبْلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ ﴾ هم دلالت کوي.

نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: ایا هغه څوک چې په دنیاوي لذتونو کښې غرق وي او د خپل باطل دین د ثبوت دپاره هیڅ دلیل په لاس کښې نه لري د هغه چا سره برابرېدلی شي چې د هغه د دین ثبوت پوره څرګندوي چې د انساني فطرت سره مطابق وي او برسېره په دې د خپل رب ﷻ د پلوه پرې شاهد (قرآن) هم نازل شوی وي او بالآخره پخواني کتابونه یې هم تصدیق کوي لکه تورات او نور؟.

---

[1] تفسیر المنار ج۱۲ ص۵۰
[2] زاد المسیر ج۴ ص۷۱؛ تفسیر البغوي ج۲ ص۳۷۷؛ تفسیر القاسمي ج۹ ص۱۰۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په همدې مضمون باندې په وروستني ايت کښې صراحت شوی دی چې: ﴿ مَثَلُ ٱلْفَرِيقَيْنِ كَٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْأَصَمِّ وَٱلْبَصِيرِ وَٱلسَّمِيعِ ۚ هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ﴾ يعنې د دواړو ډلو (مؤمنانو او کافرانو) حال د ړانده او کاڼه او هم د بينا او اورېدونکي په شان دی، ايا دغه دواړه ډلې د حالت د حيثه برابرې دي؟

## يو ماثور تفسير

۲ ـ نبي کريم ﷺ دا جمله ﴿ وَمَن يَكْفُرْ بِهِۦ مِنَ ٱلْأَحْزَابِ فَٱلنَّارُ مَوْعِدُهُۥ ﴾ په لاندې حديث کښې څومره ښه تفسيره کړې چې:

«وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لا يَسْمَعُ بِي أَحَدٌ مِنْ هَذِهِ الأُمَّةِ يَهُودِيٌّ وَلا نَصْرَانِيٌّ ثُمَّ يَمُوتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ إِلاَّ كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ»(۱) يعنې زما دې په هغه اقدس ذات باندې قسم وي چې د محمد ﷺ روح د ده ﷻ په واک کښې دی چې د دې امت څخه به هيڅوک زما په رسالت باندې خبر نه شي يهودي وي او که نصراني وي (او که بل څوک وي) چې بيا په داسې حال کښې مړ شي چې په هغه شي باندې ايمان رانه وړي په کوم باندې چې زه رالېږلی شوی يم، مګر هغه به د دوزخيانو څخه وي (نو د دې امت دپاره د قيامت د ورځې پورې زما د شريعت څخه په غير بله د نجات لاره نشته).

## الأشهاد څه معنی؟

۳ ـ ﴿ وَيَقُولُ ٱلْأَشْهَـٰدُ ﴾ کښې د "أشهاد" کلمه د "شاهد" جمعه ده چې د شهادت ورکوونکي معنی ورکوي او څه خفاء پکښې نشته مګر په مصداق کښې يې مفسرينو کرامو لاندې قولونه کړي دي(۲):

الف: د ﴿ ٱلْأَشْهَـٰدُ ﴾ (شهادت ورکوونکو) څخه پيغمبران عليهم‌السلام مطلب دي چې هر يو به د خپل امت په کفارو باندې شهادت ورکړي.

ب: شاهدي ورکوونکي د ملائکو څخه عبارت دي.

ج: د هر کافر اندامونه په هغه باندې شهادت ورکوونکي دي.

د: ﴿ ٱلْأَشْهَـٰدُ ﴾ د محشر د خلکو څخه عبارت دی.

مګر مونږ وايو: څه لرې نه ده د ﴿ ٱلْأَشْهَـٰدُ ﴾ کلمه دغو ټولو شهادت ورکوونکو ته شامله وي چې يو تربله سره څه منافات نه لري، خو لومړنی مصداق به يې د محشر د ميدان ټول خلک وي لکه چې نبي کريم ﷺ د همدغه ايت په هکله په يوه اوږده حديث کښې داسې هم فرمايلي دي چې: «وَأَمَّا الْكُفَّارُ فَيُنَادَى عَلَى رُءُوسِ الأَشْهَادِ هَؤُلاءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَى رَبِّهِمْ»(۳) يعنې په مؤمن باندې به الله ﷻ پرده واچوي (د مناجات په توګه به ورته ګناهونه ياد کړي چې دا دې کړي ده او هغه دې کړې ده) او

---

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۸۶

(۲) زاد المسير ج۴ ص۷۴، روح المعاني ج۱۲ ص۳۰

(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۶۷۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بیا به ورته عفوه وکړي، او هر چې کفار دي نو د دوی په هکله به علی رؤس الأشهاد (په ډاګه) د ټولو مخلوقاتو په وړاندې اواز وکړی شي چې دغه ډله هغه کسان دي چې په دنیا کښې یې په خپل رب ﷻ باندې دروغ تړل چې نه یې مونږ ته پیغمبر رالیږلی دی او نه یې کتاب را نازل کړی دی.

بیا به د محشر د میدان خلک ذکره شوې خبره تکراره کړي چې دغه ډله هغه کسان دي کومو چې په خپل رب ﷻ باندې دروغ تړلي وه.

## یادونه

۴_ دغه کلمات ﴿ أَلَا لَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٨﴾ ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ ﴾ په لاندې دوه ډوله باندې تفسیر کېدلی شي:

الف: چې دا هم د اشهادو وینا وي چې د محشر په میدان کښې به یې وکړي.

ب: چې الله ﷻ د معترضه جملې په توګه نبي کریم ﷺ ته توصیه کړې وي چې دا کلمات کفارو ته اعلان کړه.

نو څرنګه چې مونږ ته یو ډول په بل باندې ترجیح نه درلوده نو تفسیر مو په یو ډول "الف" او ترجمه مو په بل ډول "ب" باندې بناء کړه.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: الله ﷻ د بدیو په سزا کښې فرمایي چې: ﴿ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴾ [الأنعام: ۱۶۰] یعنې: او هر څوک چې په بدۍ باندې راتګ وکړي نو هغه ته به جزا ورنه کړی شي مګر په مثل د بدۍ، حال دا چې په دوی به ظلم ونه کړی شي.

نو پوښتنه دا ده چې الله ﷻ د ذکرو شوو کفارو په هکله دا جمله ﴿ يُضَٰعَفُ لَهُمُ ٱلْعَذَابُ ﴾ هم نازله کړې ده چې دوی ته به دوه چنده عذاب ورکړی شي؟

مونږ وایو چې: د همدغو کفارو په هکله لږ وړاندې دا کلمات هم نازل شوي دي چې ﴿ ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾، د ﴿ يَصُدُّونَ ﴾ کلمه د "صدًا" یا "صدودًا" څخه اشتقاقه شوې ده، "صدًا" یا "صدودًا" په لاندې دوه معناوو باندې استعمالېږي[1]:

الف: د یو شي څخه پخپله بېرته تاوېدل.

ب: د یو شي څخه بل څوک بېرته تاوول او اړول.

نو په دې مقام کښې "صدًا" یا "صدودًا" چې د ﴿ يَصُدُّونَ ﴾ کلمه ترې اشتقاقه شوې ده دواړه معنی ورکوي نو د معنی حاصل یې داسې راوځي: چې دوی ته ځکه دوه چنده عذاب ورکول کېږي چې دوی نور خلک د لارې څخه اړول او پخپله خو دومره بې لارې وه چې: ﴿ مَا كَانُوا۟ يَسْتَطِيعُونَ

(۱) مفردات الراغب ص۲۸۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلسَّمْعَ وَمَا كَانُوا۟ يُبْصِرُونَ ﴾ يعنې دوی نه وه چې د ډېر عناد د کبله يې د نقلي دلايلو د اورېدلو حوصله درلودلې وي، او هم دوی نه وه چې د توحيد آفاقي او نفسي دلايلو ته يې کتلي وی ترڅو په ايمان باندې مشرف شوي وی.

## د "لا جَرَمَ" د کلمې تحليل

۶ـ په کار دی چې د ښه وضاحت دپاره د ﴿ لَا جَرَمَ أَنَّهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ هُمُ ٱلْأَخْسَرُونَ ﴾ په جمله کښې لاندې تحليل په نظر کښې ونيول شي:

الف: د ﴿ جَرَمَ ﴾ کلمه د ونې څخه د مېوې شکولو (پرې کولو) دپاره وضعه شوې ده[۱].

ب: د "لا" توری د نفي الجنس دپاره دی.

ج: او د ﴿ أَنَّهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ ﴾ سره د "عن" توری مراد دی[۲].

نو د معنی حاصل يې داسې راوخي چې: هيڅ شکول (منعه کول) د دې خبرې څخه نشته چې يقيناً بې شکه کفار په آخرت کښې همدوی ډېر زيانکاران دي چې اور ته د اخلېدل يې يقيني او دائمي دي.

د همدې مضمون څخه عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په "حقًا" سره تعبير کړی دی[۳].

که څوک د ﴿ لَا جَرَمَ ﴾ په کلمه کښې اوږد تحليل غواړي نو خينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۴].

## إخبَات څه معنی؟

۷ـ په ﴿ وَأَخْبَتُوٓا۟ إِلَىٰ رَبِّهِمْ ﴾ کښې د ﴿ أَخْبَتُوٓا۟ ﴾ کلمه د "إخبَات" څخه اشتقاقه شوې ده، "إخبَات" خشوع او تواضع ته وضعه شوی دی[۵]. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: هغه کسان جنتيان دي چې برسېره په ايمان او نېک عمل باندې خپل رب ﷻ ته تواضع کوي او د خپل رب ﷻ څخه ډارېږي.

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ إِنِّى لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٢٥﴾ أَن لَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا ٱللَّهَ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٢٦﴾ ﴾

[۲۵] او بې شکه مونږ نوح عليه السلام خپل قوم ته (د پيغمبر په حيث) لېږلی وه (ده عليه السلام خپل قوم ته وويل چې) يقيناً زه ستاسو دپاره ښکاره ډاروونکی يم (او بس).

---

(۱) مفردات الراغب ص۸۹
(۲) تفسير الطبري ج۱۲ ص۲۳
(۳) زاد المسير ج۴ ص۷۶
(۴) روح المعاني ج۱۲ ص۳۳؛ البحر المحيط ج۶ ص۱۳۷
(۵) لسان العرب ج۲ ص۲۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۶] (او هم یې ورته وویلې چې) تاسو (د بل هیڅ شي) عبادت مکوئ مګر (یوازې) د الله ﷻ، یقیناً (د تخلف په صورت کښې) زه په تاسو باندې د دردناکې ورځې د عذاب څخه ډاربږم (چې ورسره به مخامخ شئ او بیا به د نجات دپاره هیڅ وسیله مونده نه کړئ).

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د انکار کوونکو په حال باندې د یوې تبصرې په ترڅ کښې د هغوی اخروي حالات شرحه شوي وه او په دې ایتونو کښې یې په دنیاوي عواقبو باندې ښه اوږده تبصره شوې ده.

۲ـ هغه ایتونه په دې تمام شوي وه چې ړانده او کاڼه د بیناوو او اورېدونکو سره برابري او سیالي نه شي کولی، دلته د اوو پیغمبرانو (نوح ﷺ، هود ﷺ، صالح ﷺ، ابراهیم ﷺ، لوط ﷺ، شعیب ﷺ، موسی ﷺ) د څه حالونو په څرګندولو سره د ذکرو شوو دواړو ډلو مصداقات ښودلي شوي دي.

## د مطلب خلاصه

یعني: ای پیغمبره! د هر څه څخه وړاندې خپل امت ته د نوح ﷺ او د ده د قوم څه حالات قرائت کړه ترڅو ترې عبرت واخلي او خپلو عواقبو ته متوجه شي، هغه دا چې:

مونږ نوح ﷺ خپل قوم ته د پیغمبر په صفت باندې ورولېږه چې هغوی په دغو نکاتو باندې مخاطب کړه چې:

۱ـ ای زما قومه! زه تاسو ته د الله ﷻ د پلوه را استولی شوی یم ترڅو تاسو د دنیا او آخرت د بدو عواقبو څخه ودار کړم، زه په ډاګه او څرګنده توګه خپل نبوت در اعلانوم.

۲ـ زه الله ﷻ د دې دپاره را استولی یم ترڅو تاسو ته توصیه وکړم چې د الله ﷻ څخه په غیر د بل شي عبادت مه کوئ (د بوتانو د عبادت څخه صرف نظر شئ او الله ﷻ واحد لا شریک وګڼئ).

۳ـ که نه نو زه په تاسو باندې د درد ناک عذاب څخه ډاربږم چې په آخرت کښې لا څه چې په دنیا کښې به هم د بدې ورځې سره مخامخ شئ او بیا به د خپل خلاصون او نجات دپاره هیڅ کومکي او دوست مونده نه کړئ او بوتان به مو په درد باندې دواء نه شي.

## توضیحات

۱ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۵۹] د ایت لاندې د نوح ﷺ په هکله څه معلومات لیکلي دي چې په دې مقام کښې یې بو خل کتل بې ګټې نه دي.

۲ـ هسدارنګه مونږ هلته د ارتباط د وجوهو په بیان کښې د قرآن کریم د قیصو په اړوند څه معلومات ذکر کړي دي خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې معلومات ور اضافه کوو:

الف ترڅو څرګنده شي چې ټول پیغمبران علیهم السلام په عقیدوي احکامو کښې یو برابر دي او صرف په عملي احکامو باندې شریعتونه متعدد شوي دي.

ب د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام دعوت یو شی دی چې الله ﷻ په وحدانیت سره پېژاندل دي او بس.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ح بو پیغمبر هم دا دعوه نه ده کړي چې زه چا ته روزي ورکوم او یا د نورو تکویني امورو ذمه وار یم

د بوه پیغمبر هم په خپل دعوت باندې د بندګانو څخه څه شی غوښتی نه دی.

ه هیڅ پیغمبر بې معجزو نه دی پرېښودلی شوی چې نبوت یې خلکو ته په ثبوت نه وي رسېدلی.

و هر پیغمبر د توحید څخه علاوه د هغه جنایت په مخنیوي کښې هم زیات زور لګولی دی په کوم باندې به چې د ده قوم مبتلا وه

ز د هرې زمانې خلکو ته الله ﷻ د ښه او بدو د پېژاندلو استعداد ورکړی دی چې چا په بوه خوا کښې په کار اچولی دی او چا په بلې خوا کښې

ح د الله ﷻ د هدایت قبول د دنیا او آخرت د سعادت سبب دی او عدم قبول یې د دواړو دنیاوو هلاکت دی

ط ترڅو خلکو ته پوره څرګنده شي چې الله ﷻ د نېکانو سره څه کوي او د بدانو سره څه معامله کوي؟

ي بالآخره ترڅو ټولو خلکو ته جوته شي چې ټول کائنات د الله ﷻ په واک او اختیار کښې دي، مثلاً باران الله ﷻ وروي او د ځمکې نباتات الله ﷻ زرغونوي او هم دریاب ته الله ﷻ اجازه نه ورکوي چې په ځمکه باندې ور وخېژي او د انسان د سکونت څخه یې وباسي او داسې نور.

﴿ فَقَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ مَا نَرَىٰكَ إِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرَىٰكَ ٱتَّبَعَكَ إِلَّا ٱلَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِىَ ٱلرَّأْىِ وَمَا نَرَىٰ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍۭ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَٰذِبِينَ ﴿٢٧﴾ ﴾

[۲۷] نو د نوح ﷺ د قوم څخه (د ده ﷺ په جواب کښې) هغو مشرانو (غټانو) وویلې کومو چې کفر غوره کړی وه (داسې چې) مونږ خو تا نه ګورو مګر د خپلو ځانونو غوندې انسان (دې ګورو نو په څه وجه نه د نبوت دپاره انتخاب شوې)

او (هم) مونږ تا نه ګورو چې ستا پیروي کوي مګر هغه کسان (دې پیروي کوي) چې دوی زمونږ رذیلان (فقیران) دي، (دا پیروي یې هم) د سرسري فکر (په وخت کښې) غوره کړې ده.

او (بلکې) مونږ خو تاسو ته په خپلو ځانونو باندې څه فضیلت (بهتري) نه ګورو بلکې مونږ په تاسو باندې د دروغژنانو ګومان (یقین) کوو

## د مطلب خلاصه

په دې ایت کښې هغو وجوهو ته اشاره شوې ده په کومو باندې چې د نوح ﷺ قوم د ده دعوت رد کړی وه، نو حاصل یې داسې راځېژي چې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د نوح ﷺ د قوم مشرانو (هغو کسانو چې په قوم کښې يې اعتبار درلود او هم د قوت او زور خاوندان وه) ذکر شوی دعوت په لاندې وجوهو سره رد کړ:

۱ـ ای نوحه! ته خو زمونږ غوندې انسان يې، نو ايا دا خبره مونږ ومنو چې په تا باندې دې وحې نازله شوې وي او د پيغمبر مقام دې ولرې او مونږ دې دغې درجې ته نه ياستو پورته کړی شوي؟

۲ـ بله دا ده چې ستا پيروان او متابعت کوونکي هغه خلک دي کوم چې په مونږ کښې سپک او بې اعتباره دي او هم څه منصب او قدرت نه لري، بلکې اهل کسبه دي چې د خلکو په خدمت او مزدورۍ باندې مشغول دي.

يا په بل عبارت: ستا پيروان رذيل خلک دي چې مونږ د هغو سره په ناسته پاسته باندې شرميږو، که بالفرض ستا پيروي څه ښه کار وی نو دوی به زمونږ څخه پکښې نه وی وړاندې شوي.

په دې باندې علاوه، ستا پيروان په سر سري نظر سره پېژاندل کېږي چې دوی د اشرافو څخه نه دي او بې اعتباره خلک دي، که د دوی بې اعتباري او رذيلتوب لږ څه پټ وی او په سر سري نظر سره نه څرګندېدی نو هم مونږ به يې تحمل کړی وی.

۳ـ دغو غريبو او بې ارزښته خلکو هم څه دقيق فکر نه دی کړی بلکې يو سر سري نظر باندې يې ستا پيروي خوښه کړې ده، که نه نو دوی بايد پوه شوي وی چې ستا د پيروۍ څخه ورته زمونږ پيروي بهتره ده؛ نو ته د دوی پيروي د خپل ځان دپاره د حقانيت دليل مه ګرځوه.

۴ـ ای نوحه! مونږ تا او ستا پيروانوته په خپلو ځانونو باندې کوم فضيلت او بهتري نه ګورو، چې تاسو په حقه لاره روان ياست او مونږ باطله لاره غوره کړې ده.

۵ـ زمونږ په تاسو باندې يقين دی چې تاسو ټول دروغژنان ياست، تا پخپله په دروغو باندې خپل ځان پيغمبر جوړ کړی دی او پيروان دې د دروغو پيروي کوي بلکې ستا پيروان هم قلبًا (د زړه څخه) ستا پيروان نه دي (په دروغو باندې وايي چې مونږ په تا باندې ايمان راوړی دی).

په ذکره شوې خبره باندې زمونږ يقين او باور دی خو د دې دپاره ترې په ګومان سره تعبير کوو ترڅو ته په جلتۍ سره خپله تګلاره بدله کړې او مونږ دې ته مجبور نه کړې چې په خپل يقين باندې صراحت وکړو او ته د زيادت خجالت سره مخامخ شې.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ أَرَاذِلُنَا ﴾ کښې د "أَرَاذِل" کلمه د "أَرْذَل" جمعه ده، "أَرْذَل" د هغوی په اصطلاح هغه چا ته ويل کېده چې دنياوي مال به يې نه درلود (فقير به وه)[1] او د رزق د موندلو دپاره به په کسبونو کښې مشغول وه لکه جولاګي، موچيتوب او داسې نور.

د نوح ﷺ قوم په مالونو او ثروتونو باندې دومره مغرور وه چې فقيرانو خلکو ته به يې د سپکو او د خسيسو خلکو لقب ورکاوه.

---

(۱) البحر المحيط ج۶ ص۱۴۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

٢ـ که څوک وايي چې د ﴿ بَادِيَ ٱلرَّأْيِ ﴾ کلمه په اعراب کښې څه شی واقع شوې ده؟

مونږ وايو چې د ذکرې شوې کلمې په اعراب کښې علماوو کرامو متعددې وجهې ليکلې دي چې تقريباً شپږو ته رسېږي[١] د مثال په توګه:

الف: دا کلمه په ظرفيت باندې منصوبه ده او د ﴿ ٱتَّبَعَكَ ﴾ پورې تعلق نيسي[٢] چې حاصل يې په لاندې دوو ډولونو باندې اخستل کېدلی شي:

اول: يو دا چې دوی د سر سري نظر (فکر) په وخت کښې ستا پيروي خوښه کړې ده، که دوی لږ څه دقيق فکر کړی وی او يا يې زمونږ غونډې هوښيارو خلکو سره مشورې کړې وی نو ستا پيروی ته به نه وی چمتو شوي.

حال دا چې که د نوح ﷺ قوم دقيق فکر کړی وی نو دوی به پوه شوي وی چې د فقيرانو پيروي د دې خبرې دليل دی چې نوح ﷺ په حقه پيغمبر دی، او دا څکه چې د پيغمبرانو عليهم السلام اولين پيروان فقيران او بې ثروته (بې پانګې) خلک وي.

د روم پاچا (هرقل) د نبي کريم ﷺ په نبوت باندې د فقيرانو پيروي هم د ثبوت يو دليل وګڼله چې د پوخ فکر خاوند وو. کله چې هغه پوښتنه وکړه چې د دغه شخص (نبي کريم ﷺ) چې د نبوت دعوه کوي اشراف پيروي کوي او که کمزوري او فقيران؟ جواب ورکړی شو چې د ده د پيروانو په ډله کښې د کمزورو اکثريت دی او فقيران پرې ايمان راوړي.

نوموړي (هرقل) وويلې چې: «وَهُمْ أَتْبَاعُ الرُّسُلِ»[٣] يعنې همدغه خلک د پيغمبرانو عليهم السلام اولني پيروان وي.

دوهم: بل دا چې کوم خلک چې ستا پيروي کوي هغوی هم په تا باندې د پيغمبر عقيده نه لري، بلکې دا محض يوه ظاهري بڼه لري او بس[٤].

ب: ذکر شوې کلمه ﴿ بَادِيَ ٱلرَّأْيِ ﴾ په ظرفيت منصوبه ده خو د ﴿ أَرَاذِلُنَا ﴾ پورې تعلق نيسي[٥]، نو د معنی حاصل يې داسې را اوځي چې ستا د پيروانو ارذليت او خساست بالکل څرګند دی او په اول نظر سره هرچا ته څرګندېږي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٢ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه نکته پټه ده چې ذکر شوو کفارو د ﴿ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَٰذِبِينَ ﴾

---

(١) المحرر الوجيز ج٩ ص١٣٢
(٢) تفسير الکشاف ج٢ ص٣٨٨
(٣) صحيح البخاري ج١ ص۴
(۴) تفسير القرطبي ج٩ ص٢۴
(۵) زاد المسير ج۴ ص٧٩

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په عوض "بل نظنكم كاذبين" ونه ویلې چې مونږ ته الله ﷻ حکایت کړی وی. حال دا چې هغوی خو د نوح ﷺ او د ده د پیروانو په دروغژنتوب باندې عقیده درلوده، نه دا چې گومان یې کاوه؟!

مونږ وایو چې ـ والله ﷻ أعلم ـ هغوی به لاندې نکاتو ته اشاره کوله:

الف: تر څو خپل خانونه با انصافه څرګند کړی چې مونږ ستاسو په هکله په دقیق فکر باندې بوخت یاستو او تر اوسه پورې د ګومان به مرحله کښې یو.

ب: تر څو نوح ﷺ او د ده پیروان په غوږ ووهي چې تر اوسه پورې لا مونږ ستاسو په باره کښې قطعي فیصله نه ده کړې چې تاسو دروغژنان یاست. نو ستاسو دپاره اوس هم فرصت شته چې بېرته راتاو شئ، که دا فرصت تاسو د لاسه ورکړئ نو بیا به مو د بېرته را ګرځېدلو دپاره د پښې اېښودلو ځای پاتې نه وي.

﴿قَالَ يَـٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِهِۦ فَعُمِّيَتۡ عَلَيۡكُمۡ
أَنُلۡزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمۡ لَهَا كَٰرِهُونَ ﴿٢٨﴾ وَيَٰقَوۡمِ لَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مَالًاۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى
ٱللَّهِۚ وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْۚ إِنَّهُم مُّلَٰقُواْ رَبِّهِمۡ وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمۡ قَوۡمٗا تَجۡهَلُونَ ﴿٢٩﴾
وَيَٰقَوۡمِ مَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمۡۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣٠﴾ وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي
خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ إِنِّي مَلَكٞ وَلَآ أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزۡدَرِيٓ أَعۡيُنُكُمۡ لَن
يُؤۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ خَيۡرًاۖ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا فِيٓ أَنفُسِهِمۡ إِنِّيٓ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٣١﴾﴾

[٢٨] نوح ﷺ (خپل قوم ته خطاب وکړ چې) ای زما قومه ما ته خبر راکړئ که زه د خپل رب ﷻ دپلوه په څرګند حجت (او شریعت) باندې یم او هم یې ماته د خپل جانبه رحمت (نبوت) راکړی وي خو په تاسو باندې (دا دواړه) ړانده کړی شوي وی (تاسو ترې ړانده یاست)، نو ایا تاسو به د الله ﷻ په غضب باندې اخته نه شئ؟).

(مونږ خو تاسو ورته متوجه کوو نو) ایا مونږ پرې تاسو ملزم کولی شو (مجبورولی شو) حال دا چې تاسو یې نه خوښوئ؟

[٢٩] او ای زما قومه! په دې (پیغام) باندې ستاسو څخه مال (پیسې) نه غواړم، زما اجر نه دی مګر په الله ﷻ باندې دی (چې ذمه واري یې راته کړې ده).

او (ای قومه!) زه د هغو کسانو (د خپله خانه) شړونکی نه یم کومو چې (په ما باندې) ایمان راوړی دی (ځکه چې) یقیناً دوی د خپل رب ﷻ سره ملاقي کېدونکي دي (د لويي درجې خاوندان دي) مګر زه تاسو داسې قوم ګورم چې جهالت کوئ (او شړل یې غواړئ).

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۰] او ای زما قومه! زما سره به د الله ﷻ (د عذاب) څخه څوک کومک وکړي (چې نجات راکړي) ایا تاسو (د الله ﷻ قهاریت) نه درېږه زړه کوئ؟

[۳۱] او (ای قومه!) زه خو تاسو ته نه وایم چې زما په نزد د الله ﷻ خزانې دي (واک او اختیار یې زما په لاس کښې دی) او (دا هم درته نه وایم) چې زه په غیبو باندې پوهېږم او (دا هم درته) نه وایم چې زه پرښته یم (ترڅو ما دروغژن وبولئ).

او (ای قومه!) زه د هغو کسانو (په هکله) نه وایم کومو ته چې ستاسو سترګې د حقارت په نظر سره ګوري، (داسې چې) دوی ته به الله ﷻ هیڅ ښېګڼه (نعمتونه) ورنه کړي (چې دوی قلبًا ایمان نه دی راوړی لکه څنګه چې تاسو دا خبره کوئ).

(زه وایم چې) الله ﷻ په هغه څه باندې ډېر ښه پوهېږي کوم چې د دوی په زړونو کښې دي.

(که بالفرض المحال زه دا خبره وکړم نو) یقینًا زه به په دغه وخت کښې د ظالمانو (بې انصافانو) څخه یم.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د هغو وجوهو جواب ورکړی شوی دی په کومو باندې چې کفارو د نوح ؑ دعوة إلی الله رد کاوه، او ذکر ته یې په وړاندېنیو ایتونو کښې اشاره شوې ده. نو حاصل یې داسې راخېژي چې:

نوح ؑ د خپل قوم اعتراضات په لاندې ډول جواب کړه:

۱_ ای زما قومه! که زه لاندې صفات ولرم (لکه چې حقیقتًا یې لرم او تاسو وریاندې خپل خانونه ړانده اچولي وي) نو تاسو به انصاف سره ووایاست چې بیا به ستاسو څه حالت وي، ایا تاسو به د الله ﷻ د غضب لاندې واقع نه شئ؟ صفات دا دي:

الف: زه د خپل رب ﷻ د پلوه په څرګنده لاره باندې روان یم چې په یو لحاظ سره هم پکښې څه خفاء نشته.

ب: ما ته د خپل رب ﷻ د پلوه ډېر لوی رحمت (نبوت) راکړی شوی دی چې ستاسو په شمول د وخت ټولو خلکو ته د پیغمبر په صفت را استولی شوی یم.

۲_ ای زما قومه! زه غواړم چې تاسو سترګې لږ رڼې کړئ او زما سره په څرګنده لاره باندې روان شئ او د خپل رب ﷻ د رحمت څخه استفاده وکړئ.

زما په نبوت کښې څه خفاء نشته دلایل او معجزات یې واضحه دي او هم کوم شی (د الله ﷻ توحید) ته چې زه تاسو دعوتوم په هغه باندې ټول مخلوقات لاربنوونه کوي، خو دا بېله خبره ده چې زما د نبوت څخه تاسو دخپلو خانونو دپاره معما جوړه کړې ده.

ای زما قومه! زه غواړم چې تاسو په سمه لاره باندې روان شئ او د عقل څخه په درستو معناوو کښې کار واخلئ. که نه نو دا زما په وسه کښې نشته چې په تاسو باندې د سمې لارې تلل تحمیل

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کرم حال دا چې تاسو یې نه خوښوئ او نه تحمیلي ایمان د الله ﷻ په نزد باندې مقبول دی.

۳_ ای زما قومه! تاسو ته خو دنیاوي مالونه زیات ارزښت لري د همدې کبله زما پیروانو نفیرانو ته د رذیلانو لقب ورکوئ، په ناستې پاستې باندې یې شرمېږئ او بالآخره زما څخه غوښتنه کوئ چې هغوی زه د خپله څنګه وشړم، مګر زه تاسو لاندې ټکو ته متوجه کوم:

الف: ما ته دنیاوي مال څه ارزښت نه لري د همدې کبله په خپل دعوت الی الله باندې ستاسو څخه څه دنیاوي مال او متاع نه غواړم زما اجر اومزدوري یوازې او یوازې په الله ﷻ باندې ده او بس.

ب: زه هغه کسان چې په ایمان باندې مشرف شوي دي هیڅکله د خپله څنګه نه شړم ترڅو ستاسو غوښتنه پوره شي او دا ځکه چې:

اول: دوی ما ته باعزته او محترم ښکاري، ستاسو غوندې د رذیلانو لقب نه ورکوم.

دوهم: همدوی د خپل رب ﷻ په حضور کښې ودرېدونکي دي او د خپل رب ﷻ په نزد د عزت خاوندان دي که څه هم تاسو ورته په سپک نظر ګورئ.

درېم: کومه غوښتنه چې تاسو زما څخه کوئ هغه د ناپوهه قوم غوښتنه ده چې زه یې هیڅکله نشم منلی.

څلورم: بالآخره! ای زما قومه! که بالفرض زه ستاسو غوښتنه ومنم او فقیران مؤمنان د خپله خانه تېل وهم نو ما به د الله ﷻ د عذابه څوک خلاص کړي، ایا نو تاسو د دې خبرې تذکر نه کوئ چې د دوی په شړلو باندې الله ﷻ په غضب کېږي؟ ځکه چې د الله ﷻ په نزد دوی د عزت خاوندان دي که څه هم تاسو ته سپک او بې عزته ښکاري.

۴_ ای زما قومه! ما خو د لاندې صفاتو وعده نه ده کړې چې تاسو په ما باندې د دروغژن نوم ږدئ:

الف: زه خو تاسو ته نه وایم چې د الله ﷻ خزانې زما په لاس کښې دي زه ستاسو څخه زیات مالدار یم، ترڅو تاسو ما د دروغژن په نامه یاد کړئ.

ب: زه خو د دې دعوه هم نه کوم چې زه په غیبو باندې پوهېږم ترڅو ستاسو اتهام درست وخېژي چې ته د الوهیت دعوه کوې او غواړې چې مونږ ستا عبادت وکړو.

ج: ما خو دا خبره نه ده کړې چې پرښته یم ترڅو تاسو ووایاست چې ته خو زمونږ غوندې بشر یې.

۵_ بالآخره، ای زما قومه! زه خو ستاسو غوندې د هغو کسانو په هکله چې تاسو ورته د حقارت په نظر ګورئ دا خبره نه کوم چې دوی ته به الله ﷻ د دوارو دنیاوو سعادت په نصیب نه کړي چې دوی د زړه څخه په اسلام باندې نه دي مشرف شوي بلکې محض په ظاهري توګه یې ایمان راوړی دی.

او دا ځکه چې زه فقط ظاهر ته ګورم او په ظاهر کښې دوی په ایمان باندې مشرف شوي دي، اما د زړونو حالات یې الله ﷻ ته معلوم دي او بس.

که بالفرض زه د دوی په هکله هغه بدګوماني وکړم کومه چې پرې تاسو کوئ چې دوی واقعي ایمان نه دی راوړی نو په دغه وخت کښې به زه د ظالمانو د ډلې څخه وشمېرل شم.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ په ﴿فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ﴾ کښې مستتر ضمير د ﴿بَيِّنَةٍ﴾، ﴿رَحْمَةً﴾ دواړو کلمو ته راجع دي، البته یا د بدلیت په اعتبار سره او یا په دې لحاظ سره چې ذکر شوې دواړه کلمې یوه د بلې سره لازمه او ملزومه ده، او دا خکه: لکه څنګه چې الله ﷻ نوح ؑ ته واضحه شریعت ـچې په څرګندو دلایلو باندې ولاړ وهـ ورکړی وه او همدارنګه یې ورته رحمت یعنې نبوت هم ورکړی وه.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي: د ذکر شوي تحلیل په بنیاد د ﴿فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ﴾ معنی داسې راوځي چې: نو واضحه شریعت یا نبوت په تاسو باندې ړوند کړی شوی دی. نو پوښتنه دا ده چې ړوند والی خو د هغه چا صفت جوړېدلی شي څوک چې په بیناتوب باندې موصوفېږي؟

مونږ وایو چې:

الف: په دې مقام کښې ړوندوالی د خفاء څخه کنایي دی، نو ﴿فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ﴾ په "فَأُخْفِيَتْ عَلَيْكُمْ" باندې تفسیر کېږي[1] یعنې شریعت یا نبوت په تاسو باندې پټ کړی شوی دی چې باور پرې نه کوئ.

ب: دا عبارت مقلوب دی چې مراد یې واضحه دی نو اصل عبارت داسې دی چې "فَعُمِّيتُمْ عَنْهَا" یعنې نو تاسو ترې ړانده کړی شوي یاست. د دغه ډول مقلوب عبارت نظائر د عربو په کلام کښې بنه پرېمانه شته دي، لکه "أَدْخَلْتُ الْخُفَّ فِيْ رِجْلِيْ"[2] موزه مې په خپله پښه کښې داخله کړه، چې اصل داسې دی: "أَدْخَلْتُ الرِّجْلَ فِيْ خُفِّيْ" پښه مې په خپله موزه کښې ننویستله.

## یادونه

۳ـ د [الأنعام: ۵۰] ایت لاندې د ﴿خَزَآئِنُ﴾ د کلمې د تحلیل او د علم الغیب ډولونه ـلله الحمدـ بنه پوره شرحه شوي دي چې بیا لیکلو او شرحه کولو ته یې اړتیا نه ګورو.

﴿ قَالُواْ يَٰنُوحُ قَدْ جَٰدَلْتَنَا فَأَكْثَرْتَ جِدَٰلَنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ إِنَّمَا يَأْتِيكُم بِهِ ٱللَّهُ إِن شَآءَ وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ ﴿٣٣﴾ وَلَا يَنفَعُكُمْ نُصْحِيٓ إِنْ أَرَدتُّ أَنْ أَنصَحَ لَكُمْ إِن كَانَ ٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يُغْوِيَكُمْ ۚ هُوَ رَبُّكُمْ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٣٤﴾ ﴾

---

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۳۹
(۲) تفسیر الطبري ج۱۲ ص۲۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۲] دوی (د نوح ﷺ قوم) وویلې چې: ای نوحه! تا خو زمونږ سره جګړه وکړه نو زمونږ جګړه دې ډېره زیاته (اوږده) کړه (زمونږ حوصله دې راتنګه کړه) نو هغه عذاب مونږ ته راوله (راوړه) په کوم باندې چې ته مونږ ډاروې. که ته د رښتیا ویونکو څخه یې (نو دا کار ضرور وکړه او که نه نو د جګړې څخه لاس واخله).

[۳۳] نوح ﷺ وویلې چې: یقینًا عذاب به الله ﷻ درولي (دربانديې نازل کړي) که اراده یې وشي (زما په واک کښې څه نشته)، حال دا چې تاسو نه یاست (د الله ﷻ) عاجز ګرځوونکي (چې د عذاب مخه یې ونیسئ).

[۳۴] او زما نصیحت به تاسو ته ګټه ونه شي رسولی که زه وغواړم چې تاسو ته نصیحت وکړم، (البته) کله چې الله ﷻ اراده کړې وي چې تاسو (د جنایتونو د کبله) بې لارې کړي. همدی ﷻ ستاسو رب دی او همده ﷻ ته به بېرته ورتاو کړی شئ.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د نوح ﷺ او د ده د قوم وروستنی مباحثې ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي چې:

په پای کښې کله چې د نوح ﷺ قوم د ده د جوابونو په رد باندې قدرت مونده نه کړ نو هغه یې مخاطب کړ چې ای نوحه! ستا جګړه زمونږ سره ډېره اوږده شوه چې تقریبًا نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله یې ونیوه، مونږ زیاتي حوصله نه شو کولی نو په کوم عذاب باندې چې ته مونږ ډاروې هله ژر شه هغه عذاب را باندې رانازل کړه که ته په خپله خبره کښې صادق یې، او که نه نو معلومه شوه چې دروغ وایې نه عذاب شته او نه عقاب.

نوح ﷺ دا ځل داسې جواب ورکړ چې:

۱ـ د عذاب نازلول خو د الله ﷻ کار دی، که اراده یې وشي دربانديې نازل به یې کړي او که نه نو د کوم وخته پورې به یې ټال کړي.

۲ـ زه تاسو ته فقط همدومره وایم چې د الله ﷻ د عذاب مخنیوی تاسو نه شئ کولی، تاسو خو په خپلو ځانونو باندې د سختو زوررورو خیال کوئ مګر خبره داسې نه ده الله ﷻ تاسو نه شئ عاجز ګرځولی چې د عذاب مخه یې ونیسئ.

۳ـ ای قومه! رښتیا چې ما په تاسو کښې اوږد عمر تېر کړ او ستاسو په هدایت غوښتلو کښې مې زښتې ډېرې هلې ځلې وکړې، خو د دې سره‌سره زما نصائحو تاسو ته څه ګټه ونه شوه رسولی او په کوم تکبر باندې چې تاسو د دعوت په اوله باندې وئ په همغه تکبر باندې اوس هم کلک یاست.

۴ـ ای قومه! زما دا وسه نشته چې خپل نصیحت تاسو ته ګټور واقع کړم حال دا چې الله ﷻ ستاسو د جنایتونو د کبله ستاسو په زړونو باندې مهر وهلی دی او د استعداد او د تخریب د کبله یې تاسو بې لارې کړي یاست. یا په بل عبارت: زما چې څه وسه وه هغه مې تمامه کړه، نور نو تاسو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پوهېږئ او الله ﷻ پوهېږي چې څه درسره کوي هغه به درسره وکړي.

۵_ ای قومه! د الله ﷻ نیونه د عذاب په نزول باندې نه ختمېږي بلکې همدا ﷻ ستاسو رب دی او همده ﷻ ته به د مرګ څخه وروسته بېرته ورتاو کړی شئ او نهایي فیصله به درته واوروي.

﴿أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ فَعَلَيَّ إِجْرَامِي وَأَنَا بَرِيءٌ مِّمَّا تُجْرِمُونَ ۝﴾

[۳۵] ایا دوی (مشرکان) وایي چې دا (کتاب یې) د خپله خانه (په دروغو) جوړ کړی دی؟ (ای پیغمبره!) ته (ورته په جواب کښې) ووایه چې (که بالفرض) ما دا (کتاب) د خپله خانه دروغ تړلی وي (لکه چې ستاسو خیال دی) نو ګناه به یې هم په ما باندې وي (فقط، خو خبره بالعکس ده تاسو مفتریان یاست) او زه د هغه شي څخه بېزار یم کوم چې تاسو یې د جرم (ګناه او افتراء) په حیث کوئ.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د ذکر شوي ایت په هکله مفسرین کرام په لاندې دوه وو ګروپونو باندې وېشل کېږي:

۱_ جمهور علماء کرام وایي چې دا ایت هم د نوح ﷺ د قیصې یوه برخه ده[۱] نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې:

ایا دوی (د نوح ﷺ قوم) وایي چې دا خبره یې په دروغو جوړه کړې ده چې په مونږ باندې به په دنیا کښې عذاب نازل شي او یا به د مرګ څخه وروسته بېرته ژوند کړی شو او محاسبه به راسره وکړی شي؟

ای نوحه! د دغو مشرکانو د اتهام په رد کښې ورته ووایه چې که بالفرض المحال ما په الله ﷻ باندې دروغ تړلي وی نو ګناه به یې په ما باندې وی او تاسو به پرې هیڅکله ونه نیولی شئ.

مګر الحمدلله ما په الله ﷻ باندې دروغ نه دي تړلي او نه دا کار زما سره مناسب دی، بلکې په الله ﷻ باندې دروغ تړل ستاسو کار دی او په همدې جنایت باندې تاسو په دوامداره توګه اخته یاست، اما زه ستاسو د جنایت څخه بریئ الذمة یم او هم ترې په ډاګه خپله بېزاري اعلانوم، نو الله ﷻ ته امید لرم چې کله په تاسو باندې عذاب درنازل کړي نو ماته او زما ملګرو ته به نجات راکړي.

۲_ اما ځینې علماء کرام وایي چې د نوح ﷺ د قیصې په منځکښې د جملې معترضې په شکل ذکر شوی ایت شریف د دې امت د کفارو د حالاتو په هکله نازل شوی دی[۲]، نو حاصل یې داسې کېږي چې:

ای پیغمبره! مشرکان خو وایي چې قرآن کریم یې د خپله خانه په دورغو جوړ کړی دی او په الله ﷻ باندې یې د اعتبار ورکولو په غرض ورتپلی دی. خو ته ورته په جواب کښې ووایه چې:

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱۲ ص۳۲؛ روح المعاني ج۱۲ ص۴۸
(۲) تفسیر المنار ج۱۲ ص۷۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف. که بالفرض المحال ما په الله ﷻ باندې دروغ تړلي وي نو زه به ډېر لوی ظالم یم او ما به د الله ﷻ د عذابه هیڅوک خلاص نه شي کړی او بالآخره زما په ګناه باندې به تاسو هیڅکله ونه شئ نیولی.

ب. مګر خبره بالعکس ده چې تاسو په الله ﷻ باندې دروغ تړئ چې هم زما د نبوت څخه انکار کوئ او هم د قرآن کریم څخه منکر یاست.

ج. خو بالمقابل زه هم ستاسو د جنایت (کفر او شرک) څخه بري الذمه یم نو که د الله ﷻ عذاب نازل شي نو همدا تاسو به ورباندې اخته کېږئ او بس.

مونږ ته همدغه دوهم نظر په زړه پورې برېښي.

## سوال جواب

که څوک وایي: د مکې معظمې د مشرکانو ذکر شوی اتهام خو الله ﷻ لړ وړاندې په ډېره بلیغه توګه جواب کړ چې: ﴿أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ قُلْ فَأْتُوا۟ بِعَشْرِ سُوَرٍ﴾ [هود: ۱۳].

نو پوښتنه دا ده چې دلته ـد نوح ؑ د قیصې په منځکښې- یې په څه منظور دغه اتهام د دوهم ځل دپاره رد کړ؟

مونږ وایو چې ـوالله ﷻ أعلمـ ترڅو مشرکان په غوږ ووهل شي که دا ذکره شوې قیصه تردې خایه پورې تاسو ته دروغ برېښي چې ما به د خپله خانه جوړه کړې وي، نو مهرباني وکړئ متباقي قیصه تاسو د خپله خانه جوړه کړئ، تاسو خو هم زما غوندې انسانان یاست.

او که د متباقي قیصې څخه عاجز یاست نو باور وکړئ چې دا (قرآن کریم) د الله ﷻ د پلوه په حقه نازل شوی دی او متباقي قیصې ته غوږ ونیسئ چې زه یې درباندې قرائت کړم.

﴿وَأُوحِىَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُۥ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلَّا مَن قَدْ ءَامَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾ وَٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَٰطِبْنِى فِى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ ۚ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٣٧﴾﴾.

[۳۶] او د (الله ﷻ د پلوه) نوح ؑ ته وحې وکړی شوه چې یقیناً شان دا دی چې ستا د قوم څخه به هیڅکله څوک ایمان رانه وړي مګر (فقط) هغه څوک (به په خپل ایمان باندې باقي پاتې شي) چا چې یقیناً ایمان راوړی دی. نو ته په هغو کارونو باندې مه غمژن کېږه کوم چې دوی وه چې کول به یې (دا ځکه چې د انتقام وخت یې را رسېدلی دی).

[۳۷] او زمونږ په سترګو (حفاظتونو) او زمونږ په وحې (الهام او تعلیم) سره بېړۍ جوړه کړه او په راتلونکې کښې زمونږ سره د هغو خلکو په هکله خبرې (سوالونه) مه کوه کومو چې ظلم اختیار کړی دی (او دا ځکه چې) یقیناً دوی غرق کړی شوي دي (ډېر ژر به غرق کړی شي).

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د نوح ﷺ متباقي قیصه پیل شوې ده چې:

یعني ای پیغمبره! په خپل امت باندې د نوح ﷺ د حالاتو څخه لاندې تکې هم قرائت کړه.

۱ـ کله چې د نوح ﷺ د قوم د هلاکت وخت نژدې شو نو ده ﷺ ته ـزمونږ د پلوه ـ وحې وکړې شوه چې د دې وخت څخه وروسته ستا د قوم څخه نور خلک په ایمان باندې نه مشرف کېږي، ستا د اجابت امت فقط همغه څوک دی چې تر اوسه پورې یې ایمان راوړی دی.

۲ـ څرنګه چې د دوی په زړونو باندې مهر لګېدلی دی نو ته په هغو کارونو باندې مه غمژن کېږه کوم چې دوی یې ترسره کوي چې یا تا ته سپکې سپورې خبرې کوي او یا دې بې عزتي کوي، د دغــې خلکو څخه څه ګیله ده.

۳ـ ستا د قوم هلاکت الله ﷻ په غرقولو سره مقدر کړی دی، نو ته زمونږ د نګرانۍ لاندې او زمونږ په هدایت سره بېړۍ جوړه کړه ترڅو ستا او ستا د ملګرو (مؤمنانو) د نجات دپاره ذریعه جوړه شي.

۴ـ ستا د قوم په باره کښې زمونږ په نزد فیصله شوې ده چې دوی به په اوبو کښې غرقېږي مګر د اوس څخه لا خبر شه چې د غرقېدلو په وخت کښې زما سره د دغو ظالمانو په هکله خبره ونه کړې چې هغه یا دغه ته نجات ورکړه.

## توضیحات

۱ـ کله چې الله ﷻ نوح ﷺ خبر کړ چې د دې څخه وروسته څوک ایمان نه راوړي او د دوی د ایمـان راوړلـو څخه په یقیني توګه مایوس او نا امید شو نو د نهه نیم سـوه (۹۵۰) کاله دعوت څخه وروسته یې الله ﷻ ته د سوال لاسونه پورته کړه او سوال یې وکړ چې: ﴿رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ دَيَّارًا﴾ [نوح:۲۶] یعنې ای زمـا ربـه! په ځمکـه باندې د کافرانو څخه یو اوسېدونکی هم (ژوندی) پرېنږدې (او ټول هلاک کړې).

او هم یې وویلې چې: ﴿أَنِّى مَغْلُوبٌ فَٱنتَصِرْ﴾ [القمر:۱۰] یعنې (ای زما ربه!) یقیناً زه مغلوب یم نو (د کفارو څخه راته) انتقام واخلې. نو الله ﷻ ټول کفار هلاک کړه او د نوح ﷺ انتقام یې هم ترې واخست.

## عین څه معنی؟

۲ـ په ﴿بِأَعْيُنِنَا﴾ کښې د "أَعْيُن" کلمه د "عَيْن" جمعه ده، د "عَيْن" کلمه که څه هم د انسان خاص اندام (سترګې) دپاره وضعه شوې ده[۱] مګر په استعمال کښې په ډېرو معناوو باندې مستعمله شوې ده[۲]. څرنګه چې په دې مقام کښې "أَعْيُن" د کلمې نسبت الله ﷻ خپل اقدس ذات ته کړی دی او د

---

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۴۹

(۲) معردات الراغب ص۳۶۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿يَدُ ٱللَّهِ﴾ غوندې کرخېدلې ده ـ چې مکمل بحث يې د [المائدة: ۶۴] ايت لاندې تېر شوی دی ـ نو علماوو کرامو يې لاندې تفسيرونه کړي دي

الف: د الله ﷻ "أعْيُن" دلته د حفاظتونو څخه کنايه ده[۱] نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای نوحه! د خپل نجات دپاره بېړۍ جوړه کړه چې زمونږ دپلوه د يوه حفظ او ساتنې لاندې نه بلکې مونږ به يې متعدده ساتنه کوو، نو کفار به نه د جوړولو مانع ګرځېدلی شي او نه به د لرګيو راټولو مخه بندولی شي او هم چې څوک د بېړۍ په صنعت کښې استخداموي هغوی به درڅخه نه شي ايسارولی او داسې نور.

ب: دلته "أعْيُن" کلمه د پرښتو څخه عبارت ده[۲] نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: بېړۍ جوړه کړه زمونږ د پرښتو په کومک چې د هر حيثه ساتنه به يې د همدوی په غاړه وي.

## يادونه

۳ـ مونږ ـ د الله ﷻ په توفيق ـ د [النساء: ۱۶۳] ايت لاندې د وحې لغوي او شرعي معناوې پوره شرحه کړې دي خو په دې مقام کښې دومره اضافه کوو چې:

که څه هم دلته د ﴿وَوَحْيِنَا﴾ د کلمې تفسير په نورو معناوو باندې هم صحت لري مګر خينو علماوو کرامو په الهام سره تفسېره کړې ده[۳]، نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای نوحه! زمونږ په حفاظت او زمونږ په الهام سره بېړۍ جوړه کړئ چې مونږ به وخت په وخت د بېړۍ د جوړولو په هکله په صنعت پورې مربوط علوم په زړه کښې دراچوو چې داسې کوه او داسې مه کوه.

﴿وَيَصْنَعُ ٱلْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِّن قَوْمِهِۦ سَخِرُوا۟ مِنْهُ ۚ قَالَ إِن تَسْخَرُوا۟ مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ ﴿٣٨﴾ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٣٩﴾﴾

[۳۸] او (د ذکر شوي ارشاد څخه وروسته) نوح ﷺ بېړۍ جوړوي (بېړۍ به يې جوړوله) او هرکله به چې په ده ﷺ باندې د خپل قوم يو ټولګی تېرېده نو په ده ﷺ باندې به يې خندل (او ټوکې ټکالې به يې ورپورې کولې خو) نوح ﷺ به (ورته په جواب کښې) ويلې چې که تاسو په مونږ پورې خاندئ نو يقيناً مونږ به تاسو پورې خاندو لکه څنګه چې تاسو (په مونږ پورې) خاندئ (خو تاسو د خندا وړ ياست او مونږ د خندا وړ نه ياستو).

[۳۹] (ځکه چې) ډېر ژر به تاسو پوه شئ (چې په مونږ او تاسو کښې) هغه څوک دی چې داسې

(۱) البحر المحيط ج۶ ص۱۴۹
(۲) المحرر الوجيز ج۹ ص۱۲۴
(۳) تفسير ابي السعود ج۴ ص۲۰۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عذاب ور وران دی چې رسوا به یې کړي (د خندا، دپاره به لایق شي) او (هم) به پرې ابدي اخروي کښې، دائمي عذاب ورخلاص (ورپېکته) شي (هغه فقط تاسو یاست او بس)

## د مطلب خلاصه

یعني بیا نوح علیه السلام د الله جل جلاله په هدایت د بېړۍ په جوړولو باندې پیل وکړ، د کفارو د ډېرو څخه الله جل جلاله دا خبره ویسللې وه چې یا د نوح علیه السلام لاس ونیسي چې بېړۍ مه جوړوه او یا ورته بل څه مشکل پېښ کړي. د دوی کار فقط همدا وه چې دلې دلې به د بېړۍ د جوړولو تماشې ته ورتله او مسخرې او خندنې به یې ورپورې کولې، مګر نوح علیه السلام به په لاندې ډول جوابولې:

۱ـ که تاسو په موږ پورې خاندئ چې په وچ بیابان کښې د خپلو ځانونو د حفاظت دپاره د غرقېدلو څخه د بچ کېدلو سامان جوړوو نو موږ هم په تاسو پورې خاندو چې ستاسو د هلاکت پورې مربوط وسایل تهیه کوو. حال دا چې تاسو خندا کوئ په کار خو دا وه چې تاسو ژړلي وی.

۲ـ نو ډېر ژر به پوه شئ چې په دنیا کښې رسوا کوونکی عذاب په چا باندې ورنازلېږي او هم به ډېر ژر پوه شئ چې په آخرت کښې د دائمي عذاب سره څوک مخامخ کېږي. کله چې پوه شئ بیا به وژاړئ خو ژړا به درته هیڅ ګټه ونه شي رسولی.

## توضیحات

۱ـ د ﴿سَخِرُوا مِنْهُ﴾ په جمله کښې د ﴿مِنْهُ﴾ ضمیر نوح علیه السلام ته راجع دی نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې مشرکانو په نوح علیه السلام باندې خندنې او مسخرې کولې. پاتې شوه دا خبره چې د دوی د مسخرو باعث څه شی وه، نو په دې کښې لاندې دوه نظره دي[1]. والله جل جلاله اعلم:

الف: ځینې علماء وایي چې دوی ځکه ورپورې خندنې کولې چې د بې پلوه په دغه وخت کښې د اوبو ډېر کمبود وه چې چا ته د ضرورتونو د پوره کولو دپاره نه رسېدلې. حال دا چې نوح علیه السلام د غرقېدلو څخه د نجات دپاره بېړۍ جوړوله.

نو په خندا کښې به یې نوح علیه السلام ته خطاب کاوه چې: "یا نُوحُ! صِرْتَ نَجّارًا بَعْدَ مَا کُنْتَ نَبِیًّا"[2] یعني ای نوحه! تر اوسه پورې دې د نبوت دعوه کوله او اوس نجار جوړ شوې او نجاري کوې.

او د بله پلوه یې په وچ بیابان کښې د بېړۍ جوړول پیل کړي وه چې دریاب ته یې ورانتقالول څه اسان کار نه وه، بلکې تعجبي کار وه.

ب: ځینې نور وایي چې اصلاً هغوی بېړۍ نه پېژانده بلکې نوح علیه السلام لومړنی سړی وه چې د الله جل جلاله په هدایت باندې یې د بېړۍ صنعت اختراع کړ، او دا ځکه چې:

اول: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې کله الله جل جلاله نوح علیه السلام ته امر وکړ چې بېړۍ جوړه کړه نو ده علیه السلام پوښتنه وکړه چې: یا ربه! بېړۍ څه شی دی؟ نو الله جواب ورکړ چې: «بَیْتٌ مِنْ

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۵۰
(۲) البحر المحیط ج۶ ص۱۵۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خَشَبٍ يَجْرِيْ عَلى وَجْهِ المَاءِ أُنْجِيْ فِيْهِ اهل طَاعَتِيْ وَأُغْرِقُ اهل مَعْصِيَتِيْ»(۱) دا یوه د لرګي کوټه ده چې د اوبو په سر به ګرځي راګرځي، زه به په همدې کوټې سره د خپل اطاعت خاوندانو ته نجات ورکوم او د بې اطاعتۍ خاوندان به غرقوم.

دوهم: مشرکانو هم بېړۍ نه پېژانده د همدې کبله به يې د نوح ﷺ څخه پوښتنه کوله چې دا څه شی جوړوې؟ نو هغه به جواب ورکاوه چې یوه کوټه جوړوم چې د اوبو په سر به ګرځي راګرځي. نو هغوی به ورپورې خندل(۲).

## په تفسیر کښې زمونږ خط السير

۲_ مونږ د [البقرة:۲۴۳] ایت لاندې د دې کتاب (عزيز التفاسير) په ليکنه کښې خپل خط السير بنه پوره واضحه کړې دی هغه دا چې:

الف: تر وسې-وسې پورې مونږ هغه خبره نه ليکو چې د محترمو لوستونکو پرې وخت ضائع کېږي او څه خاصه ګټه پکښې نه وي نغښتې.

ب: د هغو شيانو د ليکنې څخه هم تر خپلې وسې پورې ځان ساتو چې په ثبوت کښې يې اشتباه وي او احتمال لري چې د اسرائيليّاتو څخه وي.

نو د همدې کبله لاندې پوښتنو ته جواب نه ورکوو:

اول: د نوح ﷺ بېړۍ د کوم ډول لرګيو څخه جوړه شوې وه د منځې لرګي وه، که د صبر د ونې او يا د بلې کومې ونې؟

دوهم: دغه لرګي د هغو ونو لرګي وه چې نوح ﷺ پخپله کرلې وه، که د لبنان د غره او يا د بل کوم غره څخه يې را وهلي وه؟

دريم: که پخپله يې کرلې وه نو په څومره ساحه کښې يې کرونده کړې وه او په څومره موده کښې وهلو ته مساعده شوې وه؟

څلورم: ايا نوح ﷺ د بېړۍ په جوړولو کښې خپل زامن (حام، سام، يافث) او نور خلک استخدام کړي وه او که نه ټول کار يې پخپله کړی وه؟

پنځم: د دغې بېړۍ ظرفيت څومره وه (څومره لوړه، څومره پلنه او بالآخره څومره اوږده وه)؟

شپږم: په بېړۍ کښې څومره وخت وروسته کار تمام شو (په څومره وخت کښې تياره شوه)؟

اوم: د دې بېړۍ د جوړولو موقعيت هند وه او که کوفه او يا بل وطن؟!

اتم: د دغې بېړۍ شکل څنګه وه او د ورايه څنګه ښکارېده؟، او دروازه يې په کومه څنډه کښې وه؟

نهم: دغې بېړۍ څو چتونه درلوده؟

---

(۱) زاد المسير ج۴ ص۸۳

(۲) تفسير البغوي ج۲ ص۳۸۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لسم: که درې چټونه يې درلوده نو د چټونو توزيع يې په څه ډول شوې وه او د کومو حيواناتو دپاره کوم-کوم چټونه خاص کړی شوي وه؟

يوولسم: ايا خنزير په بېړۍ کښې پورته کړی شوه وه او که نه همدلته په بېړۍ کښې د ګندګۍ د خوړلو دپاره خلق کړی شو؟

دولسم: همدارنګه دوه پيشوګان (نر او ښځه) د نورو حيواناتو غونډې په بېړۍ کښې پورته کړی شوي وه او که همدلته د مږکانو د ضرر د کبله د پړانګ د پوزو څخه را ووتل؟

ديارلسم: ايا دې بېړۍ ته د خره په سلسله ابليس عليه اللعنة هم ورننوتلی وه؟

څوارلسم: ايا په دې کښې پيريان هم پورته کړی شوي وه؟

پنځلسم: دغې بېړۍ د اوبو په سر باندې څومره وخت دوام وکړ؟ ايا يو سل پنځوس کاله يا زيات يا کم؟ او يا شپږ مياشتې او يا زياتې يا کمې؟

شپاړلسم: ايا رښتيا نوح ﷺ د ځمکې د حال د معلوماتو دپاره يو ځل کارغه ولېږه چې په مرداره باندې مشغول شو او بېرته ورستون نه شو او بيا يې کوتره واستوله چې هغې ښه پوره حال کشف کړ او نوح ﷺ ته يې اطلاع ورکړه؟

اولسم: په بېړۍ کښې د سورليو خوراک او څښاک په څه ډول باندې صورت نيولی وه او د هر يوه ساکښ د روزۍ بندوبس په څه شکل شوی وه؟

اتلسم: بالآخره نوح ﷺ مختلف ساکښان څنګه راغونډ کړه او په څه ترتيب باندې يې ترې يوه-يوه جوړه بېړۍ ته ورپورته کړه او د درندګانو حيواناتو اداره يې په څه ډول باندې وکړه؟

دغو پوښتنو او د غسې نورو پوښتنو ته مونږ جوابونه نه وايو او نه راته پکښې څه ضرورت برېښي که د چا زړه يې غواړي نو څېنو کتابونو ته دې مراجعه وکړي(۱).

﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَمۡرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ قُلۡنَا ٱحۡمِلۡ فِيهَا مِن كُلّٖ زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِ وَأَهۡلَكَ إِلَّا
مَن سَبَقَ عَلَيۡهِ ٱلۡقَوۡلُ وَمَنۡ ءَامَنَۚ وَمَآ ءَامَنَ مَعَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٞ ﴿٤٠﴾ وَقَالَ ٱرۡكَبُواْ فِيهَا بِسۡمِ
ٱللَّهِ مَجۡرٜىٰهَا وَمُرۡسَىٰهَآۚ إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٤١﴾ وَهِيَ تَجۡرِي بِهِمۡ فِي مَوۡجٖ كَٱلۡجِبَالِ
وَنَادَىٰ نُوحٌ ٱبۡنَهُۥ وَكَانَ فِي مَعۡزِلٖ يَٰبُنَيَّ ٱرۡكَب مَّعَنَا وَلَا تَكُن مَّعَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٤٢﴾
قَالَ سَـَٔاوِيٓ إِلَىٰ جَبَلٖ يَعۡصِمُنِي مِنَ ٱلۡمَآءِۚ قَالَ لَا عَاصِمَ ٱلۡيَوۡمَ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِ إِلَّا مَن
رَّحِمَۚ وَحَالَ بَيۡنَهُمَا ٱلۡمَوۡجُ فَكَانَ مِنَ ٱلۡمُغۡرَقِينَ ﴿٤٣﴾ ﴾

---

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۵۰؛ تفسير البغوي ج۲ ص۳۸۲؛ الدر المنثور ج۴ ص۴۱۹؛ تفسير ابن كثير ج۲ ص۴۴۴؛ المحرر الوجيز ج۹ ص۱۵۰؛ البحر المحيط ج۶ ص۱۵۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۰] (نوح ﷺ د بېړۍ صنعت ته د مسخرو سره-سره ادامه ورکړه) آن تر دې چې زمونږ (د) فرمان (وخت) ورغی (ور ورسېد) او تنور (د اوبو د حیشه) راوخوټېد نو مونږ (نوح ﷺ ته) وویلې چې په بېړۍ کښې د (ساکښانو) د هر یوه جنس څخه دوه فرده (یوه جوړه فقط) دوه (یو نر او یوه ښځه) بار کړه (وخېژوه)، او هم (خپله ټوله) کورنۍ (هم پکښې پورته کړه) مګر هغه څوک چې په هغه باندې خبره (لا) پخوا فیصله شوې ده (چې هغه به غرقېږي)، او هغه څوک (هم وخېژوه) چې ایمان یې راوړی دی او د نوح ﷺ سره ایمان نه وه راوړی مګر لږو کسانو.

[۴۱] او نوح ﷺ (ذکرو شوو کسانو ته امر وکړ چې) په بېړیو کښې د الله ﷻ په نامه سره ورسواره شئ (بسم الله ووایاست او ډارېږئ مه، ځکه چې) د دې بېړۍ روانېدل او ودرېدل (زما د رب ﷻ د پلوه دي او) یقیناً زما رب ﷻ هرومرو ښونکی (او) مهربان دی.

[۴۲] او بېړۍ دوی په داسې (مهلکو) چپو کښې (د خانه سره) روان کړه لکه غرونه.

او نوح ﷺ خپل زوی ته په داسې حال کښې اواز وکړ چې (د کفارو څخه او یا د خپلوانو څخه) په ګوښه کښې وه (داسې اواز چې) ای زویګوټیه! زمونږ سره سور شه او د کافرانو سره مه کېږه.

[۴۳] زوی یې (په جواب کښې) وویلې چې ژر دی چې زه به (لوړ) غره ته پناه یوسم (پاس به پرې وخېژم نو د اوبو څخه به مې وساتي (بچ کړي).

نوح ﷺ (بیا ورته) وویلې چې: نن ورځ د الله ﷻ د امر (حکم) څخه هیڅ ساتونکی نشته (چې د غرق څخه څوک بچ کړي) مګر هغه څوک ساتونکی دی څوک چې مهرباني کوونکی دی (چې د الله ﷻ څخه عبارت دی).

او (سوال جواب لا تمام نه وه چې) د دواړو ترمنځ چپې حائلې شوې نو نوموړی د غرق کړی شوو څخه وګرځېد (او د قیامته پورې د خپلوانو څخه جدا شو).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د نوح ﷺ ځینو هغو حالاتو ته اشاره شوې ده کوم چې د بېړۍ د صنعت څخه وروسته ورپېښ شوي وه نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې:

نوح ﷺ د مشرکانو د مسخرو او خندنیو سره-سره خپل کار ته ادامه وکړه آن تردې چې بېړۍ جوړه شوه او د سورېدلو دپاره تیاره شوه نو بیا داسې وشوه چې:

۱ـ د هرڅه څخه وړاندې زمونږ فرمان ورغی چې د غرقېدلو کار دې پیل شي، او بیا سمدستي د هر ځای څخه وړاندې په تناره کښې اوبو فواره وکړه او راوخوټېدلې.

۲ـ نو کله چې زمونږ د پلوه د تعمیل امر صـ ـر شو او په تناره کښې د طوفان نښه څرګنده شوه نو مونږ نوح ﷺ ته داسې توصیه وکړه چې:

الف ای نوحه! د ساکښانو د هر جنس څخه یوه جوړه (چې د یو نر او یوې ښځې څخه عبارت دی) په بېړۍ کښې درسره وخېژوه.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب او د خپل کور کهول (ټبر) هر څومره کسان چې دي دوی ټول هم په بېړۍ کښې پورته کړه

ج مګر ستا د اهل څخه هغه څوک مه خېژوه په چا باندې چې وړاندې فیصله شوې ده چې هغوی به غرقېږي. یا په بل عبارت د خپل اهل څخه کافران پرېږده.

د هغه مؤمنان هم په بېړۍ کښې سواره کړه چا چې په تا باندې بې ایمان راوړی دی

خو ای پیغمبره! د نوح ﷺ سره ایمان نه وه راوړی مګر لږو خلکو

۳_ بیا نوح د ذکرو شوو ارشاداتو څخه وروسته خپلو پیروانو ته امر وکړ چې بسم الله کړئ د الله ﷻ په نامه په بېړۍ کښې سواره شئ، او د غرقېدلو څخه بالکل بې غمه اوسئ ځکه چې د دې بېړۍ روانېدل او ودرېدل زما د رب ﷻ په ارادې پورې تړلي دي او زما رب ﷻ د دې بېړۍ د ټولو سورلیو د نجات اراده کړې ده، یقینًا چې زما رب ﷻ هرومرو بښونکی او مهربان دی، که نن ورځ د ده ﷻ بښنه او مهرباني نه وی نو هیڅوا به نجات نه وی موندلی

ای پیغمبره! د نوح ﷺ خبره یقیني وه چې الله ﷻ د دوی د نجات اراده کړې وه که نه نو بېړۍ په دومره لویو لویو چپو کښې روانه وه لکه غرونه، چې ساټ په ساټ د غرقېدلو د خطر سره مخامخه وه

۴_ نوح ﷺ خپل کافر زوی _چې په یوه ګوښه کښې وه_ د وروستني ځل دپاره داسې دعوت کړ او لاندې سوال جواب یې ورسره وکړ

الف ای زما زوېګوټیه! زمونږ سره په بېړۍ کښې راسور شه چې نجات مونده کړې او د کفارو سره انډیوالي مکوه چې په اوبو کښې به غرق شې.

ب مګر زوی یې دعوت رد کړ او ویې ویلې چې: زه د خپلو انډیوالانو څخه نه جدا کېږم او د غرقېدلو څخه هم نه دارېږم ځکه چې د لوړ غره څوکې ته به وخېژم نو د غرقېدلو څخه به مې وساتي!

ج: نوح ﷺ بیا خپل دعوت تکرار کړ چې: بېړۍ ته پورته شه ځکه چې نن ورځ همدغه بېړۍ د نجات وسیله د او بس، په همدې باندې الله ﷻ رحم کړی دی او صرف د همدې د نجات اراده یې کړې ده، نن ورځ د مهربان الله ﷻ څخه پرته بل هیڅوک پچ کوونکی نشته.

۵_ په همدې حال کښې د پلار او زوی ترمنځ د اوبو چپې حائلې شوې او دهمېشه دپاره یې سره جدا کړه چې نوح ﷺ نجات وموند او زوی یې غرق شو او د بلې خبرې فرصت ورنه کړی شو.

## توضیحات

۱_ په ﴿ فَارَ التَّنُّورُ ﴾ کښې د ﴿ فَارَ ﴾ کلمه د "فَوْر" _لکه "قَوْل"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "فَوْر" په شدت سره خوټېدلو او جوش کولو ته ویل کېږي لکه چې په اور باندې دېګ جوش وکړي او وخوټېږي، مګر دغه کلمه په اور او غُصه کښې هم استعمالېږي چې: اور جوش وکړ او د فلاني غُصه په جوش راغله[1].

---

(۱) مفردات الراغب ص ۴۰۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو په دې مقام کښې يې نسبت د تنور کلمې ته شوی دی نو د معنی حاصل يې داسې را اوځي چې اوبه په تناره کښې داسې را وخوټېدلې لکه چې په اور باندې دېګ راخوټېږي.

## التَّنُّور څه معنی؟

۲ـ د ﴿ اَلتَّنُّورُ ﴾ کلمه په دې مقام کښې علماوو کرامو په ډېرو معناوو باندې تفسيره کړې ده[۱] لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: د تولې ځمکې د مخ په معنی سره، يعني کله چې د تولې ځمکې د مخ څخه اوبه راوخوټېدلې.

ب: د لمر په معنی سره، يعني کله چې د لمر سترګه راوختله او پلوشې يې هرې خواته خورې شوې.

ج: د اوبو د بوي چينې په معنی سره چې نوح ﷺ ته متعينه کړی شوې وه، يعني کله چې د دغې چينې څخه د فوارې په توګه اوبه راوخوټېدلې.

د: جمهور علماء کرام ذکره شوې کلمه په معروفه معنی باندې تفسيروي کومه چې په عربو او عجمو کښې مشهوره ده، هغه دا چې دلته هغه تنور مطلب دی په کوم باندې چې ډوډۍ پخوله کېږي[۲] مګر دوی بيا پکښې لاندې اقوال کړي دي:

اول: هغه تنور مطلب دی کوم چې د بي بي حواء رضي الله عنها څخه پاتې وه او د ډېرې څخه جوړ کړی شوی وه، يعني کله چې د دغه تناره څخه اوبه راوخوټېدلې[۳].

دوهم: د ﴿ اَلتَّنُّورُ ﴾ کلمه عامه ده چې ټولو تنوروتو ته شامله ده[۴]، يعني کله چې په ټولو تنوروتو کښې اوبه راوخوټېدې.

دريم: دلته د تنور څخه يو تنور مراد دی چې نوح ﷺ ته ورښودلی شوی وه، يعني کله چې په دغه تناره کښې د اوبو راخوټېدل پيل شوه نو تاسو بېړۍ ته پورته شئ، همدا د طوفان شروع ده.

همدا قول شيخ المفسرين (العلامه الطبري رحمه الله) خوښ کړی دی[۵] او زمونږ هم خوښ دی چې متبادر دی او د سړي ذهن ته په تېزۍ سره ورځي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: نوح ﷺ ته خو امر شوی وه چې د حيواناتو د هر جنس څخه يوه جوړه (نر او ښځه) په بېړۍ کښې پورته کړي، نو پوښتنه دا ده چې دغه مطلب خو د ﴿ زَوْجَيْنِ ﴾ د کلمې څخه په ډاګه څرګندېده، نو د څه حکمت په بنياد وروستو د ﴿ اَثْنَيْنِ ﴾ کلمه هم متصله نازله شوې ده؟

---

(۱) زاد المسير ج۴ ص۸۵؛ تفسير القرطبي ج۹ ص۳۳
(۲) تفسير ابي السعود ج۴ ص۲۰۸
(۳) البحر المحيط ج۶ ص۱۵۱
(۴) روح المعاني ج۱۲ ص۵۲
(۵) تفسير الطبري ج۱۲ ص۴۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې د [الأنعام ۱۴۳] ایت لاندې د "زَوْج" کلمه ښه پوره شرحه شوې ده ـلله الحمدـ چې په لاندې دوه وو معناوو کښې استعمالیږي.

الف. د هغو دوه وو شیانو مجموعه چې بو د بل سره پوره مقاربت ولري. لکه دوه څپلې یا دوه پښې

ب. د دغو دوارو شیانو هر فرد ته هم زوج ویل کیږي

نو که بالفرض په دې مقام کښې د ﴿ ٱثۡنَيۡنِ ﴾ کلمه نه وی نازله شوې نو احتمال وه چې د "زَوْج" څخه لومړۍ معنی مراده شوې وی نو ﴿ زَوۡجَيۡنِ ﴾ به د څلورو افرادو معنی ورکړې وی، حال دا چې دلته دوهمه معنی مراده ده چې د ﴿ ٱثۡنَيۡنِ ﴾ د کلمې په نزول سره مشخصه شوه.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې: الله ﷻ خو د هغو کسانو څخه د ﴿ قَلِيلٌ ﴾ په کلمه باندې تعبیر کړی دی کومو چې په نوح ﷺ باندې ایمان راوړی وه او بیا یې په بیړۍ کښې نجات وموند، نو پوښتنه دا ده چې ذکر شوي ﴿ قَلِيلٌ ﴾ لږ کسان به څو تنو ته رسېدل؟

مونږ وایو چې: په همدې ارتباط د [الأعراف:۵۹] ایت لاندې ښه ګټور معلومات لیکلي شوي دي ـلله الحمدـ مګر په دې مقام کښې پرې د ښه وضاحت دپاره لاندې څېړنه وراضافه کوو:

د نجات موندونکو د عدد په هکله د علماوو کرامو څخه زښت ډېر اقوال رانقل شوي دي چې تقریبًا لسو یا دولسو ته رسېږي[1]، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف. ټول مؤمنان یو سلو شپېته (۱۶۰) کسان وه چې نیمایي زنانه او نیمایي نارینه وه.

ب. ټول اتیا (۸۰) نفره وه.

ج: ټول اته اویا (۷۸) کسان وه.

د: ټول څلوېښت (۴۰) تنه وه.

هـ: ټول دولس (۱۲) کسه وه، او داسې نور.

څرنګه چې د عدد په باره کښې د نبي کریم ﷺ څخه څه نه دي روایت شوي نو سړی په یوه عدد باندې هم یقین نه شي کولی، مګر صحیح قول هغه دی کوم چې د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت شوی دی[2] چې تفصیل یې لاندې لوستلی شئ:

اول یوه د نوح ﷺ مسلمانه مېرمن وه، اما د ده کافره مېرمن (چې "واعله" نومېده)[3] هم په غرق کړی شوو کښې شامله وه.

دوهم د نوح ﷺ درې زامن چې حام، سام، یافث نومېده.

---

(۱) زاد المسیر ج۴ ص۸۶، البحر المحیط ج۶ ص۱۵۳

(۲) روح المعاني ج۱۲ ص۵۵

(۳) البحر المحیط ج۶ ص۱۵۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د دغو درېوارو مېرمنې چې د نوح ﷺ انګورګانې کېدلې.

درېم: دوه اویا (۷۲) نور مسلمانان چې نیمایي ښځې او نیمایي نارینه وه او د شیث ﷺ د
څلورم اولادې څخه وه. نو دوی ټول نهه اویا (۷۹) تنه شوه چې د نوح ﷺ په شمول اتیا (۸۰) تنه کېږي. دغه
عدد (اتیاوو) ته په عربي ژبې کښې ثمانین وايي، د همدې کبله هغه کلی په "قرية الثمانين" باندې
ونومولی شو کوم چې دوی په اول ځل د نجات څخه وروسته د موصل په منطقه کښې اباد کړ[1].

## د عربیت یو تحلیل

۵ـ د دې جملې ﴿ ٱرْكَبُوا۟ فِيهَا بِسْمِ ٱللَّهِ مَجْر۪ىٰهَا وَمُرْسَىٰهَآ ﴾ د اعراب په تحلیل کښې مفسرینو کرامو متعدد اقوال لیکلي دي که څوک فرصت لري او د عربي ژبې سره بلد وي نو هلته دې مراجعه وکړي چې کتل یې بې ګټې نه دي، مګر مونږ ته لاندې تحلیل په تبادر سره ذهن ته راځي:

الف: ﴿ ٱرْكَبُوا۟ فِيهَا بِسْمِ ٱللَّهِ ﴾ یوه جمله ده، یعني د الله ﷻ نوم یاد کړئ او په بېړئ کښې ورسواره شئ. یا په بل عبارت: بسم الله کړئ ورپورته شئ.

ب: ﴿ مَجْر۪ىٰهَا وَمُرْسَىٰهَآ ﴾ د عطف په اعتبار سره مبتدأ ده او خبر یې (بيد ربي) مقدر دی، یعني دارېږئ مه ځکه چې د دې بېړۍ روانېدل او ودرول (د غرق څخه بچ کول) زما د رب ﷻ په واک او اختیار کښې دي، او یقیناً زما رب ﷻ بښونکی او مهربان دی.

## سوالونه جوابونه

۶ـ په دې مقام کښې سړي ته لاندې دوه پوښتنې ذهن ته ورځي:

الف: یوه دا چې نوح ﷺ خو د ټولو خلکو دپاره د پیغمبر په حیث وراستولی شوی وه نو په دې کښې څه وجهه وه چې خپل وروستني دعوت ته یې یوازې د خپل زوی پورې اختصاص ورکړ؟

مونږ وایو چې: د دې پوښتنې جواب ته په ﴿ وَكَانَ فِى مَعْزِلٍ ﴾ په کلماتو کښې اشاره شوې ده هغه دا چې نوموړی د نورو کفارو څخه په جدا ځای کښې وه نو د نوح ﷺ ورته د ایمان راوړلو تمه پیدا شوې وه، تا به ویل چې زړه یې د کفارو سره اندېوالي نه غواړي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه کله چې خپلوان (پلار او وروڼه) بېړۍ ته ور وخاته او نوموړی یوازې پاتې شو نو د نوح ﷺ ورباندې د پلارولۍ د کبله زړه وسوزېد او د وروستني ځل دپاره یې دعوت کړ چې د کفارو سره اندېوالي پرېږده او د خپلوانو اندېوالي وکړه.

ب: بله دا چې که بالفرض نوموړي دعوت منلی وی او په ایمان باندې مشرف شوی وی نو ایا ایمان به یې قبول شوی وی؟ حال دا چې دا خو د یأس (نا امیدی) حالت وه، په دغسې حالت کښې خو ایمان نه قبلېږي لکه چې د فرعون ایمان قبول نه کړی شو؟



---

(۱) تفسیر القرطبي ج۹ ص۳۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د دې پوښتنې جواب ته د ﴿ سَـَٔاوِىٓ إِلَىٰ جَبَلٍ يَعْصِمُنِى مِنَ ٱلْمَآءِ ﴾ په کلماتو کښې اشاره شوې ده، هغه دا چې ذکر شوی سوال جواب په داسې وخت کښې نه وه چې نوموړی د یأس (نا امیدی) حالت ته رسېدلی وه او د نجات څخه یې امید قطعه وه، د همدې کبله نوموړي وویلې چې زه به غره ته پورته شم او د غرق څخه به مې وساتي، دا خو بل شی نه دی مګر شدید باران دی.

﴿ وَقِيلَ يَـٰٓأَرْضُ ٱبْلَعِى مَآءَكِ وَيَـٰسَمَآءُ أَقْلِعِى وَغِيضَ ٱلْمَآءُ وَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ وَٱسْتَوَتْ عَلَى ٱلْجُودِىِّ ۖ وَقِيلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ ﴾

[۴۴] او (د الله ﷻ د جانبه ځمکې ته) وویلې شو چې: ای ځمکې! خپلې اوبه دې تېرې کړه (راکاږه) او (هم اسمان ته وویلی شو چې) ای اسمانه! (خپلې اوبه دې) بندې کړه (نور مه وربږه).
او (بالآخره) اوبه کمې کړی شوې او د (هلاکولو) کار فیصله (تمام) شو او بېړۍ په جودي (نومې غره) باندې ودرېده او (هم) وویلی شو چې ظالم قوم ته دې (لرېوالی وي) لرېوالی.

## د مطلب خلاصه

په دې ایت کښې د طوفان انجام ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې کېږي:
کله چې الله ﷻ اراده وکړه چې طوفان پیل شي نو د اسمان څخه یې بې درېغه اوبه (باران) نازلې کړې او د ځمکې څخه یې بې درېغه اوبه راوخوړولې آن تر دې چې د لوړو غرونو څوکې هم په اوبو کښې غرقې شوې او دومره خای وچ پاتې نه شو چې یوه مرغۍ ورباندې کښني او د طوفانه وژغورله شي.
بیا نو کله چې الله ﷻ اراده وکړه چې طوفان ته خاتمه ورکړي نو لاندې هدایتونه ورکړی شوه:
۱_ ځمکې ته د الله ﷻ د پلوه په تکویني توګه وویلی شوه چې اوبه مه راخوټوه بلکې خپلې اوبه (چې په تا باندې ولاړې دي) درکش کړه چې کمې شي، او هم اسمان ته په تکویني توګه وویلی شوه چې نور باران بس کړه (نور مه وربږه).
۲_ د ذکرو شوو دواړو هدایتونو سره سم باران ودرېد او ځمکې په جذب سره اوبه کمې کړې او د طوفان کار پای ته ورسېد.
۳_ او هم بېړۍ د جودي غره په سر باندې ودرېده او دا اعلان وشو چې ظالم قوم ته دې د الله ﷻ د رحمت څخه لرېوالی وي چې خپل آخرت او دنیا یې دواړه خراب کړه.

## توضیحات

۱_ د ﴿ أَقْلِعِى ﴾ کلمه د "اقلاع" _لکه "اکرام"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "اقلاع" د باران ودرولو ته وايي[۱] یعنې ای اسمانه! خپل باران بند کړه نور مه وربږه.

(۱) لسان العرب ج۸ ص۲۹۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ په ﴿وغيض الماء﴾ كښې د ﴿غيض﴾ كلمه د "غيضًا" ـ لكه "زيلًا" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، غيض: كمولو ته وايي[1] يعنې اوبه كمې كړى شوې او بالكل جذبې نه كړى شوې، كه نه نو بيا به په ځمكه باندې يو څاڅكى اوبه هم نه وى پاتې شوې او د ساكښانو د سكونت قابله به نه وى ګرځېدلې. لنډه دا چې د عاشوراء په ورځ (د محرم د مياشتې په لسمه) په جودي نومې غره باندې بېړۍ ودرېده.[2]

## جودي غر چرته واقع دى؟

۳ـ "جودي" د موصل يا عراق په شاوخوا كښې د يوه غره نوم دى چې اوس هم په همدې نامه باندې يادېږي، هلته د ذكرې شوې بېړۍ ټوټې نن هم د خلكو سره موندلى كېږي[3].

## يادونه

۴ـ كه څه هم ټول قرآن كريم فصيح او بليغ دى او په هره زمانه كښې يې د مقابلې څخه خلك عاجز دي مګر كه څوک غواړي چې په همدغه ايت شريف كښې ـچې د بحث لاندې دى ـ د فصاحت او بلاغت متعدد وجوه ولولي نو څينو اوږدو تفاسيرو ته دې مراجعه وكړي چې ډېر خوندور بحث يې پكښې كړى دى او هم يې په همدې باره كښې څو مزناكې قيصې هم ليكلې دي[4].

﴿وَنَادَىٰ نُوحٌ رَّبَّهُۥ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ٱبْنِى مِنْ أَهْلِى وَإِنَّ وَعْدَكَ ٱلْحَقُّ وَأَنتَ أَحْكَمُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿٤٥﴾ قَالَ يَٰنُوحُ إِنَّهُۥ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ ۖ إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيْرُ صَٰلِحٍ ۖ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ۖ إِنِّىٓ أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٤٦﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّىٓ أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْـَٔلَكَ مَا لَيْسَ لِى بِهِۦ عِلْمٌ ۖ وَإِلَّا تَغْفِرْ لِى وَتَرْحَمْنِىٓ أَكُن مِّنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٤٧﴾﴾

[۴۵] او نوح ﷺ خپل رب ﷻ ته اواز وكړ نو ويې ويلې چې: اى ربه! يقينًا زما زوى زما د اهل څخه دى (چې تا يې د نجات وعده راكړې وه) او ستا وعده حقه ده (خلف پكښې نشته) او ته د حكم كوونكو (فيصله كوونكو) بهتر حكم كوونكى (فيصله كوونكى) يې.

[۴۶] (خپل رب ﷻ ورته) وويلې چې: اى نوحه! يقينًا (ستا دغه) زوى ستا د اهل څخه (د الله ﷻ په نزد) نه دى (كه څه هم د نسب په اعتبار سره ستا زوى دى او دا خكه چې) بې شكه نوموړى يو غير صالح عمل دى (سوچه بې دينه دى).

نو ته زما څخه د هغه شي غوښتنه مه كوه په كوم شي باندې چې ستا علم نه وي (چې حكمت يې

(۱) لسان العرب ج۷ ص۲۰۱

(۲) الدر المنثور ج۴ ص۴۳۵

(۳) تفسير البغوي ج۲ ص۳۸۶؛ تفهيم القرآن ج۲ ص۴۹۳

(۴) روح المعاني ج۱۲ ص۶۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مقتضی دی او که نه) زه تاته نصیحت کوم (که نه نو) ته به د ناپوهانو څخه وګرځې.

[۴۷] نوح ﷺ وویلې چې: ای زما ربه! زه په تا باندې د دې څخه پناه غواړم چې ستا څخه د هغه شي غوښتنه وکړم په کوم باندې چې ماته علم نه وي.

او (څه مې چې کړي دي) که ته ماته ښښنه ونه کړې او ته په ما باندې رحم (مهرباني) ونه کړې نو زه به د زیانکارانو (تاوانیانو) څخه جوړ شم.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې یوه خاص سوال ته اشاره شوې ده کوم چې نوح ﷺ د خپل زوی په هکله د الله ﷻ په حضور کښې وړاندې کړی وه، نو حاصل یې داسې کېږي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې دې د عبرت دپاره د نوح ﷺ لاندې وړاندیز او د هغه جواب هم قرائت کړه:

۱ـ کله چې د نوح ﷺ او د ده د زوی (کنعان) مباحثه د اوبو په چپو باندې ختمه شوه نو خپل رب ﷻ ته یې په لوړ اواز سره سوال وکړ او ویې ویلې چې:

الف: ای ربه! زما دغه زوی (چې اوس زما د سترګو څخه د اوبو چپو پنا کې) زما د اهل څخه دی.

ب: او یقینًا ستا هره یوه وعده حقه ده (او هیڅ کوز وپاس پکښې نشته) نو د همغې وعدې په بنیاد زما دغه زوی ته هم نجات ورکړه کومه چې د اهل د نجات په باره کښې ستا د پلوه ماته راکړه شوې وه.

ج: او بالآخره، ای ربه! ته د ټولو فیصله کوونکو څخه ډېر ښه فیصله کوونکی یې، نو که زما د نوموړي زوی په متعلق د نجات فیصله وکړې نو څومره به ښه وي.

۲ـ الله ﷻ د نوح ﷺ ذکر شوي وړاندیز په لاندې ډول جواب کړ:

الف: ای نوحه! ستا ذکر شوی زوی ستا د اهل څخه نه دی او د نجات په وعده کښې شامل نه دی.

ب: ځکه چې په یقین سره نوموړی په بدعملۍ کښې دومره وړاندې دی ته به وایې چې ټول بدن یې د بد عمل څخه ترکیب موندلی دی، حال دا چې نن ورځ یوازې د صالح عمل خاوندانو ته نجات ورکړی شو او بس، غیر صالح خلک نجات نه شي موندلی.

ج: ای نوحه! تا ته د هغه اهل د نجات وعده درکړه شوې وه کوم چې د صالح عمل خاوندان دي خو ته پرې نه وې پوه شوی او اهل دې فقط د نسب په اعتبار سره اخستی وه.

د: ای نوحه! زه تاته نصیحت کوم چې د همېشه دپاره په غوښتنه کښې دقت کوه چې د دې شي غوښتنه په ځای ده او د دې غوښتنه ښه نه ده. که نه نو ته به د ناپوهانو څخه جوړ شي.

۳ـ نوح ﷺ سمدستي په خپله خطا باندې پوه شو او ویې ویلې چې:

الف: ای زما ربه! د هغه شي د غوښتلو څخه زه خاص په تا باندې پنا غواړم په کوم باندې چې زما علم نه وي رسېدلی چې غوښتل یې مناسب نه دي.

ب: ای زما ربه! ما خطا او سهوه وکړه، ماته مغفرت وکړې او په ما رحم وکړې، که ته ما ته ښښنه ونه کړې او مهرباني راباندې ونه کړې نو ضرور به زه د زیانکارانو او تاوانیانو څخه جوړ شم.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: په وړاندې ایت کښې تېر شو چې ﴿ وَحَالَ بَيْنَهُمَا ٱلْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ ٱلْمُغْرَقِينَ ﴾ یعنې د پلار او زوی ترمنځ د اوبو چپې حائلې شوې نو زوی یې د غرق کړی شوو څخه وګرځېد ، نو پوښتنه دا ده چې د غرقېدلو څخه وروسته د نجات غوښتنه څه معنی لري؟

مونږ وایو چې:

الف: نوح ﷺ د خپل زوی د نجات غوښتنه نه وه کړې بلکې د غرقېدلو په وجهه باندې یې د خپل خان پوه کول غوښتل چې نوموړی خو زما په اهل کښې شامل وه نو څه وجهه وه چې هغه زما د نور اهل غوندې نجات ونه موند[۱].

نو الله ﷻ ورته وجه وښودله چې نوموړی ستا د اهل څخه نه وه خکه چې هغه ستا په لاره باندې روان نه وه او ایمان یې درباندې نه وه راوړی. یا په بل عبارت: ستا په اهل کښې ستا د زوزات څخه هغه څوک شامل ګڼلی کېږي چې ستا په لاره باندې روان وي.

مګر دا جواب چندان مزناک نه دی څکه چې د دې جملې ﴿ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ﴾ سره به مناسب نه ښکاري، دا څکه چې د دې جملې مضمون دا دی چې زما څخه د هغه شي سوال مه کوه په کوم باندې چې ته علم نه لرې. حال دا چې د بې علمۍ مریض خو په پوښتنه باندې شفا مونده کوي او بس، نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «فَإِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّؤَالُ»[۲] یقیناً د ناپوهۍ شفاء (علاج) پوښتنه کول دي.

ب: نوح ﷺ ذکر شوی سوال الله ﷻ ته په داسې وخت کښې وړاندې کړ چې د ده مباحثه د خپل زوی سره د اوبو په چپو باندې قطعه شوه، او پوره واضحه ده چې الله ﷻ کولی شو چې په عین حال کښې یې د مرګ څخه بچ کړی وی او په بېړۍ کښې یې د نجات خاوند ګرځولی وی.

نو په دې تقدیر د ذکرې شوې جملې حاصل داسې راوځي چې: ای نوحه! ته زما څخه هغه شی مه غواړه په کوم باندې چې ته علم نه لرې چې دا به د کولو لیاقت لري او که نه، د همدې جملې څخه ستا د زوی نجات هم دی.

ستا د نبوت د عالي شان سره مناسب وه چې د لاندې وجوهو د کبله ته پوه شوی وی چې د هغه نجات ته زما اراده نه وه.

اول: ای نوحه! د دغه سوال قبول خو ستا د زوی غرقېدلو ته هم شامل وه چې: ﴿ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَـٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴾ [نوح: ۲۶] یعنې ای زما ربه! په ځمکه باندې د کافرانو څخه یو اوسېدونکی هم پرېنږدې. ایا ستا زوی د کافرانو څخه نه وه؟

---

۱) تفسیر المظهري ج ۵ ص ۹۱

۲) سنن ابو داود ج ۱ ص ۴۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: تا ته خو د هرڅه څخه وړاندې ما توصیه کړې وه چې: ﴿ وَلَا تُخَٰطِبۡنِي فِي ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ إِنَّهُم مُّغۡرَقُونَ ﴾ [هود:۳۷] یعنې زما سره به د هغو کسانو (د نجات) په هکله مباحثه نه کوې کوم چې په خپلو ځانونو باندې ظلم کړی دی (او کفر یې اختیار کړی دی) ځکه چې دوی غرق کړی شوي دي (دوی په باره کښې خبره فیصله ده). ایا ستا زوی د ظالمانو څخه نه وه؟

دریم: ستا د اهل د نجات په وعده کښې خو دا کلمات هم درنازل شوي وه چې: ﴿ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيۡهِ ٱلۡقَوۡلُ ﴾ [هود: ۴۰] یعنې ستا د اهل څخه هغه څوک د نجات په وعده کښې شامل نه دی په کوم باندې چې وړاندې د غرقېدلو فیصله شوې ده.

ایا ته نه پوهېدې چې ستا په اهل کښې څوک د غرقېدلو د فیصلې لایق وه؟ ایا ستا بد عمله زوی د همدې فیصلې لیاقت نه درلود؟

لنډه دا چې نوح ﷺ د خپل زوی د غرقېدلو په حال کښې سوال وکړ چې: ای ربه! زما زوی ته نجات ورکړې او ببرې ته یې راپورته کړې. خو ځرنګه چې د غرقېدلو صحنه ډېره هولناکه وه نو د ده ﷺ څخه ذکر شوي دریواړه ارشادات د ذهن څخه وتلي وه او دغه خلاف الاولی (نه بهتر) کار صورت نیولی وه.

د نوح ﷺ دغه حالت کټ مټ د آدم ﷺ حالت ته ورنږدې دی چې ونې ته د عدم نږدېکت ارشاد یې هېر کړی وه چې پوره بحث یې د [البقرة:۳۷] ایت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

د همدې کبله دواړه پیغمبران د ندامت (پښیمانتیا) په کلماتو کښې یو بل ته ورته دي لاندې وضاحت ولولئ:

د نوح ﷺ کلمات: ﴿ وَإِلَّا تَغۡفِرۡ لِي وَتَرۡحَمۡنِيٓ أَكُن مِّنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴾ [هود:۴۷].

د آدم ﷺ کلمات: ﴿ وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴾ [الأعراف:۲۳].

## مفسرین کرام څه وایي؟

۲_ دا وه زمونږ نظر چې ولیکلی شو مګر مفسرین کرام وایي چې نوح ﷺ د خپل زوی د نجات سوال د څینو وجوهو د کبله کړی وه د بېلګې په توګه:

الف: د نوح ﷺ زوی منافق وه او ده ﷺ ته مسلمان ښکارېده[۱] نو ځکه یې ورته نجات وغوښت.

ب: ځرنګه د غرقېدلو په وخت کښې د کفارو څخه په جدا ځای کښې ولاړ وه نو نوح ﷺ ګومان وکړ چې ایمان یې راوړی دی، د همدې کبله یې د خپل پلار د دې خبرې په جواب کښې (چې د کافرانو سره مه کېږه) وویلې چې زه به غره ته پورته شم او داسې یې ونه ویلې چې زه د کافرانو اندیوالي نه پرېږدم او یا دوی خو کافران نه دي[۲].

---

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۴۸

(۲) روح المعاني ج۱۲ ص۵۹، ۷۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## عوق بن عنق نجات نه دی موندلی

۳_ ځینو علماوو کرامو ویلي دي چې عوق بن عنق د نوح ﷺ د طوفان څخه نجات موندلی دی او دا ځکه چې نوموړي نوح ﷺ ته د شام څخه د بېړۍ د جوړولو دپاره لرګي را انتقال کړي وه، نوموړی دومره لوړ سړی وه چې د طوفان اوبه یې ایله نامه ته رسېدلې وې[۱].

مګر دغه خبره صحت نه لري او د طوفان څخه یوه کافر هم نجات نه دی موندلی[۲] لکه څنګه چې نوح ﷺ د ټولو کافرانو د هلاکت سوال کړی وه او د الله ﷻ په نزد قبول شوی هم وه.

## ایا طوفان ټولې دنیا ته شامل وه؟

۴_ د ایتونو او د احادیثو څخه په څرګنده توګه معلومېږي چې طوفان ټولې ځمکې ته شامل وه، همدا د اسلامي علماوو کرامو نظر دی[۳].

اما ځینې مؤرخین او نور خلک د طوفان د عموم څخه انکار کوي نو که څوک په همدې متعلق اوږد بحث غواړي نو ځینو اوږدو کتابونو[۴] ته دې مراجعه وکړي.

﴿قِيلَ يَٰنُوحُ ٱهْبِطْ بِسَلَٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكَٰتٍ عَلَيْكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٍ مِّمَّن مَّعَكَ ۚ وَأُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٤٨﴾﴾

[۴۸] (د الله ﷻ د پلوه) وویلی شوه چې: ای نوحه! زمونږ د پلوه په سلامتیا سره (د بېړۍ څخه او بیا د جودي غره څخه) ښکته شه، او (هم زمونږ د پلوه) په تا باندې او په هغو امتونو (ټولګیو) باندې کوم چې ستا سره (په بېړۍ کښې ملګري) دي په برکتونو سره (ښکته شه)، او (هم په یاد ولره چې د دوی څخه ځینې) امتونه (ټولګي) دي چې (د دنیا څخه به یې) مستفید وګرځوو بیا به (په آخرت کښې) زمونږ د پلوه دوی ته دردناک عذاب ورسېږي.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هغه ارشادات بیان شوي دي کوم چې د بېړۍ د ودرېدلو څخه وروسته د الله ﷻ د پلوه نوح ﷺ ته وحې شوي وه چې حاصل یې داسې راوځي:

د هغه څخه وروسته چې بېړۍ په جودي غره باندې ودرېده نوح ﷺ ته لاندې ارشادات وحې کړی شوه چې:

۱_ ای نوحه! د بېړۍ څخه د خپلو ملګرو په شمول ښه په اطمنان سره په جودي غره باندې او بیا د جودي غره څخه هوارې ځمکې ته ورښکته شه زمونږ د پلوه په تا باندې سلامتیا ده لکه څنګه مو

---

(۱) تفسير الخازن ج۳ ص۳۲۹
(۲) روح المعاني ج۱۲ ص۶۲
(۳) تفسير المراغي ج۱۲ ص۴۴
(۴) تفسير المنار ج۱۲ ص۱۰۶؛ المحرر الوجيز ج۹ ص۱۴۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د عالمي طوفان څخه نجات درکړ او د غرونو غوندې چپو کښې مو بېړۍ د غرقېدلو څخه وساتله همدارنګه دې په راتلونکي کښې هم په سلامتۍ کښې ساتو.

۲ـ همدارنګه زمونږ د پلوه په تا او ستا د بېړۍ په ملګرو باندې برکتونه دي چې د یو پلوه به په تاسو کښې د بېروالي راشي او تبوله ځمکه درباندې په دوهم ځل اباده شي او د بله پلوه به د ځمکې ابادي په تاسو او ستا په نسل باندې د قیامت د ورځې پورې ادامه ولري چې د دنیا د نعمتونو څخه به په دوامداره توګه استفاده وکړئ.

۳ـ بیا به د قیامت په ورځ ستاسو د جملې څخه خینو تولګیو ته برسېره په دنیاوي نعمتونو باندې اخروي نعمتونه هم ورکړو او جنتونو ته به یې داخل کړو او ځینو نورو ته به ـچې زمونږ د لارې څخه یې انحراف کړی وي ـ د نعمتونو لړۍ په دنیاوي استفادې باندې ختمه کړو او په آخرت کښې به ورته زمونږ د پلوه دردناک عذاب ورسېږي.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: د ﴿ٱهۡبِطۡ﴾ کلمه د "هبوط" څخه اشتقاقه شوې ده او "هبوط" چې په انسانانو کښې استعمال شي نو هغه ښکته کېدل ترې مطلب وي د کومو سره چې استخفاف ملګری وي[۱]. نو پوښتنه دا ده چې ایا په دې مقام کښې ـچې نوح ﷺ ورباندې مخاطب شوی دی ـ ذکر شوی استخفاف صحت لري؟

مونږ وایو چې: د همدغې اشتباه د مخنیوي دپاره په دې مقام کښې په ﴿بِسَلَٰمٖ مِّنَّا وَبَرَكَٰتٍ﴾ په کلماتو سره تعقیب شوې ده چې دلته استخفاف مطلب نه دی.

۲ـ ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي[۲] چې نوح ﷺ د بېړۍ د ودرېدلو څخه وروسته تر یوې میاشتې پورې هلته (د جودي غره په څوکه کښې) مېشت وه او بیا ورته الله ﷻ هوارې ځمکې ته د ښکته کېدلو توصیه وکړه.

۳ـ کله چې په بېړۍ کښې سورېدل او روانېدل د الله ﷻ په نامه باندې پیل شوي وه ﴿وَقَالَ ٱرۡكَبُواْ فِيهَا بِسۡمِ ٱللَّهِ﴾ نو الله ﷻ د بېړۍ خطرناک سفر اسان کړ او په سلامتیا سره پای ته ورسېد او د بېړۍ په سورلیو باندې الله ﷻ برکتونه ورنازل کړه که نه نو نه به یې سلامتیا په نصیب شوې وی او نه برکتونه، دا ځکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «كُلُّ أَمْرٍ ذِي بَالٍ لَمْ يُبْدَأْ فِيهِ بِالْحَمْدِ أَقْطَعُ»[۳] یعنې هر یو کار چې د اهتمام خاوند وي (او د الله ﷻ) په حمد (د ده ﷻ په نامه سره پرې شروع ونه شي نو هغه به (د برکت څخه) پرې کړی شوی وي.

۴ـ مونږ د [آل عمران: ۹۶] ایت لاندې لیکلي دي چې د "برکة" په کلمه کښې دوه شیان نغښتي

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۳۳
(۲) روح المعاني ج۱۲ ص۷۲
(۳) سنن ابن ماجه ص۱۳۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي چې یو زیادت دی او بل دوام، همدارنګه مونږ د [الأنعام:۳۸] ایت لاندې د "أمة" د کلمې معنی ـ لله الحمد ـ ښه پوره شرحه کړې ده چې دا کلمه هغو متعددو افرادو ته وضعه شوې ده کوم چې په خپلو منځو کښې یو مشترک صفت یا مشترک خاصیت ولري. او هلته مو لیکلي دي چې د ساکښانو هرې یوې نوعې ته "أمة" ویل کېږي.

نو د ذکرو شوو لحاظونو په نظر کښې نیولو سره د دې مقام د معنی حاصل داسې راوځي چې:

ای نوحه! زمونږ د پلوه په هغو ټولو امتونو باندې برکت درنازل شوی دی کوم چې تا د خپله ځانه سره په بېړۍ کښې پورته کړي وه او په سلامتۍ سره دې ښېرته راښکته کړه، نو د هرې نوعې (هر جنس) نسل به زیات او په ځمکه کښې به خواره واره شي او هم به د قیامت د ورځې پورې دوام وکړي.

﴿تِلْكَ مِنْ أَنبَآءِ ٱلْغَيْبِ نُوحِيهَآ إِلَيْكَ ۖ مَا كُنتَ تَعْلَمُهَآ أَنتَ وَلَا قَوْمُكَ مِن قَبْلِ هَـٰذَا ۖ فَٱصْبِرْ ۖ إِنَّ ٱلْعَـٰقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٤٩﴾﴾

[۴۹] دغه (قیصه) د غیبي خبرونو ځنې ده چې مونږ یې تا ته وحې کوو (که نه نو) په دې قیصه باندې خو د دغې (وحې) ځنې وړاندې نه ته پوهېدلې او نه ستا قوم (پرې پوهېده).

نو (ځوک چې اوس هم تا د پیغمبر په صفت باندې نه قبلوي نو) ته صبر وکړه (حوصله مه خرابوه ځکه چې) یقینًا (نیک) انجام د متقیانو دپاره دی (او بس).

## د مطلب خلاصه

په دې ایت شریف کښې د نوح ﷺ په قیصه باندې یوې تبصرې ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راوځي:

۱ـ ای پیغمبره! ته په حقه زمونږ د پلوه د خلکو د هدایت دپاره استولی شوی یې او د نبوت دثبوت دپاره دې همدا کفایت کوي چې مونږ غیبي معلومات تاته وحې کوو.

د همدې قبیلې ځنې د نوح ﷺ قیصه هم ده چې په خپله اصلي بڼه باندې دې په خلکو باندې قرائت کړه، حال دا چې د نبوت ځنې وړاندې تاته هیڅ معلومات نه وه چې نوح ﷺ د خپل قوم سره ځنګه سوال جواب وکړ او په بېړۍ کښې په څه ډول سواره شوه او بالآخره خپل غرق شوي زوی ته یې وروستنی دعوت ځنګه ورکړ او هغه څه وویلې.

په دغو غیبي علومو باندې لکه ځنګه چې وړاندې ته نه پوهېدې همدارنګه ستا قوم ته هم هیڅ معلومات نه وه، که بالفرض دوی معلومات درلودی نو په تا باندې به یې تور لګولی وی چې تا ته کوم یوه قومي معلومات درکړي دي.

۲ـ ای پیغمبره! لکه ځنګه چې الله ﷻ نوح ﷺ په خپل بوت پرست قوم باندې غالب کړ همداسې به تا هم د خپل قوم په بوت پرستانو باندې غالب کړي، دا ځکه چې د همېشه دپاره نیک انجام د متقیانو په برخه دی.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ بالآخره ای پیغمبره! کله چې نوح ﷺ نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله د خپل مشرک قوم په اذیتونو باندې صبر وکړ او په نتیجه کښې وربانديې کامیاب شو همدارنګه ته هم صبر کوه (خپله حوصله مه خرابوه) په نژدې وخت کښې به ته هم د خپل قوم په مشرکانو باندې برلاسی شې. یا په بل عبارت: د جهاد امر به درته وشي او د جزیرة العرب څخه به د مشرکانو تغر تول کړې.

## د ایت شریف ارشادات

د نوح ﷺ په ذکرې شوې قیصې کښې د عبرت دپاره زښت ډېر درسونه نغښتي دي، لاندې څو مثالونه يې نور هم ولولئ:

۱_ دغه قیصه مونږ ته درس راکوي چې هیڅوک د نسب د کبله نجات نه شي موندلی، که نه نو نوح ﷺ خو د خپل زوی د نجات دپاره ډېرې هلې ځلې وکړې خو نتیجه يې منفي راووتله. نو هرچا ته په کار دي چې پخپله حسنات وکړي هسې نه چې د خپلو اسلافو حسناتو ته په تمه شي چې د الله ﷻ د غضبه به نجات ورکړي.

۲_ که څوک غواړي چې د نېکو کارانو په ډله کښې وشمېرل شي نو نېکي دې وکړي او د بد اخلاقۍ او جنایتونو څخه دې اجتناب وکړي. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا»[1] هرڅوک چې ټګي کوي هغه زمونږ څخه نه دی (مونږ ټګان او بد اخلاقان نه یاستو).

۳_ دا قیصه ټول انسانان د الله ﷻ نعمتونو ته متوجه کوي چې الله ﷻ هر وخت کولی شي چې ځمکه غرقه کړي او د سکونت څخه يې وباسي، او هم قادر دی چې د اسمان څخه بې دریغه باران نازل کړي او د ځمکې ابادي پوپنا کړي او بالآخره دریابونه الله ﷻ ایسار کړي دي چې په ځمکه باندې نه راخېژي او خای په خای ولاړ دي، او داسې نور.

﴿ وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ ۖ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُفْتَرُونَ ﴿٥٠﴾ يَٰقَوْمِ لَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَى ٱلَّذِى فَطَرَنِىٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٥١﴾ وَيَٰقَوْمِ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ يُرْسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا۟ مُجْرِمِينَ ﴿٥٢﴾ ﴾

[۵۰] او عادیانو ته (مونږ) د دوی نسبي ورور هود ﷺ (ور استولی وه).

ده ﷺ (ورته) وویلې چې: ای زما قومه! تاسو خاص د الله ﷻ عبادت وکړئ (او شریک ورسره مه دروئ ځکه چې) تاسو ته د همده ﷻ څخه په غیر بل (په حقه) معبود نشته.

(او) تاسو نه یاست مګر (په الله ﷻ باندې) دروغ تړونکي (یاست چې شریکان ورسره ودروئ).

---

[1] جامع الترمذي ج۱ ص۲۴۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵۱] ای زما قومه! زه ستاسو څخه (په ذکر شوي) پیغام باندې څه اجرت (مزدوري) نه غواړم، زما اجرت نه دی مګر په هغه اقدس ذات باندې دی چې زه یې (د نشت څخه) پیدا کړی (موجود کړی) یم، ایا نو تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ (چې زه د نبوت په دعوه کښې رښتینی یم).

[۵۲] ای زما قومه! د خپل رب ﷻ څخه (د پخوانیو کفریاتو او شرکیاتو) مغفرت وغواړئ (ایمان پرې راوړئ او) بیا همده ﷻ ته (په دوامداره توګه په مستقیم اطاعت سره) رجوع وکړئ ترڅو په تاسو باندې په داسې حال کښې اسمان درولیږي چې په شبېو-شبېو وریدونکی وي، او (چې ترڅو) ستاسو (پخوانی) قوت په (نور) قوت سره زیات کړي.

او (بالآخره) تاسو (زما د دعوت څخه) په داسې حال کښې مخونه مه اړوئ چې مجرمان (جنایتکاران) یاست.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د هود ﷺ او د ده د قوم د حالاتو بیان پیل شوی دی ترڅو د وخت کفارو ته ورڅرګنده شي چې د کفریاتو په سبب باندې یوازې د نوح ﷺ قوم د منځه نه دی تللی بلکې نور امثال هم لري. نو حاصل یې داسې راوځي:

ای پیغمبره! په خپلو امتیانو باندې د هود ﷺ او د ده د وخت د بوت پرستانو څه حالات په لاندې ټکو کښې بیان کړه:

۱ـ مونږ عادیانو ته (چې د هود ﷺ قوم وه) د همدوی د جملې څخه یو کس د پیغمبر په صفت وراستولی وه چې په دوی باندې یې د ورور غوندې خوا خوږي درلوده او په همدوی باندې ډېر زړه سواندی وه، دغه کس د هود ﷺ څخه عبارت وه.

۲ـ هود ﷺ دغه خلک په ډېره نرمه او پسته لهجه دعوت کړه چې: ای زما قومه! یوازې او یوازې د الله ﷻ عبادت وکړئ او بوت پرستي پرېږدئ ځکه چې تاسو ته د الله ﷻ څخه په غیر بل خوک او بل شی په حقه معبود نشته.

نو په کومه بوت پرستۍ باندې چې تاسو مشغول یاست په دې باره کښې تاسو نه یاست مګر په الله ﷻ باندې دروغ تړونکي، تاسو ته په کار دي چې د دغو لویو دروغو څخه لاس واخلئ او الله ﷻ واحد او لا شریک وګڼئ.

۳ـ ای زما قومه! زه خو ستاسو څخه په دغه دعوت باندې څه اجرت نه غواړم چې په تاسو باندې دروند تمام شي او نه تاسو خپل عبادت ته رابلم چې تاسو را باندې مشتبه شئ او بالآخره نه په تاسو باندې مشري قائمول غواړم چې تاسو ترې غاړې وغړوئ.

۴ـ زما اجرت په هغه اقدس ذات باندې دی چې زه یې د نشت څخه پیدا کړی یم او په همدغه دعوت باندې یې تاکلی یم، همدغه اقدس ذات ماته روزي راکوي او ضروریات مې پوره کوي.

۵ـ ای زما قومه! که بالفرض زه د الله ﷻ دپلوه نه وی راستولی شوی او اخروي ګټه او اجرت مې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه وي، لکه چې تاسو خیال کوئ؛ حال دا چې دنیاوي ګټه وټه خو نه ستاسو څخه غواړم او نه بې تاسو راکوئ. نو اې تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ چې په دغه صورت کښې به ما د دعوت مشکلات د څه دپاره ګاللې؟ ایا هغه کار نه څوک اقدام کوي چې نه یې پکښې د دنیا ګټه وي او نه د آخرت؟

۶ـ اې زما قومه! زما دعوت ومنئ؛ او د خپل رب ﷻ څخه د پخوانیو کفریاتو مغفرت وغواړئ او بیا په اخلاص سره حمده ﷻ ته راجع شئ او په اطاعت باندې یې استقامت وکړئ، په ما باندې تهمتونه مه لګوئ او د نفس او شیطان مه منئ.

۷ـ اې زما قومه! که تاسو زما دعوت قبول کړ نو د یو پلوه به الله ﷻ د دوزخ د اوره نجات درکړي او د بله پلوه به په دنیا کښې درسره لاندې امدادونه وکړي:

الف: د اسمانه به درباندې په شپېو-شپېو بارانونه وکړي، وطن به مو خړوب کړي او د قحطۍ او وچکالۍ مخه به درڅخه واړوي.

ب: برسېره پر هغه قوت باندې چې الله ﷻ درکړی دی نور قوت به هم در زیات کړي، اولادونه به مو ډېر کړي او عمرونه به مو اوږده کړي او هم به مو بدني قوت غښتلی کړي او مالونو ته به مو وده ورکړي، او داسې نور.

۸ـ اې زما قومه! کوم شي ته چې زه دعوت درکوم د هغه څخه مخونه په داسې حال کښې مه اړوئ چې جنایت کوونکي او مجرمان یاست (مخونه اړول لوی جرم او ګناه ده).

## توضیحات

۱ـ هود ﷺ لومړنی پیغمبر دی چې په عربي ژبه یې خبرې کولې[۱] او خپل بوت پرست قوم ته استول شوی وه. د ده ﷺ قیصې ته د ټولو کفارو د عبرت دپاره عموماً او د عربي مشرکانو د عبرت دپاره خصوصاً یو خل د "الأعراف" په سورت کښې اشاره شوې وه او دا دی د دوهم خل دپاره دلته بیانېږي.

نو څرنګه چې د هود ﷺ قوم (عادیان) هم عربان وه او په ژبه او نسب کښې ورسره متحد وه نو ځکه ترې په ﴿ أَخَاهُمْ ﴾ سره تعبیر وکړی شو لکه چې همدغه ډول تعبیر په عربي ژبه کښې مروج دی چې وایي: "يَا أَخَا الْعَرَبِ"[۲] اې د عربو وروره (اې عربه!).

په دې باندې علاوه، ذکر شوي تعبیر د شفقت او زړه سوي څخه هم نمایندګي کوي او د اجابت دپاره مؤید واقع کېږي.

## "مِدْرَارًا" څه معنی؟

۲ـ د ﴿ مِدْرَارًا ﴾ کلمه د مبالغې صیغه ده او د "دَرَّتِ السَّمَاءُ" څخه اشتقاق شوې ده چې د ډېر

---

(۱) تفسیر المنار ج۱۲ ص۱۱۴

(۲) المحرر الوجیز ج۹ ص۱۶۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورېدونکي باران معنی ورکوي، په پښتو کښې ترې مونږ په شېبو-شېبو باران سره تعبير کوو.

عاديانو ته د ايمان راوړلو په صورت کښې ځکه د بارانونو وعده ورکړې شوې وه چې دوی د کښتونو او باغونو خاوندان وو او باران ته يې زياته اړتيا درلوده. ځينې لا وايي چې په دوی باندی په دغه وخت کښې وچکالي هم مسلطه کړی شوې وه[۱].

﴿ قَالُواْ يَٰهُودُ مَا جِئۡتَنَا بِبَيِّنَةٖ وَمَا نَحۡنُ بِتَارِكِيٓ ءَالِهَتِنَا عَن قَوۡلِكَ وَمَا نَحۡنُ لَكَ بِمُؤۡمِنِينَ ﴿٥٣﴾ إِن نَّقُولُ إِلَّا ٱعۡتَرَىٰكَ بَعۡضُ ءَالِهَتِنَا بِسُوٓءٖۗ ﴾

[۵۳] دوی (عاديانو د هود ؈ دعوت رد کړ او) ويې ويلې چې: ای هوده! ته مونږ ته (د خپل رسالت د اثبات دپاره) په څرګند دليل باندې نه يې راغلی (ترڅو ستا خبره ومنو) او مونږ ستا د خبرې د کبله د خپلو معبودانو (د عبادت) پرېښودونکي نه ياستو، او (هم) مونږ تا ته (د پيغمبر په صفت) عقيده کوونکي (باورکوونکي) نه ياستو.

[۵۴] مونږ (ستا په هکله) بله هيڅ خبره نه کوو مګر دا خبره چې تاته زمونږ ځينو معبودانو بدي در رسولې ده (او د عقل څخه يې لوڅ کړی يې چې شوده بوده يې درڅخه جوړ کړی دی).

## د مطلب خلاصه

يعني عاديانو د خپل پيغمبر هود ؈ دعوت داسې رد کړ چې:

۱_ ای هوده! تا خو مونږ ته د خپل رسالت د اثبات دپاره څه داسې څرګند دليل نه دی وړاندې کړی چې مونږ ايمان راوړلو ته مجبور کړي او نه دې هغه معجزه راڅرګنده کړې ده د کومې چې مونږ يې تاته فرمايش درکوو، نو د همدې کبله:

الف: مونږ ستا د بې ثبوته دعوت په اثر په هيڅ صورت سره د خپلو معبودانو د عبادت پرېښودونکي نه ياستو.

ب: او هم په هيڅ صورت سره په تا باندې عقيدې کولو او ايمان راوړلو ته چمتو نه ياستو؛ نو ښه دا ده چې نه خپل ځان په تکليف کړې او نه مونږ په خپل دعوت سره وزوروې.

۲_ ای هوده! ستا په باره کښې نور څه نه وايو فقط همدا وايو چې تاته زمونږ ځينو معبودانو ضرر رسولی دی چې اوتې بوتې وايې او د ليونيانو په شان خبرې کوې.

مونږ ځکه همدغې نتيجې ته رسېدلي ياستو چې په هغه وخت کښې ستا دماغ برابر وه او اعصاب دې خراب نه وه په کوم وخت کښې چې تا زمونږ په معبودانو پسې ستغې سپورې خبرې نه کولې. نو کله چې تا په دغه کار باندې پيل وکړه ستا دماغ هم خراب شو.

ای هوده! په خپل ځان لږ څه رحم وکړه او د بوتانو د ناتوانۍ او کمزورۍ خبرې مکوه که نه نو نور ضرر به هم در ورسوي (ايا ته د بوتانو د زور څخه خبر نه يې؟).

---

[۱] روح المعاني ج۱۲ ص۸۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱ـ دا جمله ﴿ مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ ﴾ لاندې معناوې درلودلی شي:

الف: تا داسې معجزه نه ده راوړې چې مونږ ایمان راوړلو ته مجبور کړي.

ب: تا هغه معجزه مونږ ته نه ده رابنودلې د کومې چې مونږ فرمایش درکوو.

ج: یا به دوی دا خبره په ډېره غُصه کښې کړې وي حتی چې په عنادي توګه به یې د ټولو معجزاتو څخه په کلي توګه انکار کړی وي.

که نه نو الله ﷻ هیڅ پیغمبر بدون د معجزاتو څخه نه دی لېږلی، نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَا مِنَ الأَنْبِيَاءِ نَبِيٌّ إِلاَّ أُعْطِيَ مِنَ الآيَاتِ مَا مِثْلُهُ آمَنَ عَلَيْهِ الْبَشَرُ»[۱] یعني: د پیغمبرانو علیهم السلام څخه یو پیغمبر هم نه دی (تېر شوی) مګر (د معجزاتو څخه) هومره ورکړی شوي دي په څومره باندې به چې د وخت انسانانو ایمان راووړ (د ایمان راوړلو ته بې کفایت کاوه).

۲ـ په ﴿ ٱعْتَرَىٰكَ ﴾ کښې د "اعْتَرَى" کلمه د "اِعْتِرَاءُ" څخه اشتقاقه شوې. "اِعْتِرَاء" خو دې ته وايي چې څوک د چا د لوڅولو قصد وکړي[۲].

په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راوځي چې: ای هوده! زمونږ په ګومان تا ته ځینو بوتانو قصد کړی دی چې د عقل څخه دې لوڅ کړي او لیونی درڅخه جوړ کړي. ایا هغه خبرې هوښیار سړی کوي کومې چې د بوتانو په باره کښې ستا د خولې څخه اوځي؟

﴿ قَالَ إِنِّىٓ أُشْهِدُ ٱللَّهَ وَٱشْهَدُوٓا۟ أَنِّى بَرِىٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴿٥٤﴾ مِن دُونِهِۦ ۖ فَكِيدُونِى جَمِيعًا ثُمَّ لَا تُنظِرُونِ ﴿٥٥﴾ إِنِّى تَوَكَّلْتُ عَلَى ٱللَّهِ رَبِّى وَرَبِّكُم ۚ مَّا مِن دَآبَّةٍ إِلَّا هُوَ ءَاخِذٌۢ بِنَاصِيَتِهَآ ۚ إِنَّ رَبِّى عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٦﴾ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقَدْ أَبْلَغْتُكُم مَّآ أُرْسِلْتُ بِهِۦٓ إِلَيْكُمْ ۚ وَيَسْتَخْلِفُ رَبِّى قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّونَهُۥ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ رَبِّى عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ حَفِيظٌ ﴿٥٧﴾ ﴾

{د [۵۴] پاتې} (هود علیه السلام خپل قوم مخاطب کړ او) وېې ویلې چې: یقینًا زه الله ﷻ شاهد ګرځوم او تاسو هم شاهدان او سئ چې زه د هغه شي څخه په یقین سره بېزار یم کوم چې تاسو یې (د الله ﷻ سره په عبادت کښې شریکوئ).

[۵۵] (البته چې) د ده ﷻ څخه په غیر دي. نو تاسو ټول (د بوتانو په شمول) ماته د ضرر رسولو په هکله پټ تدبیر وکړئ بیا یې (را باندې عملي کړئ او) مهلت مه راکوئ.

[۵۶] یقینًا ما په الله ﷻ باندې توکل کړی دی چې زما رب هم دی او ستا رب هم دی (تاسو ماته

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۴۴

(۲) مفردات الراغب ص۳۴۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ضرر نه شئ را رسولی خکه چې) په ځمکه باندې هیڅ یو خوځېدونکی نه دی مګر الله ﷻ د هغه د اوچولي د ویښتانو نیوونکی دی (چې د ده ﷻ د ارادې څخه په غیر هیڅ حرکت نه شي کولی).
بې شکه زما رب ﷻ په برابره (حقه) لاره باندې (څارونکی) دی (چې د هرچا ترصد او څارنه کوي).
[۵۷] نو (ای قومه!) که تاسو (زما د دعوت څخه) مخونه واړوئ (نو خپل خانونه به هلاک کړئ)
ځکه په یقین سره (ما خپله غاړه خلاصه کړه او) هغه څه مې (تاسو ته) در ورسول په کوم باندې چې زه دراستولی شوی وم.
او (هم) به زما رب ﷻ (ستاسو د هلاکت څخه وروسته) ستاسو څخه په غیر یو بل قوم ستاسو په عوض (په ځمکه کښې) اباد کړي.
او تاسو به زما رب ﷻ ته د هیڅ شي ضرر ونه شئ رسولی. یقیناً زما رب ﷻ په هر شي باندې محافظ (ساتونکی) دی (نو د ځمکې ساتنه به هم وکړي).

## د مطلب خلاصه

هود ﷺ د خپل قوم تهدید آمېزه جواب ـ چې په وړاندې ایتونو کښې ورته اشاره شوې ده ـ په لاندې ډول رد کړ:

۱ـ ای زما قومه! برسېره په دې چې زه الله ﷻ شاهد ګرځوم تاسو هم شاهدان اوسئ چې زه په یقیني او ... کنده توګه ستاسو د بوتانو څخه خپله بېزاري اعلانوم. او زه په خپل دریغ باندې کلک ولاړ یم چې ستاسو معبودان چې تاسو یې د الله ﷻ څخه په غیر په عبادت باندې مشغول یاست ټول باطل دي، او یو ځل بیا خپل ذکر شوی دریغ په ډاګه تاسو ته در اوروم.

۲ـ نو که ستاسو او یا ستاسو د بوتانو ماته د ضرر را رسولو په هکله څه دلاسه کېږي نو هیڅ صرفه مکوئ او ټول په اتفاق سره ماته ضرر را ورسوئ، هلئ ژر شئ په دې باره کښې ماته بالکل مهلت او ټال مه راکوئ.

۳ـ یقیناً ما په هغه اقدس ذات (الله ﷻ) باندې توکل او اعتماد کړی دی چې هم زما رب دی او هم ستاسو، خو افسوس چې تاسو یې په ربوبیت سره نه قبلوئ.

۴ـ چا چې په خپل رب (الله ﷻ) باندې اعتماد کړی وي هغه ته هیڅوک او هیڅ شی ضرر نه شي رسولی ځکه چې په ځمکه باندې هیڅ حرکت کوونکی نه دی مګر د الله ﷻ د کامل قدرت لاندې دی، کوم طرف ته چې د ده ﷻ اراده وي همغسې یې ور اړوي. ته به وایې چې هر شی یې د اوچولي د ویښتانو څخه نیولی دی او په خپله اراده باندې ځرخوي.

۵ـ یقیناً زما رب ﷻ د حق او عدالت په برابره لاره باندې مراقبت کوونکی دی چې د هرچا سره د حکمت په مطابق چال چلند کوي، نېکو کارانو ته اجرونه ورکوي او جنایتکاران د خپلو جنایتونو په ناکاره عواقبو باندې اخته کوي.

۶ـ نو د همدې کبله (ای قومه!) زه یو ځل بیا تاسو مخاطب ګرځوم چې ما خو (الحمد لله) د خپل

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رب ﷻ په توفیق خپله راسپارله شوې دنده ترسره کړه او د خپل رب ﷻ ارشادات مې تاسو ته در ورسول نو د اجرونو او ثوابونو امید کوم.

اما تاسو په خپلو جنایتونو باندې کلک یاست او زما دعوت ته غوږ نه ږدئ نو تاسو به زما رب ﷻ ډېر ژر د بدو عواقبو سره مخامخ کړي او ټول به هلاک او پوپنا کړي.

۷_ او هم په یاد ولرئ چې ستاسو په هلاکولو سره به دا دنیا ورانه نه شي، زما رب ﷻ به ستاسو ځخه په غیر نور مخلوق پیدا او دنیا به پرې آباده کړي، لکه چې پخواني قومونه یې د منځه بوتلل او په عوض کښې یې په ځمکه باندې تاسو مېشت کړئ.

۸_ ای زما قومه! په همدې بنیاد که تاسو خپلو جنایتونو ته ادامه ورکړئ نو فقط خپلو ځانونو ته به ضرر ورسوئ او بس، زما رب ﷻ ته تاسو په هیڅ صورت کښې ضرر نه شئ رسولی.

یقینًا زما رب ﷻ په هر شي باندې څارونکی او مراقبت کوونکی دی چې هیڅ شی د ده ﷻ د واک او اختیار ځخه وتلی نه شي.

نو په خپلو ځانونو باندې رحم وکړئ او په لوی لاس یې د هلاکت په کنده کښې سر په ځړه مه ورګوزاروئ.

## توضیحات

۱_ د "نَاصِيَة" کلمه د سر وړاندېنۍ برخې ته وضعه شوې ده کومه چې د ککرۍ ځخه پیل کېږي او په تندي باندې ختمېږي، همدارنګه د ذکرې شوې برخې ویښتان هم په همدې نامه باندې یادېږي[1].

ځرنګه چې په عربي محاوره کښې د ذکرې شوې برخې نیول د ذلت او کامل اطاعت ځخه نمایندګي کوي لکه چې وايي "نَاصِيَةُ فُلَانٍ فِيْ يَدِ فُلَانٍ"[2] د فلاني ناصیه د فلان په لاس کښې ده، یعنې په کامله توګه د هغه اطاعت کوي او د هغه د ارادې ځخه خپل ځان په هیڅ صورت نه شي بچ کولی؛ نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: په ځمکه باندې حرکت کوونکی (هر شی چې وي) زما رب ﷻ ته په کامله توګه اطاعت کوي او د هغه ﷻ د ارادې ځخه په هیڅ صورت باندې خپل ځان نه شي بچ کولی.

## یادونه

۲_ مفسرینو کرامو د دې جملې: ﴿ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ لاندې دوه تفسیرونه کړي دي[3]:

الف: یقینًا زما رب ﷻ په مستقیمه لاره دی، یعنې په حقه باندې کلک دی او په هیڅا باندې تېری او ظلم نه کوي.

---

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۵۰

(۲) تفسیر الطبري ج۱۲ ص۶۰

(۳) زاد المسیر ج۴ ص۹۵، تفسیر القرطبي ج۹ ص۵۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب بې شکه زما رب ﷻ په سمه لاره باندې څارونکی دی او په لاره باندې د تېرېدونکو ترصد (څارنه) کوي چې څوک پرې برابر روان دی او څوک ترې انحراف کوي. لکه چې فرمايي: ﴿ إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلۡمِرۡصَادِ ﴾ [الفجر:۱۴] يعنې يقيناً ستا رب (ای پيغمبره!) د څارنې په ځای کښې دی (چې د ټولو خلکو ترصد او څارنه کوي).

﴿ وَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا هُودٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَنَجَّيۡنَٰهُم مِّنۡ عَذَابٍ غَلِيظٖ ﴿٥٨﴾ ﴾

[۵۸] او هر کله چې زمونږ (د عذاب) امر راغی (ور ورسېد) نو مونږ د خپله پلوه په لوی رحمت سره هود ﷺ ته او هغو کسانو ته نجات ورکړ کومو چې د ده ﷺ سره ايمان راوړی وه، او (بالآخره) دوی ته مو د زيګ (سخت) عذاب څخه نجات ورکړ (او عاديان مو پرې مبتلاء کړه).

## د مطلب خلاصه او توضيحات

۱_ خينو علماوو کرامو ليکلي دي چې د هود ﷺ سره څلورو زرو (۴۰۰۰) او يا درېوو زرو (۳۰۰۰) کسانو (مؤمنانو) نجات مونده کړ[1] او نور ټول په سخت عذاب باندې هلاک کړی شوه.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي: په دې کښې څه حکمت دی چې په ذکر شوي ايت شريف کښې الله ﷻ د ﴿ نَجَّيۡنَا ﴾ جمله دوه ځله نازله کړې ده؟

مونږ وايو چې:

الف: په تکراري نزول کښې دې ته اشاره ده چې هود ﷺ او د ده ملګري صرف د الله ﷻ په رحمت سره د نجات خاوندان شوه، که نه نو په عاديانو باندې دومره لوی عذاب نازل شوی وه چې د الله ﷻ د رحمت څخه په غير ترې هيڅا نجات نه شو موندلی.

نو په اول نجات کښې د رحمت عظمت ته اشاره ده او په دوهم نجات کښې د عذاب غلظت ته اشاره ده[2].

ب: په لومړنی جمله کښې د دنياوي عذاب څخه نجات مطلب دی او په دوهمه جمله کښې د آخرت د عذاب څخه نجات مراد دی.

مونږ ته همدغه دوهم جواب په زړه پورې ښکاري ځکه چې په راتلونکو ايتونو کښې د عاديانو دنياوي او اخروي دواړو عذابونو ته اشاره ده نو مناسبه دا ده چې د هود ﷺ او د ده د ملګرو نجات ته هم د دواړو دارينو د عذاب څخه اشاره وشي.

---

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۸۵

(۲) حاشيه الشيخ زاده علی تفسير البيضاوي ج۳ ص۵۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## عاديان په کوم ډول عذاب باندې هلاک شوه؟

۳ـ الله ﷻ عاديان په تېز باد باندې هلاک کړه چې اوه شپې او اته ورځې ورباندې وچلېد او داسې اوږده-اوږده يې وغورځول تا به ويل چې د خرما غټ-غټ ډډونه د بېخه وېستلی شوي پراته دي. خو په عين حال کښې دغه باد په هود ﷺ او د ده په ملګرو باندې ډېر پوست او نرم چلېده.

د دې باد لږ څه اوږد بحث په [الحاقة: ۶_۸] ايتونو کښې راروان دی، إن شاء الله ﷻ.

﴿ وَتِلْكَ عَادٌ جَحَدُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْاْ رُسُلَهُۥ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٥٩﴾ وَأُتْبِعُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا لَعْنَةً وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ أَلَآ إِنَّ عَادًا كَفَرُواْ رَبَّهُمْ ۗ أَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُودٍ ﴿٦٠﴾ ﴾

[۵۹] او دغه د عاد قبيله وه چې د خپل رب ﷻ د ايتونو څخه يې انکار کړی وه او (هم) يې د خپل رب ﷻ د پيغمبرانو ﷺ څخه نافرماني کړې وه او (بالآخره) د هر متکبر (او) سرکش پيروي يې کړې وه.

[۶۰] او (دا د عاد قبيله وه چې) په دغې دنيا کښې په دوی پسې (الهي) لعنت پېرو کړی شو (چې هم پرې عذاب مسلط شو او هم به ورته مؤمنان ښېراوې کوي) او د قيامت په ورځ هم (په دوی پورې الهي لعنت ونښلولی شو چې هيڅکله به ترې جدا نه شي).

خبردار! يقينًا د عاد قبيله په خپل رب ﷻ باندې کافره شوې وه (نو څکه د ذکرې شوې سزا سره مخامخه شوه).

خبردار! د عاد قبيلې ته دې (د الله ﷻ د رحمت څخه لرېوالی وي) لرېوالی، چې د هود ﷺ قوم دی (يعنې دوی ته لرېوالی وغواړئ).

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د عاديانو په قيصه باندې يوې تبصرې ته اشاره شوې ده چې:

يعنې ای پيغمبره! د عاديانو د قيصې په پای کښې په خپل امت باندې د همدوی په باره کښې لاندې تبصره قرائت کړه ترڅو دوی د ذکرې شوې قيصې عبرتونو ته ښه متوجه شي:

۱ـ دغه هلاکه شوې قبيله هغه عاديان وه چې په خپل قوت باندې وغولېده او لاندې کارونه يې وکړه:

الف: د خپل رب ﷻ د ايتونو څخه يې په کلي توګه انکار وکړ.

ب: د خپل رب ﷻ د رسولانو څخه يې نافرماني وکړه. يا په بل عبارت: هود ﷺ دوی ته هغه ديني اصول او قوانين ور وړه کوم چې ټولو رسولانو خپلو-خپلو امتونو ته ور وړي وه، مګر دوی دغه اتفاقي قوانين ونه منل ته به وايې چې د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام څخه يې نافرماني کړې وه.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: بالمقابل عاديانو د هر سرکشه اوهر متکبر پيروي وکړه کومو به چې دوی د پيغمبرانو علیهم السلام نافرمانۍ ته هڅول (لکه د دوی مشران او شيطانان).

۲_ نو نتيجه دا راوختله چې:

الف: په دنيا کښې په شرموونکي عذاب باندې هلاک کړی شوه او د الله ﷻ لعنت وروسې کړی شوه چې کله دوی يادېږي نو لعنت ورباندې ويل کېږي او هم څوک چې د دوی په قدم باندې قدم ږدي نو دوی پرې د الله ﷻ د رحمت څخه لا لرې کېږي.

ب: همدارنګه د قيامت په ورځ کښې هم الهي لعنت دوی پسې کړی شوی دی چې دوزخ ته به يې داخل کړي او هلته به د همېشه دپاره د الله ﷻ د رحمت څخه لرې وي.

۳_ ای پيغمبره! خپل امت ته لاندې اعلانونه وکړه:

الف: خبردار! عاديانو بل جنايت نه وه کړی چې د الله ﷻ د رحمت څخه په دنيا او آخرت کښې لرې کړی شوي دي د هغوی جنايت همدا وه چې په خپل رب ﷻ باندې کافر شوي وه، نو په کار دي چې په هره زمانه کښې د دغسې کفرياتو مرتکبين په خپلو ځانونو باندې وډار شي.

ب: خبردار! عاديانو ته دې د الله ﷻ د رحمت څخه لرېوالی وي، البته هغه عاديان چې د هود ﷺ قوم وه، او د قيصې څه نا څه برخې يې وړاندې شرحه شوې دي. يا په بل عبارت: ای پيغمبره! خلک خبر کړه چې په عاديانو باندې د الهي لعنت نزول وغواړي او دا کلمات ولولي چې: ﴿ أَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُودٍ ﴾ يعنې ای الله! په هغو عاديانو باندې خپل لعنت ورنازل کړه او د خپل رحمت څخه يې لرې کړه کوم چې د هود ﷺ قوم وه.

## توضيحات

۱_ که څوک وايي چې عاديانو خو د يوه پيغمبر -چې دوی ته ورلېږلی شوی وه- نافرماني کړې وه حال دا چې الله ﷻ د دوی څخه په ﴿ وَعَصَوْاْ رُسُلَهُ ﴾ سره حکايت وکړ چې: دوی د ډېرو پيغمبرانو څخه عصيان کړی وه؟

مونږ وايو چې:

الف: د يوه پيغمبر نافرماني کول داسې دي لکه د ټولو پيغمبرانو علیهم السلام څخه چې څوک نافرماني وکړي ځکه چې د ټولو پيغمبرانو شريعتونه په عقائدو کښې او په ديني اصولو کښې يو برابر دي، د همدې کبله مونږ هم مکلف ياستو چې په ټولو پيغمبرانو باندې ايمان راوړو.

ب: عاديان دومره عناد نيولي وه چې بالکل د جمله پيغمبرانو څخه منکران شوه چې نه پخوا کوم پيغمبر تېر شوی دی او نه به وروسته راشي.

## عنيد څه معنی؟

۳_ ﴿ عَنِيد ﴾ کلمه د هغه چا دپاره وضعه شوې ده چې سرکشي يې د اندازې څخه زياته شي. يا

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په بل عبارت ﴿ عَنِيد ﴾ د هغه چا لقب دی چې د بهرانډلو سره سره حق د پښو لاندې کوي.[۱]

په دې مقام کښې د هر متکبر عنید څخه دعادیانو مشران او شیطانان مطلب دي، نو د معنی حاصل يې داسې راووځي چې هغوی د پیغمبرانو څخه عصيان وکړ او د سرکشانو او شیطانانو اطاعت يې خپل کړ

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې که څه هم د صالح ﷺ قوم (ثمودیان) هم د عاد په نامه یادېږي مګر په دې مقام کښې ټول بحث په هغه عاد کښې راروان دی کوم چې د هود ﷺ قوم وه، او دا احتمال نه وه چې څوک د ﴿ أَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ ﴾ څخه د صالح د قوم مراد کړي حتی چې د احتمال د مخنیوي دپاره دې د ﴿ قَوْمِ هُودٍ ﴾ کلمات نازل شوي وی؛ نو پوښتنه دا ده چې د کوم مطلب په بنیاد د ﴿ أَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ ﴾ د کلماتو سره د ﴿ قَوْمِ هُودٍ ﴾ کلمات په نزول کښې پیوسته کړی شوي دي؟

مونږ وايو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې دغه کلمات په دې مقام کښې د عادیانو د تشخیص دپاره نه دي نازل شوي چې ذکر شوی اعتراض وارد شي، بلکې مؤمنانو ته توصیه شوې ده چې د خپلو ښېراوو په وخت کښې د ﴿ بُعْدًا لِّعَادٍ ﴾ د کلماتو سره د ﴿ قَوْمِ هُودٍ ﴾ کلمات پیوسته کړئ او عادیانو ته د ثمودیانو څخه تشخیص ورکړئ ترڅو دوی ښه رسوا او شرمنده شي

﴿ وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ وَٱسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَٱسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ ۚ إِنَّ رَبِّى قَرِيبٌ مُّجِيبٌ ﴿٦١﴾ قَالُوا۟ يَٰصَٰلِحُ قَدْ كُنتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَٰذَآ ۖ أَتَنْهَىٰنَآ أَن نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا وَإِنَّنَا لَفِى شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٦٢﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّى وَءَاتَىٰنِى مِنْهُ رَحْمَةً فَمَن يَنصُرُنِى مِنَ ٱللَّهِ إِنْ عَصَيْتُهُۥ ۖ فَمَا تَزِيدُونَنِى غَيْرَ تَخْسِيرٍ ﴿٦٣﴾ وَيَٰقَوْمِ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمْ ءَايَةً فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِىٓ أَرْضِ ٱللَّهِ ۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ قَرِيبٌ ﴿٦٤﴾ فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوا۟ فِى دَارِكُمْ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ ۖ ذَٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ ﴿٦٥﴾ ﴾

[۶۱] او مونږ ثمودیانو ته د دوی (نسبي) ورور (خواخوږی) صالح ﷺ استولی وه.

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۸۷، معردات الراغب ص۳۶۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(نو) صالح (دوی مخاطب کړه او) ویې ویلې چې اې زما قومه! تاسو (یوازې) د الله ﷻ عبادت وکړئ (ځکه چې) تاسو ته د همده ﷻ څخه په غیر (بل په حقه) معبود هیڅ نشته

همده ﷻ د ځمکې څخه پیدا کړي یاست او په همدې ځمکه کښې یې اباد کړي یاست (پنه اوږده عمرونه یې درکړي دي) نو د همده ﷻ څخه (د پخوانیو شرکیاتو) مغفرت وغواړئ (او ایمان پرې راوړئ) بیا همده ﷻ ته (په طاعتونو سره) رجوع وکړئ

یقینًا زما رب (چې ستاسو رب هم دی په علم او قدرت سره) نژدې دی (او د سوالونو) قبلوونکی دی.

[۶۲] ثمودیانو (جواب ورکړ او) ویې ویلې چې اې صالحه! یقینًا ته په مونږ کښې د دغې خبرې (دعوت إلى التوحيد) څخه وړاندې ډېر د امید سړی وې (زمونږ خیال وه چې ته به آخر هم زمونږ تائید وکړې).

ایا ته مونږ د هغه شي (بوتانو) د عبادت څخه منعه کوې د کومو عبادت چې به زمونږ پلرونو هم کاوه؟ (ایا تا زمونږ امیدونه دخاورو سره برابر کړه؟).

او یقینًا مونږ د هغه شي (توحید) څخه په وار خطا کوونکي شک کښې یاستو چې ته مونږ هغه ته ور دعوت کوې.

[۶۳] صالح ﷺ وویلې چې: اې زما قومه! ماته د دې (پوښتنې) خبر (جواب) راکړئ چې که زه د خپل رب ﷻ دپلوه په څرګند دلیل (لاره) باندې یم او (که ماته) یې د خپلې جانبه رحمت (نبوت) هم راکړی وي، نو هغه څوک دی چې ما سره د الله ﷻ (د عذاب) څخه کومک وکړي (او نجات راکړي، البته بالفرض المحال) که زه ترې عصیان وکړم (او په دعوت باندې پښې کېږدم)؟ (هیڅوک نشته).

نو (معلومه شوه چې) تاسو (په خپلې غوښتنې سره) ماته په زیان کښې د اچولو څخه په غیر نوره څه ګټه نه رسوئ (نو زه به هیڅکله د خپل دعوت څخه لاس وانخلم).

[۶۴] او (دا یې هم ورته وویلې چې) اې زما قومه! دغه اوښه په داسې حال کښې چې ستاسو دپاره (زما په نبوت باندې) یوه معجزه (دلیل) ده. د الله ﷻ اوښه ده (د هیچا ملکیت نه ده) نو تاسو یې خوشې کړئ چې د الله ﷻ په ځمکه کښې خوراک وکړي (وڅري) او تاسو دې اوښې ته هیڅ بدي مه رسوئ (که نه) نو (د الله ﷻ د پلوه به) مو نژدې عذاب ونیسي.

[۶۵] نو ثمودیانو دا اوښه (اول) زخمي کړه (پښه یې ترې قطعه کړه او بیا یې نحره کړه). نو صالح ﷺ دوی ته وویلې چې په خپل کور (وطن او ښار) کښې (فقط) درې ورځې استفاده وکړئ (چې بیا درباندې عذاب درنازلېږي) دغه داسې وعده ده چې دروغ کړی شوې نه ده (دروغ پکښې نشته).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د کفارو د توبیخ دپاره د صالح ﷺ او د ده د قوم (ثمودیانو) قیصه پیل شوې ده چې حاصل یې داسې راوځي

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ثمودیانو ته د دوی د جملې څخه یوه باعزته سړي (صالح ﷺ) ته وحې وکړه او د پیغمبر په صفت باندې مو ورواستاوه چې په دوی باندې ډېر زړه سوونکی او مهربان وه، نو خپل دعوت یې داسې پیل کړ:

۱ـ ای زما قومه! په تاسو باندې زما زړه سوزي، که په همدغه حالت باندې پاتې شئ نو په دنیا او آخرت کښې به د کړاوونو سره مخامخ شئ، د همدې کبله زه تاسو لاندې ټکو ته متوجه کوم:

الف: یوازې د یو الله ﷻ عبادت وکړئ اوشریک ورسره مه دروئ ځکه چې په واقعې او یقیني توګه تاسو د الله ﷻ څخه په غیر بل په حقه معبود نه لرئ، بلکې خاص د همده ﷻ د عبادت څخه په غیر ستاسو ټول عبادتونه ضائع او معبودان مو باطل دي.

ب: ځکه یوازې الله ﷻ ستاسو په حقه معبود دی او بس چې تاسو یې د ځمکې څخه پیدا کړي یاست چې د یو پلوه یې ستاسو اصل (آدم ﷺ) د خاورو څخه جوړ کړی دی او د بله پلوه ستاسو هر یو کس د نطفې څخه جوړ دی او هرې یوې نطفې ته یې د ځمکې څخه وده (نشأ او نمو) ورکړې ده.

ربښتیا ووایاست! ایا ستاسو باطل معبودان دا کار کولی شي او یا یې کړی دی؟

ج: همده ﷻ د پیدا کولو څخه وروسته تاسو ته عمرونه درکړي او ځمکه یې درباندې اباده کړې ده. یا په بل عبارت: الله ﷻ لکه څنګه چې ستاسو پیدا کوونکی دی همدارنګه تاسو ته بقاء (عمر) درکوونکی هم دی. ایا ستاسو معبودان تاسو ته عمر درکولی شي؟

د: نو ای زما قومه! د الله ﷻ د نعمتونو شکریه وکړئ او ایمان پرې راوړئ، او هم د خپلو پخوانیو کفریاتو څخه ترې مغفرت وغواړئ او په اطاعت سره ورته رجوع وکړئ او بالآخره د بوتانو د عبادت څخه صرف نظر شئ:

هـ: ای زما قومه! په یقیني توګه زما رب ﷻ په علم او قدرت سره هرچا ته نژدې دی او د سوال کوونکو دپاره د سوالونو قبلوونکی دی. که تاسو زما ذکر شوې نصیحتونه قبول کړه نو امید دی چې زما رب ﷻ د پخوانیو ټولو ګناهونو څخه درتېر شي.

## د ثمودیانو جواب

۲ـ ثمودیانو د خپل خواخوږي پیغمبر (صالح ﷺ) دعوت رد کړ او ويې ويلې چې:

الف: ای صالحه! ته خو په مونږ کښې ډېر د امید سړی وې او د نن څخه وړاندې مونږ تاته ډېر امیدونه درلوده چې ته به خپل قوم ته خدمتونه وکړې او د پخوانیو پلرونو یاد به بیا را تازه کړې.

یا په بل عبارت: که څه هم د نن څخه وړاندې هم تا زمونږ د بوتانو سره څه علاقه نه درلوده خو زمونږ امید وه چې د وختونو په تېرېدلو سره به ته خپل دریخ بدل کړې او زمونږ کرنلارې ته به راواوړې.

ب: خو افسوس په تا باندې څه چل وشو چې زمونږ ارزوګانې دې د خاورو سره برابرې کړې او زمونږ د کرنلارې په تقبیح او رد کولو باندې دې شروع وکړه.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای صالحه! ایا دا کار د کولو دی؟ ایا ته مونږ د هغو بوتانو د عبادت څخه منعه کوې د کومو عبادت چې زمونږ پلرونو کړی دی؟ یقینًا چې ستا د تشخیص په هکله مونږ د ډېر خطا شوي یاستو.

ج: نو د همدې کبله مونږ ستا دعوت په سخت اضطراب کښې اچولي یاستو او کوم شی (د الله ﷻ توحید) ته چې ته مونږ دعوتوې هغه مونږ ته په یقین سره باطل ښکاري خو ستا د خوشالی دپاره وایو چې مونږ پکښې ښه قوي شک لرو.

تا ته په کار دي چې مونږ دې ته مجبور نه کړې چې په ډاګه خپله عقیده اعلانه کړو چې ستا ټګلاره باطله ده، او ستا زیات توهین وشي.

## د ثمودیانو د جواب رد

۳ـ صالح ﷺ یو ځل بیا خپل دعوت تکرار کړ او د ثمودیانو جواب یې رد کړ چې:

الف: ای زما قومه! زه خپل دعوت نه شم پرېښودلی او دا ځکه چې زه د الله ﷻ د پلوه په همدغه دعوت باندې مکلف یم، که بالفرض زه د خپل رب ﷻ څخه عصیان وکړم او دعوت ته شا کړم، نو د خپل رب ﷻ څخه ډارېږم چې په لوی عذاب به مې اخته کړي.

نو ای زما قومه! په همدغه بنیاد باندې زه ستاسو څخه دا پوښتنه کوم چې که زه د خپل رب ﷻ څخه په واضحه لاره باندې یم او په قوي دلایلو سره راته همدغه لاره په اثبات رسېدلې وي او بالآخره که ماته د خپل رب ﷻ د پلوه رحمت (نبوت) هم راکړی شوی وي او په دعوت باندې مامور کړی شوی هم یم خو د دې سره‌سره زه د خپل رب ﷻ څخه عصیان وکړم (دعوت د پښو لاندې کړم) نو ما به د الله ﷻ د عذابه څوک خلاص کړي او د الله ﷻ د عذاب مخنیوی به راڅخه څوک وکړي؟

ایا تاسو دا کار کولی شئ؟ ایا ستاسو بوتان د عذاب د مخنیوي توان لري؟

ب: نو پوره څرګنده شوه چې ستاسو د خواهشاتو د قبول په وخت کښې به تاسو ماته د خسران او تاوان څخه په غیر نوره څه ګټه ونه شئ رسولی، نو د همدې کبله زه خپل دعوت ته ادامه ورکوم او دا دی یو ځل بیا تاسو د الله ﷻ توحید ته رابولم.

ج: ای زما قومه! څه وجه ده چې تاسو زما د نبوت څخه په شک او تردد کښې یاست ما خو د خپل نبوت د اثبات دپاره ستاسو فرمایشي معجزه هم راوړه چې په خارق العاده توګه د وچې کلکې ډبرې څخه اوښه راووتله، دستي لنګه شوه او تقریبًا د خپل ځان په څېر ښائسته مایه جونګی یې هم وزېږوله؛ ایا تاسو اوس هم زما د نبوت څخه په اضطراب او شک کښې یاست؟

د: ای زما قومه! دغه دمعجزې اوښه ده، دا د دې دپاره ماته راکړه شوې ده چې ستاسو اضطراب ورک شي او په ایمان باندې مشرف شئ؛

که تاسو د همدغې اوښې څخه د ایمان راوړلو استفاده نه کوئ او په خپل راکړی شوي عهد باندې نه درېږئ نو لږ تر لږه دومره خو وکړئ چې دغې اوښې ته ضرر مه رسوئ او پرېږدئ چې د الله ﷻ په ځمکه باندې وګرځي او هغه واښه وخوري کوم چې الله ﷻ راشنه کړي دي او ستاسو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د جملې څخه د هیڅا ملکیت نه دی.

هـ: ای زما قومه! که تاسو زما دغه نصیحت هم قبول نه کړئ او ذکر شوې د معجزې اوښې ته څه ضرر ورسوئ نو په ډېر نژدې وخت کښې به د الهي عذاب سره مخامخ شئ او بیا به ترې د نجات هیڅ ذریعه موندلې نه کړئ.

## ثمودیانو د اوښې سره څه وکړه؟

۴_ د صالح ﷺ د دعوت نتیجه دا شوه چې:

الف: ثمودیانو د صالح ﷺ د اوښې په هکله وروستنی دعوت هم قبول نه کړ او اوښه یې زخمي او بیا قتله کړه.

ب: نو صالح ﷺ دوی ته اطلاع ورکړه چې په دنیا کښې ستاسو ټول عمر فقط درې ورځې پاتې دی په همدغو درې ورځو کښې د دنیا څخه استفاده وکړئ او بس. دا داسې وعده ده چې په دې کښې دروغ نشته دا به ضرور رښتیا کېږي.

## توضیحات

۱_ د ﴿ وَٱسۡتَعۡمَرَكُمۡ فِيهَا ﴾ په جمله کښې د "اسْتَعْمَرَ" کلمې د اشتقاق دپاره لاندې دوه احتماله شته دي:

الف: چې دغه کلمه اصلا د "عِمَارَة" څخه اشتقاقه شوې وي[1] او "عِمَارَة" خو د ابادولو دپاره وضعه شوې دی نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې:

الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې په ځمکه کښې اباد کړئ او د ودانولو لارې چارې یې دروښودلې.

ب: چې د "عُمْر" _لکه "شُغُل"_ څخه یې اصلا اشتقاق موندلی وي[2] نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو ته یې په ځمکه کښې ښه اوږده عمرونه درکړي دي او تر ډېرو کلونو پورې یې پکښې اوسولي یاست.

## "مُرِیب" څه معنی؟

۲_ په ﴿ وَإِنَّنَا لَفِي شَكّٖ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ مُرِيبٖ ﴾ کښې د ﴿ مُرِيبٖ ﴾ کلمه د "رَيْب" څخه اشتقاقه شوې ده چې د "شک" سره مرادفه ده او د ﴿ شَكّٖ ﴾ دپاره صفت هم واقع شوې ده، چې د شک په زیات قوت باندې دلالت کوي او مونږ ترې په اضطراب اچوونکي شک باندې تعبیر کوو، دا خکه چې مونږ _د الله ﷻ په توفیق_ د [النساء:۵۷] ایت لاندې لیکلي دي چې کله د یوه شي دپاره د همغه

(۱) مفردات الراغب ص۳۵۹
(۲) تفسیر الکشاف ج۲ ص۴۰۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي د لفظ څخه صفت جوړ کړی شي نو په زيات تاکيد او قوت باندې يې دلالت کوي نو حاصل يې داسې راځېږي چې:

ای صالحه! مونږ د هغه شي څخه په زيات اضطراب اچوونکي شک کښې واقع ياستو کوم ته چې ته مونږ دعوتوې، نو د دغه اضطراب اچوونکي دعوت څخه لاس واخله او نور مو په حرج کښې مه اچوه.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: د ﴿ فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيْرَ تَخْسِيرٍ ﴾ د معنی حاصل خو داسې راوځي چې: تاسو به ماته زيات نه کړئ مگر په تاوان کښې اچول. نو پوښتنه دا ده چې ايا دغه معنی دلته صحت لري؟ ځکه چې صالح ﷺ خو په خسران کښې واقع نه وه چې د دعوت څخه په لاس اخستلو باندې ورته خسران لا اضافه شي؟!

مونږ وايو چې: دلته زيادت د گټې اوفائدې معنی ورکوي[۱] او په گټه او فائدې باندې خو د زيادت اطلاق کېږي ځکه چې هره يوه گټه (ربحه) په رأس المال باندې زيادت دی. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: په دغه تقدير سره به تاسو ماته د تاواني جوړولو څخه په غير نوره گټه ونه رسوئ حال دا چې زه خپل ځان تاواني جوړول نه شم قبلولی.

## "عقر" څه معنی؟

۴_ په ﴿ فَعَقَرُوهَا ﴾ کښې د "عَقَرُوا" کلمه د "عَقْر" _لکه "ضَرْب"_ څخه اخستله شوې ده، په جاهلي عربانو کښې عادت وه چې کله به يې د يوه اوښ د نحرکولو (حلالولو) اراده وکړه نو په داسې حال کښې به يې د هغه يوه پښه قطعه کوله چې ولاړ به وه ترڅو د نحر (حلالولو) په وخت کښې ونه وتښتي، نو دوی دغه ظالمانه عمل ته د "عَقْر" لقب ورکړی وه[۲].

لنډه دا چې ثموديانو هم کله چې د معجزې د اوښې د نحر (حلالولو) اراده وکړه نو د هر څه څخه وړاندې يې د هغې يوه پښه په ولاړه باندې پرې کړه او بيا يې وروباندې د نحر عمل اجراء کړ، مگر د اوښې جونگې ترې وتښتېدله او بېرته په هغې ډبرې باندې ننوتله د کومې څخه يې چې مور راوتلې وه.

## يادونه

۵_ مونږ _لله الحمد_ د [الأعراف:۷۷] ايت لاندې د صالح ﷺ د اعجازي اوښې په باره کښې څه معلومات ليکلي دي او د همدغې قيصې خينو مهمو نکاتو ته مو اشاره کړې ده، که څوک هلته بوخل مراجعه وکړي نو په گټه به يې تمامه شي.

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۹۰
(۲) لسان العرب ج۴ ص۵۹۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ فَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا نَجَّيْنَا صَٰلِحًا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَمِنْ خِزْىِ يَوْمِئِذٍ ۗ
إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلْقَوِىُّ ٱلْعَزِيزُ ﴿٦٦﴾ وَأَخَذَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ ٱلصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا۟ فِى دِيَٰرِهِمْ
جَٰثِمِينَ ﴿٦٧﴾ كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا۟ فِيهَآ ۗ أَلَآ إِنَّ ثَمُودَا۟ كَفَرُوا۟ رَبَّهُمْ ۗ أَلَا بُعْدًا لِّثَمُودَ ﴿٦٨﴾ ﴾

[۶۶] نو کله چې زمونږ (د عذاب) فرمان راغی (هغوی ته وروررسېد) نو مونږ د خپله جانبه په لوی رحمت سره صالح ؑ ته نجات ورکړ او (هم مو) هغه کسانو ته (نجات ورکړ) کومو چې د ده ؑ سره ایمان راوړی وه.

او (هم مو دوی ټول) د همدغې ورځې د شرمندګۍ (رسوایی) څخه (بچ کړه، ځکه چې) یقیناً ستا رب ﷻ همدی قوتناک (او) د کلکې ارادې خاوند دی.

[۶۷] او هغه کسان یوې (تېزې) چیغې (کړیکې) ونیول کومو چې ظلم کړی وه (او کفر یې اختیار کړی وه)، نو دوی په خپلو کورونو کښې (مړه شوي) په زنګنونو (مخونو) باندې لوېدلي وګرځېدل.

[۶۸] (داسې بې حرکته پرېوتل) لکه چې دوی په خپلو کورونو (او خپلو ښارونو) کښې نه وي اوسېدلي (او د خوشالۍ ژوند یې پکښې نه وي تېر کړی).

خبردار! (د عذاب د نزول وجهه همدا ده چې) یقیناً ثمودیانو په خپل رب ﷻ باندې کفر اختیار کړی وه (او) خبردار! ثمودیانو ته دې (د الله ﷻ د رحمت څخه لرې وي) لرېوالی.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د ثمودیانو انجام ته اشاره شوې ده چې په څه باندې تمام شو نو حاصل یې داسې راوځي:

ای پیغمبره! کله چې هغه درې ورځې پوره شوې کومې چې صالح ؑ ثمودیانو ته ښودلې وې (چې د دغو ورځو په تېرېدلو سره سم به ستاسو بېخ او بنیاد ووځي) او زمونږ د عذاب فرمان ورغی (ور ورسېد) نو لاندې چال چلند مو ورسره وکړ:

۱ـ د هرڅه څخه وړاندې مو صالح ؑ او هغو کسانو ته چې په ده باندې یې ایمان راوړی وه د مهلک عذاب څخه نجات ورکړ او هم مو د همدغې ورځې د رسوایي اوشرمندګۍ څخه په خپل رحمت سره بچ کړه.

او دا ځکه چې ای پیغمبره! ستا رب ﷻ هم پوره توانا او قوتناک دی او هرڅه ورته اسان دي او هم د کلکې ارادې خاوند دی چې هیڅوک یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي جوړېدلی.

۲ـ په ظالمانو (ثمودیانو) باندې مهلک عذاب ورنازل شو چې په ناڅاپه توګه هیبتناک اواز ونیول او په ټولو کښې یې زړونه وچول.

که څه هم ثمودیان ډېر متکبر خلک وه مګر کمزوري یې دومره ډېره وه چې د یوې چیغې زور یې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ونه شو درلودلی بلکې د همدغې یوې چیغې په اثر ټول په خپلو کورونو کښې مړه شوي په مخونو باندې پرېوتل، او خپل کورونه ترې داسې خالي شوه تا به ویل چې دلته دوی هیڅکله نه دي اوسېدلي او هغه دبدبه او شور ماشور یې نه دی تېر کړی په کوم شور او زوږ باندې به چې دوی ګرځېده راګرځېده او په بې غمۍ باندې به یې ژوند کاوه.

۳ـ ای پیغمبره! خلکو ته دغه دوه نکتې اعلانې کړه:

الف. خبردار! د ثمودیانو د پوښنا کولو بله موجبه نه وه فقط همدا یې موجبه وه چې په خپل رب ﷻ باندې کافر شوي وه، نو په کار دي چې ټول کفار ترې عبرت واخلي.

ب: خبردار! ثمودیانو ته د الله ﷻ د رحمت څخه په آخرت کښې هم لرېوالی دی لکه څنګه چې په دنیا کښې د الله ﷻ په لعنت باندې اخته شوه.

نو هرڅوک چې په خپل رب ﷻ باندې کفر غوره کوي په هغوی ټولو باندې به همدغـــې لعنت وراستولی کېږي.

## توضیحات

۱ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۷۸] ایت لاندې د دغه ایت ـچې اوس د بحث لاندې دیـ او د هغه ایت ترمنځ تطبیق لیکلی دی په کوم کښې چې په ثمودیانو باندې نازل شوي عذاب ته د ﴿ٱلرَّجۡفَةُ﴾ لقب ورکړی شوی دی، نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

۲ـ همدارنګه په [الأعراف:۹۲] ایت کښې دغه جمله ﴿كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَا﴾ ښه پوره شرحه شوې ده چې بیا شرحه کولو ته یې ضرورت نه وینو.

۳ـ که څوک غواړي چې په دې مقام کښې د ثمودیانو مفصله او مسلسله قیصه ولولي نو څینو اوږدو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[1]، مونږ د اوږدوالي د کبله دلته رانقله نه کړه.

﴿وَلَقَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُنَآ إِبۡرَٰهِيمَ بِٱلۡبُشۡرَىٰ قَالُواْ سَلَٰمٗاۖ قَالَ سَلَٰمٞۖ فَمَا لَبِثَ أَن جَآءَ
بِعِجۡلٍ حَنِيذٖ ۝٦٩ فَلَمَّا رَءَآ أَيۡدِيَهُمۡ لَا تَصِلُ إِلَيۡهِ نَكِرَهُمۡ وَأَوۡجَسَ مِنۡهُمۡ خِيفَةٗۚ قَالُواْ لَا
تَخَفۡ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمِ لُوطٖ ۝٧٠ وَٱمۡرَأَتُهُۥ قَآئِمَةٞ فَضَحِكَتۡ فَبَشَّرۡنَٰهَا بِإِسۡحَٰقَ وَمِن
وَرَآءِ إِسۡحَٰقَ يَعۡقُوبَ ۝٧١ قَالَتۡ يَٰوَيۡلَتَىٰٓ ءَأَلِدُ وَأَنَا۠ عَجُوزٞ وَهَٰذَا بَعۡلِي شَيۡخًاۖ إِنَّ هَٰذَا
لَشَيۡءٌ عَجِيبٞ ۝٧٢ قَالُوٓاْ أَتَعۡجَبِينَ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۖ رَحۡمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِۚ
إِنَّهُۥ حَمِيدٞ مَّجِيدٞ ۝٧٣ فَلَمَّا ذَهَبَ عَنۡ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلرَّوۡعُ وَجَآءَتۡهُ ٱلۡبُشۡرَىٰ يُجَٰدِلُنَا فِي قَوۡمِ

Downloaded from: bawarketabtoon.com

[1] تفسیر الطبري ج۱۲ ص۶۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لُوطٍ ﴿٧٤﴾ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّٰهٌ مُّنِيبٌ ﴿٧٥﴾ يَـٰٓإِبْرَٰهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هَـٰذَآ إِنَّهُۥ قَدْ جَآءَ أَمْرُ
رَبِّكَ وَإِنَّهُمْ ءَاتِيهِمْ عَذَابٌ غَيْرُ مَرْدُودٍ ﴿٧٦﴾

[۶۹] او یقینًا زمونږ لیږلی شوي (ملائک) ابراهیم ﷺ ته (د ماشوم) په بشارت سره ورغله. دوی (د اول ملاقات په وخت کښې) وویلې چې (په تا باندې دې سلام وي) سلام. ابراهیم ﷺ (جواب ورکړ چې: زما له پلوه دې هم په تاسو باندې) سلام وي.
نو ابراهیم ﷺ په دې کښې (ډېر) وخت تېر نه کړ چې وریت کړی شوی (کباب کړی شوی) خوسکی یې راووړ (او په وړاندې یې ورته کېښود چې دا نوش جان کړئ مګر هغوی ترې هیڅ څکه ونه کړه).
[۷۰] نو کله چې ابراهیم ﷺ د دوی لاسونه ولیده چې وریت کړی شوي خوسکي ته نه وررسېږي (نه وروړل کېږي) نو په دوی باندې یې (د پخواني تصور په خلاف) نوی تصور وکړ (چې دا خو ملائک دي ځکه چې خوراک نه کوي) او د دوی څخه یې (په خپل زړه کښې) ډار حس کړ (چې دوی به د څه شي دپاره راغلي وي؟).
نو ملائکو (ډاډ ورکړ او ورته یې) وویلې چې: مه ډارېږه یقینًا مونږ د لوط ﷺ د قوم (د هلاکت) دپاره استولی شوي یاستو.
[۷۱] او (په دغه وخت کښې) د ابراهیم ﷺ مادینه (ساره رضي الله عنها متحیره) ولاړه وه نو (د ملائکو په وینا باندې) خوشاله شوه (او د دې ډار هم د منځه لاړ).
خو مونږ (د خپلو پرښتو په ذریعه د زیاتې خوشالۍ دپاره) نوموړې ته په اسحاق ﷺ باندې زیری ورکړ (چې دهمدې د ګېډې څخه به تولد شي) او د اسحق ﷺ څخه وروسته په یعقوب ﷺ باندې (مو هم بشارت ورکړ چې دا به په خپل ژوند کښې د لمسي نیا هم جوړه شي).
[۷۲] نوموړې وویلې چې: ای زما تعجبه! (راشه همدا دې وخت دی) ایا زه به (ماشوم) وزېږوم، حال دا چې زه زړه بوډۍ یم او دغه مې خاوند دی چې دی هم بوډا (ګرخېدلی دی). یقینًا چې دغه (د ماشوم زېږېدنه) عجیبه شی دی.
[۷۳] ملائکو (ورته) وویلې چې ایا ته د الله ﷻ د کار (قدرت) څخه تعجب کوې (حال دا چې) په تاسو باندې (ای د نبوت د کور مېرمنې) د الله ﷻ رحمت او برکتونه دي (تا خو خوارق زښت ډېر لیدلي دي نو د دغه خارق العاده کار څخه ولې په تعجب کښې ولوېدلې)؟
یقینًا الله ﷻ په ښو صفاتو باندې ستایلی شوی دی (او) د مجد (لویې) خاوند دی.
[۷۴] نو کله چې د ابراهیم ﷺ څخه ډار لاړ (د ملائکو په مطلب باندې پوه شو) او بشارت هم ورته ورغی (ورسېد) نو د لوط ﷺ د قوم په هکله یې زمونږ (د پرښتو) سره مباحثه شروع کړه (چې په هغوی کښې خو لوط ﷺ دی هسې نه چې پکښې ووژلی شي).
[۷۵] یقینًا چې ابراهیم ﷺ حوصله ناک او (زړه سواندی او هم الله ﷻ ته) رجوع کوونکی وه.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷۶] زرموږ د پلوه مخاطب کړی شو چې: ای ابراهیمه! د دغې (مباحثې) څخه مخ واړوه ځکه چې یقیناً شان دا دی چې ستا د رب له فرمان راغلی (راورسېدلی) دی، او بې شکه د لوط علیه السلام قوم چې دی دوی ته داسې عذاب ورتلونکی (وروان) دی چې بېرته اړولی شوی نه دی (بېرته نه ګرځول کېږي)، (نو دسمې ابراهیم علیه السلام د مباحثې څخه صرف نظر شو)

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د ابراهیم علیه السلام (رئیس الموحدین) ځینو حالاتو ته اشاره شوې ده چې خلاصه یې داسې راوځي

۱ ای پیغمبره! کله چې موږ اراده وکړه چې د لوط علیه السلام قوم هلاک کړو نو د هغه څخه وړاندې مو ابراهیم علیه السلام ته څو پرښتې د یوه زوی (اسحق علیه السلام) په بشارت سره ورولېږلې چې هلته د رسېدلو ځینې کیفیتونه یې دا دي

الف پرښتو په ابراهیم علیه السلام باندې د "سلاماً" په کلمې سره سلام واچاوه او ابراهیم علیه السلام د "سلام" په کلمې سره ځواب ورکړ یا په بل عبارت هغوی وویل چې "السلام علیکم" او ابراهیم علیه السلام یې په ځواب کښې د "وعلیکم السلام" جمله قرائت کړه

البته په دغه وخت کښې ابراهیم علیه السلام په پرښتو باندې د انسانانو ګومان کړی وه او په دې باندې پوه نه وه چې دا پرښتې دي او د الله ﷻ د جانبه رالېږلی شوې دي

ب ابراهیم علیه السلام د خپل عادت په مطابق په جلتۍ سره دوی ته د وریت کړی شوي خوسکي غوښه وړاندې کړه چې مهرباني وکړئ دا نوش جان کړئ

ج مګر څرنګه چې پرښتې خوراک او څښاک نه کوي نو یوې پرښتې هم غوښې ته خپل لاس وړاندې نه کړ. نا نه وویل چې دوی ابراهیم علیه السلام ته په غصه دي او یا تربې خپه دي

د نو د همدې کبله ابراهیم علیه السلام دوی نااشنا سرې وګڼل او په زړه کښې یې څه ډار پرېووت چې که دا انسانان وي نو خوراک او څښاک ولې نه کوي؟ ځکه چې د کوم عداوت دپاره راغلي دي

او که پرښتې وي نو دا هم د تشویش خبره ده چې دوی به د خپلو خاوندو سره څه شی راوړی وي، نو ترڅو چې د دوی د راتللو غرض څرګند نه شي موږ به په تشویش کښې پاتې شو

هـ کله چې پرښتو د ابراهیم علیه السلام تشویش ولید نو خپل خاوونه یې ور وپېژاندل او د راتګ مطلب یې ورته څرګند کړ چې موږ پرښتې یاستو ځکه خوراک او څښاک نه کوو او د دې دپاره رالېږلی شوي یو چې ستا د سلام څخه وروسته د لوط علیه السلام قوم نه ورشو او تول یوپنا کړو. نو په همدې سبب ته زموږ څخه هم ډار مه وره او مه تشویش کوه

## د پرښتو او د بي بي سارې مباحثه

۲ـ د ابراهیم علیه السلام د تشویش څوندې بي بي ساره هم په یوه ګوښه کښې منتظره ولاړه وه چې اوس به څه کېږي او دا څوک دي چې دلته ناست دي او د څه دپاره راغلي دي؟

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو کله چې ذکرې شوې بي بي د پرښتو وضاحت واورېد نو د دې تشویش هم پورته شو او د خوشالۍ څخه مسکۍ شوه.

خو مونږ د دې (بي بي) خوشالي ښه وراضافه کړه او د ملکو په ذريعه مو هغې ته د يوه زوی (اسحق ﷺ) په تولد باندې او د ده د تولد څخه وروسته د يوه لمسي (يعقوب ﷺ) په زېږېدلو باندې بشارت او زېرى ورکړ چې: ته به د الله ﷻ په فضل سره اسحق وزېږوې او تر هغه به ژوندۍ اوسې ترڅو چې اسحق د زوی (يعقوب ﷺ) پلار جوړ شي او ته نيا جوړه شې.

بي بي ساره ووېلې چې: ايا زه به ماشوم وزېږوم حال دا چې زه زړه بوډۍ يم او دغه مې څښتن دی چې زما څخه زيات بوډا دی، يقيناً چې دغه کار خو ډېر عجيب دی؟!

پرښتو د ذکرې شوې بي بي تعجب بې ځايه وګاڼه او ورته يې ووېلې چې:

اول: ايا ته د الله ﷻ د کارونو څخه په تعجب کښې پرېوتلې؟ حال دا چې ستا ژوند د يوه پيغمبر ﷺ سره تېرېږي او ستا د وړاندې د الله ﷻ د قدرت ښې ښانې زښتې ډېرې تېرې شوې دي.

دوهم: که بل چا تعجب کړی وی نوعجيبه کار به نه وی، عجيبه خو دا ده چې په تاسو باندې د الله ﷻ رحمتونه او برکتونه روزمره ورېږي او ته د ماشوم د زېږېدلو څخه په تعجب کښې پرېوتلې، حال دا چې دغه ماشوم او وروسته بل راتلونکی ماشوم دوی دواړه د الله ﷻ د برکتونو مثالونه دي.

دريم: يقيناً الله ﷻ د ښو صفاتو خاوند او د لويۍ څښتن دی او هم په هر شي باندې قدرت لري.

## د پرښتو او ابراهيم ﷺ مباحثه

۳ـ نو کله چې د پرښتو په اظهاراتو سره د يو پلوه د ابراهيم ﷺ اطمنان حاصل شو او د بل پلوه د ماشوم په زيري باندې خوشاله شو نو بيا يې زمونږ د لېږلو شوو پرښتو سره مباحثه شروع کړه چې:

الف: تاسو خو د لوط ﷺ قوم د هلاکت دپاره را استولی شوي ياست خو هلته لوط ﷺ په هغوی کښې موجود دی هسې نه چې هغه پکښې هلاک کړئ.

ب: زمونږ پرښتو جواب ورکړ چې د هغه په موجوديت باندې هلته مونږ خبر ياستو، ډېر ژر دی چې هغه ته، به نجات ورکړو مګر يوازې د هغه مېرمن د هلاکو کړی شوو څخه ده او نجات يې په نصيب کښې نشته.

څکه يې مباحثه شروع کړه چې يقيناً ابراهيم ﷺ ډېر حوصله ناک او زړه سوونکی سړی وه نو د يو پلوه يې زړه غوښتل چې د لوط ﷺ قوم ته څه نور فرصت هم ورکړی شي ګوندې په ايمان مشرف شي او د بله پلوه يې په لوط ﷺ باندې زړه وسوزېد چې هغه ته د عذاب په دوران کښې څه ضرر ونه رسېږي.

مګر په عين حال کښې ابراهيم ﷺ الله ﷻ ته ډېر راجع کېدونکی او قانع سړی وه نو د همدې کبله چې کله زمونږ لېږلو شوو پرښتو هغه مخاطب کړ چې:

ای ابراهيمه! د دغې مجادلې او مباحثې څخه تېر شه څکه چې ستا د رب ﷻ د پلوه خبره فيصله شوې ده اوهم د فيصلې فرمان را رسېدلی دی، نو ضرور دوی ته داسې عذاب راتلونکی دی چې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغه ببرته نه شي تاوولی. یا په بل عبارت، دا فیصله نه بدلېدونکې ده، په دې کښې مباحثه څه ګټه نه لري؛ نو سمدستي د خپلې مجادلې څخه تېر شو او مباحثه يې ختمه کړه.

## توضیحات

۱_ که څوک وايي چې په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د لوط ﷺ د قوم د هلاکت دپاره د عذاب پرښتې مستقیما ور وانه استولې بلکې د ابراهیم ﷺ د زیارت او بشارت څخه وروسته هلته ورغلې او هغوی يې پوهنا کړه؟

مونږ وايو چې د الله ﷻ په هر کار کښې بې شماره حکمتونه پټ وي چې تولو ته د چا فکر نه رسېږي، شاید چې په ذکره شوې طریقې سره په هلاکت کښې به لاندې حکمتونه مرموز وي.

الف: ترڅو ابراهیم ﷺ ته اطمنان ورکړی شي چې د لوط ﷺ قوم خو هلاکېدونکی دی مګر الله ﷻ به د هغوی په ځای باندې بل قوم پیدا کړي چې هغه به ستا د اولادې څخه وي او د بني اسرائیلو په نامه به يادېږي یا په بل عبارت ته خپه کېږه مه د دوی په هلاکت سره دنیا نه ورانېږي. الله ﷻ د ځمکې د آبادۍ دپاره په معجزانه توګه بندو بس کړی دی چې د بوډا توب په حال کښې به ته د بنه ډېر زوزات خاوند شې.

ب: ترڅو د همدغه حالت په حکایت باندې وروستني خلک عموماً او د مکې مشرکان خصوصاً په غوږ باندې ووهلی شي چې لکه څنګه چې الله ﷻ ته د یوه جنایتکار قوم د منځه وړل اسان کار دی همدارنګه ورته د عوض پیدا کول هم څه مشکلات نه لري، نو که د لوط ﷺ قوم په ذکره شوې طريقه باندې نه وی هلاک کړی شوي نو په دغې قیصه کښې به دغه عبرتي درس ته اشاره نه وی شوې

## د ورلېږلی شوو ملائکو تعداد

۲_ په ﴿ رُسُلُنَآ ﴾ کښې د "رُسُل" کلمه د "رَسُول" جمعه ده، او هغه لومړنی عدد کوم چې جمعه ورباندې صادقېږي درې دي اما د درېوو څخه وروسته په هر عدد باندې صدق موندلی شي که څه هم لکونو او ملیاردونو ته ورسېږي.

نو د همدې کبله په دې مقام کښې د هغو پرښتو په تعداد کښې علماوو کرامو متعدد قولونه کړي دي کومې چې ابراهیم ﷺ ته د بشارت دپاره ورغلې وې او بیا یې د لوط ﷺ قوم هلاک کړ[1] د بیلګې په توګه خینې وايي چې درې پرښتې وې او خینې وايي چې دولس وې. او همدارنګه اته او نهه او هم لس او یوولس او یا داسې نور اقوال هم پکښې شته او حتی په خینو اقوالو کښې یې نومونه هم ښودلی شوي دي لکه جبرائیل ﷺ او میکائیل ﷺ او یا داسې نور.

مګر بهتره دا ده چې نه یې په تعداد کښې څه بحث وکړی شي او نه یې په نومونو کښې. ځکه چې کوم مهم مطلب ورپورې تعلق نه نیسي

(۱) زاد المسیر ج ۴ ص ۱۰۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## "حنیذ" څه معنی؟

۳_ د ﴿ حَنِيذٍ ﴾ د کلمې دپاره علماوو کرامو ډېرې معناوې کړې دي[۱] خو په زړه پورې معنی یې دا ده چې ﴿ حَنِيذٍ ﴾ هغې غوښې ته ویل کېږي کومه چې په داسې ډبره کښې وریت کړی شوې وي کوم چې د ډېرو څخه جوړ کړی شوی وي[۲] دا ډول وریتول (کباب جوړول) د بیدیا په اوسېدونکو کښې رواج دي نو د معنی حاصل بې داسې را اوځي چې ابراهیم ﷺ د خپلو ناپېژاندلو شوو مېلمنو دپاره د خوسي هغه غوښه په وړاندې کښېښوده کومه چې په ذکره شوې طریقه باندې کباب کړی شوې وه. او دا کار یې په ډېره جلتۍ سره وکړ چې د مېلمنو د راتګ څخه وړاندې هلته تیاره وه، او یا یې په ډېره جلتۍ سره تیاره کړه تا به ویل چې لا وړاندې تیاره کړی شوې وه.

## نکر څه معنی؟

۴_ په ﴿ نَكِرَهُمْ ﴾ کښې "نکر" کلمه د "نُکُرْ" _لکه "شُکْرْ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "نُکُرْ" دې ته وایي چې د چا په زړه کښې هغه شی پېښ شي کوم چې د وړاندې څخه د هغه په تصور کښې نه وي[۳]

نو د معنی حاصل بې داسې کېږي چې کله ابراهیم ﷺ ته د الله ﷻ د پلوه څو پرښتې د ښائسته انسانانو په څېرو کښې ورغلې نو د ده ﷺ په تصور کښې دا نه ګرځېده چې دوی به پرښتې وي، خو کله چې هغوی د خوراک څخه خانونه په څنګ کړه او یوه هم د خوسي غوښې ته لاس وړاندې نه کړ نو د نوموړي ﷺ په زړه کښې د پخواني تصور په خلاف دا خبره یقیني شوه چې دوی انسانان نه دي بلکې پرښتې دي.

نو څرنګه چې د پرښتو دغه ډول ملاقات د پخواني عادت په خلاف وه نو سمدستي د ابراهیم ﷺ سره ډار او تشویش پیدا شو چې دوی به د څه دپاره را استولی شوې وي؟

ایا زه به الله ﷻ په مېلمه پالنه کښې د امتحان لاندې واقع کړی یم؟ ایا زما څخه به د دوی په توقیر کښې څه قصور واقع شوی وي؟ او داسې نور.

## سوال جواب

که څوک وایي چې: ځینو علماوو کرامو خو د ابراهیم ﷺ د ډار وجه دا ښودلې ده چې په هغه وخت کښې د کوربه په کور کښې د ډوډۍ نه خوراک معنی دا وه چې مېلمانه ورسره د دښمنۍ دپاره ورغلي دي او بد نیت لري[۴]، نو پوښتنه دا ده چې تاسو دغه وجه ولې خوښه نه کړه؟

مونږ وایو: کومې وجې ته چې مونږ اشاره کړې په هغې باندې دا جمله: ﴿ لَا تَخَفْ إِنَّآ أُرْسِلْنَآ إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ ﴾ دلالت کوي. یعنې ای ابراهیمه! ستا ډار په حقه دی چې مونږ په غیر معتاده طریقه

---

(۱) زاد المسیر ج۴ ص۱۰۲

(۲) التفسیر الکبیر ج۱۷ ص۲۴

(۳) معردات الراغب ص۵۲۶

(۴) روح المعاني ج۱۲ ص۹۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې تا ته راغلو او تا ته مو خپل خانونه معرفي نه کړه ترڅو چې تا پخپله وپېژاندلو او نه پخپله پوه شوې چې مونږ د يوه غير معتاد کار دپاره راغلي ياستو. مګر ته مه دارېږه مونږ د لوط ﷺ د قوم په هکله د غير معتاد عمل اجراء کوو چې هغوی په خپل کفر باندې ډېر کلک دي.

نو که بالفرض د ابراهيم ﷺ د ډار وجه هغه وی کومه چې ځينو علماوو کرامو ليکلې ده نو ملکو به د هرڅه څخه وړاندې جواب ورکړی وی چې ته مه ډارېږه مونږ انسانان نه ياستو بلکې مونږ پرښتې ياستو. نو څرنګه چې په جواب کښې دوی خپل خانونه معرفي نه کړه نو معلومه شوه چې ابراهيم ﷺ دوی پېژاندلي وه او د پېژاندلو د کبله يې په زړه کښې ډار پيدا شوی وه چې دا غير معتاد راتګ به د څه مطلب دپاره وي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وايي چې: ملائک عليهم السلام څنګه پوه شوه چې ابراهيم ﷺ د دوی څخه په ډار کښې واقع شو؟

مونږ وايو: که څه هم احتمال شته چې الله ﷻ ورته وحي کړې وي او يا يې ورباندې د خوف (ډار) نبې نښانې ليدلې وي مګر ظاهره دا ده چې ابراهيم ﷺ ورته خپل ډار او تشويش څرګند کړی وي، لکه چې الله ﷻ د همده ﷺ د مبارکې خولې څخه حکايت کوي چې: ﴿إِنَّا مِنكُمْ وَجِلُونَ﴾ [الحجر: ۵۲] يعنې يقيناً مونږ ستاسو څخه ډارېدونکې ياستو (چې تاسو به د څه دپاره را استولی شوي ياست).

## د "ضِحْك" د کلمې معنی

۶ـ په ﴿فَضَحِكَتْ﴾ کښې د "ضَحِكَتْ" کلمه د "ضِحْك" څخه اشتقاقه شوې ده، د "ضِحْك" معنی خو واضحه او معروفه ده چې خندل او تبسم کول دي. په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو دا کلمه د تعجب په معنی اخستې ده، يعنې د ابراهيم ﷺ مېرمن (بي بي ساره رضي الله عنها) د دې کبله په تعجب کښې شوه چې دغه دی د لوط ﷺ قوم ته عذاب ور روان دی حال دا چې دوی په غفلت کښې په ښه قوت سره وړاندې روان دي[۱].

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې ذکره شوې کلمه په خپله معروفه معنی باندې پرېښودله شي او بې ضرورته ترې د تعجب معنی وانخستله شي، پاتې شوه دا خبره چې د نوموړې د خندېدلو او تبسم کولو وجهه څه وه؟ نو د دې وجې په تعين کښې خو مفسرينو کرام زښت ډېر اقوال کړي دي چې تقريباً اوو قولونو ته رسېږي[۲].

مګر کومه وجه چې مونږ ته په تبادر سره ذهن ته راځي هغې ته مونږ په وړاندې ځلورمه توضيح کښې اشاره کړې ده چې حاصل يې داسې راوځي:

---

(۱) تفسير الطبري ج۱۲ ص۷۴
(۲) زاد المسير ج۴ ص۱۰۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لکه څنګه چې ابراهیم ﷺ ودار شو او ملائکو علیهم السلام ته یې د خپل دار اظهار وکړ همدارنګه د ده ﷺ مېرمن (بي بي ساره رضي الله عنها) هم وداره شوه خو د دې دار دومره زیات شو چې ﴿ قَآئِمَةٌ ﴾ متحیره او ساکته ولاړه وه او په همدې انتظار کښې وه چې ابراهیم ﷺ ته څه جواب ورکول کېږي، مګر د جواب په مجردې اوریدلو باندې خوشاله شوه او تبسم یې وکړ، اما ملائکو د دې خوشالي نوره هم وراضافه کړه او د زوی (اسحق ﷺ) او هم د لمسي (یعقوب ﷺ) بشارت یې هم ورکړ.

نوموړې په دې بشارت باندې زښته ډېره خوشاله شوه او دا ځکه چې اولاد یې نه درلود. مګر بي بي هاجرې رضي الله عنها یو زوی درلود چې اسماعیل ﷺ وه، د نوموړې زړه غوښتل چې دا هم دهغې په څېر د یوه زوی مور جوړه شي او سیالي یې ورسره برابره شي.

## سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې: د دې مقام څخه څرګندېږي چې د زوی بشارت د الله ﷻ دپلوه نوموړې بي بي (سارې رضي الله عنها) ته ورکړی شو، حال دا چې په بل مقام کښې څرګنده شوې ده چې په دغه بشارت باندې ابراهیم ﷺ مخاطب کړی شو چې: ﴿ لَا تَوْجَلْ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٍ ﴾ [الحجر:۵۳] یعنې ای ابراهیمه! ته مه دارېږه، یقیناً مونږ تا ته په یوه ماشوم باندې بشارت (زیری) درکوو؟

مونږ وایو چې: د ماشوم بشارت په حقیقت کښې دواړو ته ورکړی شوی دی خو الله ﷻ په یوه مقام کښې د یوه بشارت ته اشاره کړې ده او په بل مقام کښې یې د بل بشارت ذکر کړی دی.

## د "يَاوَيْلَتَا" د کلمې معنی

۸_ په ﴿ يَٰوَيْلَتَىٰٓ ﴾ کښې د "وَيْل" کلمه اصلاً د عذاب او هلاک دپاره وضعه شوې ده مګر کله-کله د تعجب دپاره هم استعمالېږي[۱] مونږ ته داسې برېښي چې په دې مقام کښې به همدغه د تعجب معنی مراده وي لکه چې د ﴿ عَجِيبٌ ، أَتَعْجَبِينَ ﴾ کلمات پرې دلالت کوي. نو د معنی حاصل به داسې راوځي چې: ای زما تعجبه! راشه همدا دې وخت دی چې زړې بوډۍ او زوړ بوډا ته د زوی او هم د لمسي بشارت ورکول کېږي.

## "بعل" څه معنی؟

۹_ مونږ _لله الحمد_ د [البقرة:۲۲۸] ایت لاندې د "بَعْل" د کلمې شرحه لیکلې ده چې بوه معنی یې مالک او متصرف دی، مېړونو ته ځکه دغه لقب ورکړی شوی دی چې دوی د زنانه وو دپاره د مالکانو حیثیت لري چې هم ترې خاصې استفادې کولی شي او هم یېورباندې آمریت او ریاست قائم دی.

څرنګه چې د ذکر شوي بشارت په وخت کښې په ابراهیم ﷺ او بي بي سارې رضي الله عنها دواړو باندې ډېر عمرونه تېر شوي وه نو دغې بي بي د خپله خاوند د ﴿ عَجُوزٌ ﴾ په کلمه باندې تعبیر وکړ چې دا

---

[۱] لسان العرب ج۱۱ ص۷۳۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کلمه زړې بوډۍ ته وضعه شوې ده او ابرهیم ﷺ یې د ﴿ شَيْخًا ﴾ په کلمه سره تعبیر کړ چې د زاړه بوډا معنی ورکوي.

نو د همدې کبله علماوو کرامو د دواړو د عمرونو په تعین کښې متعدد اقوال کړي دي[۱]. نو کله چې مونږ د هر یوه ښودلی شوي عمرونه جمعه کړه او د اقوالو په تعداد باندې مو تقسیم کړه نو د ابراهیم ﷺ عمر یو سلو دوه (۱۰۲) کاله او د بي بي سارې ﷺ څلور نوي (۹۴) کاله په تقریبي توګه راووت. نو غالبه دا ده چې دوی دواړه به د بشارت په وخت کښې په همدغو عمرونو باندې وه، والله ﷻ أعلم.

﴿ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ هَٰذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ ﴿٧٧﴾
وَجَآءَهُۥ قَوْمُهُۥ يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ وَمِن قَبْلُ كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِى
هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ فِى ضَيْفِىٓ ۖ أَلَيْسَ مِنكُمْ رَجُلٌ رَّشِيدٌ ﴿٧٨﴾ قَالُوا۟
لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِى بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيدُ ﴿٧٩﴾ قَالَ لَوْ أَنَّ لِى بِكُمْ قُوَّةً أَوْ
ءَاوِىٓ إِلَىٰ رُكْنٍ شَدِيدٍ ﴿٨٠﴾ قَالُوا۟ يَٰلُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوٓا۟ إِلَيْكَ ۖ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ
بِقِطْعٍ مِّنَ ٱلَّيْلِ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ إِلَّا ٱمْرَأَتَكَ ۖ إِنَّهُۥ مُصِيبُهَا مَآ أَصَابَهُمْ ۚ إِنَّ
مَوْعِدَهُمُ ٱلصُّبْحُ ۚ أَلَيْسَ ٱلصُّبْحُ بِقَرِيبٍ ﴿٨١﴾ ﴾

[۷۷] او هر کله چې زمونږ رسولان (پرښتې) لوط ﷺ ته ورغلې نو لوط ﷺ په دوی باندې غمژن کړی شو او په دوی باندې د توان د حیثه تنګ شو (چې د دوی حفاظت زما په توان کښې نشته) او (هم) ویې ویلې چې دغه سخته ورځ ده.

[۷۸] او لوط ﷺ ته خپل قومیان په داسې حال کښې، ورغله چې ده ﷺ ته په منډه (خغاسته) کړی شوي وه. او (دا خکه چې د دغه وخت څخه) وړاندې هم دوی وه چې بد کارونه یې کول (دا یې عادت ګرځېدلی وه).

لوط ﷺ (دوی مخاطب کړه نو ورته یې) وویلې چې: ای زما قومه! دغه (ستاسو مېرمنې) زما لورګانې دي، ستاسو دپاره ښې پاکیزه (او سپېڅلې) دي (همدوی ته ورشئ) نو د الله ﷻ څخه وډار شئ او ما په خپلو مېلمنو کښې مه شرموئ.

ایا ستاسو څخه یو سړی هم په سمه لاره باندې روان نشته (چې نصیحت درته وکړي)؟!

[۱] روح المعاني ج۱۲ ص۹۷؛ زاد المسیر ج۴ ص۱۰۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٧٩] دوی وویلې چې (ای لوطه!) یقینًا ته پوهېږې چې (سمدستي) مونږ ته ستا په لورګانو (زمونږ په مېرمنو) کښې څه حاجت نشته (او نه دې جګړې ته راغلي یاستو)، او یقینًا ته خو ضرور په هغه شي باندې پوهېږې چې مونږ یې (ستا څخه) غواړو. (نو تا ولې خپل ځان په شپه اخستی دی).

[٨٠] لوط ﷺ (په جواب کښې په نهایي توګه) وویلې چې که ما لره ستاسو (په مقابله کښې) قوت وی او یا ما یوه شدید (قوتناک) طرف ته پنا وړې وی (نو ما به ستاسو سره هغه څه کړي وی کوم چې ستاسو سره مناسب دي).

[٨١] پرښتو وویلې چې: ای لوطه! (ته مه غمژن کېږه!) یقینًا مونږ ستا د رب ﷺ رالېږلي شوې پرښتې یاستو (انسانان نه یو) نو هیڅکله به دوی تاته (په ضرر سره پیوسته نه شي (او نه به مونږ ته څه ضرر راورسولی شي).

نو خپل اهل (کورنی) دې د شپې څخه په یوه برخه کښې بوزه (او د ښاره یې وباسه او ستاسو څخه دې یو تن هم (په ښاره پسې بېرته نه ګوري څکه چې دوی هلاکېدونکي دي او تاسو نجات موندونکي یاست) مګر یوازې ستا مېرمن (نجات نه شي موندلی) څکه چې شانْ دا دی چې دې ته هغه عذاب رسېدونکی دی کوم چې دوی (ستا قوم) ته رسېږي یقینًا د دوی (د عذاب د نزول) وخت سهار دی، ایا سهار نژدې نه دی؟! (بلکې نژدې دی).

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! کله چې ملائکو علیهم السلام د ابراهیم ﷺ سره خپله مباحثه ختمه کړه نو د ده ﷺ څخه یې رخصت واخست او لوط ﷺ ته ورغله نو د هغه سره یې د ملاقات لاندې کیفیات په خپل امت باندې قرائت کړه:

١ـ څرنګه چې ملائک د ښائسته هلکانو په شکل ورغله نو لوط ﷺ زښت ډېر خپه شو او دا څکه چې د یو پلوه هغه ته د دغه فاجر قوم خوی او عادت څرګند وه او د بله پلوه یې د مېلمنو ښائست په سترګو کښې نبغ ودرېد، نو په ډېر حسرت سره یې وویلې چې دا ډېره سخته ورځ ده چې نن په ما باندې راغله، ایا هغوی به زما د مېلمنو سپکاوی ونه کړي؟ ایا ما به د مېلمنو په بې احترامی باندې خجالت نه کړي؟

٢ـ کله چې ذکر شوي فاجران د ښائسته مېلمنو څخه خبر شوه چې د لوط ﷺ سره مېلمانه دي، نو ټول په ډلئیزه توګه په خغاسته د هغه ﷺ کورته ورغله نو له یوه پلوه یې ترې د مېلمنو غوښتنه وکړه چې مونږ ته یې را تسلیم کړه او له بله پلوه ورته په غُصه شوه چې تا ولې زمونږ د فرمایش څخه مخالفت کړی دی، ایا ته مونږ نه وې منعه کړی چې ته به په کور کښې مېلمنو ته ځای نه ورکوې ترڅو زمونږ د سترګو څخه پټ په پرده کښې شپه تېره کړي او په ابرو کښې د دې منطقي څخه لاړ شي؟

٣ـ بیا لوط ﷺ د قوم زنانه وو ته اشاره وکړه چې دغه زما لورګانې دي چې ستاسو په کورونو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې ناستې دي او ستاسو د حاجت د پوره کولو دپاره ډېرې پاکېزه او سپېځلې دي، نو تاسو زما د کور د محاصرې څخه تېر شئ او خپلو کورونو ته لاړ شئ هلته خپل احتیاجات پوره کړئ.

په دغه کار کښې (چې تاسو ورپسې په ډلنیزه توګه راغلي یاست) د الله ﷻ څخه ووار شئ چې څه عذاب به درباندې درنازل کړي او په دې باندې علاوه ما د مېلمنو په هکله مه رسوا کوئ او د خجالت سره مې مه مخامخ کوئ.

ای قومه! ایا په تاسو کښې یو سړی هم داسې نشته چې لږ څه د سمې لارې په تللو باندې پوهېږي؟ او یا دومره څوک نشته چې د دغه غلط کار څخه مو منعه کړي او یا اقلاً سمدستي زما سره په ذکر شوي وړاندیز کښې همکاري وکړي؟!

۴ـ د لوط ؑ د وړاندیز په جواب کښې ټولو په یوه خوله باندې نارې کړې چې ای لوطه! ته خو پوهېږې چې مونږ د څه دپاره راغلبدلي یاستو؟ ایا مونږ ته خپل کورونه معلوم نه وه؟ ته خو پوهېږې چې زمونږ خو ستا سره ستا په لورګانې یعنې زمونږ په ماندینو کښې څه جګړه نشته، بلکې ته په یقین سره زمونږ په مطلب باندې ښه پوهېږې. نو خبره مه اوږدوه هله ژر شه خپل مېلمانه دې مونږ ته وسپاره چې مونږ ورسره هغه څه وکړو کوم مو چې زړه غواړي.

۵ـ نو لوط ؑ ډېر په حسرت سره وویلې چې کاش چې ما په تاسو باندې څه قوت درلودی او خولې مې درباندې درماتې کړې وی او یا مې یوه کلک او غښتلي قوت ته پنا وړې وی او د هغه په ملګرتیا مې ستاسو د فسق او فجور مخه نیولې وی او بالآخره خپل مېلمانه مې درڅخه په آبرو او عزت کښې خلاص کړي وی.

یا په بل عبارت: که ما خپل قوت درلودی او یا مې یوه قوي طرف ته پنا وړې وی نو په ډېره ښه توګه به مې ستاسو مدافعه کړې وی.

۶ـ نو کله چې لوط ؑ خپلو مېلمنو ته خپله کمزوري ور واوروله او خپل حسرت یې ورڅرګند کړ نو مېلمنو ورته خپل خانونه معرفي کړه چې مونږ انسانان نه یاستو مونږ پرښتې یاستو چې د الله ﷻ د پلوه د همدغه فاجرانو د هلاک دپاره را استولي شوي یو، دغه فاجران نه مونږ ته ضرر رسولی شي او نه تا ته د څه ضرر د رسولو توان لري، نو تاته په کار دي چې دغو ټکو ته توجه وکړې:

الف: خپل ټول کهول د شپې په تیاره کښې وباسه او په جلتی سره د دې منطقې څخه بهر شئ چې دلته عذاب نازلېدونکی دی، او ستاسو یو نفر دې هم نه ستې کوي او نه دې فاجرانو ته بېرته ورګوري چې د دوی څه حال دی.

ب: دا خکه چې الله ﷻ اراده کړې ده چې دغه فاجران بوینا کړي او تاسو ټولو ته نجات درکړي مګر یوازې ستا مېرمن د نجات په ډله کښې شامله نه ده چې دا هم د فاجرانو سره په عقیده کښې متحده ده او کافره ده. نو دې ته هم ضرور هغه عذاب رسېدونکی دی کوم چې فاجرانو ته پاکلی شوی دی.

ج: ته څکه د خپل رب ﷻ په اجازه باندې د شپې د شپې د منطقې څخه لاړ شه چې د فاجرانو د

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هلاکت وخت د سهار مهال تاکلی شوی دی، چې سهار به هلاکېږي.
ای لوطه! ته مه ډېره تلوسه کوه او مه ډېره تادي، ایا سهار نژدې نه دی؟! بلکې نژدې دی.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې په دې کښې څه حکمت دی چې لوط ﷺ ته د عذاب پرښتې د ښائسته هلکانو په څېرو کښې ورواستولی شوې؟

مونږ وایو _والله ﷻ أعلم_ ترڅو فاجران د خپل شنیع عمل څخه په هیڅ صورت باندې انکار ونه کړی شي لکه چې څوک یو غل د غلا کړې پنډ په شا ونیسي.

څه لرې نه ده چې خینې حکومتونو به د رشوت خورو حاکمانو په نیولو کښې د همدې قیصې څخه الهام اخستی وي چې په نښه کړی شوې پیسې د خپلو دستوري کسانو په ذریعه رشوت خورو ته ورکړي او بیا یې سمدستي په پولیسو باندې ونیسي او د انکار خولې یې ورماتې کړي.

۲_ د "سِیْئَ" کلمه په اصل کښې "سُوِءَ" وه چې د "سُوْء" څخه اشتقاقه شوې ده او مجهوله صیغه ده، "سُوْء" بدی ته وایي خو کله-کله د سرور (خوشالی) په مقابل کښې استعمالېږي[1] داسې ښکاري چې په دې مقام کښې همدغه استعمال مراد دی.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې لوط ﷺ د ملائکو علیهم السلام په ورتګ باندې غمژن کړی شو چې د فاجرانو څخه ورته څه سپکاوی ونه رسېږي.

## د "ذرعًا" د کلمې معنی

۳_ د ﴿ذَرْعًا﴾ کلمه د "ذِرَاع" د کلمې سره په اصلي حرفونو کښې متحده ده، د "ذِرَاع" معنی واضحه ده چې د ګوتو د څوکو څخه نیولې آن د څنګلې پورې لاس د "ذِرَاع" په نامه یادېږي. نو لکه څنګه چې د "یَدْ" کلمه د طاقت او توان په معنی باندې استعمالېږي همدارنګه د "ذِرَاع" کلمه هم د توان او طاقت معنی ورکولی شي[2].

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: لوط ﷺ د ملائکو علیهم السلام په ورتګ باندې د توان او طاقت د حیثه په تنګ شو، یا په بل عبارت: دومره غم ورباندې ورغی چې د هغه د تحمل توان یې نه درلود، نو د همدې کبله یې د مبارکې خولې څخه دا جمله راووتله چې: ﴿هَـٰذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ﴾ دا ډېره سخته ورځ ده (زه پکښې د ډېر غټ خفګان سره مخامخ شوم).

## د "اهراع" معنی

۴_ د ﴿يُهْرَعُونَ﴾ کلمه د "اهْرَاع" څخه اشتقاقه شوې ده، "اهْرَاع" هغې څغاستې ته ویل کېږي

(۱) لسان العرب ج۱ ص۹۵
(۲) المحرر الوجیز ج۹ ص۱۹۵- مفردات الراغب ص۱۸۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د کومې سړاچې د اندامونو لړزان ملګرې وي. دغه کلمه که څه هم مجهوله صيغه ده مګر په استعمال کښې د معلومې صيغې معنی ورکوي[۱]

د معنی حاصل بې داسې راوځي چې کله فاجران د ناشسته وو مېلمنو څخه خبر شوه نو په بېړه توګه په داسې حال کښې د لوط ﷺ د کور دروازې ته په خفاسته ورغله چې د ټولو اندامونه لړزېدل چې هله زر شه مېلمانه په لاس راکړه چې زمونږ صبر نه کېږي.

## بنات يعني د لوېرانو مانديني

۵_ په ﴿بَنَاتِي﴾ کښې د بنات د کلمې څخه د لوېرانو (فاجرانو) مانديدني مطلب دي. نو د معنی حاصل بې داسې کېږي چې: ای زما قومه! که په تاسو باندې شهوت ډېره غلبه کړې وي نو د دغه خبيث او پليت کار څخه تېر شئ چې زما مېلمنو ته په خفاسته راغلي یاست. بلکې هر يو کس دې خپل خپل کور ته لاړ شي او هلته دې په خپله خپله مانديني باندې خپله خپله خوا سړه کړي. دا کار د هر چېته ستاسو دپاره پاکېزه او سوتره دی چې نه يکښې شرعي پليتي شته او نه عقلي.

د لوط ﷺ ذکر شوی نصيحت هغه نصيحت ته ورته دی کوم چې نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې خپل امت ته کړی دی.

حديث داسې دی چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «إِذَا أَحَدُكُمْ أَعْجَبَتْهُ الْمَرْأَةُ فَوَقَعَتْ فِي قَلْبِهِ فَلْيَعْمِدْ إِلَى امْرَأَتِهِ فَلْيُوَاقِعْهَا فَإِنَّ ذَلِكَ يَرُدُّ مَا فِي نَفْسِهِ»[۲] يعني: کله چې ستاسو د جملې څخه يوه کس ته بيګانه (پردۍ) ښځه ښه وبرېښېدله چې په زړه کښې بې ورته تشويش واچاوه، نو خپلې زنانه (مېرمنې) ته دې قصد وکړي نو په هغې باندې دې واقع شي (او خپله خوا دې پرې سړه کړي) ځکه دغه کار هغه څه بېرته اړوي (محوه کوي) کوم چې د ده په زړه کښې پرېوتلی وه.

## سوال جواب

۶_ که څوک وايي چې: څه وجه ده چې تاسو د "بَنَات" د کلمې حقيقي متبادره معنی وانخستله حال دا چې لوط ﷺ دوه يا درې نسبي لورګانې درلودې[۳] چې نوموړې کلمه پرې صادقه شوې وی؟

مونږ وايو چې: مونږ حقيقي متبادره معنی د لاندې دوه وو وجو د کبله پرېښودله.

الف: څرنګه چې الله ﷻ په بل ايت شريف کښې د لوط ﷺ د مبارکې خولې څخه په همدغسې موقع د ﴿بَنَاتِي﴾ کلمې په عوض د ﴿أَزْوَاجِكُم﴾ کلمه را حکايته کړې ده چې ﴿أَتَأْتُونَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعَالَمِينَ ۝ وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُم مِّنْ أَزْوَاجِكُم ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ﴾ [الشعراء ۱۶۵_۱۶۶]

يعني ايا تاسو د عالمونو څخه نارينه وو ته (د شهوت رانې دپاره) ورتګ کوئ او هغه (زنانه) پرېږدئ

---

(۱) زاد المسير ج۴ ص۱۰۷، لسان العرب ج۸ ص۳۶۹

(۲) صحيح مسلم ج۲ ص۴۵۰

(۳) تفسير القرطبي ج۹ ص۷۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کومې چې ستاسو رب ﷻ ستاسو دپاره پیدا کړې دي چې ستاسو د مېرمنو څخه عبارت دي؟ بلکې تاسو (د شرعي او عقلي حدودو څخه) تجاوز کوونکی قوم یاست.

نو معلومه شوه چې په دې مقام کښې د ﴿ بَنَاتِي ﴾ د کلمې څخه کټ مټ د ﴿ أَزْوَاجِكُم ﴾ معنی مطلبه ده.

ب: که د ﴿ بَنَاتِي ﴾ د کلمې څخه حقیقي متبادره معنی واخستله شي نو لاندې پوښتنې د سړي په ذهن کښې ګرځي راګرځي او قناعت بښونکی جواب ورته نه شي موندلی:

اول: ایا د لوط ﷺ په شریعت کښې جائزه وه چې مسلمانه زنانه دې کافر ناریینه په نکاح واخلي؟

دوهم: که جائزه وه[۱] لکه چې دا کار په محمدي شریعت کښې هم جائز وه او بیا منسوخ شو نو ایا د یوه پیغمبر سره مناسبه وه چې لوېرانو (بې باکانو) ته په مفتضح (رسوا) صورت سره د خپلو لورګانو د نکاح کولو وړاندیز وکړي؟

درېم: که د ضرورت د کبله یې مناسبه وګڼو[۲] نو ایا لوط ﷺ ته جائزه وه چې د خپلو دوه یا درېوو لورګانو د نکاح وړاندیز یوه ټولګي ته وکړي چې عدد یې د درېوو تنو څخه زیات وي؟ ایا یوه ښځه دوه مېړونه په یوه وخت کښې کولی شي؟

څلورم: که لوط ﷺ د خپلو دوه وو یا درېوو لورګانو وړاندیز د جنایتکارانو دوه یا درېوو مشرانو ته کړی وي چې ترڅو دوی راضي کړي او د فاجرانو په مخنیوي کښې ترې کار واخلي او مېلمانه د شرمندګی څخه بچ کړي[۳].

نو ایا دغه ډول معنی اخستل بې دلیله ایتونو ته تخصیص ورکول نه دي؟ ایا دا بې ضرورته متبادره معنی پرېښودل نه دي؟

پنځم: که ووایو چې د لوط ﷺ د نکاح وړاندیز مطلب نه وه بلکې صرف د مېلمنو څخه د دفاع په خاطر یې ذکر شوي کلمات د مبارکې خولې څخه وتلي دي لکه څوک چې حرام خور سړی مخاطب کړي چې: "لَحْمُ الْخِنْزِيرِ أَحَلُّ لَكَ مِنْ هَذَا"[۴] د دغه حرام مال څخه خو درته د خنزیر غوښه حلاله ده چې ویې خوري.

نو ایا دا ډول معنی اخستل بې ضرورته تاویل او بې دلیله خبره نه ده؟

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷ـ که څوک وایي چې: په څه مناسبت تاسو د ﴿ بَنَاتِي ﴾ د کلمې څخه د فاجرانو مېرمنې مرادې کړې؟

---

(۱) اضواء البیان ج۳ ص۳۱
(۲) روح المعاني ج۱۲ ص۱۰۶
(۳) تفسیر القاسمي ج۹ ص۱۵۵
(۴) تفسیر القرطبي ج۹ ص۷۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: هر یو پیغمبر د خپل امت دپاره د معنوي پلار حیثیت لري. د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَأَزْوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمْ ﴾ [الأحزاب:۶] یعنې: او د نبي کریم ﷺ بیبیانې د مؤمنانو مورګانې دي، او پخپله نبي کریم ﷺ یې معنوی پلار دی.

ب: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ بِمَنْزِلَةِ الْوَالِدِ أُعَلِّمُكُمْ فَإِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الْغَائِطَ فَلَا يَسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ وَلَا يَسْتَدْبِرْهَا وَلَا يَسْتَطِبْ بِيَمِينِهِ»[1] یعنې: زه ستاسو دپاره د پلار غوندې یم، تاسو ته دیني کارونه درزده کوم، نو کله چې ستاسو یو کس اودس ماتي ته تېر شي نو نه دې قبلې ته مخ کوي او نه دې ورته شا کوي، او نه دې په خپل ښي لاس باندې استنجاء کوي.

## سوال جواب

۸_ که څوک وايي: رښتیا چې هر پیغمبر د خپل امت دپاره معنوی پلار دی مګر د مؤمنانو دپاره، نه د کافرانو دپاره، د فاجرانو (لوړانو) مېرمنې خو کافرې وې او د لوط ؑ دپاره خو لورګانو غوندې نه شوې جوړېدلی؟

مونږ وایو چې:

الف: پیغمبر خو د کافرانو امتیانو دپاره هم معنوي پلار دی مګر دا بېله خبره ده چې دوی ورته په پلارولۍ باندې قائل نه دي او انکار ترې کوي. یا په بل عبارت: دغه معنوي قرابت د کفارو دپلوه قطعه شوی دی نه د پیغمبرانو علیهم‌السلام دپلوه.

نو د ﴿ بَنَاتِي ﴾ د کلمې مضمون داسې راوځي چې: ای زما قومه! زه خو ستاسو دپاره د پلار حیثیت لرم چې تاسو مې زامن یاست او ستاسو مېرمنې مې لورګانې دي، نو مهرباني وکړئ ما په پلارولۍ سره ومنئ او خپل خانونه راځخه مه پرېکوئ، او هم زما د مېلمنو بې عزتي مه کوئ.

ب: په دې باندې علاوه څرنګه چې لوط ؑ د سوال په موقع کښې قرار درلود نو خپل سوال یې په داسې کلماتو کښې وړاندې کړ چې باید د هغوی په زړونو کښې یې څه نرمښت پیدا کړی وی او د ده ؑ خبره یې منلې وی، مګر د هغوی زړونه د ډبرو څخه هم کلک وه او هیڅ اثر یې ورباندې ونه کړ.

کله چې د زړونو نرمښت مطلب وي نو یوه پیغمبر ته د ورور لقب هم ورکول کېږي، لکه چې الله ﷻ فرمایلي دي ﴿ وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا ﴾ [هود: ۶۱] یعنې: مونږ ثمودیانو ته د دوی خواخوږی ورور (صالح ؑ) د پیغمبر (معنوي پلار) په حیث وراستولی وه خو د هغوی زړونه نرم نه شوه او ایمان یې ورباندې را نه وړ.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۹_ که څوک وايي چې: که د ﴿ بَنَاتِي ﴾ د کلمې څخه د فاجرانو مېرمنې مطلب وي نو هغوی به په

(۱) سنن ابي داؤد ج۱ ص۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

﴿ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ ﴾ په کلماتو باندې جواب نه وی ورکړی خکه چې دوی خو په خپلو مېرمنو کښې حق درلود؟

مونږ وايو چې:

الف: د ﴿ حَقٍّ ﴾ کلمه د "خُصُومَة" په معنی باندې هم استعمالېږي[1] او په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای لوطه! زمونږ خو ستا سره په خپلو مېرمنو کښې جګړه نه ده چې ته زمونږ توجه هغې خواته واړوې، ته خو پوهېږې چې مونږ ستا څخه څه غواړو.

ب: د ﴿ حَقٍّ ﴾ کلمه د "حَاجَة" معنی ورکوي[2]. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای لوطه! سمدستي زمونږ ستا په لورګانو (زمونږ په مېرمنو) کښې حاجت نشته، مونږ خو پوهېږو چې زمونږ مېرمنې ستا په کور کښې ناستې نه دي، نو د کوم حاجت دپاره چې مونږ په څغاسته راغلي ياستو هغه حاجت مو پوره کړه او مېلمانه په لاس راکړه.

## رکن څه معنی؟

۱۰_ د يوه شي طرف ته "رُکْن" وايي خو د مجاز په توګه د قوت په معنی باندې هم استعمالېږي[3]. نو د معنی حاصل يې داسې راوځي چې: ای زما قومه! تاسو خو په غوږونو باندې کاڼه ياست چې معقول دلايل نه اورئ او په سترګو باندې ړانده ياست چې بالکل شرمېږئ نه، نو که ما يا خپل قوت درلودی او يا مې يوه قوي طرف ته پنا وړې وی نو ستاسو سره به مې مناسب عملي چال چلند کړی وی او د دغه کار څخه به مي منعه کړي وی د کوم پسې چې تاسو څغلئ.

## سوال جواب

۱۱_ که څوک وايي چې: ايا د لوط ﷺ د ذکرې شوې وينا څخه د نااميدۍ وږمه نه پورته کېږي؟ ايا په دغسې وينا باندې تلفظ کول د يوه پيغمبر د شان سره مناسب دي؟ په کار خو دا وه چې د الله ﷻ څخه يې د نصرت سوال کړی وی.

مونږ وايو چې:

الف: د [البقرة:۲۱۴] ايت لاندې ليکلی شوي دي چې وارخطايي په دوه ډوله ده: يوه دا ده چې څوک د الله ﷻ د نصرت څخه نا اميده شي او د اضطراب او وارخطايي لاندې واقع شي، دا ډول وارخطايي د پيغمبر لا څه چې د يوه عادي مؤمن د شان سره هم مناسبه نه ده. او بله دا ده چې د ډېرې تلوسې څخه يې منشا نيولې وي، په لوط ﷺ باندې همدغه دوهم ډول وارخطايي ورغلې وه. او دا خکه چې د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې لوط ﷺ په ذکره شوې وينا باندې

(۱) لسان العرب ج۱۰ ص۴۹
(۲) زاد المسير ج۴ ص۱۰۹
(۳) مفردات الراغب ص۲۰۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپل قوم د بندو دروازو تر شا مخاطب کړ، په داسې حال کښې چې هغوی په دیوال باندې د ورختلو یا د دروازې د ماتولو) نیت کړی وه"[۱].

دا دول وارخطايي د پیغمبرانو د حالاتو سره هیڅ منافات نه لري، د همدې کبله نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «يَرْحَمُ اللهُ لُوطًا لَقَدْ كَانَ يَأْوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ»[۲] يعنې: په لوط ﷺ باندې دې الله ﷻ رحم وکړي چې د خومره زیاتو مشکلاتو سره مخامخ شوی وه، حتی چې اراده یې کړې وه چې یوه قوي طرف ته پنا یوسي (که ورته موندلی شوی وی).

یا په بل عبارت: د لوط ﷺ ذکره شوې د کرنچارې اراده کټ مټ هغې کرنچارې ته ورته وه د کومې په عملي کولو کښې چې نبي کريم ﷺ څه زیار ویستلی وه خو پرې کامیاب شوی نه وه، هغه دا چې کله د نبي کريم ﷺ تره (ابو طالب) وفات شو او د قریشو د لاسه په تکلیف شو نو طائف ته لاړ او هلته یې د ثقیف د قبیلې څخه نصرت او کومک وغوښت، مګر هغوی برسېره په دې چې د کومک او نصرت وعده یې ورنه کړه د خو لوپرانو او جنایتکارانو په ذریعه یې څه اذیت هم ور ورساوه چې د سیرت کتابونو یې مفصله قیصه لیکلې ده[۳].

ب: لوط ﷺ ذکره شوې وینا صرف د دې دپاره وکړه چې خپل مېلمانه په غوږ باندې ووهي چې ما خپله وسه تمامه کړه زما د لاسه هیڅ پوره نه شوه، نه پخپله ستاسو دفاع کولی شم او نه بل څوک شته چې ستاسو په دفاع کښې ترې کار واخلم، زما ټوله هیله او ارزو خپل رب ﷻ ته ده چې د نجات لار به راته مونده کړي. د همدې کبله پرښتو سمدستي خپل ځانونه ورمعرفي کړه چې د نجات لاره دغه ده او رکن شدید همدا مونږ یاستو چې د الله ﷻ د پلوه را استولی شوي یو.

لنډه دا چې لوط ﷺ د ﴿ رُكْنٍ شَدِيدٍ ﴾ کلمات د تورېې په توګه استعمال کړي دي چې مېلمانه پرې د انساني قوت خیال وکړي او د ده ﷺ ترې پخپله الهي قوت مطلب وه، والله ﷻ أعلم.

## التفات دوه معناوې لري

۱۲ـ د ﴿ وَلَا يَلْتَفِتْ ﴾ په جمله کښې د ﴿ يَلْتَفِتْ ﴾ کلمه د "التفات" څخه اشتقاقه شوې ده چې په دې مقام کښې لاندې دوه معناوې درلودلی شي:

الف: یوه دا چې عدم التفات د سرعت څخه کنايي دی، یعنې په چالاکۍ سره د ښاره بهر لاړ شئ او ببرته مه ګورئ التفات مه کوئ چې په سرعت کښې مو ځنډ واقع نه شي.

ب: بله دا چې حقیقتاً الله ﷻ دوی منعه کړي وی چې هیڅوک دې ببرته نه ګوري چې د عذاب سره د کفارو وضعه څنګه شوه.

مونږ وایو چې: که د التفات څخه ما يطلق عليه الالتفات (هر هغه شی چې د التفات اطلاق پرې کېږي) واخستل شي او دواړه معناوې مرادې کړی شي هم څه منافات یې سره نشته.

---

(۱) تفسير البغوي ج۲ ص۲۹۶
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۴۷۹، سنن ابن ماجه ص۲۹۱
(۳) سيرت ابن هشام ج۲ ص۲۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

١٣_ که څوک وايي: د ﴿ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَ ﴾ کلمات د څه شي څخه استثناء شوي دي؟

مونږ وايو چې: مفسرينو په دې کښې ډېر اوږده بحثونه کړي دي[١] مگر مونږ ته ښه برېښي چې مستثنی منه به يې مقدره وي، يعني تاسو ټول به نجات مونده کړئ مگر يوازې ستا مېرمن به نجات مونده نه کړي. لکه چې په بل ايت کښې په همدې مضمون باندې صراحت شوی دی چې: ﴿ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهۡلَكَ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَ كَانَتۡ مِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ﴾ [العنکبوت:٣٣] يعني: يقيناً مونږ تا ته او ستا اهل ته نجات درکوونکي ياستو مگر ستا مېرمن په عذاب کښې د پاتې کېدونکو څخه ده.

## يادونه

١۴_ کله چې لوط ﷺ د پرښتو په ډاډينه باندې مطمئن شو حال دا چې د خپل قوم د ذکر شوي کيفيت څخه تر پوزو رسېدلی وه نو پرښتو ته يې وراندېز وکړ چې په دغو فاجرانو باندې سمدستي عذاب ورنازل کړئ، نو هغوی اطلاع ورکړه چې: ﴿ إِنَّ مَوۡعِدَهُمُ ٱلصُّبۡحُۚ أَلَيۡسَ ٱلصُّبۡحُ بِقَرِيبٖ ﴾[٢] يعني ای لوطه! وارخطا کېږه مه، د دغه فاجرانو د هلاکت وخت د سهار مهال ټاکلی شوی، ته عجله مه کوه! يا راتلونکی سهار نژدې نه دی؟

﴿ فَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا جَعَلۡنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهَا حِجَارَةٗ مِّن سِجِّيلٖ مَّنضُودٖ ﴿٨٢﴾ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَۖ وَمَا هِيَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ بِبَعِيدٖ ﴿٨٣﴾ ﴾

[٨٢] نو کله چې زمونږ (د) فرمان (وخت) راغی (هغوی ته ورسېد) نو (د هغوی) د ښارونو پاسنی برخې مو لاندېنۍ وگرځولې (نسکور مو کړه) او د ډبرو باران مو ورباندې (هم) وکړ، (دا ډبرې) د داسې کورتکانو څخه عبارت وې چې خينې د خينو نورو دپاسه ور اچولې شوې وې.

[٨٣] (دا ډبرې ای پيغمبره!) ستا د رب ﷻ په نزد (د ده ﷻ په خزانو کښې) نښې دارې کړی شوې وې. دا (ډبرې يا دا هلاکت) د ظالمانو څخه (په يوه زمانه کښې هم) لرې نه دي.

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د لوط ﷺ د قوم انجام ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راوځي: ای پيغمبره! کله چې سهار سبا شو او زمونږ د فيصلې د عملي کولو وخت راغی نو د ذکرو شوو فاجرانو سره مو لاندې چال چلند وکړ.

١_ د دوی ټول ښارونه مو سرچپه او نسکور کړه، يا په بل عبارت: دوی مو د خپلو ابادیو څخه لاندې کړه چې د خپلو ښارونو څخه ورته هديرې جوړې شوې.

---

(١) روح المعاني ج١٢ ص١٠٩؛ البحر المحيط ج٦ ص١٨٩

(٢) تفسير ابن كثير ج٢ ص۴۵۴؛ الدر المنثور ج۴ ص۴۶٢

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


۲_ او هم مو په دوی باندې د توهین او تحقیر دپاره د ډبرو باران وکړ، داسې ډبرې چې دغه صفات یې درلوده:

الف: دغه ډبرې اصلاً د ختو څخه جوړې شوې وې خو له یوه پلوه ډېرې کلکې وې چې نه ماتېدلې او له بل پلوه په ډېرې تېزۍ سره وربانديٍ ووريدلې چې د انسان هلاک کول ورته عادي کار وه.

ب: دغه ډبرې په بڼه ګڼ شمېر کښې وې چې یوه د بلې څخه جدا نه وه او په منځکښې یې فرجه (وت) نه درلوده، تا به ویل چې د تېز باران څاڅکي په شیبه رالوېږي.

ج: په دې باندې علاوه، ذکرې شوې ډبرې د دنیاوي عادي ډبرو په څېره نه وې بلکې ستا د رب ﷻ په نزد باندې یې څه خاصې نښې درلودې چې د الهي غضب علامات پکښې د ورایه ځرګندېدل.

د: دغه د غضب ډبرې د ظالمانو څخه څه لرې نه دي او په دوی باندې یې ورول څه غیر مناسب کار نه دی بلکې ټول ظالمان د ذکرې شوې سزا لیاقت لري، اما د ابیله خبره ده چې د حکمتونو په بنیاد په خینو یو ډول عذاب ورنازل شي او خینې په بل ډول عذاب باندې مبتلا شي او بالآخره خینې د استدراج په توګه ازاد پرېښودلی شي.

## توضیحات

۱_ د ﴿ عَـٰلِيَهَا ، سَافِلَهَا ، عَلَيْهَا ﴾ په کلماتو کښې د "هَا" هر یو ضمیر د لوط ﷺ د قوم قریو ته راجع دی. که څه هم قریې (ښارونه) په صراحت سره ذکر نه دي مګر په حکمي توګه ذکر دي چې د فاجرانو د اوسېدانې ځایونه وه[۱]. اما د "هِيَ" په ضمیر کښې لاندې احتمالات شته دي:

الف: دا ضمیر هم ذکرو شوو قریو (ښارونو) ته راجع دی[۲] نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: دغه هلاک شوي ښارونه د قریشو ظالمانو څخه په ډېره لرې مسافه کښې واقع نه دي، دوی کولی شي چې هلته ورشي او په خپلو سترګو باندې کنډوالې وګوري. دا ځکه چې د ذکرو شوو ښارونو کنډوالې د مدینې منورې او د شام ترمنځ موقعیت لري او کله چې د مشرکانو کاروان د مکې معظمې څخه د شام په لور باندې حرکت وکړي نو څو مزله وروسته وربانديٍ تېرېږي.

ب: دا ضمیر د ﴿ حِجَارَةً ﴾ کلمې ته راجع دی چې په صراحت سره ذکره ده[۳] یعنې د دغو ډبرو باران د ظالمانو څخه نه په پخوانیو زمانو کښې لرې وه او نه په راتلونکي کښې ترې لرې او غیر مناسب دی، نو په کار دي چې ظالمان ترې وډار شي او د ظلم (شرک او کفر) څخه لاس واخلي.

په خینو احادیثو باندې د همدې دوهم احتمال تائید هم شوی دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ مَسْخٌ وَخَسْفٌ وَقَذْفٌ»[۴] یعنې: د قیامت څخه مخکې به په همدې امت کښې

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۱۱۲
(۲) البحر المحیط ج۶ ص۱۹۲
(۳) تفسیر القرطبي ج۹ ص۸۳؛ تفسیر ابي السعود ج۴ ص۲۳۰
(۴) سنن ابن ماجه ص۲۹۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځینې خلک مسخه شي او ځینې به د قارون غوندې په زمکه کښې خسف شي او هم به ځینې خلک په کاڼو باندې وویشتلی شي (د ډبرو باران به پرې وشي)

نو د همدې کبله مونږ ته همدغه دوهم احتمال په زړه پورې برېښي، چې مفاد او ګټه يې ډېره ده.

## "سِجّيل" څه معنی؟

۲ـ د ﴿ سِجّيل ﴾ کلمه علماوو کرامو په متعددو معناوو باندې تفسيره کړې ده[۱] خو کوم تفسير چې مونږ ته غوره ښکاري هغه د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما تفسير دی، هغه دا چې د ﴿ سِجّيل ﴾ کلمه اصلاً فارسي کلمه ده چې په اصل کښې "سنګ وګل" وه[۲] يعنې ډبره او خټه چې د تخفيف دپاره پکښې ځينو حروفو بدلون او ادغام موندلی دی او ځينې حذف شوي دي.

په همدې تفسير باندې بل ايت هم دلالت کوي چې ﴿ لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن طِينٍ ﴾ [الذاريات: ۳۳] يعنې: پرښتو لوط عليه السلام ته وويلې چې مونږ د دې دپاره را استولی شوي ياستو ترڅو په فاجرانو باندې د داسې ډبرو باران وکړو چې هغه د خټو څخه جوړې شوې دي. يا په بل عبارت: هغه به داسې کاڼي (ډبرې) نه وي چې يا د دنياوي ډبرو غوندې وي او يا په سړه هوا کښې د منجمدو اوبو څڅه د ږلۍ په شکل جوړې شوې وي، بلکې دا ډبرې به د پخو خختو غوندې د خټو څخه جوړې وي او په کلک حرارت باندې به ترې کاڼي جوړ شوي وي.

پاتې شوه دا خبره چې د ذکرو شوو ډبرو (کاڼو) شکل او حجم څومره-څومره وه؟ نو په دې باره کښې په ايتونو او احاديثو کښې مونږ څه معلومات نه دي ليدلي او نه پکښې څه خاصه ګټه شته، مګر ځينو علماوو کرامو[۳] ليکلي دي چې ذکر شوي کورتکاڼي د اوښانو د سرونو او يا د اوښانو د زنګونو په اندازه او شکل سره وه، او ځينو لا د انسان د موټې اندازه او شکل ورته په ګوته کړی دی.

اودا هم څه لرې نه ده چې د کورتکاڼو شکلونه او حجمونه به په ډول-ډول وه، والله ﷻ أعلم.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: په ذکرو شوو فاجرانو باندې د نسکورولو څخه وروسته د کورتکاڼو باران وورولی شو او که اول ورباندې باران وکړی شو او بيا نسکور جوړ کړی شو؟

مونږ وايو چې: په دې هکله مفسرينو کرامو لاندې دوه قوله کړي دي[۴]:

الف ځينې وايي چې کله ذکر شوي ښارونه جبرائيل امين عليه السلام پورته کړه نو د کورتکاڼو د باران څخه وروسته يې رانسکور کړه.

---

(۱) زاد المسير ج۴ ص۱۱۲

(۲) الدر المنثور ج۴ ص۴۶۴

(۳) البحر المحيط ج۶ ص۱۹۲؛ روح المعاني ج۱۲ ص۱۱۳

(۴) تفسير القرطبي ج۹ ص۸۴؛ تفسير الطبري ج۱۲ ص۹۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب او خينې نور وايي چې لومړی رانسکور کړی شوه او بيا پرې د توهين او تحقير دپاره د کورتکانو باران وورولی شو.

په هر تقدير، د ذکرو شوو فاجرانو څخه چې هرځومره کسان د ښارونو څخه بهر په سفر باند... تللي وه هغوی صرف په کورتکانو باندې وويشتل شوه او هلاک کړی شوه[۱] د همدې کبله د هغ... نفر دپاره خپل ټاکلی شوي کورتکاني څلوېښت ورځې په هوا کښې متوقف وه کوم چې د حرم شر... په داخل کښې څلوېښت ورځې توقف کړی وه، نو کله چې د حرم شريف څخه بهر شو نو متوقف کورتکانی ورباندې ورولوېد او هلاک شو[۲].

## مَنضُود څه معنی؟

۴_ د ﴿ مَّنضُود ﴾ کلمه د "نَضَدْتُ الْمَتَاعَ" څخه اخستلی شوې ده[۳]، يعنې خينې متاع مې په خينو نورو باندې دپاسه وراچولې وه. څرنګه چې ذکره شوې کلمه په دې مقام کښې د ﴿ سِجِّيل ﴾ د کلمې دپاره صفت واقع شوې ده نو د معنی حاصل يې په لاندې دوه ډولونو باندې اخستلی شي[۴]:

الف: دغه د الهي غضب کورتکانې په دومره ګڼ تعداد کښې وه او په دومره تېزه شبېه باندې پرې وورېدل چې ځينې د ځينو نورو دپاسه واچولی شوه.

ب: کله چې الله ﷻ اراده وکړه چې د ختو څخه د غضب کورتکانې جوړ کړي نو د همدغو ختو خينې برخې يې په ځينو نورو باندې کلکې ور ونښلولې حتی چې کورتکانې او ډبرې ترې جوړې شوې.

مونږ ته داسې برېښي چې ذکرې شوې دواړه معناوې سره يو تر بله څه منافات نه لري څه لرې نه ده چې دواړه مرادې وي، والله ﷻ أعلم.

## د غضب د ډبرو نښې

۵_ د ﴿ مُّسَوَّمَةً ﴾ کلمه د "سِيمَا" څخه اخستله شوې ده او د ﴿ حِجَارَةً ﴾ د کلمې دپاره صفت واقع شوې ده، "سِيمَا" نښې او علامې ته ويل کېږي. نو د ذکرو شوو الٰهي غضب د ډبرو په نښو او علاماتو کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۵]، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: دغه ډبرې سپينې او سرې (برګې) وې.

ب: په دغو باندې څه مهر وهلی شوی وه، ته به وايې چې د لوط ﷺ د قوم دپاره ټاکلې شوې وې.

ج: په دغو ډبرو باندې تور او سره خطونه کش کړی شوي وه.

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۲ ص۴۵۵
(۲) تفسير الخازن ج۳ ص۳۵۰؛ الدر المنثور ج۴ ص۴۶۴
(۳) مفردات الراغب ص۵۱۷
(۴) زاد المسير ج۴ ص۱۱۳
(۵) زاد المسير ج۴ ص۱۱۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: په هره ډبره باندې داسې نښه (علامه) وه چې خلکو پېژاندلی شوه چې دا د ځمکې ډبره نه ده.
هـ: په هره ډبره باندې د خپل مقتول نوم لیکلی شوی وه.
څه لرې نه ده چې په ټولو ډبرو باندې به یوه علامه وه او په ځینو باندې به بله، لکه چې د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې ځینې ډبرې تورې وې او سپین-سپین ټکي ورباندې وه او ځینې سپینې وې او تور-تور ټکي پکښې وه(۱). همدې مطلب ته د ﴿ عِندَ رَبِّكَ ﴾ کلمات اشاره کوي، یعنې ای پیغمبره! ذکر شوې ډبرې ستا د رب ﷻ په نزد باندې نښې لرونکې وې او ټولې نښې یې همده ﷻ ته معلومې وې.
یا په بل عبارت: ذکرو شوو ډبرو څه نښې درلودې چې په همدغو فاجرانو پورې یې د ډبرو په اختصاص باندې دلالت کاوه چې په همدغو باندې به ورېږي او په بل چا باندې به اصابت نه کوي.
والله ﷻ أعلم بالصواب.

﴿ وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ وَلَا
تَنقُصُوا۟ ٱلْمِكْيَالَ وَٱلْمِيزَانَ ۚ إِنِّىٓ أَرَىٰكُم بِخَيْرٍ وَإِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ
(۸٤) وَيَٰقَوْمِ أَوْفُوا۟ ٱلْمِكْيَالَ وَٱلْمِيزَانَ بِٱلْقِسْطِ ۖ وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا
تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ (۸۵) بَقِيَّتُ ٱللَّهِ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ۚ وَمَآ أَنَا۠
عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ (۸٦) قَالُوا۟ يَٰشُعَيْبُ أَصَلَوٰتُكَ تَأْمُرُكَ أَن نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَآ أَوْ أَن
نَّفْعَلَ فِىٓ أَمْوَٰلِنَا مَا نَشَٰٓؤُا۟ ۖ إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلْحَلِيمُ ٱلرَّشِيدُ (۸۷) قَالَ يَٰقَوْمِ أَرَءَيْتُمْ إِن كُنتُ
عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّى وَرَزَقَنِى مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ۚ وَمَآ أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَىٰ مَآ أَنْهَىٰكُمْ عَنْهُ ۚ
إِنْ أُرِيدُ إِلَّا ٱلْإِصْلَٰحَ مَا ٱسْتَطَعْتُ ۚ وَمَا تَوْفِيقِىٓ إِلَّا بِٱللَّهِ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ (۸۸)
وَيَٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِىٓ أَن يُصِيبَكُم مِّثْلُ مَآ أَصَابَ قَوْمَ نُوحٍ أَوْ قَوْمَ هُودٍ أَوْ قَوْمَ
صَٰلِحٍ ۚ وَمَا قَوْمُ لُوطٍ مِّنكُم بِبَعِيدٍ (۸۹) وَٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ ۚ إِنَّ رَبِّى
رَحِيمٌ وَدُودٌ (۹۰) قَالُوا۟ يَٰشُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِّمَّا تَقُولُ وَإِنَّا لَنَرَىٰكَ فِينَا ضَعِيفًا ۖ وَلَوْلَا

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۱۱۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رَهۡطُكَ لَرَجَمۡنَٰكَۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡنَا بِعَزِيزٖ ﴿٩١﴾ قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَهۡطِيٓ أَعَزُّ عَلَيۡكُم مِّنَ ٱللَّهِ
وَٱتَّخَذۡتُمُوهُ وَرَآءَكُمۡ ظِهۡرِيًّاۖ إِنَّ رَبِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ مُحِيطٞ ﴿٩٢﴾ وَيَٰقَوۡمِ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ
مَكَانَتِكُمۡ إِنِّي عَٰمِلٞۖ سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ مَن يَأۡتِيهِ عَذَابٞ يُخۡزِيهِ وَمَنۡ هُوَ كَٰذِبٞۖ
وَٱرۡتَقِبُوٓاْ إِنِّي مَعَكُمۡ رَقِيبٞ ﴿٩٣﴾ وَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا شُعَيۡبٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ
بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَأَخَذَتِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلصَّيۡحَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دِيَٰرِهِمۡ جَٰثِمِينَ ﴿٩٤﴾ كَأَن
لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَآۗ أَلَا بُعۡدٗا لِّمَدۡيَنَ كَمَا بَعِدَتۡ ثَمُودُ ﴿٩٥﴾

[۸۴] او (مونږ) د مدین (ښار اوسیدونکو) ته د دوی (خواخوږی نسبي) ورور شعیب عليه السلام (رالسولی وه).

ده عليه السلام (ورته) وویلې چې: ای زما قومه! تاسو (یوازې) د الله ﷻ عبادت وکړئ (او شریک ورسره پکښې مه دروئ) یقیناً چې تاسو لره د همده ﷻ څخه په غیر (په حقه بل) هیڅ معبود نشته.

او (ای قومه!) تاسو پیمانې او تلې مه کموئ، یقیناً چې زه تاسو په ډېر بهتر حالت باندې ګورم (چې ټول احتیاجات او ضروریات مو پوره دي) او یقیناً زه په تاسو باندې (د همدغه حالت د بدلون او) د راګیروونکې ورځې د عذاب څخه ډارېږم.

[۸۵] او ای زما قومه! پیمانې او تلې په انصاف سره پوره کړئ او خلکو ته د هغوی شیان (هر شی چې وي د واقعیت څخه) لږ مه خېژوئ او هم په ځمکه کښې په داسې حال کښې حرکت مه کوئ چې تاسو فساد کوونکې یاست.

[۸۶] د الله ﷻ دپلوه پاتې کړی شوی مال (چې په جائزه طریقه یې حاصل کړئ) تاسو ته (د حرام مال څخه) بهتر دی، که تاسو (زما په خبره) باور کوونکي یاست.

او زه خو په تاسو باندې ساتونکی نه یم (چې ستاسو د جنایتونو پوښتنه به زما څخه وکړی شي).

[۸۷] هغوی (د طنز او مسخرو په توګه) وویلې چې: ای شعیبه! ایا تاته ستا لمونځ (ډېر لمونځونه) امر کوي (چې مونږ ته دعوت راکړې) چې مونږ هغه (بوتان) پرېږدو د کومو عبادت به چې زمونږ پلرونو کاوه یا (دا پرېږدو چې) مونږ په خپلو مالونو کښې هغه (تصرفات) وکړو کومو ته چې زمونږ اراده وي (لکه په پیمانه او تله کښې کمبود او داسې نور)؟

یقیناً ته خو ضرور هوښیار (او) په سمه لاره باندې روان سړی یې (دغې دعوتونه کول ستا سره مناسب نه دي).

[۸۸] شعیب عليه السلام وویلې چې: ای زما قومه! ماته د دې (پوښتنې) خبر (جواب) راکړئ که زه د خپل

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رب ﷻ د پلوه په څرګند دلیل (لاره) باندې یم او (که) ماته خپل رب ﷻ د خپله جانبه حلاله (پاکیزه) روزي هم راکړې وي (او د دغو نعمتونو سره سره ناشکري وکړم او ستاسو د دعوت څخه لاس واخلم نو څوک به مې د خپل رب ﷻ د عذابه خلاص کړي؟)

او (ای زما قومه!) زه خو دا اراده (قصد) هم نه لرم چې (تاسو د بوه کار څخه منعه کړم او بیا) ستاسو څخه مخالفت وکړم (او) هغه شی ته (پخپله ورشم) د کوم شي څخه مې چې تاسو منعه کړي یاست

(زه په دعوت کښې شخصي غرض نه لرم) زه بل شی نه غواړم مګر ترڅو مې چې وسه کېږي اصلاح غواړم (او د فساد مخه نیسم) او زما توفیق (په بل هیڅ باندې) نه دی مګر (خاص) په الله ﷻ باندې دی، په همده ﷻ باندې مې توکل (قوي اعتماد) کړی دی او (خاص) همده ﷻ ته (په ټولو کارونو کښې) رجوع کوم.

[۸۹] او ای زما قومه! تاسو ته دې زما سره دښمني (دا) کسب نه کړي (تاسو ته دې دا ونه ګټي چې) د هغه عذاب غوندې (عذاب) درته ورسېږي کوم چې د نوح ؑ قوم ته رسېدلی وه (او) یا د هود ؑ قوم ته (رسېدلی وه او) یا د صالح ؑ قوم ته (رسېدلی وه).

او د لوط ؑ (هلاک شوي) قوم څخه خو ستاسو څخه (په زمانه او موقعیت کښې) لرې نه دی (په اسانۍ سره ترې عبرت اخستلی شئ).

[۹۰] او (ای قومه!) د خپل رب ﷻ څخه (د پخوانیو جنایتونو څخه) مغفرت وغواړئ (ایمان پرې راوړئ) او (خاص) همده ﷻ ته (په ټولو کارونو کښې) رجوع وکړئ، یقیناً زما رب ﷻ (چې ستاسو رب هم دی) ډېر مهربان (او) ډېر دوستي کوونکی دی.

[۹۱] هغوی (د مدین مشرکانو) وویلې چې ای شعیبه! مونږ د هغو خبرو څخه په ډېرو باندې (په دقت سره) نه پوهېږو کومې چې ته (مونږ ته) وایې (ستا څه مطلب دی؟).

او مونږ (په همدې یوه باندې پوهېږو چې) یقیناً تا په خپل منځ کښې د کمزورۍ په حالت کښې ګورو (نو په خپل ځان باندې رحم وکړه او مونږ مه په غُصه کوه).

او که ستا (د نژدې) ټبر (احترام) نه وې نو ضرور به مو ته سنګسار کړی وی او ته په مونږ باندې محترم نه یې (ستا ټبر راته محترم دی).

[۹۲] شعیب ؑ وویلې چې ای زما قومه! ایا زما ټبر (قبیله) په تاسو باندې د الله ﷻ څخه زیات عزتمند دی؟ او (تاسو زما د قبیلې احترام کوئ او) الله ﷻ مو د خپلو ځانونو وروسته شاګانو ته غورځولی شی جوړ کړی دی (چې بالکل مو هېر دی). یقیناً زما رب ﷻ په هغو (اعمالو) باندې (په علم او قدرت سره) احاطه کړې ده چې تاسو یې کوئ.

[۹۳] او ای زما قومه! (چې زما دعوت نه قبلوئ نو) په خپله طریقه باندې عمل کوئ، یقیناً زه هم (په خپله طریقه) عمل کوونکی یم (نو) ډېر ژر به پوه شئ چې هغه څوک دی چې ده ته داسې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عذاب ورځي (ور روان دی) چې دی به رسوا کړي او (هم به تاسو پوه شئ چې) هغه څوک دی چې هغه دروغژن دی.

او (ای قومه! خپل انجام ته) انتظار وکړئ، یقیناً زه هم ستاسو سره انتظار کوونکی یم.

[۹۴] او کله چې زمونږ (د عذاب) فرمان راغی (ورورسېد) نو شعیب ﷺ ته مو نجات ورکړ او هغو کسانو ته مو هم د خپله جانبه په (لوی) رحمت سره (نجات ورکړ) کومو چې د ده ﷺ سره ایمان راوړی وه.

او هغه کسان یوې (سختې تېزې) کړیکې (په هلاکت سره) ونیول کومو چې (په خپلو خانونو باندې) ظلم کړی وه نو دوی په خپلو کورونو (ښارونو) کښې په زنګونونو باندې غورزولي شوي (مړه وګرځېده).

[۹۵] داسې (بې حرکته پرېوتل) لکه چې دوی دلته د سره اوسېدلي نه وي (او دا ښارونه پرې د سره ودان شوي نه وي).

خبردار! (د) مدین (مشرکانو) ته دې (د الله ﷻ د رحمت څخه) لرېوالی وي لرېوالی. دوی ته دې (داسې لرېوالی وي) لکه څنګه چې ثمودیانو ته (د الله ﷻ د رحمت څخه) لرېوالی وه.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د شعیب ﷺ (خطیب الانبیاء) د ځینو هغو حالاتو بیان پیل شوی دی کوم چې د همدې سورت د محتویاتو سره کلک ارتباط لري. نو خلاصه یې په لاندې ټکو کښې وړاندې کېږي:

مونږ د مدین ښار اوسېدونکو ته -چې په شرک او نورو جنایتونو باندې مبتلا وه- د دوی نسبي ورور او خواخوږی شعیب ﷺ وراستولی وه، چې د خپل قوم سره یې لاندې سوال جواب وکړ:

۱- د هرڅه څخه وړاندې شعیب ﷺ دوی مخاطب کړه چې:

الف: تاسو یوازې او یوازې د الله ﷻ عبادت وکړئ او شریک ورسره پکښې مه دروئ څکه چې واقعاً تاسو د همده ﷻ څخه په غیر بل په حقه معبود نه لرئ او همدا الله ﷻ ستاسو حقیقي او واقعي معبود دی او بس.

ب: د ټولو جنایتونو څخه عموماً او په پیمانه او تله کښې د کمبود واقع کولو څخه خصوصاً ډډه وکړئ او دا څکه چې:

اول: زه تاسو په ډېر ښه حالت کښې ګورم چې د هر شي درباندې پراخي ده او په ښار کښې مو پوره امنیت دی، نه د ضروریاتو د کمبود خطر شته او نه درته د کوم دښمن د پلوه څه خطر متوجه دی.

دوهم: همدغه حالت به تاسو ته په هغه وخت کښې دوام وکړي چې تاسو د شرکیاتو او فساداتو څخه لاس واخلئ او د الله ﷻ په وحدانیت باندې قائل شئ، که نه نو زه په تاسو باندې دارېږم چې د یوې بدې ورځې عذاب به درڅخه راچاپېر شي او د نجات دپاره به هیڅ لاره مونده نه کړئ.

ج: ای زما قومه! زه یو ځل بیا ستاسو توجه دغو ټکو ته را اړوم:

اول: په پیمانو او تلو کښې پوره والی وکړئ او په انصاف باندې کلک ودرېږئ، او یا دا خبره د

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یوه انصافدار سړي وجدان منلی شي چې پخپله خپل حق پوره غواړي او بل ته خپل حق پوره نه ورکوي یا په پیمانه کښې د کمبود مرتکب کېږي او یا په تله کښې ډنډي وهي.

دوهم نو د همدې کبله زه تاسو ته دعوت درکوم چې خلکو ته د هغوی اجناس او شیان د واقعیت په خلاف په چل (فریب) سره ناقص مه خېژوئ.

دریم: همدارنګه په ځمکه کښې په فساد سره حرکت مه کوئ او په کومو جنایتونو باندې چې اخته یاست د هغوی څخه لاس واخلئ.

د: ای قومه! که تاسو زما په خبره باور کوونکي یاست تاسو عقیده وکړئ چې تاسو ته ژوند بهتر دی د مرګ څخه او عافیت درته غوره دی د مصیبت څخه، حال دا چې ستاسو ژوند او ستاسو عافیت په هغه شي کښې پټ دی کوم ته چې زه تاسو دعوت کوم، که نه نو د بقاء په عوض به د فنا سره مخامخ شئ او د عافیت په عوض به په بلاء او آفت باندې اخته شئ.

او همدارنګه تاسو ته هغه لږ مال بهتر دی کوم چې تاسو ته په جائزه طریقه په لاس درغلی وي او هغه مال درته شر دی کوم چې تاسو په چل او فریب سره حاصل کړئ، که څه هم هغه ډېر وي.

هـ: ای زما قومه! زه د دې دپاره تاسو نه یم استولی شوی چې ستاسو مسؤلیت زما په غاړه پرېوزي او ستاسو د جنایتونو جزا ماته متوجه کړی شي. بلکې زه ستاسو دپاره صرف د الهي فرمان رسوونکی یم چې لله الحمد دا وظیفه مې د الله ﷻ په توفیق په ډېر ښه صورت سره انجامه کړه، نور نو ستاسو کار دی چې تاسو زما د دعوت په مقابل کښې کومه یوه لاره نیسئ.

## د مدین د ښاریانو جواب

۲ـ د مدین د ښار مشرکانو د شعیب علیه السلام د دعوت په مقابل کښې داسې جواب ورکړ چې:

الف: ای شعیبه! ستا په باره کښې زمونږ تمه وه چې ستا ډېر لمونځونه به ستا څخه ډېر ښه سړی جوړ کړي او په آخر کښې به خپل پلارني رسم او رواج ته ور واوړې او د بوتانو په عبادت کښې به زمونږ سره شرکت وکړې، مګر کومه تګلاره چې تا د خپل ځان دپاره غوره کړې ده هغې زمونږ تمه د خاورو سره برابره کړه او معکوسه نتیجه یې ورکړه، عجیبه ده چې ایا ستا لمونځونه زمونږ د آرزوګانو په خلاف تاته امر کوي چې مونږ لاندې کارونو ته دعوت کړې:

اول: چې مونږ خپل پلارني بوتان پرېږدو او صرف یوازې د الله ﷻ عبادت وکړو او هیڅ شریک ورسره ونه دروو، ایا دا کار د کولو دی؟

دوهم او یا په خپلو مالونو کښې هغه تصرفات پرېږدو کوم چې زمونږ خوښه وي، یا په بل عبارت: مونږ په خپلو مالونو کښې دهر ډول تصرف حق لرو، نو دا فقط په مونږ پورې اړه لري چې په پیمانه کولو او تللو کښې کمبود کوو او که پوره یې ورکوو؛ ایا ته غواړې چې مونږ په خپلو مالونو کښې د اراد تصرف څخه منعه کړې؟

ب: ای شعیبه! ته خو ښه هوښیار سړی یې او په معاملاتو کښې سمه لاره او غلطه لاره ښه پېژنې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایا ته نه پوهېږې چې پلار نیکه مو ... پرېښودل سم کار نه دی؟ ایا ته نه پوهېږې چې هر څوک په خپل مال کښې د ازاد تصرف حق لري؟ ایا ته لیونی شوی نه یې؟

## د شعیب ﷺ دوهم ځلي دعوت

۴. شعیب ﷺ د مدین د ښاریانو د ځواب څخه وروسته د دوهم ځل دپاره خپل دعوت په لاندې ټکو کښې معنوي ته وړاندې کړ.

الف. ای زما قومه! ګوره کار نه چې زه ستاسو دعوت کوم هغه د سادګۍ او ګمراهۍ کار نه دی، بلکې د هغه څخه خپل ځان ګوښه کول او هغه ته دعوت نه کول لیونتوب او ګمراهي ده. د څکه چې

ب. تاسو په انصاف سره ووایاست که چېرته زه د خپل رب ﷻ د پلوه واضحه لار او په واضحه حجت باندې روان یم او د خپله جانبه یې حلاله روزي هم راکړې وي چې د حکم د اتباع څخه یې منع کړی یم. نو د دې سره سره که زه د دعوت څخه لاس واخلم، نه د نعمت شکریه وکړم او نه د حلالې روزۍ شکرګذار شم، نو ایا دا به زما هوښیاري وي او که سادګي؟ ایا دا به هدایت او رشد وي او که ضلالت او ګمراهي؟!

پوره واضحه ده چې په ذکر شوي صورت کښې زما څخه د دعوت د پرېښودلو غوښتنه سادګي او ګمراهي ده.

ج. ای زما قومه! زه خو ستاسو دپاره هغه څه خوښوم کوم مې چې د خپل ځان دپاره خوښ کړي دي، مثلاً د خپل رب ﷻ په عبادت کښې هیڅوک او هیڅ شی نه شریکوم او هم په پیمانه او تول کښې کمبود نه کوم او هم په ځمکه باندې د فساد په توګه نه ګرځم. خو ستاسو څخه هم همدغه خط السیر غوارم. که بالفرض زه پخپله د ذکرو شوو شیانو مرتکب وی او تاسو مې ترې منعه کولی نو ستاسو به حق وی چې په ما باندې مو اتهام لګولی وی خو الحمد لله خبره داسې نه ده، زه د ذکرو شوو جنایتونو اراده قدرې هم نه کوم او نه په خپل تصور کښې ځای ورکوم

د. ای زما قومه! زه په خپل دعوت سره صرف اصلاح غوارم چې د عقیدوي او عملي فسادونو مخه د خپلې وسې په اندازه ونیسم، په دې لاره کښې زما حرکت مفسدانه حرکت نه دی بلکې اصلاحي حرکت دی او څه شخصي غرض مې پکښې نشته. نو تاسو ته په کار دی چې مخه یې ونه نیسئ او زما سره پکښې ملګري شئ.

هـ. ای زما قومه! که تاسو زما سره ملګرتیا وکړئ نو ستاسو دپاره ګټه ده، که نه نو ستاسو عدم همکاري نه زما په تګلاره باندې څه اثرغورزولی شي او نه زه ستاسو څخه څه غواړم.

په دې لاره کښې زما توفیق او لاس نیوی صرف په الله ﷻ باندې دی، زه فقط په الله ﷻ باندې توکل کوم. زه په خپلو ټولو کارونو کښې یوازې الله ﷻ ته رجوع کوم او بس.

و. ای زما قومه! که تاسو زما سره ملګرتیا نه کوئ نو دښمني هم راسره پرېږدئ او د دعوت مخه مې مه بندوئ، د یوه پیغمبر سره دښمني کول او د هغه په مقابل طرف کښې ودرېدل د هلاکت او مصیبت څخه په غیر بله نتیجه نه لري.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که تاسو زما مخالفت او مقابلې ته ادامه ورکړئ نو تاسو د دې څخه وډار شئ چې هغه شی درته ورسېږي کوم چې د نوح ﷺ قوم ته او د هود ﷺ قوم ته او هم د صالح ﷺ قوم ته او د لوط ﷺ قوم ته رسېدلی وه، نو تاسو وډار شئ چې الله ﷻ به مو غرق کړي او یا به دریاندې باد مسلط کړي او ـبالآخره ـ یا به مو د ځمکې په زلزلې او تېز اواز باندې هلاک کړي او یا به مو ښارونه سرچپه کړي.

که تاسو د پخوانیو قومونو څخه عبارت نه اخلئ نو د لوط ﷺ د قوم څخه خو ضرور عبرت واخلي ځکه چې دا خو ستاسو څخه نه د مکان په اعتبار سره لرې واقع دي او نه د هغوی د هلاکت ډېر وخت تېر شوی دی چې د هلاکت قیصه یې د عمومي اذهانو څخه وتلې وي.

ز: ای زما قومه! اوس هم ستاسو څخه وخت نه دی تېر شوی، نو د خپل رب ﷻ څخه د پخوانیو شرکیاتو څخه مغفرت وغواړئ او خپله پښېماني پرې ښکاره کړئ او په خپلو ټولو کارونو کښې همده ﷻ ته رجوع وکړئ. نو ستاسو توبه به قبوله کړي او په پخوانیو شرکیاتو او جنایتونو باندې به مو ونه نیسي. دا ځکه چې یقیناً زما رب ﷻ چې ستاسو رب هم دی د یو پلوه مهربان دی او د بله پلوه دوستي کوونکی دی، د هیچا سره بې موجبه دښمني نه کوي.

## د مدین د ښاریانو دوهم ځل جواب

۴ـ د مدین ښاریانو (مشرکانو) د شعیب ﷺ دوهم ځل دعوت په لاندې توګه جواب کړ:

الف: ای شعیبه! مونږ ستا په ډېرو خبرو باندې نه پوهېږو چې ستا څه غرض دی، نو مونږ ته نصیحتونه مه کوه او زمونږ غوږونه مه خوره.

ب: ته خو زمونږ په منځکښې یوکمزوری سړی یې، ستا څه د لاسه کېږي، د پخوانیو قومونو په عذابونو باندې مونږ مه ډاروه، او مونږ ستا د ډارولو د خبرو څخه نه ډارېږو.

ج: ای شعیبه! ته مونږ ته څه قدر اوعزت نه لرې، که ستا د قوم مخ او خاطر نه وی نو ته به ضرور مونږ سنګسار کړی وی خو د هغوی د احترام د کبله مونږ تا نه رجم کوو چې هغوی زمونږ ملګري دي او په خپل پلارني خط السیر باندې کلک دي نو ځکه په مونږ باندې ګران او باعزته دي، که نه نو ته مونږ ته هیڅ ارزښت نه لرې.

## د شعیب ﷺ دریم ځل دعوت

۵ـ شعیب ﷺ په دریم ځل دعوت کښې د مدین کفار په لاندې ټکو مخاطب کړه چې:

الف: ای قومه! عجیبه ده چې په تاسو باندې د الله ﷻ څخه هم زما قوم ګران او ډېر عزتمند دی. ایا تاسو زما د قوم د خاطره زما د رجم کولو څخه صرف نظر کوئ اود الله ﷻ د خاطره ـچې ستاسو پیداکوونکی دیـ د شرکیاتو او جنایتونو څخه لاس نه اخلئ؟

ایا تاسو الله ﷻ ته شا کړې ده او زما قوم ته مو مخ کړی دی؟

ایا تاسوته خپل عقلونه اجازه درکوي چې د خالق څخه د مخلوق زیات احترام وکړئ؟!

ب: یقیناً زما رب ﷻ ستاسو په ټولو کړو وړو باندې په علم اوقدرت سره احاطه کړې ده، ستاسو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تول کاروبه ګوري او ستاسو تولې پوچې ويناوې اوري

ج ای قومه! زما چې ستاسو د اصلاح دپاره څه په وسه کښې وه هغه مې تمام کړه او څه چې راباندې فرض وه هغه مې اداء کړه. نور نو تاسو خپل کار کوئ او زه به خپل کار کوم. په راتلونکي کښې به تاسو پوه شئ چې په ما او په تاسو کښې په چا باندې عذاب نازلېږي او څوک د رسوائی او شرمندګۍ سره مخ کېږي، زه که تاسو؟

د او هم به پوه شئ چې څوک دروغژن دی او څوک رښتيا وايي، زه که تاسو؟

ه بالآخره تاسو هم نتيجې ته منتظر اوسئ زه هم ستاسو سره انتظار کوونکی یم چې کله به په تاسو باندې عذاب نازلېږي او کله به زما او ستاسو ترمنځ الهي فيصله صورت نيسي.

## د شعيب ﷺ د دعوت نتيجه

۶_ کله چې د هغه عذاب وخت پوره شو په کوم باندې به چې شعيب ﷺ د مدين د ښار مشرکان راول او کله چې هغوی د شعيب ﷺ دعوت په قطعي توګه رد کړ او د سنګسارولو لاپې شاپې يې ورته وکړې نو لاندې کيفيات منځته راغله:

الف. مونږ شعيب ﷺ او هغو کسانو ته نجات ورکړ کومو چې ايمان راوړی وه، البته په خپل رحمت سره، که نه نو د عمومي عذاب څخه دوی چرته نجات موندلی شو.

ب. او ظالمانو مو د دوی د ظلم د کبله په يوه هيبتناک اواز باندې تول پوپنا کړه، چې تول خاي په خاي په خپلو ښارګوټو او کورونو کښې په زنګونو باندې په مخونو باندې مړه پرېوتل، تابه ويل چې د کجورو د ونو ډډونه پراته دي.

ج. د ظالمانو توله دبدبه په يوه اواز سره ختمه شوه او ښارونه ترې داسې پاک او صاف شوه لکه چې د سره پکښې دوی نه اوسېدلي وي او نه يې پکښې د عيش او عشرت ژوند تېر کړی وي.

د. خبردار! د مدين ښاريان (مشرکان) هم د الله ﷻ د رحمت څخه په دائمي توګه داسې لرې پرېوتل لکه څنګه چې د ده ﷻ د رحمت څخه ثموديان د همېشه دپاره لرې پرېوتلي وه.

## توضيحات

۱_ د [الأعراف:۸۵] ايت لاندې د مدين د ښار په هکله څه معلومات ليکلي شوي دي چې بيا ليکلو ته يې څه اړتيا نه ګورو، او هم هلته د "أَصْحَابُ الْأَيْكَة" کلمه شرحه شوې ده.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: د ﴿ وَلَا تَنقُصُوا۟ ٱلْمِكْيَالَ وَٱلْمِيزَانَ ﴾ او د ﴿ أَوْفُوا۟ ٱلْمِكْيَالَ وَٱلْمِيزَانَ بِٱلْقِسْطِ ﴾ د دواړو جملو څخه يو مطلب راوخي، نو په دې کښې څه حکمت دی چې په يوه جمله باندې اکتفاء ونه کړی شوه؟

مونږ وايو چې:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په دواړو طرفونو باندې صراحت وکړی شو ترڅو په دواړو طرفونو باندې دوی مقایسوي نظر واچوي چې هغه څومره قبیح دی او دا څومره غوره او بهتر دی.

ب: په دوهمه جمله کښې د ﴿ بِٱلْقِسْطِ ﴾ کلمه اضافه نازله شوې ده، چې د اولنۍ جملې سره نشته، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: په تله او پیمانه کښې د الله ﷻ د ډاره په انصاف سره پوره والی وکړئ، نه د دې کبله چې د مال د خاوند څخه وډار شئ او یا درباندې بله کومه وجه باعثه وي.

ج: په اوله جمله کښې مطلب دا دی چې په پیمانه کښې نقصان مه کوئ چې په ناقصه پیمانه باندې د پوره پیمانې نوم کېږدئ او خلک وغولوئ او یا په تله کښې ناقص معیار په پوره معیار باندې استعمال کړئ او د خلکو حقوق د پښو لاندې کړئ.

او په دوهمه جمله کښې مطلب دا دی چې هم په پیمانه کولو کښې او هم په تللو کښې پوره والی وکړئ یعنې په پیمانه شوي شي کښې تګي مه کوئ او په تله کښې مه ډنډې وهئ او مه ناقص کانې استعمالوئ چې خلک پرې تېرباسئ:

همدا جواب د ﴿ وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ ﴾ د جملې څخه معلومېږي، یعنې خلکو ته برسېره پر مکیلاتو او موزوناتو باندې نور شیان هم مه ناقص کوئ چې یا په دعوو کښې حقوق د پښو لاندې کړئ او یا په حقه فیصله ونه کړئ.

## بَقِيَّة څه معنی؟

۳_ په ﴿ بَقِيَّتُ ٱللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ بَقِيَّتُ ﴾ کلمه د "بَقَاء" څخه اشتقاقه شوې ده چې د "فَنَاء" ضد ده[۱].

اما ذکره شوې کلمه علماوو کرامو په دې مقام کښې په متعددو معناوو باندې تفسیره کړې ده چې تقریبًا نهو معناوو ته رسېږي[۲]، مګر مونږ ته پکښې لاندې دوه معناوې په زړه پورې ښکاري:

الف: یوه هغه کومه چې د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) څخه روایت شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي چې: ای مشرکانو! کوم مالونه چې الله ﷻ تاسو ته د کیل او وزن د پوره کولو څخه وروسته باقي پرېږدي که څه هم لږ وي د هغو مالونو څخه بهتر دي کوم چې تاسو د کیل او وزن په نقصان او یا په بله کومه حرامه طریقه باندې لاس ته در وړئ، که څه هم هغه ډېر او زیات وي[۳].

همدا مضمون نوموړي صحابي ﷺ په یوه اوږده حکمي مرفوع حدیث کښې داسې بیان کړی دی چې: «وَلا نَقَصَ قَوْمٌ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِلاَّ قُطِعَ عَنْهُمُ الرِّزْقَ»[۴] یعنې هیڅ قوم په پیمانه او تله کښې نقصان نه واقع کوي مګر د هغوی څخه د روزۍ پراخي پرې کېږي او تنګي ورباندې ورخي.

ب: بله هغه ده کومه چې د وړاندېني ایت ﴿ إِنِّىٓ أَرَىٰكُم بِخَيْرٍ وَإِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ

(۱) لسان العرب ج۱۴ ص۷۹
(۲) تفسیر القاسمي ج۹ ص۱۶۱؛ زاد المسیر ج۴ ص۱۱۵
(۳) تفسیر المحرر الوجیز ج۹ ص۲۰۸
(۴) الموطا للإمام مالک ص۲۷۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



محیط ﷺ څخه خرګندېږي، یعنې ای زما قومه! د خوشالۍ په کوم حالت باندې چې زه تاسو ګورم د دې حالت بقاء تاسو ته د فناء او زوال څخه بهتره ده خو دا (بقاء) زما د دعوت په قبول کښې الله ﷻ نغښتې ده، نو که تاسو خپلو کفریاتو او جنایتونو ته ادامه ورکړئ نو د خوشالۍ حالت لا څه چې ژوند به مو هم خاتمه ومومي او ټول به یوځاینا شئ. نو که تاسو زما په کومه خبره باندې یقین (باور) کوونکي یاست نو په دې خبره مې باور وکړئ چې دا واقعیت لري.

## طنز څه معنی؟

۴_ "طنز" _لکه "ضرب"_ دې ته ویل کېږي چې څوک د چا سره په استهزاء او مسخرو سره خبرې وکړي[۱]. څرنګه چې شعیب ﷺ کثیر الصلوة (ډېر لمونځ کوونکی) وه[۲] نو مشرکانو ورته د طنز یا تمسخر په توګه وویلې چې ایا تاته خپل ډېر لمونځونه امر کوي چې مونږ د لاندې دوه وو شیانو په پرېښودلو باندې مکلف کړې، حال دا چې مونږ د یوه پرېښودلو ته هم تیار نه یاستو، هغه دا دي:

الف: چې د خپلو بوتانو عبادت پرېږدو او یوازې دالله ﷻ عبادت وکړو.

ب: چې په خپلو مالونو کښې د خپلې خوښې تصرفات پرېږدو او په پیمانه او تول کښې نقصان ونه کړو.

## د حِلْم او رُشْد معناوې

۵_ د ﴿إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلْحَلِيمُ ٱلرَّشِيدُ﴾ په جمله کښې د "حَلِیم" کلمه د "حِلْم" _لکه "عِلْم"_ څخه اشتقاقه شوې ده.

که څه هم په انسانانو کښې حلم : دې څخه عبارت دی چې څوک د غضب په حال کښې خپل خان په خپله اداره کښې او خپل خان په کنترول کښې وساتي[۳]، مګر څرنګه چې خپل خان په کنترول او اداره کښې ساتل په عقل او هوښیارۍ باندې دلالت کوي نو دهمدې کبله "حِلْم" د عقل په معنی باندې هم استعمالېږي، لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اورېدوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «يَأْتِي فِي آخِرِ الزَّمَانِ قَوْمٌ حُدَثَاءُ الأَسْنَانِ سُفَهَاءُ الأَحْلَامِ»[۴] یعنې په آخره زمانه کښې به (چې د قیامت ورځ نژدې شي) داسې خلک راشي چې عمرونه به یې کم وي (ځوانان به وي) او عقلونه به یې سپک وي (سادګان به وي) خبرې به یې اسلامي وي خو د اسلام څخه به بنویه اوځي او بالآخره ایمان ته به په زړونو کښې ځای نه ورکوي.

او د "رَشِید" کلمه د "رُشْد" څخه اخستله شوې ده چې د هدایت په ځای استعمالېږي[۵].

---

(۱) لسان العرب ج۵ ص۳۶۹
(۲) تفسیر البغوي ج۲ ص۳۹۸
(۳) مفردات الراغب ص۱۲۹
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۷۵۶
(۵) مفردات الراغب ص۲۰۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۶_ که څوک وایې چې کله د مدین مشرکانو شعیب ﷺ ته د حلیم او رشید لقبونه ورکړه نو په کار وه چې ایمان یې هم ورباندې راوړی وی؟

مونږ وایو چې:

الف: دغه دواړه لقبونه یې د مسخرو په توګه ورکړي وه، لکه چې څوک کوسه سړي ته ووایي چې ګېره دې مبارکه شه: نو د دوی اصلي مطلب دا وه چې ته هم ساده (بې عقله) یې او هم دې سمه لاره خطا کړې ده او بې لارې روان یې.[1]

ب: هغوی د دې دپاره ذکر شوي دواړه لقبونه ورکړه او په حقیقت یې اعتراف وکړ ترڅو شعیب ﷺ ترغیب کړي چې د خپل دعوت څخه لاس واخلي. نه یې د بوتانو د عبادت څخه منعه کړي او نه ورباندې د کیل او وزن په کمبود کښې څه پړه واچوي.

مونږ ته همدغه دوهم نظر په زړه پورې برېښي څکه چې:

اول: صالح ﷺ ته هم خپل قوم په داسې یوه جمله باندې خطاب کړی وه چې مضمون یې ذکر شوي جملې ته ورته وه، الله ﷻ فرمایي: ﴿ قَالُوا يَـٰصَـٰلِحُ قَدْ كُنتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَـٰذَآ أَتَنْهَىٰنَآ أَن نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا ﴾ [هود: ۶۲] یعني ثمودیانو صالح ﷺ مخاطب کړ چې: ته د دې څخه وړاندې په مونږ کښې د امید سړی وې چې ښه هوښیار او د پوخ فکر خاوند وې، نو ایا ته اوس مونږ د هغه شي د عبادت څخه منعه کوې د کوم شي عبادت چې زمونږ پلرونو کړی دی؟ ایا دا ډول دعوت ستا سره مناسب دی؟

دوهم: که څه هم کفارو به خپلو پیغمبرانو ته د لیونیانو او سادګانو لقبونه ورکول مګر په زړونو کښې د دوی په هوښیارۍ او پوخ فکرۍ باندې اعتراف کوونکي وه، د همدې کبله یوه ورځې د مکې معظمې قریشو نبي کریم ﷺ ته د یوې اوږدې مباحثې په جریان کښې وویلې چې: "اَلصَّرفُ يَا أَبَا الْقَاسِمِ انْصَرِفْ رَاشِدًا فَوَاللهِ مَا كُنْتَ جَهُولًا"[2] یعني: تېر شه ای ابو قاسمه!، د دې خبرې څخه په داسې حال کښې تېر شه چې ته د سمې لارې خاوند یې نو په الله ﷻ مو دې سوګند وي چې ته ناپوهه (جاهل) سړی نه یې.

## حسن رزق څه معنی؟

۷_ ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ وَرَزَقَنِى مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ﴾ په جمله کښې ښکه روزي په نبوت او حلال مال دواړو باندې تفسیره کړې ده[3] خو مونږ ته بهتره ښکاري چې یوازې په حلال مال باندې

---

(۱) زاد المسیر ج۴ ص۱۱۷
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۶۷۹
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۵۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تفسیر شوي ښکاره چې د نبوت صفت د ﴿إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي﴾ په ښکاره څرګندیږي او د عبدالله ابن عباس رضي‌الله‌عنهما څخه روایت دی چې: «كَانَ شُعَيْبٌ كَثِيرَ الْمَالِ»[1] شعیب ډېر مالدار سړی وه.

نو د معنی حاصل یې داسې کیږي چې: ای قومه! څرنګه چې ماته خپل رب ﷻ هم معنوي نعمتونه راکړي دي چې واضحه لاره یې راته نازله کړې ده او هم یې مادي نعمتونه راکړي دي چې د ښه ډېر حلال مال خاوند یم، نو که بالفرض زه په همدغه حالت کښې د خپل رب ﷻ د اوامرو څخه غاړه وغړوم او ستاسو د دعوت څخه لاس واخلم نو دا به زما څومره زیاته سادګي او زیاته ناشکري وي؟!

## د "فقه" لغوي معنی

۸ـ د ﴿مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِّمَّا تَقُولُ﴾ په جمله کښې د ﴿نَفْقَهُ﴾ کلمه د "فقه" ـ لکه "علم" ـ څخه اشتقاقه شوې ده ده. مونږ د [التوبة: ۱۲۲] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق باندې لیکلي دي چې د "فقه" لفظ دې ته وضعه شوی دی چې څوک په لیدلی شوي شي باندې علم د نالیدلي شوي شي علم ته وسیله وګرځوي (او په دقت سره یې حاصل کړي).

نو د ذکرې شوې جملې د معنی حاصل داسې راوځي چې: ای شعیبه! مونږ په ډېر دقت سره هم ستا په ډېرو خبرو بلکې ستا په ټولو خبرو نه پوهېږو چې ستا په دومره ډېر کلکوالي کښې څه مطلب دی؟ ته څه غواړې؟ مونږ زیاتې ستا د خبرو حوصله نه لرو، ته لږ په خپل ځان باندې رحم وکړه، ته خو په لوی لاس مونږ خپل ځان ته په غُصه کوې، ته خو کمزوری سړی یې تا زمونږ څخه څوک خلاصوي، د اوسه پورې چې مونږ تاته د بیان ازادي درکړې وه دا هم ستا د قوم احترام دی چې هغوی زمونږ سره ملګري دي، ته په مونږ باندې کوم احترام او عزت نه لرې، نو ترڅو پورې به ته د خپل قوم په احترام باندې زمونږ د اذیت څخه بچ اوسېږې؟ بالآخره ای شعیبه! مونږ دې ته مه مجبوروه چې د قوم د احترام څخه دې هم درتېر شو او د ډبرو لاندې دې هلاک کړو.

## "ظِهْرِيًّا" څه معنی؟

۹ـ په ﴿ظِهْرِيًّا﴾ کښې د "ظهر" د کلمې پورې د نسبت مشدده "ی" پیوسته شوې ده، او یوه حرکت پکښې بدلون موندلی دی. "ظهر" شا ته ویل کیږي، خو کوم شی چې هېر کړی شي او په څه ارزښت ورته څوک قائل نه شي نو په عربي ژبه کښې هغه ته "ظِهْرِيّ" وایي او په پښتو کښې ورته شاته اچولی شوی شی وایي.

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راوځي چې: ای قومه! عجیبه ده چې تاسو زما د ټبر (قبیلې) لحاظ کوئ خو د الله ﷻ لحاظ نه کوئ. هغه ﷻ مو هېر کړی دی او هیڅ پروا یې نه لرئ.

## یادونه

۱۰ـ په دې مقام کښې د شعیب علیه‌السلام د قوم مهلک عذاب هیبتي چیغه (کریکه) ښودلې شوې ده

[1] البحر المحیط ج ۶ ص ۱۹۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو په خپلو نورو روایتونو کښې بل دول عذابونه هم بیودلي شوي دي که خوک په دې موضوع کښې تحقیق غواړي نو لطفا دې د الاعراف ۹۱ ایت تفسیر ته مراجعه وکړي

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٩٦﴾ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ فَاتَّبَعُوا أَمْرَ فِرْعَوْنَ ۖ وَمَا أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ ﴿٩٧﴾ يَقْدُمُ قَوْمَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَوْرَدَهُمُ النَّارَ ۖ وَبِئْسَ الْوِرْدُ الْمَوْرُودُ ﴿٩٨﴾ وَأُتْبِعُوا فِي هَٰذِهِ لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ بِئْسَ الرِّفْدُ الْمَرْفُودُ ﴿٩٩﴾﴾

[۹۶] او یقینا مونږ موسی علیه السلام په خپلو قدرتي نښو او ښکاره دلیل سره لیږلی وه

[۹۷] (چانه مو لیږلی وه؟) فرعون او د ده (د مجالسو) مخورو (کسانو) ته (ترڅو دوی ایمان راوړي او نور خلک یې پیروي وکړي)

(مګر نتیجه دا شوه چې فرعون دوی ته د خپل متابعت امر وکړ) نو دوی د فرعون د امر پیروي وکړه حال دا چې د فرعون امر په سمه لاره باندې برابر نه وه (او دا ځکه چې)

[۹۸] (لکه څنګه چې فرعون په دنیا کښې د کفر مخکښ وه همدارنګې به) د قیامت په ورځ د خپل قوم په وړاندې وي نو دوی به اور ته ورولي (نه به وایي چې د ځروبولو ځای ته یې روان کړي دي) نو ډېر بد دی د ځروبولو ځای (چې د دوزخ څخه عبارت دی)

[۹۹] (د ذکر شوي پیروی د کبله) په دغې دنیا کښې هم (الهي) لعنت ورپسې کړی شو او د قیامت په ورځ به هم (په الهي لعنت کښې پټ وي)

(نو فرعونیانو ته داسې دنیاوي لعنت) ډېر بد (او ناکاره) دی چې (په اُخروي لعنت سره) کومک کړی شوی دی (ورسره ضمیمه شوی دی)

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هغې قیصې ته څه اشاره شوې ده کومه چې د موسی علیه السلام او فرعون ترمنځ تیره شوې ده، یعنې مونږ د نورو پیغمبرانو په جمله کښې موسی علیه السلام هم د وخت متکبر او غټ کافر ته استولی وه چې څه شرحه یې دا ده

۱ـ مونږ موسی علیه السلام فرعون او د ده کابینې او د مجلس اراکینو ته تش لاس نه وه استولی بلکې یې ډېرې معجزې مو ورکړې وې چې د ده علیه السلام د نبوت د اثبات دپاره یې کفایت کاوه او په هره یوه مقابله کښې به د همدغو معجزاتو د کبله په فرعونیانو باندې غالب جوړېده.

د همدې معجزاتو څخه یوه د همسا معجزه وه چې د موسی علیه السلام په نبوت باندې یې په ډېره ښکاره توګه دلالت کاوه

۲ـ مګر د دې سره سره فرعونیانو د فرعون د اوامرو پیروي وکړه او د موسی علیه السلام په ښکاره معجزاتو باندې یې باور ونه کړ او ایمان یې ورباندې رانه وړ

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ پوره واضحه ده چې د فرعون اوامر په سمه لاره باندې برابر نه وه نو فرعونيان يې په دنيا او آخرت دواړو کښې په کندو باندې سر کړه او د هلاکت سره يې مخامخ کړه.

يا په بل عبارت: په دنيا کښې د ټولو په سر کښې شو او په بحر کښې يې غرق کړ او په آخرت کښې به د ټولو په سر کښې وي او د دوزخ په اور کښې به يې ور وغورزوي. ته به وايې چې د ټولو په سر کښې دى او خړوبخاى ته يې روان کړي دى.

۳ـ ډېر بد دى دغه خړوبخاى چې دوى به هلته د خړوبولو دپاره ور وستلى شي. دا خړوبخاى د دوزخ د اور څخه عبارت دى.

۴ـ برسېره په دې، د فرعونيانو دپاره يې په دې دنيا کښې هم لعنت وګاټه چې کله د دوى نوم يادېږي لعنت ورباندې ور استولى کېږي او د قيامت په ورځ به هم په دوى باندې لعنت ورېږي او د الله ﷻ د رحمت څخه به لرې کېږي (په دائمي عذاب به معذبېږي).

ډېره بده ورکړه ده چې دوى ته ورکړه شوې ده چې په دنيا او آخرت دواړو کښې د لعنت څخه عبارت ده.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ بِـَٔايَـٰتِنَا ﴾ کښې د "آيات" کلمه د هغو نهو معجزو څخه عبارت ده د کومو بيان ته چې په [الأعراف: ۱۳۰] ايت کښې اشاره شوې ده. اما د ﴿ سُلْطَـٰنٍ مُّبِينٍ ﴾ کلمه په لاندې معناوو باندې تفسيره کېدلى شي[۱]:

الف: په دغې کلمې سره د معجزاتو يو صفت بيان شوى دى. يعنې: مونږ موسى ﷺ ته داسې معجزات ورکړي وه چې د ده څرګنده غلبه پکښې نغښتې وه.

ب: دغه کلمه د يوې معجزې څخه عبارت ده چې هغه د معجزې همسا وه. يعنې: موسى ﷺ ته مو د معجزاتو په ضمن کښې دغه څرګنده معجزه هم ورکړې وه چې اعجاز يې ډېر څرګند وه.

ج: دغه کلمه د واضحو دلايلو معنى ورکوي. يعنې: موسى ﷺ ته مو برسېره په معجزاتو باندې بنه پوره قوي دلايل هم تلقين کړي وه چې په مقابل کښې يې فرعون رد نه شو کولى.

## "وِرْد" څه معنى؟

۲ـ د ﴿ ٱلْوِرْدُ ﴾ کلمه ډېرې معناوې لرې، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: هرڅوک چې د قرآن څخه څه برخه متعينه کړي چې هره ورځ به يې لولوي، نو دغې برخې ته ورد وايې چې جمعه يې "أَوْرَاد" راځي[۲] همدارنګه نور ماثوره ذکرونه هم د اورادو په نامه يادېږي چې د لوست دپاره تعين شي.

---

(۱) البحر المحيط ج۶ ص۲۰۴
(۲) لسان العرب ج۳ ص۴۵۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب- هغه ځای ته چې هلته څاروي د څړوبولو دپاره ورروستلی کېږي هم د "وِرْد" لفظ وضعه شوی دی[١] چې مونږ ترې په پښتو کښې په "اوبه خور" سره تعبير کوو.

په دې مقام کښې دوهمه معنی مراده ده چې دوزخ ته د مجاز په توګه ذکر شوی لقب ورکړی شوی دی او ﴿ٱلۡمَوۡرُودُ﴾ کلمه د "الْمَوْرُوْد عَلَيْهِ" په تاويل سره د ﴿ٱلۡوِرۡدُ﴾ دپاره صفت واقع شوې ده[٢] نو د معنی حاصل يې داسې را اوځي چې: د قيامت په ورځ به د فرعونيانو په سر کښې پخپله فرعون دوزخ ته ور روان وي، ته به وايې چې څاروي يې څړوبولو ته خوځولي دي. نو دغه څړوبځای چې دوی به په هغه باندې ورتونېږي ډېر بد ځای دی چې د دوزخ څخه عبارت دی.

## سوال جواب

که څوک وايي چې: د مجازي معنی خو بدون علاقې او مناسبت څخه نه شي اراده کېدلی حال دا چې د څړوبځای او د دوزخ ترمنځ خو ضديت دی، چرته اوبه او چرته اور؟

مونږ وايو چې: د علاقاتو او مناسباتو څخه ضديت او منافات هم ګڼلي شوي دي، نو د "وِرْد" د کلمې څخه د ضديت په علاقه (مناسبت) سره د دوزخ اور مراد کړی شوی دی.

## د "رِفْد" معنی؟

٣- د کومک په توګه ورکړی شوي شي ته "رِفْد" -لکه "عِلْم"- وايي[٣]، دلته هم د ضديت په علاقه او مناسبت سره په دنيا او آخرت کښې د الهي لعنت څخه په ورکړی شوي کومک سره تعبير کړی شوی دی. د ﴿ٱلۡمَرۡفُودُ﴾ کلمه د همدغه ﴿ٱلرِّفۡدُ﴾ دپاره صفت ده.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د لعنت څخه دلته د تهکم په توګه په ﴿ٱلرِّفۡدُ﴾ سره تعبير نازل شوی دی. يعنې د فرعونيانو دنياوي لعنت ډېر بد او ناکاره دی چې په اُخروي لعنت سره ډبل ګرځولی شوی دی.

﴿ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡقُرَىٰ نَقُصُّهُۥ عَلَيۡكَۖ مِنۡهَا قَآئِمٞ وَحَصِيدٞ ١٠٠ وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ وَلَٰكِن
ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡۖ فَمَآ أَغۡنَتۡ عَنۡهُمۡ ءَالِهَتُهُمُ ٱلَّتِي يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖ لَّمَّا جَآءَ
أَمۡرُ رَبِّكَۖ وَمَا زَادُوهُمۡ غَيۡرَ تَتۡبِيبٖ ١٠١ وَكَذَٰلِكَ أَخۡذُ رَبِّكَ إِذَآ أَخَذَ ٱلۡقُرَىٰ وَهِيَ ظَٰلِمَةٌۚ
إِنَّ أَخۡذَهُۥٓ أَلِيمٞ شَدِيدٌ ١٠٢ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّمَنۡ خَافَ عَذَابَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ ذَٰلِكَ يَوۡمٞ
مَّجۡمُوعٞ لَّهُ ٱلنَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوۡمٞ مَّشۡهُودٞ ١٠٣﴾

---

(١) زاد المسير ج٤ ص ١٢٠؛ لسان العرب ج٣ ص ٤٥٦

(٢) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٣ ص ٦٤

(٣) القاموس المحيط ج٢ ص ٣٦٤

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۰۰] دغه (بيان) چې د (هلاکو شوو) ښارونو د خبرونو څخه عبارت دی، مونږ يې په تا باندې حکايت کوو (که نه نو تا خو پکښې څه معلومات نه درلود) د دې (ښارونو) څخه ځينې ولاړ دي (په نورو خلکو باندې اباد) دي او (ځينې) لو کړی شوي دي (چې کنډوالې پراته دي).

[۱۰۱] او مونږ (په هلاکولو سره) په دوی باندې تېری نه دی کړی (بلکې) دوی په خپلو ځانونو باندې (په شرک او کفر سره) تېری کړی وه (چې د باطلو معبودانو عبادت به يې کاوه).

نو د دوی څخه خپلو هغو (باطلو) معبودانو د هيڅ شي مخه ونه نيوی شوه کوم چې دوی د الله ﷻ څخه په غير بلل (او په عبادت به يې مشغول وه البته) هر کله به چې ستا د رب ﷻ د (عذاب) امر (دوی ته) راغی (ور ورسيد).

او (په دې باندې علاوه) دوی ته خپلو بوتانو د هلاکت څخه په غير څه شی زيات نه کړ (او گټه يې ورته ونه شوه رسولی).

[۱۰۲] او (ای پيغمبره!) ستا د رب ﷻ نيول دغه شان دی (چې هيڅوک يې مخه نه شي نيولی البته) کله چې يو ښار په داسې حال کښې ونيسي چې (په خپلو ځانونو باندې) ظلم کوونکي وي.

يقيناً ستا د رب ﷻ نيول ډېر دردناک (او) ډېر سخت دي.

[۱۰۳] بې شکه په دغې (خبره) کښې د هغه چا دپاره (د عبرت غتبه) نښه ده څوک چې د وروستنۍ (ورځې) د عذاب څخه ډاربږي.

دغه (وروستنۍ ورځ) داسې ورځ ده چې ټول خلک دې ته ورغونډ کړی شوي دي (ټول به ورغونډ کړی شي) او دغه (ورځ) داسې ورځ ده چې (ټول خلک همدې ورځې ته) حاضر کړی شوي دي (هيڅوک به ترې غائب نه شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې په ذکرو شوو قيصو باندې يوه په زړه پورې تبصره شوې ده او په هغو مطالبو باندې صراحت کړی شوی دی کومو ته چې د قيصو په نازلولو کښې اشارې شوې دي. نو د معنی حاصل يې داسې راوځي چې:

ای پيغمبره! د هلاکو شوو ښارونو کومې قيصې چې تاته وړاندې نازلې شوې دي په هغو باندې د تبصرې په ضمن کښې خپل امت لاندې نکاتو ته متوجه کړه:

۱ـ ذکر شوي ښارونه په موجوده زمانه کښې په دوه ډوله دي:

الف: يو ډول هغه دي چې مونږ په نورو خلکو باندې اباد کړي دي، لکه د مصر ښار چې د فرعون او فرعونيانو ټاټوبی وه او د دوی په هلاکت سره د منځه لاړ نه شو بلکې په نورو خلکو باندې آباد دی، ترڅو ستا د امت کفار پوه شي چې د دنيا آبادي د دوی د ژوند پورې توقف نه لري.

ب: بل ډول هغه دی چې د هلاکو شوو قومونو څخه وروسته کنډوالې پراته دي، لکه د ثموديانو ښارونه چې د دوی څخه وروسته پکښې هيڅوک ونه اوسېدل او خلک [illegible] پورې دشتې او ميرې اباديې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړي، ترڅو دوی پوه شي چې الله ﷻ ته ورانول او آبادول دواړه اسان کارونه دي.

۲_ په ذکرو شوو هلاکو شوو قومونو باندې مونږ تیری نه دی کړی چې بې ګناه او بې جنایته مو هلاک کړي وي او یا مو پیغمبران نه وي ورا‌ستولي، بلکې دوی پخپله په خپلو خانونو باندې ظلم او تیری وکړ چې د پیغمبرانو پیروي یې ونه کړه ـ چې د دوی نجات پکښې نغښتی وه ـ او د بوتانو په عبادت باندې کلک شوه.

۳_ مګر کله چې د دوی د هلاک دپاره ستا د رب ﷻ فرمان ور ورسېد نو باطلو معبودانو (بوتانو) ورته هیڅ ګټه ونه شوه رسولی او زمونږ د عذاب څخه یې نجات ورنه کړی شو.

۴_ ذکرو شوو باطلو معبودانو برسېره په دې چې دوی ته په دنیا کښې نجات ورنه کړی شو ضرر یې ورته ورساوه، هغه دا چې د قیامت په ورځ به یې په دائمي عذاب باندې ککړ کړي.

۵_ ای پیغمبره! ذکر شوي هلاک شوي قومونه ستا د رب ﷻ د نیولو څو مثالونه دي، چې په ظالمانو باندې څنګه عذاب ورنازلوي؟ او چې عذاب پرې ورنازل کړي نو ایا څوک ترې خلاصون موندلی شي؟ دا د دې دپاره چې ستا امت ترې عبرت واخلي او د الله ﷻ د نیولو څخه خانونه بچ وساتي، یقینا چې ستا د رب ﷻ نیول ډېر دردناک او ډېر سخت دي.

۶_ مګر ای پیغمبره! د دغو هلاکو شوو قومونو څخه به هغه څوک عبرت اخلي او ګټه به ترې پورته کوي کوم چې د آخرت د عذاب څخه ډارېږي، په خپل رب ﷻ باندې پخه عقیده لري او بالآخره د سمې لارې په موندلو پسې تاند وهي او بس.

۷_ ای پیغمبره! هرچا ته په کار دي چې د آخرت د عذابه وډار شي، دا خکه چې د آخرت ورځ داسې ورځ ده چې ټول خلک به ورټولېږي او وراندېنۍ وروستنۍ به پکښې غونډ کړی شي، او دا داسې ورځ ده چې ټول خلک به ورحاضر کړی شي او هیڅوک به ترې خپل خان په څنګ نه کړی شي، او نه به د تېښتې لاره موندلې کړي.

﴿ وَمَا نُؤَخِّرُهُۥٓ إِلَّا لِأَجَلٍ مَّعۡدُودٍ ﴿١٠٤﴾ يَوۡمَ يَأۡتِ لَا تَكَلَّمُ نَفۡسٌ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ فَمِنۡهُمۡ
شَقِيّٞ وَسَعِيدٞ ﴿١٠٥﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ شَقُواْ فَفِي ٱلنَّارِ لَهُمۡ فِيهَا زَفِيرٞ وَشَهِيقٌ ﴿١٠٦﴾ خَٰلِدِينَ فِيهَا
مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَۚ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٞ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٠٧﴾ ۞وَأَمَّا
ٱلَّذِينَ سُعِدُواْ فَفِي ٱلۡجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَۖ
عَطَآءً غَيۡرَ مَجۡذُوذٖ ﴿١٠٨﴾ فَلَا تَكُ فِي مِرۡيَةٖ مِّمَّا يَعۡبُدُ هَٰٓؤُلَآءِۚ مَا يَعۡبُدُونَ إِلَّا كَمَا يَعۡبُدُ
ءَابَآؤُهُم مِّن قَبۡلُۚ وَإِنَّا لَمُوَفُّوهُمۡ نَصِيبَهُمۡ غَيۡرَ مَنقُوصٖ ﴿١٠٩﴾ ﴾

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۰۴] او مونږ دا ورځ نه وروسته کوو مگر د نېټې تاکلې شوې پورې (چې مونږ ته معلومه ده).
[۱۰۵] کوم وخت چې دا ورځ راشي نو (د ډېر هيبت د کبله به) هيڅ نفس خبرې نه کوي (هيڅوک
به نه شفاعت کولی شي او نه اعتذار) مگر د الله ﷻ په اذن سره. نو (په دغې ورځ کښې به) ځينې
(خلک) بدبخت وي او (ځينې به يې) نېکبخت وي.
[۱۰۶] نو هر چې هغه کسان دي چې بد بخت شوي وي نو دوی به په دوزخ کښې وي (او) دوی
ته به (هلته د فرياد د کبله د خرو غوندې) لوړ اواز او ټيټ اواز وي (زېږگي به کوي).
[۱۰۷] په داسې حال کښې چې دوی به هلته ترهغه همېشه وي ترڅو چې اسمانونه او ځمکې
همېشه وي مگر کله چې ستا د رب ﷻ اراده وشي (او خلود يې مات کړي). يقيناً چې ستا رب ﷻ
هغه شي ته په کامل (قدرت سره) کوونکی دی، کوم ته چې اراده وکړي.
[۱۰۸] او هرهغه کسان چې دوی نېکبخت کړی شوي وي نو دوی به په جنت کښې وي، په
داسې حال به دوی هلته ترهغه همېشه وي ترڅو چې اسمانونه او ځمکې همېشه وي، مگر کله چې
ستا رب ﷻ اراده وکړي، (دا ستا د رب ﷻ ورکړه ده) داسې ورکړه چې غير پرې کړی شوې ده (نه
به پرې کېږي).
[۱۰۹] نو (ای پيغمبره!) د هغو (بوتانو د انجام) څخه مه په شک کښې کېږه کوم چې دغه
مشرکان يې عبادت کوي (دا هم د شقاوت او بدبختۍ عوامل دي او دا ځکه چې) دوی (دغه کفار
عبادت نه کوي مگر داسې عبادت کوي لکه چې پلرونو به يې وړاندې عبادت کاوه (نو لکه څنگه
چې د هغوی د عبادت انجام شقاوت وه نو د دوی د عبادت انجام هم همداسې شقاوت دی).
او يقيناً مونږ دوی ته (د رزق يا عذاب څخه) خپله برخه داسې پوره ورکوونکي ياستو چې کمه
کړی شوې به نه وي.

## د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د قيامت د ورځې څه حالات ذکر شوي وه او په دې ايتونو کښې يې
څه نور حالات بيان شوي دي چې حاصل يې داسې راوځي:
ای پيغمبره! په خپل امت باندې د قيامت د ورځې لاندې څه انې حالات قرائت کړه چې عبرت
ترې واخلي:
۱- دغه ورځ ضرور راتلونکې ده چې د حکمت غوښتنه ده، د دې ورځې وروسته کېدل د نه
راتلو معنی نه ورکوي، مونږ د دې ورځې قيام نه وروسته کوو مگر د يوې معينې نېټې پورې چې
هغه فقط او فقط مونږ ته معلومه ده او بس.
۲- کله چې دغه ورځ راشي نو د ډېر هيبت د کبله به هيڅوک خبرې قدرې هم نه شي کولی مگر
د الله ﷻ په اذن او اجازې سره، نه به څوک شفاعت کولی شي او نه به څوک د خپلو جنايتونو
معذرت وړاندې کولی شي.
۳- په دغې ورځ کښې به ټول خلک په لاندې دوه وو گروپونو باندې ووېشلی شي:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: یو ګروپ به بدبختان وي چې دوی به په اور کښې معذب کېږي او د ډېر سخت عذاب د کبله به دوی همېشه د خرو په شان هنګېږي چې کله به په لوړ اواز سره چیغې وهي او کله به په نرۍ اواز فریاد کوي مګر دوی ته به نه چیغې څه ګټه رسولی شي او نه به یې فریاد په دربانديې خوري، دا خکه چې نوموړي بدبختان به په دوزخ کښې همېشه وي او هیڅکله به ترې دوی نه بهر وویستلی شي او نه به په دوی باندې څه سرېښت ورشي. یا په بل عبارت: دوی به په اور کښې همېشه وي، د بندګانو په اصطلاح ترڅو چې اسمانونه او ځمکې دوام کوي ترهغې به د دوی دوزخیتوب دوام وکړي.

مګر (ای پیغمبره!) کله چې ستا رب ﷻ د دوی د بهر ویستلو او د خلود د ماتولو اراده وکړي نو بیا به په دوی باندې سرېښت ورشي. خو په یاد ولرئ چې ستا رب ﷻ دغسې اراده نه کوي او دا ځکه چې ستا رب ﷻ کفر نه بښي، او خلود ماتول خو د کفر د بښلو څخه په غیر بل شی نه دی.

ای پیغمبره! ستا رب ﷻ هرڅه په اختیار سره کوي، په ده ﷻ باندې نه جبر شته او نه په خپلو کارونو کښې مضطر او مجبور دی، بلکې یقیناً ستا رب ﷻ په ډېره ښه توګه د هغه شي کوونکی دی کوم ته چې اراده وکړي.

ب: بل ګروپ هغه کسان دي چې دوی نېکبخت کړی شوي دي او په دنیا کښې د ایمان راوړلو توفیق ورکړی شوی دی، نو دوی به بالمقابل د جنتونو په نعمتونو کښې پټ وي او څه یې چې زړونه غواړي هغه به ورته تیار او مهیا وي.

په دې باندې علاوه، دوی به په جنتونو کښې همېشه وي او د بندګانو په اصطلاح ترڅو چې اسمانونه او ځمکې موجودې وي نو دوی به هلته دائمي اوسېدونکي وي.

مګر هله به په جنتیانو باندې جنتي نعمتونه قطعه کړی شي چې کله ستا د رب ﷻ اراده وشي. خو تاسو بالکل بې غمه اوسئ چې ستاسو رب ﷻ تاسو ته خبر درکوي او تاسو ته وعده درکوي چې هغه ﷻ به د جنتیانو په جنت کښې د اوسېدلو خلود نه ماتوي او نعمتونه به ترې نه اخلي او انقطاع به پرې نه ورولي.

لنډه دا چې لکه څنګه چې الله ﷻ په دوزخ کښې دوزخیان په اختیار سره هلته دائم پاتې کوي همدارنګه په جنت کښې په دائمي توګه د جنتیانو اوسېدل هم د الله ﷻ په اراده باندې صورت نیسي، نه وریاندې جبر شته او نه دغو کارونو ته مجبور او مضطر دی.

۴ـ نو ای پیغمبره! څرنګه چې پخوانیو هلاک کړی شوو قومونو ته باطلو معبودانو نه په دنیا کښې د الله ﷻ د عذاب څخه نجات ورکړی شو او نه به یې په آخرت کښې په درد باندې وخوري همدارنګه د هغو معبودانو حال هم دی د کومو عبادت چې دغه ډله (ستا د دعوت امتیان) کوي، نو ته په دې کښې هیڅ شک مه کوه چې د دوی باطل معبودان (بوتان) دوی ته نه په دنیا کښې نجات ورکولی شي او نه بې په آخرت کښې د دوزخ د اوره خلاصولی شي؛ نو په کار دي چې دوی هم په همدغې خبره کښې شک او شبهه ونه کړي. دا ځکه چې د دې زماني بوت پرستان خو د بل شي عبادت نه کوي مګر د هغه شي چې د دوی پلرونو به یې په خپلو وختونو کښې عبادت کاوه. د دوی

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بوتان د هغوی په بوتانو باندې څه فضیلت نه لري، هغوی هم په خپلو لاسونو باندې جوړ کړي وه او دوی هم لګیا دي په خپلو لاسونو باندې يې جوړوي

د موجوده مشرکانو بوتان د پخوانیو مشرکانو د بوتانو سره فقط همدا یو فرق لري چې هغوی ته د خپلو بوتانو ناتواني په تجربه باندې ثابته شوه او دوی لا خپل بوتان نه دي تجربه کړي، او ډېر ژر دی چې دوی ته به هم تجربه شي. او دا څکه چې په یقین سره هرومرو موجوده مشرکانو ته به هم مونږ د رزق ټاکلې شوې برخه بالکل پوره ورکړو چې هیڅ نقصان به پکښې نه وي او بیا به په دوی باندې د عذاب ټاکلې شوې برخه هم ورنازله کړو او په مصیبت به یې ککړ کړو، او حتی د قیامت په ورځ به يې هم د ټولو کافرانو په جمله کښې د دوزخ په اور کښې ور واچوو.

## توضیحات

۱ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النساء:۴۲] ایت لاندې دا پوښتنه جواب کړې ده چې: د قیامت په ورځ خو هیڅوک بې اجازې خبرې نه شي کولی حال دا چې د ځینو ایتونو څخه د خبرو کول څرګند ېږي؟

خو په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې هیڅوک به داسې خبره نه شي کولی چې شفاعت پورې اړه ولري او د خپلو جنایتونو پورې د اعتذار کولو سره تعلق نیسي[1].

## شقي او سعید څوک دي؟

۲ـ ﴿سَعِید﴾ د "سَعَادَة" څخه اشتقاق شوی دی، "سَعَادَة" دې ته ویل کېږي چې د چا سره د خیر او ګټې په موندلو (لاس ته راوړلو) کښې د الله ﷻ معونت (کومک) ملګری وي[2] او څه يې چې زړه غواړي هغه لاس ته ورځي، چې مونږ ترې په نېکبخت سره تعبیر کوو.

او ﴿شَقِي﴾ د "شَقَاوَة" څخه اشتقاق موندلی دی، "شَقَاوَة" د "سَعَادَة" سره متضاده معنی ورکوي چې د چا سره د خیر او ګټو په موندلو کښې د الله ﷻ معونت (کومک) ملګری نه وي، او خپل مرام لاس ته نه ورځي، چې مونږ ترې په بدبخت سره تعبیر کوو.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: د ایت شریف د ظاهر څخه څرګندېږي چې د موقف ټول خلک به د لېونیانو او ماشومانو په شمول په دوه وو ګروپونو باندې ووېشلی شي چې بدبختان به په اور کښې همېشه وي او نېکبختان به په جنت کښې همېشه وي: نو پوښتنه دا ده چې لاندې کسان به په کوم ګروپ کښې شامل وي:

الف: د اعراف اوسېدونکي، چې نه د جنتیانو په ډله کښې داخل دي او نه د دوزخیانو په ډله کښې.

ب: هغه ګناهګاران مومنان کوم چې د دوزخ د دورې په انتظار وي او مغفرت يې په برخه نه شي.

---

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص ۱۳۹

(۲) مفردات الراغب ص ۲۳۸ .

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې د دغه سوال دپاره ځینو علماوو کرامو لاندې جوابونه کړي دي:

اول ذکر شوي دواړه ډوله کسان په یوه ګروپ کښې هم شامل نه دي[۱] د دوی دواړو ډولو کسانو حالت په دې مقام کښې په سکوت کښې پرېښودلی شوی دی. د [الأعراف: ۴۶] ایت لاندې د اهل الاعراف په هکله او د [آل عمران: ۲۴] ایت لاندې د ګناهګارانو مؤمنانو په اړوند ـلله الحمد ـ څه تحقیق تېر شوی دی چې یو ځل کتل یې ګټور دي.

مګر مونږ ته دا جواب په زړه پورې نه ښکاري چې په تبادر سره ذهن ته نه راځي.

دوهم: اهل الاعراف خو په نېکبختانو کښې داخل دي، چې دوزخ ته د داخلېدلو جوګه نه دي، اما کله چې الله ﷻ په خپل فضل سره دوی جنت ته داخل کړي نو هلته به همېشه وي، ځکه چې د جنت څخه بېرته راوتل نشته.

اما هغه عاصیان مؤمنان کوم چې د الهي مغفرت څخه بې برخې شي او دوزخ ته داخلېږي دوی په بدبختانو کښې شامل دي، خو د ﴿ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ﴾ په کلماتو سره د خلود لاندې نه واقع کېږي. نو په دې تقدیر د "ما" توری په ﴿ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ﴾ کښې د "من" د توري معنی ورکوي[۲].

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ټول بدبختان به په اور کښې همېشه وي مګر هغه بدبختان به پکښې همېشه نه وي کومو ته چې الله ﷻ د عدم خلود اراده وکړي، چې هغوی د عاصیانو مؤمنانو څخه عبارت دي.

مګر دا جواب هم مونږ ته په زړه پورې نه برېښي، دا ځکه چې د ﴿ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ﴾ کلمات خو د نېکبختانو د حالت په بیان کښې هم نازل شوي دي، حال دا چې ټول امت اجماع کړې ده چې د جنت څخه هیڅوک بېرته نه راویستلی کېږي چې خلود یې مات شي[۳]. نو هلته د ﴿ مَا شَآءَ رَبُّكَ ﴾ د کلماتو څخه یوه معنی اخستل او دلته ترې بله معنی مرادول د سړي ذهن نه مني.

درېم: مونږ ته غوره جواب دا دی چې ذکر شوي دواړه ډوله کسان په نېکبختانو کښې شامل دي[۴]. د اهل الاعراف سعادت خو واضحه دی چې الله ﷻ د دوزخ څخه بچ کړي دي او امید دی چې دائمي جنت ته به یې هم داخل کړي.

اما عاصیان مؤمنان هم د ښه لوی سعادت خاوندان دي چې د دوزخ څخه به یو وخت بهر شي او د جنت د دائمي اوسېدونکو څخه به جوړ شي. یا په بل عبارت: دوی به د نورو جنتیانو څخه فقط همدومره ښکته وي چې هغوی به د دوزخ دوره نه وي تېره کړي او څه وخت وړاندې به جنت ته داخل شوي وي او دوی به د دوزخ د موقتي دورې څخه وروسته جنت ته داخل شي، اما کله چې جنت ته ورداخل شي نو بیا به پکښې همېشه وي.

---

(۱) تفسیر الخازن ج۳ ص۳۶۲
(۲) المحرر الوجیز ج۹ ص۲۲۶
(۳) تفسیر الخازن ج۳ ص۳۶۴
(۴) روح المعاني ج۱۲ ص۱۴۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د زفیر او شهیق معناوي

او د عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چي: «الزَّفِيرُ الصَّوْتُ الشَّدِيدُ وَالشَّهِيقُ الصَّوْتُ الضَّعِيفُ»(۱) یعني دوزخیان به د ډېره غمه او ډېره مشقته کله به لوړ اواز سره فریاد کوي او کله به په کمزوري او ټېټ اواز باندي د خپلو زړونو حسرت ښکاره کوي

لکه څرنګه چي کله به هنګاري پیل وکړي نو ډېر لوړ اواز پورته کړي او تنفس بهر وباسي او بیا به کمزوري اواز باندي خپل هنګاري ته خاتمه ورکړي او خارجي هوا خپلي سینې ته راکاږي. العیاذ بالله اللهم أجرنا من النار.

## سوال جواب

ځيني خلک وايي چي: الله ﷻ هم په دوزخ کښي د بدبختانو خلود او هم په جنت کښي د نیکبختانو خلود په دې کلماتو ﴿مَا دَامَتِ السَّمَٰوَٰتُ وَالْأَرْضُ﴾ باندي مقید کړی دی چي ذکري شوي دواړه ولي به هره یوه په خپل خپل ځای کښي د اسمانونو او ځمکو د دوام په اندازه باقي پاتي شي؛ وپوښته دا ده چي ایا د دغي مودي د پوره کېدلو څخه وروسته به د دواړو ډلو خلود ماتي شي؟

موږ وایو چي:

الف: په ذکر شوو دواړو جملو کښي د اسمانو او ځمکو څخه موجوده اسمانونه او ځمکي مطلب نه دي چي د بقاء موده یې د الله ﷻ په نزد ټاکلي شوي ده چي د هغي د پوره کېدلو څخه وروسته به د زوال سره مخامخ شي، بلکي دلته د آخرت اسمانونه او ځمکي مرادي دي چي زوال پري نه ورځي او همېشه دپاره به موجودي وي(۲) نو د معنی حاصل یې داسي کېږي چي هره ډله به په خپل ځای کښي همېشه وي لکه څنګه چي د آخرت اسمانونه او ځمکي همېشه دي

مګر دا جواب موږ ته غوره نه ښکاري او په تبادر سره سړي ته ذهن ته نه ورځي. په دې باندي علاوه لکه چي د سیاق او سباق (وړاندي او ورپسي) څخه ښکاره ږي دغه ایتونه د کفارو عربانو د ترهیب او ترغیب دپاره نازل شوي دي، حال دا چي دوی خو په آخرت عقیده نه درلوده پاتي خو لا د آخرت اسمانونه او ځمکي

ب: په ټولو ژبو کښي عموماً او په عربي ژبه کښي خصوصاً داسي کلمات استعمالېږي چي ځيني معناوي یې د ظاهره غوږزولي کېږي او د کنایې په توګه تري دوام مرادولی شي، لکه چي وايي «لا أكلم فلانا ما اقام ثبير وما لاح كوكب»(۳) زه به د فلاني سره ترهغي خبري ونه کړم ترڅو چي د ثبیر غر به خپل ځای ولاړ وي او ترڅو چي په اسمان کښي ستوري ځلېږي، یعني د همېشه دپاره به ورسره ونه ګړېږم

---

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۴۰۱
(۲) البحر المحیط ج۶ ص۲۱۱
(۳) روح المعاني ج۱۲ ص۱۴۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ذکر شوي کلمات په دوارو اَیتونو کښې د همدغې کنایي معناوو په ملحوظ نازلې شوي دي او هغه مفهوم ورباندې تاکید شوی دی په کوم باندې چې د ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَا ﴾ کلمات دلالت کوي[۱]، لکه څنګه چې کله-کله د ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَا ﴾ کلمات د ﴿ أَبَدًا ﴾ په کلمه باندې تاکيد ېږي.

د همدې کبله د ايتونو د نزول په وخت کښې ورباندې کفارو هيڅ اعتراض ونه کړ چې هغوی اهل اللسان وه او د خپلې ژبې په محاوره او استعمالاتو باندې ډېر ښه پوهېده، که نه نو هغوی خو اعتراض نه بالکل ښه ناست وه.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۶_ که څوک ذکر شوی سوال بيا تکرار کړي او ووايي چې د دوارو (دوزخيانو او جنتيانو) خلود الله ﷻ د ﴿ إِلَّا مَا شَاءَ رَبُّكَ ﴾ په کلماتو باندې تعقيب کړی دی، او ظاهره دا ده چې دغه استثناء د ﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَا ﴾ کلمې ته راجع ده[۲]؛ نو پوښتنه دا ده چې ايا الله ﷻ اراده کوي چې د ذکرو شوو دوارو ډلو خلود مات کړي؟

مونږ وايو چې: د دغه سوال دپاره علماوو کرامو ډېر جوابونه کړي دي چې تقريبًا دولسو جوابونو ته رسېږي[۳]، څرنګه چې مونږ د دغه جوابونو په تحقيق کښې تقريبًا يوه اونۍ تېره کړه نو يو جواب هم راته په زړه پورې ښکاره نه شو، چې ځينې په احتمالاتو باندې ولاړ دي او څه ثبوت نه لري او ځينې نور د ايتونو د ظاهر څخه سړي ته ذهن ته نه ورځي او په اوربدلو باندې يې د سړي زړه نه يخېږي

مونږ ته ډېر ښه په زړه پورې جواب هغه برېښي کوم ته چې مونږ د الله ﷻ په توفيق د دې ايت لاندې اشاره کړې ده چې: ﴿ قَالَ ٱلنَّارُ مَثْوَىٰكُمْ خَٰلِدِينَ فِيهَآ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ [الأنعام ۱۲۸] يعنې الله ﷻ به کفارو ته د قيامت په ورځ ووايي چې دوزخ ستاسو د اوسېدانې ځای دی په داسې حال کښې چې هلته به همېشه ياست مګر کله چې الله ﷻ اراده وکړي او ستاسو خلود مات کړي، خو الله ﷻ داسې اراده نه کوي.

دلته د دغه جواب تفصيل دا دی:

الف: ﴿ مَا شَآءَ رَبُّكَ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴾ يعنې دوزخيان به په دوزخ کښې همېشه وي مګر کله چې (ای پيغمبره!) ستا د رب ﷻ اراده وشي چې خلود يې مات کړي. که څه هم ستا رب ﷻ به ډېره ښه توګه د هرهغه کار کوونکی دی چې اراده يې ورته وشي مګر ستا رب ﷻ داسې کار ته اراده نه کوي چې د حکمت څخه مخالف وي او د کفارو دوزخيانو خلود ماتول د حکمت په خلاف کار دی.

---

(۱) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۶۶

(۲) البحر المحيط ج۶ ص۲۱۱

(۳) تفسير القرطبي ج۹ ص۹۹؛ زاد المسير ج۴ ص۱۲۴؛ تفسير الخازن ج۳ ص۲۶۴؛ روح المعاني ج۱۲ ص۱۴۲؛ تفسير البغوي ج۲ ص۴۰۱؛ المحرر الوجيز ج۹ ص۲۲۵؛ تفسير القاسمي ج۹ ص۱۷۱؛ تفسير ابن كثير ج۲ ص۴۶۰؛ حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۶۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب ﴿ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوذٍ ﴾ یعنې جنتیان به په جنت کښې همیشه وي مګر کله چې ستا د رب ﷻ اراده وشي چې خلود یې مات کړي، مګر ستا رب ﷻ د خلود د ماتولو اراده نه کوي بلکې کوم نعمتونه او خلود یې چې دوی ته ورکړی دی دا داسې ورکړه ده چې انقطاع او بدېدل نه لري.

## سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې: د ﴿ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ﴾ د کلماتو څخه چې د خلود ماتولو کوم دار د جنتیانو په هکله د چا ذهن ته ورته هغه الله ﷻ د ﴿ عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوذٍ ﴾ د کلماتو په تعقیب پورته کړ. خو د خلود د ماتولو کومه تمه چې د دوزخیانو په باره کښې د چا ذهن ته ورتلله هغه یې د ﴿ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴾ د کلماتو په تعقیب باندې لا قوي کړه، د همدې کبله ځینو خلکو ته دا خبره په خیال کښې ګرځي راګرځي چې یو وخت به دوزخیان کافران هم د دوزخ څخه بهر شي[1]؛ نو پوښتنه دا ده چې د کوم حکمت په بنیاد د ﴿ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ﴾ کلمات د دوزخیانو په باره کښې په تمه غوځوونکو کلماتو باندې تعقیب نه شو، لکه ﴿ وَمَا هُم بِخَـٰرِجِينَ مِنْهَا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴾ [المائدة: ۳۷] یعنې: او دوی (دوزخیان کافران) د دوزخ څخه وتونکي نه دي او دوی لره دائمي عذاب دی. او داسې نور ایتونه؟

مونږ وایو چې: د دوزخیانو په باره کښې به د لاندې حکمتونو په بنیاد تمه غوځوونکی تعقیب نه وي نازل شوی، والله ﷻ أعلم:

الف: الله ﷻ ذکره شوې تمه په زښتو ډېرو ایتونو کښې په صراحت سره پرېکړې ده، خو په دې مقام کښې یې ورباندې صراحت ونه کړ ترڅو علماء کرام د امتحان لاندې واقع کړي چې د مصرحاتو په مقابل کښې بعیدو احتمالاتو ته اعتبار ورکوي او که نه. دغه ډول امتحان کښ مټ د متشابهاتو په نزول کښې مرموز دی چې پوره بیان یې _لله الحمد_ د [آل عمران: ۷] ایت لاندې تېر شوی دی.

ب: د الله ﷻ رضامندي د نعمتونو څخه یو لوی نعمت دی او د خوشالیو څخه یوه لویه خوشالي ده لکه چې بحث یې د [التوبة: ۷۲] ایت لاندې تېر شوی دی، نو همدارنګه د الله ﷻ ناراض کېدل د عذابونو څخه یو لوی عذاب او د غمونو څخه یو لوی غم دی.

نو الله ﷻ د جنتیانو په بیان کښې د ﴿ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ﴾ د کلماتو په تعقیب د ﴿ عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوذٍ ﴾ کلمات نازل کړه چې الله ﷻ ترې راضي دی او همېشه به ترې راضي وي.

او د دوزخیانو په هکله یې د ﴿ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ﴾ کلمات د ﴿ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴾ په کلماتو تعقیب کړه ترڅو دوزخیان په غوږ ووهي چې د دوی څخه الله ﷻ ناراض دی او هیڅکله به ترې راضي نه شي، که نه نو الله ﷻ ته خو د خلود ماتول څه مشکلات نه لري.

---

[1] روح المعاني ج۱۲ ص۱۴۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: ترڅو معاندين پوه کړي چې الله ﷻ لکه څنګه چې جنتيان په اختيار سره دائمي جنت ته داخلوي همدارنګه د کفارو په دائمي دوزخي ګرځولو کښې هم نه مجبور دی او نه مضطر دی، بلکې دا کار هم په خپل اختيار سره کوي، که بالفرض اراده وکړي چې د کفارو دوزخيانو خلود مات کړي نو ماتولی يې شي مګر دا کار د ده ﷻ د حکمت په غوښتنه محال کار دی.

نو د ذکر شوي ايت مضمون د دوزخيانو په باره کښې د دغه ايت مضمون ته ورته دی چې: ﴿ حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلْجَمَلُ فِي سَمِّ ٱلْخِيَاطِ ﴾ [الأعراف: ۴۰] يعنې کافران به د قيامت په ورځ جنت ته ترهغه ورداخل نه شي ترڅو چې اوښ (من حيث اوښ) د ستنې په سوم (من حيث سوم) کښې ننوځي، دا کار نه کېدونکی محال کار دی نو د هغوی جنت ته داخلېدل هم محال او نه کېدونکي دي.

## يادونه

۸ـ کله چې ذکر شوي ايتونه نازل شوه او په ﴿ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ ﴾ په کلماتو باندې مشتمل وه نو عمر الفاروق ﷺ د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې: يا رسول الله! دغه کارونه چې مونږ يې کوو ايا ليکلي شوي کارونه دي او که څنګه؟ نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «بَلْ عَلَى شَيْءٍ قَدْ فُرِغَ مِنْهُ وَجَرَتْ بِهِ الأَقْلامُ يَا عُمَرُ وَلَكِنْ كُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ»[1] يعنې: مونږ په داسې کارونو باندې ياستو چې د هغو څخه فراغت حاصل شوی دی او قلمونه پرې جاري کړی شوي دي (ليکلی شوي دي) ای عمره!، مګر هر چاته (شقي وي او که سعيد وي) هغه څه اسان کړی شوي دي د کومو دپاره چې پيدا کړی شوی وي.

﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ فَٱخْتُلِفَ فِيهِ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿۱۱۰﴾ وَإِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ أَعْمَٰلَهُمْ ۚ إِنَّهُۥ بِمَا يَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿۱۱۱﴾ ﴾

[۱۱۰] او بې شکه مونږ موسی ﷺ ته کتاب (تورات) ورکړی وه خو اختلاف پکښې واقع شو (چا په پرې ايمان راووړ او چا ترې انکار وکړ، لکه څنګه چې په قرآن کريم کښې اختلاف واقع شوی دی) (ای پيغمبره!) که چرته هغه خبره (فرمان) نه وی چې ستا د رب ﷻ د پلوه مخکې (صادره) شوې ده نو د دوی (ستا د قوميانو) ترمنځ به (په دنيا کښې) فيصله کړی شوې وی او (دا خکه چې) يقيناً دوی (ستا قوميان) د قرآن کريم څخه په وارخطا کوونکي شک کښې (واقع) دي (چې قوي انکار ترې کوي).

[۱۱۱] او يقيناً (د مؤمنانو او کافرانو څخه) يوې ډلې ته هم (په دنيا کښې پوره جزا يا سزا نه ده ورکړه شوې خو سوګند دی چې) هرومرو (او) ضرور به دوی (ټولو) ته ستا رب ﷻ د خپلو اعمالو

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مکافات یا مجازات، پوره ورکړي. او دا ځکه چې محمدی ﷺ په هغه شي باندې پوره خبردار دی چې دوی یې عملي کوي

## ارتباط

موسی علیه السلام دوه وو فرقو ته ور استولی شوی وه چې یوه فرقه فرعون او فرعونیان وه او بله فرقه بني اسرائیل وه. په موسی علیه السلام باندې تورات په هغه وخت کښې نازل شو چې د فرعونیانو سره یې خبره ختمه شوه او بوراړې د بني اسرائیلو سره د مصر څخه د سینا ټاپو ته پورېووت

په وړاندېنیو اینونو کښې د فرعونیانو څخه حالاتو ته اشاره شوې وه چې مشرکان تري عبرت واخلي. او د څه مناسبتونو د کبله د قیامت د ورځې څه حالات بیان شوي وه. په دې اینونو کښې د موسی علیه السلام د نبوت هغه حال ته اشاره کېږي چې په ده علیه السلام باندې کتاب نازل شو او بني اسرائیلو په اتفاق سره ونه مانه. ترڅو تري نبي کریم ﷺ عبرت واخلي او متسلي شي. نو حاصل یې داسې راوځي

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! ته دې ډېر مه خفه کېږه چې ټولو مشرکانو په قرآن کریم باندې ایمان رانه وړو او لږ خلک په ایمان باندې مشرف شوه. دا ځکه چې

۱ـ موږ موسی علیه السلام ته هم په هغه وخت کتاب (تورات) ورکړ کله چې دوی د فرعونیانو څخه نجات وموند او د سینا ټاپو ته پورېوواته. ترڅو په دې کتاب باندې ایمان راوړي او د دنیا او آخرت د کارونو دپاره تري د چراغ (رڼا) کار واخلي

مګر دوی ټولو په اتفاق سره ورباندې ایمان رانه وړو. او په دوه وو ډلو باندې وویشلی شوه چې ځینو یې باور وکړ او ځینو تري انکار وکړ. لکه څنګه چې په قرآن کریم باندې ځینې خلک ایمان راوړي او ځینې نور تري منکرېږي

۲ـ ای پیغمبره! که د الله ﷻ په نزد دا خبره فیصله نه وی چې ستا امت ته به د قیامت د ورځې پورې د څه حکمتونو په سبب ازادي ورکوي او په دنیا کښې به پرې داسې بیخ ویستونکي عذاب نه ورنازلوي لکه څنګه یې چې په عادیانو او ثمودیانو باندې ورنازل کړي وه. نو ستا د امت د اختلاف کوونکو په منځکښې به یې هم فیصله کړې وی چې مؤمنانو ته به یې نجات په برخه کړی وی او مشرکان (کفار) به یې پوپنا کړي وی. او دا ځکه چې

۳ـ یقیناً ستا د امت کفار (مشرکان) د قرآن کریم څخه انکار کوي او د حقانیت څخه یې داسې اضطراب کښې لوېدلي دي چې هیڅ د اطمینان او ډاډېني ځای نه شي موندلی. چې همدغه حالت د پوپنا کولو دپاره به قوي سبب دی او کفایت کوي

۴ـ ای پیغمبره! کفارو ته په کار دی چې په موقتي ازادي باندې د نجات خیال ونه کړي او هم مؤمنانو ته په کار دی چې په نېک عملي کښې به پوره زیار وباسي او د کفارو د پلوه په اذیتونو صبرو او ستغو خبرو باندې یې حوصلې نه شي

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او دا خکه چې په یقین سره په دنیا کښې یوې ډلې ته هم د خپلو کړو وړو پوره جزا او سزا نه ده ورکړه شوې خکه چې دنیا د امتحان ځای دی او د مکافات او مجازات وخت راروان دی

نو دا یقیني او بې شکه خبره ده چې د مومنانو او کفارو څخه یوې ډلې ته هم د خپلو-خپلو کړو وړو جزا یا سزا پوره نه ده ورکړې شوې، خو په سوګند سره وایم چې هرومرو او خامخا به ستا رب ﷻ دوی ټولو ته د خپلو-خپلو اعمالو بدله ورکړي، خکه چې ستا رب ﷻ په هغه څه باندې پوره خبردار دی چې دواړه ډلې یې په دنیا کښې اجراء کوي.

## توضیحات

١ ـ ځینو علماوو کرامو د دې جملې ﴿ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ﴾ په تفسیر کښې دا احتمال هم جائز ګڼلی دی چې دا د موسی ؑ د کتاب پورې ارتباط ولري[1].

نو حاصل یې داسې اخستی دی چې: ای پیغمبره! که ستا د رب ﷻ سره فیصله شوې نه وی نو د بني اسرائیلو په منځکښې به یې په دنیا کښې فیصله کړې وی او د اختلاف کوونکو فیصله به یې آخرت ته نه وی ځنډولې.

مګر دا احتمال کمزوری ښکاري[2] او په زړه پورې تفسیر هغه دی چې ذکره شوې جمله په قرآن کریم پورې ارتباط ولري او حاصل یې هغسې واخست شي کوم چې په خلاصه مطلب کښې اخست شوی دی.

دا تفسیر ځکه غوره دی چې د راتلونکو ایتونو سره په ډېره ښه توګه پیوند لیسي

## د عربیت یو تحلیل

٢ ـ د دې جملې ﴿ وَإِنَّ كُلًّا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ رَبُّكَ أَعْمَالَهُمْ ﴾ په تحلیل کښې علماوو کرامو ډېر اوږد بحث کړی دی[3] خو کوم شی چې په ترجمه او تفسیر کښې مونږ د نظر لاندې نیولی دی هغه دا دی چې:

الف: د ﴿ كُلًّا ﴾ په کلمه کښې تنوین د مضاف الیه څخه عوض دی چې په "كُلُّ الْفَرِيقَيْنِ الْمُؤْمِنِينَ وَالْكَافِرِينَ" سره ترې تعبیر کوو.

ب: د ﴿ لَمَّا ﴾ توری جازم دی او معمول یې مقدر دی چې په "لَمَّا يُوَفَّوْا" سره تعبیر کېږي.

ج: په ﴿ لَيُوَفِّيَنَّهُم ﴾ کښې د "ل" توری په قسم باندې دال دی.

نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: دا واقعي خبره ده چې یوې ډلې ته هم په دنیا کښې د خپلو کړو وړو پوره اثرات نه دي ورکړی شوي، خو په سوګند سره وایم چې ستا رب ﷻ به هرې یوې ډلې ته د خپلو-خپلو کړو وړو اثرات ور ورسوي، چې مومنانو ته به پوره مکافات ورکړي او کفارو ته به پوره مجازات ورکړي.

---

(١) تفسیر الکشاف ج٢ ص٤٣٢

(٢) تفسیر ابي السعود ج٤ ص٢٤٤

(٣) البحر المحیط ج٦ ص٢١٦

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿فَٱسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطْغَوْاْ إِنَّهُۥ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١٢﴾ وَلَا
تَرْكَنُوٓاْ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنْ أَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا
تُنصَرُونَ ﴿١١٣﴾ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيْلِ إِنَّ ٱلْحَسَنَٰتِ يُذْهِبْنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ
ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾ وَٱصْبِرْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١١٥﴾﴾

[۱۱۲] نو (ای پیغمبره!) په هغه شي باندې کلک اوسېږه چې تاته پرې امر کړی شوی دی او هغه څوک دې (هم پرې کلک اوسېږي) چې ستا سره يې (د کفر څخه) توبه ویستلې ده (ایمان يې دربانديې راوړی دی)، او (هم) تاسو سرکشي مه کوئ، (ځکه چې) یقینًا الله ﷻ په هغه څه باندې بینا دی چې تاسو يې کوئ.

[۱۱۳] او تاسو هغو کسانو ته (د مینې څخه ډک) میلان مه کوئ کومو چې ظلم کړی دی، نو تاسو ته به اور ورسېږي او (بیا به) تاسو ته بدون د الله ﷻ څخه هیڅوک دوستان نه وي بیا به ستاسو سره نصرت (کومک) ونه کړی شي.

[۱۱۴] او (ای پیغمبره!) د ورځې په دواړو طرفونو کښې (د سهار او مازدیګر) لمونځ (لمونځونه) ودروه او (هم) د شپې څخه په اولنیو ساتونو کښې (چې ورځې ته نژدې دي د ماښام او ماسخوتن لمونځونه ودروه). یقینًا نېکۍ چې دي (لمونځونه دي او که نور نېک اعمال یا اقوال دي) ګناهونه رژوي (محوه کوي).

دغه (ذکر شوي ارشادات) د نصیحت قبلوونکو دپاره پند (نصیحت) دی.

[۱۱۵] او (هم د مؤمنانو په شمول) صبر کوه، ځکه چې یقینًا الله ﷻ د نېکو کارانو اجر نه ضائع کوي (نو پوره اجرونه به ورکړی شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندې نژدې ایت مضمون دا وه چې هرومرو به الله ﷻ هر عمل کوونکي ته د خپلو اعمالو بدله ورکړي، برابره خبره چې نېک اعمال وي او که بد.

په دې ایتونو کښې مؤمنانو ته څو ارشادات شوي دي چې د همدغو ارشاداتو په نظر کښې نیولو سره د نېکو اعمالو په سرته رسولو کښې زیار وباسي. نو د مطلب خلاصه يې داسې راوځي:

ای پیغمبره! څرنګه چې ستاسو نېک اعمال د الله ﷻ په نزد باندې نه ضائع کېږي نو لاندې ارشاداتو ته پوره پاملرنه وکړئ:

۱- ای پیغمبره! ته پخپله همدغه د استقامت حال ته ادامه ورکړه لکه چې تاته همداسې امر کړی شوی دی، او د افراط او تفریط څخه ځان بچ وساته.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنګه ستا ملګري مومنان دې هم په مستقیمه لاره باندې روان اوسي، نه دې په دین کښې غلو کوي چې د نصاراوو په شان خپل پیغمبر ته د الوهیت درجه ورکړي او نه دې تفریط کوي چې د یهودو په شان خپل پیغمبر ته اذیت ورسوي.

یا په بل عبارت تاسو مه په افراط سره طغیان کوئ او مه په تفریط سره سرکشي کوئ بلکې په هر حال د شرعي چوکاټ مراعات وکړئ، دا ځکه چې الله ﷻ ستاسو په ټولو اعمالو باندې بینا دی.

۲ـ ای پیغمبره! په تاسو باندې لازمه ده چې پخپله د هر ډول ظلم څخه خانونه وساتئ او هم هغو کسانو ته میلان قدرې هم ونه کړئ کوم چې ظالمان دي، د هغوی سره په هیڅ ډول کومک مه کوئ او دمدحې او توصیف څخه یې خانونه وساتئ، بلکې په خانونو کښې داسې حالات څرګند کړئ چې د ورایه معلومه شي چې تاسو د ظالمانو مخالف یاست.

که نه نو تاسو ته به هم اور در ورسېږي، او د اور څخه د بچ کېدلو دپاره به هیڅوک دوست مونده نه کړئ چې د الهي عذاب څخه یا په شفاعت نجات درکړي او یا درسره نصرت وکړي او په زور سره مو تري بچ کړي.

۳ـ ای پیغمبره! د ورځې په طرفونو کښې (سبا او بېګا) او هم د شپې په وختونو کښې خپل لمونځونه ودروه چې دوی ستا پیروي وکړي او خپلو لمونځونو ودرولو ته دوی هم ادامه ورکړي، ترڅو ستا امت په لاندې مطالبو باندې کامیاب شي:

الف: ترڅو د دغو نېکو اعمالو په کولو سره د دوی ګناهونه محوه او نابود شي ځکه چې د نېکیو په مقابل کښې بدی او ګناهونه مقاومت نه شي کولی.

ب: لمونځونو ته ادامه ورکول د نصیحت قبلوونکو دپاره ډېر ګټور نصیحت دی ځکه چې د جنایتونو او ګناهونو څخه همدغه لمونځونه مخنیوی کوي او د افراط او تفریط څخه سړی بچ کوي.

۴ـ ای پیغمبره! همدارنګه خپل صبر ته ادامه ورکړه چې امت درپسې اقتداء وکړي او د ښېګڼو خاوندان شي او دا ځکه چې صبر د نېک عملې دپاره یو بنسټ دی او الله ﷻ د نېکانو اجرونه نه ضائع کوي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ فَٱسۡتَقِمۡ ﴾ په جمله کښې د "اسۡتَقِمۡ" کلمه د "اسۡتِقَامَة" څخه اشتقاقه شوې ده، که څه هم "اسۡتِقَامَة" د لارې صفت هم واقع کېږي مګر کله چې د انسان صفت واقع شي نو د دوام او همېشوالي معنی ورکوي[1].

نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: ای پیغمبره! لکه څنګه چې تاته په اوامرو باندې د ادامې هدایت درکړی شوی دی په همغه ډول سره ورباندې قائم اوسه او ادامه ورکړه.

همدا مضمون په لاندې حدیث شریف کښې ډېر ښه منعکس شوی دی چې:

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۲۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یوه ورځې یوه سړي پوښتنه وکړه چې ای د الله رسوله! د اسلام په باره کښې ماته داسې یو جامع هدایت وکړه چې ستا د هدایت څخه وروسته د بل چا څخه پوښتنې ته اړ نه شم. نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «قُلْ آمَنْتُ بِاللهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ»[۱] یعني: ووایه چې په الله ﷻ مې ایمان راوړی دی، بیا په همدغه حال باندې استقامت وکړه او دائم پرې پاتې شه (ځکه چې استقامت د سعادت دپاره بنسټ دی).

## یادونه

۲ـ د دې سورت (هود) په سریزه کښې د ﴿ فَٱسۡتَقِمۡ ﴾ په جمله باندې په زړه پورې رڼا اچولې شوې ده چې دا سورت د نبي کریم ﷺ د سپین ږیرې کېدلو څنګه باعث شو، نو که څوک فرصت لري او هلته مراجعه وکړي او یا په دې مقام کښې ځینې اوږده تفاسیر[۲] وګوري نو بده به نه وي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: د ﴿ وَلَا تَرۡكَنُوٓاْ ﴾ کلمه د "رُكُون" څخه اشتقاقه شوې ده، "رُكُون" ـ لکه "فُسُوق" ـ لږ میلان ته ویل کېږي[۳]، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې ظالمانو ته د ډېر لږ میلان هم مه کوئ چې د دوزخ په اور کښې به واچولی شئ.

نو پوښتنه دا ده چې ایا د ظالمانو سره معامله کول (اخستل او خرڅول) جواز لري؟ حال دا چې یوه معامله هم د ادنی (لږ) میلان څخه نه شي خالي کېدلی. په دې باندې علاوه، پخپله نبي کریم ﷺ هم د کفارو سره په معاملاتو کښې اشتراک کړی وه، لکه چې د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ په داسې حال کښې وفات شو چې: «وَدِرْعُهُ رَهْنٌ عِنْدَ يَهُودِيٍّ بِثَلَاثِينَ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ»[۴] او خپله زغره یې د یوه یهودي سره ګرو ایښې وه (البته) په دېرش پېمانو وربشو کښې (چې د کور دپاره یې پېرودلې وې)؟

مونږ وایو چې: "رُكُون" د مطلق میلان څخه عبارت نه دی چې معاملاتو ته هم شامل شي بلکې "رُكُون" د هغه میلان څخه عبارت دی چې مینه او محبت ورسره ملګری وي او د اطمنان او اعتماد باعث ګرځېدلی وي[۵]. نو د معنی حاصل یې داسې را اوځي چې: ای مؤمنانو په ظالمانو باندې اعتماد مه کوئ او پرې مطمئن کېږئ مه، او هم یې رازدار مه جوړوئ چې اسرار ورته څرګند کړئ او په کارونو کښې ورسره مشورې وکړئ.

په دې باندې علاوه، ظالم ته میلان کول جوازلري مګر هله چې هغه د ظالم په حیث ملحوظ کړی شي. یا په بل عبارت: چې د هغه ظلم د چا خوښ شي او د هغه په ظلم باندې راضي شي. او

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۱۱۰
(۲) روح المعاني ج۱۲ ص۱۵۲
(۳) تفسیر الکشاف ج۲ ص۴۳۳
(۴) سنن ابن ماجه ص۱۷۶
(۵) لسان العرب ج۱۳ ص۱۸۵؛ تفسیر المنار ج۱۲ ص۱۷، احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۶۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



پوره څرګنده ده چې معاملات (راکړه ورکړه) خو ورسره د شخص په حيث صورت نيسي او بس

همدغه مضمون ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «مَنْ مَشى مَعَ ظَالِمٍ لِيُقَوِّيَهِ وَهُوَ يَعْلَمُ اَنَّهُ ظَالِمٌ فَقَدْ خَرَجَ مِنَ الإِسْلامِ»[۱] يعني هرڅوک چې د يوه ظالم سره د دې دپاره روان شي چې هغه ته قوت ورکړي حال دا چې پوهېږي چې يقيناً هغه ظالم دی، نو دا (سړی) د اسلام څخه بهر شو (دا کار د مسلمانانو کار نه دی).

په سفيان الثوري باندې دې الله ﷻ خپل رحمت ورنازل کړي چې يوه سړي ته يې څومره ښه جواب ورکړ البته کله چې هغه ترې پوښتنه وکړه چې: زه ظالمانو ته جامې ګنډم (زه پوهېږم چې دوی ظالمان دي او دا ډول کومک ورسره کوم) نو ايا زه د هغو کسانو څخه شمېرل کېږم چې ظالمانو ته يې ميلان کړی وي؟

نوموړي ورته وويل چې په دغه صورت کښې ته پخپله ظالم يې، او ظالمانو ته د ميلان کوونکو څخه هغه څوک شمېرل کېږي چې په تا باندې ستن او تار خرڅوي[۲].

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي: د ﴿ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ﴾ په جمله کښې د ﴿ ظَلَمُواْ ﴾ کلمه د ظلم څخه اشتقاقه شوې ده، او د ظلم اطلاق لکه څنګه چې په کفر او شرک باندې کېږي همدارنګه هرې يوې ګناه ته هم ظلم ويلی شي؛ نو پوښتنه دا ده چې په دې مقام کښې ظلم په کومه معنی سره دی؟

مونږ وايو چې: د ځينو علماوو کرامو نظر دا دی چې دلته د ظلم څخه کفر او شرک مراد دی[۳] دا څکه چې بحث په کفارو کښې راروان دی او وعيد هم ډېر شديد ښودلی شوی دی چې د کفارو سره ښه مناسبت لري. او په دې باندې علاوه په قرآن کريم کښې څه نور ايتونه شته چې همدې مضمون ته اشاره کوي، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ ٱللَّهِ فِي شَيْءٍ ﴾ [آل عمران:۲۸] يعني هرڅوک چې د کفارو سره موالات او د زړه مينه او محبت وساتي چې په کارونو کښې ورسره مشورې کوي اوتوقير او تعظيم يې کوي نو دغه سړی د الله ﷻ سره چندان دوستي نه لري او دوستي يې چندان دوستي نه ده (زيات تفصيل يې هملته تېر شوی دی، لله الحمد).

مګر مونږ ته بهتر برېښي چې په دې مقام کښې به د کفارو د رکون (ميلان) څخه په عبارة النص باندې مونږ منعه کړی شوي ياستو او د عاصيانو په عدم رکون (عدم ميلان) باندې به راته په اشارة النص سره توصيه شوې وي. نو مونږ ته په کار دي چې نه کافر ته (من حيث کافر) او نه عاصي مؤمن ته (من حيث عاصي) رکون او ميلان وکړو.

(۱) شعب الايمان للبيهقي ج ۶ ص۱۲۲
(۲) روح المعاني ج۱۲ ص۱۵۴
(۳) تفسير الطبري ج۱۲ ص۱۲۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



## ايا پنځه واړه لمونځونه مطلب دي؟

۵ـ علماوو کرامو د دې جملې څخه چې: ﴿ وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيْلِ ﴾ د لمونځونو وختونو استخراج کړی دی او متعدد اقوال يې پکښې کړي دي[١]، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: د ورځې دوه طرفونه د سبا او مازديگر څخه عبارت دي او د ﴿ زُلَفًا ﴾ کلمه د ماښام او ماسخوتن وختونو ته اشاره ده[٢]، نو په دې قول باندې په ايت شريف کښې د ماسپښين وخت ته کومه لفظي اشاره نه ده شوې.

ب: دوه طرفه د سبا او ماښام د لمونځونو څخه کنايه دی او ﴿ زُلَفًا ﴾ د ماسخوتن د وخت څخه کنايه دی[٣]. نو په دې قول باندې په ايت شريف کښې د ماسپښين او مازديگر دواړو وختونو ذکر نشته.

مگر مونږ ته بهتره برېښي چې د ورځې دوه طرفونه به د سبا او مازديگر څخه عبارت وي او ﴿ زُلَفًا ﴾ به د ماښام او ماسخوتن دوه لمونځونو ته اشاره وي، او دا ځکه چې:

اول: د ورځې دوه طرفونه په ورځ کښې شامل دي. نو څرنگه چې شرعي ورځ د سپېده داغ څخه پيل کېږي او د لمر په پرېوتلو باندې اختتام مومي نو پوره واضحه ده چې د ورځې په اولني طرف کښې د سهار لمونځ واقع دی او په وروستني طرف کښې يې د مازديگر لمونځ موقعيت لري.

دوهم: د "زُلَفْ" کلمه د "زلفة " جمعه ده او "زلفة" د شپې د وختونو څخه اولنيو وختونو ته ويل کېږي کوم چې ورځې ته نژدې دي[۴] او پوره واضحه ده چې ماښام خو د ورځې سره ډېر نژدې دی حتی چې د دواړو په منځکښې فاصل نشته، او ماسخوتن هم د ورځې څخه دومره ډېر لرې نه دی فقط د ماښام د لمانځه وخت يې په منځکښې فاصل واقع شوی دی او بس.

نو زمونږ په فکر په ايت شريف کښې په څلورو لمونځونو باندې صراحت کړی شوی دی او په پنځم لمانځه (مازسپښين) باندې صراحت نشته، لکه څنگه چې د تهجدو په لمونځونو او په وترو باندې صراحت نه دی شوی مگر د اشاراتو څخه نه دي وتلي.

دا د يوه پلوه، او د بله پلوه که د ﴿ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ ﴾ څخه د ورځې دوه برخې اراده کړی شي چې د غرمې څخه وړاندې يوه برخه شي او د غرمې څخه وروسته بله برخه وگڼل شي، نو په اولني طرف کښې به د سهار لمانځه ته اشاره وي او په دوهم طرف به ماسپښين او مازديگر دواړو لمونځونو ته شامل شي او بالآخره په ﴿ زُلَفًا ﴾ کښې به د ماښام او ماسخوتن دواړه لمونځونه شموليت ولري؛ نو په دې تقدير به په پنځو واړو لمونځونو باندې په ايت شريف کښې صراحت شوی وي، والله ﷻ أعلم.

---

(١) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٣ ص٦٩
(٢) البحر المحيط ج٦ ص٢٢٢؛ روح المعاني ج١٢ ص١٥٦
(٣) تفسير الطبري ج١٢ ص١٢٩
(۴) لسان العرب ج٩ ص١٣٨

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## اذهاب څه معنی؟

۶_ د «یُذْهِبْنَ» کلمه د "اذهاب" څخه اشتقاقه شوې ده، "اذهاب" د بېلولو معنی ورکوي نو په دې مقام کښې به د معنی حاصل داسې کېږي چې ګناهونه د نېکیو په سبب باندې د منځه ورل کېږي او محوه کېږي. یا په بل عبارت. کوم عذاب چې یوه ګنهګار ته د ګناهونو په سبب باندې متوجه وي هغه د نېکیو په سبب باندې د منځه ورل کېږي او د خطر څخه یې سړی بچ کېږي

د بنه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:

الف: یوه ورځې نبي کریم ﷺ ابو ذر ﷺ ته خطاب وکړ چې: «اتَّقِ اللهِ حَيْثُمَا كُنْتَ وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ»[1] یعنې: د الله ﷻ څخه وډار شه هر چرته چې یې، او په بدۍ پسې وروسته نیکي وکړه چې محوه یې کړي او (بالآخره) د خلکو سره په نېک خوی سره ګذاره کوه.

ب. د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې یوه سړي د یوې پردۍ زنانه څخه ناجائزه مچو اخستې وه نو نبي کریم ﷺ ته ورغی او پوښتنه یې ترې وکړه چې: ای د الله رسوله! د دغې ګناه کفاره به څه شی وي؟ نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ چې: ﴿ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ تر آخره پورې. نو نوموړي سړي بیا پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! ایا دغه (په لمنځونو باندې د ګناه محوه کېدل) یوازې زما دپاره دي او که دغه د ټولو خلکو دپاره دي؟ نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «لَكَ وَلِمَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ أُمَّتِي»[2] یعنې: دا ستا دپاره هم دی او زما د امت څخه د هغه چا دپاره هم دی چې په همدغه ایت باندې عمل وکړي.

ج: نبي کریم ﷺ یوه ورځې خپل صحابه کرام ﷺ مخاطب کړه چې که ستاسو د کوم یوه د کور د دروازې ترڅنګ یوه ویاله روانه وي او په هغې کښې پنځه وخته غسل وکړي نو تاسو څه وایئ چې د هغه د خیرو څخه به څه پاتې شي؟ ټولو صحابه وو کرامو ﷺ په یوه خوله جواب ورکړ چې د دغسې سړي په بدن باندې به هیڅ خیری پاتې نه شي. نو بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «فَذَلِكَ مِثْلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللهُ بِهَا الْخَطَايَا»[3] یعنې: نو دغه یوه ویاله د پنځو لمونځونو مثال دی چې الله ﷻ پرې (د ګناهګار څخه) ګناهونه محوه کوي.

## یادونه

۷_ که د چا اوږده بحث ته حوصله نه تنګېږي نو خینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي چې د ګناهونو د محوه کېدلو ډېر احادیث یې راغونډ کړي دي[4] او ښه اوږد تحقیقي بحث یې پکښې کړی دی[5] الله ﷻ دې اجرونه ورکړي، خو مونږ ورباندې لاندې معلومات وراضافه کوو:

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۹
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۲؛ صحیح مسلم ج۲ ص۳۵۸
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۷۶
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۶۲؛ الدر المنثور ج۴ ص۴۸۱
(۵) روح المعاني ج۱۲ ص۱۵۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د عذاب څخه د خلاصون اسباب

۸_ خینو علماء کرامو هغه ټول اسباب راغونډ کړي دي په کومو سره چې گناهونه د منځه ځي او سړی وربانديې د عذاب څخه خلاصون مومي او تړې بچ کېږي(۱) هغه دا چې:

الف: څوک چې د گناه څخه توبه تائب شي، برابره خبره ده چې وړه گناه وي او که لویه.

ب: څوک چې د الله ﷻ مغفرت غواړي او استغفار یې قبول شي.

ج: څوک چې د گناهونو په تعقیب حسنات او نېک کارونه وکړي.

د: چې په چا باندې په دنیا کښې مصیبتونه ورنازل شي او صبر پرې وکړي.

هـ: د خینو گناهگارانو دپاره د قبر عذاب هم د گناه د محوه کېدلو سبب گرځي، لکه چې په یوه حدیث کښې یې مثال ته اشاره شوې ده(۲).

و: هغه څوک چې بل مؤمن ورته دعاء وکړي او مغفرت ورته وغواړي.

ز: کله چې یوه مړي ته د ژوندیو د پلوه د خینو عبادتونو ثوابونه ور اهداء (سوغات) کړی شي. یا یې پخپله داسې جاري صدقات پرېښي وي چې د مرگ څخه وروسته یې خلکو ته گټه رسېږي، لکه جومات جوړول او یا تصنیف او تالیف کول او یا نور.

ح: د قیامت د ورځې سختي هم د مؤمنانو دپاره د گناهونو د محوه کېدلو سبب جوړېږي، (څه لرې نه ده چې د ځنکدن سختی هم په همدې ورقیاس کړی شي).

ط: څوک چې د "صراط" د پله په تېرېدلو کښې په زحمت شي او یا تړې د تېرېدلو څخه وروسته د بل پله په سر انتقام واخستل شي، همدې موضوع پورې څه مربوط وضاحت د [مریم:۷۱_۷۲] ایتونو لاندې راروان دی، إن شاء الله ﷻ.

ي: چا ته چې شفاعت کوونکی شفاعت وکړي او شفاعت یې الله ﷻ قبول کړي.

یا: چا ته چې الله ﷻ بدون د توبې او بې د ذکرو شوو اسبابو عفوه وکړي.

اللهم إنا نسألك العفو والعافية في الدنيا والآخرة.

﴿فَلَوْلَا كَانَ مِنَ ٱلْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُو۟لُوا۟ بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْفَسَادِ فِى ٱلْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا
مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْ ۗ وَٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مَآ أُتْرِفُوا۟ فِيهِ وَكَانُوا۟ مُجْرِمِينَ ﴿١١٦﴾ وَمَا
كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ ٱلْقُرَىٰ بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ ﴿١١٧﴾ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ
ٱلنَّاسَ أُمَّةً وَٰحِدَةً ۖ وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ ﴿١١٨﴾ إِلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَ ۚ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ

(۱) شرح العقیدة الطحاویة ص۴۵۱
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۳۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١١٩﴾ ﴾

[۱۱۶] نو ستاسو څخه وړاندې د پخوانیو زمانو (د خلکو) څخه ولې د خیر خاوندان نه وه، چې په ځمکه کښې یې د فساد مخنیوی کړی وی (او هغوی یې د هلاک څخه ژغورلي وی).

(د خیر خاوندان نه وه) مګر لږ (وړه ډله، دا وړه ډله) د هغه چا څخه عبارت ده چانه چې د هغوی د جملې څخه مونږ نجات ورکړی وه.

نو (دغې وړې ډلې په غیر موثرانه توګه د فساد مخنیوی کاوه) او هغو کسانو چې ظلم (او کفر غوره کړی وه) د هغه شي پیروی ته ادامه ورکوله په کوم شي کښې چې دوی اسوده جوړ کړی شوي وه. او د دوی (اکثریت) جنایتکاران وه (نو ځکه مونږ پوپنا کړه).

[۱۱۷] او (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ (بالکل) داسې نه دی چې د ښارونو (خلک) په ظلم سره (بدون د سببه) هلاک کړي حال دا چې د ښارونو خاوندان (اوسېدونکي) مصلحان (او نیکان) وي.

[۱۱۸] او که چرته (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ اراده کړې وی نو ټول خلک به یې یو ټولګی (په دین باندې متفق) ګرځولي وی او دوی به همېشه اختلاف کوونکي وي (چې د امتحان لاندې واقع شي).

[۱۱۹] مګر هغه څوک به (اختلاف کوونکي نه وي) په چا باندې چې ستا رب ﷻ رحم کړی وي (او توفیق یې ورکړی وي).

او ستا رب ﷻ دوی (ټول خلک) د همدغه (امتحان) دپاره پیدا کړي دي (چې په اختلاف کښې پټ دي).

او (ای پیغمبره!) ستا د رب ﷻ خبره تمامه شوې (فیصله شوې) ده چې هرومرو (خامخا) به زه دوزخ د پېریانو او خلکو (انسانانو) د جملې څخه په ټولو (کفارو) باندې ډک کړم (چې یهود او نصارا به هم ترې نجات مونده نه کړي).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ هغه ارشادات نازل کړي وه چې لازم حیثیت یې لاره او په شخصي اصلاحاتو پورې یې اړه درلوده، او په دې ایتونو کښې هغو ارشاداتو ته اشاره شوې ده چې متعدي حیثیت لري او د نورو په اصطلاحاتو پورې ارتباط نیسي. نو حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! برسېره پر دې چې تاسو د خپلو ځانونو د اصلاح دپاره ذکر شوي ارشادات په نظر کښې لرئ د نورو خلکو اصلاحات هم د نظره مه غورزوئ، نو تاسو ته په کار دي چې په همدې ارتباط لاندې توصیو ته متوجه شئ:

۱ـ د پخوانیو کافرو قومونو د هلاکت عمده وجه دا وه چې په هغوی کښې داسې یوه قوي ډله

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونده نه شوه چې عام خلک یې د فسادونو څخه منعه کړي وی او د هغوی د فساد مخه یې نیولې وی.

هو! په هغوی کښې وړې-وړې ډلې د دعوت الی الله دپاره موجودې وې چې په سر کښې به یې د وخت پیغمبر واقع وه مگر دوی به د خپلې کمزورۍ د کبله نه شو کولی چې د عمومي فساد مخنیوی وکړي او د ظالمانو لاسونه ونیسي چې په خپله اسودگۍ باندې ونه غولېږي او د الله ﷻ د عذاب څخه وډار شي.

۲ـ نو نتیجه به دا شوه چې مونږ به ذکر شوې وړې ډلې ته -چې د فساد په مخنیوي کښې به مشغوله وه- نجات ورکړ او مجرمان به مو پوپنا کړه (چې څو مثالونه یې په همدې سورت کښې مخکښې تېر شوي دي).

۳ـ نو تاسو کوښښ وکړئ چې د دعوت الی الله دپاره ښه قوي ډله ولرئ ترڅو د فسادونو مخنیوی وکړي او په همدې کار کښې مصروفه وي نو الله ﷻ به په تاسو باندې مهلک عذاب نه درنازلوي او د خپل غضب څخه به نجات درکړي. او دا ځکه چې ای پیغمبره! ستا رب ﷻ داسې نه دی چې ښارونه وران کړي او اوسېدونکي یې تباه کړي حال دا چې دوی د تباه کولو لایق نه وي جوړ شوي. یا په بل عبارت: ای پیغمبره! ستا رب ﷻ په خپلو بندگانو باندې تېری او ظلم نه کوي.

همدارنگه (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ هغه ښارونه هم نه تباه کوي چې په هغو کښې یوه مقتدره ډله موجوده وي چې دعوت الی الله ته ادامه ورکوي او څوک یې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی.

۴ـ ای پیغمبره! دغسې یوې قوي ډلې ته په هره زمانه کښې ضرورت شته دی چې د فسادونو مخه ونیسي، ځکه چې الله ﷻ انسان ته د ښو او بدو دواړو استعدادونه ورکړي دي ترڅو د امتحان لاندې واقع شي او د دغو دواړو استعدادونو غوښتنه دا ده چې ټول خلک په حق باندې اتفاق نه کوي او د همېشه دپاره به په هره یوه ټولنه کښې ضرور داسې خلک موجودیت لري چې د اهل الحق څخه به اختلاف کوي. هو! دا بېله خبره ده چې په چا باندې الله ﷻ خپل رحم او مهرباني وکړي او د اختلاف څخه یې په ځنگ وساتي (او د اتفاق توفیق ورکړي).

۵ـ ای پیغمبره! که ستا رب ﷻ اراده کړي وی چې ټول خلک متفق او متحد کړي نو دا کار به یې کړی وی او ټول خلک به یې په لاندې دوه وو وجو باندې یو ټولگی جوړ کړي وی:

الف: یا به یې د ټولو څخه د بدیو استعداد اخستی وی او یوازې د نېکیو استعداد به یې ورته پرېښی وی نو ټولو به په اسلام باندې اتفاق کړی وی، مگر په دې صورت کښې به د انسانانو څخه پرښتې جوړې شوې وی او کوم حکمت چې د انسان په پیدایښت کښې مرموز دی هغه به نه وی پوره شوی.

ب: یا به یې ټول انسانان جبراً په اسلام متفق کړي وی او ټول به یې د مجبوروونکو معجزاتو په نزول سره ایمان راوړلو ته مضطر (مجبور) کړي وی. مگر په دې صورت کښې به د دوی ایمان اختیاري ایمان نه وی بلکې اکراهي ایمان به وی او د اکراه ایمان د الله ﷻ په نزد مقبولیت نه لري.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو دا کار الله ﷻ ونه کړ ځکه چې په دې صورت کښې د امتحان او ازمېښت دروازه بندېده، حال دا چې الله ﷻ خو انسانان د همدې اختلاف (همدې امتحان) دپاره پیدا کړي دي.

۶_ د همدې کبله ستا د رب ﷻ په نزد دا خبره نه بدلېدونکې او فیصله ده چې زه به ضرور هرومرو د پیریانو او انسانانو (جنایتکارانو) څخه دوزخ ډکوم البته څوک چې په امتحان کښې ناکام گرځېدلي دي، او بالمقابل څوک چې په امتحان کښې کامیاب دي نو هغوی ته به جنتونه او انعامونه ورکوم.

۷_ لنډه دا چې په هره جامعه کښې د یوې اصلاحي مقتدرې ډلې موجودیت ته ضرورت شته دی نو تاسو زیار وباسئ چې دغسې ډله په تاسو کښې موجودیت ولري ترڅو په دنیا او آخرت کښې د الله ﷻ د عذاب څخه نجات مونده کړئ.

## توضیحات

۱_ ذکر شوی لومړنی ایت شریف نبي کریم ﷺ په ډېرو احادیثو کښې ډېر ښه تفسیر کړی دی، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د نبي کریم ﷺ د یوه اوږده حدیث مضمون دی چې کله بني اسرائیل په جنایتونو کښې ولوېدل نو علماوو د مناهیوو څخه منعه کړه خو هغوی منعه نه شوه (ترڅو چې علماوو خپله فریضه اداء کوله د الله ﷻ لعنت هم وریاندې نه وو نازل شوی) خو کله چې علماوو خپلې وظیفې ته شا کړه او د جنایتکارانو سره په جنایتونو کښې شریک شوه او خوراک او څښاک یې ورسره په گډه پیل کړ نو الله ﷻ د هغوی زړونه یو په بل ووهل او د الهي لعنت لاندې واقع شوه[۱].

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوُا الْمُنْكَرَ لَا يُغَيِّرُونَهُ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللهُ بِعِقَابِهِ»[۲] یعنې: یقینًا کله چې خلک (په خپل منځکښې) منکرات (غیر شرعي) کارونه وگوري نو تغیر ورنه کړي (مخه یې ونه نیسي) نو نژدې ده چې الله ﷻ دوی ټولو ته خپل عذاب ورشامل کړي (او ټول پرې اخته کړي).

## بَقِيَّة څه معنی؟

۲_ په ﴿ أُوْلُواْ بَقِيَّةٍ ﴾ کښې د ﴿ بَقِيَّةٍ ﴾ دپاره علماوو کرامو ډېر تفسیرونه کړي دي، لکه: دین، عقل، طاعت، او فضل[۳]، مگر مونږ ته داسې برېښې چې په دې مقام کښې به د ﴿ بَقِيَّةٍ ﴾ د کلمې څخه هغه ټول صفات مطلب وي د کومو چې اثار تر ډېره وخته پورې باقي پاتې کېږي او خلکو ته یې ډېره گټه رسېږي، لکه: عقل، علم، ذکاوت، اخلاص، نېک نیتي او داسې نور.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۴۲
(۲) سنن ابن ماجه ص۲۸۹
(۳) زاد المسیر ج۴ ص۱۳۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یو د معنی حاصل به یې داسې را وځوړي چې په پخوانیو هلاکو شوو قومونو کښې ولې داسې پوهان پیدا نه شو چې هغوی د ذکرو شوو صفاتو خاوندان وی او خپل قوم ته یې په دعوت الی الله سره د هلاکت څخه نجات ورکړی وی او تر ډېره وخته پورې یې پکښې د خیر رسونې اثار باقي پرېښي وی.

لوط ﷺ په خپل وخت کښې د هغه چا څخه کوم چې ذکر شوي صفات ولري د ﴿ رَّشِيدٌ ﴾ په کلمه باندې تعبیر کړی دی چې ﴿ أَلَيْسَ مِنكُمْ رَجُلٌ رَّشِيدٌ ﴾ [هود ۷۸] یعنې ای زما قومه! ایا ستاسو د جملې څخه یو سړی هم داسې نشته چې څه عقل او پوهه او هم څه اخلاص او نېک نیتي ولري او زما سره ستاسو په مخنیوي کښې کومک وکړي

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ ﴾ کښې خو د ﴿ مُصْلِحُونَ ﴾ کلمه د اصلاح څخه اشتقاقه شوې ده، پوښتنه دا ده چې په دې مقام کښې د اصطلاح څخه کوم یو صفت مطلب دی چې د یو قوم دپاره د عذاب څخه د نجات سبب ګرځي؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو په دې مقام کښې د همدغه ایت شریف مضمون په لاندې درېولونو باندې اخستی دی:

الف: الله ﷻ د ځمکې اوسېدونکي کفار یوازې تنها په کفر باندې نه هلاکوي او بیخ یې نه وباسي ترڅو چې د کفر سره په معاملاتو کښې فسادونه هم ضمیمه کړي[۱] لکه څنګه چې د لوط ﷺ قوم د کفر سره شنیع معروف عمل ضمیمه کړی وه او د مدین ښاریانو برسېره په کفر باندې په تله او پیمانه کښې د کمبود کولو هم مرتکب شوي وه.

ب: الله ﷻ د ښارونو خلک د هغه وخته پورې نه پوپنا کوي او عمومي عذاب ورباندې نه ورنازلوي (که څه هم دوی کفار او مشرکان وي) ترڅو چې په دوی کښې مصلحان او خیرخواه خلک موجودیت لري[۲] چې د همدوی څخه په وړاندې ایت کښې په ﴿ أُوْلُواْ بَقِيَّةٍ ﴾ سره تعبیر کړی شوي وه.

البته کله چې د مصلحي ډلې د دعوت الی الله په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی او خباثت اوج (لوړې درجې) ته نه وي رسېدلی، لکه چې یوه ورځې د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې: ایا مونږ به په داسې وخت کښې هم هلاکېږو (د هلاک خطر مو شته دی) چې په مونږ کښې صالحان موجودیت ولري؟! نو نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ»[۳] هو! کله چې خباثت (فسق فجور) ډېر شي.

(۱) تفسیر الطبري ج۱۲ ص ۱۴۰
(۲) تفسیر ابي السعود ج۴ ص۲۴۸
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص ۱۰۴۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدې تفسیر ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ ﴾ [الأنفال ۳۳] یعني: ای پیغمبره! الله ﷻ داسې نه دی چې دوی معذب کړي حال دا چې ته په دوی کښې موجودیت ولرې.

ج. الله ﷻ په ښاریانو باندې ظلم او تېری نه کوي چې دوی د پوښنا کولو مستحق نه وي خو د دې سره-سره د ټولو بېخ وباسي او عمومي عذاب وربانديې ورنازل کړي[1].

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي ٱلْقُرَىٰٓ إِلَّا وَأَهْلُهَا ظَٰلِمُونَ ﴾ [القصص: ۵۹] یعني: او مونږ د ښارونو هلاکوونکي نه یاستو مګر هله چې اوسېدونکي یې ظالمان وي (او په کفر او شرک باندې کلک وي).

مونږ ته وروستنی (دریم) تفسیر د مقام سره ښه مناسب ښکاري چې له یوه پلوه د ایت شریف څخه بې تکلفه سړي ته ذهن ته ورځي او له بله پلوه ورته د "القَصَص" په ذکر شوي ایت کښې په صراحت سره اشاره شوې ده، او د قرآن کریم خینې ایتونه خو خینې نور تفسیروي.

## "ذلک" څه شي ته اشاره ده؟

۴_ د ﴿ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمْ ﴾ په جمله کښې د "ذَٰلِكَ" د کلمې د مشار الیه په باره کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[2] خو کوم شی چې مونږ ته په زړه پوری برېښې هغه دا دی چې: په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه امتحان ته اشاره ده چې د ﴿ وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ ﴾ جمله وربانديې دلالت کوي. دا ځکه چې که د انسان په خلقت کښې امتحان نه وی نو د اختلاف کولو استعداد به هم نه وی ورکړی شوی. د همدې کبله ذکره شوې جمله په ﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ ﴾ الآية سره تعقیبه شوه او په امتحان کښې د ناکامانو انجام وټاکلی شو.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وایي چې: د تاکید کلمات خو د احتمال د مخنیوي دپاره استعمالیږي، او پوره واضحه ده چې الله ﷻ به په جنایتکارانو (پیریانو او انسانانو) باندې دوزخ ډکوي؛ نو پوښتنه دا ده چې په ﴿ مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴾ کښې د ﴿ أَجْمَعِينَ ﴾ کلمه د کوم احتمال د مخنیوي دپاره نازله شوې ده؟

مونږ وایو چې: دغه کلمه ـ والله ﷻ أعلم ـ د دې دپاره نازله شوې ده چې د یهودو او د نصاراوو عقیده رد کړي. دغه دواړه ډلې هره یوه، عقیده لري چې زمونږ دپاره جنت دی او دوزخ د نورو خلکو دپاره جوړ شوی دی، لکه چې پوره بیان یې د [البقرة: ۸۰_۱۱۱] ایتونو لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

---

(۱) المحرر الوجیز ج۹ ص۲۳۹

(۲) زاد المسیر ج۴ ص۱۳۹؛ تفسیر القاسمي ج۹ ص۱۸۲.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَ ۚ وَجَآءَكَ فِى هَٰذِهِ ٱلْحَقُّ
وَمَوْعِظَةٌ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٢٠﴾ وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنَّا
عَٰمِلُونَ ﴿١٢١﴾ وَٱنتَظِرُوٓا۟ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴿١٢٢﴾ وَلِلَّهِ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ يُرْجَعُ
ٱلْأَمْرُ كُلُّهُۥ فَٱعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿١٢٣﴾﴾

[۱۲۰] او د پیغمبرانو علیهم السلام د خبرونو څخه هر یو خبر (چې ته ورته ضرورت لرې هغه) مونږ په تا باندې بیانوو (یا په بل عبارت) هغه خبر په کوم باندې چې مونږ ستا (مبارک) زړه قوي کوو (او حوصله دې پرې زیاتوو د هغه په نزول کښې مونږ قصور نه کوو).

او (همدا وجه ده چې) تاته په دغه سورت (یا په دغو خبرونو) کښې حق (د حقائقو بیان) درغی (درنازل شو) او (هم درباندې) د مؤمنانو دپاره وعظ او نصیحت (قرائت کړی شو).

[۱۲۱] او (ای پیغمبره!) هغو کسانو ته ووایه چې (په تا باندې) ایمان نه راوړي (او حقائقوته په دقیق نظر نه ګوري چې): تاسو په خپل حال (یا خپله طریقه) باندې عمل وکړئ، یقینًا مونږ (هم په خپله طریقه باندې) عمل کوونکي یاستو.

[۱۲۲] او تاسو هم (خپل انجام ته) انتظار وکړئ، یقینًا مونږ (هم خپل انجام ته) انتظار کوونکي یاستو.

[۱۲۳] او د اسمانونو او ځمکو غیوب (غیبي شیان) فقط په الله ﷻ پورې مختص دي (یوازې همدی ﷻ پرې علم لري او بس) او (هم) خاص همده ﷻ ته (د بندګانو) ټول کارونه (د فیصلې دپاره) ورګرځولی کېږي.

نو (ای پیغمبره!) خاص د همده ﷻ عبادت وکړه (شریک ورسره مه دروه) او خاص په همده ﷻ باندې توکل (او اعتماد) وکړه.

او (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ د هغو (کارونو) څخه ناخبر نه دی چې تاسو یې (روزمره) کوئ.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د همدې سورت په مضامینو باندې یوې تبصرې ته اشاره شوې ده او نبي کریم ﷺ ځینو مهمو نکاتو ته متوجه کړی شوی دی چې حاصل یې داسې راوځي:

ای پیغمبره! څرنګه چې په تا باندې د ډېرو پیغمبرانو علیهم السلام حالات درنازل کړی شوه او په ډېرو اسرارو باندې مطلع کړی شوې نو اوس په آخر کښې لاندې نکاتو ته متوجه شه:

۱ـ ای پیغمبره! که څه همه ستا څخه وړاندې زبنت ډېر پیغمبران تېر شوي دي او په هغوی باندې د دعوت الی الله په دوران کښې مختلف حالات ورغلي دي، مګر د هغوی د حالاتو هغه

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



برخې مونږ په تا باندې درنازلوو کومو ته چې ته اړتیا لرې او ستا مبارک زړهورباندې اطمنان مونده کوي (د اضطراب څخه پرې بچ کېږي).

۲ـ نو که څه هم د پیغمبرانو علیهم السلام په خبرونو کښې به مشرکان اشتباهګانې وکړې خو نه په دغو اشتباهګانو باندې هم بې حوصلې کېږه مه. او دا ځکه کوم خبرونه چې تاته د الله ﷻ د پلوه درغلي دي همدغه حق او د واقع سره مطابق دي او د اشتباه د واقع کېدلو دپاره لایق نه دي.

۳ـ په دې باندې علاوه، چې د پخوانیو پیغمبرانو په حالاتو کښې تاته اطمنان زیاتېږي، مؤمنانو ته هم پکښې لاندې ګټې شته دي:

الف: ذکر شوي حالات د دوی دپاره وعظ دی، باید چې دوی د الله ﷻ څخه وډار شي چې ستا سره هغه کړنلاره خپله نه کړي کومه چې ځینو پخوانیو قومونو د خپلو پیغمبرانو سره خپله کړې وه. هسې نه چې دوی هم د هغه عذاب سره مخامخ شي د کوم سره چې هغوی مخامخ شوي وه.

ب: همدارنګه ذکر شوي حالات ستا د امت دپاره عمومًا او د مؤمنانو دپاره خصوصًا د پند او نصیحت او هم د عبرت دپاره د یادښت ډېر ښه ګټور منابع دي.

۴ـ ای پیغمبره! کله چې تا په خپل امت باندې د پخوانیو قومونو حالات قرائت کړه چې ترڅو دوی ترې عبرت واخلي نو بیا ورته ووایه چې: اوس نو تاسو هم په خپله طریقه باندې عمل وکړئ او خپله تګلاره (خط السیر) تعقیب کړئ، مونږ هم خپله تګلاره تعقیبوو.

۵ـ نو تاسو هم نتایجو ته انتظار وکړئ، مونږ هم ورته انتظار کوونکي یاستو؛ نو وبه ګورو چې ستاسو تګلاره د خیر تګلاره ده او که زمونږ؟، تاسو په سمه لاره باندې روان یاست او که مونږ؟، ستاسو په کړو وړو کښې ښېګڼې نغښتې دي او که زمونږ؟.

۶ـ ای پیغمبره! د ذکرو شوو مطالبو د قرائت څخه وروسته ځکه خپلو دعوتي امتیانو ته په انتظار باندې توصیه وکړه چې:

الف: د اسمانونو او ځمکو په غیبي واقعاتو باندې یوازې الله ﷻ پوهېږي، اما دوی به ورباندې په هغه وخت کښې پوه شي چې کله ستا غیبي اطلاعات تحقق ومومي مګر هغه به داسې وخت وي چې دوی ته به د ایمان راوړل او باور کول څه ګټه ونه شي رسولی.

ب: همدارنګه خاص الله ﷻ ته د ټولو کارونو بېرته ورګرځېدل دي او ټولې فیصلې په همده ﷻ پورې اختصاص لري چې هیڅ کار او هیڅ شی د ده ﷻ د ارادې څخه وتلی نه شي او نه ترې بچ کېدلی شي.

۷ـ نو ای پیغمبره! په ښه پوره اطمنان سره د الله ﷻ عبادت کوه او خاص په همده ﷻ باندې توکل او اعتماد کوه، دا ځکه چې ستا رب ﷻ د هغه څه څخه غافل نه دی کوم چې تاسو یې کوئ، نو د هرچا سره به مطابق چالږ چلند وکړي او هیڅکله به ستا دښمنانو ته موقع ورنه کړي چې د دعوت الی الله د لارې مخه بنده کړي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

١ـ په ﴿وَجَآءَكَ فِي هَـٰذِهِ ٱلْحَقُّ﴾ جمله کښې د ﴿هَـٰذِهِ﴾ د کلمې په مشار الیه کښې علماوو کرامو[1] متعدد اقوال کړي دي، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: د دغې کلمې مشار الیه په ﴿مِنْ أَنبَآءِ ٱلرُّسُلِ﴾ کښې د ﴿أَنبَآءِ﴾ کلمه ده چې د جماعة په تاویل سره ترې مفرد مونث جوړ شوی دی. یعنې: ای پیغمبره! تاته د پیغمبرانو په قیصو کښې حقائق بیان شوي دي.

ب: په ﴿هَـٰذِهِ﴾ کلمه کښې دنیا ته اشاره ده چې معناً ذکره ده. یعنې: تاته په دې دنیا کښې داسې مطالب درکړی شوي دي چې سراسري د واقع سره مطابق دي او هیڅ اشتباه پکښې نشته.

ج: په ذکره شوې کلمه باندې همدغه سورت ته اشاره ده ـ چې بحث پکښې روان دی ـ یعنې: ای پیغمبره! لکه څنګه چې د قرآن کریم په نورو سورتونو کښې تاته د الله ﷻ د پلوه حقائق درنازلېږي همدارنګه په دغه سورت کښې چې څه درنازل کړی شوه دا هم ټول حقائق دي او لا نور حقائق به هم درباندې نازل شي.

زمونږ په نظر که څه هم ذکر شوي درېواړه اقوال په اصلي مطلب کښې څه فرق نه لري مګر د عربیت د قواعدو په لحاظ سره دوهم قول کمزوری برېښي چې د "الدُّنْیَا" کلمه وړاندې په صراحت سره نه ده ذکره شوې چې اشاره ورته ورکړی شي.

٢ـ د ﴿وَٱنتَظِرُوٓاْ إِنَّا مُنتَظِرُونَ﴾ دواړه جملې هغو جملو ته ورته دي په کومو باندې چې شعیب ﷺ خپل قوم مخاطب کړی وه چې: ﴿وَٱرْتَقِبُوٓاْ إِنِّي مَعَكُمْ رَقِيبٌ﴾ [هود:٩٣].

نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: ای پیغمبره! ته هم د پخوانیو پیغمبرانو غوندې یو پیغمبر یې، تاسو په اصل نبوت کښې یو تربله څه تفاوت نه لرئ چې ټول د الله ﷻ د پلوه خلکو ته ور استولی شوي یاست، نو هغوی چې کومه کړنلاره د خپلو امتونو سره په دعوت الی الله کښې غوره کړې وه همغه کړنلاره ته هم غوره کړه او د خپلې زمانې کفار په هغه خبره باندې مخاطب کړه په کومه باندې چې شعیب ﷺ (خطیب الانبیاء) د خپل وخت کفار مخاطب کړي وه. هغه دا چې: ای کفارو! ما خو تاسو ته حقائق په ډېرو څرګندو کلماتو کښې واضحه کړه، چې اوس هم پرې عقیده نه کوئ نو خپل انجام ته انتظار وکړئ لکه څنګه چې مونږ انتظار کوونکي یاستو.

د الله ﷻ په توفیق د "هود" سورت ترجمه او تفسیر بشپړ شو

١٣٧٥/١٢/١٨ هـ ش.

---

[1] زاد المسیر ج ۴ ص ١٣٢

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# یوسف (۱۲)


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# سریزه

د دې ډپاره چې د مضامینو په لوستلو کښې ښه بصیرت پیدا شي نو مونږ د دې سورت په ترجمه او تفسیر باندې د شروع (پیل) کولو څخه وړاندې محترم لوستونکي لاندې ټکو ته متوجه کوو:

۱_ په دې سورت باندې د یوسف د سورت نوم ایښودل شوی دی، چې عمده مضامین یې د همدغه پیغمبر ﷺ په احوالاتو پورې ارتباط لري، خو د دې سره-سره د دغه ډول نوم ایښودلو څخه دا مطلب نه دی چې د همدغه پیغمبر ﷺ د حالاتو څخه په غیر پکښې د بل شي بیان نشته.

که څه هم د یوسف ﷺ نوم په ټول قرآن کریم کښې اوه ویشت کرته ذکر شوی دی خو یوازې په همدغه سورت کښې یې پنځه ویشت کرته نزول موندلی دی[۱].

۲_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

الف: د دې سورت د ایتونو شمېر یو سلو یوولس (۱۱۱) دی. اتفاقي بلکې اعتمادي خبره دا ده چې دا سورت د هجرت څخه وړاندې په مکه معظمه کښې نازل شوی دی[۲].

ب: د کلماتو شمېر یې یو زر شپږ سوه (۱۶۰۰) دی، او د حرفونو شمېر یې اوه زره یو سلو شپږ شپېته (۷۱۶۶) دی[۳].

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: د مکي سورتونو عمده مضامین خو عقایدو پورې ارتباط لري لکه د الله ﷻ توحید او د نبي کریم ﷺ نبوت او داسې نور، نو پوښتنه دا ده چې ایا دغه سورت د مکي سورتونو په شمېر کښې شمېرل کېږي حال دا چې عمده (مهم) مطالب یې په عقایدو پورې ارتباط نه لري بلکې د یوسف ﷺ د حالاتو بیانول یې مهم مطالب تشکیلوي؟

مونږ وایو چې په دې سورت کښې هم ډېر مهم مطالب د عقایدو مسائل دي چې د یوسف ﷺ په حالاتو کښې یې انعکاس موندلی دی، لاندې خو ټکي ولولئ:

الف: د الله ﷻ د ارادې مخنیوی هېڅوک نه شي کولی، د یوسف ﷺ ورونو غوښتل چې د ده څخه هغه عزت واخلي کوم چې ده ته الله ﷻ ورکړي وه نو په همدې غرض باندې یې په کوهي کښې واچاوه او توهین یې کړ. مګر الله ﷻ یوسف ﷺ ته همدغه د توهین کارونه د اعزاز اسباب جوړ کړه او په مصر کښې یې ورته پاچاهي ورکړه.

ب: هغوی یوسف ﷺ بې وطنه کړ او نا بلده وطن ته یې وشاړه خو داسې وخت هم په دوی باندې ورغی چې د یوسف ﷺ په حضور کښې ودرېده او په لوړ اواز سره یې وویلې چې: ﴿ وَتَصَدَّقْ عَلَيْنَآ ﴾ [یوسف ۸۸] یعنی ای معززه (پاچا) مونږ ته او زمونږ کور کهول ته سخت مصیبت رسېدلی دی او

---

(۱) المعجم المفهرس لالفاظ القرآن ص ۷۷۳
(۲) روح المعاني ج ۱۲ ص ۱۷۰
(۳) تفسیر المظهري ج ۳ ص ۳۷۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زمونږ سره د غلو دانو چندان بدله هم نشته، نو مونږ ته پوره پیمانې راکړه اوخیرات را باندې وکړه، یقینًا الله ﷻ خیرات کوونکو ته نېکه جزا ورکوي.

ج: نو که مشرکان په خپله بوت پرستۍ باندې کلک شي او وغواړي چې د اسلام د ترقی دپاره د لارې د خنډ جوړ شي، نو دا کار به هیڅکله ونه کړی شي، او د غسې به شرمنده شي لکه څنګه چې د یوسف ﷺ وروڼه د ده ﷺ په حضور کښې خجالت شوه.

د: همدارنګه لکه څنګه چې د یوسف ﷺ وروڼو ته حسد او کینې څه ګټه ونه شوه رسولی همدارنګه به هغه څوک هم په خپل مطلب کښې کامیاب نه شي کوم چې د الله ﷻ د پیغمبر سره حسد کوي او ایمان ورباندې نه راوړي.

هـ: همدارنګه په دې قیصه کښې د اسلامي ټولنې او کفري ټولنې (د جاهلیت ټولنې) مقایسې ته خلک متوجه کړی شوي دي، چې د اسلامي ټولنې افراد د یوسف ﷺ غوندې امانتګر او صداقت مند وي او د جاهلیت د ټولنې افراد د زلیخا غوندې چلباز او حیله ګر وي.

نو ټولو کفارو ته په کار دي چې د جاهلي ټولنې څخه تېر شي او اسلامي ټولنه تشکیله کړي او په ایمان باندې خپل خانونه مشرف کړي.

بالآخره په دې سورت کښې هغو دیارلسو خاصیتونو ته اشاره شوې ده کوم چې د یوه رئیس او یوه مشر دپاره ضرور دي. چې ځینې علماوو کرامو[1] راغونډ کړي دي.

## د دواړو سورتونو ارتباطونه

۴ـ دا سورت (یوسف) او وړاندېنی سورت (هود) د لاندې وجوهو د کبله یو تربله سره ارتباط لري:

الف: هلته د څو پیغمبرانو علیهم‌السلام هغه حالات بیان شوي وه کوم چې هغوی ته د دعوت الی الله په جریان کښې وربېښ شوي وه او دلته د مثال په توګه د یوه پیغمبر (یوسف ﷺ) د تربیه کولو او دګناهونو څخه د بچ ساتلو حالاتو ته اشاره شوې ده.

ب: هلته د پیغمبرانو علیهم‌السلام قیصو ته په اجمالي توګه اشارې شوې وې او دلته دمثال په ډول د یوه پیغمبر یوه قیصه مفصله بیانه شوې ده ترڅو کفار په غوږ باندې ووهلی شي چې نبي کریم ﷺ کولی شي چې د هر یوه پیغمبر قیصه تفصیلواره بیانه کړي، حال دا چې نه یې چرته لیک او لوست کړی دی او نه یې د چا شاګردي کړې ده، نو معلومه شوه چې دا په حقه پیغمبر دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه ترڅو کفار پوه کړی شي چې قرآن کریم معجز کلام دی، که خپل مطالب په لنډه او مجمله توګه بیان کړي هم څوک یې مقابله نه شي کولی او که په مفصله توګه یې ذکر کړي هم ټول خلک یې دمقابلې څخه عاجز دي، نو پوره څرګنده ده چې دا بشري کلام نه دی بلکې د الله ﷻ کلام دی.

ج: هلته د پیغمبرانو علیهم‌السلام هغه مشکلات واضحه شوي وه کوم چې هغوی ته د اجانبو (پردیو)

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۹ ص۳۱۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځنه وربښ شوي وه او دلته د یوه پیغمبر هغه مشکلات نازل شوي دي کوم چې هغه ته د خپلوانو (ورونو) د خوا څخه منخته راغلي وه. ترڅو الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته توصیه وکړي چې نه د خپلوانو (قریشو) په اذیتونو باندې خپله حوصله خرابه کړي او نه د پردیو (یهودو او نصاراوو) په اذیتونو باندې بې حوصلې شي.

د: هلته د یعقوب ﷺ ذکر ته اشاره شوې ده چې: ﴿ فَبَشَّرْنَـٰهَا بِإِسْحَـٰقَ وَمِن وَرَآءِ إِسْحَـٰقَ يَعْقُوبَ ﴾ [هود: ۷۱] او په دې سورت کښې د یعقوب ﷺ د اولادې حالات په معجزانه توګه بیان شوي دي.

## د دې سورت شان نزول

۵_ په ټول قرآن کریم کښې یوه قیصه هم دومره مفصله نه ده نازله شوې لکه څنګه چې د یوسف ﷺ قیصه تفصیلواره نازله شوې ده او ډېرې کوچنۍ-کوچنۍ څنډې یې هم پکښې ذکرې شوې دي.

علماوو کرامو د دغې قیصې د نازلېدلو په سبب (شأن) کښې لاندې دوه ډوله روایتونه لیکلي دي:

الف: د ځینو روایاتو څخه معلومېږي چې مسلمانانو د نبي کریم ﷺ څخه وغوښتل چې دوی ته د پخوانیو تېرو شوو حالاتو څخه څه شی بیان کړي، نو الله ﷻ دغه سورت نازل کړ او مفصله قیصه یې ورته قرائت کړه[1].

ب: د ځینو نورو روایتونو[2] مضمون دا دی چې یهودانو یو ټولګی مکې معظمې ته ولېږه چې هلته یې پخپله د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې د بني اسرائیلو اصلي ټاټوبی خو د شام او فلسطین ځمکه وه، نو که ته رښتیانی پیغمبر یې دا راته ووایه چې دوی په کومه وجه باندې مصر ته لاړه او هلته یې استوګنه غوره کړه؟

او یا نوموړي ټولګي د مکې معظمې مشرانو ته ذکره شوې پوښتنه تلقین کړه چې د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړئ چې که ته رښتیا پیغمبر یې نو د هغه سړي قیصه مفصله بیانه کړه کوم چې په شام کښې اوسېده او خپل یو زوی ترې په غلا باندې مصر ته بوتلل شو او نوموړی (د زوی پلار) ورپسې د ډېرې ژړا د کبله په سترګو باندې ړوند شو، نو الله ﷻ دغه سورت نازل کړ.

مونږ ته داسې برېښي چې ذکر شوي دواړه ډوله روایتونه سره څه منافات نه لري، څه لرې نه ده چې مسلمانانو به هم نبي کریم ﷺ ته وړاندیز کړی وي او کفارو به هم دغه غوښتنه کړې وي.

شاید چې کفارو به د یوسف ﷺ قیصه د دې دپاره مشخصه غوښتې وي چې په مشرکانو کښې ددغې قیصې څخه هیڅ معلومات نه درلوده، او دا هم پوره څرګنده وه چې نبي کریم ﷺ د اهل الکتابو سره ترهغه وخته پورې په هیڅ ډول باندې ارتباط هم نه لاره، نو د دوی ګومان وه چې نبي کریم ﷺ به د ذکرې شوې قیصې د بیان څخه عاجز شي او مونږ ته به د ده د نبوت څخه د منکرېدلو بنه چانس لاس ته راشي.

---

[1] تفسیر الخازن ج۲ ص۳۷۴؛ اسباب النزول للواحدي ص۱۸۲

[2] المحرر الوجیز ج۹ ص۲۴۵؛ تفسیر القرطبي ج۹ ص۱۲۰؛ تفسیر ابي السعود ج۴ ص۲۵۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ۝١ إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ۝٢
نَحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ أَحۡسَنَ ٱلۡقَصَصِ بِمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ وَإِن كُنتَ مِن
قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ۝٣ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه

[۱]

(ای پیغمبره!) دغه (ایتونه چې په تاباندې درنازلېږي) د څرګند (معجز) کتاب ایتونه دي.

[۲] یقیناً مونږ دا (کتاب په تا باندې) په داسې حال کښې نازل کړی دی چې لوستل کېږي (مکتوبي کتاب نه دی او هم) په عربي ژبه کښې دی (په عجمي ژبه کښې نه دی) شاید چې تاسو یې (په حقانیت کښې) د عقل څخه کار واخلئ.

[۳] مونږ په تا باندې (د یوسف ﷺ قیصه او نور احوالات) څکه په ډېر ښه بیان سره بیانوو چې مونږ تاته دغه قرآن کریم (په حقه سره) وحې کړی دی.

او بې شکه ته د دې وحې (یا قرآن کریم) څخه وړاندې د ناخبرانو د ډلې څخه وې.

## ارتباطونه

د وړاندېنې سورت په وروستنیو ایتونو کښې لاندې مضامینو ته اشاره شوې وه چې:

۱ـ الله ﷻ په نبي کریم ﷺ باندې د پخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام څه حالات د دې دپاره نازلوي چې د ده مبارک زړه پرې قوي او حوصله یې زیاته شي ﴿ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَ ﴾.

۲ـ ترڅو د ذکر شوو حالاتو بیان د مؤمنانو دپاره پند او عبرت جوړ شي او عقاید یې لا قوي شي او د صبر او زغم استعداد پکښې پیاوړی شي ﴿ وَمَوۡعِظَةٞ وَذِكۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾.

۳ـ هلته نبي کریم ﷺ ته توصیه شوې وه چې خپلې کامیابۍ او د کفارو ناکامۍ ته انتظار وباسئ ﴿ وَٱنتَظِرُوٓاْ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴾.

۴ـ بالآخره دا خبره نازله شوې وه چې ټول کارونه د الله ﷻ په اختیار کښې دي نو د همده عبادت کوه او په همده ﷻ باندې توکل کوه ﴿ فَٱعۡبُدۡهُ وَتَوَكَّلۡ عَلَيۡهِ ﴾.

په دې سورت (یوسف) کښې د ذکرو شوو څلورو واړو مضامینو عملي صورتونه ښودلی شوي دي چې د نبي کریم ﷺ مبارک زړه پرې قوي شي او مؤمنان ترې پند او عبرت واخلي او هم پکښې د نیک انجام عملي ښه وښودلی شي او د الله ﷻ د کامل اختیار د څېرې ښه مثال څرګند شي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! د مهربان او با رحمه الله ﷻ په نامه باندې لاندې بیان پیل کړه چې:

۱ـ کومه قیصه چې ستا څخه غوښتله کېږي او مونږ اراده کړې ده چې په تا باندې یې قرائت کړو. هغه د همغو حرفونو څخه ترتیب شوې ده د کومو څخه چې د خلکو خبرې ترتیب او ترکیب شوي دي، لکه "ا، ل، ر" او داسې نور. مګر اعجاز یې په دومره لوړه درجه کښې دی چې که پیریان او انسانان ټول سره لاسونه یو کړي هم بالمثل کلام ترې نه شي ترکیب کولی او ټول یې د مقابلې څخه عاجز دي

۲ـ یا په بل عبارت: ذکره شوې قیصه د داسې ایتونو په قالب کښې اچولی شوې ده چې هغه د ځرګند کتاب ایتونه دي، دا کتاب خپل ځان پخپله ثابتوي چې دا حقاني کتاب دی، او د وحې په سلسلې سره تاته در رسېدلی دی.

۳ـ نو ای پیغمبره! د همدې کبله (چې خپل ځان پخپله ثابتوي) مونږ وایو چې دا کتاب لاندې صفات لري:

الف: د دې کتاب نزول د تورات غوندې تحریري شکل نه لري بلکې د لوست په شکل په تا باندې په مناسبو مواقعو کښې ټوټه-ټوټه نازل شوی دی ترڅو پرې ته خپل ضروریات په اسانۍ سره پوره کړی شي، مګر کله چې اختتام ته ورسېد نو بیا به ترې تحریري کتاب جوړ شي.

ب: که څه هم مونږ کولی شو چې دا کتاب مو په عجمي حروفو کښې درنازل کړی وی، خو په دې تقدیر به وربانديې ستا قوم (قریش) نه وی پوهېدلي او که بالفرض په مضامینو باندې یې پوه شوي وی هم نو د باور د نه کولو دپاره به یې بهانې نیولې وی چې مونږ پرې نه پوهېږو، او تعجب به یې کولی چې عجیبه ده چې پیغمبر عربي دی او مونږ عرب یاستو حال دا چې کتاب راته په عجمي لغت کښې نازل شوی دی!

۴ـ نو ای پیغمبره! زمونږ د پلوه دوی مخاطب کړه چې تاسو ته په کار دي چې د عقل څخه کار واخلئ او باور وکړئ چې یقیناً دا کتاب د الله ﷻ کتاب دی او په چا باندې چې نازل شوی دی هغه په حقه پیغمبر دی او هیڅ شک او شبه پکښې نشته.

۵ـ نو ای پیغمبره! لکه څنګه چې مونږ ذکر شوی معجزانه کتاب په تا باندې نازل کړی دی همدارنګه دربانديې د همدې کتاب په ایتونو کښې په ډېر حسنه طریقه سره هغه قیصه هم درنازلوو چې ستا څخه غوښتله کېږي چې هغه د یوسف ؑ د قیصې څخه عبارت ده.

۶ـ که بالفرض تا ته مونږ وحې نه وی کړې او ته مو د پیغمبر په صفت نوی استولی نو تا به د ذکرې شوې قیصې څخه یوه کړۍ او یوه کوچنۍ برخه هم نه وی بیانه کړې او دا ځکه چې ته خو د دې کتاب د نزول څخه وړاندې د دغسې قیصو څخه ناخبره وې.

ایا ته هلته حاضر وې چې د یوسف ؑ دپاره دسیسه جوړه شوه؟

ایا ته د هغو کاروانیانو سره ملګری وې کوم چې مصرته روان وه؟

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایا تا د عزیز په ماڼۍ کښې تشریف درلود. چې د ماڼۍ مېرمنې د یوسف ﷺ څخه نامشروعه مطالبه وکړه او بیا دواړه دروازې ته وځغلېده؟

ای پیغمبره! د وحې څخه وړاندې ته د ذکرې شوې قیصې د تفصیل څخه ناخبر وې.

## توضیحات

۱_ ځینو مفسرینو کرامو د قرآن کریم د اشرفیت لاندې وجوه لیکلي دي[۱]:

الف: قرآن کریم په لغاتو کښې په اشرف لغت باندې نازل شوی دی چې عربي لغت دی، چې هم پکښې بلاغت او فصاحت زیات دی او هم په الفاظو کښې زیات وسعت او پراخي لري.

ب: همدارنګه دا قرآن کریم په أشرف الأنبیاء (محمد) ﷺ باندې نازل شوی دی.

ج: او په دې باندې علاوه، د أشرف الملائکة (جبرائیل امین) ﷺ په ذریعه یې نزول موندلی دی.

د: په اشرفه خاوره (مکه معظمه) کښې نازل شوی دی.

هـ: او دنزول شروع یې د کال په اشرفه میاشت (رمضان) کښې شوې ده.

نو قرآن کریم د هر حیثه مشرف کتاب دی، چې څوک پرې ایمان راوړي نو هغه به لوی شرف ترلاسه کړي.

## قصص څه معنی؟

۱_ د ﴿ نَقُصُّ﴾ کلمه د "قصص" څخه اشتقاقه شوې ده چې په دې مقام کښې د پخوانیو واقعاتو څخه د اخبار او بیان معنی ورکوي[۲]، نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! مونږ په تا باندې د پخوانیو واقعاتو بیان عموماً او د یوسف ﷺ د قیصې بیان خصوصاً په احسنه توګه کوو چې هم د بلاغت او فصاحت د حیثه احسن دی او هم د هغه بیان څخه احسن دی کوم چې د اهل الکتابو په محرفو شوو کتابونو کښې شوی دی چې د ډېرو ایتونو قبائحو او غیر مناسبو نسبتونو څخه یې ډک کړی دی او تحریفونه یې ورکړي دي.

اما که د "قصص" کلمه د مفعول (مقصوص) په معنی واخستله شي نو بیا د "قصة" معنی ورکوي چې جمعه یې "قِصَص" _لکه "عِنَب" _ راځي[۳].

"قِصَّة" هغه کلام ته ویل کېږي په کوم کښې چې د پخوانیو واقعاتو بیان صورت نیولی وي. نو په دې تقدیر یې د معنی حاصل داسې کېږي چې:

ای پیغمبره! مونږ په تا باندې هغه احسنه قصه بیانوو د کومې چې ستا څخه د بیانولو غوښتنه شوې ده چې هغه د یوسف ﷺ د قیصې څخه عبارت ده.

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۶۶
(۲) روح المعاني ج۱۲ ص۱۷۵
(۳) لسان العرب ج۷ ص۷۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: د یوسف علیه السلام قيصې ته (چې وروسته راروانه ده) په څه وجه د "احسن" لقب ورکړی شوی دی؟

موږ وايو چې: علماوو کرامو د دغې قيصې په احسنيت کښې ډېر وجوه ذکر کړی دي[1] که څوک فرصت لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

اما زموږ ذهن ته چې د الله ﷻ په توفيق د نوموړې قيصې په احسنيت کښې کوم وجوه راخي د هغو څخه د لاندې يوې وجهې په ذکر باندې اکتفاء کوو، چې دغه قيصه د نبي کريم ﷺ په حالاتو باندې ډېره ښه تطبيقه ده، مثلاً:

د یوسف علیه السلام ورونو غوښتل چې یوسف علیه السلام د ورکړی شوې درجې څخه وغورزوي نو په څا کښې يې واچاوه، خو په نتيجه کښې د ډېرو مشکلاتو د ګاللو څخه وروسته په پردي وطن کښې پاچا شو او درجه يې لا پسې لوړه شوه. يا په بل عبارت: هغوی چې د کوم شي د مخنيوي دپاره هلې ځلې وکړې عين همغه شی د دوی په خپلو لاسونو باندې په څو چنده لوړه سويه باندې تحقق وموند. ته به وايې چې هغوی غوښتل چې یوسف علیه السلام د پاچاهۍ درجې ته ورسوي.

بالمقابل، د یوسف علیه السلام مهرباني او زړه سوی په خپلو ورونو باندې دومره زيات وه چې د قدرت سره سره يې خپلو ورنو ته عفوه وکړه او د الله ﷻ څخه يې ورته مغفرت وغوښت چې: ﴿ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ ﴾ [يوسف: ۹۲] يعنې: نن ورځ په تاسو باندې زما د پلوه کوم توبيخ او ملامته اچول نشته، الله ﷻ به درته مغفرت وکړي.

د مکې معظمې مشرکانو هم غوښتل چې نبي کريم ﷺ قتل کړي او د اسلام د پرمختګ مخه ونيسي ـ لکه چې بيان يې د [الأنفال: ۳۰] ايت لاندې تېر شوی دی ـ او په نتيجه کښې دوی نبي کريم ﷺ مجبور کړ چې پردي وطن ته هجرت وکړي، مګر په پردي وطن کښې الله ﷻ په نبي کريم ﷺ باندې دومره مسلمانان راغونډ کړه او دومره يې قوي کړه چې مکه معظمه يې فتحه کړه، نو د قريشو مشران د ډېر هيبت او ډار څخه کعبې شريفې ته ننوتل او نبي کريم ﷺ ورسره په داسې حال کښې لاندې سوال جواب وکړ چې د کعبې شريفې په دوارو درشانيګانو باندې يې لاسونه اېښي وه او په دروازه کښې ورته ولاړ وه:

نبي کريم ﷺ «مَا تَقُولُونَ وَمَا تَظُنُّونَ»[2] يعنې تاسو څه واياست او ستاسو څه ګومان دی (چې زه به ستاسو جنايتګرو سره څه وکړم ايا انتقام به درڅخه واخلم او که نه)؟

قريش: «ابْنُ أَخٍ، وَابْنُ عَمٍّ حَلِيمٌ رَحِيمٌ» يعنې موږ اوس ستا د پوره قدرت لاندې واقع ياستو او ته کولی شې چې زموږ څخه خپل انتقام واخلې، څرنګه چې ته زموږ وراره يې او ته زموږ د تره

---

(۱) البحر المحيط ج۶ ص۲۳۶؛ تفسير القرطبي ج۹ ص۱۲۰

(۲) سنن الکبری للبيهقي ج۹ ص۱۱۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زوی یې او په دې باندې علاوه ته د پوره حوصلې خاوند یې او ډیر مهربان یې، نو زمونږ دا ګومان دی چې ته به په مونږ باندې صلة الرحم وکړې او مونږ به عفوه کړې.

(قریشو ذکره شوې خبره درې ځله تکراره کړه، تابه ویل چې د یوسف ؑ د ورونو غوندې کچکول په لاس ولاړ دي او سوالونه او زاری کوي).

نبي کریم ﷺ: «أقولُ كما قالَ يُوسُفُ ﴿لا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ﴾ [يوسف ۹۲]» یعني نن ورځ په تاسو باندې زما د پلوه هیڅ ملامته او توبیخ نه اچول کیږي. الله ﷻ به درته مغفرت وکړي او همدی ﷻ په مهربانانو کښې ډیر مهربان دی. تاسو زما د پلوه ازاد یاست.

نو د قریشو مشران د کعبې شریفې څخه په داسې حال رابهر شوه لکه چې د قبرونو څخه (مړي) را پورته شوي وي، نو (تولو په یوه خوله طیبه کلمه ولوستله او) په اسلام کښې داخل شوه.

عمر الفاروق ؓ وايي چې: «فَفِضْتُ عَرَقًا مِنَ الْحَيَاءِ مِنْ قَوْلِ رَسُولِ اللهِ»[۱] یعني: د ډیرې حیاء او خجالت څخه زما په بدن باندې خولې وبهیدې چې کله مې د نبي کریم ﷺ د عفوې اعلان واوریده، او دا ځکه چې ما لږ وړاندې د قریشو مشرانو ته ویلي وه چې نن ورځ به ستاسو څخه مونږ انتقام واخلو او داسې داسې به درسره وکړو.

﴿إِذْ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ رَأَيْتُهُمْ لِي سَٰجِدِينَ ۝٤ قَالَ يَٰبُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ عَلَىٰٓ إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُوا۟ لَكَ كَيْدًا ۖ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ لِلْإِنسَٰنِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ۝٥ وَكَذَٰلِكَ يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأْوِيلِ ٱلْأَحَادِيثِ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكَ وَعَلَىٰٓ ءَالِ يَعْقُوبَ كَمَآ أَتَمَّهَا عَلَىٰٓ أَبَوَيْكَ مِن قَبْلُ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْحَٰقَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝٦﴾

**[۴]** (ای پیغمبره!) هغه وخت (یاد کړه) چې یوسف ؑ خپل پلار (یعقوب ؑ) ته وویلې چې: ای پلاره! یقینًا ما (په خوب کښې) ولیده چې یوولس ستوري او (هم) لمر او سپوږمۍ، ما دوی ولیده چې ماته سجده کوونکي وه.

**[۵]** یعقوب ؑ (ورته) وویلې چې: ای زویکوټیه! (ګرانه زویه!) خپل (دغه) خوب دې په خپلو ورونو باندې مه بیانوه (دوی پرې مه خبروه) چې ستا دپاره به (بد) تدبیر وکړي بد تدبیر (د څه بد نیتی نقشه به درته جوړه کړي) ځکه چې یقینًا شیطان د انسان دپاره ښکاره دښمن دی.

**[۶]** او (ای ګرانه زویه ستا د خوب تعبیر دا دی چې) لکه څنګه چې تاته (خپل رب ﷻ) دغه خوب

(۱) تفسیر القرطبي ج۹ ص۲۵۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(درولید کړ) همدارنګه به تا خپل رب ﷻ غوره (بنده) جوړ کړي (او په نبوت باندې به دې سرلوړی کړي). او (هم به) تاته د خوبونو (د تعبیرونو او د نورو خبرو د نهایي اهدافو د تاکلو) تعلیم درکړي، او (هم به بالآخره) په تاباندې او د یعقوب (زما) په ټبر باندې (په دنیا او آخرت کښې) خپل نعمت (نعمتونه) داسې پوره کړي لکه څنګه یې چې ستا په دوه وو پلرونو (نیکونو) باندې خپل نعمتونه لا پخوا پوره کړي وه.

(ستا د دوه وو پلرونو څخه) زه ابراهیم ﷺ او اسحق ﷺ مرادوم. یقیناً ستا رب ﷻ پوه دی (د هرچا لیاقت ورته معلوم دی او هم) د حکمت څښتن دی (په ذکر شوي خوب کښې یې هم حکمتونه نغښتي دي).

## د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون دا وه چې ای پیغمبره! د یوسف ﷺ د قیصې په شمول مونږ تاته وحې کوو او تا په غیبو باندې خبروو. او په دې ایتونو کښې د یوسف ﷺ د قیصې په بیان باندې پیل شوی دی چې د غیبي اخباراتو څخه یوه کړی ده.

یعني: ای پیغمبره! هغه وخت خلکو ته یاد کړه او دوی پرې خبر کړه چې یعقوب ﷺ او یوسف ﷺ په تنهایي توګه لاندې سوال جواب وکړ:

۱ـ یوسف ﷺ خپل پلار مخاطب کړ چې: ای پلاره! ما ډېر یو عجیبه خوب ولید، هغه دا چې یوولس ستوري او هم لمر او سپوږمۍ، دوی ټول راته په سجده باندې پرېوتل؛ نو زما عرض دا دی چې د دغه خوب تعبیر وکړې.

۲ـ څرنګه چې د یعقوب ﷺ څخه په خپل زوی کښې د سعادت نښې نښانې لا د پخوا څه پټې نه وې او په ذکر شوي لیدلی شوي خوب باندې یې ورته سعادت لا ښه زیات څرګند شو، نو یوسف ﷺ ته یې د خوب د تعبیر څخه وړاندې لاندې نصیحت وکړ چې:

الف: ای ګرانه زویه! ما چې په تا باندې کوم حدس کاوه هغه په دغه خوب سره یقین ته ورسېد، چې الله ﷻ به ستا څخه یو ډېر لوی سړی جوړ کړي.

ب: نو ډېر زیات متوجه اوسه چې دغه خوب خپلو ورونو ته حکایت نه کړې، دا ځکه چې د دې خوب تعبیر دومره واضحه او څرګند دی چې هغوی پرې سمدستي پوهېږي چې ته به د لوی سعادت خاوند جوړ شې.

ج: ستا ورونه خو ستا په باره کښې نېک نیت نه لري او په تا باندې یې سعادت نه پېرزو کېږي نو که ستا په ذکر شوي خوب باندې خبر شي بدنیتي به یې لا پسې زیاته شي او ستا دپاره به د فساد اچولو کوم پلان (نقشه) جوړ کړي او د ضرر در رسولو دام به درته کېږدي.

د: ای ګرانه زویه! که څه هم ستا ورونه د پیغمبر اولاد دي مګر ستا سره ځکه څه بدنیتي لري چې شیطان د هر انسان دپاره څرګند دښمن دی او همېشه په تلاش کښې دی چې د انسانانو ترمنځ

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اختلاف او شقاق واچوي او دوه ورونه یو د بل دښمن جوړ کړي.

۳_ ای زویه! لکه څنګه چې الله ﷻ تاته ذکر شوی عظیم الشان خوب درولید کړ او هم یې تاته په خاصیت او سیرت حتی په نوراني صورت کښې ډېر زیات امتیاز ښبلی دی، همدارنګه زه ستا د ذکر شوي خوب په بنیاد وایم چې الله ﷻ به تاته لاندې فضائل هم درکړي:

الف: ستا رب ﷻ به تا یو غوره او مختار بنده جوړ کړي او په نبوت باندې به دې سرلوړی کړي.

ب: ستا رب ﷻ به تاته غیبي علم درکړي او د پوره ذکاوت او پوهې خاوند به دې جوړ کړي چې هم به د خوبونو په تعبیرونو باندې پوهېږې او هم به دې د ویناګانو په اهدافو باندې فکر رسېږي او بالآخره هم به د فیصلو او قضاوتونو توان ولري.

ج: ستا رب ﷻ به په تا باندې د دنیا او آخرت دواړه نعمتونه ښه پرېمانه دروووري او هم به ستا په ذریعه د یعقوب ﷺ (یعني زما) ټبر د ډېرو نعمتونو مقر وګرځوي.

د: بالآخره وایم چې ستا رب ﷻ به په تا باندې خپل نعمتونه داسې پوره کړي لکه څنګه یې چې وړاندې خپل نعمتونه ستا په پلرونو باندې پوره کړي وه چې هغوی د ابراهیم ﷺ او اسحق ﷺ څخه عبارت دي.

ای ګرانه زویه! یقینًا ستا رب ﷻ پوه دی د هرچا استعداد ورته معلوم دی، او هم د حکمت څښتن دی د هر کار دپاره چې څوک لیاقت ولري په همغه کار کښې یې استعمالوي.

## توضیحات

۱_ د "یُوسُف" کلمه اعجمي ده او د غیر انصراف سببونه یې یو علمیت دی او بل عجمه ده[1] نو په کار دي چې څوک ورباندې د مضارع ګومان ونه کړي چې د اسف څخه به اشتقاقه شوې وي او اسف خو غم او غُصې ته ویل کېږي[2]، دا څکه چې په دغه وزن باندې نه معلومه مضارع چرته راغلې ده او نه پرې مجهوله مضارع راتلای شي.

## یو صرفي تحلیل

۲_ د ﴿ يَٰٓأَبَتِ ﴾ کلمه په اصل کښې "یَا أبِي" وه، بیا "ی" په "ت" باندې بدله شوه او زیر ورکړی شو ترڅو دلالت وکړي چې دغه "ت" د "ی" څخه بدله راغلې ده، څکه چې صرفیان وایي چې "ی" د دوه وو زیرونو څخه جوړه شوې ده، او هم زیر د "ی" سره مناسبت لري، نو ﴿ يَٰٓأَبَتِ ﴾ ترې جوړه شوه.

## رُؤْيَا څه معنی؟

۳_ د ﴿ إِنِّي رَأَيْتُ ﴾ په جمله کښې د ﴿ رَأَيْتُ ﴾ کلمه لاندې درې مصدرونه لري[3]:

---

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۱۷۷
(۲) مفردات الراغب ص۱۳
(۳) حواشي صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۳۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: "رُؤْيَة" یعنې په سترګو سره په ویښه باندې څه شی لیدل.

ب: "رَأيْ" یعنې د زړه لیدل یا فکر او یا په دوه وو متناقضو شیانو کښې په یوه باندې اعتقاد کول.

ج: "رُؤْيَا" یعنې په خوب کښې د زړه په سترګو باندې د یوه شي لیدل.

په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د "رُؤْيَا" څخه اشتقاقه شوې ده.

که څوک د "رُؤْيَا" (خوب لیدلو) په باره کښې زیات معلومات غواړي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[1] مونږ په همدې هکله فقط همدومره لیکو چې د اهل السنت والجماعت په نزد "رُؤْيَا" (خوب) د هغو اعتقاداتو څخه عبارت دی کوم چې الله ﷻ یې د یوه ویده انسان په زړه کښې پیدا کوي[2]، برابره خبره ده چې د واقع سره مطابق وي او که مطابق نه وي، او برابره خبره ده چې په معتقداتو باندې صراحت کړی شوی وي او که صراحت پرې نه وي کړی شوی بلکې په بدله څېره کښې ښودلی شوی وي. یا په بل عبارت: لکه چې یوه ویښ انسانان ته په زړه کښې د اعتقاداتو پیدا کول د الله ﷻ کار دی همدارنګه د خوب اعتقادات هم په الله ﷻ پورې اړه او توقف لري او بس.

## یادونه

۴ـ ځینو علماوو کرامو[3] د "رُؤْيَا" (خوب لیدلو) په باره کښې زښت ډېر احادیث راغونډ کړي دي، که څوک یې د لوستلو شوق لري همغته دې مراجعه وکړي.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: د یوسف ؑ خو لس تنه ورونه علاتي (ناسکه) وه چې د ده سره یې څه بدنیتي درلوده او یعقوب ؑ هم ورباندې پوهیده، نو د همدې کبله یې ورته د خوب د تعبیر څخه وراندې توصیه وکړه چې په دغه ظاهر التاویل خوب باندې دې ورونه خبر نه کړي چې بدنیتي به یې درسره زیاته شي؛ نو پوښتنه دا ده چې یوولسم ورور (بنیامین) خو د یوسف ؑ اعیاني (سکه) ورور وه چې بدنیتي یې ورسره نه درلوده، نو د ده د خبرولو څخه د څه وجې د کبله منعه کړی شو؟

مونږ وایو چې: دا د دې کبله ـ والله ﷻ اعلم ـ چې بنیامین په ټولو ورونو کښې کشر وه نو د دې خبرې وړ وه چې د ماشومتوب د کبله به اسرار ونه شي ساتلی، او په دې باندې علاوه د هغه خبرولو ته څه ضرورت هم نه محسوس کېده.

مګر افسوس یعقوب ؑ چې د کوم شي د مخنیوي دپاره هلې ځلې کولې هغه شی واقع شو او د یوسف ؑ لسو تنو ورونو تصمیم ونیوه چې د خپل بدنیت څرګندونه وکړي، که څه هم دوی د یوسف ؑ په خوب باندې خبر نه وه، لکه چې بحث یې وروسته راروان دی.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۹ ص۱۹۲

(۲) روح المعاني ج۱۲ ص۱۸۱

(۳) تفسیر الخازن ج۳ ص۲۷۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تأويل الأحاديث څه معنى؟

۶_ مونږ د [آل عمران: ۷] ایت لاندې لیکلي دي چې د "تأويل" کلمه د نهايي هدف او خارجي مصداق په معنى باندې هم استعمالېږي. او دا خو واضحه ده چې د "أحاديث" کلمه د "حديث" غير قياسي جمعه ده[۱]. "حديث" هغه کلام ته ویل کېږي کوم چې یوه انسان ته د اوریدلو په ذریعه او یا د وحې په طریقه باندې ورسېږي. برابره خبره ده چې انسان وينې وي او که ویده[۲].

اما په دې مقام کښې د ﴿ ٱلْأَحَادِيثِ ﴾ په تفسیر کښې علماء کرامو متعددې معناوې کړي دي، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: "أحاديث" د خوبونو څخه عبارت دی[۳]، یعني: ای یوسفه! ستا رب ﷻ به تا د خوبونو په تعبیرونو باندې پوه کړي. ته به کولی شې چې د هر خوب دپاره خارجي مصداق او نهايي هدف وټاکې.

د یعقوب ﷺ تعبیر واقعیت مونده کړ چې یوسف ﷺ د خوبونو په تعبیرونو کښې د ځانګړي مهارت خاوند شو[۴]، د همدې کبله د دوه تنو بندیانو او هم د وخت د پاچا خوبونه همغسې واقع شوه لکه څنګه چې ورته هغه ﷺ تعبیر کړی وه.

ب: "أحاديث" د پخوانیو کتابونو د مضامینو او د پخوانیو پیغمبرانو د حکمتي خبرو څخه معنى ورکوي[۵]، یعني: ای ګرانه زویه! تا ته به خپل رب ﷻ د پخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام په کتابونو او حکیمانه خبرو باندې غیبي علم درکړي.

په همدې تفسیر باندې دا جمله دلالت کوي چې ﴿ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥٓ ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ﴾ [یوسف: ۲۲] یعني: او کله چې یوسف ﷺ خپل قوت ته ورسېد نو ده ته مو حکیمانه خبرې او غیبي علم ورکړ.

ج: ذکره شوې کلمه د عمومي خبرو څخه عبارت ده، یعني: تاته به خپل رب ﷻ د عمومي خبرو د تنظیم او د نهايي اهدافو د ټاکلو پوره توان درکړي، چې دخبرو په تدبیر او تنظیم او هم د سوال جواب په اجراءاتو کښې به پوره ماهر جوړ شې. یا په بل عبارت: په نیمه خبره به پوهېږي.

په همدې تفسیر باندې د یوسف ﷺ کړه وړه دلالت کوي چې د بندیخانې څخه یې د پاچا رابلل په ډېره ښه طریقه جواب کړه او هم یې د هغې وچکالۍ ماهرانه تدبیر ورزده کړ په کومه باندې چې د پاچا خوب دلالت کاوه، چې وروسته راروان دی.

---

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۱۸۵
(۲) مفردات الراغب ص۱۰۹
(۳) تفسير القاسمي ج۹ ص۱۹۰
(۴) اضواء البيان ج۳ ص۴۵
(۵) زاد المسير ج۴ ص۱۴۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته داسې برېښي چې څه لرې نه ده چې ذکرې شوې دربواړه معناوې د ﴿ تَأْوِيلِ ٱلْأَحَادِيثِ ﴾ څخه مرادې وي او دا ځکه چې څه منافات يې ترمنځ نه ليده کېږي، نو که د ﴿ ٱلْأَحَادِيثِ ﴾ څخه ما يطلق عليه الاحاديث واخستلی شي نو دربواړو معناوو ته به شامل شي.

## سوال جواب

۷_ که څوک وايي چې يعقوب ﷺ خو د خپل زوی د خوب تعبير په لاندې دربوو ټکو کښې خلاصه کړ:

الف: تاته به الله ﷻ نبوت درکړي.

ب: ته به د خوبونو په تعبيرولو کښې او هم د خبرو په اهدافو کښې مهارت ولرې.

ج: او بالآخره الله ﷻ به خپل دنياوي او اخروي نعمتونه درپېرزو کړي.

حال دا چې وروسته ثرګنده شوه چې د ذکر شوي خوب تعبير هغه وه کوم چې الله ﷻ د يوسف ﷺ د مبارکې خولې څخه حکايت کړی دی چې: ﴿ يَٰٓأَبَتِ هَٰذَا تَأْوِيلُ رُءْيَٰىَ ﴾ [يوسف: ۱۰۰] يعنې: ای پلاره! زما د پخواني خوب تعبير دغه دی چې تاسو دواړه (والدين) او يوولس ورونه راته په سجده باندې پرېوتلی.

نو پوښتنه دا ده چې يعقوب ﷺ په څه منظور د اصلي تعبير څخه ساکت شو او د لوازمو په ذکر باندې يې اکتفاء وکړه؟

مونږ وايو چې: يعقوب ﷺ دخوب هغه تعبير ذکر کړ کوم چې ورته وحې شوې وه، او پوره ثرګنده ده چې پيغمبران د وحې کړی شوي بيان څه زيادت نه کوي. پاتې شوه دا خبره چې الله ﷻ به يعقوب ﷺ ته د کوم حکمت په بنياد اصلي تعبير نه وي وحې کړی؟ نو _والله ﷻ أعلم_ حکمت به پکښې دا وه چې يعقوب ﷺ او هم يوسف ﷺ د درجاتو د لوړولو دپاره د امتحان لاندې واقع کړي او د صبر جميل اجرونه ورکړي. او دغه امتحان خو په مناسب شکل سره هغه وخت صورت نه شو نيولی چې يعقوب ﷺ ټکي په ټکي په راتلونکي واقعاتو باندې خبر شوی وی او يو سف ﷺ ته يې پرې هو بهو اطلاع ورکړې وی.

شايد چې همدغه مطلب ته به د ﴿ إِنَّ رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ په کلماتو باندې اشاره شوې وي، يعنې: زه ستا د خوب په تفصيلوار تعبير باندې نه يم پوه کړی شوی، الله ﷻ ته د هر بنه معلوم دی، البته چې زما په نه پوه کولو کښې به د هر حکمتونه پټ وي.

﴿ لَّقَدْ كَانَ فِى يُوسُفَ وَإِخْوَتِهِۦٓ ءَايَٰتٌ لِّلسَّآئِلِينَ ۝٧ ﴾

[۷] يقينًا د يوسف ﷺ او د ده د ورونو (په قيصه) کښې د سوال کوونکو (او غير سوال کوونکو) دپاره (د توحيد او نبوت د اثبات د هر) دلايل شته دي (نو بايد چې قرائت کوونکي ورباندې سرسري تېر نه شي).

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

يعني: اى پيغمبره! د دې څخه وړاندې چې ته د يوسف ﷺ او د ده د وروڼو قيصه بيانه کړې خپل امت متوجه کړه چې دغې قيصې ته د يوې عادي قيصې په نظر ونه ګوري، په دې قيصه کښې د الله ﷻ د علم او قدرت او هم ستا د نبوت دپاره بې شماره دلايل نغښتي دي؛ نو په کار دي چې ستا د امت ټول کسان په عمومي توګه او هغه کسان په خصوصي توګه ورته زيات متوجه شي کومو چې ستا څخه د ذکرې شوې قيصې د بيانولو غوښتنه کړې وه.

## توضيحات

۱ـ مونږ د دې سورت (يوسف) په سريزه کښې ليکلي دي چې د دغې قيصې د بيانولو غوښتنه هم مسلمانانو او هم کفارو کړې وه چې دوی ټولو ته د ﴿ لِّلسَّآئِلِينَ ﴾ په کلمه باندې اشاره شوې ده.

نو مسلمانانو ته په کار دي چې د دې قيصې څخه د اطمنان دپاره استفاده وکړي او په کفارو باندې واجبه ده چې د ايمان راوړلو او هدايت موندلو ګټه ترې پورته کړي.

## آيَاتٌ يعني څه؟

۲ـ که څه هم علماوو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ ءَايَٰتٌ ﴾ کلمه په ډېرو معناوو باندې تفسيره کړې ده[۱]، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: په دې قيصه کښې د نبي کريم ﷺ په نبوت باندې پاخه دلايل شته چې نبي کريم ﷺ نه د واقعاتو د پېښېدلو په وخت کښې هلته موجود وه چې واقعات يې په خپلو سترګو ليدلي وي، نه دغو واقعاتو په مکه معظمه کښې څه شهرت درلود چې د خپل قوم څخه يې اورېدلي وي، نه يې د يهودانو او نصاراوو سره څه تماس نيولی وه چې د هغوی څخه يې زده کړي وي او نه په ليک او لوست باندې پوهيده چې کوم کتاب يې مطالعه کړی وی، خو د دې سره‌سره د قيصې وړې‌وړې کړۍ په دومره دقت سره بيانوي، ته به وايې چې هغه يې په سترګو باندې ليدلی دی.

نو معلومه شوه چې نبي کريم ﷺ په حقه پيغمبر دی او په واقعاتو باندې د وحې په ذريعه خبر کړی شوی دی.

ب: د الله ﷻ د ارادې مخه هيڅوک نه شي نيولی، کله چې الله ﷻ وغواړي خپله نقشه د هغه چا په لاس باندې عملي کوي کوم چې د نقشې د مخنيوي دپاره هلې ځلې کوي. د يوسف ﷺ وروڼو د ده دپاره د توهينولو پلان جوړ کړ، مګر دغه پلان معکوسه نتيجه ورکړه چې د يوسف ﷺ دپاره عزت جوړ شو او پخپله دوی پکښې خجالت شوه. يا په بل عبارت: په څا کښې اچول نه وه مګر په شاهي تخت باندې کښېنول وه.

---

(۱) زاد المسير ج۴ ص۱۴۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په دې قیصه کښې عفت، امانتدارې، د صبر لوېې ګټې او هم د عفوې او عدم انتقام ډېر دلایل موجودیت لري.

زمونږ په فکر ذکره شوې قیصه په زښتو ډېرو عبرتونو او درسونو باندې مشتمله ده چې د قیصې په اوږدو کښې ورته د سړي فکر رسېږي، شاید علماوو کرامو به یې محض مثالونه ښودلي وي او حصر به یې مطلب نه وي.

﴿إِذْ قَالُوا۟ لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰٓ أَبِينَا مِنَّا وَنَحْنُ عُصْبَةٌ إِنَّ أَبَانَا لَفِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٨﴾ ٱقْتُلُوا۟ يُوسُفَ أَوِ ٱطْرَحُوهُ أَرْضًا يَخْلُ لَكُمْ وَجْهُ أَبِيكُمْ وَتَكُونُوا۟ مِنۢ بَعْدِهِۦ قَوْمًا صَٰلِحِينَ ﴿٩﴾ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ لَا تَقْتُلُوا۟ يُوسُفَ وَأَلْقُوهُ فِى غَيَٰبَتِ ٱلْجُبِّ يَلْتَقِطْهُ بَعْضُ ٱلسَّيَّارَةِ إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ ﴿١٠﴾﴾

[۸] (ای پیغمبره!) هغه وخت (یاد کړه) چې د یوسف ﷺ ورونو (په خپل منځکښې) وویلې چې یقینًا یوسف ﷺ او د ده (سکه) ورور (بنیامین) زمونږ (ټولو) څخه زمونږ پلار (یعقوب ﷺ) ته زیات محبوب (ګران) دي، حال دا چې قوي ډله مونږ یاستو (چې درانه کارونه مو د لاسه پوره دي).

بې شکه چې زمونږ پلار په ښکاره خطاکارۍ کښې واقع دی (ده ته په کار وه چې مونږ ورباندې د هغوی کمزورو ماشومانو څخه زیات ګران وی).

[۹] (نو یا) یوسف ﷺ ووژنئ او یا یې (په یوه نامعلومه) ځمکه کښې واچوئ ترڅو تاسو ته د خپل پلار د محبت مخه خالي (خلاصه) شي او تاسو به د یوسف ﷺ څخه وروسته صالح قوم جوړ شئ (توبه به وباسئ او د پلار سره به مو روابط نېک شي).

[۱۰] او د دوی څخه (یوه) ویونکي وویلې چې: یوسف مه وژنئ او د کوهي (څا) په (دننه) تاخچه کښې یې واچوئ، ترڅو یې ځینې کاروانیان مونده کړي (او د کوهي څخه یې پورته کړي) که تاسو (د پلار د مخې خلاصوونکي) یاست (نو دغه کار وکړئ).

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! د یوسف ﷺ عبرتي قیصه هغه وخت پیل شوه چې د ده ورونه د بدنیتی، د نفسې او پلان د جوړولو دپاره سره جرګه شوه او په لاندې ډول یې موضوع مطرحه کړه او فیصلې ته سره ورسېده:

۱ـ د یوسف ﷺ لسو ناسکه ورونو د بد نیتی، د پلان جوړولو وجه دا وښودله او خپلو وجدانونو ته یې قناعت ورکړ چې:

الف یوسف ﷺ او د ده سکه ورور (بنیامین) زمونږ پلار (یعقوب ﷺ) ته ډېر ګران دي، او زمونږ سره یې هومره مینه او محبت نشته څومره مینه او محبت چې د هغوی سره لري.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: زمونږ پلار په ځرګنده خطا کښې واقع شوی دی، ځکه چې مونږ ټول زلمیان او غټه ډله یاستو چې د هر مشکل کار د اجراکولو توان لرو، او سمدستي هم ځومره خدمت چې مونږ د خپل پلار کوو او پکښې مشغول یاستو هومره د هغو دواړو ماشومانو د لاسه پوره نه دي.

۲_ نو مونږ ته په کار دي چې د لاندې دوه وو لارو چارو څخه یوه لاره غوره او په عمل کښې یې پیاده کړو، ترڅو مونږ ته د پلار توجه راواوړي او ترڅو هغه خنډ د منځه لرې کړو کوم چې زمونږ د پلار د محبت او مینې مخه یې بنده کړې ده، لارې چارې دا دي:

الف: چې یا یوسف ﷺ ووژنو او د پلار د مخې څخه یې په څنګ کړو.

ب: او یا یې په داسې یوه نامعلوم وطن کښې وغورزوو چې پلار یې په هیڅ پته باندې پوه نه شي چې څه شو، او په دې طریقه باندې د پلار د توجه او مینې خنډ د منځه یوسو، که په بل وطن کښې ژوندی څه چې پاچا شي هم شي دې، مونږ یې څه کوو.

۳_ که مونږ په ذکرو شوو دواړو نقشو کښې هره یوه عملي کړه او خپل خانونه مو پرې ګناهګار کړه نو هیڅ چرت مه خرابوئ، د نقشې د عملي کولو څخه به وروسته توبه تائب شو او نېک عملونه به وکړو او بالآخره د پلار د محبت صلاحیت به په خانونو کښې پیدا او د پلار د دعاګانو څخه به ګټه پورته کړو.

۴_ د ډېر جرو بحث څخه وروسته یوه نفر (چې زړه سوی یې د نورو په نسبت لږ څه زیاته وه) داسې نظر ورکړ چې:

الف: زمونږ اصلي مطلب خو د یوسف ﷺ وژل نه دي بلکې اصلي مطلب مو دا دی چې د پلار د مینې او محبت مخه خلاصه کړو، او کله چې دغه مطلب بدون د وژلو څخه لاس ته راځي نو په کار دي چې د یوسف ﷺ د وژلو څخه تېر شو او د بې وطنه کولو نقشه یې عملي کړو.

ب: د دې نقشې عملي کول په لاندې ډول باندې صورت نیولی شي:

اول: یوسف ﷺ به د هغې څا (کوهی) په یوه تاخچه کښې په داسې ډول باندې واچوئ چې مرګ او درد څخه بچ او په ارامۍ سره هلته کېنولی شي.

دوهم: د دې کار ګټه به دا جوړه شي چې په دغې څا (کوهي) باندې د بل وطن قافله (کاروان) تېرېږي نو کاروانیان به د اوبو راپورته کولو دپاره بوقه ورښکته کړي، او یوسف ﷺ به بوقې ته ورټوپ کړي (ورپورې به ونښلي) او د څا څخه به راپورته شي.

ج: کله چې کاروانیان یوسف ﷺ د کوهي (څا) څخه راپورته کړي نو د موندل شوي ماشوم معامله به ورسره وکړي او د کنعان د خاورې څخه به یې کوم لرې وطن ته بوزي، نو په دغې طریقې سره به مونږ خپله نقشه عملي کړو او نوموړي ته چې هلته هرڅه وربېښېږي وربېښ دې شي.

۵_ ذکر شوي با رحمه نفر زیاته کړه چې: ای وروڼو! که تاسو غواړئ چې خپل مطلب ته ورسېږئ نو فقط همدغه پلان عملي کړئ او بس.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ د ﴿ إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴾ په جمله کښې د ﴿ ضَلَٰلٍ ﴾ کلمه د هدایت په مقابل کښې استعمالېږي[1]، یعنې د سمې لارې پرېښودل د ﴿ ضَلَٰلٍ ﴾ په نامه یادېږي، برابره خبره ده چې په قصدي توګه پرېښودله شي او یا په سهوې یا خطایي توګه او هم برابره خبره ده چې پرېښودل لږ وي او که ډېر او هم برابره ده چې پرېښودلې شوې لاره عقیدوي وي او یا عملي او هم برابره خبره ده چې د لارې سموالی حقیقي وي او یا ادعائي او بالآخره برابره ده چې لاره حسي وي او یا معنوي وي، نو د عموم د کبله په لاندې مختلفو صورتونو کښې ذکر شوې کلمه استعماله شوې ده:

الف: په هېرولو کښې، لکه چې فرمايي: ﴿ أَن تَضِلَّ إِحْدَىٰهُمَا ﴾ [البقرة:۲۸۲] یعنې: یوه زنانه که شاهدي هېره کړي نو بله به یې ورپه یاده کړي.

ب: په خطاء کښې، لکه چې فرمایي: ﴿ وَأَنَا۠ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴾ [الشعراء:۲۰] یعنې: موسی ﷺ وویلې چې ما قتل کړی وه خو زه د خطاکارانو څخه وم.

ج: په نا بلدۍ کښې، لکه چې فرمايي: ﴿ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدَىٰ ﴾ [الضحی:۷] یعنې: ای پیغمبره! ته د شرعي احکامو سره نابلده وې نو مونږ درته هدایت وکړ او شریعت مو درباندې درنازل کړ (ورسره مو بلد کړې).

د: په کفري لاره کښې، لکه چې فرمايي: ﴿ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴾ [الفاتحة:۷] یعنې: ای زمونږه ربه! مونږ ته د کافرانو د لارې څخه امان راکړې.

دغسې مثالونه نور هم شته خو په ذکره شوې جمله کښې د خطاء په معنی سره ده، البته د هغې لارې څخه کومه چې د یوسف ﷺ وروڼو ته سمه بنکارېده چې باید د دوی سره د یعقوب ﷺ مینه ډېره او زیاته وي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: د یوسف ﷺ ناسکه وروڼو خو یوسف ﷺ او بنیامین (دواړه) د پلار د مینې مخه نیوونکي وبلل حال دا چې پلان یې یوازې د یوسف ﷺ دپاره وسنجاوه او بس، نو د دغه اختصاص وجه څه وه؟

مونږ وايو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې:

الف: غالبه دا ده چې هغوی به د بنیامین د محبت دپاره د یوسف ﷺ محبت سبب ګڼه چې د ده سره خکه زمونږ پلار محبت کوي چې دی د هغه ورور دی او هغه پرې خوشالېږي، نو کله چې هغه د منځه لاړ شي د ده سره محبت به هم په خپل خای پاتې نه شي.

---

[1] مفردات الراغب ص ۳۰۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دا هم څه لرې نه ده چې بنیامین ته یې د پلار د مخې څخه د لرې کولو دپاره دوهم لمبر ورکړی وي چې که پلار مو د خطاکارۍ څخه را ونه ګرځېده نو بیا به د هغه سره هم د یوسف ﷺ غوندې معامله وکړو.

ج: یوسف ﷺ که څه هم شپږ کلن یا اوه کلن ماشوم وه[1] مګر دوی د خپلو خانونو دپاره یو رقیب ګاڼه او سیالي یې ورسره کوله. اما بنیامین خو د یوسف ﷺ څخه هم کشر وه چې څلور کلن ماشوم به وه او د دې جوګه نه وه چې دوی ورسره سیالي کړې وی.

## څه یې چې ویلي وه هغه وشوه

۳ـ د یوسف ﷺ ورونو د دسیسې د جوړولو وجه دا ښودلې وه چې: ﴿يَخْلُ لَكُمْ وَجْهُ أَبِيكُمْ﴾ د خپل پلار مخه به درته خالي شي.

لکه څنګه چې هغوی ویلي وه همغسې وشوه، د خپل پلار مخه یې د یوسف ﷺ څخه خالي کړه مګر زړه یې د هغه د محبت څخه خالي نه شو کړی بلکې د هغه محبت یې پکښې ښه کلک کړ، آن تر دې چې د همدغه محبت د کبله په سترګو باندې معذور وګرځېده، نو معلومه شوه چې د الله ﷻ څخه په غیر هیڅوک په زړونو باندې تصرف نه شي درلودلی.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: د یوسف ﷺ په ماشومتوب باندې څه شی دلالت کوي؟

مونږ وایو چې: د ده ماشومتوب د قرآن کریم د ایتونو څخه معلومېږي، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د ﴿يَلْتَقِطْهُ﴾ کلمه په اصلي حروفو کښې د "لقطة" او "لَقِيط" سره متحده ده، دغه دواړه کلمې د هغه ماشوم دپاره وضعه شوې دي کوم چې غورزولی شوی وي[2] او د ضائع کېدلو خطر ولري.

ب: د یوسف ﷺ ورونو خپل پلار ته وعده ورکړه چې مونږ به یې حفاظت کوو، او پوره واضحه ده چې ماشومان حفاظت ته ډېره ارتیا لري، نه بالغان.

ج: یعقوب ﷺ په یوسف ﷺ باندې ډارېده چې لېوه (شرمخ) یې ونه خوري، او پوره څرګنده ده چې ماشومان د دغسې خطر احتمال لري، نه غټان.

د: په دې باندې علاوه، کله چې په یوسف ﷺ باندې د کوهي څخه د اوبو راپورته کوونکي کارواني سترګې ولګېدلې نو ناره یې کړه چې: ﴿هَٰذَا غُلَامٌ﴾ دغه دی هلک (ماشوم).

او یوازې یو تن د ماشوم په شمول د اوبو څخه ډکه بوقه راپورته کړه، که بالفرض یوسف ﷺ په دغه وخت کښې ماشوم نه وی نو د یوه تن به وسه نه وی شوې چې دواړه یې راپورته کړې وی.

---

(۱) البحر المحیط ج۶ ص۲۴۹ ـ المحرر الوجیز ج۹ ص۲۶۶

(۲) لسان العرب ج۷ ص۳۹۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یوه صرفي قاعده

۵ـ که څه هم د اسم تفضیل صیغه قانوناً د دې دپاره جوړېږي چې د فاعل په زیادت باندې دلالت وکړي مګر کله-کله د شذوذ په توګه د مفعول د زیادت دپاره هم جوړېږي، لکه چې "أشغل" د ډېر مشغول شخص دپاره جوړه شوې ده.

د همدې قبیلې څخه په دې مقام کښې د ﴿أَحَبُّ﴾ کلمه هم ده چې د مفعول (محبوب) دپاره استعماله شوې ده، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې یوسف ﷺ او د ده ورور (دواړه) زمونږ پلار ته زمونږ څخه ډېر محبوب او ګران دي.

## عُصْبَةٌ څه معنی؟

۶ـ د ﴿عُصْبَةٌ﴾ کلمه د "عَصَب" ـ لکه "شَرَف" ـ څخه اخستله شوې ده، "عَصَب" هرې کلکې غوټې (ګنډې) ته ویل کېږي[۱].

نو ذکره شوې کلمه د هغې غټې ډلې سړیو نوم دی کومه چې د ښه قوت او توان خاونده وي، خو د خپل لفظ څخه مفرد نه لري لکه "قَوْم" او "رَهْط".

اما د سړیو په شمېر کښې یې مختلف اقوال دي، لکه شپږ نفره، اوه نفره، لس نفره، تر پنځلسو پورې او آن ترڅلوېښتو نفرو پورې[۲].

خو په دې مقام کښې تر لس کسیزه ډله مطلبه ده چې د یوسف ﷺ ناسکه وروڼه لس تنیزه ډله وه.

## د شیطان یوه دسیسه

۷ـ د شیطان هغه غټه دسیسه په کومه باندې چې مسلمانان تېر باسي دا ده چې په ګناه باندې د الله ﷻ په غفوریت باندې جرئت ورکوي، یعنې ورته وایي چې ګناه وکړه الله ﷻ غفور او رحیم دی، ګناهونه به درته وبښي.

په همدغسې دسیسه باندې یې د یوسف ﷺ وروڼه هم تېر ویستلي وه، چې یوسف ﷺ د پلار د مخې څخه لرې کړئ د دې څخه وروسته به توبه تائب شئ او صالحان به درڅخه جوړ شي.

یا په بل عبارت: دوی ته خو خپل پلار (یعقوب ﷺ) په خطا کښې بربښېده، مګر په حقیقت کښې دوی پخپله د ډېرې غټې خطا کارۍ مرتکب شوه، دا ځکه چې:

الف: د الله ﷻ په غفوریت او رحیمیت کښې خو شک نه وه مګر د دوی په مغفوریت او مرحومیت کښې شک وه، چې ګناهونه یې ورته نه وي ببنلي او عفوه یې ورته نه وې کړې.

ب: بې شکه الله ﷻ غفور او رحیم دی مګر په خپلو حقوقو (حقوق الله) کښې، نه په حقوق العباد

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۴۸
(۲) زاد المسیر ج۴ ص۱۴۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کېږي، حال دا چې دوی خو د یوسف ﷺ د حقوقو د تلف کولو نیت کړی وه او خپل پلار (یعقوب ﷺ) یې وزوراوه او بالآخره د دروغو او بې رحمۍ مرتکب شوه.

د همدې کبله د اکثرو علماوو نظر دا دی چې د هغوی یوه نفر ته هم نبوت نه وه ورکړی شوی[۱] او نه یې د نبوت لیاقت درلود.

## د "غَیَابَتِ الْجُبّ" معنی

۸_ د ﴿غَيَٰبَتِ ٱلۡجُبِّ﴾ کلمه د لاندې دوه وو برخو څخه ترکیبه شوې ده:

الف: د ﴿غَيَٰبَتِ﴾ کلمه هغې تاخچې ته وضعه شوې ده کومه چې د اوبو څخه پاس د کوهي (څا) په دننه خوا کېنې په داسې ډول باندې جوړه شوې وي چې د کوهي دخولې څخه یې داخل نه لېدلی کېږي[۲].

ب: او "جُبّ" هغه کوهي (څا) ته ویل کېږي چې د ځمکې د کلکوالي د کبله د بېخ څخه په ډبرو یا پخو خښتو باندې نه وي پوخ کړی شوی او پوخولو ته اړتیا نه لري، کوم کوهی چې پوخ کړی شي نو هغه ته د "بیر" کلمه وضعه شوې ده[۳].

نو د معنی حاصل بې داسې کېږي چې: یوسف ﷺ مه وژنئ او د اوبه لرونکي کوهي په یوه تاخچه کېنې یې واچوئ چې د کاروانیانو د بوقې پورې ونښلي او هغوی یې د خپلو خانونو سره لرې وطن ته بوزي.

﴿ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأۡمَ۬نَّا عَلَىٰ يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُۥ لَنَٰصِحُونَ ۝ أَرۡسِلۡهُ مَعَنَا غَدٗا يَرۡتَعۡ وَيَلۡعَبۡ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ۝ قَالَ إِنِّي لَيَحۡزُنُنِيٓ أَن تَذۡهَبُواْ بِهِۦ وَأَخَافُ أَن يَأۡكُلَهُ ٱلذِّئۡبُ وَأَنتُمۡ عَنۡهُ غَٰفِلُونَ ۝ قَالُواْ لَئِنۡ أَكَلَهُ ٱلذِّئۡبُ وَنَحۡنُ عُصۡبَةٌ إِنَّآ إِذٗا لَّخَٰسِرُونَ ۝ ﴾

[۱۱] دوی (د یوسف ﷺ لسو تنو ورونو) وویلې چې: ای خپله پلاره! تالره څه دي (په تا باندې څه باعث دی) چې ته په یوسف ﷺ باندې مونږ امینان نه ګڼې (د ده په هکله راباندې اعتماد نه کوې سره د دې چې هغه زمونږ ګران ورور دی) او یقیناً مونږ د هغه دپاره خیر غوښتونکي یاستو (خوشالي مو پرې پېرزو ده)؟

[۱۲] (نو هیله کوو چې) سباته یې زمونږ سره (بېدیا ته) ولېږه ترڅو (هلته) پراخه خوراک او څښاک وکړي او هم لوبې (ساتېرې) وکړي، او یقیناً مونږ د ده دپاره حفاظت کوونکي یاستو.

---

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۱۸۴؛ تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۶۹
(۲) البحر المحیط ج۶ ص۲۴۲
(۳) روح المعاني ج۱۲ ص۱۹۲؛ مفردات الراغب ص۲۸۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۳] یعقوب ﷺ وویلې چې: بې شکه ما دا غمژن کوي چې تاسو هغه (زما د څنګه) بوزئ (راڅخه جدا يې کړئ)، او هم زه ډارېږم چې لېوه (شرمخ) به يې وخوري حال دا چې تاسو به ترې غافل (او ناخبره) یاست.

[۱۴] دوی وویلې چې: (بالفرض) که نوموړی لېوه وخوري حال دا چې مونږ ښه قوي ډله (خوانان) یاستو نو یقینا مونږ به په دغه وخت کښې زیانکاران (او بې همتان) یاستو (چې دا لقب به مونږ هیڅکله خپلو خانونو ته قبول نه کړو).

## د مطلب خلاصه

یعنې کله چې د یوسف ﷺ په هکله د هغه ورونه فیصلې ته ورسېده نو د بهانو او پلمو په جوړولو يې پیل وکړه ترڅو نوموړی د خپل پلار څخه جدا کړي او د خپلې نقشې د عملي کولو فرصت مونده کړي، نو د خپل پلار سره يې په لاندې ډول سوال جواب وکړ:

۱ـ ای زمونږ ګرانه پلاره! مونږ تاته هک پک حیران یاستو چې د یوسف ﷺ په باره کښې ته ولې په مونږ باندې اعتماد نه کوې، حال دا چې مونږ د ده د خیر دپاره خبره کوو او مونږ د ده دوستان او خیر غوښتونکي یاستو.

ستا څخه زمونږ کلکه هیله دا ده چې سبا نوموړی مونږ سره بېديا ته واستوې ترڅو هلته وخوري او وڅښنکي او هم هلته لوبې او منډې رامنډې وکړي او بالآخره صافه هوا استنشاق کړي او د ورزش څخه مستفید شي، مونږ په تاکید سره تاته اطمنان درکوو چې مونږ يې په قوي توګه حفاظت کوونکي یاستو او د هر خطر څخه يې ساتو.

۲ـ یعقوب ﷺ خپل زامن مخاطب کړه چې د لاندې دوه وو وجوهو د کبله زه ستاسو غوښتنه نه شم منلی:

الف: یوه دا چې د هغه په فراق سره زه ډېر غمژن کېږم چې تاسو يې بوزئ او زما د څنګه يې جدا کړئ نو زه پوهېږم چې تر ېېرته را ګرځېدلو پورې به زه په غم کښې ډوب پروت یم.

ب: بله دا چې نوموړي ماشوم دی، زه ډارېږم چې لېوه به يې وخوري او تاسو به ترې غافل او ناخبره یاست، نو ښه دا ده چې نوموړی د خپله خانه جدا نه کړم.

۳ـ هغوی په خپله غوښتنه باندې ټینګار وکړ او خپل پلار يې مخاطب کړ چې ای محترمه پلاره! که څه هم ته د یوسف ﷺ په فراق باندې غمژن کېږې مګر د یوسف ﷺ د خوشالۍ دپاره په موقته توګه لږ وخت د غم تحمل وکړه او حوصله مه خرابوه. او د لېوه د خوراک څخه خو بالکل مه ډارېږه څکه چې مونږ غټه ډله خوانان یاستو، ایا مونږ به دومره هم ونه شو کړی چې خپل ګران ورور د لېوه څخه په حفاظت کښې وساتو؟ که بالفرض زمونږ د قوت سره-سره هغه لېوه وخوري نو په دغه وخت کښې به مونږ ډېر بې کاره او زیانکاران (تاوانیان) خلک یاستو، عجیبه دا ده چې مونږ خپلې ګډې د لېوانو څخه ساتلی شو او خپل ګران ورور ترې نه شو ساتلی؟!.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ بالآخره هغوی په حیلو او پلمو سره خپل پلار ته قناعت ورکړ چې سبا ته ورسره یوسف علیه السلام بېدیا ته واستوي او د فراق د غم متحمل شي.

## توضیحات

۱_ داسې معلومېږي چې هغوی د خپل پلار څخه د یوسف علیه السلام د بېولو غوښتنه په تکراري ډول بياندې کړې وه او په ایت شریف کښې وروستنۍ غوښتنې ته اشاره شوې ده، دا ځکه چې هغوی په غوښتنه کښې ډېر تاکیدات ذکر کړي دي. لکه ﴿ مَا لَكَ ﴾، ﴿ لَا تَأْمَنَّا ﴾، ﴿ وَإِنَّا لَهُۥ لَنَٰصِحُونَ ﴾، ﴿ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴾ او داسې نور. دغسې تاکیدات د بلاغت د علم په مطابق د انکار په صورت کښې استعمالېږي چې مخاطب قانع شي.

## د "رتع" او "لعب" معناوې

۲_ د ﴿ يَرْتَعْ ﴾ کلمه د "رَتْع" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "رَتْع" خو اصلاً د څارویو د څرېدلو دپاره وضعه شوې ده[۱]، مګر د مجاز په توګه په انسانانو کښې هم استعمالېږي البته په هغه وخت کښې چې ډېر خوراک او یا د پراخوالي په حال کښې خوراک او څښاک ترې مراد شي.

او د ﴿ يَلْعَبْ ﴾ کلمه د "لَعِب" _لکه "كَتِف"_ څخه اخستله شوې ده چې د لوبو او ساتېرۍ معناوې ورکوي، مګر په دې مقام کښې د "لَعِب" څخه عبثیات کارونه مطلب نه دي که نه نو یعقوب علیه السلام به دوی ته اجازه نه وی ورکړې، بلکې دلته ترې د غشو ویشتل او ورزش کول مراد دي ترڅو د جهاد دپاره پرې غښتلي شي.

نو د دوارو جملو حاصل داسې راوځي چې: ای پلاره! د یوسف علیه السلام په بېولو کښې زمونږ نور مطلب نشته فقط همدا مو مطلب دی چې نوموړی په بېدیا کښې وګرځي راوګرځي او پراخه میوجات وخوري، نو د یو پلوه به د جهاد دپاره غښتلی شي او د بله پلوه به صافه هوا تنفس کړي او صحت به یې تازه شي، په کور کښې د همېشه دپاره اوسېدانه خو د بندیخانې مثال لري.

﴿ فَلَمَّا ذَهَبُواْ بِهِۦ وَأَجۡمَعُوٓاْ أَن يَجۡعَلُوهُ فِي غَيَٰبَتِ ٱلۡجُبِّۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡهِ لَتُنَبِّئَنَّهُم بِأَمۡرِهِمۡ هَٰذَا وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿١٥﴾ وَجَآءُوٓ أَبَاهُمۡ عِشَآءٗ يَبۡكُونَ ﴿١٦﴾ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّا ذَهَبۡنَا نَسۡتَبِقُ وَتَرَكۡنَا يُوسُفَ عِندَ مَتَٰعِنَا فَأَكَلَهُ ٱلذِّئۡبُۖ وَمَآ أَنتَ بِمُؤۡمِنٖ لَّنَا وَلَوۡ كُنَّا صَٰدِقِينَ ﴿١٧﴾ وَجَآءُو عَلَىٰ قَمِيصِهِۦ بِدَمٖ كَذِبٖۚ قَالَ بَلۡ سَوَّلَتۡ لَكُمۡ أَنفُسُكُمۡ أَمۡرٗاۖ فَصَبۡرٞ جَمِيلٞۖ وَٱللَّهُ ٱلۡمُسۡتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴿١٨﴾ ﴾

---

(۱) لسان العرب ج۸ ص۱۱۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

[۱۵] نو هر کله چې هغوی یوسف ﷺ (د پلار په اجازه) بوته او (په اتفاق سره یې) قصد وکړ چې د کوهي (ځا) په بیخ کښې یې په بوه) تاخچه کښې کېږدي (چې د مرګ او زخم څخه بچ شي نو یوسف ﷺ په سخت اضطراب کښې واقع شو. او مونږ ورته (د اضطراب د لرې کولو دپاره) وحې (الهام) وکړ چې (مطمئن کېږه مه، داسې وخت به راشي چې) ته به دوی ته په خپل دغه کار باندې خبر ورکړې حال دا چې دوی به شعور (علم) نه لري (چې ته په کوهي کښې اچولی شوی یوسف یې).

[۱۶] او (بیا) دوی خپل پلار ته د ماښام په ترغوني کښې په داسې حال ورغله چې (تولو) ژړل.

[۱۷] دوی وویلې چې: ای زمونږ پلاره! یقیناً مونږ لاړو (مونږ شروع وکړه چې) یو د بل څخه په مخاسته کښې مخکښې کېدلو او مونږ (خپل ګران ورور) د خپل سامان سره پرېښی وه، نو ده لره لېوه وخوړ (هغه فاجعه واقع شوه د کومې څخه چې ته په ډار کښې وې).

او (ای پلاره! زمونږ باور دی چې د ډېر محبت د کبله) ته مونږ ته (په دې واقعه کښې) یقین کوونکی نه یې که څه هم (ستا په نزد) مونږ رښتیا ویونکي وو.

[۱۸] او دوی (د استدلال په غرض خپل پلار ته) د یوسف ﷺ کمیس په داسې حال کښې ور وړ چې په دروغینو وینو باندې (ککړ) وه.

یعقوب ﷺ (د دوی اعتذار قبول نه کړ او) ویې ویلې چې: تاسو ته خپلو ځانونو (دا) کار ښائسته کړی دی (چې په دروغین کلام باندې به برائت حاصل کړئ، خو خبره داسې نه ده) نو جمیل (نېک) صبر (ډېر ښه دی چې زه یې وکړم).

او الله ﷻ (زما د پلوه) په هغه شي باندې کومک غوښتلی شوی دی کوم چې تاسو یې بیانوئ (نو هیله ده چې ماته د صبر توان راکړي او ستاسو جنایت بربنډ کړي).

## د مطلب خلاصه

یعني: د شپې د پلوه د یوسف ﷺ ورونو د خپل پلار قناعت حاصل کړ او سبا ته یې د خپلې نقشې په تعمیل باندې پیل وکړ او په لاندې کیفیت باندې یې ختمه کړه:

۱ـ کله چې هغوی یوسف ﷺ د خپلو ځانونو سره روان کړ او ټولو په اتفاق سره اراده وکړه چې پلان شوې نقشه تطبیق کړي او نوموړی د کوم خام کږهي (ځا) په ژوره کښې واچوي نو لاندې کیفیتونه پېښ شوه:

الف: مجردې چې دوی د خپل پلار د سترګو څخه پناه شوه وضعه یې بدله شوه او یوسف ﷺ پوه شو چې دوی څه کول غواړي.

ب: یوسف ﷺ په خپل حرکت باندې پښېمانه شو چې څومره سهوه مې وکړه چې د دوی سره یو ځای بېدیا ته راووتلم، خو کار د کاره تېر وه.

ج: مګر د دې دپاره چې د یوسف ﷺ اضطراب او وارخطایي څه اندازه کمه شي او حوصله د لاسه ورنه کړي، نو مونږ ورته وحې وکړه چې ای یوسفه! ډاډه اوسه الله ﷻ به تا هیڅکله ضائع نه

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړي، ډېر ژر به دې د کوهي د تورو تیارو څخه راپورته کړي او داسې وخت به دربانديې دروليي چې ستا وروڼه به همدا ستا په دربار کښې کچکول په لاس ولاړ وي او د احتیاجاتو پوره کول به درڅخه په داسې حال کښې غواړي چې تا به نه پېژني.

د دوی به دا خیال نه وي چې یوسف ؑ به د کوهي څخه راپورته شوی وي او د پاچاهۍ په چوکۍ به ناست وي، مګر ته به ورته دغه ټوله قیصه هو بهو ورپه یاده کړې چې: ایا تاسو د خپل ورور یوسف ؑ سره داسې او هاغسې نه وه کړي؟ نو دوی به ډېر خجالت شي او په خپله خطاکارۍ باندې به اعتراف وکړي. نو ته مطمئن اوسه او په خپل زړه کښې اضطراب او وارخطايي ته ځای مه ورکوه.

۲ـ کله چې هغوی په یوسف ؑ باندې د خپلې بدنیتۍ نقشه تطبیق کړه نو د خپل پلار دپاره یې په لاندې ډول بهانې او پلمې ترتیب کړې:

الف: هغوی په خپلو ځانونو باندې لږ څه ناوخته کړه ترڅو د شپې په تیاره کښې د پلار په حضور کښې خپل دروغین اعتذار وړاندې کړي.

ب: د دې دپاره چې د پلار په حضور کښې یې اعتذار کول څه ارزښت مونده کړي نو ټولو د ژړا په حالت کښې داسې عرض وکړ چې:

ای زمونږ ګرانه پلاره! مونږ د لږ وخت دپاره په منډو او ځغلېدلو باندې پیل وکړ چې یو د بل څخه وړاندې کېدلو او په همدغه لږ وخت کښې مو خپل ګران ورور یوسف ؑ د سامان سره پرېښود، خو چې مونږ بېرته راستانه شوو لېوه نوموړی خوړلی وه او د سترګو په رپ کښې یې مونږ بې ورورہ کړو.

ای ګرانه پلاره! څرنګه چې ستا محبت د یوسف ؑ سره زښت ډېر دی نو مونږ یقین کوو چې ته به زمونږ په ذکره شوې خبره باندې باور ونه کړې که څه هم مونږ تاته رښتیني ښکارو. یا په بل عبارت: ستا عدم یقین به د دې کبله نه وي چې تاته به مونږ دروغژن ښکارېږو بلکې وجه به یې دا وي چې ستا محبت د هغه په هکله په افراطي درجه کښې واقع دی نو ځکه به زمونږ رښتیا هم تاته دروغ ونه ښېږي، خصوصاً په داسې وخت کښې چې ته په مونږ باندې د هغه په باره کښې څه بدګوماني هم لرې.

په دې باندې علاوه، د خپل پلار په حضور کښې یې د استشهاد په توګه د یوسف ؑ کمیس هم په داسې حال کښې کېښود چې په دروغینو وینو باندې ککړ پکړ وه، چې د دغه یوه کمیس پرته مونږ ته د خپل ګران ورور بل هیڅ شی هم په لاس رانغی چې ستا د تسکین دپاره مو تاته راوړی وي.

۳ـ نو د ذکر شوي اعتذار په اورېدلو سره سمدستي یعقوب ؑ پوه شو چې دا خبرې ټولې دروغې دي او الله ﷻ زه د ډېر لوی امتحان سره مخامخ کړم، نو ویې ویلې چې:

الف: ای زامنو! زه پوه شوم چې تاسو د ډېر لوی جنایت مرتکب شوي یاست چې خپلو خواهشاتو درته ډولې کړې دی، او په دې باندې علاوه ستاسو ذکر شوی اعتذار به ستاسو په نظر باندې ګټور برېښي ماته هیڅ ارزښت نه لري، زه پوهېږم چې ټول سراسري دروغ دي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: زه نه دا هڅه کوم چې ستاسو څخه انتقام واخلم او نه چاته ستاسو د لاسه شکایت او فریاد کوم، زما کار په دې باره کښې فقط او فقط جمیل (نېک) صبر دی، او د الله ﷻ څخه کومک غواړم چې د صبر توان راکړي او بې صبري راڅخه څرګنده نه شي.

ج: ستاسو د دروغینو بیاناتو په زغمولو باندې زما دپاره د الله ﷻ څخه په غیر د کومک غوښتلو بل هیڅوک نشته نو د همدې کبله یوازې د الله ﷻ څخه د صبر توفیق غواړم او هیله ترې کوم چې ستاسو دروغین بیانات په عملي میدان کښې په ډاګه کړي.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: د ﴿ فَلَمَّا ذَهَبُواْ بِهِ ﴾ جمله خو شرطیه ده نو جزائیه جمله یې کومه یوه ده؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د جزائیه جملې په هکله علماء کرام په لاندې دوه وو ګروپونو باندې وېشلي شوي دي:

الف: ځینو علماء کرام وایي چې جزائیه جمله د ﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِ ﴾ جمله ده او د "و" توری پکښې زاید دی[1]. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي: چې کله هغوی د خپل پلار د مخې څخه یوسف ؑ بوته او په څا کښې یې په اچولو باندې اتفاق وکړ، نو مونږ هغه ته وحې وکړه چې غمژن کېږه مه، داسې وخت راروان دی چې همدا ستا وروڼه به تاته محتاج جوړ شي او په خپله ګناه باندې به اعتراف وکړي.

ب: ځیني نور وایي چې بې ضرورته د قرآن کریم په یوه توري باندې هم باید د زائد حکم ونه کړی شي، نو ذکر شوی "و" د عطف دپاره دی او معطوف علیها جمله مقدره ده چې هماغه د ذکرې شوې شرطیه جملې دپاره جزا واقع شوې ده، نو تقدیر یې داسې کېږي: "فَعَلُوْا بِهِ مَا فَعَلُوْا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ"[2]، یعنې کله چې هغوی خپل ورور بوته او د خپلې سابقې فیصلې په اساس یې په کوهي کښې واچاوه نو دوی هغه څه وکړه کوم چې دوی وکړه او مونږ یوسف ؑ ته وحې وکړه.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: هغه څه کارونه وه چې الله ﷻ ذکر نه کړه او علماء کرام وایي چې الله ﷻ ورته د "فَعَلُوْا بِهِ مَا فَعَلُوْا" په جمله باندې اشاره کړې ده؟

مونږ وایو چې: د دغه کارونو په هکله ځینو مفسرینو کرامو ډېر اوږد بیان کړی دی[3] او ډېر حیرت اچوونکي کارونه یې ذکر کړي دي، خو افسوس چې د ثبوت دپاره یې څه قناعت لرونکی دلیل نه دی لیکلی نو سړي ته خیال پیدا کېږي چې دا به ټول اسرائیلیات وي، نو د همدې کبله ذکر شوي بیانات مونږ په دې لنډ تفسیر کښې ذکر نه کړه او ټول مو د کوهي ښخ ته ورواچول، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۹ ص۱۴۲
(۲) تفسیر الکشاف ج۲ ص۴۴۹
(۳) التفسیر الکبیر ج۱۸ ص۹۹؛ الدر المنثور ج۴ ص۵۰۰؛ روح المعاني ج۱۲ ص۱۹۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

مونږ ته دوهم نظر غوره برېښي چې جزائيه جمله به مقدره وي خو تقدير به يې داسې وي ـ والله ﷻ أعلم ـ چې "اِضْطَرَبَ يُوْسُفُ وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ" يعني كله چې هغوی خپل ورور بېديا ته بوته او د بدنيتۍ څرګندونه يې وكړه چې په اتفاق سره يې په كوهي كښې واچوي او په ټوله دله كښې يو تن هم موجوديت نه درلود چې د هغه د نجات هڅه وكړي نو يوسف ﷺ سخت وارخطا شو (البته د دومره وارخطايي چې بيان او تذكر ته ارتيا نه لري) او مونږ د ده د اضطراب (وارخطايي) د لرې كولو دپاره هغه ته وحي وكړه او ډاډ مو وركړ.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ كه څوک وايي چې: كومې وحي ته چې په ﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِ ﴾ كښې اشاره ده هغه د نبوت وحي ده او كه د الهام په معنى سره ده؟

مونږ وايو چې: دواړه احتماله مفسرينو كرامو ذكر كړي دي[۱] مګر دا بهتره برېښي چې دلته به وحي د الهام په معنى سره وي، لكه څنګه چې د موسى ﷺ مور ته الله ﷻ الهام كړی وه چې فرمايي ﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ أَنْ أَرْضِعِيهِ ﴾ [القصص:۷] يعني: مونږ د موسى ﷺ مور ته د هغې د تسكين او ډاډينې دپاره الهام وكړ چې په ډاډه زړه خپل زوی ته تی وركوه.

مونږ څكه په دې مقام كښې د وحي تفسير ته په الهام سره ترجيح وركړه چې په راتلونكي [۲۲] ايت شريف كښې څينو علماء كرامو[۲] د ﴿ حُكْمًا ﴾ كلمه په نبوت سره تفسيره كړې ده، لكه چې بحث يې ـ إن شاء الله ـ راروان دی. يعني مونږ يوسف ﷺ ته په هغه وخت كښې نبوت وركړ چې د قوت حالت ته ورسېد.

نو كه هلته نبوت مراد وي نو دلته به د وحي څخه ضرور الهام مطلب وي.

په هر تقدير، الله ﷻ خپله وعده هغه وخت رښتيا كړه چې كله د يوسف ﷺ ورونه د ناشنايي په حالت كښې د ده په حضور كښې ودرېده او د سوال لاسونه يې ورته وغزول چې څه خيرات راباندې وكړه.

نو يوسف ﷺ دوی ته د كوهي د اچولو قيصه وربه ياده كړه او مخاطب يې كړ چې: ﴿ هَلْ عَلِمْتُم مَّا فَعَلْتُم بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذْ أَنتُمْ جَـٰهِلُونَ ﴾ [يوسف:۸۹] يعني: ايا ستاسو هغه څه په زړه دي كوم چې تاسو د يوسف ﷺ او د ده د اعياني ورور (بنيامين) سره كړي وه، البته په داسې وخت كښې چې تاسو ناپوهان وئ.

۴ـ داسې معلومېږي چې د يوسف ﷺ په ورونو باندې به د ده په هكله باندې درې حالتونه ورغلي وي

---

(۱) زاد المسير ج۴ ص۱۴۷
(۲) المحرر الوجيز ج۹ ص۲۷۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: کله چې د نقشې جوړولو په وخت کښې دوی ډېر په غُصه وه نو د ﴿ اَطۡرَحُوهُ ﴾ جمله یې د خولو څخه ووتله، چې د "طَرَح" ـلکه "ضَرَبَ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د "رَمَي" (غشې ویشتلو) سره مرادفه ده[1]. یعنې یا یې د غشي غونډې په کومه خمکه باندې ور وولیٔ، او د مرګ او ژوبلې (زخمي کېدلو) پروا یې مه کوئ.

ب: بیا چې کله دوی د ډېرې غُصې څخه لږ رابنکته شوه نو د ﴿ أَلۡقُوه ﴾ په جمله باندې یې ترې تعبیر وکړ چې اصلاً د "لِقَاء" څخه اخستلې شوې ده، "لِقَاء" د یوه شي سره د بل شي د ناڅاپه پیوسته کېدلو معنی ورکوي[2] نو "اِلۡقَاء" د یو شي د بل شي سره د ناڅاپه پیوسته کولو څخه عبارت ګرځي.
یعنې یوسف ﷺ د کوهي په ببخ کښې د یوې تاخچې سره پیوسته کړئ خو چې مړ نه شي، که زخمي (ژوبل) شي باک یې نشته.

ج: اما د تصویب د عملي کولو په وخت کښې یې د زخمي کېدلو (ژوبلېدلو) څخه هم صرف نظر شوه، نو د ﴿ أَن يَجۡعَلُوهُ ﴾ په جمله باندې یې ترې تعبیر وکړ چې د "جَعۡل" څخه یې اشتقاق موندلی دی او "جَعۡل" د اینبودلو (وضع) معنی هم ورکوي[3]. یعنې دوی اتفاق وکړ چې د کوهي په کومه تاخچه کښې یې کېږدي چې په ارامۍ سره هلته کښېني او په هیڅ ډول باندې زخمي او ژوبل نه شي.
نو د همدې کبله دوی د یوسف ﷺ څخه کمیس وویست (بربنډ یې کړ) او په پړي باندې یې تړلی شوی کوهي ته ورښکته کړ، مجردې چې نوموړی دکوهي ببخ ته ورسېد پړ یې پرې کړ (یا یې ورخوشې کې) چې یوسف ﷺ په ارامۍ سره د اوبو ترځنګ د کوهي په یوه تاخچه (وچځای) کښې کیناست[4].

## عشاء څه معنی؟

۵ـ د ﴿ عِشَآءٗ ﴾ کلمه هغه وخت ته وضعه شوې ده کوم چې د ماښام د لمانځه څخه شروع کېږي او آن د ماسخوتن د لمانځه پورې امتداد پیدا کوي.
یعنې د یوسف ﷺ وروڼه د ماښام څخه وروسته په تیاره کښې د خپل پلار حضور ته ورغله او په ژړا کښې یې خپل دروغین اعتذار وړاندې کړ.
شاید چې په تیاره کښې ورتګ به یې د لاندې وجوهو د کبله خوښ کړی وي:
اول: ترڅو خپل پلار ته خپل خفګان یوازې په ژړا کښې وړاندې کړي او خپلې خبرې ترې پټې کړي. او دا خکه چې دوی ژړاګانې وکړې مګر په څېرو کښې یې د غم کوم اثر نه څرګندېده، دوی ډېر زیات خوشاله وه او خوشالي یې په څېرو کښې د ورایه برېښېدله، حتی کله چې دوی خپل ورور

(۱) لسان العرب ج۲ ص۵۲۸
(۲) مفردات الراغب ص۴۷۳
(۳) لسان العرب ج۱۱ ص۱۱۰
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۷۱: تفسیر القرطبي ج۹ ص۱۴۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په کوهي کښې واچاوه نو د هغه څخه وروسته دوی ډېر په خوشالۍ باندې خوراک او څښاک وکړ[۱] ته به وایې چې کوم ماشوم یې کوهي ته نه دی وراچولی بلکې یو وحشي مضر ساکښ او یا یو بې روحه کاڼی یې کوهي ته وراچولی دی.

دوهم: ترڅو د پلار په خیال کښې واچوي چې مونږ د همدغې واقعې د پېښېدلو د کبله ناوخته راورسېدلو.

درېم: دا هم څه لرې نه ده چې ځینو به خپل اواز ژړغونی کړی وي او په تیاره کښې به یې د پلار څخه خپلې سترګې پټې کړې وي چې وچې کلکې وې او یو څاڅکی اوښکې ترې هم نه څڅېدلې.

## دروغژون حافظه نه لري

۶ـ په دري ژبه کښې یو متل دی چې: "دروغگوی حافظه ندارد" همدا متل د یوسف ﷺ په ورونو باندې پوره تطبیق وه، څکه چې:

الف: دوی خپل پلار ته د اعتذار وړاندې کولو په وخت کښې وویلې چې: ای پلاره! په مونږ کښې ملامته او قصور نشته، مونږ خو خپل ګران ورور یوسف ﷺ د سامان د ساتنې دپاره پرېښود او مونږ په منډو رامنډو باندې بوخت شوو چې په نتیجه کښې دغه پېښه وشوه.

حال دا چې دوی خپله هغه خبره هېره کړې وه کومه چې دوی خپل پلار ته د قناعت ورکولو دپاره کړې وه، هغه دا چې یوسف ﷺ زمونږ سره بېدیا ته پرېږده چې ﴿ يَرْتَعْ وَيَلْعَبْ ﴾ په ازاده فضا کښې وخوري او وڅښکي او هم پکښې لوبې او ساتیرې وکړي.

د دوی دې ته فکر نه وه چې پخپله په ساتېرۍ باندې مشغول شوه او د یوسف ﷺ څخه یې د سوټ کار اخستی وه. ته به وایې چې ساتېرۍ ته یې نه وي بېولی بلکې د دې دپاره یې بېولی وه چې خپل سامان پرې وساتي.

ب: همدارنګه هغوی د خپل ورور (یوسف ﷺ) کمیس د سیرلي یا هوسۍ په وینو سور کړ چې د پلار په حضور کښې ترې د بهانې کار واخلي مګر د کمیس څیرل یې هېر کړي وه، او په لوی لاس یې خانونه ملامته کړه چې دا خو عجیبه لېوه وه چې یوسف ﷺ یې خوړلی دی مګر کمیس یې وریاندې نه دی شکولی!.

## لیوني او ځنګل

۷ـ خلک وایې چې لیوني ته چا توصیه کړې وه چې ځنګله ته اور ور وانچوې، هغه جواب ورکړ چې: کور دې آباد چې زما دې ورته فکر کړ، نو ضرور به اور وراچوم.

د یوسف ﷺ په ورونو باندې همدغه متل کټ مټ تطبیق وه چې پلار ورته ویلې وه چې زه به یوسف ﷺ باندې د لېوه څخه دارېږم، او دوی عین همدغه کار د بهانې په توګه وړاندې کړ چې: ای

(۱) تفسیر القاسمي ج۹ ص۲۰۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پلاره! یوسف ﷺ خو لېوه وخوړ! ته به وایې چې پلار ورته همدغه بهانه ښودلې وه چې که د یوسف ﷺ سره مو څه خیانت وکړ نو بیا ماته همدغه بهانه را وړاندې کړئ.

## "تسویل" څه معنی؟

۸_ د ﴿ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ﴾ په جمله کښې د ﴿ سَوَّلَتْ ﴾ کلمه د "تسویل" څخه اشتقاقه شوې ده. "تسویل" دې ته وایي چې سړي ته خپل نفس هغه شی ښائسته کړي په کوم باندې چې حرص لري او په لاس ته وروړلو کښې یې علاقمند وي[۱].

نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: ای زامنو! زه ستاسو په بهانو او دروغینو اعتذارونو باندې نه غولېږم، تاسو ته به دا بهانه ګټوره برېښي خو زه پوهېږم چې تاسو لوی جنایت کړی دی.

## سوال جواب

۹_ که څوک وایي چې: یعقوب ﷺ څنګه پوه شو چې زامنو ورته په ډلنیزه توګه دروغ جوړ کړي دي، یا په بل عبارت: د لېوه خوړل ورته په څه دلیل دروغ وبرېښېده؟

مونږ وایو: څکه ورته د هغوی بهانه دورغژنه ښکاره شوه چې:

الف: کمیس په وینو باندې سور وه خو څیرې شوی نه وه او د لېوه د غاښونو نښې او اثار پکښې نه لیده کېده، نو یعقوب ﷺ وویلې چې: «لَوْ اَكَلَهُ السَّبُعُ لَخَرَقَ الْقَمِيْصُ»[۲] که بالفرض یوسف ﷺ شرمخ خوړلی وی نو کمیس به یې هرومرو څیرې شوی وی.

ب: څینو زامنو یې دا بهانه او اعتذار وړاندې کړ چې لېوه نه دی خوړلی بلکې غلو وواژه، نو یعقوب ﷺ وویلې که بالفرض غلو وژلی وی نو کمیس خو به یې ضرور وړی وی[۳].

مګر دا وجه کمزورې ښکاري څکه چې د قرآن کریم د ظاهر څخه مخالفه ده، د قرآن کریم ظاهر دا دی چې د لېوه د خوړلو بهانه ټولو په یوه خوله وړاندې کړې وه.

ج: مونږ د الله ﷻ په توفیق د [یوسف:۶] ایت په توضیحاتو کښې وړاندې لیکلي دي چې یعقوب ﷺ د خوب تعبیر په وحې سره کړې وه چې په لاندې ټکو باندې مشتمل وه:

اول: تاته به الله ﷻ نبوت درکړي.

دوهم: تا به الله ﷻ د خوبونو په تعبیرولو باندې پوه کړي.

دریم: الله ﷻ به دنیاوي او اخروي نعمتونه درپېرزو کړي.

نو د دغې وحې (یا د خوب د تعبیر) غوښتنه دا وه چې یوسف نه وژلی شوی دی او نه لېوه خوړلی دی بلکې ژوندی دی.

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۵۶
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۷
(۳) التفسیر الکبیر ج۱۸ ص۱۰۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## "صبر جمیل" څه معنی؟

۱۰_ جمیل صبر (ښائسته او نېک صبر) دې ته وايي چې د الله ﷻ څخه په غیر بل چا ته ځ شکایت او ګیله وړاندې نه کړي[۱] چې ای فلانکیه! زه په دغه او هغه مصیبت باندې ککړ یم. بلکې د الله ﷻ څخه اجر او د مصیبت د تحمل توان وغواړي او د نجات سوال ترې وکړي.

هرڅوک چې جمیل صبر وکړي الله ﷻ ته امید دی چې هم د مصیبت څخه نجات ورکړي او هم به په دنیا او آخرت کښې عوضونه او اجرونه ورپېرزو کړي.

لکه څنګه چې یعقوب ﷺ په ذکره شوې واقعه کښې د جمیل صبر لاره غوره کړه نو په دنیا او آخرت کښې ورته په ګټه تمام شو، همدارنګه بي بي عائشه رضي الله عنها (أم المؤمنین) هم د افک په واقعه کښې په همدغې لاره باندې تللې وه[۲] چې په عفت او پاکلمنۍ کښې یې د قرآن کریم ایتونه نازل شوه چې د قیامت د ورځې پورې به یې مسلمانان لولي او د آخرت اجرونه خو یې لا پاتې دي.

## د څو خطراتو پورته کول

۱۱_ په دې مقام کښې سړي ته ځینې پوښتنې په زړه کښې خطور کوي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: څه وجه وه چې یعقوب ﷺ د دروغین خبر په هکله پوره تحقیق ونه کړ چې یا پخپله د یوسف ﷺ مقتل (وژلځای) ته ورغلی وی او یا یې نور څوک لیږلي وی چې هلته یې د وژلو نښې او آثار د پلټنې لاندې نیولي وی؟

ب: باید هغوی ته یې ویلي وی چې لیوه خو د مار په شان ښویه تېرول نه کوي، تاسو ته په کار وه چې د کمیس په عوض مو د هغه د لاش ځینې برخې او ځینې هډوکې راوړي وی؟

ج: په الهي مصیبت باندې صبر جمیل په کار دی اما د بندګانو د ظلم د مخنیوي په غرض انتقام په کار وه، نو پوښتنه دا ده چې کله یعقوب ﷺ ته ثابته شوه چې بهانه دروغینه ده نو باید چې د هغوی څخه یې انتقام اخستی وی؟

ځینو مفسرینو کرامو د ذکرو شوو اشتباهاتو د پورته کولو دپاره ځینې جوابونه کړي دي[۳] لکه:

اول: یعقوب ﷺ وډار شو چې د انتقام په صورت کښې به هغوی نورو فسادونو ته هم لاس واچوي، په "بنیامین" باندې به هم په ضرر رسونه کښې صرفه ونه کړي.

دوهم: ترڅو د ده اولادونه په خلکو کښې رسوا او شرمنده نه شي چې د اسلام د ترقي په وړاندې به خنډ جوړ شي، خلک به وايي چې یعقوب ﷺ خپل زامن نه شي اصلاح کولی او مونږ ته د اصلاح توصیه کوي.

---

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۲۰۱
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۹۸
(۳) التفسیر الکبیر ج۱۷ ص۱۰۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته د دغسې اشتباهاتو د پورته کولو دپاره وجه دا ښکاري چې یعقوب ﷺ ته همدغه کرښلاره په وحې سره ټاکلې شوې وه چې د دې ځخه وړاندې مه تېرېږه، والله ﷻ أعلم.

﴿وَجَاءَتْ سَيَّارَةٌ فَأَرْسَلُوا وَارِدَهُمْ فَأَدْلَىٰ دَلْوَهُ قَالَ يَا بُشْرَىٰ هَٰذَا غُلَامٌ وَأَسَرُّوهُ بِضَاعَةً وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ وَشَرَوْهُ بِثَمَنٍ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ وَكَانُوا فِيهِ مِنَ الزَّاهِدِينَ ﴿٢٠﴾ وَقَالَ الَّذِي اشْتَرَاهُ مِن مِّصْرَ لِامْرَأَتِهِ أَكْرِمِي مَثْوَاهُ عَسَىٰ أَن يَنفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ وَلِنُعَلِّمَهُ مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢١﴾﴾

[١٩] او (په کوهي کښې د اچولو ځخه وروسته) یوه قافله ورغله نو دوی (د قافلې خاوندانو خپل اوبه را وړونکی ولېږه (چې اوبه ورته د کوهي ځخه را وباسي)، نو خپله بوقه (ډولچه) یې (کوهي ته) ورښکته کړه، (هلته ورپورې یوسف ﷺ ونښت نو کله چې د راپورته کوونکي سرې پرې سترګې ولګېدلې) ویې ویلې چې: ای خوشالي! (راشه همدا دې وخت دی) دغه دی هلک (ماشوم).
او (چې کله یې کاروانیانو ته ورووست نو) دوی (د خلکو ځخه) پټ کړ (او) تجارتي مال یې (وګرځاوه چې عند الموقع یې خرڅ کړي).
او الله ﷻ په هغه څه باندې پوه وه چې دوی یې کوي (چې د دوی ورته په نیت کښې وه).
[٢٠] او (بیا) کاروانیانو په ناقص قیمت (نازله بیه) شمارلو شوو پیسو باندې خرڅ کړ، او دوی د یوسف ﷺ په هکله د بې رغبتانو ځخه وه (چې چرته خبره سپینه نه شي چې دا مریی نه دی، نو په چلتی سره یې خرڅلاو ته وړاندې کړ).
[٢١] او هغه سړي چې یوسف ﷺ یې د بازار (مصر) ځخه خریداري کړ خپلې مېرمنې ته وویلې چې: د دې ماشوم د استوګنځای عزت وساته (د غلام خیال ورته مه کوه)، امید دی چې مونږ ته (په راتلونکي کښې) ګټه ورسوي، او یا به یې د ولد (زوی) په حیث ونیسو.
(مېرمنې یې ورته باعزته استوګنځای تهیه کړ) او په دغه ډول سره مو یوسف ﷺ ته په ځمکه کښې د اوسېدلو مکان (ځای) ورکړ (د ډېرو حکمتونو دپاره) او د دې دپاره چې مونږ هغه نهایي اهدافو ته د خبرو وراړولو (طریقه) ورزده کړو.
او الله ﷻ په خپل هر یو کار باندې پوره توان لري (چې هیڅ ک یې مخنیوی نه شي کولی) مګر اکثره خلک نه پوهېږي (او په خپل تدبیر باندې اعتماد کوي).

## د مطلب خلاصه

یعنې: کله چې د یوسف ﷺ وروڼو خپل ماشوم ورور په کوهي کښې پرېښود او خپل کور ته تري

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بېرته ستانه شوه، نو په هغه باندې لاندې کیفیتونه ورغله:

۱_ په کومه څا (کوهي) کښې چې یوسف ﷺ پروت وه په هغې باندې یو کاروان تېرېده چې د مصر په لور باندې روان وه.

۲_ دغو کاروانیانو خپل یوه کس ته وظیفه ورکړه _البته هغه کس ته کوم چې د دوی د پلوه د اوبو د رسولو دپاره ټاکلی شوی وه_ چې اوبه ورته وروړي.

۳_ نوموړی کس د اوبو راپورته کولو دپاره هغه کوهي ته بوقه (ډولچه) وربښکته کړه په کوم کښې چې یوسف ﷺ د خپلو ورونو د لاسه قرار درلود.

۴_ دغه مظلوم ماشوم په ډولچه کښې کېناست، د ډولچې د خاوند خیال وه چې ډولچه د اوبو څخه ډکه شوه نو خپل خان ته یې راکش کړه.

۵_ کله چې ډولچه د هغه د سترګو لاندې شوه چې یو ښانسته ماشوم پکښې لوڅ لغړ ناست دی نو د ډېرې خوشالۍ څخه یې چیغه کړه چې: دغه دی هلک! (خومره ښانسته او سپېڅلی دی).

۶_ نو نوموړی ماشوم یې د ډولچې څخه را واخست او خپلو ملګرو کاروانیانو ته یې د اوبو په عوض ورووړ. هغوی ټول ورته زیات خوشاله شوه او ټولو اتفاق وکړ چې د یوه قیمتي مال په توګه یې پټ وساتي، ترڅو یې د نورو تجارتي مالونو په ضمن کښې مصر ته یوسي او هلته یې خرڅ کړي.

ای پیغمبره! کاروانیانو خو په دې خبره باندې خوله پټه کړه چې دا ماشوم مونږ په کوهي کښې موندلی دی بلکې د یوه غلام په حیث یې د خانونو سره روان کړ، مګر الله ﷻ په ټولو کار کوونکو باندې پوه دی، نو هغوی د خلکو څخه خبره پټه کړه مګر د الله ﷻ څخه خو یې نه شوه پټولی.

۷_ کله چې قافله مصر ته ورسېده نو د نورو تجارتي مالونو په ضمن کښې یې یوسف ﷺ هم خرڅلاو ته وړاندې کړ چې په نتیجه کښې یې په ناقص قیمت باندې خرڅ کړ چې د څو شمارلو شوو پیسو څخه عبارت وه، حال دا چې یوسف ﷺ د الله ﷻ په نزد ډېر قدرمن او باعزته وه حتی که بالفرض هغوی په ډېر لوړ قیمت باندې خرڅ کړی وی هم د ده ﷻ په نزد به ناقص قیمت وی.

د قیامت د تنقیص وجه یې دا وه چې کاروانیان د یوسف ﷺ په اهمیت باندې پوه نه وه نو ځکه یې پکښې خپله بې رغبتي څرګنده کړه، که نه نو یا به یې بالکل خرڅلاو ته نه وی وړاندې کړی او که وړاندې کړی یې وی نو ډېر لوړ قیمت به یې ورباندې ایښی وی.

۸_ هغه سړي چې یوسف ﷺ یې د بازار څخه واخست او خپل کور ته یې بوته خپلې ښځې (مېرمنې) ته یې توصیه وکړه چې د دې ماشوم سره د یوه غلام او مریي په توګه ګذاره مه کوه بلکې د دې ماشوم په روښانه څېره کښې ډېرې ښېګښې برېښي. نو:

الف: دغه ماشوم به مونږ ته ډېره ګټه ورسوي او په ډېرو مهمو کارونو کښې به مو په درد وخوري.

ب: او حتی یا به دغه ماشوم زه او ته دواړه په زوی توب سره ونیسو، نو ته به د دغسې ښانسته ماشوم مور شې او زه به یې پلار شم.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۹_ ای پیغمبره! وګوره چې په څومره دقیق تدبیر سره مو یوسف ﷺ ته په څمکه کښې د قدر او عزت خای ورکړ، چې ورونو په کوهي کښې واچاوه خو مونږ د کوهي څخه راپورته کړ او په مصر کښې مو د یوه مقتدر سړي په کور کښې خای ورکړ، دا د دې ډېرو حکمتونو دپاره او دا د دې دپاره چې مونږ یوسف ﷺ د خبرو په نهایي اهدافو باندې پوه کړو ترڅو د هرې خبرې (چې د خوب خبره وي او که د ویښې خبره) په تعبیر کولو او جوابولو کښې ښه مهارت ولري، او دا څکه چې نوموړي سړي د مصري حکومت لوی وزیر وه، چې روزمره به سیاسي موضوعات او د هغه حل کول د یوسف ﷺ له نظره تېرېده او تجربه به یې پکښې پخېده. یا په بل عبارت: دغه کور مو د یوسف ﷺ دپاره یوه سیاسي مدرسه جوړه کړه، نو که بالفرض یوسف ﷺ ته مو په دغسې کور کښې خای نه وی ورکړی نو د خبرو مهارت به یې نه وی حاصل کړی.

ای پیغمبره! الله ﷻ چې هرڅه وغواړي د هغو په کولو باندې پوره توان لري او هیڅوک یې مخه نه شي نیولی مګر اکثره خلک نه پوهېږي او فکر کوي چې په خپل بشري تدبیر سره به د الهي تدبیر مخه ونیولی شي، خو خبره داسې نه ده.

## توضیحات

۱_ په کوم کوهي کښې چې یوسف ﷺ اچولی شوی وه هغه د یعقوب ﷺ د کور څخه درې فرسخه لرې د کنعان په څمکه کښې واقع وه چې د اردن د ښار د مربوطاتو څخه شمېرلی کېږي[۱].

## ځینې مفسرین کرام څه وایي؟

۲_ په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو ځینو شیانو ته اشارې کړې دي، مونږ غواړو چې د محترمو لوستونکو توجه ورواړوو، هغه دا چې:

الف: ځینې مفسرین کرام وایي چې هغه کوهی په کوم کښې چې یوسف ﷺ اچولی شوی وه په یوه بېدیا کښې واقع وه چې د کاروانیانو د لارې څخه ډېر په څنګ وه، خو د نېکه مرغه چې قافلې لاره خطا کړه او په ذکر شوي کوهي باندې وربرابره شوه[۲].

مونږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوی کوهی به د عمومي لارې ترڅنګ واقع وه چې روزمره به ترې په لاره باندې تېرېدونکو خلکو اوبه راویستلې، او دا څکه چې:

په [۱۰] ایت کښې الله ﷻ د یوسف ﷺ د ورونو فیصله راحکایته کړې ده چې خپل ورور به په هغه کوهي کښې اچوو د کوم څخه چې کاروانیان اوبه اخلي، اما وژنو به یې نه.

که بالفرض دوی د بیدیا په کوهي کښې اچولی وی چې د عمومي لارې څخه په څنګ وی نو دا کار به د وژلو سره یو برابر وی، او دوی به د خپلې فیصلې څخه خلاف کړی وی.

(۱) تفسیر ابي السعود ج۴ ص۲۵۸؛ تفسیر المحرر الوجیز ج۹ ص۲۶۶
(۲) تفسیر الخازن ج۳ ص۳۸۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دوی وايي چې يوسف عليه السلام د کوهي څخه په دوهمه يا دريمه ورځ کاروانيانو راپورته کړ او تر هغه وخته پورې به د ټولو مشر ورور ورته خوراک وراچاوه[1].

مونږ ته داسې برېښي چې الله ﷻ به په وړوکي محترم ماشوم (يوسف عليه السلام) باندې په کوهي کښې يوه شپه هم نه وي تېره کړې بلکې په عين ورځ کښې به يې ورباندې قافله وربرابره کړې وي او د کوهي څخه به يې راپورته کړی وي، لکه چې ځينو علماوو ورته اشاره کړې ده[2].

ج: ځينې وايي چې "بُشْرَىٰ" د يوه سړي نوم وه، نو کله چې د بوقې راپورته کوونکي په يوسف عليه السلام باندې سترګې ولګېدې نو هغه ته يې ورناره کړې چې: ای بُشری! دلته راشه بنانسته ماشوم وګوره[3].

مونږ ته داسې څرګندېږي چې ذکره شوې کلمه په خپله متبادره معنی سره ده چې دخوشالۍ څخه نمايندګي کوي، يعنې: ای زما خوشالی! راشه چې همدا دې وخت دی.

د: دوی وايي چې د ﴿ أَسَرُّوهُ ﴾، ﴿ شَرَوْهُ ﴾ په دواړو جملو کښې مستتر ضميرونه د يوسف عليه السلام ورونو ته راجع دي. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي: هغوی کاروانيانو ته ورغله چې دا زمونږ غلام دی زمونږ څخه تښتېدلی دی او دا خبره يې ترې پټه کړه چې زمونږ ورور دی او مونږ په کوهي کښې اچولی وه. حال دا چې يوسف عليه السلام د داره خپل خان نه شو معرفي کولی، نو هغوی په کاروانيانو باندې خرڅ کړ چې کلک حفاظت يې وکړئ چې درڅخه ونه تښتېږي[4].

نو په دې تقدير سره به يوسف عليه السلام دوه څله خرڅ شوی وي، يو ځل به خپلو ورونو په قافله باندې خرڅ کړی وي او دوهم ځل به قافلې په مصر کښې خرڅ کړی وي.

مګر مونږ داسې فکر کوو چې ذکر شوي دواړه ضميرونه به يو هم د يوسف عليه السلام ورونو ته نه وي راجع او هم به په يوسف عليه السلام باندې دوه څله خرڅلاو نه وي واقع شوی، ترڅو د ضمائرو انتشار واقع نه شي، او دا ځکه چې د ﴿ فَأَرْسَلُوا ﴾ په جمله کښې خو بالاتفاق مستتر ضمير د يوسف عليه السلام ورونو ته نه دی راجع بلکې کاروانيانو ته راجع دی.

## سوال جواب

ه: که څوک وايي چې: د لاندې کلماتو څخه څرګندېږي چې ذکر شوي دواړه ضمائر د يوسف عليه السلام ورونو ته راجع دي او خرڅلاو دوه ځله صورت نيولی دی:

اول: ﴿ بِثَمَنٍ بَخْسٍ دَرَاهِمَ مَعْدُودَةٍ ﴾ يعنې يوسف عليه السلام يې په کم قيمت (شمارلو شوو پيسو) باندې خرڅ کړ. که بالفرض خرڅول دوه ځله نه وي واقع شوی نود لوړ قيمت ذکر به نازل شوی وی ځکه چې په مصر کښې خو يوسف عليه السلام په ډېر لوړ قيمت باندې خرڅ کړی شوی وه، حتی چې قيمت

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۱۹۹؛ المحرر الوجيز ج۹ ص۲۶۶

(۲) زاد المسير ج۴ ص۱۴۶

(۳) تفسير البغوي ج۲ ص۴۱۵

(۴) البحر المحيط ج۶ ص۲۵۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


بې هغه مقدار طلاوو یا دراهمو ته ورسېد کوم چې د ده سره په وزن کښې برابر وه[۱].

دوهم: ﴿ وَكَانُواْ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ ﴾ یعنې خرڅوونکي د یوسف ﷺ په هکله بې رغبته وه ځکه یې په لږ قیمت خرڅ کړ. او پوره خړګنده ده چې کاروانیان خو ورته ډېر خوشاله وه او بې رغبتان خو د هغه وروڼه وه چې کوهي ته یې واچاوه.

درېیم: ﴿ مِن مِّصۡرَ ﴾ یعنې هغه سړي د یوسف ﷺ په هکله خپلې مېرمنې ته توصیه وکړه کوم چې یوسف ﷺ یې د مصریانو (قافلې) څخه اخستې وه. که بالفرض خرڅولو یو کرت صورت نیولی وی نو د ﴿ مِن مِّصۡرَ ﴾ کلمات به نه وی نازل شوي.

مونږ وایو چې:

اول: د قیمت د لږوالي روایت د وهب بن منبه رحمه الله څخه نقل شوی دی چې د ده د روایتونو اکثریت د اسرائیلیاتو سره ارتباط لري[۲] نو په کار دي چې د ده په روایت باندې د قرآن کریم ظاهري کلماتو ته تاویل ورنه کړی شي، برسېره په دې که ذکر شوی روایت د اسرائیلیاتو څخه نه وي هم نظر د یوسف ﷺ عالي شان ته به ترې د ﴿ بَخۡسٍ ﴾ په کلمه باندې تعبیر کړی شوی وي، "بَخۡس" دې ته وایي چې سړی یو شی د ظلم په توګه ناقص کړي[۳].

نو که بالفرض د یوسف ﷺ قیمت په هغه وخت کښې د خواړونو سرو زرو او سپینو زرو سره برابر کړی شوی وی بیا به هم ناقص او بې ارزښته وی.

دوهم: کاروانیان ځکه د یوسف ﷺ په هکله بې رغبته وه چې ژر-ژر یې خرڅ کړي ترڅو یې خپلوان راخبر نه شي، دوی ښه پوهېده چې دا اصیل دی او د مرېیتوب نښې پکښې نشته.

درېیم: د ﴿ مِن مِّصۡرَ ﴾ کلمه د دې دپاره نازله شوې ده ـ والله ﷻ اعلم ـ چې د یو پلوه د ذکرې شوې قافلې تګلارې ته اشاره وکړی شي چې د مصر په لور باندې روانه وه، او د بل پلوه مونږ پوه کړي چې ذکرې شوې قافلې مصر ته د رسېدلو سره سم یوسف ﷺ د خرڅلاو ځای ته وړاندې کړ.

و: ځینې مفسرین کرام وایي چې په ﴿ وَأَسَرُّوهُ ﴾ کښې مستتر ضمیر د اوبو راوړونکې ډلې ته راجع دی، یعنې دوی د خپلو ملګرو څخه یوسف ﷺ پټ کړ دا د دې ډاره چې یا به ورسره خپل خانونه شریک وګڼي او یا به ورته ووایي چې خوشې یې کړئ او غلام ترې مه جوړوئ[۴].

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دغه ضمیر به هم د نورو ضمائرو غوندې ټولو کاروانیانو ته راجع وي، ځکه چې د یوسف ﷺ غوندې د ښائسته ماشوم پټولو خو به داسې مثال درلودی لکه څوک چې اوښ په بډه ووهي.

---

(۱) تفسیر المظهري ج۵ ص۱۵۱

(۲) سیر اعلام النبلاء ج۴ ص۵۴۵

(۳) مفردات الراغب ص۳۵

(۴) المحرر الوجیز ج۹ ص۲۶۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ز: کومې زنانه ته چې په ﴿ لِٱمۡرَأَتِهِۦٓ ﴾ کلمه باندې اشاره شوې ده د هغې نوم "راعیل" وه[1]. مګر مشهوره دا ده چې نوم یې "زلیخا" وه. نو که اصلي نوم یې "راعیل" وي او "زلیخا" یې لقب وي[2] هم امکان لري.

ح: ځینې علماء کرام وایي چې د دې جملې ﴿ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدٗا ﴾ څخه معلومېږي چې هغه سړی کوم چې د یوسف ؑ خریدار جوړ شو او خپلې زنانه ته یې توصیه وکړه شنډ وه او اولاد یې نه درلود[3].

مونږ ته د ذکرې شوې جملې څخه ذکره شوې خبره معلومول چندان په زړه پورې نه برېښي او دا ځکه چې نبي کریم ﷺ خو اولاد هم درلود خو د دې سره-سره یې زید بن حارثه ؓ په زویتوب سره نیولی وه چې بیا پکښې قرآن کریم نازل شو[4].

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: د یوسف ؑ خریدار په مصر کښې څه حیثیت درلوذ او نوم یې څه وه؟

مونږ وایو چې: ذکر شوی سړی "قطفیر" نومېده[5].

او په راتلونکي دیرشم [۳۰] ایت کښې الله ﷻ د "عَزِیز" په لقب باندې یاد کړی دی، یعنې هغه څوک چې د مصري دولت په خزانو باندې د وزیر په حیث مقرروه[6]، په اصطلاح مالي وزیر وه.

په هر صورت، نوموړی د ډېر ذکاوت او زیرکۍ خاوند وه او په یوسف ؑ کښې یې د خیر ښېګڼې نښې نښانې کشف کړې چې د ده څخه به ډېر لوی سړی جوړ شي، لکه چې همداسې وشوه.

﴿ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥٓ ءَاتَيۡنَٰهُ حُكۡمٗا وَعِلۡمٗاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٢٢﴾ ﴾

[۲۲] او کله چې یوسف ؑ خپل جسمي قوت ته ورسېد نو مونږ (د فکري قوت دپاره) هغه ته د فیصلو توان او پوهه (هم) ورکړه، او همدارنګه مونږ نېکوکارانو ته جزاء ورکوو.

## د مطلب خلاصه

یعنې: کله چې یوسف ؑ د مصري حکومت مالي وزیر د بازار څخه خریداري کړ او خپل کور ته یې بوته نو په دغه کور یا سیاسي مدرسه کښې یې د ارامۍ ژوند پیل شو، آن تردې چې خپل قوت ته ورسېد او تجربه یې ښه پخه شوه او هم یې جسمي قوت پوره شو نو مونږ په خپل فضل سره د نافذ حکم خاوند هم وګرځاوه حتی چې د ده خپل نفس هم د ده څخه بغاوت نه شو کولی، او هم مو د لدني علم او پوهې ښه پوره پانګه ورپېرزو کړه.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۷۳
(۲) تفسیر ابي السعود ج۴ ص۲۶۲؛ روح المعاني ج۱۲ ص۲۰۷
(۳) تفسیر المراغي ج۱۲ ص۱۲۶
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۵
(۵) تفسر البغوي ج۲ ص۴۲۲
(۶) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۷۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ای پیغمبره! دا خکه چې یوسف ﷺ د نېکوکارانو څخه وه او مونږ خو نېکوکارانو ته دغسې جزاګانې او بدلې ورکوو، نو کله چې ستا قوم په تا باندې د یوسف ﷺ غوندې تېرى وکړي او د وطنه دې وشړي نو تاته به هم په دنيا او آخرت دواړو کښې عوضونه او اجرونه درکړو.

## توضيحات

۱ـ د ﴿أَشُدَّه﴾ په کلمه کښې مونږ د [الأنعام:۱۵۲] ایت لاندې څه تحقیق ـ د الله ﷻ په توفیق ـ لیکلی دی خو په دې مقام کښې علماوو کرامو د هغه عمر په هکله متعدد قولونه کړي دي په کوم کښې چې د سړي جسمي قوت کمال ته رسېږي او عقل يې پخېږي، چې ټول تقريبًا اته قوله دي[۱]، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: دغه عمر اتلس کاله دی.

ب: دغه شل کلن عمر دی.

ج: صرف هغه عمر په ذکر شوي لقب باندې يادېږي چې په سړي باندې روژه فرض وګرځي.

د: ځينې لا وايي چې ښه څرګند قول درې ديرش کلن عمر دی[۲].

هـ: د اولسو کالو څخه نیولې تر څلوېښتو کالو پورې په ټولو کلونو باندې دغه لقب صادقېږي.

مونږ ته هغه قول غوره ښکاري کوم چې شيخ المفسرين العلامه الطبري غوره کړی دی، هغه دا چې دلته د ذکر شوې کلمې څخه په يوه عمر باندې هم بايد سړی يقين ونه کړي[۳] او نه ورته څه اړتيا شته دی.

نو د معنی حاصل به يې داسې شي: چې کله يوسف ﷺ هغې مرحلې ته ورسېد په کومه کښې چې د حکم او علم دپاره جوګه (مستعد) شو نو دغه دواړه مو هم ورکړه.

## حُکم او عِلم څه معنی؟

۲ـ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د "حُکْم" کلمه په دې مقام کښې په نبوت سره او د "عِلْم" کلمه د خوبونو د تعبيرولو په علم سره تفسيره کړې ده، مګر مونږ ته بهتره ښکاري چې حُکم به د حقې فيصلې څخه او علم به د هر ډول پوهې څخه عبارت وي.

نو حاصل به يې داسې راوځېږي چې: مونږ يوسف ﷺ د وزير ماليه په کور کښې تربيه کړ چې د جسمي قوت سره يې فکري قوت هم وده وموندله او د هر ډول لانجو او مشکلاتو د حل کولو توان مو ورکړ او د هر ډول خبرو په سوال جواب باندې مو پوه کړ چې د تعبير الرؤيا په شمول په يوه موضوع کښې هم حيران نه پاتې کېده بلکې (د خلکو په اصطلاح) په نيمه خبره باندې پوهېده.

(۱) زاد المسير ج۴ ص۱۵۴؛ تفسير ابي السعود ج۴ ص۲۶۳
(۲) المحرر الوجيز ج۹ ص۲۷۳
(۳) تفسير الطبري ج۱۲ ص۱۷۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

﴿ وَرَاوَدَتْهُ ٱلَّتِى هُوَ فِى بَيْتِهَا عَن نَّفْسِهِۦ وَغَلَّقَتِ ٱلْأَبْوَٰبَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَ ۚ قَالَ
مَعَاذَ ٱللَّهِ ۖ إِنَّهُۥ رَبِّىٓ أَحْسَنَ مَثْوَاىَ ۖ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٣﴾ وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِۦ ۖ
وَهَمَّ بِهَا لَوْلَآ أَن رَّءَا بُرْهَٰنَ رَبِّهِۦ ۚ كَذَٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ ٱلسُّوٓءَ وَٱلْفَحْشَآءَ ۚ إِنَّهُۥ مِنْ
عِبَادِنَا ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿٢٤﴾ وَٱسْتَبَقَا ٱلْبَابَ وَقَدَّتْ قَمِيصَهُۥ مِن دُبُرٍ وَأَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا
ٱلْبَابِ ۚ قَالَتْ مَا جَزَآءُ مَنْ أَرَادَ بِأَهْلِكَ سُوٓءًا إِلَّآ أَن يُسْجَنَ أَوْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٥﴾ قَالَ
هِىَ رَٰوَدَتْنِى عَن نَّفْسِى ۚ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ أَهْلِهَآ إِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن قُبُلٍ
فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٢٦﴾ وَإِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ
ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٧﴾ فَلَمَّا رَءَا قَمِيصَهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٍ قَالَ إِنَّهُۥ مِن كَيْدِكُنَّ ۖ إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ
﴿٢٨﴾ يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَا ۚ وَٱسْتَغْفِرِى لِذَنۢبِكِ ۖ إِنَّكِ كُنتِ مِنَ ٱلْخَاطِـِٔينَ ﴿٢٩﴾ ﴾

[٢٣] او هغې ښځې د یوسف ﷺ د نفس د کبله د هغه څخه کلکه غوښتنه وکړه (چې غلبه پرې مونده کړي او ناکاره کار ته یې قانع کړي) د کومې په کور کښې چې نوموړی ﷺ اوسیده، او ټولې دروازې یې (ښې کلکې) بندې کړې او (بیا یې ورته) وویلې چې هله ژر راشه (زه ستا دپاره چمتو یم).
یوسف ﷺ وویلې چې: (زه پناه غواړم د دغه کار څخه) په الله ﷻ باندې پناه غوښتل. یقیناً شان دا دی چې زما (مجازي) تربیه کوونکي (ستا خاوند) زما استوګنځای ډېر ښائسته کړی (زه ورسره خیانت او تېری نه کوم). بې شکه خبره دا ده چې ظالمان (تېری کوونکي) فلاح (کامیابي) نه شي موندلی.

[٢۴] او یقیناً هغې (ښځې) یوسف ﷺ ته (ښه کلک) قصد کړی وه (چې خپل مطلب ترې واخلي). او یوسف ﷺ به هم ورته (د استفادې) قصد کړی وی خو که (د زړه په سترګو باندې) یې د خپل رب ﷻ برهان (نافذ حکم او راسخ علم) نه وی لیدلی (ورته نه وی ورکړی شوی).
(ای پیغمبره!) په دغه ډول سره مونږ د یوسف ﷺ څخه بدنامي او بې حیا کار په څنګ کړ (ترې موبج کړ. او دا خکه چې) یقیناً یوسف ﷺ زمونږ د مخلصو بندګانو څخه وه.

[٢۵] او (د یوسف ﷺ د جواب څخه وروسته) دواړو د دروازې پلو ته منډې کړې (او دواړو غوښتل چې یو د بل څخه وړاندې شي) او (په همدغې مسابقه کښې) هغې د شا د خوا څخه د یوسف ﷺ کمیس وشکاوه (څیرې یې کړ)، او (په عین حال کښې) دواړو د ښځې خاوند د دروازې ترڅنګ وموند (چې د دوی مسابقه یې په سترګو باندې ولیده.

Downloaded from: bawarketabtoph.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغې (په ډېرې چالاکۍ سره خپل خاوند ته) وویلې چې د هغه چا څه جزا ده چې ستا اهل (میرمنې) ته يې د بدۍ (فحاشۍ) نیت کړی وي، (هیڅ جزا يې نشته) مګر دا چې بندي کړی شي او یا دردناک عذاب (ورکړی شي).

[۲۶] یوسف ﷺ (د خپل ځان د دفاع په خاطر) وویلې چې هغې (ښځې) زما د نفس د کبله زما څخه (کلکه) مطالبه وکړه (ما فقط دفاع کړې ده).

او په دغه وخت کښې یوه) شهادت (حکم) کوونکي حکم (فیصله) وکړه کوم چې د هغې (ښځې) د ټبر څخه وه (دا فیصله چې):

(د یوسف ﷺ کمیس دې وکتلی شي) که چرته د ده کمیس د مخې د خوا څخه شکولی شوی وه نو ښځه رښتیا وايي او دی (یوسف ﷺ) د دروغژنانو څخه دی.

[۲۷] او که (بالعکس) د ده کمیس د شا د پلوه شکولی (څیرې) شوی وه نو هغه دروغ وايي او دا (یوسف ﷺ) د صادقانو څخه دی.

[۲۸] نو کله چې هغه (د ښځې خاوند) د یوسف ﷺ کمیس ولید چې د شا د پلوه شکولی (څیرلی) شوی وه نو (خپله میرمن يې ملامته کړه او ورته) ویې ویلې چې: یقیناً دا کار ستاسو (زنانه وو) د مکرونو (فریبونو) څخه دی. یقیناً چې ستاسو مکر (فریب) ډېر لوی (خطرناک شی) دی.

[۲۹] (بیا يې دواړه مخاطب کړه چې) ای یوسف! د دغې خبرې څخه مخ واړه وه (او ذکر يې چرته مه کوه) او (ای ښځې) د خپلې ګناه دپاره مغفرت وغواړه، یقیناً چې ته د خطاکارانو (عاصیانو) د ډلې څخه يې.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! اوس نو په خپل امت باندې د یوسف ﷺ د هغو حالاتو څخه ځینې حالات قرائت کړه کوم چې هغه ته د مصري حکومت د مالیې وزیر په کور کښې ورپېښ شوي وه، ترڅو دوی ته څرګنده شي چې یوسف ﷺ څومره ښه حکم کوونکی وه چې د ده خپل نفس هم د ده د حکم او فرمان لاندې وه، د څومره ژور علم خاوند وه، په سوال جواب باندې، څومره ښه پوهېده او بالآخره ترڅو دوی ته جوته شي چې هغه څومره ښه احسان کوونکی او احسان پېژاندونکی وه. هغه حالات دا دي:

۱ـ یو خلې هغې ښځې د یوسف ﷺ څخه د بې شرمه کار (زنا) غوښتنه وکړه د کومې په کور کښې چې اوسېده، او کومې ته چې خپل خاوند توصیه کړې وه چې د دې ماشوم (یوسف ﷺ) سره ډېره ښکه ګذاره وکړه امکان لري چې عند الموقع يې د زوی په حیث ونیسو.

نو هغې ټولې دروازې بندې (کلکې) کړې او بیا يې یوسف ﷺ مخاطب کړ چې هله ژر شه (زما حاجت پوره کړه) زه ستا دپاره بالکل تیاره او چمتو یم.

۲ـ یوسف ﷺ د هغې په جواب کښې په الله ﷻ باندې پنا وغوښتله چې دغسې ناکاره کارته اقدام وکړي چې: ای الله! ماته په دغه جنایت کښې د واقع کېدلو څخه امان راکړې. او بیا يې وویلې چې:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: یقیناً ډېره لویه خبره دا ده چې زما مولی (وزیر مالیه) زما استوګنځای ځومره ښائسته کړی دی او د ماشومتوب څخه تر اوسه پورې یې زما سره څومره ښېګڼې کړې دي. ایا زه اوس د هغه سره خیانت وکړم او د هغه ناموس ته په سپک نظر وګورم؟ ایا زه د هغه ټولې ښېګڼې د پښو لاندې کړم او ناشکري ته یې ملا وتړم؟

ب: یقیناً شان دا دی چې ظالمان فلاح او کامیابي نه شي موندلی نو که زه ـبالفرض ـ ستا غوښتنه پوره کړم نو زه به د ظالمانو د جملې څخه وشمېرل شم.

۳ـ ای پیغمبره! نومورې ښځې یوسف ﷺ ته ښه قوي قصد کړی وه چې په فتنه کښې یې واچوي او خپل مطلب ته ورسېږي، خو په خپل مطلب کښې ناکامه شوه.

هو! که یوسف ﷺ د خپل رب ﷻ د پلوه قوي برهان نه وی لیدلی او خپل رب ﷻ ورته حکم او لدني علم نه وی ورېښرزو کړی نو یوسف ﷺ به هم ورته قصد کړی وی، خو د الله ﷻ په فضل سره ده قصد قدرې هم ورته ونه کړ.

۴ـ ای پیغمبره! مونږ په یوسف ﷺ باندې موقع په موقع دغه ډول فضل کړی وه ترڅو د ده څخه د بدوکارونو او بې شرمه (بې حیا) جنایتونو مخنیوی وکړو چې پکښې اخته نه شي، او دا ځکه چې نوموړی زمونږ د مخلصو بندګانو څخه وه او مونږ خپل مخلص بندګان په خپل حفاظت کښې ساتو چې د شیطان د تسلط لاندې واقع نه شي.

۵ـ کله چې ذکرې شوې زنانه په دلایلو باندې قناعت ونه کړ او خپلې غوښتنې ته یې ادامه ورکړه نو یوسف ﷺ خپل ځان ته د نجات ورکولو دپاره د دروازې پلوه ته وځغاستل (منډه یې واخستله) خو سمدستي هغې هم دروازې ته ورمنډه کړه چې دروازه بېرته کولو ته پرېنږدي او د یوسف ﷺ د بهر وتلو (تېښتېدلو) مخنیوی وکړي.

لنډه دا چې دواړه د دروازې په طرف باندې په ځغاسته شوه خو یوسف ﷺ ترې دروازې ته مخکښې شو او نژدې وه چې وتلی وی مګر هغې لاس ور واچاوه او د یوسف ﷺ د کمیس شاتنی برخه لاس ته ورغله نو په همدغه کشمکش کښې د ده کمیس د شا د پلوه څیرې شو.

۶ـ ای پیغمبره! عجیبه حال دا دی چې په عین کشمکش کښې دواړه د ښځې د مېړه (خاوند) سره مخامخ شوه چې هغه دغه صحنه په سترګو باندې ولیده، مګر مېرمنې یې (په ډېرې چالاکۍ سره) د خپل ځان د برائت او په یوسف ﷺ باندې د تهمت اچولو دپاره خپل مېړه مخاطب کړ چې:

ای خاونده! د هغه چا به بل څه جزا وي چې ستا کوروالا ته د ناکاره کار نیت وکړي او ستا د کوروالا د پلوه آن د دروازې پورې وځغلولی شي؟ د دغسې سړي دپاره بله جزا په کار نه ده بې د دې چې بندي کړی شي او یا په ښه دردناک عذاب باندې معذب کړی شي. نو لازمه ده چې یوسف ﷺ ته په دغو دواړو جزاګانو کښې یوه جزا ورکړې چې ماته یې بد نیت کړی وه خو ما خپل عفت (پاک لمني) وساتله او د خپله خانه مې د هغه لاس لنډ کړ.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۷ـ یوسف ﷺ د خپله خانه د دفاع دپاره مالي وزیر مخاطب کړ چې خبره داسې نه ده لکه چې دا یې وایي بلکې خبره بالعکس ده، دغې زما څخه د بدکارۍ مطالبه وکړه خو ما د دې غوښتنه قبوله نه کړه، دا په غوښتنه باندې کلکه شوه چې په نتیجه کښې ترې زه راوتښتېدلم او د هغې د پلوه تعقیب شوم. په ما کښې هیڅ قصور نشته.

۸ـ نو کله چې یوسف ﷺ او دغې ښځې یوه په بل باندې دعوه وکړه او دغه شنیع کار هم یوه بل ته نسبت کړ او د هغې مېړه متحیر شو چې د کوم یوه خبره به رښتیا وي، نو د همدې خبرې د سپیناوي دپاره د هغې د کورنۍ څخه یو کس شاهدي ورکړه او د دواړو لانجه یې په لاندې ډول فیصله کړه:

جناب وزیرا متحیر کېږه مه، د یوسف ﷺ کمیس وګوره که کمیس یې د مخې د پلوه څیرې شوی وه نو معلومه ده چې ستا میرمنې د خپله خانه دفاع کړې ده او تعرض د یوسف ﷺ د پلوه صورت نیولی دی، نو ستا مېرمن رښتیا وایي او یوسف ﷺ د دروغژنانو څخه دی.

او که بالعکس کمیس د شا د پلوه شکېدلی وي نو معلومه ده چې ستا میرمن متعرضه ده او یوسف ﷺ په دفاعي حالت کښې قرار نیولی دی، نو نتیجه به هم معکوسه راووځي چې میرمن به دروغژنه وي او یوسف ﷺ به رښتیا ویلي وي.

۹ـ د مصري حکومت د مالي وزیر همدا نقشه خوښه شوه حال دا چې د هغه چا د پلوه طرحه شوې وه کوم چې د ښځې د کورنۍ څخه وه او بدنامي یې ورباندې نه پېرزو کېدله.

نو سمدستي یې د خبرې د سپیناوي دپاره د یوسف ﷺ کمیس ته مراجعه وکړه او ویې لیده چې د شا د پلوه شکولی شوی وه نو یقین یې حاصل شو چې په یوسف ﷺ کښې ګناه نشته، ګناه ټوله په میرمن کښې ده.

۱۰ـ نو د همدې کبله یې دواړه په لاندې ډول سره مخاطب کړه:

الف: ای میرمنې! ټوله ګناه په تا کښې ده، ته دروغ وایې او یوسف ﷺ رښتیا وایي، ته ښځه یې او د ښځو ډېر مکرونه او چلونه زده وي، ذکره شوې ماجرا هم ستاسو د مکرونو څخه یو مکر او فریب وه، نژدې وه چې خپل خان دې پاک کړی وی او په یوسف ﷺ باندې دې خپله ګناه وراچولې وی، خو د الله ﷻ فضل وه چې په ذکر شوې شهادت سره زما سر خلاص شو او د یوسف ﷺ په عفت او پاک لمنۍ باندې لا زیات باوري شوم.

ای میرمنې! یقیناً چې ستاسو (زنانه وو) چل او فریب ډېر لوی خطرناک شی دی.

ب: ای یوسفه! د ذکرې شوې واقعې څخه بالکل مخ واړه وه، پام کوه چې بل چرته یې ذکر ونه کړې او نور څوک پرې خبر نه کړې، په تا باندې زما اشتباه نشته بې غمه زما په کور کښې د پخوا په شان اوسېږه.

ج: ای میرمنې! ماته ثابته شوه چې ته ګناهګاره یې، تا ګناه ته ښه پوره نیت کړی وه او بیا دې په یوسف ﷺ باندې تهمت ولګاوه نو د خپلې ګناه بښنه وغواړه چې یقیناً ته د خطاکارانو د ډلې څخه یې، خو پام کوه چې بیا په دغسې خطاکارۍ کښې واقع نه شې.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

١_ د ﴿ وَرَاوَدَتْهُ ﴾ په جمله کښې د "رَاوَدَت" کلمه اصلاً د "رَوْد" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاق شوې ده، "رَوْد" تګ راتګ ته وايي، ته به وايې چې د يوه شي د غوښتلو دپاره خي راخي[١].

نو کله چې د مُفَاعِلَة د باب لاندې واقع شي نو مصدر يې "مُرَاوَدَة" راخي، "مُرَاوَدَة" دې ته وايي چې په غوښتنه (طلب) کښې په بل چا باندې غالب شي[٢].

نو په دې مقام کښې يې د معنى حاصل داسې کېږي چې هغې نيت کړی وه چې په يوسف عليه السلام باندې په خپله غوښتنه کښې غالبه شي او هغه څه ترلاسه کړي کوم ته چې هغې کلک قصد کړی وه خو کامیابه نه شوه او مطلب ته ونه رسېده.

## سوال جواب

٢_ که څوک وايي چې: په ذکر شوي تحليل سره خو د ﴿ وَرَاوَدَتْهُ ﴾ جمله د ﴿ عَن نَّفْسِهِ ﴾ کلماتو ته څه حاجت نه لري او بدون د هغو څخه روغه جوړه معنى ورکوي، نو پوښتنه دا ده چې د دغو کلماتو په نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې: د دغو کلماتو په نزول سره د مطالبې او مغالبې وجې ته اشاره شوې ده[٣]، يعنې کوربه میرمنې د بل شي د کبله په خپله غوښتنه باندې زور نه اچاوه مګر فقط د يوسف عليه السلام د نوراني نفس د کبله چې خپل خواهش ترې پوره کړي، ځکه هغې ورباندې زړه بايلودی وه او ورباندې عاشقه (مینه) وه. خو يوسف عليه السلام خپل ځان اداره کړ او د مؤمنانو دپاره يې د قيامت د ورځې پورې پوخ بنياد کېښود. نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث شريف کښې فرمايلي دي چې: «وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللهَ»[٤] يعنې: د هغو اوو کسانو څخه به (چې د قيامت په ورځ د عرش العظيم د سيوري لاندې وي) يو هغه سړی وي کوم چې معتبره او ښائسته ښځه يې خپل ځان ته (د زنا دپاره) دعوت کړي مګر هغه ورته ووايي چې: زه د الله ﷻ څخه ډارېږم (او يا ورته د يوسف عليه السلام غوندې ﴿ مَعَاذَ اللَّهِ ﴾ کلمات واوروي).

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٣_ که څوک وايي چې: د عربيت قاعده ده چې کله يو شی يو ځل ذکر شي نو دوهم ځل ورته په ضمير سره اشاره کېږي، نو څرنګه چې د زليخا ذکر په وړاندې ايت شريف کښې په ﴿ لِامْرَأَتِهِ ﴾ په لفظ سره تېر شوی وه نو په کار وه چې په ﴿ وَرَاوَدَتْهُ ﴾ په کلمه باندې اکتفاء کړی شوې وه او د ﴿ الَّتِي

---

(١) مفردات الراغب ص٢١١
(٢) تفسير الكشاف ج٢ ص٤٥٥
(٣) حاشيه شيخ زاده على بيضاوي ج٣ ص٧٩
(٤) صحيح البخاري ج١ ص١٩١

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مزل ﴿بَيْنَهُمَا﴾ کلمات نه وی نازل شوي چې د کوربه میرمنې څخه کنايي دي؟

مونږ وايو: رښتيا چې دوهم ځل ذکر په ضمير سره صورت نيسي مګر هله چې کومه نکته په نظر کښې نه وي نيولی شوې، خو دلته پکښې لاندې نکات مرموز دي:

الف: ترڅو خلک پوه شي چې کوربه ښځې څکه يوسف ته ذکر شوی وړانديز کړی وه چې د هغې سره خپل خاوند غير محرم سړی اوساوه، نو بايد چې د دغسې کار څخه اجتناب وکړی شي چې هرڅوک خو د يوسف ﷺ غوندې نه شي جوړېدلی.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې اشاره کړې ده چې: «لَا يَخْلُوَنَّ أَحَدُكُمْ بِامْرَأَةٍ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ ثَالِثُهُمَا»[1] يعني: هرومرو دې ستاسو څخه يو نفر (د پردی) زنانه سره نه يوازې کېږي څکه چې شيطان د دواړو دريم ګرځي (چې د هر يوه په زړه کښې د ګناه کولو وسواس اچوي).

ب: ترڅو د يوسف ﷺ په کامل عفت باندې دلالت وکړي چې د دې سره-سره چې د هغې د امر لاندې يې ژوند کاوه خو په معصيت کښې يې د هغې اطاعت ونه کړ، که بالفرض د ده په عوض بل څوک وی نو د هغې د خوشالولو دپاره به يې هم د هغې د امر منته کړې وی.

ج: ترڅو مونږ إشارةً پوه شو چې دا اول ځل نه وه چې هغې خپله غوښتنه په ډاګه کړه او خپل ځان بې رسوا کړ، که نه نو يوسف ﷺ د هغې په کور کښې اوږد عمر تېر کړ او د همدې په کور کښې تري ښه قوي ځوان جوړ شو شايد چې هغې به د ډېرو مرحلو د تېرولو څخه وروسته ذکره شوې کړنلاره غوره کړې وي، لکه:

اول: په ناز، نخرو، د مکيز په خندا او هم په سترګکونو سره به يې څو-څو ځله يوسف ﷺ خپل ځان ته وربللی وي.

دوهم: هغې به د يوسف ﷺ د جلبولو دپاره په خپل ځان څو-څو ځله ګوتې وهلې وي او خپل ځان به يې ورته سنګار کړی وي.

دريم: الله ﷻ پوهېږي چې هغې به څو ځله يوسف ﷺ ته د خندا څخه په ډکه خوله باندې د جنسي ارتباط د نيولو وړانديز کړی وي، حتی چې وروستنی وړانديز به يې د دروازو د بندولو څخه وروسته د ﴿هَيْتَ لَكَ﴾ په کلماتو باندې صورت نيولی وي.

نو که ذکر شوي کلمات نه وی نازل شوي ذکر شوي مطالب به بې اشارو پاتې شوي وی.

## د "هَيْتَ لَكَ" د کلماتو تحليل

۳- په ﴿هَيْتَ لَكَ﴾ کښې د ﴿هَيْتَ﴾ کلمه اسم فعل دی چې د "تَعَالَ" (راشه) معنی ورکوي او د ﴿لَكَ﴾ کلمه د مخاطب د تشخيص دپاره ده، نو فقط د "ل" په مدخول کښې تغير واقع کېږي او بس، ترڅو د مخاطب په افراد، مثنی او هم په جمعيت باندې يې دلالت وکړي، او بالآخره تذکير او

---

[1] مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۵۰؛ جامع الترمذي ج۱ ص۲۲۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تانيث هم د "ل" د مدخول څخه څرګندېږي[۱].

نو په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: ای يوسفه! هله ژر راشه چې زه ستا دپاره تياره او چمتو يم.

## رَبّ څه معنی؟

۴_ ﴿ إِنَّهُۥ رَبِّيٓ أَحۡسَنَ مَثۡوَايَ ﴾ په جمله کښې د "رَبّ" کلمه د تربيه کوونکي او پالونکې معنی ورکوي.

کله چې دغه کلمه بدون د اضافته ذکره شي نو الله ﷻ پورې اختصاص مونده کوي، اما د اضافت سره په الله ﷻ پورې اختصاص نه لري په بندګانو کښې هم استعمالېږي[۲].

څرنګه چې په دې مقام کښې د متکلم "ی" ته مضافه ده او دواړه ډوله استعمالونه پکښې صحت لري. نو ځينې مفسرينو کرامو ته دا خبره ډېره بهتره ښکاره شوې ده چې دلته د "رب" د کلمې څخه الله ﷻ مراد دی[۳].

يعني: ای کوربنې ميرمنې! يقينًا الله ﷻ زما مربي (تربيه کوونکی) دی چې د کوهي څخه يې راپورته کړم او ستاسو په کور کښې يې ښه خوندور ځای راکړ نو زه د ده ﷻ څخه عصيان نه کوم.

مګر مونږ ته د مقام په اعتبار سره دا بهتره ښکاري چې دلته به ذکره شوې کلمه د "هغې" د خاوند څخه عبارت وي، ترڅو هغه په غوږ باندې ووهله شي چې د خپل مېړه سره خيانت مه کوه لکه څنګه چې زه د هغه په غياب کښې ورسره خيانت نه کوم او نه يې ناشکري کوم.

## پيغمبران د ګناه څخه د الله ﷻ په عصمت کښې دي

۵_ ځينو مفسرينو کرامو[۴] د دې ايت شريف څخه چې ﴿ وَلَقَدۡ هَمَّتۡ بِهِۦۖ وَهَمَّ بِهَا لَوۡلَآ أَن رَّءَا بُرۡهَٰنَ رَبِّهِۦ ﴾ داسې مفهوم اخستی دی چې د يوسف ؑ د عدم معصوميت بوی ترې پورته کېږي، حال دا چې ټول پيغمبران د ګناهونو څخه _ وړې وي او که لويې_ د الله ﷻ په حفظ کښې ساتل شوي دي.

نو که څوک يې د لوستلو شوق لري هملته دې مراجعه وکړي، مونږ نه غواړو چې دلته په رانقلولو باندې يې دا کتاب اوږد کړو، فقط لاندې تبصره ورباندې ليکو:

ذکرو شوو مفسرينو کرامو د ايت شريف په تفسير کښې په ځينو روايتونو باندې اتکاء کړې ده چې اکثره يې بې سنده دي او کوم يو چې سند لري غالب ګومان دا دی چې هغه به د اسرائيلي کتابونو څخه اخستی شوي وي[۵]، او يا به په سند کښې د ځينو راويانو څخه دا جمله پاتې شوې

---

(۱) تفسير القاسمي ج۹ ص۲۱۰؛ مفردات الراغب ص۵۴۶

(۲) مفردات الراغب ص۱۸۹

(۳) البحر المحيط ج۶ ص۲۵۷

(۴) الدر المنثور ج۴ ص۵۲۱؛ تفسير الخازن ج۳ ص۳۹۴؛ تفسير الطبري ج۱۲ ص۱۸۳

(۵) اضواء البيان ج۳ ص۶۰؛ تفسير الكشاف ج۲ ص۴۵۷؛ روح المعاني ج۱۲ ص۲۱۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وي چې "اهل الكتاب داسې وايي".

مونږ خکه په سندونو کښې د دغې جملې د سقوط (پاتې کېدلو) خيال وکړ چې ځينې روايتونه په همدې باره کښې د سلفو صالحينو څخه او خصوصاً د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت شوي دي[1] چې دوی رضوان الله عليهم اجمعين هيڅکله د اسرائيلي کتابونو څخه په سکوت سره څه شی نه نقلوي.

که څوک په ذکر شوي مفهوم باندې د ښه پوره تحقيقي رد د لوستلو شوق لري نو ځينو اوږدو تفاسيرو ته دې مراجعه وکړي[2] چې په دقيقه توګه يې ذکر شوی تفسير رد کړی دی.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې: نو بايد چې ذکر شوی ايت شريف په څه ډول باندې تفسير شي، ترڅو د يوسف عليه السلام معصوميت محفوظ وساتلی شي؟

مونږ وايو چې: په لاندې درېوو ډولونو باندې ايت شريف تفسير کېدلی شي او روغه جوړه معنی ترې اخستـه کېدی شي، که څه هم مونږ ته يې اول ډول غوره برېښي:

الف: بايد د ﴿ وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِۦ ﴾ په جمله باندې وقف وکړی شي او د ﴿ وَهَمَّ بِهَا ﴾ جمله د ﴿ لَوْلَآ أَن رَّءَا بُرْهَٰنَ رَبِّهِۦ ﴾ دپاره مقدم جواب وګڼل شي.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې: کورښې ښځې خو يوسف عليه السلام ته ښه پوره قصد او عزم کړی وه چې خپل مطلب ترې ترلاسه کړي. اما يوسف عليه السلام به هم ورته ضرور قصد کړی وی که د خپل رب جل جلاله برهان يې نه وی ليدلی، خپل رب جل جلاله ورته نافذ حکم او کامل علم نه وی ورکړی او بالآخره د نبوت دپاره يې مستعد نه وی ګرځولی. او دا خکه چې يوسف عليه السلام په دغه وخت کښې ښه قوي ځوان وه او څه چې ځوانان کولی شي هغه ده هم کولی شو.

دا د يو پلوه، او د بل پلوه دغه قاعده چې په "لَوْلَا" باندې خپل جواب تقدم نه شي موندلی د نحويانو په نزد اتفاقي قاعده نه ده[3] بلکې اکثريت يې جائز بولي، لکه چې په لاندې ايت شريف کښې د ﴿ لَوْلَآ ﴾ څخه خپل جواب وړاندې دی، چې: ﴿ إِن كَادَتْ لَتُبْدِى بِهِۦ لَوْلَآ أَن رَّبَطْنَا عَلَىٰ قَلْبِهَا ﴾ [القصص: ۱۰] يعنې: يقيناً د موسی عليه السلام مور نږدې وه چې د ده حال يې ښکاره کړی وی چې دا زما زوی دی که مونږ د هغې زړه ته حوصله نه وی ورکړې او اطمنان مو پرې نه وی ورنازل کړی.

په دې باندې علاوه، که د ﴿ لَوْلَآ ﴾ د جواب په وړاندې کېدلو کښې اختلاف شته نو دا خو بالاتفاق جائزه ده چې د ﴿ وَهَمَّ بِهَا ﴾ جمله د ﴿ لَوْلَآ ﴾ په هغه جواب باندې دلالت وکړي کوم چې د ﴿ لَوْلَآ ﴾ څخه وروستـه مقدر وګڼلی شي[4]، نو صورت به يې داسې جوړ شي چې: "وَهَمَّ بِهَا لَوْلَا أَنْ

---

(۱) المحرر الوجيز ج۹ ص۲۷۸؛ تفسير البغوي ج۲ ص۴۱۸

(۲) التفسير الكبير ج۱۸ ص۲۱۵؛ اضواء البيان ج۳ ص۵۰؛ صفوة التفاسير ج۲ ص۵۳

(۳) البحر المحيط ج۶ ص۲۵۷

(۴) تفسير المظهري ج۵ ص۱۵۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رَأَىٰ بُرْهَانَ رَبِّهِ لَهَمَّ بِهَا". نو څرنګه چې په جواب باندې پوخ دلالت کوونکی مذکور وه نو د جواب ذکر ته حاجت پاتې نه شو.

ب: د دواړو قصدونو فرق درلود، دا څکه چې د هغې قصد فاحش کار ته وه د همدې کبله يې دروازې بندې کړې او د مباشرت فضا يې برابره کړه، او يوسف ﷺ خپل خان ته د نجات ورکولو قصد وکړ د همدې کبله بهر ته د وتلو په غرض د د روازې طرف ته په ځغاسته (په منډه) شو.

ج: د ﴿ وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِ ﴾ معنى دا ده چې: هغې يوسف ﷺ ته ښه پوخ قصد کړی وه چې خپل مطلب ترې واخلي د همدې کبله يې د خپل خان طرف ته د ﴿ هَيْتَ لَكَ ﴾ په کلماتو باندې دعوت کړ چې هله ژر شه اقدام وکړه. اما هغې ته د يوسف ﷺ په زړه کښې محض غير اختياري ميلان تحقق ومونډ. لکه څنګه چې د ډېرې تودوښې په وخت کښې د روژه دار په زړه کښې سړو اوبو ته ميلان پيدا کېږي.

پوره واضحه ده چې په دغه غير اختياري ميلان باندې سړی نه ګنهګارېږي، نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي مَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا مَا لَمْ تَعْمَلْ أَوْ تَكَلَّمْ»[۱] يعني: يقيناً الله ﷻ زما د امت څخه د هغه شي په باره کښې تېر شوی دی (نيول پرې نه کوي) کوم شی چې د دوی په زړونو کښې ګرځي راګرځي، ترڅو چې ورباندې عمل وکړي او يا پرې تلفظ وکړي.

نو په دې تقدير به د يوسف ﷺ د غير اختياري ميلان څخه په ﴿ وَهَمَّ بِهَا ﴾ سره صرف د مشاکلت د کبله تعبير کړی شوی وي، او دا څکه چې غير اختياري ميلان ته څو قصد "هَمّ" نه شي ويلی[۲].

## سوال جواب

۷ـ که څوک وايي چې: په ذکر شوو ورستنيو "ب، ج" دواړو تفسيرونو باندې د ﴿ لَوْلَآ أَن رَّءَا بُرْهَـٰنَ رَبِّهِۦ ﴾ کلام د وړاندېنيو جملو سره بې ارتباطه پاتې کېږي، نو پوښتنه دا ده چې په دې تقدير به د همدغه کلام په نزول کښې څه حکمت وي؟

مونږ وايو چې: حکمت پکښې دا دی ـوالله ﷻ اعلمـ ترڅو واضحه شي چې يوسف ﷺ توان درلود چې د نورو څوانانو په شان حرکات ترې صادر شوي وی، نو که د خپل رب ﷻ برهان يې نه وی ليدلی ضرور به يې د فحاشۍ په لور قوي او عملي حرکت کړی وی نو بيا به د الله ﷻ د مخلصو بندګانو څخه نه وی شمېرل شوی.

## برهان د څه شي څخه عبارت دی؟

۸ـ که څه هم د ﴿ بُرْهَـٰنَ ﴾ کلمه اصلاً د ښه پوره قوي حجت او دليل دپاره وضعه شوې ده[۳]

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۹۴
(۲) تفسير ابي السعود ج۴ ص۲٦٦
(۳) مفردات الراغب ص۴۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



مګر په دې مقام کښې مفسرینو کرامو په ډېرو معناوو باندې تفسیره کړې ده چې تقریباً شپږو معناوو ته رسېږي[۱]. مونږ څکه د هغو معناوو ذکر دلته نه کوو چې اکثره راته واهيات او اسرائیلیات ښکاري که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

مونږ وايو چې: کوم برهان او حجت چې یوسف ﷺ يې پرېښنبود چې ګناه ته قصد وکړي هغه د الله ﷻ د هغه فضل څخه عبارت دی چې په وړاندې ایت شریف کښې ورته د ﴿ ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ﴾ په کلماتو سره اشاره شوې ده، یعنې یوسف ﷺ څکه جنایت ته قصد هم ونه کړ چې د خپل رب ﷻ د پلوه ورته قوي نافذ حکم یا نبوت او ښه راسخ علم ورکړی شوی وه.

همدې مضمون ته په یوه راتلونکي ایت کښې هم اشاره شوې ده چې: ﴿ وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّى كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُن مِّنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴾ [یوسف:۳۳] یعنې: او که ته د دغو ښځو د فریبونو مخه زما څخه تاوه نه کړې نو زه به دوی ته میلان وکړم او زه به د جاهلانو د ډلې څخه جوړ شم او کوم علم او حکمت چې تا ماته راپېرزو کړی دی د هغه رڼا به مړه شي.

## سوال جواب

۹ـ که څوک وايي چې: حکم او علم او یا نبوت خو په سترګو باندې نه لیده کېږي نو پوښتنه دا ده چې ایا د ﴿ لَوْلَآ أَن رَّءَا بُرْهَٰنَ رَبِّهِۦ ﴾ کلماتو تفسیر پرې صحت موندلی شي؟

مونږ وايو چې: د ﴿ رَّءَا ﴾ کلمه د "رُؤْيَة" (لیدلو) څخه اشتقاقه شوې ده. رؤیت لاندې څلور ډوله لري[۲]:

د حاسې (سترګو) رؤیت (لیدل)، د "وهم" (تخیل) رؤیت، د تفکر (سوچ) رؤیت، د عقل رؤیت.

په دې مقام کښې څلورم ډول مراد دی، یعنې که بالفرض یوسف ﷺ په عین الیقین سره د خپل عقل په رڼا کښې د خپل رب ﷻ برهان نه وی لیدلی نو د ګناه څخه به بچ نه وی پاتې شوی.

## سوال جواب

۱۰ـ که څوک وايي چې: د وړاندې ایت شریف څخه معلومېږي چې د کوربه میرمنې ﴿ غَلَّقَتِ ٱلْأَبْوَٰبَ ﴾ ډېرې دروازې بندې کړې، حتی چې ځینو مفسرینو کرامو يې تعداد اوه دروازې ښودلی دی[۳]، نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنیاد "وَاسْتَبَقَا الْأَبْوَابَ ، لَدَى الْأَبْوَابِ" نازل نه کړی شو ترڅو دواړه ایتونو یو د بل سره په جمعیت کښې تطابق موندلی وی؟

مونږ وايو ـ والله ﷻ أعلم ـ: کوم مقام چې هغې د خپل غرض د پوره کولو دپاره انتخاب کړی وه هغه به د یوه سالون په شکل ګڼ شمېر دروازې درلودې چې د ټولو د بندولو څخه وروسته به يې ذکر شوی جدې وړاندیز کړی وي.

---

(۱) زاد المسیر ج۴ ص۱۵۹؛ الدر المنثور ج۴ ص۵۲۱
(۲) مفردات الراغب ص۱۸۷
(۳) تفسیر القرطبي ج۹ ص۱۶۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او یا د طنز په عبارت: هغې به نیت کړی وه چې د خپل خاوند هغه توصیه عملي کړي کومه چې هغې ته یې د یوسف ﷺ په هکله کړې وه چې د زوی په نظر ورته ګوره (خو افسوس چې هغې ورته د مېره جوړولو اراده کړې وه).

نو کله چې د هغې وړاندیز د یوسف ﷺ د پلوه رد شو نو هغې به حوصله د لاسه ورکړې وي او د لاس وراچولو په تکل کښې به واقع شوې وي، نو یوسف ﷺ به د خپل ځان د خلاصون په غرض همغې دروازې ته وردانګلي وي کومه چې ورته نژدې وه.

## شاهد څوک وه؟

۱۱_ د ﴿وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ أَهْلِهَآ﴾ په جمله کښې د ﴿شَاهِد﴾ کلمه په متعددو معناوو باندې تفسیره شوې ده[۱] چې د اعتماد قابلیت پکښې فقط لاندې دوه تفسیرونه لري او بس:

الف: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې د یوسف ﷺ او د ذکرې شوې مېرمنې لانجه یوه ماشوم فیصله کړه او هغه قاعده یې بیانه کړه کومه چې په ایت شریف کښې ذکره ده[۲].

ب: د ایتونو د کلماتو څخه څرګندېږي چې ذکره شوې لانجه به یوه هوښیار سړي فیصله کړې وي[۳] او دا ځکه چې:

اول: د ﴿مِّنْ أَهْلِهَآ﴾ کلمات دلالت کوي چې ذکرې شوی "شَاهِد" او حکم کوونکی د هغې د کورنۍ څخه وه، که بالفرض د هغې د کورنۍ څخه نه وی نو په هغه به یې هم اتهام لګولی وی چې حقه فیصله یې ونه کړه او د یوسف ﷺ طرف ته یې ډنډۍ ووهله، حال دا چې په ماشوم باندې اتهام نه لګېده که څه هم د هغې د اهل څخه نه وی.

دوهم: که ماشوم خبرې کړې وې نو یوازې د همده خبرو کفایت کاوه چې ملامته او ناملامته یې تشخیص کړې وی، حاجت نه وه چې د لانجې د حل کولو یې قاعده بیانوله، او دا ځکه چې د ماشوم په خبرو باندې هغې اعتراض نه شو کولی خو د کمیس په څېرېوالي باندې یې اعتراض کولی شو چې دا د پخوا څخه څیرې وه او سمدستي نه دی څیرې شوی.

## تبصره

۱۲_ مونږ ته ذهن ته راځي چې که د ماشوم څخه د زانګو ماشوم مراد نه شي بلکې یو هوښیار هلک تري مطلب شي چې بلوغ ته نه وي رسېدلی نو د ذکر شوو دواړو تفسیرونو منافات به د منځه لاړ شي او توافق به یې حاصل شي. په هر تقدیر، په دې مقام کښې شهادت د حکم کولو معنی ورکوي چې د همدې معنی دپاره هم وضعه شوی دی[۴].

---

(۱) زاد المسیر ج۴ ص۱٦۲؛ تفسیر القرطبي ج۹ ص۱۷۳
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص٦٦۴
(۳) روح المعاني ج۱۲ ص۲۱۸
(۴) مفردات الراغب ص۲۷۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يو عجيب توافق

۱۳_ عجيب توافق خو دا دی چې د یوسف ﷺ د کمیس په نه شکېدلو باندې د هغه د ورونو دروغ په ډاګه شوه، چې بحث يې ورړاندې د اتلسم ایت لاندې تېر شوی دی، او د کمیس په شکېدلو باندې يې د ذکرې شوي ښځې دروغ بربنډ شوه چې ماته يې په بد نظر باندې کتلي دي.

او همدارنګه د یوسف ﷺ په کمیس باندې د یعقوب ﷺ سترګې روښانه شوې، چې بحث يې په همدې سورت کښې د [۹۶] ایت لاندې راروان دی، إن شاء الله ﷻ.

## سوال جواب

۱۴_ که څوک وايي چې: عجيبه خبره ده چې د ذکرې شوي ښځې مېړه د يو پلوه هغې ته وايي چې د ګناه څخه مغفرت وغواړه او د بله پلوه ورته خطاکاره وايي، حال دا چې په خطا باندې خو څوک نه نیولی کېږي او ګناه پکښې نشته. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي الْخَطَأَ وَالنِّسْيَانَ وَمَا اسْتُكْرِهُوا عَلَيْهِ»[۱] يعنې: يقيناً الله ﷻ زما دپاره زما د امت څخه د خطا او نسيان او (بالآخره) په هغه شي باندې د نيونې څخه تېر شوی دی چې په کولو باندې يې دوی مجبور کړی شي (او په زور پرې وکړی شي).

مونږ وايو چې: د ﴿ٱلْخَاطِـِٔينَ﴾ کلمه د "خَطَأً" _لکه "شَرَف"_ څخه نه ده اشتقاقه شوې چې نيونه ورباندې نشته ځکه دا په هغې ګناه کښې استعمالېږي چې په قصدي توګه يې صورت نه وي نيولی، بلکې ذکرې شوې کلمې د "خِطأً" _لکه "عِلْمًا"_ څخه اشتقاق موندلی دی چې په قصدي ګناه کښې استعمال مومي چې سړی ورباندې نيولی کېږي[۲]، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْـًٔا كَبِيرًا﴾ [الإسراء:۳۱] يعنې: يقيناً د اولادونو وژل لويه ګناه ده.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۵_ که څوک وايي چې: کله د ذکرې شوې ښځې مېړه (خاوند) په يقين سره پوه شو چې په يوسف ﷺ کښې ګناه نشته، ګناه ټوله په همدې کښې ده مسته په ځرچې کښې ده، نو په کار وه چې خپلې مېرمنې ته يې همغه جزا ورکړې وی کومه چې د همدې د پلوه د یوسف ﷺ دپاره پېشنهاد شوې وه چې يا بايد بندي کړی شي او يا بل کوم دردناک عذاب ورکړی شي؟

مونږ وايو: که څه هم خينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې د هغه غيرت کم وه[۳] مګر مونږ ته يې وجه دا ښکارې چې دا هم په يوسف ﷺ باندې د الله ﷻ لطف او مهرباني وه چې په هغې باندې خپل مېړه په غُصه نه شو چې صرف په نصيحت باندې يې اکتفاء وکړه، او دا ځکه که کومه جزا يې

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۱۴۷
(۲) لسان العرب ج۱ ص۶۷
(۳) تفسير المظهري ج۵ ص۱۵۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تـه څه اذیت رسېدلی وی. ورکړې وی نو د دې خطر وه چې د هغې د پلویانو څخه یوسف عليه السلام
دا هم څه لرې نه ده چې جزا به یې د دې کبله هغې ته نه وي ورکړې چې خبره پټه پاتې شي او
شهرت پیدا نه کړي، مگر دغسې خبرې چرته پټې پاتې کېږي خصوصاً لا په هغه وخت کښې چې
څلورم نفر پرې خبر شي او هغه پکښې پرېکړه وکړي.

﴿وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي ٱلْمَدِينَةِ ٱمْرَأَتُ ٱلْعَزِيزِ تُرَٰوِدُ فَتَىٰهَا عَن نَّفْسِهِۦ ۖ قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا ۖ إِنَّا
لَنَرَىٰهَا فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٣٠﴾ فَلَمَّا سَمِعَتْ بِمَكْرِهِنَّ أَرْسَلَتْ إِلَيْهِنَّ وَأَعْتَدَتْ لَهُنَّ مُتَّكَـًٔا
وَءَاتَتْ كُلَّ وَٰحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سِكِّينًا وَقَالَتِ ٱخْرُجْ عَلَيْهِنَّ ۖ فَلَمَّا رَأَيْنَهُۥٓ أَكْبَرْنَهُۥ وَقَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ
وَقُلْنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا إِنْ هَٰذَآ إِلَّا مَلَكٌ كَرِيمٌ ﴿٣١﴾ قَالَتْ فَذَٰلِكُنَّ ٱلَّذِي لُمْتُنَّنِي
فِيهِ ۖ وَلَقَدْ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفْسِهِۦ فَٱسْتَعْصَمَ ۖ وَلَئِن لَّمْ يَفْعَلْ مَآ ءَامُرُهُۥ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا
مِّنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ ٱلسِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِيٓ إِلَيْهِ ۖ وَإِلَّا تَصْرِفْ عَنِّي
كَيْدَهُنَّ أَصْبُ إِلَيْهِنَّ وَأَكُن مِّنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٣٣﴾ فَٱسْتَجَابَ لَهُۥ رَبُّهُۥ فَصَرَفَ عَنْهُ كَيْدَهُنَّ ۚ إِنَّهُۥ
هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ بَدَا لَهُم مِّنۢ بَعْدِ مَا رَأَوُا۟ ٱلْءَايَٰتِ لَيَسْجُنُنَّهُۥ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٣٥﴾﴾

[۳۰] او په ښار (مصر) کښې یوه ټولگې ښځو وویلې چې: (عجیبه ده) د عزیز (مالي وزیر) ښځه د خپل مریي څخه د هغه د نفس د کبله غوښتنه کوي (چې مطلب ترې حاصل کړي). بې شکه خپل مریی یې د محبت د حیثه په زړه کښې ننوتلی دی (او د دې د زړه پردې یې شکولې دي). یقیناً مونږ هرومرو هغه په ښکاره گمراهۍ کښې گورو (چې نه یې خپل وقار ته وکتل او نه یې د خاوند وقار وساته).

[۳۱] نو کله چې هغې (ذکرې شوې میرمنې) د هغوی فریب (پروپاگند) واورېد نو هغوی ته یې (بلنلیکونه) ورولېږل، او (د خوراک څښاک دپاره یې) ورته د تکیا کولو (ښه ځای) تیار (جوړ) کړ (او پکښې یې کښېنولې)، او (بیا یې) د دوی څخه هرې یوې ته چاړه (په لاس کښې) ورکړه (چې میوجات پرې د پوسته کړي).

او (په عین حال کښې یې یوسف عليه السلام ته امر وکړ چې: ناڅاپه) ورباندې ورووځه، نو کله چې (یوسف عليه السلام ورښکاره شو او) هغوی ولید نو ډېر لوی (شخصیت یې) وگاڼه او (په لا شعوري توگه یې په چړو باندې) خپل لاسونه پرې کړه (زخمي کړه)، او په (یوه خوله باندې یې) وویلې چې: پاکي ده الله جل جلاله ته (چې داسې ښانسته مخلوق یې پیدا کړی دی) دغه (خو) بشر (انسان) نه دی، دغه نه دی مگر د کرامت څخه ډکه پرښته ده.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۲] (په دغه وخت کښې) هغې (مېملنې مخاطبې کړې او ورته یې) وویلې چې دغه (شخص) هغه (شخص) دی چې تاسو زه د ده (په عشق) کښې ملامته کړې ومه.

او (زه اوس په ډاګه وایم چې) یقینًا ما د ده څخه د ده د نفس د کېله مطالبه کړې وه خو ده (خپل خان) وساته (زما مطالبه یې قبوله نه کړه).

او (زه اوس هم په خپله غوښتنه کلکه یم نو) که یوسف ﷺ هغه کار ونه کړي په کوم باندې چې ورته زه امر کوم نو ضرور هرومرو به بندي کړی شي او ضرور به د بې عزتانو (د ډلې) څخه وګرځي.

[۳۳] یوسف ﷺ وویلې چې: ای زما ربه! بندیخانه ماته د هغه کار څخه محبوبه ده کوم ته چې دوی ما وربلي، او (ای زما ربه!) د دغو ښځو د مکرونو مخ زما څخه تاو کړه) که ته د دوی فرېبونه زما څخه (بل طرف ته) تاو نه کړې نو زه به دوی ته میلان وکړم او زه به د جاهلانو (د ډلې) څخه جوړ شم.

[۳۴] نو د ده رب ﷻ (د ده سوال) قبول کړ نو د هغوی فرېبونه یې ترې (بل طرف ته) تاو کړه. یقینًا چې د ده رب (الله ﷻ) اورېدونکی (او) پوه دی.

[۳۵] بیا دوی (مالي وزیر او مشاورینو) ته د هغه څخه وروسته یو شی څرګند شو چې دوی (یې) دلائل ولیده (ژور فکر یې وکړ، هغه شی دا وه چې) هرومرو (باید) ضرور دوی یوسف ﷺ د څه وخته پورې بندي کړي.

## د مطلب خلاصه

یعني: کله چې د ذکرې شوې ښځې په هغه حالت باندې خلک خبر شوه په کوم چې د هغې خاوند تاکید کاوه چې پټ یې وساتي، ترڅو پرې همزولې او سیالې ښځې خبرې نه شي او پیغور ورنه کړي، چې هغه جنابه به خپه شي او په رسوایي کښې به واقع شي:

۱ـ نو د ښار عصري ښځو په هغې باندې ملامته واچوله او داسې یې وویلې چې:

الف: عجیبه ده د مالي وزیر مېرمنې د بل چا څخه نه بلکې د خپل غلام څخه د بد کارۍ مطالبه کړې ده، او ډېره عجیبه لا دا ده چې په مطلب کښې کامیابه شوې هم نه ده.

ب: حقیقت دا دی چې هغه په خپل غلام باندې عاشقه شوې ده او د دې په زړه کښې یې ځای نیولی دی.

ج: بې شکه چې دغه مېرمن په سخته اشتباه کښې واقع شوې ده او د اصیلو ښځو کړنلاره یې بالکل پرېښې ده او په کندو سر ده.

۲ـ کله چې دغه مېرمن د خپلو همزولو او خپلو سیالانو د ملامتۍ او پیغور لاندې واقع شوه او هغه څه ورېښ شوه د کوم څخه چې د دې مېړه (خاوند) په ډار کښې وه، نو د ملامتۍ څخه د خلاصون دپاره یې داسې پلان جوړ کړ:

الف: ټولو زنانه وو ته یې ـ چې هغې ته یې څه اهمیت درلودـ یوه مېلمستیا برابره کړه چې ټولې بې ورته ورغوښتې.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: چې ټولې راغونډې شوې نو د خوراک او څښاک په شیانو کښې یې داسې میوجات هم ورته وړاندې کړه چې په چړو سره یې پرې کول یا سپینول غوښتل.

ج: نو هرې یوې ته یې یوه-یوه چاړه په لاس کښې ورکړه، ترڅو یوه د بلې په انتظار کښې پاتې نه شي او د میوجاتو څخه استفاده وکړي.

د: په عین حالت کښې چې مېلمنې دمیوجاتو په پوست کولو باندې مشغولې وې هغې یوسف ﷺ ته امر وکړ چې دوی ته خپل ځان ورښکاره کړي او خپله نوراني څېره ورڅرګنده کړي.

۳_ کله چې په یوسف ﷺ باندې د مېلمنو ښځو سترګې ولګېدلې نو د جنون د حالت سره مخامخې شوې او یوسف ﷺ ورته ډېر عظیم الشان ښکاره شو، حتی چې په لاشعوري توګه یې خپل لاسونه په هغو چړو باندې زخمي کړه کومې چړې یې چې د میوجاتو د پوست کولو دپاره په لاسونو کښې نیولې وې.

او هم دوی ټولو په یوه خوله چیغې کړې چې:

اول: الله ﷻ ته د هر عیب څخه پاکي ده چې څومره عجیب قدرت لري.

دوهم: دغه مبارک شخصیت خو بنیادم نه دی (ښکلا یې د بنیادمانو څخه ورپورته ده).

درېیم: دا نه دی مګر باعزته او مکرمه پرښته ده.

۴_ کله چې هغې د مېلمنو ښځو وارخطایي او اضطراب ولید نو په خوله کښې یې ژبه وچلېده او په لاندې کلماتو باندې یې هغوی مخاطبې کړې:

الف: ای ښځو! دا هغه شخصیت دی چې د ده په هکله تاسو په ما باندې ملامته را اچوله او د ده په عشق کښې مو په ما باندې طعن او لعن ویلې.

ب: ای مېلمنو! تاسو چې څه اورېدلي دي هغه حقیقت لري، ما د ده څخه د هغه مطلب غوښتنه کړې وه کوم مطلب چې په عمومي توګه زنانه د نارینه وو څخه غواړي، مګر دغه مبارک شخصیت خپل ځان ادار. کړ او منفي جواب یې راکړ، حتی چې په پای کښې راباندې ستاسو په شمول ټول خلک خبر شوه.

ج: ای مېلمنو ښځو! تاسو ټولې خبرې شئ، زه په ډاګه وایم او د هیڅا څخه نه شرمېږم چې زه د خپل تصمیم څخه نه یم تېره شوې او په خپل عزم او غوښتنه باندې کلکه ولاړه یم.

نو که یوسف ﷺ هغه شی ونه کړي په کوم باندې چې زه ورته امر کوم، ضرور هرومرو به بندي کړی شي او هرومرو به سپک او ذلیل وګرځولی شي او بالآخره دغه د عزت ژوند به د لاسه ورکړي.

۵_ کله چې یوسف ﷺ ولیده چې ټولې مېلمنې ښځې د هغې په غوښتنه باندې زور اچوي او دعوت ورکوي چې د هغې د امر اطاعت وکړي نو خپل رب ﷻ ته لاس په دعاء شو چې:

الف: ای زما مهربانه ربه! ماته د دغو مکارو ښځو څخه امان راکړې، چې زه د کومې یوې په لومه کښې ونښلم او د شیطان ښکار شم.

ب: ای زما ربه! ماته بندیخانه د هغه کار څخه ډېره محبوبه ده کوم ته چې دوی ما وربلي، نو ماته

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دوی څخه نجات راکړه که څه هم په بندیتوب راته تمام شي.

ج: ای زما ربه! که ته په خپل فضل سره د دغو ښځو د فریبونو مخه زما څخه تاوه نه کړې او خپل نفس ته مې پرېږدې نو ضرور به زه دوی ته میلان وکړم او د جاهلانو څخه به وشمېرل شم، او بالآخره کوم نافذ حکم او قوي (راسخ) علم چې تا ماته راکړی دی د هغه څخه به محروم شم.

۶ـ نو په یوسف ﷺ باندې خپل رب ﷻ یو ځل بیا د خپل فضل باران ووراوه، د ده سوال یې قبول کړ او د مکارو زنانه وو د مکرونو او فریبونو مخه یې ترې تاوه کړه. یقیناً چې د ده رب ﷻ هم اورېدونکی دی د سوال کوونکو سوال اوري او قبلوي او هم پوه دی چې د سوال کوونکو د زړونو حالات ورته ښه پوره څرګند دي چې په څومره اخلاص باندې سوال کوي.

۷ـ بیا نو د هغې خاوند او نورو دوستانو ته فکر پیدا شو (الله ﷻ د دوی په زړونو کښې یو فکر ورواچاوه) هغه دا چې باید یوسف ﷺ د څه وخته پورې په بندیخانه کښې محبوس کړی شي ترڅو خبره لږه سړه شي، که نه نو د مصر ټولې ښځې به د هغې په شان شرم او حیا د پښو لاندې کړي.

خو په یاد ولرئ چې د یوسف ﷺ بندیتوب د دې کبله نه وه چې د کومې اشتباه لاندې واقع شوی وه، بلکې دوی په خپلو سترګو باندې د کمیس په حادثه کښې د ده برائت او عفت ولید، او د مصر ټولو مستوراتو پرې زړونه بایلوده (پرې عاشقې شوې)، د ده په عشق کښې یې خپل هوش د لاسه ورکړ خو ده پرې چرت هم خراب نه کړ، او بالاخره پخپله هغې د ټولو مبلمنو ښځو په وړاندې اعتراف وکړ چې یوسف ﷺ ته ما دعوت ورکړی وه او د ده د پلوه رد کړی شوی وه.

## توضیحات

۱ـ په یاد ولرئ چې د ﴿ ٱمْرَأَتُ ﴾ کلمه ـچې د زنانه معنی ورکوي ـ د خپل لفظ جمعه نه لري[۱]، اما بدون د خپل لفظ څخه لاندې درې جمعې لري چې درېواړه مکسرې (ماتې) جمعې دي[۲]:

الف: "نِسْوَة"، دا د درېوو څخه نیولې تر لسو پورې زنانه وو باندې دلالت کوي چې نحویان ورته د قلت جمعه (وړه جمعه) وایي.

ب: " نِسْوَان"، دا د درېوو څخه تر غیر متناهیوو زنانه وو پورې دلالت کولی شي چې دې ته د کثرت جمعه (لویه جمعه) ویلی کېږي.

ج: " نِسَاء"، دا هم د "نِسْوَان" غوندې د کثرت جمعه ده او افراد یې محصور نه دي.

دا هم په یاد ولرئ چې کله یو فعل غیر حقیقي مؤنث ته نسبت شي نو هلته په فعل کښې تذکیر او تانیث دواړه جائز دي حال دا چې هره یوه مکسره (ماته) جمعه نحویان د غیر حقیقي مؤنث غوندې ګڼي[۳]، نو د همدې کبله د ﴿ وَقَالَ نِسْوَةٌ ﴾ په جمله کښې فعل (قَالَ) مذکر نازل شوی دی،

(۱) لسان العرب ج۱ ص۱۵۶
(۲) مفردات الراغب ص۵۱۳
(۳) هدایة النحو ص۲۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که بالفرض "وَقَالَتْ نِسْوَةٌ" نازل شوی وی هم د عربیت د قوانینو څخه به مخالف نه وی.

## د فتی د کلمې معنی

۲_ په ﴿ فَتَىٰهَا ﴾ کښې د "فَتَى" کلمه د نوي تازه خوان دپاره وضعه شوې ده[1] خو په غلام (مملوک) باندې یې د دې کبله اطلاق کېږي چې هغه د خپل بادار په خدمت کښې مشغول وي او خدمت د ځوانانو سره ښه مناسب دی.

په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده، یعنې هغې د خپل غلام څخه ناکاره مطالبه کړې ده.

## شغاف څه ته وايي؟

۳_ په ﴿ قَدْ شَغَفَهَا حُبًّا ﴾ کښې د "شَغَفَ" کلمه د "شَغَاف" _لکه "شَرَاب"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "شَغَاف" د زړه داخل او یا د زړه منځ ته ویل کېږي[2]، او ضمیر پکښې یوسف ﷺ ته راجع دی. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې یوسف ﷺ د محبت او عِشق په اعتبار سره د هغې زړه ته داخل شوی دی او د دې د زړه پرده یې شکولې ده، حال دا چې هغه یې مملوک او غلام دی!

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: مصري ښځو خو د ذکري شوي ښځې غیبت کړی وه چې په خپل غلام باندې مینه شوې ده او لار یې خطا کړې ده، نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنیاد الله ﷻ د همدغه غیبت څخه په مکر سره تعبیر وکړ، او ﴿ بِمَكْرِهِنَّ ﴾ یې نازل کړ، حال دا چې د "مَكَر" کلمه خو د پټ تدبیر دپاره وضعه شوې ده، نه د غیبت دپاره؟

مونږ وايو چې: په همدغه غیبت کښې مصري ښځو پټ پلان په نظر کښې نیولی وه، چې هغه به پرې په غُصه شي او د خپل خان د تزکیې دپاره به راباندې یوسف ﷺ وګوري. لکه چې همداسې وشوه او په خپل پلان کښې کامیابې شوې، او پوره څرګنده ده چې دا پلان یو پټ تدبیر وه.

## مُتَّكَأً څه صیغه ده؟

۵_ د ﴿ مُتَّكَـًٔا ﴾ کلمه په اصل کښې "مُوْتَكَأً" وه _لکه "مُكْتَسَب"_ چې د اسم ظرف صیغه ده، "و" یې په "ت" باندې بدل شوی دی او بیا یې ادغام موندلی دی. د مجردو مصدر یې "وِكَاء" _لکه "لِقَاء"_ دی، "وِكَاء" هغه مزي ته وايي په کوم باندې چې د همیانۍ خوله تړله کېږي[3].

په دې مقام کښې د هغه ځای څخه چې هغې د خپلو مېلمنو زنانه وو دپاره تیار کړی وه ترڅو پکښې دوی خوراک او څښاک او هم خبرې اترې وکړي په ﴿ مُتَّكَـًٔا ﴾ سره تعبیر شوی دی[4]. یعنې

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۸۶
(۲) مفردات الراغب ص۲۶۹
(۳) لسان العرب ج۱ ص۲۰۰
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۶۷۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغه ځای په کوم کښې چې دوی د خوراک او څښاک او خبرو اترو په وخت کښې تکیه ګانې وهلې وې. او دا ځکه چې مېلمنې خو متکبرې زنانه وې او متکبران د تکیه په حالت کښې خوراک او څښاک کوي، د همدې کبله نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا آكُلُ مُتَّكِئًا»[۱] یعنې زه د تکیه په حال خوراک نه کوم.

## "حَاشَ لِلَّهِ" څه معنی؟

۶ـ مفسرینو کرامو د ﴿حَٰشَ لِلَّهِ﴾ په تحلیل کښې اوږد بحث کړی دی[۲] خو مهم ټکی پکښې دا دی چې د ﴿حَٰشَ لِلَّهِ﴾ کلمه د تنزیه معنی ورکوي[۳].

نو حاصل یې داسې کېږي چې: الله ﷻ ته د هر عیب او عجز څخه پاکي ده چې د تورو خاورو څخه یې داسې ښائسته صورت پیدا کړی دی، ته به وایې چې دا انسان نه دی چې اصلیت یې توري خاورې دي بلکې کومه پرښته ده چې اصلیت یې نور (رڼا) ده.

## د یو سف ﷺ نوراني څېره

۷ـ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د یوسف ﷺ د ښائسته څېرې په بیان سره خپل کلام ښائسته کړی دی چې داسې او داسې وه، مګر مونږ په لاندې یوه حدیث شریف باندې خپل کلام دولې ګرځوو:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې د معراج په شپه باندې مې یوسف ﷺ په دریم اسمان کښې ولید (او هرکلی یې راته وویلې) «وَإِذَا هُوَ قَدْ أُعْطِيَ شَطْرَ الْحُسْنِ»[۴] یعنې: او چې ما ورته وکتل نو یقینًا د ټول حسن (ښائست او ښکلا) نیمایي برخه ورکړه شوې وه.

## هغه په عشق کښې اوله نمره شوه

۸ـ کله چې مېلمنو ښځو یوسف ﷺ ولید نو ټولې پرې عاشقې شوې او هرې یوې په انفرادي توګه بلنه ورکړه چې: "يَا يُوسُفُ! اِقْضِ حَاجَتِي أَنَا خَيْرٌ لَكَ مِنْ سَيِّدَتِكَ"[۵] ای یوسفه! زما حاجت پوره کړه، ستا د مولاګۍ څخه خو زه درته بهتره یم (د هغې څخه خو زه ښائسته یم).

یا په بل عبارت: هرې یوې ورته د "هَيْتَ لَكَ" په کلماتو سره خطاب وکړ، البته کله به چې هرې یوې د نصیحت کولو په بهانه باندې جدا کړ، مګر ټولو ورته په اجتماعي توګه یوه خبره وکړه هغه دا چې تا په خپلې مولاګۍ باندې ظلم کړی دی چې د دې خبره دې نه ده منلې.

خو په ټولو ښځو کښې ذکره شوې میرمن د یوسف ﷺ په عشق کښې اوله نمره ووتله دا ځکه چې

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۸۱۲
(۲) البحر المحیط ج۶ ص۲۷۰
(۳) روح المعاني ج۱۲ ص۲۳۰
(۴) صحیح مسلم ج۱ ص۹۱ : مسند احمد حنبل ج۴ ص۲۹۸
(۵) تفسیر القرطبي ج۹ ص۱۸۵ : تفسیر البغوي ج۲ ص۴۲۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغې دا خل د هیڅ پروا ونه کړه او په داګه یې ترې د خپل مطلب غوښتنه وکړه او اخطار یې ورکړ چې که زما غوښتنه ونه مني نو د یو پلوه به بندي کړی شي او د بله پلوه به د ذلت سره مخامخ شي.

یوه پښتون شاعر په لاندې دوه وو بیتونو کښې همدغه حال څومره ښه تمثیل کړی دی[۱]:

زلیخا غوندې په بله شیدا نه وي :: که د مصر مستوراتې شي راټولې

هغه تېر شو چې مې مینه په غلا-غلا کړه :: اوس په درست جهان رسوا ده په غلا نه ده

## بداء څه معنی؟

۹_ د ﴿ ثُمَّ بَدَا لَهُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا رَأَوُاْ ٱلۡأٓيَٰتِ لَيَسۡجُنُنَّهُۥ حَتَّىٰ حِينٖ ﴾ په جمله کښې د ﴿ بَدَا ﴾ کلمه د "بَدْوًا" یا "بداء" څخه اشتقاقه شوې ده چې د پوره څرګندېدلو معنی ورکوي[۲] او مبهم ضمیر پکښې مستتر دی چې د ﴿ لَيَسۡجُنُنَّهُۥ ﴾ په جمله باندې تفسیر شوی دی[۳]. یعنې د هغې خاوند او د ده مشاورینو ته د یوسف ﷺ په هکله یو بل شی ښه څرګند شو او خوښ یې شو، هغه دا چې د څه وخته پورې یې بندي کړي. البته د هغه څخه وروسته چې دوی په دلایلو باندې باوري شوه او یقین یې پرې راغی چې دا کار بهتر دی.

## سوال جواب

۱۰_ که څوک وایي چې: په کومو دلایلو سره د هغې جنابې خاوند او د ده مشاورینو د یوسف ﷺ بندي کولو ته ترجیح ورکړه. یا په بل عبارت: په ﴿ مِّنۢ بَعۡدِ مَا رَأَوُاْ ٱلۡأٓيَٰتِ ﴾ کښې ﴿ ٱلۡأٓيَٰتِ ﴾ د څه شي څخه عبارت دی؟

مونږ وایو چې: اکثرو مفسرینو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ ٱلۡأٓيَٰتِ ﴾ څخه د یوسف ﷺ د عفت دلایل مراد کړي دي، لکه چې وړاندې ورته د کمیس د شا پلو ته په شکېدلو کښې اشاره شوې ده او یا څه نورې نښې نښانې چې مونږ ته الله ﷻ نه دي را حکایت کړې[۴].

نو حاصل یې داسې اخستی دی چې د هغې خاوند او د ده نژدې مشاورینو د یوسف ﷺ په هکله لوی ظلم وکړ چې د ده د عفت (پاک لمنی) دلایل یې په سترګو ولیده خو د دې سره-سره یې پرې فیصله وکړه چې د څه وخته پورې دې بندیخانې ته بوتلل شي.

دوی وایي چې بندیخانې ته یې په غټه رسوایۍ باندې بوته حتی چې یو خل یې په خره باندې سور د مصر په بازار کښې په داسې حال وګرځاوه چې جارچي به ورسره جار واهه چې دا هغه سړی دی کوم چې خپلې مولاګۍ ته په سپک نظر کتلي وه[۵].

---

(۱) د عبد الرحمن مومند دیوان
(۲) مفردات الراغب ص۳۷؛ لسان العرب ج۱۴ ص۶۵
(۳) تفسیر الکشاف ج۲ ص۴۶۸
(۴) زاد المسیر ج۴ ص۱۷۰؛ روح المعاني ج۱۲ ص۲۳۶
(۵) البحر المحیط ج۶ ص۲۷۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مگر دغه ډول تفسیر د وړاندې ایت ﴿ وَلَقَدْ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفْسِهِۦ فَٱسْتَعْصَمَ ۖ وَلَئِن لَّمْ يَفْعَلْ مَآ ءَامُرُهُۥ لَيُسْجَنَنَّ وَلَيَكُونًا مِّنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ﴾ سره منافي ښکاري، ځکه چې:

کله چې هغې جنابې د مصري مېلمنو ښځو په وړاندې په خپله گناه باندې اعتراف کړی وي او قصد یې کړی وي چې ضرور به خپل مطلب ته خپل ځان رسوي نو طبعي ده چې خلک به ورباندې خبر شوي وي، نو د دې څخه وروسته خو به د هغې په گناه او اعتراف باندې پرده اچول داسې مثال درلودلی وی لکه چې څوک لمر په گوته پټوي.

په دې تقدير به یې -په اصطلاح- په هغې باندې هغه خلک هم خبر کړي وی کوم به چې لا ورباندې خبر نه وه. او هم به په دې تقدير د جارچيانو جار وهلو ته اړتيا نه وی پاتې شوې.

مونږ ته داسې برېښي -والله ﷻ أعلم- چې دلته به د ﴿ ٱلْءَايَٰتِ ﴾ څخه هغه دلایل مطلب وي کومو چې په حاضر وخت کښې د یوسف ﷺ د بندي کولو غوښتنه کوله، هغه دا چې پخوا یوازې یوه جنابه په یوسف ﷺ باندې عاشقه شوې او وروسته لیونۍ شوې وه، خو نن ورځ ورباندې نورې ښځې هم عاشقې شوې، که نوموړی د ښځو د سترگو څخه په ځنگ نه کړو نو سبا به پرې نورې او بل سبا به پرې نورې زړونه وبايلي، نو په نژدې ورځو کښې به ټولې مصرې ښځې د عشق په مرض اخته شي. ه

دا د یوه پلوه، او د بله پلوه به روزمره د جناب وزير صاحب په کور کښې د ښځو ټېل ما ټېل، شور او غوغا او هم بېروبار جوړ وي؛ نو ښه دا ده چې یوسف ﷺ بندي کړو، د دې کبله نه چې په نوموړي کښې څه خيانت ليدلی شوی دی بلکې د دې کبله چې د عاشقانو ښځو زړونه لږ څه تسکين شي او د نورو ښځو د عاشقانو کېدلو څه مخه ونيولی شي.

شايد چې يوسف ﷺ به هم د ذکرو شوو وجوهو د کبله د خپل ځان دپاره بنديخانه خوښه کړې وي چې: ﴿ رَبِّ ٱلسِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ ﴾ يعني: ای ربه! ماته بنديخانه محبوبه ده او په فعلي شرائطو کښې راته غوره برېښي. که نه نو يوسف ﷺ به د خپل رب ﷻ څخه د بنديخانې په عوض د عافيت سوال کړی وی چې: ای ربه! د دغو مشکلاتو څخه عافيت راکړې. لکه چې په لاندې حديث کښې ورته اشاره شوې ده چې:

یوه ورځې نبي کريم ﷺ د یوه سړي څخه داسې واورېده چې: ای الله زه ستا څخه د صبر سوال کوم. نو توصيه یې ورته وکړه چې: «قَدْ سَأَلْتَ الْبَلَاءَ فَسَلِ اللهَ الْعَافِيَةَ»[1] يعني: ته خو په حقيقت کښې د خپل رب ﷻ څخه مصيبت غواړې، نو د الله ﷻ څخه د عافيت سوال وکړه.

په همدې اړوند په همدې سورت کښې د [۵۱] ايت لاندې -إن شاء الله ﷻ- څه نور بحث هم راراوان دی.

﴿ وَدَخَلَ مَعَهُ ٱلسِّجْنَ فَتَيَانِ ۖ قَالَ أَحَدُهُمَآ إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ أَعْصِرُ خَمْرًا ۖ وَقَالَ ٱلْءَاخَرُ إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ

[1] مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۲۳۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أَحْمِلُ فَوْقَ رَأْسِي خُبْزًا تَأْكُلُ ٱلطَّيْرُ مِنْهُ ۖ نَبِّئْنَا بِتَأْوِيلِهِۦٓ ۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٣٦﴾
قَالَ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِۦٓ إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِۦ قَبْلَ أَن يَأْتِيَكُمَا ۚ ذَٰلِكُمَا مِمَّا
عَلَّمَنِي رَبِّيٓ ۚ إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ ﴿٣٧﴾ وَٱتَّبَعْتُ
مِلَّةَ ءَابَآءِيٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ ۚ مَا كَانَ لَنَآ أَن نُّشْرِكَ بِٱللَّهِ مِن شَيْءٍ ۚ ذَٰلِكَ
مِن فَضْلِ ٱللَّهِ عَلَيْنَا وَعَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٣٨﴾ يَٰصَٰحِبَيِ
ٱلسِّجْنِ ءَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ﴿٣٩﴾ مَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ
أَسْمَآءً سَمَّيْتُمُوهَآ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَٰنٍ ۚ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۚ أَمَرَ
أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّآ إِيَّاهُ ۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٠﴾
يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجْنِ أَمَّآ أَحَدُكُمَا فَيَسْقِي رَبَّهُۥ خَمْرًا ۖ وَأَمَّا ٱلْءَاخَرُ فَيُصْلَبُ فَتَأْكُلُ ٱلطَّيْرُ
مِن رَّأْسِهِۦ ۚ قُضِيَ ٱلْأَمْرُ ٱلَّذِي فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ ﴿٤١﴾ وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُۥ نَاجٍ مِّنْهُمَا
ٱذْكُرْنِي عِندَ رَبِّكَ فَأَنسَىٰهُ ٱلشَّيْطَٰنُ ذِكْرَ رَبِّهِۦ فَلَبِثَ فِي ٱلسِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ ﴿٤٢﴾

[۳۶] او د یوسف ﷺ سره یو ځای بندیخانې ته (د پاچا) دوه تنه ځوانان (خدمتګاران) داخل شوه (او اندېوالي ته یې ډېر خوشاله شوه).

یوه وویلې چې: (ای یوسفه!) یقیناً زه (په خوب کښې) خپل ځان ګورم چې شراب (انګور) زبېښم (چې شراب ترې جوړ کړم)، او بل (ورته) وویلې چې: یقیناً زه خپل ځان (په خوب کښې) ګورم چې د خپل سر دپاسه ډوډۍ (په داسې حال) او چتوم چې مرغان ترې (زما د سر دپاسه) خوراک کوي.

(ای یوسفه!) د دغه هر یو خوب په تعبیر (نهایي هدف) باندې مونږ خبر کړه، یقیناً مونږ تا د نېکانو د ډلې څخه (د زړه په سترګو) ګورو.

[۳۷] یوسف (ورته) وویلې چې: تاسو دواړو ته به (نن ورځ د خپلو کورونو څخه) داسې خوراک را نه شي چې تاسو ته (روزمره) روزي درکوله کېږي مګر زه به تاسو دواړه (هر یو) د (خپل) خوب په تعبیر باندې د هغه څخه وړاندې خبر کړم چې تاسو دواړو ته راشي (او دا ځکه چې دا تعبیر) د هغې جملې څخه دی کوم چې ماته خپل رب ﷻ راښودلی دی (جادو او کوډګري نه ده).

یقیناً ما د داسې قوم دین پرېښی دی (نه دی قبول کړی) چې په الله ﷻ باندې ایمان نه راوړي او

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوی په وروستنۍ ورځې باندې همدوی کفر کوونکي دي.

[۳۸] او ما د خپلو پلرونو ابراهیم ﷺ او اسحق ﷺ او یعقوب ﷺ د دین پیروي کړې ده.
مونږ (ټولو) ته دا مناسبه نه ده چې د الله ﷻ سره څه شی شریک ودروو.
دغه (توحید) په مونږ باندې او په (ټولو) خلکو باندې د الله ﷻ فضل دی مګر اکثره خلک شکر نه کوي (شریک ورسره دروي).

[۳۹] ای زما د بندیخانې دوه وو اندیوالانو! ایا ګډوډ (ډول-ډول) مربیان (معبودان) بهتر دي (چې عبادت یې وکړی شي) او که یو الله ﷻ چې واحد (لاشریک او په هر شي باندې) غالب دی (په هرچا او هر شي باندې خپله اراده تحمیلولی شي).

[۴۰] (ای د بندیخانې ملګرو) تاسو د ده ﷻ څخه په غیر د بل هیڅ شي عبادت نه کوئ مګر د داسې نومونو چې تاسو او ستاسو پلرونو پرې نومولی دی (او واقعیت نه لري) الله ﷻ پرې هیڅ دلیل (په هیڅ زمانه کښې) نه دی نازل کړی (که واقعیت یې درلودی نو ضرور به یې دلیل هم درلودی).
(د عبادت) حکم خو نه دی مګر خاص (یوازې) الله ﷻ لره دی. الله ﷻ امر کړی دی چې تاسو (د هیڅ شي او هیچا) عبادت مه کوئ مګر یوازې د همده ﷻ (او بس، چې بل څوک په عبادت کولو باندې چاته امر او حکم نه شي کولی). دغه ولاړ (درست) دین دی مګر اکثره خلک نه پوهېږي (چې عبادت او د عبادت حکم همده ﷻ پورې اختصاص لري).

[۴۱] ای زما د بندیخانې دوه وو اندیوالانو! (ستاسو د خوبونو په تعبیر کښې وایم چې:) هر چې ستاسو دواړو یوکس دی (چې په خوب کښې یې انګور زبېښل) نو هغه به خپل بادار (مولی) ته شراب وروڅښکوي.
او هر چې (ستاسو دواړو) بل کس دی (چې په سر باندې یې مرغانو ډوډۍ خوړه) نو هغه به په دار کړی شي نو مرغان به یې د سر څخه (غوښې) وخوري.
(د الله ﷻ د پلوه) هغه کار فیصله کړی شوی دی په کوم کښې چې تاسو دواړه (زما څخه) فتوی (حکم) غواړئ.

[۴۲] او یوسف ﷺ هغه کس ته وویلې (د کوم په باره کښې چې) د ده یقین وه چې بې شکه د دوی دواړو څخه دا نجات موندونکی دی، (داسې چې): د خپل بادار (پاچا په نزد) زما یادونه وکړه (زما کیفیت او حالت ورته بیان کړه).
خو د هغه څخه د خپل بادار په نزد د یوسف ﷺ یادول شیطان هېر کړه نو څو (متعدد) کلونه په بندیخانه کښې پاتې شو.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د یوسف ﷺ د هغو حالاتو څه ذکر شوی دی کوم چې په هغه باندې په بندیخانې کښې تېر شوی وه نو خلاصه یې په لاندې ډول باندې وړاندې کېږي:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ ای پیغمبره! هلته یوه تقدیري خبره دا پېښه شوه چې د یوسف ﷷ سره بندیخانې ته دوه خوانان یا د وخت د پاچا خدمتګاران هم داخل شوه، نو یوه ورځې دوی دواړه یوسف ﷷ ته ورغلل.

یوه وویلې چې: زه په خوب کښې ګورم چې مېوې زبېښم او شراب ترې جوړوم.

بل نفر (دوهم) وویلې چې: زه خپل ځان په خوب کښې ګورم چې ډوډۍ مې په سر باندې دپاسه اوچتې کړې وې او مرغان ځي راځي او د دغې ډوډۍ څخه خوراک کوي.

دوی زیاته کړه چې: ای محترمه یوسفه! مونږ ته د دغو دواړو خوبونو څخه د هر یوه خوب تعبیر وکړه او مونږ ته معلومات راکړه چې دا به څه-څه شي ته اشاره وي.

مونږ خکه د نورو ټولو بندیانو څخه تاته مراجعه وکړه چې ته مونږ ته ډېر نېک سړی ښکارې او مونږ یقین لرو چې ته د نېکانو څخه یې او زمونږ خوبونه به په ډېره ښه طریقه تعبیر کړې، بالآخره مونږ په تا باندې یقین لرو چې ته به د خوبونو په تعبیر کښې خطا نه شې.

## د تعبیر څخه وړاندې دعوت

۲ـ یوسف ﷷ ددې څخه وړاندې چې ذکرو شوو دواړو خوانانو ته د خوبونو تعبیرونه وکړي هغوی یې دواړه اسلام ته دعوت کړه او داسې یې ورته وویلې چې:

الف: تاسو دواړه وارخطا کېږئ مه، تاسو به د خوبونو په تعبیر باندې د هغه څخه وړاندې خبر کړم چې تاسو ته همدا اوس د خوراک دپاره څه راوړل کېږي مګر زه غواړم چې تاسو ته بله یوه ډېره مهمه خبره وکړم هغه دا چې:

ب: کوم تعبیر چې زه ستاسو د خوبونو دپاره کوم هغه د الهي ارشاد په بنیاد ولاړ دی.

ج: او دا خکه چې ماته خپل رب ﷻ غیبي علم راپېرزو کړی دی نو زما په تعبیر کښې د دروغو احتمال نشته.

د: ما د هغه قوم دین ته شا کړې ده کوم چې په الله ﷻ باندې په درستو معناوو کښې ایمان نه راوړي کوم چې د وروستنۍ ورځې په قیام باندې کافر دي او عقیده پرې نه لري.

هـ: زه د هغه دین پیرو یم کوم چې زما د پلرونو دین دی، زما پلرونه د ابراهیم ﷷ، اسحق ﷷ او د یعقوب ﷷ څخه عبارت دی.

و: زمونږ ټولو عقیده دا ده چې الله ﷻ واحد لا شریک دی نو مونږ ورسره په هیڅ ډول د هیڅ شي شریک نه ودروو.

ز: دا چې مونږ په حق اسماني دین باندې پلار او د نیکه د وخت څخه راروان یاستو دا په مونږ باندې او په ټولو خلکو باندې د الله ﷻ فضل دی، مونږ همدغه الهي فضل ته خلک دعوتوو چې زمونږ پیرو جوړ شي، خو افسوس چې اکثره خلک ناشکره دي، چې د شرکیاتو څخه لاس نه اخلي او زمونږ پیروي نه کوي.

۳ـ ای زما د بندیخانې اندیوالانو! زه په اندیوالۍ کښې صادق یم او تاسو هغه شي ته دعوتوم کوم چې په حقیقت باندې ولاړ دی او څه کوږ او پاس پکښې نشته، او دا خکه چې:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: که تاسو بالفرض نور نه پوهېږئ نو د لاندې پوښتنې جواب راکړئ:
ایا متعدد او متفرق مربیان نیول بهتر دي چې عبادت یې وکړی شي حال دا چې ټول کمزوري ناتوان او د الهي ارادې په وړاندې مغلوب او مقهور دي؟ او که یوازې د الله ﷻ عبادت بهتر دی چې هیڅ شریک نه لري او په هر شي او هر معبود باندې قاهر او غالب دی چې ټول د ده ﷻ د ارادې په وړاندې مقهور او مغلوب دي؟
ب: ای ملګرو! تاسو او ستاسو غوندې نور خلک د الله ﷻ څخه په غیر صرف د نومونو عبادت کوئ چې واقعیت نه لري او تاسو او ستاسو پلرونو ورباندې د معبودانو نومونه ایښي دي.
ج: که بالفرض ستاسو معبودانو څه واقعیت درلودی نو ضرور به ورباندې الله ﷻ څه دلیل او برهان نازل کړی وی او تاسو ته به یې د عبادت څه اجازه درکړې وی خو الله ﷻ برسېره پر دې چې د هغو په حقانیت باندې یې څه دلیل نه دی نازل کړی د هغو د ابطال دلایل یې په هره زمانه کښې نازل کړي دي.
د: لنډه دا چې حکم او فیصله یوازې او یوازې الله ﷻ پورې اختصاص لري، د ده ﷻ فیصله او امر دا دی چې تاسو هیڅ شي ته عبادت مه کوئ مګر همده ﷻ ته او بس.
ه: ای ملګرو! حقاني او واقعي دین دغه دی مګر اکثره خلک نه پوهېږي او په باطلو ادیانو باندې یې ځانونه نښلولي دي چې د همدغو ناپوهانو د جملې څخه تاسو مصریان هم یاست، نو تاسو ټولو ته په کار دي چې همدغه حق دین ته راوګرځئ.

## د خوبونو تعبیر

۴ـ یعنې ای پیغمبره! کله چې یوسف ﷺ د دعوت څخه فارغ شو نو د خوبونو په هغه تعبیرونو باندې یې پیل وکړ کوم چې د همده د پلوه ټال کړی شوي وه.
نو ویې ویلې چې ای د بندیخانې دواړو ملګرو! ستاسو دواړو د خوبونو تعبیر دا دی:
اول: چا چې په خوب کښې لیدلي وه چې انګور یې زبېښل او شراب یې ترې جوړول هغه به خپل بادار (پاچا) ته شراب جوړ کړي او په همغه باندې به یې وڅښکوي. یا په بل عبارت: هغه به بري الذمه شي او بېرته به په خپله پخوانۍ وظیفه (دنده) باندې وټاکل شي.
دوهم: چا چې په خپل سر باندې دپاسه ډوډۍ لیدلې وه چې مرغانو په مښکو باندې ترې شکوله او خوړله یې، هغه به په دار کړی شي او مرغان به یې د سر غوښې وخوري.
ای ملګرو! په کوم کار (خوبونو) کښې چې تاسو زما څخه په کلکه پوښتنه کوئ په هغو کښې دغه ډول فیصله کړی شوې ده چې ضرور به واقع شي او تغیر به قبول نه کړي.

## د یوسف ﷺ وړاندیز

۵ـ په پای کښې یوسف ﷺ د ذکرو شوو دواړو ملګرو څخه هغه ملګري ته یوه خبره وکړه کوم چې د ده یقین وه چې دا به ډېر ژر د بندیخانې څخه خلاص شي او د پخوانۍ وظیفې (دندې) په

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مطابق به شپه او ورځ د پاچا په وړاندې ناسته ولاړه وکړي.

خبره دا وه چې: د خپل بادار (پاچا) په وړاندې زما یادونه وکړه چې په بندیخانه کښې دغسې یو صالح سړی بې ګناه بندي دی چې د دین په باره کښې یې مونږ ته داسې-داسې خبرې وکړې او د خوبونو په هکله یې راته داسې-داسې تعبیرونه وکړه، چې دواړو تعبیرونو واقعیت مونده کړ.

مګر ذکر شوې خبره د نومړي ملګري څخه د شیطاني وسوسو د کبله هېره شوه او د خپل بادار په وړاندې یې د یوسف ﷺ یادونه ونه کړه نو د همدې کبله څو کاله په بندیخانه کښې پاتې شو.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ وَدَخَلَ مَعَهُ ٱلسِّجْنَ فَتَيَانِ ﴾ په جمله کښې د ﴿ فَتَيَانِ ﴾ کلمه د "فتی" دپاره مثنی ده، او مونږ ـ د الله ﷻ په توفیق ـ د وړاندې دبرشم ایت لاندې لیکلي دي چې: د "فتی" کلمه اصلا د ځوان زلمي دپاره وضعه شوې ده چې په خدمت کښې مشغول وي او په غلام باندې یې هم اطلاق کېږي.

زمونږ په خیال په دې مقام کښې به د ﴿ فَتَيَانِ ﴾ د کلمې څخه دوه غلامان مطلب نه وي بلکې دوه خدمتګاران به مراد وي چې دواړه ازاد او د فردي ملکیت خاوندان وي، او دا څکه چې:

الف: ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې ذکر شوي دواړه ځوانان یو د پاچا د مشروباتو (د څښکلو د شیانو) رئیس وه او بل یې د ماکولاتو (خوراکي شیانو) رئیس وه[1]، او پوره واضحه ده چې غلامانو ته به د غلامۍ په حالت کښې ریاستونه نه وي ورکړی شوي.

ب: او ځینو لیکلي دي چې په دوی دواړو باندې اتهام لګېدلی وه چې رشوت یې اخستی دی ترڅو پاچا ته په خوراک او څښاک کښې زهریات واچوي[2] او په همدې ذریعه یې قتل کړي، او د هیچا څخه پټه نه ده که بالفرض هغوی دواړه غلامان وی نو فردي ملکیت به یې نه درلودی او د رشوت اخستلو ته به یې زړه نه وی ښه کړی او نه به وړباندې اتهام لګولی شوی وی.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په ذکره شوې جمله کښې د ﴿ وَدَخَلَ ﴾ کلمه دلالت کوي چې دوی دواړه په خپله خوښه بندیخانې ته داخل شوي وه که نه نو د "أُدْخِلَ" کلمه به نازله شوې وی، یعني دوی دواړه بندیخانې ته داخل کړی شول (نه دا چې ور داخل شوه)؟

مونږ وایو چې: په ذکر شوې جمله کښې د ﴿ مَعَه ﴾ کلمه هم نازله شوې ده چې ضمیر یې یوسف ﷺ ته راجع دی، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د یوسف ﷺ سره په یوه وخت کښې د پاچا دوه کسه خدمتګاران هم بندیخانې ته داخل کړی شوه[3] خو څرنګه چې دواړه د ده ﷺ په اندیوالی

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۹ ص۲۲۲

(۲) تفسیر البغوي ج۲ ص۴۲۵

(۳) البحر المحیط ج۶ ص۲۷۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې زیات خوشاله شوه نو تا به ویل چې دوی په خپل رغبت سره بندیخانې ته ور داخل شوي دي او په دوی باندې کوم زور نه دی شوی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه کله چې هغوی ولیده چې یوسف علیه السلام بدون د جنایته بندي کړی شو او د غم کوم اثر د ده په مبارکه څېره کښې نه لیده کېده نو دوی هم داده شوه او بندیخانه ورته یوه مېله ځای ځرګنده شوه.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وایي چې د ﴿ إِنِّي أَرَىٰنِي أَعْصِرُ خَمْرًا ﴾ معنی خو دا ده چې یقیناً زه (په خوب کښې) ګورم چې شراب زبېښم، حال دا چې کله انګور وزبېښل شي نو شراب ترې جوړ شي؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا شراب زبېښل کېږي؟

مونږ وایو: څرنګه چې دانګورو او د زبېښلو دواړه زمانې سره یو تربله نژدېکت لري نو انګور داسې وګڼل شوه لکه چې پخپله شراب وي. یا په بل عبارت: دلته د ﴿ خَمْرًا ﴾ څخه د مجاز په توګه انګور مراد دي، نه شراب.

د دې ډول مجاز نظیر کټ مټ په لاندې حدیث کښې تحقق موندلی دی، نبي کریم ﷺ په یوه غزا کښې فرمایلي دي چې: «مَنْ قَتَلَ قَتِيلاً لَهُ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ فَلَهُ سَلَبُهُ»[1] یعنې: هرڅوک چې وژل شوی (قریب القتل) ووژني او واضحه دلیل هم ورباندې ولري نو همغه سړي ته د وژل شوي سامان دی (نور مجاهدین پکښې د غنیمت په توګه حق نه لري).

## دوه ډوله تفسیر

۴ـ دغه جملې ﴿ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِۦٓ إِلَّا نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِۦ قَبْلَ أَن يَأْتِيَكُمَا ﴾ مفسرینو کرامو په لاندې ډولونو باندې تفسیر کړې دی:

الف: ځینو جیدو علماوو کرامو د ﴿ بِتَأْوِيلِهِۦ ﴾ ضمیر "طعام" ته راجع اخستی دی او د معنی حاصل یې داسې را ویستلی دی چې: ای د بندیخانې ملګروا زه چې کوم تعبیر تاسو ته کوم نو هغه ماته په وحې باندې معلوم شوی دی او دا ځکه چې زه پیغمبر یم، همدا نن چې تاسو ته د خپلو کورونو څخه کوم طعام راروان دی هغه ماته په وحې باندې معلوم دی چې داسې-داسې به وي، زه کاهن او جادوګر نه یم بلکې دا ټول هغه شیان دي چې ماته خپل رب ﷻ رانبودلي دي[2].

نو دا معجزه هغې معجزې ته ورته ده کومه چې د عیسی علیه السلام د معجزاتو څخه شمېرلې شوې وه، چې: ﴿ وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ ﴾ [آل عمران:۴۹] یعنې: او زه به تاسو په هغه شي باندې خبر کړم کوم چې تاسو یې خورئ او کوم چې تاسو یې په خپلو کورونو کښې زخیره کوئ (او بلې ورځې ته یې ساتئ).

---

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۲۸۵
(۲) روح المعاني ج۱۲ ص۲۴۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر دا تفسير مونږ ته خوندور نه برېښي، ځکه چې په دې تفسير کښې بې ضرورته په ﴿ بِتَأْوِيلِهِۦ ﴾ کښې د "تاويل" د کلمې خپله اصلي معنی پرېښودله شوې ده او په معنی د کشف سره اخستې شوې ده، حال دا چې ذکر شوو دوارو بنديانو خو د يوسف عليه السلام څخه څه معجزه هم نه وه غوښتې چې معجزې ځرګندولو ته څه اړتيا پېښه شوې وی بلکې هغوی خو ورته ډېره ښه عقيده درلوده، د همدې کبله يې مخاطب کړ چې: ﴿ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴾ يقيناً مونږ تا ګورو چې ته د نېکانو د ډلې څخه يې.

ب. مونږ ته بهتره برېښي چې د دې ايت د ﴿ بِتَأْوِيلِهِۦ ﴾ ضمير به هغه شي ته راجع وي کوم ته چې په وړاندې ايت شريف کښې د ﴿ بِتَأْوِيلِهِۦ ﴾ ضمير راجع دی چې د بنديانو د خوبونو څخه عبارت دی. او د تاويل کلمه په خپله اصلي معنی باندې پاتې ده چې د مآل (نهايي هدف) معنی ده[1].

نو حاصل به يې داسې راوځېږي چې: ای د بنديخانې ملګرو! ستاسو د خوبونو د تعبيرولو څخه وړاندې زه غواړم چې تاسو ته يوه ډېره مهمه خبره وکړم په هغې باندې پوهېدل د خوبونو د تعبيرونو څخه زيات ارزښت لري، اما تاسو وارخطا کېږئ مه، همدا د نن ورځې دپاره به تاسو ته خوراک او څښاک نه وي درغلی چې د هغه څخه وړاندې به زه تاسو د خپلو خوبونو په تعبيرونو باندې پوه کړم، مهمه خبره دا ده چې: ﴿ إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ ﴾ تر آخره پورې.

## بيا هم دوه ډوله تفسير

۵ـ د ﴿ قُضِيَ ٱلْأَمْرُ ٱلَّذِى فِيهِ تَسْتَفْتِيَانِ ﴾ جمله په لاندې دوه ډولونو باندې تفسيره شوې ده:

الف: کله چې يوسف عليه السلام د خوبونو تعبيرونه وکړه نو دواړو د خپلو خوبونو څخه انکار وکړ چې مونږ دروغ جوړ کړي وه[2]، مونږ يوه هم ذکر شوي خوبونه نه دي ليدلي.

نو يوسف عليه السلام په ذکره شوې جمله باندې جواب ورکړ چې ستاسو دواړو په باره کښې همدغه فيصله خبره ده کومه چې ما درواوروله، ستاسو انکار ورباندې کوم اثر نه شي غورزولی.

ب: ذکره شوې جمله يوسف عليه السلام هغوی ته صرف د دې دپاره درواوروله چې په تعبير کښې څه کوز پاس نشته او په واقعيت باندې ولاړ دی[3]، نه د دې دپاره چې د هغوی د خوبونو څخه انکار جواب کړي. مونږ ته همدغه دوهم تفسير په تبادر سره ذهن ته راځي.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي هرکله چې: ذکر شوی دواړه تعبيرونه د واقعيت په بنياد وه چې يوسف عليه السلام ته وحې کړی شوي وه، نو په کار دي چې د ﴿ وَقَالَ لِلَّذِى ظَنَّ أَنَّهُۥ نَاجٍ ﴾ په جمله کښې د ﴿ ظَنَّ ﴾ په عوض د "علم" کلمه نازله شوې وی؟

---

(۱) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۸۴
(۲) تفسير القرطبي ج۹ ص۱۹۲
(۳) روح المعاني ج۱۲ ص۲۴۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: د ﴿ ظَنَّ ﴾ په كلمه كښې خباز (خوب ليدونكي) ته ضمير راجع دى[١] چې په خپل نجات باندې يې يقين نه وه خو په عاقبت كښې پرې متيقن شو. او كه يوسف ﷺ ته راجع وي نو په جواب كښې وايو چې په دې مقام كښې د ﴿ ظَنَّ ﴾ كلمه د "عَلِمَ" د كلمې معنى وركوي او دا ډول استعمال په عربيت كښې شته دى[٢]، مونږ ته همدغه دوهم صورت متبادر ښكاري.

## يادونه

٧ـ په ياد ولرئ چې ځينو علماوو كرامو د ﴿ فَأَنسَٰهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ ذِكۡرَ رَبِّهِۦ ﴾ په جمله كښې دواړه ضميرونه يوسف ﷺ ته راجع اخستي او ډېر واهيات يې ذكر كړي دي[٣] چې سرې ته اسرائيليات برېښي مگر يو حديث يې پكښې د نبي كريم ﷺ څخه هم روايت كړى دى خو العلامه ابن كثير هغه هم بالكل ضعيف گڼلى دى[٤].

نو دوى يې حاصل داسې اخستى چې: يوسف ﷺ خباز ته وويلې چې ما د پاچا په وړاندې ياد كړه، د ده ﷺ څخه شيطان خپل رب ﷻ هېر كړ، كه نه نو يوسف ﷺ ته په كار وه چې خپل رب ﷻ ته يې احتياج وړاندې كړى وى، نه خباز ته.

مگر مونږ ته داسې برېښي چې ذكر شوي دواړه ضميرونه خباز ته راجع دي چې د نجات خوب يې ليدلى وه، څكه چې په راتلونكي پنځه څلوېښتم ايت كښې د ﴿ وَٱدَّكَرَ بَعۡدَ أُمَّةٍ ﴾ ضمير بالاتفاق همده ته راجع دى. نو د معنى حاصل يې داسې كېږي چې: د خباز څخه د وسواس په ذريعه د يوسف ﷺ توصيه هېره شوه خو څه موده وروسته ورپه زړه شوه.

## د "بِضۡع" كلمه د څومره عدد څخه عبارت ده؟

٨ـ د "بَضۡع" كلمه ـلكه "ضَرۡب"ـ هغې پستې غوښې ته وضعه شوې ده كومه چې د نورې غوښې څخه پرې كړى شي، او "بِضَاعَة" هغه پراخه مال ته ويل كېږي كوم چې د تجارت دپاره ساتلى شوى وي.

خو د "بِضۡع" كلمه ـلكه "عِلۡم"ـ په څو متعددو كلونو كښې د كنايې په توگه استعمالېږي[٥] چې علماوو كرامو پكښې تقريبًا نهه قوله كړي دي[٦]، خو يو قول هم پكښې داسې نشته چې د لسو كلونو څخه اضافه كلونه ترې مراد شوي وي.

پاتې شوه داخبره چې يوسف ﷺ به په بنديخانه كښې ټول څو كلونه تېر كړي وي، نو په دې كښې لاندې اقوال د مثال په توگه ولولئ:

---

(١) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٣ ص٨٥
(٢) تفسير الكشاف ج٢ ص٤٧٢؛ تفسير القاسمي ج٩ ص٢٢٨
(٣) تفسير الخازن ج٣ ص٤١٠؛ تفسير البغوي ج٢ ص٤٢٨
(٤) تفسير ابن كثير ج٢ ص٤٧٩
(٥) مفردات الراغب ص٤٧
(٦) زاد المسير ج٤ ص١٧٤

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: اکثره علماء کرام وايي چې د يوسف ﷺ د بنديخانې ټول کلونه اوه کالو ته ورسېده[۱].

ب: ځينې وايي چې د ذکرو شوو دواړو بنديانو د خلاصون څخه وروسته هم نوموړي دوه کاله يا اوه کاله په زندان کښې تېر کړه، چې مجموعه نهه يا څوارلس کاله کېږي[۲].

ج: خو بهتره دا ده چې سړی د کلونو په تعين کښې په کوم خاص عدد باندې يقين ونه کړي او الله ﷻ ته يې وسپاري[۳] ځکه چې ضرورت ورته نشته.

په هر تقدير، دزندان کلونو يوسف ﷺ ته داسې مثال درلود لکه څنګه چې د الحراء په غار کښې نبي کريم ﷺ د خپل رب ﷻ په عبادت کښې مشغول وه او همدلته په نبوت باندې سرلوړی شو[۴].

﴿وَقَالَ ٱلْمَلِكُ إِنِّىٓ أَرَىٰ سَبْعَ بَقَرَٰتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعَ سُنۢبُلَٰتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٍ ۖ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ أَفْتُونِى فِى رُءْيَٰىَ إِن كُنتُمْ لِلرُّءْيَا تَعْبُرُونَ ﴿٤٣﴾ قَالُوٓا۟ أَضْغَٰثُ أَحْلَٰمٍ ۖ وَمَا نَحْنُ بِتَأْوِيلِ ٱلْأَحْلَٰمِ بِعَٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ وَقَالَ ٱلَّذِى نَجَا مِنْهُمَا وَٱدَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ أَنَا۠ أُنَبِّئُكُم بِتَأْوِيلِهِۦ فَأَرْسِلُونِ ﴿٤٥﴾ يُوسُفُ أَيُّهَا ٱلصِّدِّيقُ أَفْتِنَا فِى سَبْعِ بَقَرَٰتٍ سِمَانٍ يَأْكُلُهُنَّ سَبْعٌ عِجَافٌ وَسَبْعِ سُنۢبُلَٰتٍ خُضْرٍ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٍ لَّعَلِّىٓ أَرْجِعُ إِلَى ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٤٦﴾ قَالَ تَزْرَعُونَ سَبْعَ سِنِينَ دَأَبًا فَمَا حَصَدتُّمْ فَذَرُوهُ فِى سُنۢبُلِهِۦٓ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّا تَأْكُلُونَ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ سَبْعٌ شِدَادٌ يَأْكُلْنَ مَا قَدَّمْتُمْ لَهُنَّ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّا تُحْصِنُونَ ﴿٤٨﴾ ثُمَّ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ عَامٌ فِيهِ يُغَاثُ ٱلنَّاسُ وَفِيهِ يَعْصِرُونَ ﴿٤٩﴾﴾

[۴۳] او (د وخت) پاچا وويلې چې: يقيناً زه په خوب کښې اوه څربې غواګانې ګورم چې اوه ډنګرې غواګانې يې خوري، او اوه شنه (تازه) وږي ګورم او نور (اوه) وچ (وږي ګورم چې د شنو وږو څخه راتاو شي او وچ يې کړي).

ای (د مملکت) مشرانو! ماته زما په خوب کښې فتوی (فيصله) راکړئ، که تاسو ياست چې خوب (د نهايي هدف په لور) تېرولی شئ (تعبير يې کولی شئ).

(۱) تفسير البغوي ج۲ ص۴۲۸
(۲) البحر المحيط ج۶ ص۲۸۰؛ تفسير القرطبي ج۹ ص۱۹۷
(۳) روح المعاني ج۱۲ ص۲۴۷
(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۴] مشرانو وویلې چې: (ستا خوب) د شیطاني خوبونو ګډې دی او مونږ د شیطاني (باطلو) خوبونو په تعبیر باندې پوه نه یاستو (او نه دا ډول خوبونه تعبیر لري).

[۴۵] او هغه سړي وویلې کوم چې د دواړو (بندیخاني د ملګرو) څخه نجات موندلی وه (کوم چې د پاچا د خوراکي شیانو د انتظام مشر وه) په داسې حال کښې چې د څه مودې څخه وروسته (د یوسف ﷺ توصیه) وریه زړه شوه، (داسې یې وویلې چې: ای په تعبیر کښې ناکامانو او ای پاچا) زه به تاسو ته د دې خوب په تعبیر باندې خبر درکړم (ماته ډېر ښه تعبیر کوونکی سړی معلوم دی) نو همدا ما وریسې ولېږئ.

[۴۶] (کله چې هغوی ورته وظیفه ورکړه نو بندیخاني ته لاړ او یوسف ﷺ یې مخاطب کړ چې) ای یوسفه! ای صدیقه! (ډېر رښتیا ویونکیه) مونږ ته په اوو څربو غواګانو کښې فیصله راکړه چې اوه ډنګرې غواګانې ﷺ وخوري، او هم په اوو شنو وږو کښې او په نورو (اوو) وچو (وږو کښې هم فیصله راکړه چې د شنو وږو څخه راتاو شي او وچ یې کړي، البته دا هله چې څوک په ذکر شوي ډول سره غواګانې او وږي په خوب کښې وګوري).

ماته مناسب دي چې (همدا زه د فیصلې سره هغو) خلکو ته بېرته ورشم (کومو چې زه تاته رالېږلی یم) شاید چې دوی (ټول د خوب په تعبیر او ستا په فضیلت باندې) پوه شي.

[۴۷] یوسف ﷺ (په جواب کښې ورته) وویلې چې: تاسو به اوه کاله په مستمره توګه کرونده وکړئ نو کوم (حاصلات) چې تاسو وریبل هغه په خپلو وږو کښې پرېږدئ (او غوبل کوئ یې مه) مګر لږ (غوبل کړئ) چې د هغو (حاصلاتو) څخه عبارت دي کوم چې تاسو (روزمره) خورئ.

[۴۸] بیا به د دغو اوو کالو څخه وروسته داسې سخت کلونه راشي چې دغه (کلونه به) هغه (حاصلات) وخوري (ختم کړي) کوم چې تاسو د همدې (سختو کلونو) دپاره وړاندې (زخیره کړي) وي، مګر (فقط) لږ (به پاتې شي) چې (دا لږ) د هغه (حاصلاتو) څخه عبارت دي کوم چې تاسو (د تخم او کرلو دپاره) ساتئ.

[۴۹] بیا به د دغو (سختو کلونو) څخه وروسته داسې کال راشي چې په دې کښې به د خلکو فریادرسي وشي (او بارانونه به ورې وورېږي) او په دې کښې به (میوجات پریمانه شي او) خلک به یې لعاب وباسي (او حسونه به ترې جوړوي).

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! کله چې الله ﷻ اراده وکړه چې یوسف د بندیخاني څخه را وباسي او د انزوا (بوازېتوب) حالت ته یې خاتمه ورکړي او بالآخره کله چې یوسف ﷺ د هر حیثه ښه پوخ شو او د مکارو ښځو د فتنې خطر هم د منځه لاړ نو لاندې نقشه یې په عمل کښې پیاده کړه:

۱ـ د وخت پاچا خپل ټول اراکین (د شورا غړي) او نور مشران وروبلل او بیا یې مخاطب کړ چې:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: زه خوب گورم چې اوه ډنګرې غواګانې پورته شي او اوه څربې غواګانې وخوري او پوپنا یې کړي.

ب: همدارنګه اوه وچ وږي ګورم چې د نورو اوو شنو وږو څخه ورتاو شي او رطوبت یې وزبېښي (وچ یې کړي).

ج: ای د مملکت مشرانو او پوهانو! ماته زما د خوب په هکله په اتفاقي توګه فیصله راکړئ او تعبیر یې وکړئ، که په تاسو کښې دا قوت او توان وي چې د خوبونو تعبیرونه کولی شئ.

۲ـ د مجلس حاضرینو ټولو په یوه خوله پاچاته جواب ورکړ چې دا کوم معنی لرونکی خوب نه دی بلکې یو ګډ وډ خوب دی او د باطلو خیالاتو مجموعه ده.

مونږ د خوبونو په تعبیرونو باندې پوهېږو مګر د دغسې ګډو وډو خوبونو په تعبیرونو باندې نه پوهېږو بلکې دا هیڅ تعبیر نه لري.

## هېره شوې خبره ور په یاد شوه

۳ـ د بندیخانې د دوه وو ملګرو څخه چې کوم یوه نجات موندلی وه او یوسف ﷺ ورته د خپل خان په باره کښې څه توصیه کړې وه هغه د څه مودې (څو کالو) څخه وروسته په یاده شوه، او د پاچا په حضور کښې یې د وړاندې کولو وخت هم پوره مناسب وه، نو هغه عرض وکړ چې:

الف: په بندیخانې کښې یو سړی بندي دی چې څه جنایت یې هم نه دی کړی خو ډېر صالح او هوښیار سړی دی او زه یې ډېر ښه پېژنم.

ب: نوموړی د خوبونو په تعبیرونو کښې ډېر ماهر دی، ماته او زما ملګري ته یې چې د خوبونو کوم تعبیر راکړی وه کټ مټ همغسې واقع شو چې ما نجات مونده کړ او هغه په دار شو.

ج: ماته اجازه راکړئ چې زه درته د همغه بندي څخه ډېر ښه تعبیر راوړم بلکې ما هغه ته ورولېږئ ترڅو زه د پاچا استازی جوړ شم، هغه زما د بندي خانې ملګری دی.

هغوی دا وړاندیز ومانه او نوموړی یې بندیخانې ته ورولېږه چې د یوسف ﷺ په حضور کښې یې په ډېره مؤدبانه توګه عرض وکړ چې:

الف: ای یوسفه! ای ډېره رښتینیه! ته په خبرو کښې صادق او په اندیوالی کښې مخلص یې، ما چې تر اوسه پورې ستا پوښتنه نه ده کړې دا زما قصور دی او چې ستا توصیه مې خای ته نه ده رسولې هغه زما څخه د شیطاني وسواس د کبله هېره شوې وه.

ب: زه اوس تاته د همغه سړي د خوب د تعبیر دپاره راغلی یم د کوم په هکله چې تا ماته توصیه کړې وه او زما څخه تر اوسه پورې هېره وه خو د رایادېدلو سره سم مې ستا حالات هغه ته شرحه کړه چې په نتیجه کښې یې زه ستاسو حضور ته راولېږلم چې د هغه د خوب تعبیر ورووړم.

ج: نوموړي داسې خوب لیدلی دی چې اوو ډنګرو غواګانو نورې اوه څربې غواګانې وخوړې او اوه وچ وږي د نورو اوو لمدو وږو څخه راتاو شوه او په خپل منځکښې یې وچ کړه.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: نو ای محترمه یوسفه! مونږ ته د ذکر شوي خوب په تعبیر کښې فتوی او فیصله راکړه لکه څنګه چې دې پخوا مونږ ته په خوبونو کښې قاطعه فیصله راکړې وه.

دا د دې دپاره چې زه پاچا او هغو خلکو ته بېرته ورشم کوم چې د ذکر شوي خوب په تعبیر کښې ناکام شوي دي او اوس ستا تعبیر ته سترګې په لار دي.

نو امید دی چې د یوه پلوه به هغوی په خپله غلطۍ باندې پوه شي او د بله پلوه به ستا په اوچته پوهه باندې معترف او هم به ستا په نورو حالاتو او کیفیاتو باندې خبر شي.

## اول تدبیر او بیا تعبیر

۴_ څرنګه چې یوسف ﷺ د هغه تعبیر څخه مطمئن وه کوم یې چې په زړه کښې نبولی وه نو پاچا ته یې د قاصد په لاس د خوب تعبیر او د خطراتو د مقابلې تدبیر دواړه ورواستول چې:

الف. اوه کلونه به ځمکې ډېر حاصلات ورکړي او غلې دانې به ډېرې پرېمانه وي چې همدغو اوو کلونو ته په اوه څربو غواګانو او یا اوو وږو سره اشاره شوې ده.

ب: نو په دغو اوو کلونو کښې تاسو په دوامداره او نه ستړې کېدونکي توګه کښت اوکرونده وکړئ ترڅو د ځمکو څخه پرېمانه حاصلات واخلئ.

ج: مګر د دغو حاصلاتو پوره ساتنه وکړئ حتی کوم حاصلات چې تاسو لو کړه او ومو رېبله هغه په وږو کښې وساتئ او څپرونه پرې مه ګرځوئ ترڅو د حشراتو او ونو څخه خوندي پاتې شي.

یا په بل عبارت: د خپل روزمره خوراک څخه اضافه ټولې غلې دانې وساتئ اوحفاظت یې وکړئ.

د: کله چې ذکر شوي اوه اباد کلونه تېر شي نو په تعقیب به یې نور اوه کلونه ډېر سخت راشي چې ځمکې به حاصلات نه ورکوي او غلې دانې به چاته لاس ته نه ورځي، دغو کلونو ته په اوو ډنګرو یا اوو وچو وږو باندې اشاره شوې ده.

ه: په دغې اوه کاله وچکالۍ کښې به هغه حاصلات ټول ختم شي کوم چې تاسو د همدغو سختو کلونو دپاره ساتلي او ذخیره کړي وي، مګر لږ شی به د هغو څخه ستاسو په لاس کښې پاتې شي کوم چې تاسو د بیا کرلو او تخمونو دپاره ساتلي وي.

و: د دغو اوو سختو کلونو څخه وروسته به د قحطۍ لمنه ټوله شي او د پراخۍ کال به د بره شي.

یا په بل عبارت: په اتم کال کښې به د خلکو فریادرسي وکړی شي، لوږه به ختمه شي، حاصلات به ډېر شي، بارانونه به پرې وشي او میوجات به پرېمانه شي چې خلک به ترې جوسونه هم جوړوي.

نو ای د پاچا د ساقیانو مشره! ته به هم په دغه اباد کال کښې د میوجاتو څخه ډېر جوسونه جوړ کړې.

## توضیحات

۱_ کوم پاچا چې ذکر شوی خوب لیدلی وه هغه "ریان" نومېده او کفري عقیده یې درلوده[1].

(۱) روح المعاني ج۱۲ ص۲۴۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ د ﴿ سِمَانٍ ﴾ كلمه د "سَمِين" يا "سَمِينَة" جمعه ده[۱]، لكه چې د ﴿ عِجَاف ﴾ كلمه د "اعْجَف" يا "عَجْفَاء" جمعه ده[۲]. په دې مقام كښې ذكرې شوې دواړه كلمې په ترتيب سره د بنو څربو (چاغو) غواګانو او د ډېرو ډنګرو (خوارو) غواګانو څخه عبارت دي.

د وخت پاچا په خوب كښې يو مضمون په دوه وو څېرو كښې ليدلى وه چې يوه د غواګانو څېره وه او بله د وږو څېره وه، د همدې كبله يوسف ؈ دواړو ته يو تعبير وكړ.

## "أَضْغَاثُ أَحْلَام" څه معنى؟

۳_ د ﴿ أَضْغَـٰثُ ﴾ كلمه د "ضِغْث" _لكه "عِلْم"_ جمعه ده، "ضِغْث" د وښو (نباتاتو) هغې متوسطې مجموعې ته ويل كېږي چې د ګېډۍ څخه وړه او د موټې څخه غټه وي او هم يې د مختلفو انواعو څخه تركيب موندلى وي[۳].

او د ﴿ أَحْلَـٰمِ ﴾ كلمه د "حُلم" _لكه "شُغل"_ جمعه ده، كه څه هم په لغت كښې د "حُلم" كلمه د هر ډول خوب دپاره وضعه شوې ده، برابره خبره ده چې حق وي او كه باطل وي، مګر په شريعت كښې يوازې په باطل خوب كښې استعمالېږي او بس[۴]. د همدې كبله نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الرُّؤْيَا مِنَ اللهِ وَالْحُلْمُ مِنَ الشَّيْطَانِ»[۵] يعنې: رويا د هغه خوب نوم دى كوم چې د الله ﷻ د پلوه وي (حق وي)، او حلم هغه خوب ته ويل كېږي چې باطل وي او د شيطان د طرفه وي (په وسوسو باندې ولاړ وي).

نو په دې مقام كښې يې د معنى حاصل داسې راځېږي چې: اى پاچا! ستا ذكر شوى خوب بل شى نه دى بلكې فقط د باطلو او شيطاني خوبونو د مجموعو څخه يې تركيب موندلى دى.

## يو صرفي تحليل

۴_ په ﴿ وَٱدَّكَرَ ﴾ كښې د "اِدَّكَرَ" كلمه په اصل كښې "اِذْتَكَرَ" _لكه "اكْتَسَبَ"_ وه چې اصلا د ذكر څخه اشتقاقه شوې ده، نو يو ځل "ت" په "د" باندې بدله شوې ده او بيا "ذ" په "د" كښې ادغام موندلى دى چې دواړه قريب المخرج دي، نو "اِدَّكَرَ" ترې جوړ شوى دى.

نو د معنى حاصل يې داسې كېږي چې: د يوسف ؈ د بنديخانې د دوه وو ملګرو څخه چې كوم يوه نجات موندلى وه هغه ته څه موده وروسته په ډېر مناسب وخت كښې هغه توصيه وريه زړه شوه چې د پاچا په وړاندې د ده يادښت وكړي. دا وخت څكه مناسب وه چې:

(۱) تفسير الكشاف ج۲ ص۴۷۳
(۲) مفردات الراغب ص۳۳۴
(۳) روح المعاني ج۱۲ ص۲۵۱
(۴) زاد المسير ج۴ ص۱۷۶
(۵) صحيح البخاري ج۲ ص۱۰۳۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د وخت پاچا د خپل خوب په تعبیر کښې یوسف ﷺ ته محتاج ګرځېدلی وه، نو د ده د حالاتو ذکر به یې د زړه په غوږونو اورېدلی وي.

ب: د مملکت ټول مخور د پاچا د خوب څخه عاجز پاتې شوي وه، نو پوره واضحه ده چې دوی ټولو به د یوسف ﷺ په ذکاوت او پوهه باندې اعراف کړی وي البته کله چې د خوب په تعبیر باندې خبر شوي وي.

د دې څخه وړاندې که بالفرض د وخت پاچا یوسف ﷺ ته په څه منزلت باندې قائل شوی وی نو ضرور به د وطن د مخورو د پلوه د اعتراض لاندې واقع شوی وی چې ایا ته په مونږ باندې یوه بېګانه سړي ته ترجیح ورکوې حال دا چې مونږ د وطن اصلي اوسېدونکي یاستو او هغه غیر ملکي سړی دی؟.

﴿وَقَالَ ٱلْمَلِكُ ٱئْتُونِي بِهِۦ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُ ٱلرَّسُولُ قَالَ ٱرْجِعْ إِلَىٰ رَبِّكَ فَسْـَٔلْهُ مَا بَالُ ٱلنِّسْوَةِ ٱلَّٰتِى قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ ۚ إِنَّ رَبِّى بِكَيْدِهِنَّ عَلِيمٌ ۝٥٠ قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَٰوَدتُّنَّ يُوسُفَ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ قُلْنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ مِن سُوٓءٍ ۚ قَالَتِ ٱمْرَأَتُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْـَٰٔنَ حَصْحَصَ ٱلْحَقُّ أَنَا۠ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفْسِهِۦ وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ۝٥١ ذَٰلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّى لَمْ أَخُنْهُ بِٱلْغَيْبِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى كَيْدَ ٱلْخَآئِنِينَ ۝٥٢﴾

[۵۰] او پاچا وویلې چې ماته یوسف ﷺ راولئ: نو کله چې هغه ته (د پاچا لېږلی شوی) قاصد ورغی نو یوسف ﷺ ورته وویلې چې: بېرته خپل بادار (پاچا) ته ورو ګرځه نو پوښتنه ترې وکړه چې د هغو ښځو څه حال وه کومو چې خپل لاسونه پرې کړي (غوڅ کړي) وه، یقیناً زما رب ﷻ د هغوی په مکر (فرېب) باندې ښه پوه دی.

[۵۱] (نو پاچا ښځې راتولې کړې او ورته یې) وویلې چې: هغه وخت ستاسو څه حال وه کله چې تاسو د یوسف ﷺ څخه د ده د نفس د کبله مطالبه کړې وه (ایا ده تاسو ته میلان وکړ)؟

ټولو ښځو وویلې چې: پاکي ده الله ﷻ لره (چې دومره نېک ځوان یې پیدا کړی دی) مونږ په ده باندې د هیڅ بدۍ علم نه لرو.

(په همدې وخت کښې) د عزیز (مالي وزیر) ښځې وویلې چې: اوس نو حق واضحه شو (چې یوسف ﷺ ټولو ښځو تبرئه کړ) یقیناً ما د ده څخه د ده د نفس د کبله مطالبه کړې وه او یقیناً نوموړی د صادقانو د ډلې څخه دی (چې د ده د پلوه مطالبه نه وه شوې).

[۵۲] (یوسف ﷺ وویلې چې) دغه (وړاندیز ما ځکه وکړ) ترڅو (د مالي وزیر په شمول) هرڅوک پوه شي چې ما د هغه سره د هغه په غیاب کښې خیانت نه وه کړی (د ده مېرمنې ته مې په سپک نظر نه وه کتلي).

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او (هم پوه شي چې) یقیناً الله ﷻ د خیانت کوونکو چل ته هدایت نه کوي (چې د همېشه دپاره پټ پاتې شي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د هغه وخت ځینو حالاتو ته اشاره شوې ده کوم وخت چې یوسف علیه السلام پاچا ته د خوب تعبیر ورولېږه او بیا پاچا فرمان صادر کړ چې بندیخانې ځخه دې راوویستلی شي. یعنې:

۱_ کله چې د وخت پاچا د خپل خوب په تعبیر او د یوسف علیه السلام په حسن تدبیر باندې پوه شو او هم کله چې ورته د ده عقل او پوهه (ذکاوت) ښه پوره څرګند شوه نو فرمان یې صادر کړ چې ذکر شوی محترم بندي د بندیخانې ځخه راوباسئ؛ او شاهي تخت ته یې راولئ چې مونږ یې په لیدلو باندې مشرف شو.

۲_ په ډېره زغرده فرمان رسوونکی د یوسف علیه السلام په حضور کښې ودرېد او پاچاهي فرمان یې قرائت کړ چې ستاسو لېدلو ته پاچا په انتظار دی، مهرباني وکړئ هلته تشریف وروړئ.

۳_ یوسف علیه السلام قاصد ته منفي جواب ورکړ چې: زه به ترهغه د بندیخانې ځخه ونه وځم ترڅو په ډاګه شي چې زه په څه موضوع کښې زنداني کړی شوی یم. او بیا یې قاصد مخاطب کړ چې:

الف: ای قاصده! ته خپل بادار (پاچا) ته بېرته ورستون شه او ورځخه وپوښته چې ایا ستا هغه واقعه په یاده ده په کومه کښې چې مصري ښځو خپل لاسونه زخمي کړي وه؟

ب: ته د هغوی ځخه پوښتنه وکړه چې په تاسو باندې څه باعث وه چې د یوسف علیه السلام په ننداره کښې مو هوش او عقل د لاسه ورکړ ایا تاسو ته د ده د پلوه څه میلان صورت نیولی وه؟

ج: ته د دوی ځخه پوښتنه وکړه چې حقیقت درته یو ځل بیا څرګند شي، که نه نو زما رب ﷻ خو بالکل د دوی په مکرونو او دسیسو باندې پوه دی.

۴_ قاصد په عجله سره پاچا ته ورستون شو او د یوسف علیه السلام پیغام یې وررورساوه، چې هغه سمدستي هغه ښځې راغونډې کړې کومو چې د عزیز د مېرمنې په مېلمستیا کښې ګډون کړی وه او کومو چې د یوسف علیه السلام په لیدلو سره خپل هوش (سد) د لاسه ورکړی وه او خپل لاسونه یې پرې کړي وه، ترڅو ترې د هغې په شمول پوښتنې وکړي، نو په لاندې ډول سوال جواب یې ورسره وکړ:

الف: ای ښځو! ماته خو ستاسو حال معلوم دی نو تاسو ته په کار دی چې حقیقت بیان کړئ او دروغ ونه وایاست.

ب: په هغه وخت کښې ستاسو څه حال وه کله چې تاسو یوسف علیه السلام ته خپله مطالبه وړاندې کړه ترڅو پرې ستاسو اراده غالبه شي او خپله غوښتنه ورباندې تحمیله کړئ، ایا تاسو ته نوموړي څه میلان وکړ؟

ج: ټولو ښځو په یوه اواز جواب ورکړ چې پاکي ده الله ﷻ لره چې دومره بااخلاقه او باعظمته انسان یې پیدا کړی دی، مونږ ټولو هغه ته میلان وکړ مګر د هغه په هکله مونږ په هیڅ بدۍ او بدنیتۍ نه یاستو پوه شوي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: په دې باندې علاوه، مونږ په خپلو غوږونو باندې واورېده چې د عزيز ميرمنې ترې د بر په جديت سره خپله غوښتنه تكراره كړه او په زندان سره يې تهديد كړ، حتى چې بالآخره د هغې تهديد واقعيت مونده كړ اوتر نن ورځې پورې ئوموړی په زندان كښې بې گناه او بې جنايته بندي پروت دی.

ه: په عين وخت كښې هغې هم په خپل جنايت باندې دا ځل د پاچا په حضور كښې اعتراف وكړ چې: هو! ما يوسف ﷺ د خپل ځان دپاره رابللی وه، اوس نو حق بالكل ځرگند شو او زه په ډاگه وايم چې ما ذكر شوی جنايت كړی وه خو د ده د پلوه مې هيڅ ميلان نه وه موندلی.

و: كومه خبره چې زما د خاوند په وړاندې يوسف ﷺ كړې وه چې په ما كښې گناه نشته، هغه خبره رښتيا ده او نوموړی د صادقانو د ډلې څخه دی.

۵ـ بيا نو د وخت پاچا يوسف ﷺ ته د دوهم ځل دپاره قاصد ورولېږه او د بنديخانې څخه د راوتلو دعوت يې وركړ چې: ای يوسفه! ما خو ستا شرط پوره كړ او ستا په هكله مې ښځې د جنايتونو باندې معترفې شوې، نو مهرباني وكړه او د بنديخانې څخه رابهر شه.

نو يوسف ﷺ دا ځل د پاچا دعوت قبول كړ او د اول ځل د دعوت د نه قبلولو وجهه يې داسې بيانه كړه چې دغه كار ما د دې دپاره نه دی كړی چې ذكرو شوو ښځو ته عموماً او د عزيز ميرمنې ته خصوصاً څه جزا وركړه شي او د ملامتۍ لاندې ونيوی شي بلكې دغه كار ته ما د لاندې وجوهو د كبله اقدام وكړ:

الف: ترڅو هرڅوک پوه شي چې ما د ماليې وزير سره د هغه په غياب كښې څه خيانت نه دی كړی او د ده كوروالا ته مې په سپک نظر نه دي كتلي، كه څه هم هغه ته زما پاک لمنې پوره ثابته ده د كميس د څېرې كېدلو په موضوع كښې ورته حالت ښه پوره ځرگند شوی وه، مگر د نورو خلكو پوه كول ضرور وه، چې زه نه د بنده ناشكري كوم او نه د الله ﷻ ناشكره بنده يم.

ب: ترڅو هرڅوک پوه شي چې الله ﷻ د خيانت كوونكو چل او فرېب ته لاره نه ښايي چې د همېشه دپاره يې پټ پاتې كړي او خلكو ته يې په ډاگه نه كړي.

## توضيحات

۱ـ عجيبه دا ده چې كله يوسف ﷺ خپلو ورونو دكوهي بنديخانې ته ورواچاوه نو الله ﷻ ترې راووست، د وزير په كور كښې يې ځای وركړ، او چې كله د زنانه وو د مكارۍ د امله د مصر په زندان كښې واچولی شو نو الله ﷻ دا ځل د دې بنديخانې څخه را ووېست او د وزير څخه وربورته د پاچا ترڅنگ يې ځای وركړ. بې شكه چې ټول واک او اختيار د الله ﷻ دی او بس.

## د يوسف ﷺ صبر او حوصله

۲ـ يوه ورځې نبي كريم ﷺ دا ايت شريف ﴿ قَالَ ٱرْجِعْ إِلَىٰ رَبِّكَ فَسْـَٔلْهُ مَا بَالُ ٱلنِّسْوَةِ ﴾ الآية- ولوست او بيا يې د يوسف ﷺ صبر او حوصله داسې وستايله چې: «لَوْ كُنْتُ أَنَا لَأَسْرَعْتُ الْإِجَابَةَ وَمَا

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ابْتَغَيْتُ الْعُذْرَ»[۱] یعني: بالفرض که همدا زه د یوسف په شان په بندیخانه کښې د هر وخت پاتې شوی وی نو ما به ضرور په چالاکۍ سره د پاچا پیغام قبول کړی وی او د نه وتلو دپاره به مې معذرت نه وی وړاندې کړی، چې پاچا دې یو ځل د مصري ښځو څخه پوښتنه وکړي چې زه څنګه سړی وم.

په همدې مضمون باندې نور احادیث هم روایت شوي دي[۲] چې نبي کریم ﷺ د تواضع په توګه په خپل ځان باندې یوسف ﷺ کلک ګڼلی دی.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: څه وجه وه چې یوسف ﷺ د وخت پاچا متوجه نه کړ چې زما د کمیس د څیرې کېدلو پوښتنه وکړه، بلکې د مصري ښځو د لاسونو پرې کولو ته یې متوجه کړ چې په هغوی باندې څه باعث وه چې خپل لاسونه یې پرې کړه، حال دا چې دغه دواړه کارونه د ده ﷺ د عفت دلایل وه؟

مونږ وایو چې: د کمیس د څیرې کېدلو واقعه د یوسف ﷺ د کوربنې ښځې سره تېره شوې وه چې د هر کلونه د هغې په کور کښې اوسېدلی وه او د هرې ښېګڼې یې ورسره کړې وې، نو ویې نه غوښتل چې د هغې بداخلاقۍ ته اشاره وکړي او خپل ځان په ناشکرانو کښې شمېر کړي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د کمیس څیرې کېدلو د هغه په عفت باندې دلالت وکړ خو د یوې باانصافه فیصلې په بنیاد، اما د ښځو لاسونو پرې کول د هغه د عفت دلایل وه خو مؤید او فیصله کوونکي ته یې اړتیا نه درلوده.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې: د یوسف ﷺ څخه خو یوازې خپلې کوربنې د بدکار مطالبه کړې وه خو د دې سره-سره د وخت پاچا ټولې مصرۍ ښځې مخاطبې کړې چې: ﴿ مَا خَطْبُكُنَّ إِذْ رَاوَدتُّنَّ يُوسُفَ عَن نَّفْسِهِ ﴾ یعنې ستاسو څه حال وه کله چې تاسو د یوسف ﷺ څخه د هغه د نفس په هکله مطالبه وکړه؟

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ښځو باندې څه باعث وه چې د پاچا پوښتنه یې رد نه کړه چې دا کار خو مونږ نه دی کړی، دا خو یوازې د وزیر صاحب مېرمنې پورې ارتباط نیسي؟

مونږ وایو چې:

الف: مونږ وړاندې د [۳۱] ایت په توضیحاتو کښې لیکلي دي چې ټولو ښځو په انفرادي توګه یوسف ﷺ ته وړاندیز کړی وه چې زما مطالبه ومنه، د هغې څخه خو زه درته ښه یم.

ب: مونږ هلته لیکلي دي چې ټولو ښځو په یوسف ﷺ باندې پړه ورواچوله چې تا په هغې باندې ظلم کړی دی چې د هغې غوښتنه دې نه ده قبوله کړې. یا په بل عبارت: هغوی ټولو د یوسف ﷺ څخه د بدکار مطالبه وکړه او په یوه خوله یې دعوت ورکړ چې د خپلې کوربنې مطلب پوره کړي.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۲۵۴، ۳۴۱
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۴۷۸، ۴۷۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځ. مونږ د [البقرة: ۷۲] ایت لاندې لیکلي دي چې په محاوراتو کښې کله-کله د ځينو افرادو کار ټول قوم یا ټولې مجموعې ته نسبت کېږي، نو د همدې قانون په بنیاد د وخت پاچا د زلیخا مطالبه ټولو ښځو ته نسبته کړه او ښځې هم پوهېدې چې د پاچا مطلب فقط زلیخا ده، نو ځکه دوی د هغه خبره رد نه کړه چې دا کار خو مونږ نه وه کړی دا خو زلیخا کړی وه.

مونږ ته همدغه جواب په زړه پوری برېښي، د همدې کبله کله چې د پاچا په وړاندې په زلیخا باندې شاهدي ورکړی شوه نو هغې ته د انکار هیڅ وجه پاتې نه شوه او اعتراف یې وکړ چې: ﴿ ٱلْـَٔـٰنَ حَصْحَصَ ٱلْحَقُّ ﴾ یعني اوس نو حق په ډاګه شو، زه اعلانوم چې زه دروغژنه وم او یوسف ﷺ صادق او رښتینی وه.

## ښکلی صورت او ښکلی سیرت

۵ـ مصري ښځو د یوسف ﷺ په هکله د ﴿ حَـٰشَ لِلَّهِ ﴾ جمله دوه کرته استعماله کړه.

اول کرت په هغه وخت کښې چې د دوی سترګې د یوسف ﷺ په ښائسته صورت باندې ولګېدلې، چې پاکي ده الله ﷻ ته چې څومره ښائسته صورت یې پیدا کړی دی!

دوهم کرت په هغه وخت کښې کله چې دوی د پاچا د پلوه د استنطاق لاندې ونیولی شوې، چې پاکي ده الله ﷻ ته چې یوسف ﷺ ته یې څومره عالي اخلاق ورکړي دي! مونږ ته د ده په هکله هیڅ ډول بد اخلاقي معلومه نه ده.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې: په وړاندېنیو ایتونو کښې وروستنی ایت شریف ﴿ ذَٰلِكَ لِيَعْلَمَ أَنِّي لَمْ أَخُنْهُ ﴾ الآية- مونږ ته الله ﷻ د چا د خولې څخه حکایت کړی دی. یا په بل عبارت: دغه خبره زلیخا کړې وه او که یوسف ﷺ؟

مونږ وایو چې: په دې کښې علماء کرام په لاندې دوه وو ګروپونو باندې وېشلی شوي دي:

الف: ځینې وایي چې دا د زلیخا د خولې څخه حکایت دی او دا ځکه چې وړاندې متصل کلام بالاتفاق د همدې څخه حکایت شوی دی[۱]، نو حاصل یې داسې اخستی دی چې: ما ځکه د پاچا په وړاندې اعتراف وکړه ترڅو یوسف ﷺ پوه شي چې د ده په غیاب کښې مې پرې تهمت نه دی لګولی، او یا د دې خاوند پوه شي چې ما د هغه په غیاب کښې خپل بد نیت ته عملي جامه نه ده وراغوستې، که نه نو یوسف ﷺ به د صادقینو څخه نه وی پاتې شوی.

دا تفسیر زمونږ په ذهن کښې نه کیني او هغه متل را په زړه کوي چې: "یوجریب شفتله یې وخوړه اوس یې لا هم مړه بولي" باید د مېښې نوم پرې کېږدي.

عجیبه ده! زلیخا ته به هغه کار خیانت نه ښکارېده کوم چې هغې د یوسف ﷺ او د خپل خاوند

(۱) البحر المحیط ج۶ ص۲۸۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په ارتباط کړي وه، د هغې دې خوله ماته شي چې د ﴿ لِيَعْلَمَ أَنِّي لَمْ أَخُنْهُ بِالْغَيْبِ ﴾ په کلماتو باندې بې تلفظ کاوه، ایا د هغې سترګې نه شرمېدې؟!

ب: ذکره شوې خبره د یوسف ﷺ د مبارکې خولې څخه حکایت دی[1] نو حاصل یې داسې راوځي چې: زه ځکه په اول دعوت سره د بندیخانې څخه ونه وتلم چې:

اول: ترڅو پاچا پوه شي چې ما د ده د مالیې وزیر سره د هغه په غیاب کښې خیانت نه دی کړی.

دوهم: ترڅو پخپله د مالیې وزیر هم پوه شي چې ما د ده سره د مېرمنې په هکله خیانت نه دی کړی او په غیاب کښې مې د هغه احترام ساتلی دی، کوم سپکاوی چې هغه ته وررسېږي شو او د رسوائۍ سره مخامخ شو هغه زما د پلوه نه وه.

دریم: ترڅو هرڅوک پوه شي چې ما د خپل احسان کوونکي (مالیې وزیر) بې احترامي نه ده کړې او غیبانه مې ورته په درنه سترګه کتلي دي، نو ټولو خلکو ته په کار دي چې زما دعوت الی الله ﷻ قبول کړي او تهمت راباندې ونه لګوي.

پاتې شوه شوه د وړاندېني کلام د اتصال خبره چې هغه د زلیخا څخه حکایت دی، نو وایو چې کله د دواړو کلامونو ترمنځ د التباس خطر نه وي نو د اتصال یې هیڅ باک نشته. د ښه وضاحت دپاره لاندې ایت شریف قرائت کړئ:

﴿ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُمْ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴾ [الأعراف: ۱۱۰].

نو په دغه ایت شریف کښې د ﴿ أَرْضِكُمْ ﴾ پورې د فرعون د کابینې او مشاورینو قول را حکایت شوی دی او ﴿ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴾ پخپله د فرعون د خولې حکایت دی، یعنې: فرعونیانو وویلې چې موسی ﷺ غواړي چې تاسو د خپل وطن (خپلې خاورې) څخه وباسي او د یوسف ﷺ حکومت بیا راژوندي کړي. نو فرعون ورته وویلې چې: نو تاسو ماته څه مشوره راکوئ چې څه ورسره وکړو؟

او پوره واضحه ده چې په دې مقام کښې څه التباس نه پېښېږي، دا ځکه چې دوهم کلام ﴿ ذَٰلِكَ لِيَعْلَمَ ﴾ الآية- د خائنې زلیخا سره مناسبت نه لري، لکه چې وړاندې ورته اشاره وشوه.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وایي چې: تاسو وړاندې د [۳۵] ایت په لسمه (۱۰) توضیح کښې لیکلي دي چې یوسف ﷺ بندیخانې ته د اتهام د کبله نه وه بېولی شوی بلکې د وخت مصلحت یې د بندیتوب غوښتونکی وه؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا یوسف ﷺ ضرورت درلود چې لومړی د خپل ځان تبریه وکړي او بیا د بندیخانې څخه بهر شي؟

مونږ وایو -والله ﷻ أعلم- چې: یوسف ﷺ د خپل ځان تبریه کولو ته د لاندې وجوهو د کبله ضرورت درلود:

(۱) تفسیر ابي السعود ج۴ ص۲۸۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: پخوا خو یوسف ﷺ یو خل د مالیه وزیر په ورانديې او بیا د مېلمنو ښځو په وړاندې تبریه حاصله کړې وه، اما دا خل ضرور وه چې د پاچا په حضور کښې تبریه حاصله کړي.

ب: څرنګه چې یوسف ﷺ په بندیخانه کښې ډېر کلونه تېر کړه نو ده وغوښتل چې پخوانۍ تبریه یو خل بیا تازه کړي، څه لرې نه وه چې د زلیخا اعتراف به د ځینو څخه هېر شوی وي او ځینې به په هغه وخت کښې ماشومان وه او نه به پوهېده چې یوسف ﷺ د ګناه څخه بري (پاک) دی.

ج: یوسف ﷺ پوهېده چې پاچا به ده ﷺ ته ډېر عزت ورکړي نو دا خطر شته چې حاسدان پخوانۍ قیصې او پخوانې حالات تحریف کړي او د پاچا ذهن د ده څخه واړوي، نو په دې صورت کښې به د دعوت الی الله مخه بنده شي پاچا به ورباندې بدګومانه شي او خلک به یې خبرو ته غوږ نه ږدي.

د: بالآخره څرنګه چې زندان د اتهام ځای دی، که بې ګناه سړی پکښې واچولی شي هم د اتهام څخه نه خلاصېږي، نو یوسف ﷺ هم د خپل ځان د تبریه کولو دپاره هڅه وکړه.

د ښه وضاحت دپاره د لاندې یوه حدیث شریف مضمون ولولئ:

د بي بي صفیه رضي الله عنها څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ په جومات کښې معتکف وه او هغه بي بي (ام المؤمنین) ورغلې وه، د ليږ سات د خبرو څخه وروسته بېرته کورته ورستنه شوه چې نبي کریم ﷺ ورسره د جومات د دروازې پورې راغی، چې ګوري دوه سړي په لاره باندې تېرېږي، نو دوی په نبي کریم ﷺ باندې سلام واچاوه.

نبي کریم ﷺ ورته د سلام د قبول څخه وروسته وویلې: تاسو دواړه ښه متوجه شئ چې دغه ښځه صفیه بنت حی (ام المؤمنین) ده.

دواړو سړیو وویلې: سبحان الله! ایا په تا باندې به هم څوک بدګوماني کوي، ای د الله رسوله؟!

نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې یقیناً شیطان د انسان په بدن کښې د وینې په شان ګرځي راګرځي: «وَإِنِّي خَشِيتُ أَنْ يَقْذِفَ فِي قُلُوبِكُمَا شَيْئًا»[1] او یقیناً زه ودار شوم چې ستاسو په زړونو کښې به څه وسواس واچوي (او تاسو به کافران شئ).

د الله ﷻ په توفیق دولسمه سپاره ختمه شوه

خپل رب ﷻ ته په تمه یاستو چې آن دېرشمه سپاره هم راته د ترجمې او تفسیر د حیثه ختمه کړي.

۱۴۱۷/۱۲/۹ هـ ق - ۱۳۷۶/۱/۲۷ هـ ش.

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۲۷۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



﴿ وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٥٣﴾ ﴾

[۵۳] او زه خپل ځان نه تبريه (تصفيه) کوم. يقيناً هر (بشري) نفس په بديو باندې ډېر حکم کوونکی دی مګر هله چې زما رب ﷻ (پرې) رحم وکړي.
بې شکه زما رب ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايت شريف کښې د وړاندېني ايت شريف مضمون تکميل شوی دی چې حاصل يې داسې راوځي: ای پيغمبره! يوسف ؑ خپلې خبرې ته ادامه ورکړه او ويې ويلې چې:

١ـ ما ځکه د بنديخانې څخه په راوتلو کښې عجله ونه کړه ترڅو خلکو ته عموماً او د وخت پاچا ته خصوصاً څرګنده شي چې زه خائن نه يم.

٢ـ پاتې شوه دا خبره چې زه څنګه د خطرناکو خايونو څخه په برياليتوب سره راووتلم نه مې خيانت وکړ او نه مې پښه ښويه شوه، نو د دې وجه دا ده چې زما سره د خپل رب ﷻ توفيق ملګری وه، او په خپل فضل او رحم سره يې د خيانت څخه بچ وساتلم.

٣ـ که نه نو زه خپل نفس نه تبريه (تصفيه) کوم، دا ځکه چې زما په شمول هرچا ته خپل نفس په بدو کارونو باندې امر کوي او خپلو خواهشاتو ته دعوت ورکوي، او په هيڅ وخت کښې ثابت قدم نه شي پاتې کېدلی مګر هله چې زما رب ﷻ پرې مهرباني وکړي (د نېکو توفيق ورکړي او د ښويېدلو څخه يې بچ کړي).

۴ـ نو په ما باندې خپل رب ﷻ مهرباني کړې وه، بې شکه چې زما رب ﷻ بښونکی دی، چې څوک په ګناه اخته شي د هغه توبه هم قبلوي، او مهربان دی چې ځينې خلک د ګناه د ارتکاب څخه بچ ساتي.

## توضيحات

١ـ دا ايت شريف د دولسمې سپارې د وروستني ايت سره متصل دی، نه يې په حکايت (نزول) کښې فاصله درلوده او نه په هغه وخت کښې کله چې يوسف ؑ ورباندې تلفظ کړی وه.
اما څه وخت چې قرآن کريم د حرفونو په اعتبار سره په ديرشو برخو باندې ووېشلی شو، نو په هغه ايت باندې دولسمه سپاره ختمه شوه او په دغه ايت باندې ديارلسمه سپاره پيل شوه. د همدې کبله مونږ وايو چې:

٢ـ دغه ايت (چې اوس دُ بحث لاندې دی) د هغه ايت دپاره د استثناء حيثيت لري، ته به وايې چې يوسف ؑ ويلي وي چې: زه خپل ځان پاچا او نورو خلکو ته تزکيه کوم اما د خپل رب ﷻ په نزد خپل ځان نه تزکيه کوم او دا ځکه چې هغه ﷻ ته هم د ټولو انساني نفسونو طبائع معلوم دي او

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هم ورته هغه څوک هم څرګند دي کومو ته يې چې په خپل رحم او فضل سره توفيق ورکړی وي او د خیانتونو څخه يې ساتلی وي، چې د همدوی د جملې څخه زه هم يم.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: ايا د خلکو په وړاندې د خپل ځان د تزکيه کولو څخه د تکبر بوی (ورږمه) نه پورته کېږي؟

مونږ وايو چې: تکبر او لويي کول د زړه کار دی. کله چې څوک په زړه کښې د خپل ځان د تزکيه کولو څخه د يوه شرعي کار پوره کول مطلب کړي او تکبر يې په نظر کښې نه وي نيولی نو هيڅ باک يې نشته، لکه چې په دې مقام کښې د يوسف ﷺ مطلب دا وه چې په راتلونکي کښې مې خلک په خبرو اعتماد وکړي او د دعوت الی الله په لاره کښې خنډ پېښ نه شي.

د همدې مطلب دپاره نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې خپل مبارک ځان ستايلی دی چې: «أَنَا سَيِّدُ وُلْدِ آدَمَ وَلَا فَخْرَ»[1] يعنې زه د ټولو بنيادمانو سردار يم خو تکبر او لويي پرې نه کوم.

## بشري نفس درې صفتونه لري

۴_ هر بشري نفس درې صفتونه درلودلی شي چې درېواړو ته په ايت شريف کښې په لاندې ډول اشارې شته دي:

الف: کله چې د يوه بشري نفس سره د الله ﷻ د توفيق لحاظ نه وی او د خپل طبيعت په اعتبار واخستلی شي نو دې نفس ته "أَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ" (په بدو باندې امر کوونکی) نفس ويل کېږي، چې په صراحت ذکر دی.

ب: کله چې د خپل طبيعت په اعتبار سره په ګناه باندې اخته شي خو بيا يې د الله ﷻ توفيق لاس نيوی وکړي او په خپله ګناه باندې پښېمانه شي نو دغه نفس ته د "لَوَّامَة" لقب ورکول کېږي، يعنې خپل ځان ملامته کوونکی، چې د ﴿ غَفُور ﴾ په کلمې باندې ورته اشاره شوې ده.

ج: کوم نفس چې د الله ﷻ په توفيق او مهربانۍ سره د ګناه څخه بچ پاتې شي، لکه څنګه چې يوسف ﷺ او نور پيغمبران عليهم السلام د ګناهونو څخه معصومان وه، نو دغه نفس د "الْمُطْمَئِنَّة" لقب ګټي. يعنې هغه څوک چې په ګناهونو کښې د واقع کېدلو خطر ورسره نشته او د خپلو ځانونو په بچ کېدلو باندې ډاډه او مطمئن دی، همدغه نفس ته د ﴿ رَّحِيم ﴾ په کلمه باندې اشاره شوې ده.

﴿ وَقَالَ ٱلْمَلِكُ ٱئْتُونِي بِهِۦٓ أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِي ۖ فَلَمَّا كَلَّمَهُۥ قَالَ إِنَّكَ ٱلْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ ۝ قَالَ ٱجْعَلْنِي عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلْأَرْضِ ۖ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ ۝ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ

[1] سنن ابن ماجه ص۳۱۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

فِی ٱلۡأَرۡضِ يَتَبَوَّأُ مِنۡهَا حَيۡثُ يَشَآءُۚ نُصِيبُ بِرَحۡمَتِنَا مَن نَّشَآءُۖ وَلَا نُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٥٦﴾ وَلَأَجۡرُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ﴿٥٧﴾ ﴾

[۵۴] او پاچا وویل چې ماته یوسف ﷺ راولئ چې د خپل ځان (د خدمت) دپاره یې سوچه وګرځوم. نو کله یې چې ورسره خبرې وکړې نو (ورته یې) وویل چې: (ای یوسفه!) یقیناً ته نن ورځ زمونږ په نزد د (لوړې) رتبې خاوند (او) امین (اعتمادي) یې.

[۵۵] یوسف ﷺ وویل چې: (ای پاچا) ما د ځمکې په خزانو (نقدي او جنسي مالونو) باندې وګرځوه (وټاکه)، (ځکه چې) زه یقیناً ښه ساتونکی (او په توزیع باندې) ښه پوه یم.

[۵۶] او (ای پیغمبره!) په دغه ډول سره مونږ یوسف ﷺ ته په ځمکه کښې لوړه رتبه (او اقتدار) ورکړه، چې د همدې (ځمکې) ځخه په هغه ځای کښې اوسېدلی شو چرته به چې د ده خوښه وه (د مصر ټوله ځمکه مو د ده د قلم لاندې کړه).

مونږ (په دغه ډول سره) خپل رحمت هغه چاته ور رسوو چې زمونږ ورته اراده وشي، او مونږ د نیکو کارانو اجر نه ضائع کوو.

[۵۷] او ضرور د آخرت اجرونه (چې دي) د هغو کسانو دپاره ډېر غوره دی کومو چې ایمان راوړی دي او دوی دي چې (په دوامداره توګه د الله ﷻ ځخه) ډارېږي.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د هغه وخت ځینې حالات بیان شوي دي په کوم کښې چې د وخت پاچا دوهم ځل د بندیخانې ځخه د یوسف ﷺ د راویستلو فرمان صادر کړ، یعنې:

۱ـ کله چې پاچا د یوسف ﷺ غوښتنه عملي کړه او د مصرې ښځو ځخه یې د ده د صداقت او د عالي اخلاقو بیان واورېد نو په دوهم ځل یې فرمان صادر کړ چې یوسف ﷺ ماته راولئ ترڅو زه هغه ته په خپل څنګ کښې د یوه مخلص ملګري په توګه ځای ورکړم (ترڅو زما د مقربینو ځخه جوړ شي).

۲ـ مګر کله چې یوسف ﷺ د بندیخانې ځخه د پاچا حضور ته ورغی او خبرې اترې یې ورسره وکړې نو پاچا د زیات تاثیر لاندې واقع شو، حتی چې یوسف ﷺ یې مخاطب کړ چې: نن ورځ زمونږ په نزد ته د لوړې رتبې خاوند یې چې هیڅوک ستا رتبې ته نه شي در رسېدلی، او همدارنګه نن ورځ ستا غوندې امانتګر او شکرګزار هیڅوک نشته، په تا باندې زمونږ ډېر لوی اعتماد دی، ته په دې مملکت کښې د لوی قدرت خاوند یې.

۳ـ کله چې یوسف ﷺ پوه شو چې پاچا مې بې کاره نه پرېږدي، نو وړاندېز یې وکړ چې: ای پاچا! د ټولو دندو د جملې ځخه ما په هغې دنده باندې مقرر کړه په کومه باندې چې زه ډېر ښه پوهېږم او ډېر ښه حفاظت یې کولی شم او هم ورته د قحطۍ په کلونو کښې مملکت ډېر ضرورت

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لري هغه دا چې ماته د مصري ځمکې ټولې خزانې او ټول ماليات راوسپاره. پاچا سمدستي دا وړانديز منظور کړ او يوسف ﷺ ته يې د خلکو د خدمت دپاره ښه فرصت په لاس ورکړ.

۴ـ اى پيغمبره! مونږ په دغه ډول سره يوسف ﷺ ته په ځمکه کښې اقتدار ورکړ او د لوړې رتبې خاوند مو جوړ کړ په دغه وخت کښې نوموړی هغه يوسف ﷺ نه وه چې کلونه کلونه په بنديخانه کښې پروت وه او په ټوله دنيا کښې يې د قدم ايښودلو ځاى نه درلود، په دغه وخت کښې يې کولی شو چې په مصري ځمکه کښې په هر هغه ځاى کښې استوګنه غوره کړي چرته چې د ده ﷺ خوښه وي، چې ټولو مصريانو ورته د احترام په نظر کتل.

۵ـ اى پيغمبره! چاته چې زمونږ له پلوه د رحمت د ورکولو اراده وشي نو هيڅوک يې مانع نه شي واقع کېدلی، لکه څنګه چې د يوسف ﷺ د ترقۍ په وړاندې هيڅوک خنډ واقع نه شو.

۶ـ او دا څکه چې يوسف ﷺ د نېکانو څخه وه او مونږ د نېکانو اجرونه نه ضائع کوو، په دنيا او آخرت دواړو کښې ورته عوضونه ورکوو.

۷ـ هو! که د څه حکمت په بنياد کوم يوه نيکوکار ته په دنيا کښې عوض ورنه کړو نو د آخرت اجرونه خو يې حتمي دي، حال دا چې د آخرت اجرونه د هغو کسانو دپاره ډېر غوره او بهتر دي کوم چې په ايمان باندې مشرف وي او په دوامداره توګه د الله ﷻ څخه ډارېږي. او دا څکه چې هغه دائمي دی او زوال پرې نه ورځي.

## توضيحات

۱ـ د پاچا نظر د يوسف ﷺ په هکله په لاندې درېوو ډولونو تغير وخوړ:

الف: کله چې د يوسف ﷺ د پلوه د خپل خوب په جيد تعبير او معقول تدبير باندې خبر شو نو فقط همدومره فرمان يې صادر کړ چې: ماته يې راولئ: لکه چې وړاندې په پنځوسم ايت کښې ورته اشاره شوې ده.

ب: بيا چې کله د يوسف ﷺ په متانت او لوړې حوصلې باندې پوه شو، چې د بنديخانې څخه يې د راوتلو دپاره شرط وټاکه، او بالآخره مصري ښځو د ده په عالي اخلاقو باندې شاهدي ورکړه او زليخا د هغې ګناه پخپله متحمله شوه کومه چې هغې په يوسف ﷺ باندې وراچولې وه؛ نو پاچا دوهم فرمان صادر کړ چې: ماته يې راولئ: ﴿أَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِي﴾ ترڅو نوموړی زه خاص د خپل ځان دپاره غلام جوړ کړم او د مالي وزير د غلامۍ څخه يې خلاص کړم، دغه ډول غلام د پاچا سره مناسب دی.

ج: مګر کله چې يوسف ﷺ پاچا ته ورغی او خبرې يې ورسره وکړې نو اعتماد يې لا ورباندې زيات شو او ورته يې وويلې چې: ﴿إِنَّكَ ٱلْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِينٌ أَمِينٌ﴾ يقيناً ته چې يې نن ورځ زمونږ په نزد باندې د لوړې رتبې خاوند يې او په تا باندې زمونږ ښه پوخ اطمنان دی.

لنډه دا چې په دغه وخت کښې پاچا د يوسف ﷺ د غلامۍ د لقب څخه هم تېر شو او په مکالمې سره يې ورباندې اعتماد اوج ته ورسېد. دا څکه کوم اثر چې په مخامخ کتلو او خبرو کښې شته هغه

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اثر په خبرېدلو سره نه شي ترلاسه کېدلی. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ»[۱] يعنې په اثر غورزولو کښې خبرتيا د لېدلو غوندې نه ده، بلکې د لېدلو اثر ډېر قوي دی.

عربي متل دی چې: "اَلْمَرْءُ مَخْبُوءٌ تَحْتَ لِسَانِهِ" يعنې هر سړی د خپلې ژبې لاندې پټ دی، کله چې ژبه وښوروي (او خبرې وکړي) نو د خپل خان ارزښت راپه ډاګه کړي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې د يوسف ﷺ څخه د غلام نوم په کوم وخت کښې لرې شو او چا ترې لرې کړ؟

مونږ وايو چې: د يوسف ﷺ سره چې په کوم وخت کښې پاچا خبرې کولې نو د يوه غلام په نظر يې ورته کتل[۲] خو کله چې يوسف ﷺ په عربي ژبه او هم په عبراني ژبه خبرې وکړې نو پاچا ترې پوښتنه وکړه چې دا د چا ژبې او د چا لغات دي؟

نو يوسف ﷺ جواب ورکړ چې: عربي زما د تره ژبه ده چې اسماعيل ﷺ نومېږي، او عبراني مې د پلرونو ژبه ده چې په ابراهيم ﷺ، اسحق ﷺ او په يعقوب ﷺ باندې نړيوال شهرت لري[۳].

زمونږ په خيال په دغه وخت کښې پاچا ته څرګنده شوه چې دا خو غلام نه دی بلکې حُر (ازاد) انسان دی خو په ظلم سره پرې د غلامی لقب ورتپل شوی دی، د همدې کبله به ورته په حکومت کښې د لوړرتبه کارکوونکي په حيث قائل شوی وي.

## يوسف ﷺ په کوم منصب باندې وټاکل شو؟

۳_ د ايتونو څخه په دې باره کښې (چې يوسف ﷺ په حکومت کښې کومه عهده په غاړه واخستله) لاندې دوه نظره څرګندېږي:

الف: نوموړي ته د مالي وزير عهده ورکړه شوې وه، ځکه چې:

اول: نوموړي پاچا ته د همدغې عهدې وړانديز کړی وه چې: ﴿ اَجْعَلْنِي عَلَىٰ خَزَآئِنِ الْأَرْضِ ﴾ ای پاچا! ما د ځمکې په (جنسي او نقدي) خزانو باندې وټاکه.

او پوره واضحه ده چې پاچا به دغه وړانديز قبول کړی وي.

دوهم: د زليخا خاوند (چې مالي وزير وه) دهمدې سورت په [۳۰] ايت کښې د ﴿ الْعَزِيزِ ﴾ په لقب باندې ياد شوی دی او همدغه لقب د همدې سورت په [۷۸] ايت کښې يوسف ﷺ ته هم ورکړی شوی دی چې ﴿ يَٰٓأَيُّهَا الْعَزِيزُ ﴾؛ نو معلومه شوه چې همدغه عهده همده ته ورکړه شوې وه.

که دا نظر رښتيا وي نو په دغه وخت کښې به د زليخا مېړه (مالي وزير) يا وفات شوی وه او يا به د خپلې عهدې څخه معزول شوی وه او دغه عهده به خالي پرته وه. که نه نو يوسف ﷺ به هيڅکله داسې نه وی کړي چې ويلي يې وی: ای پاچا! هغه څوک معزول کړه چا چې له ما سره ډېر

(۱) مسند احمد ج۱ ص۴۶۱
(۲) المحرر الوجيز ج۹ ص۳۲۳
(۳) تفسير البغوي ج۲ ص۴۳۱؛ تفسير القرطبي ج۹ ص۲۱۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



احسانات کړي دي او په ځای باندې یې ما مقرر کړه چې زه د هغه ښځه بنه پوهېږم او د هغه ښځه په امانتګر یم.

ځینو علماوو کرامو همداسې لیکلي دي چې په دغه وخت کښې د زلیخا مېړه د وړاندې ښځه یا معزول شوی وه او یا وفات شوی وه[1].

ب: یوسف ﷺ د مصري مملکت د عمومي مشر یا په اصطلاح د اولسمشر په حیث عهده په غاړه واخسته. او دا څکه چې:

اول: په راتلونکې [۱۰۰] ایت کښې الله ﷻ فرمایلي دي چې یوسف ﷺ خپل مور او پلار په پاچایي تخت باندې د خانه سره پورته کړه ﴿ وَرَفَعَ أَبَوَيۡهِ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ ﴾، او پوره واضحه ده چې د "عَرْش" د کلمې استعمال د پاچایي تخت سره ښه مناسب دی.

دوهم: په راتلونکې [۱۰۱] ایت کښې الله ﷻ مونږ ته د یوسف ﷺ د مبارکې خولې ښځه حکایت کړی دی چې خپله عهده یې په پاچایۍ سره یاده کړې ده چې: ﴿ رَبِّ قَدۡ ءَاتَيۡتَنِي مِنَ ٱلۡمُلۡكِ ﴾ ای زما ربه! تا ماته پاچایي راکړې ده.

## تبصره

۴ـ مونږ ته داسې برېښي ـوالله ﷻ أعلم ـ چې یوسف ﷺ به په اول وخت کښې د مالي وزیر په حیث ټاکلی شوی وي او بیا به یې د رئیس الوزراء عهدې ته ترقي کړې وي[2] او بالآخره بیا به د پاچا په وفات سره د دولت د رئیس په حیث منلی شوی وي، په اصطلاح د جمهوري ریاست عهده به یې اشغاله کړې وي.

دا هم څه لرې نه ده چې پاچا په ایمان مشرف شوی وي او خپله عهده یې یوسف ﷺ (د وخت پیغمبر) ته ورتبریکه کړې وي[3]، لکه چې ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې د پاچا په شمول ډېر خلک په ایمان باندې مشرف شوه[4].

## څو عجیبې خبرې ولولئ

۵ـ په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو څو متعددې پوښتنې مطرحې کړې دي او بیا یې د هغو په جوابولو باندې څو پاڼې ډکې کړې دي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: څه وجه وه چې یوسف ﷺ د پاچا ښځه وغوښتل چې ما خزاندار (مالي وزیر) مقرر کړه؟ حال دا چې نبي کریم ﷺ عبدالرحمن بن سمرة ﷺ ته ارشاد کړی دی چې: «لَا تَسْأَلِ الْإِمَارَةَ»[5] یعنې ته د خپل خان دپاره د مشرتوب غوښتنه مه کوه.

---

(۱) المحرر الوجیز ج۹ ص۳۲۵
(۲) تفسیر المراغي ج۱۳ ص۵
(۳) المحرر الوجیز ج۹ ص۳۲۶
(۴) تفسیر السعدي ج۲ ص۴۳۳؛ زاد المسیر ج۴ ص۱۸۶
(۵) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۵۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: څه وجه وه چې د کافر پاچا همکاري ته يې ملا وتړله حال دا چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَلَا تَرْكَنُوٓاْ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ ﴾ [هود: ۱۱۳] يعني او تاسو هغو کسانو ته ميلان مه کوئ کومو چې ظلم کړی وي نو تاسو ته به اور ورسيږي؟.

ج: څه وجه وه چې په ټولو حکومتي عهدو کښې يې خپل ځان ته د ماليې د وزارت عهده انتخاب کړه چې د تهمتونو او بدګومانيو مرکز دی، حال دا چې د اسلامي شريعت حکم دا دی چې بايد سړی خپل ځان د تهمتي ځايونو څخه په څنګ وساتي؟.

د: څه وجه وه چې خپل ځان يې په ﴿ حَفِيظٌ عَلِيمٌ ﴾ سره وستايه (تزکيه کړ)، حال دا چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ فَلَا تُزَكُّوٓاْ أَنفُسَكُمْ ﴾ [النجم: ۳۲] نو تاسو د خپلو ځانونو تزکيه (ستاينه) مه کوئ؟.

هـ: څه وجه وه چې د ﴿ حَفِيظٌ عَلِيمٌ ﴾ سره يې د "إِنْ شَاءَ الله" کلمات متصل نه کړه، حال دا چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَلَا تَقُولَنَّ لِشَاْىْءٍ إِنِّى فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا ﴿٢٣﴾ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ﴾ [الكهف: ۲۴] يعني او ته يوه شي ته هم هرومرو مه وايه چې زه سبا د دغه کار کوونکی يم مګر هله چې د الله ﷻ اراده (ورسره) پيوسته کړې او "إِنْ شَاءَ الله" ووايې؟.

و: څه وجه وه چې د عهدې په غوښتنه کښې يې عجله (تادي) وکړه، حال دا چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الْأَنَاةُ مِنَ اللهِ وَالْعَجَلَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ»[۱] يعني د يوه کار غوښتنه په ارامۍ سره د الله ﷻ له پلوه ده او په عجله (تادي) سره غوښتنه يې د شيطان له پلوه ده.

زمونږ په فکر دغو پوښتنو او دغسې نورو پوښتنو د دې څخه منشا اخستې ده چې د يوسف ﷺ څخه د نبوت لحاظ قطعه شوی دی او د آخر الزمان پيغمبر ﷺ د يوه امتي په نظر ورته کتلی شوی دی، که نه نو دغسې پوښتنې به هيڅکله مطرحې شوې نه وی او نه به يې جوابولو ته ارتيا پاتې شوې وی. او دا ځکه چې يوسف ﷺ يو پيغمبر وه ټول کارونه يې د الله ﷻ په هدايت باندې کړي دي او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې: ﴿ لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ ﴾ [الأنبياء: ۲۳] يعني: د ده څخه د هغه کار پوښتنه نه شي کېدلی کوم چې کوي (يا يې کړی وي).

د همدې کبله هيڅوک په خضر ﷺ باندې د ماشوم په وژلو کښې ملامته نه شي اچولی چې د دې ايت څخه يې مخالفت کړی دی چې: ﴿ وَلَا تَقْتُلُواْ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِى حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ﴾ [الإسراء: ۳۳] يعني او تاسو هغه نفس مه وژنئ کوم چې الله ﷻ حرام کړی دی مګر په حقه سره.

دا ځکه چې خضر ذکر شوی قتل د الله ﷻ د وحې په اثر سرته رسولی وه او بس.

## ايا يوسف ﷺ زليخا په نکاح کړه؟

۶ـ دا خبره ثابته ده چې يوسف ﷺ کور ودان کړی دی، او لاندې دوه ځامن يې هم شهرت لري[۲]:

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۲۱
(۲) تفسير ابن کثير ج۲ ص۴۸۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: افرائیم بن یوسف ﷺ چې د یوشع ﷺ پلار وه.

ب: میشا بن یوسف ﷺ چې د ایوب ﷺ د میرمنې (رحمة) پلار وه.

اما دا خبره چې ذکر شوي اولادونه د زلیخا څخه وه کله چې هغه کونډه شوه او بیا یوسف ﷺ په نکاح باندې واخسته، نه ده ثابته. په دې هکله په تفاسیرو کښې ډېرې قیصې لیکلې شوې دي چې په بوه باندې هم اعتماد په کار نه دی[1] او نه پکښې څه مهم مطلب شته.

نو په دې کښې سکوت په کار دی چې یوسف ﷺ د کوم حکومتي مشر لور په نکاح واخستله[2] یا یې په کونډه زلیخا باندې نکاح وتړله او یا یې دواړه په نکاح کړې، والله ﷻ اعلم.

﴿وَجَآءَ إِخْوَةُ يُوسُفَ فَدَخَلُواْ عَلَيْهِ فَعَرَفَهُمْ وَهُمْ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٨﴾ وَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ قَالَ ٱئْتُونِى بِأَخٍ لَّكُم مِّنْ أَبِيكُمْ ۚ أَلَا تَرَوْنَ أَنِّىٓ أُوفِى ٱلْكَيْلَ وَأَنَا۠ خَيْرُ ٱلْمُنزِلِينَ ﴿٥٩﴾ فَإِن لَّمْ تَأْتُونِى بِهِۦ فَلَا كَيْلَ لَكُمْ عِندِى وَلَا تَقْرَبُونِ ﴿٦٠﴾ قَالُواْ سَنُرَٰوِدُ عَنْهُ أَبَاهُ وَإِنَّا لَفَٰعِلُونَ ﴿٦١﴾ وَقَالَ لِفِتْيَٰنِهِ ٱجْعَلُواْ بِضَٰعَتَهُمْ فِى رِحَالِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَعْرِفُونَهَآ إِذَا ٱنقَلَبُوٓاْ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمْ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٦٢﴾﴾

[۵۸] او د یوسف ﷺ ورونه (ده ته) ورغله نو پرې ورننوتل نو ده ﷺ وپېژاندل حال دا چې دوی یوسف ﷺ ته نه پېژاندونکي وه (دوی ونه پېژانده).

[۵۹] او هرکله چې یوسف ﷺ دوی ته د دوی د سفر سامان تیار کړ (او د غلې څخه یې ورته تهیه کړې) نو (ورته) وېې ویلې چې: ماته ستاسو (هغه) ورور راولئ (کوم) چې ستاسو د پلار څخه دی (او د موره څخه مو نه دی)، ایا تاسو نه ګورئ چې زه (تاسو ته) پیمانه پوره کوم (چې د غائبانو څخه مې هم درکړې)، او (هم) زه (تاسو ته) د مېلمپالونکو غوره مېلمپال یم.

[۶۰] نو که تاسو (د بل خل دپاره) خپل ورور (بنیامین) رانه ولئ نو زما په نزد به نه تاسو ته پیمانه وي او نه به ماته رانژدې شئ (نه به څه درکړم او نه به مو مېلمپالنه وکړم).

[۶۱] دوی وویلې چې مونږ به د نوموړي د پلار څخه د ده پر مطالبه زور واچوو (ترڅو هغه ته قناعت ورکړو) او یقیناً مونږ (د دغه کار) کوونکي یاستو.

[۶۲] او (په عین حال کښې) یوسف ﷺ خپلو نوکرانو ته وویلې چې: د دوی سرمایه (چې غلې دانې یې پرې رانیولې دي) د همدوی په بارونو (څټو) کښې کېږدئ (چې بېرته یې یوسي)، شاید چې دوی هغه (خپله سرمایه) وپېژني کله چې دوی خپل کور ته بېرته ورشي (چې دا خو عین

---

[1] المحرر الوجیز ج۹ ص۳۲۶؛ روح المعاني ج۱۳ ص۵
[2] تفسیر القاسمي ج۹ ص۲۴۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سرمایه ده او غلې دانې راته مفتې ولوېدې)، شاید چې دوی (د دوهم ځل دپاره په دادې زړونو) بېرته (مصر ته) راوګرځي.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د هغو حالاتو څه بیان ته اشاره شوې ده په کومو کښې چې یوسف ﷺ خپل ورونه وپېژاندل او بالآخره دوی د خپل پلار سره په ملاقات باندې مشرف شوه.

یعنې ای پیغمبره! کله چې وچکالي په ټوله دنیا باندې خوره شوه نو اثرات یې کنعان (د یوسف ﷺ اصلي استوګنځای) ته هم ورسېده، نو:

۱_ د یوسف ﷺ لس تنه ورونه مصر ته د دې دپاره ورغله ترڅو د نورو خلکو په شان دوی هم څه غلې دانې خپل وطن ته یوسي او هلته پرې خپل ژوند ته ادامه ورکړي.

۲_ کله چې دوی په مصر کښې د خپل ورور یوسف ﷺ سره په اول ځل ملاقي شوه او د ده په ملاقات مشرف شوه، نو دوی ونه پېژانده چې دا هغه یوسف ﷺ دی کوم چې مونږ په کوهي کښې اچولی وه، مګر یوسف ﷺ دوی وپېژانده چې همدوی زما ورونه دي.

۳_ یوسف ﷺ د خپل عادت په مطابق دوی ته غلې دانې ورکړې او د بېرته ستنېدلو سامان یې ورته برابر کړ، لکه څنګه یې چې دغه ډول کار د نورو مسافرینو سره کاوه (غلې دانې یې ورکولې).

۴_ مګر خپل ورونه یې په دې باندې پوه کړه چې تاسو به ضرور په دوهم ځل راتګ کښې خپل هغه ورور هم د خپلو ځانونو سره راولئ کوم چې ستاسو علاتي (مېرنی ورور) دی او بنیامین نومېږي.

۵_ ای کاروانیانو! تاسو نه ګورئ چې زه هرچا ته یوه یوه پېمانه پوره ورکوم. یا په بل عبارت: زه یوه سړي ته د یو بار غلې څخه اضافه غله نه ورکوم حال دا چې تاسو لسو تنو ته مې یوولس یا دولس ځتې غله ورکړه.

په دې باندې علاوه ستاسو مې ښه مېلمه پالنه هم وکړه، نو تاسو ته په کار دي چې د همدغو احساناتو مننه وکړئ او زما خبره د پښو لاندې نه کړئ (مېرنی ورور د خپلو ځانونو سره راولئ).

۶_ که بالفرض تاسو زما غوښتنه ونه منئ نو معلومه به شي چې تاسو دروغژنان یاست او یوولسمه ځته مو راڅخه په دروغو باندې ترلاسه کړې ده، اصلاً تاسو یوولسم ورور نه لرئ؛ نو ستاسو جزا به دا وي چې بل ځل به یوه ځته غله هم درنه کړم او خالي لاسونه به بېرته ستانه شئ، او هم کومه قدرداني او مېلمستیا چې دا ځل تاسو ته درکړی شوه بل ځل به یې ونه ګورئ بلکې خپل خای ته به مو نژدې هم پرېنږدم.

۷_ کاروانیانو یوسف ﷺ ته وعده ورکړه چې مونږ به د پلار څخه د بنیامین په راوستلو کښې په کلکه غوښتنه وکړو، مونږ دا وعده په دروغو نه درکوو بلکې مونږ د دې کار کوونکي یاستو.

۸_ هو! د ځتو د تهیه کولو په وخت کښې یوسف ﷺ خپلو نوکرانو ته توصیه کړې وه چې په هرا ځته کښې هغه قیمت د غلو دانو سره ځای په ځای کړئ کوم چې تاسو د دوی څخه اخستی دی او په

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مقابل کښې مو غلې دانې ورکړي دي. خو دوی پرې مه خبروئ ترڅو:

الف: چې کله دوی خپل کورکهول ته ورسېږي او هلته خپلې څټې پرانېزي نو دوی به خپل ورکړی شوي قیمتونه وپېژني چې دا خو عین همغه شی دی کوم چې مونږ د غلو دانو په بدله کښې ورکړي وه.

ب: دوی به پوه شي چې دغه پاچا ته خو بېرته ورستنېدل په کار دي چې هم یې غلې دانې راکړې او هم یې راکړی شوي قیمتونه بېرته راوښېل او احسان یې راسره وکړ.

## توضیحات

۱ـ کله چې یوسف ﷺ په مصري حکومت کښې د اقتدار واګې په لاس کښې واخستلې نو د هرڅه څخه وړاندې یې د غلو دانو د ساتنې دپاره مرکزونه او حفاظتي ځایونه جوړ کړه ترڅو د راتلونکو اوو ابادو کلونو حاصلات پکښې زخیره کړي. نو د ابادو کلونو په اوږدو کښې یې ټول مراکز ډک کړه او بیې پربمانه غلې دانې یې غونډې کړې.

۲ـ کله چې اوه اباد کلونه تېر شوه او وچکالي پیل شوه نو د وچکالۍ حمله یوازې په مصر باندې ختمه نه شوه بلکې نورو مملکتونو ته هم خوره شوه، حتی چې د یوسف ﷺ اصلي ټاټوبي (کنعان) ته یې هم اثرات ورسېده او هلته هم خلک د لوږې سره مخامخ شوه.

۳ـ یوسف ﷺ د قحطۍ په کلونو کښې د غلو دانو ورکړه یوازې په مصریانو پورې خاصه نه کړه بلکې د نورو مملکتونو خلکو ته یې هم په لاندې دوه شرطونو باندې توزیع پیل کړه:

الف: د ټاکلې حکومتي نرخ څخه به هیڅوک تخلف نه کوي ځکه چې دا متوسط قیمت دی او افراط او تفریط پکښې نشته.

ب: یوه کس ته به د یوه بار (یوې څټې) څخه اضافه نه ورکوله کېږي.

۴ـ کله چې د وچکالۍ څخه دوه کاله تېر شوه نو د یوسف ﷺ ورونو هم د غلو دانو د رانیولو دپاره د خپل پلار (یعقوب ﷺ) په هدایت مصر ته سفر وکړ[۱].

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې یوسف ﷺ خپل لس تنه ورونه په څه وپېژانده؟

مونږ وایو: که څه هم مفسرینو کرامو د هغوی د پېژاندلو دپاره ډېرې وجې ذکرې کړې دي[۲] چې په ثبوت باندې یې سړی اطمنان نه شي موندلی، مګر کومه وجه چې څه اعتمادي بریښي او د راتلونکو کلماتو ﴿وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيرٍ﴾ څخه څرګندېږي هغه دا ده چې:

د یوسف ﷺ ورونو د توزیع د دوهم شرط څخه د عفوې غوښتنه وکړه چې: ای پاچا! که څه هم مونږ لس تنه یاستو مګر مونږ ته یوولس څټې راکړه[۳] ځکه چې زمونږ یو ورور په کور کښې د بوډا

[۱] روح المعاني ج۱۳ ص۵۲
[۲] تفسیر الخازن ج۳ ص۴۲۶
[۳] المحرر الوجیز ج۹ ص۳۲۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پلار د خدمت دپاره پاتې دی، یا لا دولس څښتې راکړه او زمونږ بوډا پلار هم مه بې برخې کوه[۱].

په دې باندې علاوه، څه لرې نه ده چې یوسف ﷺ به خپلو ورڼو ته سترګې په لار وه او د شام له پلوه د ورتلونکو کاروانیانو څخه به یې پوښتنې کولې چې تاسو څوک یاست او د چا زامن یاست او داسې نور.

لنډه دا چې یوسف ﷺ به د خپلو وروڼو سره لاندې سوال جواب کړی وي:

یوسف ﷺ: تاسو څوک یاست او د کومه راغلئ؟

ورونه: مونږ د یعقوب ﷺ زامن یاستو او د کنعان څخه راغلي یاستو.

یوسف ﷺ: تاسو ټول څو وروڼه یاست؟

ورونه: مونږ خو په اصل کښې دولس وروڼه وه خو یو تن چې یوسف ﷺ نومېده زمونږ څخه ضائع شوی دی او لیوه خوړلی دی. نو څرنګه چې په یوسف ﷺ پسې پلار ډېر خپه دی نو د هغه سکنی ورور (بنیامین) یې د خپل ځان سره ټال کړ او زمونږ سره یې راپرېنښود چې مصر ته راغلي وی او خپله څټه یې پخپله وړې وی. زمونږ پلار د یوسف ﷺ د مرګ څخه وروسته په همده باندې سترګې یخوي او د هغه مینه په ده باندې ماتوي (د خپله ځنګه یې نه لرې کوي). ای محترمه پاچا! مونږ ته د مهربانۍ له مخې د بوډا پلار او د پلار سره د پاتې شوي ورور برخې هم راکړه.

یوسف ﷺ : زه به دا کار وکړم خو دا ځل به پاتې شوی ورور له ځانه سره ضرور مصر ته راولئ: ترڅو ستاسو دروغ او رښتیا ښه څرګند شي. که بالفرض تاسو دورغژن ثابت شوئ نو د دوهم ځل دپاره د هغوی برخې لاڅه چې تاسو ته به هم غلې ذانې درنه کړم. نو تاسو ته په کار دي چې خپل صداقت په اثبات ورسوئ او پاتې شوی ورور د دوهم ځل دپاره راولئ.

## کیل څه معنی؟

۶ـ که څه هم په ﴿ أَوْفِي ٱلْكَيْلَ ﴾ کښې د "کَیل" کلمه پیمانې ته وضعه شوې ده، مګر په دې مقام کښې ترې هغه غلې دانې مطلب دي کومې چې په پیمانه باندې په اندازه کېږي[۲]. یعنې تاسو نه ګورئ چې زه تاسو ته غلې دانې پوره درکوم، تردې چې ستاسو د پاتې شوي ورور او هم د بوډا پلار برخې هم درڅخه نه ایساروم، چې د هر یوه دپاره مې تاسو ته یوه-یوه څټه غله درکړه.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷ـ که څوک وایي چې: په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: کله چې یوسف ﷺ د بندیخانې څخه رابهر شو او په مصري حکومت کښې د ښه اقتدار څښتن جوړ شو نو په کار وه چې خپل پلار ته یې اطلاع ورکړې وی او د هغه غمه یې خلاص

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۸ ص۱۶۶
(۲) مفردات الراغب ص۴۶۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړي وي په کوم کښې چې اخته وه او حتی مبارکې سترګې يې پکښې سپينې اوښتي وې.

ب: څه وجه وه چې خپلو ورونو ته يې خپل ځان ورمعرفي نه کړ چې زه فلانی یم؟

ج: په دې باندې څه باعث وه چې خپل سکه ورور (بنیامین) يې خپل ځان ته په مرموزه طريقه باندې راوغوښت او د خپل پلار په زخمي زړه باندې يې مالګه ودوروله او د ورور په جدا کولو باندې يې وخوراوه؟!

مونږ وايو چې: که څه هم ځینو علماوو کرامو دغه دول پوښتنو ته ډېر جوابونه کړي دي[1] مګر اصلي جواب يې دا دی چې یوسف عليه السلام هرڅه د الله ﷻ په هدایت باندې کول او الله ﷻ غوښتل چې يعقوب عليه السلام د لا زیات مشکل سره مخامخ شي او په صبر سره يې درجې نورې هم لوړې شي، چې يو ځل د یوسف عليه السلام په فراق باندې غمژن شو او د دوهم ځل دپاره ترې د زړه دوهمه ټوټه (بنیامین) جدا شوه مګر په صبر او استقامت کښې يې څه نقصان واقع نه شو.

﴿فَلَمَّا رَجَعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَبِيهِمۡ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مُنِعَ مِنَّا ٱلۡكَيۡلُ فَأَرۡسِلۡ مَعَنَآ أَخَانَا نَكۡتَلۡ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿٦٣﴾ قَالَ هَلۡ ءَامَنُكُمۡ عَلَيۡهِ إِلَّا كَمَآ أَمِنتُكُمۡ عَلَىٰٓ أَخِيهِ مِن قَبۡلُۖ فَٱللَّهُ خَيۡرٌ حَٰفِظٗاۖ وَهُوَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٦٤﴾ وَلَمَّا فَتَحُواْ مَتَٰعَهُمۡ وَجَدُواْ بِضَٰعَتَهُمۡ رُدَّتۡ إِلَيۡهِمۡۖ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مَا نَبۡغِيۖ هَٰذِهِۦ بِضَٰعَتُنَا رُدَّتۡ إِلَيۡنَاۖ وَنَمِيرُ أَهۡلَنَا وَنَحۡفَظُ أَخَانَا وَنَزۡدَادُ كَيۡلَ بَعِيرٖۖ ذَٰلِكَ كَيۡلٞ يَسِيرٞ ﴿٦٥﴾ قَالَ لَنۡ أُرۡسِلَهُۥ مَعَكُمۡ حَتَّىٰ تُؤۡتُونِ مَوۡثِقٗا مِّنَ ٱللَّهِ لَتَأۡتُنَّنِي بِهِۦٓ إِلَّآ أَن يُحَاطَ بِكُمۡۖ فَلَمَّآ ءَاتَوۡهُ مَوۡثِقَهُمۡ قَالَ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٞ ﴿٦٦﴾﴾

[۶۳] نو کله چې د یوسف عليه السلام ورونه خپل پلار ته رجوع وکړه (هغه ته بېرته ورستانه شوه) نو دوی وویلې چې: ای زمونږ پلاره! زمونږ څخه (د دوهم ځل دپاره) پیمانه (غلې دانې) منعه کړی شوې (ترڅو چې مونږ بنیامین د ځانو سره بو نه ځو).

نو زمونږ سره (دا ځل) زمونږ ورور (بنیامین هم) ولېږه ترڅو مونږ پیمانه (غلې دانې) راوړو او یقینًا مونږ ده لره هرو مرو ساتونکي یاستو.

[۶۴] یعقوب عليه السلام وویلې چې: ایا زه تاسو په بنیامین باندې هم امينان وګرځوم؟! (دا کار به نه وي) مګر داسې به وي لکه چې تاسو مې د ده په ورور (یوسف عليه السلام) باندې امينان ګرځولي وئ (نو لکه چې هلته مو خیانت وکړ دلته به هم خیانت وکړئ). نو الله ﷻ د حفاظت کوونکي په حیث ډېر بهتر دی او همدی ﷻ د ټولو مهربانانو بهتر مهربان دی.

---

[1] زاد المسیر ج۴ ص۱۸۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۵] او هر کله چې دوی خپل سامان (او بارونه) پرانستل نو خپل ورکړی شوي قیمتونه يې (پکښې) مونده کړه چې دوی ته بېرته ورکړی شوي وه، (خو دوی پرې خبر نه وه) دوی (بیا د دوهم ځل دپاره پلار ته) وویلې چې: ای زمونږ پلاره! (نور) نو مونږ (د مصري حکومت په صداقت باندې) څه غواړو؟ دغه دی زمونږ ورکړی شوي قیمتونه مونږ ته بېرته را مسترد کړی شوي دي، (دغه قیمتونه به بېرته یوسو) او خپل کهول ته به غلې دانې راوړو او خپل ورور (بنیامین) به ساتو او (بالآخره) د اوښ یوه پیمانه (څته) به زیاته کړو، دغه (چې مونږ راوړی دی) لږ شی دی (ډېر ژر به تمام شي).

[۶۶] یعقوب ﷺ وویلې چې: بنیامین به ستاسو سره هیڅکله ترهغه ونه لېږم ترڅو چې تاسو د الله ﷻ د پلوه ماته اعتماد راکړئ چې هرو مرو ضرور به يې ماته بېرته راولئ؛ مګر که په تاسو ټولو باندې احاطه وکړی شوه (ټول د کوم آفت لاندې واقع شوئ).
نو کله چې دوی خپل پلار ته (ذکر شوی) اعتماد ورکړ (او په الله ﷻ باندې ورته ټولو سوګند وکړ) نو بیا يې (دوی ته) وویلې چې الله ﷻ په هغه شي باندې څارونکی (او ساتونکی) دی کوم چې مونږ (او تاسو) يې وایو.

## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! کله چې د یوسف ﷺ ورونه د مصر څخه بېرته ستانه شوه او د خپل پلار په حضور باندې مشرف شوه نو لاندې خبرې اترې يې ورسره وکړې:

۱ـ دوی وویلې چې: ای زمونږ محترمه پلاره! زمونږ سره د مصر پاچا ډېره ښه وضعه وکړه، زمونږ يې ډېره ښه مېلمستیا وکړه او د خپلو مقرراتو په خلاف يې زمونږ د تعداد څخه اضافه بارونه (څتې) راکړې. مګر نوموړي په مونږ باندې د راتلونکي دپاره یو شرط ایښی دی او مونږ ورسره منلی هم دی، هغه دا چې: باید مونږ خپل ورور (بنیامین) هغه ته ورولو ترڅو هغه پوه شي چې مونږ ترې په دروغو د ده په نامه د اوښ یو بار غله نه ده اخستې. که نه نو په راتلونکي کښې زمونږ څخه د غلو دانو ورکړه منعه کړی شوې ده. یا په بل عبارت: که مونږ د مصري حکومت سره په خپله وعده کښې بې لوظه شو نو مونږ به په بشپړه توګه د غلې څخه محروم وګرځولی شو.
نو ای زمونږ محترمه پلاره! زمونږ سره دا ځل خپل ګران ورور (بنیامین) ولېږه او مونږ تاته کلکه وعده درکوو چې: یقیناً مونږ به د ده حفاظت کوونکی او ساتونکي یاستو.

۲ـ یعقوب ﷺ جواب ورکړ چې: عجیبه ده تاسو خو د یوسف ﷺ په هکله هم ماته د حفاظت وعده راکړې وه او د ﴿ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴾ کلمات مو ویلي وه، نو تاسو د هغه په باره کښې په خپل لوظ باندې کله وفا وکړه چې د ده (بنیامین) په باره کښې به په خپل لوظ باندې ودرېږئ.
لنډه دا چې ایا زه په تاسو باندې د ده په هکله داسې اعتماد وکړم لکه څنګه مې چې د هغه په هکله په تاسو باندې اعتماد کړی وه؟!

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اې زامنو! تاسو په خپل لوظ باندې نه ودرېږئ او نه ستاسو د لاسه د بنیامین حفاظت پوره دی، بلکې الله ﷻ ډېر ښه حفاظت کوونکی دی او په ټولو مهربانانو کښې ډېر ښه مهربان دی، نو زه ستاسو په وعده باندې اعتماد نه شم کولی.

۳ـ که څه هم یعقوب ﷺ د خپلو زامنو غوښتنه په کلکه رده کړه او هغوی هم د خپل پلار په وړاندې ساکت پاتې شوه او د خپلو سوابقو د کبله یې د خپل پلار خبره جوابه نه کړی شوه، مګر کله چې هغوی خپل بارونه (خُتې) پرانستلې او د غلو دانو ورکړی شوي قیمتونه یې پکښې مونده کړه چې بېرته ورکړی شوي وه نو د دوهم ځل دپاره یې خبرو ته خولې جوړې شوې او پخوانۍ غوښتنه یې یو ځل بیا تکراره کړه چې:

الف: مونږ نو نور څه غواړو، دغه دی زمونږ ورکړی شوي سامانونه بېرته راکړی شوي دي، مونږ کولی شو چې همدا سامانونه (د غلو دانو قیمتونه) بیا د خانونو سره واخلو او مصر ته بېرته ورستانه شو. یا په بل عبارت: که بالفرض مصري حکومت خطرناک حکومت وی یا هلته زمونږ څه توقیر صورت نه وه نیولی نو مونږ به په خپل ورور باندې ډار شوي وی، نو کله چې هغوی مونږ ته خپل صداقت عملاً راوښود نو مونږ ته په کار دي چې بې لوظي ورسره ونه کړو او د خپل ورور سره بېرته ورستانه شو.

ب: اې محترمه پلاره! مونږ به د خپل کور کهول دپاره د غلو دانو بله جوپه هم راوړو، که نه نو زمونږ همدا یوه جوپه شوه او بس.

ج: اې محترمه پلاره! مونږ یو ځل بیا خپله غوښتنه تکرارو چې زمونږ سره ګران ورور ولېږه چې مونږ به یې ساتو، ته بالکل خاطر جمعه اوسه.

د: اې محترمه پلاره! مونږ مجبور یاستو چې مصر ته د دوهم ځل دپاره لاړ شو دا څکه چې په بل وطن کښې غلې دانې نشته (قحطي په ټوله دنیا باندې خوره ده)، او کوم بارونه چې مونږ راوړي دي دا لږ شی دی چې د ډېر وخته پورې کفایت نه کوي. نو که مونږ پرته د خپله وروره مصر ته ستانه شو نو مونږ ته به بالکل غلې دانې رانه کړی شي او که بالفرض راکړی شي نو کوم زیادت یې چې اولنۍ جوپه کښې راکړی وه، هغه خو به په یقیني توګه رانه کړي. هو! که خپل ورور له خانه سره بوځو نو د یو پلوه به مونږ ته غلې دانې راکړی شي او د بله پلوه به د اوښ یوه څټه غله هم زیاته راوړو.

۴ـ یعقوب ﷺ دا ځل قانع شو خو ویې ویلې چې:

الف: هیڅکله به ستاسو سره بنیامین ونه لېږم ترڅو چې تاسو ماته د الله ﷻ د پلوه اعتماد او باور راکړئ او د ده ﷻ په نامه باندې سوګندونه یاد کړئ چې بنیامین به ماته روغ رمټ بېرته راولئ.

ب: هو! که د کوم آفت لاندې تاسو ټول (د بنیامین په شمول) واقع شئ نو په دې صورت کښې به په تاسو باندې ملامته نه پرېوزي، او دا صورت به په سوګند کښې شامل نه وي.

کله چې د یوسف ﷺ ورونو خپل پلار ته د الله ﷻ په نامه باندې کلکه وعده ورکړه او سوګندونه

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يې وکړه نو يعقوب ﷺ ووېلې چې: ﴿ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ﴾ يعنې: الله ﷻ په هغه شي باندې خبردار او حفاظت کوونکی دی کوم چې مونږ غوښته کړ او فیصله مو پرې وکړه.

## توضیحات

۱ـ مونږ وړاندې د [۵۹] ایت په توضیحاتو کښې هم لیکلي دي چې د "کیل" کلمه اصلاً پیمانې ته وضعه شوې ده مګر د مجاز په توګه ترې هغه غلې دانې هم مرادېږي کومې چې په پیمانه باندې په اندازه کېږي، نو په دې ایتونو کښې هم د "کیل" د کلمې څخه په لاندې جملو کښې همدغه مجازي معناوې مرادې دي:

الف: ﴿ مُنِعَ مِنَّا ٱلْكَيْلُ ﴾ يعنې زمونږ څخه په راتلونکي کښې په بشپړه توګه د اوښ ښته منعه کړی شوه مګر په شرط سره.

ب: ﴿ وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيرٍ ﴾ يعنې که مونږ خپل ورور د خانه سره بوځو نو د اوښ یوه ښته به زیاته هم کړو.

ج: ﴿ ذَٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ ﴾ يعنې دغه ښتې چې مونږ راوړي دي دا لږ شی دی.

## یادونه

۲ـ په ﴿ ذَٰلِكَ كَيْلٌ يَسِيرٌ ﴾ کښې مونږ د ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ کلمه هغو غلو دانو ته اشاره ګڼلې ده کومې چې د یوسف ﷺ ورونو د مصر څخه راوړې وې. يعنې دغه لږ شی دی ژر به تمام شي، نو مونږ ته په کار دي چې بېرته مصر ته ستانه شو.

خو ځینو علماوو کرامو د ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ په کلمه باندې هغه "کیل" ته اشاره اخستې ده کوم چې په ﴿ وَنَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيرٍ ﴾ کښې ذکره ده[۱]. نو د معنی حاصل یې داسې راوباسي چې: دغه د اوښ یوه ښته چې د بنیامین په بیولو باندې زیاتېږي دا لږ شی دی، مصري حکومت د دغې ښتې په زیادت باندې نه خپه کېږي.

خو دا ډول معنی مونږ ته متبادره ښکاره نه شوه.

## "مَوْثِق" څه معنی؟

۳ـ په ﴿ مَوْثِقًا مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ کښې د "مَوْثِق" کلمه میمي مصدر ده او د مفعول معنی ترې مراده ده[۲]. يعنې بنیامین ته به ترهغه اجازه ورنه کړم چې ستاسو سره مصر ته لاړ شي ترڅو چې تاسو ماته هغه څه راکړئ په کوم باندې چې د الله ﷻ د پلوه خبره او وعده قوت پیدا کوي، چې هغه د الله په نامه باندې سوګند کول دي. یا په بل عبارت: ترڅو چې سوګند وکړئ. زه ستاسو په وعدو او خبرو اعتماد نه کوم.

---

(۱) زاد المسیر ج۴ ص۱۹۱
(۲) روح المعاني ج۱۳ ص۱۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَقَالَ يَـٰبَنِيَّ لَا تَدْخُلُوا۟ مِنۢ بَابٍ وَٰحِدٍ وَٱدْخُلُوا۟ مِنْ أَبْوَٰبٍ مُّتَفَرِّقَةٍ ۖ وَمَآ أُغْنِى عَنكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ ۖ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۖ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ﴿٦٧﴾ وَلَمَّا دَخَلُوا۟ مِنْ حَيْثُ أَمَرَهُمْ أَبُوهُم مَّا كَانَ يُغْنِى عَنْهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن شَىْءٍ إِلَّا حَاجَةً فِى نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضَىٰهَا ۚ وَإِنَّهُۥ لَذُو عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنَـٰهُ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦٨﴾ ﴾

[۶۷] او یعقوب ﷺ وویلې چې: ای زما زامنوا تاسو (ښار ته) د یوې دروازې څخه مه ورننوزئ او (بلکې) د متفرقو (جدا جدا) دروازو څخه ورداخل شئ (ترڅو د سترګو د بد اثر لاندې واقع نه شي). او زه (خو) ستاسو څخه (په خپل تدبیر سره) د الله ﷻ (د ارادې) هیڅ شی نه شم دفعه کولی (هیڅ مخه یې نه شم نیولی). حکم (او فیصله بل هیچا ته) نشته مګر خاص الله ﷻ لره ده (هر څه د همده ﷻ په واک او اختیار کښې دي) خاص په همده ﷻ باندې ما توکل کړی دی، او په همده ﷻ باندې دې نور (ټول) توکل کوونکي (ستاسو په شمول) توکل وکړي.

[۶۸] او هر کله چې د یوسف ﷺ ورونه (ښارته) په هغې طریقې سره داخل شوه په کومه باندې چې ورته خپل پلار (یعقوب ﷺ) امر کړی وه، نو دغه ډول ننوتل نه وه چې د دوی څخه د الله ﷻ د ارادې څه شی دفعه کړي (او مخه یې ونیسي) مګر دا (ډول ننوتل) محض د یعقوب ﷺ په زړه کښې یوه غوښتنه وه چې اداء یې کړه.

او یقینًا یعقوب ﷺ د داسې علم خاوند وه چې مونږ ورته ښودلی وه مګر اکثره خلک نه پوهېږي (د توکل علی الله معنی نه شي تشخیص کولی).

## د مطلب خلاصه

یعنې څرنګه چې یعقوب ﷺ د یو پلوه د غلو دانو ضرورت اشد وګڼه او د بله پلوه یې د خپلو زامنو په سوګندونو باندې اعتماد وکړ، نو بنیامین ته یې اجازه ورکړه چې د خپلو ورونو سره یو ځای مصر ته د غلو دانو د رانیولو دپاره د دوهم ځل دپاره لاړ شي. مګر داسې نصیحت یې ورته وکړ چې:

۱ـ ای زامنو! کله چې تاسو مصر ته ورسېدلئ نو ټول په یوه دروازه باندې مه ورداخلېږئ بلکې د متفرقو دروازو څخه ورننوزئ، ترڅو د بدو سترګو د نظر لاندې واقع نه شئ.

۲ـ ای زامنو! دا د بشري مکلفیت په اعتبار سره زما توصیه ده چې تاسو ته مې وکړه او خپل مسولیت مې پوره کړ، که نه نو د الله ﷻ د ارادې مخه هیڅوک په هیڅ شي کښې نه شي نیولی، نو زه هم تاسو د مصیبت څخه نه شم بچ کولی البته کله چې الله ﷻ اراده کړې وي چې تاسو د کوم

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نظرباز د بد نظر لاندې راشي: دا ځکه چې د الله ﷻ څخه پرته هيڅوک د يوه شي په باره کښې فيصله نه شي کولی، بلکې فيصله کول په همده ﷻ پورې اختصاص لري.

۳ـ ای زما زامنو! کله چې ما خپل مکلفيت اداء کړ نو زه يوازې په الله ﷻ باندې توکل کوم او په همده ﷻ باندې مو سپارم. ټولو مؤمنانو توکل کوونکو ته عموماً او تاسو ته خصوصاً هم په کار دي چې فقط په الله ﷻ باندې توکل وکړئ او خپل ټول کارونه همده ﷻ ته وسپارئ.

۴ـ هغوی د خپل پلار توصيه عملي کړه، او ښار ته په متفرقه (متعددو) دروازو باندې ورننوتل، مګر د يعقوب ﷺ په تدبير سره د الله ﷻ د ارادې مخه ونه نيوله شوه او زامن يې د بد نظر لاندې واقع شوه، حتى چې د غلو نومورباندې کېښودل شو. بلکې يعقوب ﷺ هم قصد نه درلود چې په خپل تدبير سره د الله ﷻ د ارادې مخه بنده کړي، ذکر شوی تدبير محض د يعقوب ﷺ د زړه يوه غوښتنه وه چې پوره يې کړه او يو بشري مکلفيت يې وه چې اداء يې کړ، که نه نو يعقوب ﷺ خو د داسې علم خاوند وه چې مونږ ورته زده کړی وه او مونږ ورښودلی وه، هغه دا چې تقدير په تدبير نه بدلېږي.

لنډه دا چې يعقوب ﷺ پوهېده خو اکثره خلک نه پوهېږي د همدې کبله په حوادثو کښې د لاندې صورتونو څخه په يوه باندې عقيده کوي:

الف: يا بشري اسباب حقيقي موثر ګڼي او د الله ﷻ د ارادې مخه بندونکي ورته برېښي.

ب: يا په بشري اسبابو پورې هيڅ تماس نه نيسي او دا کار ورته مکلفيت نه ښکاري.

ج: يا ورته بشري اسباب تهيه کول د توکل على الله سره منافي په نظر ورځي. خو حقيقت داسې نه دی، حقيقت دا دی چې د اسبابو تهيه کول بشري مکلفيت دی او حقيقي موثر فقط الله ﷻ دی او بس.

## توضيحات

۱ـ خينو مفسرينو کرامو ليکلي دي چې يعقوب ﷺ په خپلو يوولسو زامنو باندې د سياسي خطر څخه وډار شو نو ځکه يې ورته توصيه وکړه چې ښار ته په يوه دروازه باندې مه ور داخلېږئ ترڅو په تاسو باندې مصري حکومت ګومان ونه کړي چې تاسو د تخريب دپاره راننوتلي[1].

مګر مونږ ته دا وجه ډېره کاواکه ښکاري او دا ځکه چې:

الف: په دغه وخت کښې خو د هر طرف څخه د مصر مملکت ته چوپې ور روانې وې او ټول خلک پوهېده چې د وچکالۍ له کبله يې دغه خواته مخه کړې ده، که د مصري حکومت سره د ذکر شوي خطر احتمال وی نو کاروانيانو ته به يې د ورننوتلو عامه اجازه نه وی ورکړې.

ب: ذکر شوی کنعاني کاروان خو مصري حکومت پخپله ورغوښتی وه چې د خپل يوولسم ورور سره د دوهم ځل دپاره راشئ، ګومان نه کوو چې يعقوب ﷺ به په بلل شوي کاروان باندې د حکومت د خطر څخه ډار شوی وي. که بالفرض د يعقوب ﷺ سره سياسي خطر وی نو په لومړي ځل ورتګ کښې به يې ورته ذکره شوې توصيه کړې وی، چې نابللي شوي ورغلي وه.

---

[1] تفهيم القرآن ج۲ ص۵۹۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځ په دې باندې علاوه کله د هغه ﷺ سره د سیاسي خطر دار وی نو د دروازو په تفرق باندې به یې ورته توصیه نه وی کړې. او دا ځکه چې په دغه دول تلونلو باندې خو سیاسي بدگوماني لا قوي کېدله چې دغه څو عجیبه ډله ده چې د متفرقو دروازو څخه ښار ته ورننوتل او د پاچا په حضور کښې سره راغونډ شوه، لکه چې د دغه ورانکاری نیت لري

نو اصلي خبره دا ده چې یعقوب ﷺ په خپلو پوولسو زامنو باندې د نظره کېدلو څخه دار شوی وه! چې یوولس ښانسته زلمیان ورونه په اتفاق سره په یوه دروازه باندې ښار ته ورداخل شي او د دې سره سره د پاچا له پلوه ورپلل شوي هم وي، نو خطر شته چې د بدو سترګو د اثر لاندې واقع شي. همدا د جمهورو مفسرينو کرامو قول دی[۱]

## د سترګو په اثر د مصیبت رسېدل حق دي

۲ ـ که څوک د اوږد او فلسفي بحث شوق لري چې د سترګو په کتلو باندې څنګه بد اثر مرتبېږي؟ نو څینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۲]. موږ فقط د لاندې مطالبو په لیکلو باندې اکتفاء کوو

الف: د څینو خلکو په نزد د سترګو نظر د الله ﷻ په ارادې سره اثر کوي ځکه چې مرضونه او آفتونه د ده ﷻ په ارادې سره موثر واقع کېږي. همدا زمونږ (اهل السنة والجماعة) عقیده ده، او دا ځکه چې:

اول: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الْعَيْنُ حَقٌّ»[۳] یعنې د سترګو په اثر د مصیبت رسېدل حق دي (حقیقت لري).

دوهم: نبي کريم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمايلي دي چې: «لَوْ كَانَ شَيْءٌ سَابَقَ الْقَدَرَ لَسَبَقَتْهُ الْعَيْنُ»[۴] یعنې د سترګو مصیبت واقعیت لري حتی که بالفرض المحال د تقدیر څخه کوم شی وړاندې کېدلی شوی نو ضرور به سترګې ترې وړاندې شوې وی، خو هر شی د الله ﷻ په اذن او اجازې پورې اړه لري چې د قضاء او قدر په مطابق صورت نیسي.

د انسان د سترګو اثر داسې دی لکه د څینو مارانو (منګورانو) سترګې چې اثر لري. نبي کريم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمايلي دي چې: دوه دوله ماران (یو هغه چې په شا باندې یې دوه سپین خطونه وي او بل هغه چې لنډي وي) «يَخْطَفَانِ الْبَصَرَ وَيَطْرَحَانِ مَا فِي بُطُونِ النِّسَاءِ»[۵] یعنې: سترګې ړندوي او هغه (ماشوم) غورزوي کوم چې د زنانه وو په ګېډو کښې وي. البته کله چې ورسره کومه امیدواره زنانه سترګې په سترګې مخامخه شي.

---

(۱) البحر المحيط ج۶ ص۲۹۸، حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۹۲
(۲) روح المعاني ج۱۳ ص۱۵، تفسير القاسمي ج۹ ص۲۵۳
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۸۵۴
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۲۶
(۵) سنن ابي داود ج۲ ص۳۵۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: کله چې د چا سترګې په کوم شي باندې خوږې شي نو که د الله ﷻ نوم یاد کړي امید دی چې بد نظر به ورباندې اثر ونه غورزوي. او دا څکه چې:

اول: د یوه اوږده حدیث مضمون دی چې یوه ورځې عامر بن ربیعه ﷺ یو بل صحابي د نظره کړ چې سهل بن حُنَیف ﷺ نومېده. کله چې نبي کریم ﷺ ته اطلاع ورکړه شوه نو ویې فرمایلې چې: «عَلٰى مَا يَقْتُلُ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ إِذَا رَأٰى أَحَدُكُمْ مِنْ أَخِيهِ مَا يُعْجِبُهُ فَلْيَدْعُ لَهُ بِالْبَرَكَةِ»[1] یعني: ولې ستاسو یو کس خپل ورور وژني (د نظره کوي)؟، کله چې ستاسو یو نفر د خپل ورور څخه هغه شی وګوري کوم چې دی په تعجب کښې اچوي (او خوښ یې شي) نو هغه ته دې په برکت سره دعاء وکړي، چې ای الله! په دغه باندې خپل برکت ورنازل کړې (نو د سترګو د اثر څخه به د الله ﷻ په اراده باندې بچ شي).

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ رَأٰى شَيْئًا فَأَعْجَبَهُ فَقَالَ: مَا شَاءَ اللهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ لَمْ يَضُرَّهُ»[2] هرڅوک چې یو شی وګوري نو په تعجب کښې یې واچوي (خوښ یې شي) نو دا کلمات دې ولولي چې «مَا شَاءَ اللهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ» نو هغه شي ته به (په سترګو سره) ضرر ونه رسوي (په هغه باندې به یې د کتلو بد اثر ونه لوېږي). یعنې څه چې د الله ﷻ اراده وي هغه کېږي او په هیڅ نېک کار یا ښه شي باندې څوک قدرت نه شي موندلی مګر د الله ﷻ په کومک او اعانت سره.

ج: څوک چې د نظره شي (د بد نظر لاندې واقع شي) او د قرآن کریم په ایتونو او یا ماثوره اذکارو باندې دم کړی شي، نو امید دی چې د بد نظر د اثر څخه به نجات مونده کړي. د ښه وضاحت دپاره د نبي کریم ﷺ لاندې احادیثو ته پام وکړئ:

اول: بي بي عائشه رضي الله عنها (ام المؤمنین) وایي چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ د یوه ماشوم اواز واورېده چې ژړل یې، نو ارشاد یې وکړ چې: «مَا لِصَبِيِّكُمْ هٰذَا يَبْكِي فَهَلَّا اسْتَرْقَيْتُمْ لَهُ مِنَ الْعَيْنِ»[3] یعني ستاسو دغه ماشوم ولې ژاړي؟ نو تاسو د دغه ماشوم دپاره د سترګو له کبله ضرور (د چا څخه) د دمولو غوښتنه وکړئ.

دوهم: «خَيْرُ الدَّوَاءِ الْقُرْآنُ»[4] یعني د مرضونو دپاره بهترینه دوایي قرآن کریم دی.

درېم: «فَاتِحَةُ الْكِتَابِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ»[5] یعني د فاتحې سورت د هر مرض دپاره شفاء ده چې کله پرې مریض دم کړی شي.

څلورم: په دم باندې د مریض رغېدل، د مرض څخه په نجات کښې اثر کول د عیسی ﷺ دم (نَفَس) ته ورته دی چې کله د اسمانه څخه رابښکته شي او هرکافر ته یې چې د نَفَس باد ورسېږي هغه

(۱) سنن ابن ماجه ص ۲۵۰
(۲) شعب الایمان للبیهقي ج۴ ص ۹۰
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص ۳۴۷
(۴) سنن ابن ماجه ص ۲۵۰
(۵) سنن الدارمي ج۲ ص ۳۲۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به سمدستي وژل کېږي. نبي کریم ﷺ په یوه دېر اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَلَا يَجِدُ رِيحَ نَفْسِهِ إِلَّا مَاتَ وَرِيحُ نَفْسِهِ مُنْتَهَى بَصَرِهِ»[1] یعني د عیسی ؑ د نفس باد هیڅ کافر نه مونده کوي مګر خای په خای به مرکېږي، او د نفس باد یې هلته رسېږي چرته چې د ده ؑ د سترګو نظر رسېږي.

## عجیبه ارشاد

۳ـ ایت شریف مونږ ته یو عجیبه ارشاد کړی دی هغه دا چې یعقوب ؑ خپلو زامنو ته د بد نظر څخه د بچ کېدلو ذریعه ورښودله چې ښارته د متفرقو دروازو څخه وننوزئ ترڅو دربانديې بد نظر اثر ونه غورزوي، خو وروسته یې وویلې چې: ﴿ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ﴾ یعني: ما په الله ﷻ باندې توکل کړی دی.

مونږ ته په کار دي چې د هغه څخه وروسته په الله ﷻ باندې توکل وکړو چې خپله بشري وسه تمامه کړو، او دا ځکه چې د توکل معنی دا نه ده چې سړی د خپلې وسې په اندازه د بشري وسائلو څخه صرف نظر شي بلکې د توکل معنی دا ده چې سړی خپله وسه بشپړه کړي او په نتیجه اخستلو کښې د الله ﷻ فضل ته په تمه شي.

همدا موضوع په لاندې حدیث کښې څومره ښه شرحه شوې ده:

یوه ورځې د نبي کریم ﷺ څخه یوه سړي پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! ایا زه اوښ وتړم او بیا په الله ﷻ باندې توکل وکړم او یا یې پرانیزم (پرانستی یې پرېږدم) او بیا توکل وکړم؟

نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «اعْقِلْهَا وَتَوَكَّلْ»[2] اوښ وتړه او (بیا) توکل وکړه.

﴿وَلَمَّا دَخَلُوا۟ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيْهِ أَخَاهُ ۖ قَالَ إِنِّىٓ أَنَا۠ أَخُوكَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا۟
يَعْمَلُونَ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا جَهَّزَهُم بِجَهَازِهِمْ جَعَلَ ٱلسِّقَايَةَ فِى رَحْلِ أَخِيهِ ثُمَّ أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ
أَيَّتُهَا ٱلْعِيرُ إِنَّكُمْ لَسَٰرِقُونَ ﴿٧٠﴾ قَالُوا۟ وَأَقْبَلُوا۟ عَلَيْهِم مَّاذَا تَفْقِدُونَ ﴿٧١﴾ قَالُوا۟ نَفْقِدُ
صُوَاعَ ٱلْمَلِكِ وَلِمَن جَآءَ بِهِۦ حِمْلُ بَعِيرٍ وَأَنَا۠ بِهِۦ زَعِيمٌ ﴿٧٢﴾ قَالُوا۟ تَٱللَّهِ لَقَدْ عَلِمْتُم مَّا
جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا كُنَّا سَٰرِقِينَ ﴿٧٣﴾ قَالُوا۟ فَمَا جَزَٰٓؤُهُۥٓ إِن كُنتُمْ كَٰذِبِينَ ﴿٧٤﴾
قَالُوا۟ جَزَٰٓؤُهُۥ مَن وُجِدَ فِى رَحْلِهِۦ فَهُوَ جَزَٰٓؤُهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٧٥﴾ فَبَدَأَ
بِأَوْعِيَتِهِمْ قَبْلَ وِعَآءِ أَخِيهِ ثُمَّ ٱسْتَخْرَجَهَا مِن وِعَآءِ أَخِيهِ ۚ كَذَٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۴۸
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۷۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ ٱلْمَلِكِ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ۚ نَرْفَعُ دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُ ۗ وَفَوْقَ
كُلِّ ذِى عِلْمٍ عَلِيمٌ ﴿٧٦﴾ قَالُوٓا۟ إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُۥ مِن قَبْلُ ۚ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِى
نَفْسِهِۦ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ۚ قَالَ أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۖ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ﴿٧٧﴾

[۶۹] کله چې دوی یوسف ﷺ ته ورننوتل نو خپل (سکه) ورور یې خپل خان ته ضمیمه (غاړه په غاړه) کړ (او ورته یې) وویلې چې: یقینًا زه ستا (سکه یوسف نامی) ورور یم نو ته په هغه کارونو باندې مه غمژن کېږه چې دوی (زمونږ سره) کړي دي.

[۷۰] نو کله چې یوسف ﷺ دوی ته د دوی (د سفر) سامان (غلې دانې) تیارې کړې نو د خپل ورور په بار (څېړه) کښې یې (د یوه خاص نوکر په ذریعه) د اوبو څښکلو پیاله (جام) کېښود، بیا اعلان کوونکي اعلان وکړ چې: ای کاروانیانو! (جوپه والاوو) یقینًا تاسو غله یاست.

[۷۱] هغوی (ورته) وویلې او مخونه یې وروا ړول (ورتاو شوه) چې هغه څه شی دی چې تاسو ورک کړی دی (او پلټنه یې کوئ).

[۷۲] نوکرانو وویلې چې: مونږ د پاچا پیمانه ورکړه کړې ده (چې پخوا به یې پکښې اوبه څښکلې). او د هغه چا دپاره د اوښ یو بار غله ده چې پیمانه (په خپله خوښه پرته د پلټنې څخه) راوړي، او زه (اعلان کوونکی) د یو بار غلې ضامن یم (چې د انعام په توګه به ورکړی شي).

[۷۳] هغوی وویلې چې: په الله ﷻ باندې زمونږ سوګند دی چې: یقینًا تاسو پوهېږئ چې مونږ د دې دپاره (مصر ته) نه یاستو راغلي چې په (دې) ځمکه کښې فساد وکړو، او (هم) مونږ (د پخوا څخه) غلاګر نه یاستو.

[۷۴] نوکرانو وویلې چې: نو د غله به څه جزا وي که چرته تاسو دروغژنان یاست (او زرین جام ستاسو سره مونده شي).

[۷۵] هغوی وویلې چې: د دې کار جزا چې ده (د) هغه (چا نیول) دې د کوم په څېره کښې چې ورکه شوې پیمانه ومونده شوه (یا په بل عبارت) همغه کس د خپل عمل جزا ده (چې تر یو کاله پورې به د پاچا غلام جوړېږي). همدغه ډول جزا مونږ (په خپل وطن کښې) ظالمانو (غلو) ته ورکوو.

[۷۶] نو یوسف ﷺ د خپل سکه ورور د خورجینې څخه وړاندې د دوی (خپلو ناسکه وو ورونو) څېړو (خورجینو) باندې (په پلټنه) شروع وکړه، بیا (په آخر کښې) یې ذکره شوې (ورکه شوې) پیمانه د خپل ورور (بنیامین) د څېړې (خورجین) څخه راوویستله (چې د غلام جوړېدلو د قانون لاندې واقع شو).

(ای پیغمبره!) مونږ د یوسف ﷺ دپاره دغسې پټ تدبیر په کار واچاوه (دا څکه چې): یوسف ﷺ نه وه چې د پاچا په قانون کښې یې خپل ورور نیولی وی (او د خپله خانه سره یې ایسار کړی وی) مګر هله چې د الله ﷻ اراده شوې وی (لکه چې وړاندې شرحه شوه).

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ د هغه چا درجې لوړوو چې زمونږ ورته اراده وشي (او علم یې ورزیاته وو) او د علم په هر خاوند باندې دپاسه (په یو حیث سره) زیات عالم شته دی.

[۷۷] هغوی وویلې چې: که بنیامین غلا کړې وي نو (کړې به یې وي ځکه چې) یقیناً ده لره یوه ورور (هم) لا پخوا غلا کړې وه (چې یوسف نومېده).

نو یوسف ﷺ یوه خبره پټه په زړه کښې وساتله او دوی ته یې ورڅرګنده نه کړه، (هغه دا چې په زړه کښې یې ورته) وویلې چې تاسو د مرتبې د حیثه ډېر بد یاست، او (بیا یې په څرګنده مخاطب کړه چې) الله ﷻ په هغه څه باندې ډېر ښه پوهېږي چې تاسو یې بیانوئ (او په مونږ باندې د غلاګانو تهمت لګوئ).

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! د یوسف ﷺ یوولس وروڼه د خپل پلار د ارشاد په مطابق ښار ته په متفرقو دروازو باندې ورننوتل مګر د ښار په داخل کښې سره راغونډ شوه او د یوسف ﷺ په حضور باندې په ډلییزه توګه مشرف شوه، او هم د ده سره مېلمانه شوه، او بیا لاندې کیفتونه پېښ شوه:

۱_ د همدغې مېلمستیا په جریان کښې یوسف ﷺ خپل سکه ورور (بنیامین) ته خاصه توجه وکړه چې:

الف: خپل خان یې ور وپېژاند چې زه ستا ورک شوی (یوسف نامی) سکه ورور یم، مګر حال مه وایه چې دوی خبر نه شي.

ب: اطمنان (ډاډینه) یې ورکړه چې الحمد لله اوس هغه وخت را رسېدلی دی چې د پلار په شمول مونږ د غمونو څخه نجات مونده کړو او ټول د خوشالۍ په حالت کښې سره ملاقي شو، نو ته په هغې بدې وضعې باندې مه خپه کېږه کومه چې د سفر په اوږدو کښې دوی ستا سره کړې ده او په دې باندې یې رخه کړې ده چې ته پاچا راغوښتی یې. او په هغو کارونو باندې مه خپه کېږه کوم چې دوی زمونږ په هکله کړي وه، او دا ځکه چې همدغه د دوی بدنیت سبب شو چې مونږ پرې دغې درجې ته ورسېدلو.

۲_ د پېژاندګلۍ څخه وروسته یوسف ﷺ او بنیامین یوه هم نه غوښتل چې یو د بل څخه جدا شي. کله چې بنیامین غلې دانې په اوښ باندې بار کړې او د نورو وروڼو په شمول د کنعان په لور روان شو نو الله ﷻ یوسف ﷺ ته د خپل سکه ورور (بنیامین) د پاتې کېدلو لاندې تدبیر ورزده کړ چې:

۳_ کله چې یوسف ﷺ د خپلو ټولو وروڼو دپاره د بېرته ستنېدلو سامان برابر کړ او هر یوه ته یې د غلو دانو ختې تهیه کړې نو د خپل سکه ورور (بنیامین) په خته کښې یې د اوبو څښلو یو قیمتي جام (یا پیاله) کېښودله، چې د دوی څخه پرې هیڅوک پوه نه شو.

۴_ کله چې دوی ټولو غلې دانې بارې کړې او هرچا خپل اوښ روان کړ او د ښاره (مصر) څخه ووتل نو د نوکرانو یوه ټولګي دوی تعقیب کړه او لاندې سوال جواب یې ورسره وکړ:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مشر نوکر دوی په لوړ اواز باندې مخاطب کړه چې: ای کاروانیانو! ودریږئ! تاسو غله یاست.

کاروانیان په نوکرانو باندې په جرئت سره بېرته ورتاو شوه او پوښتنه یې ترې وکړه چې: تاسو د څه شي موندل غواړئ؟ د کوم شي د غلا کولو اتهام په مونږ باندې لګوئ؟

نوکران: مونږ پاچاهي قیمتي پیمانه لټوو چې ورکه شوې ده، او هر چا چې په خپله خوښه مونږ ته راوړه (پلټنې ته یې تیال نه کړه) نو د هغه دپاره د یو اوښ بار غلې دانې د زیري په توګه ورکول کیږي.

په عین وخت کښې د نوکرانو مشر غږ وکړ چې د دغې یوې خبرې زه ضامن یم چې ضرور به یې ورکړم.

کاروانیان: تاسو خو پوهیږئ چې مونږ مصر ته د غلو دانو دپاره راغلي یاستو، نه د دې دپاره چې په ځمکه کښې فساد وکړو او غلا خو لوی فساد دی، نو تاسو ته اطمنان درکوو چې مونږ نه پخوا غلا کړې ده او نه په موجوده وخت کښې په غلا ملوث یاستو.

نوکران: ښه نو د هغه کس به څه جزا وي په کوم باندې چې غلا ثبوت مونده کړي او تاسو دروغژن وخېژئ چې وایئ مونږ غله نه یاستو.

کاروانیان: د هرچا په بار (څټه) کښې چې ذکره شوې د پاچا قیمتي پیمانه ومونده شوه همغه سړی به د خپلې غلا جزا جوړیږي او د یو کاله پورې به د پاچا غلام (مریی) وي، مونږ د یعقوب ﷺ په شریعت کښې همدغه ډول جزا ظالمانو (غلو) ته ورکوو.

۵ـ په همدې خبره باندې فیصله وشوه او ټوله جوپه بېرته ستنه کړی شوه او د یوسف ﷺ په حضور کښې د پلټنې لاندې ونیوله شوه.

۶ـ یوسف ﷺ لومړی د ناسکه ورونو بارونه وپلټل او د ټولو په آخر کښې یې د خپل سکه ورور (بنیامین) څټه د پلټنې لاندې ونیوه، ترڅو د یو پلوه ټولې خبرې د پلټنې لاندې واقع شي او د بله پلوه دوی ګومان ونه کړي چې د بنیامین په څټه کښې قیمتي پیمانه په دستوري توګه ایښودلې شوې وه چې په زغرده ترې راوویستله شوه.

لنډه دا چې د پلټنې په ترځ کښې یې د بنیامین د څټې څخه ورکه شوې قیمتي پیمانه راوویستله او په نتیجه کښې د یعقوب ﷺ د شریعت په مطابق په نوموړي باندې د یوسف ﷺ دپاره د غلام نوم کېښودل شو چې باید کنعان ته لاړ نه شي او تر یو کاله پورې په مصر کښې د غلامۍ دوره تېره کړي.

۷ـ ای پیغمبره! مونږ په دغه شان او په دغه تدبیر سره یوسف ﷺ ته قانوناً اختیار ورکړ چې خپل ورور (بنیامین) د خپله خانه سره تیال کړي. که نه نو ده نه شو کولی چې د وخت پاچا په قانون (د مصري حکومت په قانون) یې راایسار کړی وی، مګر هله چې الله ﷻ اراده کړې وی او د هغه د راایسارولو دپاره یې بل تدبیر هغه ته وحي کړی وی، لکه چې ذکر شوی تدبیر یې ورته په وحې سره ورزده کړ.

۸ـ او مونږ په دغه ډول سره د علم په ورکړه کښې د هغو کسانو درجې لوړوو او د غوښتنو دپاره یې تدابیر په کار اچوو کومو ته چې زمونږ اراده وشي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۹ـ نو ای پیغمبره! څرنګه چې مونږ د فضائلو او علومو په ورکړه کښې د حکمت په غوښتنه خپلو بندګانو ته مختلفې درجې ورکړې دي، نو د علم په خاوند باندې (هرڅوک چې وي) د پاسه بل عالم شته چې په هغه باندې به یې د وجوهو څخه په یوه وجه علم زیات وي.

۱۰ـ کله چې کاروانیان (د یوسف ﷺ ورونه) ملامته شوه او غلا وریاندې ثابته شوه نو د بنیامین څخه یې دفاع ونه کړه چې دغه قیمتي پیمانه به ورته بل چا په بار کښې غلې کړې وي، بلکې دوی ټول د خپلو ځانونو په تزکیه باندې بوخت شوه چې: دغه غل زمونږ ناسکه ورور دی، د ده یو بل ورور وه چې یوسف نومېده هغه لا پخوا غلا کړې وه، دا کار د دوی عادت دی، چې په دغې غلا باندې یې مونږ هم د خجالت سره مخامخ کړو.

۱۱ـ یوسف ﷺ په خپل زړه کښې یوه خبره په پټه باندې (د ځانه سره) وویلې او دوی ته یې ښکاره نه کړه، ځکه چې الله ﷻ ورته د ښکاره کولو اجازه نه وه کړې چې د امتحان څه مرحله لا پاتې وه.

هغه دا چې تاسو ډېر بد خلک یاست، تاسو د خپل پلار څخه د هغه ګران زوی (یوسف ﷺ) پټ کړی وه او بیا مو ورته ویلي وه چې هغه لیوه وخوړ، نو تاسو غله یاست او که مونږ؟.

لنډه دا چې الله ﷻ په هغه څه باندې ډېر ښه پوهېږي چې تاسو یې بیانوئ او مونږ ته د غلو نسبت کوئ.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ ءَاوَىٰٓ إِلَيۡهِ أَخَاهُ ﴾ په جمله کښې د ﴿ ءَاوَىٰٓ ﴾ کلمه د "إیواء" څخه اشتقاقه شوې ده چې د ضمیمه کولو معنی ورکوي[۱]. نو د معنی حاصل یې ـ په دې مقام کښې ـ داسې کېږي چې: یوسف ﷺ خپل سکه ورور (بنیامین) خپل ځان ته ضمیمه کړ او ورسره غاړه په غاړه شو او خپل ځان یې ورمعرفي کړ چې زه ستا سکه ورور (یوسف ﷺ) یم.

اما مفسرینو کرامو یې خپل ځان ته د ضمیمه کولو لاندې دوه صورتونه ښودلي دي:

الف: د اول ملاقات په وخت کښې یې نور په دروازه کښې لږ سات ایسار کړه او بنیامین یې خپل ځان ته وغوښت چې روغبړ یې ورسره وکړ او خپل ځان یې ورمعرفي کړ[۲].

ب: د شپې د پلوه یوسف ﷺ دوه ـ دوه کسانو ته د ویده کېدلو یو ځای یا یوه کوټه ورکړه، نو څرنګه چې بنیامین یوولسم ورور وه او جوړه یې نه درلوده نو یوسف ﷺ هغه ته په خپله کوټه کښې ځای ورکړ او هملته یې خپل ځان ورمعرفي کړ او د پټ راز څخه یې خبر کړ چې زه ستا سکه ورور (یوسف ﷺ) یم[۳].

زمونږ په فکر ذکر شوي دواړه صورتونه سره یو تربله څه منافات نه لري، ممکنه ده چې دواړه یې عملي کړي وي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۸
(۲) زاد المسیر ج۴ ص۱۹۳
(۳) البحر المحیط ج۶ ص۳۰۱؛ روح المعاني ج۱۳ ص۲۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

٢_ که څوک وایي چې د ﴿ جَعَلَ ٱلسِّقَايَةَ فِى رَحْلِ أَخِيهِ ﴾ د جملې څخه څرګندېږي چې یوسف ؑ د بنیامین په څټه (بار) کښې جام په خپل لاس باندې ایښی وه، حال دا چې په بارونو کښې یې د سرمایو د ایښودلو په هکله نوکران توظیف کړي وه، لکه چې د همدې سورت په [۶۲] ایت کښې ورباندې صراحت شوی دی. نو پوښتنه دا ده چې په څه منظور به یې د زرین جام د ایښودلو په هکله کوم یو نوکر نه وي توظیف کړی؟

مونږ وایو چې: غالبًا په همدې باره کښې به یې هم کوم خاص اعتمادی نوکر توظیف کړی وي خو د زیات اعتماد له کبله به یې د هغه ایښودل داسې ګڼلي وي لکه چې په خپل لاس یې ایښی وي، والله ﷻ أعلم.

٣_ په ﴿ أَيَّتُهَا ٱلْعِيرُ ﴾ کښې د "عِیْر" کلمه په لاندې دوه وو معناوو باندې استعمالېږي[١]:

الف: د اوښانو هغه قافله چې په غلو دانو باندې بار وي.

ب: هغه کاروانیان چې خپل کاروان (قافله) یې په غلو دانو باندې باره کړې وي.

په دې مقام کښې دوهمه معنی مطلب ده ځکه چې اواز خو کاروانیانو ته کېږي، نه کاروان ته.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې د ﴿ إِنَّكُمْ لَسَٰرِقُونَ ﴾ په جمله کښې د یوسف ؑ ورونو ته د غلو لقب ورکړی شوی دی، حال دا چې هغوی خو جام نه وه غلا کړی بلکې د بنیامین په بار کښې دستوري ایښودلی شوی وه؛ نو ایا دغه لقب ورکول جواز درلود؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو ذکر شوي سوال ته ډېر جوابونه کړي دي[٢] لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ځکه هغوی ته د غلو لقب ورکړی شو چې د خپل پلار څخه یې یوسف ؑ غلا کړ او په کوهي کښې یې واچاوه او پلمه یې جوړه کړه چې هغه خو شرمخ وخوړ.

ب: چا چې ورباندې غږ وکړ هغه خبر نه وو چې قیمتي جام ورته په دستوري توګه په څټه کښې ایښودلی شوی دی، هغه په خپل خیال او په خپل ګومان ذکر شوی لقب ورکړ. په دې باندې علاوه، اواز کوونکي ته یوسف ؑ هم امر نه وه کړی چې د غلو نوم ورباندې کېږده.

ج: او که فرض کړو چې اواز کوونکي نوکر ته یوسف ؑ توصیه کړې وه چې د غلو په نامه باندې یې د لارې څخه را ستانه کړه نو بیا وایو چې هرچا ته جائزه ده چې مباح شي ته او یا خپل حق ته د رسېدلو دپاره د حیلې څخه کار واخلي[٣] نو یوسف ؑ هم ذکره شوې نقشه د حیلې په توګه

---

(١) مفردات الراغب ص ٣۶۶

(٢) تفسير القرطبي ج٩ ص٢٣١؛ تفسير الخازن ج٣ ص۴٣۵؛ زاد المسير ج۴ ص١٩۴؛ التفسير الكبير ج١٨ ص١٧٩

(٣) احكام القرآن للجصاص ج٣ ص١٧۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اجرا، کړي وه ترڅو خپل سکه وروړ (بنیامین) د حپل خان سره ایسار کړي. حال دا چې دا مباح کار وه او پخپله همدی ورباندې راضي وه چې همدغه نقشه عملي کړه او ما را ایسار کړه[۱].

## تبصره

۵ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د همدې سورت د [۵۵] ایت په پنځمه توضیح کښې لیکلي دي چې: ځوک چې دغسې سوالونه مطرح کوي هغوی په اصل کښې د یوسف ؊ څخه د نبوت لحاظ قطعه کوي او د آخر الزمان پیغمبر ﷺ د یوه امتي په نظر ورته ګوري، که نه نو لکه څنګه چې په خضر ؊ باندې د یوه ماشوم په وژلو کښې اعتراض نشته همدارنګه یوسف ؊ هم د اعتراض لاندې نه شي واقع کېدلی او هرڅه یې چې کړي دي او هرڅه یې چې ویلي دي د یوه پیغمبر په حیث یې د وحې په توګه اجراء کړي دي او بس.

یا په بل عبارت: دا اعتراضونه کټ مټ هغو درېوو اعتراضونو ته ورته دي کوم چې د موسی ؊ د پلوه په خضر ؊ باندې شوي وه او هغه په ښه اقناعي توګه جواب کړي وه، چې بحث یې د الکهف سورت په آخر کښې راروان دی، إن شاء الله ﷻ.

## فقد څه معنی؟

۶ـ د ﴿تَفۡقِدُونَ﴾، ﴿نَفۡقِدُ﴾ دواړه کلمې د "فَقۡد" ـ لکه "فَجۡر" ـ څخه اشتقاقي شوې دي. "فقد" دې ته ویل کېږي چې یو شی د موجودیت څخه وروسته معدوم شي، اما د "عَدَم" توری عام دی برابره خبره ده چې د سره موجود شوی نه وي او یا د موجودیت څخه وروسته عدم شي[۲].

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې هغه کوم شی دی چې د موجودیت څخه وروسته ستاسو څخه معدوم شوی دی او د هغه په لټولو پسې را وتلي یاست؟ هغه د پاچا صواع ده.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وایي چې کوم شی چې د بنیامین په څټه (بار) کښې په دستوري توګه اېښودلی شوی وه هغه په وړاندې ایت کښې د ﴿ٱلسِّقَايَةَ﴾ په نامه باندې یاد شوی دی، نو په کار وه چې د ﴿نَفۡقِدُ صُوَاعَ ٱلۡمَلِكِ﴾ په عوض د "نَفۡقِدُ سِقَايَةَ الۡمَلِكِ" جمله نازله شوې وی؛ نو په دې کښې څه حکمت دی چې دغسې نازله نه شوه؟

مونږ وایو چې: د جمهورو علماوو کرامو په نزد ذکر شوی اېښودلی شوی شی اصلاً د یوه جام څخه عبارت وه، چې د سپینو زرو څخه جوړ شوی وه، خو لاندې دوه نومونه یې درلوده[۳]:

الف: د قحطي څخه وړاندې د ﴿ٱلسِّقَايَةَ﴾ په نامه یادېده چې پاچا به پکښې اوبه څښې.

---

[۱] البحر المحیط ج۶ ص۳۰۲

[۲] مفردات الراغب ص۳۹۷

[۳] البحر المحیط ج۶ ص۳۰۳؛ تفسیر القاسمي ج۹ ص۲۵۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د قحطی په وخت کښې د همدغه زرین جام څخه د پیمانې کار واخستل شو ترڅو د غلو دانو اهمیت او عزتمندی ته خلک متوجه کړی شي، او پوره واضحه ده چې پیمانې ته خو په عربي ژبه کښې "الصُّوَاع" ویل کېږي چې د الصاع سره مرادفه ده[۱].

نو که بالفرض نازله شوې جمله نه وی نازله شوې نو د غلو دانو د اهمیت موضوع ته به اشاره نه وی شوې

## د عربیت یو تحلیل

۸ـ په ذکرو شوو ایتونو کښې د ﴿ صُوَاعَ ٱلْمَلِكِ ﴾ کلمې ته دغه دوه ډوله ضمیرونه راجع شوي دي:

الف: د ﴿ وَلِمَن جَآءَ بِهِۦ حِمْلُ بَعِيرٍ ﴾ په جمله کښې ورته بارز مذکر ضمیر او د ﴿ مَن وُجِدَ فِى رَحْلِهِۦ ﴾ په جمله کښې ورته مستتر مذکر ضمیر راجع شوی دی.

ب: د ﴿ ثُمَّ ٱسْتَخْرَجَهَا ﴾ په جمله کښې ورته موئث بارز ضمیر راجع دی.

نو د تذکیر او تانیث دپاره لاندې دوه وجې کېدلی شي:

اول: څرنګه چې وړاندې تېر شوه چې د "الصُّوَاع" کلمه د همغه زرین جام څخه عبارت ده د کوم څخه چې په ﴿ ٱلسِّقَايَةَ ﴾ باندې هم تعبیر شوی وه نو په تذکیر کښې یې خپل لفظ ته کتلی شوي دي، چې مذکر دی، او په تانیث کښې ورته د ﴿ ٱلسِّقَايَةَ ﴾ کلمې په نظر کتلی شوی دی، چې موئثه ده[۲].

دوهم: د "الصُّوَاع" کلمه سماعي موئثه ده چې د تذکیر او تانیث دواړه ضمیرونه ورته راجع کېدلی شي[۳].

## سوال جواب

۹ـ که څوک وایي چې د یعقوب ﷺ شریعت خو غله ته دا جزا ټاکلې وه چې د یو کاله پورې به غل سړی د هغه چا غلام (مریی) جوړېده د چا په مال باندې به چې غلا واقع شوې وه[۴]. نو پوښتنه دا ده چې مصري حکومت په هغه وخت کښې د غله دپاره څه جزا ټاکلې وه چې یوسف ﷺ د همدغه په اعتبار سره خپل ورور نه شو را ایسارولی؟

مونږ وایو چې د مصري حکومت په غله باندې د وهلو څخه وروسته د هغه مال دوه چنده جریمه ټاکلې وه کوم به چې هغه غلا کړی وه[۵].

نو د ذکر شوي بیان په نظر کښې نیولو سره د دې جملې ﴿ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِى دِينِ ٱلْمَلِكِ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ﴾ مضمون داسې راخېژي چې:

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۹۷

(۲) المحرر الوجیز ج۹ ص۳۴۶

(۳) تفسیر الکشاف ج۲ ص۴۹۱

(۴) تفسیر البغوي ج۲ ص۴۴۰؛ تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۸۵؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۹۴

(۵) المحرر الوجیز ج۹ ص۳۳۹؛ تفسیر الطبري ج۱۳ ص۲۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



د يوسف ﷺ زړه غوښتل چې خپل ورور (بنيامين) د بهرته ستنېدلو څخه قانوناً را ايسار کړي، او د هيچا د پلوه ورته د ملامتۍ ګوته هم ونه نيوله شي. پوره واضحه ده چې دغه مطلب ته په هيڅ صورت نه شو رسېدلی مګر هله چې د الله ﷻ اراده يې ملګرتيا وکړي. او دا څکه چې که د الله ﷻ کومک ورسره نه وی نو د لاندې صورتونو څخه به يوه صورت تحقق موندلی وی:

الف: که پرته د بهانې څخه يې خپل ورور د کاروان څخه را ايسار کړی وی نو يو به د عمومي ملامتۍ لاندې راغلی وی او بل به يې د مصري حکومت د قانون مراعات نه وی کړی چې بې ګناه مسافر يې بندي کړی دی.

ب: او که د خپل ورور د را ايسارولو دپاره يې هغه پلان په کار اچولی وی کوم يې چې په کار اچولی شو، نو دا حق به يې درلودلی وی چې د وهلو څخه وروسته يې ترې د زرين جام دوه چنده قيمت اخستی وی مګر د خپله خانه سره به يې د ايسارولو حق نه وی درلودلی.

نو د الله ﷻ پيرزوينه وه چې يوسف ﷺ ته يې د بنيامين په څټه کښې د جام د ايښودلو وحې وکړه او د ده ورونو ته يې الهام وکړ چې د خپل شريعت حکم څرګند کړي او التزام وکړي چې د غلا د ثبوت په صورت کښې به غل د يو کال دپاره د پاچا غلامي قبلوي. نو د الله ﷻ په فضل سره يوسف ﷺ وکړی شو چې د يو پلوه شرعي ابراهيمي شريعت عملي کړي او خپل ورور د خپله خانه سره را ايسار کړي او د بله پلوه د هيچا د ملامتۍ لاندې واقع نه شي. او دا څکه چې:

چاته چې زمونږ اراده وشي د هغه درجې لوړوو (د مطلب د پوره کولو دپاره يې امتيازي کارونه کوو) او هم په خينو علومو کښې په نورو باندې فوقيت ورکوو، لکه څنګه چې مونږ د يوسف ﷺ د مطلب پوره کولو دپاره ذکره شوې نقشه په امتيازي توګه عملي کړه او د تاويل الاحاديث په علم کښې مو په نورو باندې پوره فوقيت (برلاسي) ورکړی وه.

## د ذکر شوي مضمون يو ماثور مثال

۱۰ـ ذکر شوی مضمون په يوه حديث شريف کښې په ډېره ښه توګه منعکس شوی دی چې مونږ يې د دې مقام د وضاحت په غرض په لاندې ټکو کښې را خلاصه کوو:

الف: د انس بن النضر ﷺ خور ـ چې الرُبيع بنت النضر نومېده ـ د يوې انجلۍ سره په جنګ شوه چې د هغې د وړاندېني (مخامخ) دوه غاښونه يې وويستل.

ب: د انجلۍ خپلوانو نبي کريم ﷺ ته عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! مونږ قصاص غواړو نو هيله ده چې تاسو فرمان صادر کړئ چې مونږ د الربيع دوه غاښونه وباسو.

ج: په عين حال کښې د الربيع خپلوانو عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! مونږ تيار ياستو چې د دوه غاښونو ديت ورکړو، مونږ ته دې هغوی د قصاص څخه عفوه وکړي.

د: څرنګه چې د انجلۍ خپلوان د قصاص څخه نه تېرېدل نو نبي کريم ﷺ حکم وکړ چې د "الربيع" نومې ښځې دې دوه وړاندېني غاښونه وويستلی شي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: په دغه وخت کښې انس بن النضر ﷺ عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! ایا اوس به زما د خور غاښونه ماتېږي (ویستلی کېږي)؟! زما دې په هغه اقدس ذات ﷻ باندې قسم وي چې ته یې په حقه رالېږلی یې چې زما د خور غاښونه به ونه ویستلی شي.

و: نبي کریم ﷺ هغه مخاطب کړ چې دا خو د الله ﷻ د قرآن حکم دی، دا به ضرور عملي کېږي، تاته په کار نه دي چې سوګند وکړې.

ز: په عین وخت کښې د انجلۍ خپلوانو د نبي کریم ﷺ په حضور کښې عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! مونږ راضي یاستو چې د قصاص څخه ورته عفوه وکړو او دیت واخلو.

ح: نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللهِ مَنْ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ»[1] یعنې: یقیناً د الله ﷻ د بندګانو څخه هغه څوک هم دی چې چرته په الله ﷻ باندې سوګند وکړي نو هغه ته (په سوګند کښې د حانث کېدلو څخه) خلاصون ورکوي.

## سوال جواب

۱۱_ که څوک وایي چې د دې جملې ﴿وَفَوْقَ كُلِّ ذِي عِلْمٍ عَلِيمٌ﴾ څخه داسې مضمون راوځي چې د هر عالم د پاسه بل عالم شته چې علم یې ورباندې دپاسه وي؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا د بندګانو علوم محصور او محدود نه دي؟ ایا د دوی علومو ته د قلیل لقب نه دی ورکړی شوی؟

مونږ وایو چې: ذکره شوې جمله د تفسیر د امامانو د پلوه داسې تفسیره شوې ده چې: په بندګانو کښې یو د بل څخه په علم کښې فوقیت درلودلی شي خو د دوی د علومو تسلسل په الله ﷻ باندې منتهي کېږي، نو الله ﷻ په علم کښې په هرچا باندې د پاسه دی.

که څه هم دغه ډول معنی په خپل ذات کښې صحیحه ده مګر ذکرې شوې جملې ته یې د تفسیر په حیث منل مشکل تمامېږي. او دا ځکه چې په دې مقام کښې بحث د بندګانو په علمي او غیر علمي درجاتو کښې راروان دی او د الله ﷻ علم بالکل مطرح نه دی.

زمونږ په نزد باید د ذکرې شوې جملې مضمون داسې واخستل شي چې په بندګانو کښې په هر یوه عالم باندې د پاسه بل ښه عالم شته، البته په ځینو حیثیتونو سره.

نو څه لرې نه ده چې په همدغه ښه عالم باندې په یو حیثیت سره همدغه کم علمه عالم په علم کښې زیات وي، نو په بندګانو کښې داسې څوک نه موندلی کېږي چې په هر یوه بنده باندې د هر حیثه لوړ او د پاسه وي، نو د دوی علوم محدود دي او پخپله په همدوی کښې تاوېږي او راتاوېږي.

د دې دپاره چې ذکر شوی جواب په زړه کښې ځای ونیسي لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې یوه ورځې موسی ﷺ په بني اسرائیلو کښې (دعوتي) خطابه ورکوله، نو چا ترې پوښتنه وکړه چې په خلکو کښې څوک ښه عالم دی؟

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۳۷۲، ج۲ ص۶۴۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



موسى ﷺ جواب ورکړ چې: زه. «فَعَتَبَ اللهُ عَلَيْهِ إِذْ لَمْ يَرُدَّ الْعِلْمَ إِلَيْهِ»[١] يعنې نو الله ﷻ په ده باندې ملامته واچوله چې (د ښه عالم موجوديت يې) الله ﷻ ته محول نه کړ چې الله ﷻ پوهېږي چې په خلکو کښې به زما څخه څوک ښه عالم وي او که نه.

نو د دې دپاره چې موسى ﷺ ته خپله ملامتي ښه پوره څرګنده شي نو الله ﷻ اجازه ورکړه چې د الخضر ﷺ سره اندېوالي وکړي او څه ترې زده کړي.

کله چې د الخضر ﷺ سره ملاقي شو نو موسى ﷺ ترې وغوښتل چې څه ورزده کړي، نو هغه ورته وويلي چې: «يَا مُوسَى! إِنِّي عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللهِ عَلَّمَنِيهِ لَا تَعْلَمُهُ أَنْتَ، وَأَنْتَ عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللهِ عَلَّمَكَ اللهُ لَا أَعْلَمُهُ»[٢] اى موسى! زه د الله ﷻ د علم څخه په داسې علم باندې يم چې ماته يې رابښودلى دى او ته پرې (زما په شان ښه) نه پوهېږې، او ته د الله ﷻ د علم څخه په داسې علم باندې يې چې الله ﷻ تاته دربښودلى دى، زه پرې (ستا په شان ښه) نه پوهېږم.

ب: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې صحابه کرام ﷺ مخاطب کړه چې: «إِذَا كَانَ شَيْئًا مِنْ أَمْرِ دُنْيَاكُمْ فَشَأْنَكُمْ بِهِ وَإِذَا كَانَ شَيْئًا مِنْ أَمْرِ دِينِكُمْ فَإِلَيَّ»[٣] يعنې کله چې يو کار ستاسو د دنيا د کارونو څخه يو شى وي نو تاسو پوهېږئ او کار مو، او کله چې يو کار ستاسو د دين د کارونو څخه يو شى وي نو ماته مراجعه وکړئ (په هغه باندې تاسو ښه پوهېږئ او په دغه باندې زه ښه پوهېږم).

ج: يوه ورځې علي ﷺ يوه مسئله وکړه، نو يوه سړي مخاطب کړ چې خطا شوې، دغسې نه ده لکه چې ته يې وايې بلکې دغسې ده لکه چې زه يې وايم. نو هغه جواب ورکړ: «أَحْسَنْتَ وَأَخْطَأْتُ»[٤] ستا خبره ډېره ښه ده زه خطا شوم، او بيا يې د ايت شريف ذکره شوې ټکړه ولوستله چې: ﴿ وَفَوْقَ كُلِّ ذِى عِلْمٍ عَلِيمٌ ﴾، يعنې د همدغې مسئلې په اعتبار سره ته زما څخه پورته يې.

## دوه عجيبې خبرې

١٢ـ يوه عجيبه خبره دا ده چې د يوسف ﷺ ورونو د ده سره ډېره اوږده کينه ساتلې وه او د هغې رخې اثار لا د منځه نه وو تللي د کومې په سبب چې دوى په کوهي کښې اچولى وه. د همدې کبله کله چې د بنيامين په څټه کښې زرين جام مونده شو نو دوى ټولو په يوه خوله د خپلو ځانونو په تزکيه باندې شروع وکړه او په بنيامين باندې لا څه چې په يوسف ﷺ باندې يې هم ملامته ورواچوله چې: ﴿ إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُۥ مِن قَبْلُ ﴾ يعنې بنيامين به ولې غلا نه کوي چې د ده ورور (يوسف ﷺ) لا پخوا غلا کړې وه، هغه قدم پورته کړى دى او بنيامين پرې پښه اېښې ده، دوى زمونږ ناسکه ورونه دي، دغه مرض په دوى کښې د مور د پلوه وده کړې ده.

(١) صحيح البخاري ج١ ص٤٨٢
(٢) صحيح البخاري ج٢ ص٦٨٨
(٣) مسند احمد حنبل ج٩ ص٤٣٩
(٤) الدر المنثور ج٤ ص٥٦٢

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که د دوی په زړونو کښې د پخوانی کینې اثار پاتې نه وی نو په کار وه چې دوی، په لاندې نکاتو پورې تماس نیولی وی:

الف: د هر څه څخه وړاندې په کار وه چې دوی د بنیامین څخه پوښتنه کړې وی چې. ایا دغه زرین جام تا غلا کړی دی او که تاته د بل چا د پلوه په دستوري توګه په ځته کښې ایښودلی شوی دی؟

د تحقیق څخه پرته په بنیامین باندې د غله نوم ایښودل بې انصافي وه.

ب: دوی باید د هغه څخه دفاع کړې وی چې په ځته کښې د زرین جام راوتل خو د غلا سره مرادف نه دي، که نه نو باید مونږ ټول غله وګڼل شو چې په تېره جویه کښې مونږ هر یوه خپل ورکړی شوی قیمت په خپله ځته کښې موندلی وه، نو په کار دي چې یا پرې شاهدان تېر کړی شي او یا سوګند ورکړی شي ترڅو څرګنده شي چې دا غل دی او که نه؟

ج: دوی د دفاع په عوض په هغه باندې شاهدي ورکړه چې غلا کول د بنیامین د شان څخه لرې نه دي.

د: بلکې د استدلال دپاره یې د ده ورور (یوسف ﷺ) په غلا باندې متهم کړ او ـد دوی په خیالـ په مړي باندې یې د غله نوم کېښود. د پخوانی کینې څرګندونه یې وکړه، حال دا چې پخواني پاخه غله خو دوی پخپله وه چې یوسف ﷺ یې د پلار څخه غلا کړ او بیا یې ورته دروغ جوړ کړ چې هغه خو لیوه وخوړ.

بله عجیبه خبره دا ده چې مفسرینو کرامو تقریبًا اوه صورتونه لیکلي دي او یوسف ﷺ ته یې پکښې غلا نسبته کړې ده چې په ماشومتوب کښې یې مرتکب شوی وه[1].

که څوک یې د لوستلو شوق لري هملته دې مراجعه وکړي، مونږ ته یې دومره ارزښت ونه درلود چې دلته یې رانقل کړو او کتاب پرې اوږد کړو. دا ټول صورتونه یې د دې دپاره لیکلي دي چې هغوی (د یوسف ﷺ ورونه) دروغژن نه شي، که په یوسف ﷺ باندې د غلا بهتان ور وتپل شي هم باک یې نشته، هغوی خو کله هم دروغ نه وه ویلي.

زمونږ په فکر دا د هغوی تازه دروغ وه چې په یوسف ﷺ باندې یې غلا ورو‌تپله او خپله پخوانی کینه یې یو خل بیا تازه کړه. له همدې کبله یوسف ﷺ د ذکر شوي بهتان په مقابل کښې وویلې چې: ﴿ أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ۖ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ﴾ یعنې تاسو بد خلک یاست چې هم مو غلا کړې ده او هم د دروغو مرتکب شوي یاست، او په هغو بیاناتو باندې الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي چې تاسو یې زمونږ په هکله ورکوئ، چې په دروغو سره را باندې بهتان لګوئ.

## سوال جواب

۱۲ـ که څوک وایي چې: د ﴿ فَأَسَرَّهَا يُوسُفُ فِي نَفْسِهِۦ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ ﴾ په دوارو جملو کښې د "ها" ضمیرونه څه شي ته راجع دي؟، یا په بل عبارت: هغه څه شی وه چې یوسف ﷺ په خپل زړه

(۱) زاد المسیر ج۴ ص۱۹۸؛ روح المعاني ج۱۳ ص۳۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



کېنې پټ وساته او خپلو ورونو ته يې څرګند نه کړ؟

موږ وايو چې: مفسرينو کرامو د ذکرو شوو ضميرونو په مرجع کښې متعدد احتمالات ذکر کړي دي لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: هغو اثراتو ته راجع دي کوم چې د وړاندېنۍ جملې ﴿ إِن يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ أَخٌ لَّهُۥ مِن قَبْلُ ﴾ څخه يوسف ﷺ ته ورپېښ شوه[١]. يعنې د دغه اتهام په اثر يې غُصه په زړه کښې پټه کړه او ويې زغمله.

ب: دواړه ضميرونه د دوی د خبرې د رد حجت ته راجع دي[٢]. يعنې هغه حجت يې څرګند نه کړ کوم چې د هغوی اتهام ورباندې رد کېده، چې موږ غله نه ياستو بلکې تاسو غله ياست.

ج: دواړه ضميرونه راتلونکې جملو ته راجع دي چې: ﴿ أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ﴾[٣] يا په بل عبارت: دواړه ضميرونه مبهم دي چې په راتلونکي بيان باندې تفسير شوي دي، يعنې يوسف ﷺ په خپل زړه کښې دغه دواړه جملې وساتلې.

د: موږ ته غوره ښکاري چې ذکر شوي دواړه ضميرونه به الله ﷻ موږ ته په دغې يوه جمله: ﴿ أَنتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا ﴾ باندې تفسير کړي وي او د ﴿ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَصِفُونَ ﴾ جمله به د ضميرونو په تفسير کښې شامله نه وي. يعنې يوسف ﷺ هغوی ته په زړه کښې وويلې چې: تاسو بد خلک ياست، او په څرګنده يې مخاطب کړه چې: په هغو بياناتو باندې الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي چې تاسو يې زموږ په هکله وړاندې کوئ.

﴿ قَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْعَزِيزُ إِنَّ لَهُۥٓ أَبًا شَيْخًا كَبِيرًا فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُۥٓ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٧٨﴾ قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِ أَن نَّأْخُذَ إِلَّا مَن وَجَدْنَا مَتَٰعَنَا عِندَهُۥٓ إِنَّآ إِذًا لَّظَٰلِمُونَ ﴿٧٩﴾ ﴾

[٧٨] د يوسف ﷺ ورونو وويلې چې: ای معززه مشره! يقيناً ده (بنيامين) لره يو پلار دی چې ډېر بوډا (او) د فضائلو خاوند دی (چې رحم پرې په کار دی) نو ته د هغه په ځای کښې زموږ يو کس (د غلام په حيث) ونيسه (او هغه راپرېږده)، يقيناً موږ تا ګورو (په تا باندې يقين لرو) چې ته د نيکوکارانو څخه يې.

[٧٩] يوسف ﷺ (په جواب کښې) وويلې چې: (موږ پنا غواړو) په الله ﷻ باندې پنا، چې موږ (څوک) ونيسو مګر هغه څوک چې موږ ورسره خپله متاع (زرين جام) موندلې دی. يقيناً موږ به په دغه وخت کښې (چې بل څوک ونيسو) ظلم کوونکي (تېری کوونکي) ياستو.

---

[١] روح المعاني ج١٣ ص٣٢

[٢] البحر المحيط ج٦ ص٣٠٨

[٣] تفسير الطبري ج١٣ ص٣٠

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

یعنې کله چې د یوسف ﷺ ورونو د بنیامین غلا تصدیق کړه او د سابقه اقرار په بنیاد یې قبوله کړه چې په نوموړي باندې حق دی چې د یو کاله پوره په مصر کښې د غلام په حیث پاتې شي، نو د (یوسف ﷺ) سره یې لاندې سوال جواب وکړ:

۱ ـ هغوی وړاندې وکړ چې ای معززه او محترمه مشره! مونږ ستا په حضور کښې دا عاجزانه عریضه وړاندې کوو چې:

الف: نوموړی تازه غلام شوی نفر (بنیامین) په کنعان کښې یو پلار لري چې ډېر بوډا دی او ډېر عمر پرې تېر شوی دی، د هرچا پرې زړه سوزي، که بالفرض ته یې وګورې هم زړه به دې پرې درد وکړي، او هم هغه د ډېرو فضائلو او علومو خاوند دی.

ب: یو زوی یې پخوا ورک شوی هم دی چې یوسف نومېده، په هغه باندې ډېر غمژن دی، چې په بنیامین باندې به یې لږ څه غم غلطاوه او د خانه به یې نه جدا کاوه، مګر مونږ ترې ستاسو د غوښتنې له کبله په ډېرو زاریو باندې دلته راوستلی دی.

ج: که بالفرض نوموړی دلته د یو کال دپاره پاتې شي نو په هغه باندې به د غم دپاسه غم وګرځي.

د: نو زمونږ هیله دا ده چې د نوموړي په عوض زمونږ لسو کسانو څخه یو نفر د غلام په حیث د یو کاله پورې د خانه سره ونیسې، په مونږ کښې چې په هر یوه باندې تا ګوته کېښوده زمونږ د پلوه به پکښې رد واقع نه شي.

هـ: ای معززه! ته د نیکانو څخه یې، د ټولو خلکو سره عمومًا او زمونږ سره دې خصوصًا ډېرې نېکۍ کړې دي، نو هیله ده چې دغه نېکي هم راسره وکړې، دا به ستاسو د پلوه ډېر لوی احسان وي.

۲ ـ یوسف ﷺ د هغوی غوښتنه په ډېره کلکه لهجه باندې جوابه کړه چې: مونږ په الله ﷻ باندې د دې څخه پنا غواړو چې د هغه نفر څخه په غیر بل څوک د غلام په حیث ونیسو د کوم په سامان (خورجینه) کښې چې مونږ خپل زرین جام موندلی دی. که بالفرض مونږ دا کار وکړ نو په دغه وخت کښې به مونږ هرومرو ظالمان او بې انصافه خلک یاستو.

## توضیحات

۱ ـ د "شَیْخ" کلمه کله د ډېر عمره سړي دپاره استعمالېږي او کله د هغه چا لقب جوړېږي چې علم او فضائل یې زیات وي[۱]. همدارنګه د "کَبیر" کلمه هم د عمر په لویوالي او هم د رتبې او درجې په لوړوالي کښې استعمالېږي[۲].

په دې مقام کښې چې د یعقوب ﷺ دپاره دواړه کلمې استعمالې شوې دي نو داسې معلومېږي

(۱) مفردات الراغب ص۲۷۹

(۲) مفردات الراغب ص۴۳۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د یوې کلمې څخه به یې د عمر ډېروالی مطلب وي او د بلې کلمې څخه به یې د فضائلو لوړوالی مراد وي. نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ای محترمه! د بنیامین په هکله مونږ تاته د دې کبله سوال کوو چې پلار یې له یوې خوا بوډا دی او له بلې خوا د لوړې رتبې څښتن دی، نو د هغه د خاطره نوموړی را خوشې کړه او زمونږ څخه کوم یو د هغه په عوض کښې ونیسه.

۲_ د ﴿ فَخُذْ أَحَدَنَا مَكَانَهُ ﴾ جمله لاندې دوه معناوې درلودلی شي[۱]:

الف: زمونږ یو نفر د بنیامین په عوض د غلام په حیث ونیسه چې د یو کاله پورې ستا غلامي وکړي.

ب: زمونږ څخه یو کس د ګروئ په توګه له خانه سره ایسار کړه ترڅو بنیامین یو خل پلار ته ورشي او د غلا قیصه ورته په خپله خوله بیانه کړي، ګومان نه کوو چې زمونږ په خوله به هغه باور وکړي، د هغه په نزد مونږ اعتبار خوړلی دی.

مګر مونږ ته لومړنی معنی په زړه پورې ښکاري چې د ﴿ مَعَاذَ ٱللَّهِ ﴾، ﴿ لَّظَٰلِمُونَ ﴾ د کلماتو سره ښه مناسبت او مطابقت لري.

## سوال جواب

۳_که څوک وایي چې په دې کښې څه حکمت دی چې یوسف ﷺ خپلو وروڼو ته د ﴿ إِلَّا مَن وَجَدْنَا مَتَٰعَنَا عِندَهُۥ ﴾ په کلماتو باندې جواب ورکړ او د "إِلَّا مَنْ سَرَقَ مَتَاعَنَا" کلمات یې استعمال نه کړه. یعنې یوسف ﷺ په جواب کښې ولې داسې ونه ویلې چې: مونږ هغه څوک نیسو چې زمونږ زرین جام یې غلا کړی دی. بلکې داسې یې وویلې چې مونږ هغه څوک نیسو چې مونږ د هغه په خورجینه کښې خپل زرین جام موندلی دی؟

مونږ وایو: دا د دې دپاره چې په بنیامین باندې په خپله خوله د غله اطلاق ونه کړي لکه څنګه چې پرې وروڼو د غله اطلاق کاوه چې: ﴿ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّ ٱبْنَكَ سَرَقَ ﴾ [یوسف: ۸۱] ای زمونږ پلاره یقینًا ستا زوی غلا کړې وه.

﴿ فَلَمَّا ٱسْتَيْـَٔسُوا۟ مِنْهُ خَلَصُوا۟ نَجِيًّا ۖ قَالَ كَبِيرُهُمْ أَلَمْ تَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ أَبَاكُمْ قَدْ أَخَذَ عَلَيْكُم مَّوْثِقًا مِّنَ ٱللَّهِ وَمِن قَبْلُ مَا فَرَّطتُمْ فِى يُوسُفَ ۖ فَلَنْ أَبْرَحَ ٱلْأَرْضَ حَتَّىٰ يَأْذَنَ لِىٓ أَبِىٓ أَوْ يَحْكُمَ ٱللَّهُ لِى ۖ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿٨٠﴾ ٱرْجِعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَبِيكُمْ فَقُولُوا۟ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّ ٱبْنَكَ سَرَقَ وَمَا شَهِدْنَآ إِلَّا بِمَا عَلِمْنَا وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حَٰفِظِينَ ﴿٨١﴾ وَسْـَٔلِ ٱلْقَرْيَةَ ٱلَّتِى كُنَّا فِيهَا وَٱلْعِيرَ ٱلَّتِىٓ أَقْبَلْنَا فِيهَا ۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٨٢﴾ ﴾

[۱] البحر المحیط ج۶ ص۳۰۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

[۸۰] نوکله چې دوی د یوسف ﷺ څخه نا امیده شوه (چې بنیامین به راخوشې کړي) نو (د خلکو څخه) په داسې حال کښې جدا شوه چې مشوره کوونکي وه.

(نو په علم یا عمر سره) د دوی مشر (نورو ته) وویلې چې ایا تاسو نه پوهېږئ چې یقیناً ستاسو پلار په تاسو باندې داسې عهد اخستی وه چې د الله ﷻ د پلوه کلک شوی وه (د ده ﷻ په نامه پرې سوګند یاد شوی وه، خو تاسو په خپل عهد باندې وفا ونه کړی شوه)، او د دې عهد څخه وړاندې (یې ستاسو څخه) هغه عهد (اخستی وه) په کوم کښې چې تاسو د یوسف ﷺ په هکله قصور کړی وه (او وفا مو پرې نه وه کړې)؛ نو (زما فیصله دا ده چې) هیڅکله به د دې ځمکې (مصر) څخه لاړ نه شم (حرکت ونه کړم) ترڅو چې ماته خپل پلار اجازه وکړي او یا زما دپاره الله ﷻ حکم وکړي (او بنیامین راخوشې شي)، او همدی ﷻ د حکم کوونکو بهتر حکم کوونکی دی.

[۸۱] (ای ورونو) تاسو بېرته خپل پلار ته ور وګرځئ نو (ورته) ووایاست چې: یقیناً ستا زوی (بنیامین) غلا کړې وه، او مونږ شاهدي نه وایو مګر په هغه شي باندې چې زمونږ پرې علم وي، او مونږ خو غیبو لره حفاظت کوونکي نه یاستو (مونږ څه خبر وو چې هغه به غلا کوي که نه نو د هغه حفاظت عهد به مو نه وی درکړی).

[۸۲] (ای پلاره! د چا په ذریعه) د هغه کلي څخه پوښتنه وکړه په کوم کښې چې مونږ وو (او ذکره شوې واقعه پېښه شوې) او هم د هغه کاروان څخه پوښتنه وکړه په کوم کښې چې مونږ دلته (کنعان ته) مخ کړی وه (چې راشو)، او (ای پلاره!) یقیناً مونږ رښتیا ویونکي یاستو (او دروغ نه وایو).

## د مطلب خلاصه

یعنې کله چې د یوسف ﷺ ورونه په قطعي توګه جواب شوه او یقین یې راغی چې په هیڅ صورت باندې بنیامین د کنعان په لور نه شو خوځولی:

۱ـ نو دوی د خلکو څخه جدا شوه او شوری ته کښناسته، چې هر چا په خپل نوبت سره خپل خپل نظر څرګند کړ. مګر کوم وږور چې د دوی ټولو څخه په عمر کښې مشر وه او یا په عقل باندې پوخ وه او بالآخره د نورو په شان سخت دریځه نه وه، په لاندې ټکو کښې یې خپل نظر څرګند کړ چې:

الف: ای ورونو! ایا تاسو نه پوهېږئ چې محترم پلار ستاسو څخه کلک عهد اخستی وه او د الله ﷻ په نامه باندې یې سوګند درکړی وه چې بنیامین به پرې بېرته سپارئ؟

ب: ایا تاسو نه پوهېږئ چې تاسو د خپل پلار سره د یوسف ﷺ په هکله خپل عهد مات کړی وه؟ ایا اوس بیا غواړئ چې د بنیامین په هکله هم ورسره خپل عهد مات کړئ؟

ج: که څه هم د بنیامین په باره کښې په تاسو باندې څه ملامته نشته خو ایا تاسو نه پوهېږئ چې د ده په اړه به ستاسو رښتیاني وینا هم پلار ته دروغ وبرېښي؟ ایا تاسو غواړئ چې د پلار په زخمي زړه باندې بیا مالګې ودوړوئ او پخواني غم ورته بیا تازه کړئ؟

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: زما نظر دا دی چې نور تول کنعان ته ستانه شو او یو نفر دلته د بنیامین سره پرېږدو، ترڅو پلار ته څرګنده شي چې د بنیامین په هکله مونږ څه قصور نه دی کړی، که نه نو یو نفر به هم ورسره (په اصطلاح) غلامي نه وی قبوله کړې.

هـ: بلکې زما نظر دا دی چې ذکر شوی یو نفر به همدا زه یم، نو هیڅکله به زه د دغې ځمکې (مصر) څخه لاړ نه شم ترڅو چې:

اول: یا پلار اجازه راکړي چې د مصر خاوره پرېږده او کنعان ته راشه.

دوهم: یا الله ﷻ زما دپاره یوه بله فیصله وکړي، چې یا پاچا مهربان وګرځوي او بنیامین راته راخوشې کړي، او یا د هغه د خلاصون یو بل حکم وکړي، یقینًا چې الله ﷻ ډېر ښه حکم کوونکی او فیصله کوونکی دی.

دریم: او بالآخره یا په همدغې مصري خاوره کښې مړ شم او ژوند مې ختم شي.

۲_ څرنګه چې د نوموړي مشر ورور تقریر ډېر موثر او ډېر جالب وه نو تول د خپلو نظرونو څخه تېر شو او د همده نظر تصویب شو.

بیا نوموړي خپل ورونه مخاطب کړه چې: پلار ته بېرته ستانه شئ او داسې عرضونه ورته وړاندې کړئ:

الف: ای پلاره! د بنیامین قیصه په دغه ډول پیل او په دغه ډول ختمه شوه، د ده په باره کښې مونږ بالکل ملامت نه یاستو، نوموړي پخپله غلا کړې وه او زرین جام یې زمونږ په وړاندې د خورجین څخه راڅرګند شو.

ب: مونږ په همغه شي باندې شهادت ورکوو په کوم باندې چې زمونږ علم وي. یا په بل عبارت: مونږ بالکل ناخبره وو چې نوموړي په خپله څټه (خورجین) کښې زرین جام غلی کړی دی، ترڅو چې مونږ په سترګو باندې ولید چې د پلټنې په وخت کښې څرګند شو.

ج: مونږ په غیبو باندې علم نه درلود چې بنیامین غلا کړې ده، د همدې کبله مونږ په جرئت سره ومنله چې د غلا د ثبوت په صورت کښې به په غله باندې ستا د شریعت حکم تطبیق کړو او د یو کال دپاره به یې د پاچا دپاره غلام ګرځوو. که بالفرض مونږ پوه وی چې بنیامین غلا کړې ده نو ستا د شریعت حکم به مو نه په ډاګه کولی او موضوع به مو د مصري حکومت قوانینوته پرېښې وی.

د: ای پلاره! که بالفرض زمونږ په خبره باندې ستا باور نه وي او تاته دروغ برېښي، نو څوک ولېږه ترڅو په همغې قریه کښې د حقیقت پوښتنه وکړي په کومه کښې چې ذکره شوې موضوع پېښه شوې وه. همدارنګه هغه کنعاني جوپه والا خپل خان ته را وغواړه کوم چې زمونږ سره ملګری وه (پېښه یې په خپلو سترګو باندې لیدلې ده) او پوښتنه ترې وکړه چې موضوع څنګه ده؟

هـ: بالآخره پلار ته په کلکه باندې ووایاست چې زمونږ په ذکر شوی تقریر کښې دروغ نشته او حقیقت همغه دی کوم چې مونږ تاته څرګند کړ.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ د ﴿خَلَصُوا نَجِيًّا﴾ په جمله کښې د ﴿نَجِيًّا﴾ کلمه په اصل کښې "نجيوٌ" ـ لکه "خبیثٌ" ـ وه، بیا "و" په "ی" بدل شو او په اصلي "ی" کښې ادغام شو نو "نجي" ترې جوړ شو چې مفرد او هم جمعه پکښې یو برابر دي[۱].

ذکر شوې کلمه د مناجي (مناجات کوونکي) معنی ورکوي[۲]. نو د معنی حاصل یې داسې راوخي چې کله د یوسف ﷺ ورونه د پاچا څخه د بنیامین د خوشې کولو په هکله نا امیده شوه چې د ﴿مَعَاذَ اللَّهِ﴾ په کلمه باندې یې جواب ورکړ نو د نورو خلکو څخه جدا شوه، ترڅو په خپلو منځو کښې سره په خاصه توګه مناجات (مشوره) وکړي. شاید چې په دغې مشورې کښې به ورسره بنیامین اشتراک نه درلود.

## د عربیت یو تحلیل

۲ـ د ﴿وَمِن قَبْلُ مَا فَرَّطتُمْ فِي يُوسُفَ﴾ د جملې په اعراب کښې علماوو کرامو متعدد تحلیلونه کړي دي[۳] مګر کوم تحلیل چې مونږ ته په زړه پورې بربښي هغه په لاندې ټکو کښې خلاصه کوو:

الف: د ﴿مِن قَبْلُ﴾ کلمات په ﴿فَرَّطتُمْ﴾ پورې تعلق نیسي.

ب: د "ما" کلمه موصوله ده او د عهد څخه عبارت ده.

ج: د "و" توری د عطف دپاره دی چې موصول یې د ﴿مَوْثِقًا﴾ په هغې کلمې باندې عطف کړی دی کومه چې د ﴿أَلَمْ تَعْلَمُوا أَنَّ أَبَاكُمْ قَدْ أَخَذَ عَلَيْكُم مَّوْثِقًا مِّنَ اللَّهِ﴾ په جمله کښې واقع ده.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې:

ایا تاسو نه پوهېږئ چې ستاسو څخه خپل پلار د بنیامین په هکله په سوګند سره کلکه وعده اخستې وه، چې روغ رمټ به یې ورباندې بېرته سپارئ، خو تاسو پکښې پرته له قصوره ناکام شوئ، او ستاسو څخه یې لا پخوا هم هغه وعده اخستې وه په کومه کښې چې تاسو قصور کړی وه، او د یوسف ﷺ پورې یې ارتباط درلود. نو تاسو جواب راکړئ چې: ایا پلار به د بنیامین په هکله ستاسو په خبره اعتماد وکړي؟ ایا تاسو به دروغژنان ونه ګڼي؟ ایا تاسو به په هغه کلماتو باندې مخاطب نه کړي په کومو باندې یې چې د یوسف ﷺ په ارتباط مخاطب کړي وئ چې: ﴿بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا﴾ یعنې دا خبره دروغ ده او تاسو ته فقط خپلو زړونو ښائسته کړې ده او څه حقیقت نه لري؟.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۹ ص۲۶۲

(۲) مفردات الراغب ص۵۰۵

(۳) البحر المحیط ج۳ ص۳۱۱؛ روح المعاني ج۱۳ ص۳۵؛ تفسیر الکشاف ج۲ ص۴۹۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "للغیب" د کلمې تفسیرونه

۳ـ په دې مقام کښې مفسرینو کرامو د ﴿ وَمَا كُنَّا لِلْغَيْبِ حَٰفِظِينَ ﴾ د جملې دپاره ډېر تفسیرونه کړي دي[۱] لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: غیب د باطن څخه عبارت دی. یعني په ظاهر کښې د بنیامین د ختې څخه ورک شوی زرین جام راووت چې مونږ په سترګو باندې ولید، اما په باطن کښې مونږ معلومات نه لرو.

ب: دلته د غیب کلمه د راتلونکي وخت معنی ورکوي. یعنې ای پلاره! مونږ تاته کلکه وعده درکړه چې بنیامین به درباندې روغ رمټ سپارو. مګر مونږ څه خبر وو چې هغه به د غلا مرتکب کېږي، د دې د کار ذمواري خو مونږ نه وه قبوله کړې.

ج: غیب د غلا څخه کنایه دی. یعنی مونږ د بنیامین په غلا باندې خبر نه وو خکه مو مصري حکومت ته د خپل شریعت حکم ورڅرګند کړ چې په نتیجه کښې د غلامۍ لاندې واقع شو، که بالفرض مونږ د ده په غلا باندې خبر وی نو مونږ به سکوت غوره کړی وی او په خولو به مو لاس ایښی وی.

زمونږ په فکر که د غیب څخه ما یطلق علیه الغیب واخستل شي او ټولو معناوو ته شامل شي هم څه مانع پکښې نشته.

## اَلْقَرْيَة یعني څه؟

۴ـ په ﴿ وَسْئَلِ ٱلْقَرْيَةَ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْقَرْيَةَ ﴾ کلمه لاندې دوه احتماله لري:

الف: ﴿ ٱلْقَرْيَةَ ﴾ پخپله د مصر څخه عبارت ده[۲]. یعنې ای پلاره! څوک ولېږه او پخپله د مصریانو څخه پوښتنه وکړه.

ب: دلته ترې د مصر د قریو (کلو) څخه هغه قریه (کلی) مطلب دی په کوم کښې چې دوی د بولیسو د پلوه محاصره شوه او د تفتیش دپاره ببرته ستانه کړی شوه[۳].

مونږ ته همدغه دوهم تفسیر غوره برېښي او ذهن ته په تبادر سره راځي. والله ﷻ اعلم

﴿ قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَأْتِيَنِي بِهِمْ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٨٣﴾ وَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ وَٱبْيَضَّتْ عَيْنَاهُ مِنَ ٱلْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٨٤﴾ قَالُوا۟ تَٱللَّهِ تَفْتَؤُا۟ تَذْكُرُ يُوسُفَ حَتَّىٰ تَكُونَ حَرَضًا أَوْ تَكُونَ

(۱) زاد المسیر ج۴ ص۲۰۱، احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۷۶
(۲) تفسیر القرطبي ج۹ ص۲۴۶
(۳) تفسیر أبي السعود ج۴ ص۳۰۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مِنَ ٱلۡهَٰلِكِينَ ﴿٨٥﴾ قَالَ إِنَّمَآ أَشۡكُواْ بَثِّي وَحُزۡنِيٓ إِلَى ٱللَّهِ وَأَعۡلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا
تَعۡلَمُونَ ﴿٨٦﴾ يَٰبَنِيَّ ٱذۡهَبُواْ فَتَحَسَّسُواْ مِن يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلَا تَاْيۡـَٔسُواْ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِۖ
إِنَّهُۥ لَا يَاْيۡـَٔسُ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿٨٧﴾ ﴾

[۸۳] یعقوب ﷺ وویلې چې: (دغسې نه ده لکه چې تاسو څرګنده کړه) بلکې تاسو ته خپلو خانونو (دا) کار ښائسته کړی دی (چې په دروغین اعتذار باندې به برائت حاصل کړئ، نو جمیل (نېک) صبر (ډېر ښه دی چې زه یې غوره کړم)، الله ﷻ ته امید دی چې دوی (درېواړه زامن) ټول راته راولي، یقیناً الله ﷻ پوه (او) د حکمت څښتن دی.

[۸۴] او د دوی (خپلو زامنو) څخه یې مخ واړاوه او ویې ویلې چې: ای زما غمه په یوسف باندې! (راشه همدا دې وخت دی). او له ډېره غمه (ژړا) یې سترګې سپینې شوې نو (د خپل غم او غُصې) زغموونکی وه (ترې ډک پک وه).

[۸۵] دوی (زامنو ورته) وویلې چې: په الله ﷻ باندې دې زمونږ سوګند وي چې ته همېشه یې چې یوسف یادوې آن تر دې چې ته سخت مریض شې او یا ته د هلاکېدونکو څخه وګرځې.

[۸۶] یعقوب ﷺ وویلې چې: یقیناً زه خپله پرېشان حالي او خپل غم (صرف) الله ﷻ ته څرګندومه (د ده ﷻ په حضور کښې عرض کوم)، او زه د الله ﷻ د پلوه په هغه شي باندې پوهېږم چې تاسو (پرې) نه پوهېږئ (هغه دا چې یوسف ﷺ ژوندی دی).

[۸۷] ای زما زامنو! تاسو (بېرته مصر ته) لاړ شئ نو (هلته) د یوسف او د ده د ورور (بنیامین) پلټنه وکړئ او د الله ﷻ د رحمت څخه ناامیده کېږئ مه، یقیناً شان دا دی چې د الله ﷻ د رحمت څخه نه ناامیده کېږي مګر کافر قوم.

## د مطلب خلاصه

یعنې کله چې مشوره ختمه شوه نو د یوسف ﷺ نهه تنه وروڼه د کنعان په لور روان شوه او هلته یې د شورې تصویب شوې مواد د خپل پلار (یعقوب ﷺ) په حضور کښې تکی په تکی وړاندې کړه نو:

۱ ـ هغه ﷺ د هرڅه څخه وړاندې د خپلو زامنو خبره دروغ وګڼله او ویې ویلې چې:

الف: تاسو ته خپلو ځانونو دا خبره ښائسته کړې ده چې په دغه دروغین کلام باندې به خپل ځانونه د ملامتۍ څخه خلاص کړئ، زما په نزد تاسو د خپل عهد ماتوونکي ګڼل کېږئ.

ب: زما دپاره دا بهتره ده چې د بنیامین په هکله هم داسې نېک صبر وکړم لکه څنګه مې چې د یوسف ﷺ په باره کښې د نېک صبر څخه کار اخستی وه.

ج: خو د دې سره سره الله ﷻ ته امېدلرم چې ماته خپل درېواړه زامن ټول راولي او زما سترګې پرې روښانه کړي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د یقیناً الله ﷻ پوهیږي. زما حالات هم ورته معلوم دي او زما د دریواړو غائبو زامنو حالات یې هم په کامل علم کښې شامل دي. او په دې باندې علاوه الله ﷻ د حکمت څښتن هم دی چې د څه حکمت په بنیاد به یې د هغوی سره زما ملاقات تال کړی وي.

۲_ یعقوب ؑ ذکر شوی تقریر وکړ او بیا یې د خپلو زامنو څخه خپل مخ واړاوه او د یوسف ؑ هغه غم ته متوجه شو کوم چې د بنیامین په غیاب باندې یو خل بیا تازه شو. نو په ډېر افسوس سره یې د مبارکې خولې څخه دا کلمه ووتله چې: ﴿ یَٰأَسَفَىٰ عَلَىٰ یُوسُفَ ﴾ ای په یوسف باندې زما غمه! ته خو بیا تازه شوې، راشه همدا دې وخت دی. په دې وینا باندې علاوه، مبارکې سترګې یې د ډېره غمه سپینې واووښتې او دا ځکه چې هم په خپلو زامنو باندې د غُصې څخه ډک وه او هم یې په زړه کښې پخوانی غم بیا تازه شو مګر ټول یې د خپله خانه سره وساتل، نه یې غُصه څرګنده کړه او نه یې د ﴿ یَٰأَسَفَىٰ عَلَىٰ یُوسُفَ ﴾ څخه اضافه د غم څرګندونه وکړه.

۳_ خو کله چې د یعقوب ؑ نهه زامنو د ده حالت ولید او د ﴿ یَٰأَسَفَىٰ عَلَىٰ یُوسُفَ ﴾ کلمات یې واورېدل نو خپل پلار یې مخاطب کړ چې:

ای پلاره! عجیبه ده چې ته په دوامداره توګه د یوسف ؑ یادونه کوې او د ده غم ستا څخه بالکل هېرېږي نه. ای پلاره! د دغه اوږده غم آخرنی نتیجه به دا شي چې یا به مریض شې او یا به د غمه وفات شې، نو هیله ده چې د نوموړي غم زیاتې هېر کړه او غته ډېره پرې واړوه.

۴_ یعقوب ؑ یو خل بیا خپلو زامنو ته مخ ور واړاوه او ورته یې وویلې چې:

الف: ای زامنو! زه د خپل پرېشان حالت او د خپل غم شکایت هیچا ته نه کوم چې په جمیل صبر کښې مې څه نقصان واقع شي، زما ټول شکایت (د غم څرګندونه) صرف هغه الله ﷻ ته ده چې د :کر شوي غم سره یې زه مخامخ کړی یم. نو ما د خپله غمه سره پرېږدئ او نصیحت راته مه کوئ.

ب: ای زما زامنو! زه په هغه شي باندې د الله ﷻ د پلوه پوهېږم په کوم باندې چې تاسو نه پوهېږئ. یا په بل عبارت: که د یوسف ؑ په ژوند باندې زما علم نه وی نو ما به یې غم هېر کړی وی.

ج: نو ای زامنو! تاسو ته توصیه کوم چې: تاسو بېرته مصر ته ستانه شئ او هلته یوازې د بنیامین نه بلکې د یوسف ؑ د موندلو پلټنه او تالاش هم وکړئ، ترڅو د خپل مشر ورور په شمول د دریواړو ورونو حالات کشف کړئ. او تاسو د الله ﷻ د لوی رحمت څخه ناامیدي مه کوئ او دا ځکه چې د الله ﷻ د لوی رحمت څخه کافر قوم ناامیده کېږي او تاسو خو _الحمد لله والشکر_ مسلمانان یاست. نو هیله ده چې الله ﷻ به د دریواړو ورونو حالات درته څرګند کړي.

## توضیحات

۱_ د یعقوب ؑ درې زامن (یوسف ؑ، بنیامین، او مشر زوی) په مصر کښې پاتې شوه او پاتې نهه تنه د کنعان په لور روان شوه او د خپل پلار په حضور مشرف شوه او هلته یې هغه ته د شوری تصویب شوي مواد هوبهو واورول

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څرنګه چې په تصویب شوو مادو کښې دا خبره هم تصویبه شوې وه چې: ﴿ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّ ٱبۡنَكَ سَرَقَ ﴾ ای پلاره! یقینًا ستا زوی (بنیامین) غلا کړې وه چې مونږ ته ترې لوی مصیبت جوړ شو او خپل خان یې په لوی لاس د غلامۍ په حلقه کښې ورکړ؛ نو یعقوب ﷺ هغوی د لاندې وجوهو د کبله د اتهام لاندې واقع کړه چې:

الف: د هرڅه څخه وړاندې تاسو څه پوه شوئ چې بنیامین غلا کړې وه چې تاسو ورباندې قطعي حکم وکړ. ایا د هغه په بار کښې د زرین جام راوتل د غلا معنی ورکوي؟ که بالفرض ستاسو په نزد یې د غلا معنی ورکوله نو په تېره جویه کښې تاسو ولې په خپلو خانونو باندې دغلو نوم کېښنود، هلته خو ستاسو په بارونو کښې هم د مصرې حکومت څه مالونه راوتلي وه.

ب: بیا مصرې حکومت ته چا مشوره ورکړه چې د یو کاله پورې یې په بنیامین باندې د غلامۍ فیصله وکړه؟ ایا ستاسو څخه پرته بل څوک خبر وه چې مونږ غله ته دغه ډول سزا ورکوو؟

ج: دوی خو یوسف ﷺ ته د غلا د څرګندېدلو څخه وړاندې د یعقوب ﷺ د شریعت حکم بیان کړی وه، مګر احتمال شته هغه به اټکل کړی وي چې دا حکم به یې ورته د زرین جام د ظهور څخه وروسته واضحه کړی وي ترڅو بنیامین په لوی لاس د غلامۍ په جال کښې ګیر کړي.

د: هغوی خپل پلار ته د موضوع په واضحه کولو کښې داسې یوه خبره هم وانوروله چې د بنیامین څخه دفاع ترې معلومه سوې وی، نو یعقوب ﷺ ملامته نه وه چې هغوی یې د اتهام لاندې واقع کړه چې تاسو په دغه کار باندې راضي وئ.

هـ: بالآخره څه لرې نه ده چې یعقوب ﷺ ته څه شک ورلوېدلی وي چې ذکر شوی جام به همغوی د بنیامین په بار کښې د دسیسې په توګه ایښی وي او بیا به یې حکومت ته اطلاع ورکړې وي.

لنډه دا چې د یعقوب ﷺ په نزد خپل زامن خام شوي وه او هوښیاران وایي چې خامه غوښه پخېږي مګر خام سړی نه پخېږي.

## أسف څه معنی؟

۲ـ که څه هم د "أسف" د کلمې اطلاق هم په غضب (غصې) او هم په غم (حزن) باندې کېږي مګر په اصل کښې ذکره شوې کلمه هغه حالت ته وضعه شوې ده په کوم کښې چې غضب او حزن دواړه جمعه شوي وي[1] چې په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده، ځکه چې یعقوب ﷺ د یو پلوه په خپلو زامنو باندې په غصه وه او د بله پلوه په یوسف ﷺ او بنیامین باندې خپه وه.

نو "الف" پکښې د متکلم د "ی" څخه بدل دی نو ﴿ يَٰٓأَسَفَىٰ ﴾ په اصل کښې "یاأسفي" وه[2] یعني ای زما غمه! راشه همدا دې وخت دی.

---

(۱) مفردات الراغب ص ۱۳

(۲) تفسیر القاسمي ج۹ ص ۲٦٦

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۳_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة: ۱۵۶] لاندې لیکلي دي چې د ﴿ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ﴾ کلمات خاص محمدي ﷺ امت ته الله ﷻ تلقین کړي دي چې د مصیبت په وخت کښې پرې د خپل غم ښرګندونه وکړي او اجرونه او ثوابونه حاصل کړي. که نه نو یعقوب ﷺ به د ﴿ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ ﴾ په عوض په ذکرو شوو کلماتو باندې اواز پورته کړی وی.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې د یعقوب ﷺ دپاره خو د بنیامین غلام جوړېدل نوی غم وه، نو په کار وه چې د ﴿ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ ﴾ په عوض باندې یې "يَاأَسَفِي عَلَى بُنْيَامِيْن" ویلي وی او یا یې اقلاً د بنیامین یادونه هم د یوسف ﷺ سره ضمیمه کړې وی؟

مونږ وایو چې: یعقوب ﷺ د هغې لړۍ بنیاد ته اشاره وکړه د کومې څخه چې په ده باندې غمونه پیل شوي وه، نو د یوسف ﷺ نوم اخستل په حقیقت کښې د بنیامین نامه ته هم اشاره وه چې د ذکر شوي لړۍ یوه کړۍ وه.

## د سترګو سپینبدل یعني څه؟

۵_ د ﴿ وَٱبۡيَضَّتۡ عَيۡنَاهُ مِنَ ٱلۡحُزۡنِ ﴾ په جمله کښې د ﴿ ٱبۡيَضَّتۡ ﴾ کلمه د "ابْيِضَاض" _لکه "احْمِرَار"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې مبالغه پکښې نغښتې ده او د تک سپین معنی ورکوي.

د ځینو مفسرینو کرامو د بیان څخه ښرګندېږي[1] چې ذکره شوې جمله د هغه ضمیر څخه حال واقع شوې ده کوم چې په ﴿ وَقَالَ ﴾ کښې مستتر دی، او د سترګو سپینوالی د ړوندوالي یا د نظر د کمزورۍ څخه عبارت دی، نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: یعقوب ﷺ د ﴿ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ ﴾ په کلماتو باندې په داسې حال کښې تلفظ وکړ چې سترګې یې لا پخوا د غمه ړندې شوې او یا کمزورې شوې وې.

مګر مونږ ته داسې برېښي او په تبادر سره ذهن ته راځي (لکه چې ځینو علماوو کرامو پرې صراحت کړی دی)[2] چې ذکره شوې جمله به په وړاندېنۍ جملې ﴿ وَقَالَ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ ﴾ عطفه وي، او د سترګو تک سپین جوړېدل به د ډېرې ژړا څخه کنایه وي. نو حاصل به یې داسې راوځېږي چې: د نهه زامنو د بیاناتو په اورېدلو سره یعقوب ﷺ په ﴿ يَٰٓأَسَفَىٰ عَلَىٰ يُوسُفَ ﴾ په کلماتو باندې اواز پورته کړ او د ډېرې ژړا څخه یې مبارکې سترګې تکې سپینې واووښتې.

نو په دې تقدیر به ایت شریف د یعقوب ﷺ د سترګو د ړوندوالي یا د نظر د کمبود د بیان څخه ساکت وي او یوازې په راتلونکي [۹۳] ایت کښې به ورته اشاره شوې وي او بس.

(۱) روح المعاني ج۱۳ ص۴۰؛ البحر المحیط ج۶ ص۳۱۴
(۲) التفسیر الکبیر ج۱۸ ص۱۹۵؛ حاشیه الشیخزاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۹۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## کظم څه معنی؟

۶_ د ﴿ فَهُوَ كَظِيمٌ ﴾ په جمله کښې د ﴿ كَظِيمٌ ﴾ کلمه د "كَظْمٌ" _لکه "ضَرْبٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د بندولو او زغملو معنی ورکوي. د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث ولولئ:

نبي کریم ﷺ فرمايلي دي چې: «التَّثَاؤُبُ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِذَا تَثَاوَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ»[۱] يعني خوله وازې د شيطان له پلوه دي نو کله چې ستاسو يو کس خوله وازې کوي نو ترڅو پورې يې چې وسه کېږي بند دې کړي (که نه نو ببا دي په لاس باندې خپله خوله پټه کړئ).

نو په دې مقام کښې بې د معنی حاصل داسې راځبژي چې: د سختې ژړا څخه د يعقوب ﷺ مبارکې سترګې تکې سپينې واووښتې او دا خکه چې ټول غم او غُصه يې په زړه کښې بنده کړه (وزغمله) او په خپلو زامنو باندې يې سره نه کړه.

## سوال جواب

۷_ که څوک وايي چې مفسرينو کرامو د ﴿ تَاللَّهِ تَفْتَؤُا تَذْكُرُ يُوسُفَ ﴾ په جمله کښې د ﴿ تَفْتَؤُا ﴾ کلمه په "لَا تَزَالُ" سره ترجمه کړې ده[۲] يعني هغوی خپل پلار (يعقوب ﷺ) مخاطب کړ چې په الله ﷻ باندې دې زمونږ سوګند وي چې ته د يوسف ﷺ يادونه نه پرېږدې ترڅو چې (د همدغه دوامداره يادښت د کبله) يا سخت مريض شې چې مرګ ته ورنژدې شې، او يا مړ شې.

نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنياد د ﴿ تَفْتَؤُا ﴾ په عوض "لا تَفْتَأ" نازل نه کړی شو؟

مونږ وايو چې: قرآن کريم عربي قواعد د نظره نه دي غورزولي، او په قسم کښې عربي قاعده دا ده چې کله يې جواب مثبت واقع شي نو هلته به ضرور د تاکيد "ل" او يا د تاکيد ثقيله يا خفيفه "ن" ورپورې اتصال مومي. لکه "وَاللهِ لأفعَلَنَّ كذَا" قسم دی چې زه به هرومرو ضرور دا کار وکړم.

نو کله چې د کوم قسم جواب مثبت وي او د دې سره-سره د ذکرو شوو دوارو تاکيدونو څخه خالي وي نو ضرور به هلته د نفي توری مقدر وي، لکه چې په دې مقام کښې د ﴿ تَفْتَؤُا ﴾ جمله مثبته ده او د قسم دپاره جواب واقع شوې ده حال دا چې ذکر شوي دواړه تاکيدات پکښې موجوديت نه لري. نو معلومه شوه چې دلته د نفي توری "لا" د قرائنو په دلالت باندې د تلفظ څخه لوېدلی دی او په تقدير کښې شته دی، نو خکه په منفي جمله "لا تَزَالُ" باندې ترجمه شوې ده.

## د "شکاية" او "بث" معناوې

۸_ د ﴿ إِنَّمَا أَشْكُوا بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللَّهِ ﴾ په جمله کښې د ﴿ أَشْكُوا ﴾ کلمه د "شكاية" څخه اشتقاقه شوې ده چې د "اظهار البث" معنی ورکوي[۳]. نو څرنګه چې په دې مقام کښې د "بث" کلمه پخپله ذکره

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۴۱۳
(۲) تفسير ابي السعود ج۴ ص۳۰۲؛ زاد المسير ج۴ ص۲۰۴
(۳) مفردات الراغب ص۲۷۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده نو دلته به يې معنی فقط اظهار (څرګندونه) وي.
او د "بث" کلمه اصلاً د تفريق او تيت پرک کېدلو دپاره وضعه شوې ده(١) مګر په ايت شريف کښې ترې هغه شديد غم مطلب دی په کوم باندې چې غمژن صبر نه شي کولی او بل چا ته يې څرګندونه وکړي(٢)، چې مونږ ترې په پرېشان حالۍ سره تعبير کوو، نو د معنی حاصل به يې داسې را وخېژي چې: يقيناً زه د خپل پرېشان حال او د خپل خپګان څرګندونه بل چاته نه کوم بلکې فقط الله ﷻ ته يې څرګندوم او بس، ترڅو راته د نجات لاره پيدا کړي.

## يو عجيب سکوت

٩_ کله چې يعقوب ؑ خپلو زامنو ته توصيه وکړه چې ولاړ شئ او د يوسف ؑ پلټنه وکړئ نو هغوی په عجيبه توګه سکوت وکړ او پلار يې مخاطب نه کړ چې: ای پلاره! يوسف ؑ خو لېوه خوړلی دی هغه خو بېرته نه راژوندی کېږي؟. ته به وايې چې هغوی په غير مستقيمه توګه ويلي وي چې مونږ دروغ جوړ کړي وه.

## يادونه

١٠_ مونږ _لله الحمد_ د [الأعراف:٩٧] ايت لاندې پوره تحقيق ليکلی دی چې د الله ﷻ د رحمت څخه نا اميدي کفر دی او که کبيره ګناه؟ نو هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

﴿فَلَمَّا دَخَلُوا۟ عَلَيۡهِ قَالُوا۟ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡعَزِيزُ مَسَّنَا وَأَهۡلَنَا ٱلضُّرُّ وَجِئۡنَا بِبِضَٰعَةٖ مُّزۡجَىٰةٖ فَأَوۡفِ لَنَا ٱلۡكَيۡلَ وَتَصَدَّقۡ عَلَيۡنَآۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَجۡزِي ٱلۡمُتَصَدِّقِينَ ﴿٨٨﴾ قَالَ هَلۡ عَلِمۡتُم مَّا فَعَلۡتُم بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ إِذۡ أَنتُمۡ جَٰهِلُونَ ﴿٨٩﴾ قَالُوٓا۟ أَءِنَّكَ لَأَنتَ يُوسُفُۖ قَالَ أَنَا۠ يُوسُفُ وَهَٰذَآ أَخِيۖ قَدۡ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَآۖ إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٩٠﴾ قَالُوا۟ تَٱللَّهِ لَقَدۡ ءَاثَرَكَ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا وَإِن كُنَّا لَخَٰطِـِٔينَ ﴿٩١﴾ قَالَ لَا تَثۡرِيبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡيَوۡمَۖ يَغۡفِرُ ٱللَّهُ لَكُمۡۖ وَهُوَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴿٩٢﴾ ٱذۡهَبُوا۟ بِقَمِيصِي هَٰذَا فَأَلۡقُوهُ عَلَىٰ وَجۡهِ أَبِي يَأۡتِ بَصِيرٗا وَأۡتُونِي بِأَهۡلِكُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٩٣﴾﴾

[٨٨] نو هرکله چې دوی په يوسف ؑ باندې ورننوتل (ورغله) نو ويې ويلې چې: ای معززه! مونږ ته او زمونږ ټبر ته سختي رسېدلې ده او مونږ د بر لږ تجارتي مالونه راوړي دي (چې پوره بارونه

(١) تفسير القرطبي ج٩ ص٢٥١
(٢) تفسير القاسمي ج۴ ص٢٠٥

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پرې نه شو ترلاسه کولی) نو مونږ ته پیمانې (غلې دانې) پوره کړه (د عوض کمبود په نظر کښې مه نیسه) او په مونږ باندې خیرات وکړه، یقینًا الله ﷻ خیرات کوونکو ته جزا (عوض) ورکوي.

[۸۹] یوسف ؑ وویلې چې: ایا تاسو په هغه شي باندې علم لرئ (په یاد کښې مو پاتې دي) کوم چې تاسو د یوسف او د ده د ورور (بنیامین) سره کړي وه (البته) کله چې تاسو ناپوهان وئ؟.

[۹۰] هغوی (ټولو په یوه خوله) وویلې چې: ایا یقینًا ته همدا ته ضرور یوسف ؑ یې (چې هغه قیصه درته معلومه ده).

یوسف ؑ وویلې چې: (هو) زه یوسف یم او دغه (بنیامین) مې ورور دی (بل یوسف نه یم بلکې د یعقوب ؑ زوی یوسف ؑ یم)، بې شکه الله ﷻ په مونږ باندې احسان کړی دی، یقینًا شان دا دی چې هرڅوک پرهېزګاري وکړي او (جمیل) صبر وکړي نو یقینًا الله ﷻ د نیکوکارانو اجر (اجرونه) نه ضائع کوي (بې اجره یې نه پرېږدي).

[۹۱] هغوی وویلې چې: په الله ﷻ باندې سوګند دی چې ته په مونږ باندې الله ﷻ غوره کړی یې، او یقینًا مونږ خطاکاران یاستو.

[۹۲] یوسف ؑ وویلې چې: نن ورځ په تاسو باندې (هیڅ) پړه نشته (نه اچوله کېږي)، الله ﷻ به تاسو ته مغفرت وکړي، او همدی ﷻ د رحم کوونکو بهتر رحم کوونکی دی.

[۹۳] زما دغه کمیس یوسئ نو زما د پلار (یعقوب ؑ) په (مبارک) مخ باندې یې ورواچوئ نو بینا به راشي (وګرځي) او (هم) خپل ټول ټبر ماته (مصر ته) راولئ.

## د مطلب خلاصه

یعنې کله چې یعقوب ؑ د خپلو نهه زامنو په خبره باور ونه کړ او وظیفه یې ورکړه چې بېرته مصرته ستانه شي ترڅو د یو پلوه هلته د درېواړو ورونو پلټنه یا لیدنه وکړي او د بله پلوه د درېم خل دپاره د خپل بال بچ دپاره غلې دانې راوړي، نو دوی د خپلو خانونو سره څه ناقص او لږ سامان واخست او بېرته مصرته ستانه شوه چې لاندې کیفیتونه پېښ شوه:

کله چې دوی د درېم خل دپاره د یوسف ؑ په حضور باندې مشرف شوه نو سمدستي یې د بنیامین موضوع مطرحه نه کړه بلکې د غلو دانو د رانیولو په غم کښې ولوېده او د یوسف ؑ سره یې لاندې سوال جواب وکړ:

ورونه: ای معززه مشره! زمونږ کور کهول ته ډېره سخته لوږه رسېدلې ده او ټول ټبر مو د مشکلاتو سره مخامخ دی. مونږ د خپلو خانونو سره د غلودانو د رانیولو دپاره څه ناقص او لږ سامان راوړی دی چې زمونږ د بارونو (څټو) قیمت نه شي پوره کولی، نو هیله ده چې مونږ ته خپلې پیمانې او څټې پوره راکړې او د قیمت کمبود یا نقصان ته ونه ګورې. په دې باندې علاوه، زمونږ هیله ده چې په مونږ باندې خیرات وکړې او اجرونه راباندې وګټې (هم راته څټې پوره کړې او هم راته اضافه غلې دانې راکړې). او دا ځکه چې یقینًا الله ﷻ خیرات ورکوونکو ته نېکه جزا او اجرونه ورکوي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یوسف ﷺ: تاسو دغلو دانو خبره پرېږدئ بلکې د دې خبرې جواب راکړئ چې: ایا ستاسو هغه څه په یاد دي (په علم کښې مو شته) کوم چې تاسو د یوسف ﷺ او د ده د سکه ورور (بنیامین) سره کړي وه، البته په هغه وخت کښې چې تاسو نه پوهېدئ او په خطاکارۍ کښې لوېدلي وئ؟

ورونه: نو لکه چې همدا ته یقیناً یوسف ﷺ یې چې د دېرې دقیقې او پټې خبرې پوښتنه دې وکړه؟

یوسف ﷺ: هوا همدا زه یوسف یم او دغه (بنیامین) مې سکه ورور دی. یقیناً چې په مونږ باندې الله ﷻ ډېر لوی انعام اواحسان کړی دی، بلکې د الله ﷻ احسان او انعام یوازې مونږ پورې اختصاص نه لري، هرڅوک چې پرهېزګاري وکړي (د الله ﷻ څخه وډار شي) او هم په مصائبو باندې صبر وکړي نو د نېکانو څخه جوړېږي او الله ﷻ د نیکوکارانو اجرونه او عوضونه نه ضائع کوي.

ورونه: یقیناً چې تاته الله ﷻ په مونږ باندې غوروالی درکړی وه او درکړی دی، او یقیناً چې مونږ خطاکاران وو چې په تا باندې مو رخه کوله او ستا د غوره جوړېدلو مخه مو نیوه، بې شکه چې د الله ﷻ د ارادې مخه هیڅوک نه شي نیولی.

یوسف ﷺ: ای زما ورونو! هرڅه چې شوي دي هغه ټول د زړه څخه وباسئ او هیڅ تشویش مکوئ، نن ورځ په تاسو باندې زما د پلوه هیڅ ملامته نشته (تېر په هېر) او الله ﷻ ته هم امید کوم چې تاسو ته به مغفرت او ښښنه وکړي، دا څکه چې همدی ﷻ د رحم کوونکو بهتر رحم کوونکی دی. اما تاسو ته توصیه کوم چې:

اول: تاسو ټول بېرته کنعان ته ستانه شئ او هلته محترم پلار ته زېری ورکړئ.

دوهم: زما دغه کمیس محترم پلار ته د نښې دپاره ورورئ.

درېم: همدغه کمیس دا څل په رښتیاوو باندې یوسئ او زما د محترم پلار په مبارک مخ باندې یې ور واچوئ چې د مبارکو سترګو روندوالی یا د نظر کمزوري یې ورکه او روغ رمټ شي.

څلورم: غلې دانې هلته مه ور وړئ بلکې خپل ټول کورکهول او ټبر مو دلته ماته راولئ، ترڅو د یو پلوه تاسو د قحطۍ د مشکلاتو څخه خلاص شئ او د بله پلوه زه د خپل پلار په لیدلو مشرف شم، او بالآخره ترڅو زما د پخواني لیدلي شوي خوب نهایي هدف او تاویل تحقق مونده کړي.

## توضیحات

۱ـ که څه هم یعقوب ﷺ خپلو زامنو ته توصیه وکړه چې مصر ته ستانه شي او هملته د خپلو ورونو په اړوندو حالاتو پورې تماس ونیسي، مګر دوی د هرڅه څخه وړاندې د غلو دانو موضوع مطرحه کړه. شاید چې د ورونو موضوع به یې د لاندې وجوهو د کبله وروسته کړې وي:

الف: ترڅو د غلو دانو په غوښتلو کښې د یو پلوه خپله ناچاري پاچا ته څرګنده کړي چې دوی د ترحم وړ دي، او د بل پلوه د پاچا وضعه خپلو خانونو ته معلومه کړي چې د بنیامین په غلا باندې خو به په ټولو ورونو باندې په غُصه نه وي؟ که داسې وي نو وړاندیز به ورته عبث شي.

ب: څه لرې نه ده چې د بنیامین د حالاتو څرنګوالی به یې خپل مشر ورور ته پرېښی وي، چې همدلته په مصر کښې پاتې وه او موضوع ورته ښه څرګنده وه.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## مُزْجَاةٍ څه معنی؟

۲ـ د ﴿ مُّزۡجَىٰةٖ ﴾ کلمه په اصل کښې "مزجوة" ـلکه "مکرمة" ـ وه چې "و" یې په "الف" باندې بدلون موندلی دی. د نوموړې کلمې دپاره علماوو کرامو ډېرې معناوې کړې دي[۱] مګر د مقام سره چې په ډېره ښه توګه پیوند اخلي هغه د "قَلِيْلَةٌ" معنی ده[۲]. نو حاصل به یې داسې را وخېژي چې: ای معززه پاچا! مونږ د غلو دانو د رانیولو دپاره ډېر لږ تجارتي مالونه راوړي دي چې په ارزښت سره پرې زمونږ ټول اوښان نه باربېږي، نو هېله ده چې زمونږ د تجارتي مالونو کمبود ته ونه ګورې او ټول اوښان راته بار کړې.

پاتې شوه دا خبره چې ذکر شوی قلیل (لږ) تجارتي مالونه څه شی وه چې د غلو دانو قیمت یې نه شو پوره کولی، نو په دې کښې هم مفسرینو کرامو زښت ډېر اجناس ښودلي دي[۳] لکه وړئ او غوړي، یا جنغوزي او شنې او داسې نور. والله ﷻ أعلم.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې د ﴿ هَلۡ عَلِمۡتُم مَّا فَعَلۡتُم بِيُوسُفَ وَأَخِيهِ ﴾ د جملې څخه څرګندېږي چې د یوسف ؊ ورونو لکه څنګه چې د هغه سره بده وضعه کړې وه د بنیامین سره یې هم چندان ښه وضعه نه وي کړې؛ نو پوښتنه دا ده چې له ده سره یې څه بده وضعه کړې وه؟

مونږ وایو چې:

الف: مونږ د همدې سورت د [۸] ایت لاندې لیکلي دي چې بنیامین هم د هغوی په پلان کښې شامل وه خو په عملي کولو کښې یې دوهم لمبر ورکړی وه. څه لرې نه ده چې د یوسف ؊ څخه وروسته به یې د بنیامین سره هم خپله وضعه بدله کړې وي، او په هغو اقوالو او افعالو باندې به یې زورولی وي کوم چې مونږ ته په روایاتو کښې نه دي رارسېدلي، او یوسف ؊ پرې د همده د پلوه خبر شوي وه نو ځکه یې ورته توصیه کړې وه چې: ای وروره! د دوی په کارونو باندې مه غمژن کېږه [یوسف: ۶۹].

ب: کله چې د بنیامین په څټه کښې زرین جام راووت نو سمدستي یې پرې د غله نوم کېښود او ورته یې وویلې چې: "يَا بَنِيْ رَاحِيْلَ مَا رَأَيْنَا مِنْكُمْ خَيْرًا"[۴] ای د راحیل زامنو! ستاسو څخه مونږ خیر ونه لید (راحیل د یوسف ؊ او د بنیامین د مور نوم وه).

ج: د یوسف ؊ په تبعید باندې خو لکه څنګه چې یعقوب ؊ زوربدلی شوی وه همدارنګه پرې د بنیامین زړه هم زخمي شوی وه بلکې لا د ده دپاره تهدید شوی هم وه.

---

(۱) زاد المسیر ج۴ ص۲۰۸؛ تفسیر القاسمي ج۹ ص۲۶۹
(۲) لسان العرب ج۱۴ ص۳۵۵
(۳) روح المعاني ج۱۳ ص۴۶؛ تفسیر ابي السعود ج۴ ص۳۰۳؛ تفسیر الطبري ج۱۳ ص۴۹
(۴) تفسیر البغوي ج۲ ص۴۴۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: بالآخره څه لرې نه ده چې بنیامین ته به یې په هغه سفر کښې هم څه ستغې او سپورې خبرې کړې وې په کوم کښې چې دوی نوموړی د کنعان څخه د پاچا د غوښتنې په اثر بیولی وه[۱] او رخه به یې کړې وي چې بنیامین زمونږ څخه مصري پاچا ته داسې زیات محبوب دی لکه څنګه چې یوسف ﷺ زمونږ څخه پلار ته زیات محبوب وه.

## تثریب څه معنی؟

۴_ د ﴿لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ ٱلْيَوْمَ﴾ په جمله کښې د ﴿تَثْرِيبَ﴾ کلمه د ملامتیا او عقوبت او هم د پیغور دپاره وضعه شوې ده[۲]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای زما ورونو! تاسو چې زما سره او یا زما د ورور (بنیامین) سره هرڅه کړي دي هغه ټول تاسو ته همدا نن ورځ عفوه دي نه به په تاسو باندې ملامته اچوله کېږي، نه به د عقوبت لاندې واقع شئ او بالآخره نه به پیغور درکړی شي. دا په هغو حقوقو کښې کوم چې په مونږ پورې اړه لري، اما په حقوق الله وو کښې هم امید دی چې الله ﷻ به درته مغفرت او بښنه وکړي.

په همدې موضوع کښې مونږ _لله الحمد_ د دې سورت د درېم ایت شریف څخه لاندې د ہر خوندور حدیث رانقل کړي دي هیله ده چې محترم لوستونکي هلته مراجعه وکړي. په دې مقام کښې وړباندې فقط لاندې وضاحتونه وراضافه کوو چې:

الف: یوسف ﷺ ته خپلو ورونو د ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلْعَزِيزُ﴾ په نامه باندې خپل عرائض وړاندې کړه چې: "ای معززه!". رښتیا چې یوسف ﷺ د الله ﷻ معزز بنده وه د همدې کبله یې د قدرت سره سره خپلو ورونو ته بښنه وکړه. همدا مضمون په لاندې حدیث کښې څومره ښه شرحه شوی دی:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې یوه ورځې موسی ﷺ الله ﷻ ته عرض وکړ چې: «يَا رَبِّ مَنْ أَعَزُّ عِبَادِكَ عِنْدَكَ؟» ای ربه! ستا د بندګانو څخه ستا په نزد څوک د ہر معزز دی؟ الله ﷻ جواب ورکړ چې «مَنْ إِذَا قَدَرَ غَفَرَ»[۳] هغه څوک چې کله یې لاس بر شي (هم) بښنه کوي.

ب: د یوه اوږده حدیث مضمون دی چې کله ابو سفیان _په داسې وخت کښې چې د "رضي الله عنه" لایق نه وو جوړ شوی_ د نبي کریم ﷺ حضور ته ورغی نو د پخوانیو جنایاتو د کبله ترې نبي کریم ﷺ مخ واړاوه. نوموړي ته علي ﷺ مشوره ورکړه چې: یو ځل بیا د نبي کریم ﷺ په حضور مشرف شي او په لوړ اواز سره هغه کلمات ووایې کوم چې د یوسف ﷺ ورونو ویلي وه چې: ﴿تَٱللَّهِ لَقَدْ ءَاثَرَكَ ٱللَّهُ عَلَيْنَا﴾ نو امید دی چې نبي کریم ﷺ به درته عفوه وکړي.

کله چې نوموړي د نبي کریم ﷺ په حضور کښې ذکر شوي کلمات قرائت کړه نو نبي کریم ﷺ ورته عفوه وکړه او په هغو کلماتو باندې یې مخاطب کړ په کومو باندې چې یوسف ﷺ خپل ورونه مخاطب

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱۳ ص۵۴
(۲) المحرر الوجیز ج۹ ص۳۷۰
(۳) شعب الایمان للبیهقي ج۶ ص۳۱۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړي وه چې: ﴿ لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ﴾(۱) په تاسو باندې نن ورځ هيڅ ملامته او انتقام نشته، نو ابو سفيان د "رضي الله عنه" د ويلو لايق وګرځېد او ايمان يې منظور شو.

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې يوسف ﷺ په څه پوه شو چې پلار يې ړوند شوی دی او يا يې نظر کمزوری شوی دی، او هم دا ورته څه معلومه شوه چې د کميس په وراچولو باندې به يې د سترګو نظر بېرته راتاو شي او يا به تازه شي؟

مونږ وايو چې: د سترګو د ړنديدلو حالت خو به همدوی ورته شرحه کړی وي ترڅو بنيامين د يوسف ﷺ د بند څخه راخوشي کړي. اما د سترګو په رغېدلو باندې د پوهېدلو دپاره يې څينو مفسرينو کرامو څه عقلي وجوه هم بيان کړي دي مګر صحيحه خبره دا ده چې ذکر شوي معلومات به ورته په وحي باندې د الله ﷻ د پلوه ورکړی شوي وي(۲).

﴿ وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّي لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ لَوْلَا أَن تُفَنِّدُونِ (۹۴) قَالُوا تَاللَّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلَالِكَ الْقَدِيمِ (۹۵) فَلَمَّا أَن جَاءَ الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَىٰ وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ (۹۶) قَالُوا يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ (۹۷) قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ (۹۸) ﴾

[۹۴] او کله چې کاروان (د مصر څخه) جدا شو نو د هغوی پلار (يعقوب ﷺ خپلو لمسيانو ته) وويلې چې: يقيناً زه د يوسف ﷺ (خوږه) وږمه مومم، که چېرې ستاسو د پلوه ماته د بوډاتوب د کبله د سادګۍ نسبت نه وي (نو په ذکره شوې خبره کښې به مو زه صادق ګڼلی وی).

[۹۵] لمسيانو (ورته) وويلې چې: په الله ﷻ باندې سوګند دی چې يقيناً ته په خپلې پخوانۍ خطايي کښې يې.

[۹۶] نو هرکله چې زېرې ورکوونکی (يهوذا يعقوب ﷺ ته) راغی (را ورسېد) نو (د يوسف ﷺ) کميس يې د ده په مخ باندې ور واچاوه نو هغه بېرته پخواني حالت ته بينا وګرځېد، (او بيا يې) وويلې چې: ای زامنو! ايا تاسو ته ما نه وو ويلي چې يقيناً زه د الله ﷻ د پلوه په هغه شي باندې پوهېږم چې تاسو پرې نه پوهېږئ (هغه دا چې يوسف ﷺ ژوندی دی).

[۹۷] زامنو (ورته) وويلې چې: ای زمونږ (مهربانه) پلاره! زمونږ دپاره زمونږ د ګناهونو مغفرت وغواړه. يقيناً چې مونږ خطاکاران وو (د يوسف ﷺ په هکله).

---

(۱) الاصابة في تميز الصحابة ج۲ ص۲۷۷
(۲) التفسير الكبير ج۱۸ ص۲۰۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹۸] یعقوب ﷺ وویلې چې: ژر به زه ستاسو دپاره د خپل رب ﷻ څخه مغفرت وغواړم. یقیناً زما رب ﷻ بښونکی (او) مهربان دی (هیله ده چې سوال به مې قبول کړي).

## د مطلب خلاصه

یعنې یوسف ﷺ خپلو ورونو ته خپل کمیس ورکړ او د کنعان په لور یې رخصت کړ، نو بیا لاندې کیفیتونه منځته راغله:

۱ـ کله چې هغوی نوموړي کمیس ته د کنعان په لور حرکت ورکړ او کاروان د ښار څخه جدا شو نو د یعقوب ﷺ دماغ ته د خپل ګران زوی (یوسف ﷺ) خوږه وږمه ورسېده، نو د خپلې شاوخوا کسان (لمسیان او نور) یې مخاطب کړه چې:

الف: عجیبه ده ماته د یوسف ﷺ عطري وږمه دماغ ته راغله، لکه چې زما ا، د هغه د ملاقات وخت رانژدې شوی دی.

ب: ای حاضرینو! که بالفرض تاسو ماته د ساده‌ګۍ نسبت ونه کړئ نو ضرور به تاسو زما په ذکره شوې عجیبه خبره باندې باور وکړئ.

۲ـ ټولو حاضرینو په یوه خوله ډېر په کلکه جواب ورکړ او په الله ﷻ باندې یې ورته سوګند یاد کړ چې: یقیناً ته د پخوانۍ خطایۍ څخه خلاص شوی نه یې، حتی چې اوس یې دغه حالت ته راورسولې چې پرته ګرېږې او اوتې بوتې وایې.

۳ـ نور نو یعقوب ﷺ چپ شو (او د خپل ګران زوی په خوږه وږمه باندې یې خپل غم غلطاوه چې سات په سات ورته رانژدې کېده)، آن تردې چې زیری ورکوونکی یعقوب ﷺ ته ور ورسېد او د هغه په مبارک مخ باندې یې د یوسف ﷺ کمیس ور واچاوه، نو سمدستي بینا شو او یا یې د سترګو کمزوري د منځه لاړه.

یعقوب ﷺ د خوشالۍ په حال کښې خپل ټول ټبر مخاطب کړ چې: ایا تاسو ته ما نه وو ویلي چې زه د الله ﷻ د پلوه په هغه څه باندې پوهېږم چې تاسو پرې نه پوهېږئ؟ (زه پوهېدلم چې یوسف ﷺ ژوندی دی خو تاسو ته مې ښکاره‌ېده).

۴ـ بیا ټولو زامنو د خپل پلار په حضور کښې په خپله ګناه باندې اعتراف وکړ لکه څنګه یې چې د یوسف ﷺ په حضور کښې پر اعتراف کړی وه، او د پلار څخه یې غوښتنه وکړه چې: ای پلاره! مونږ ډېر خطاکاران یاستو مونږ ته د الله ﷻ څخه د ګناهونو مغفرت او ښښنه وغواړه.

۵ـ یعقوب ﷺ د خپلو زامنو وړاندیز قبول کړ او کلکه وعده یې ورکړه چې: ډېر ژر به د خپل رب ﷻ څخه ستاسو دپاره مغفرت وغواړم، او هیله ده چې زما سوال به قبول کړي او ګناهونه به درته وبښي ځکه چې یقیناً همدی ﷻ بښونکی او مهربان دی.

## توضیحات

۱ـ په دې مقام کښې یوه عجیبه دا خبره ده چې د یعقوب ﷺ په دماغ کښې تر کلونو-کلونو پورې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د یوسف ﷺ خوږې وږمې خای نیولی وه او کله چې د ډېرې مودې وروسته اول ځل د ده دماغ ته ورسېده نو ویې پېژانده چې دا د یوسف ﷺ وږمه ده.

بله عجیبه دا ده چې د ډېرې مسافې څخه په اصطلاح د اتیا فرسخه یا اته منزله[۱] وړاندې خای څخه د ده دماغ ته ذکره شوې وږمه ورسېده، حال دا چې د یو پلوه د انسان شامه قوه دومره قوي نه وي او د بله پلوه د انسان د خولې وږمه دومره تېزه نه وي. نو معلومه شوه چې دا کار الله ﷻ د معجزې په توګه اجراء کړی دی، که نه نو په کار وه چې د هغه کوهي څخه د یعقوب ﷺ دماغ ته د یوسف ﷺ وږمه ور رسېدلې وی په کوم کښې چې یوسف ﷺ اچولی شوی وه، او د هغه د کور څخه یې فقط درې فرسخه وړاندې موقعیت درلود[۲].

همدا موضوع په لاندې حدیث شریف کښې څومره په زړه پورې شرحه شوې ده:

حنظله ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې وایي چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ جنت او دوزخ یاد کړ نو په ما باندې داسې حالت راغلی لکه چې جنت او دوزخ په سترګو باندې ګورم، زه د همدې مبارک مجلس څخه پورته شوم او د خپل کور کهول خواته لاړم، نو ما ولیده چې پخوانی حالت مې پاتې نه شو، د همدې کبله ما په خپل ځان باندې ګومان وکړ چې زه منافق شوی یم، او دا ځکه چې هغه حالت راته دوام ونه کړ په کوم حالت باندې چې زه د نبي کریم ﷺ په حضور کښې وم، د همدې کبله مې همدغه کیفیت نبي کریم ﷺ ته یاد کړ او پوښتنه مې ترې وکړه چې: ایا زه منافق شوی یم؟

نو نبي کریم وفرمایل چې: «يَا حَنْظَلَةُ لَوْ كُنْتُمْ كَمَا تَكُونُونَ عِنْدِي لَصَافَحَتْكُمُ الْمَلَائِكَةُ عَلَى فُرُشِكُمْ أَوْ عَلَى طُرُقِكُمْ يَا حَنْظَلَةُ سَاعَةً وَسَاعَةً»[۳] یعنې ای حنظله! که چرته تاسو په هغه حالت باندې پاتې کېدلی په کوم باندې چې زما په حضور کښې یاست نو پرښتو به درسره په خپلو فرشونو یا په خپلو لارو باندې مصافحې کړې وی، ای حنظله! یو سات د ذکر دپاره وي او بل سات د دنیاوي معیشت دپاره.

سعدي علیه الرحمة د یعقوب ﷺ ذکر شوي حالات په خپلو درې اشعارو کښې داسې ځای په ځای کړي دي چې[۴]:

**زمصرش بوی پیراهن شمیدي :: چرا در چاه کنعانش نه دیدي**

**بگفتا احوال ما برق جهان است :: دمي پیدا و دیگر دم نهان است**

**گهي بر طارم اعلی نشینم :: گهي بر پشت پای خود نبینم**

یعنې د یعقوب ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې د مصر څخه دې د یوسف ﷺ د کمیس وږمه بوی کړه نو د کنعان په کوهي کښې دې ولې نه لیده چې درته نژدې وه، هغه جواب ورکړ چې زمونږ

---

(۱) زاد المسیر ج۴ ص۲۱۳

(۲) تفسیر ابي السعود ج۴ ص۲۵۸؛ المحرر الوجیز ج۹ ص۲۶۶

(۳) سنن ابن ماجه ص۳۱۲

(۴) گلستان سعدي ص۱۰۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حالات د دنیا د برېښنا ځوندې دي کله وي او کله نه وي، کله په لوړه مناره باندې ګینو چې هرڅه راته ښکارېږي او کله د خپلو پښو په شا باندې څه نه وینو.

## یادونه

۲_ که څه هم د یوسف ﷺ د کمیس په باره کښې د همدې سورت د [۲۵] ایت لاندې څه معلومات لیکلی شوي دي _لله الحمد_ چې بیا لیکلو ته یې ارتیا نه ګورو، مګر په دې مقام کښې ورباندې اضافه کوو چې ځینو علماوو کرامو د هغه کمیس په باره کښې ډېر عجائب لیکلي دي کوم چې یوسف ﷺ خپل پلار ته د مصر څخه ورلېږلی وه(۱) چې هغه یو جنتي کمیس وه او یا هغه کمیس وه کوم چې زلیخا د شا د پلوه څیرلی وه، مګر ظاهره دا ده چې دغه کمیس عادي کمیس وه جنتي نه وه(۲)، کوم چې د یوسف ﷺ د خولو څخه نه وه وینځلی شوی، والله ﷻ اعلم.

## تفنید څه معنی؟

۳_ د ﴿ لَوْلَآ أَن تُفَنِّدُونِ ﴾ په جمله کښې د ﴿ تُفَنِّدُونِ ﴾ کلمه د "تفنید" څخه اشتقاقه شوې ده، چې اصل مصدر یې "فَنَد" _لکه "شَرَف"_ دی، "فَنَد" د فکر هغې کمزورۍ ته ویل کېږي کومه چې د بوډاتوب او د عمر د اوږدوالي د کبله چاته ورپېښه شي(۳). نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې که تاسو ما د بوډاتوب دماغي کمزورۍ ته نه نسبت کوئ نو زما په خبره به باور وکړئ چې په ما باندې د یوسف ﷺ خوږه وږمه ولګېده.

## یادونه

۴_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د همدې سورت د [۸] ایت شریف لاندې د "ضلال" د کلمې په هکله ښه پوره بحث کړی دی، خو په دې مقام کښې ورباندې اضافه کوو چې دلته مونږ ته داسې برېښي چې د "ضلال" د کلمې څخه به هغه معنی مراده وي کومې ته چې د ﴿ لَوْلَآ أَن تُفَنِّدُونِ ﴾ په جمله کښې اشاره شوې ده. یعني د یعقوب ﷺ لمسیانو خپل نیکه ته همغه شی منسوب کړ د کوم څخه یې چې په ذکره شوې جمله کښې منعه کړې وه، نو دوی هغه مخاطب کړ چې: ای بابا! زمونږ دې په الله ﷻ باندې سوګند وي چې د بوډاتوب د کبله ستا په فکر کښې کمزوري ده چې لا د پخوا څخه تاته درپېښه شوې ده او اوس یې دې حالت ته رسولی یې چې د یوسف ﷺ د وږمې د رسېدلو ادعاء کوې، حال دا چې هغه خو لېوه خوړلی دی، هډوکي به یې لا هم خاورې شوي وي.

## بشیر (زیری ورکوونکی) څوک وه؟

۵_ بشیر د یعقوب ﷺ د زامنو څخه مشر زوی وه چې "یهوذا" نومېده، نوموړي د خپلو نورو

(۱) تفسیر الخازن ج۳ ص۴۵۲؛ تفسیر البغوي ج۲ ص۴۴۸
(۲) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۹۹؛ البحر المحیط ج۶ ص۳۲۲؛ المحرر الوجیز ج۹ ص۳۷۱
(۳) تفسیر القاسمي ج۹ ص۲۷۶؛ مفردات الراغب ص۴۰۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورونو څخه وغوښتل چې دغه د خوشالۍ کمیس به هم زه پلار ته ور ورم[۱] لکه څنګه چې د غم کمیس ما وروړی وه، نو ورونو اجازه ورکړه، چې د ملاقات په وخت کښې یې د یعقوب ﷺ سره لاندې سوال جواب وکړ[۲]:

یعقوب ﷺ: «کَیْفَ تَرَکْتَ یُوْسُفَ» یوسف دې په څه حالت کښې پرېښود (هغه څنګه وه)؟.

بشیر: «هُوَ مَلِكُ مِصْرَ» هغه د مصر پاچا وه.

یعقوب ﷺ: «مَا أَفْعَلُ بِالْمَلِكِ عَلٰى أَيِّ دِيْنٍ تَرَكْتَهُ؟» زه یې پاچا څه کوم، په کوم دین باندې وه؟

بشیر: «عَلٰى الإِسْلَامِ» هغه د اسلام په دین باندې وه.

یعقوب ﷺ: «اَلْآنَ تَمَّتِ النِّعْمَةُ» اوس نو نعمت پوره شو (چې هم مسلمان دی او هم پاچا).

او بیا یې ورته دعاء وکړه چې: الله ﷻ دې په تا باندې سکرات الموت اسان کړي، زما په لاس کښې خو نور څه شی نشته چې په زیري کښې یې درکړم.

## ارتداد څه معنی؟

۶ـ د ﴿ فَٱرْتَدَّ بَصِيرًا ﴾ په جمله کښې د "ارْتَدَّ" کلمه د "ارْتِدَاد" څخه اشتقاقه شوې ده، "ارْتِدَاد" دې ته وایي چې څوک پخواني حالت ته بېرته ور وګرځي[۳]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: یعقوب ﷺ د کمیس په ذریعه بېرته بینا شو البته په هغه صورت کښې چې د سترګو نظر یې په بشپړه توګه د منځه تللی وه، او یا یې د سترګو د نظر کمزوري د منځه لاړه په هغه صورت کښې چې نظر یې کمزوری شوی وي او د منځه نه وي تللی.

نو مونږ خکه دواړو صورتونو ته اشاره وکړه چې علماء کرام پکښې اختلاف لري[۴].

یوه پښتون شاعر د یعقوب ﷺ حالت په یوه بیت کښې څومره په ښه توګه منعکس کړی دی[۵] چې:

**چې قاصد د ورک یوسف زیری پرې وکړ :: د یعقوب د سترګو بیا نظر پیدا شو**

## سوال جواب

**۷ـ که څوک وایي چې د ﴿ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ ﴾ په جمله باندې یعقوب ﷺ څوک مخاطب کړ؟**

مونږ وایو چې: په ذکر شوې خطاب کښې علماوو کرامو لاندې دوه صورتونه ښودلي دي[۶]:

الف: د یعقوب ﷺ هغه لمسیان کوم چې د ﴿ لَوْلَآ أَن تُفَنِّدُونِ ﴾ په جمله کښې مخاطب کړی شوي وه او کومو چې ورته د ﴿ تَٱللَّهِ إِنَّكَ لَفِى ضَلَٰلِكَ ٱلْقَدِيمِ ﴾ جمله اورولې وه.

(۱) المحرر الوجیز ج۹ ص۳۷۹
(۲) روح المعاني ج۱۳ ص۵۵؛ تفسیر القرطبي ج۹ ص۲۶۱
(۳) مفردات الراغب ص۱۹۸
(۴) روح المعاني ج۱۳ ص۴۰
(۵) د عبد الرحمن مومند دیوان
(۶) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۹۰؛ تفسیر الکشاف ج۲ ص۵۰۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېږي چې: ايا ما تاسو ته نه وه ويلي چې زه د يوسف ﷺ وړمه حس کوم، که تاسو راباندې گومان نه کوئ چې زه بوډا او کمزوری يم.

نو په دې تقدير د ﴿ إِنِّيٓ أَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ جمله مستانفه جوړېږي او د ﴿ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ ﴾ دپاره مقوله نه شي واقع کېدلی.

ب: هغه نهه زامن کومو چې د بنيامين د غلا خبر ور وړی وه او کومو ته چې يعقوب ﷺ دا جملې اورولي وې چې: ﴿ إِنَّمَآ أَشْكُواْ بَثِّى وَحُزْنِىٓ إِلَى ٱللَّهِ وَأَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾ [يوسف:۸۶] يعني ما تاسو ته دغه جمله نه وه اورولې؟

مونږ ته دا هم څه لرې نه ښکارې چې يعقوب ﷺ به خپلو زامنو او لمسيانو او نورو اقاربو ټولو ته ذکر شوی خطاب متوجه کړی وی، چې څه منافات سره نه لري، والله ﷻ أعلم.

## د يعقوب ﷺ زامن په بهتره ډله کښې شامل شوه

۸ـ د يعقوب ﷺ زامنو په خپله گناه باندې اعتراف وکړ او د ﴿ إِنَّا كُنَّا خَٰطِـِٔينَ ﴾ په جملې سره يې خپل ځانونه خطاکاران وبلل، نو خپل ځانونه يې په بهتره ډله کښې شامل کړه. دا ځکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: «كُلُّ بَنِي آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ»[۱] يعنې بنيادمان هر يو خطاکار دی او د خطاکارانو بهتر توبه کوونکي دي.

## سوال جواب

۹ـ که څوک وايي چې کله د يوسف ﷺ وروڼو د خپل پلار څخه وغوښتل چې مونږ ته ښښنه وغواړه نو هغه ﷺ د ښښنې غوښتل بال کړه چې: ﴿ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّيٓ ﴾ ژر دی چې د خپل رب ﷻ څخه به درته مغفرت وغواړم؛ نو پوښتنه دا ده چې څه وجه ده چې سمدستي يې ورته مغفرت ونه غوښت؟

مونږ وايو چې: مفسرينو کرامو د مغفرت د غوښتلو د وروسته کولو دپاره زښتې ډېرې وجهې ليکلې دي، لاندې څو مثالونه يې ولولئ[۲]:

الف: چې ترڅو د سوالونو د اجابت وخت ورسېږي، لکه د سهار مهال او يا د قيام الليل وخت.

ب: ترڅو د يوسف ﷺ څخه پوښتنه وکړي چې هغوی ته د جنايت څخه ورتېرېږي او که څنگه.

ج: ترڅو ورته د يوسف ﷺ په ملگرتيا سره مغفرت وغواړي. يا په بل عبارت: ترڅو يعقوب ﷺ ورته د الله ﷻ څخه د مغفرت دپاره لاسونه پورته کړي او يوسف ﷺ پرې آمين ووايي.

مگر د ټولو څخه بهتره وجه يې هغه ده کومې ته چې نبي کريم ﷺ په خپل يوه اورډه حديث شريف کښې اشاره کړې ده، هغه دا: «حَتَّى تَأْتِيَ لَيْلَةُ الْجُمُعَةِ»[۳] يعني يعقوب ﷺ خپلو زامنو ته د مغفرت غوښتنه وروسته کړه ترڅو د جمعې شپه راشي.

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۳۱۳
(۲) روح المعاني ج۱۲ ص۵۵؛ زاد المسير ج۴ ص۲۱۴
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۹۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۰_ که څوک وايي چې: نظر ذکرو شوو وجوهو ته په کار وه چې یوسف ﷺ هم د خپل پلار په شان د مغفرت د غوښتلو وعده ورکړې وی او د ﴿ يَغْفِرُ ٱللَّهُ لَكُمْ ﴾ جمله یې نه وی وراورولې چې الله ﷻ به درته مغفرت وکړي؟

مونږ وايو: څرنګه چې د هغوی جنایت په یوسف ﷺ پورې ارتباط درلود او هغه ﷺ په عین وخت کښې د قدرت خاوند هم وه، که بالفرض ذکر شوې جمله یې ورته نه وی اورولې نو دوی به ډېر وارخطا شوي وی او احتمال وه چې فرار یې کړی وی، نو یوسف ﷺ د ذکرې شوې جملې په اورولو سره د یو پلوه هغوی د روحي عذاب (زیاتې وارخطایی) څخه بچ کړه او ډاډ یې ورکړ او د بله پلوه یې د احتمالي فرار (تښتېدلو) مخه ونیوه، والله ﷻ أعلم.

﴿ فَلَمَّا دَخَلُوا۟ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيْهِ أَبَوَيْهِ وَقَالَ ٱدْخُلُوا۟ مِصْرَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ ﴿٩٩﴾ وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى ٱلْعَرْشِ وَخَرُّوا۟ لَهُۥ سُجَّدًا ۖ وَقَالَ يَـٰٓأَبَتِ هَـٰذَا تَأْوِيلُ رُءْيَـٰىَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّى حَقًّا ۖ وَقَدْ أَحْسَنَ بِىٓ إِذْ أَخْرَجَنِى مِنَ ٱلسِّجْنِ وَجَآءَ بِكُم مِّنَ ٱلْبَدْوِ مِنۢ بَعْدِ أَن نَّزَغَ ٱلشَّيْطَـٰنُ بَيْنِى وَبَيْنَ إِخْوَتِىٓ ۚ إِنَّ رَبِّى لَطِيفٌ لِّمَا يَشَآءُ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٠٠﴾ رَبِّ قَدْ ءَاتَيْتَنِى مِنَ ٱلْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِى مِن تَأْوِيلِ ٱلْأَحَادِيثِ ۚ فَاطِرَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَنتَ وَلِىِّۦ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۖ تَوَفَّنِى مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِى بِٱلصَّـٰلِحِينَ ﴿١٠١﴾ ﴾

[۹۹] نو هر کله چې دوی ټول (د یعقوب ﷺ ټبر) په یوسف ﷺ باندې (په استقبالیه مقام کښې) ور داخل شوه نو یوسف ﷺ خپل ځان ته خپل مور او پلار ضمیمه (غاړه په غاړه) کړل او (ورته یې) ووېل چې د مصر ښار ته که د الله ﷻ رضا وي په داسې حال کښې ورننوځئ چې تاسو (د احتمالي خطراتو څخه) په امن کښې یاست.

[۱۰۰] او خپل مور او پلار یې په (خپل) تخت باندې پورته کړل او دوی ټول یوسف ﷺ ته (د تعظیم) سجده کوونکي (په ځمکه باندې) پرېوتل. او یوسف ﷺ (خپل پلار ته) ووېل چې: ای پلاره! دغه (په سجده باندې پرېوتل) زما د خوب تعبیر دی چې پخوا (مې لیدلی) وه، یقیناً زما رب ﷻ زما خوب حق (رښتیا) وګرځاوه، او یقیناً زما رب ﷻ (ډېر) ښانسته (او ښه) نعمت ماته راکړ په کوم وخت کښې یې چې زه د بندیخانې څخه راوویستلم او تاسو یې د بېدیا (میرې) څخه راوستلئ (البته) د هغه څخه وروسته چې زما ترمنځ او زما د ورونو ترمنځ شیطان وسوسه (اختلاف) واچاوه. یقیناً زما رب ﷻ د هغه شي دپاره باریک تدبیر کوونکی دی کوم ته چې اراده وکړي. یقیناً زما رب ﷻ همدی پوه (او) د حکمت څښتن دی.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۰۱] ای زما ربه! بې شکه چې ماته دې د پاچاهۍ څخه هم برخه راکړه، او د خبرو په اړولو باندې دې هم پوه کړم، ای د اسمانونو او ځمکو بې مثله پیدا کوونکیه! همدا ته په دنیا او آخرت کښې زما کارساز (متولي) یې، نو (کله مې چې ته اخلې) د مسلمانۍ په حال کښې مې واخلې (فوت کړې) او (د خپلو) صالحانو (بندګانو) پورې مې پیوسته کړې (د هغوی په ډله کښې مې شامل کړې).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د یوسف ﷺ د قیصې وروستنۍ کړۍ ته اشاره شوې ده. یعنې کله چې یعقوب ﷺ د ټول ټبر سره د مصر په لور روان شو او هلته د اول ځل دپاره د یوسف ﷺ سره ملاقي شو نو لاندې کیفیتونه منځته راغله:

۱ـ نو د ښار څخه دباندې یوسف ﷺ ټولو ته هرکلي ووېلې مګر دخپل مور او پلار سره یې په امتیازي توګه غاړه په غاړه روغبړ وکړ.

۲ـ بیا یې ټول مېلمانه مخاطب کړه چې: د مصر ښار ته ښه په اطمنان سره ننوځئ، تاسو به إن شاء الله ﷻ د هر ډول خطراتو څخه بچ شئ، نه به درته سیاسي خطر متوجه شي او نه اقتصادي.

۳ـ بیا چې کله ښار ته ننوتل او د یوسف ﷺ د کېناستو ځای ته ورسېده نو خپل مور او پلار یې د خپل ځان سره یو ځای په تخت باندې کېنول، تا به ویل چې یوسف ﷺ او مور پلار یې دریواړه پاچاهان دي.

۴ـ بیا یوسف ﷺ ته یوولسو ورونو او هم مور او پلار د تعظیم سجده وکړه او د ده احترام یې په ځای کړ.

۵ـ په دغه وخت کښې یوسف ﷺ په خپل پلار باندې غږ وکړ او ورونو ته یې ور واورولە چې:

الف: ای پلاره! دغه دی زما د هغه خوب تعبیر متحقق شو کوم چې ما په ماشومتوب کښې ډېر پخوا لیدلی وه، یقینًا چې زما خوب د ډېر وخت څخه وروسته زما رب ﷻ په خپل فضل سره ربنتیا کړ او په خارج کښې یې موجودیت ورکړ.

ب: په دې باندې علاوه زما رب ﷻ ماته ډېر نعمتونه راکړي دي، چې د شمېر لاندې نه شي راتلای، مګر دا مثالونه یې واورئ:

اول: زه یې اول د کوهي څخه راپورته کړم او بیا یې د بندیخانې څخه راوویستلم او په تخت باندې یې کېنولم.

دوهم: تاسو یې د بیدیا څخه (چې د خوراک دپاره پکښې غلې دانې نه موندلې کېدلې) د مصر ښار ته روغ رمټ را ورسولئ چې هرڅه پکښې پرېمانه دي.

دریم: کوم شقاق او خلاف چې زما او زما د ورونو په منځکښې شیطان اچولی وه او په منځکښې مو جدایي او بېلتون واقع شوی وه، الله ﷻ هغه د منځه ویست او په اتفاق او اتحاد سره دغه دی په یوه مجلس کښې د مینې او محبت په ناسته ولاړه باندې مشغول یاستو.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج. یقینًا زما رب ﷻ چې د کوم شي د موجودولو اراده وکړي نو په ډېر باریک تدبیر باندې یې ترسره کوي او هیڅ شی ورته خنډ نه شي واقع کېدلی.

د. یقینًا زما رب ﷻ د کاملې پوهې خاوند او د کامل حکمت څښتن دی.

۶ـ کله چې یوسف ﷵ د ذکرو شوو نعمتونو یادونه وکړه نو بو خل یې د الله ﷻ په وړاندې د سوال لاسونه پورته کړه او داسې یې وویلې چې:

الف. ای زما ربه! تا په ما باندې څومره لوی لوی نعمتونه را پېرزو کړي دي، چې پاچاهي دې راکړې ده، د خبرو په نهایي اهدافو باندې دې پوه کړی یم. او هم دې د خوبونو د تعبیرولو علم راپېرزو کړی دی او په سوال جواب کښې دې پوره مهارت راکړی دی.

ب. ای هغه اقدسه ذاته چې د نشت څخه دې اسمانونه او ځمکې پیدا کړي دي او ته په هرڅه باندې قدرت لرې! همدا ته په دنیا او آخرت کښې زما کار ساز او د امورو متولي او متصرف یې.

ج. ای زما ربه! زما سوال دا دی چې تر آخره پورې زما کارسازي وکړې، کله چې مرګ‌مېږم نو د مسلمانۍ په حال کښې مې فوت کړې او د خپلو صالحو بندګانو ډلې ته مې په خپل فضل سره ورپیوسته کړې او په هغوی کښې مې ورشامل کړې، آمین یا رب العالمین.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ فَلَمَّا دَخَلُوا۟ عَلَىٰ يُوسُفَ ءَاوَىٰٓ إِلَيْهِ أَبَوَيْهِ ﴾ په جمله کښې د ﴿ ءَاوَىٰ ﴾ کلمه د "إیواء" څخه اشتقاقه شوې ده. مونږ د الله ﷻ په توفیق د همدې سورت د [۶۹] ایت لاندې لیکلې دي چې "إیواء" خپل خان ته د ضمیمه کولو او غاړه په غاړه کولو معنی ورکوي، نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: یوسف ﷵ خپل پلار او مور (یعقوب ﷵ، راحیل رضي الله عنها) دواړه خپل خان ته غاړه په غاړه کړه.

نو د قرآن کریم د ظاهر څخه څرګندېږي چې د یوسف ﷵ مور (راحیل) تردې وخته پورې ژوندۍ وه[۱]، مګر ځینو علماوو کرامو د تواریخو په استناد لیکلي دي چې نومورې د بنیامین د تولد په وخت کښې وفاته شوې وه، نو یعقوب ﷵ بیا د هغې خور "لیّا" په نکاح اخستې وه[۲].

دوی وایي چې په ﴿ أَبَوَيْهِ ﴾ کښې یعقوب ﷵ او همدغه "لیّا" مراد دي، دا ځکه چې نوموړې "لیّا" د یو پلوه د یوسف ﷵ د مور په ځای ناسته وه او د ده میاره ګرځېدلې وه، او د بل پلوه یې توره کېدله چې توره هم د مور څخه کمه نه ده. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الْخَالَةُ بِمَنْزِلَةِ الأُمِّ»[۳] یعنې توره د مور غوندې ده.

ځینې علماء کرام لا وایي چې په ﴿ أَبَوَيْهِ ﴾ کښې یعقوب ﷵ او د راحیل مور مراد دي چې د

---

(۱) المحرر الوجيز ج۹ ص۳۷۷؛ البحر المحیط ج۶ ص۳۲۶

(۲) روح المعاني ج۱۳ ص۵۷؛ تفسیر البغوي ج۲ ص۲۵۰

(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۶۱۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يوسف ﷺ نيا (جده) كېدله(۱). مګر مونږ ته د تواريخو خبره چندان مزه ناكه نه برېښي، او په ټولو اقوالو كښې راته لومړنى قول په زړه پورې ښكاري.

## سوال جواب

۲_ كه څوك وايي چې د ذكر شوې جملې مفهوم دا دى چې يعقوب ﷺ د ټول ټبر سره مصر ته داخل شو او هلته ورسره د يوسف ﷺ د پلوه روغبړ وكړى شو؛ نو پوښتنه دا ده چې دوهم ځل په څه منظور مخاطب كړى شوه چې: ﴿ ٱدْخُلُواْ مِصْرَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ ﴾ يعنې كه د الله ﷻ رضاء وي مصر ته په داسې حال كښې ننوځئ چې تاسو په امن كښې ياست؟

مونږ وايو چې: د ذكر شوي سوال دپاره مفسرينو كرامو لاندې دوه جوابونه كړي دي:

الف: اولنى ملاقات د مصر ښار په داخل كښې صورت نه وه نيولى بلكې يوسف ﷺ د ښار څخه دباندې د خپل پلار د استقبال دپاره بهر وتلى وه(۲)، نو د روغبړ څخه وروسته يې هغوى مخاطب كړه چې اوس نو كه د الله ﷻ رضا وي د مصر ښار ته ورداخل شئ او په خير سره هلته ورشئ. يا په بل عبارت: په لومړني دخول كښې د مصر مملكت ته ورننوتل مراد دي او په دوهم دخول سره د مصر ښار ته داخلېدل مطلب دي.

ب: د ﴿ ٱدْخُلُواْ مِصْرَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ ﴾ په جمله كښې د ﴿ ٱدْخُلُواْ ﴾ د جملې څخه استقرار او اوسېدانه مطلب ده(۳) نو د معنى حاصل يې داسې راخېژي چې يوسف ﷺ خپل پلار او نور ټبر د روغبړ څخه وروسته مخاطب كړ چې اوس نو په مصر كښې په ښه امن او سوكالۍ سره واوسېږئ، كه د الله ﷻ رضا وي نو تاسو ته هيڅ خطر متوجه نه دى، په خير راغلئ او په خير اوسئ.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ كه څوك وايي چې د ﴿ وَخَرُّواْ لَهُۥ سُجَّدًا ﴾ د جملې متبادره معنى دا ده چې يوسف ﷺ ته خپل پلار او مور او هم خپلو يوولسو تنو ورونو سجدې وكړې او سرونه يې ورته په ځمكه باندې كېښوده، حال دا چې غير الله ته سجده كول خو په يوه شريعت كښې هم جواز نه دى درلودلى؟

مونږ وايو چې: _لله الحمد_ مونږ د [البقرة:۳۴] ايت لاندې په همدې باره كښې ښه اوږد بحث كړى دى چې يو ځل كتل يې بې ګټې نه دي، خو په دې مقام كښې ورباندې اضافه كوو چې د ذكر شوي سوال دپاره علماوو كرامو زښت ډېر جوابونه كړي دي(۴) لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: دلته د سجدې څخه انحناء (كوږوالى) مطلب دى، يعنې هغوى خپل ځانونه د يوسف ﷺ په لور باندې وركاږه كړه او يا يې ورته په خپلو سرونو باندې وراندګورد وكړ.

---

(۱) البحر المحيط ج۶ ص۳۲۶

(۲) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۱۰۱

(۳) المحرر الوجيز ج۹ ص۳۷۷؛ تفسير ابن كثير ج۲ ص۴۹۰

(۴) التفسير الكبير ج۱۸ ص۲۱۲؛ حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۱۰۱؛ تفسير القرطبي ج۹ ص۲۶۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر دا جواب د ﴿ وَخَرُّواْ ﴾ د کلمې سره سمون نه خوري، ځکه چې دغه کلمه د "سَقَطُوْا" په معنی سره ده[۱]، يعنې هغوی ورته په ځمکه باندې ولوېدل.

ب: دلته د شکر سجده مراده ده. يعنې هغوی د يوسف ﷺ سره د ملاقات د کبله خاص الله ﷻ ته په سجده باندې پرېوتل، د شکر سجدې يې وکړې.

مګر دا جواب هم خوندور نه دی ځکه چې د ﴿ هَٰذَا تَأْوِيلُ رُءْيَٰيَ ﴾ سره ښه پيوند نه نيسي، او دا ځکه چې يوسف ﷺ خو په ماشومتوب کښې يوولس ستوري او لمر او سپوږمۍ داسې په خوب نه وه ليدلي چې هغوی د شکر سجدې وکړې.

ج: نو ډېر ښه جواب دا دی چې: ذکره شوې سجده د عبادت سجده نه وه بلکې د تعظيم سجده وه چې په هغه وخت کښې دغه ډول تعظيم جواز درلود.

نو شايد چې د الله ﷻ په امر باندې به يې د داسې حکمتونو په بنياد صورت نيولی وي کوم چې مونږ ته پکښې معلومات نشته.

## انفرادي سجده او انحناء

۴ـ په دې مقام کښې لازمه ګڼو چې محترمو لوستونکو ته د سجدو په ارتباط څو فقهي احکام وړاندې کړو، او مونږ د انفرادي سجدې څخه هغه سجده مراده وو کومه چې پرته د لمانځه څخه صورت ونيسي، نو:

الف: د سهوې سجدې دواړه واجبې دي، او د لمانځه دپاره تمامونکې ګڼلی کېږي.

ب: د تلاوت سجدې هم واجبې دي، چې پوره بحث يې د [الأعراف:۲۰۶] ايت لاندې تېر شوی، والحمد لله ﷻ.

ج: انحناء (د روغبړ يا ملاقات په وخت کښې خپله ملا کړوپول يا خپل سر ښکته کول) زمونږ په شريعت کښې جواز نه لري؛ د يوه اوږده حديث مضمون دی چې يوه ورځې د نبي کريم ﷺ څخه يوه سړي پوښتنه وکړه چې: «يَا رَسُولَ اللهِ! الرَّجُلُ مِنَّا يَلْقَى أَخَاهُ أَوْ صَدِيقَهُ أَيَنْحَنِي لَهُ»[۲] يعنې ای پيغمبره! زمونږ کوم يو سړی چې د خپل ورور يا خپل دوست سره ملاقي شي ايا هغه ته انحناء وکړي؟ نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې نه (انحناء دې نه کوي).

د: د مناجات سجده د اکثرو علماوو کرامو په نزد مکروهه ده، نو چا ته په کار نه دي چې د سوال کولو دپاره يا د ثواب ګټلو دپاره انفرادي سجده وکړي بلکې که سجده کوي نو اقلاً د دوه رکعته لمانځه په ضمن کښې دې اداء کړي. يا په بل عبارت: صلاة الحاجة دې وکړي.

هـ: د شکر سجده د الشافعي رحمه الله په نزد سنت ده، چې سړی د يو غټ مصيبت څخه خلاص يا بچ شي او يا د يوه نعمت په موندلو باندې خبر شي او يا پرې بريالی شي نو يوه انفرادي سجده دې

(۱) مفردات الراغب ص۱۴۵
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۰۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وکړي. او دا څکه چې: «أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا أَتَاهُ أَمْرٌ يَسُرُّهُ أَوْ يُسَرُّ بِهِ خَرَّ سَاجِدًا شُكْرًا لِلَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى»[۱] یعنې نبي کریم ﷺ وه چې کله به ورته یو کار (یو خبر) ورغی چې دی به یې خوشاله کړ او یا به پرې خوشاله کړی شو نو الله ﷻ ته به د شکرانې دپاره په څمکه باندې په سجده پرېووت.

همدارنګه کعب بن مالک ؓ وايي: چې کله زما توبه د هغې ګناه څخه قبوله شوه او زه پرې خبر شوم د کومې چې زه د تبوک د غزا څخه په پاتې کېدلو کښې مرتکب شوی وم، نو: «فَخَرَرْتُ سَاجِدًا»[۲] خپل رب ﷻ ته د شکرانې په توګه په سجده پرېوتلم.

که څه هم د ابو حنیفه علیه الرحمة خاص شاګردان (محمد، یوسف علیهما الرحمة) ذکر شوی نظر تائیدوي او د شکر په سجده باندې د سنتیت قول کوي[۳] مګر پخپله ابو حنیفه علیه الرحمة ورته مکروه وايي. دی وايي چې په ذکر شوي حدیث کښې د «خَرَّ سَاجِدًا شُكْرًا لِلَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى» څخه د لمانځه سجده مطلب ده، لکه چې عبد الله بن ابي اوفی ؓ وايي: «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ صَلَّى يَوْمَ بُشِّرَ بِرَأْسِ أَبِي جَهْلٍ رَكْعَتَيْنِ»[۴] یعنې د الله ﷻ پیغمبر هغه وخت دوه رکعته لمونځ وکړ کله چې ورته د ابو جهل په سر باندې زیری ورکړی شو چې پرې شوی دی.

و: اما د تعظیم سجده خو په محمدي ﷺ شریعت کښې جائزه نه ده. څکه چې معاذ بن جبل ؓ وايي چې: زه د حیره نومې وطن ته تللی وم، هلته مې ولیده چې خلکو خپل مشر ته سجدې کولې، نو په خپل زړه کښې مې د څانه سره وویلې چې نبي کریم ﷺ خو ډېر بهتر دی چې مونږ ورته سجدې وکړو، یعنې نبي کریم ﷺ د هر چا څخه د سجدې کولو دپاره زیات لیاقت لري نو کله چې زه بېرته مدینې منورې ته راستون شوم، همدغه خبره مې نبي کریم ﷺ ته وړاندې کړه چې مونږ تاته د تعظیم سجدې وکړو، نو هغه (ﷺ) راته وویلې چې: که بله ورځ ته زما په قبر باندې تېرېږې نو ته به زما قبره ته سجده کوې؟ ما عرض وکړ چې: نه. نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «فَلَا تَفْعَلُوا»[۵] یعنې تاسو ماته سجده مه کوئ په ما باندې مرګ راتلونکی دی، سجده کول د هغه اقدس ذات دپاره په کار دي چې ابدي او ازلي دی.

## یادونه

۵ـ د انفرادي سجدې په هکله که څوک اوږد تحقیقي بحث لوستل غواړي څینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۶].

---

(۱) سنن ابن ماجه ص ۱۰۰

(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۳۶

(۳) مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ج۳ ص۶۰۱

(۴) سنن ابن ماجه ص۹۹

(۵) سنن ابي داوٗد ج۱ ص۲۹۱

(۶) اشعة اللمعات ج۱ ص۶۶۲؛ حواشي سنن ابن ماجه ص ۱۰۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## څومره کلونه وروسته خوب ربښتيا شو؟

۶ـ په دې خبره کښې، چې د يوسف ﷺ خوب څو کاله وروسته تحقق وموند؟، علماوو کرامو زښت ډېر اقوال کړي دي چې تقريباً لسو ته رسېږي[۱]. نو څرنګه چې په دې باره کښې د نبي کريم ﷺ څخه کوم حقيقي يا حکمي مرفوع حديث نشته نو سړی په يوه عدد باندې هم يقين نه شي کولی او نه ورته ضرورت شته دی، خو يوسف ﷺ ته د وړپېښو شوو حالاتو په نظر کښې نيولو سره د اکثرو علماوو قول دا دی[۲] چې د څلوېښتو (۴۰) کلونو څخه وروسته به خوب نهايي هدف ته رسېدلی وي او خارجي موجوديت به يې موندلی وي، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال.

## د "الْبَدْوِ" څه معنی؟

۷ـ د ﴿ وَجَآءَ بِكُم مِّنَ ٱلْبَدْوِ ﴾ په جمله کښې د ﴿ ٱلْبَدْوِ ﴾ کلمه د "بَدی، يَبْدُوْ" دپاره مصدر ده، او مونږ د الله ﷻ په توفيق د همدې سورت د [۳۵] ايت په نهمه توضيح کښې ليکلي دي چې د "بَدْوًا" مصدر د څرګندېدلو او برښېدلو معنی ورکوي.
خو په دې مقام کښې د ﴿ ٱلْبَدْوِ ﴾ څخه "الْبَادِيَة" (بيديا او ميره) مطلب ده، چې د لوړو مانيو او کلاګانو څخه برېنده او لوڅه وي. دا ځکه چې يعقوب ﷺ مېږې او اوښان درلوده، چې په اکثره وختونو کښې به د فلسطين (کنعان) په ميرو کښې د يوه ځړځای څخه بل ځړځای ته انتقالېده[۳] نو د مصر طرف ته د دوی حرکت د ميرې او بيديا څخه صورت ونيوه.
ځينې علماء کرام وايي[۴] چې د يعقوب ﷺ د کلي "الْبَدْوَ" نوم وه چې د کنعان د مربوطاتو څخه وه.

## دا د مرګ آرزو نه ده

۸ـ عجيبه ده چې ځينو مفسرينو کرامو د دې جملې ﴿ تَوَفَّنِى مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِى بِٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ څخه داسې معنی اخستې ده[۵] چې کله يوسف ﷺ د خپل پلار او ټول ټبر سره ملاقي شو او پرديسي يې ختمه شوه او هم د يعقوب ﷺ د غمونو سلسله پرې شوه نو يوسف ﷺ د الله ﷻ څخه د مرګ آرزو وکړه. ته به وايې چې دا خل يې وغوښتل چې خپل پلار د مرګ په جدايي باندې د غمونو سره مخامخ کړي.
ډېره عجيبه لا دا ده چې ځينې وايي چې د ذکرې شوې آرزو څخه فقط يوه اونۍ وروسته يوسف ﷺ وفات شو[۶] او په يعقوب ﷺ باندې د غمونو يو بل پړاو پيل شو.

---

(۱) زاد المسير ج۴ ص۲۱۱۷؛ تفسير القرطبي ج۹ ص۲۶۴
(۲) روح المعاني ج۱۳ ص۶۱
(۳) البحر المحيط ج۲ ص۳۲۸؛ تفسير ابن كثير ج۲ ص۴۹۱؛ تفسير الطبري ج۱۳ ص۷۲
(۴) تفسير القرطبي ج۹ ص۲۶۷
(۵) التفسير الكبير ج۱۸ ص۲۱۹
(۶) تفسير الخازن ج۳ ص۴۵۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زمونږ په نزد په ذکره شوي جمله کښې لاندې تفسیرونه غوره بریښي:

الف: په ذکره شوې جمله کښې سمدستي د وفات ارزو نشته بلکې مطلب یې دا دی چې: ای زما ربه! لکه څنګه چې تا په دنیا کښې زما مشکلات حل کړه او د خپل پلار سره دې ملاقات راپیرزو کړ، چې د صالحینو څخه دی، همدارنګه راباندې په آخرت کښې هم مهرباني وکړه چې کله مې په مرګ باندې اخلې نو د مسلمانۍ په حالت کښې مې واخله او هلته مې د صالحینو او پیغمبرانو سره ملاقي کړه او د هغوی انډیوالي راپیرزو کړه.

ب: که بالفرض یوسف ﷺ په ذکرې شوې جملې سره د سمدستي مرګ آرزو کړې وی نو دغه ایت به د ملاقات د حالت حکایت نه وی، د ملاقات حالت به په [۱۰۰] ایت باندې تمام شوي وی، دا به د هغه وخت حکایت وي په کوم کښې چې یوسف ﷺ د ځنکدن په حالت کښې وه، نو د یوسف ﷺ د مبارکې خولې څخه به د ذکرې شوې جملې حکایت هغې جملې ته ورته وی کومه چې نبي کریم ﷺ د ځنکدن په حال کښې په مبارکه خوله باندې ویلې وه چې: «اللّٰهُمَّ الرَّفِيقَ الأَعْلَى»[۱] یعنې ای الله! زه د لوړو ملګرو (پیغمبرانو علیهم السلام) انډیوالي غوارم.

## د یوسف ﷺ د قیصې په باب څه معلومات

۹ـ د یوسف ﷺ د قیصې په پای کښې مونږ غواړو چې محترمو لوستونکو ته لاندې معلومات ورکړو:

الف: ذکره شوې قیصه ځینو مفسرینو کرامو په ډېر بسط او اوږدوالي سره لیکلې ده[۲] او ډېرو عجائبو او غرائبو ته یې پکښې اشارې کړې دي، که څوک پرې اطمنان پیدا کولی شي او زړه یې ورته نه په تنګېږي نو هلته دې مراجعه وکړي.

ب: د ملاقات په وخت کښې یعقوب ﷺ او یوسف ﷺ دواړه په ژړا شوه.

شاید چې د خوشالۍ د کبله دواړه په ژړا شوي وي، څکه چې ژړا په لاندې څلور ډوله صورت نیسي[۳]:

اول: د یوه شي څخه د ډار د کبله، لکه چې متعارفه ده.

دوهم: د درد یا غم د امله، چې دا هم تولو خلکو ته معلومه ده.

دریم: د خوشالۍ د وجې، لکه چې ذکرو شوو دواړو پیغمبرانو ژړلي وه.

څلورم: د ریاکارۍ او د تظاهر ژړا، لکه چې یعقوب ﷺ ته خپلو زامنو د اعتذار په وخت کښې ژړلي وه.

ج: د ملاقات په وخت کښې یوسف ﷺ خپل پلار مخاطب کړ چې: ای پلاره! ته به پوهېدې چې

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۲۷۷
(۲) تفسیر القاسمي ج۹ ص۲۸۳؛ تفسیر القرطبي ج۹ ص۲۶۷؛ روح المعاني ج۱۳ ص۶۳
(۳) تفسیر القرطبي ج۹ ص۲۶۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د قيامت په وخت به سره ملاقي شوي وی او جدايي به ختمه شوې وی، نو ستا د ډېرې ژړا څه وجه وه حتی چې سترګې دې پرې متضررې شوې؟

يعقوب ﷺ جواب ورکړ چې: "أَيْ بُنَيَّ خَشِيتُ أَنْ تُسْلَبَ دِينُكَ فَلَا نَجْتَمِعُ"[۱] يعنې ای زویه! زه داربدلم چې ستا څخه به دين سلب کړی شي (او ته به کافر شې) نو د قيامت په ورځ به دې هم د ملاقات څخه محروم شم.

## د يعقوب ﷺ د فاميل شمېر چې مصرته ورغلی وه

د: مفسرينو کرامو متعدد اقوال ليکلي دي چې د يعقوب ﷺ د ټول فاميل شمېر څو تنو ته رسېده، البته کله چې د کنعان څخه مصر ته داخل شوه، خو په ټولو اقوالو کښې د سلو تنو څخه کم بنودلی شوی دی. لکه دوه اويا، نوي، دري نوي، شپږ نوي او داسې نور[۲].

مګر کله چې دوی د موسی ﷺ په زمانه کښې د مصر څخه د سينا ټاپو ته ورپورېوتل نو شمېر يې د شپږو لکو تنو څخه زيات وه، دوی په مصر کښې څلور سوه کاله اوسېدلي وه، چې د يوسف ﷺ په سلسله ورداخل شوه او د موسی ﷺ په سلسله ترې خارج شوه[۳].

## يعقوب ﷺ څومره عمر درلود؟

ه: د يعقوب ﷺ عمر په يقيني توګه معلوم نه دی مګر ځيني علماء کرام وايي چې کله يعقوب ﷺ مصر ته داخل شو نو عمر يې يو سل درويشتو کلونو (۱۲۳) ته ورسېد، په دې باندې علاوه څليرشت (۲۴) کلونه نور هم په مصر کښې حيات وه، نو په يو سلو اوه څلوېښت (۱۴۷) کلنی عمر باندې وفات شوی دی، چې د همده (ﷺ) د وصيت په بنياد يې لاش د مصر څخه شام ته انتقال شو او هلته د خپل پلار (اسحق ﷺ) ترڅنګ خاورو ته وسپارل شو[۴]، إنا لله وإنا إليه راجعون.

## د يوسف ﷺ عمر څومره وه؟

و: د يوسف ﷺ په عمر کښې هم يقيني معلومات نشته. مفسرينو کرامو پکښې زښت ډېر قولونه کړي دي، يو قول پکښې دا دی چې يوسف ﷺ د خپل پلار د وفات څخه وروسته هم شپېته کاله ژوندی وه او بيا د سلو (۱۰۰) کلونو عمر په شاوخوا کښې وفات شو، إنا لله وإنا إليه راجعون.

اما د ده د مدفن په هکله غټ اختلاف راپورته شو، د هرې محلې خلکو غوښتنه کوله چې زمونږ په محله کښې دې خاورو ته وسپارلی شي. دا اختلاف دومره غټ شو چې د قتل او ژوبلې دار پيدا

---

(۱) زاد المسير ج۴ ص۲۱۵؛ الدر المنثور ج۴ ص۵۹۰

(۲) تفسير القرطبي ج۹ ص۲۶۸؛ زاد المسير ج۴ ص۲۱۶

(۳) تفسير الطبري ج۱۳ ص۷۲؛ روح المعاني ج۱۳ ص۵۳

(۴) تفسير القرطبي ج۹ ص ۲۶۸؛ المحرر الوجيز ج۹ ص۳۸۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شو، نو د همدې کبله ټول مصریان متفق شوه چې د مرمرو په تابوت کښې د نیل د رود په داخل کښې دفن کړی شي ترڅو د ده د فیوضاتو څخه ټول مصر مستفید شي، چې د نیل په اوبو باندې ټول مصر خړوبېږي.

نو همدغه نقشه عملي شوه او اختلاف ته خاتمه ورکړی شوه، مګر یوسف ﷺ وصیت کړی وه چې کله بني اسرائیل د مصر څخه ووځي نو زما کالبوت دې هم د شام خاورې ته انتقال کړي. په همدې اساس څلور سوه (۴۰۰) کاله وروسته موسی ﷺ د یوسف ﷺ لاش د مرمرو د تابوت څخه د لرګي په تابوت کښې د مصر د خاورې څخه انتقال او د شام په خاوره کښې یې خاورو ته وسپاره[۱].

﴿ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ ۖ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ أَجْمَعُوٓا۟ أَمْرَهُمْ وَهُمْ يَمْكُرُونَ ﴿١٠٢﴾
وَمَآ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ وَمَا تَسْـَٔلُهُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا
ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾ وَكَأَيِّن مِّنْ ءَايَةٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا
مُعْرِضُونَ ﴿١٠٥﴾ وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِٱللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ ﴿١٠٦﴾ أَفَأَمِنُوٓا۟ أَن تَأْتِيَهُمْ
غَٰشِيَةٌ مِّنْ عَذَابِ ٱللَّهِ أَوْ تَأْتِيَهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١٠٧﴾ قُلْ هَٰذِهِۦ سَبِيلِىٓ
أَدْعُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ ۚ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا۠ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِى ۖ وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٨﴾﴾

[۱۰۲] دغه (د یوسف ﷺ او د ده د ورونو قیصه) د غیبي خبرونو څخه ده چې مونږ یې تاته وحي کوو، او (دا څکه چې) ته خو د دوی سره (ناست) نه وې کله چې دوی خپل کار راغونډ کړ (پریکړه یې وکړه) حال دا چې دوی پټ تدبیر کوونکي وه (نو ته د دغه راز څخه چا خبر کړې؟).

[۱۰۳] او (ای پیغمبره!) اکثره خلک (اعتمادي) ایمان راوړونکي نه دي که څه هم ته (د دوی په ایمان باندې) حرص کوې (او زړه دې غواړي).

[۱۰۴] او ته (خو) د دوی څخه په وحي (قرآن کریم) باندې څه اجرت نه غواړې، نه دی دا (قرآن کریم) مګر د ټولو عالمونو دپاره پند (او نصیحت) دی.

[۱۰۵] او په اسمانونو او ځمکو کښې (د الله ﷻ په وحدانیت باندې، برسېره پر قرآني دلایلو څومره ډېر (تکویني) دلایل شته چې دوی پرې په داسې حال کښې تېرېږي چې دوی ترې اعراض کوونکي دي (عبرت ترې نه اخلي).

[۱۰۶] او (ای پیغمبره!) اکثره خلک (په خپل ګومان) په الله ﷻ باندې ایمان نه راوړي مګر په داسې حال کښې چې دوی (ورسره په عبادت کښې) شریک دروونکي دي.

---

[۱] تفسیر البغوي ج۲ ص۴۵۱؛ تفسیر الکشاف ج۲ ص۵۰۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۰۷] ایا نو دوی (د دې څخه) په امن کېنې دي چې دوی ته پټوونکې (احاطه کوونکې) مصیبت ورشي چې د الله ﷻ د عذاب څخه عبارت دی؟ او یا (دوی د دې څخه په امن کېنې دي چې) دوی ته ناڅاپه قیامت (د قیام وخت) ورشي (ورورسېږي) حال دا چې دوی پرې شعور هم نه لري (او هیڅ تیاري یې ورته نه وي نیولې)؟.

[۱۰۸] (ای پیغمبره! خلکو ته) ووایه چې: دغه ده زما لاره (د دې څخه اووښتونکی نه یم) زه الله ﷻ ته بلل کوم (د همدې دپاره را استولی شوی یم. په دغه دریغ کېنې) زه هم په څرګند حجت باندې یم او هغه څوک هم (په څرګند حجت باندې دی) چې زما پیروي کوي. او الله ﷻ لره (د شرکیاتو څخه) پاکي ده او زه د مشرکانو څخه نه یم (او نه زما پیروان د مشرکانو څخه دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کېنې د یوسف ﷺ د قیصې د بیان هدف ته اشاره شوې ده، کومه چې په وړاندېنیو ایتونو باندې ختمه شوې ده، نو حاصل یې داسې راځېږي:

۱ــ ای پیغمبره! مونږ تاته د یوسف ﷺ قیصه وحې کړه ترڅو د دې قیصې بیان ستا دپاره یوه معجزه جوړه شي او د دین منکران درباندې ایمان راوړي. او دا څکه چې:

الف: که بالفرض ته په حقه پیغمبر نه وی نو د ذکرې شوې قیصې یوه وړه کړی به دې هم نه وی بیانه کړې لکه چې د نبوت څخه وړاندې دې دا کار نه شو کولی.

ب: که بالفرض ذکره شوې قیصه تاته مونږ د غیبو څخه نه وی وحې کړې نو ته څه خبر وې چې د یوسف ﷺ ورونو خپل پلان په څه ډول سره وسنجاوه؟ ایا ته د هغوی سره په پرېکړه کېنې ناست وې کله چې هغوی د جر او بحث څخه وروسته خبره غوټه کړه او په کوهي کېنې یې د خپل ورور د اچولو په پرېکړې سره اتفاق وکړ؟.

ج: د هغوی ذکر شوی تدبیر خو په دومره دقت سره صورت نیولی وه چې د خپل وخت (خپلې زمانې) خلک هم ترې خبر نه وه، نو ته به ترې څنګه خبر شوی وې؟

د: ای پیغمبره! تا خو نه لیک لوست کړی دی، نه دې د اهل الکتابو سره تماس نیولی دی او بالآخره نه ستا په قوم کېنې د ذکرې شوې قیصې معلومات چاته شته دې؛ نو که زمونږ وحې نه وی نو تاته چا معلومات درکړه او د قیصې په جزئیاتو باندې ته چا پوه کړې چې هو بهو یې خلکو ته بیانوې؟.

۲ــ ای پیغمبره! ستا خو زړه غواړې چې په ذکره شوې معجزه باندې خلک د تاثیر لاندې واقع شي او ایمان درباندې راوړي، خو خبره داسې نه ده؛ اکثره خلک ایمان نه راوړي که څه هم ته د هغوی په ایمان راوړلو باندې ډېر حرصناک یې او ډېره دې ورته تادي ده.

۳ــ ای پیغمبره! که بالفرض المحال ته په حقه پیغمبر نه وی او د غیبو معلومات دې نه درلودی نو تا به ضرور د خپلو معلوماتو په بیان باندې څه اجرت غوښتی وی.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته خو د خلکو څخه څه اجرت نه غواړې او دا څکه چې ستا غیبي معلومات بل شی نه دی مگر د رب العالمین د پلوه نصیحت او د خیر غوښتنه ده، چې په دوی باندې یې ته په وړیا توګه قرائت کوې. که تا د دوی څخه څه اجرت غوښتلې نو د دوی بهانه به جوړه شوې وی چې مونږ نصیحت نه منو څکه چې په مونږ باندې د اجرت ورکړه درنه تمامیږي.

۴_ ای پیغمبره! اکثره خلک لکه څنګه چې په قرآني معجزاتو باندې ایمان نه راوړي همدارنګه دوی تکویني معجزاتو ته هم غاړې نه ږدي، که نه نو په اسمانو او ځمکو کښې څومره ډېرې معجزې دي چې دوی یې په سترګو باندې ګوري او د غفلت په حال کښې پرې تېرېږي. خپل مخونه ترې اړوي او په خپلې کفرې عقیده باندې کلک پاتې کېږي. که دوی معجزاتو ته لږ څه په دقت سره کتلي وی نو همدغو تکویني معجزاتو کفایت کاوه چې ایمان یې راوړی وی.

۵_ ای پیغمبره! د دې کبله (چې اکثره خلک نه قرآني معجزاتو ته د عبرت په نظر ګوري او نه د تکویني معجزاتو څخه عبرتي درس اخلي) دوی په الله ﷻ باندې د توحید عقیده نه کوي بلکې د دوی عقیده دا ده چې د الله ﷻ سره په عبادت کښې بوتان اشتراک لري او هغوی ورسره پکښې برخوال دي.

ای پیغمبره! ته خو دوی ته د همدې دپاره ور استولی شوی یې او مختلفې معجزې د دې دپاره درکړی شوې دي چې اکثره خلک تا په نبوت سره وپېژني او د بوت پرستی څخه اجتناب وکړي او د توحید په عقیده باندې کلک شي.

۶_ ای پیغمبره! څرنګه چې هغوی ستا رسالت ته غاړه نه ږدي نو دوی په څه باندې ډاډه دي او دوی ته څه شي اطمنان ورکړی دی چې دا آفتونه به په دوی باندې نه ورنازلېږي:

الف: چې یا د الله ﷻ د پلوه په دوی باندې یو لوی عذاب ورنازل شي چې دوی د هر طرف څخه احاطه کړي او د بېرستنې په شان ترې راچاپېر شي.

ب: یا د قیامت ورځ قائمه شي او ناڅاپه دوی د مرګ سره په داسې حال کښې مخامخ شي چې د دوی ورته هیڅ توجه نه وي او هیڅ تیاری یې ورته نه وي نیولی.

لنډه دا چې که د څه حکمتونو په بنیاد دوی د دنیاوي عذاب څخه بچ شي نو اخروي عذابونه خو یقیني ورته مخې ته ورتلونکي دي چې د خنکدن د حال څخه شروع کېږي.

۷_ بالآخره، ای پیغمبره! یو ځل بیا ټولو خلکو ته خپل دریځ په ډاګه باندې اعلان کړه او په صراحت سره ورته ووایه چې:

الف: زما دیني تګلاره دغه ده چې پرته د اجرت څخه تاسو ته د رب العالمین هدایات در رسوم او معجزات درته څرګندوم.

ب: برسېره په دې زه الله ﷻ ته دعوت کوم او خلک یې توحید ته وربولم، نه د چا د غابښ چیچې څخه ډارېږم او نه مې ترې څوک منعه کولی شي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په کومه لاره باندې چې زه روان یم په هغې باندې زما سر بنه خلاص دی، څه شک او شبهه پکښې نه لرم او په دلایلو سره راته ثابته ده. همدارنګه زما پیروان هم زما په ټګلاره باندې د زړه د کومې عقیده لري او هیڅوک نه شي کولی چې همدغې راسخې عقیدې ته يې په تشکیک سره بدلون ورکړي. او بالآخره ـ لله الحمد ـ دیني پیروان مې مخ په زیاتېدلو روان دي.

د: نه دې مشرکان ماته تمه کوي او نه زما پیروانو ته چې د توحید عقیده به پرېږدو او د بوت پرستۍ شرکي عقیدې ته به ور واوړو. څکه چې الله ﷻ ته د دغسې واهیاتو څخه پاکي ده، زه او زما پیروان د همېشه دپاره د الله ﷻ پاکي او تنزیه بیانوو او مونږ د مشرکانو څخه نه یاستو او نه به دغې باطلې عقیدې ته ور واوړو.

## توضیحات

۱ـ د دې سورت په سریزه کښې مونږ د دې سورت د شان نزول په هکله لیکلي دي چې دا سورت د مشرکانو په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د غوښتنې د کبله نازل شوی وه. خو د سورت په وروستنیو برخو کښې الله ﷻ نبي کریم ﷺ مخاطب کړ چې: ﴿ وَمَآ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ وَلَوۡ حَرَصۡتَ بِمُؤۡمِنِينَ ﴾ یعنې ای پیغمبره! مونږ څکه د یوسف ﷺ قیصه په مفصله توګه په تاباندې درنازله کړه چې همدا ستا زړه غوښتله، ستا تمه وه چې کفار به د ذکرې شوې قیصې په اورېدلو سره په ایمان باندې مشرف شي او ستا سترګې به پرې یخې شي. دا دی مونږ ستا د زړه آرزو پوره کړه مګر کفار هماغسې په خپلو کفریاتو باندې کلک دي، مونږ ته لا د پخوا څخه څرګنده وه چې دوی ایمان نه راوړي او د قیصې د اورېدلو څخه څه ګټه نه شي پورته کولی، خو مونږ صرف ستا د زړه آرزو پوره کړه، که دا خبره نه وی نو اسمانونه او ځمکې ټولې د توحید په دلایلو او معجزاتو باندې ډکې دي خو مشرکان پرې صرف د څارویو غوندې تېرېږي او معنوي استفاده ترې نه شي کولی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د ﴿ وَمَا يُؤۡمِنُ أَكۡثَرُهُم بِٱللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشۡرِكُونَ ﴾ په جمله کښې د ﴿ مُّشۡرِكُونَ ﴾ د کلمې څخه کوم خلک مطلب دي؟.

مونږ وایو چې: د ذکرې شوې پوښتنې د جوابولو دپاره لازمه ګڼو چې د شرک په هکله محترمو لوستونکو ته څه معلومات (د مقدمې په توګه) وړاندې کړو او بیا اصل جواب ته مراجعه وکړو. مقدمه دا ده چې د ﴿ مُّشۡرِكُونَ ﴾ کلمه اصلاً د شرک څخه اشتقاقه شوې ده او شرک لاندې دوه ډولونه لري:

الف: جلي (ښکاره) شرک یا عظیم (لوی) شرک. دا د هغه شرک نوم دی په کوم باندې چې سړی د اسلامي ملت څخه کفر ته ووځي ـ العیاذ بالله ـ، دا شرک د مغفرت قابل نه دی[1]، الله ﷻ فرمایي

(۱) تفسیر القاسمي ج۹ ص۲۸۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ﴾ [النساء:۱۱۶] يعني يقيناً الله ﷻ دا نه بښي چې (په عبادت کښې) ورسره شريک ودرولی شي، او د دغه (شرک) څخه لاندې (نـکـته ګـناهونه) بښي خو چاته يې چې اراده وشي.

مشرکان کفار په همدغه ډول شرک باندې اخته دي او اخته وه، پيغمبرانو عليهم السلام همدوی توحيد ته دعوت کړی دی چې د شرک او بوت پرستی څخه تېر شئ او الله ﷻ واحد او لا شريک وګڼئ.

ب: خفي (پټ) شرک يا اصغر (وړوکی) شرک. دا د هغه شرک نوم دی کوم چې په عقيدې پورې تعلق نه نيسي بلکې په اقوالو او اعمالو کښې تحقق مومي. د دغه ډول شرک حکم دا دی چې د سړي په شکرګذارۍ او اخلاص کښې نقصان واقع کوي چې ثواب او اجر يا بالکل د منځه وړي او يا پکښې کمبود پېښېږي[۱].

د دې ډول شرک لاندې څو مثالونه د احاديثو په رڼا کښې ولولئ:

اول: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللهِ فَقَدْ أَشْرَكَ»[۲] هرڅوک چې په غير الله باندې سوګند ياد کړي نو يقيناً هغه (د الله ﷻ سره په خپل قول کښې) شريک ودراوه.

دوهم: يوه ورځې نبي کريم ﷺ د عمر رضي الله عنه د خولې څخه واورېدل چې: «وَأَبِي وَأَبِي» زما دې په خپل پلار سوګند وي، زما دې په خپل پلار سوګند وي، نو نبي کريم ﷺ ورته وويلې چې: «أَلَا إِنَّ اللهَ يَنْهَاكُمْ أَنْ تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ»[۳] خبردار! يقيناً الله ﷻ تاسو منعه کوي چې په خپلو پلرونو باندې سوګندونه وکړئ.

دريم: يوه ورځې يوه يهودي نبي کريم ﷺ مخاطب کړ چې: تاسو خو د الله ﷻ سره شريک دروئ، ځکه چې تاسو واياست: "مَا شَاءَ اللهُ وَشِئْتَ" يعني که د الله ﷻ خوښه وي او ستا خوښه وي (نو دا کار به وشي)، او هم واياست چې: "وَالْكَعْبَةِ" يعني زما دې په کعبه باندې سوګند وي (تاسو په غير الله باندې سوګند کوئ).

نو نبي کريم ﷺ خپلو صحابه وو کرامو رضي الله عنهم ته امر وکړ چې: د "وَالْكَعْبَةِ" سره د "رَبّ" کلمه اضافه کړئ او «وَرَبِّ الْكَعْبَةِ» ووايئ، يعني زما دې د کعبې په رب ﷻ باندې سوګند وي، او په وړاندېنۍ جمله کښې د "وَ" په عوض "ثُمَّ" استعمال کړئ چې: «مَا شَاءَ اللهُ ثُمَّ شِئْتَ»[۴] يعني دا کار به وشي که د الله ﷻ اراده وي او بيا ستا اراده وي، نو د بنده اراده د الله ﷻ د ارادې سره په "وَ" باندې مه عطفوئ ځکه چې "وَ" د اشتراک او جمعې دپاره دی.

څلورم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ صَلَّى يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ وَمَنْ صَامَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ وَمَنْ

(۱) تفسير المنار ج۹ ص ۵۱۹
(۲) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۱۰۷
(۳) جامع الترمذي ج۱ ص ۲۸۰
(۴) سنن النسائي ج۲ ص۱۴۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تُصَدِّقَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ»[۱] یعنې هرڅوک چې د ریاکارۍ په حال کښې لمونځ کوي هغه (اصغر) شرک وکړ او هرڅوک چې روژه د ریاکارۍ په حال کښې نیسي هغه شرک وکړ او (بالآخره) هرڅوک چې خیرات د ریاکارۍ په حال کښې ورکوي هغه شرک وکړ.

پنځم: ابو سعید الخدري ﷺ وایي چې یوه ورځې مونږ د دجال په هکله خبرې کولې چې نبي کریم ﷺ رابانديې راووت نو راته ویې وفرمایل چې: ایا زه تاسو ته په هغه شي باندې خبر درنه کړم کوم چې زما په نزد د دجال څخه ډېر خطرناک دی؟ مونږ عرض وکړ چې ولې نه (مونږ پرې خبر کړه). نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «الشِّرْكُ الْخَفِيُّ أَنْ يَقُومَ الرَّجُلُ يُصَلِّي فَيُزَيِّنُ صَلَاتَهُ لِمَا يَرَى مِنْ نَظَرِ رَجُلٍ»[۲] (هغه شی) خفي (پټ) شرک دی چې یو سړی پورته شي چې لمونځ وکړي نو خپل لمونځ په ډېر ښائسته ډول سره وکړي (خو د الله ﷻ د رضامندۍ د کبله نه بلکې) د دې کبله چې نوموړی لمونځ کوونکی د بل سړي کتل ګوري چې ده ته کتل کوي (او د نظر لاندې يې نیولی وي نو آفرین به وربانديې ووايي).

شپږم: یوه ورځې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمُ الشِّرْكُ الأَصْغَرُ» یقیناً ډېر خطرناک شی چې زه ترې په تاسو باندې ډارېږم هغه وړوکی شرک دی. صحابه وو کرامو ﷺ عرض وکړ چې: «وَمَا الشِّرْكُ الأَصْغَرُ يَا رَسُولَ اللهِ!» ای د الله رسوله! وړوکی شرک څه شی دی؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې «الرِّيَاءُ»[۳] یعنې وړوکی شرک د ریاکارۍ څخه عبارت دی.

که څوک غواړي چې په ذکره شوې موضوع کښې نور احادیث ولولي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي چې د احادیثو غټه مجموعه يې راغونډه کړې ده[۴].

که څوک وایي چې: ایا په ریاکارۍ باندې صرف عمل باطلېږي که د نور عذاب خطر هم شته؟

مونږ وایو چې: علماوو کرامو ریاکاري په لاندې څلورو ډولونو باندې وېشلې ده[۵]:

اول: یوه اغلظه او کلکه ریاکاري ده چې برسېره د عمل په ضیاع باندې د الله ﷻ د پلوه ورته عذاب هم متوجه کېږي. دا د هغې ریاکارۍ نوم دی چې په عمل کښې بالکل د ثواب نیت ونه لري بلکې مطلب يې فقط او فقط خلکو ته ځان ښودانه وي، حتی چې بې اودسه هم په لمانځه باندې ودرېږي.

دوهم: بله هغه ده چې د ثواب نیت پکښې کمزوری وي او د خلکو تظاهر پکښې قوي وي. د دې حکم دا دی چې عمل پرې ضائع کېږي او د الله ﷻ د عذاب خطر هم شته دی.

دریم: بله هغه ریاکاري ده چې په عمل کښې د ثواب نیت او خلکو ته د ځان ښودانې نیت یو برابر وي تردې چې دواړه نیتونه په عمل باندې باعث ګرځېدلي وي، یعنې چې نه یوازې د ثواب

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۸۲
(۲) سنن ابن ماجه ص۳۱۰
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۱۶۰
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۹۵
(۵) مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ج۹ ص۱۷۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاره عمل کوي او نه یوازې د ریاکارۍ دپاره بلکې ترڅو چې دواړه نیتونه سره لاس یو نه کړي نو عمل ته اقدام نه کوي. په دې ډول کښې ثواب ضائع دی خو امید شته چې د عذاب د خطر څخه به بچ وي.

څلورم: څلورمه نوعه یې دا ده چې په عمل باندې باعث یوازې ثواب وي خو د خلکو تظاهر ورته تقویه ورکړي، چې په هغه صورت کښې هم نیک عمل ته اقدام کوي چې د خلکو د اطلاع امید ونه لري. دا ډول ریاکارۍ اصل ثواب نه ضائع کوي مګر نقصان پکښې واقع کوي.

د ذکرې شوې مقدمې څخه وروسته د نوموړې پوښتنې په جواب کښې ـ د الله ﷻ په توفیق ـ لیکو چې: د ﴿ مُشْرِكُونَ ﴾ کلمه ځینو علماوو کرامو د جلي شرک په خاوندانو باندې تفسیره کړې ده، ځینې ترې د خفي شرک خاوندان مرادوي او بالآخره ځینو علماوو کرامو دواړو ډلو ته شامله ګڼلې ده[1]. مګر مونږ ته بهره ښکاري چې د ذکرې شوې کلمې څخه د جلي (څرګند) شرک خاوندان مراد کړی شي او بس. او دا ځکه چې په دغه ایت کښې د [۱۰۳] ایت مضمون تائید شوی دی، نو څرنګه چې هلته بالاتفاق د جلي شرک خاوندان مطلب دي نو باید چې دلته هم همدوی مطلب شي، نو که دواړه ایتونه یو ترېله څنګ په څنګ کېښودلی شي او داسې قرائت شي چې:

﴿ وَمَآ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ ﴾، ﴿ وَمَا يُؤْمِنُ أَكْثَرُهُم بِٱللَّهِ إِلَّا وَهُم مُّشْرِكُونَ ﴾

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ای پیغمبره! که څه هم ستا شوق او رغبت دې خبرې ته دی چې ټول خلک په ایمان باندې مشرف شي مګر ستا دغه آرزو نه پوره کېږي، ځکه چې د خلکو اکثریت ایمان نه راوړي چې سوچه موحدین جوړ شي او د بوتانو د عبادت څخه اجتناب وکړي او عقیدې صحیحې کړي، د خلکو اکثریت سوچه توحید نه خوښوي بلکې په الله ﷻ باندې ایمان نه راوړي مګر په داسې حال کښې چې د عقیدوي شرک مرتکب شوي هم وي، خو دغه ډول ایمان د الله ﷻ په نزد باندې مقبولیت نه شي پیدا کولی.

## د عربیت یو اعتراض او د هغه جواب

۲ـ که څوک وایي چې د عربیت قاعده ده چې د حال زمانه او د ذو الحال د عامل زمانه متحده وي، په دې مقام کښې د ﴿ وَهُم مُّشْرِكُونَ ﴾ جمله د ﴿ أَكْثَرُهُم ﴾ دپاره حال واقع شوې ده چې عامل یې د ﴿ يُؤْمِنُ ﴾ کلمه ده، نو په کار دي چې د ایمان او شرک زمانه یوه وي.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا ایمان او شرک (کفر) په یوه محل کښې او په یوه زمانه کښې اجتماع موندلی شي؟ ایا اکثر الناس هم مومنان او هم مشرکان جوړېدلی شي؟

مونږ وایو چې: واقعیت خو همداسې دی خو مشرکانو دا واقعیت نه مانه او خپل شرک ورته د

---

[1] روح المعاني ج۱۳ ص٦٦

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایمان سره منافي نه پرېښبده. یعني اکثره خلک په خپل گومان باندې په الله ﷻ ایمان نه راوړي مگر د شریک درولو په حال کښې.

خو د الله ﷻ په نزد هغه ایمان معتبر دی کوم چې د شرک څخه سوچه (خالص) وي او هیڅکله ورسره په یوه محل کښې او په یوه زمانه کښې نه شي جمعه کېدلی.

د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث ولولئ:

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: «كَانَ الْمُشْرِكُونَ يَقُولُونَ: لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ (فَيَقُولُ رَسُولُ اللهِ ﷺ: وَيْلَكُمْ قَدْ قَدْ. فَيَقُولُونَ:) إِلَّا شَرِيكًا هُوَ لَكَ تَمْلِكُهُ وَمَا مَلَكَ»[1] یعني د مشرکانو هر یوه حج کوونکي به ویلې چې: ای ربه! زه تاته په اطاعت ولاړ یم. نو نبي کریم ﷺ به ورته د "ویل" په کلمه باندې خطاب کاوه چې بس کړئ، بس کړئ (په متباقي کلماتو باندې خوله مه ښوروئ). خو هغوی به نه بس کول او اضافه کول به یې چې: ای ربه! مگر ته داسې شریک لرې کوم چې ستا دی، ته یې مالک یې، او ته د هغه شي مالک هم یې چې دغه شریک یې مالک دی.

﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِم مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰٓۗ أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۗ وَلَدَارُ ٱلۡأٓخِرَةِ خَيۡرٞ لِّلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿١٠٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا ٱسۡتَيۡـَٔسَ ٱلرُّسُلُ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ كُذِبُواْ جَآءَهُمۡ نَصۡرُنَا فَنُجِّيَ مَن نَّشَآءُۖ وَلَا يُرَدُّ بَأۡسُنَا عَنِ ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١١٠﴾ لَقَدۡ كَانَ فِي قَصَصِهِمۡ عِبۡرَةٞ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِۗ مَا كَانَ حَدِيثٗا يُفۡتَرَىٰ وَلَٰكِن تَصۡدِيقَ ٱلَّذِي بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَتَفۡصِيلَ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ﴿١١١﴾ ﴾

[۱۰۹] او مونږ ستا څخه وړاندې نه دي لېږلي مگر د ښارونو (د اوسېدونکو) څخه سړي، چې دوی ته به مو وحې کوله (دوی د خلکو په شان په ښارونو کښې ژوند کاوه، دوی پرښتې نه وې). ایا نو دوی (کفار) په ځمکه کښې نه گرځي راگرځي چې وگوري چې د هغو خلکو انجام څنگه شو کوم چې د دوی څخه وړاندې (د ځمکې اوسېدونکي) وه.

او ضرور د آخرت کور (جنت) د هغو کسانو دپاره ډېر غوره دی کوم چې تقوی کوي (او د الله ﷻ څخه ډاربږي). آیا نو تاسو (ای کفارو!) د عقل څخه کار نه اخلئ.

[۱۱۰] (د وړاندېنیو کفارو هلاکت به دومره وروسته شو) تردې چې پیغمبران علیهم السلام به (د دوی د ایمان راوړلو څخه) نااميده شوه او دوی به گومان وکړ چې یقیناً دوی ته (د خپلو خانونو د پلوه)

---

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۳۷۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دروغ ویل شوي وه (چې د نصرت وعده یې نږدې ګڼلې وه)، نو (په همدغه حال کښې به) زمونږ نصرت دوی ته ور ورسېد. نو هغه چاته به نجات ورکړی شو کومو ته به چې مونږ اراده کړې وه او (نور به مو هلاک کړه خکه چې) زمونږ عذاب د مجرم قوم څخه بېرته نه تاوولی کېږي (هیڅوک یې مخه نه شي نیولی).

[۱۱۱] بې شکه د دوی (پیغمبرانو علیهم السلام د حالاتو) په بیان کښې د عقل د خاوندانو دپاره د عبرت (درسونه) شته دي.

(دا قرآن کریم) داسې خبره نه ده چې په دروغو جوړه کړی شوې وي، مګر (دا) د هغو کتابونو تصدیق دی کوم چې د ده څخه وړاندې (نازل کړی شوي) وه، او (هم دا) د هر (ضروري) شي دپاره تفصیل (او بیان) دی او (بالآخره دا قرآن) د داسې قوم دپاره چې عقیده کوي (ایمان راوړي) هدایت او رحمت دی (چې همدوی ترې ګټه پورته کوي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی چې د یو پلوه پکښې د نبي کریم ﷺ دپاره تسلي پرته ده او د بل پلوه دده مخالفین د ناکاره انجام څخه ډارولی شوي دي، چې حاصل یې داسې راځېږي چې:

۱ـ ای پیغمبره! مونږ پخوانیو قومونو ته هم ستا غوندې سړي د پیغمبرانو په صفت باندې استولي وه، هغوی ته مو هم وحې کوله لکه تاته یې چې کوو، هغوی هم د نورو انسانانو په شان په ښارونو کښې اوسېدل لکه چې ته پکښې اوسېږې. لنډه دا چې هغوی پرښتې نه وې چې په ښارونو کښې نه اوسېږي او د اسمان اوسېدونکې دي، که داسې وی نو ستا د زمانې کفارو ته به ستا وراستول عجیبه بریښېدلي وی.

۲ـ پخوانیو قومونو ته هم ستا د قوم غوندې بې شمېره تکویني او غیر تکویني معجزې ښودلې شوې وې خو دوی پرې په غفلت سره تېر شوه لکه چې ستا قوم پرې په غفلت سره تېرېږي.

۳ـ خو په نتیجه کښې د هغوی څخه د الله ﷻ عذاب راچاپېر شو او ټول یې پوپنا کړه، نو ایا ستا قوم د هغوی د عاقبت څخه عبرت نه اخلي؟ ایا د هغوی تاریخي اثارو ته نه ګوري چې عاقبت یې څنګه شو؟

۴ـ ای پیغمبره! دنیاوي ژوند او عیش اوږدېږي مګر باقي نه پاتې کېږي، نو په کار دي چې ستا امت د دنیاوي ژوند په اوږدوالي باندې تېر نه وخي، باید دوی د دنیاوي ژوند څخه د اخروي ژوند په ګټلو کښې کار واخلي چې هغه دائمي ژوند دی او د زوال سره نه مخامخ کېږي. نو د همدې کبله هغه ژوند د متقیانو دپاره د دې حقیر ژوند څخه ډېر غوره او بهتر دی.

۵ـ ای پیغمبره! خپل امت یو خلې مخاطب کړه چې: ایا تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ چې د فانې ژوند او باقي ژوند فرق وکړئ؟

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۶_ ای پیغمبره! د پخوانیو هلاکو شوو قومونو په دنیاوي ژوند باندې اوږدوالی ورغلی دی آن تر دې چې د دوی د تکبر او غرور د کبله به د دوی د ایمان راوړلو څخه د وخت پیغمبران نا امیده شوه او دې ته به سترګې په لاره وه چې کله به په دوی باندې عذاب ورنازلېږي، او کله به پوپنا کېږي، حتی چې د پیغمبرانو د نا امیدۍ په حالت باندې به هم دومره وخت تېر شو چې د هغوی په مبارکو اذهانو کښې به دې خبرې خطور وکړ چې بې شکه مونږ ته د عذاب د نزول په هکله خپلو زړونو د دروغو امید راکړی وه چې دغه دی نصرت را ورسېد او د عذاب نزول ډېر نږدې دی.

نو په عین وخت کښې به هغوی ته زمونږ نصرت ورغی او عذاب به په کفارو باندې وربښکته شو، نو هر چاته به چې زمونږ د نجات اراده وه هغوی ته به مو نجات ورکړ او څوک به مو چې هلاکاوه هغوی به مو هلاک کړه. دا ځکه چې زمونږ د عذاب مخه د جنایتکار قوم څخه نه اړوله کېږي، هیڅوک یې د مخنیوي توان نه لري.

۷_ ای پیغمبره! د ټولو پیغمبرانو د حالاتو په بیان کښې عموماً (چې د قرآن کریم په نورو سورتونو کښې په تاباندې نازل شوي دي) او د یوسف ﷺ او د یعقوب ﷺ د حالاتو په بیان کښې خصوصاً (چې په همدې سورت کښې یې تفصیل تېر شو) د عقل د خاوندانو دپاره زښت ډېر د عبرت درسونه شته دي، دوی ته په کار دي چې سرسري پرې تېر نه شي. او دا ځکه چې:

الف: دا قرآن کریم حقائق بیانوي او دروغ خبره پکښې بالکل نشته.

ب: دا قرآن کریم د هغو ټولو کتابونو تصدیق کوي کوم چې د ده څخه وړاندې په پیغمبرانو باندې وخت په وخت نازل شوي وه، نو چا چې وړاندې کتابونه نازل کړي وه همغه اقدس ذات ﷻ دا کتاب هم نازل کړی دی.

ج: په دې کتاب کښې د هر ضروري شي بیان شته دی کوم ته چې انسانان د خپل ژوند د اړخونو څخه په یوه اړخ کښې احتیاج لري.

د: نو دا کتاب د خلکو دپاره د دنیا او د آخرت د دواړو لارو ښودونکی دی او د دواړو لارو دپاره د یو مشال لري.

هـ: او بالآخره که څه هم دا کتاب د ټولو خلکو دپاره عموماً رحمت دی مګر د مؤمنانو دپاره په خاصه توګه هدایت او رحمت دی چې همدوی ترې ګټه پورته کوي.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې د ﴿ نُوحِيٓ إِلَيۡهِم مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰٓ ﴾ د جملې څخه څرګندېږي چې ټول پیغمبران د ښارونو د اوسېدونکو څخه استولي شوي دي، د همدې کبله الحسن علیه الرحمة ویلي دي چې: الله ﷻ هیڅ یو پیغمبر نه د بیدیا د اوسېدونکو څخه استولی دی، نه د زنانه وو څخه او بالآخره نه د پېریانو څخه[1]. نو پوښتنه دا ده چې: د همدې سورت په [۱ : ۰] ایت کښې الله ﷻ د یوسف ﷺ

(۱) تفسیر القرطبي ج۹ ص۲۷۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د خولې څخه حکایت کړی دی چې ﴿ وَجَآءَ بِكُم مِّنَ ٱلۡبَدۡوِ ﴾ یعنې یوسف ؑ خپل پلار (یعقوب ؑ) د ورونو په شمول مخاطب کړ چې الله ﷻ په مونږ باندې لوی احسان کړی دی چې تاسو یې د بېدیا څخه مصر ته راوستلی: نو معلومه شوه چې یعقوب ؑ د بېدیا د اوسېدونکو څخه د پیغمبر په صفت رالېږلی شوی وه؟!

مونږ وایو چې: د ذکر شوي ایت لاندې مونږ د الله ﷻ په توفیق دوه وو جوابونو ته اشاره کړې ده چې:

الف: یعقوب ؑ په هغه وخت کښې په بېدیا کښې اوسېده په کوم وخت کښې چې هغه ؑ خپل سفر د مصر په لور پیل کړ، هسې نه چې د پیغمبر ګرځېدلو په وخت کښې هم د بېدیا اوسېدونکی وه.

ب: یا دا چې د ﴿ ٱلۡبَدۡوِ ﴾ کلمه د کنعان په ښار کښې د یوه کلي (یوې محلې) نوم وه.

دلته ورباندې اضافه کوو چې په هغه وخت کښې د کنعان ښار هم د دنیا د نورو ښارونو غوندې د قحطۍ د زیات فشار لاندې واقع شوی وه، چې غذائي شیان پکښې نه موندل کېده، تا به ویل چې د کنعان ښار یوه بېدیا او مېره ګرځېدلی دی.

## ګڼ شمېر تفسیرونه

۲ـ د ﴿ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمۡ قَدۡ كُذِبُواْ ﴾ په جمله کښې علماوو کرامو ګڼ شمېر تفسیرونه کړي دي حتی چې شمېر یې تقریبًا دوه دېرشو ته رسېږي[۱]. د تفسیرونو شمېر څکه پورته ختلی دی چې د یو پلوه د ذکر شوې جملې د ﴿ كُذِبُواْ ﴾ په کلمه کښې متعدد قرائتونه شهرت ته رسېدلي دي[۲] چې دغه کلمه هم مجهوله، هم معلومه او بالآخره هم په شد سره او هم په تخفیف سره قرائت شوې ده، په دې قرائتونو کښې یو د بي بي عائشې رضي الله عنها (ام المؤمنین) قرائت دی چې ذکره شوې کلمه یې مجهوله او مشدده قرائت کړې ده[۳] او بل د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما قرائت دی چې ذکره شوې کلمه مجهوله ده او مخففه ده[۴]. او د بله پلوه د ذکرې شوې جملې ضمیرونه هر یو احتمال لري چې پیغمبرانو ته راجع شي او یا د پیغمبرانو امتونو ته راجع کړی شي.

مونږ یوازې د عبد الله عباس رضي الله عنهما د قرائت په تفسیر باندې اکتفاء کوو چې سمدستي زمونږ په وړاندې ایښی دی. دا قرائت په څو متعددو ډولونو باندې تفسیر شوی دی[۵] خو مونږ د لاندې دوه وو تفسیرونو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: چې درې واړه ضمیرونه د پیغمبرانو علیهم السلام امتونو ته راجع وګڼلی شي. نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې د نصرت وعده به دومره اوږده شوه حتی چې د پیغمبرانو امتونو به

(۱) نثر المرجان من مشکلات القرآن ص۲۸۶
(۲) تفسیر الطبري ج۱۳ ص۸۲؛ المحرر الوجیز ج۹ ص۳۹۲
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۶۸۰
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۶۴۹
(۵) البحر المحیط ج۶ ص۳۳۵، تفسیر القاسمي ج۹ ص۲۹۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



گومان وکړ چې یقینًا دوی ته د پیغمبرانو د پلوه د نصرت وعده په دروغو ورکړه شوې ده، که نه نو دومره به نه وی اوږده شوې او مونږ به د دومره مشکلاتو سره نه وی مخامخ شوي، مګر په عین حال کښې به د الله ﷻ نصرت ور ورسیږد او مشکلات به ترې پورته شوه.

که څه هم پورتنی تفسیر په زړه پوری دی مګر د عربي قواعدو څخه مخالف دی چې په دې کښې اضمار قبل الذکر لازمیږي. ځکه چې د ذکرې شوې جملې سره متصله خو د ﴿ ٱلرُّسُلُ ﴾ کلمه ذکره ده، نه د "المرسل إلیهم" (د پیغمبرانو علیهم السلام امتونه). مګر دلته[1] د ﴿ ٱلرُّسُلُ ﴾ کلمه په "المرسل إلیهم" باندې د معنی په اعتبار سره دلالت کوي، لکه چې په ﴿ ٱعۡدِلُواْ هُوَ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰ ﴾ [المائدة:۸] کښې د ﴿ ٱعۡدِلُواْ ﴾ کلمه په عدل باندې دلالت کوي چې د ﴿ هُوَ ﴾ ضمیر ورته راجع دی.

په دې باندې علاوه، په وړاندېنۍ ایت کښې د ﴿ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ ﴾ په جمله کښې خو د پیغمبرانو علیهم السلام امتونه ذکر دي.

ب: درېواړه ضمیرونه د ﴿ ٱلرُّسُلُ ﴾ کلمې ته راجع دي، چې متصله ورسره ذکره ده او په تبادر سره سړي ته ذهن ته ورځي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: د ﴿ ظَنُّوٓاْ ﴾ کلمه د "ظن" څخه اشتقاقه شوې ده، چې وضعي معنا يې راجح اعتقاد دی او د مجاز په توګه په یقین کښې هم استعمالیږي[2] حال دا چې دغه دواړه معناوې په دې مقام کښې صحت نه لري. دا ځکه چې په دې تقدیر باندې يې د معنی حاصل داسې راځېږي چې د الله ﷻ د نصرت وعده به دومره اوږده شوه چې حتی پیغمبرانو علیهم السلام به راجح اعتقاد کاوه او یا به يې یقین راته چې بې شکه د دوی سره دروغ ویل شوي وه (دوی ته په دروغو د نصرت وعده ورکړه شوې وه). حال دا چې دا ډول مضمون خو د پیغمبرانو علیهم السلام سره غیر مناسب بلکې غیر جائز دی؟

مونږ وایو چې:

الف: د "ظن" کلمه په دې مقام کښې د وسوسې او توهم معنی ورکوي، یعني د پیغمبرانو علیهم السلام په اذهانو کښې به د وسوسې په شکل تېره شوه چې زمونږ سره په دنیا کښې د نصرت وعده دروغ وه، او په وسواس باندې خو الله ﷻ څوک نه نیسي، او نه څوک دا توان لري چې خپل زړه د وسواس څخه بچ وساتي. په همدې مضمون باندې لاندې حدیث شهادت ورکوي، چې:

یوه ورځې نبي کریم ﷺ ته ځینې خلک ورغله او عرض يې وکړ چې: ای د الله رسوله! مونږ په خپلو زړونو کښې داسې شی مونده کوو چې په هغه باندې راته تکلم کول ډېر لوی برېښي (او ډېره عظیمه ګناه راته ښکاري). نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: ایا دا شی په زړونو کښې تاسو مونده کوئ؟ هغوی

(۱) المحرر الوجیز ج۹ ص۳۹۴
(۲) روح المعاني ج۱۳ ص۶۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وړيلي: هو. نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «ذَاكَ صَرِيحُ الإِيمَانِ»[1] يعني: دغه بالکل صريح (څرګند) ايمان دی.

ب: د ﴿ كُذِبُواْ ﴾ د جملې معنی دا نه ده چې د الله ﷻ د پلوه مونږ سره دروغ ويل شوي وه، بلکې معنی يې دا ده چې پيغمبرانو عليهم السلام به تمه او اميد کاوه چې نصرت به دومره نه وروسته کېږي نو کله به چې وروسته شو نو دوی به خپله تمه دروغ وبلله او راجع اعتقاد به يې وکړ چې مونږ خطا شوي وو چې د نصرت وعده مو د الله ﷻ د پلوه نږدې ګڼلې وه، بلکې زمونږ سره خپلو خانونو د نصرت په نږدېکت کښې د دروغو وعده کړې وه، او مونږ يې خطا کړي وو.

ذکر شوی حالت هغه حالت ته ورته دی کوم چې په صحابه وو کرامو ﷺ باندې هغه وخت ورغلی وه کله چې نبي کريم ﷺ په مدينه منوره کښې خوب وليد چې د ملګرو سره مکې معظمې ته تللی وي، نو په دغه خوب باندې يې صحابه کرام ﷺ خبر کړه او د عمرې د اداء کولو تصميم يې ونيوه، خو کله چې د حديبې مقام ته ورسېده نو مشرکانو يې مخه بنده کړه چې په نتيجه کښې سوله منځته راغله او دوی بېرته راستانه شوه، چې په صحابه وو کرامو ﷺ باندې بېرته راستنېدل ډېر درانه تمام شوه او دا خکه چې د دوی خيال وه چې همدا سږ کال به خوب رښتيا کېږي، خو په دې خيال او په دې تمه کښې غلط شوي وه او خپلو خانونو دوی ته د دروغو وعده ورکړې وه.

دهمدې موضوع پوره بيان د [الفتح: ٢٧] ايت لاندې ـ إن شاء الله ﷻ ـ راروان دی.

## تبصره

٤ـ مونږ ته د ﴿ كُذِبُواْ ﴾ د جملې همدغه دوهمه معنی په زړه پورې برېښي. او دا خکه چې دا معنی مونږ ته د روسانو سره په جهاد کښې څو کرته په تجربې سره په ثبوت رسېدلې ده.

داسې حالتونه ډېر راغلي دي چې مونږ ته به خپلو خپلو زړونو تمه راکړه چې د نصرت وعده ډېره نږدې ده، او ډېر ژر به د الله ﷻ په کومک مجاهدين فلانی منطقه فتحه کړي او کفارو ته به درانده تاوانونه ورواړوي. مګر په عين حال کښې به هلته وضعه بدله شوه چې د دښمن په ګټه او د مجاهدينو په تاوان او يا شهادت باندې به وځرخېده.

نو مونږ به په خپلو زړونو کښې دا خبره محسوسه کړه چې مونږ غلط خيال کړی وه چې نصرت رانږدې دی، مونږ خطا شوي وو چې په دغې حمله باندې مو د کاميابې حملې ګومان کړې وه. زمونږ په راجحه عقيده دا شوه چې د الله ﷻ د نصرت وعده دلته ترلاسه نه شوه او بلې حملې ته پال شوه، خو په عين حال کښې به ـ زمونږ د خيال په خلاف ـ د الله ﷻ نصرت راورسېد او د مجاهدينو به غير مترقبه فتحه په نصيب شوه، او زمونږ ګومان به رښتيا وخوت.

شايد چې د مايوسې د حالت پورې به د نصرت په پالولو کښې حکمت دا وي چې ترڅو مجاهدين

[1] صحيح مسلم ج١ ص٧٩؛ سنن ابي داود ج٢ ص٣٤١

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغرور او تکبر څخه وساتلی شي او ترڅو مجاهدین په دوامداره توګه خپل رب ﷻ ته تواضع او عاجزي وکړي او عبودیت ورته څرګند کړي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وایي چې په ﴿ فِي قَصَصِهِمْ ﴾ کښې د ضمیر مرجع کومه یوه ده؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو علماوو کرامو دغه ضمیر د یوسف ﷺ ورونو ته راجع اخستی دی، نو د معنی حاصل یې داسې راویستلی دی چې د یوسف ﷺ د ورونو په بیان کښې د هوښیارانو دپاره د عبرت درسونه شته دي؛ مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دغه ضمیر به د ﴿ ٱلرُّسُلُ ﴾ کلمې ته راجع وي چې نږدې ذکره ده او ذهن ته په تبادر سره راځي. نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېږي چې د پیغمبرانو د حالاتو په بیان کښې د عاقلانو دپاره د عبرت درسونه دي، برابره خبره ده چې په دغه سورت کښې بیان شوي دي لکه یعقوب ﷺ او یوسف ﷺ، او یا په نورو سورتونو کښې واضحه شوي دي، نو خلکو ته په کار دي چې د غفلت په حال کښې ورباندې تېر نه شي.

## یادونه

۶ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام: ۳۸] ایت لاندې ښه پوره تحقیق کړی دی چې قرآن کریم د هر شي بیان او تفصیل دی، چې بیا لیکلو ته یې ارتیا نه ګورو. هیله ده چې د ﴿ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ ﴾ د تفسیر دپاره هملته مراجعه وکړی شي.

د الله ﷻ په فضل او توفیق د یوسف ﷺ سورت په: ۱۳۷۶/۳/۲۳ هـ ش نېټه باندې ختم شو.
مونږ د خپل رب ﷻ څخه لا زیات توفیق او کومک غواړو.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الرعد (۱۳)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

مونږ غواړو چې د "الرَّعْد" سورت په اړه څه معلومات محترمو لوستونکو ته وړاندې کړو، هغه دا چې:

۱ـ په دې سورت باندې د دې کبله د "الرَّعْد" نوم نه دی ایښودلی شوی چې ټول مضامین یې په "الرَّعْد" پورې ارتباط لري، بلکې د دې کبله چې په همدغه نامه باندې د نورو سورتونو څخه جدا شي، ترڅو د قاریانو سره د ایتونو په موندلو او د قرآن کریم په حفظ کښې لاس وکړي. دغه نوم د همدې سورت د [۱۳] ایت څخه اخستلی شوی دی چې د ﴿ ٱلرَّعْدُ ﴾ کلمه پکښې نازله شوې ده.

۲ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي[۱]:

الف: د دې سورت د ایتونو شمېر درې څلوېښتو (۴۳) ته رسیږي[۲].

ب: د کلماتو شمېر یې اته سوه پنځه پنځوس (۸۵۵) دی.

ج: د حرفونو شمېر یې درې زره پنځه سوه او شپږ (۳۵۰۶) دی.

۳ـ ځینې علماء کرام دغه سورت د مدني سورتونو څخه ګڼي[۳] او ځینې نور ورته د مکي سورت لقب ورکوي[۴]، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دا سورت په مکي سورتونو کښې وشمېرل شي او دا ځکه چې محتویات یې د مکي سورتونو سره زیات مشابهت لري، که څه هم ځینې ایتونه یې مدني ایتونو ته ورته دي چې په خپل ځای کښې به ورته ـ إن شاء الله ﷻ ـ اشاره وکړی شي.

### د دې سورت محتویات (موضوعات)

۴ـ که څه هم د قرآن کریم د سورتونو په موضوعاتو کښې د بشري کتابونو په شان من كل الوجوه تشخیص نشته مګر د څېړنې په جریان کښې سړی پوهېږي چې په دې سورت کښې په فلانی موضوع باندې زیات زور اچولی شوی دی او په هغه سورت کښې فلانکی موضوع ته زیاته توجه کړی شوې ده.

نو مونږ ویلی شو چې په دې سورت (الرعد) کښې په عقیدوي موضوعاتو پورې ډېر تماس نیولی شوی دی، لکه چې په مکي سورتونو کښې همدا خاصیت د ورایه برېښي. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: دلته د الله ﷻ په توحید باندې ډېرو دلایلو ته اشاره شوې ده چې ځینې په اسماني مخلوقاتو پورې او ځینې په ځمکني شیانو پورې ارتباط لري.

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۱ ص۲۳۴
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۵
(۳) المحرر الوجيز ج۱۰ ص۲
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۴۹۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دلته د قیامت د ورځې په قیام باندې دلایل اقامه کړی شوي دي.

ج: د نبي کریم ﷺ د نبوت د شاوخواوو څخه د معاندینو شبهات جواب کړی شوی دي او د اشتباهاتو مخه یې نیولې شوې ده.

د: دلته د تقدیر مسئله په اثبات رسولې شوې ده چې د الله ﷻ په نزد هر شی مقدر دی، هیڅ تغیر او تبدیل پکښې نه شي واقع کېدلی. او داسې نور.

## د دواړو سورتونو تناسب

۵_ دا سورت (الرعد) او وړاندېنی سورت (یوسف) په محوري موضوعاتو کښې سره متحد دي مګر په کیفیت کښې سره فرق لري. لاندې وضاحت ولولئ:

الف: هلته هم اصلي مطلب دا وه چې الله ﷻ واحد او لا شریک دی چې هیڅوک یې د ارادې مخه نه شي نیولی، خو همدا مطلب د یوسف ؑ په قیصه کښې په عملي شکل سره ښودلی شوی وه او دلته همدې مطلب ته په افاقي دلایلو او په انفسي دلایلو باندې ثبوت ورکړی شوی دی.

ب: هلته په اسمانونو او ځمکو کښې د توحید دلایلو ته په اجمالي توګه اشاره کړی شوې ده چې: ﴿وَكَأَيِّن مِّنْ ءَايَةٍ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ [یوسف:۱۰۵] مګر دلته همدغه دلایل په تفصیلي توګه بیان شوي دي.

ج: هلته هم نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکول یو مطلب وه او دلته هم همدغه مطلب بې اشارې نه دی پرېښودلی شوی، او داسې نور.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿الٓمٓر ۚ تِلْكَ ءَايَـٰتُ ٱلْكِتَـٰبِ ۗ وَٱلَّذِىٓ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ٱلْحَقُّ وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١﴾﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

دغه راتلونکي ایتونه د (کامل) کتاب ایتونه دي.

او (ای پیغمبره!) هغه (کتاب) چې تاته د خپل رب ﷻ د پلوه درنازل کړی شوی دی (همدا کتاب) حق دی (د واقع سره مطابق دی)، مګر اکثره خلک (پرې) ایمان نه راوړي (او شک پکښې کوي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني سورت وروستنی ایت په دې تمام شوی وه چې قرآن کریم د داسې قوم دپاره هدایت او رحمت دی کوم چې د الله ﷻ په وحدانیت باندې عقیده کوي، خو د دې سورت لومړنی ایت په دې تمام شوی دی چې ﴿وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ﴾.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعني: دا قرآن پخپله په خپل خان باندې شهادت ورکوي چې په حقه د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی. او دا خکه چې دغه قرآن کريم د هغو حروفو څخه ترکيب موندلی دی د کومو حروفو څخه چې د خلکو کلامونه ترکيب شوي دي او لا ترکيبيږي. لکه الف، لام، ميم، راء او داسې نور. خو د دې سره-سره ټول مخلوقات يې په فصاحت او بلاغت کښې د مقابلې څخه عاجز دي.

نو پوره واضحه شوه چې دا کتاب د بشر تاليف او ترکيب نه دی. يا په بل عبارت: دا کتاب نبي کريم ﷺ د خپله خانه نه دی جوړ کړی او نه يې د خانه جوړولی شي، که نه نو د څلوېښت کلنی عمر څخه وړاندې (چې د نبوت درجې ته نه وه رسېدلی) د دغسې يو کلام د جوړولو څخه ولې عاجز وه؟ نو دغه ايتونه، چې په همدې سورت کښې راروان دی، د همدغه معجز کتاب ايتونه دي چې د مقابلې څخه يې ټول خلک عاجزان دي او د دغو ايتونو د مقابلې توان هيڅوک نه لري.

لنډه دا چې: ای پيغمبره! کوم کتاب چې تاته د خپل رب ﷻ د پلوه درنازل شوی دی همدغه واقعيت لري او هيڅ شک او شبهه پکښې نشته، همدا د خلکو دپاره هدايت او رحمت دی مګر اکثره خلک پرې عقيده نه کوي او باور يې پرې نه راخي.

## توضيحات

۱ـ د ﴿ الٓمٓر ﴾ امثال په وړاندېنيو سورتونو کښې شرحه شوي دي نو بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو. نو هيله ده چې د "البقرة، آل عمران" او نورو سورتونو اوائلو ته مراجعه وکړی شي.

۲ـ د ﴿ وَٱلَّذِىٓ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ٱلۡحَقُّ ﴾ په جمله کښې علماوو کرامو د نحويت په اعتبار سره متعدد تحليلونه کړي دي[1]، مګر مونږ ته بهتره بربښي چې موصول د خپلو مربوطاتو سره مبتدأ شي او د ﴿ ٱلۡحَقُّ ﴾ کلمه يې خبر واقع شي، نو حاصل به يې هغسې را وځېژي لکه چې لږ وړاندې تېر شو، والحمد لله ﷻ.

﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ كُلّٞ يَجۡرِى لِأَجَلٖ مُّسَمّٗىۚ يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَ يُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمۡ تُوقِنُونَ ﴿٢﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى مَدَّ ٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ وَأَنۡهَٰرٗاۖ وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِۖ يُغۡشِى ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٣﴾ وَفِى ٱلۡأَرۡضِ قِطَعٞ مُّتَجَٰوِرَٰتٞ وَجَنَّٰتٞ مِّنۡ أَعۡنَٰبٖ وَزَرۡعٞ وَنَخِيلٞ صِنۡوَانٞ وَغَيۡرُ صِنۡوَانٖ يُسۡقَىٰ بِمَآءٖ وَٰحِدٖ وَنُفَضِّلُ بَعۡضَهَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فِى ٱلۡأُكُلِۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَعۡقِلُونَ ﴿٤﴾ ﴾

(۱) البحر المحيط ج۶ ص۳۴۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې پرته د ستنو څخه يې اسمانونه اوچت کړي دي چې تاسو يې (په خپلو غړولو سترګو) ګورئ، بيا يې (په دې باندې علاوه) په عرش عظيم (بلا كيفه) استواء كړې ده (څنګه چې ورسره مناسبه ده)، او هم يې لمر او سپوږمۍ (ستاسو د ګټو دپاره) تابع ګرځولي دي، چې هر يو د ټاکلې نبټې پورې روان دی (حرکت کوي، دا څکه چې) الله ﷻ د هر كار تدبير (پخپله) كوي (او هيڅوا ته پکښې اشتراک نه ورکوي)، (او هم) الله ﷻ (د خپل کامل قدرت) نښې بيانوي شايد چې تاسو د خپل رب ﷻ په ملاقات (د قيامت په ورځ) يقين وكړئ.

[۳] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ځمکه يې (د انسانانو دپاره د فرش غوندې) خوره کړې ده او هم يې پکښې غرونه پيدا کړي دي (چې اضطراري حرکت يې ور ودرولی دی) او هم (يې پکښې) سيندونه (پيدا کړي او بهولي دي). او (همدارنګه) الله ﷻ په ځمکه کښې د هر ډول ميوجاتو څخه (په رنګ، خوند او هم په قدر او نورو کيفيتونو کښې) دوه جوړې پيدا کړې دي. الله ﷻ شپه په ورځې باندې پټوي (راتاووي او ورځ په شپه باندې پټوي).

يقيناً په دغو (ذکرو شوو شيانو) کښې د داسې قوم دپاره چې فکر (پکښې) چلوي، ډېر دلايل شته دي (چې د توحيد او کامل قدرت د اثبات دپاره بنه پوره کفايت کوي).

[۴] او په ځمکه کښې (د الله ﷻ د پلوه) پيوسته (يوه د بلې سره نښتې) ټوټې (پيدا کړی شوې) دي (چې په کيفيت کښې مختلفې دي)، او (هم پکښې) د انګورو (مختلف) باغونه او (هم مختلف) کښتونه او (هم) د کجورو (مختلف) باغونه چې (ځينې مجموعي) يو بېخ لري او (ځينې نورې) متعدد بېخونه لري (خلق کړی شوي دي) حال دا چې (دغه ټول) په يو ډول اوبو باندې خړوبول کېږي (او د يوې ځمکې څخه را زرغونېږي)، او (د دې سره سره) مونږ ځينو ته په ځينو نورو باندې په خوند (او مېوه) کښې بهتري ورکوو (چې ټولې په يو شان نه دي).

يقيناً په دغه (ذکرو شوو شيانو) کښې د داسې قوم دپاره چې د عقل څخه كار اخلي (د الله ﷻ د قدرت او توحيد په هکله) زښت ډېر دلايل شته دي (چې د مطلب د ثبوت دپاره کفايت کوي).

## ارتباط

وړاندې ايت شريف په دې تمام شوی وه چې اکثره خلک ايمان نه راوړي. په دې ايتونو کښې متعدد دلايل نازل شوي دي ترڅو د هغوی قناعت حاصل شي چې الله ﷻ واحد او لا شريک دی چې په ايمان باندې مشرف شي او د الله ﷻ په وحدانيت او د قيامت د قيام او بالآخره په بيا را ژوندي کېدلو باندې کلکه عقيده وکړي.

## د مطلب خلاصه

يعنې ای خلکو! لاندې اسماني او ځمکني دلايل په نظر کښې ونيسئ؛ او د کفري (شرکي) عقيدې څخه خانونه په څنګ کړئ:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې اسمانونه یې بې ستنو ودرولي دي، او یوازې د همده ﷻ کامل قدرت دی چې د سقوط مخه یې نیسي، که نه نو ولاړ به نه وی پاتې شوي، ایا تاسو د اسمانونو ستنې لیدلې دي؟ که بالفرض المحال الله ﷻ شریک درلودی نو ایا د اسمانونو اوچتوالي به دومره دوام کړی وی لکه چې اوس دوام کوي؟.

۲_ برسېره په دې چې اسمانونه یې اوچت درولي دي او د سقوط مخه یې ساتي، تکړ ته یې همدی ﷻ نه پرېږدي او د ستورو د راختلو او پرېوتلو او هم د حرکاتو او په خپلو- خپلو مدارونو باندې د چلښت انتظام یې روزمره د همده ﷻ د پلوه کېږي. یا په بل عبارت: په بلا کیفه توګه یې په عرش باندې استواء کړې ده او د نظام په ساتنه کښې یې هیڅاته څه برخه نه ده ورکړې.

۳_ الله ﷻ لمر او سپوږمۍ هر یو په خپل خپل مدار باندې څرخوي او په ټاکلو وختونو باندې یې همدی ﷻ راخېژوي او غورزوي. یا په بل عبارت: د شروق او غروب اختیار د همده ﷻ په واک کښې دي او هم د قیامت پورې د بقاء تضمین یې همده ﷻ کړی دی.

لنډه دا چې د ټولو روزمره کارونو تدبیر او انتظام د همده ﷻ د پلوه صورت نیسي او هیڅوک او هیڅ شی پکښې برخوال نه دی.

ای خلکو! وګورئ چې تاسو ته د خپل رب ﷻ د پلوه په څومره مزناک تفصیل سره دلایل بیانېږي شاید چې تاسو د خپل رب ﷻ په ملاقات (د قیامت په قیام) باندې عقیده وکړئ او د شرکیاتو څخه ځانونه په څنګ کړئ.

۴_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ځمکه یې د خلکو د استوګنې دپاره چمتو ګرځولې ده، او د فرش په څېر یې خوره کړې ده، نه دومره نرمه ده چې د نرموالي د کبله د سکونت قابله نه وي او نه دومره سخته او کلکه ده چې د ګرځېدلو راګرځېدلو څخه وتلې وي. دا د یو پلوه او د بله پلوه یې ورباندې دپاسه غرونه پیدا کړي دي چې د اضطراري حرکت مخه یې نیولې ده، ته به وایې چې د ځمکې دپاره غرونه د مېخونو وظیفه اجراء کوي.

۵_ په دې باندې علاوه، الله ﷻ په ځمکه باندې د خلکو د استفادې دپاره سیندونه هم بهولي دي، که بالفرض په اوبو کښې غرقه وی نو د استوګنې څخه به وتلې وی او که بالکل وچه کلکه وی او سیندونه پکښې نه بهېدلی هم چا به پکښې استوګنه نه وی کړې.

۶_ الله ﷻ د میوجاتو د هرې نوعې څخه په ځمکه کښې دوه دوه جوړې پیدا کړي دي، لکه خوږه او تروه، سپینه او توره، غټه او وړه، او نور متضاد ډولونه.

۷_ الله ﷻ شپه په ورځ باندې پټوي او بالعکس ورځې ته د شپې پوښ وراغوندېږي، همدارنګه کله د شپې ځینې برخې د روښنانه ورځې برخې ګرځوي او کله بالعکس د روښنانه ورځې څه برخې د تورې شپې برخې جوړوي. یا په بل عبارت: که ورځ اوږده شي نو شپه لنډه شي او که شپه لنډه شي نو ورځ اوږده شي.

په دغو ټولو ذکرو شوو عجیبه کارونو کښې برسېره په دې چې د خلکو ګټې وتې نغښتې دي، د

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ د توحید او د کامل قدرت پاخه او قوي دلایل هم دي، البته د داسې قوم دپاره چې لږ څه د تفکر څخه کار واخلي او په خپل ګرېوان کښې سرونه ښکته کړي.

۸ـ برسېره په دې په ځمکه کښې نور ډېر دلایل شته چې د الله ﷻ په وحدانیت او کامل قدرت باندې دلالت کوي، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: په یوه ځمکه کښې الله ﷻ مختلفې برخې پیدا کړې دي، چې یوه د بلې سره څنګ په څنګ پرته وي خو په خاصیت او صفاتو کښې سره بې اندازې تفاوت لري. نو که د ځمکې یوه برخه ښوره چنه وي په څنګ کښې يې د زراعت وړ ټوټه پرته وي، او د کلکې ځمکې ترڅنګ پسته ځمکه ډېره مونډله کېږي. همدارنګه د رنګونو په اعتبار سره هم توره خاوره د سپینې ترڅنګ او زیړه د خړې ترڅنګ ډېرې شته دي، حتی په یوه رنګ ځمکه کښې د بل رنګ خطونه تېر شوي وي، ته به وایې چې منګور ورباندې پروت دی.

ب: همدارنګه الله ﷻ په یوه ځمکه کښې څنګ په څنګ د ډول-ډول انګورو او نورو میوجاتو باغونه پیدا کړي دي چې په خوندونو او رنګونو کښې ډېر تفاوت لري.

ج: د الله ﷻ په وحدانیت باندې د یوې ځمکې څخه د مختلفو کروندو او کښتونو زرغونول هم ډېر لوی او قوي دلایل دي.

د: الله ﷻ د کجورې د یوه زړې څخه د خرماګانو دنګې-دنګې ونې راوباسې چې ځینې ونې یک تنهاوي او ځنې نورې د یوه بېخ څخه په متعددو ښاخونو سره راپورته کېږي.

ذکر شوي باغونه، زراعتونه او بالآخره ونې اوبوټي ټول په یو ډول اوبو باندې خړوبېږي او د یوې ځمکې څخه نشئت او وده کوي، خو د دې سره سره یو د بل څخه په میوجاتو او نورو کیفیتونو کښې زښت ډېر تفاوت لري، او د حاصلاتو خوندونه يې سره بیل بیل وي او هم په بوی او رنګ کښې سره جدا-جدا وي.

۹ـ ای پیغمبره! په ذکرو شوو تفاوتونو کښې د هغه قوم دپاره کوم چې د عقل څخه کار اخلي د الله ﷻ د توحید پوره دلائل شته، چې د یوه پلوه واحد او لا شریک دی که نه نو په یوه نظام باندې به باغونه او کرونده باقي نه وی پاتې شوي، کله به يې په جوړښت بانـدې جنګ وی او کله په خوند او رنګ باندې او کله په بل کیفیت باندې؛ او د بله پلوه ذکر شوی نظام دلالت کوي چې الله ﷻ د اختیار خاوند دی، که نه نو د یوې ځمکې څخه به مختلف شیان په یو ډول اوبو باندې نه وی زرغون شوي. مګر په دغسې دلایلو باندې هغه قوم پوهېږي کوم چې د عقل څخه کار اخلي او په مخلوقاتو کښې هوښیاري په کار اچوي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾ د جملې معنی دا نه ده چې الله ﷻ اسمانونه پیدا کړه او بیا يې اوچت کړه، بلکې معنی يې دا ده چې اوچت يې پیدا کړي دي، لکه چې مونږ وایو: "سُبْحَانَ مَنْ كَبَّرَ الْفِيْلَ

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وصَغَّرَ البَعُوضَ" هغه اقدس ذات ته پاکي ده چې فیل یې غټ کړی دی او ماشی یې وړوکی کړی دی، یعنې هغه یې غټ پیدا کړی دی او دا یې وړوکی پیدا کړی دی.

## ایا اسمان ستنې لري؟

۲ـ په ﴿ بِغَيْرِ عَمَدٍ ﴾ کښې د ﴿ عَمَدٍ ﴾ کلمه د "عَمُود" ـ لکه "قَبُول" ـ جمعه ده، "عَمُود" د هغې ستنې نوم دی په کومې باندې چې خېمه ودرېږي[1]. دا د یو پلوه، او د بله پلوه ځینو علماوو کرامو د ﴿ تَرَوْنَهَا ﴾ په جمله کښې بارز ضمیر ذکرې شوې د ﴿ عَمَدٍ ﴾ کلمې ته راجع ګڼلی دی[2] او د معنی حاصل یې داسې اخستی دی چې اسمان داسې ستنې نه لري چې تاسو یې وکتلی شئ، بلکې اسمان په داسې ستنو باندې ولاړ دی کومې چې ستاسو د نظر لاندې نه واقع کېږي.

مګر جمهور علماء کرام وايي چې ذکر شوی ضمیر د ﴿ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾ کلمې ته راجع دی[3] او ذکره شوې جمله د استدلال دپاره نازله شوې ده، نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې الله ﷻ اسمانونه پرته د ستنو څخه اوچت ودرولي دي، حتی تاسو په خپلو سترګو باندې اسمانونه ګورئ چې ستنې نه لري، او فقط د الله ﷻ په قدرت باندې ولاړ دي.

په همدې مضمون باندې الله ﷻ په بل ایت کښې صراحت کړی دی چې: ﴿ وَيُمْسِكُ ٱلسَّمَآءَ أَن تَقَعَ عَلَى ٱلْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِۦٓ ﴾ [الحج: ۶۵] یعنې الله ﷻ اسمان د دې څخه ایسار کړی دی چې په ځمکه باندې راولوېږي او ستاسو ژوند ګډوډ کړي، مګر کله چې پرې رالوېږي نو په هغه وخت کښې به د همده ﷻ اجازه وي چې قیامت به قائمېږي.

## یادونه

۳ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۵۴] ایت لاندې د ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ د جملې په تشریح کښې ښه ګټور معلومات لیکلي دي، نو هیله ده چې هلته یو خل مراجعه وکړی شي، چې بیا لیکل د اوږدوالي څخه په غیر بله ګټه نه لري. مګر په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې:

په ذکره شوې جمله کښې د ﴿ ثُمَّ ﴾ توری د خلقت د تاخیر دپاره نه دی بلکې د بیان د تاخیر دپاره دی[4] یعنې څرنګه چې بې ستنو د اسمانونو په ودرولو باندې پوه شوئ نو اوس د ﴿ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ د جملې په مضمون باندې خپل سرونه خلاص کړئ.

دغه ډول تاخیر ته نحویان د ذکري تاخیر لقب ورکوي. مونږ د ﴿ ثُمَّ ﴾ توری په دې مقام کښې څکه د ذکري تاخیر دپاره واخست چې په خلقت کښې د اسمانونو څخه "العرش العظيم" وړاندې دی.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۵۹
(۲) تفسير الخازن ج۳ ص۴۶۷
(۳) تفسير القاسمي ج۹ ص۳۲۲: تفسير البغوي ج۳ ص۵
(۴) المحرر الوجيز ج۱۰ ص۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې د ﴿ مَدَّ ٱلۡأَرۡضَ ﴾ په جمله کښې د ﴿ مَدَّ ﴾ کلمه د "مَدًا" څخه اشتقاقه شوې ده چې اصلاً د کشولو (اوږدولو) دپاره وضعه شوې ده[1]، حال دا چې د ساينس پوهان وايي چې ځمکه کروي ده، نو اوږدوالی ورسره منافي برېښي؟

مونږ وايو چې: "مَدًا" په دې مقام کښې د خوړولو (غوړولو) معنی ورکوي[2] يعنې الله ﷻ د انسانانو دپاره د فرش غوندې غوړولې ده چې په ارامۍ سره پرې ژوند کوي.

په همدې مطلب باندې د ﴿ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِيَ وَأَنۡهَٰرٗا ﴾ جمله دلالت کوي، يعنې الله ﷻ په غرونو باندې د ځمکې د اضطراري حرکت مخه نيولې ده او د استوګنې دپاره يې چمتو ګرځولې ده او په سيندونو سره يې د ځمکې د اوسېدونکو د ژوند ارتياوې پوره کړې دي.

ذکر شوی مضمون د قرآن کريم په نورو ايتونو کښې په صراحت سره ذکر دی، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ بِسَاطٗا ﴾ [نوح: ۱۹] يعنې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره يې ځمکه فرش ګرځولې ده چې په ارامۍ سره پکښې ژوند کوئ، لکه څنګه چې يو ماشوم په خپله زانګو کښې آرام پروت وي.

پاتې شوه دا خبره چې ځمکه کروي ده او که غير کروي، په دې باره کښې قرآن کريم نه څه خبره کړې ده او نه يې دا عادت دی چې په بې فائدې شيانو کښې بحث وکړي، نو که ځمکه په هر شکل باندې وي، وي به، خو د انسانانو دپاره ارامګاه ده.

هو! که څوک غواړي چې د ځمکې د شکل په هکله معلومات حاصل کړي نو ځينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي چې د ځمکې د شکل په هکله او د غرونو او سيندونو په اړه يې ښه اوږده او پوره تحقيقي بحثونه کړي دي[3].

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وايي چې: تاسو د [هود: ۴۰] ايت لاندې ليکلي دي چې د ﴿ مِن كُلّٖ زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِ ﴾ څخه دوه فرده (نر او ښځه) مطلب دي، يعنې الله ﷻ نوح ﷺ ته هدايت وکړ چې: د حيواناتو د هرې نوعې څخه دوه فرده (نر او ښځه) د خپله خانه سره بېړۍ ته پورته کړه. نو پوښتنه دا ده چې: په دې مقام کښې د ذکر شوي عبارت څخه څه شی مراد دی؟

مونږ وايو چې: که څه هم ځينو علماوو کرامو هغه معنی دلته هم مراده کړې ده، چې ټول نباتات په اصل خلقت کښې صرف دوه فرده (نر او ښځه) وه خو بيا پکښې الله ﷻ داسې ډېروالی پيښ کړ لکه څنګه يې چې د ادم ﷺ او بي بي حواء څخه انسانان ډېر کړه او ځمکه يې پرې ډکه کړه.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۸۴
(۲) لسان العرب ج۳ ص۳۹۷
(۳) روح المعاني ج۱۳ ص۹۰، ۹۶، ۹۹؛ التفسير الكبير ج۱۹ ص۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مگر دغه مراد مونږ ته فقط عقلي احتمال بریښي او په کوم مستند دلیل باندې ولاړ نه دی، نو بهتره دا ده چي په دې مقام کښې د نباتاتو او اشجارو لاندې دوه افرادو ته اشاره واخستله شي، چې د میوجاتو هره یوه نوعه یې لرونکې ده:

الف: په رنګ کښې دوه فرده، لکه تور او سپین.

ب: په خوند کښې دوه افراد، لکه خوږ او تریو.

ج: په قدر کښې دوه ډوله، لکه غټ او وړوکی، او داسې نور.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې په میوجاتو کښې خو هره نوعه اکثرًا د دوه وو څخه په اضافه رنګونو او خوندونو باندې مشتملې وي، حتی چې په انګورو کښې داسې انګور هم شته چې د شیشې په څېر شفاف دي او په داخل کښې یې کوچنۍ دانې د ورایه بریښي[1]، همدارنګه د غټو او وړو ترمنځ متوسط هم شته او بیا دغه درې واړه مقدارونه په مختلفو اندازو باندې ویشلی شوي دي؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې مطلب دا نه دی چې د میوجاتو انواع د دوه وو څخه په اضافه ضدینو باندې نه دي مشتملې، بلکې مطلب دا دی چې الله ﷻ د میوجاتو د هرې یوې نوعې څخه مختلف او متضاد ډولونه راوباسي چې اقله مرتبه یې د دوه وو څخه پیل کېږي.

نو که بالفرض په هره نوعه میوه کښې صرف دوه ډولونو موجودیت درلودی نو هم د الله ﷻ په کامل قدرت او هم د ده ﷻ په توحید باندې به یې دلالت کړی وي، پاتې لا دا چې د هرې نوعې څخه په مختلفو ډولونو سره مختلف افراد را وباسي.

همدې مطلب ته د ﴿يُسْقَىٰ بِمَآءٍ وَاحِدٍ﴾ په جمله باندې اشاره شوې ده.

## "صِنْوَان" او "غَيْرُ صِنْوَان" څه معنی؟

۷ـ ﴿صِنْوَان﴾ د "صِنْوٌ" ـلکه "عِلْمٌ"ـ جمعه ده. کله چې د کجورې د یو زړي څخه څو متعددې نودې (تېغونه) راپورته شي نو یوې نودې (یا لښتې) ته "صِنْوٌ" وایي او دوه وو ته صنوان ویل کېږي چې د "ن" توری پکښې اعرابي دی او د مثنی د "ن" غوندې په اضافت سره ساقطېږي.

اما دريو یا ورپورته نودو (لښتو) ته د صنوان لقب ورکولی کېږي، چې د "ن" توری یې اعرابي نه دی او په اضافت باندې د سقوط سره نه مخامخ کېږي او حرکت یې د عامل تابع دی[2].

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راځېږي چې: الله ﷻ د کجورو ونې ځینې مجتمعې پیدا کړي دي چې ټولې د یوه اصل (یوه زړي) څخه راپورته شوي دي، او ځینې نورې یې مجتمعې نه دي پیدا کړي چې مشترک اصل نه لري بلکې هره یوه ونه بېل بېل بېخ لري.

---

(۱) روح المعاني ج۱۳ ص۱۰۲

(۲) لسان العرب ج۱۴ ص۴۷۰؛ مفردات الراغب ص۲۹۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حال دا چې تېولو ونو د یوې ځمکې څخه نشنت کړی دی او په یو ډول اوبو باندې خړوبه شوې دي، که بالفرض المحال د نباتاتو او اشجارو زرغونول د طبیعت کار وی، چې علم او اراده نه لري او روند کوڼ دی، نو ذکر شوی اختلاف به تحقق نه وی موندلی، نو یا به ټولې صنوان وی او یا به ټولې غیر صنوان وی.

﴿ وَإِن تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا أَءِنَّا لَفِى خَلْقٍ جَدِيدٍ ۗ أُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِرَبِّهِمْ ۖ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلْأَغْلَـٰلُ فِىٓ أَعْنَاقِهِمْ ۖ وَأُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ۝٥ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبْلَ ٱلْحَسَنَةِ وَقَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِمُ ٱلْمَثُلَـٰتُ ۗ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلْمِهِمْ ۖ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ۝٦ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦٓ ۗ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرٌ ۖ وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ۝٧ ﴾

[۵] او (ای پیغمبره!) که ته (د مشرکانو د انکار څخه) تعجب کوې نو د دوی وینا (هم) عجیبه ده (د دې څخه هم تعجب وکړه، هغه دا چې): ایا کله چې مونږ خاورې شو ایا مونږ به (بیا) په نوي پیدایښت کښې یاستو (بیا به ژوندي شو)؟!.

دغه (مشرکان) هغه خلک دي چې په خپل رب ﷻ باندې یې کفر اختیار کړی دی، او دغه (مشرکان چې دي) ولچکونه (غوراوبونه) یې په غاړو کښې پراته دي (په زړونو باندې یې مهرونه لګېدلي دي). او (هم) دغه (مشرکان) د اور اندېوالان دي چې دوی به په دې کښې همېشه وي.

[۶] او (ای پیغمبره!) مشرکان ستا څخه په عذاب باندې تادې کوي (او غواړي چې) د عافیت څخه وړاندې (ورباندې ورنازل کړی شي)، حال دا چې د دوی څخه مخکښې مثالي عذابونه تېر شوي دي (دوی ته په کار دي چې د نجات غوښتنه وکړي، نه د عذاب د نزول).

او یقیناً (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ (د یو پلوه) خلکو ته د دوی په ظلم باندې ضرور د مغفرت خاوند دی او (د بله پلوه) یقیناً ستا رب ﷻ ضرور سخت عذاب درلودونکی دی.

[۷] او (ای پیغمبره!) هغه کسان وایي کومو چې کفر اختیار کړی (داسې چې): په ده باندې د خپل رب ﷻ د پلوه ولې معجزه را نازله نه کړی شوه (البته کومه معجزه چې مونږ یې فرمایش ورکوو). (جواب یې دا دی چې) یقیناً ته خو داروونکی یې (او بس. د معجزاتو راښکته کول خو ستا کار نه دی) او (زمونږ د پلوه) د هر قوم دپاره (ستا غوندې) لارښوونکي (لېږلی شوي) دي (چې د معجزاتو واک به یې نه درلود).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ په خپل وحدانیت او خپل کامل قدرت باندې ګڼ شمېر دلایل

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مشرکانو ته واورول، نو څه لرې نه ده چې د نبي کریم ﷺ په څه تمه درلوده چې دغه دلایل به په هغوی باندې څه اثر واچوي، مګر کله چې هغوی نظر دغو دلایلو ته بې تفاوته پاتې شوه نو نبي کریم ﷺ ته د دوی حالت عجیبه ښکاره شو او د دوی په کفر باندې لا زیات غمژن شو، نو الله ﷻ په دغو ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته تسله ورکړه چې حاصل یې داسې راځېږي.

## د مطلب خلاصه

اې پیغمبره! د مشرکانو یوازې دا یو کار عجیبه نه دی چې دلایلو ورباندې اثر ونه غورزاوه او ته ورته د حیرت په نظر ګورې، بلکې د دوی نور عجائب هم په خپل امت باندې قرائت کړه:

۱_ ایا د دوی دا عقیده عجیبه نه ده چې دوی د مرګ څخه وروسته د بیا ژوندي کېدلو څخه انکار کوي او په تعجب سره وایي چې: ایا کله چې مونږ خاورې شو نو ایا بیا به مونږ د نوي ژوند خاوندان شو؟ ایا مونږ به بېرته را ژوندي کړی شو؟

د مشرکانو ذکره شوې عقیده او وینا خکه عجیبه ده چې دوی خپل پخوانی پیدایښت هېر کړی دی چې د نشت څخه شته شوه او د ژوند خاوندان جوړ کړی شوه. ایا د الله ﷻ قدرت کمزوری شوی دی چې خاورې شوې ابدان بېرته نه شي راغونډولی او د دوهم ځل دپاره پکښې روح نه شي پو کولی؟

اې پیغمبره! ذکر شوی طرز تفکر په کوم دلیل باندې ولاړ نه دی بلکې اصلي وجوه یې دا دي چې:

الف: ذکر شوي مشرکان په خپل رب ﷻ باندې کافر شوي دي، دوی خپل رب ﷻ هېر کړی دی او قدرت یې ورته کمزوری برېښي.

ب: د دغو کسانو په زړونو باندې مهرونه وهلی شوی دی او لاسونه یې د غاړو پورې ولچک دي، نو دوی په هیڅ دلیل باندې د خپلې عقیدې پرېښودونکي نه دي.

ج: د دوی عاقبت همدا دی چې په اور کښې به همېشه وي او هیڅ کله به ترې خارج نه کړی شي.

۲_ اې پیغمبره! د مشرکانو بله تعجبي خبره دا ده چې ستا څخه د عذاب په نازلېدلو باندې د عجلې کولو غوښتنه کوي، دوی ته په کار ده چې د عذاب په نزول باندې د عجلې په عوض یې په ایمان راوړلو باندې عجله کړې وی. او دا خکه چې:

الف: د دوی څخه وړاندې ډېر کفار په عذابونو باندې اخته شوي او پوهنا شوي دي، ایا هغه اقدس ذات ﷻ چې پخواني کفار یې هلاک کړي دي ستا د زمانې په کفارو او مشرکانو باندې عذاب نه شي ورښکته کولی؟ ایا اوس یې قدرت کمزوری شوی دی؟!

ب: په دې باندې علاوه، د عذاب تالېدل خو د نجات معنی نه ورکوي، یقینًا ستا رب ﷻ (اې پیغمبره!) ظالمانو خلکو ته مهلت ورکوي او د استدراج په توګه ورباندې کله- کله د خپلو نعمتونو دروازې هم ورپرانیزي، اما کله یې چې د عذاب لاندې واقع کړي نو بیا پرې د نجات ټولې دروازې بندېږي او د تېښتې هیڅ لاره نه شي موندلی. دا خکه چې یقینًا ستا رب ﷻ ضرور ډېر سخت نیوونکی دی او د ډېر سخت عذاب خاوند دی.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ ای پیغمبره! د مشرکانو د تعجب دربهمه خبره دا ده چې مشرکان تاته د معجزاتو فرمایش درکوي، او بیا په خپلو مجالسو کښې وايي چې: که محمد ﷺ رښتیانی پیغمبر وي نو په ده باندې د خپل رب ﷻ د پلوه هغه معجزه ولې نازله نه شوه د کومې چې مونږ فرمایش ورکړي وه؟

د دوی ذکره شوې غوښتنه خکه تعجبي ده چې دوی هغه ټولې معجزې د پښو لاندې کړې دي کومې چې تاته ـ د قرآن کریم په شمول ـ درکړی شوې دي، دوی خپله غوښتنه په داسې ډول سره وړاندې کوي ته به وايې چې دوی ته ستا په نبوت باندې یوه معجزه هم د نظر لاندې نه ده ورغلې.

نو ای پیغمبره! دوی ته یو ځل بیا خپل ځان ورمعرفي کړه چې: زه د الله ﷻ یو مختار بنده یم چې ناسو ته یې د خپل عذاب څخه د ډارولو دپاره درلیږلی یم، د معجزاتو نزول زما په اختیار کښې نه دي، زه په تکویناتو کښې وسه او توان نه لرم، لنډه دا چې د هر قوم دپاره الله ﷻ لارښوونکي ورلیږلي دي او زه ستاسو دپاره فقط لارښوونکی یم او بس.

## توضیحات

۱ـ ځینو مفسرینو کرامو دغې جملې ﴿ وَأُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡأَغۡلَٰلُ فِيٓ أَعۡنَاقِهِمۡ ﴾ ته د قیامت د ورځې پورې ارتباط ورکړی دی[۱] یعنې د دغو مشرکانو په غاړو کښې به د قیامت په ورځ په دوزخ کښې غورابونه پراته وي چې لاسونه به یې ولچک وي. مګر مونږ ته بهتره ښکاري چې ذکره شوې جمله به د مهر څخه کنایې وي، یعنې دغه مشرکان د خپلو شرکیاتو څخه لاس نه اخلي که څه هم ډېر قناعت بښونکي دلایل ورته واورولی شي، او دا ځکه چې شرکیات د دوی سره داسې لازم ګرځېدلي دي او داسې کلک وریورې نښتي دي لکه چې په غاړو کښې یې غوراب پروت وي.

په همدې مضمون باندې بل ایت شریف شهادت ورکوي چې: ﴿ إِنَّا جَعَلۡنَا فِيٓ أَعۡنَٰقِهِمۡ أَغۡلَٰلٗا ﴾ [یس ۸] یقینًا مونږ د دوی په غاړو کښې غوراب اچولی دی. یعنې شرکیات یې په غاړو کښې ولچک دي، چې هیڅ حجت ورباندې اثر نه غورزوي.

## "حَسَنَة" او "سَيِّئَة" یعنې څه؟

۲ـ په دې جمله کښې: ﴿ وَيَسۡتَعۡجِلُونَكَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبۡلَ ٱلۡحَسَنَةِ ﴾ عبدالله بن عباس رضي‌الله‌عنهما "السَّيِّئَة" په عذاب باندې او "الْحَسَنَة" په عافیة باندې تفسیره کړې ده[۲]. یعنې کله چې مشرکانو ته د عذاب د نزول څخه د خطر اعلان وکړی شي نو دوی د مسخرو او ملنډو په توګه غواړي چې هله ژر شه عذاب راباندې رانښکته کړه، او عافیت راڅخه واخله. یا په بل عبارت: د عافیت څخه مخکښې عذاب را نازل کړه؛ حال دا چې دوی ته مناسبه وه چې د عذاب څخه وړاندې یې د عافیت ادامه غوښتې وی او د شرکیاتو څخه یې لاس اخستی وی.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۹ ص۲۸۴
(۲) البحر المحیط ج۶ ص۳۵۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدا مضمون په بل ایت کښې په صراحت سره ذکر دی چې: ﴿ وَإِذْ قَالُوا۟ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ [الأنفال: ۳۲] یعنې او (ای پیغمبره!) هغه وخت وریاد کړه چې مشرکانو وویلې چې: ای الله! که چېرې دغه قرآن کریم ستا د پلوه همدا حق وي نو په مونږ باندې د اسمان د طرفه کاڼي را وورووه، او یا مونږ ته دردناک عذاب راوله (رانازل کړه).

## "مَثُلات" څه معنی؟

۳_ "مَثُلات" د "مَثُلَةٌ" سالمه جمعه ده، سخت عذاب د "مَثُلَةٌ" په نامه ذېږي[1]. او دا ځکه چې:

الف: سخت عذاب د سخت جنایت سره مماثلت (یو رنګي) لري، چې نه ترې کم وي او نه ترې زیات وي.

ب: سخت عذاب په تاریخ کښې یو مثال پاتې کېږي چې وروستني خلک ترې عبرت اخلي او د هغه جنایت څخه خپل خانونه بچ ساتي د کوم په وجه یې چې نزول موندلی وي.

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راوځي چې: مشرکان عجیبه غوښتنه کوي چې په مونږ باندې عذاب رانازل کړه، حال دا چې په پخوانیو قومونو باندې خو ډېر عذابونه ورنازل شوي دي، دوی ته په کار وه چې د هغوی څخه یې عبرت اخستی وی او د عذاب د نزول غوښتنه یې نه وی کړې، الله ﷻ ته خو د عذاب ورنازلول کومه سختي نه لري.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې د ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ لِّلنَّاسِ عَلَىٰ ظُلْمِهِمْ ﴾ د جملې څخه څرګندېږي چې الله ﷻ ټولو خلکو ته مغفرت کوي، حال دا چې په بل ځای کښې فرمایي چې: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ ﴾ [النساء:۱۱٦] یقینًا الله ﷻ دا نه بښي چې د ده ﷻ سره شریک ودرولی شي. نو پوښتنه دا ده چې: ایا دا ایت د هغه ایت سره متضاده معنی نه ورکوي؟

مونږ وایو چې:

الف: دلته د مغفرت څخه د ګناهونو مغفرت مطلب نه دی چې ترڅو ذکر شوی اعتراض وارد شي، بلکې دلته مغفرت په لغوي معنی سره دي چې د ستر او پټوالي معنی ورکوي[2]. یعنې الله ﷻ د خلکو په نیونه کښې عجله نه کوي بلکې د عذاب په ټالولو سرهورباندې د څه وخته پورې پرده اچوي. لکه چې فرمایي: ﴿ وَلَوْ يُؤَاخِذُ ٱللَّهُ ٱلنَّاسَ بِمَا كَسَبُوا۟ مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهْرِهَا مِن دَآبَّةٍ ﴾ [فاطر:۴۵] یعنې که چېرته الله ﷻ خلک په هغو (جنایتي) کسبونو باندې (په عجله سره) نیولې نو د ځمکې په شا باندې به یې هیڅ خوځېدونکی نه وی پرېښی (او ټول به یې پوپنا کړي وی).

(۱) مفردات الراغب ص۴۸۳؛ تفسیر القاسمي ج۹ ص۳۳۰

(۲) تفسیر المحرر الوجیز ج۱۰ ص۱۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: مونږ ته داسې برېښي چې په دې مقام کښې په مغفرت په خپله اصطلاحي معنی سره وي چې دګناهونو د ښښني څخه عبارت دی، او ذکر شوی اعتراض څکه نه شي واردېدلی چې د ﴿ وَإِنَّ رَبَّكَ لَشَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴾ جمله ورپسې متصله ذکره ده او د اعتراض مخه يې بنده کړې ده، يعني: ای پیغمبره! ستا رب ﷻ د يو پلوه د مغفرت خاوند دی او د بله پلوه د کلک عذاب درلودونکی دی.

همدغه مضمون په بل ايت کښې په صراحت سره ذکر دی چې: ﴿ نَبِّئْ عِبَادِىٓ أَنِّىٓ أَنَا ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ۝ وَأَنَّ عَذَابِى هُوَ ٱلْعَذَابُ ٱلْأَلِيمُ ﴾ [الحجر: ۴۹، ۵۰] يعني ای پیغمبره! زما بندګانو ته خبر ورکړه چې يقينًا زه همدا زه بښونکی او مهربان يم او هم زما عذاب همدا دردناک عذاب دی.

## د "هَادٍ" معنی؟

۵ـ علماوو کرامو د ﴿ وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ﴾ په جمله کښې د ﴿ هَادٍ ﴾ کلمه په څو متعددو معناوو باندې تفسیره کړې ده[1] خو مونږ ته بهتره برېښي چې دلته ترې پيغمبر مراد کړی شي. نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې:

ای پيغمبره! مشرکانو لاره خطا کړې ده چې تاته د معجزاتو فرمايش درکوي، ته خو بل څوک نه يې مګر د پيغمبرانو د جملې څخه يو پيغمبر يې، مونږ خو يوه پيغمبر ته هم د معجزاتو د راوړلو واک نه دی ورکړی، د پيغمبرانو دنده فقط همدا ده چې خپلو قومونو ته د الله ﷻ ارشادات ورسوي او د باطلو څخه ورته د حقانقو په لور لاربنودانه وکړي، د الهي عذاب څخه يې وډار کړي.

همدا مضمون الله ﷻ په صراحت سره نازل کړی دی چې: ﴿ وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ ﴾ [فاطر: ۲۴] او هيڅ امت (قوم) نه دی (تېر شوی) مګر داروونکی پکښې (هم) تېر شوی دی (چې هدايت به يې ورته کاوه).

﴿ ٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا تَغِيضُ ٱلْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ۖ وَكُلُّ شَىْءٍ عِندَهُۥ بِمِقْدَارٍ ۝ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلْكَبِيرُ ٱلْمُتَعَالِ ۝ سَوَآءٌ مِّنكُم مَّنْ أَسَرَّ ٱلْقَوْلَ وَمَن جَهَرَ بِهِۦ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍۭ بِٱلَّيْلِ وَسَارِبٌۢ بِٱلنَّهَارِ ۝ لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٌ مِّنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ يَحْفَظُونَهُۥ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا۟ مَا بِأَنفُسِهِمْ ۗ وَإِذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِقَوْمٍ سُوٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُۥ ۚ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَالٍ ۝ ﴾

[۸] الله ﷻ په هغه څه باندې پوهېږي چې هره يوه ښځينه يې (په خپله ګېډه کښې) باروي او (هم) په هغه څه باندې (پوهېږي) چې رحمونه نقصان ورکوي او په هغه باندې (هم) چې زيادت ورکوي.

---

[1] زاد المسير ج ۴ ص ۳۲۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او هر شی د الله ﷻ په نزد باندې په (ټاکلې) اندازې سره دی.

[۹] (الله ﷻ) په پټو او ښکاره وو باندې عالم دی (او هم) د لويي خاوند دی (او هم په هر چا باندې) اوچت دی.

[۱۰] (همدارنګه د الله ﷻ په نزد) ستاسو د جملې څخه هغه څوک يو برابر دي چې خبره پټوي او هغه څوک چې جهر ورباندې کوي (په دواړو باندې پوهېږي)، او هغه (هم ورته په پوهه کښې يو برابر دي) څوک چې په شپه کښې پټېږي او (هغه هم څوک چې) په ورځ کښې (څپل خان) څرګندوي.

[۱۱] خاص هر بنيادم ته (د الله ﷻ د پلوه) وار په وار د پرښتو بدلېدونکې ټولګې دی (چې) د هر يوه په وړاندې او وروسته (بدلېږي رابدلېږي)، (دغه ټولګی) د الله ﷻ په امر (اذن) سره د هر بنيادم (او د ده د اعمالو) ساتنه کوي. يقيناً الله ﷻ هغه نعمت ته (د تعذيب په توګه) تغير نه ورکوي کوم چې په يوه قوم پورې پيوستون لري (ورکړی شوی وي) ترڅو چې هغوی هغه حالت ته تغير ورکړي کوم حالت چې هغوی پورې پيوستون لري (چې يا د اطاعت په عوض معصيت وکړي او يا معصيت ته زيادت ورکړي).

او کله چې الله ﷻ يوه قوم ته د بدۍ (مصيبت) اراده وکړي نو دغې (بدۍ يا مصيبت) ته بېرته ګرځېدل نشته، او (هم) دغه قوم ته د الله ﷻ څخه پرته څوک مددګار نشته.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندې ايتونو کښې الله ﷻ د خپل وحدانيت او کامل قدرت دلايلو ته د دنيا په خلقت کښې اشاره کړې وه او بيا يې د حشر څخه د مشرکانو انکار رد کړی وه. په دې ايتونو کښې يې د خپل وحدانيت او کامل علم دلايلو ته اشاره کړې ده. لنډه دا چې هلته قدرتي دلايل بيان شوي وه او دلته علمي دلايل بيانېږي.

۲ـ په دې ايتونو کښې دهغه سوال جواب ته اشاره شوې ده کوم چې د وړاندېنيو ايتونو څخه سړي ته ذهن ته ورځي، هغه دا چې د مشرکانو د فرمايشي معجزې غوښتنه د څه حکمت په بنياد باندې ونه منله شوه، چې د صفا غونډۍ سره زر جوړه شوي وی او يا د عربستان وچ کلک ډاګونه په سيندونو سره اباد شوي وی. د جواب حاصل يې دا دی چې:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! اوس په خپل امت باندې د الله ﷻ د کامل علم څه مثالونه قرائت کړه، ترڅو دوی پوه شي چې که بالفرض فرمايشي معجزات نازل هم شي مشرکان به ايمان رانه وړي. هغه دا چې:

۱ـ الله ﷻ د هرې يوې زنانه د رحم په حالاتو باندې پوره عالم دی، مثلاً:

الف: چې هلته نطفې تقرر موندلی دی او که نه، که تقرر يې موندلی وي نو:

ب: نارينه اولاد به ترې جوړ شي او که ښځينه.

ج: يو ولد به ترې وزېږېږي او که متعدد.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: د زېږېدو موده به يې لږه وي او که ډېره.
هـ: بالآخره د ولد قامت به څومره وي او قواره به يې څنګه وي او داسې نور.
۲_ د الله ﷻ په نزد: باندې هر شی په ټاکلې اندازې سره دي، د هر شي د موجوديت وخت او کيفيت ورته پوره څرګند دی چې تغير بالکل نه قبلوي.
۳_ الله ﷻ په هغو ټولو شيانو باندې پوره علم لري کوم چې ستاسو څخه غائب دي او يا درته حاضر دي، د ده ﷻ څخه هيڅ شی نه شي غائب کېدلی.
۴_ الله ﷻ لوی دی، د هيچا فکر او خيال ورته نه شي رسېدلی، او هم د اوچتې مرتبې خاوند دی او د مشرکانو د شرکياتو څخه پورته دی.
۵_ الله ﷻ د انسانانو هره يوه خبره اوري، برابره ده چې څوک يې د خپله ځانه سره پټه وکړي او يا پرې خپل اواز اوچت کړي، او هم يې هر يو حالت ګوري برابره خبره ده چې څوک په شپه کښې چرته غلی شوی وي او يا د ورځې په څرګنده توګه ګرځي راګرځي.
۶_ په دې باندې علاوه، الله ﷻ د هر انسان دپاره پرښتې ټاکلې دي چې شاوخوا يې په دوامداره توګه استوګنه کوي. دغه پرښتې د دې دپاره دي چې د الله ﷻ په امر سره د هر انسان حفاظت وکړي چې هم يې ټول اعمال وڅاري او نېک او بد يې وليکي او هم ترې د بلاګانو او آفتونو مخې ونيسي.
۷_ ای پيغمبره! مشرکان خو ستا څخه په عجله سره د عذاب نزول غواړي چې الله ﷻ ترې عافيت واخلي او په مصيبت باندې يې اخته کړي، مګر د ده ﷻ په نزد د يوه نعمت د بېرته اخستلو قانون دا دی چې هيڅکله د يو قوم حالت ته تغير نه ورکوي او ورکړی شوي نعمت ترې نه اخلي ترڅو چې هغوی خپل عقيدوي او عملي حالت ته تغير ورکړي.
نو نظر دغه قانون ته الله ﷻ د مشرکانو څخه د عافيت حالت نه اخلي او عذاب ورباندې نه ورنازلوي که څه هم دوی يې په نزول باندې عجله کوي. هو! که دوی خپل کفري او شرکي حالت ته مخ په شدت تغير ورکړي او په کفر او شرک باندې کلک شي نو بيا به ترې الله ﷻ خپل نعمت (عافيت) واخلي او عذاب به وربادې ورنازل کړي، نو کله چې د عذاب د نزول وخت پوره شي نو بيا به دوی ته هيڅوک نجات ورنه کړی شي. او دا ځکه چې کله الله ﷻ کوم قوم ته (چې خپل حالت ته يې تغير ورکړی وي) د عذاب اراده وکړي نو د عذاب مخ ترې هيڅوک نه شي اړولی، او نه هغوی ته د الله ﷻ څخه په غير څوک کارساز مونده کېږي چې نجات ورکړي.
نو نظر دغه قانون ته د مشرکانو په لور باندې الهي عذاب ور روان دی چې کفري حالت يې مخ په شدت باندې روزمره تغير خوري، دوی که عذاب وغواړي او که يې ونه غواړي ضرور به په مصيبت باندې اخته شي او عافيت به يې د زوال سره مخامخ شي.

## توضيحات

۱_ د ﴿ اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنْثٰى ﴾ په جمله کښې د ﴿ أُنْثٰى ﴾ د کلمې څخه د هر ساکښ

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بنخینه مطلب ده[۱]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې الله ﷻ د هر ساکښ په بارداره ښځینه باندې پوه دی، برابره خبره ده چې د انسانانو ښځه وي او که د نورو حیواناتو ښځه، چې څه وخت بارداره شوې ده او څه وخت به خپل بار (حمل) وضعه کوي.

۲_ د ﴿ وَمَا تَغِيضُ ٱلْأَرْحَامُ ﴾ په جمله کښې د ﴿ تَغِيضُ ﴾ کلمه د "غَيْضٌ" ـ لکه "بَيْعٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "غَيْضٌ" خو د اوبو کمېدلو او جذب کېدلو ته ویل کېږي[۲] مګر څرنګه چې په دې مقام کښې یې په مقابل کښې د ﴿ تَزْدَادُ ﴾ جمله نازله شوې ده، چې د زیادت معنی ورکوي، نو د "غَيْضٌ" د کلمې څخه دلته نقصان مراد دی. نو دمعنی حاصل یې داسې راځېژي چې الله ﷻ لکه څنګه چې د هر ښځینه په رحم باندې عالم دی، چې د بچوړي تخم (نطفه) یې پورته کړې ده او که نه، همدارنګه د هر یوه رحم په کمبودولو او زیاتولو باندې یې هم عالم دی.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: د رحم کمبودول او زیاتول د څه شي څخه عبارت دي؟

مونږ وایو چې: علماوو کرامو د کمبودولو او زیاتولو دپاره ډېرې معناوې کړې دي[۳]. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: زیادت او نقصان په حسن کښې دی، چې بچوړی به ښائسته وي او که بدرنګ.

ب: په درجه کښې به پورته وي لکه نارینه، او که به ښکته وي لکه ښځینه.

ج: په اعضاوو کښې به ناقص وي او که پوره.

د: په قامت کښې به ټیټ (لنډی) وي، که لوړ او یا متوسط.

هـ: لږ وخت به په رحم کښې پاتې شي او که ډېر وخت.

و: د وخت څخه وړاندې به یې وغورزوي او که د حمل موده به یې پوره شي.

ز: بالآخره د مور په ګېډه کښې به یو بچوړی موجودیت لري او که څو متعدد بچیان.

زمونږ په فکر علماوو کرامو به د کمبودولو او زیاتولو محض څو مثالونه ښودلي وي او حصر به یې مطلب نه وي، نو حاصل به یې داسې را وځېژي چې الله ﷻ د هغې نطفې په ټولو حالاتو کیفیاتو باندې عالم دی کوم چې هغې ته په رحم کښې او یا د رحم څخه په بهر وتلو کښې وربېښېږي، حال دا چې د الله ﷻ څخه په غیر بل هیچا ته په ذکرو شوو ټولو کیفیاتو باندې علم نشته.

## یادونه

۴_ هېر مو نه شي چې په انسانانو کښې هم څه لږې نه ده چې د یوې زنانه څخه د لږمې په خبر

(۱) البحر المحیط ج۶ ص۳۵۶

(۲) لسان العرب ج۷ ص۲۰۱

(۳) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۱۰۹؛ تفسیر القاسمي ج۹ ص۳۳۴؛ زاد المسیر ج۴ ص۲۲۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کې شمېر بچیان غبرګوني وزېږېږي، چې علماوو کرامو پکښې خپل معلومات داسې لیکلي دي[۱]:

الف: د ابو حنیفه رحمه الله معلومات دا دي چې تر اوسه پورې تر څلورو ماشومانو پورې یوې زنانه غبرګوني زېږولي دي او بس.

ویل کېږي چې د مدینې منورې مشهور فقیه شُریک بن عبد الله رحمه الله د څلورو ماشومانو څلورم ماشوم وه چې غبرګوني زېږېدلي وه.

ب: الشافعي رحمه الله وايي چې ماته د پنځو غبرګونو ماشومانو خبر هم رارسېدلی.

ج: ځینې لا وايي چې یوې زنانه څلوېښت تنه ماشومان غبرګوني زېږولي وه، چې هر تن د یوې ګوتې د اندازې څخه غټ نه وه. (خو غالبه دا ده چې دا به محض افسانه وي او څه واقعیت به نه لري، والله ﷻ أعلم.)

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وايي چې په موجوده زمانه کښې داسې آلات شته چې ډاکتران پرې په رحم کښې د بچورې نر او ښځه معلومولی شي، نو ایا په ما في الارحام (هغه څه چې په ارحامو کښې وي) باندې علم او پوهه یوازې الله ﷻ پورې اختصاص لري؟!.

مونږ وایو چې:

الف: د ﴿ ٱللَّهُ يَعۡلَمُ مَا تَحۡمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ ﴾ د جملې څخه څرګندېږي چې الله ﷻ په ما في الارحام باندې آن د نطفې په حال کښې دا علم لري چې د دې څخه نارینه جوړېږي او که ښځینه؟؛ او پوره واضحه ده چې په دغه حالت کښې یې ډاکټران د معلومولو ادعاء نه شي کولی.

ب: الله ﷻ د ما في الارحام په ټولو کیفیاتو باندې پوه دی او تر اوسه پورې د ټولو کیفیاتو د معلوماتو دعوه هیچا نه ده کړې، چا نه دي ویلي چې د دغې نطفې څخه به ښائسته یا بد رنګ، اوږد یا لنډ او بالآخره نېکخویه یا بدخویه بنیادم جوړ شي او داسې نور.

ج: په دې باندې علاوه، الله ﷻ د ما في الارحام علم په خپل اقدس ذات پورې خاص ښودلی دی، او علم هغه دی چې د تخلف امکان ونه لري او بالیقین ثابت وي چې دا به همداسې کېږي. اما د اوسنیو ډاکترانو کشفیاتو ته په ذکره شوې معنی باندې د علم لقب نه شي ورکول کېدلی خکه چې هغوی بالیقین نه شي ویلی چې دا به همداسې وي او هیڅکله به زمونږ کشفیات غلط ونه خېژي. د ښه وضاحت دپاره لاندې لنډکی قیصه ولولئ:

همدا تېر کال[۲] یوه سرې خپله بارداره ماندینه په لابراتوار کښې معاینه کړه او نتیجه یې واخستله چې نن سبا به د زوی پلار شي او د ماندینې په رحم کښې یې نارینه بچوری قرار لري. څرنګه چې د نومورې نارینه اولاد نه وه نو د ډېرې خوشالۍ څخه یې ډاکترانو ته پنځه سوه (۵۰۰)

---

(۱) روح المعاني ج۱۳ ص۱۰۹؛ تفسیر المظهري ج۵ ص۲۱۹

(۲) ۱۳۷۵ هـ ش

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



روښې به زيږي کښې ورکړي، مګر څو ورځې وروسته ذکري شوي ماندينې لوړ وزږيږوله او د نومړيو سړي تولې آرزوګانې د خاورو سره برابري شوي.

## "سارب" څه معنی؟

۶_ د ﴿ وَسَارِبٌۢ بِٱلنَّهَارِ ﴾ په جمله کښې د ﴿ سَارِبٌ ﴾ کلمه ځينو علماوو کرامو د "سَرَب" لکه "شَرَف"_ څخه اشتقاقه ګڼلې ده چې "سَرَب" طريقې ته ويل کيږي[1] نو د معنی حاصل يې داسې اخستی دی چې الله ﷻ په هغه چا باندې هم عالم دی چې د ورځې په کومه طريقه باندې د خپلو احتياجاتو په پوره کولو کښې چاپېره وي، هر ډول احتياج چې وي.

اما مونږ ته بهتره ښکاري چې ذکره شوې کلمه به د "سُرُوب" لکه "قُعُود"_ څخه اشتقاقه شوي وي[2] چې د بروز (څرګندېدلو) معنی ورکوي، نو مونږ څکه دا اشتقاق خوښ کړ چې په مقابل کښې يې د ﴿ مُسْتَخْفٍۭ بِٱلَّيْلِ ﴾ کلمات نازل شوي دي نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې الله ﷻ په هغه چا باندې هم عالم دی چې په توره شپه کښې چرته غلی شي او په هغه چا باندې هم پوه دی چې د ورځې د مخې په څرګنده توګه په خپلو کارو باندې مشغول وي او ګرځي راګرځي.

## د "مُعَقِّبَاتٌ" د کلمې تحليل

۷_ د ﴿ لَهُۥ مُعَقِّبَٰتٌ مِّنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ يَحْفَظُونَهُۥ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ ﴾ په جمله کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده، ترڅو مطلب ښه واضحه شي:

الف: په دې خبره کښې علماوو کرامو متعدد قولونه کړي دي[3] چې د "له" په کلمه کښې ضمير څه شي ته راجع دی، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دغه ضمير به انسان (بنيادم) ته راجع وي چې په وړاندې ايت کښې ورته په ﴿ مَّنْ أَسَرَّ ٱلْقَوْلَ وَمَن جَهَرَ بِهِۦ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍۭ بِٱلَّيْلِ وَسَارِبٌۢ بِٱلنَّهَارِ ﴾ سره اشاره شوې ده.

مونږ څکه ذکره شوی مرجع خوښه کړه چې د ﴿ يَدَيْهِ ﴾، ﴿ خَلْفِهِ ﴾، ﴿ يَحْفَظُونَهُۥ ﴾ دريواړه ضمائر بنيادم ته راجع دي، نو په دې توجيه سره په ضميرونو کښې انتشار (خوروالی) نه واقع کيږي.

ب: د ﴿ مُعَقِّبَٰتٌ ﴾ کلمه د "مُعَقِّب" دپاره جمع الجمع ده، څکه چې "مُعَقِّب" په "مُعَقِّبَة" سره جمعه شوي او بيا يې په "معقبات" سره جمعيت موندلی دی[4].

ج: د "مُعَقِّب" کلمه اصلاً د "عَقِب" لکه "شَرَف"_ څخه اشتقاقه شوي ده. "عَقِب" پوندې ته ويل کيږي، نو "مُعَقِّب" د هغه چا دپاره نوم دی چې بل چا پسې متصل روان وي، ته به وايې چې د خپلو

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۳۴؛ روح المعاني ج۱۳ ص۱۱۰

(۲) تفسير ابي السعود ج۵ ص۸

(۳) زاد المسير ج۴ ص۳۰۳؛ روح المعاني ج۱۳ ص۱۱۵

(۴) تفسير القرطبي ج۹ ص۲۹۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پېنو د ګوتو په څوکو باندې د وړاندېني نفر پونډۍ مسه کوي[۱].

د: په دې مقام کښې د ﴿ مُعَقِّبَٰتٌ ﴾ د کلمې څخه د پرښتو هغه ټولګۍ مراد دی کوم چې په شپه او ورځ کښې خپل ماموريت بدلوي او د شپې او ورځې د انسان څخه نه جدا کېږي. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «يَتَعَاقَبُونَ فِيكُمْ مَلَائِكَةٌ بِاللَّيْلِ وَمَلَائِكَةٌ بِالنَّهَارِ وَيَجْتَمِعُونَ فِي صَلَاةِ الْعَصْرِ وَصَلَاةِ الْفَجْرِ ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِينَ بَاتُوا فِيكُمْ فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِي فَيَقُولُونَ تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ وَأَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّونَ»[۲] يعنې د الله ﷻ خاص بندګان په تاسو کښې نوبت په نوبت څې راځي، يو ټولګی پرښتې په شپه کښې په تاسو کښې اوسېږي او يو بل ټولګی په ورځ کښې ستاسو سره ملازمت کوي، دغه دواړه ټولګي د سبا په لمانځه کښې او د ماز يګر په لمانځه کښې ستاسو په نزد سره جمعه کېږي، چې يو ټولګی تازه راغلی وي او د بل ټولګی نوکري ختمه شوې وي. بيا کله چې هغه ټولګی پورته اسمان ته وخېژي کوم چې په تاسو کښې يې شپه تېره کړې وي نو خپل رب ﷻ د دوی څخه پوښتنه وکړي ـ حال دا چې الله ﷻ پرې ښه پوه دی ـ چې زما بندګان مو په څه حالت کښې پرېښوده؟ نو دوی به جواب ورکړي چې: ای ربه! مونږ په داسې حال کښې پرېښودل او ترې راغلو چې په لمانځه باندې وه او کله چې مونږ ورغلو هم دوی په لمانځه باندې وه.

هـ: شايد چې د ﴿ مِّنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَمِنۡ خَلۡفِهِۦ ﴾ دواړه کلمې به د مثال په توګه د ملازمت څخه کنايي وي، څکه چې الله ﷻ د همدغو پرښتو په هکله په بل ايت کښې ښی اړخ او چپ اړخ ذکر کړی دی چې: ﴿ إِذۡ يَتَلَقَّى ٱلۡمُتَلَقِّيَانِ عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ قَعِيدٞ ﴾ [ق: ۱۷] يعنې: هغه وخت ياد کړه چې دوه اخستونکې پرښتې (نېک يا بد عملونه) اخلي چې د ښي طرف څخه او د ګين طرف څخه ورته ناستې وي.

و: د ﴿ يَحۡفَظُونَهُۥ ﴾ کلمه د "حفظ" څخه اخستلې شوې ده چې د ساتنې معنی ورکوي، نو په دې مقام کښې علماء کرام لاندې دوه نظره لري[۳]:

اول: دلته هغه ملائک مراد دي کوم چې د بندګانو اعمال او اقوال حفظ کوي، د کتابت لاندې يې واقع کوي، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَإِنَّ عَلَيۡكُمۡ لَحَٰفِظِينَ ۝ كِرَامٗا كَٰتِبِينَ ﴾ [الإنفطار: ۱۰، ۱۱] يعنې يقينًا په تاسو باندې د الله ﷻ د پلوه ستاسو د اعمالو د ښه حفاظت دپاره داسې ساتونکې پرښتې مقررې کړې دي چې د الله ﷻ په نزد باکرامته ليکونکې دي.

دوهم: څيني نور وايي چې هغه ملائک مراد دي کوم چې انسانان د آفتونو او مصيبتونو څخه ساتي لکه چې همدا مضمون د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه هم روايت شوی دی[۴].

---

(۱) تفسير القاسمي ج۹ ص۳۲۷

(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۷۹؛ مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۱۸۷

(۳) تفسير ابن کثير ج ص۵۰۳؛ تفسير ابي السعود ج۵ ص۸

(۴) تفسير الطبري ج۱۳ ص۱۱۵؛ الدر المنثور ج۴ ص۶۱۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خینو مفسرینو کرامو د همدغو پرښتو عدد درې سوه (۳۰۰) ښودلی دی[۱] والله ﷻ أعلم بحقیقة الحال والیه المرجع والمآل.

مونږ ته داسې برېښي ـ والله ﷻ أعلم ـ چې په دې مقام کښې به دواړه ډولو ملائکو ته اشاره وي. ځکه چې د وړاندېني ایت غوښتنه دا ده چې دلته "کرامًا کاتبین" مطلب شي. یعنې: برسېره په دې چې د الله ﷻ ځخه د بنیادمانو هیڅ کړه وړه او هیڅ خبره پټه نه ده، د دوی د اعمالو او اقوالو د لیکنې دپاره په دائمي توګه ورسره پرښتې هم موجودیت لري چې هرڅه یې حفظ کوي او هیڅ شی ترې نه ضائع کېږي.

اما د دې ایت د اختتام غوښتنه دا ده چې دلته دې د حفاظت پرښتې مرادې شي. یعنې: که څه هم په بنیادمانو باندې د الله ﷻ د پلوه پرښتې مقررې دي چې د مصیبتونو ځخه یې ګوښه وساتي مګر کله چې د الله ﷻ اراده وشي نو بیا هیڅوک د مصیبت مخه نه شي نیولی.

ز: د ﴿ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ ﴾ د "من" په توري کښې هم علماوو کرامو متعددې معناوې اخستې دي[۲] مګر کومه معنی چې مونږ ته په زړه پورې او متبادره برېښي هغه دا ده چې په دې مقام کښې د "من" توری د "ب" د توري معنی ورکوي[۳]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې ذکرې شوې وار په وار راتلونکې پرښتې د الله ﷻ په امر او اجازه سره د بنیادمانو کړه وړه په کتابت سره ساتي او هم د دوی ځخه د بلاګانو او آفتونو مخه نیسي او بس.

## یادونه

۸ـ دغه ډول ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا۟ مَا بِأَنفُسِهِمْ ﴾ یوه جمله وړاندې د [الأنفال: ۵۳] ایت کښې تېره شوې ده چې مونږ پکښې ـ لله الحمد ـ مناسب بیان هلته لیکلی دی. اما په دې مقام کښې وړباندې لاندې سوال جواب وراضافه کوو:

## سوال جواب

۹ـ که څوک وایي چې د ذکر شوي قانون د عمومیت په هکله د سړي په ذهن کښې دا اشتباه ګرځي راګرځي چې الله ﷻ کله-کله د هغو کسانو ځخه هم خپل نعمت (عافیت) اخلي او په مصیبت باندې یې اخته کوي کومو چې خپل حالت ته هیڅ تغیر نه وي ورکړی لکه پیغمبران (چې بالکل د جنایت ځخه معصوم دي)، او یا هغه غیر معصوم چې هغه پخپله خپل حالت په جنایت سره نه وي تغیر کړی خو دده ځخه په غیر نورو خلکو تغیر کړی وي. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

الف: یوه ورځې سعد بن ابي وقاص ؓ د نبي کریم ﷺ ځخه پوښتنه وکړه چې په خلکو کښې هغه څوک دي چې د مصیبت د نزول د حیثه په نورو باندې سخت وي؟ یعنې سخت مصیبت په چا باندې

---

(۱) روح المعاني ج۱۳ ص۱۱۳
(۲) زاد المسیر ج۴ ص۲۳۰
(۳) تفسیر القرطبي ج۹ ص۲۹۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نازلیږي؟ نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې جواب ورکړ چې: «الأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الأَمْثَلُ فَالأَمْثَلُ»[۱] یعني په پیغمبرانو علیهم السلام باندې سخت مصیبتونه ورنازلیږي، بیا په نورو خلکو کښې د هغه چا مصیبت سخت وي چې په دیني رتبه کښې لوړ وي، او بیا هغه څوک چې د دوی پسې وي.

ب: بي بي زینب رضی الله عنها (أم المؤمنین) په یوه اوږده حدیث کښې وایي چې: ما د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې ای د الله رسوله! ایا مونږ به په داسې حال کښې هم هلاکیږو (عذاب به راباندې نازلیږي) چې په مونږ کښې به صالحان هم موجودیت ولري؟ نو نبي کریم ﷺ جواب راکړ چې: «نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ»[۲] هو! کله چې (په تاسو کښې) پلیتي (ګناهونه) ډېر شي، (نو صالحان به هم په مصیبت باندې اخته کیږي).

مونږ وایو چې: د ذکر شوي اشتباه د پورته کولو دپاره علماء کرام وایي چې:

اول: دا قانون په اقوامو کښې دی، اما اشخاص کله-کله پرته د جنایت څخه هم په عذاب باندې اخته کیږي[۳].

دوهم: دا قانون کلي نه دی (چې یو فرد هم ترې نه وي وتلی)، بلکې دا قانون اکثري دی. یعني الله ﷻ په اکثره اوقاتو کښې ذکر شوی قانون عملي کوي او کله-کله پرته د جنایت څخه هم خپل نعمت اخلي[۴].

مګر مونږ ته ذکر شوي دواړه جوابونه په زړه پوري نه بریښي ځکه چې د یو پلوه متبادر نه دی او د بله پلوه یې په ثبوت باندې کوم دلیل نشته، محض عقلي احتمالات دي.

دریم: مونږ ته داسې بریښي چې ذکر شوی قانون عام دی، په اقوامو پورې خانګړی نه دی. مګر د سیاق او سباق (وړاندې او ډېرته) بحث په نظر کښې نیولو سره پکښې د یوه قید مراعات ضرور دی هغه دا چې د مصیبت نزول به د تعذیب د کبله وي، نه چې د اجرونو د ورکولو او مراتبو د پورته کولو د کبله وي. او دا ځکه چې کله-کله په ښو متقیانو باندې هم مصیبتونه ورنازلیږي خو د دې کبله نه چې الله ﷻ ورته په غضب دی بلکې د دې کبله چې مراتب یې لوړ کړي او د ګناهونو مغفرت ورته وکړي او یا یې د امتحان لاندې واقع کړي. همدارنګه کله-کله د مجرمانو په ضمن کښې صالحانو ته هم مصیبتونه رسیږي خو د الله ﷻ د غضب د کبله نه بلکې د مراتبو او اجرونو د لوړولو دپاره. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

الف: «إِنَّ عِظَمَ الْجَزَاءِ مَعَ عِظَمِ الْبَلَاءِ وَإِنَّ اللهَ إِذَا أَحَبَّ قَوْمًا ابْتَلَاهُمْ فَمَنْ رَضِيَ فَلَهُ الرِّضَا وَمَنْ سَخِطَ فَلَهُ السُّخْطُ»[۵] یعني د جزا لویوالی د مصیبت د لویوالي سره دی، او یقینًا کله چې الله ﷻ یو قوم

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۲۹۱
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۳۸۸
(۳) تفسیر القاسمي ج۹ ص۳۴۱
(۴) روح المعاني ج۱۳ ص۱۱۶
(۵) جامع الترمذي ج۲ ص۶۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



محبوب وګرځوي نو په مصیبت باندې یې اخته کوي، نو څوک چې (د الله ﷻ په قضاء باندې) راضي شي هغه ته د الله ﷻ رضا ده، او څوک چې (پرې) په غُصه شي هغه ته (د الله ﷻ) غضب دی.

ب: نبي کريم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَلا يَزَالُ الْبَلاءُ بِالْعَبْدِ حَتَّى يَمْشِيَ عَلَى الأَرْضِ وَمَا لَهُ خَطِيئَةٌ»[۱] یعنې همېشه دی مصیبت په یوه بنده (چې ورباندې ورنازلېږي او ګناهونه یې پرې محوه کېږي) آن تردې چې په ځمکه باندې په داسې حال کښې ګرځي راګرځي چې ده لره ګناه نه وي (ورته بښلې شوې وي).

ج: نبي کريم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ يُرِدْ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُصِبْ مِنْهُ»[۲] یعنې هرچا ته چې الله ﷻ د خیر اراده وکړي نو هغه ته د خپله جانبه مصیبت ورسوي.

د: نبي کريم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې په یو وخت کښې به فاجر لښکر په ځمکه کښې خسف کړی شي که څه هم ځینې لښکریان به فاجران نه وي او په زور باندې به په لښکر کښې شامل کړی شوي وي «وَلَكِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى نِيَّتِهِ»[۳] مګر د قیامت په ورځ به د خپل نیت په مطابق راپورته کړی شي.

ه: نبي کريم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا سَبَقَتْ لِلْعَبْدِ مِنَ اللهِ مَنْزِلَةٌ لَمْ يَبْلُغْهَا بِعَمَلِهِ ابْتَلاهُ اللهُ فِي جَسَدِهِ أَوْ فِي مَالِهِ أَوْ فِي وَلَدِهِ ثُمَّ صَبَّرَهُ حَتَّى يُبْلِغَهُ الْمَنْزِلَةَ الَّتِي سَبَقَتْ لَهُ مِنْهُ»[۴] یعنې کله چې یوه بنده ته د الله ﷻ د پلوه (په تقدیر کښې) یوه درجه وړاندې لیکلی شوې وي (خو) هغې ته په خپل عمل سره نه شي رسېدلی نو الله ﷻ یې یا په بدن کښې په مصیبت باندې اخته کوي او یا په مال کښې او یا په اولاد کښې، بیا الله ﷻ نوموړي مصاب بنده ته صبر ورروزي کوي آن تر دې چې (په صبر باندې) یې هغې درجې ته ورسوي کومه چې ورته د همده ﷻ د پلوه وړاندې لیکلې شوې وي.

و: نبي کريم ﷺ به چې کله د اسمان غرهار او د تندرونو ږغهار واورېد نو داسې سوال به یې کاوه چې: «اللَّهُمَّ لا تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ وَلا تُهْلِكْنَا بِعَذَابِكَ وَعَافِنَا قَبْلَ ذَلِكَ»[۵] ای الله! مونږ په خپل غضب باندې قتل نه کړې، او هم مو په خپل عذاب باندې هلاک نه کړې، او د دغو (شیانو) څخه وړاندې راته عفوه وکړې.

په دغه حدیث کښې نبي کريم ﷺ د هغه مصیبت څخه د نجات سوال نه دی کړی کوم چې د اجرونو او ثوابونو (مراتبو د لوړولو) دپاره وي بلکې د هغه مصیبت څخه یې نجات غوښتی دی کوم چې د الله ﷻ د غضب او د عذاب څخه نمایندګي کوي.

پاتې شوه دا خبره چې نن ورځ به مصیبت خپلې څه پوه شي چې دا مصیبت د الهي عذاب څخه

---

(۱) سنن الدارمي ج۲ ص۲۲۸
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۸۴۳
(۳) صحيح مسلم ج۲ ص۳۸۸
(۴) مسند احمد حنبل ج۸ ص۳۱۵
(۵) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۴۲۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نمايندګي کوي او که د اجرونو مراتبو پورې تړاو لري؟.

نو د دې پوښتنې جواب دا دی چې دا د ليلة القدر غوندې يوه پټه معما ده، بايد په مصيبت باندې اخته سړی توبې او د عمل اخلاص ته پاملرنه وکړي او نور يې الله ﷻ ته وسپاري ترڅو د قيامت په ورځ اصلي حقيقت څرګند شي.

﴿ هُوَ ٱلَّذِى يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنشِئُ ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ ۝١٢ وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعْدُ بِحَمْدِهِۦ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِۦ وَيُرْسِلُ ٱلصَّوَٰعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَن يَشَآءُ وَهُمْ يُجَٰدِلُونَ فِى ٱللَّهِ وَهُوَ شَدِيدُ ٱلْمِحَالِ ۝١٣ لَهُۥ دَعْوَةُ ٱلْحَقِّ وَٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُم بِشَىْءٍ إِلَّا كَبَٰسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَٰلِغِهِۦ وَمَا دُعَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ ۝١٤ وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَظِلَٰلُهُم بِٱلْغُدُوِّ وَٱلْأَصَالِ ۩ ۝١٥ ﴾

[۱۲] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو ته د ډار او تمې (د پيدا کولو) دپاره برېښنا درښايي، او (هم د نشت څخه په باران باندې) درنې وريځې پيدا کوي (پورته کوي).

[۱۳] او (هم) د الله ﷻ د حمد سره (د رعد په نوم) پرښته (د همده ﷻ) تسبيحات وايي او (نورې) پرښتې هم د ده ﷻ د ډار څخه (د ده ﷻ تسبيحات او حمد وايي)، او (هم الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې) تندرونه (د اسمانه) رالېږي (راغورزوي) نو هغه چاته يې رسوي کوم ته چې د همده ﷻ اراده وشي (او نور خلک ترې بچ کوي)، او (د ذکر شوي څرګند قدرت سره-سره) مشرکان (کفار) د الله ﷻ په هکله جګړې کوي (او ترې نه ډارېږي) حال دا چې همدی ﷻ (په عذاب سره) کلک نيوونکی دی.

[۱۴] خاص همده ﷻ ته حقه بلنه ده (د همده ﷻ بلل حقيقت لري)، او هغه کسان چې مشرکان يې د همده ﷻ څخه په غير بلي هغوی به مشرکانو ته په هيڅ شي سره د بلنې قبول ونه کړي، (د دوی مثال نه دی) مګر د هغه چا غوندې دی چې دواړه ورغوي (لاسونه) يې (ژورو) اوبو ته ورغزولي وي چې خولې ته يې ور ورسېږي (ورپورته شي)، حال دا چې (نوموړې) اوبه د هغه خولې ته ور رسېدونکې (ورپورته کېدونکې) نه دي (چې نه يې بلل اورېدلی شي او نه يې لاسونه ورته رسېدلی شي). او (حقيقت دا دی چې) د کفارو بلل نه دي مګر په ګمراهۍ کښې دي (چې ګټه ورته نه کوي).

[۱۵] او خاص الله ﷻ ته په خوښه او ناخوښه هغه څوک سجده کوي (د تکويني اوامرو اطاعت يې کوي) څوک چې په اسمانونو کښې دي او (څوک چې) په ځمکو کښې (دي) او (همدارنګه) د هغوی سورې هم په ټولو سباګانو او ټولو ماښامونو کښې (د الله ﷻ تکويني اوامرو ته سر په سجده دي).

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

۱_ په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ په خپل وحدانیت او قدرت باندې علمي دلایلو ته اشاره کړې وه او په دې ایتونو کښې په عین مطلب باندې د کائنات الجو دلایلو ته اشاره کېږي، چې د ځمکې او اسمان ترمنځ تحقق مومي.

۲_ هلته د هغو ملائکو بیان وه کوم چې د بنیادمانو په حفاظت کښې مشغولې دي او دلته هغو ملائکو ته اشاره ده چې د دوی په حوائجو پوره کولو کښې مشغولتیا لري، لکه بارانونه او نور.

۳_ هلته بنیادمان متوجه کړی شوي وه چې په عذاب باندې اخته کول او هم د عذاب څخه بچ کول فقط د الله ﷻ په اختیار کښې دي، په دې ایتونو کښې د یو پلوه د همدغه مطلب یو مثال ښودلی شوی دی، چې په اسماني برېښناګانو کښې هم د عذاب خطره شته او هم پکښې د باران او رحمت تمه نغښتې ده، او د بله پلوه د الله ﷻ څخه په غیر د نورو معبودانو د ناتوانۍ دپاره یو ډېر موثر مثال ښودلی شوی دی.

## شان نزول

د ذکرو شوو ایتونو دپاره مفسرینو کرامو متعدد شان نزولونه روایت کړي دي[1] او څه لرې نه ده چې دا ایتونه په ټولو واقعاتو کښې نازل شوي وي، او دا ځکه چې سلفو صالحینو خو په مصداقاتو باندې هم د شان نزول اطلاق کاوه[2]؛ مګر مونږ یوازې د انس بن مالک ﷺ د روایت په ذکر باندې اکتفاء کوو چې لنډ مضمون یې دا دی:

یوه ورځې نبي کریم ﷺ نوموړی صحابي ﷺ یوه غټ کافر ته ورولېږه او امر یې ورته وکړ چې دلته یې راوله! خو دغه کافر د نبي کریم ﷺ درې ځله تکراري دعوت هم قبول نه کړ او په هر ځل به یې د نوموړي صحابي ﷺ څخه پوښتنه کوله چې: الله ﷻ د سرو زرو څخه جوړ دی، که د سپینو زرو څخه او که د زیړو څخه؟

نوموړی صحابي ﷺ وایي چې: ذکر شوی غټ کافر زما سره په دربم: دوره خبرو باندې بوخت وه چې یوه وریخ د ده د سر په برابر باندې راپورته شوه او هلته وپرقېده، چې یو تندر ترې راولوېده او د هغه کوپړۍ یې هواره کړه؛ نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه او همدغې واقعې ته یې اشاره وکړه[3].

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! په خپل امت باندې دې د الله ﷻ لاندې اختصاصي صفات هم قرائت کړه ترڅو دوی د خپل رب ﷻ په وحدانیت باندې ښه باوري شي. هغه دا چې:

۱_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د اسمان او ځمکې ترمنځ تاسو ته برېښنا درښایي چې په هوا

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۵۰۵. المحرر الوجیز ج۱۰ ص۲۷
(۲) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲
(۳) اسباب النزول للواحدي ص۱۸۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کېږي خلبرېږي. چې د يوه پلوه تاسو تمه کوئ او د باران نښې نښانې پکښې ګورئ او د بله پلوه تاسو وارېږئ چې کومه تکه دربانديې راپرېوځي. ايا د الله ﷻ څخه پرته څوک په هوا کښې برېښناګانې پيدا کولی شي؟

۲ـ په دې باندې علاوه، الله ﷻ په اوبو باندې درنې او ډکې وريځې راپيدا کوي، په هوا کښې د يوه ځای څخه بل ځای ته حرکت ورکوي. ايا د همده ﷻ څخه په غير بل څوک دا کار کولی شي؟

۳ـ د دې کبله چې ذکر شوي کارونه د الله ﷻ د خواصوڅخه دي، پخپله د آسمان ګړزهار او غرهار د حال په ژبه د الله ﷻ دپاره د يو پلوه تسبيحات وايي او د بله پلوه د همده ﷻ حمدونه او ستاينې څرګندوي.

او همدارنګه هغه پرښتنه هم چې په بارانو باندې مقرره ده، د قال په ژبه اقرار او اعتراف کوي چې ذکر شوي کارونه همده ﷻ پورې اختصاص لري او د همده ﷻ حمدونه وايي. په دې باندې علاوه ټول ملائک هم د حمد سره ملګري تسبيحات وايي او د خپل خوف او ډار څرګندونه کوي.

۴ـ بنيادمان خکه د برېښناګانو او ګړزهار په وخت کښې برسېره په تمې د ډار سره هم مخامخ کېږي چې د همدغه پړقهار او غرهار په ضمن کښې کله- کله الله ﷻ بې شمېره تندرونه رابښکته کوي او په هغه چا باندې تکي غورزوي چې اراده يې ورته وشي.

۵ـ ای پيغمبره! د ذکرو شوو څرګندو دلايلو د ليدلو سره سره مشرکان او ستا د امت کافران د الله ﷻ په باره کښې ستا سره جګړې کوي او په دلايلو باندې قناعت نه کوي، حال دا چې الله ﷻ په عقوبت (عذاب) سره د سختو نيولو خاوند دی، نو دوی ته په کار وه چې په دلايلو باندې يې قناعت کړی وی او خپل خانونه يې په لوی لاس د الله ﷻ په عذاب باندې نه وي اخته کړي.

۶ـ د ذکرو شوو دلايلو په نظر کښې نيولو سره هر چاته ضرور دي چې فقط او فقط په الله ﷻ باندې د آفتونو څخه پنا وغواړي او د همده ﷻ څخه د خپلو احتياجاتو د پوره کولو غوښتنه وکړي، خکه چې حقاني او واقعي بلنه په همده ﷻ پورې اختصاص لري چې هر شی د همده ﷻ په واک او اختيار کښې دی او بس.

۷ـ نو هر څوک چې د الله ﷻ څخه پرته د بل شي بلنه کوي او د خپلو احتياجاتو پوره کول ترې غواړي د هغوی مثال داسې دی لکه چې څوک د کوهي په غاړه ولاړ وي او اوبو ته يې خپل دواړه لاسونه وراوږده کړي وي او ورته وايي چې ای اوبو! هلئ ژر شئ راپورته شئ چې زه دربانديې خپله تنده ماته کړم. نو که نوموړی کس ډېر الحاح هم وکړي او ډېره اوږده زمانه يې هم خپل لاسونه اوږده کړي وي هيځکله به اوبه په خپل سر باندې ورپورته نه شي او نه به د ده سوال او زاری واوري. او دا خکه چې اوبه خو د بوتانو غوندې جمادات دي، نه څه اوري او نه څه ګوري.

دغه مثال کټ مټ په کفارو باندې تطبيق دی چې جماداتو او هغو شيانو ته يې لاسونه اوږده کړي دي چې نه د دوی سوالونه اوري او نه يې د څه شي ورکړه د لاسه پوره ده، د همدې کبله د کفارو بلنه او غوښتنه فقط په بې فائدې او بې ګټې کارونو کښې مصرفېږي او بس.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د کفارو څخه په غیر بل هیڅوک او هیڅ شی نه ذکر شوو جماداتو (بوتانو) ته عبادت کوي او نه د عبادت لیاقت لري.

۸_ بالمقابل هغه څوک چې په اسمانونو او ځمکو کښې دي دوی ټول خاص الله ﷻ ته په سجده دي، ټول يې په عبادت باندې مشغول دي او بالآخره ټول د ده ﷻ د اوامرو منونکي دي، البته د اوامرو په مننه کښې يې دومره فرق شته چې:

ملائک او مسلمانان بندګان په خوښه الله ﷻ ته په سجده پراته دي او په اختیار سره يې په عبادت باندې مشغول دي، او کفار بندګان د الله ﷻ اوامر مني خو په اختیار سره نه بلکې په ناخوښه وربانديې د الله ﷻ اراده تطبیقیږي، چې د مرګ او درد څخه خانونه نه شي بچ کولی او د خپلو خانونو څخه مرضونه نه شي پورته کولی.

۹_ بالآخره ټول سوري الله ﷻ ته عاجزي کوي او د اوامرو اطاعت يې کوي، د همدې کبله په ټولو سباګانو او ټولو بېګاګانو کښې تاوېږي او راتاوېږي او چا پورې چې مربوط وي د هغه شاوخوا اوړي او را اوړي.

يا په بل عبارت: د کافرانو سیوري د الله ﷻ اطاعت کوي او پخپله دوی يې عصیان کوي، حال دا چې د خپلو سورو څخه هم عبرت نه اخلي. ایا په شمسي نظام کښې د دوی باطل معبودان څه مداخله کولی شي چې په سهار کښې لمر د لوېدیځ څخه راپورته کړي او د کفارو سوري د خپل عادت په خلاف ختیځ طرف ته کاږه شي؟ هیڅکله دا کار نه شي کولی.

## توضیحات

۱_ د لاندې څو لغاتو معناوې ولولی:

الف: د "بَرْق" کلمه هغې تېزې رڼا ته وضعه شوې ده کومه چې د باران په وخت کښې هر چاته پرقېږي[۱].

ب: د "سَحَاب" کلمه د "سَحَابَة" دپاره معنوي جمعه ده چې د وریځې معنی ورکوي[۲].

ج: د "رَعْد" کلمه د هغه اواز څخه عبارت ده کوم چې د وربښت په وخت کښې د هر چا غوږ ته رسېږي[۳].

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې د ﴿ وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعْدُ ﴾ په جمله کښې د تسبیح نسبت اواز ته شوی دی، حال دا چې د الله ﷻ تسبیح د اوازکوونکو صفت دی؟

مونږ وايو چې: علماوو کرامو ذکر شوي سوال ته لاندې جوابونه کړي دي:

(۱) مفردات الراغب ص۴۱
(۲) زاد المسیر ج۴ ص۲۳۲
(۳) تفسیر القاسمي ج۹ ص۲۴۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دلته عبارت د مضاف په تقدير سره دی، نو د تقدير څرګندونه يې داسې کېږي چې:
"يُسَبِّحُ سَامِعُوا الرَّعْدِ"(۱) يعنې د الله ﷻ په تسبيحاتو باندې د ذکر شوي اواز اورېدونکي خپل اوازونه پورته کوي.

ب: ذکر شوی اواز که څه هم د قال په ژبه تسبيحات نه شي ويلی مګر د حال په ژبه خو د الله ﷻ په تسبيحاتو باندې په صراحت سره دلالت کوي(۲). الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ﴾ [بني اسرائيل: ۴۴] يعنې او هيڅ شی (د مخلوقاتو څخه) نه دی مګر د الله ﷻ د حمد سره تسبيح هم وايي مګر تاسو پرې نه پوهېږئ.

ج: مګر ډېر بهتر جواب هغه دی کوم ته چې نبي کريم ﷺ د يهودانو سره په مباحثه کښې اشاره کړې ده چې د ذکر شوي سوال پرې ښځ ووځي، هغه دا چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ ته څو کسه يهودان ورغله او د اوږده بحث په ضمن کښې يې ورسره لاندې سوال جواب وکړ(۳):

يهودان: ای ابا القاسمه! مونږ ته خبر راکړه چې: «مَا هَذَا الرَّعْدُ» دغه رعد څه شی دی؟

نبي کريم ﷺ: «مَلَكٌ مِنْ مَلَائِكَةِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ مُوَكَّلٌ بِالسَّحَابِ بِيَدِهِ أَوْ فِي يَدِهِ مِخْرَاقٌ مِنْ نَارٍ يَزْجُرُ بِهِ السَّحَابَ يَسُوقُهُ حَيْثُ أَمَرَ اللهُ» يعنې دا د الله ﷻ د ملکو څخه يوه ملکه ده چې په لاس باندې يې ـ او يا په لاس کښې يې ـ د اور ډبلۍ (قمچينه) ده چې وريځې پرې سرزنش کوي (ترڅو يې) هغه ځای ته سوق کړي کوم ته چې الله ﷻ امر کړی وي.

يهودان: «فَمَا هَذَا الصَّوْتُ الَّذِي نَسْمَعُ» نو دغه اواز څه شی دی چې مونږ يې (د باران په وخت کښې) اورو؟

نبي کريم ﷺ: «صَوْتُهُ» يعنې دغه د ذکرې شوې ملکې اواز دی.

يهودان: «صَدَقْتَ» رښتيا دې وويلې.

## د ذکر شوي ايت په اړوند څو احاديث

۳ـ د "رَعْد" او "صَوَاعِق" په هکله نبي کريم ﷺ څخه زښت ډېر احاديث روايت شوي، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: کله به چې نبي کريم ﷺ په خبرو باندې مشغول وه او د اسمان غرهار به يې واورېده نو خپله خبره به يې پرې کړه او وبه يې فرمايل چې: «سُبْحَانَ الَّذِي يُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ وَالْمَلَائِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِ» يعنې هغه الله ﷻ ته پاکي ده چې رعد هم د ده ﷻ د حمد سره تسبيحات وايي او هم (نوري) ملائکې د ده ﷻ د ډار د کبله (تسبيح او تحميد وايي). بيا به نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «إِنَّ هَذَا لَوَعِيدٌ لِأَهْلِ

(۱) روح المعاني ج۱۳ ص۱۱۸
(۲) تفسير ابي السعود ج۵ ج۹
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۴؛ مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۵۸۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الْأَرْضِ شَدِيدٌ»[1] یعني یقیناً دغه (غرهار) د ځمکې د اوسېدونکو دپاره د هر کلک وعید (ډارول) دی.

ب: کله به چې نبي کریم ﷺ د رَعْد او صَوَاعِق (تندرونو) اواز واورېد نو دا کلمات به یې لوستل: «اللَّهُمَّ لا تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ وَلا تُهْلِكْنَا بِعَذَابِكَ وَعَافِنَا قَبْلَ ذَلِكَ»[2] ای الله! مونږ په خپل غضب باندې قتل نه کړې او هم مو په خپل عذاب باندې هلاک نه کړې او د دغو (شیانو) څخه وړاندې راته عفوه وکړې.

## "صَوَاعِق" څه معنی؟

۴ـ د ﴿ ٱلصَّوَٰعِقَ ﴾ کلمه د "صَاعِقَة" جمعه ده. "صَاعِقَة" هغه اور ته ویل کېږي کوم چې د اسمان د غرهار او پړقهار سره د اسمان څخه ځمکې ته رالنکته کېږي[3] چې په پښتو کښې ورته تندر وایي.

که څوک د تندر په ډولونو او کیفیتونو باندې خپل ځان ښه پوه کوي نو څینو اوږدو کتابو ته دې مراجعه وکړي[4].

## د "مِحَال" معنی ولولئ:

۵ـ ځینې علماء کرام په ﴿ شَدِيدُ ٱلْمِحَالِ ﴾ کښې د "مِحَال" کلمه د "حِيلَة" څخه اخلي او د "م" توری پکښې زائد ګڼي[5]، نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې الله ﷻ "شدید المکر" یعني قوي تدبیرکوونکی دی چې هیڅوک یې د تدبیر په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی.

مګر مونږ ته بهتره بریښي چې په ذکره شوې کلمه کښې به د "م" توری اصلي وي[6] لکه چې عرب وایي: "فُلانٌ مَحَلَ بِزَيْدٍ مِحَالًا"[7] فلانکي سړي زید ته د بدۍ رسولو اراده کړې وه. نو په دې مقام کښې به یې د معنی حاصل داسې شي چې: کفار (مشرکان) د الله ﷻ په هکله ناحقه جګړې کوي حال دا چې الله ﷻ د بدیو او عقوبتونو په رسولو کښې ډېر کلک دی، که الله ﷻ ورته د تعذیب اراده وکړي نو بیا به په هیڅ وجه د خلاصون چاره مونده نه کړي.

## څو یادونې

۶ـ هیله ده چې په دې مقام کښې لاندې څو یادونې هېرې نه کړئ:

الف: په دې هکله چې هر شی الله ﷻ ته سجده کوي او هر شی د ده ﷻ په تسبیحاتو باندې مشغول دی، او هم په دې هکله چې سجده څو معناوې لري، او د څه نورو اړوندو مطالبو په اړه ښه په زړه پورې بحث ـ إن شاء الله ﷻ ـ راروان دی. نو په کار دي چې د [النحل:۴۹]، د [الإسراء:۴۴] او

(۱) الموطأ للإمام مالک ص۶۱۴
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۸۳؛ مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۴۲۲
(۳) تفسیر الخازن ج۳ ص۴۷۷؛ تفسیر المدارک ج۲ ص۸۰۲
(۴) روح المعاني ج۱۳ ص۱۲۰
(۵) روح المعاني ج۱۳ ص۱۲۲
(۶) لسان العرب ج۱۱ ص۶۲۰
(۷) مفردات الراغب ص۴۸۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هم د [الحج ۱۸] ایتونو تفسیرونه او توضیحات له نظره ونه غورزولی شي.

ب: د ﴿ وَلِلَّهِ يَسْجُدُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا ﴾ د جملې غوندې یوه بله جمله وړاندې تېره شوې ده چې: ﴿ وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا ﴾ [آل عمران:۸۳].

د دغو دواړو جملو فرق صرف دا دی چې دلته د ﴿ وَلِلَّهِ يَسْجُدُ ﴾ کلمات نازل شوي دي، او هلته د ﴿ وَلَهُ أَسْلَمَ ﴾ کلمات قرائت کوو، حال دا چې دواړو دولو کلماتو معناوې سره متقاربې دي چې سجده عاجزي کولو ته ویل کېږي او اسلام د غاړې ایښودلو معنی ورکوي.

مونږ هلته د الله ﷻ په توفیق د ذکرې شوې جملې دپاره د علماوو کرامو پنځه دوله تفسیرونه لیکلي دي او بیا مو د ﴿ طَوْعًا وَكَرْهًا ﴾ دپاره هغه معنی خوښه کړې ده چې د قتادة علیه الرحمة څخه منقوله ده. هغه دا چې: د الله ﷻ تشریعي احکامو ته هرڅوک غاړه ږدي خو مؤمنان په خوښه سره او کافران په ناخوښه سره چې الله ﷻ ورباندې داسې معجزه ورنازله کړي چې اختیار ترې سلب کړي او د مجبوریت له کبله ایمان راوړي. مګر دغه دول ایمان د هغه ﷻ په نزد باندې مقبول نه دی، نو ای کفارو! تاسو ته په کار دي چې په خوښه باندې ایمان راوړئ چې څه کته درته ورسوي.

اما په دې مقام کښې مونږ هغې معنی ته ترجیح ورکوو کومه چې د الزجاج علیه الرحمة څخه روایت شوې ده، هغه دا چې: خاص د الله ﷻ تکویني اوامرو ته هرڅوک غاړه ږدي حتی چې ټول کافران هم ورته د مجبوریت او زور د کبله غاړې ایښودونکي دي، نو دوی ته په کار دي چې په تشریعي اوامرو کښې هم ترې غاړې ونه غړوي.

مونږ ځکه دلته د ﴿ طَوْعًا وَكَرْهًا ﴾ کلمات په تشریعي احکامو کښې اراده نه کړه چې دلته د ذکرې شوې جملې سره د ﴿ وَظِلَالُهُم بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ ﴾ کلمات نازل شوي دي، چې د تشریعي احکامو منل او قبلول ورسره څه مناسب نه برېښي، ځکه چې سیوري خو بې روحه اعراض دي چې صرف د الله ﷻ د تکویني اوامرو منلو ته لبیک وایي او بس.

ج: د ذکرو شوو ایتونو څخه په [۱۵] ایت کښې د قرآن کریم د تلاوت د سجدو څخه دوهمه سجده ده، نو د دې دول سجدې څه ضروري احکام د [الأعراف: ۲۰۶] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق لیکلی شوي دي.

د: که څه هم مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف: ۲۰۵] ایت لاندې د ﴿ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ ﴾ دواړه کلمې ښې تحلیلې کړې دي او کوم تفسیر چې راته د هغه مقام سره مناسب څرګند شوی وه هغه مو هلته لیکلی دی، مګر په دې مقام کښې راته بهتره برېښي چې د "الْغُدُوّ" څخه به د غرمې څخه وړاندې وختونه او د "الْآصَال" څخه به د غرمې څخه وروسته وختونه مطلب وي، چې په لمر ختلو باندې پیل کېږي او د لمر په لوېدلو باندې ختمېږي. ځکه چې په دغو دواړو وختونو کښې د ټولو کثیفو شیانو سوري تاوېږي او راتاوېږي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ قُلِ ٱللَّهُ ۚ قُلْ أَفَٱتَّخَذْتُم مِّن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ لَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ نَفْعًا وَلَا ضَرًّا ۚ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ أَمْ هَلْ تَسْتَوِى ٱلظُّلُمَٰتُ وَٱلنُّورُ ۗ أَمْ جَعَلُوا۟ لِلَّهِ شُرَكَآءَ خَلَقُوا۟ كَخَلْقِهِۦ فَتَشَٰبَهَ ٱلْخَلْقُ عَلَيْهِمْ ۚ قُلِ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّٰرُ ﴿١٦﴾ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌۢ بِقَدَرِهَا فَٱحْتَمَلَ ٱلسَّيْلُ زَبَدًا رَّابِيًا ۚ وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيْهِ فِى ٱلنَّارِ ٱبْتِغَآءَ حِلْيَةٍ أَوْ مَتَٰعٍ زَبَدٌ مِّثْلُهُۥ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْحَقَّ وَٱلْبَٰطِلَ ۚ فَأَمَّا ٱلزَّبَدُ فَيَذْهَبُ جُفَآءً ۖ وَأَمَّا مَا يَنفَعُ ٱلنَّاسَ فَيَمْكُثُ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَالَ ﴿١٧﴾ ﴾

[١٦] (ای پیغمبره! مشرکانو ته) ووایه چې: د اسمانو او ځمکو رب (پالونکی) څوک دی؟ (بیا ورته) ووایه چې الله ﷻ (د اسمانونو او ځمکو پالونکی) دی.

(بیا ورته) ووایه چې: ایا نو تاسو د همده ﷻ څخه په غیر داسې دوستان (کارسازان) نیولي دي چې خپلو ځانونو ته هم نه د ګټې (رسولو) ملکیت لري او نه د ضرر؟ (بیا ورته) ووایه چې: ایا ړوند او بینا یو برابر دي؟ بلکې ایا تیارې او رڼا سره یو تربله برابرېدلی شي؟ (ړوند او بینا نه دي برابر او هم تیارې او رڼا سره نه شي برابرېدلی).

(ای پیغمبره!) ایا مشرکانو د الله ﷻ دپاره داسې شریکان ټاکلي دي چې دوی هم د الله ﷻ غوندې پیدا کول کولی شي؟ (که بالفرض داسې وي) نو په دوی باندې به پیدا کولو څه اشتباه اچولې وي (باطلې عقیدې به یې څه موجبه درلودلې وي، خو دغسې نه ده).

(بیا ورته) ووایه چې: (یوازې) الله ﷻ د هر شي پیداکوونکی دی (او بس) او همدی ﷻ یو دی (شریک نه لري او هم) د غلبې خاوند دی (چې هر شی د ده ﷻ د ارادې په مقابل کښې ذلیل دی).

[١٧] الله ﷻ د اسمانه اوبه نازلې کړې دي، نو خوړونه په خپلو اندازو سره بهېږي (په لوی خوړ کښې ډېرې او په وړوکي خوړ کښې لږ اوبه روانې شي)، نو (بیا هر یو) سیلاب (د خپله ځانه سره) داسې خګ اوچت کړي چې (د اوبو) د پاسه روان وي.

او (همدارنګه) د هغه (فلزي) شي څخه هم د سیلاب د خګ غوندې خګ په اور کښې (پیدا کېږي او په سر یې ودرېږي) په کوم باندې چې خلک د ګاڼو او سامانو د غوښتلو (جوړولو) دپاره اور بلوي (ترڅو فلزي شی ویلي شي او څه یې چې زړونه غواړي هغه ترې جوړ کړي).

(ای پیغمبره!) الله ﷻ په دغه ډول سره حق او باطل بیان کړه (چې حق ته یې د اوبو او ذوب کړی شوي فلزي شي سره تشبیه ورکړه او باطل یې د دغو دواړو د خګ سره تشبیه کړ).

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو هر چې ځګ دی نو هغه د وچېدلو د کبله (د منځه) ځي (چا ته ګټه نه شي رسولی) او هر چې هغه شی دی چې خلکو ته ګټه رسوي نو هغه په ځمکه کښې پاتې کېږي (چې د اوبو او فلزاتو څخه عبارت دی).

(ای پیغمبره!) الله ﷻ په دغه ډول سره مثالونه بیانوي (ترڅو په حقائقو باندې د ټولو خلکو سرونه خلاص شي).

## ارتباطونه

۱ـ په دې ایتونو کښې الله ﷻ د یو پلوه په خپل وحدانیت باندې په یوه بل اسلوب سره دلایل قائم کړي دي، او د بله پلوه یې د باطلو معبودانو د ناتوانی او د انجام د خرابۍ څه مثالونه نازل کړي دي.

۲ـ وړاندې ایتونه په دې تمام شوي وه چې هرڅه د الله ﷻ په عبادت (سجده) باندې مشغول دي په دې ایتونو کښې د ټولو د عبودیت وجې ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ی پیغمبره! په مشرکانو او نورو کافرانو باندې د توحید څه نور دلایل هم قرائت کړه او پوښتنه ۍ وکړه چې:

۱ـ ای مشرکانو! تاسو چې د الله ﷻ په ربوبیت کښې بوتانو ته په اشتراک قائل یاست، نو دا اته ووایاست چې د اسمانونو او ځمکو رب څوک دی؟ دا دواړه چا پیدا کړي دي او څوک یې بقاء او قیام په اختیار کښې لري؟

نو څرنګه چې د ذکرې شوې پوښتنې بل جواب نشته بې د دې څخه چې د اسمانونو او ځمکو رب الله ﷻ دی او بس، نو: ای پیغمبره! که مشرکان ساکت پاتې شوه او د خجالت د کبله یې په ذکر شوي اصلي جواب باندې تلفظ ونه کړ نو د دوی د تخجیل دپاره پرې یو ځل ته پخپله تلفظ وکړه او ورته ووایه چې: د اسمانونو او ځمکو رب خو بل څوک نه دی مګر الله ﷻ دی او بس.

۲ـ نو بیا دوی مخاطب کړه چې هر کله الله ﷻ د اسمانونو او ځمکو رب دی نو ضرور د هغو ټولو شیانو رب (پالونکی) هم دی کوم چې په دغو دواړو کښې موجودیت لري، د ټولو احتیاجات پوره کوي او د ټولو دپاره متولي او متصرف دی.

نو ای مشرکانو! ایا تاسو د الله ﷻ څخه پرته بوتان په کارسازۍ او ربوبیت سره نیولي دي؟ حال دا چې:

الف: هغوی پخپله د الله ﷻ مربوبین دي او د همده ﷻ د پالنې لاندې دي.

ب: هغوی خپلو ځانونو ته د ګټو د جلبولو او د ضرر د مخنیوي واک او اختیار نه لري، نو ایا دا معقوله ده چې تاسو دغه عاجزان د خپلو کارونو مربیان او پالونکي ګڼئ؟ ایا دغسې عاجزانو او بې وسې معبودانو ته په عبادت کښې اشتراک ورکول د هوښیار سړي کار دی؟

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ بیا دوی مخاطب کړه چې: ای مشرکانو! تاسو د ړندو غونډې په تیاره کښې پرته د روښانه دلیل څخه په باطله عقیده باندې کلک یاست، او مونږ ـ لله الحمد ـ بینایان یاستو او خپلې عقیدې او خپلې عملي تګلارې ته ادامه ورکوو. نو دا راته ووایاست چې: ایا ړوند او بینا یو برابر دي؟ ایا تیارې د رڼا سره برابرېدلی شي او سیالي ورسره کولی شي؟

۴ـ ای پیغمبره! که بالفرض المحال د مشرکانو باطلو معبودانو څه شی خلق کړی وی او یا یې د کوم شي ربوبیت کولی شوی نو بیا به د دوی اشتباه په ځای وی چې مونږ څکه په عبادت کښې بوتانو ته په اشتراک قائل یاستو چې بوتان هم د الله ﷻ غونډې خلق کولی شي او د اسمانونو او ځمکو په پیداکولو کښې برخوال دي. مګر خبره داسې نه ده، دوی د خپلو بوتانو په عجز باندې قائل دي چې هیڅ شی یې نه دی پیدا کړی او نه څه شی پیدا کولی شي. نو: ایا دوی الله ﷻ ته داسې شریکان درولي دي چې هغوی هم د الله ﷻ غونډې پیداکول کولی شي نو په دوی باندې پیدا کولو اشتباه واقع کړې ده او په شک کښې یې اچولي دي؟ خو خبره داسې نه ده.

۵ـ ای پیغمبره! یو خل بیا مشرکانو ته ووایه چې الله ﷻ د هر شي خالق او پیداکوونکی دی، همدی په خلق کښې یکي یو او لا شریک دی (هیڅ شی او هیڅوک یې سیال نشته)* او بالآخره ټول مخلوقات د ده ﷻ د ارادې دپاره مقهور (ذلیل) دي او هم په خلق او بقاء دواړو کښې ورته احتیاج دي.

۶ـ ای پیغمبره! څرنګه چې د وړاندېنیو دلایلو څخه ښه پوره په ثبوت ورسېده چې حق صرف له تا سره دی او ستا دښمنان (مشرکان) په باطله باندې روان دي نو اوس د حق او باطل د انجام د وضاحت دپاره په خپلو امتیانو باندې لاندې دوه مثالونه قرائت کړه ترڅو دوی مطمئن شي چې هرومرو حق غالب کېدونکی دی او باطل مغلوب دی چې ډېر ژر به یې د حق د پلوه کوېږی میده-میده شي او ماغزه به یې وشندل شي. مثالونه دا دي:

الف: کله چې الله ﷻ په وچه کانګړه بیدیا باندې د اسمانه اوبه ورنازلې کړې او په شېبو-شېبو باران پرې وکړي نو په ټولو ژورو او خوړونو کښې اوبه وبهېږي، په لوی خوړ کښې ډېرې اوبه روانې شي او په وړوکي خوړ کښې لږ اوبه.

همدارنګه د لوی خوړ په اوبو باندې دپاسه ډېر ځګ اوچت شي او د وړوکي خوړ اوبه لږ ځګ پورته کوي، چې په دواړو صورتونو کښې د اوبو څخه ځګونه څرګند او اوچت بربښي، او نادانان خیال کوي چې د اوبو څخه د ځګونو حیثیت لوړ دی او رتبه یې ترې پورته ده.

ب: کله چې خلک په کومه فلزي ماده باندې د ذوب (ویلې کولو) په موخه اور بل کړي ترڅو د همدغې فلزي مادې څخه ګاڼې جوړې کړي (البته چې د ګاڼو جوړولو دپاره مساعده وي) او یا ترې بل کوم داسې څیز جوړ کړي چې د هغه د جوړښت استعداد پکښې وي لکه اوسپنه، مس او داسې نور، نو په ذکر شوي فلزي ذوب کړی شوې مادې په سر باندې هم د اوبو د ځګ په څېر ځګ پورته کېږي چې د سادګانو په خیال همدغه ځګ د ذوب کړی شوې فلزي مادې څخه لوړ حیثیت لري.

مګر په ذکرو شوو دواړو صورتونو کښې د سادګانو او نادانانو خیال غلط دی، چې ډېر په جلتۍ

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره هغوی ته خپله غلطیا څرګندېږي او په خپله خطاء باندې پوهېږي. هغه دا چې:
که څه هم د لږ وخت دپاره دسیلابې اوبو په سر باندې ځګونه اوچت وي خو په انجام کښې ځګونه وچېږي او هیڅا ته یې څه ګټه او فائده نه رسېږي، خو بالمقابل د اوبو انجام دا دی چې په ځمکه کښې ادامه پیدا کوي چې هم ورباندې کښتونه او کروندې خروبېږي او هم یې ځمکه جذب کوي چې د وخت په تېرېدو سره د چینو او کارېزونو په شکل را څرګندېږي او خلکو ته ګټه رسوي.
همدارنګه د فلزي ذوب کړی شوې مادې ځګ په عجله سره د منځه ځي او د هیڅا پکښې څه خیر او ګټه نه وي خو بالمقابل د ذوب کړی شوې مادې څخه په ډول-ډول ګاڼې اوسامان آلات جوړېږي چې خلک ترې ګټه اخلي او استفاده ترې کوي.
۷_ ای پیغمبره! الله ﷻ د حق او باطل دپاره په دغې موثره توګه مثالونه بیانوي ترڅو خلک پوه شي او لاندې ټکو ته متوجه شي:
الف: که څه هم د لږ وخت دپاره کله-کله باطل اوچت څرګندېږي او حق ټیټ برېښي مګر ډېر ژر الله ﷻ حقیقت عالي ګرځوي او د باطل بطلان په ډاګه کوي، نو په کار دي چې د لږ وخت په اوچت ګرځېدلو باندې څوک تېر نه وځي.
ب: ټولې ګټې او فائدې په حق او حقیقت کښې نغښتې دي او باطل د چا په درد باندې نه خوري او د ډېرې کمې استفادې څخه پرته هیڅا ته دوامداره ګټه نه شي رسولی او نه د چا په مرض باندې دواء کېږي.
ج: که څه هم د لږ وخت دپاره کله کله حق او باطل ترمنځ اختلاط واقع کېږي مګر دا حال دوام نه لري، الله ﷻ ضرور د حق او باطل جدایي او بېلتون څرګندوي.

## توضیحات

۱_ د ایت شریف په دې ټکره ﴿ لَا يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ نَفْعًا وَلَا ضَرًّا ﴾ کښې چې الله ﷻ د بوتانو کوم عجز او ناتوانۍ ته اشاره کړې ده هغه یوه عربي شاعر په خپل شعر کښې ډېره ښه تمثیله کړې ده، البته کله چې نوموړي شاعر یو بوت ولید چې ګېدړې ورباندې بولې (متیازې) کړې وې، نو بوت یې ټوټه ټوټه کړ او دا شعر یې په خوله وه چې:

أَرَبٌّ يَبُوْلُ الثُّعْلُبَانُ بِرأسِهِ :: لَقَدْ ذَلَّ مَنْ بَالَتْ عَلَيْهِ الثَّعَالِبُ[1]

یعنې: ایا هغه شی رب جوړېدلی شي چې ګیدړان یې د سر د پاسه متیازې کوي؟ بې شکه هغه څوک ډېر ذلیل دی چې د هغه د پاسه ګیدړان متیازې وکړي.

## په تمثیل باندې د کلام اثر زیاتېږي

۲_ کله چې یوه غیر محسوسه معنی په یو داسې قالب کښې واچوله شي کوم چې په سترګو

---

(۱) تفسیر المراغي ج۱۳ ص۷۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدې کبله په هره محاوره کښې باندې لیده کېږي نو د کلام اغېز په څو چنده اضافه کوي. عموماً او په عربي محاوره کښې خصوصاً غیر محسوسې معناوې په زیاته پیمانه په محسوسو قالبونو کښې اچولې کېږي.

څرنګه چې په قرآن کریم کښې د عربي محاورې خواص د نظره نه دي غورزولی شوي نو په زښتو ډېرو ایتونو کښې ذکر شوی قانون مراعات شوی دی، که څوک غواړي چې د تمثیل دپاره په ایتونو او احادیثو کښې مثالونه مونده کړي نو څینو اوږدو کتابونو[1] ته دې مراجعه وکړي چې ښه ډېر مثالونه یې راغونډ کړي دي.

مګر مونږ فقط د هغو دوه وو مثالونو اشارات لږ څه شرحه کوو په کومو کښې چې په دې مقام کښې د حق او باطل انجام او عاقبت تمثیل شوی دی، هغه دا چې:

الف: د ﴿ أَوْدِيَةٌ ﴾ کلمه د "وَادِ" دپاره جمعه ده. "وَادِي" خو په اصل کښې هغه ځای ته ویل کېږي په کوم کښې چې اوبه بهېږي، نو څرنګه چې د دوه غرونو یا دوه وو غونډیو ترمنځ په ژورو ځایونو کښې د باران اوبه ورښکته کېږي او هلته بهېږي[2] نو د همدې کبله په دې مقام کښې د خوړونو ځخه په ﴿ أَوْدِيَةٌ ﴾ سره تعبیر کړی شوی دی.

په دې مثال کښې حق دین ته د باران سره تشبیه ورکړه شوې ده او د خلقو زړونه د استعداداتو په لحاظ د خوړونو سره تشبیه کړی شوي دي، نو لکه څنګه چې په لویو خوړونو کښې ډېرې اوبه بهېږي او په ورو خوړونو کښې لږې اوبه سیلان پیدا کوي همدارنګه د انسانانو په زړونو کښې دین هم په څینو کښې په قوت سره تقرر مونده کوي او په څینو کښې یې تقرر کمزوری وي؛ مګر په دواړو صورتونو کښې د کفري طاقتونو د پلوه د مشکلاتو سره مخامخ کېږي چې په نتیجه کښې الله ﷻ مشکلات حل کوي او حق دین ظهور کوي.

ب: په دوهم مثال کښې د حق او باطل دواړو انجامونه په یوه کسبي محسوسه څېره کښې ښودلی شوي دي، هغه دا چې کله په فلزاتو باندې اور بل کړی شي لکه سره زر، سپین زر، اوسپنه، زیړ، سرپ او نورشیان چې د اور په ذریعه باندې ذوب کېږي؛ نو ضرور په ذوب کړی شوي فلزاتو باندې د اوبو غوندې خګ پورته کېږي، مګر لکه څنګه چې د اوبو د خګ ځخه څه نه جوړېږي همدارنګه د ذوب کړی شوو فلزاتو خګ د هیچا په درد باندې نه خوري.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په دې مثال کښې انسانان په غور باندې وهل شوي دي چې تاسو ته په کار دي چې د حق دین ځخه د استفادې دپاره مشکلات وګالئ او د خپلو خانونو دپاره ترې دنیاوي او اخروي ګټې پورته کړئ، او هم باید تاسو پوره مطمئن شئ چې ستاسو مشکلات به الله ﷻ حل کړي او په خپلو مطالبو باندې به برلاسي حاصله کړئ.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۹ ص۳۵۴
(۲) مفردات الراغب ص۵۵۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ لِلَّذِينَ ٱسْتَجَابُواْ لِرَبِّهِمُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ وَٱلَّذِينَ لَمْ يَسْتَجِيبُواْ لَهُۥ لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفْتَدَوْاْ بِهِۦٓ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمْ سُوٓءُ ٱلْحِسَابِ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمِهَادُ ﴿١٨﴾ أَفَمَن يَعْلَمُ أَنَّمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ٱلْحَقُّ كَمَنْ هُوَ أَعْمَىٰٓ ۚ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿١٩﴾ ﴾

[۱۸] خاص هغو کسانو ته (د الله ﷻ په نزد) ښائسته (نېکه) درجه (جنت) دی کوم چې خپل رب ﷻ ته اجابت کوي (او هدايتونه يې قبلوي).

او هغه کسان چې خپل رب ﷻ ته اجابت نه کوي (هدايتونه يې نه قبلوي په داسې بد حالت کښې دي چې بالفرض) که چرته دوی لره ټول هغه شی وي کوم چې په ځمکه کښې دي (د دوی ملکيت وي او د دوی په اختيار کښې وي) او د همدغه شي سره (يو بل) مثل (چند) هم ضميمه شي (او د دوی ملکيت شي او بيا د دوی څخه په فديه کښې وغوښتلی شي) نو دوی به ضرور دا (ټول ملکيت) فديه کړي (او خپل ځانونه به د بد حالت څخه خلاص کړي. او دا خکه چې) دغه کسان چې دي همدوی لره بده (او سخته) محاسبه ده (چې هيڅ ګناه به ورته عفوه نه کړی شي) او د دوی داوسېداني ځای دوزخ دی او (دوی لره) د اړخ لګولو بد (ناکاره) ځای دی (چې همېشه به پکښې وي).

[۱۹] ايا نو هغه څوک چې پوهېږي (او باور کوي) چې يقيناً هغه (قرآن کريم) چې تاته د خپل رب ﷻ د پلوه درنازل کړی شوی دی حق دی (او واقعيت لري) د هغه چا غوندې دي چې دی ړوند وي (په دغه حقيقت باندې باور نه کوي)؟

يقيناً د سوچه عقلونو خاوندان پند (عبرت) اخلي (او ړانده د عبرت اخستلو څخه بې برخې دي).

## ارتباط

د سورت د اول سر څخه تر دې ځای پورې الله ﷻ د خپل وحدانيت پوره دلايل بيان کړه چې د ايمان راوړلو دپاره ښه کفايت کوي، په دې ايتونو کښې په ذکرو شوو دلايلو باندې يوې تبصرې ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! ذکرو شوو دلايلو ته په کتلو سره خلک په لاندې دوه وو ګروپونو باندې وېشلی کېږي:

۱ ـ يو ګروپ هغه کسان دي چې په ذکرو شوو دلائلو باندې قناعت کوي او د خپل رب ﷻ دعوة الی الحق په سر او سترګو باندې قبلوي. نو دغو خلکو ته د الله ﷻ په نزد ډېر نېک او ښه حالت دی، چې نه به ورسره په حساب او محاسبه کښې سختي وکړی شي او نه به په دوزخ کښې واچولی شي، بلکې دوی ته به الله ﷻ د جنت دائمي نعمتونه ورپېرزو کړي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ بل هغه خلک دي چې د ذکرو شوو دلایلو د اثر لاندې نه واقع کېږي او د خپل رب ﷻ دعوة إلى الحق ته غاړې نه ږدي. نو د دوی جزاء دا ده چې:

الف: دغه منکران به د داسې بد حالت سره مخامخ شي چې که بالفرض د ځمکې ټولې خزانې د دوی ملکیت وی او په همدغه ملکیت باندې یې یو چند یا ډېر چندونه نور هم وراضافه کړی شي، او بیا دوی ته وویلی شي چې خپل دغه ملکیتونه ټول فدیه کړئ ترڅو د ذکر شوې بد حالت څخه نجات مونده کړئ، نو دوی به ضرور دغه کار وکړي او خپل ټول ملکیتونه به د مشکل حالت د بدلون دپاره فدیه کړي.

مګر دوی ته افسوس دی چې نه به دوی د ذکر شوي ملکیتونو مالکان شي، نه به ترې فدیه وغوښتله شي او بالآخره نه به ترې قبوله کړی شي.

ب: د دغو کسانو سره به ډېر سخت حساب وکړی شي چې یو جنایت به هم ورته عفوه نه کړی شي.

ج: د دغو خلکو د اوسېدانې دائمي ځای جهنم دی چې د اړخ لګولو دپاره ډېر ناکاره او بد ځای دی.

ای پیغمبره! خلکو ته په کار وه چې بالاتفاق یې په ذکرو شوو دلایلو باندې باور کړی وی او په دوه وو ګروپونو باندې نه وی ویشلي شوي. مګر څرنګه چې په خلکو کښې ځینې بینایان او ځینې ړانده دي، ځینې پوهېږي چې په تاباندې په حقه د خپل رب ﷻ د پلوه قرآن کریم نازل شوی دی او په ځینو نورو باندې دا خبره خفي ده چې باور پرې نه کوي؛ نو ځکه خلک په دوه وو ګروپونو باندې ویشلی شوي دي.

نو ضرور به د دواړو ګروپونو انجام هم جدا جدا وي. اودا ځکه چې: ایا نو هغه څوک چې د قرآن کریم په حقانیت باندې پوهېږي او باور پرې کوي د هغه چا غوندې ګڼلی شي چې د همدې حقیقت څخه ړوند وي؟.

یقینًا د سوچه عقلونو خاوندان د دلایلو څخه پند او عبرت اخلي او بس.

## توضیحات

۱ـ د کفارو د فدیې په ارتباط څه ګټوره شرحه د [آل عمران: ۹۱] ایت لاندې تېره شوې ده چې د دې مقام دپاره یې کتل بې ګټې نه دي.

## سُوءُ الْحِسَابِ کوم حساب دی؟

۲ـ د ﴿سُوٓءُ ٱلْحِسَابِ﴾ (بدحساب) په مقابل کښې "الْحِسَابُ الْيَسِيْرُ" واقع کېږي.

یوه ورځې بي بي عائشې رضي الله عنها (أم المؤمنین) د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! اسان حساب څه شی دی؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «الرَّجُلُ تُعْرَضُ عَلَيْهِ ذُنُوبُهُ ثُمَّ يُتَجَاوَزُ لَهُ عَنْهَا

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



إِنَّهُ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ هَلَكَ»[۱] يعنې يو سړى به وي چې په ده باندې به خپل ګناهونه وړاندې کړى شي (چې دا دې کړي او هغه دې کړي دي) خو بيا به د ده دپاره د ګناهونو څخه تجاوز وکړى شي (او ورته عفوه به کړى شي)، يقينًا شان دا دى چې د چا سره چې په حساب کښې مناقشه (سختي) وکړى شي نو هغه هلاک شو (چې ګناهونه ورته عفوه نه کړى شي او په ټولو باندې ونيولى شي).

﴿ٱلَّذِينَ يُوفُونَ بِعَهْدِ ٱللَّهِ وَلَا يَنقُضُونَ ٱلْمِيثَٰقَ ﴿٢٠﴾ وَٱلَّذِينَ يَصِلُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُونَ سُوٓءَ ٱلْحِسَابِ ﴿٢١﴾ وَٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُوا۟ مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُونَ بِٱلْحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمْ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴿٢٢﴾ جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنْ ءَابَآئِهِمْ وَأَزْوَٰجِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ ۖ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ ﴿٢٣﴾ سَلَٰمٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ ۚ فَنِعْمَ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴿٢٤﴾ وَٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ۙ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوٓءُ ٱلدَّارِ ﴿٢٥﴾ ٱللَّهُ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ وَفَرِحُوا۟ بِٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا فِى ٱلْءَاخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٌ ﴿٢٦﴾﴾

[۲۰] (د سوچه عقلونو خاوندان) هغه کسان دي چې د الله ﷻ په عهد باندې وفا کوي، او (خپله کلکه) وعده نه ماتوي.

[۲۱] او هغه کسان دي چې هغه شيان پيوندوي دکومو په پيوندولو باندې چې الله ﷻ امر کړى دى، او د خپل رب ﷻ څخه ډاريږي او (هم) د بد (سخت) حساب څخه ويريږي.

[۲۲] او هغه کسان دي چې خاص د خپل رب ﷻ د رضا د غوښتنې دپاره صبر کوي او لمونځونه ودروي او (هم) د هغو (مالونو) څخه (في سبيل الله) په پټه او ښکاره توګه خرڅ کوي کوم چې مونږ ور روزي کړي دي، او په نېکۍ سره د بدۍ مخنيوى کوي. دغه (ډله هوښياران) چې دي خاص همدوى ته په (اخروي) کور کښې عاقبت (نتيجه) ده.

[۲۳] (دغه نتيجه) د عدن (همېشه اوسېدانې) جنتونه (دي) چې دوى به (په يقين سره) ورداخليږي او هغه کسان (به هم ورداخليږي) چې د دوى د مور او پلار څخه او هم د دوى د مانديړو (يا مېرونو) څخه او د دوى د اولادونو څخه چې صالحان وي (جنت ته داخل شوي وي خو د دوى درجوته د خپلو عملونو سبب نه شي ورسېدلى).

---

[۱] مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۵۵۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او (بالآخره) په دوی باندې به (په جنتونو کښې) د هرې دروازې څخه پرښتې ورننوځي.

[۲۴] (او ورته به وايي چې) په تاسو باندې دې د دې کبله سلام (سلامتيا) وي چې تاسو (په دنيا کښې) صبر کړی وه، نو په (دې اخروي) کور کښې ډېره ښه نتيجه ده (چې تاسو ته جنتونه درکړي شوه).

[۲۵] او (بالمقابل) هغه کسان چې د الله ﷻ عهد د کلکولو څخه وروسته ماتوي او هغه شيان پرېکوي د کومو په پيوندولو باندې چې الله ﷻ امر کړی دی، او (هم) په ځمکه کښې فساد کوي، دغه (ډول سادګان) چې دي خاص همدوی ته د الله ﷻ لعنت دی او خاص همدوی ته د اخروي کور بدي (سختي) ده.

[۲۶] الله ﷻ د هغه چا دپاره روزي پراخوي چې اراده يې ورته وشي او (په هغه چا باندې يې تنګوي (چې اراده يې ورته وشي).

او کافران (د رزق په پراخۍ باندې وغولېده او) په نږدې (حقير) ژوند باندې خوشاله شوه (او آخرت يې هېر کړ)، حال دا چې (دا) نږدې ژوند په آخرت کښې (د آخرت په نسبت) نه دی مګر ډېر ژر فاني کېدونکی سامان دی (بايد چې څوک پرې تېر نه وخي).

## ارتباط

د وړاندېنيو ايتونو مضمون دا وه چې د الله ﷻ د ارشاداتو منونه هغه کسان کوي کوم چې بينايان دي او د نېک حالت خاوندان دي، او هغه کسان يې منونه نه کوي کوم چې ړانده دي او د بد حالت څښتنان دي. په دې ايتونو کښې ذکر شوی مضمون ښه شرحه شوی دی چې حاصل يې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! اوس نو په خپل امت باندې د بينايانو او ړندو څه خاصيتونه او څه حالات قرائت کړه چې د عقلونو خاوندان ترې پوره عبرت واخلي:

### اول: د بينايانو خاصيتونه:

۱ـ بينايان هغه هوښيار خلک دي چې د الله ﷻ په عهد باندې وفا کوي او د ده ﷻ کلک عهد نه ماتوي. يا په بل عبارت: نه په شرعي احکامو کښې قصور کوي اونه په انساني التزاماتو کښې د خپل قول او عهد څخه تېرېږي.

۲ـ دوی هغو شيانو ته پيوند ورکوي د کومو په پيوند باندې چې الله ﷻ امر کړی دی. نو د خپلوانو سره خپلولي نه پرې کوي او د پيغمبرانو عليهم السلام په منځکښې په تفريق باندې قول نه کوي بلکې په ټولو باندې د حقانيت عقيده لري.

۳ـ دوی هم د خپل رب ﷻ څخه ډارېږي او هم د سختې محاسبې څخه په وېره کښې دي، نو د هغو کارونو څخه ډډه کوي کوم چې په محاسبه کښې د سختۍ پېښوي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴ـ دوی هغه کسان دي چې خاص د خپل رب ﷻ د رضا حاصلولو دپاره صبر کوي، نو هم په مصائبو باندې غیر الله ته شکایت نه کوي او هم د ګناهونو څخه خپل خانونه بچ ساتي.

۵ـ دوی خپل پنځه وخته لمونځونه ودروي او د ټولو حقوقو سره ورباندې همېشوالی کوي.

۶ـ دوی د خپلو مالونو څخه، چې مونږ ور روزي کړې دي، همدا زمونږ د رضا دپاره په پټه او ښکاره توګه انفاق کوي چې هم زکات ورکوي او هم عشر او نور فرضي او واجبي حقوق په پوره امانتدارۍ سره اداء کوي.

۷ـ بالآخره بینایان (هوښیاران) هغه خلک دي چې د بدۍ مخه په نېکیو سره نیسي، د بدیو په مقابل کښې نېکي کوي او د خپلو شخصي انتقامونو څخه تېرېږي.

۸ـ د ذکرو شوو خاصیتونو خاوندانو ته د الله ﷻ د پلوه د دې دنیا عاقبت ټاکلی شوی دی چې د دوی خاتمه به په خوشالیو سره وي او ایماندار به د دنیا څخه لاړ شي.

۹ـ د دغه نېک عاقبت نتیجه به دا وي چې دوی ته به په آخرت کښې جنتونه ورکړی شي چې هلته به پکښې د همېشه دپاره استوګنه اختیاره کړي.

۱۰ـ د همدوی په شفاعت او د همدوی د خوشالولو دپاره به په جنتونو کښې د همدوی مقام ته هغه کسان هم ورپورته کړی شي د کومو په ملاقات باندې چې دوی خوشالېږي، لکه د دوی مورګانې او پلرونه او د دوی ماندینې یا خاوندان او بالآخره د دوی اولادونه. البته په دې شرط سره چې دغو کسانو هم ایمان تېر کړی وي او جنت ته داخل شوي وي مګر د هغوی مقام ته د رسېدلو مستحق نه وي.

۱۱ـ په ذکرو شوو کسانو باندې به په جنت کښې د هرې دروازې څخه ډلې- ډلې پرښتې ورداخلېږي او هم به پرې سلامونه اچوي او تبریکي به ورته وایي چې: د هغه صبر په سبب مو جنت مبارک شه کوم چې تاسو په دنیا کښې غوره کړی وه، نو ستاسو دپاره د دنیا نېک عاقبت ډېر ښه دی او ډېر خوندور دی چې د دائمي جنتونو څخه عبارت دی.

دوهم: د ړندو خاصیتونه:

کوم نېک خاصیتونه چې وړاندې د بینایانو بیان شوه، د ړوندو خاصیتونه د هغوی په ضد دي او بالکل په مقابل قطب کښې یې واقع دي. لاندې مثالونه یې ولولئ:

۱ـ ړانده هغه کسان دي چې د کلکوالي څخه وروسته د الله ﷻ عهدونه ماتوي، نه د الله ﷻ سره په خپل عهد باندې وفاء کوي او نه د بندګانو سره په خپل عهد باندې ودرېږي.

۲ـ دوی هغه ټول پیوندونه پرې کوي د کومو په پیوستون باندې چې الله ﷻ امر کړی دی، نو نه د خپلوانو د خپلولۍ پروا لري او نه د پیغمبرانو علیهم السلام په حقیت باندې متحده عقیده لري بلکې څوک مني او څوک نه مني.

۳ـ دوی برسېره په دې چې د الله ﷻ څخه نه ډارېږي (نه مالي عبادت کوي او نه د بدني عبادت

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پروا لري) په ځمکه کښې فسادونه کوي، په خلکو باندې ظلم کوي او د نېکۍ په عوض په بدیو باندې جواب ورکوي، بلکې په هیڅ جنایت باندې صرفه نه کوي.

۴ـ په همدغه کسانو باندې د الله ﷻ د پلوه لعنت دی او په مستمره توګه دوی د ده ﷻ د رحمت څخه لرې کېږي.

۵ـ همدوی لره بد او ناکاره کور دی چې د همېشه دپاره به په دوزخ کښې اوسېږي او هیڅکله به ترې خارج نه شي، دا د دوی د دنیا آخرنی انجام دی.

۶ـ که څه هم ذکر شوي مفسدان ځینې ځینې په دنیا کښې په خوشالۍ ژوند تېروي او د هره طرفهورباندې د الله ﷻ د پلوه د استدراج په توګه نعمتونه ورورېږي مګر دا د الله ﷻ د رضا نښه نه ده، ځکه چې په دنیا کښې خو الله ﷻ په هغه چا باندې پراخي راولي چې اراده یې ورته وشي او همدارنګه په ځینو باندې د زرق تنګي ورنازلوي، نو په دنیاوي رزق کښې طاعت او عصیان مطرح نه دی او په دنیا کښې نه پراخي د مقبولیت علامه ده او نه تنګي د مردودیت معنی ورکوي.

۷ـ کفارو ته افسوس دی چې په همدغه حقیر دنیاوي ژوند باندې وغولیده او د همدې ژوند په خوشالۍ باندې یې آخرت هېر کړ، حال دا چې دا نژدې حقیر ژوند د اخروي دائمي ژوند په نسبت نه دی مګر ډېر لږ (ناچیز) شی دی چې ډېر ژر د منځه تلونکی دی او پایښت نه لري.

## توضیحات

۱ـ موږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة: ۴۰] ایت لاندې د عهد په هکله څه معلومات لیکلي دي چې دلته یې یو ځل کتل بې ګټې نه دي.

۲ـ همدارنګه موږ ـ لله الحمد ـ د [البقرة:۲۷] ایت لاندې د هغو شیانو پنځه شپږ مثالونه لیکلي دي د کومو په پیوند باندې چې الله ﷻ امر کړی دی، نو که د دې مقام دپاره یو ځل وکتل شي ډېر به ښه وي.

په دې مقام کښې اکثرو علماوو کرامو(۱) ﴿ وَٱلَّذِينَ يَصِلُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ ﴾ جمله په صلة الرحم باندې تفسیره کړې ده او په همدې ارتباط یې ډېر احادیث راغونډ کړي دي، مګر موږ ته داسې برېښي چې د هغوی به حصر مطلب نه وي بلکې صرف د یوه مثال ذکر به یې مراد وي، والله ﷻ اعلم.

## خشیة او خوف څه فرق لري؟

۳ـ ځینو علماوو کرامو د "خشیة" او "خوف" ترمنځ څه فرقونه کړي دي(۲) چې د ﴿ وَيَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ وَيَخَافُونَ ﴾ جملې ترې اشتقاقي شوې دي، خو موږ ته په دې مقام کښې بهتره برېښي چې د دواړو ترمنځ به څه فرق نه وي او د دواړو په نزول کښې به تفنن في العبارة مطلب وي او بس، والله ﷻ أعلم.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۳ ص۱۴، تفسیر المظهري ج۵ ص۲۳۱
(۲) روح المعاني ج۱۳ ص۱۴۰، مفردات الراغب ص۱۴۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## په نېکۍ سره د بدۍ مخنيوی

۴ـ علماوو كرامو د دې ټكي چې: ﴿وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ﴾ متعددې معناوې كړې دي خو مونږ ته هغه معنى بهتره برېښي كومې ته چې په لاندې ايتونو كښې اشاره شوې ده:

الف ـ ﴿وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا﴾ [الفرقان: ۶۳] يعنې د الله ﷻ مخلص بندګان هغه خلك دي چې كله دوى ته جاهلان (په بدۍ سره) خطاب كوي نو دوى (ورته په جواب كښې) وايي چې په تاسو باندې دې زما د پلوه سلامتي وي، زه په بدۍ سره جواب نه دركوم.

ب ـ ﴿وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ﴾ [فصلت: ۳۴] يعنې نېكي او بدي يو برابر نه دي نو (د خپله خانه بدي) په هغې كلمه باندې دفعه كړه كومه چې نېكه وي، نو ستا او ستا د دښمن ترمنځ به ګرمه دوستي جوړه شي.

## د عُقْبَى الدَّار تحليل

۵ـ په ﴿عُقْبَى الدَّارِ﴾ كښې د ﴿عُقْبَى﴾ كلمه د آخر او نتيجې معنى وركوي[۱]. نو كه د ﴿الدَّارِ﴾ څخه آخرت مراد شي نو اضافت به يې د "مَصَارِعَ مِصْرَ" غوندې د "فِي" په تقدير سره وي او كه د ﴿الدَّارِ﴾ څخه دنيا مراده كړى شي نو اضافت به يې د "غُلَامُ زَيْدٍ" په شان د "ل" په تقدير سره شي.

په هر صورت په ايت شريف كښې د ﴿عُقْبَى الدَّارِ﴾ كلمه په ﴿جَنَّتُ عَدْنٍ﴾ سره تفسيره شوې ده. يعنې د ذكرو شوو خاصيتونو خاوندانو ته په آخرت كښې او يا د دې دنيا په خاتمه كښې نېك عاقبت او ښه نتيجه ټاكلې شوې ده چې د داسې جنتونو څخه عبارت ده چې هلته به دوى هميشه وي.

## سوال جواب

۶ـ كه څوك وايي چې نبي كريم ﷺ په يوه اوږده حديث كښې فرمايلي دي چې: «وَمَنْ أَبْطَأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ»[۲] يعنې هر څوك چې د خپل بد عمل د كبله وروسته شي نو د نسب په ذريعه به وړاندې نه شي. چې د بد عملي لتې يې په نسب سره د منځه لاړه شي او په چالاكۍ سره اجرونو ته ورسېږي: حال دا چې د ايت شريف د دې ټكي ﴿يَدْخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنْ ءَابَآئِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ﴾ د اشاراتو څخه څرګندېږي چې د ذكرو شوو خاصيتونو خاوندانو په لحاظ سره به جنت عدن ته د دوى مور او پلار او هم د دوى مېرمنې يا مېړونه او بالآخره د دوى اولادونه هم ورداخل شي. نو پوښتنه دا ده چې ايا د ايت او حديث ترمنځ منافات نشته؟!

مونږ وايو چې په ايت شريف كښې د ﴿وَمَن صَلَحَ﴾ كلمات نازل شوي دي، يعنې هغه اقارب به د هغوى په خاطر جنت عدن ته ورداخل شي كوم چې د خپلو صالحو اعمالو د كبله جنت ته داخل

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص ۶۱۱

(۲) سنن ابي داود ج۲ ص ۱۵۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوي وي مګر په درجاتو کښې وروسته وي او جنت عدن ته نه شي داخلېدلی، نو الله ﷻ به د هغوی اقارب د هغوی د خوشالۍ په خاطر جنت عدن ته ورپورته کړي.

او په حدیث شریف کښې د «وَمَنْ أَبْطَأَ بِهِ عَمَلُهُ» کلمات روایت شوي دي، یعنې څوک چې خپل عمل د جنت د دخول څخه وروسته کړي وي نو قرابت یې جنت ته نه شي ورانډې کولی. لنډه دا چې قرابت د درجاتو په اوچتولو کښې اثر لري مګر جنت ته د داخلولو په هکله بې اثره دی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷ـ که څوک وایي چې: د قیامت په ورځ خو د اولادونو په سبب باندې هم سړی جنت ته داخلېږي او د دوزخ څخه نجات مومي. د مثال په توګه لاندې احادیث ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ په یوه اورېده حدیث کښې زنانه وو ته په خطابه کښې فرمایلي دي چې: «مَا مِنْكُنَّ امْرَأَةٌ تُقَدِّمُ بَيْنَ يَدَيْهَا مِنْ وَلَدِهَا ثَلَاثَةً إِلَّا كَانَ لَهَا حِجَابًا مِنَ النَّارِ»[1] یعنې ستاسو یوه ښځه نه ده چې د خپلو اولادونو څخه درې تنه په وړاندې ولېږي (مړه شي) مګر دا وړاندې لېږل به ورته د دوزخ څخه حجاب وګرځي.

ب: نبي کریم ﷺ په بل اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «صِغَارُهُمْ دَعَامِيصُ الْجَنَّةِ»[2] یعنې د مسلمانانو ماشومان د جنت سیاحیان دي (چې په هرځای کښې یې ګرځي راګرځي) دوی به خپل مور او پلار د لاس یا لمنې څخه نیسي او جنت ته به یې ننباسي.

ج: یوه ورځې نبي کریم ﷺ هغې ښځې ته وویلې د کومې چې درې تنه اولادونه وفات شوي وه، چې: «لَقَدِ احْتَظَرْتِ بِحِظَارٍ شَدِيدٍ مِنَ النَّارِ»[3] یعنې یقینًا تا د دوزخ څخه په قوي پردې سره خپل ځان په پرده کښې کړی دی (او ډېره قوي احاطه درڅخه تاوه ده).

نو پوښتنه دا ده چې: ایا د ذکر شوو احادیثو څخه د جنت او دوزخ په هکله د نسب موثریت نه اثباتېږي؟

مونږ وایو چې: د احادیثو څخه په اثبات ورسېده چې اولادونه خپل مور او پلار ته د دوزخ څخه نجات ورکوي او جنت ته یې داخلوي، خو د ولدیت په حیث نه بلکې په لاندې لحاظونو سره:

اول: د قیامت په ورځ کښې به ماشومان خپل مور او پلار ته شفاعت وکړي، نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «أَيُّهَا السِّقْطُ الْمُرَاغِمُ رَبَّهُ أَدْخِلْ أَبَوَيْكَ الْجَنَّةَ»[4] یعنې کوم ماشوم چې د زیان په توګه د خپلې مور څخه بې وخته زېږېدلی وي هغه به هم د خپل مور او پلار په هکله خپل رب ﷻ په حضور کښې جګړه (شفاعت) کوي، نو ورته به وویلی شي چې: ای بې وخته زېږېدلې

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۸۷
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۳۳۱
(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۳۳۱
(۴) سنن ابن ماجه ص۱۱۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ماشومه چې د خپل رب ﷻ سره جګړه کوونکی يې، ته خپل مور او پلار دواړه جنت ته داخل کړه (ستا شفاعت قبول شو).

دوهم ځانه چې د ماشومانو په مرګ باندې مصيبت رسېدلی وي او صبر يې کړی وي نو هغه ته به د صبر اجر ورکړی شي او جنت ته به داخل شي، هسې نه چې نسب به ورته ګټه ورسولی شي. نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې: «فَيَقُولُ اللهُ ابْنُوا لِعَبْدِي بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَسَمُّوهُ بَيْتَ الْحَمْدِ»[۱] يعنې کله چې پرښتې د الله ﷻ په حضور کښې عرض وکړي چې: ای الله! کله چې ستا د بنده اولاد وفات شو نو هغه ستا حمد وويلې او "إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ" يې وويلې (صبر يې وکړ). نو الله ﷻ به پرښتو ته امر وکړي چې زما دغه بنده ته په جنت کښې يو کور جوړ کړئ او د حمد د کور نوم ورباندې کېږدئ.

## سوال جواب

۸ـ که څوک وايي چې: د ﴿وَأَزْوَٰجِهِمْ﴾ د کلمې څخه څرګندېږي چې ښځې مېرمنې به د خپلو خاوندانو په احترام جنة الفردوس ته ورپورته کړی شي؛ نو پوښتنه دا ده چې کومې ښځې چې متعدد مېړونه کړي وي او د يوه د مرګ څخه وروسته د بل په نکاح کښې واقع شوې وي نو د هغې به څه حال وي؟ يا په بل عبارت: دغه ډول زنانه به د کوم مېړه سره په جنت کښې اوسېږي؟

مونږ وايو چې[۲]:

الف: ځينې علماء کرام وايي چې د قيامت په ورځ به ذکر شوې مېرمنې ته اختيار ورکړی شي، نو په هر يوه مېړه باندې يې چې ګوته کېښودله د همغه سره به په جنت کښې يو ځای کړی شي.

ب: ځينې وايي چې ذکره شوې زنانه به د وروستني مېړه سره په جنت کښې وي، البته هغه وروستنی مېړه د کوم په نکاح کښې چې مړه شوې وي او په طلاق سره ترې نه وي جدا شوې. په همدې دوهم قول باندې د أم المؤمنين سودة رضي الله عنها حديث دلالت کوي چې خپل نوبت يې أم المؤمنين عائشه رضي الله عنها ته وربښلی وه[۳] کله چې هغه ډاره شوې وه چې نبي کريم ﷺ به طلاق ورکړي او په جنت کښې به د أمهات المؤمنين د شمېر څخه خارجه شي.

د همدې متعلق څه بيان د [النساء:۱۲۸] ايت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

## يادونه

۹ـ د ﴿وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ﴾ د کلماتو څخه څرګندېږي چې په جنتيانو به په ډېره زياته پيمانه باندې د تبريک او تسليم دپاره پرښتې ورداخلېږي. او دا خکه چې ځينو علماوو

---

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۱۹۸
(۲) روح المعاني ج۱۳ ص۱۴۴
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۷۸۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کرامو لیکلي دي چې جنت عدن پنځه زره دروازې لري[۱] نو کله چې د هرې دروازې څخه د پرښتو ټولګی ورځي نو الله ﷻ پوهېږي چې شمېر به يې څومره وي.

## د دنیا او د آخرت نسبت

۱۰ـ نبي کريم ﷺ دا کلمات ﴿وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٞ﴾ څومره ښه تفسیر کړی دی، لاندې دوه حديثونه ولولئ:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَا الدُّنْيَا فِي الآخِرَةِ إِلَّا مِثْلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ إِصْبَعَهُ فِي الْيَمِّ فَلْيَنْظُرْ بِمَاذَا تَرْجِعُ»[۲] يعنې دنيا د آخرت په هکله نه ده مګر داسې مثال ده چې ستاسو يو کس خپله ګوته په درياب کښې ښکته کړي نو ودې ګوري چې هغه به څومره (لوندوالی) وي چې بېرته يې راتاو کړي (څومره اوبه به يې راپورته کړي).

ب: نبي کريم ﷺ په ... اوږده حديث کښې فرمايلي چې: «وَلَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَزِنُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا قَطْرَةً أَبَدًا»[۳] يعنې او که بالفرض ټولې دنيا د الله ﷻ په نزد د يوه ماشي د وزر په اندازه ارزښت درلودی نو کافر به يې د دنيا څخه هيڅکله په يو څاڅکي اوبو باندې هم نه وی خړوب کړي (خو د ماشي د وزر په اندازه ارزښت هم ورته نه لري).

﴿وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦۚ قُلۡ إِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَنۡ أَنَابَ ﴿٢٧﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَتَطۡمَئِنُّ قُلُوبُهُم بِذِكۡرِ ٱللَّهِۗ أَلَا بِذِكۡرِ ٱللَّهِ تَطۡمَئِنُّ ٱلۡقُلُوبُ ﴿٢٨﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ طُوبَىٰ لَهُمۡ وَحُسۡنُ مَـَٔابٖ ﴿٢٩﴾ كَذَٰلِكَ أَرۡسَلۡنَٰكَ فِيٓ أُمَّةٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهَآ أُمَمٞ لِّتَتۡلُوَاْ عَلَيۡهِمُ ٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَهُمۡ يَكۡفُرُونَ بِٱلرَّحۡمَٰنِۚ قُلۡ هُوَ رَبِّي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ مَتَابِ ﴿٣٠﴾﴾

[۲۷] او هغه کسان وايي کوم چې کفر اختيار کړی دی چې په ده (محمد ﷺ) باندې د خپل رب ﷻ د پلوه ولې يوه معجزه نازله نه کړی شوه (د کومې چې مونږ فرمايش ورکړی وه).

(ای پيغمبره دوی ته) ووايه چې: يقيناً الله ﷻ هغه څوک ګمراه کوي کوم ته يې چې اراده وشي او هغه چاته د خپل ځان په طرف هدايت کوي کوم چې همده ﷻ ته (د عمل په اخلاص سره) رجوع کوي.

[۲۸] (دوی) هغه کسان دي چې ايمان يې راوړی دی او د الله ﷻ په ذکر (قرآن کريم) باندې يې زړونه مطمئن کېږي (نورې فرمايشي معجزې ته غوارې).

---

(۱) تفسير الطبري ج۱۷ ص۱۴۱
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۵۸
(۳) سنن ابن ماجه ص۳۰۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خبردار! خاص د الله ﷻ په ذکر (قرآن کریم) باندې زړونه مطمئن کېږي (او بس).

[۲۹] هغه کسان چې (په "ذکر الله" باندې) ایمان راوړی او نیک عملونه وکړي دوی ته (د الله ﷻ په نزد په جنت کښې) د طوبی ونه او ښائسته مرجع (استوګنځای) دی.

[۳۰] (ای پیغمبره!) د دغه شان (دلایلو سره) مو ته په داسې امت کښې (د پیغمبر په حیث استولی یې چې وړاندې ترې ډېر امتونه تېر شوي دي (چې پیغمبران مو پکښې مبعوث کړي وه، البته دا) د دې دپاره چې ته په دوی (خپل امت) باندې هغه شی (قرآن کریم) ولولې کوم چې مونږ تاته وحې کړی دی، (ستا استول د الله ﷻ مهرباني ده) حال دا چې کفار په ډېر مهربان الله ﷻ باندې کافر کېږي (او ستا څخه انکار کوي).

(ای پیغمبره! دوی ته) ووایه چې: همدا مهربان الله ﷻ زما رب ﷻ دی (واقعي) معبود بل نشته مګر همدی ﷻ دی (او بس)، په همده ﷻ باندې ما توکل کړی دی او همده ﷻ ته (په توبې سره) زما رجوع ده.

## ارتباط

الله ﷻ د خپل وحدانیت د ښو کافي دلایلو د اقامې او د کفارو د عکس العمل او د دنیاوي او اخروي نتایجو د بیان څخه وروسته په دې ایتونو کښې د هغوی یو اعتراض رد کړی دی، چې حاصل یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! کوم دلایل چې تا د خپل رب ﷻ په وحدانیت باندې اقامه کړه هغه کفارو ټول په سکوت سره واورېده، چې د رد توان یې نه لري او نه پکښې د رد دپاره څه وجه موندلی شي، ځکه چې ټول په واقعیت باندې ولاړ دي. نو د همدې کبله کفار د دلایلو څخه بېرون یو اعتراض وړاندې کوي او غواړي چې په دې توګه خپلو ځانونو ته یوه د ختیو پوزه جوړه کړي، اعتراض دا دی:

دوی په خپلو مجالسو کښې د عوامو د غولونې او خپلو وجدانونو ته د قناعت ورکولو دپاره وایي چې که دا پیغمبر رښتیانی پیغمبر وي او مونږ ته د خپل رب ﷻ د پلوه را لېږلی شوی وي، نو په ده باندې زمونږ د فرمایشي معجزاتو څخه ولې یوه فرمایشي معجزه نازله نه شوه، چې د صفا غونډۍ سره زر ګرځېدلي وی، او یا د مکې وچ ډاګونه په سیندونو او چینو باندې اباد شوي وی او داسې نورې.

۲ـ نو ای پیغمبره! الله ﷻ هیڅ پیغمبر بدون د معجزاتو څخه نه دی لېږلی، نو تاته هم دومره معجزات درکړی شوي دي چې ستا په رسالت باندې د باورکولو او ایمان راوړلو دپاره ښه پوره کفایت کوي، او فرماشي معجزاتو ته ارتیا نه پېښېږي.

هو! دا ښه خبره ده چې څوک درباندې ایمان راوړي او څوک په خپل ضلالت باندې باقي پاتې کېږي، د دې وجه دا ده چې هرشی د الله ﷻ په اراده پورې ارتباط لري او بس.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو الله ﷻ هغه څوک ګمراه کوي (د ایمان راوړلو توفیق نه ورکوي)، کوم چې تاته د نورو معجزاتو فرمایش درکوي؛ او هغه چا ته الله ﷻ هدایت کوي کوم چې الله ﷻ ته رجوع کوي او په فرمایشي معجزاتو پورې خپل ایمان راوړلو ته توقف نه ورکوي.

۳_ نو دغه د هدایت خاوندان هغه خلک دي چې د موجوده معجزاتو په لیدلو سره ایمان راوړي او په همدغو باندې یې زړونه مطمئن کېږي، د دغو معجزاتو د جملې څخه قرآن کریم هم دی چې په ډول- ډول اسالیبو سره خلکو ته الله ﷻ وریه یادوي او د ده ﷻ توحید ته یې متوجه کوي.

ای پیغمبره! د اعلان په توګه ووایه چې: خبردار! د فرمایشي معجزاتو په لیدلو سره زړونه نه مطمئن کېږي، لکه چې د صالح ؑ قوم فرمایشي معجزه ولیده مګر مطمئن نه شوه او ایمان یې را نه وړ؛ بلکې د الله ﷻ په ذکر باندې زړونه اطمنان حاصلوي، او شکوک (شبهات) یې د منځه ځي، نو تاسو د معجزاتو فرمایش پرېږدئ او قرآن کریم ته متوجه شئ.

۴_ نو هغو کسانو ته د الله ﷻ په نزد ډېر ښه حالت دی او د ښېرته ورګرځېدلو ډېر ښه استوګنځای دی کوم چې عناد او کینه نه کوي، په قرآن کریم (ذکر الله) باندې ایمان راوړي او په همدې باندې مطمئن کېږي او بالآخره د همدغه اطمنان په اثر نېک عملونه کوي او خپل وخت په ناندریو او فرمایشاتو باندې نه ضائع کوي.

۵_ ای پیغمبره! لکه څنګه چې مونږ په پخوانیو امتونو کښې پیغمبران استولی وه ترڅو په هغوی باندې هغه څه قرائت کړي کوم به چې مونږ هغوی ته وحې کول، همدارنګه مو ته هم خپل امت ته وراستولی یې ترڅو په دوی باندې زمونږ وحې کړی شوي ارشادات قرائت کړې.

نو لکه څنګه به چې د هغوی څخه عنادي خلکو فرمایشي معجزې غوښتې همدارنګه به تاته هم د معجزاتو فرمایش درکولی کېږي، نو ته غمژن کېږه مه او خپله حوصله مه خرابوه. دا ځکه چې:

۶_ د دغـې عنادي کفارو څخه څه ګیله په کار ده چې د ډېر مهربان الله ﷻ د توحید، د ده ﷻ د پیغمبر او د ده ﷻ د نازل کړی شوي کتاب (قرآن کریم) څخه انکار کوي.

۷_ ای پیغمبره! یو ځل بیا کفارو ته ووایه چې همدا ډېر مهربان الله ﷻ زما رب دی او د ډېرې مهربانۍ د کبله یې زه تاسو ته را استولی یم. همدی ﷻ یوازې واقعي معبود دی او فقط همدی ﷻ د عبادت لیاقت لري او بس. نو په همده ﷻ باندې زما توکل او اعتماد دی، همده ﷻ ته په هر کار او هر شي کښې زما رجوع ده او د همده ﷻ دپاره زه تاسو ته دعوت درکوم، چې په وحدانیت سره یې وپېژنئ.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې دهمدې سورت په اوم ایت کښې یو ځل د کفارو د معجزاتو فرمایش جواب شوی وه، نو په دې کښې څه حکمت دی چې دلته یو ځل بیا عین سوال را معاد شو چې: ﴿ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ ءَايَةٞ مِّن رَّبِّهِۦٓ ﴾ او هغه کسان وایي چې کفر یې غوره کړی دی چې په ده (محمد ﷺ) باندې ولې د خپل رب ﷻ د پلوه (فرمایشي) معجزه نازله نه کړی شوه؟

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو د کفارو د ذکرې شوې غوښتنې دپاره هلته دا جواب ورکړې شوی وه چې معجزات د پیغمبر په اختیار کښې نه دي، نو ده ته د معجزاتو فرمایش ورکول سادګي ده. او دلته همدغه سوال ته دا جواب ورکړې شوی دی چې که د معجزاتو فرمایش پوره کړې شي هم چې د الله ﷻ توفیق نه وي ایمان راوړل ورباندې نه مرتبېږي. یا په بل عبارت: د هغه چا زړه چې د الله ﷻ په بیاناتو او دلایلو باندې ممطئن نه شي د هغه زړه په فرمایشي معجزاتو باندې هم نه مطمئن کېږي، نو د دوی دغه فرمایش بې فائدې کار دی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲ـ که څوک وایي چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ أَلَا بِذِكْرِ ٱللَّهِ تَطْمَئِنُّ ٱلْقُلُوبُ ﴾ خبردار! د الله ﷻ په ذکر باندې زړونه اطمنان مونده کوي. نو پوښتنه دا ده چې د "ذکر الله" څخه څه شی مراد دی؟

مونږ وایو چې: علماوو کرامو په دې مقام کښې د "ذکرالله" دپاره ډېرې معناوې کړې دي[1] لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: د "ذکر الله" څخه قرآن کریم مراد دی. لکه چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَهَٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ أَنزَلْنَٰهُ ﴾ [الأنبياء: ۵۰] دغه (قرآن کریم) مبارک ذکر دی چې مونږ نازل کړی دی.

ب: د "ذکر الله" څخه هغه انفسي او افاقي دلایل مطلب دي کوم چې د الله ﷻ په وحدانیت باندې دلالت کوي. لکه چې فرمایي: ﴿ سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ ﴾ [فصلت:۵۳] ژر دی چې دوی ته به مونږ خپل دلایل د دنیا په اطرافو او د دوی په خپلو ځانونو کښې ور وښایو (ترڅو د الله ﷻ په وحدانیت باندې معتقد شي).

ج: د "ذکر الله" څخه د الله ﷻ رحمت مطلب دی. لکه چې الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ ﴾ [الزمر: ۲۳] یعني کله چې الله ﷻ یاد کړی شي نو د مؤمنانو پوستکي زیګه شي او د خپل رب ﷻ څخه په ډار کښې شي، بیا یې پوستکي پاسته شي او زړونه یې د الله ﷻ په رحمت باندې مطمئن شي.

که څه هم مونږ ته ذکرې شوې معناګانې سره منافي نه بریښي، څه لرې نه ده چې ټولې مرادې کړې شي، مګر د مقام سره اوله معنی په ډېره ښه توګه سلښښت نیسي. یعني کفار فرمایشي معجزات غواړي حال دا چې په دغو باندې زړونه نه شي مطمئن کېدلی، لکه چې د ثمودیانو زړونه د صالح ﷺ معجزانه اوښې د اثر لاندې واقع نه شوه. د زړونو د اطمنان دپاره قرآن کریم د اکسیر مثال لري چې د قیامت د ورځې پورې درباندې د خلکو زړونه اطمنان مونده کوي او یوه دائمي عظیمه معجزه ده.

---

(۱) روح المعاني ج۱۳ ص۱۴۹؛ تفسیر الکشاف ج۲ ص۵۲۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "طُوبَىٰ" تحليل او تفسير

۳_ په ﴿ طُوبَىٰ لَهُمْ ﴾ كښې د ﴿ طُوبَىٰ ﴾ كلمه د "طَيِّب" څخه اخستله شوې ده[۱] چې د پاكېزه او سپېڅلي معنى وركوي. دا كلمه په اصل كښې "طيبي" وه خو "ی" په "و" باندې بدله شوه او ﴿ طُوبَىٰ ﴾ ترې جوړه شوه.

د نوموړې كلمې په تفسير كښې علماوو كرامو متعدد تفسيرونه كړي دي[۲]، لكه: بهتر، د سترګو سړوونكى، پاكيزه او خوندور ژوند او داسې نور. مګر په زړه پورى يې هغه تفسير دى كوم چې د نبي كريم ﷺ څخه په يوه اوږده حديث كښې روايت شوى دى، چې د يوې برخې لنډ مضمون يې دا دى:

يوه ورځې د نبي كريم ﷺ څخه يوه اعرابي پوښتنه وكړه چې: اى د الله رسوله! ايا په جنت كښې ميوجات شته؟. نبي كريم ﷺ جواب وركړ چې: «نَعَمْ وَفِيهَا شَجَرَةٌ تُدْعَى طُوبَى»[۳] يعني هو! په جنت كښې ميوجات شته دي، او يوه ونه پكښې هم شته چې د "طُوبَىٰ" په نامه بلله كېږي، د دې ونې ښېخ يو دى خو ښاخونه يې دومره خواره واره دي كه بالفرض پنځه كلنه اوښه د هغې د يوه ښاخ لاندې مزل وكړي نو د زوړوالي څخه به مړه شي او د ښاخ ښېخ ته به يې ونه رسېږي.

د "طُوبَىٰ" د ونې په ارتباط ځينو مفسرينو كرامو[۴] زښت ډېر احاديث (مرفوع او موقوف) او زښت ډېر اثار راغونډ كړي دي، الله ﷻ دې اجر وركړي، نو په كتلو كښې يې ګټه شته.

### دوه ډوله تفسير

۴_ د ايت شريف دا ټكړه چې: ﴿ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمَٰنِ ﴾ مفسرينو كرامو په لاندې دوه ډوله تفسيره كړې ده:

الف: په شرك باندې د پاسه د مشركانو يو بل خيانت (يو بل كفر) دا وه چې د "الرَّحْمن" په نامه باندې يې الله ﷻ نه پېژانده او دوى منكر وه چې الرحمن د الله ﷻ نوم دى، او دا څكه چې:

اول: يوه ورځې ابو جهل د نبي كريم ﷺ څخه په حرم شريف كښې واورېده چې: يا الله يا رحمن، نو دستي نورو مشركانو ته وغځاست او ويې ويلې چې محمد ﷺ مونږ د شرك څخه منعه كوي حال دا چې پخپله د شرك مرتكب شوى دى، چې هم الله ﷻ بلي او هم رحمن[۵].

دوهم: كله به چې نبي كريم ﷺ مشركانو ته دعوت وركړ چې رحمن ته سجده وكړئ نو دوى به جواب

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۲۲
(۲) زاد المسير ج۴ ص۱۴۱
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۲۰۱
(۴) تفسير ابن كثير ج۲ ص۵۱۲؛ الدر المنثور ج۴ ص۶۴۳
(۵) تفسير الخازن ج۳ ص۴۹۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورکاوه چې: ﴿ وَمَا ٱلرَّحۡمَٰنُ ﴾ [الفرقان: ۶۰] يعنې رحمن څه شی دی چې مونږ ورته سجده وکړو[۱].

دريم: کله چې په حديبيه کښې خط ليکونکي د نبي کريم ﷺ په هدايت د صلحې (سولې) د ليک په پيل کښې "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ" وليکه نو د مشرکانو استازي (سهيل) ترې انکار وکړ او ويې ويل چې: «أَمَّا الرَّحْمنُ فَوَاللهِ مَا أَدْرِي مَا هُوَ وَلَكِنْ اكْتُبْ بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ»[۲] يعنې هر چې "الرحمن" دی نو په الله ﷻ باندې سوګند دی چې زه يې نه پيژنم چې دا څه شی دی، مګر وليکه چې: "بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ" (ای الله ستا په نامه).

نو د ذکرې شوې تکړې د معنی حاصل به داسې راوځيږي چې په بوت پرستی باندې د پاسه د مشرکانو يو بل کفر دا دی چې د الله ﷻ په نومونو کښې د "الرحمن" د نامه څخه انکار کوي، نو ته ورته ووايه چې "الرحمن" بل څوک نه دی بلکې زما رب دی چې په حقه معبود دی او شريک نه لري.

دا وه د يوې ډلې علماوو تفسير چې ذکر شو.

ب: محققين علماء وايي چې په دې مقام کښې دا موضوع مطرحه نه ده چې مشرکان د الله ﷻ د يوه نامه (الرحمن) څخه منکر وه[۳]، بلکې دلته د الله ﷻ څخه په "الرحمن" سره تعبير کړی شوی دی چې د ډېر زيات مهربان معنی ورکوي، نو حاصل يې داسې راځي چې: مشرکان ډېر ناشکره دي چې د خپل ډېر مهربان رب ﷻ د مهربانی څخه انکار کوي، نه يې پيغمبر مني او نه يې په رالېږلې شوې کتاب باندې عقيده کوي. که بالفرض الله ﷻ مهرباني نه وی کړې نو نه به پيغمبر را استولی شوی وی او نه به قرآن کريم نازل شوی وی. لکه چې فرمايي: ﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴾ [الأنبياء: ۱۰۷] او مونږ ته نه يې استولی مګر د ټولو عالمونو دپاره رحمت. او هم فرمايي چې: ﴿ ٱلرَّحۡمَٰنُ ۝ عَلَّمَ ٱلۡقُرۡءَانَ ﴾ [الرحمن: ۱، ۲] يعنې ډېر مهربان الله ﷻ قرآن کريم ښودلی دی.

﴿ وَلَوۡ أَنَّ قُرۡءَانٗا سُيِّرَتۡ بِهِ ٱلۡجِبَالُ أَوۡ قُطِّعَتۡ بِهِ ٱلۡأَرۡضُ أَوۡ كُلِّمَ بِهِ ٱلۡمَوۡتَىٰۗ بَل لِّلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ جَمِيعًاۗ أَفَلَمۡ يَاْيۡـَٔسِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن لَّوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ لَهَدَى ٱلنَّاسَ جَمِيعٗاۗ وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُواْ قَارِعَةٌ أَوۡ تَحُلُّ قَرِيبٗا مِّن دَارِهِمۡ حَتَّىٰ يَأۡتِيَ وَعۡدُ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ ۝ وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ فَأَمۡلَيۡتُ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ثُمَّ أَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ ۝ ﴾

[۳۱] او (ای پيغمبره!) که چرته يقيناً (په دنيا کښې) يو کتاب وی چې غرونه پرې روانولی شوی

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۸۴
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۳۷۹
(۳) روح المعاني ج۱۳ ص۱۵۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(او) یا پرې ځمکه ټوټه کولی شوی (او) یا پرې د مړو سره خبرې کولی شوی (نو هغه کتاب به همدا قرآن کریم وی خو دوی به پرې ایمان نه وی راوړی)، بلکې خاص الله ﷻ ته ټول کارونه (سپارل شوي) دي (نو د ذکرو شوو کارونو نه کول د حکمت غوښتنه ده).

(ای پیغمبره!) ایا نو هغه کسان نه دي پوه شوي کومو چې ایمان راوړی دی (په دې خبره باندې چې) که د الله ﷻ اراده شوې وی نو ټولو خلکو ته به یې هدایت کړی وی؟ (نو دوی ځکه د فرمایشي معجزاتو د نزول تمه کوي چې کفار به ایمان راوړي).

او هغه کسان به همېشه وي کومو چې کفر اختیار کړی دی (او فرمایشي معجزات غواړي) چې دوی ته به د خپلو کړو وړو په سبب (مستقیماً) شدید آفت رسېږي، او یا به دا (شدید آفت) د دوی کورونو ته نژدې (په نورو خلکو باندې) ورښکته کېږي (چې دوی ته به یې په شیر مستقیمه توګه اثرات رسېږي). آن تر دې چې د الله ﷻ وعده راشي (چې مړه شي او یا قیامت قائم شي نو بیا به د سخت عذاب سره مخامخ شي، ځکه چې) یقیناً الله ﷻ په خپله وعده کښې خلاف نه کوي.

[۳۲] او بې شکه (ای پیغمبره!) ستا څخه وړاندې هم په ډېرو پیغمبرانو پورې ملنډې وهلې شوې وې نو ما به هغو کسانو ته مهلت ورکې کومو چې کفر غوره کړی وه (او ملنډې یې وهلې) بیا به مې دوی (په عذاب سره) ونیوه، نو څنګه به وه زما عذاب؟ (چې ټول به یې پوپنا کړه).

## ارتباطونه او شان نزول

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د مشرکانو د فرمایشي معجزاتو غوښتنه رده شوې ده چې د قلبي اطمنان دپاره قرآن کریم ﷺ کفایت کوي د معجزاتو فرمایش ته ارتیا نشته. او په دې ایتونو کښې د قرآن کریم د شان عظمت او د اطمنان وجوهو ته اشاره شوې ده.

۲ـ په دې ایتونو کښې برسېره په دې چې د نبي کریم ﷺ تسلي پکښې نغښتې ده، هغه سوال هم پکښې جواب شوی دی کوم چې د وړاندېني ایت څخه د مشرکانو په اذهانو کښې را پورته شوی وه، چې لنډیز یې دا دی:

یوه ورځ د مکې مشرکانو نبي کریم ﷺ مخاطب کړ[۱] چې ته خو په خپل خیال د پخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام په شان یو پیغمبر یې او ستا امت هم د هغوی د امتونو غوندې یو امت دی، حال دا چې سلیمان ﷺ ته باد مسخر وه، موسی ﷺ ته دریاب تسخیر کړی شوی وه او بالآخره عیسی ﷺ مړي ژوي کول، لکه چې همدغه خوارق مونږ ستا د خولې څخه اورېدلي دي، نو که ته په خپله خبره کښې صادق یې نو الله ﷻ ته سوال وکړه چې لاندې کارونه ستا دپاره هم وکړي:

الف: د مکې معظمې څخه دې غرونه بلې خوا ته کش کړی شي او بیا دې پکښې ویالې او سیندونه وبهولی شي ترڅو پکښې مونږ کروندې وکړو او باغونه پکښې کېنوو، چې د میوجاتو او حاصلاتو څخه یې استفاده وکړو.

(۱) اسباب النزول للواحد ص۱۸۵؛ زاد المسیر ج۴ ص۲۲۱؛ تفسیر القرطبي ج۹ ص۳۱۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: که دا نه وي نو الله ﷻ ته سوال وکړه چې زمونږ پخواني تېر شوي مړي بېرته راژوندي کړي ترڅو مونږ د هغوی سره خبرې وکړو او هغوی زمونږ سره.

ج: که دا هم نه کېږي نو دغه ډېره دي (چې ته وربانديې ناست يې) سره زر وګرځوي چې مونږ په خپل کور کښې په ګېډه ماړه شو او د اوريې او هم د ځمې د سفرونو څخه بې غمه شو.

نو په عين وخت کښې په نبي کريم ﷺ باندې د وحې د نزول حالت طاري شو او بيا يې مشرکان مخاطب کړه چې څه چې تاسو غواړئ الله ﷻ ماته د هغو د راکړې وعده راکړه خو دا يې راته وفرمايل چې که د ذکرو شوو خوارقو د ورکړې سره-سره دوی د کفر څخه لاس وانخلي نو داسې عذاب به وربانديې نازل کړي چې په بل ٌهيچا باندې يې نه وي نازل کړی. نو ما ستاسو دپاره دخوارقو طريقه خوښه نه کړه ترڅو تاسو پوپنا نه شئ، ما دا خوښه کړه چې په موجوده معجزاتو باندې اکتفاء وکړئ او د الله ﷻ د رحمت د لارې څخه په ايمان باندې مشرف شئ. البته څوک چې په ايمان باندې مشرف کېدل غواړي.

نو ذکر شوی ايت شريف او هم د [الإسراء:۵۹] ايت شريف نازل شوه.

## د مطلب خلاصه

يعني ای پيغمبره! د قرآن کريم د موجوديت سره سره مشرکان تاته د معجزاتو فرمايش درکوي ترڅو دوی ستا په نبوت باندې معتقد او مطمئن شي:

۱ـ نو مشرکانو ته ووايه چې: قرآن کريم داسې عظيمه معجزه او داسې عظيم الشان کتاب دی، چې که بالفرض د الله ﷻ د پلوه اراده شوې وی چې په کوم کتاب باندې غرونه د خپلو ځايونو څخه وخوځولی شي، يا پرې ځمکه ټوټې-ټوټې کړی شي او بالآخره يا پرې د مړو سره خبرې اترې وکړی شي؛ نو هغه کتاب به همدغه قرآن کريم وي.

يا په بل عبارت: که د کوم کتاب د اثبات دپاره د ذکرو شوو درېواړو کارونو څخه د کوم يوه کار کولو ته د الله ﷻ اراده شوې وی نو هغه به همدغه قرآن کريم وی.

نو د همدې کتاب حقانيت به يې يا د غرونو په روانولو باندې، يا د ځمکې په ټکره- ټکره کولو باندې او بالآخره يا د پخوانيو مړو په را ژوندي کولو او هغوی سره په خبروکولو باندې څرګند کړی وی، خو دا کار الله ﷻ نه کوي چې د حکمت څخه خلاف دی. او دا ځکه چې:

په دې صورت کښې به يا خلک په زور ايمان راوړلو ته مجبور کړی شي چې دغه ډول ايمان د الله ﷻ په نزد مقبول نه دی، او يا به د انکار په صورت کښې ټول پوپنا کړی شي، فرصت به ورنه کړی شي چې په خپله خوښه په اختيار سره په ايمان مشرف شي.

۲ـ لنډه دا چې ټول کارونه د الله ﷻ په واک او اختيار کښې دي، ټول د حکمتونو په بنياد باندې څرخيږي، نو د مشرکانو د فرمايشي معجزاتو موجودول د حکمت په خلاف دي که نه نو الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت څښتن دی.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ ایا نو مؤمنان اوس هم نه دي پوه شوي چې که د الله ﷻ اراده وشي نو ټولو خلکو ته به هدایت وکړي خو الله ﷻ دغسې اراده نه کوي چې د حکمت په خلاف ده. او دا ځکه چې:

الف: په دې صورت کښې به یا مجبورونکې معجزه نازله کړي او خلک به بالاکراه ایمان راوړي، چې دا ډول ایمان د ده ﷻ په نزد مقبول نه دی.

ب: یا به د ټولو خلکو څخه د بدۍ استعداد سلب کړي او د ټولو څخه به پرښتې جوړې کړي چې په دې تقدیر به امتحان د منځه لاړ شي.

ج: یا به د بدۍ د استعداد سره سره د بدۍ توان ورنه کړي، ته به وایې چې دوی بالکل ناکاره استعداد نه لري او ټول د پرښتو په توګه پیدا کړی شوي دي.

۴_ نو د دې کبله چې الله ﷻ د مشرکانو د غوښتنې په بنیاد بدون د حکمته فرمایشي معجزات نه نازلوي چې د نه منلو په صورت کښې به دوی پوپنا شي، نو کفارو ته به د دوی د جنایاتو په وجه په دوامداره توګه په خپل کور کښې مصیبتونه رسېږي او یا به د دوی د کورونو په نږدې شاوخوا کښې مصائب رانښکته کېږي، ترڅو چې د الله ﷻ ټاکلې وعده راورسېږي چې مسلمانان برلاسي شي او کفار د ماتې سره مخامخ شي. او یا دوی ته مرګ او قتل وروسېږي او یا د قیامت ورځ قائمه شي نو هلته به د سخت عذاب سره لاس او ګرېوان شي. ځکه چې دا یقیني خبره ده چې د الله ﷻ په وعده کښې خلاف نه واقع کېږي، الله ﷻ په خپل عهد باندې ډېر کلک دی.

۵_ نو ای پیغمبره! که د نصرت وعده څه وخت واخلي او څه وخت وروسته شي نو ته د کفارو په خندنیو باندې مه غمژن کېږه، ځکه چې پخوانیو پیغمبرانو ته د نصرت وعدې په مدار او ارامۍ سره پوره کړی شوي دي. کفارو ته به مو مهلت ورکړ مګر هغوی به په پیغمبرانو باندې ملنډې وهلې چې د نصرت وعده څه شوه؟ په مونږ باندې عذاب ولې نه نازلېږي؟. بیا چې کله به ټاکلی وخت راورسېد نو مونږ به د وخت کفار په عذاب باندې ونیوه. نو وګوره چې زمونږ عذاب او کفارو ته د جنایاتو نتائج به څنګه وه؟ چې ټول به د ماتې سره مخامخ شوه او پیغمبران به برلاسي شوه، او یا به هغوی ټول پوپنا شوه.

نو د کفارو په خندنیو او مسخرو باندې خپله حوصله مه خرابوه، د دوی سره په ذکر شوي قانون باندې تلل کېږي او بس، چې د څه مهلت وروسته به دوی هم د ماتې سره مخامخ شي.

## توضیحات

۱_ د "قرآن" کلمه په اصل کښې د "قَرَأَ يَقْرَأُ" دپاره مصدر ده[۱]، که څه هم ذکره شوې کلمه د آخر الزمان پیغمبر ﷺ د کتاب نوم دی مګر په نورو کتابو باندې یې هم اطلاق کېږي[۲]، لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «خُفِّفَ عَنْ دَاوُدَ ؑ الْقُرْآنُ فَكَانَ يَأْمُرُ بِدَوَابِّهِ فَتُسْرَجُ فَيَقْرَأُ الْقُرْآنَ قَبْلَ أَنْ

(۱) مفردات الراغب ص۴۱۴
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۵۱۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تُسْرَجَ دَوَابُّهُ»[۱] يعني داوُد ﷺ ته (د خارق العاده په توګه) قرائت خفيف كړى شوى وه نو كله به يې چې امر وكړ ترڅو د ده څاروي (آسونه) زين كړى شي نو ده به كتاب (تورات يا زبور) لوست وړاندې د دې څخه چې څاروي به ورته زين كړى شو.

په دې مقام كښې د "قُرآن" كلمه په همدغې عامې معنى سره ده[۲].

## تقطيع څه معنى؟

۲ـ ﴿أَوْ قُطِّعَتْ بِهِ ٱلْأَرْضُ﴾ په جمله كښې د ﴿قُطِّعَت﴾ كلمه د "تَقْطِيع" څخه اشتقاقه شوې ده، چې په دې مقام كښې يې مفسرينو كرامو لاندې معناوې كړې دي:

الف: د ځمكې تقطيع د سرعت معنى وركوي[۳] چې اوږده مسافه په لږ وخت كښې ووهله شي، په دې معنى سره د مشركانو يوې غوښتنې ته اشاره ده چې: اى محمده! ته خو په الله ﷺ باندې د سليمان ﷺ څخه په درجه كښې ښكته نه يې، نو څرنګه چې هغه ته باد مسخر كړى شوى وه چې د ببګاه د پلوه به يې هم د يوې مياشتې مسافه وهله او د سبا د پلوه هم، نو كه ته رښتيا پيغمبر يې د الله ﷺ څخه وغواړه چې تاته هم باد مسخر كړي ترڅو مونږ هم وكړى شو چې په لږ وخت كښې شام ته لاړ شو او بېرته راشو[۴].

ب: د ځمكې تقطيع د دې څخه عبارت دى[۵] چې ويالې پكښې روانې شي او چينې پكښې راوخوټېږي ترڅو د ځمكې ځينې برخې د كښت او كروندې ته ځانګړې كړى شي او ځينې نورې د ډول-ډول باغونو دپاره خاصې وګرځولى شي.

په دې معنى كښې د مشركانو يوې بلې غوښتنې ته اشاره ده چې: اى محمده! كه ته رښتيانى پيغمبر يې نو د الله ﷺ څخه سوال وكړه چې مونږ ته د مكې معظمې وچه ښديا د زراعت جوګه كړي چې ويالې پكښې وبهېږي او چينې پكښې را وخوټېږي، ترڅو مونږ په خپل كور كښې په ګبډه باندې ماړه شو او د شاماتو او نورو وطنونو د سفرونو څخه خلاصون ومومو.

زمونږ په فكر كه د تقطيع څخه ما يطلق عليه التقطيع (هر هغه شى چې د تقطيع اطلاق پرې كېږي) اراده كړى شي نو ډېر به ښه وي، ترڅو ذكرو شوو دواړو معناوو ته شامل كړى شي ځكه چې دواړه معناوې سره څه منافات نه لري.

## سوال جواب

۳ـ كه څوك وايي چې: په ﴿وَلَوْ أَنَّ قُرْءَانًا سُيِّرَتْ بِهِ ٱلْجِبَالُ أَوْ قُطِّعَتْ بِهِ ٱلْأَرْضُ﴾ كښې د "لَوْ"

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۸۵
(۲) روح المعاني ج۳ ص۱۵۴
(۳) لسان العرب ج۸ ص۲۷۹
(۴) تفسير الطبري ج۱۳ ص۱۵۳
(۵) البحر المحيط ج۶ ص۳۸۶؛ تفسير البغوي ج۳ ص۱۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



توری د شرط معنی ته متضمن دی[۱]. نو پوښتنه دا ده چې د شرط جواب (جزائيه جمله) دلته کومه يوه ده؟

مونږ وايو چې: علماوو کرامو د ذکر شوي سوال دپاره متعدد جوابونه کړي دي[۲] خو مونږ د لاندې دوه وو جوابونو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: د "لَوْ" د توري جزائيه جمله مقدره ده چې په: "لَكَانَ هٰذَا الْقُرْآنُ الَّذِيْ لَمْ يَعُدُّوْهُ آيَةً" ترې تعبير کېږي[۳] يعنې که د الله ﷻ اراده شوې وه چې د کتابونو څخه په يوه کتاب باندې غرونه وخوزوي او يا پرې د ځمکې مسافه رانژدې کړي او بالآخره يا پرې د ځمکې د مخ څخه غرونه لرې کړي او په ويالو او چينو باندې يې خړوبه کړي او يا پرې د مړو سره خبرې وکړی شي؛ نو که دا کارونه د ده ﷻ د حکمت غوښتنه وی نو دا ټول به يې په همدغه قرآن کريم په سبب ترسره کړي وی کوم چې مشرکان ورته د يوې ورې معجزې په توګه هم قائل نه دي.

د ذکرې شوې جزائيه جملې په تقدير باندې د کلام سوق دلالت کوي ځکه چې د وړاندې ځای څخه د قرآن کريم په فضائلو او اطمناني اعجاز کښې خبره را روانه ده.

ب: د "لَوْ" د توري جزائيه جمله مقدره ده خو تقدير يې داسې راځېږي چې: "لَمَا آمَنُوْا بِهِ"[۴]، يعنې که الله ﷻ د خپلو کتابونو څخه په يوه کتاب باندې ذکر شوي کارونه کړي وی هم مشرکانو به ورباندې ايمان نه وی راوړی ځکه چې د دوی په زړونو باندې مهرونه لګېدلي دي.

په دغې جزائيه جملې باندې د [الأنعام:۱۱۱] ايت دلالت کوي ځکه چې په مضمون کښې يې دا خبره پرته ده چې که مشرکانو ته مړي راژوندي کړی شي او خبرې ورسره وکړي نو هم دوی به ايمان رانه وړي.

مونږ ته بهتره برېښي چې د ذکرو شوو دواړو مقدرو جملو مضمون د "لَوْ" د توري دپاره جزائيه جمله وګڼله شي، چې په "لَكَانَ هٰذَا الْقُرْآنُ وَلَمْ يُؤْمِنُوْا بِهِ" سره ترې تعبير کولی شو. يعنې که د الله ﷻ د حکمت غوښتنه وی چې په خپل کوم کتاب باندې يې ذکر شوي کارونه کړي وی نو ضرور به يې په همدې قرآن باندې کړی وی خو د دې سره-سره مشرکانو به ورباندې ايمان نه وی راوړی او دا ځکه چې د دوی په زړونو باندې مهرونه لګېدلي دي.

## د "يأس" معنى

۴_ د ﴿ أَفَلَمْ يَاْيْـَٔسِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ﴾ په جمله کښې د ﴿ يَاْيْـَٔسِ ﴾ کلمه د "يأس" څخه اشتقاقه شوې ده. د "يأس" کلمه که څه هم د نا اميدی دپاره وضعه شوې ده او د علم په معنی باندې يې هم

(۱) مفردات الراغب ص۴۷۶
(۲) زاد المسير ج۴ ص۳۴۴
(۳) روح المعاني ج۱۳ ص۱۵۵
(۴) المحرر الوجيز ج۱۰ ص۴۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



استعمال مونډلی دی[۱] مګر په دې مقام کښې مفسرينو کرامو په اجماع سره[۲] او يا په اکثريت سره[۳] په علم باندې تفسيره کړې ده نو د معنى حاصل يې داسې راځېږي چې

ای پيغمبره! د مؤمنانو زړونه غواړي چې مشرکانو ته فرمايشي معجزات ورکړی شي. ايا نو دوی نه دي پوه شوي چې د فرمايشي معجزاتو نازلول د حکمت څخه مخالف دي؟ ايا دوی نه دي پوه شوي چې د الله ﷻ په نزد بالاختيار ايمان مقبول دی او بس؟ ايا دوی نه دي پوه شوي چې که د الله ﷻ اراده شوې وی نو ټولو خلکو ته به يې هدايت کړی وی؟ مؤمنانو ته په کار دي چې په خپلو زړونو کښې د غسې غوښتنو ته ځای ورنه کړي.

## قارعة څه معنى؟

۵ـ په ﴿ وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُواْ قَارِعَةٌ أَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا مِّن دَارِهِمْ ﴾ کښې د ﴿ قَارِعَةٌ ﴾ کلمه هغه عظيم آفت او مصيبت ته وضعه شوې ده کوم چې د مبتلا شوي بنيادم زړه ته په شدت سره ټکان ورکوي[۴]. لکه وژل، بنديکول، چورکول او داسې نور.

نو د معنى حاصل يې داسې راځېږي چې:

بايد مؤمنان پوه شي چې کوم کفار چې فرمايشي معجزات غواړي او په زړونو باندې يې مهر لګېدلی دی دوی ته به د خپلو کفرياتو په سبب په دنيا کښې ټکان ورکوونکي مصائب ورسېږي، چې کله به وژل کېږي او کله به اسيران کېږي او داسې نور، او همدارنګه کله به ذکر شوي مصائب په هغو خلکو باندې ورنازلېږي کوم چې دوی ته نژدې (په شاوخوا کښې) پراته وي، چې دوی ته به يې په غير مستقيمه توګه اثرات رسېږي او زړونه به يې په لړزان کښې واقع کېږي.

البته ذکر شوي مصائب به ترهغه وخته دوام وکړي ترڅو چې د الله ﷻ ورکړی شوی مهلت پوره شي، چې يا په خپل مرګ باندې مړه شي او يا د مؤمنانو په لاس باندې ووژل شي، نو بيا به د عظيم الشان دائمي عذاب سره مخامخ شي.

## يادونه

۶ـ ځينو علماوو کرامو د ذکر شوې جملې نور تفسيرونه هم کړي دي[۵] که د چا ورته د لوستلو مينه وي نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ ځکه دلته ذکر نه کړه چې دا د هغه عمومي تفسير جزئيات دي کوم چې مونږ وړاندې ذکر کړ.

﴿ أَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلَىٰ كُلِّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ ۗ وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ قُلْ سَمُّوهُمْ ۚ أَمْ تُنَبِّـُٔونَهُۥ

---

(۱) لسان العرب ج۶ ص ۲۶۰

(۲) تفسير الطبري ج۱۳ ص۱۵۵

(۳) تفسير البغوي ج۳ ص ۲۰

(۴) لسان العرب ج۸ ص۲۶۵ : مفردات الراغب ص۴۱۶

(۵) روح المعاني ج۱۳ ص۱۵۹ : تفسير البغوي ج۳ ص۲۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي ٱلْأَرْضِ أَم بِظَـٰهِرٍ مِّنَ ٱلْقَوْلِ ۗ بَلْ زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مَكْرُهُمْ وَصُدُّوا۟
عَنِ ٱلسَّبِيلِ ۗ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنْ هَادٍ ﴿٣٣﴾ لَّهُمْ عَذَابٌ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ
وَلَعَذَابُ ٱلْـَٔاخِرَةِ أَشَقُّ ۖ وَمَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٍ ﴿٣٤﴾

[۳۳] ایا نو هغه څوک چې هغه په هر نفس باندې ولاړ (مراقبت کوونکی) دی (البته) د هغه شي (په جزا یا سزا) باندې کوم چې هر نفس یې کسب کوي (ښه وي او که بد. د هغه چا غوندې دي چې په هیڅ نفس باندې یې مراقبت په توان کښې نشته)؟

او دوی (مشرکانو) الله ﷻ ته (ناتوانه) شریکان ټاکلي دي. (ای پیغمبره! ورته) ووایه چې تاسو خو د دوی (خپلو معبودانو) نومونه واخلئ (څه صفات یې بیان کړئ که واقعًا دوی د عبادت مستحق وي). بلکې ایا تاسو الله ﷻ ته په هغه شي باندې خبر ورکوئ چې په ځمکه کښې پرې هغه ﷻ علم نه لري (ایا ستاسو علم د الله ﷻ د علم څخه زیات دی)؟ بلکې ایا (تاسو پرې) د خبرې څخه په ظاهر باندې (د مستحقینو نومونه ږدئ چې هیڅ واقعیت او حقیقت نه لري)؟

(ای پیغمبره!) بلکې هغو کسانو ته کومو چې کفر اختیار کړی دی د دوی (باطل) تدبیر ښائسته کړی شوی دی، او همدوی د (سمې) لارې څخه اړولی شوي دي. او هرڅوک چې الله ﷻ یې ګمراه کړي (توفیق ورنه کړي) نو هغه ته هیڅ هدایت کوونکی نشته.

[۳۴] همدوی (ګمراهانو) ته په نژدې ژوند کښې (د الله ﷻ د پلوه) عذاب دی (لکه وهل، وژل او هم بندیکول او نور). او ضرور د وروستني کور عذاب (یې) ډېر سخت دی، او دوی ته د الله ﷻ (د عذاب) څخه هیڅ ساتونکی نشته.

## ارتباط

په دې ایتونو کښې د یو پلوه د وړاندېني نژدې ایت شریف مضمون تائید شوی دی چې الله ﷻ د مهلت ورکولو څخه وروسته په شدید عذاب سره نیول کوي، او د بله پلوه د مشرکانو حماقت او جهالت ته اشاره شوې ده چې په واهیاتو او بې هوده خبرو باندې اتکاء کوي او د قرآن کریم په واقعي حقائقو باندې خپل اطمنان نه تر لاسه کوي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس نو په خپل امت باندې د الله ﷻ کامل قدرت او د مشرکانو واهیات په لاندې ټکو کښې قرائت کړه ترڅو د شرکیاتو د ابطال څرګندونه یو ځل بیا وکړی شي:

۱_ ایا نو هغه الله ﷻ (چې هرڅوک یې د حفاظت او څارنې لاندې دي، نه ترې بدکاره بنیادم تښتېدلی شي چې د سزا څخه خپل ځان بچ کړي او نه ترې نیکوکار بنیادم هېرېدلی شي چې د نېکۍ جزا څخه محروم پاتې شي) د هغو بوتانو غوندې کېدلی شي چې نه د چا مراقبت کولی شي، نه چانه د

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عذاب د ورکولو توان لري او بالآخره نه چاته څه ګټه رسولی شي، بلکې د همېشه دپاره د نورو جماداتو غونډې اقلاً د خپله ځانه هم دفاع نه شي کولی؟

۲ـ خو دا د مشرکانو حماقت او جهالت دی چې ذکر شوي ناتوانه بوتان يې د الله ﷻ سره په عبادت کښې شريکان ګرځولي دي او په عبادت کښې ورته په شرکت قائل دي.

۳ـ ای پيغمبره! مشرکان مخاطب کړه او ورته ووايه چې: تاسو خو د خپلو بوتانو څه صفات بيان کړئ چې دوی کوم کوم شيان کولی شي؟ دوی څه څه صفات لري؟ دوی څومره ګټور دي او د څومره تاوان ځخه خپل عبادت کوونکي بچ کولی شي؟

۴ـ کله چې مشرکان د خپلو بوتانو (معبودانو) د توصيف څخه عاجز شوه او ويې ونه شو کړی چې څه داسې صفات يې بيان کړي چې د معبوديت غوښتنه کوي، نو بيا دوی مخاطب کړه چې: ای مشرکانو! ستاسو بوت پرستي د لاندې دوه وو حماقتونو څخه خالي نه ده:

الف: يا دا چې تاسو مدعيان ياست چې ستاسو علم د الله ﷻ د علم څخه د پاسه دی. او دا ځکه چې الله ﷻ په قطعي توګه اعلان کوي چې زما سره شريک نشته، خو تاسو ورته خپل بوتان د اشتراک په توګه درولي دي، چې ای الله! ته خبر نه يې فلانی او فلانی (بوتان) ستا شريکان دي.

يا په بل عبارت: ته به وايې چې تاسو الله ﷻ ته په خمکه کښې د هغو بوتانو په اشتراک باندې خبر ورکوئ د کومو په موجوديت باندې چې الله ﷻ خبر نه دی.

ايا تاسو نه پوهېږئ که بالفرض المحال الله ﷻ شريکان درلودی نو د هرچا څخه وړاندې به ورباندې پخپله خبر وی؟ ايا تاسو نه پوهېږئ چې د الله ﷻ د علم څخه هيڅ شی نه شي غائب کېدلی؟.

ب: يا دا چې تاسو بدون د واقعيت څخه په خپلو بوتانو باندې د شريکانو نومونه ايښي دي او هيڅ حقيقت نه لري. او پوره واضحه ده چې محض په خوله باندې پرته د واقعيت څخه د يوه شي حقيقت بدلون نه شي موندلی. د مثال په توګه: تور کارغه د چا په خوله باندې نه شي سپينېدلی او حقيقت يې نه شي بدلېدلی.

۵ـ ای پيغمبره! د مشرکانو سره د خپلې بوت پرستۍ د ثبوت دپاره هيڅ دليل نشته بلکې دغو کفارو ته د شيطان د پلوه خپل کړه وړه او خپل خط السير ښائسته کړی شوی دی او د حقې لارې څخه اړولی شوي دي.

۶ـ نو اصلي خبره دا ده چې کفار د حق په پلټنه پسې تاند نه وهي نو الله ﷻ ترې توفيق اخستی دی، او د هر چا څخه چې الله ﷻ توفيق واخلي او د ضلالت په لاره باندې يې روان کړي نو هغه ته هيڅ هدايت کوونکی نه موندل کېږي.

۷ـ نو د همدې کبله د ذکرو شوو لجوجو کفارو دپاره په دې نړۍ ژوند کښې د الله ﷻ د پلوه مصيبتونه ټاکلي شوي دي چې کله به ورباندې په مستقيمه توګه او کله په غير مستقيمه توګه ورنازلېږي ترڅو چې د الله ﷻ ټاکلی وخت پوره شي.

نو چې کله قيامت قائم شي او دنياوي ژوند ختم شي نو په هغه وخت کښې د الله ﷻ د پلوه دوی

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته ډېر سخت عذاب تیاکلی شوی دی چې هلته به یې هیڅوک او هیڅ شی په درد ونه خوري او د عذاب څخه به یې بچ نه شي کړی.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ أَمْ تُنَبِّـُٔونَهُۥ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ جمله کښې مشرکان د تهدید او توبیخ په توګه مخاطب کړی شوي دي او د الله ﷻ عدم علم د عدم موجودیت څخه کنایه اخستل شوی دی.

یعنې که بالفرض المحال ستاسو بوتانو د استحقاق په توګه په ځمکه کښې موجودیت درلودی لکه څنګه چې تاسو ورته په استحقاق باندې قائل یاست، نو الله ﷻ به وروباندې ضرور علم درلودی. اومونږ ته به یې خبر راکړی وی چې فلانکی او بستانکی زما شریکان دي.

عجیبه ده چې الله ﷻ د ټولو پیغمبرانو علیهم‌السلام او ټولو کتابونو په ذریعه خلکو ته خبر ورکړی دی چې زما سره شریک نشته او تاسو جهال ورته یو شریک لا څه چې ډېر شریکان ثابتوئ؛ ته به وایې چې تاسو ورته وایئ چې ای الله! ته شریکان لرې خو تاته پرې علم نشته، العیاذ بالله.

الله ﷻ ذکر شوی مضمون په بل ایت کښې داسې نازل کړی دی چې: ﴿ قُلْ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ [یونس: ۱۸] ورته ووایه چې: ایا تاسو (بل چاته نه بلکې) الله ﷻ ته په هغه شي باندې خبر ورکوئ چې هغه ﷻ وروباندې نه په اسمانونو کښې علم لري او نه په ځمکو کښې (او نه شته)؟!

۲ـ د ﴿ أَم بِظَـٰهِرٍ مِّنَ ٱلْقَوْلِ ﴾ په کلماتو کښې د "ب" توری په مقدره جمله پورې تعلق نیسي چې په "تُسَمُّونَ" باندې ترې تعبیر کولی شو. یعنې کله چې بوتان (معبودان) واقعیت نه لري نو ایا تاسو یې په ظاهري خبره او په خپلو خولو باندې معبودان جوړوئ او د معبودانو نوم وروباندې ږدئ؟ ایا په خولو باندې واقعیت بدلون موندلی شي؟.

د دې ایت شریف یو نظیر وړاندې تېر شوی دی چې: ﴿ ذَٰلِكَ قَوْلُهُم بِأَفْوَٰهِهِمْ ﴾ [التوبة: ۳۰] یعنې عیسی علیه‌السلام د الله ﷻ بنده دی، دا د نصاراوو محض د خولو خبره ده چې عیسی علیه‌السلام ابن الله دی په دې خبره باندې حقیقت او واقعیت نه شي بدلېدلی.

﴿ مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ۖ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ ۖ أُكُلُهَا دَآئِمٌ وَظِلُّهَا ۚ تِلْكَ عُقْبَى ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوا۟ ۖ وَّعُقْبَى ٱلْكَـٰفِرِينَ ٱلنَّارُ ﴿٣٥﴾ ﴾

[۳۵] د هغه جنت صفت د کوم وعده چې متقیانو ته ورکړه شوې ده (دا دی چې) د (ونو) لاندې یې (څلور ډوله) ویالې بهېږي، (او) میوجات یې همېشه دي او (همدارنګه) سوري یې هم (همېشه دي، د دنیا د سوري غوندې د لمر تابع نه دي). دغه (جنت) د هغو کسانو عاقبت (نتیجه) ده کوم چې تقوی کوي، او د کفارو عاقبت (نتیجه) اور (دوزخ) دی.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

١ـ په وړاندې ایتونو کښې دې ته هم اشاره شوې وه چې الله ﷻ په هر نفس باندې مراقبت کوونکی دی. نه ترې بدکاره نفس پټېدلی شي او نه ترې نېکوکاره نفس هېرېدلی شي. په دې ایتونو کښې یې د مراقبت نتیجې ته اشاره کړې ده چې حاصل یې داسې راځي:

٢ـ یعنې ای پیغمبره! د الله ﷻ د کامل مراقبت پوره نتیجه به په آخرت کښې څرګنده شي، هغه دا چې متقیانو ته به په ډېرو ښو صفاتو باندې موصوف جنت ورکړی شي چې:

الف. د ونو لاندې به یې څلور ډوله ویالې بهېږي، دغه څلور ویالې د صافو اوبو، شودو، شاتو او شرابو د ویالو څخه عبارت دي.

ب. د دې جنت میوجات به د دنیا د میوجاتو په شان موسمي نه وي بلکې همېشه به تازه او پاخه وي او خوراک ته به تیار وي.

ج. د دې جنت سیوري او خوشالي به هم دائمي وي چې هیڅکله به د زوال سره مخامخ نه شي.

ای پیغمبره! دغه دی د هغو کسانو عاقبت او نتیجه کوم چې د الله ﷻ څخه ډارېږي او د شرکیاتو او کفریاتو څخه خپل خانونه ساتي.

بالمقابل د کفارو نتیجه او عاقبت دوزخ دی چې هلته به همېشه وي او هیڅکله به ترې د نجات لاره موندلی نه کړي.

## توضیحات

١ـ په ﴿ مَثَلُ ٱلْجَنَّةِ ﴾ کښې د ﴿ مَثَلُ ﴾ کلمه د مشابهت په معنی باندې هم استعمالېږي[1] خو په دې مقام کښې ترې صفت مطلب دی[2]. نو د معنی حاصل یې داسې راځي چې د متقیانو دپاره د موعود جنت صفت دا دی چې هغه به داسې-داسې وي.

## "ظِل" څه معنی؟

٢ـ ﴿ أُكُلُهَا دَآئِمٌ وَظِلُّهَا ﴾ په کلماتو کښې د "ظِلّ" کلمه د هغه ځای دپاره وضعه شوې ده[3] کوم چې د لمر د شعاع (پلوشو) لاندې واقع نه وي، برابره خبره: ده چې لمر پرې بالکل ورغلی نه وي (لکه څنګه د لمرخاته څخه وړاندې) او یا پرې ورغلی وي خو بېرته ترې ستون شوی وي.

اما د "فَيْء" کلمه فقط په وروستني معنی باندې اطلاق کېږي او بس، چې لمر پرې د ورختلو څخه وروسته بېرته ستون شوی وي او زوال یې موندلی وي. د جنت په سورو باندې د "ظِلّ" د کلمې اطلاق کېږي خو د "فَيْء" کلمه ورته نه استعمالېږي.

---

(١) مفردات الراغب ص ٤٨٢

(٢) تفسیر البغوي ج٣ ص٢١

(٣) مفردات الراغب ص ٣٢٤

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې مقام کښې ځينې علماء کرام[1] د "ظلّ" کلمه په خپله اصلي معنی باندې اخلي، يعنې د جنت سورې هم د جنت د ميوجاتو په شان دائمي دي.

نبي کريم ﷺ د «وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ» [الواقعة ۳۰] ايت په تفسير کښې فرمايلي دي چې «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لَا يَقْطَعُهَا»[2] يعنې يقيناً په جنت کښې ضرور داسې ونه هم شته چې په خاروي باندې سور سړی به يې په سيورې کښې سل کاله مزل کوي خو پای ته به يې نه شي رسېدلی.

او ځينې علماء کرام په دې مقام کښې ذکر شوې کلمه په عزت او رفاهت (لوړتيا) باندې تفسيروي[3]. يعنې په جنت کښې به جنتيان په دوامداره توګه په عزت او د مراتبو په پورته والي کښې وي. چې دغه کلمه کله-کله د کنايې په توګه په همدې معنی کښې هم استعمالېږي.

ځرنګه چې دوام، معناوې سره منافي نه برېښي نو که دوام، د بدليت په توګه او يا د مجاز د عموم په توګه مرادې کړی شي مونږ ته هيڅ مانع په نظر نه راځي.

﴿وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَفْرَحُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ ۖ وَمِنَ الْأَحْزَابِ مَن يُنكِرُ بَعْضَهُ ۚ قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا أُشْرِكَ بِهِ ۚ إِلَيْهِ أَدْعُو وَإِلَيْهِ مَآبِ ﴿٣٦﴾ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَاهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا ۚ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم بَعْدَمَا جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا وَاقٍ ﴿٣٧﴾﴾

[۳۶] او (ای پيغمبره!) هغه کسان چې مونږ هغوی ته کتاب ورکړی دی په هغه (کتاب) باندې خوشالېږي کوم چې تاته (د الله ﷻ د پلوه) درنازل کړی شوی دی، او د مختلفو ډلو (يهودو او نصاراوو) ځنې ځينې هغه کسان دي کوم چې د ځينو برخو ځنې يې انکار کوي.

(نو ته ورته) ووايه چې: بې شکه ماته امر کړی شوی دی چې (يوازې) د الله ﷻ عبادت وکړم او (هيڅوک) ورسره شريک ونه دروم، زه خاص همده ﷻ ته بلنه کوم او خاص همده ﷻ ته زما بېرته ورتاوېدل دي (چې هلته به راځخه پوښتنه وکړي).

[۳۷] او (ای پيغمبره! لکه چې پخوانيو پيغمبرانو ته مو کتابونه ورنازل کړي وه) همدارنګه مو تاته هم کتاب (قرآن) درنازل کړی دی په داسې حال کښې چې (ستاسو په ټولو قضاياوو کښې) حکم کوونکی (فيصله کوونکی دي او) عربي لغت ته منسوب دی.

او (ای پيغمبره!) که چرته ته (بالفرض المحال) د دوی (کفارو) د خواهشاتو پيروي د هغه ځخه

(۱) تفسير ابن کثير ج۲ ص۵۱۸
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۵
(۳) روح المعاني ص۳ ص۱۶۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وروسته وکړې چې تاته د علم څخه (غته برخه) درغلې ده (درکړی شوې ده) نو تاته به د الله ﷻ (د نیولو) څخه نه دوست (کارساز) مونده شي او نه ساتونکی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د قناعت بښونکي دلایلو د بیان څخه وروسته په دې ایتونو کښې الله ﷻ د قرآن کریم په حقانیت او د نبي کریم ﷺ د نبوت په واقعیت څه شاهدانو ته اشاره کړې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د قوي دلایلو د بیان څخه وروسته اوس د خپلو مخالفینو مخ ځینو شاهدانو ته ورواړوه چې د قرآن کریم په حقانیت او ستا په صداقت باندې شاهدي ورکوي. هغه دا چې:

۱_ کومو کسانو ته چې مونږ پخواني کتابونه (تورات او انجیل) ورکړي دي او دوی د خپلو کتابونو د مقتضی په مطابق چال چلند کوي، هغوی برسېره په دې چې د قرآن کریم په حقانیت او ستا په صداقت باندې اقرار او اعتراف کوي دوی خوشالېږي هم چې الحمد لله زمونږ سره چې الله ﷻ د آخر الزمان پیغمبر د مبعوثیت په هکله کومه وعده کړې وه هغه یې راته رښتیا کړه او د رانښودلو شوو نښو نښانو مطابق یې آخر الزمان پیغمبر رامبعوث کړ، چې مونږ پرې د زړه د کومې ایمان راوړی دی او باور مو پرې کړی دی.

۲_ د ذکرو شوو اشخاصو څخه په غیر د اهل الکتابو مخالفي ډلې ټپلې هم د قرآن کریم څخه هر اړخیزه انکار نه کوي بلکې د ځینو هغو مضامینو څخه یې منکر دي کوم چې د دوی د معتقداتو سره تضاد لري. یا په بل عبارت: دوی د خپلو کتابونو په منسوخیت باندې د عقیدې کولو څخه منکران دي، که نه نو دوی هم د قرآن کریم په دې ډول بیان باندې آفرین وایي چې د دوی کتابونه الهي کتابونه ګڼي او خپل ځان د هغو مصدق بولي.

۳_ ای پیغمبره! څرنګه چې عنادي کفار نه د دلایلو د اغېز لاندې واقع کېږي او نه ورباندې د شاهدانو شهادت اثر غورزوي نو ته یو ځل بیا خپل دریځ دوی ته اعلان کړه چې:

الف: ای کفارو زه خو د خپل رب ﷻ د پلوه مامور یم چې خاص د الله ﷻ عبادت وکړم او په هیڅ وجه ورسره شریک ونه دروم.

ب: نو د همدې کبله زه خاص د الله ﷻ توحید او حقاني دین ته بلنه کوم او همدې عقیدې او عمل ته دعوت چلوم.

ج: او دا ځکه چې زه به همده ﷻ ته د قیامت په ورځ رجوع کوم او په حضور کښې به یې درېږم، چې د دعوت په هکله به راڅخه پوښتنه کېږي.

۴_ ای پیغمبره! ولې به حقاني اهل الکتاب د دې قرآن په حقانیت باندې اعتراف نه کوي چې عقیدوي مضامین یې د هغوی کتابونو ته ورته دي، فقط همدومره فرق لري چې هغوی ته مو په خپل لغت کښې تشریعي احکام ورنازل کړي وه او تاته مو د حکمت په مقتضی په عربي لغت کښې (چې فصیح او بلیغ لغت دی) شریعت درنازل کړ.

یا په بل عبارت د سوچه عقل خاوندان پوهېږي چا چې هغه کتابونه نازل کړي وه همغه اقدس

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ذات ﷻ تاته هم دغه کتاب (قرآن کریم) درنازل کړی دی.

۵_ نو ای پیغمبره! که بالفرض المحال ته د مخالفینو په دسیسو باندې تېر وځې او د خپل کتاب پیروي ته شا کړې بلکې د هغوی د خواهشاتو پیرو جوړ شي حال دا چې تاته د خپل دین او د خپل کتاب حقانیت ښه پوره معلوم شوی دی، نو ته به هم د الله ﷻ د پلوه د سخت عذاب سره مخامخ شې چې نه به بیا د خپل ځان دپاره د الله ﷻ څخه پرته دوست مونده کړې چې په دوستۍ سره دې د عذاب څخه خلاص کړي، او نه به ساتونکی په لاس درشي چې په قوت سره درڅخه د عذاب مخه واړوي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ ﴾ کښې د اهل الکتابو څخه د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما د تفسیر[۱] او د مجاهد علیه الرحمة د تفسیر په مطابق[۲] هغه کسان مطلب دي کومو چې د یهودو څخه ایمان راوړی وه لکه عبد الله بن سلام رضی الله عنه اونور، او کوم چې د نصاراوو څخه په ایمان باندې مشرف شوي وه لکه اتیا کسېزه ډله چې څلوېښت تنه یې د نجران څخه وه، اته تنه یې د یمن اوسېدونکي وه او بالآخره دوه دېرش تنه د حبشې څخه وه چې ټول اتیا (۸۰) تنه کېږي.

۲_ د ذکر شوي تفسیر غوښتنه دا ده چې د ﴿ وَمِنَ ٱلۡأَحۡزَابِ مَن يُنكِرُ بَعۡضَهُۥ ﴾ څخه د یهودو او نصاراوو.هغه ډله مطلب شي کومې چې په خپلو کتابونو باندې لکه څنګه چې مناسب وه ایمان نه وه راوړی[۳] نو د همدې کبله په قرآن کریم باندې هم د ایمان د راوړلو څخه محروم پاتې شوی وه، لکه کعب بن الاشرف او د ده امثال.

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې په اهل الکتابو کښې چې څوک واقعًا په خپل کتاب باندې ایمان راوړي هغوی په دې ټول قرآن باندې ایمان راوړل لا څه چې ورته خوشالېږي هم، او کومې ډلې چې د یهودو او نصاراوو څخه په خپل کتاب باندې لکه څنګه چې مناسب وه ایمان نه راوړي هغوی هم د دې قرآن کریم څخه هر اړخیزه انکار نه کوي بلکې د هغو ټکو څخه یې منکرېږي کوم چې د دوی د معتقداتو سره تضاد لري.

نو که بالفرض قرآن کریم حقاني کتاب نه وی نو په یهودو او نصاراوو کښې به هیڅوک نه وی موندلی شوي چې یا پرې خوشاله شوی وی او یا یې پرې ایمان راوړی وی، او نه به پکښې داسې ټکي موندلی شوی وی چې د دوی ځینو کفري ډلو ترې انکار نه وی کړی.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې په قرآن کریم کښې هغه کوم مضامین دي چې د اهل الکتابو کفري ډلې هم ترې انکار نه شي کولی؟

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۹ ص۶۰
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۵۱۸
(۳) روح المعاني ج۱۳ ص۱٦۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: د ذکرو شوو مضامينو لاندې ځو مثالونه ولولئ:

الف: د الله ﷻ د توحيد څخه هيڅ يو کتابي کافر انکار نه کوي، مګر دا بېله خبره ده چې په شرکياتو باندې اخته دي خو په شرک باندې اقرار نه کوي.

ب: قرآن کريم موسی ﷺ په حقه پيغمبر بولي چې يهودان ترې انکار نه کوي، او هم عيسی ﷺ په حقه پيغمبر ګڼي چې نصارا ترې انکار نه شي کولی او داسې نور.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې تاسو د دې سورت په سريزه کښې بهتره ګڼلې ده چې دا سورت د مکي سورتونو په مجموعه کښې وشمېرل شي، حال دا چې ذکر شوي ايتونه څرګند دليل دی چې دا سورت په مدينه منوره کښې نازل شوی دی. او دا خکه چې عبد الله بن سلام ﷺ خو بالاتفاق په مدينه منوره کښې ايمان راوړی دی، نه په مکه معظمه کښې؟

مونږ وايو چې:

الف: په مدينه منوره کښې د عبد الله بن سلام ﷺ ايمان راوړل اتفاقي خبره نه ده بلکې ځينو علماوو کرامو ليکلي دي چې نوموړي د هجرت څخه وړاندې مکې معظمې ته سفر کړی وه او هلته په ايمان باندې مشرف شوی وه، خو خپل ايمان يې ترهغه پټ کړی وه ترڅو چې نبي کريم ﷺ مدينې منورې ته هجرت وکړ، نو بيا يې خپل ايمان سمدستي علني کړ او هيڅ درنګ يې پکښې ونه کړ[1].

ب: ځينو مفسرينو کرامو عبد الله بن سلام ﷺ او د ده امثال د ذکرو شوو ايتونو دپاره د شان نزول په توګه ليکلي دي، حال دا چې سلفو صالحينو په مصداقاتو باندې هم د شان نزول اطلاق کاوه[2] او پوره واضحه ده چې په مصداقاتو کښې خو ضرور نه ده چې د ايت سره دې په زمانه کښې متحد وي بلکې مصداقات وړاندې او بېرته هم تحقق موندلی شي، نو که نوموړي صحابي ﷺ په مدينه منوره کښې ايمان راوړی وي او د ايت شريف دپاره مصداق وګڼل شي هيڅ باک يې نشته.

ج: دا هم څه لرې نه ده چې د ذکر شوي ايت مطلب دا وي چې په راتلونکي کښې به اهل الکتاب په ذکرو شوو دوه وو ګروپونو باندې ووېشلی شي، لکه چې همداسې وشوه.

## يادونه

۵_ که څه هم دا خبره محاله ده چې نبي کريم ﷺ د کفارو د خواهشاتو پيروي وکړي خو د دې سره سره د ﴿ وَلَئِنِ ٱتَّبَعۡتَ أَهۡوَآءَهُم ﴾ په جمله کښې د هغوی د پيروۍ څخه منعه کړی شوي دي، شايد چې په دې کښې به لاندې نکات په نظر کښې نيولی شوي وي:

الف: ترڅو د کفارو تمه غوڅه کړي، چې د نبي کريم ﷺ د بې لارې کولو د هلو ځلو څخه لاس واخلي.

ب: ترڅو ټول مؤمنان په غوږ ووهل شي چې د کفارو په پيروۍ باندې هر څوک د عذاب د نزول

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۲ ص۵۲۱

(۲) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسير المنار ج۹ ص۶۴۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جوګه جوړېږي. حتی چې بالفرض المحال د دې قانون څخه پخپله پیغمبر ﷺ هم وتلی نه دی، نو دوی نه په کار دي چې په جدي توګه ترې خان وساتي.

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً ۚ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ﴿٣٨﴾ يَمْحُو اللَّهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ ۖ وَعِندَهُ أُمُّ الْكِتَابِ ﴿٣٩﴾ وَإِن مَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ ﴿٤٠﴾ ﴾

[۳۸] او یقیناً مونږ ستا څخه وړاندې (هم ای پیغمبره!) پیغمبران استولي وه او (هم) مو هغوی ته مېرمنې او اولادونه ګرځولي (ورکړي) وه (نو په دې کښې څه عجیبه ده چې ته هم دهغوی غوندې مېرمنې او خوخات ولرې).

او (ای پیغمبره! ستا په شمول) هیڅ یوه پیغمبر ته (دا خبره) نه وه چې (د معجزاتو څخه یې) یوه معجزه راوړې وي مګر د الله ﷻ په اجازه (امر) سره، (نو ته هم د خپله خانه د معجزاتو فرمایش نه شې پوره کولی. اما د الله ﷻ په نزد) د هرې نېټې (او هر وخت) دپاره (ټاکلی) حکم دی (چې نه وړاندې کېږي او نه بېرته کېږي).

[۳۹] (ټول واک د الله ﷻ دی او بس) الله ﷻ هغه شی محوه کوي کوم ته یې چې اراده وشي او (هغه شی) ثابتوي (یا یې ثابت پرېږدي کوم ته یې چې اراده وشي)، او د الله ﷻ په نزد ام الکتاب (لوح محفوظ) دی (چې د ټولو کتابونو اصل دی).

[۴۰] او (ای پیغمبره!) که چرته مونږ یا د هغه عذاب ځینې برخې تاته در ولېدې کړو د کوم چې مونږ د دوی سره وعده کوو (نو همدا ستا د صداقت دپاره کفایت کوي) یا (که چرته) مونږ تا قبض کړو (نو هم په تا باندې کوم اعتراض نشته ځکه چې) یقیناً په تا باندې (فقط) د احکامو رسونه ده او (خاص) په مونږ باندې د دوی محاسبه (او په بدکارۍ باندې نیونه) ده.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هغو اشتباهګانو ته جواب نازل شوی دی کومې چې د اهل الکتابو کفري ډلو د خپل انکار او کفر دپاره د پلمو په توګه وړاندې کولې، چې د تفصیل خلاصه یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د اهل الکتابو کفري ډلې چې د قرآن کریم د ځینو مضامینو څخه انکار کوي د هغوی دلایل دا دي:

۱ــ دوی وایي که الله ﷻ قرآن کریم په حقه نازل کړی وی او محمد ﷺ په حقه پیغمبر وی نو متعددې مېرمنې به یې نه درلودې او ټول فکر او ذکر به یې په دعوة إلی الله کښې وی او بس.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اى پيغمبره! دا يوه بې اساسه اشتباه ده چې د خپلو كفرياتو دپاره يې پلمه نيولې ده، موږ ستا څخه وړاندې هم ډېر پيغمبران استولي دي چې مېرمنې او اولادونه يې درلوده، نو د مېرمنو او اولادونو درلودل د نبوت سره څه منافي كار نه دى، نو ستا د مېرمنو تعدد په حكمتونو باندې ولاړ دى او د شهوت پرستۍ څخه يې منشأ نه ده نيولې، كه بالفرض المحال دغسې وى لكه چې دښمنان خيال كوي نو ضرور به دغه كار ستا په ځوانۍ كښې صورت موندلى وى او هيڅكله به ستا په مېرمنو كښې كونډې او زړو ښځو برخه نه وې درلودلې.

۲ـ بله اشتباه يې دا ده چې ولې خپلو مخالفينو ته فرمايشي معجزات نه راوړې؟

د دې جواب دا دى چې موږ خو يوه پيغمبر ته هم په تكويناتو كښې برخه نه ده وركړې، نو هيڅ يوه پيغمبر د الله ﷻ د اجازې څخه په غير كومه معجزه خپل امت ته نه ده راوړې، نو ستا هم دا كار نه دى چې د معجزاتو په فرمايش كښې چاته هو يا نه ووايې، ستا وظيفه د نورو پيغمبرانو غوندې دعوة إلى الله ده او بس.

۳ـ بله اشتباه يې دا راپورته كړې ده چې كه محمد ﷺ په حقه پيغمبر وى نو په نسخه باندې به يې قول نه وى كړى، نه به په قرآن كريم كښې نسخه واقع شوې وى او نه به په قرآن كريم باندې پخوانې كتابونه منسوخ ګڼلى شوې وى. په دې باندې علاوه، كه قرآن كريم د الله ﷻ د پلوه نازل شوى وى نو په دې كتاب كښې به د ځينو ايتونو او ځينو احكامو نسخه نه وى واقع شوې، نو معلومه شوه چې دا د ده خپل تصنيف دى چې نن يو حكم وكړي سباته په هغه باندې پښېمانه شي نو په عوض يې بل حكم راوړاندې كړي چې دا تازه نازل شوى دى.

اى پيغمبره! د كفارو ذكره شوې اشتباه هم په لاندې ډول پورته كړه او جواب وركړه چې:

الف: د هر شي دپاره د الله ﷻ په نزد نښته ټاكلې شوې ده چې هيڅ شى پرته د خپلې ټاكلې شوې نېټې څخه په غير تحقق نه شي موندلى، او كله يې چې د بقاء دپاره ټاكلى شوى وخت پوره شي نو سمدستي نوموړى شى د منځه ځي. يا په بل عبارت: الله ﷻ ته د يو حكم د نزول په وخت كښې معلومه ده چې دا حكم به دومره وخت دوام كوي او بيا به نسخه كېږي، هسې نه چې د بقاء په موده باندې يې وروسته علم راغلى وي.

دا د يو پلوه، او د بل پلوه د هر وخت دپاره بېل حكم دى چې په يوه وخت كښې د بل وخت حكم د الله ﷻ دپلوه نزول نه مومي. نو د تورات او انجيل وختونه تېر شوي دي او اوس د قرآن كريم وخت راغلى دى چې پخواني ټول حكمونه او كتابونه يې منسوخ كړه او د قيامت د ورځې پورې به همدغه كتاب او همدغه شريعت باقي وي، خو د دې معنى دا نه ده چې پخواني كتابونه په خپلو وختونو كښې هم د اعتبار قابل نه وه.

ب: دا د الله ﷻ كار دى او بس چې كوم حكم محوه كوي، يا يې ثابت پرېږدي او يا يې په عوض باندې بل حكم ثابت ګرځوي. په دې كار كښې هيڅوك برخوال نه دي، دا فقط د الله ﷻ په ارادې پورې اړه لري او بس.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د الله ﷻ په نزد لوح محفوظ موجود دی چې د هر موجود د موجودیت کیفیت او کمیت پکښې آن په ازل کښې ثبت شوی دی، د همغه کتاب په مطابق د موجوداتو سلسله روانه ده او لا روانه به وي، نه پکښې څوک تغیر واقع کولی شي او نه پکښې چاته د لاس وهنې توان ورکړی شوی دی.

۴ـ بالآخره بله اشتباه یې دا ده که محمد ﷺ په حقه پیغمبر وی نو په خپلو مخالفینو باندې به یې عذاب نازل کړی وی.

ای پیغمبره! د دې اشتباه جواب دا دی چې د کوم عذاب د واقع کېدلو وعده چې الله ﷻ کړې ده هغه ضرور واقع کېدونکې ده، نو تاخیر او تالېدل یې د عدم تحقق معنی نه ورکوي بلکې د هر شي دپاره وخت ټاکلی شوی دی او هر شی په خپل ټاکلي وخت باندې تحقق مومي او بس.

نو ای پیغمبره! ضرور به یا ستا په ژوند کښې ستا په مخالفینو باندې د موعود عذاب څینې برخې ورنازلې کړو او ته به یې په خپلو سترګو باندې وګورې، او یا به تا خپل ځان ته قبض کړو او ستا د وفات څخه وروسته به پرې موعود عذاب ورنازل کړو.

په هر تقدیر د عذاب ورنازلول نه ستا کار دی او نه ستا په وسه کښې شته، په تا باندې فقط او فقط د شریعت رسونه ده او په مونږ باندې یې محاسبه ده چې د خپلې دقیقې محاسبې په مطابق به د خلکو سره په دنیا او آخرت کښې چال چلند کوو او بس.

## توضیحات

۱ـ که د الله ﷻ اراده وي نو د امهات المؤمنین د تعدد په هکله به د الأحزاب په سورت کښې څه ناڅه ولیکو، په دې مقام کښې هم څینو علماوو کرامو په همدې باره کښې ګټور معلومات لیکلي دي[1] نو محترم لوستونکي کولی شي چې سمدستي هلته مراجعه وکړي.

## کتاب یعني څه؟

۲ـ د ﴿ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ﴾ په جمله کښې د کتاب کلمه نازله شوې ده، چې په عرف کښې په لیک سره د حروفو (یو تربله) انضمان (پیوستون) ته ویل کېږي مګر کله-کله هغو تورو (حروفو) او هغو کلماتو ته هم د کتاب نوم اینبودلی کېږي کوم چې په تلفظ او تکلم کښې یو تربله پیوستون مونده کړي، د همدې کبله قرآن کریم د کتاب په لقب باندې هم یاد شوی دی حال دا چې نزول یې په لیک سره نه بلکې په تکلم سره تحقق موندلی دی[2].

خو په ذکره شوې جمله کښې د ﴿ كِتَابٌ ﴾ کلمه د حکم او شریعت معنی ورکوي[3]. نو د معنی حاصل یې داسې را څرګنده شي چې د هرې نبوت او هر وخت دپاره د الله ﷻ په نزد ځانګړی حکم او ځانګړی شریعت دی او هر یو په خپل وخت کښې اعتبار لري او بس.

---

(۱) روح المعاني ج۱۳ ص۱۶۸؛ تفسیر المراغي ج۱۳ ص۱۱۴
(۲) مفردات الراغب ص۴۴۰
(۳) البحر المحیط ج۶ ص۳۹۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## أمُّ الْكِتَاب د كوم كتاب نوم دی؟

٣_ په ﴿ يَمْحُواْ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ وَعِندَهُۥٓ أُمُّ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ كښې د "أُمُّ" كلمه د هغه شي دپاره وضعه شوې ده كوم ته چې نور شيان ورپيوسته شوې وي. يا په بل عبارت: هغه شي د "أمّ" په نامه يادېږي چې د نورو شيانو دپاره اصل وي[١]، د همدې كبله مكې معظمې ته د ﴿ أُمَّ ٱلْقُرَىٰ ﴾ لقب وركړې شوی دی، چې پوره بيان يې د [الأنعام: ٩٢] ايت لاندې تېر شوی دی، ولله الحمد.

په دې مقام كښې مفسرينو كرامو د ﴿ أُمُّ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ كلمه په لاندې دوه وو معناوو باندې تفسيره كړې ده:

الف: ځينې علماء كرام وايي چې د ﴿ أُمُّ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ څخه د الله ﷻ ازلي علم مراد دی، چې د ټولو علومو او ټولو اسماني كتابونو دپاره اصل دی او ټولو ترې نشات كړی دی[٢].

ب: ﴿ أُمُّ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ د هغه ازلي كتاب څخه عبارت دی چې الله ﷻ پكښې د دنيا د پيدا كولو څخه وړاندې د مخلوقاتو ټول كيفيات ليكلي دي[٣]. همدې كتاب ته د لوح محفوظ لقب هم وركړی شوی دی.

مونږ _لله الحمد_ د دې كتاب په هكله د [الأنعام: ٥٩] ايت شريف لاندې څه ناڅه شرحه ليكلې ده خو په دې مقام كښې ورباندې لاندې معلومات د الله ﷻ په توفيق وراضافه كوو:

اول: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ أَوَّلَ مَا خَلَقَ اللهُ الْقَلَمَ فَقَالَ لَهُ اكْتُبْ قَالَ رَبِّ وَمَاذَا أَكْتُبُ قَالَ اكْتُبْ مَقَادِيرَ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ»[٤] يعنې د هر شي څخه وړاندې الله ﷻ قلم پيدا كړ نو قلم ته يې امر وكړه چې وليكه! قلم عرض وكړ چې: ای ربه! هغه څه شی دی چې زه يې وليكم؟ الله ﷻ وويلې چې: د هرشي (هر ډول) مقدارونه وليكه چې د قيامت د قيام پورې پيدا كېږي.

دوهم: د عطاء بن ابي رباح رحمه الله څخه چا پوښتنه وكړه چې ﴿ أُمُّ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ څه شی دی؟ هغه جواب وركړه چې: «فَإِنَّهُ كِتَابٌ كَتَبَهُ اللهُ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَاوَاتِ وَقَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ الْأَرْضَ» الحديث[٥] يعنې يقينًا دا يو كتاب دی چې الله ﷻ د اسمان د پيداكولو څخه وړاندې او هم د ځمكې د پيداكولو څخه وړاندې ليكلی دی.

دريم: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما (رئيس المفسرين) د ذكر شوي ايت شريف په تفسير كښې فرمايلي دي چې: «هُمَا كِتَابَانِ كِتَابٌ سِوَى أُمِّ الْكِتَابِ يَمْحُو مِنْهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ وَأُمُّ الْكِتَابِ الَّذِيْ لَا يُغَيَّرُ مِنْهُ شَيْءٌ»[٦]

---

(١) لسان العرب ج١٢ ص٣١؛ مفردات الراغب ص١٨

(٢) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٣ ص١٢٢

(٣) التفسير الكبير ج١٩ ص٦٢؛ تفسير ابي السعود ج٥ ص٢٧؛ تفسير البغوي ج٣ ص٢٣

(٤) سنن ابي داوٗد ج٢ ص٢٩٠

(٥) جامع الترمذي ج٢ ص٣٨

(٦) تفسير البغوي ج٣ ص٢٣؛ حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٣ ص١٢٢؛ الدر المنثور ج٤ ص٦٦٤

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعنې د ذکر شوي ایت شریف څخه څرګندېږي چې د مخلوقاتو مقادیر په دوه وو کتابو کښې لیکلي شوي دي چې: یو کتاب د پرښتو په نزد دی چې په هغه کښې تغیرات او تبدیلات صورت نیسي، څه لرې نه ده چې د کتاب المحو والاثبات نوم ورباندې کېږدو، او بل کتاب د الله ﷻ په نزد دی چې په هغه کښې هیڅ تغیر او تبدیل نه واقع کېږي او الله ﷻ د ﴿ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ په نامه یاد کړی دی.

د ﴿ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ په هکله که څوک زیات معلومات لوستل غواړي نو څینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[1] مونږ ته په دې مقام کښې د ﴿ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ همدغه دوېمه معنی په زړه پورې برېښي. نو د معنی حاصل به یې داسې را وخېژي چې: ای پیغمبره! خپلو مخالفینو ته جواب ورکړه چې په قرآن کریم باندې د پخوانیو کتابونو نسخه کېدل او یا پخپله قرآن کریم کښې نسخه واقع کېدل د تکذیب دلیل نه شي جوړېدلی، ځکه لکه څنګه چې الله ﷻ روزمره څینې موجودات محوه کوي او په عوض یې نور مخلوقات اثباتوي او وجود ورکوي همدارنګه الله ﷻ په خپلو تشریعي احکامو کښې هم همدا طریقه جاري ساتلې ده، چې څینې احکام منسوخوي او په عوض یې نور احکام نازلوي، اما د الله ﷻ په علم کښې او هم د ده ﷻ په ازلي کتاب کښې ناسخ او منسوخ دواړه موجود دي، چې دا حکم به د فلانې وخته پورې دوام کوي او بیا به دا حکم د عمل صحنې ته د هغه حکم په عوض وړاندې کېږي.

لنډه دا چې نسخه به په هغه وخت د تکذیب دپاره دلیل جوړ شوی وی چې په منسوخ حکم باندې الله ﷻ په ازل کښې علم نه درلودی او د نسخه کولو په وخت کښې ورته معلومه برېښېدلې دي چې دا حکم د هغه څه بهتر دی ـالعیاذ بالله ـ، خو خبره داسې نه ده، خبره داسې ده چې الله ﷻ ته هم په خپل کامل علم کښې او هم په خپل ازلي کتاب ﴿ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ کښې په ټاکلو کیفیتونو او ټاکلو وختونو سره هم نواسخ معلوم دي او هم مناسخ. الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَكُلُّ شَيۡءٍ عِندَهُۥ بِمِقۡدَارٍ ﴾ [الرعد:٨] یعنې هر شی د ناسخ او منسوخ په شمول د الله ﷻ په نزد په معینې او ټاکلې اندازې سره دی چې نه پکښې نقصان واقع کېږي او نه زیادت قبلوي.

اما د پرښتو سره نه کامل علم شته او نه ورسره کامل کتاب شته، نو څه لرې نه ده چې نظر د دوی علم ته او نظر د دوی کتاب (کتاب المحو والإثبات) ته د چا عمر لنډ یا اوږد شي، او یا د چا شقاوت په سعادت او یا بالعکس د چا سعادت په شقاوت بدلون ومومي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: څینو مفسرینو کرامو[2] خو لیکلي دي چې په ﴿ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ کښې هم محو او اثبات تحقق موندلی شي، چې په همدې مناسبت یې د المجدد للالف الثاني علیه الرحمة د خولې څخه یوه ښه اوږده قیصه لیکلې ده؟

(١) شرح العقیدة الطحاویة ص٢۶٣
(٢) تفسیر المظهري ج۵ ص٢۴۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: کومه خبره چې مونږ لیکلې ده هغه د أهل السنة و الجماعة عقیده ده او د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت شوې ده[۱] لکه چې وړاندې تېر شو، اما چا چې په ﴿ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ کښې د تغیر واقع کېدلو دعوه کړې ده هغوی د خپلې دعوې د اثبات دپاره هیڅ منقول د قبول وړ دلیل نه دی وړاندې کړی، نو د همدې کبله د هغوی خبرې ته څه اعتبار نشته چې په ﴿ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ کښې هم تغیر واقع کېدلی شي.

خو په یاد ولرئ! چا چې په ﴿ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ کښې د تغیر د واقع کېدلو دعوه کړې ده هغوی وایې چې: د ﴿ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ څخه وروسته یوه بله درجه ده چې په هغې کښې تغیر نه واقع کېږي چې هغه د الله ﷻ د کامل علم څخه عبارت ده[۲].

مونږ څکه دغه تفسیر خوښ نه کړه چې الله ﷻ خپل ازلي کتاب ته د محفوظ لقب ورکړی دی چې: ﴿ فِي لَوۡحٖ مَّحۡفُوظِۭ ﴾ [البروج: ۲۲] یعنې قرآن کریم په لوح محفوظ ﴿ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ کښې ساتلی شوی دی چې د هر ډول تغیر څخه محفوظ دی.

## د إلهي قضاء ډولونه

۵ـ د الله ﷻ قضاء (فیصله) په دوه ډوله ده او لاندې دوه لقبونه لري[۳]:

الف: مُبْرَمَة قضاء، یعنې محکمه او قاطعه فیصله په کومه کښې چې هیڅ تغیر او تبدیل تحقق نه شي موندلی، لکه هغه فیصلې کومې چې په ذکر شوي ﴿ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ کښې ثبت شوې وي او یا هغه فیصلې کومې چې یوازې د الله ﷻ په ازلي علم کښې دي او بس.

ب: مُعَلَّقَة قضاء، یعنې هغه فیصلې کومې چې د ﴿ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ څخه د کتاب المحو والإثبات ته د ټولو قیوداتو سره نه وي انتقالې شوې، نو کله چې دغه قیودات تحقق ومومې او څرګند شي البته په هغې توګه باندې په کومه توګه چې هلته ثبت شوی وي، نو تغیر پکښې واقع شي.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وایې چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ»[۴] یعنې هرڅوک چې په خپل رزق کښې پراخي خوښوي او په خپل اثر (عمر) کښې تاخیر (وروستوالی) خوښوي نو هغه دې خپل رحم (خپلولي) پیوسته کړي او د خپلوانو څخه دې بیلتون نه غوره کوي.

---

(۱) تفسیر الخازن ج۳ ص۵۰۳
(۲) تفسیر القرطبي ج۹ ص۳۳۲
(۳) روح المعاني ج۱۳ ص۱۷۱
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۸۸۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو پوښتنه دا ده چې: ایا په تاکلې روزۍ کښې تغیر واقع کېدلی شي؟ ایا د مرګ په ټاکلې نېټه کښې تاخیر واقع کېدل امکان لري؟ حال دا چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «يَا أَبَا هُرَيْرَةَ! جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا أَنْتَ لَاقٍ»[۱] یعنې ای ابو هریره! یقیناً په هغه شي باندې قلم وچ شوی دی (تغیر نه قبلوي) د کوم شي سره چې ته ملاقي کېدونکی یې.

مونږ وایو: ذکر شوي سوال ته علماوو کرامو ډېر جوابونه کړي دي[۲]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ذکر شوي تغیر په معلقه قضاء کښې صورت نیسي، نه په مبرمه قضاء کښې، چې تفصیل یې لږ وړاندې تېر شو.

ب: ذکر شوې پراخي او ذکر شوی تاخیر په کم (څومره والي) کښې نه دی بلکې په کیف (څرنګوالي) کښې دی، یعنې هرڅوک چې خپلوي پالي په لږ رزق او لږ عمر کښې به یې برکت واچولی شي او نوموړي ته به ترې ډېره ګټه ورسېږي، نه به وایې چې د رزق ډېره پراخي ورباندې ورغلې ده او د اوږد عمر خاوند دی.

## یادونه

۷ـ د ذکر شوي ایت شریف په تفسیر کښې علماء کرامو زښت ډېر اوږده بحثونه کړي دي[۳] او د ﴿يَمْحُواْ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ﴾ دپاره یې په متعددو اقوالو سره مصداقات ښودلي دي. زمونږ په فکر که ذکر شوی مصداقات په إشارة النص سره واخستلی شي نو څه باک یې نشته، اما په عبارة النص سره د ذکر شوي ایت شریف دپاره همغه تفسیر غوره برېښي کوم چې مونږ خوښ کړی دی. هغه دا چې ایت شریف د نسخې په هکله نازل شوی دی، چې اهل الکتابو د خپلو کتابونو منسوخیت نه قبلاوه او هم یې قرآن کریم ته د بطلان نسبت کاوه چې په دې کښې نسخه واقع کېږي.

مونږ ځکه ذکر شوی تفسیر خوښ کړ چې دا د سیاق او سباق (وړاندې او بېرته) سره ښه پیوند نیسي او علماء کرام وایي[۴] چې د قرآن کریم ایتونه باید تر وسې-وسې د سیاق او سباق په مطابق تفسیر کړی شي او بس.

﴿أَوَلَمْ يَرَوْاْ أَنَّا نَأْتِي ٱلْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ وَٱللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِۦ ۚ وَهُوَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿٤١﴾ وَقَدْ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَلِلَّهِ ٱلْمَكْرُ جَمِيعًا ۖ يَعْلَمُ مَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ ۗ وَسَيَعْلَمُ ٱلْكُفَّـٰرُ لِمَنْ عُقْبَى ٱلدَّارِ ﴿٤٢﴾ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَسْتَ مُرْسَلًا ۚ قُلْ

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۹۶۰
(۲) تفسیر القرطبي ج۹ ص۳۳۰؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۵۰۱
(۳) زاد المسیر ج۴ ص۲۴۸؛ الجواهر للطنطاوي ج۷ ص۱۶۵؛ روح المعاني ج۱۳ ص۱۶۹؛ تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۵۱۹؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۵۰۲
(۴) تفسیر القاسمي ج۹ ص۳۷۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ وَمَنۡ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡكِتَٰبِ ﴿٤٣﴾

[۴۱] ایا کفارو (دې خبرې ته) نه دي لیدلي چې یقینًا مونږ ځمکې (د دوی وطن) ته ورځو (قصد کوو) نو دا ځمکه د خپلو څنډو څخه کموو (او اسلام پکښې نناباسو). او الله ﷻ حکم (فیصله) کوي چې د ده ﷻ د حکم دپاره هیڅ تعقیب کوونکی (رد کوونکی) نشته، او همدی ﷻ توند حسابي (چالاکه نیوونکی) دی.

[۴۲] او یقینًا هغو کسانو (د اسلام د تخریب په غرض) پټ تدبیرونه کړي وه کوم چې د دوی څخه وړاندې وه (خو څه کټه یې ورته ونه شوه رسولی او دا) ځکه چې ټول پټ تدبیرونه خاص الله ﷻ لره دي (موثریت یې د همده ﷻ په لاس دی). همدی ﷻ په هغه څه باندې پوهېږي کوم چې هر نفس (هرڅوک) یې کسب کوي، او ژر دی چې کفار به (په دې باندې) پوه شي چې د دې دنیا (یا هغې دنیا) نېکه نتیجه د چا دپاره ده؟ (د کفارو دپاره که د مسلمانانو دپاره).

[۴۳] او (ای پیغمبره! تاته) هغه کسان وایي کومو چې کفر غوره کړی دی (داسې) چې ته (د الله ﷻ دپلوه) نه یې لېږلی شوی.

(نو ته ورته په جواب کښې) ووایه چې الله ﷻ زما او ستاسو په منځکښې د شهادت ورکوونکي په حیث بس دی او هغه څوک هم چې د ده په نزد د (الهي) کتاب (تورات، انجیل، قرآن) علم وي، (د دغسې لویو شهادتونو سره-سره انکار کول د اعتبار وړ نه دی).

## ارتباطونه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو لاندې مضامین تائید شوي دي:

۱ـ ټول شیان د الله ﷻ په نزد مقدر دي او هم محوه او اثبات د الله ﷻ په اختیار کښې دي او بس، چې هیڅوک یې مخه نه شي نیولی.

۲ـ په کفارو باندې د عذاب د نازلېدلو پیل د هغه وخت څخه شوی دی په کوم کښې چې نبي کریم ﷺ حیات وه، او انتهاء به یې په هغه وخت کښې تحقق مومي چې د دنیاوي عذاب باندې د پاسه ورباندې اخروي عذاب هم ورنازل شي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس نو په کفارو باندې د وړاندېنیو مضامینو د تائید دپاره لاندې نکات قرائت کړه:

۱ـ په تا باندې خپل مخالفین د استهزاء او تمسخر په توګه عجله کوي چې هله ژر شه په مونږ باندې موعود عذاب رانازل کړه، که نه نو ته به په خپل قول کښې دروغژن یې.

ای پیغمبره! ایا ستا مخالفین تمسخر کوي حال دا چې روزمره مونږ د دوی ټاټوبي ته قصد کوو او د دوی په کفري مساکنو کښې کمبود واقع کوو، چې ځینې د مسلمانانو مجاهدینو په لاس باندې فتحه کوو او د ځینو اشراف په ایمان راوړلو باندې سرلوري کوو. ایا دا کار د عذاب د راتګ

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نښه نه ده؟ ایا دوی نه پوهېږي چې الهي عذاب دوی ته ور روان دی؟

۲_ په کفارو باندې د عذاب نزول د الله ﷻ فیصله ده، او د الله ﷻ فیصله هیڅوک نه ردولی شي او نه یې د مخنیوي په غرض تعقیبولی شي، نو د همدې کبله د الله ﷻ د نومونو څخه یو نوم سریع الحساب دی، یعنې هغه اقدس ذات چې محاسبه او نیونه یې په چالاکۍ سره را روانه ده، او هیڅوک یې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی.

۳_ که څه هم پخوانیو کافرانو هم ډېر پټ تدبیرونه کړي دي چې د الله ﷻ د فیصلې مخنیوی وکړي، مګر هیچاته په درد باندې نه دي دواء شوي او هیڅ ګټه یې ورته نه ده رسولې. او دا څکه چې د ټولو پټو او ښکاره تدابیرو موثریت په الله ﷻ پورې اختصاص لري، د ده ﷻ د ارادې څخه پرته یو شی هم موجودیت نه شي موندلی، همدارنګه د دې زمانې د کفارو د پټو تدابیرو څخه څه شی نه شي جوړېدلی او موثریت نه شي درلودلی.

۴_ د الله ﷻ څخه د بندګانو هیڅ یو کسب او کار نه شي پټېدلی نو د دوی ټول پټ کارونه الله ﷻ ته څرګند دي.

۵_ که څه هم کفارو په ذکرو شوو نښو نښانو باندې سترګې پټې کړي دي او خپل خانونه یې وړباندې رانده اچولي دي، خو ډېر ژر دی چې دوی به په دې خبره باندې پوه شي چې د دنیا او آخرت نېک عاقبت او انجام د چا دپاره دی؟ د مؤمنانو دپاره که د کفارو دپاره؟

۶_ ای پیغمبره! کفار خو په خپل جهل باندې کلک دي، نه ستا د صداقت دلایلو ته غوږ ږدي او نه د الله ﷻ وحدانیت قبلوي بلکې تاته په صریحو کلماتو کښې خطاب کوي چې ته پیغمبر نه یې. نو بالمقابل ته دوی مخاطب کړه او ورته ووایه چې ای کفارو! تاسو چې هیڅ ډول دلایل نه قبلوئ نو دغه دوه شهادتونه هم زما د صداقت دپاره کفایت کوي په دغو شهادتونو باندې باور وکړئ، هغه دا چې:

الف: د الله ﷻ شهادت، چې هم په قرآن کریم سره زما رسالت تصدیقوي او هم یې ټول کائنات زما په صداقت باندې د دلایلو په حیث قائم کړي دي چې الله ﷻ هیڅ شریک نه لري.

ب: د اسماني کتابونو (قرآن، تورات، انجیل، زبور) د علماوو شهادت، البته هغه علماء کرام چې د خپل کتاب په غوښتنه باندې یې په صحیحو معناوو کښې عقیده او عمل کړی دی.

## توضیحات

۱_ د ﴿ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ﴾ په جمله کښې د "أطراف" کلمه د "طرف" _لکه "شرف"_ جمعه ده، د "طرف" کلمه خو د یوه شي څنډې او غاړې ته وضعه شوې ده[۱] مګر په دې مقام کښې علماوو کرامو په متعددو معناوو باندې تفسیره کړې ده[۲]. زمونږ په فکر بهتره برېښي چې دلته په خپله

(۱) مفردات الراغب ص۳۱۲

(۲) تفسیر زاد المسیر ج۴ ص۲۵۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لغوي معنی باندې تفسیره شي نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې ایا اوس هم مشرکان د مسلمانانو په غلبې او په خپلې کمزورۍ او مغلوبیت باندې یقین نه کوي حال دا چې دوی په خپلو سترګو ګوري چې روزمره د کفر کړۍ تنګېږي چې د مکې معظمې په شاوخوا کښې خینې قبائل په اسلام باندې مشرف جوړېږي او د ځینو نورو مشران او محور خلک اسلام ته را اوړي، ایا دا کار د دې دلیل نه شي کېدلی چې په نن سبا کښې به اسلام غالب شي او دوی به مغلوب جوړ شي؟

په همدې مضمون باندې الله ﷻ بل ایت هم نازل کړی دی چې: ﴿ أَفَلَا يَرَوْنَ أَنَّا نَأْتِي ٱلْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَآ ۚ أَفَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ﴾ [الأنبياء:۴۴] یعنې ایا نو کفار دې ته نه ګوري چې مونږ (روزمره) د کفارو ځمکې (اوسېدنځای) ته قصد کوو چې د اطرافو څخه يې کموو، ایا نو دوی غلبه موندونکي دي؟.

## سوال جواب

که څوک وايي چې د کفرستان د کړۍ تنګېدل خو د هجرت څخه وروسته پیل شوي دي، نو که دا سورت مکي وګڼل شي نو بیا خو ذکر شوي تفسیر غوره نه برېښي؟

مونږ وايو چې: که دا سورت مکي هم وي ذکر شوي تفسیر غوره برېښي، ځکه چې د کفرستان کړۍ لا په هغه وخت کښې په تنګېدلو باندې پیل کړې وه په کوم کښې چې مسلمانانو په حبشه کښې پنا واخستله او هلته يې په خلکو کښې محبوبیت خور شو او د مشرکانو سره د عداوت ډېره کېښودله شوه.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۲ـ که څوک وايي چې ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې د ﴿ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَسْتَ مُرْسَلًا ﴾ الآیة د اهل الکتابو د مشرانو په حال کښې نازل شوی دی چې یوه ورځې د نصاراوو یو مشر نبي کریم ﷺ ته د یمن څخه ورغی نو نبي کریم ﷺ ترې پوښتنه وکړه چې: «هَلْ تَجِدُنِي فِي الإِنْجِيْلِ رَسُوْلًا»[۱] ایا ته ما په انجیل کښې د پیغمبر په حیث مونده کوې؟ نو هغه جواب ورکړه چې: "لَسْتَ مُرْسَلًا" ته پیغمبر نه يې.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا ذکر شوی شان نزول د دې سورت مدني والی نه تقویه کوي؟

مونږ وايو چې: سلفو صالحینو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه[۲] او په مصداقاتو کښې دا ضرور نه ده چې د ایت شریف د نزول په وخت کښې دې واقع شوی وي، څه لرې نه ده چې د ایت شریف مطلب دا وي چې کفار ستا په رسالت باندې سمدستي قائل نه دي لکه مشرکان، او ځینې به لا وروسته پیدا شي چې ستا د رسالت څخه به انکار وکړي لکه ځینې اهل الکتاب. اما

---

(۱) روح المعاني ج۱۳ ص۱۷۵

(۲) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خينې نور به ستا په رسالت باندې شهادت ورکړي البته هغه علماء کومو چې د خپلو کتابونو په مطابق عمل کړی دی، لکه عبد الله بن سلام او نور.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې په ﴿ وَمَنۡ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡكِتَـٰبِ ﴾ کښې څوک مراد دي؟ يا په بل عبارت: هغه څوک دی چې د هغوی په نزد د کتاب علم موجود دی او د نبي کريم ﷺ په رسالت باندې شهادت ورکوي؟

مونږ وايو چې:

الف: ځينو مفسرينو کرامو په ذکره شوې جمله کښې د اهل الکتابو علماء مراد کړي دي[1] البته هغه علماء چې د خپل کتاب په مقتضی يې عمل کړی دی، لکه عبد الله بن سلام رضي الله عنه او نور.

ب: ځينو نورو د ﴿ ٱلۡكِتَـٰبِ ﴾ څخه قرآن مراد کړی دی او په ذکره شوې جمله کښې يې هغو کسانو ته اشاره ګڼلې ده کوم چې د قرآن کريم په معجزانه نظم کښې تفکر کوي، نو دوی پوهېږي چې دا کتاب د بشر د پلوه نه دی جوړ شوی[2].

مګر مونږ ته بهره برېښي چې ذکره شوې جمله په خپل عموم سره پرېښودله شي ترڅو ټولو علماوو ته شامله شي، لکه د تورات او انجيل حقاني علماء او يا د قرآن کريم حقاني علماء لکه ملائک او انسانان.

مونږ ځکه عموم خوښ کړ چې همدې ايت ته ورته يو بل ايت هم تېر شوی، دی چې ټولو علماوو ته شامل دی، هغه دا چې: ﴿ شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلۡمَلَـٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلۡعِلۡمِ ﴾ [آل عمران:۱۸] يعنې الله ﷻ په دې خبره باندې شهادت ورکوي چې يقيناً په حقه معبود نشته مګر همدی ﷻ دی او بس، او همدا شاهدي پرښتې هم ورکوي او د علم خاوندان هم (هرڅوک چې وي).

## يادونه

د الله ﷻ د شهادت ډولونه د [الأنعام:۱۹] ايت لاندې تېر شوي دي ـ لله الحمد ـ چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو، هيله ده چې علاقمندان يو ځل هلته مراجعه وکړي.

د "الرَّعْد" سورت د الله ﷻ په توفيق ختم شو.

۱۳۷۶/۵/۲۸ هـ ش.

---

(۱) تفسير ابي السعود ج۵ ص۲۹؛ تفسير ابن کثير ج۲ ص۵۲۱

(۲) البحر المحيط ج۶ ص۴۰۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# إبراهيم (١٤)


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سريزه

د دې سورت په سريزه كښې مونږ غواړو چې د الله ﷻ په توفيق د محترمو لوستونكو توجه لاندې ټكو ته راواړوو ترڅو په اجمالي توګه د سورت سره اشنا شي:

١ـ دا سورت د ابراهيم ﷺ د سورت په نامه باندې نومولى شوى دى چې د دې سورت په وروستنيو ايتونو كښې د ابراهيم ﷺ خيني هغه مهم سوالونه نازل شوي دي كوم چې هغه د الله ﷻ په حضور كښې وړاندې كړي وه، ترڅو د ده اولاده او د ده د اتباع دعوه كوونكي ورته ښه متوجه شي چې ايا نومړې غوښتنې وربانديې تطبيق موندلى شي او كه څنګه؟

٢ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي[١]:

الف: د دې سورت د ايتونو شمېر دوه پنځوس (۵۲) دى[٢].

ب: د كلماتو شمېر يې اته سوه يو دېرش (۸۳۱) دى.

ج: د حرفونو شمېر يې درې زره اته سوه څلور دېرش (۳۸۳۴) دى.

٣ـ د جمهورو په نزد ټول ايتونه يې مكي دي[٣] مګر ځينو علماء كرام وايي چې درې ايتونه پكښې مدني دي[۴] چې د ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ بَدَّلُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ﴾ (الآية) څخه پيل كېږي.

## د دې سورت محتويات

۴ـ د دې سورت مهم بحثونه د اكثريت په لحاظ سره د نورو مكي سورتونو غوندې د عقيدوي موضوعاتو سره تړاو لري، لكه د الله ﷻ توحيد، د نبي كريم ﷺ رسالت او د قيامت د ورځې حساب كتاب او وعد او وعيد او داسې نور.

## د وړاندېني سورت (الرَّعْد) سره ارتباطونه

۵ـ دا سورت برسېره په دې چې د هغه سورت سره د عقيدوي موضوعاتو په بحث كښې اشتراك لري چې دواړه مكي سورتونه دي، لاندې ارتباطات او مناسبات هم سره لري:

الف: هلته د تكويناتو ذكر شوى وه لكه د اسمانونو او ځمكو او نورو پيدا كول، دلته هم تكوينات ذكر شوي دي. خو په دواړو ځايونو كښې دومره فرق لري چې هلته د دلايلو په حيث ذكر شوي دي او دلته د نعمتونو په حيث ذكر كېږي.

ب: هلته حق او باطل ته د سيلاب د اوبو او د خګ تمثيل وركړى شوى وه او دلته دواړو ته د پاكيزه ونې او بې بنياده ونې مثال وركړى شوى دى.

---

(١) اللباب في علوم الكتاب ج١١ ص٣٢٨

(٢) تفسير الطبري ج١٣ ص١٧٩؛ تفسير ابن كثير ج٢ ص٥٢٢

(٣) روح المعاني ج١٣ ص١٧٩

(۴) البحر المحيط ج۶ ص۴۰۵؛ تفسير القرطبي ج٩ ص٣٣٨

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: هلته اشاره شوې ده چې د کفارو مکرونه (پټ تدبيرونه) څه اثر نه شي درلودلی. دلته هم عين مطلب په يوه نوي طرز سره بيان کړی شوی دی چې د [إبراهيم: ۴۶] ايت کښې ورته اشاره شوې ده.

د: هلته الله ﷻ فرمايلي دي چې مونږ محمدي شريعت د عربي ژبې په قالب کښې نازل کړی دی، او دلته يې د همدغه ډول نزول حکمت ته اشاره کړې ده چې ترڅو لومړني مخاطبين ورباندې ښه پوه شي، دغسې نور ارتباطات هم لري.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ الٓر ۚ كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَمِيدِ ﴿١﴾ ٱللَّهِ ٱلَّذِى لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَوَيْلٌ لِّلْكَٰفِرِينَ مِنْ عَذَابٍ شَدِيدٍ ﴿٢﴾ ٱلَّذِينَ يَسْتَحِبُّونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا عَلَى ٱلْءَاخِرَةِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ فِى ضَلَٰلٍۭ بَعِيدٍ ﴿٣﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

(دا) داسې کتاب دی چې مونږ تاته (ای پيغمبره!) درنازل کړی دی، (البته) د دې دپاره چې ته (ټولو) خلک (عرب او عجم) د دوی د رب ﷻ په توفيق د تيارو څخه رڼا ته راوباسې (يا په بل عبارت: دوی ټولو د شيطاني لارې څخه) د داسې اقدس ذات لارې ته (راوباسې) چې غالب دی (او هر شي يې په مقابل کښې ذليل دی او هم) د ښو صفاتو څښتن دی (چې د چا توصيف ته ارتيا نه لري).

[۲] هغه الله ﷻ چې ده ﷻ ته هغه څه دي کوم چې په اسمانونو کښې دي او هغه څه دي کوم چې په ځمکو کښې دي، او کفارو ته هلاکت (او مصيبت) دی چې د سخت عذاب څخه عبارت دی.

[۳] هغو کفارو ته چې حقير (نږدې) ژوند ته په آخرت باندې غوروالی ورکوي، او د الله ﷻ د لارې څخه (خلک) منعه کوي، او (هم) د الله ﷻ لارې ته کوږوالی (شبهات او اعتراضات) لټوي. دغه کسان (کفار) چې دي په لرې ضلالت کښې (پراته) دي.

## ارتباط

د وړاندېني سورت د وروستني ايت په مضمون کښې دا خبره شامله وه: هرڅوک چې په اسماني کتاب باندې پوخ علم لري هغه د نبي کريم ﷺ په رسالت باندې اعتراف کوي چې په حقه پيغمبر دی. د دې سورت په ذکرو شوو ايتونو کښې ذکر شوی مضمون تائيد شوی دی چې حاصل يې داسې راځي:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

اى پيغمبره! هرڅوک چې په اسماني کتاب باندې پوخ علم ولري هغه به ضرور ستا په رسالت باندې اعتراف کوي. او دا ځکه چې په پخوانيو اسماني کتابونو کښې اوس هم (د تحريف سره سره) داسې دلائل موندل کېږي چې ستا د نبوت او رسالت د ثبوت دپاره کفايت کوي، نو ته خپل مخالفين او خپل معاندين لاندې ټکو ته متوجه کړه:

۱_ دا کتاب (قرآن کريم) پخپله شهادت ورکوي چې دا مونږ تاته درنازل کړى دى او تا د خپله خانه نه دى جوړ کړى. او دا ځکه چې دا کتاب د همغو تورو او حروفو څخه مرکب دى د کومو څخه چې ستا د مخالفينو او ستا د منکرينو کلامونه مرکب دي، لکه "الف، ل، ر" او داسې نور، مګر د دې سره سره چې هغوى په خپلو محاورو او مباحثو کښې د ډېر بلاغت او زيات فصاحت درلودونکى دى خو د همدغه کتاب د يوه وړوکي سورت په مثل جوړولو باندې هم توان نه لري، نو په کلي او مجموعي توګه د دوى عجز د دې خبرې دليل دى چې دا کتاب د بشر تصنيف نه دى بلکې مونږ تاته د دې دپاره درنازل کړى دى چې:

۲_ ترڅو ټول خلک (په هره ژبه چې خبرې کوي او په هر وطن او هره زمانه کښې چې ژوند کوي) د ډول-ډول (مختلفو) کفرياتو څخه راوباسې او د حق مشال په لاس کښې ورکړې.

۳_ ترڅو دوى ټول د خپل رب ﷻ په توفيق او هدايت سره په هغې لاره باندې روان شي کومه چې دوى ته د الله ﷻ د پلوه ورنازله شوې ده.

۴_ خو په ياد ولرئ چې الله ﷻ په هر شي باندې غالب دى او ټول مخلوقات د ده ﷻ حکم ته ذليل او غاړه اېښودونکي دي، نو که بالفرض د ده ﷻ اراده شوې وى نو ټول به يې په ايمان باندې مشرف کړي وى، خو دا کار د حکمت څخه مخالف وه.

همدارنګه الله ﷻ د ښو صفاتو خاوند دى، د هيچا تحميد او تمجيد ته اړتيا نه لري، نو که خلک په ذکره شوې لاره باندې په خپله خوښه روان شي نو فقط خپلو ځانونو ته يې ګټه ده او بس.

۵_ الله ﷻ ځکه عزيز او حميد دى چې همدى ﷻ هغه اقدس ذات دى چې اسمانونه او ځمکې او هم هغه څه چې په اسمانونو کښې او هغه څه چې په ځمکو کښې دي ټول همده ﷻ پورې اختصاص لري، چې همده ﷻ پيدا کړي دي او د همده ﷻ په واک او اختيار کښې دي.

۶_ بالمقابل هرڅوک چې په ذکره شوې لاره باندې لاړ نه شي نو هغوى خپل ځانونه په غټ تاوان کښې واچول. ځکه چې کفارو لره د قيامت په ورځ ډېر سخت عذاب دى چې د دوزخ څخه عبارت دى.

۷_ کفار هغه خلک دي چې د الهي ربنا څخه استفاده نه کوي او د کفر په تيارو کښې پراته دي، نو د همدې کبله دوى لاندې خويونه او عادتونه لري:

الف: نږدې حقير ژوند يې خوښ کړى دى او خوندور او دائمي ژوند يې هېر کړى دى، چې هيڅ باور او عقيده پرې نه لري.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: برسېره په دې چې دوی پخپله ګمراهان دي نور خلک هم د الله ﷻ د لارې څخه کفر ته اړوي او یا یې نه پرېږدي چې د کفر د تیارو څخه ووځي.

ج: نو ځکه د همېشه دپاره تاند وهي او زیار وباسي چې د الله ﷻ په لاره کښې د خلکو د تېر ویستلو دپاره څه چل ول جوړ کړي او (په خپل خیال) کوږوالی پکښې مونده کړي چې دا حقه لاره نه ده، په دې کښې فلانکی او بستانکی عیب دی.

د: ای پیغمبره! دغه ډول خلک روزمره د حق څخه لرې کېږي او په دوامداره توګه په کندو کښې لوېږي، نو د همدې کبله د دغسې خلکو دپاره هلاکت او د دوزخ د اور کنده ټاکلې شوې ده.

## توضیحات

۱_ د دې خبرې وجه چې الله ﷻ د ﴿ٱلظُّلُمَٰتِ﴾ کلمه جمعه نازله کړه او د ﴿ٱلنُّورِ﴾ کلمه یې مفرده نازله کړه، مونږ د [البقرة: ۲۵۷] ایت لاندې _لله الحمد_ ذکره کړې ده چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

۲_ په ﴿بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡ﴾ کښې د "إذن" کلمه اصلاً د دې دپاره وضعه شوې ده چې چاته د هغه خای د ورننوتلو اجازه ورکړې شي کوم ته چې بې اجازې څوک نه شي ورننوتلی[1] خو په دې مقام کښې د ذکرې شوې کلمې څخه اساني او سهولت مطلب دی[2]. نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! ستا وظیفه ده چې خلک د کفر د تیارو څخه د اسلام رڼا ته راوباسې او دعوت ورته ورکړې، خو دا کار به د الله ﷻ په توفیق او تسهیل سره صورت نیسي ځکه چې: ﴿إِنَّكَ لَا تَهۡدِي مَنۡ أَحۡبَبۡتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يَشَآءُ﴾ [القصص: ۵۶] یعنې یقینًا ای پیغمبره! ته هغه چاته هدایت نه شې کولی (چې په ایمان مشرف شي) کوم ته چې ستا زړه یې غواړي مګر الله ﷻ هدایت کوي چا ته یې چې خوښه او اراده وشي (نو د ایمان د راوړلو توفیق ورکوي).

۳_ په ﴿وَيَبۡغُونَهَا عِوَجًا﴾ کښې بارز ضمیر "سَبِيلِ الله" ته راجع دی، او "عِوَج" د کوږوالي معنی ورکوي، چې ځینو مفسرینو کرامو ذکر شوې جمله په لاندې درېوو معناوو سره تفسیره کړې ده چې یو تربله سره څه منافات نه لري، ممکنه ده چې ټولې مرادې وي:

الف: کفار هغه کسان دي کوم چې د الله ﷻ د لارې لټونه په اخلاص سره نه کوي بلکې د کوږوالي او د چل په حالت کښې یې لټونه کوي.

ب: دوی هغه کسان دي چې د الله ﷻ په لاره کښې د کوږوالي او د غلطو مضامینو د موندلو هڅه کوي او ارزو کوي چې غلطۍ پکښې لاس ته ورشي.

ج: دوی غواړي چې د الله ﷻ په لاره کښې ځینې مضامین غلط تعبیر کړي ترڅو خلکو ته اشتباهګانې او شبهات ور واچوي.

---

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۱۲۳؛ المحرر الوجیز ج۱۰ ص۵۹

(۲) تفسیر ابي السعود ج۵ ص۳۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِۦ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ ۖ فَيُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِى مَن يَشَآءُ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٤﴾ ﴾

[۴] او مونږ هیڅ رسول نه دی استولی مګر د خپل قوم په ژبې سره، د دې دپاره چې دوی ته (الهي شریعت په ښه توګه) بیان کړي. نو الله ﷻ هغه څوک ګمراه کوي (توفیق نه ورکوي) کوم ته یې چې اراده وشي او هغه چاته هدایت کوي کوم ته یې چې اراده وشي، او همدی ﷻ توانا (او) د حکمت څښتن دی.

## د مطلب خلاصه او توضیحات

۱ـ په دې ایت شریف کښې د هغو پلمو یو مثال ښودلی شوی دی د کومو په اثر به چې مشرکانو خلک د حقې لارې څخه اړول، کومو ته چې په وړاندېنې ایت کښې اشاره شوې ده. هغه دا چې:

یوه ورځې د مکې مشرکانو نبي کریم ﷺ مخاطب کړ چې: ای محمده! که ته رښتیانی پیغمبر یې، لکه چې ته یې دعوه کوې، نو په تاباندې ولې په اعجمي لغت کښې کتاب نازل نه شو، لکه څنګه چې تورات او انجیل په اعجمي لغتونو کښې نازل شوي دي[۱]. نو الله ﷻ لاندې جوابونه نازل کړه:

الف: یوه جواب ته په همدغه ایت شریف کښې اشاره شوې ده کوم چې سمدستي د بحث لاندې دی، یعنې ای پیغمبره! مونږ هیڅ پیغمبر نه دی استولی مګر هغه به د خپل قوم په ژبه خبرې کولی شوې، ترڅو دوی ته د الله ﷻ شریعت په کامله توګه وربیان کړي او چاته دا بهانه لاس ته ورنه شي چې مونږ نه د هغه پیغمبر په خبره پوهېږو کوم چې مونږ ته را استولی شوي دي او نه مو په هغه کتاب باندې سرونه خلاصېږي کوم چې مونږ ته رانازل شوي دي. نو تورات او انجیل ځکه په اعجمي ژبه نازل شوي دي چې موسی ﷺ، عیسی ﷺ او د دوی دواړو د دعوت قومونه اعجمیان وه. نو څرنګه چې ته هم عرب یې او ستا قوم (چې لومړني مخاطبین دي) هم عرب دي نو ځکه تاته الهي کتاب په عربي ژبه یا عربي لغت کښې درنازل کړی شو. هو! دا بېله خبره ده چې مشرکانو دا بهانه نیولې ده چې د قرآن کریم عربي والی زمونږ د ایمان د راوړلو مخه بنده کړې ده. اصلي خبره دا ده هر چاته چې الله ﷻ د ګمراه کولو اراده وکړي هغه ګمراه کوي او توفیق نه ورکوي چې په ایمان باندې مشرف شي، او همدارنګه الله ﷻ هغه چاته هدایت کوي کومو ته چې د هدایت اراده وکړي. خو هر چاته چې الله ﷻ توفیق ورنه کړي په هغه باندې نه معجزه اثر غورزولی شي او نه پند او نصیحت.

یوه پښتون شاعر[۲] همدا موضوع په خپل شعر کښې څومره په ښه ډول انځور کړې ده چې:

که مې سل نصیحتونه ورته وکړه :: هغه خدای بې لارې کړی په لار نه شو

---

(۱) روح المعاني ج۲۴ ص۱۲۹؛ الدر المنثور ج۷ ص۳۳۳؛ تفسير المظهري ج۸ ص۳۰۱

(۲) د عبد الرحمن مومند دیوان

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ غالب دی، د ده ﷻ په توان کښې شته چې ټول خلک یې په ایمان مشرف کړي وی، خو الله ﷻ حکیم دی چې دغسې کار د حکمت څخه مخالف دی.

ب: بل جواب دا چې: ﴿ وَلَوْ نَزَّلْنَٰهُ عَلَىٰ بَعْضِ ٱلْأَعْجَمِينَ ۝ فَقَرَأَهُۥ عَلَيْهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ مُؤْمِنِينَ ﴾ [الشعراء:۱۹۸، ۱۹۹] یعنې او که بالفرض دغه قرآن کریم مونږ په کوم یوه اعجمي سړي باندې نازل کړی وی چې په دوی باندې یې په ښه فصاحت او بلاغت سره قرائت کړی وی نو بیا به هم دوی پرې ایمان نه وی راوړی، او ضرور به یې ویلي وی چې مونږ ته ولې د یوه عربي پیغمبر په ذریعه دغه عربي کتاب نازل نه کړی شو؟ عجیبه ده چې کتاب عربي دی او په اعجمي سړي باندې نازل شوی دی؟ ایا په عربو کښې داسې څوک نه دی مونده کړی شوی چې د کتاب د نزول دپاره جوګه وي؟

ج: دریم جواب دا دی چې: ﴿ وَلَوْ جَعَلْنَٰهُ قُرْءَانًا أَعْجَمِيًّا لَّقَالُوا۟ لَوْلَا فُصِّلَتْ ءَايَٰتُهُۥٓ ءَا۬عْجَمِيٌّ وَعَرَبِيٌّ ﴾ [فصلت:۴۴] یعنې ای پیغمبره! او که بالفرض مونږ دا قرآن کریم په تا باندې په اعجمي ژبه کښې نازل کړی وی نو ضرور به ستا د امت عنادیانو کافرانو ویلي وی چې: د دې کتاب ایتونه او احکام ولې نه دي واضحه کړی شوي، چې په عربي ژبه کښې نازل شوي وی نومونږ به پرې ډېر ښه پوه شوي وی؟

ایا دا عجیبه نه ده چې کتاب په اعجمي ژبه کښې دی او د پیغمبر مورنۍ ژبه عربي ده؟ ایا اعجمیت او عربیت سره تضاد نه لري؟ ایا دا ډول نزول بې منطقه کار نه دی؟

## سوال جواب

۲ـ په دې مقام کښې سړي ته ذهن ته ورځي چې د ﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِۦ ﴾ د جملې څخه د حصر په توګه څرګندېږي چې هیڅ قوم ته نه دی استولی شوی مګر هغه پیغمبر چې د خپل قوم سره به په ژبه کښې متحد وه. نو پوښتنه دا ده چې: ایا ذکر شوی حصر د نبي کریم ﷺ په استولو باندې نه دی نقض (مات) شوی چې پخپله عربي ژبی دی حال دا چې رسالت یې اعجمیانو ته لا څه چې پیریانو ته هم شامل دی؟، لکه چې د [الأنعام:۱۹] ایت لاندې یې بحث تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

مونږ وایو چې: په ایت شریف کښې د مشرکانو دا اعتراض جواب شوی دی چې قرآن کریم ولې د تورات او انجیل غوندې په اعجمي ژبه نازل نه کړی شو؟.

د جواب حاصل دا دی چې: دغه ډول نزول د حکمت څخه مخالف وه او د رسالت د مفهوم سره یې تضاد درلود ځکه چې د رسالت مفهوم د الله ﷻ د شریعت رسول او تعلیمول دي.

اما دا پوښتنه چې ولې د نبي کریم ﷺ رسالت اعجمیانو او پیریانو ته هم شامل دی؟ هیڅ مطرحه نه ده یا په بل عبارت: ذکر شوی حصر د قریشو د اعتراض په اضافت سره دی او حقیقي حصر نه دی، چې ذکر شوي سوال ته موقع مساعده شي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه ذکر شوی حصر په نظر سره هغو خلکو ته دی کوم چې د وحې دپاره

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لومړني مخاطبين واقع شوي دي، نه په نسبت سره هغو خلکو ته چې بالتبع ورته خطاب متوجه دی.

په دې مقام کښې د نبي کريم ﷺ د رسالت لومړني مخاطبين عرب او په عربو کښې قريش وه چې په عربي ژبه باندې ډېر ښه پوهېده او په ډېر فصاحت او بلاغت باندې پرې ګرېدلی شوه. خو دوی د قرآن کريم د مقابلې څخه عاجز شوه او ټولو په مجموعي توګه هم ونه شو کړی چې په يوه ايت کښې ورسره سيالي وکړی شي. د عربو ذکره شوې ناتواني ټولو اعجمو ته په تواتر سره رسېدلې ده او د ټولو اعجمو يقين او باور دی چې که بالفرض قرآن کريم د الله ﷻ د پلوه نه وی نازل شوی نو ضرور به يې هغوی مقابله کړې وی او اقلاً په يوه ايت کښې خو به يې ورسره ضرور سيالي کړې وی.

لنډه دا چې اعجميان د قرآن کريم په اعجاز باندې داسې باور او يقين کوي لکه څنګه چې د فرعون په زمانه کښې د موسی ﷺ د همسا په معجزې باندې د ساحرانو څخه په غير نورو خلکو يقين وکړ چې که بالفرض دا د جادو همسا وی نو جادوګرانو به کشف کړې وی.

اما د عربو څخه پرته نور خلک بالتبع مخاطبين دي او په بالتبع مخاطبينو کښې دا ضرور نه ده چې د پيغمبر سره دې همژبي وي. همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «إِنَّ النَّاسَ لَكُمْ تَبَعٌ وَإِنَّ رِجَالًا يَأْتُونَكُمْ مِنْ أَقْطَارِ الأَرْضِ يَتَفَقَّهُونَ فِي الدِّينِ وَإِذَا أَتَوْكُمْ فَاسْتَوْصُوا بِهِمْ خَيْرًا»[١] يعنې يوه ورځې نبي کريم ﷺ خپل صحابه کرام ﷺ مخاطب کړه چې: يقيناً ټول خلک ستاسو دپاره تابعان دي، او يقيناً ډېر ژر به دا خبره پېښه شي چې تاسو ته به د ټولې دنيا د هر طرف څخه خلک راځي چې ترڅو ستاسو څخه په دين کښې پوهه ترلاسه کړي، نو زما وصيت تاسو ته دا دی چې کله خلک تاسو ته راغله نو هغوی ته د خير توصيه وکړئ او په صحيحو معناوو کښې هغوی ته دين ورزده کړئ.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وايي چې: که بالفرض ذکر شوی سوال اعجميان کافران مطرح کړي چې ای الله! کاشکې مونږ ته دې په خپله اعجمي ژبه کښې کتاب نازل کړی وی چې مونږ پرې ايمان راوړی وی؛ نو د دوی دپاره بايد څه جواب ورکړی شي؟.

مونږ وايو چې: د دوی جواب دا دی چې د پيغمبر د استولو څخه مطلب خلکو ته د الله ﷻ هدايات او ارشادات رسونه ده، او دا کار ټولو اعجميانو ته په هره زمانه کښې په کامله توګه ترسره شوی دی، الله ﷻ په همدوی کښې داسې علماء او بااستعداده خلک پيدا کړي وه چې په علميت او ذکاوت کښې د عربو څخه کم نه وه، د مثال په توګه امام ابو حنيفه عليه الرحمة د اعجمو څخه وه چې اصلي ټاټوبی يې افغانستان وه، همدارنګه امام البخاري عليه الرحمة اعجمي وه او د بخارا وه.

اعجمي علماوو کرامو د اسلام په تشريح او ترجمه کولو کښې دومره زيار ويستلی دی چې د دين په يوه برخه کښې هم څه شی مجمل او پټ نه دی پاتې شوی ترڅو د قيامت په ورځ اعجمي کافران د الله ﷻ په حضور کښې ذکر شوی اعتذار وړاندې کړی شي.

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٩٣

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا دی مونږ ته هم الله ﷻ توفیق راکړ چې قرآن کریم تفسیر کړو او د افغانانو کافرانو د اعتذار مخه بنده کړو، الله ﷻ دې په خپل فضل سره دا تفسیر زمونږ په لاس بشپړ کړي او هم دې افغانانو ته توفیق ورکړي چې ګټه ترې واخلي او عمل پرې وکړي، ترڅو زمونږ دپاره د الله ﷻ په دربار کښې د دعاء لاسونه پورته کړي.

همدغه ذکر شوي مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «إِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الأَنْبِيَاءِ»[1] یقینًا علماء کرام د پیغمبرانو وارثان دي. او دا خکه چې دوی هغه علم خلکو ته د نیابت په توګه رسوي کوم چې د پیغمبرانو علیهم السلام څخه پاتې دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه ذکرې شوې پوښتنې ته ورته پوښتنه د نبي کریم ﷺ په حیات کښې مشرکانو مطرحه کړې وه چې الله ﷻ په قرآن کریم کښې جوابه کړې ده، نو مونږ کولی شو چې همدغه جوابونه اعجمي کافرانو ته هم ورکړو. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ﴿وَإِذَا جَآءَتْهُمْ ءَايَةٌ قَالُواْ لَن نُّؤْمِنَ حَتَّىٰ نُؤْتَىٰ مِثْلَ مَآ أُوتِيَ رُسُلُ ٱللَّهِ ٱللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُۥ﴾ [الأنعام:۱۲۴] یعنې او کله چې کفارو (مشرکانو) ته د الله ﷻ د پلوه (د خپل پیغمبر ﷺ په ذریعې) کوم ایت شریف ورنازل کړی شي نو دوی وایي چې هیڅکله به ترهغه مونږ ایمان رانه وړو ترڅو مونږ ته هم هغه څه راکړی شي کوم چې د الله ﷻ پیغمبرانو ته ورکول کېږي. یا په بل عبارت: ترڅو چې مونږ هم پخپله پیغمبران وګرځولی شو.

ای پیغمبره! د دغو کافرانو جواب دا دی چې: الله ﷻ هغه ځای (هغه کس) ډېر ښه پېژني چرته چې خپل رسالت ګرځوي، تاسو حق نه لرئ چې الله ﷻ ته ښودانه وکړئ چې دا پیغمبر وګرځوه او په هغه باندې وحې ورنازله کړه او داسې نور.

ب: ﴿وَقَالُواْ لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ ٱلْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ۝ أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ﴾ [الزخرف:۳۱، ۳۲] یعنې ای پیغمبره! مشرکان (د اعتراض په توګه) وایي چې دا قرآن کریم د دغو دوه وو ښارونو (مکه، طائف) د اوسېدونکو څخه ولې په یوه لوی سړي باندې نازل نه کړی شو؟ (د دوی جواب دا دی چې) ایا دوی ستا د رب ﷻ رحمت تقسیموي؟. ایا دوی غواړي چې د نبوت ورکړه د دوی په خوښې پورې تړلې وي؟.

ج: ﴿بَلْ يُرِيدُ كُلُّ ٱمْرِيٍٕ مِّنْهُمْ أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ۝ كَلَّا﴾ [المدثر:۵۲،۵۳] یعنې ای پیغمبره! ایا کفار اراده لري چې د دوی هر یوه سړي ته پرانستلې پاڼې ورکړی شي او وحې ورباندې ورنازله شي؟! دا کار هیڅکله کېدونکی نه دی، د الله ﷻ ټول کارونه په حکمت ولاړ دي.

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ أَنْ أَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ وَذَكِّرْهُم

---

[1] جامع الترمذي ج۲ ص۹۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکېن شو



بِأَيَّىٰمِ ٱللَّهِ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَأَيَٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴿٥﴾ وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ
ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ أَنجَىٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ
وَيُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ
﴿٦﴾ وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ۖ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِى لَشَدِيدٌ ﴿٧﴾
وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِن تَكْفُرُوٓا۟ أَنتُمْ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا فَإِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِىٌّ حَمِيدٌ ﴿٨﴾ ﴾

[۵] او یقیناً مونږ موسی ﷺ (خپل قوم ته) زمونږ د معجزاتو سره لېږلی وه چې خپل قوم دې د تیارو څخه رڼا ته را وباسه، او هم ورته ایام الله (خوږې او ترخې ورځې) وربه یادې کړه، یقیناً په ایام الله کښې د هر ډېر صبر کوونکي (او هر) ډېر شکر کوونکي دپاره (د قدرت) لوېې نښې شته دي (چې عبرت ترې واخلي).

[۶] او (ای پیغمبره! خپل امت ته) هغه وخت وربه یاد کړه چې موسی ﷺ (خپل قوم ته) وویلې چې (ای قومه!) په خپلو ځانونو باندې د الله ﷻ نعمتونه درپه زړه کړئ کله یې چې تاسو ته د فرعون د ټبر (فرعونیانو) څخه نجات درکړ چې تاسو به یې په سخت عذاب سره تعذیبولئ، او (په دې باندې علاوه) ستاسو نارینه اولادونه به یې (د پسونو غوندې) ذبحه کول اوستاسو زنانه (ښځینه اولادونه) به یې پرېښودل. یقیناً په دغه (ذکر شوي حال) کښې ستاسو د رب ﷻ د پلوه (په تاسو باندې) لوی امتحان (یا لوی نعمت) وه.

[۷] او (ای قومه!) هغه وخت درپه زړه کړئ چې ستاسو رب ﷻ (تاسو ته) اعلان وکړ چې که چرته تاسو (زما د نعمتونو) شکریه وکړئ نو تاسو ته به (خپل نعمتونه) زیات کړم، او که تاسو یې ناشکري وکړئ نو یقیناً زما عذاب ډېر سخت دی (نو درباندې به یې درنازل کړم).

[۸] او (هم) موسی ﷺ (خپل قوم ته) وویلې چې (ای قومه!) که تاسو او هغه ټول خلک هم ناشکري وکړئ کوم چې په ځمکه کښې دي (نو الله ﷻ مو څه پرواګیر نه دی) ځکه چې الله ﷻ بالکل بې پروا (او هم) د ښو صفاتو درلودونکی دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنې ایت مضمون دا وه چې الله ﷻ پیغمبران علیهم السلام د دې دپاره را استولي دي چې هر یو پیغمبر خپل خپل امت ته الهي احکام بیان کړي او د کفر د تیارو څخه یې د اسلام رڼا ته راوباسي. په دې ایتونو کښې د ذکر شوي قانون د عملي صورت د ښودانې دپاره د مثال په توګه د موسی ﷺ ځینې حالات رانازل شوي دي چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! اوس نو په خپل امت باندې د موسی ﷺ او د ده د قوم ځینې حالات قرائت کړه ترڅو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ستا دپاره د تسلي او د حوصلې د غځېدلو باعث وګرځي او ستا د امت دپاره د عبرت درس جوړ شي. هغه دا چې:

۱ـ مونږ موسی ﷺ د یو پیغمبر په صفت خپل قوم ته استولی وه او توصیه مو ورته کړې وه چې:

الف: خپل قوم دې د کفر د تیارو څخه د اسلام رڼا ته را وباسه او هم یې د کفر د تیارو څخه بچ وساته چې ورداخل نه شي او څوک یې بې لارې نه کړي.

ب: دوی ته د خپل ژوند خوږې او ترخې (سړې او تودې) ورځې ورپه یادې کړه چې الله ﷻ څومره نعمتونه ورکړي دي او د څومره مصیبتونو څخه یې نجات ورکړی دی.

ج: ترڅو دوی د مصائبو په مقابل کښې صابران او د نعمتونو په مقابل شاکران جوړ شي. ځکه چې د دوی تېر شوی تاریخ د دغسې عبرتي دلایلو څخه ډک دی او د هر صبرکوونکي او شکرکوونکي دپاره پکښې د عبرت درسونه شته.

۲ـ ای پیغمبره! اوس نو خپل امت ته هغه وخت ورپه یاد کړه چې موسی ﷺ د ذکرو شوو وصایاوو په تعمیل کښې په څه ډول اقدام وکړه. هغه دا چې:

الف: موسی ﷺ خپل قوم په ډېره خوږه لهجه مخاطب کړه چې: ای عزیزانو! تاسو د الله ﷻ نعمتونه درپه زړه کړئ چې تاسو ته یې استقلال په نصیب کړ او د غلامۍ څخه یې خلاص کړئ.

ب: هغه وخت هېر نه کړئ چې الله ﷻ تاسو ته د فرعون او فرعونیانو څخه نجات درکړ چې تاسو ته به یې سخت عذابونه رسول او مشقتي او ناپاکه کارونه به یې په تاسو باندې ترسره کول.

ج: حتی چې هغوی به ستاسو نارینه اولادونه وژل لا څه چې د ځارویو غوندې به یې ذبحه کول، او ستاسو ښځینه اولادونه به یې د خدمت او نورو بدوکارونو دپاره ژوندي پرېښودل.

د: ای زما قومه! د فرعونیانو په ذکره شوې کړنلاره کښې ستاسو د رب ﷻ د پلوه په تاسو باندې ډېر لوی مصیبت نازل شوی وه او د همدغې کړنلارې څخه ستاسو نجات ستاسو د رب ﷻ د پلوه ډېر لوی عظیم الشان نعمت دی، چې باید هیڅکله هېر نه کړی شي.

ه: موسی خپل قوم ته د الله ﷻ د پلوه یو ډېر مهم اعلان هم ورپه یاد کړ چې: ای زما قومه! تاسو هغه وخت هم درپه زړه کړئ چې ستاسو رب ﷻ (ستاسو کارساز) تاسو ته په ډېرو صریحو کلماتو کښې اعلان وکړ او تاسو ټول (خاص او عام) یې پرې په ډاګه باندې خبر کړئ چې:

که تاسو د خپل رب ﷻ د نعمتونو شکریه وکړئ او په درنازل شوي شریعت باندې عمل وکړئ نو ستاسو نعمتونه به نور هم اضافه کړم، زما سره د نعمتونو څه کمبود نشته. او که تاسو د نعمتونو ناشکري وکړئ نو خپل نعمتونه به درڅخه بېرته واخلم او برسېره پر دې سخت عذاب به درباندې درنازل کړم. نو زما څخه وډار شئ، ماته لکه چې د نعمتونو ورکول اسان دي همدارنګه راته د نعمتونو بېرته اخستل هم څه مشکل کار نه دی. یقیناً چې زما عذاب (دنیاوي وي او که اخروي) ډېر سخت دی.

و: موسی ﷺ خپل قوم ته په نهایتي بلیغو کلماتو کښې توصیه وکړه چې: ای عزیزانو! که تاسو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د الله ﷻ د نعمتونو شکریه وکړئ نو ګڼه یې همدا تاسو ته راجع کېږي چې نعمتونه به برسېره پر ادامې زیات هم کړی شي. او که تاسو ناشکري وکړئ نو د ناشکرۍ ضرر همدا تاسو ته متوجه دی او بس. الله ﷻ ستاسو د ناشکرۍ لا څه چې د هغو ټولو خلکو د ناشکرۍ هم څه پرواګیر نه دی کوم چې په ځمکه کښې ژوند کوي. ځکه چې الله ﷻ بې پروا دی، ستاسو د عبودیت په شمول هیڅ شي ته اړتیا نه لري، او همدارنګه د سپېڅلو صفاتو څښتن دی چې ستاسو د ثنا او صفت په شمول د هیچا تحمید او تمجید ته څه اړ نه دی.

## توضیحات

۱ـ د ﴿وَذَكِّرْهُم بِأَيَّىٰمِ ٱللَّهِ﴾ په جمله کښې د "أيّام" کلمه چې د یوم جمعه ده، ځینو مفسرینو کرامو په دې مقام کښې یوازې په نعمتونو باندې تفسیره کړې ده[۱]، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې په مصیبتونو او نعمتونو دواړو باندې تفسېره شي چې په همدې تفسیر باندې د ﴿لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ﴾ تعقیب دلالت کوي. یعنې الله ﷻ موسی ﵇ ته توصیه وکړه چې خپل قوم ته پخواني مصیبتونه وربه یاد کړه چې صابران ترې عبرت واخلي او نعمتونه هم وربه زړه کړه چې شاکران ترې درس زده کړي.

## یادونه

۲ـ ذکر شوی تذکیر خو د ټولو خلکو دپاره وه مګر صابران او شاکران ځکه خاص کړی شوه چې دوی ترې ګټه پورته کوي، لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «عَجِبْتُ لِلْمُؤْمِنِ إِذَا أَصَابَهُ خَيْرٌ حَمِدَ اللهَ وَشَكَرَ وَإِنْ أَصَابَتْهُ مُصِيبَةٌ حَمِدَ اللهَ وَصَبَرَ فَالْمُؤْمِنُ يُؤْجَرُ فِي كُلِّ أَمْرِهِ حَتَّى يُؤْجَرَ فِي اللُّقْمَةِ يَرْفَعُهَا إِلَى فِيِّ امْرَأَتِهِ»[۲] یعنې زه مؤمن ته په تعجب یم کله چې ورته خیر ورسېږي د الله ﷻ حمد وایي او شکر کوي، او که مصیبت ورته ورسېږي هم د الله ﷻ حمد وایي او صبر کوي، نو مؤمن سړي ته په هر کار کښې اجر ورکولی کېږي حتی چې مؤمن سړي ته په هغې لمړۍ کښې هم اجر ورکولی کېږي کومه چې د خپلې مېرمنې خولې ته ورپورته کوي (په هغې باندې یې نفقه کوي).

## هېر مو نه شي!

۳ـ د ﴿إِذْ أَنجَىٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ﴾ د ایت غوندې یو ایت وړاندې [البقرة: ۴۹] تېر شوی دی او د ځومره بیان توفیق چې مونږ ته الله ﷻ راکړی وه هغه مو هلته لیکلي دي، مګر په دې مقام کښې ورباندې لاندې څو ټکي وراضافه کوو:

الف: دلته او هلته په ځینو عبارتونو کښې فرقونه دي، که څوک غواړي چې د دغو فرقونو په حکمتونو او اسرارو باندې پوه شي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۳]، مونږ پرې د اوږدوالي د کبله ډېره کېښودله.

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۵۲۳

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۳۶۷

(۳) تفسیر القاسمي ج۱۰ ص۱۰۰ التفسیر الکبیر ج۹ ص۸۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب د ﴿ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ ﴾ په جمله کښې د "يسومون" کلمه د "سوم" ـ لکه "قول" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. د لغات ځينو کتابونو دغه کلمه په ډېرو معناوو باندې معنی کړې ده چې يو؛ يکښې تعذيب ده. نو که په دې مقام کښې همدغه معنی مراده کړی شي هم بده نه ده. نو حاصل به يې داسې راوځېږي چې فرعونيانو به تاسو په ناکاره عذاب سره تعذيبولئ:

## يادونه

۴ـ نبي کريم ﷺ په يوه ډېر اوږده قدسي حديث شريف کښې د ايت شريف د دې ټکي ﴿ إِن تَكْفُرُوٓاْ أَنتُمْ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا فَإِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِىٌّ حَمِيدٌ ﴾ تفسير کړی دی[1] او د الله ﷻ د بې پروائی بيان يې پکښې کړی دی. که څوک فرصت لري نو هملته دې مراجعه وکړي. موږ د اوږدوالي د کبله دلته رانقل نه کړه.

## د دې ايتونو ارشاد

۵ـ په دغو ايتونو کښې ټولو داعيانو ته د دعوت إلى الله طرز او طريقه ښودلې شوې ده. چې بايد خلکو ته د الله ﷻ نعمتونه وريه ياد کړي او هم يې مصائبو ته پام ورواړوي ترڅو د ترغيب او ترهيب دواړو څخه ګټور نتائج پوره کړي.

﴿ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ ۛ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِمْ ۛ
لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا ٱللَّهُ ۚ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَرَدُّوٓاْ أَيْدِيَهُمْ فِىٓ أَفْوَٰهِهِمْ وَقَالُوٓاْ إِنَّا
كَفَرْنَا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ وَإِنَّا لَفِى شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَنَآ إِلَيْهِ مُرِيبٍ ۝ قَالَتْ رُسُلُهُمْ أَفِى ٱللَّهِ
شَكٌّ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ يَدْعُوكُمْ لِيَغْفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُؤَخِّرَكُمْ إِلَىٰٓ
أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ قَالُوٓاْ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ
ءَابَآؤُنَا فَأْتُونَا بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ۝ قَالَتْ لَهُمْ رُسُلُهُمْ إِن نَّحْنُ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ وَلَٰكِنَّ
ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأْتِيَكُم بِسُلْطَٰنٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ
وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ۝ وَمَا لَنَآ أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى ٱللَّهِ وَقَدْ هَدَىٰنَا سُبُلَنَا ۚ
وَلَنَصْبِرَنَّ عَلَىٰ مَآ ءَاذَيْتُمُونَا ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ۝ وَقَالَ ٱلَّذِينَ

[1] صحيح مسلم ج۲ ص۳۱۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُم مِّنْ أَرْضِنَآ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِى مِلَّتِنَا ۖ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٣﴾ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ ٱلْأَرْضَ مِنۢ بَعْدِهِمْ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِى وَخَافَ وَعِيدِ ﴿١٤﴾ وَٱسْتَفْتَحُواْ وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴿١٥﴾ مِّن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسْقَىٰ مِن مَّآءٍ صَدِيدٍ ﴿١٦﴾ يَتَجَرَّعُهُۥ وَلَا يَكَادُ يُسِيغُهُۥ وَيَأْتِيهِ ٱلْمَوْتُ مِن كُلِّ مَكَانٍ وَمَا هُوَ بِمَيِّتٍ ۖ وَمِن وَرَآئِهِۦ عَذَابٌ غَلِيظٌ ﴿١٧﴾ ﴾

[٩] ایا تاسو ته د هغو ډلو خبر نه دی درغلی کومې چې ستاسو څخه وړاندې تېرې شوې دي، د نوح ﷺ قوم او عاديان او ثموديان او (هم) هغه خلک چې د دوی څخه وروسته تېر شوي دي چې (پوره کامل) علم وربانديې نه لري مګر الله ﷻ (او بس).

دوی (تولو) ته خپل پیغمبران د معجزاتو سره ورغله نو دوی خپل لاسونه په خپلو خولو کښې کېښودل (چې دا زمونږ لومړنی جواب دی) او (بیا یې قولاً هم) وویلې چې: یقیناً مونږ په هغه شي باندې کافر (منکر) یاستو په کوم شي باندې چې تاسو (په خپل خیال) را استولي شوي یاست، او (که نه نو) مونږ د هغه شي څخه په يقين سره په شک کښې یاستو کوم شي ته چې تاسو مونږ وربلئ؛ (په داسې قوي شک کښې) چې (مونږ ته) اضطرار اچوونکی دی.

[١٠] (دوی ته په جواب کښې) د دوی پیغمبرانو علیهم السلام وویلې چې: ایا تاسو په الله ﷻ (په توحید) کښې په شک کښې یاست چې د اسمانونو او ځمکو د نشت څخه پیدا کوونکی دی. (او) تاسو ته الله ﷻ (زمونږ په ذریعه) د دې دپاره دعوت درکوي چې تاسو ته د خپلو ګناهونو څخه ځينې ګناهونه (چې -قوق الله پورې تړاو لري) وبښي، او د ټاکلې شوې نېټې پورې مو (په ښه حالت کښې) وروسته کړي (په عذاب باندې مو هلاک نه کړي).

کفارو (پیغمبرانو علیهم السلام ته) وویلې چې: تاسو نه یاست مګر زمونږ په شان بشر (انسانان) یاست، تاسو اراده لرئ چې مونږ د هغو بوتانو (د عبادت) څخه واړوئ د کومو به چې زمونږ پلرونو عبادت کاوه، نو تاسو (په خپل صداقت باندې) مونږ ته څرګند دلیل راوړئ (معجزات ښکاره کړئ).

[١١] (نو) دوی ته خپلو پیغمبرانو وویلې چې: (رښتیا چې) مونږ نه یاستو مګر ستاسو غوندې بشر یاستو خو الله ﷻ د خپلو بندګانو د جملې څخه په هغه چا باندې احسان کوي کوم ته یې چې اراده وشي (نو په مونږ باندې یې د نبوت احسان کړی دی)، او مونږ ته دا نشته (مونږ توان نه لرو) چې تاسو ته د الله ﷻ د اذن (او فیصلې) څخه په غیر په کوم حجت باندې راتګ وکړو، او خاص په الله ﷻ باندې دې مؤمنان توکل وکړي (نه په معجزاتو باندې).

[١٢] او مونږ لره څه دي چې مونږ به په الله ﷻ باندې توکل نه کوو حال دا چې مونږ ته یې زمونږ

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(حقه) لاره رابنودلې ده (او پرې روان کړي یې یاستو)، او هرومرو ضرور به مونږ په هغه شي باندې صبر وکړو د کوم چې تاسو (پرې) مونږ ته اذیت (ضرر) رارسوئ. او خاص په الله ﷻ باندې دې توکل کوونکي توکل وکړي (نه په بل چا باندې).

[۱۳] او هغو کسانو خپلو پیغمبرانو ته (د اخطار په توګه) وویل ګومو چې کفر غوره کړی وه (داسې چې) هرومرو ضرور به مونږ تاسو د خپلې ځمکې څخه وباسو او یا به تاسو زمونږ په دین کښې (په مینه سره) بیرته ورتاوېږئ

نو پیغمبرانو ته خپل رب (الله ﷻ) وحې وکړه هرومرو ضرور به ظالمان هلاک کړو.

[۱۴] او هرو مرو ضرور به د هغوی څخه وروسته په ځمکه کښې تاسو واوسوو.

(ای پیغمبره!) دغه (وعده هغوی پورې خانګړې نه وه بلکې دا) د هغه چا دپاره (هم) ده چې زما (په حضور کښې) د درېدلو څخه ډارېږي او (هم) زما د وعید (عذاب) څخه ډارېږي (نو زما سره شریک نه دروي).

[۱۵] او پیغمبرانو (د الله ﷻ څخه) فیصله (حکم او یا نصرت) وغوښت (چې الله ﷻ ورته ورکړې او هر سرکشه معاند په زیان کښې واقع شو (عذاب ورباندې ورنازل شو).

[۱۶] ده (هر سرکشه عنادکوونکي) ته وروسته (په آخرت کښې) دوزخ دی (چې پکښې وابه اچولی شي) او د داسې اوبو څخه به ور وځښلی شي چې د دوزخیانو د زخمونو څخه به بهېږي.

[۱۷] دا زوي به په ګوټ-ګوټ ځښي او نژدې به نه وي چې تېرې یې کړي (بلکې په ستوني کښې به یې بندېږي)، او نومورې ته به د هر خای (هر طرف) نه مرګ ورځي خو هغه به مړ کېدونکی نه وي، او د دې څخه وروسته به (لا ورته) پېږ (سخت) عذاب وي.

## ارتباطونه

په دې ایتونو کښې علماوو کرامو لاندې دوه ډوله قولونه کړي دي:

۱ـ ځینې وایي چې دغه ایتونه الله ﷻ د موسی ؑ د خولې څخه حکایت کړی دی چې په دې اعتبار سره د وړاندېنیو ایتونو دپاره تتمه جوړېږي، دوی وایي چې دا قول ظاهر دی[۱].

۲ـ ځنې وایي چې د موسی ؑ حکایت په ﴿ لَغَنِىٌّ حَمِيدٌ ﴾ باندې تمام شوی دی او په دې ایتونو کښې د الله ﷻ د پلوه محمدي امت ته خطاب متوجه دی خو دا قول یې بعید ګڼلی دی[۲].

په دې اعتبار یې د وړاندېنیو ایتونو ارتباط او اړوند داسې ذهن ته راځي چې هلته یوازې د موسی ؑ او د ده د امت څه حالات بیان شوي وه او دلته د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام او ټولو امتونو حالاتو ته اشاره شوې ده.

مونږ ته همدغه دوهم نظر په زړه پورې برېښي نو حاصل یې داسې راځېږي:

---

(۱) البحر المحیط ج۶ ص۴۱۲

(۲) تفسیر ابي السعود ج۵ ص۳۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس نو په خپل امت باندې په مجموعي توګه د پیغمبرانو علیهم السلام او د دوی د امتونو حالات قرائت کړه او زمونږ د پلوه یې مخاطب کړه چې:

۱_ ای خلکو! ایا تاسو ته د قرآن کریم په مختلفو سورتونو کښې د هغو ډلو او قومونو څه حالات نه دي درغلي کوم چې ستاسو څخه وړاندې تېر شوي دي لکه د نوح علیه السلام قوم، عادیان، ثمودیان او د هغو قومونو حالات کوم چې د دغو څخه وروسته تېر شوي دي، چې د ډېروالي د کبله پرې د الله ﷻ څخه پرته هیڅوک کامل علم نه لري؟

ای خلکو! تاسو ته د هغوی د حالاتو بیان در رسېدلی دی نو تاسو ته په کار دی چې عبرت ترې واخلئ او په خپل پیغمبر ﷺ باندې د زړه د کومې ایمان راوړئ.

۲_ دا دی یو خل بیا د هغوی څه ناڅه حالات په تاسو باندې په همدې سورت کښې هم قرائت کېږي چې عبرت ترې واخلئ او په سرسري نظر پرې تېر نه شئ. هغه دا چې:

ټول پیغمبران هر یو خپل قوم ته ورغله او په ډېرو صافو الفاظو کښې یې هغوی د الله ﷻ توحید او حقې عقیدې ته دعوت کړه، معجزات او دلایل یې په خپل صداقت باندې ورته وړاندې کړه.

خو بالمقابل په هغوی کښې سرکشو کافرانو په خپلو خولو باندې لاسونه کېښودل او پیغمبرانو ته یې اشاره وکړه چې: چپ شئ، دغه ډول دعوت مه چلوئ ځکه چې مونږ د هغه شي څخه منکران یاستو په کوم شي باندې چې تاسو (په خپل ګومان) را استولي شوي یاست. او مونږ ځکه ستاسو د رسالت څخه انکار کوو چې مونږ د هغه شي څخه په ډېره وارخطاکوونکې اشتباه کښې یاستو کوم شي ته چې تاسو مونږ ته دعوت راکوئ، ستاسو په خبرو باندې زمونږ سرونه نه خلاصېږي نو بهتره دا ده چې په خپلو خولو لاس کېږدئ.

## د پیغمبرانو غبرګون

۳_ پیغمبرانو علیهم السلام خپل دعوت یو خل بیا تکرار کړ چې:

الف: ای قومیانو! عجیبه ده! ایا تاسو په بله خبره کښې نه بلکې په دې کښې شک او اشتباه کوئ چې الله ﷻ واحد او لا شریک دی؟ ایا دا د اشتباه خبره ده؟ ایا ټول اسمانونه او ځمکې په همدې خبره دلالت نه کوي، چې پرته د سابق مثل څخه یې پیدا کړي دي او د زوال څخه یې ساتي؟ که بالفرض الله ﷻ شریک درلودی نو ایا اسمانونه او ځمکې به نه وی خرابې شوې او دنیا به نه وی ورانه شوې؟

ب: کوم دعوت چې مونږ تاسو ته درکوو هغه زمونږ شخصي غوښتنه نه ده، بلکې په حقیقت کښې الله ﷻ تاسو ته دعوت درکوي چې د شرکیاتو څخه لاس واخلئ او خپل ځانونه موحدین جوړ کړئ.

ج: د دغه دعوت په قبول کښې ستاسو ګټه ده چې الله ﷻ به درته سابقه ګناهونه او جنایات وبښي او تر معینې نېټې پورې به ښه خوندور ژوند درکړي او په دنیا او آخرت کښې به مو د خوشالۍ جوګه وکړخوي. او بېخ او بنیاد به مو نه وباسي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د کفارو دوهم خل رد

۴_ دوهم خل هم کفارو د خپلو پیغمبرانو دعوت رد کړ چې. مونږ د ذکرې شوي اشتباه څخه نه شو تیرېدلی او ستاسو په دلایلو باندې مو سرونه نه خلاصېږي. دا څکه چې:

الف. تاسو حو زمونږ غوندې انسانان یاست. څرنګه چې مونږ نه پیغمبران يو او نه د پیغمبرۍ دعوه کوو نو معلومه شوه چې تاسو هم د الله ﷻ د پلوه نه یاست را استولی شوي او په دروغو سره د نبوت دعوت کوئ.

ب. ستاسو دا نیت دی چې مونږ د هغې لارې څخه واړوئ په کومې باندې چې زمونږ پلرونه تللي دي، ترڅو هغه معبودان پرېږدو د کومو به چې زمونږ پلرونو عبادت کاوه.

ج. که تاسو په خپله خبره باندې کلک یاست نو هلئ ژر شئ د خپل صداقت دپاره څه حجت او برهان وړاندې کړئ چې زمونږ باور راشي.

## پیغمبرانو څه جواب ورکړ؟

۵_ پیغمبرانو د کفارو د ذکر شوي رد په مقابل کښې داسې جواب ورکړ چې:

الف. ربښتیا ده چې مونږ ستاسو غوندې انسانان یاستو، مونږ د دې خبرې دعوه نه کوو چې مونږ ستاسو څخه په بشریت او انسانیت کښې اشتراک نه لرو، ستاسو دا خبره په ځای ګڼو.

ب. زمونږ دعوه دا ده (او همدا حقیقت دی) چې په مونږ باندې الله ﷻ احسان کړی دی او په نبوت باندې یې سر لوړي کړي یاستو. پاتې شوه دا خبره چې تاسو ته الله ﷻ ولې دغه سرلوړي نه ده درکړې؟ د دې جواب دا دی چې الله ﷻ په هغه چا باندې احسان کوي او نبوت ورکوي چې د خپلو مخلصو بندګانو د جملې څخه په کوم یوه باندې د احسان کولو اراده وکړي. د الله ﷻ ارادې ته هیڅوک تغیر نه شي ورکولی.

ج. اما د حجت وړاندې کولو او د معجزاتو د نازلولو اختیار زمونږ سره نشته او نه مونږ د دې خبرې مدعیان یاستو چې معجزات زمونږ په واک اختیار کښې دي، بلکې مونږ دې ته هیڅ جوګه نه یاستو چې د الله ﷻ د فیصلې څخه پرته کوم حجت او معجزه وړاندې کړی شو.

د. ای زمونږ قومیانو! تاسو ته په کار دي چې په معجزاتو او حجتونو باندې اعتماد ونه کړئ او په ایمان باندې مشرف کېدلو ته وړباندې توقف ورنه کړئ، بلکې صرف او صرف په الله ﷻ باندې اعتماد وکړئ او د ده ﷻ هغه شهادت قبول کړئ کوم چې زمونږ په صداقت باندې یې ورکوي، چې ټول چاپېریال یې په همدې باندې ناطق ګرځولی دی چې مونږ ربښتیا وایو، بلکې ټولو مؤمنانو ته په کار دي چې فقط په الله ﷻ باندې اعتماد وکړي او بس.

هـ. نو د همدې کبله مونږ هم صرف په الله ﷻ باندې توکل کوو او د همده ﷻ په وحدانیت باندې کلک یاستو. او مونږ به ولې دغسې نه کوو حال دا چې مونږ ته یې هدایت کړی دی او په سمه لاره باندې یې روان کړي یاستو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و. په همدې باره کښې چمتو یاستو چې هر مشقت په غاړه باندې واخلو حتی چې هرومرو ضرور به مونږ ستاسو د اذیتونو په زغملو باندې هم صبر وکړو او حوصله به خرابه نه کړو، او دا ځکه چې مونږ خاص په الله ﷻ باندې توکل کړی دی او ټولو توکل کوونکو ته په کار دي چې فقط په الله ﷻ باندې توکل وکړي ځکه چې د همده ﷻ څخه پرته هیڅوک د نجات ورکولو واک او اختیار نه لري.

## د کفارو وروستنۍ پرېکړه

۶ـ نو په پای کښې د ډېر جر او بحث څخه وروسته کفارو خپل دریغ اعلان کړ او پیغمبرانو علیهم السلام ته یې اخطار ورکړ چې تاسو به ضرور د لاندې دوه وو کارونو څخه د یوه کار زغملو او تحمل ته چمتو کېږئ:

الف: یا به د دې وطن څخه هجرت کوئ ځکه چې دا ځمکه زمونږ ده او مونږ نه غواړو چې ستاسو غوندې خلک دلته اوسېدانې ته پرېږدو بلکې مونږ تاسو د دغې خپلې خاورې څخه وباسو.

ب: او یا زمونږ دین ته بېرته راواوړئ، چا چې په تاسو باندې ایمان راوړی دی هغه دې توبه تائب شي او خپل پخوانی پلارنی دین دې قبول کړي، او تاسو په خپله چپه خوله کښېنئ لکه څنګه چې پخوا چپه خوله ناست وئ.

## د الله ﷻ فیصله

۷ـ کله چې د کفارو عناد او سرکشي د حد څخه واووښته نو پیغمبرانو علیهم السلام ته خپل رب ﷻ خپله فیصله وحې کړه چې:

الف: ای پیغمبرانو! تاسو خپلې حوصلې مه خرابوئ، ډېر ژر دی چې ظالمان به هلاک کړو، د دوی د تکبر کاسه ډکه شوې ده او د هلاکولو وخت یې رانژدې شوی دی.

ب: ظالمان چې د کومې ځمکې د ملکیت دعوه کوي او تاسو ترې په اخراج باندې تهدیدوي، هرو مرو او ضرور به د هغوی د هلاکت څخه وروسته هلته تاسو او ستاسو پیروان مېشت کړو، او د هغوی څخه به یې خالي کړو.

ای پیغمبره! زمونږ دغه کړنلاره په پیغمبرانو پورې ځانګړې نه ده، بلکې دا د هر هغه چا دپاره ده. کوم چې زما په حضور کښې د درېدلو څخه ډارېږي او زما د عذابونو څخه په ډار کښې وي او یقین پرې کوي.

ج: کله چې پیغمبران علیهم السلام د الله ﷻ په ذکره شوې وحې باندې مطمئن شوه چې د کفارو د هلاکت وخت رانژدې شوی دی نو دوی د الله ﷻ په حضور کښې د سوال لاسونه پورته کړه چې: ای ربه! زمونږ او د دغو ظالمانو ترمنځ په حقه فیصله وکړه او کوم مصیبت چې تا ورته ټاکلی دی هغه پرې ورنازل کړې.

د: نو الله ﷻ فیصله وکړه، چې پیغمبرانو او د دوی پیروانو ته یې نجات ورکړ او د دوی مخالفین یې د مهلک عذاب لاندې واقع کړه چې هیڅوک ترې بچ پاتې نه شوه بلکې هر یو سرکشه او معاند

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځای په ځای د زیان سره مخامخ شوه او یو هم خپل مطلب ته ونه رسېد.

۸ـ ای پیغمبره! دا وه د معاندینو او سرکشانو دنیاوي عذاب او دنیاوي انجام، اما د دوی د هر یوه عذاب په همدغه ځای باندې نه ختمېږي بلکې د هر یوه وروسته د دوزخ عذاب دی چې یو نفر هم ترې د نجات لاره نه شي موندلی. هغه دا چې:

الف: هر یوه ته به په دوزخ کښې برسېره په نورو عذابونو باندې دا عذاب هم ورکړی شي چې د داسې اوبو څخه به په هر یوه باندې وڅښکولی شي چې هغه به د دوزخیانو د زخمونو څخه د زوو په شکل بهېږي.

ب: دغه مرداري اوبه (زوي) به په مزه او خوند سره نه شي تېرولی بلکې په غرپ-غرپ به یې څښکي، چې په ستوني کښې به یې بندېږي او په اسانی سره به یې نه شي ښکته کولی.

ج: نوموړي ته به د هر پلوه مرګ ور روان وي او د مرګاني عذابونو باران به پرې جوړوي، مګر هغه به مړکېدونکی نه وي او د همېشه دپاره به په دغسې کړاوونو کښې اخته وي.

د: په دې ټولو باندې علاوه، د هغه وروسته به ډېر کلک عذاب وي چې ساټ په ساټ به یې تعذیبونه شدت مونده کوي او هیڅکله به پرې نه سوړوالی ورځي او نه انقطاع (پرېکېدل).

## توضیحات

۱ـ د هود ﷺ په سورت او همدارنګه په ځینو نورو سورتونو کښې د هر پیغمبر حالت په انفرادي شکل سره بیان شوی دی چې د خپل قوم سره یې داسې سوال جواب وکړ او نتیجه یې دا شوه. اما په دې سورت کښې الله ﷻ د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام د مجموعي څخه حکایت کړی دی چې د خپلو خپلو قومونو سره یې داسې او هاغسې چال چلند وکړ، او په انجام کښې د کفري قومونو په هلاکت باندې مباحثه ختمه شوه.

د بیان دغه طرز او دغه اسلوب دې ته اشاره ده ـوالله ﷻ أعلمـ چې د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام عقیده یوه ده او ټول د یوه مطلب دپاره را استولي شوي دي. بالمقابل دکفارو عادتونه او کړنلارې هم د زمانو په بدلون سره بدلون نه شي موندلی. نو څکه الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ أَتَوَاصَوْاْ بِهِۦۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴾ [الداریات: ۵۳] یعنې ایا کفارو یو تربله سره وصیت کړی دی چې هرې یوې ډلې بلې ډلې ته توصیه کړې ده چې زمونږ د مرګ څخه وروسته به تاسو هم د خپلو پیغمبرانو سره زمونږ غوندې کړنلاره غوره کوئ؟ یو تربله یې توصیه نه ده کړې بلکې ټول سرکشان دي او دغه کړنلاره د سرکشی غوښتنه ده.

## یادونه

۲ـ ځینو مفسرینو کرامو[1] په دې جمله ﴿ فَرَدُّوٓاْ أَيْدِيَهُمْ فِىٓ أَفْوَٰهِهِمْ ﴾ کښې ډېر اوږد بحث کړی

---

(۱) روح المعاني ج۱۳ ص۱۹۳؛ زاد المسیر ج۴ ص۲۵٦

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دی او په متعددو معناوو باندې یې تفسیره کړې ده. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف کفار د پیغمبرانو سلام د دعوت په مقابل کښې په غُصه شوه او د ډېرې غُصې د کبله یې لاسونه په خپلو خولو کښې د چیچلو دپاره کېښوده. یعنې خپلې ګوتې یې وچیچلې، چې د ګوتو چیچل د لاسونو په چیچلو باندې مشتمل دي. الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَإِذَا خَلَوْا عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ ﴾ [آل عمران ١١٩] او کله چې دوی یوازې شي نو په تاسو باندې د غُصې څخه خپلې ګوتې چیچي

ب کفار د هغوی د دعوت څخه په خندا شوه او د استهزاء په توګه یې خپلې خولې پټې کړې.

ج کفارو خپل لاسونه د هغوی په خولو باندې کېښودل چې چپ شي؛ دا خبرې پرېږدي.

مونږ ته په ذهن کښې ګرځي راګرځي چې کفارو به ډول ډول اوضاع څرګندې کړې وي او دا ایت شریف به د ټولو اوضاعو په بیان باندې مشتمل وي. او یا به څینو کفارو یوه وضعه کړې وي او نورو به بله وضعه اختیاره کړې وي؛ نو د ذکرې شوې جملې مختلف تفسیرونه سره څه منافات نه لري.

مګر متبادره دا ده چې کفارو به پیغمبرانو ته په دوه ډوله جواب ورکړی وي. یو په فعل سره، چې په خپلو خولو باندې به یې لاسونه ایښي وي چې دغه خولې ستاسو د دعوت د قبول څخه ساکتې دي. او بل په قول سره چې: ﴿ إِنَّا كَفَرْنَا بِمَا أُرْسِلْتُم بِهِ ﴾ یقیناً مونږ په هغه شي باندې کافر یاستو په کوم شي باندې چې تاسو (په خپل خیال) را استولی شوي یاست.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: ایا د کفارو د ذکر شوي صریح کفر (انکار) سره دا خبره منافي نه ده چې: ﴿ وَإِنَّا لَفِي شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَنَا إِلَيْهِ ﴾ او یقیناً مونږ د هغه شي څخه په شک کښې یاستو کوم شي ته چې تاسو مونږ دربلئ؟، یا په بل عبارت: انکار او شک سره منافات نه لري؟

مونږ وایو چې[1]:

الف د کفارو مطلب داوه چې مونږ خو اولاً منکر یاستو او که بالفرض خپل ځانونه تاسو ته درنژدې کړو نو د شک څخه خو بالکل نه شو در وړاندې کېدلی، چې یا را ته ستاسو دین ښکاره شي او یا پرې یقین وکړو.

ب د کفارو د ﴿ إِنَّا كَفَرْنَا بِمَا أُرْسِلْتُم بِهِ ﴾ وینا د معجزاتو په نسبت سره وه چې دوی ترې انکار اعلان کړ. او د ﴿ وَإِنَّا لَفِي شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَنَا إِلَيْهِ ﴾ وینا یې د توحید په نسبت سره وه چې دوی پکښې خپل شک اعلان کړ. والله ﷻ أعلم

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «فَإِنَّ الإِسْلَامَ يَجُبُّ

[1] تفسیر القاسمي ج: ١ ص ١٤

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ما كان قبله»(١) يقيناً اسلام هغه ګناهونه ساقطوي کوم چې د مسلمانيدلو څخه وړاندې يې څوک مرتکب شوی وي. حال دا چې په ﴿ لِيَغْفِرَ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ ﴾ کښې د "من" توری په بعضيت باندې دلالت کوي چې: الله ﷻ به درته د ايمان راوړلو په صورت کښې ځينې ګناهونه وبښي، نه ټولې؟

مونږ وايو چې: دلته د ځينو ګناهونو څخه هغه ګناهونه مطلب دي کوم چې په حقوق الله پورې تعلق لري(٢) او همدغو ته په حديث کښې هم اشاره شوې ده اما د حقوق العباد مغفرت خو د بندګانو پورې اړه لري او بس. يا په بل عبارت که يو کافر مسلمان شي نو د بندګانو قرضونه يې د غاړې څخه نه ساقطيږي.

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې د ﴿ وَيُؤَخِّرَكُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ﴾ د جملې څخه څرګنديږي چې په ايمان راوړلو سره عمر اوږديږي، حال دا چې د مرګ نېټه نه وړاندې کيږي او نه وروسته کيږي؟

مونږ وايو چې: د ذکر شوې جملې مطلب دا دی چې که تاسو په ايمان باندې مشرف شئ نو الله ﷻ به مو په عذاب باندې هلاک نه کړي او بيخ به مو ونه باسي. اما د عمر د لنډوالي او اوږدوالي په هکله [الرعد: ٣٩] ايت لاندې ښه تحقيق تېر شوی دی _لله الحمد_ چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو.

## د وږږو دم دواء

۶_ ځينو علماوو کرامو ليکلي دي چې: د دې ايت شريف ﴿ وَمَا لَنَآ أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى ٱللَّهِ وَقَدْ هَدَىٰنَا سُبُلَنَا ۚ وَلَنَصْبِرَنَّ عَلَىٰ مَآ ءَاذَيْتُمُونَا ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُتَوَكِّلُونَ ﴾ د خواصو څخه دا هم ده چې د وږږو د ضرر څخه پرې سړی بچ کيږي، نو کله چې ته د وږږو د ضرر څخه په تکليف شوې نو په يوه پياله کښې اوبه واخله او اوه کرته پرې ذکر شوی ايت قرائت کړه، بيا دغه اوبه د خپل فرش (بسترې) څخه چارچاپېره واچوه او ووايه چې: ای وږږو! که تاسو په الله ﷻ باندې عقيده لرئ نو مونږ ته شر او اذيت مه رارسوئ "فإنك تبيت آمنا من شرها"(٣) نو يقيناً ته به د وږږو د شر څخه په امن کښې شپه تېره کړې، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د هرچا وينه چې تروه وي هغه د وږږو د اذيت څخه مامون دی، ذکري شوی دم دواء ته اړتيا نه لري، ځکه چې وږږه خوږې وينې پسې تاند وهي او بس.

## يادونه

٧_ د [الأعراف:٨٨] ايت کښې دغه ډول جمله ﴿ لَتَعُودُنَّ فِى مِلَّتِنَا ﴾ د شعيب ﷺ په قيصه کښې

---

(١) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص٢٣٢
(٢) تفسير ابي السعود ج۵ ص٣٧
(٣) روح المعاني ج١٣ ص١٩٩

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نازله شوي ده چې مونږ پکښې د الله ﷻ په توفیق هغه پوښتنه جوابه کړې ده کومه چې سړي ته ذهن ته ورځي، هغه دا چې د ﴿ لَتَعُودُنَّ ﴾ کلمه د "عَوْدْ" څخه اشتقاقه شوې ده او "عَوْدْ" خو دې ته وايي چې سړی خپل پخواني حالت ته بېرته ورتاو شي؛ نو پوښتنه دا ده چې: ایا پیغمبران علیهم السلام پخوا په کفري مسلک کښې شامل وه چې کفارو ورته د بېرته ورتاېدلو وړاندېز وکړ؟

نو هیله ده چې محترم لوستونکي د دغې پوښتنې د جوابولو دپاره یو ځل هلته مراجعه وکړي.

## مقام څه معنی؟

٨ـ د ﴿ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِي ﴾ په جمله کښې د "مَقَام" کلمه مصدر ده او یا ظرف زمان یا ظرف مکان ده[١]. په هر تقدیر د "مَقَام" د کلمې اضافت الله ﷻ خپل اقدس ذات ته د ادنی مناسبت د کبله کړې دی، نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې ذکر شوې وعده د هغه چا دپاره ده چې زما په حضور کښې د محاسبې دپاره د درېدلو څخه او یا د هغه وخت او یا ځای څخه ډارېږي چې د محاسبې دپاره به پکښې ودرېږي، چې د قیامت ورځ او یا د محشر میدان دی.

همدغه مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ ﴾ [الرحمن: ۴۶] او د هغه چا دپاره چې په دنیا کښې د خپل رب ﷻ په حضور کښې د درېدلو څخه ډارېږي دوه، جنتونه دي.

## استفتاح څه معنی؟

٩ـ په ﴿ وَٱسْتَفْتَحُوا ﴾ کښې د ﴿ ٱسْتَفْتَحُوا ﴾ کلمه د "اسْتِفْتَاح" څخه اشتقاقه شوې ده چې معنی یې د فتحې او حکم غوښتنه ده[٢]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: پیغمبرانو د الله ﷻ څخه په مخالفینو باندې د فتح (برلاسي) یا د حکم (فیصلې) غوښتنه وکړه چې الله ﷻ یې غوښتنه قبوله کړه او برلاسي او فیصله یې ورکړه چې دوی کامیاب شوه او هغوی ناکام.

الله ﷻ ذکره شوې استفتاح د شعیب علیه السلام د خولې څخه داسې حکایت کړې ده چې: ﴿ رَبَّنَا ٱفْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِٱلْحَقِّ ﴾ [الأعراف: ٨٩] یعنې ای ربه! زمونږ او زمونږ د قوم ترمنځ په حقه سره فیصله (حکم) وکړې، چې مونږ بریالي شو او هغوی ناکام شي.

١٠ـ نبي کریم ﷺ د دې تکړې ﴿ وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ﴾ داسې تفسیر کړی دی چې: «يَخْرُجُ عُنُقٌ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَهُ عَيْنَانِ تُبْصِرَانِ وَأُذُنَانِ تَسْمَعَانِ وَلِسَانٌ يَنْطِقُ يَقُولُ إِنِّي وُكِّلْتُ بِثَلَاثَةٍ بِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ وَبِكُلِّ مَنْ دَعَا مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ وَبِالْمُصَوِّرِينَ»[٣] یعنې د قیامت په ورځ به د اور یوه برخه رابهر شي چې دوه سترګې به لري چې لیدل به کوي، او دوه غوږونه به لري چې اورېدل به کوي، او هم به ژبه لري چې خبرې به کوي، وایي به چې زه د درې ډوله کسانو دپاره ټاکلی شوی یم (چې معذب یې کړم):

---

(١) مفردات الراغب ص٤٣٢
(٢) مفردات الراغب ص٣٨٤
(٣) جامع الترمذي ج٢ ص٨٥

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په هر سرکشه معاند باندې او په هر هغه چا باندې چې د الله ﷻ سره بل معبود بللي (او شريکوي) او هم په مجسمو جوړوونکو باندې.

١١ـ نبي کريم ﷺ د ﴿ وَيُسْقَىٰ مِن مَّآءٍ صَدِيدٍ ﴾ ټکره داسې تفسير کړې ده چې: «يُقَرَّبُ إِلَى فِيهِ فَيَكْرَهُهُ فَإِذَا أُدْنِيَ مِنْهُ شَوَى وَجْهَهُ وَوَقَعَتْ فَرْوَةُ رَأْسِهِ فَإِذَا شَرِبَهُ قَطَّعَ أَمْعَاءَهُ حَتَّى يَخْرُجَ مِنْ دُبُرِهِ»[1] يعني زوې (مرداري اوبه) به د دوزخي خولې ته ورنژدې کړی شي نو بدې به يې وګڼي، نو کله چې ده ته ښې ورنژدې کړی شي نو مخ به يې وريت کړي او د سر پوستکی به يې پکښې راپرېوزي، نو کله يې چې وڅښکي نو کولمې به يې پرې کړي، آن تر دې چې د دبرې څخه به يې ښکته ووزي، أعاذنا الله ﷻ منها.

﴿ مَّثَلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِرَبِّهِمْۖ أَعْمَٰلُهُمْ كَرَمَادٍ ٱشْتَدَّتْ بِهِ ٱلرِّيحُ فِي يَوْمٍ عَاصِفٍۖ لَّا يَقْدِرُونَ مِمَّا كَسَبُواْ عَلَىٰ شَيْءٍۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلضَّلَٰلُ ٱلْبَعِيدُ ﴿١٨﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّۚ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٩﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ بِعَزِيزٍ ﴿٢٠﴾ وَبَرَزُواْ لِلَّهِ جَمِيعًا فَقَالَ ٱلضُّعَفَٰٓؤُاْ لِلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓاْ إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ ٱللَّهِ مِن شَيْءٍۚ قَالُواْ لَوْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ لَهَدَيْنَٰكُمْۖ سَوَآءٌ عَلَيْنَآ أَجَزِعْنَآ أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٍ ﴿٢١﴾ ﴾

[١٨] د هغو کسانو حالت کومو چې په الله ﷻ باندې کفر غوره کړی دی، دا دی چې د دوی (نېک) اعمال د ايرو د داسې ډېرۍ غوندې دي چې سخت باد ورباندې والوزي (البته) په داسې ورځ کښې چې د باد خاونده وي (د سبا څخه تر بېګاه پورې پکښې تېز باد چلېږي).

(نو) هغوی (کفار) د هغه (نېک عمل) څخه چې دوی کسب کړی دی په هيڅ شي باندې وسه نه لري (چې لاس ته يې راوړي او په خپله ګټه يې کړي)، لکه چې د الوزولو شوو ايرو څخه په هيڅ شي باندې وسه نه لري. ای پيغمبره!) دغه ده (د حق څخه) لرې ګمراهي.

[١٩] ايا ته نه ګورې چې الله ﷻ په حقه سره اسمانونه او ځمکې پيدا کړي دي (عبث يې نه دي پيدا کړي چې د جزا ورځې ته به ضرورت پېښ نه شي). که د الله ﷻ اراده وشي تاسو به (سمدستي) د منځه يوسي (ای کفارو!) او نوی مخلوق به (مو په عوض) راولي (پيدا کړي).

[٢٠] او دغه (کار) په الله ﷻ باندې درووند نه دی.

[٢١] او (د نورو مخلوقاتو په ضمن کښې) ټول کفار به (هم د قبرونو څخه) الله ﷻ ته ظاهر (حاضر) شي، نو کمزوري (کافران) به هغو (کافرانو) ته ووايي کومو به چې (په دنيا کښې) تکبر کاوه

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٨٥

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(او په نورو باندې به یې زبردستي کوله) چې یقیناً مونږ (په دنیا کښې) تاسو ته تابعداران وو، نو ایا (نن ورځ) تاسو زمونږ څخه د الله ﷻ د عذاب څخه څه شی دفعه کولی شئ (نجات راکولی شئ)؟.
دوی (متبکران) به (ورته په جواب کښې) ووایې چې که مونږ ته الله ﷻ (په دنیا کښې) هدایت کړی وی نو مونږ به تاسو هم په سمه لاره باندې روان کړي وی. (نو) په مونږ (او تاسو ټولو) باندې یو برابر ده چې بې صبري وکړو یا صبر وکړو. مونږ (او تاسو) ته هیڅ خلاصی نشته.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو نږدې ایتونو مضمون تعقیب شوی دی او د کفارو په راتلونکي عذاب باندې رڼا اچولې شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! د الله ﷻ د عذاب څخه کفارو ته هیڅ شی او هیڅوک نجات نه شي ورکولی، نه په دنیا کښې او نه په آخرت کښې؛ د ښه وضاحت دپاره وړباندې لاندې نکات قرائت کړه:
۱ ـ څرنګه چې کفار صحیح عقیده نه لري نو د دوی نېک عمل هیڅ دوی ته په درد نه خوري، د دوی د نېکو اعمالو مثال داسې دی چې یوه د ایرو ټوپن وي او په هغې باندې په داسې ورځ کښې تېز باد والوزي چې باد پکښې مسلسل وچلېږي او هیڅ توقف ونه کړي، نو پوره واضحه ده چې په ذکر شوي صورت کښې به د ایرو د ډېرۍ څخه هیڅ شی پاتې نه شي او هم به هیڅوک ونه توانېږي چې د ایرو الوزولي شوي او شندل شوي بڅرکي بېرته راټول کړي. همدارنګه به د قیامت په ورځ د کفارو نېک عملونه دوی ته په هیڅ درد دوا نه شي او دوی به قدرت ونه لري چې د خپلو کسبیاتو څخه څه ډېره کوچنۍ ګټه پورته کړي.
نو هرڅوک چې په دغسې بې فائدې شي باندې زړه تړي او یا ورته تمه کوي، هغه د حقې لارې څخه په ډېره ژوره او لرې ګمراهۍ کښې پرېوتلي دي.
۲ ـ ای پیغمبره! کفار به ولې په عمیقه ګمراهۍ کښې واقع نه وي چې دوی د داسې اقدس ذات څخه غاړې غړوي چې په هرڅه باندې قادر دی، ته نه ګورې چې اسمانونه او ځمکې یې په حقه او د حکمت په مقتضی پیدا کړي دي، او د حکمت په مقتضی به یې بېرته فنا کوي او د قیامت ورځ به ودروي، که نه نو د دنیا پیدا کول به د عبثیاتو څخه په غیر بل شی نه وی. همدارنګه په اسمانونو او ځمکو کښې روزمره تصرفات هم په همده ﷻ پورې اختصاص لري.
۳ ـ نو ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه کفار مخاطب کړه چې: که د الله ﷻ اراده وشي نو سمدستي به تاسو ټول د منځه یوسي او نوی مخلوق به ستاسو په عوض باندې پیدا کړي لکه څنګه یې چې تاسو د نورو په عوض باندې پیدا کړي یاست او هغوی یې د منځه وړي دي، لکه عادیان، ثمودیان او داسې نور نو په دې کښې هیڅ خفاء نشته چې دا کار په الله ﷻ باندې څه دروند او ګران کار نه دی.
۴ ـ ای پیغمبره! کفارو ته لکه څنګه چې د دوی نېک اعمال ګټه نه شي رسولی همدارنګه دوی ته خپل دنیاوي دوستان او معبودان هم د الله ﷻ د عذاب څخه نجات نه شي ورکولی، او دا څکه

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې كله دوی ټول د خدای، څخه د قيامت په ورځ راپورته شي او ټول د الله ﷻ په حضور كښې د فيصلې دپاره ودريږي نو زورور او كمزوري به په لاندې ډول سوال جواب وكړي

الف كمزوري او پيروان به خپلو مشرانو او زورورو ته چې په دنيا كښې به يې په هغوی باندې تكبر كاوه او خپلې ارادې به يې وربانديې تحميلولې. ووايي چې ای مشرانو! مونږ خو په دنيا كښې ستاسو پيروان پاتې شوي وو. او ټول عمرونه مو ستاسو په خدمت كښې مصرف كړي دي. نو ايا نن ورځ تاسو كولی شئ چې زمونږ څخه دالله ﷻ د عذاب د څه كوچنی برخې مخه ونيسئ او مونږ ته ترې نجات راكړئ؟

ب: مشران به جواب وركړي چې: مونږ خو خپلو ځانونو ته نجات نه شو وركولی نو تاسو ته به څنګه نجات دركړو؟ ځكه چې مونږ په دنيا كښې ګمراهان وو او تاسو مو هم د خپلو ځانونو په څېر ګمراهان كړئ كه هلته مونږ په سمه لاره باندې تللي وی او الله ﷻ راته هدايات كړي وی نو مونږ به تاسو ته هم لاره ښودلې وی خو افسوس چې فرصت د لاسه وتلی دی. په دې باندې علاوه، كه نن ورځ مونږ ته الله ﷻ د نجات كومه لاره وښودله نو مونږ به تاسو نه هېررو او لاره به درته وښايو مګر ظاهره دا ده چې زمونږ هيڅ د نجات لاره نشته، برابره خبره ده چې مونږ چيغې او فريادونه وكړو او يا غلي كينو او د صبر څخه كار واخلو نه دواړو صورتونو كښې مونږ ته د خلاصون څه چاره په لاس نه راځي

## توضيحات

۱_ كه څوک وايي چې په ﴿ أَعۡمَٰلُهُمۡ ﴾ كښې د كفارو كوم عملونه مراد دي، يا په بل عبارت: هغه كوم عملونه دي چې كفار ورته د فائدې پورته كولو تمه لري او په دې مقام كښې د ايرو د ډېرۍ سره تشبيه وركړه شوې ده؟

مونږ وايو چې: كفار په خپلو اعمالو كښې لاندې دوه ډولونو ته تمه لري:

الف: د بوتانو عبادت، چې كه بالفرض د قيامت د قيام خبره رښتيا شي نو دا به زمونږ په كار راشي او الله ﷻ ته به مو ورنږدې كړي: لكه چې الله ﷻ د كفارو د خولو څخه حكايت كوي چې: ﴿ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ ﴾ [الزمر ۳] يعني مونږ د خپلو بوتانو عبادت نه كوو مګر د دې دپاره چې دوی مونږ الله ﷻ ته نږدې كړي نږدې كول.

ب: هغه نېک كارونه كوم چې كه بالفرض ايمان او صحيحه عقيده ورسره ملګري وي نو رښتيا به نېک كارونه وي او عمل كوونكي ته به يې ګټه رسولې وي؛ د ښه وضاحت دپاره د [التوبة ۱۹] ايت شريف شان نزول وګورئ، چې د بدر مشركانو بنديانو افتخار كاوه چې: "أَمَا وَاللهِ لَقَدْ كُنَّا نَعْمُرُ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ وَنَفُكُّ الْعَانِيَ وَنَحْجُبُ الْبَيْتَ وَنَسْقِي الْحَاجَّ"[۱] خبردار! قسم دی چې (ای مسلمانانو! مونږ په فضيلت كښې ستاسو څخه كم نه ياستو ځكه چې) مونږ مسجد حرام اباد ساتلی دی،

(۱) تفسير الطبري ج ۱۰ ص ۹۶. اسباب النزول للواحدي ص ۱۶۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اسيران مو خوشي کړي دي، د بيت الله چپړاسي توب مو کړی دی او حجاجو ته مو اوبه ورکړي دي (ايا دا کارونه به زمونږ په ښه باندې رانه شي).

همدارنګه بي بي عائشه رضي الله عنها (أم المؤمنين) وايي چې: ما يوه ورځ د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه او د ابن جدعان مې ډېر محاسن بيان کړه چې: اى د الله رسوله! ابن جدعان يو سړی وه چې د جاهليت په زمانه کښې به يې د مېلمنو عزتداري کوله، اسيران به يې خوشې کول، د خپلوانو سره به يې ښه (صلة الرحم) کاوه او دګوانډيانو سره به يې نېکه ګذاره کوله، نو ايا ذکر شوي شيان به هغه ته ګټه ورسوي؟ نبي کريم ﷺ جواب راکړ چې: «لَا إِنَّهُ لَمْ يَقُلْ يَوْمًا قَطُّ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي يَوْمَ الدِّينِ»(۱) نه (څه ګټه ورته نه شي رسولی) ځکه چې يقيناً هغه هيڅکله يوه ورځ هم داسې نه وه ويلې چې: اى الله! ماته د جزا په ورځ مغفرت وکړې، يعنې ايمان يې نه وو راوړی.

۲ـ دقيامت په ورځ به کفار پيروان ښه پوهېږي چې د مشرانو کفارو د لاسه څه پوره نه دي مګر د دوی د تخجيل او د خپلې غُصې د سړه ولو دپاره به هغوی مخاطب کړي چې: ايا تاسو نن ورځ د الله ﷻ د عذاب د يوه کوچنی ځنډېې څه چاره کولی شئ؛ حال دا چې په دنيا کښې خو تاسو هرڅه په خپل لاس کښې ګڼل او حتی کله به لا تاسو ذمه وهله چې: ﴿ وَلْنَحْمِلْ خَطَـٰيَـٰكُمْ ﴾ [العنكبوت:۱۲] مونږ به ستاسو ګناهونه اوچت کړو.

مشران به جواب ورکړي چې: ﴿ لَوْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ لَهَدَيْنَـٰكُمْ ﴾، چې علماوو کرامو يې لاندې دوه ډوله تفسيرونه کړي دي(۲):

الف: که الله ﷻ مونږ ته په دنيا کښې هدايت کړی وی نو مونږ به تاسو ته سمه لاره ښودلې وی.

ب: که په راتلونکي کښې مونږ ته الله ﷻ کومه د نجات لاره وښودله نو مونږ به تاسو خبر کړو، خو دا اميد نشته.

مونږ ته اول تفسير غوره بربښي چې د ﴿ إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا ﴾ د جملې سره ښه پيوند نيسي.

﴿ وَقَالَ ٱلشَّيْطَـٰنُ لَمَّا قُضِىَ ٱلْأَمْرُ إِنَّ ٱللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ ٱلْحَقِّ وَوَعَدتُّكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ ۖ وَمَا كَانَ لِىَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَـٰنٍ إِلَّآ أَن دَعَوْتُكُمْ فَٱسْتَجَبْتُمْ لِى ۖ فَلَا تَلُومُونِى وَلُومُوٓا۟ أَنفُسَكُم ۖ مَّآ أَنَا۠ بِمُصْرِخِكُمْ وَمَآ أَنتُم بِمُصْرِخِىَّ ۖ إِنِّى كَفَرْتُ بِمَآ أَشْرَكْتُمُونِ مِن قَبْلُ ۗ إِنَّ ٱلظَّـٰلِمِينَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٢﴾ وَأُدْخِلَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ جَنَّـٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ خَـٰلِدِينَ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ ۖ تَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَـٰمٌ ﴿٢٣﴾ ﴾

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۴۳۴
(۲) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۱۳۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۲] او هرکله چې کار فيصله شي (محاسبه وکړی شي يا دوزخيان دوزخ ته داخل کړی شي) شيطان (ابليس) به ووايي چې:

(ای کفارو!) يقينًا الله ﷻ ستاسو سره وعده کړې وه حقه (رښتيانی) وعده، او ما درسره وعده کړې وه (په دنيا کښې) نو (نن ورځ) مې درسره وعده خلافي وکړه (چې زما وعده د دروغو وه). او (په دنيا کښې) ماته په تاسو باندې کوم قوت (او حجت) نه وه (چې تاسو په کفر باندې مجبور وګڼل شئ)، مګر ما (فقط) تاسو ته دعوت درکړ نو تاسو ماته قبول وکړ (او زما دعوت مو ومانه)، نو تاسو (په خپل کفر باندې) ما مه ملامته کوئ او (بلکې) خپل ځانونه ملامته کړئ (چې بې دليله مو زما اجابت وکړ، نن ورځ) نه زه ستاسو نصرت کوونکی يم (چې چيغې مو غلې کړم) او نه تاسو زما کومک کوونکي (نجات راکوونکي) ياست (چې اوښکې راپاکې کړئ)، يقينًا زه ستاسو د اشراک څخه بېزار يم (البته د هغه اشراک څخه) چې ماته مو مخکښې (په دنيا کښې) راکړی وه.

يقينًا چې ظالمانو (مشرکانو) ته (د الله ﷻ د پلوه) دردناک عذاب دی.

[۲۳] او (بالمقابل) هغه کسان به د خپل رب ﷻ په اذن (او اجازه) باندې جنت ته داخل کړی شي کومو چې ايمان راوړی وي او نېک عمل‌ونه يې کړي وي، (داسې جنت ته) چې لاندې ترې (ځلون) ويالې بهېږي (البته) په داسې حال کښې چې دوی به هلته همېشه وي، (او هم) هلته به د دوی تحفې (او تبريکي) د سلام کلمه وي (چې د هره طرفه به ورته ويله کېږي).

## ارتباط

په وړاندې نژدې ايت شريف کښې د کمزورو کافرانو او متکبرو کافرانو هغه سوال جواب ته اشاره شوې ده کوم به چې د قيامت په ورځ صورت ونيسي. او په دې ايتونو کښې د هغې مباحثې ذکر شوی دی چې د ټولو کافرانو (په مجموعي توګه) او پخپله د ابليس (چې د ټولو متکبرانو په لوړې سر کښې واقع دی او د تکبر اساس يې ايښی دی) ترمنځ به تحقق ومومي. چې حاصل يې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! داسې وخت هم راتلونکی دی چې ټول کافران به غټ متکبر (ابليس) ته هغه سوال متوجه کړي کوم به چې کشران کافران مشرانو کافرانو ته متوجه کوي، هغه دا چې:

ای ابليسه! مونږ خو په دنيا کښې ستا پيروان وو، او ستا يوه خبره مو هم ځمکې ته نه ده غورزولې، نو ايا ته نن ورځ کولی شې چې د الله ﷻ د عذاب د څه برخې څخه مو بچ کړې او يا يې څه تخفيف کړې؟

۱ـ نو ابليس به په هغه وخت کښې چې خبره فيصله شي، خپلو پيرانو ته په علني توګه او په ډاګه خپل جواب په لاندې ټکو کښې ورکړي او ټولو ته به يې ور واوروي چې:

الف: ای کفارو! الله ﷻ چې کومه وعده تاسو ته درکړې وه هغه حقه وعده وه، چې دا نن ورځ تاسو د هغې حقانيت په سترګو باندې ګورئ، او په دنيا کښې هم د هغې حقانيت څه پټ شی نه وه

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بلکې د یو پلوه الله ﷻ تاسو ته سالم حواس او سالم عقلونه درکړي وه او د بل پلوه یې د پیغمبرانو علیهم السلام سلسله جاري ساتلې وه او کتابونه یې درلېږلي وه، چې د خپلې وعدې حقانیت یې په بشپړه توګه په اثبات رسولی وه او هیڅ خفا پکښې نه وه پاتې شوې.

ب. اما کومه وعده چې تاسو ته ما درکړې وه هغه د دروغو وعده وه، چې په هیڅ برهان او دلیل باندې ولاړه نه وه او نه یې په دنیا کښې څه مؤیدات درلوده. دا دی نن ورځ زما د دروغو څخه پرده پورته شوه او زه په ډاګه خپله بې لوظي او بدعهدي اعلانوم، خو تاسو ماته په دغې بې لوظۍ او بدعهدۍ کښې څه ملامته هم نه شئ رامتوجه کولی، ځکه چې:

ج. ما په تاسو باندې څه حکومت نه درلود او ما نه شو کولی چې زه خپله خبره په تاسو باندې په زور قبوله کړم، څو نن ورځ ماته د ملامتۍ ګوته ونیسئ، ما خو تاسو ته فقط او فقط بلنه درکړې وه او تاسو په ډېر ورین تندي باندې قبوله کړې وه.

د. نو په همدې اساس زه تاسو ته وایم چې ماته د ملامتۍ ګوته مه نیسئ بلکې خپل ځانونه ملامت وګڼئ چې په پټو سترګو او بلا دلیله مو زما دعوت قبول کړی وه.

ه. نن داسې ورځ ده چې هرڅوک د خپل ځان په غم کښې پروت دی، هیڅوک بل چاته څه ګټه نه شي رسولی، نو په همدې بنیاد زه ستاسو فریادرسي نه شم کولی او تاسو زما د فریادرسۍ څه توان نه لرئ.

و. بالآخره کومه فرمانداري چې په دنیا کښې تاسو زما کړې ده او زما اطاعت مو کړې وه، زه د هغه مننه او شکریه نه کوم، یا په بل عبارت: ما لا د خپل رب ﷻ ناشکري کړې ده نو ستاسو شکریه به څنګه وکړم، ستاسو اطاعت خو ماته څه ګټه نه ده رسولې بلکې په ضرر باندې راته تمام شوی دی دا ځکه چې کله تاسو په دنیا کښې زه د الله ﷻ په عبادت کښې شریک جوړ کړم نو په دې سبب زما کفر لا قوي شو او عذاب مې لا دروند شو، نو زه ستاسو د عبادت څخه بېزار یم.

یقیناً چې ټولو کافرانو او ظالمانو ته د الله ﷻ د پلوه دردناک عذاب ټاکلی شوی دی چې یو کس هم د بل کس څخه د عذاب څه برخه په خپلو اوږو باندې نه شي پورته کولی.

۲ـ ای پیغمبره! دا وه د کفارو حال احوال چې څه اشاره ورته وشوه، اوس نو د تقابل دپاره د مؤمنانو حالات هم قرائت کړه چې هر شی په خپل ضد سره ډېر ښه پېژاندل کېږي. هغه دا چې:

الف. بالمقابل هغه کسان به چې ایمان یې راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي، داسې جنتونو ته داخل کړی شي چې څلور ډوله ویالې به پکښې بهېږي، د سوچه اوبو، شرابو، شاتو او د شودو.

ب. دوی به په دغو جنتونو کښې د دوی د رب ﷻ په اذن او اجازې سره په داسې حال کښې ورداخل کړی شي چې هلته به همېشه وي او هیڅکله به ترې ونه شي ویستلی.

ج. جنتیان به په جنت کښې یو تربله په خوښۍ او خوشالۍ سره ژوند کوي، خینې به د خینو نورو زیارت ته ورځي راځي او یو تربله به (کشران او مشران) تبریکي وایي او د سلام تحفې به وړاندې کوي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱ـ که څوک وايي چې: د شيطان (ابليس رئيس الشياطين) ذکره شوې خطابه به د محشر په ميدان کښې صورت نيسي او که په داخل د دوزخ کښې؟

مونږ وايو چې: په دې کښې علماء کرام په لاندې دوه وو ګروپونو ويشلی شوي دي:

الف: ځينې وايي[1] چې دغه خطابه به د محشر په ميدان کښې صورت ونيسي، البته کله چې د مؤمنانو دپاره نبي کريم ﷺ شفاعت وکړي نو په ابليس باندې به هم خپل پيروان راغونډ شي چې هله ژرشه مونږ ته د نجات څه لاره پيدا کړه چې مونږ په دنيا کښې همدا ستا پيروي کړې ده، نو ابليس به جواب ورکړي.

دوی وايي چې د ﴿لَمَّا قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ﴾ معنی دا ده: چې کله کار فيصله شي، د محشر په ميدان کښې حساب کتاب تمام شي او جنت او دوزخ ته لا څوک نه وي داخل شوي.

ب: ځينې نور وايي[2] چې د ﴿لَمَّا قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ﴾ معنی دا ده: چې کله په بشپړه توګه کار پای ته ورسېږي او جنتيان جنت ته داخل کړی شي او دوزخيان په دوزخ کښې واچولی شي، نو د دوزخيانو په منځکښې به شيطان خپله ذکره شوې خطابه ورکړي.

مونږ ته داسې برېښي چې څه لرې نه ده چې شيطان به دوه خطابې ورکړي، يوه د محشر په ميدان کښې او بله په داخل د دوزخ کښې، او په ايت شريف کښې د دواړو د شمول احتمال شته.

### "صراخ" او "اصراخ" څه معنی؟

۲ـ په ﴿مَّآ أَنَا۠ بِمُصۡرِخِكُمۡ وَمَآ أَنتُم بِمُصۡرِخِيَّ﴾ کښې د "مُصۡرِخ" کلمه اصلاً د "صُرَاخ" ـ لکه "غُرَاب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د مدّ الصوت دپاره وضعه شوې ده، چې څوک لوړ اواز سره د بل چا څخه مرسته او کومک وغواړي. اما کله چې ذکره شوې کلمه د افعال د باب لاندې واقع شي چې مصدر يې "إصراخ" دی نو همزه يې کښې د سلب دپاره ګرځي[3] نو "مُصۡرِخ" هغه چا ته ويل کېږي چې د کومک او نصرت غوښتونکی چيغې او اواز غلی کړي او نجات ورکړي.

نو په دې مقام کښې به د معنی حاصل داسې راجوړېږي چې: ای کافرانو! لکه چې تاسو ماته چيغې وهئ او کومک راڅخه غواړئ زه هم تاسو ته چيغې وهم، خو نه زه ستاسو چيغې غلی کولی شم او نه تاسو ماته څه نصرت راکولی شئ، چې چيغې مې غلی کړئ او مرسته راکړئ.

۳ـ مفسرينو کرامو د دې نکرې ﴿إِنِّي كَفَرۡتُ بِمَآ أَشۡرَكۡتُمُونِ مِن قَبۡلُ﴾ په تفسير کښې ډېر اوږد بحث کړی دی[4] خو کوم تفسير چې ذهن ته نژدې دی هغه دا دی چې کفر د بېزارۍ په معنی

---

(۱) الدر المنثور ج۵ ص۱۸

(۲) تفسير ابن كثير ج۲ ص۵۲۹

(۳) تفسير القاسمي ج۹ ص۲۵

(۴) روح المعاني ج۱۳ ص۲۱۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره دی او د "ما" توری مصدریه دی[١]، نو د تفسیر حاصل یې داسې راځېږي چې: ای کفارو! یقیناً زه ستاسو د شریک ګرځولو څخه بېزار یم چې ماته مو پخوا (په دنیا کښې) د الله ﷻ په عبادت او اطاعت کښې برخه ټاکلې وه.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې کفار خو د الله ﷻ په عبادت کښې بوتان برخوال ګرځوي، اما د شیطان خو فقط خبره مني نه دا چې په عبادت کښې ورته په برخه قائل دي؟

مونږ وایو چې: دلته د اشراک څخه اشراک په اطاعت کښې دی، چې دا هم یو ډول عبادت دی، او یا هرکله چې د بوتانو معبودیت د شیطان په اشاره سره صورت نیسي نو د قیامت په ورځ به د دوی اشراک شیطان د خپل ځان دپاره اشراک وګڼي. په هر تقدیر، همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَيَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ ﴾ [فاطر:١۴] یعني ای کفارو! ستاسو معبودان به د قیامت په ورځ ستاسو په شرک باندې کافر شي او انکار به ترې وکړي (څه تشکر به درځخه ونه کړي).

﴿ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِى ٱلسَّمَآءِ ﴿٢٤﴾ تُؤْتِىٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍۭ بِإِذْنِ رَبِّهَا ۗ وَيَضْرِبُ ٱللَّهُ ٱلْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٥﴾ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ ٱجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ ٱلْأَرْضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٍ ﴿٢٦﴾ يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱلْقَوْلِ ٱلثَّابِتِ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِى ٱلْـَٔاخِرَةِ ۖ وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّـٰلِمِينَ ۚ وَيَفْعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ ﴿٢٧﴾ ﴾

[۲۴] ایا ته نه ګورې چې الله څومره ښه مثال بیان کړی دی، (چې) پاکیزه کلمه یې د داسې پاکیزه ونې سره تشبیه کړې ده چې بېخ یې (په ځمکه کښې) مضبوط (ښخ) وي او سر یې په اسمان کښې وي (اسمان ته هم ورننوتلې وي).

[۲۵] چې دغه ونه خپله مېوه په هر وخت کښې د خپل رب ﷻ په حکم باندې (خلکو ته) ورکوي. او الله ﷻ (لکه چې دا مثال یې بیان کړ همدارنګه نور) مثالونه (هم) د خلکو دپاره بیانوي شاید چې دوی (ترې) عبرت واخلي (او مطالب د زړه د کومې قبول کړي).

[۲۶] او مثال (حال) د ناپاکې کلمې (شرکي او کفري کلمې او عقیدې) د داسې ناپاکې ونې غوندې دی چې (بېخ یې د ځمکې څخه) راوېستلی شوی وي، د ځمکې د پاسه پروت وي چې هېڅ ثبات او قرار ونه لري.

---

١ المحرر الوجيز ج١٠ ص٧٩

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۷] (تطبيق يې دا دی چې) الله ﷻ هغه كسان كومو چې ايمان راوړی دی، په ثابته كلمه (لا إله إلا الله مُحَمَّدٌ رَسُولُ الله) باندې هم په نږدې (او حقير) ژوند كښې او هم په آخرت (د مرگ څخه وروسته وختونو) كښې ثابت گرځوي (او د ښويېدلو څخه يې ساتي)، او (هم) الله ﷻ ظالمان (كفار) گمراه كوي، او الله ﷻ هغه څه كوي كوم ته يې چې اراده وشي.

## ارتباط

د وړاندې ځاى څخه په دې كښې بحث را روان دی چې د كفارو دپاره نه نېک عملونه په درد خوري او نه به ورته د قيامت په ورځ كوم شفاعتگر او مرستندوی موندہ شي. كه څه هم دوی ډېر تالاش وكړي او هر بوټي ته لاس واچوي. په دې ايتونو كښې په ذكر شوي مضمون باندې د يوه مثال په ضمن كښې ښه پوره رڼا اچولې شوې ده، او هم د "تُعْرَفُ الْأَشْيَاءُ بِأَضْدَادِهَا" په اساس د پاكېزه كلمې مثال ته هم اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! ايا ته نه گوري چې الله ﷻ د پاكيزه كلمې او د پاكيزه عقيدې او همدارنگه د ناپاكې كلمې او ناپاكې عقيدې څومره په زړه پورې مثالونه بيان كړي دي؛ لاندې شرحه يې په خير سره د نظره تېره كړئ:

۱ـ د پاكېزه او طيبه كلمې (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ) مثال د هغې پاكېزه ونې په شان دی كومه چې لاندې صفات ولري:

الف: بېخ يې په ځمكه كښې مضبوط وي، چې نه يې سخت باد د ځايه ښوروولی شي او نه وړاندې د طوفان وسه كېږي چې د بېخه يې وباسي.

ب: چې شاخونه يې آن په اسمان كښې وي او د چا وسه نه كېږي چې ځانگې يې پرې كړي او كونډې يې كړي.

ج: چې دغه ونه د خپل رب ﷻ د مراقبت او څارنې لاندې وي او د همدې كبله هر وخت د خپل رب ﷻ په امر سره ميوجات وركوي چې هيڅ وخت وړاندې خزان نه ورځي.

ای پیغمبره! الله ﷻ ځكه معنوي او غير محسوس شيان په محسوسو مثالونو كښې د خلكو دپاره بيانوي شايد چې دوی ترې پند واخلي او په اخلاص سره يې قبول كړي.

۲ـ د ناپاكه (پليتې) كفري كلمې مثال د هغې ناپاكې ونې غوندې دی چې لاندې صفات ولري.

الف: چې په ځمكه كښې مضبوط بېخ ونه لري بلكې د بېخه راوېستلې شوې وي او د ځمكې په سر باندې پراته وي.

ب: چې هيڅ قراري او ارامي ونه لري او بادونه يې اړوي راړوي.

ج: چې نه مېوه لري چې څوک ترې استفاده وكړي او نه ښه عطري بوی لري چې د چا دماغ پرې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تېره شي، او په دې باندې علاوه اغزي درلودونکې دی چې نه څوک ورنږدې کېدلی شي او نه سوری لري چې څوک ترې لاندې کېني.

## د مثالونو تطبیق

۳ـ ای پېغمبره! اوس نو ذکر شوي دواړه مثالونه په لاندې ډول تطبيق کړه:

الف: ذکره طيبه کلمه چې کله د چا په زړه کښې ځای ونيسي او د پخې عقيدې خاوند شي، نو د هيڅا ورباندې وسه نه کېږي چې کفر ته يې واړوي او عقيده يې خرابه کړي.

ب: همدارنګه هيڅوک يې د لوړوالي او پرمختګ مخه نه شي نيولی، چې لاره کښې يې خنډ جوړ سي.

ج: نوموړې عقيده په هر وخت کښې خپل خاوند ته ګټه رسوي، چې د نعمت په وخت کښې شکر کوي، اجر کټي، د مصيبت په وخت کښې د صبر څخه کار اخلي، د اجر مستحق ګرځي، د روح د قبض په وخت کښې مطمئن وي او په قبر کښې د نکير او منکر د پوښتنو په وخت کښې ثابت قدمه پاتې کېږي. بالآخره د همدغې عقيدې خاوند د قيامت په ورځ د خپلې عقيدې څخه ډېره ګټه استفاده کوي چې د محشر مشکلات پرې اسانېږي او جنت ته په ننوتلو باندې اختتام مونده کوي.

بالمقابل د ناپاکې کلمې او پليتې عقيدې د مثال تطبيق دا دی چې:

الف: پليته عقيده په کوم برهان او قوي دليل باندې ولاړه نه ده بلکې بنياد يې په شهوت پرستی او خودخواهی باندې اېښودلی شوی دی.

ب. د دغې عقيدې خاوند څه ارام او اطمنان نه شي موندلی بلکې د همېشه دپاره په اضطراب او وارخطايی کښې ژوند کوي، شبهات او اشتباهګانې يې اړوي را اړوي، او په نن سبا کښې ورباندې حق غلبه مونده کوي او د انحلال سره مخامخه کېږي.

ج: ذکره شوې عقيده خپل خاوند ته نه په دنيا کښې اطمنان ورکولی شي، نه د ځنکدن په حالت کښې، او بالآخره نه په عالم برزخ (قبره) کښې او نه د حشر په ميدان کښې ورته ګټه رسولی شي.

نو د دغې عقيدې درلودونکي نه دي مګر ظالمان دي، او ظالمانو ته الله ﷻ هدايت نه کوي او توفيق نه ورکوي بلکې ګمراه کوي يې.

ای پيغمبره! لکه څنګه چې الله ﷻ د پاکې عقيدې د خاوند سره هاغسې کوي او د ناپاکې عقيدې خاوند د دغه حالت سره مخامخ کوي همدارنګه الله ﷻ هغه څه کوي چې اراده يې وشي، هيڅوک يې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي جوړېدلی.

## توضيحات

۱ـ د جمهورو علماء کرامو په نزد طيبه کلمه د دې کلمې څخه عبارت ده چې: "أَشْهَدُ أَنْ لا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ"[۱] چې د اسلامي صحيحي عقيدې څخه نمايندګي کوي.

(۱) تفسير ابن کثير ج۲ ص۵۳۰؛ تفسير الخازن ج۳ ص۵۲۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنګه جمهورو علماوو کرامو خبیثه کلمه په کفري او شرکي کلمې باندې تفسیره کړې ده[١] چې د غیر اسلامي عقیدې څخه نماینده ګڼله کېږي.

## سوال جواب

٢_ که څوک وايي چې هغه "شجرة طيبة" د کومې ونې څخه عبارت ده چې "كلمة طيبة" ورسره تشبیه کړې شوې ده؟

مونږ وایو چې: د ذکرې شوې ونې په تعین کښې علماوو کرامو لاندې متعدد قولونه کړي دي:

الف: ذکره شوې ونه د کجورې د ونې څخه عبارت ده. څکه چې نبي کریم ﷺ خپلو صحابه وو کرامو رضي الله عنهم ته وویلې چې: په ونو کښې یوه ونه ده چې خپلې پاڼې نه تویوي (خزان پرې نه ورځي) همدغه ونه د مسلمان مثال دی، نو تاسو یې ماته په ګوته کړئ چې هغه کومه ونه ده؟ عبد الله بن عمر رضي الله عنه وايي چې: د خلکو افکار د بیابان په ونو کښې خواره شوه، او زما په زړه کښې پرېوتله چې دا ونه د کجورې ونه ده، خو زه وشرمېدم او (نبي کریم ﷺ ته) مې پرې صراحت ونه کړ (زه هم د نورو صحابه وو کرامو غونډې پټه خوله پاتې شوم).

بیا د مجلس حاضرینو نبي کریم ﷺ ته وویلې چې: ای د الله رسوله! تاسو یې مونږ ته راوښایئ چې هغه کومه ونه ده. نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «هِيَ النَّخْلَةُ»[٢] دا د کجورې ونه ده.

څرنګه چې دغه مضمون په یوه اوږد حدیث کښې امام البخاري رحمه الله په کتاب التفسیر کښې د ذکر شوي ایت شریف لاندې لیکلی دی[٣] نو معلومه شوه چې د دې امام نظر دا دی چې "شجرة طيبة" نبي کریم ﷺ د کجورې په ونې سره تفسیره کړې ده، والله ﷻ اعلم.

## اشتباهګانې

دلته سړي ته لاندې اشتباهګانې ذهن ته ورځي:

اول: یوه دا چې په ﴿ وَفَرْعُهَا ﴾ کښې د "فَرْع" کلمه خو ښاخ ته وايي، لکه چې د انسان نسل (اولاده) د فروع په نامه یادېږي[٤]، حال دا چې د کجورې ونه خو ښاخونه او څانګې نه لري؟

مونږ وایو چې: "فَرْعُ كُلِّ شَيْءٍ أَعْلَاهُ"[٥] د هر شي فرع د هغه شي د لوړوالي څخه عبارت دی، د همدې کبله د غره څوکې ته "فَرْعَة" ویل کېږي؛ نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل یې داسې راځي چې د ذکر شوې ونې څوکه آن اسمان ته رسېدلې وي، نه دا چې ښاخونه یې هلته رسېدلي وي.

دوهم: د ﴿ فَرْعُهَا ﴾ دپاره اسمان ظرف واقع شوی دی، چې ﴿ وَفَرْعُهَا فِي ٱلسَّمَآءِ ﴾ نازل شوی دی، حال دا چې د کجورې د ونې څوکه لوړېږي مګر دومره خو نه لوړېږي چې په اسمان کښې داخله

---

(١) تفسير البخاري ج٣ ص٥٢٥
(٢) صحيح البخاري ج١ ص١٤
(٣) صحيح البخاري ج٢ ص٦٨١
(٤) مفردات الراغب ص٣٩١
(٥) لسان العرب ج٨ ص٢٤٦

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي. نو که بالفرض د ﴿ فِي ٱلسَّمَآءِ ﴾ په عوض "إلى السَّماءِ" نازل شوی وی نو بیا به یې صحت درلودلی وی.

مونږ وایو چې: د ﴿ ٱلسَّمَآءِ ﴾ کلمه لکه څنګه چې په هغه اسمان باندې اطلاق کېږي چې د ځمکې مقابل دی همدارنګه د هر شي په لوړوالي باندې یې هم اطلاق کېږي. د همدې کبله دا کلمه په دې مقام کښې په "جهة العلو" باندې تفسیره شوې ده[1]؛ نو د ﴿ وَفَرْعُهَا فِي ٱلسَّمَآءِ ﴾ معنی داسې راځېږي چې د ذکر شوې ونې څوکه په هوا کښې لوړه وي.

درېیم: دربهمه اشتباه دا ده چې د ﴿ تُؤْتِيٓ أُكُلَهَا كُلَّ حِينِۭ ﴾ څخه څرګندېږي چې ذکره شوې ونه په هر وخت کښې مېوه ورکوي او همېشه مېوه لرونکې وي، حال دا چې د کجورې ونه خو په هر وخت کښې مېوه لرونکې نه وي. که څه هم په ټول کال کښې او هر وخت کجورې خوړل کېږي مګر دغه معنی د ﴿ تُؤْتِيٓ ﴾ ـ کلمې څخه نه څرګندېږي، نو که بالفرض د همدغې کلمې په عوض د "تُؤكَل" کلمه نازله شوې وی نو بیا به ذکرې شوې توجیه صحت درلودلی وی.

مونږ وایو چې: د ﴿ حِينِۭ ﴾ کلمه چې بلې کلمې ته مضافه نه وي (لکه په دې مقام کښې چې مضافه نه ده) د مبهم وخت معنی ورکوي[2]، نو ځکه مفسرینو کرامو[3] په متعددو معناوو باندې تفسیره کړې ده چې ذکره شوې ونه په اتو میاشتو یا شپږو میاشتو کښې مېوه ورکوي او داسې نور، نو څه لرې نه ده چې معنی یې داسې وشي چې ذکره شوې ونه په هر هغه وخت کښې مېوه ورکوي کوم چې د الله ﷻ د پلوه د هغې د مېوې دپاره ټاکلی شوی دی، او د نورو ونو غوندې نه ده چې کله کله په خپل ټاکلي وخت کښې هم مېوه نه نیسي.

ب: ذکره شوې ونه عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په هغې ونې باندې تفسیره کړې ده چې په دنیا کښې نشته بلکې دا یوه جنتي ونه ده[4].

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وایي چې "شجرة خبيثة" (ناپاکه ونه) د کومې ونې څخه عبارت ده؟

مونږ وایو چې: د دغې ونې په تعین کښې هم ګڼ شمېر اقوال شته، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ذکره شوې ونه د حنظلې (مرغونې) د ونې څخه عبارت ده او دا ځکه چې د یوه اوږده حدیث مضمون دی چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ د ایت شریف دغه ټکړه: ﴿ وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ ٱجْتُثَّتْ مِن فَوْقِ ٱلْأَرْضِ مَا لَهَا مِن قَرَارٍ ﴾ قرائت کړه او بیا یې وفرمایل چې: «هِيَ الْحَنْظَلَةُ»[5] یعنې:

---

(۱) البحر المحيط ج۶ ص۴۳۲
(۲) مفردات الراغب ص۱۳۸
(۳) زاد المسير ج۴ ص۲۶۳؛ احكام القرآن للجصاص ج۳ ص۱۸۳
(۴) تفسير البغوي ج۳ ص۳۲
(۵) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا د مرغونې ونه ده.

ب. ذکر شوې خبیثه شجره د "کَشُوث" څخه عبارت ده[۱]، یعنې هغه بوټی چې په ځمکې کښې خپل بېخ نه لري او په نورو ونو او بوټو کښې د غنې د جال غوندې تاوېږي راتاوېږي، چې "عشقة" هم ورته وايي او په پښتو کښې ورته "زیړکی" وايي.

## اشتباهګانې

په دغو دوارو معناوو باندې سړي ته لاندې اشتباهګانې ذهن ته ورځي:

الف. په عربي لغت کښې د "شجر" کلمه هغه بوټي ته ویل کېږي چې ډډ لري[۲] او کوم بوټی چې ډډ نه لري هغه د نبات په نامه بلل کېږي، حال دا چې نه حنظلة ډډ لري او نه کَشُوث؟!.

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې په ذکرو شوو دوارو نباتاتو باندې د مشاکلت په توګه د "شجرة" اطلاق شوی دی، او دا ځکه چې دا د هغې شجرې ترخنګ ذکره ده د کومې سره چې طیبه کلمه تشبیه کړی شوې ده.

ب. ذکر شوې دواړه تفسیرونه د ﴿ اَجْتُثَّتْ ﴾ د کلمې سره سمون نه خوري. او دا ځکه چې دا کلمه د "اجتثاث" څخه اشتقاقه شوې ده او "اجتثاث" دې ته ویل کېږي چې د یوه شي جثه (تنه) د ځمکې څخه راوشکولی شي[۳] حال دا چې حنظله (مرغونی) د ځمکې څخه نه ده شکولې شوې بلکې بېخ لري، او کَشُوث (عشقه) خو په ځمکه کښې بالکل بېخ نه لري نو د ځمکې څخه د هغې د بېخ راویستل په څه معنی ورکړې؟!.

مونږ وايو چې: ذکرو شوو دوارو بوټو ته د ﴿ اَجْتُثَّتْ ﴾ کلمه مجازاً استعماله شوې ده. ځکه چې د حنظلې بېخ ډېر کمزوری دی، په لږ حرکت سره د ځمکې څخه راویستلی کېږي، نه به وايې چې سمدستي راویستلی شوی دی.

او څرنګه چې "کَشُوث" د همغه بوټي د بېخ څخه نشا او نمو اخلي په کوم کښې چې تاو شوی راتاو شوی وي، نو د هغه بېخ داسې ګڼل شوی دی لکه چې د ده خپل بېخ وي او اوس ترې راویستلی شوی وي.

## تبصره

مونږ ته داسې برېښي او ځينو علماوو کرامو لیکلي هم دي[۴] چې ذکرې شوې دواړه ونې په خارج کښې موجودیت نه لري، او په تشبیه کښې د طرفینو خارجي موجودیت ضرور هم نه دی، لکه

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۲۳
(۲) مفردات الراغب ص۳۶۲
(۳) لسان العرب ج۲ ص۱۲۶
(۴) روح المعاني ج۱۳ ص۲۱۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې يوه عربي شاعر ويلي دي چې[1]
وَمُحْمَرُّ الشَّقِيقِ إِذَا تَصَوَّبَ أَوْ تَصَعَّدَ ❁ أَعْلَامُ يَاقُوتٍ نُشِرْنَ عَلَى رِمَاحٍ مِنْ زَبَرْجَدِ
يعنې کله چې په بيديا کښې سور پيغمبرګلي ښکته پورته کېږي، داسې برېښي لکه چې د سرو ياقوتو بيرغونه د شنو زبرجدو په غشو باندې خواره کړی شوي وي.
نو په دغه شعر کښې که څه هم اعلام (بيرغونه)، ياقوت، رماح او زبرجد خارجي موجوديت لري مګر د دغو ټولو څخه مرکب شي موجوديت نه لري او يو عقلي شی دی او بس.
که دا توجيه صحت ولري نو د ذکرو شوو دواړو احاديثو سره هم څه منافات نه لري. دا ځکه چې څه لرې نه ده چې نبي کريم ﷺ خپلو صحابه وو کرامو ﵃ ته د ښه وضاحت دپاره د معقولې طيبې ونې مثال د کجورې په ونه باندې ورکړی وي او د معقولې خبيثې ونې مثال يې ورته د حنظلې د بوټي په ضمن کښې ښودلی وي، چې مطلب به يې حصر نه وه، والله ﷻ أعلم.

## په دې مقام کښې تثبيت څه معنی؟

۴_ د ﴿يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلْقَوْلِ ٱلثَّابِتِ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا وَفِي ٱلْأٓخِرَةِ﴾ په جمله کښې د ﴿يُثَبِّتُ﴾ کلمه د "تَثْبِيت" څخه اشتقاقه شوې ده. د يوه شي تثبيت د دې څخه عبارت دی چې خای په خای ودرولی شي او د خوځيدلو او ښويېدلو څخه بچ کړی شي، نو الله ﷻ مؤمنانو ته د طيبې کلمې په برکت سره ـ چې "القَوْلُ الثَّابِتُ" سره ترې تعبير کړی شوی دی ـ په دواړو دنياوو کښې د کلکوالي او عدم لغزش وعده ورکړې ده چې لنډ تفصيل يې دا دی:
الف: د چا په زړه کښې چې اسلامي عقيدې ځای نيولی وي نو په هيڅ صورت سره (په دنيا کښې) څوک ـ د ځنکدن په شمول ـ نه دی توانېدلی چې ذکره شوې عقيده خامه کړي او په کفري عقيده باندې يې بدله کړي. ځکه چې الله ﷻ يې دکلکوالي وعده کړې ده او الله ﷻ په خپله وعده کښې د هرچا څخه زيات رښتينی دی، لاندې څو مثالونه يې درپه زړه کړئ:
اول: په پخوانيو امتونو کښې د جرجيس عابد او د شمعون عابد قيصې ډېرې زړه دردوونکې دي، چې دوی دواړه د کفارو د پلوه د ډول ډول تعذيب لاندې ونيول شوه، مګر په حقه کلمه باندې ثابت قدمه پاتې شوه[2]. همدارنګه د اصحاب الأُخدود قيصه هم د ذکر شوي تثبيت څرګند مثال دی چې په "سُورَةُ الْبُرُوج" کښې ورته اشاره شوې ده.
دوهم: د بعثت په لومړنيو وختونو کښې د صحابه وو کرامو ﵃ حالات په عامه توګه او د بلال ﵁ حالات په خاصه توګه د يادولو وړ دي، چې په هيڅ ډول تعذيب سره د دوی په اسلامي پخه عقيده کښې څه نرمښت واقع نه شو.
ب: اما په آخرت کښې هم (چې د مرګ د وخت څخه پيل کېږي او د قبر په سوال جواب او هم د

---

(١) مختصر المعاني ص٣١٨
(٢) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٢ ص١٣٤؛ البحر المحيط ج٦ ص٤٣٤

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



محشر په بوښتنو باندې څښېږي، مؤمنان په اطمئنان سره د یوې مرحلې نه بلې مرحلې ته ورتېرېږي او د پاکیزه کلمې د برکاتو څخه استفاده کوي

## يادونه

۵- نبي کريم ﷺ د "القول الثابت" تفسير په کلمې طيبې سره کړی دی[۱] او د نکير او منکر يعني د قبر په سوال جواب کښې يې زښت ډېر احاديث فرمايلي دي چې ځينو مفسرينو کړامو[۲] راغونډ کړي دي. که څوک غواړي چې د نظره يې تېر کړي نو هغلته دې مراجعه وکړي چې دا کتاب دلته د هغو د رانقلولو توان نه لري

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ بَدَّلُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ كُفْرًا وَأَحَلُّوا۟ قَوْمَهُمْ دَارَ ٱلْبَوَارِ ﴿٢٨﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا ۖ وَبِئْسَ ٱلْقَرَارُ ﴿٢٩﴾ وَجَعَلُوا۟ لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلُّوا۟ عَن سَبِيلِهِۦ ۗ قُلْ تَمَتَّعُوا۟ فَإِنَّ مَصِيرَكُمْ إِلَى ٱلنَّارِ ﴿٣٠﴾ قُل لِّعِبَادِىَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يُقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُنفِقُوا۟ مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلَٰلٌ ﴿٣١﴾ ﴾

[۲۸] ایا ته هغو کسانو ته نه ګورې کومو چې د الله ﷻ نعمت (محمد ﷺ) په کفر باندې تبديل کړ (ایمان یې پرې رانه وړ)، او خپل قوم یې د هلاکت په کور کښې ورښکته کړ.

[۲۹] (د هلاکت کور يعنې) دوزخ چې دوی به ورداخل شي، او د قرار نيولو ډېر بدځای دی (دا دوزخ).

[۳۰] او دوی الله ﷻ ته سيالان (شريکان) وګرځول چې (په نتيجه کښې) د الله ﷻ د لارې څخه (خپل پيروان) خطا کړي (او ګمراهان ترې جوړ کړي).

(ای پيغمبره! ته ورته) ووايه چې: (د دنيا څخه) استفاده وکړئ (لږ وخت) ځکه چې ستاسو بېرته ورتاوېدل اور ته دي (او بس).

[۳۱] (ای پيغمبره! بالمقابل) زما هغو (مخلصو) بندګانو ته ووايه کومو چې ايمان راوړی دی چې دوی دې لمونځونه ودروي او د هغو مالونو څخه دې پټ او ښکاره (زما په لاره کښې) انفاق وکړي کوم چې مونږ دوی ته روزي کړي دي (البته) د داسې ورځې د راتللو څخه وړاندې چې نه پکښې بيه شته او نه (يو تربله) دوستي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د وړاندېنيو ايتونو دپاره دوه مثالونه ښودلی شوي دي، چې د باطلې عقيدې

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۶۸۲

(۲) تفسير الطبري ج۱۳ ص۲۱۳؛ تفسير ابن کثير ج۲ ص۵۳۱؛ الدر المنثور ج۵ ص۲۷؛ تفسير الخازن ج۳ ص۵۲۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خاوندانو پښې څنګه ونښوېږدلې او د حقې عقېدې خاوندان څنګه ثابت قدمه پاتې شوه، چې حاصل يې داسې راځېږي:

اې پيغمبره! د دې دپاره چې د وړاندېنيو ايتونو مضمون د خلکو په زړونو کښې ښه کېني، په دوی باندې لاندې دوه مثالونه قرائت کړه:

۱ـ څوک چې د ناپاکې او پليتې عقيدې خاوندان دي د هغوی په هر ځای کښې پښې نښوېږي او الله ﷻ توفيق نه ورکوي، چې د همېشه دپاره روغه او مستقيمه لاره نه پخپله مونډلی شي او نه بل څوک پرېږدي چې د مستقيمې لارې پلټنه وکړي. نو ايا ته هغو خلکو ته نه ګورې چې الله ﷻ ورباندې خپل نعمت ورنازل کړ چې آخر الزمان پيغمبر يې ورولېږه او خپل بهترين کتاب (قرآن کريم) يې ورباندې ورنازل کړ ترڅو دوی بوت پرستي پرېږدي او د الله ﷻ په وحدانيت باندې قائل شي مګر دوی د الله ﷻ د نعمت قدرداني ونه کړه او په ناشکرۍ سره يې جواب ورکړ، نو خپل ځانونه او خپل قوم (عزيزان) يې د هلاکت په کنده کښې ښکته وروغورزول چې په دوامداره توګه به پکښې پراته وي.

۲ـ دغه د هلاکت کنده بل شی نه دی بلکې د دوزخ څخه عبارت ده، چې ضرور به پکښې وراچولی کېږي او هيڅکله به ترې د نجات لاره مونده نه کړي بلکې هلته به په دائمي توګه قرار ونيسي چې دا ډېر ناکاره او د قرار نيولو ډېر بد ځای دی.

۳ـ د هغوی د ګمراه کولو او ګمراه کېدلو وجه دا ده چې دوی خپلې بوت پرستۍ ته ادامه ورکړه او الله ﷻ ته په شريکانو درولو باندې کلک شوه ترڅو چې په نتيجه کښې يې په خپلې ګمراهۍ باندې علاوه نور خلک هم د خپلو ځانونو سره ګمراه او بې لارې کړه.

۴ـ نو اې پيغمبره! د الله ﷻ د پلوه هغوی مخاطب کړه او زمونږ فيصله ور واوروه چې: وکړئ څو ورځې د دنيا څخه لنډه او تنګه استفاده، يقيناً ستاسو په هکله د الله ﷻ فيصله دا ده چې ستاسو بېرته ورستنېدل بل ځای ته نه دي مګر اور ته دي او بس.

۵ـ اې پيغمبره! بالمقابل زما هغو مخلصو بندګانو ته ووايه کومو چې ايمان راوړی دی او په پاکيزه کلمې او پاکيزه عقيدې باندې زما په توفيق کلک ولاړ دي او هم يې د الله ﷻ د نعمتونو ناشکري نه ده کړې او په دې لاره کښې يې د هر ډول مشکلاتو ګاللو ته ملاوې تړلې دي، داسې چې:

الف: الله ﷻ ستاسو ملګری او کومکي دی، نو خپلو لمونځونو درولو ته ادامه ورکړئ چې ستاسو صفائي لا نوره پسې زياته شي او د فحشاء او منکراتو مخه درڅخه ونيسي.

ب: همدارنګه د خپلو هغو مالونو څخه چې مونږ در روزي کړي دي څه برخه ولګوئ ترڅو ستاسو انساني حرص مات شي چې په مالي فتنه کښې واقع نه شئ.

ج: په کار ده چې ستاسو ذکره شوې خرڅه فقط لله في الله وي او د رياکارۍ د ورمې څخه پاکه وي، نو په دغه ډول انفاق باندې مه په پټه صرفه کوئ او مه په ښکاره، ځکه چې الله ﷻ ته دواړه ډوله انفاق يو برابر څرګند او ښکاره دی.

د: ورته ووايه چې: اې مؤمنانو! تاسو ته ځکه په بدني او مالي عبادتونو باندې توصيه کېږي چې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

تاسو مخې ته داسې ورځ راتلونکې ده چې هلته به نه تجارت وي چې مال وګټئ او د خپلو ګناهونو فدیه ورکړئ، او نه به د الله ﷻ د اذن څخه په غیر دوستي وي چې چاته په کار باندې ورشي. نو تاسو ته په کار دي چې د دغسې ورځې د راتګ څخه وړاندې هغې ته چمتو شئ او خپلو ځانونو ته ځوري تهیه کړئ.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ بَدَّلُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ ﴾ کښې د نعمت څخه نبي کریم ﷺ مراد دی[۱] چې د ټولو عالمونو دپاره رحمت او نعمت دی. اما هغه کسان چې د ذکر شوي نعمت شکریه یې نه ده کړې او په ﴿ ٱلَّذِينَ ﴾ سره ورته اشاره شوې ده، نو د دوی په تعین کښې علماوو کرامو متعدد قولونه کړي دي[۲]؛ لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: عبد الله عباس رضي الله عنهما وايي چې: دلته د نعمت د بدلوونکو څخه د مکې معظمې مشرکان مطلب دي[۳].

ب: یوه ورځې همدغه پوښتنه چا علي ﷺ ته راجع کړه نو هغه جواب ورکړ چې د دوی نه د قریشو د کافرانو څخه هغه مشران مراد دي کوم چې بدر ته حاضر شوي وه[۴].

زمونږ په فکر د علماء کرامو به حصر مطلب نه وي بلکې هرچا به یو یو مثال ښودلی وي، او ایت شریف به عام وي چې د قیامت د ورځې پورې به هغو ټولو ډلو ته شامل وي کومو چې خپل قوم د هلاکت کندې ته اچولی وي او یا یې اچوي.

د همدې جملې څخه د افغانستان کمونیزم مشربه مشران هم ګڼل کېږي چې خپل قوم (افغانان) یې د روسانو په لاس کښې ورکړه، چې ځینې کفر ته واووښتل او ملحدان ترې جوړ شوه چې د دوزخ په کنده کښې یې په دائمي توګه واچول. اما په دنیا کښې یې ټولو مؤمنانو او ټولو کمونیزم پلویانو ته د افغانستان څخه دوزخ جوړ کړ، چې تر نن[۵] ورځې پورې پکښې اور بلېږي او شنې لوخړې یې خېژي، الله ﷻ دې په مونږ باندې د اسلامي حکومت پرده راواچوي.

یوه عربي شاعر په خپل شعر کښې ذکر شوی مضمون څومره په ښه ډول انځور کړی دی چې[۶]:

إِذَا كَانَ الْغُرَابُ رَئِيسُ قَوْمٍ :: سَيَهْدِيهِمْ إِلَى قَذِرٍ وَجِيفِهِ

یعنې: کله چې د یوه قوم مشر کارغه وګرځي، نو ډېر ژر به یې د پلیتۍ او د مرداري په لور روان کړي.

(۱) تفسیر الطبري ج۱۳ ص۲۱۹
(۲) زاد المسیر ج۴ ص ۲۶۶
(۳) الدر المنثور ج۵ ص۴۱
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۵۳۸
(۵) ۱۳۷۶/۶/۱۵ هـ ش
(۶) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۱۳۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د عربیت یو تحلیل

۲_ په ﴿ قُل لِّعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُنفِقُواْ ﴾ کلام کښې علماوو کرامو ډېر اوږد بحث کړی دی چې د ﴿ قُل ﴾ دپاره مقوله کومه یوه ده، او هم د ﴿ يُقِيمُوا، يُنفِقُواْ ﴾ اعرابي نونونه په څه شي باندې ساقط شوي دي[۱]؟ مګر مونږ د لنډون په غرض فقط د لاندې دوه وو وجهو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: د ﴿ قُل ﴾ دپاره مقوله مقدره ده چې په: "اَقِيْمُوْا، اَنْفِقُوْا" ترې تعبیر کوو، او اعرابي نونونه ځکه ساقط شوي دي چې: ﴿ يُقِيمُوا ﴾، ﴿ يُنفِقُواْ ﴾ د امر ﴿ قُل ﴾ جواب دی او د امر جواب خو مجزوم وي، همدارنګه همدغه جواب په مقدره مقوله باندې هم دلالت کوي[۲].

نو د معنی حاصل به یې داسې شي چې: ای پیغمبره! زما بندګانو ته ووایه چې د خپلو لمونځونو په ودرولو باندې دوام وکړئ او د خپلو مالونو څخه في سبيل الله انفاق وکړئ ترڅو دوي لمونځونه ودروي او هم في سبيل الله انفاق وکړي.

ب: په ﴿ يُقِيمُوا ﴾، ﴿ يُنفِقُواْ ﴾ کښې د امر لام مقدر دی[۳]. ظهور یې داسې راوځي چې: "لِيُقِيْمُوْا، لِيُنفِقُوْا"، نو همدغه دواړه کلمې د امر په لام باندې مجزومې دي او همدغه د ﴿ قُل ﴾ دپاره د عطف په اعتبار سره مقوله واقع شوې دي. یعنې: ای پیغمبره! زما د پلوه زما مخلصو بندګانو ته ووایه چې دوی دې لمونځونه ودروي او دوی دې في سبيل الله انفاق وکړي.

﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْأَنْهَٰرَ ﴿٣٢﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ﴿٣٣﴾ وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِن تَعُدُّواْ نِعْمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ۗ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴿٣٤﴾ ﴾

[۳۲] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې اسمانونه او ځمکې یې پیدا کړي دي، او هم یې د اسمان (د طرف) څخه اوبه (باران) نازل کړی دی، نو په دې اوبو باندې یې د ډول-ډول میوجاتو څخه راویستلی دی (زرغونې کړې دي) ترڅو تاسو ته روزي درکړي. او (هم) الله ﷻ ستاسو دپاره بېړۍ مسخرې کړې دي (په کار اچولې دي) د دې دپاره چې د ده ﷻ په امر سره په دریاب کښې روانې شي (وګرځي راوګرځي)، او هم یې ستاسو دپاره سیندونه مسخر کړي دي (په کار اچولي دي).

---

(۱) روح المعاني ج۱۳ ص۲۲۰

(۲) تفسیر الکشاف ج۲ ص۵۵۶

(۳) تفسیر ابي السعود ج۵ ص۴۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳۳] او (هم) الله ﷻ ستاسو دپاره لمر او سپوږمۍ په داسې حال کښې تسخیر کړې دي چې په دوامداره توګه روان دي (او هیڅ توقف نه کوي)، او هم یې ستاسو دپاره شپه او ورځ (دواړه) مسخرې جوړې کړې دي.

[۳۴] او الله ﷻ تاسو ته د هر هغې نوعې نوعې نعمتونو څخه درکړي دي کوم چې تاسو یې (د حال یا قال په ژبه) غواړئ. او (لنډه دا چې) که تاسو د الله ﷻ نعمتونه شمېر کړئ (د شمېرلو نیت ورته وکړئ) نو وبه یې نه شئ شمېرلی (وسه به مو پرې ونه شي).

یقینًا چې (جنس) انسان (په خپل خان باندې) ظلم کوونکی (او) ناشکره دی (مګر چا ته چې الله ﷻ توفیق ورکړي).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د شاکرانو حالات او د ناشکرانو انجام بیان شوی وه. په دې ایتونو کښې د یوه پلوه د ټولو نعمتونو څخه په لوی نعمت (د الله ﷻ په توحید) باندې دلالت اقامه شوی دی او د بله پلوه د الله ﷻ د بې انتهاء نعمتونو څه مثالونه هم ښودلی شوي دي، چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس نو په خپل امت باندې د لوی نعمت یعنې د الله ﷻ د توحید د اثبات دپاره څه دلایل قائم کړه چې همدغه دلایل په عین حال کښې د الله ﷻ د نعمتونو څخه هم شمېرل کېږي، ترڅو ناشکران د ناشکرۍ څخه لاس واخلي او په ایمان باندې مشرف شي، او ترڅو شکرګذاران په شکرګذارۍ باندې ښه کلک شي، هغه دا چې:

۱ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې اسمانونه او ځمکې یې پیدا کړې دي، ایا بل څوک دا کار کولی شي؟ ایا تاسو د دغو دواړو شکریه پوره کولی شئ؟

۲ـ برسېره پر دې، د اسمان د طرفه یې اوبه نازلې کړې دي چې ستاسو ژوند ورپورې تړلی دی، ایا د ده ﷻ څخه پرته څوک یو څاڅکی اوبه رانښکته کولی شي؟

۳ـ په دغو اوبو باندې یې ستاسو دپاره د ځمکې څخه ډول-ډول بوټي او ونې راویستلي دي چې ستاسو او ستاسو د څارویو روزي پکښې نغښتې ده، چې ټول کال تاسو د غلو دانو او مېوجاتو څخه استفاده کوئ او څاروي مو ترې واښه خوري او پرې څرېږي.

۴ـ الله ﷻ ستاسو د ژوند د ښه کولو دپاره تاسو ته بېړۍ مسخرې کړې دي چې د خپل ثقل سره-سره په نرم دریاب کښې د الله ﷻ په امر سره ګرځي راګرځي او تاسو پرې د یوه اقلیم څخه بل اقلیم ته تلی راتلای شئ، او خپلې ارتیاوې پرې پوره کولی شئ.

۵ـ همدارنګه الله ﷻ هغه سیندونه هم ستاسو په ولکه کښې درکړي دي کوم چې د باران اوریدلو په وخت کښې په ځمکه کښې جذب کېږي، بیا د چینو په شکل د ځمکې څخه راغوټېږي او

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بالآخره لوی لوی سیندونه ترې جوړېږي. د دغو سیندونو څخه تاسو د خپلو زراعتي ځمکو دپاره ځړونه پورته کوئ او د رڼا او نورو موخو دپاره ترې برق (بریښنا) لاس ته دروړئ.

۶ـ الله ﷻ ستاسو دپاره لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي چې په دوامداره توګه راځېږي او پرېوځي، چې ستاسو د ژوند دپاره ګټور نعمتونه دي، ایا د الله ﷻ په غیر بل څوک لمر او سپوږمۍ راځېژولی یا پرېویستلی شي؟

۷ـ همدارنګه الله ﷻ د ستاسو د ژوند دپاره شپه او ورځ پیدا کړې ده، چې د هرې یوې څخه ببلا ببلې ګټې پورته کوئ. ایا د شپې او ورځې بدلون رابدلون د بل چا په واک کښې شته؟ ایا په دغه بدلون رابدلون کښې ستاسو دپاره بې شمېره مطالب مرموز نه دي.

۸ـ الله ﷻ تاسو ته د هر هغه شي څخه درکړي دي چې تاسو ترې د حال یا قال په ژبې سره غوښتي دي، او چې تاسو ورته احتیاج او اړ یاست. یا په بل عبارت: الله ﷻ لا په هغه وخت کښې ستاسو اړتیاوې پوره کړې دي او په ځمکې او اسمانونو کښې یې ځای په ځای کړې دي په کوم وخت کښې چې لا ستاسو بابا (آدم ؑ) نه وه پیدا شوی.

۹ـ لنډه دا چې الله ﷻ تاسو ته دومره زیات نعمتونه درکړي دي که بالفرض تاسو یې په شمېرلو پیل وکړئ نو ستاسو به وسه ونه شي چې د شمېر لاندې یې ونیسئ، که څه هم تاسو ټول وړاندېني او وروستني سره راغونډ شئ او د نعمتونو په شمېرلو کښې سره لاس وکړئ؛ نو ایا تاسو اوس هم شکر نه کوئ؟

۱۰ـ بالآخره ای پیغمبره! یقیناً چې بنیادم په خپل خان باندې ظلم کوونکی دی او د الله ﷻ د نعمتونو دپاره ناشکره دی، چې د الله ﷻ د نعمتونو څخه استفاده کوي او د الله ﷻ د پېروۍ په عوض د شیطان پیروي کوي، او په خبیثه کلمه او په خبیثه عقیده باندې زړه تړي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿سَخَّرَ﴾ کلمه د "تسخیر" څخه اشتقاقه شوې ده، تسخیر دې ته وایي چې یو شی د چا دپاره داسې تابع وګرځولی شي چې پرته د اجرته د هغه په خدمت کښې چاپېر وي[1] برابره خبره ده چې تصرف یې ورباندې هم جاري وي لکه سیندونه چې د انسان دپاره مسخر دي، او که د تصرف لاندې یې واقع نه وي لکه لمر او سپوږمۍ چې د ده دپاره الله ﷻ تسخیر کړي دي.

## یادونه

۲ـ وړاندې د هغو نعمتونو نومونه ذکر شوه کوم چې پرته د غوښتنې څخه الله ﷻ پیدا کړي دي، لکه لمر او سپوږمۍ او داسې نور. د دغه ذکر څخه وروسته دا جمله ﴿ وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ﴾ نازله کړی شوه، نو د دې طرز بیان څخه سړي ته ذهن ته ورځي لکه چې الله ﷻ ټول

(۱) لسان العرب ج۴ ص۳۵۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



انسانان مخاطب کړي وي چې: ای بنیادمانو! الله ﷻ تاسو ته هغه شیان درکړي دي کوم چې تاسو ترې نه دي غوښتي او د هغونعمتونو څخه يې هم درکړي دي کوم چې تاسو ترې غوښتي دي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: په بنیادمانو کښې داسې خلک شته چې یو شی هم د الله ﷻ څخه نه غواړي، لکه دهریان چې د ده ﷻ په موجودیت باندې معتقد نه دي خو د دې سره-سره هغوی ته هم د ده ﷻ د پلوه احتیاجات ورکړی شوي دي او لا ورکول کېږي. همدارنګه مونږ مسلمانانو ته الله ﷻ داسې نعمتونه هم راکړي دي چې مونږ بالکل غوښتي نه دي او لا په خیال کښې مو نه ګرځي او دا څکه چې الهي نعمتونه د بشري احاطې لاندې نه راځي، لکه چې راتلونکې جمله په همدې مطلب باندې دلالت کوي؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو د ﴿ مَا سَأَلْتُمُوهُ ﴾ معنی په "مَا احْتَجْتُمُوهُ" سره تفسیره کړې ده[۱]. یعنې الله ﷻ تاسو ته د هغو شیانو څخه درکړي دي کوم چې تاسو ورته احتیاج یاست، نو دغه احتیاجات که تاسو د قال په ژبه نه غواړئ او یا مو په خیال کښې نه راځي نو د حال په ژبه خو يې غواړئ او سوالونه کوئ. چې دا ډول غوښتنه کفارو (دهریانو) ته هم شامله ده.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې: په بنیادمانو کښې داسې ډېر دي چې احتیاج ورته پوره ورکړی شوی نه وي، مثلاً د چا لاس نه وي، څوک شل زېږېدلی وي او داسې نور، نو ایا د ذکر شوې جملې معنی په "مَا احْتَجْتُمُوهُ" سره صحت درلودلی شي؟

مونږ وایو: څرنګه چې په ذکره شوې جمله کښې ټول بنیادمان مخاطب کړی شوي دي او د افرادو لحاظ پکښې نه دی ساتلی شوی نو دغه پوښتنه نه شي مطرحه کېدلی. دا څکه هر ډول انساني احتیاج که یوه فرد (شخص) ته د ځینو حکمتونو په بنیاد نه وي ورکړی شوي نو هغه به ضرور بل ته ورکړی شوي وي[۲] او د بنیادمانو ټول افراد به ترې خالي نه وي.

## احصاء څه معنی؟

۵_ په ﴿ وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ﴾ کښې د ﴿ لَا تُحْصُوهَا ﴾ کلمه د "إِحْصَاء" څخه اشتقاقه شوې ده چې اصل يې د "حَصَى" څخه دی، "حَصَى" هغې وړوکې شګې ته ویل کېږي چې د واړه انګور په اندازه وي. په عربو کښې عادت وه چې د شمېر په وخت کښې به يې د شګو څخه کار اخست لکه چې مونږ ځینې حسابونه په ګوتو باندې کوو[۳].

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۰ ص۳۲؛ روح المعاني ج۱۳ ص۲۲۶

(۲) المحرر الوجیز ج۱۰ ص۸۹

(۳) لسان العرب ج۱۴ ص۱۸۳؛ مفردات الراغب ص۱۲۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل یې داسې کېږي چې د الله ﷻ نعمتونه دومره ډېر دي چې که بالفرض تاسو ټول یې په شمېرلو مشغول شئ او د یوې مجموعې د پوره کېدلو دپاره یوه شگه کېږدئ (لکه یو ملیارد) او بیا د بلې مجموعې په شمېر باندې پیل وکړئ، د پوره کېدلو څخه وروسته یې بله شگه کېږدئ او داسې نور؛ نو هم د احاطې لاندې به یې رانه وستلی شئ. دا هم هله چې د نعمتونو انواع د شمېر لاندې ونیسئ، اما د افرادو شمېرل خو یې د بشر د تصور څخه بالکل وتلی دی.

## د الله ﷻ د نعمتونو د بیان طرز

۶ـ مفسرینو کرامو د الله ﷻ د نعمتونو د ډېروالي بیان ته په ډېرو طریقو باندې اشاره کړې ده او ښه اوږده مضامین یې پکښې لیکلي دي[۱]، مگر مونږ په دې باره کښې د لاندې څو ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: یو لک څلیرشت زره زیات یا کم پیغمبران علیهم السلام او د دوی سره نازل شوي شریعتونه ټول د الله ﷻ نعمتونه دي چې تفصیلوار بیان یې د هیچا په وسه کښې نشته.

ب: د جنت نعمتونه او هلته خوشالۍ څوک په خپل تصور کښې نه شي راوړلی.

ج: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ﴾ [البقرة: ۲۹] یعنې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې هغه شیان یې ټول ستاسو دپاره پیدا کړي دي کوم چې په ځمکه کښې دي. دا ټول نعمتونه دي، نو ایا څوک کولی شي چې افراد نه بلکې کلیات او انواع یې د شمېر لاندې راولي؟

د: الله ﷻ دومره مرضونه او آفتونه پیدا کړي دي چې د هیچا په تصور کښې نه ځایېږي، نو کله چې سړی د دغو ټولو څخه مامون وي نو د هر یوه څخه مامونیت بېل‌بېل نعمت دی، ایا څوک کولی شي چې د هغو مرضونو نومونه شمېر کړي د کومو څخه چې الله ﷻ بچ کړی وي؟.

همدې خبرې ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «كُلُّ سُلَامَى مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ فِيهِ الشَّمْسُ»[۲] یعنې د خلکو څخه (د بدن) په هر بند باندې صدقه ده، هره ورځ چې لمر پکښې راخېژي (د انسان هر یو بند چې د مرضونو څخه بچ وي دا بېل‌بېل نعمت دی).

هـ: یوه ورځ داود علیه السلام پوښتنه وکړه چې: ای ربه! ماته خبر راکړه چې ستا وړوکی نعمت په ما باندې څه شی دی؟ «فَأَوْحَى اللهُ يَا دَاوُدُ تَنَفَّسْ فَتَنَفَّسَ فَقَالَ هَذَا أَدْنَى نِعْمَتِي عَلَيْكَ»[۳] نو الله ﷻ ورته وحې وکړه چې: ای داوده! سا وباسه، نو داود علیه السلام سا وویستله، نو الله ﷻ ورته وویلې چې زما وړوکی نعمت په تا باندې دغه دی، (نو ایا څوک خپل تنفسات شمېرلی شي؟).

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۵ ص۴۹؛ روح المعاني ج۱۳ ص۲۲۷؛ التفسیر الکبیر ج۱۹ ص۱۲۹؛ تفسیر نمونه ج۱۱ ص۳۵۸

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۳۷۳

(۳) الدر المنثور ج۵ ص۴۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د همدا موضوع يو پښتون شاعر په خپلو اشعارو کښې ښومره ښه تمثيله کړې ده چې[١]

هسې رنګ نعمت راکړی خدای و ما دی :: چې هيڅ څيز بها يې نشته بې بها دی
يو خو دا چې يې په شکل د ادم کړم :: دوهم دا چې محمد (ﷺ) مې رهنما دی
لاس و پښې غوږ و سترګې خوله او ژبه :: يو صورت مې په څو اسمه مسمی دی
آسمان ځمکه لمر سپوږمی او روښان ستوري :: درست جهان مې و نظر ته تماشا دی
شپه او ورځ د ماه و مهر له پرتوه[٢] :: مخ د ځمکې راته درست نقره طلا دی
په هر دم زندګاني ښښي و ما ته :: هر نسيم د يار د لورې مسيحا دی
چې دا هسې معرفت يې پرې ښبرزو کړ :: په رحمان باندې منت د پاک مولی دی

## سوال جواب

٧_ که څوک وايي چې: هر کله د الله ﷻ نعمتونه بې شمېره او د بشري احاطې څخه ووتل نو ايا ممکنه ده چې په ټول بشريت کښې دې داسې څوک مونده شي چې د شکور (شکرګذار) لقب وګټي، حال دا چې الله ﷻ دغه لقب نوح ؑ ته ورکړی دی چې: ﴿إِنَّهُۥ كَانَ عَبۡدٗا شَكُورٗا﴾ [الإسراء: ٣] يقيناً چې نوح ؑ شکرګذار بنده وه؟

مونږ وايو چې: الله ﷻ په خپل فضل سره د شکرګذارۍ څخه د يوه بنده خپله ناتواني ښکاره کول او په خپل عجز باندې اعتراف کول شکر ګڼلی دی. او دا خکه چې:

يوه ورځې داوُد ؑ الله ﷻ ته عرض وړاندې کړ چې: ای ربه! زه به څنګه ستا شکرګذاري وکړم حال دا چې زما شکر کول هم يو نعمت دی (چې تا يې توفيق راکړی)؟، نو الله ﷻ جواب ورکړ چې: «الآنَ شَكَرْتَنِي يَا دَاوُدُ»[٣] اوس دې زما شکر اداء کړ ای داوده! (چې په خپل عجز دې اعتراف وکړ).

﴿وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ رَبِّ ٱجۡعَلۡ هَٰذَا ٱلۡبَلَدَ ءَامِنٗا وَٱجۡنُبۡنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعۡبُدَ ٱلۡأَصۡنَامَ ٣٥
رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضۡلَلۡنَ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِۖ فَمَن تَبِعَنِي فَإِنَّهُۥ مِنِّيۖ وَمَنۡ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٞ
رَّحِيمٞ ٣٦ رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ رَبَّنَا
لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهۡوِيٓ إِلَيۡهِمۡ وَٱرۡزُقۡهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ
يَشۡكُرُونَ ٣٧ رَبَّنَآ إِنَّكَ تَعۡلَمُ مَا نُخۡفِي وَمَا نُعۡلِنُۗ وَمَا يَخۡفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ

---

(١) د عبد الرحمن مومند ديوان ص ١٨٣
(٢) پرتو: رڼا
(٣) تفسير ابن کثير ج ٢ ص ٥٤٠

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ﴿٣٨﴾ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى ٱلْكِبَرِ إِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ ۚ إِنَّ رَبِّي
لَسَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ ﴿٣٩﴾ رَبِّ ٱجْعَلْنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِي ۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿٤٠﴾ رَبَّنَا
ٱغْفِرْ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ ٱلْحِسَابُ ﴿٤١﴾ ﴾

[۳۵] او (ای پیغمبره!) هغه وخت (خپل امت ته) وریاد کړه چې ابراهیم ﷺ وویلې چې: ای زما ربه! دغه ښار (مکه معظمه) د امن خاوند (ښار) وګرځوې، او ما او (هم) زما زامن د دې څخه وساتې چې مونږ د بوتانو عبادت وکړو.

[۳۶] ای زما ربه! (دا ځکه چې) یقینًا د خلکو څخه زښت ډېر (کسان) بوتانو ګمراه کړي دي (او په راتلونکي کښې به نور هم ګمراه کړي) نو هرڅوک چې زما پیروي وکړي (او د بوت پرستۍ څخه خپل ځان وساتي) نو یقینًا هغه زما (د ډلې) څخه دی، او څوک چې زما څخه عصیان وکړي (د بوت پرستۍ مرتکب شي) نو یقینًا ته بښونکی (او) مهربان یې (چې د توبې توفیق ورکړې).

[۳۷] ای زمونږ ربه! یقینًا ما د خپلې اولادې څخه ځینې اولادې ته په داسې وادي (بیابان) کښې استوګنه ورکړه چې د کروندې خاوند نه دی (مګر) ستا د معزز کور (کعبې شریفې) په نزد دی.

ای زمونږ ربه! (دا) د دې دپاره چې دوی لمونځ (ستا عبادت) وکړي، نو د ځینو خلکو (مسلمانانو) زړه داسې وګرځوه چې دوی ته میلان وکړي، او (هم) دوی ته د (پریمانه) میوجاتو څخه روزي ورکړې، شاید چې دوی شکر وکړي (او ستا عبادت وکړي).

[۳۸] ای زمونږ ربه! یقینًا ته په هغه شي باندې پوهېږې چې مونږ یې (په زړونو کښې) پټوو او په هغه شي باندې (هم پوهېږې) چې مونږ یې ښکاره کوو.

(ای پېغمبره!) او (په دې باندې علاوه) په الله ﷻ باندې نه کوم شی په ځمکه کښې پټېدلی شي او نه په اسمان کښې.

[۳۹] (ابراهیم ﷺ دا هم وویلې چې) هغه الله ﷻ ته حمد (او ثنا) ده چې ماته یې د لوی عمر په حالت کښې اسماعیل او اسحق رابښلي دي، یقینًا چې زما رب ﷻ ضرور د دعاء (سوال) اورېدونکی (قبلوونکی) دی.

[۴۰] ای زما ربه! ما د لمانځه ودروونکی وګرځوې او زما د اولادې څخه (هم ځینې د لمانځه ودروونکي وګرځوې)، ای زمونږ ربه! زما دعاء (سوالونه) قبول کړې.

[۴۱] ای زمونږ ربه! ماته او زما مور او پلار ته او (ټولو) مؤمنانو ته په داسې ورځ کښې مغفرت وکړې چې حساب ودرېږي (پیل شي).

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د کفارو عامو ناشکریو ته اشاره شوې وه او په دې ایتونو کښې د

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغوی خاصې ناشکري بيانېږي، چې دوی هغه وطن (مکه معظمه) د بوت پرستۍ مرکز جوړ کړ او دار البوار (دار الهلاکة) یې وګرځاوه کوم چې ابراهیم ؈ ورته دعاء کړې وه چې: ای ربه! ته یې د امن ښار وګرځوې او د توحید مرکز ترې جوړ کړې!.

۲_ هلته د الله ﷻ په توحید باندې کونیه دلایل قائم کړی شوي وه او دلته پرې هغه نقلیه دلایل ودرولی کېږي کوم چې د ابراهیم رئیس الموحدین ؈ د مبارکې خولې څخه حکایت شوی دی، نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس نو په خپل امت باندې د ابراهیم ؈ څه اقوال او د مکې معظمې څه حالات قرائت کړه ترڅو څرګنده شي چې رئیس الموحدین د توحید په باره کښې څه ویلي دي، او ترڅو مشرکانو ته جوته شي چې ایا دوی د خپل نیکه په اقوالو باندې ولاړ دي؟ هغه دا چې:

۱_ هغه وخت خلکو ته ورپه یاد کړه چې ابراهیم ؈ خپل رب ﷻ ته سوال وکړ چې: ای ربه! تا خو زما په غوښتنه باندې دغه وطن (مکه معظمه) ښار ګرځولی دی نو اوس تاته یو بل سوال هم کوم چې: ای ربه! دغه ښار د امن ښار وګرځوې چې هم په تکویني توګه او هم په تشریعي توګه د امن ښار جوړ شي، او خلک پکښې په ارامۍ سره ژوند وکړي.

۲_ ای ربه! لکه چې زه دې تر اوسه د بوت پرستۍ څخه ساتلی یم، په راتلونکي کښې مې هم د دغه پلیت کار څخه په خپل حفظ کښې وساتې، او حتی زما زامنو ته (لکه اسماعیل او اسحق) هم د دغه کرغېړن عمل څخه امان ورکړې، ترڅو موږ د هغه امن حق اداء کړو کوم چې تا دغه مبارک ښار ته ورکړی دی.

۳_ ای ربه! زه ځکه ستا څخه سوال کوم چې د بوت پرستۍ څخه امان راکړې چې دغو بوتانو ډېر خلک ګمراه کړي دي، نو زه ډارېږم چې زما اولاده خپل پیروان جوړ نه کړي چې حقه لاره ترې ورکه کړي.

۴_ ای ربه! څه لرې نه ده چې زما په اولاده کښې هم ځینې بوت پرستان جوړ شي خو زه د هغوی څخه همدا اوس خپل برائت اعلانوم، زما د اولادیت ویاړ هغو ته په نصیب دی څوک چې زما پیروي کوي او د بوت پرستۍ څخه ځان ساتي، او هرڅوک چې زما پیروي نه کوي نو د هغوی حال ټول تاته موکول دی، ځکه چې همدا ته غفور او رحیم یې، نو که ستا اراده وشي د توبې توفیق به ورکړې او که نه نو ته د شدید عذاب خاوند یې.

۵_ ای زموږ ربه! ما خو ستا په هدایت د خپل اولاد څه برخه په داسې ځای کښې مېشت کړې ده چې نه پکښې کښت او زراعت صورت نیولی شي او نه ورته د خلکو تګ راتګ شته دی، بلکې بیابان او وچه-کانکړه ده؛ خو د دې سره-سره په دې مقام کښې ستا هغه کوټه اباده ده کومه چې تاته ډېره محترمه او معززه ده.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۶_ نو ای زمونږ ربه! دا کار ما د دې دپاره کړی دی چې دا مقام یو دیني او اسلامي مرکز جوړ شي. چې تاته ستا بندګان لمونځونه ودروي او بلکې د ټولې دنیا مسلمانان په خپلو لمونځونو کښې همدې طرف ته مخونه واړوي

۷_ نو ای زمونږ ربه! د خینو خلکو (مسلمانانو) زړونه د همدې ښار اوسېدونکو ته ورمایل کړې چې همله تګ راتګ وکړي او دا ښار پرې ښه اباد وګرځي، او هم د ټولې دنیا د میوجاتو څخه دوی ته روزي ورکړې ترڅو دوی ستا شکرګذاران بندګان جوړ شي.

۸_ ای زمونږ ربه! ته خو یقیناً په هغه شي باندې پوهېږې کوم چې مونږ په زړونو کښې پټوو او کوم چې مونږ یې په خولو باندې څرګندوو نو ته ډېر ښه پوهېږې چې ما ذکره شوې دعاء په څومره اخلاص سره وکړه نو هېله ده چې ته یې قبوله کړې. او هم په دې باندې ډېر ښه پوهېږې چې په دې مقام کښې زما د خپلې اولادې د څه برخې دېره کولو صرف ستا په هدایت باندې صورت نیولی دی او بس.

ای پیغمبره! د ابراهیم ﷺ د خبرې په تائید باندې په خپل امت باندې قرائت کړه چې په الله ﷻ باندې د زړونو حالات لا څه چې هیڅ شی ترې نه په ځمکو کښې پټ پاتې کېدلی شي او نه ترې په اسمان کښې پټېدلی شي.

۹_ بیا نو ابراهیم ﷺ وویلې چې خاص هغه الله ﷻ ته حمد او ثناء ده چې ماته یې د بوډاتوب په حال کښې دوه زامن رابښلي دي چې یو اسماعیل ﷺ نومېږي او بل اسحق ﷺ. نو څرنګه چې په دغه حال کښې د اولاد بښل د الله ﷻ د فضل راکولو لویه نښه ده نو زه امید کوم چې زما ذکر شوي سوالونه به هم قبول کړي، دا ځکه چې یقیناً زما رب ﷻ د سوالونو قبلوونکی او اورېدونکی دی.

۱۰_ نو ای ربه! د کوم مطلب دپاره چې ما خپله اولاده دلته مېشت کړې ده هغه مطلب راته پوره کړې، نو ما هم د لمانځه ودرونکی وګرځوې چې د ټولو حقوقو سره ادامه ورکړم او زما د اولادې څخه هم خینې داسې جوړ کړې چې ستا دپاره لمونځونه ودروي او همدا تاته په عبادت باندې دوامداره توګه مشغول شي.

۱۱_ ای زما ربه! زما سوال قبول کړې او خالي لاس مې پرېنږدې.

۱۲_ ای زمونږ ربه! په اخر کښې یو ځل بیا د سوال لاسونه پورته کوم چې ماته هم مغفرت وکړې او زما مور او پلار ته هم او بلکې ټولو مؤمنانو سړیو او ټولو مؤمنانو ښځو ته هم، په داسې وخت کښې چې د قیامت ورځ قائمه شي او حساب کتاب پیل شي.

## توضیحات

۱_ په دې مقام کښې د مکې معظمې مشرکان خپلو لاندې خطاګانو ته متوجه کړی شوي دي چې

الف: ابراهیم ﷺ د بوت پرستۍ څخه ښا غوښتې وه خو هغوی به پرې افتخار کاوه.

ب: ابراهیم ﷺ د خپلې مشرکې اولادې څخه بېزاري اعلانه کړې وه خو هغوی به د شرک سره سره

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپل خانونه ابراهمیان بلل چې مونږ د هغه په تګلاره روان یاستو.

ج. ابراهیم ﷺ غوښتل چې مکه معظمه د توحید د عقیدې مرکز وګرځي مګر هغوی د بوت پرستۍ او مشرکانه عقیدې مرکز ګرځولی وه.

د. ابراهیم ﷺ خپله اولاده د لمانځه د اقامې دپاره دیره کړې وه خو دوی پکښې بوت پرستي اقامه کړه.

هـ. ابراهیم ﷺ د امن سوال او هم د میوجاتو د ډېروالي سوال د دې دپاره کړی وه چې اولاده یې شکر ګذاران جوړ شي مګر هغوی ناشکري وکړه؛ نه یې د امن حق اداء کړ، نه د میوجاتو د ډېروالي او نه د خلکو د ګنې ګونې.

۲ـ ابراهیم ﷺ د کعبې شریفې دپاره دوه خله دعاء کړې ده: یو ځل په همدغو کلماتو ﴿ هَٰذَا ٱلْبَلَدَ ءَامِنًا ﴾ سره او بل ځل په ﴿ هَٰذَا بَلَدًا ءَامِنًا ﴾ په کلماتو سره، چې د دواړو عبارتونو فرق د [البقرة: ۱۲۶] ایت لاندې تېر شوی دی والحمد لله ﷻ، بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې ابراهیم ﷺ خپل خان او خپلو زامنو ته د بوت پرستۍ څخه امان غوښتی دی چې: ﴿ وَٱجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعْبُدَ ٱلْأَصْنَامَ ﴾ حال دا چې پخپله هم د شرک څخه لا څه چې د ګناه څخه معصوم وه او همدارنګه د ده په اولاده کښې نور معصومان هم ډېر وه، لکه اسماعیل ﷺ، اسحق ﷺ، یعقوب ﷺ، یوسف ﷺ او داسې نور؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: په ذکره شوې غوښتنه کښې به یې یو مطلب دا وه چې د قیامت د ورځې پورې ورپسې مسلمانان اقتداء وکړي او د کفریاتو څخه پنا وغواړي، او بل مطلب به یې دا وه چې د ګناه څخه معصومیت د پیغمبرانو علیهم السلام طبعي شی نه دی بلکې د الله ﷻ په توفیق سره صورت نیسي، که نه نو څوک د ګناه څخه معصوم پاتې کېدلی شي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې د ابراهیم ﷺ د دې قول ﴿ وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ څخه إشارةً معلومېږي چې دغه جلیل القدر پیغمبر مشرکانو ته د مغفرت غوښتنه کړې ده، بلکې د ذکرو شوو ایتونو په وروستني ایت کښې یې ورباندې صراحت کړی دی چې: ﴿ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ ﴾ ای زمونږ ربه! ماته او زما مور او پلار ته مغفرت وکړې؛ ځکه که څه هم د ابراهیم ﷺ مور مسلمانه وه[1] مګر پلار یې (ازر) خو مشرک وه؟

مونږ وایو چې: د دې موضوع بشپړ تحقیق د [التوبة: ۱۱۴] ایت لاندې ـ لله الحمد ـ تېر شوي دي،

---

[1] روح المعاني ج۱۳ ص۲۴۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې په دغه وخت کښې نوموړي ته علم نه وه ورکړی شوی چې مشرک ته الله ﷻ مغفرت نه کوي، د همدې کبله علماء کرام وايي چې: د شرک مغفرت عقلاً محال نه دی بلکې شرعًا محال دی[۱] چې ابراهیم لا پرې تر هغه وخته پورې نه وه خبر کړی شوی.

۵ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د ابراهیم ﷺ د حالاتو په هکله د [البقرة:۱۲۴] او [الأنعام:۷۴] ایتونو لاندې څه معلومات لیکلي دي، خو په دې باندې برسېره علماوو کرامو د دغه جلیل القدر پیغمبر ﷺ د ژوند په ټولو اړخونو باندې ښه اوږده او خوندور بحثونه کړي دي[۲]، نو که د چا اوږده بیان ته زړه نه په تنګېږي هملته دې مراجعه وکړي، مونږ دلته فقط په لاندې اجمالي معلوماتو باندې اکتفاء کوو چې:

الف: ابراهیم ﷺ د عراق د کوفې په ښار کښې د نمرود پاچا په زمانه کښې زېږېدلی دی.

ب: چې په ډېره عجیبه او خارق العاده توګه لوی شو او د نبوت د ورکړې جوګه شو.

ج: د نبوت په دوره کښې یې د نمرود پاچا سره ډېر مباحث واقع شوه چې په پای کښې نوموړي سرکشه پاچا په اور کښې واچاوه خو الله ﷻ ورباندې اور ګلزار کړ.

د: بیا ابراهیم ﷺ د عراق څخه شام ته د هجرت په نیت اولاً مصر ته سفر وکړ چې په دې سفر کښې ورسره یوازې یو وراره (لوط ﷺ) او یوه خپله مېرمن (بې بې سارة رضي الله عنها) ملګرې وه چې په نسب کښې یې د تره لور وه.

هـ: په دې سفر کښې د مصر د وخت متکبر پاچا بي بي سارة رضي الله عنها ته د ناکاره عمل قصد وکړ مګر الله ﷻ هغې ته په خارق العاده توګه نجات ورکړ، چې پوره بیان یې د الله ﷻ په فضل د [الأنبیاء:۷۱] ایت لاندې راروان دی.

و: څرنګه چې نوموړي پاچا د ناکاره قصد په وخت کښې د غټې مصیبت سره مخامخ شو چې د بي بي سارې رضي الله عنها په دعاء سره ورڅخه مصیبت پورته شو او په خپلې بدنیتۍ باندې پښېمانه شو، نو بي بي سارې رضي الله عنها ته یې یوه وینځه تحفه ورکړه چې نوم یې (هاجره) وه[۳].

ز: بي بي سارې رضي الله عنها اولاد نه درلود نو بي بي هاجره یې ابراهیم ﷺ ته هبه کړه، په دې امید چې الله ﷻ ورته څه اولاد وبښي.

ح: بیا د مصر څخه اصلي هجرت ځای (شام) ته لاړه.

ط: په شام کښې بي بي هاجرې رضي الله عنها ته الله ﷻ یو ځوی (اسماعیل ﷺ) وبانښه.

ی: الله ﷻ ابراهیم ﷺ ته امر وکړ چې همدغه زوی او د ده مور (هاجره رضي الله عنها) د مکې معظمې په هغه ځای کښې دیره کړه چرته چې اوس کعبه اباده ده.

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۵ ص۵۱

(۲) تاریخ الطبري ج۱ ص۱۶۲؛ تفسیر الطبري ج۱۳ ص۲۲۹؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۳۷؛ المحرر الوجیز ج۱۱ ص۱۴۸؛ روح المعاني ج۱۳ ص۲۳۶؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۵۳۲

(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۲۹۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يا: ابراهيم ﷺ دغه دواړه مور او زوی هلته بوتلل او د لرو اوبو او لږو کجورو سره یې هملته مېشته کړه، او الله ﷻ ته یې د سوال لاسونه پورته کړه چې: ﴿ رَّبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ ﴾ ای زمونږ ربه! یقینًا ما د خپلې اولادې ځینې برخه (اسماعیل ﷺ) په داسې وادي او بیابان کښې مېشت کړه چې د کروندې خاوند نه دی او اوبه نه لري، نو په خپل فضل سره ورته د خوراک او څښاک بندوبس وکړې.

یب: الله ﷻ هلته یو چینه راوخوټوله چې بي بي هاجرې ورته بندی واچوله.

نبي کریم ﷺ فرمايي چې: «يَرْحَمُ اللهُ أُمَّ إِسْمَاعِيلَ لَوْ تَرَكَتْ زَمْزَمَ لَكَانَتْ زَمْزَمُ عَيْنًا مَعِينًا»[1] يعني د اسماعیل ﷺ په مور باندې دې الله ﷻ رحم وکړي، که د زمزم اوبه یې پرېښې وی (بندی یې ورته وی اچولې) نو د زمزم اوبه به جاري چینه ګرځېدلې وی.

یج: بیا همدلته د بي بي هاجرې په اجازه یوه عربي قبیله (جرهم) مېشته شوه.

ید: د همدې قبیلې څخه اسماعیل ﷺ عربي زده کړه او چې کله زلمی شو په همدوی کښې یې واده وکړ.

یه: ابراهیم ﷺ به وخت په وخت ورته او د خپل اهل پوښتنه به یې کوله.

یو: نو بیا زوی او پلار کعبه شریفه هم اباده کړه او په وړاندې ېېرته وختونو کښې د اسماعیل ﷺ د ذبحې واقعې هم صورت ونیوه، او داسې نور.

## څو نکات

۶_ په کار دي چې په دې مقام کښې لاندې نکتې هم محترم لوستونکي په نظر کښې ونیسي:

الف: ځینې علماء کرام وايي[2] که ابراهیم ﷺ په ﴿ فَٱجۡعَلۡ أَفۡـِٔدَةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ ﴾ کښې د "من" په توري سره سوال نه وی کړی، چې د بعضیت معنی ورکوي، نو د یهودو او نصاراوو زړونو به هم کعبې شریفې ته میلان کړی وی او بوازې مسلمانانو پورې به یې اختصاص نه وی موندلی.

ب: که څه هم ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې د ﴿ وَمَا يَخۡفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ﴾ جمله هم الله ﷻ د ابراهیم د اقوالو څخه راحکایت کړې ده، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دا به د ابراهیم ﷺ د قول په تائید باندې الله ﷻ نازله کړې وی او د هغه ﷺ څخه به حکایت نه وی.

د دې نظیر دا دی چې الله ﷻ د بلقیس د خولې څخه حکایت وکړ چې: ﴿ إِنَّ ٱلۡمُلُوكَ إِذَا دَخَلُواْ قَرۡيَةً أَفۡسَدُوهَا وَجَعَلُوٓاْ أَعِزَّةَ أَهۡلِهَآ أَذِلَّةٗ ﴾ یعني یقینًا کله چې کوم ښار ته پاچایان داخل شي هغه فاسدوي او عزتمند خلک یې ذلیلان جوړوي. او بیا یې همدا مضمون تائید کړ چې: ﴿ وَكَذَٰلِكَ يَفۡعَلُونَ ﴾ [النمل: ۳۴] یعني ای پیغمبره! همدغسې کوي لکه څنګه چې بلقیس ویلي دي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۷۵

(۲) تفسیر البغوي ج۲ ص۳۸؛ التفسیر الکبیر ج۱۹ ص۱۳۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځ کوم عمر ته چې ابراهیم ﷺ په ﴿على الكبر﴾ کلمې سره اشاره کړې ده هغه د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روایت د اسماعیل ﷺ د ولادت په وخت کښې نهه نوي (۹۹) کاله وه او د اسحق ﷺ د ولادت په وخت کښې یو سلو دولس (۱۱۲) کاله وه. په دې باره کښې نور اقوال هم شته[1].

د ذکر شوي ایتونو مونږ ته ارشاد کوي چې باید مونږ په خپلو دعاګانو کښې مور او پلار او هم خپل اولادونه او ټول مسلمانان هېر نه کړو.

﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱللَّهَ غَٰفِلًا عَمَّا يَعْمَلُ ٱلظَّٰلِمُونَ ۚ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ
ٱلْأَبْصَٰرُ (٤٢) مُهْطِعِينَ مُقْنِعِى رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ ۖ وَأَفْـِٔدَتُهُمْ هَوَآءٌ (٤٣)
وَأَنذِرِ ٱلنَّاسَ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ ٱلْعَذَابُ فَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ رَبَّنَآ أَخِّرْنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ
دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ ٱلرُّسُلَ ۗ أَوَلَمْ تَكُونُوٓا۟ أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ (٤٤)
وَسَكَنتُمْ فِى مَسَٰكِنِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ وَتَبَيَّنَ لَكُمْ كَيْفَ فَعَلْنَا بِهِمْ وَضَرَبْنَا
لَكُمُ ٱلْأَمْثَالَ (٤٥) وَقَدْ مَكَرُوا۟ مَكْرَهُمْ وَعِندَ ٱللَّهِ مَكْرُهُمْ وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ
لِتَزُولَ مِنْهُ ٱلْجِبَالُ (٤٦) ﴾

**[۴۲]** او (اې پیغمبره!) هرو مرو ته (د مهلت ورکولو د کبله) ګومان مه کوه چې الله ﷻ د هغو کړو وړو څخه بې خبره دی کوم چې ظالمان (کافران) یې کوي، (دا خکه چې) یقیناً الله ﷻ دوی داسې ورځې ته وروسته کوي چې سترګې به پکښې (د ډېر هیبت له وجهې) ټېغې وخېژي (یوه خوا او بله خوا به نه ګوري).

**[۴۳]** (البته) په داسې حال کښې چې (د محشر میدان ته به) منډې وهونکې وي (او) په داسې حال کښې چې د خپلو سرونو به نېغ نیوونکي وي، چې دوی ته به خپل نظرونه بېرته نه راتاوېږي (بانه به یې حرکت نه کوي او سترګې به یې نه رپېږي)، او هم به یې زړونه خالي وي (د ډاره به یې زړونه وتلي وي).

**[۴۴]** او (اې پیغمبره!) خلک د داسې ورځې څخه وډار کړه چې دوی ته پکښې (دنیاوي) عذاب ورشي، نو هغه کسان به ووايي کومو چې ظلم کړی دی (کفر یې غوره کړی دی، داسې چې) اې زمونږ ربه! مونږ د نژدې نېټې (لږ وخت) دپاره وروسته کړه چې مونږ ستا دعوت (إلى التوحيد) قبول کړو او د پیغمبرانو علیهم السلام پیروي وکړو.

---

(۱) روح المعاني ج۱۳ ص۲۴۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(دوی ته به جواب ورکړی شي چې) ايا تاسو نه وئ چې پخوا به مو سوګندونه کول چې تاسو ته زوال نشته (تاسو ته کوم خطر متوجه نه دی)؟.

[۴۵] او (ايا) تاسو د هغو خلکو په (خالي) خايونو کښې نه وئ اوسېدلي کومو چې په خپلو خانونو باندې ظلم کړی وه (کفر يې غوره کړی وه)؟ او (ايا) تاسو ته نه وه ښکاره شوي چې مونږ په هغوی باندې څه وکړه؟ (ايا تاسو ترې عبرت وانخست؟) او (ايا) تاسو ته مو (د هلاکو شوو قومونو) مثالونه نه وه بيان کړي؟

[۴۶] او په تحقيق سره هغوی (د الهي دين د منځه وړلو دپاره) خپل پټ تدبيرونه جوړ کړي وه، حال دا چې د دوی (ټول) پټ تدبيرونه د الله ﷻ په نزد وه (چې د ده ﷻ د ارادې څخه پرته يې تاثير نه شو کولی) او اګر که د دوی تدبيرونه وه چې غرونه ترې زوال مونده کړي (ډېر قوي وه خو د الهي ارادې څخه په غير يې کومه نتيجه ورنه کړه؛ نو ايا ستاسو پټ تدبيرونه به نتيجه ورکړي؟ ايا تاسو به د دين د ترقۍ مخنيوی وکړی شئ؟).

## ارتباطونه

۱_ په دې ايتونو کښې هغه توهمات پورته کړی شوي دي کوم چې د وړاندېنيو ايتونو څخه چاته ذهن ته ورتله، هغه دا چې:

الف: کاشکې چې الله ﷻ ظلوم او کفور انسان سمدستي هلاک کړی وی او په دنيا کښې يې د ژوند فرصت نه وی ورکړی.

ب: د ابراهيم ﷺ د دې قول څخه چې الله ﷻ مونږ ته راحکايت کړی دی چې: ﴿ وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ يعنې ای ربه! څوک چې زما د پيروۍ څخه انکار وکړي او بوت پرستي غوره کړي نو ته غفور او رحيم يې، إشارةً څرګندېږي چې دغه جليل القدر پيغمبر بوت پرستانو ته د مغفرت په تمه وه.

ج: لکه چې په همدغې تمه باندې يې صراحت کړی دی چې په ﴿ وَلِوَٰلِدَيَّ ﴾ په کلمې سره يې پلار او مور ته مغفرت غوښتی دی حال دا چې پلار خو يې مشرک وه.

نو په دې ايتونو کښې الله ﷻ ذکر شوي ټول توهمات رد کړه.

۲_ بالآخره وړاندې ايتونه د ﴿ يَوْمَ يَقُومُ ٱلْحِسَابُ ﴾ په کلماتو باندې ختم شوي وه او په دې ايتونو کښې د "يَوْمُ الْحِسَاب" دپاره څه اختصاصي صفات بيان شوي دي چې هغه به دغسې او هاغسې سخته وي. نو خلاصه يې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! د ابراهيم ﷺ د خبرو څخه او کفارو او ظالمانو ته د مهلت ورکولو څخه مه ته دا ګومان کوه او نه دې نور څوک دا ګومان کوي چې يا به الله ﷻ هغوی ته کفر او شرک وبښي او يا به

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د هغوی د کړو وړو څخه ناخبره وي. او دا خکه چې د کفارو او مشرکانو عذاب په دوه وو برخو باندې وېشلی کېږي:

١_ د هغوی د عذاب یوه برخه هغه ده کومه به چې د مرګ څخه وروسته ورباندې ورنازله کړی شي، د عذاب دغه برخه په هغوی باندې په دنیا کښې نه وربښکته کېږي بلکې مونږ یې داسې ورځې ته ټالوو چې لاندې کیفیات به ولري:

الف: په دغې ورځ کښې به د ډېر هیبت د کبله د موقف د خلکو سترګې تېغې ختلې وي او هرڅوک به په همدې خطره کښې وي چې اوس به څه کېږي.

ب: هرڅوک به د خپل قبره څخه راپورته کېږي او د محشر د میدان په لور به په جلتۍ سره زغلي، چې د هیچا سره به د خپل ځان څخه په غیر د بل چا غم نه وي.

ج: ټولو به نېغ سرونه نیولي وي او هیڅوک به هاخوا او دې خوا نه ګوري او نه به کتلی شي.

د: د ټولو سترګې به ببرته وي، هیڅوک به سترګو ته رپ نه شي ورکولی.

ه: د هیچا زړه به په خپل ځای کښې نه وي، د ټولو زړونه به وتلي وي او ټول به ناقراره وي ته به وایې چې زړونه یې خالي هوا ده.

٢_ ای پیغمبره! د کفارو د عذاب بله برخه هغوی ته په دنیا کښې متوجه ده، نو ته د دغې ورځې څخه خلک وډار کړه چې دنیاوي عذاب د بدې ورځې سره مخامخ نه شي، که نه نو لاندې کیفیات به وردمخه شي:

الف: په دغې ورځ کښې به ظالمان (کفار) الله ﷻ ته سوالونه او زارۍ کوي چې: ای زمونږ ربه! زمونږ څخه د دغه عذاب مخه واړوه او د نژدې وخته پورې مونږ ته مهلت راکړه. که ته زمونږ دغه سوال قبول کړې نو مونږ به ستا دعوت په لبیک ویلو سره قبول کړو او ستا د پیغمبرانو پیروي به وکړو، هرڅه چې دوی وایي نو همغه به مونږ ومنو.

ب: نو د الله ﷻ د پلوه به ورته جواب ورکړی شي چې هغه وخت تېر شو په کوم کښې چې ستاسو ایمان د قبول درجې ته رسېده، اوس نه ستاسو سوال قبلېږي او نه درڅخه د عذاب مخه اړوله کېږي.

ج: ای کفارو! ایا تاسو همغه خلک نه یاست چې په سوګند سره به مو ویلې چې ستاسو په حالت کښې به بدلون رانه شي او هیڅوک به ستاسو څخه دغه د خوشالۍ حالت د غم په حالت بدل نه کړی شي.

د: ای کفارو! په تاسو باندې دغه بده ورځ ناځاپي نه ده درغلې بلکې تاسو داسې خلک یاست چې د هغو کفارو په مساکنو او ښارونو کښې اوسېدلئ کومو چې ستاسو غوندې په خپلو ځانونو ظلم کړی وه او په کفر کلک ولاړ وه.

ایا تاسو نه پوهېدئ چې په تاسو باندې به هم یو وخت دغسې پوښنا کوونکی عذاب درنازل شي

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لکه څنګه چې په هغوی باندې ورنازل شوی وه؟! ایا تاسو د هغوی څخه عبرت وانخست چې یو وخت به ستاسو کوروته او ښاروته هم نورو خلکو ته پاتې شي لکه چې د هغوی کورونه تاسو ته پاتې شوي وه؟!

هـ: لنډه دا چې تاسو ته ښه څرګنده شوې ده چې په پخوانیو ظالمانو باندې مونږ څه وکړه او باعث یې څه وه.

و: په دې باندې علاوه مونږ تاسو ته د ظالمانو ډېر مثالونه څرګند او بیان کړي وه چې باید تاسو ترې عبرت اخستی وی، لکه عادیان، ثمودیان او نور.

ز: ای کفارو! ایا تاسو نه پوهېدئ چې پخوانیو ظالمانو د پیغمبرانو علیهم السلام د ناکامی دپاره ډېرې هلې ځلې کړې وې او ډېر پټ تدبیرونه یې سنجولي وه، خو یو تدبیر هم ورته کاریګر نه وه واقع شوی، ځکه چې د هغوی د تدابیرو اغیزمن واقع کېدل د الله ﷻ په واک او اختیار کښې وه نو الله ﷻ ټول ناکام کړه، او کوم پټ تدبیر چې الله ﷻ د هغوی د هلاکت دپاره په ازلي علم کښې درلود همغه کاریګر واقع شو او د هغوی بېخ او بنیاد یې وویست.

ح: نو ای کفارو! لکه چې د هغوی تدابیرو کار ورنه کړ همدارنګه به ستاسو تدابیر څه کار ورکړي، حال دا چې هغوی د فساد دپاره او د الهي دین د منځه وړلو دپاره دومره لوی لوی تدابیر سنجولي وه چې غرونه پرې د بېخونو څخه وتلی شوه او غرونه یې سورې کولی شوه مګر الهي دین ته یې هیڅ حرکت ورنه کړی شو او د ځایه یې ونه ښوروللی شو.

## توضیحات

۱ـ علماوو کرامو د ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱللَّهَ غَٰفِلًا﴾ په جمله کښې متعدد قولونه کړي دي چې په دې کښې خطاب نبي کریم ﷺ ته متوجه دی، یا د ده امت ته او بالآخره یا عام خطاب دی چې نبي کریم ﷺ او هم امت دواړو ته شامل دی[1].

مونږ ته بهتره ښکاري چې ذکر شوی خطاب به قصداً نبي کریم ﷺ ته متوجه وي او امت به په غوږ باندې باندې وهلی شوی وی، لکه چې الله ﷻ نبي کریم ﷺ مخاطب کړی دی چې: ﴿وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ﴾ [الأنعام:۱٤] او ای پیغمبره! د مشرکانو څخه مه جوړېږه. نو ټول امت په غوږ باندې وهل شوی دی چې شرک یو کرغېړن کار دی چې الله ﷻ ترې تاسو لا څه چې خپل پیغمبر هم منعه کړی دی.

مونږ ځکه ذکره شوې توجیه غوره کړه چې په ذکره شوې جمله باندې د راتلونکي ایت دا جمله ﴿وَأَنذِرِ ٱلنَّاسَ﴾ عطفه ده او په دې کښې خو بالاتفاق نبي کریم ﷺ مخاطب دی، نو مناسبه ده چې په هغې جمله کښې هم همغه ﷺ مخاطب وي.

---

(۱) روح المعاني ج۱۳ ص۲٤٤

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د څو لغاتو معناوې

۲_ د لاندې څو لغاتو معناوې ولولئ چې د قيامت د ورځې د څرنګوالي په بيان کښې نازلې شوې دي.

الف: د ﴿ تَشۡخَصُ ﴾ کلمه د "شُخُوص" څخه اشتقاقه شوې ده. "شُخُوص" دې ته وايي چې د چا سترګې د مرګ په وخت کښې ودرېږي او د حرکت څخه ولوېږي[1]. يعنې د قيامت داسې ورځ ده چې د هيبته به د خلکو سترګې داسې ولاړې وې لکه چې د مړي سترګې ودرېږي او بالکل يې بانه حرکت نه کوي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د راتلونکي جملې ﴿ لَا يَرۡتَدُّ إِلَيۡهِمۡ طَرۡفُهُمۡ ﴾ معنی دا ده چې دوی ته به نظر نه راګرځي چې خپل خانونه وګوري[2]، او د دې جملې ـچې اوس د بحث لاندې دهـ معنی دا ده چې دوی به د محشر د ميدان څخه بل پلو ته نه شي کتلی. نو راتلونکې جملې د دې جملې مضمون ښه تقويه کړ او تکرار پکښې واقع نه شو.

ب: د ﴿ مُهۡطِعِينَ ﴾ کلمه د "إِهۡطَاع" څخه اشتقاقه شوې ده، "إِهۡطَاع" هغې منډې او ځغاستې ته ويل کېږي د کومې سره چې ډار ملګری وي او په حقيقت کښې ډار په منډه کړی وي[3]. يعنې کله چې بنيادمان د قبرو څخه راپورته شي نو د ډار په حال کښې به د محشر ميدان ته په منډو شي.

ج: په ﴿ مُقۡنِعِي رُءُوسِهِمۡ ﴾ کښې د "مُقۡنِعِي" کلمه د "إقناع" څخه جوړه شوې ده. "إقناع" د سر پورته کولو ته وايي[4]. يعنې په دغې ورځ کښې به هرچا خپل سره نېغ نيولی وي او حوادثو ته به منتظر وي.

د: د ﴿ وَأَفۡـِٔدَتُهُمۡ هَوَآءٌ ﴾ په جمله کښې د ﴿ هَوَآءٌ ﴾ کلمه علماوو کرامو په "خَالِيَة" سره تفسيره کړې ده[5]، يعنې په دغې ورځ کښې به د هيچا زړه په خپل ځای کښې نه وي او د ټولو زړونه به ستونو ته راپورته شوي وي، ته به وايې چې د ټولو سينې خالي دي.

دغسې کلمات په عربي لغت کښې د ډېرې وارخطايي او ډېر ډار څخه د کنايي په توګه استعمالېږي. لکه چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَأَصۡبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَٰرِغًا ﴾ [القصص: ۱۰] يعنې کله چې د موسى عليه السلام مور خپل زوی په درياب کښې واچاوه نو ډېره وارخطا شوه، تا به ويل چې زړه يې په ګوګل کښې نشته، نو د خپل زوی د غم څخه په غير نور ټول غمونه يې د زړه څخه ووتل.

د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ لِكُلِّ ٱمۡرِيٕٖ مِّنۡهُمۡ يَوۡمَئِذٖ شَأۡنٞ يُغۡنِيهِ ﴾ [عبس:۳۷] يعنې په دغې ورځ

---

(۱) لسان العرب ج۷ ص۴۶
(۲) تفسير الكشاف ج۲ ص۵۶۳
(۳) لسان العرب ج۸ ص۳۷۲
(۴) مفردات الراغب ص۴۲۹
(۵) تفسير البغوي ج۳ ص۳۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې به هرڅوک د خپل ځان په غم کښې واقع وي او د ټولو خپلوانو څخه به هغه حالت بې پروا کړی وي کوم چې ورباندې مسلط وي.

دوهم: یوه ورځې نبي کریم ﷺ د قیامت د ورځې څه حالات بیان کړه چې نر او ښځې به ګډوډ د قبرونو څخه حشر کړی شي. نو بي بي عائشې رضي الله عنها (أم المؤمنين) پوښتنه وکړه چې ای د الله رسوله! ایا مونږ به په دغې ورځ کښې نه شرمېږو؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «الْأَمْرُ أَهَمُّ مِنْ أَنْ يَنْظُرَ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ»[۱] کار د دې څخه ډېر مهم دی چې د محشر خلک خیني خینو نورو ته وګوري.

## یادونه

۳ـ مفسرینو کرامو د ﴿ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ ٱلْعَذَابُ ﴾ په جمله کښې د "عذاب" کلمه په لاندې دوه وو ډولونو سره تفسیره کړې ده:

الف: د عذاب څخه اخروي عذاب مراد دی[۲]. یعنې ای پیغمبره! خلک د داسې ورځې څخه وډار کړه چې کله په دوی باندې اخروي عذاب ورنازل شي نو ظالمان به الله ﷻ ته سوال کړي چې ای زمونږ ربه! مونږ بېرته دنیا ته وروسته کړې چې مونږ ستا دعوت قبول کړو او د پیغمبرانو پیروي دې وکړو.

خینې مفسرینو کرامو لیکلي دي چې: کفار به د مرګ څخه وروسته پنځه سوالونه وکړي چې د یوه اجابت به هم ورته ونه کړی شي، او د هغو پنځو سوالونو څخه یو همدغه دی چې په همدې ایت کښې ورته اشاره شوې ده[۳].

ب: د عذاب څخه دنیاوي عذاب مطلب دی[۴]، یعنې ای پیغمبره! خلک د داسې ورځې څخه وډار کړه چې کله په هغوی باندې په دنیا کښې عذاب ورنازل شي او یا د مرګ په وخت کښې د سکرات الموت سره مخامخ شي نو الله ﷻ ته به ذکر شوی سوال وړاندې کړي، او همغه جواب به واوري کوم ته چې په ایتونو کښې اشاره شوې ده.

مونږ ته همدغه دوهم تفسیر په زړه پورې برېښي نو په همدې بنیاد مو ایتونو ته شرحه ورکړې ده، مونږ ځکه دوهم تفسیر غوره کړ چې:

اول: په وړاندېنیو ایتونو کښې د آخرت حالات منعکس شوي وه، نو که دا ایتونه هم د آخرت پورې مربوط وګڼل شي نو دا به د هغو تاکید شي، او که دا د دنیا په عذاب باندې تفسیر شي نو نوې معنی به افاده کړي او تاسیس به وګڼل شي حال دا چې د تائید څخه خو تاسیس بهتر دی.

دوهم: په ﴿ رَبَّنَآ أَخِّرْنَآ ﴾ کښې د ﴿ أَخِّرْنَآ ﴾ کلمه د "تاخیر" څخه اشتقاقه شوې ده چې د وروسته کولو او ټالولو معنی ورکوي، نه د بېرته بېولو معنی چې د آخرت سره مناسبه ده.

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۳۱۶
(۲) البحر المحیط ج۶ ص۴۵۲
(۳) روح المعاني ج۱۳ ص۲۴۹
(۴) تفسیر الکشاف ج۲ ص۵۶۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ فرمايي چې: ﴿... لَوْلَآ أَخَّرْتَنِىٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ﴾ [المنافقون: ۱۰] يعنې ای مومنانو! د هغه څخه وړاندې د الله ﷻ په لار کښې خپل مالونه نفقه کړئ چې ستاسو کوم يو ته مرګ وروړسېږي نو بيا وايي چې: ای ربه! کاشکې زه دې د نژدې نېټې (لږ وخت) پورې وروسته کړی وی، چې هم مې خيراتونه کړي وی او هم د صالحانو د جملې څخه ګرځېدلی وی.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: ايا د کفارو څخه د عذاب د نزول په وخت او يا د ځنکدن په حالت کښې هغه سوال جواب اورېدلی شوی دی کوم ته چې په ايتونو کښې اشاره شوې ده؟

مونږ وايو چې: د قال په ژبه که د ټولو څخه نه وي اورېدلی شوي نو د حال په ژبه خو د ټولو کفارو حالات د ذکر شوي سوال جواب غوښتنه کوي. د ذکر شوي حالي سوال جواب يوه نظير ته الله ﷻ د [الأنبياء: ۱۱ـ۱۵] ايتونو کښې اشاره کړې ده چې د عذاب د نزول په وخت کښې چې کله کفار د خپلو خانونو د خلاصون دپاره په خغاسته پيل وکړي نو د عذاب پرښتې ورته ووايي چې مه خغلئ خپلو کورونو او د عيش عشرت مالونو ته ورتاو شئ. نو دوی به وايي چې: ای افسوسه! يقينًا چې مونږ ظالمان يو. دوی به په همدغه حال کښې وي چې په نازل شوي عذاب باندې پوپنا شي.

## يادونه

۵ـ علماوو کرامو په دې عبارت ﴿وَعِندَ ٱللَّهِ مَكْرُهُمْ وَإِن كَانَ مَكْرُهُمْ لِتَزُولَ مِنْهُ ٱلْجِبَالُ﴾ کښې ډېر اوږده بحثونه کړي دي[۱]، د بحث اوږدوالي د "إنْ" د توري څخه منشا اخستې ده چې په لاندې درېوو ډولونو باندې يې شرحه کړې دي:

الف: ځينې وايي چې د "إنْ" توری د نفي دپاره دی[۲]. يعنې د کفارو د چلونو او تدبيرونو موثريت د الله ﷻ په نزد دی، خو د دې سره سره د هغوی چلونه کمزوري وه او په دومره اندازه کښې نه وه چې غرونه د ښخه وباسي (شريعت ته ضرر ورسوي).

ب: ځينې وايي چې ذکر شوی د "إنْ" توری د مثقل څخه مخفف دی[۳]. يعنې د هغوی د چلونو موثريت د الله ﷻ په اختيار کښې دی، که نه نو د هغوی چلونه او تدبيرونه دومره قوي وه چې غرونه د ښخه وباسي او د اسلام د ترقۍ مخنيوی وکړي.

ج: بالآخره ځينې وايي چې دغه "إنْ" وصليه دی[۴]. وصليه "إنْ" هغه دی چې مدخول بها جمله يې په بله مقدره جمله باندې عطفه وي چې د هغې مضمون د مذکورې جملې څخه کمزوری وي. نو په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې راځېږي چې د هغوی مکرونه د دې سره-سره چې کمزوري

(۱) روح المعاني ج۱۳ ص۲۵۰
(۲) التفسير الكبير ج۱۹ ص۱۴۴
(۳) تفسير المظهري ج۵ ص۲۸۲
(۴) تفسير ابي السعود ج۵ ص۵۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وه د الله ﷻ په ارادې پورې بې توقف درلود، او که بالفرض تدابیر یې دومره قوي وي چې غرونو ته یې حرکت ورکولی شوی نو هم د الله ﷻ د ارادې څخه یې په غیر څه اثر نه شو درلودی.

یا په بل عبارت: د هغوی ټول تدابیر (واړه وه او که غټې) د الله ﷻ په اراده باندې څرخېده، د همدې کبله بې اثره شوه.

مونږ ته همدغه دریم تفسیر په زړه پورې برېښي چې په لاندې ایتونو کښې هم منعکس شوی دی:

اول: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَمَكَرُواْ مَكۡرٗا كُبَّارٗا﴾ [نوح:٢٢] يعني نوح ﷺ الله ﷻ ته عرض وکړ چې: ای زما ربه! زما قوم زما پیروي نه کوي او د دین د مخنیوي دپاره یې ډېر لوی-لوی تدبیرونه په کار اچولي دي.

دوهم: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿فَلِلَّهِ ٱلۡمَكۡرُ جَمِيعٗا﴾ [الرعد:٤٢] يعني يقينًا پخوانيو کفارو د الهي دين د محوه کولو دپاره ډېر تدبيرونه په کار اچولي وه مگر ټول تدبيرونه (واړه وه او که غټ) په الله ﷻ پورې اختصاص لري، چې پرته د ده ﷻ د ارادې څخه یو هم کاریگر نه واقع کېږي او مرتکبینو ته یې سزا ورکوي.

## یو تذکر

٦ـ په دې مقام کښې څینو علماوو کرامو څینې بې اعتماده او بې ارتباطه قیصې لیکلې دي[1] چې سړی ورباندې باور نه شي کولی، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

﴿فَلَا تَحۡسَبَنَّ ٱللَّهَ مُخۡلِفَ وَعۡدِهِۦ رُسُلَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٖ ﴿٤٧﴾ يَوۡمَ تُبَدَّلُ ٱلۡأَرۡضُ غَيۡرَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُۖ وَبَرَزُواْ لِلَّهِ ٱلۡوَٰحِدِ ٱلۡقَهَّارِ ﴿٤٨﴾ وَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ يَوۡمَئِذٖ مُّقَرَّنِينَ فِي ٱلۡأَصۡفَادِ ﴿٤٩﴾ سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٖ وَتَغۡشَىٰ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ ﴿٥٠﴾ لِيَجۡزِيَ ٱللَّهُ كُلَّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿٥١﴾ هَٰذَا بَلَٰغٞ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُواْ بِهِۦ وَلِيَعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ وَلِيَذَّكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٥٢﴾﴾

[٤٧] نو (ای پیغمبره!) په الله ﷻ باندې هرو مرو گومان مه کوه چې د خپلو پیغمبرانو علیهم السلام سره به د خپلې وعدې خلاف کوونکی شي، یقینًا الله ﷻ د کلکې ارادې والا (او) د جزا (عقوبت ورکولو) خاوند دی.

[٤٨] داسې ورځ (خلکو ته) وریه یاده کړه چې دا ځمکه (پکښې) په بله ځمکه تبدیل کړی شي او (هم پکښې) اسمانونه (په نورو اسمانونو تبدیل کړی شي)، او ټول خلک (د کفارو په شمول) یکې یو

(١) البحر المحیط ج٦ ص٤٥٥؛ تفسیر القرطبي ج٩ ص٣٨١

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قهار الله ﷻ ته د قیرونو څخه بهر شي (چې ټول مخلوقات د ده ﷻ ارادې ته ذلیله دي).

[۴۹] او ته به په دغې ورځ کښې مجرمان (کافران) وګورې چې په زولنو (او ولچکو) کښې به پیوسته کړی شوي (ترلی شوي) وي

[۵۰] د دوی کمیسونه به د تنزرو څخه وي (چې پکښې پټ به وي) او مخونه به یې اور پټ کړي وي.

[۵۱] (دا) د دې دپاره چې الله ﷻ هر نفس (هرچا) ته د هغه شي جزا ورکړي کوم یې چې کسب کړی وي، یقیناً الله ﷻ چالاک (جلت) حسابي دی.

[۵۲] دا (قرآن کریم) د خلکو دپاره (فقط د ارشاداتو) رسول دی (البته د دې دپاره چې نصیحت ورته ورکړی شي) او د دې دپاره چې پرې وډار کړی شي او (هم) د دې دپاره چې پوه شي چې یقیناً الله ﷻ (په حقه) یو معبود دی، او د دې دپاره چې د سوچه عقلونو خاوندان (پرې) پند (او عبرت) واخلي.

## ارتباطونه

۱ـ د وړاندېنیو ایتونو مضمون دا وه چې ظالمانو ته مهلت ورکول د الله ﷻ په بې خبرۍ باندې دلالت نه کوي. او دلته د همدې مضمون د تائید دپاره په څه اخروي او دنیاوي عذابونو باندې رڼا اچولې شوې ده: په دې ایتونو کښې توصیه شوې ده چې مهلت ورکول د وعید خلافي معنی هم نه ورکوي. او بیا د همدې مطلب د اثبات دپاره څه شواهد ښودلي شوي دي.

۲ـ د وړاندې متصل ایت څخه د اشارې په توګه وعد او وعید څرګندېده چې الله ﷻ به د کفارو مکرونه شنډ کړي او خپلو دوستانو ته به کامیابي په نصیب کړي، دلته په همدې مطلب باندې څه اخروي او څه دنیاوي حالات د تفریع په توګه بیان شوي دي چې خلاصه یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! ستا سره چې د کامیابۍ کومې وعدې کړی شوي دي هغه وروسته کېږي مګر دورغ کېږي نه:

۱ـ نو هرومرو مه ته په الله ﷻ باندې دا ګومان کوه او نه دې ستا پیروان ګومان کوي چې الله ﷻ به د ټولو خلکو سره عموماً او د خپلو رسولانو سره خصوصاً وعده خلافي وکړي.

نو ضرور به الله ﷻ تاته او ستا پیروانو ته په دنیا او آخرت کښې نصرت په برخه کړي او ستاسو په دښمنانو (کفارو) باندې به په خپل وخت سره عذاب ورنازل کړي ځکه چې یقیناً د الله ﷻ اراده د هر چا په اراده باندې غالبه ده او هم الله ﷻ د خپلو دوستانو دپاره د دښمنانو څخه انتقام اخستونکی دی.

۲ـ ای پیغمبره! د ښه وضاحت دپاره په خپل امت باندې د قیامت د ورځې څه حالات قرائت کړه:

الف: هغه ورځ وریه زړه کړه چې په هغې کښې به د ځمکې اوسنی حالت په خپل حال پاتې نه شي، بلکې غرونه به ګرد بدل شي او لوړې ژورې به یې ټولې هوارې شي او هم به دریابونه اور واخلي. او داسې نور.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: همدارنګه به په هغې ورځ کښې اسمانونه هم په کم او کیف کښې بدلون ومومي، چې لمر او سپوږمۍ به بې نوره شي او ستوري به راودوږېږي او هم به پکښې درزونه پیدا وکړي.

ج: په دغې هیښناکې ورځ کښې به د ټولو خلکو په ضمن کښې ظالمان (کفار) هم د نورو څخه رابهر شي او د هغه الله ﷻ په حضور کښې به د فیصلې دپاره ودرولی شي چې هیڅ شریک نه لري او ټول مخلوقات د ده ﷻ د ارادې په وړاندې ذلیله او ناتوانه دي.

د: ای پیغمبره! په دغې ورځ کښې به ته محرمان (کفار) وګورې چې په زنځیرونو کښې به هرډله د خپلو سیالانو سره تړلي شوي وي، او د هرچا ګروپ او ډله به بېله‌بېله وي.

ه: په دغې ورځ کښې به د مجرمانو کمیسونه د تنزرو څخه جوړ وي. چې ډېر بد بوی به ترې پورته کېږي او تک تور رنګ به ولري، او هم به ډېر ژر اور اخلي او د بدن سوزش او سوی به پرې اضافه کوي.

و: په دغې ورځ کښې لکه چې دمجرمانو په زړونو باندې اور بلېږي او د خولو څخه به یې ډډوزی خېژي، همدارنګه به د دوی مخونه هم اور پټ کړي وي.

۳ـ ای پیغمبره! دا ټول د دې دپاره چې د دنیا پیدایښت عبث نه دی، ترڅو الله ﷻ هر چانه د هغو کړو وړو جزا یا سزا ورکړي د کومو یې چې کسب کړی وي او خپل خان ته یې کړلي وي. یقیناً چې الله ﷻ په خپلو مواعیدو کښې خلف نه کوي او په چالاکۍ سره به د هر چا سره محاسبه وکړي چې هیڅوک به بې حسابه پاتې نه شي.

۴ـ ای پیغمبره! دا قرآن کریم د خلکو دپاره د بل شي دپاره نه دی نازل شوی بلکې د دې دپاره چې:

الف: ترڅو دوی د پخوانیو هلاکو شوو کافرانو څخه عبرت واخلي او د ذکرې شوې هولناکې ورځې دپاره خپل ځانونه چمتو کړي.

ب: بل د دې دپاره چې دوی په دې قرآن کریم باندې ووار کړی شي ترڅو د کفریاتو او جرائمو څخه پرهېز وکړي.

ج: او هم د دې دپاره چې دوی پوه شي چې په حقه باندې معبود د الله ﷻ څخه په غیر بل هیڅوک نشته. یا په بل عبارت: لکه چې د الله ﷻ سره د دنیا په پیدا کولو او ورانولو کښې څوک برخه نه لري همدارنګه ورسره په عبادت کښې هم برخوال نشته.

د: بالآخره د دې دپاره چې په دې قرآن کریم باندې د سوچه عقلونو خاوندان پند وګټي او د فسق (فجور) څخه لاس واخلي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿يَوْمَ تُبَدَّلُ ٱلْأَرْضُ غَيْرَ ٱلْأَرْضِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ﴾ کښې د ﴿تُبَدَّلُ﴾ کلمه د "تبديل" څخه

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اشتقاقه شوي ده، "تَبْدِيل" په لاندې دوه وو ډولونو سره صورت نيسي:

الف. يو په تعويض سره، چې د يوه شي په عوض بل شی ودرولی شي. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُم بَدَّلْنَٰهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا﴾ [النساء: ٥٦] يعنې هر کله چې د کفارو پوستکي په دوزخ کښې وسوزيږي نو مونږ ورته هغه په نورو پوستکو باندې تبديل (عوض) کړو، ترڅو په دوامداره توګه عذاب وڅکي.

ب: بل د تغير په معنی سره دی. لکه چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿... فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمْ حَسَنَٰتٍ﴾ [الفرقان: ٧٠] يعنې هغه کسان چې د شرک، انسان وژنې او د زنا څخه توبه تائب شي نو الله ﷻ به د دوی ګناهونه په نېکيو باندې واړوي (تغير به يې کړي).

په دې کښې زښت ډېر نصوص شته چې د قيامت په ورځ کښې به په ځمکو او اسمانونو کښې وصفي تغيرات واقع شي. د مثال په ډول: ځمکه به هواره شي او لوړې ژورې به پکښې نه لېدلی کېږي، غرونه به د ګرد غونډې والوزي او داسې نور. همدارنګه اسمانونه به هم کيفي تغير ومومي چې لمر او سپوږمی به يې بې نوره شي، ستوري به راتوی شي، او هم به پکښې درزونه وشي او دا شين رنګ به يې د ولې کړي شوو زيړو غونډې په ګلابي رنګ باندې بدل شي او داسې نور.

اما د ځمکو او اسمانونو په ذاتي تبديلی او عوض کېدلو کښې هم نصوص شته، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

اول: نبي کريم ﷺ فرمايي چې: «يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى أَرْضٍ بَيْضَاءَ عَفْرَاءَ كَقُرْصَةِ النَّقِيِّ»[١] يعنې خلک به د قيامت په ورځ په (بله) داسې ځمکه باندې حشر کړی شي چې تکه سپينه به وي او سوروالي ته به مائله وي، لکه د اوړو د مغز ډوډی.

دوهم: بي بي عائشه رضي الله عنها (أم المؤمنين) وايي چې: ما د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې کله ځمکه په بله ځمکه باندې تبديله شي او اسمانونه هم، نو خلک به چرته وي اې د الله رسوله؟!. نبي کريم ﷺ جواب راکړ چې: «عَلَى الصِّرَاطِ»[٢] يعنې په دغه وخت کښې به خلک په پل صراط باندې وي چې د دوزخ د پاسه ايښې دی.

دريم: د علي ﷺ څخه روايت دی چې: «تَصِيرُ الْأَرْضُ فِضَّةً وَالسَّمَاوَاتُ ذَهَبًا»[٣] يعنې ځمکه به سپين زر وګرځي او اسمانونه به سره زر.

څلورم: عبد الله بن مسعود ﷺ وايي چې: «الأَرْضُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كُلُّهَا نَارٌ»[٤] د قيامت په ورځ به ټوله ځمکه اور (دوزخ) وي.

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٩٦٥

(٢) جامع الترمذي ج٢ ص١۴۴: سنن ابن ماجه ص٣١۶

(٣) تفسير القرطبي ج٩ ص٣٨۴

(۴) تفسير ابن كثير ج٢ ص۵۴۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پنځم: أبي بن كعب ﷺ وايي چې: «تَصِيرُ السَّمَاوَاتُ جِنَانًا»[۱] يعنې په دغې ورځ کښې به اسمانونه جنتونه وګرځي.

لنډه دا چې ځینو تفاسیرو زښت ډېر اثار او احادیث راغونډ کړي دي[۲] چې ځینې په ذاتي تبدیل باندې دلالت کوي او د ځینو څخه کیفي تغیر معلومېږي، که څوک فرصت لري نو همغه دې مراجعه وکړي.

## تبصره

۲ـ که مونږ ووایو چې څه لرې نه ده چې په ځمکو او اسمانونو باندې به ذکر شوي تبدیلات ټول وار په وار عارض کړی شي کله به په یو کیف باندې بدلون وموممي، کله به په بل رنګ واوړي او بالآخره کله به یې ذات تبدیل کړی شي؛ نو دا هم بده نه ده او د نصوصو اجتماع ورباندې صورت نیولی شي، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال وحقيقة المآل.

۳ـ په ﴿ مُقَرَّنِينَ فِي ٱلْأَصْفَادِ ﴾ کښې د ﴿ مُقَرَّنِينَ ﴾ کلمه د "تَقْرِين" څخه اشتقاقه شوې ده، "تَقْرِين" دې ته ویل کېږي چې یو شی د بل شي سره جمعه او پیوسته کړی شي[۳]. او د "أَصْفَاد" کلمه د "صَفَد" ـلکه "شَرَف"ـ جمعه ده، "صَفَد" هغو زولنو ته ویل کېږي کومې چې د یوه بندي پښو ته وراچولی کېږي، او هم ترې هغه اتکړې (غوراب) هم مرادېدلی شي کوم چې د یو بندي لاسونه پکښې ولچک کولی شي[۴].

په دې مقام کښې علماوو کرامو د ذکرې شوې تکړې لاندې معناوې کړي دي[۵]:

الف: په دنیا کښې کفري انډیوالان به هلته یو تربله په زنځیرونو وتړلی شي.

ب: کفار به د خپلو شیطانانو سره په زولنو کښې یو ځای کړی شي.

ج: د کفارو پښې او لاسونه به سره وتړلی شي، أعاذنا الله ﷻ منها.

۴ـ په ﴿ سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٍ ﴾ کښې د "سَرَابِيل" کلمه د "سِرْبَال" جمعه ده چې د کمیس معنی ورکوي[۶]. او د ﴿ قَطِرَانٍ ﴾ کلمه د تورو بوینو تیلو نوم دی چې پمن اوښ ورباندې تداوي کېږي[۷]. دغه تېل د یو خوا څخه بدبویه او بد رنګ دي چې غوښنه پرې سوزش کوي او د بلې خوا په ډېره چالاکۍ سره اور اخلي، چې په پښتو کښې ورته "تنزره" وایي.

---

(۱) تفسير الخازن ج۳ ص۵۴۲

(۲) تفسير المظهري ج۵ ص۲۸۳؛ الدر المنثور ج۵ ص۵۷

(۳) مفردات الراغب ص۴۱۶

(۴) تفسير القاسمي ج۱۰ ص۴۰

(۵) البحر المحيط ج۶ ص۴۵۸

(۶) لسان العرب ج۱۱ ص۳۳۵

(۷) روح المعاني ج۱۳ ص۲۵۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې مقام کښې به د معنی حاصل داسې کېږي چې د کفارو بدنونه به د قیامت په ورځ په ننزرو باندې داسې ککړ کړی شوي وي چې ته به وایې چې د ننزرو کمیسونه (جامې) یې اغوښتي دي، ترڅو په چالاکۍ سره اور واخلي او سوزش یې زیات شي.

۵ـ په دې مقام کښې الله ﷻ د ﴿ وَتَغۡشَىٰ وُجُوهَهُمُ ٱلنَّارُ ﴾ کلمات نازل کړي دي، چې د کفارو په مخونو باندې به اور بلېږي او لمبو به پټ کړي وي، خو په بل ځای کښې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ تَطَّلِعُ عَلَى ٱلۡأَفۡـِٔدَةِ ﴾ [الهمزة ۷] يعنې د دوزخ اور به په زړونو باندې ورخيژي او بلېږي؛ نو د دواړو ايتونو څخه سړي ته ذهن ته ورځي چې د دوزخ اور د دنيا د اور په څېر نه دی چې يوازې د هغه طرف څخه په بلېدلو پيل کوي د کوم طرف څخه چې بل شوی وي، بلکې هغه داسې اور دی لکه څنګه چې په ظاهري بدن باندې بلېږي همدارنګه به په داخل د زړونو کښې هم لمبې وهي، أعاذنا الله ﷻ منها.

## يادونه

۶ـ دلته الله ﷻ ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴾ کلمات نازل کړي دي، په همدې هکله يوه ورځې د علي ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې الله ﷻ د دومره ډېرو خلکو سره په يوه وخت کښې څنګه حساب کوي؟ هغه ﷺ جواب ورکړ چې: «كَمَا يَرۡزُقُهُمۡ فِيۡ وَقۡتٍ وَاحِدٍ»[1] يعنې لکه چې الله ﷻ په يوه وخت کښې ټولو مختلفو مخلوقاتو ته مختلفې روزيګانې ورکوي، چې د يوه په روزۍ کښې هم څه تال نه پېښېږي، همدارنګه به د قيامت په ورځ د ټولو سره حساب وکړي او د يوه محاسبه به د بل په محاسبه باندې څه اثر ونه غورزوي.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وايي چې په ﴿ وَلِيُنذَرُواْ بِهِۦ ﴾ کښې د "و" توری د عطف دپاره دی، نو کومه جمله يې معطوف عليها واقع کېږي؟

مونږ وايو چې: معطوف عليها جمله دلته مقدره ده چې په "لِيُنۡصَحُوا" سره ترې تعبير کوو. نو د معنی حاصل به داسې راځېږي چې دا قرآن کريم خلکو ته د دې دپاره تبليغ دی ترڅو دوی ته نصيحت ورکړی شي او ترڅو دوی د الله ﷻ د عذابه وډار کړی شي او ترڅو دوی پوه شي چې الله ﷻ واحد او لا شريک دی او هم ترڅو د سوچه عقلونو خاوند ترې پند او عبرت واخلي.

د "إبراهيم" سورت ختم شو، والحمد الله ﷻ

۱۳۷۶/۶/۲۳ هـ ش = ۱۴۱۸/۴/۱۲ هـ ق

---

[1] المحرر الوجيز ج۱۰ ص۱۰۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# الحجر(١٥)



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

د دې څخه وړاندې چې د "الْحِجْرِ" د سورت په ترجمه او تفسیر پیل وکړو د محترمو لوستونکو توجه لاندې ټکو ته را اړوو

۱ـ دا سورت "الْحِجْرِ" نومېږي چې دا نوم یې د همدې سورت د [۸۰] ایت شریف څخه اخستلی شوی دی.

۲ـ د دې سورت د ایتونو شمېر نهه نوي (۹۹) دی[۱]، او ټول ایتونه یې مکي دي[۲].

۳ـ د کلماتو شمېر یې شپږ سوه څلور پنځوس (۶۵۴) دی، او د حرفونو شمېر یې پوره دوه زره نهه سوه (۲۹۰۰) دی[۳].

## د دې سورت محتویات

۴ـ دا سورت د نورو مکي سورتونو غوندې په عمده توګه په عقایدو پورې ارتباط لري د موضوعاتو لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: د مشرکانو زیات عداوت او قوي عناد چې د اسلام سره یې درلود.

ب: د مشرکانو استهزاء او تمسخر چې په نبي کریم ﷺ باندې یې ملنډې وهلې.

ج: د الله ﷻ د وحدانیت او یووالي دلایل.

د: نبي کریم ﷺ ته د الله ﷻ د پلوه ډاډ او اطمنان ورکول چې ډېر ژر به دې دښمنان هلاک شي او الله ﷻ به یې چاره وکړي.

هـ: د جنتیانو او دوزخیانو حالات او داسې نور.

## د دواړو سورتونو ارتباطات

۵ـ څرنګه چې دا سورت "الْحِجْرِ" او وړاندېنی سورت "إِبْرَاهِيمَ" دواړه مکي سورتونه دي نو د دواړو اړوند او تناسب هم ډېر قوي دی چې مونږ یې لاندې څو ارتباطونو ته اشاره کوو:

الف: دواړه سورتونه په ﴿ الر ﴾ سره پیل شوي دي.

ب: په دواړو کښې د مؤمنانو او کافرانو اخروي حالات بیان شوي دي.

ج: په دواړو کښې د ابراهیم ﷺ قیصې ته اشارې شوې دي.

د: په دواړو کښې د الله ﷻ د وحدانیت دلایل شرحه شوي دي.

هـ: په دواړو کښې کفارو ته اخطار ورکړی شوی دی چې دنیاوي ژوند به یې په هلاک باندې ختم شي او په آخرت کښې به د سخت کړاو سره مخامخ شي.

---

(۱) الدر المنثور ج۵ ص۶۱

(۲) المحرر الوجيز ج۱۰ ص۱۰۷

(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۱۱ ص۴۲۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ الٓر تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ وَقُرْءَانٍ مُّبِينٍ ﴿١﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

دغه (راتلونکې ایتونه) د (یوه کامل) کتاب او د روښانه قرآن (کریم) ایتونه دي.

## ارتباطونه

۱_ د وړاندېنې سورت په وروستنیو ایتونو کښې د دوزخیانو د مادي تعذیب څو مثالونه ښودلي شوي وه، او د دې سورت په راتلونکې دوهم ایت کښې د هغوی روحي تعذیب ته اشاره شوې ده چې د مسلمانېدلو ارمان به وکړي.

۲_ هغه سورت د ﴿ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴾ په کلماتو باندې ختم شوي وه، او دا سورت د ﴿ الٓر ﴾ په تورو باندې پیل شوی دی ترڅو د سوچه عقلونو خاوندان پوه شي چې بې شکه دا الهي کتاب دی چې د همغو تورو څخه یې ترکیب موندلی دی د کومو څخه چې د انسانانو کلامونه ترکیب مومي، مګر ټول خلک یې د مقابلې څخه عاجز دي او هیڅوک ورسره سیالي نه شي کولی.

## توضیحات

۱_ په ﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ کښې د "کِتَاب" کلمه د "کَتَبَ" _لکه "ضَرَبَ"_ سره په اصل تورو کښې متحده ده. "کَتَبَ" په عرف کښې دې ته وایي چې ځینې توري د ځینو تورو سره د لیک په واسطه پیوسته شي[۱].

نو د دې سره سره چې د قرآن کریم توري د نزول په وخت کښې په کتابة (لیکنې) سره نه وه پیوسته شوي، خو د کتاب اطلاق ورباندې د دې کبله شوی دی چې په راتلونکې کښې به توې لیکلی کتاب جوړېږي چې د قیامت د ورځې پورې به باقي وي او هیڅوک به نه ورسره مقابله کولی شي او نه به پکښې څوک ګوتې وهلی شي. یا په بل عبارت: دا به په راتلونکې کښې یو کامل کتاب وي، چې همدا کار د عثمان ﷺ په خلافت کښې ترسره شو او د کتاب په بڼه ترتیب شو.

نو د کتاب نوم په همدې کتاب باندې ښه ښکارېږي چې هم د پخوانیو کتابو مصدق (تصدیق کوونکی) دی او هم محمد ﷺ وروستنی کتاب دی.

۲_ په ﴿ وَقُرْءَانٍ مُّبِينٍ ﴾ کښې د ﴿ مُّبِينٍ ﴾ کلمه د "إِبَانَة" _لکه "إِقَامَة"_ څخه اشتقاقه شوې ده. یا

(۱) مفردات الراغب ص. ۴۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په بل عبارت د بیان کلمه د افعال د باب لاندې واقع شوې ده: چې په لاندې دوه وو دولونو سره استعمالیږي[1] او په دې مقام کښې دواړه صحت لري

الف بوه یې لازمه معنی ده. یعني دا قرآن ښکاره او روښانه کتاب دی او د حقانیت نښې پکښې د ورایه بریښي. چې ټول مخلوقات یې د مقابلې څخه عاجز دي

ب بله متعدي معنی ده. یعني دا قرآن کریم حق او باطل یو تر بله سره جدا کوي، هم د حق بیانوونکی دی او هم خلکو ته باطل واضحه کوي. چې په دواړو مطلبونو کښې په ښخو دلایلو باندې مشتمل دی

لله الحمد. دیارلسمه سپاره د همده ﷻ په توفیق ختمه شوه. د همده ﷻ څخه لا زیات توفیق غواړو چې ټول قرآن کریم راته ختم کړي امین یا رب العالمین.

١٤١٨/٤/١٤ هـ ق - ١٣٧٦/٦/٢٥ هـ ش

(١) لسان العرب ج١٣ ص٦٧

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ رُبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ كَانُواْ مُسْلِمِينَ ﴿٢﴾ ذَرْهُمْ يَأْكُلُواْ وَيَتَمَتَّعُواْ وَيُلْهِهِمُ
ٱلْأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٣﴾ وَمَآ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ إِلَّا وَلَهَا كِتَابٌ مَّعْلُومٌ ﴿٤﴾ مَّا تَسْبِقُ مِنْ
أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَـْٔخِرُونَ ﴿٥﴾ ﴾

[٢] (ای پیغمبره!) ډېر کرتې به هغه کسان خوښ کړي (آرزو به وکړي) کومو چې کفر غوره کړی دی (داسې آرزو) چې کاش چې دوی (په دنیا کښې توحید ته) غاړه اېښودونکي وی.

[٣] (ای پیغمبره!) دوی پرېږده چې (د څارویو غوندې) وخوري او (د دنیا څخه) لنډه تنګه استفاده وکړي او (بالآخره چې) د امید اوږدوالی یې مشغول کړي، نو ډېر ژر دی چې دوی به پوه شي (خو وخت به یې د لاسه وتلی وي).

[٤] او مونږ هیڅ یوه قریه (یو ښار) نه دی هلاک کړی مګر په داسې حال کښې چې هغه لره به معلومه (ټاکلې) نېټه وه (او همغه به پوره شوه).

[٥] (ای پیغمبره!) هیڅ یوه ډله د خپلې (ټاکلې) نېټې څخه نه شي وړاندې کېدلی او نه (ترې) وروسته کېدلی شي.

## یادونه

څرنګه چې زمونږ په نظر د دې سورت (الحجر) تردې خایه پنځه واړه ایتونه یوه مجموعه برېښي او مونږ د لومړني ایت لاندې د ارتباط وجهې لیکلي دي نو ځکه مو د ارتباط په وجهو باندې دلته صراحت ونه کړ.

البته دغه ایتونه د لومړي ایت څخه ځکه جدا کېښودل شوه چې په دغو باندې څوارلسمه سپاره پیل شوې ده، او مونږ غوارو چې یوه سپاره د بلې څخه جدا کړو.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! که څه هم دا قرآن کریم داسې کتاب دی چې خپل حقانیت خلکو ته پخپله په ډاګه کوي او د سوچه عقلونو خاوندان پوهېږي چې دا کتاب په حقه باندې د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی، خو د دې سره سره کفارو ورباندې خپل خانونه ړانده او کاڼه اچولي دي او د حقانیت څخه یې انکار کوي، نو دوی خبر کړه چې:

١ ـ په کفارو باندې ضرور داسې وختونه ورتلونکي دي چې ډېر خله به افسوس او ارمان وکړي چې ای کاش چې مونږ په دنیا کښې د قرآن په حقانیت باندې باور کړی وی او شرعي احکامو ته مو غاړې اینبې وی خو په دغسې وختونو کښې به حسرت او افسوس دوی ته هیڅ ګټه ونه شي رسولی.

٢ ـ ای پیغمبره! ته خپله غاړه خلاصه کړه او زمونږ احکام ورته ورسوه، نور یې پرېږده چې د څارویو غوندې وخوري او وځښي او هم د دنیا څخه لنډه تنګه استفاده وکړي او بالآخره دوی پرېږده

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې امیدونه یې د آخرت څخه مشغول کړي، نو ډېر ژر دی چې دوی به په خپله خاتمه باندې پوه شي او ستا د نصائحو ارمان به وکړي.

٣ـ مونږ په هر وخت کښې کولی شو چې په کفارو باندې یو آفت وربشکته کړو او ټول یې ونا کړو، خو د دوی د هلاکت وخت نه دی راغلی، او زمونږ عادت دی چې هره یوه ظالمه قریه (کلي) په خپل ټاکلي وخت سره هلاکوو او بس. هو کله چې ټاکلی وخت ور ورسېږي نو هیڅ یوه ډله د خپل ټاکلي وخت څخه نه وړاندې کېدلی شي او نه ترې وروسته کېدلی شي.

## توضیحات

١ـ که څوک وایي چې په ﴿ رُبَمَا يَوَدُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ﴾ کښې د "رُبَّ" توری د تقلیل دپاره وضعه شوی دی[١] نو حاصل یې داسې راځېږي چې: په لږو وختونو کښې به کفار د مسلمانېدلو ارمان وکړي؛ حال دا چې د کفارو ارمان خو په لږو وختونو کښې نه بلکې په ډېرو وختونو کښې دی؟

مونږ وایو چې:

الف: دا خبره اتفاقي نه ده چې د "رُبَّ" توری د تقلیل دپاره وضعه شوی دی، بلکې په دې هکله د علماوو کرامو اقوال تقریبًا اتو قولونو ته رسېږي[٢].

ب: او که ومنو چې ذکر شوی توری د تقلیل دپاره دی نو بیا جواب کوو چې تقلیل په دوه ډوله دی چې د یوه په مقابل کښې کثیر استعمالېږي او د بل په مقابل کښې استمرار استعمال مومي[٣]، نو په دې مقام کښې ترې دوهمه معنی په زړه پورې برېښي. یعنې کفار به وخت په وخت ارمان وکړي چې کاش چې مونږ مسلمانان وی. نو دغه معنی د کثرت سره څه منافي نه ده.

## سوال جواب

٢ـ که څوک وایي چې: هغه کوم وختونه دي چې کفار به پکښې د حسرت (ارمان) سره مخامخ شي؟

مونږ وایو چې: د ندامت د وختونو دپاره علماوو کرامو متعدد ځایونه په ګوته کړي دي لکه:

الف: د کفارو د ندامت مشهور مثال دا دی چې کله ټول دوزخیان په دوزخ کښې راټول شي نو کفار به د مؤمنانو عاصیانو سره لاندې سوال جواب وکړي:

کفار: ایا تاسو په دنیا کښې مسلمانان نه وئ؟

مؤمنان عاصیان: هو، مونږ مسلمانان وو.

کفار: نو نن ورځ ولې زمونږ سره په دوزخ کښې پراته یاست؟ ایا اسلام ستاسو څخه د دوزخ مخنیوی ونه کړی شو؟

(١) لسان العرب ج١ ص٤٠٨
(٢) روح المعاني ج١٤ ص٥
(٣) مفردات الراغب ص١٩٠

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مؤمنان عاصیان: مونږ څه ګناهونه درلوده چې د همغو په سبب په دوزخ کښې اچولی شوي یاستو. نو الله ﷻ به دغو مؤمنانو ګناهګارانو ته ګناهونه وبښي او د دوزخ څخه به یې وباسي، چې یوازې سوچه کفار به پکښې پاتې شي. نو په دغه وخت کښې به هغوی په ډېر حسرت باندې اواز پورته کړي چې ای کاش چې مونږ هم په دنیا کښې مسلمانان وی[۱].

ب: کله چې د قیامت په ورځ د ګناهګارانو دپاره شفاعت وکړی شي او جنت ته داخل شي نو کفار به په ذکر شوي حسرت باندې اواز پورته کړي. دا د انس ﷺ روایت دی[۲].

ج: ځینو علماوو کرامو د ذکر شوي حسرت دپاره د ځنکدن حالت مثال ښودلی دی چې کله کفار د مرګ په حالت کښې په خپل راتلونکي باندې پوه شي نو ذکر شوی حسرت به وکړي[۳].

## تبصره

۳_ مونږ ته داسې برېښي چې په ذکرو شوو خایونو کښې به حصر مطلب نه وي بلکې محض یوه-یوه مثال ته به اشاره کول مراد وي، او دا خکه چې په هر وخت کښې چې کفار کوم حقیقت درک کړي چې د دوی څخه یې د رانیولو وخت فوت شوی دی نو هلته به د حسرت او ندامت چیغه پورته کړي، لکه چې فرعون د مرګ په وخت کښې په خپل کفر باندې پښېمانه شو او په موسی ﷺ باندې یې ایمان راوړ خو د الله ﷻ په نزد قبول نه شو. او یا لکه چې الله ﷻ د کفارو د اخروي حالت څخه مونږ ته خبر راکړی دی چې: ﴿ وَيَوۡمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيۡهِ يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي ٱتَّخَذۡتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلٗا ﴾ [الفرقان:۲۷] یعني او هغه ورځ (دریه یاده کړه) چې ظالم (کافر) به په خپلو لاسونو باندې پکښې چکونه لګوي (او) وایي به چې ای کاش چې ما د پیغمبر ﷺ سره لاره نیولې وی (مسلمان شوی وی).

## اَمَل څه معنی؟

۴_ د ﴿ وَيُلۡهِهِمُ ٱلۡأَمَلُ ﴾ په جمله کښې د "اَمَل" کلمه _لکه "شَرَف"_ اصلاً د "اَمِیل" _لکه "شَرِیف"_ څخه اخستله شوې ده، "أمیل" د شګو هغې اوږدې پوښتۍ ته ویل کېږي چې په اوږدو کښې یې یوه ورځ یا دوه ورځې مزل کېږي[۴].

په پښتو کښې د مریو یا ملغلرو هغه اوږد قطار د امېل په نوم یادېږي چې په یوه تار کښې پېلې شوې وي، زمونږ ګومان دی چې دا به هم اصلاً عربي وي، او کله چې سړی په یوه موضوع کښې اوږد فکر (سوچ) وکړي نو هغه ته "تَأمُّل" وایي.

لنډه دا چې د "اَمَل" کلمه د رجاء (امید) معنی ورکوي. نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! د کفارو په باره کښې تا خپل مکلفیت پوره کړ نور یې پرېږده چې دروغین امیدونه یې

(۱) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۳؛ تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۵۴۶
(۲) الدر المنثور ج۵ ص۶۴
(۳) زاد المسیر ج۴ ص۲۷۹
(۴) لسان العرب ج۱۱ ص۲۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مشغول کړي او د مرګ د ورځې پورې په کفر باندې کلک پاتې شي، نو هلته به بيا ستا د دعوت د قبولولو ارمان وکړي، خو څه به په لاس ورنه شي.

ذکره شوې جمله نبي کريم ﷺ څومره ښه تفسيره کړې ده، لاندې احاديث ولولئ:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «قَلْبُ الشَّيْخِ شَابٌّ عَلَى حُبِّ اثْنَتَيْنِ طُولِ الْحَيَاةِ وَكَثْرَةِ الْمَالِ»[١] يعنې د بوډا سړي زړه په دوه شيانو کښې ځوان دی چې ورځ په ورځ پکښې قوي کېږي، چې يو د ژوند (عمر) اوږدوالی دی او بل د مال ډېروالی.

ب: يوه ورځ نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «هَذَا ابْنُ آدَمَ وَهَذَا أَجَلُهُ عِنْدَ قَفَاهُ» دا بنيادم دی او دا يې د مرګ نښه ده چې په څټ باندې يې سوره ده (ډېره ورته نژدې ده) «وَبَسَطَ يَدَهُ أَمَامَهُ ثُمَّ قَالَ وَثَمَّ أَجَلُهُ»[٢]، بيا نبي کريم ﷺ خپل مبارک لاس وړاندې وغزاوه او ويې ويلې چې او دلته يې د مرګ نښه ده.

يا په بل عبارت: هر بنيادم د وړاندې ډېرته څخه مرګ احاطه کړی دی خو غافل انسان په خان باندې نه پوهېږي او اوږده اميدونه کوي.



ج: نبي کريم ﷺ يوه ورځې داسې خطونه وويستل:

او بيا يې په لاندې ډول شرحه کړه چې:

اول: مربع خط د بنيادم مرګ دی چې څلور واړه خواوې يې نيولې دي او د تښتېدلو لارې يې تړلې دي.

دوهم: د مربع په منځ کښې بنيادم دی.

درېم: د مربع څخه وتلی خط د بنيادم اميد دی چې د مرګ د احاطې څخه دباندې اوږد شوی دی.

څلورم: د مربع په داخل کښې واړه واړه خطونه مرضونه او د مرګ سببونه دي چې هر يو بنيادم ته په قابو دی چې د منځه يې يوسي.

پنځم: ضرور به بنيادم په يو نه يو مرض باندې مړ کېږي او دا ځکه چې «فَإِنْ أَخْطَأَهُ هَذَا نَهَشَهُ هَذَا وَإِنْ أَخْطَأَهُ هَذَا نَهَشَهُ هَذَا»[٣] يعنې نو که دغه مرض خطا کړ دغه بل به يې وچيچي او که دغه هم خطا کړ نو دغه بل به يې وچيچي او که دغه هم خطا کړ نو دغه بل به يې وچيچي، نو د خلاصون چاره يې بالکل نشته.

ذکر شوی مضمون يوه پښتون شاعر[٤] په خپلو اشعارو کښې څومره ښه تشريح کړی دی چې:

چې له مرګه بې پروا يې په هر دم :: دغه هسې غم دې هېر دی په کوم غم
نور همه واړه غمونه به دې هېر شي :: که يو ځل درباندې راشي دا ماتم
چې زخمي يې شفا نه مومي په بيه :: مفت مونده شي نن ساعت هغه مرهم

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٥٩
(٢) سنن ابن ماجه ص٣١٢
(٣) صحيح البخاري ج٢ ص٩٥٠
(٤) د عبد الرحمن مومند ديوان ص٩٨

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د مرهمو تیاری درلره بویه :: چې لا نه يې د اجل په تېغ کړم
چې دې تن له سرایه دروميي توښه واخله :: تر دا سرای پورته سرای نشته محکم
د دې لارې تله څه هسې اسان نه دي :: مشکلات دي په هر دم په هر قدم
که حرص درباندې زور شي مرگ رایاد کړه :: دا علاج دی دغه رنځ لره محکم
خان ښخوا تر هغه وژاړه که مرد يې :: چې په تاباندې ژړا کړي نور عالم
که زه نه وایم ته خود ستر گي رنې کړه :: کور دې خور شه ته چارپای يې که آدم

﴿ وَقَالُواْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِي نُزِّلَ عَلَيۡهِ ٱلذِّكۡرُ إِنَّكَ لَمَجۡنُونٞ ۝٦ لَّوۡ مَا تَأۡتِينَا بِٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِن كُنتَ
مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ۝٧ مَا نُنَزِّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَمَا كَانُوٓاْ إِذٗا مُّنظَرِينَ ۝٨ إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا
ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ۝٩ وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ فِي شِيَعِ ٱلۡأَوَّلِينَ ۝١٠ وَمَا يَأۡتِيهِم مِّن
رَّسُولٍ إِلَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ۝١١ كَذَٰلِكَ نَسۡلُكُهُۥ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ۝١٢ لَا يُؤۡمِنُونَ
بِهِۦ وَقَدۡ خَلَتۡ سُنَّةُ ٱلۡأَوَّلِينَ ۝١٣ وَلَوۡ فَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَابٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَظَلُّواْ فِيهِ يَعۡرُجُونَ
۝١٤ لَقَالُوٓاْ إِنَّمَا سُكِّرَتۡ أَبۡصَٰرُنَا بَلۡ نَحۡنُ قَوۡمٞ مَّسۡحُورُونَ ۝١٥ ﴾

[۶] او کافران وايي چې: ای هغه څوک چې په ده باندې (په خپل خیال) قرآن کریم نازل شوی دی! يقينًا چې ته هرو مرو لیونی يې (چې خپل خان ته په نبوت باندې قائل يې).

[۷] (که ستا ادعاء رښتیا وي نو) مونږ ته پرښتې ولې نه راولې (چې ستا په خبره شهادت ورکړي) که ته چرته يې د رښتیا ویونکو څخه (نو دا کار وکړه).

[۸] مونږ پرښتې نه نازلوو مگر په حقه سره (د حکمت د غوښتنې په بنیاد) او دوی به په دغه وخت کښې (چې مونږ پرښتې ورنازلې کړو) د مهلت ورکړی شوو کسانو څخه نه وي (تول به مړه شي).

[۹] يقينًا مونږ ذکر (قرآن کریم) نازل کړی دی (چې ستا د نبوت د ثبوت دپاره کفایت کوي) او يقينًا مونږ يې (د تحریفاتو او تغیراتو څخه) ضرور ساتونکي یو.

[۱۰] او (ای پیغمبره!) مونږ ستا څخه وړاندې په پخوانیو امتونو (ډلو) کښې هم (ستا غوندې) پیغمبران علیهم السلام استولي وه (خو پرښتې مو د شهادت دپاره نه وې ورنازلې کړې).

[۱۱] او پخوانیو ډلو ته هیڅ پیغمبر نه دی ورغلی مگر دوی به پرې مسخرې کولې (لکه چې په تاباندې مسخرې کوي او ملندې درباندې وهي).

[۱۲] (ای پیغمبره!) مونږ دغه ډول (خپل) ذکر (د قرآن کریم حقانیت) د مجرمانو په زړونو کښې ننباسو (چې په دلیل باندې ترې انکار نه شي کولی بلکې عنادًا ترې منکرېږي).

[۱۳] (نو) دوی په ذکر (قرآن کریم) باندې (د عناد د کبله) ایمان نه راوړي، او يقينًا د پخوانیو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لاره تېره شوې ده (نو په همدې لارې به ورسره معامله وکړو او هلاک به یې کړو).

[۱۴] او (ای پیغمبره! د دوی عناد دومره کلک دی) که مونږ په دوی باندې د اسمان څخه یوه دروازه وربېرته کړو نو دوی پکښې په رڼا ورځ (پورته اسمان ته) وخېژي (او رانښکته شي).

[۱۵] دوی به هرومرو ووايي چې: یقینًا زمونږ سترګې (د واقعي لیدنې څخه) بندې شوې دي بلکې مونږ جادو کړې شوی قوم یاستو (چې واقعیت نه شو درک کولی).

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې د کفارو بې وخته حقې خبرې ته اشاره شوې وه او په دې ایتونو کښې یې باطلې خبرې ته اشاره کېږي چې د قیامت په ورځ به ورباندې پښېمانه شي. په دې باندې علاوه دلته نبي کریم ﷺ ته داډه هم ورکړې شوی دی چې حاصل یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د کفارو د اخروي حالت د بیان څخه وروسته د دوی دنیاوي حالات په لاندې ټکو کښې بیان کړه:

۱_ نن ورځ چې د ایمان د قبول وخت دی، کفار پکښې په تاباندې مسخرې کوي او ملنډې درباندې وهي او وايي چې: ای هغه څوکه چې ته خپل خان ته د نبوت مدعي یې! یقینًا چې ته لیونی او بې هوښه یې، ایا دا د لیونتوب خبره نه ده چې وراسته هډوکي به بېرته را ژوندي شي او د سوال جواب سره به مخامخ شي؟ که ته لیونی نه وی نو دغسې خبرې به دې نه کولی.

۲_ په دې باندې علاوه که بالفرض ته په رښتیا پیغمبر وی نو په تاباندې به په ښکاره توګه ملائکې نازلې شوې وی چې مونږ په خپلو سترګو باندې لیدلې وی. نو دا راته ووايه چې: که ته په خپله خبره کښې رښتینی یې پرښتې درباندې ولې نه نازلېږي؟

۳_ ای پیغمبره! د ذکر شوي اعتراض د رد دپاره زمونږ د پلوه کفارو ته ورسوه چې:

الف: زمونږ هر یو کار په حکمت باندې ولاړ دی. نو که مونږ تاسو ته پرښتې ستاسو د غوښتنې په بنیاد درنازلې کړو، دا د حکمت څخه خلاف کړه دي او دا څکه چې:

ب: که مونږ پرښتې په خپلو څېرو باندې درنازلې کړو نو تاسو به سمدستي مړه شئ او دومره فرصت به هم درنه کړی شي چې اقلاً "هو" یا "نه" وویلی شئ.

ج: او که پرښتې د سړیو په څېرو کښې درښکته کړو ترڅو تاسو ورسره خبرې وکړی شئ نو بیا به تاسو بل اعتراض راپورته کړئ چې دا خو سړی دی او مونږ پرښتې غوښتي وې، نو د هغو د تصدیق دپاره به نورې پرښتې وغواړئ او دا سلسله به د قیامت د ورځې پورې قطعه نه شي.

د: په دې باندې علاوه، د پرښتو نازلول د دې کبله هم عبث کار دی چې څه اړتیا ورته نشته، او دا څکه چې مونږ یو پیغمبر هم پرته د معجزو څخه خمکې ته نه دی لېږلی او (ای پیغمبره!) تا ته مو هم ښه کافي معجزات درکړي دي چې په دې جمله کښې ډېره لویه معجزه قرآن کریم دی، چې د

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قیامت د ورځې پورې به باقي وي.

قرآن کریم په لاندې دوه وو لحاظونو سره ډېره لویه معجزه ده:

اول: د قیامت د ورځې پورې ټول مخلوقات د یو سورت د مثل جوړولو څخه عاجز دي، که څه هم ټول سره لاس یو کړي او د مقابلې دپاره متحد شي.

دوهم: دا کتاب مونږ نازل کړی دی او ډېره لویه نښه یې دا ده چې مونږ یې حفاظت کوونکي یو استو، نه پکښې څوک تحریف کولی شي او نه پکښې څوک د زیادت او نقصان څه توان لري، که چېرته نو ضرور به پکښې ګوتې وهلې شوې وی.

۴ـ ای پیغمبره! مونږ ستا څخه وړاندې په متفرقه ډلو کښې پیغمبران استولي دي چې شمیر یې یو لک څلیرشت زره ـزیات یا کموـ ته رسېږي خو د یوه سره مو هم په هغه ډول باندې پرښتې نه دي استولي په کوم ډول چې نن ورځ ستا څخه غوښتلی کېږي، نو باید چې ستا د زمانې کفارو ته جوته شي چې د پرښتو را استول د نبوت معیار نه دی.

۵ـ او مونږ هیڅ یو پیغمبر نه دی لېږلی مګر په هغه باندې به داسې ملنډې وهلې کېدلې لکه چې په تا باندې وهلې کېږي، نو لکه څنګه چې د هغوی حوصله خرابه نه شوه پکار دی چې ستا حوصله هم خرابه نه شي.

۶ـ ای پیغمبره! ستا د زمانې کفار چې کله تاته د لیوني لقب درکوي او کله درباندې د جادوګر نوم ږدي، د دې اصلي وجه دا ده چې الهي ذکر (قرآن کریم) د دوی په زړونو کښې ننوتلی دی او دوی پوهېږي چې دا بشري کلام نه دی خو د عناد د کبله کله په یوه نامه او کله په بل نامه خپلو وجدانونو ته قناعت ورکوي.

نو لکه چې نن ورځ مونږ د مجرمانو په زړونو کښې الهي ذکر ننویستلی دی او په ثبوت مو رسولې ده چې دا حقاني کتاب دی او د بشر تصنیف نه دی، همدارنګه مونږ په هره زمانه کښې الهي ذکر د هغوی په زړونو کښې ننویستلی وه او دومره پرېمانه دلائل مو ورباندې اقامه کړي وه چې د وخت کفارو ترې انکار نه شو کولی، خو د مجنون او جادوګر او نورو نومونو په ایښودلو باندې به یې عناداً بهانه نیوله او ایمان به یې نه راووړ.

۷ـ ای پیغمبره! زمونږ کړنلاره د دغسې عنادي کفارو سره د پخوا څخه ښه پوره څرګنده ده، نو لکه چې پخوانیو پیغمبرانو ته مو وخت په وخت غلبه ورکړې وه همدارنګه به تاته هم غلبه درکړو.

۸ـ ای پیغمبره! عنادي کفار په هیڅ ډول باندې ایمان نه راوړي، که بالفرض د دوی ذکره شوې غوښتنه پوره کړی شي او د اسمانه پرښتې رانښکته شي لکه څنګه یې چې دوی غوښتنه کوي، او که بالفرض په اسمان کښې یوه دروازه پرانستلی شي او دوی په رڼو سترګو ټوله ورځ د پرښتو صفونه وګوري چې ښکته کېږي او پورته کېږي، نو هم دوی به ایمان را نه وړي او بهانه به وکړي چې: په مونږ باندې د جادو په زور سترګې تړلې شوي دي او حقیقت نه شو درک کولی، دا د پرښتو صفونه نه دي بلکې محض خیالي شکلونه دي، او بلکې مونږ یو قوم یاستو چې په ټولو باندې جادو کړی

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوی دي او زمونږ یو نفر هم د جادو د اثر څخه بچ نه دی پاتې شوی. همدارنګه که بالفرض دوی اسمان ته پورته شي او هلته عجائب او غرائب په خپلو سترګو باندې وګوري نو هم خپلو خانونو ته به د جادو کړی شوو لقب ورکړي چې مونږ ټول د جادو د اثر لاندې واقع شوي یاستو.

نو بیا به هر چاته جوته شي چې د عنادي کفارو ایمان راوړل د پرښتو د نزول او یا پرښتو د کتلو او لیدلو پورې توقف نه لري بلکې دا محض یوه بهانه ده چې دوی پرې کلک دي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ مَا نُنَزِّلُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ﴾ کښې د "حق" کلمه په قرآن کریم کښې په متعددو معناوو باندې استعماله شوې ده[۱] مګر په دې مقام کښې مفسرینو کرامو په حکمت سره تفسیره کړې ده[۲]. یعنې مونږ پرښتې عبث او د ساتیرۍ دپاره نه نازلوو چې حکمت یې غوښتنه نه وي کړې، لکه چې مشرکان یې غواړي، بلکې د دوی نزول په حکمت باندې ولاړ دی او دلته حکمت نشته.

پاتې شوه دا خبره چې د کفارو د غوښتلو په اساس د ملائکو نازلېدل ولې د حکمت څخه خالي دي؟ نو د دې خبرې جواب د [الأنعام:۸] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق ښه مشرح تېر شوی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

۲ـ په ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ ﴾ کښې ټولو مفسرینو کرامو د ﴿ ٱلذِّكْرَ ﴾ کلمه په قرآن کریم باندې تفسیره کړې ده، دا ځکه چې د قرآن کریم د القابو څخه یو لقب ذکر دی، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَإِنَّهُۥ لَذِكْرٌ لَّكَ وَلِقَوْمِكَ ﴾ [الزخرف:۴۴] یعنې او یقینًا دا قرآن کریم ستا دپاره (ای پیغمبره!) او ستا د قوم دپاره ذکر (سرلوړي) ده.

۳ـ په ﴿ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴾ کښې ځینو علماوو کرامو د ﴿ لَهُۥ ﴾ ضمیر نبي کریم ﷺ ته راجع اخستی دی[۳] یعنې مونږ د پیغمبر ﷺ ساتونکي یاستو. که څه هم دغه معنی په خپل ذات کښې صحیح ده مګر د ایت شریف دپاره یې د تفسیر په حیث قبلول ډېر بعید او غیر متبادر په نظر راځي، متبادره دا ده چې ذکر شوی ضمیر ذکر (قرآن کریم) ته راجع دی چې په ډېره نژدې فاصله کښې ورسره واقع دی.

## یادونه

۴ـ مونږ ـلله الحمدـ د [المائدة: ۴۴] ایت لاندې لیکلي دي چې د پخوانیو قومونو څخه دوه شیان غوښتل شوي وه: یو د خپل کتاب حفاظت او بل پرې عمل کول، خو هغوی ونه شو کړی چې ساتنه یې وکړي او د تحریف څخه یې بچ کړي، د همدې کبله د بل کتاب (قرآن کریم) نزول ته خلک احتیاج شوه.

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۲۴

(۲) روح المعاني ج۱۴ ص۱۳: تفسیر القاسمي ج۱۰ ص۴۸

(۳) زاد المسیر ج۴ ص۲۸۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما زمونږ (محمدي ﷺ امت) څخه فقط يو شی غوښتلی شوی دی: چې په خپل کتاب (قرآن کريم) باندې عمل وکړو، د حفاظت او ساتنې ذمه واري يې الله ﷻ په خپل فضل سره کړې ده چې د قيامت د ورځې پورې به دغه کتاب په خپل حال باندې باقي وي، د همدې کبله دا کتاب وروستنی کتاب ګرځولی شوی دی چې د بل کتاب نزول ته اړتيا نشته.

## تحريف او د الله ﷻ حفاظت

۵ـ الله ﷻ خپل قرآن کريم د قيامت د ورځې پورې په لاندې ډولونو سره د تحريف او تغير او هم د زيادت او نقصان څخه ساتلی دی:

الف: په هره زمانه کښې عمومًا او د صحابه وو کرامو ﷺ په زمانه کښې خصوصًا الله ﷻ قرآن کريم د مسلمانانو په سينو کښې ساتلی دی، د دې سره سره چې د قاريانو د قول مطابق تقريبًا شپږ زره متشابه ايتونه او کلمات پکښې شه دي خو په زړونو کښې يې ځای نيولی دی او بې شمېره حافظان او حافظانې په هره زمانه کښې وه او وي به.

ب: څرنګه چې الله ﷻ قرآن کريم معجز ګرځولی دی نو په يوه زمانه کښې هم څوک دا توان نه لري چې خپل کلام پکښې ورننباسي، او که بالفرض هرڅوک دغه شنيع عمل وکړي نو په لنډ وخت کښې رسوا کېږي او دسيسه يې شنډېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې قيصه ولولئ:

## يوه عجيبه قيصه

يوه ورځې د مامون (پاچا) سره يوه يهودي په لاندې ډول سوال جواب وکړ[١]:

مامون: ايا ته د بني اسرائيلو څخه يې؟ څومره فصيح او بليغ سړی يې؟

يهودي: هو! زه اسرائيلی يم.

مامون: زه تاته وړانديز کوم چې مسلمان شه، چې دومره دومره احسانات به درسره وکړم.

يهودي: نه، زه خپل پلارنی دين نه پرېږدم.

يو کال وروسته نوموړی يهودي يو خل بيا د مامون په مجلس کښې حاضر شو چې مسلمان شوی وه او په فقهي علومو کښې يې حاضرينو ته ډېر ښه معلومات ورکړه، نو هغه ترې پوښتنه وکړه چې: ايا ته هغه يهودي نه يې چې ما اسلام ته دعوت کړی وې او تا زما دعوت قبول نه کړ؟

يهودي: هو! زه همغه سړی يم چې په هغه وخت کښې يهودي وم او اوس مسلمان شوی يم.

مامون: نو د مسلمانېدلو وجه دې څه وه؟

يهودي: کله چې زه ستا د مجلس څخه رخصت شوم نو د اديانو ترمنځ مې يوه تجربه وکړه، چې په نتيجه کښې راته اسلام حق دين ښکاره شو او عقيده مې پرې وکړه.

مامون: هغه تجربه څرنګه وه؟

يهودي: ته خو ما ګورې چې ډېر ښانسته ډولي خط لرم، نو ما په خپل لاس درې نسخې تورات

---

[١] تفسير القرطبي ج١٠ ص٥

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ولیکه او زیادت او کموید (تحریف) مې پکښې وکړ، نو کله مې چې کلیسا ته وبووړ درې واړه نسخې
راځخه خلکو خریداري کړې او هیڅ اعتراض ونه کړ چې په دې کښې خو تحریف شوی دی. همدارنګه
ما په خپل خط سره د انجیل درې محرفې نسخې ولیکلې او په عیسویانو باندې مې خرڅې کړې چې
بالکل د اعتراض سره مخامخ نه شوم. بیا مې قرآن کریم درې نسخې ولیکه او د تورات او انجیل
غوندې تحریفونه مې پکښې ځای په ځای کړه خو کله مې چې مسلمانانو ته د خرڅلاو دپاره وړاندې
کړې نو هیڅ راځخه خریداري نه کړې له دې وجې چې په دې کښې تحریف شوی دی. لنډه دا چې د
تورات او انجیل تحریفونه کشف نه شوه خو د قرآن کریم تحریفونه کشف شوه او زه د اعتراض سره
مخامخ شوم، نو زه هلته پوه شوم چې الله ﷻ د دې کتاب (قرآن کریم) د حفاظت ربښتیانی ضمانت
کړی دی او دا په حقه الهي کتاب دی، نو د همدې کبله په اسلام باندې مشرف شوم.

## یادونه

٦- په ﴿ كَذَٰلِكَ نَسْلُكُهُۥ فِى قُلُوبِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ کښې د ﴿ نَسْلُكُهُ ﴾ په بارز ضمیر کښې علماوو
کرامو متعدد احتمالات ذکر کړي دي[1] او اوږد بحث يې پکښې کړی دی[2]، مګر کوم شی چې
مونږ ته په زړه پورې برېښي هغه دا دی چې:

ذکر شوی ضمیر "ذکر" ته راجع دی چې بحث پکښې راروان دی او د قرآن کریم ځخه عبارت دی
نو د معنی حاصل يې داسې را خېژي چې: ای پیغمبره! مونږ په هره زمانه کښې خپل نازل کړی شوی
ذکر د خلکو زړونو ته ننویستلی دی او داسې دلائل مو پرې تېر کړي دي چې حتی د مجرمانو هم یقین
راغلی دی چې دا ذکر په ربښتیا سره د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی. بیا نو مؤمنانو د خپل یقین په
مطابق کړنلاره غوره کړې ده او مجرمانو په عنادي کفر باندې لاس پورې کړی دی، ته به وایې چې
نه يې چرته د حقانیت دلیل لیدلی دی او نه يې په همدې باره کښې کوم برهان اورېدلی دی، نو د
عناد د کبله يې زمونږ د نازل کړی شوي ذکر ځخه انکار کړی دی. همدارنګه ستا د امت کافرانو ته
هم مونږ د خپل ذکر (قرآن کریم) حقانیت په دلائلو باندې په اثبات رسولی دی خو دوی پرې ایمان نه
راوړي او د پخوانیو مجرمانو په خط السیر باندې روان دی، او په عنادي کفر باندې کلک دي.

د ذکر شوي ایت نظیر هغه ایت شریف دی په کوم کښې چې الله ﷻ د فرعونیانو حالت منعکس
کړی دی چې: ﴿ وَجَحَدُوا۟ بِهَا وَٱسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ﴾ [النمل:۱۴] یعنې فرعونیانو د موسی ؑ د
معجزاتو ځخه په داسې حال کښې انکار وکړ چې زړونو يې ورباندې یقین کاوه.

## که د اسمان دروازه خلاصه شي

۷- په ﴿ وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَظَلُّوا۟ فِيهِ يَعْرُجُونَ ﴾ کښې د "ظَلُّوا" کلمه د "ظِل" ځخه
اشتقاقه شوې ده. "ظل" خو د سورې معنی ورکوي مګر دغه کلمه په هغو کارونو کښې استعمالېږي

(۱) تفسیر القاسمي ج۱۰ ص۴۹؛ المحرر الوجیز ج۱۰ ص۱۱۳
(۲) التفسیر الکبیر ج۱۹ ص۱۶۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

کوم چې په رڼا ورځ باندې صورت نيسي چې لمر راختلی وي او د شپانو سپوږی يوه خوا او بله خوا کرېږي او راکرېږي.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ذکرې شوې کلمې په ضمير کښې علماء کرام په لاندې ډول اختلاف لري:

الف: خينې وايي چې دغه ضمير پرښتو ته راجع دی[١] چې په وړاندې ايتونو کښې يې مشرکانو د نزول غوښتنه کړې وه. يعنې د کفارو عناد په دومره درجه کښې لوړ دی چې که بالفرض په دوی باندې د اسمان څخه کومه يوه دروازه را پرانستلی شي چې د د ی د نظر لاندې واقع شي او دوی په رڼا ورځ په رڼو سترګو وګوري چې پرښتې په هغې کښې راک د، او بيا بېرته خېژي هم، نو دوی به ضرور د سخت عناد د کبله ووايي چې: يقينًا په مونږ باندې چشم بندي شوې ده، زمونږ سترګې حقيقت نه شي ليدلی بلکې مونږ داسې يو قوم ياستو چې د ح و لاندې واقع شوي يو.

ب: خينې نور علماء کرام وايي چې . کرې شوې کلمې ضمير پخپله کفارو ته راجع دی[٢]، يعنې که بالفرض اسماني دروازه په دوی باندې مونږ وړپرانيزو او دوی په رڼا ورځ اسمان ته وخېژي او راښکته شي نو بيا به هم دوی په خپلو ليدلو کتلو باندې د جادو او چشم بندۍ نوم کېږدي.

زمونږ په فکر دواړه معناوې په زړه پورې دي او څه منافات سره نه لري، نو که د بدليت په اعتبار سره دواړه مرادې کړی شي هيڅ باک يې نشته، نو په دې صورت کښې به يې د معنی حاصل داسې راوخېژي چې: کفار سخت عناد نيولی دی، که بالفرض په رڼا ورځ پرښتې وګوري چې ښکته پورته کېږي او يا بالفرض المحال خپل خانونه وګوري چې اسمان ته پورته شي او راښکته شي، په يوه صورت کښې به هم ايمان را نه وړي او ضرور به خپلو خانونو ته د مسحورانو لقب ورکړي.

﴿وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا وَزَيَّنَّـٰهَا لِلنَّـٰظِرِينَ ﴿١٦﴾ وَحَفِظْنَـٰهَا مِن كُلِّ شَيْطَـٰنٍ
رَّجِيمٍ ﴿١٧﴾ إِلَّا مَنِ ٱسْتَرَقَ ٱلسَّمْعَ فَأَتْبَعَهُۥ شِهَابٌ مُّبِينٌ ﴿١٨﴾ وَٱلْأَرْضَ مَدَدْنَـٰهَا وَأَلْقَيْنَا
فِيهَا رَوَٰسِىَ وَأَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَىْءٍ مَّوْزُونٍ ﴿١٩﴾ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَـٰيِشَ وَمَن لَّسْتُمْ
لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ ﴿٢٠﴾ وَإِن مِّن شَىْءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُۥ وَمَا نُنَزِّلُهُۥٓ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴿٢١﴾
وَأَرْسَلْنَا ٱلرِّيَـٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَسْقَيْنَـٰكُمُوهُ وَمَآ أَنتُمْ لَهُۥ بِخَـٰزِنِينَ ﴿٢٢﴾
وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْيِۦ وَنُمِيتُ وَنَحْنُ ٱلْوَٰرِثُونَ ﴿٢٣﴾ وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ

---

(١) تفسير الکشاف ج٢ ص٥٧٣

(٢) روح المعاني ج١۴ ص١٩

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عَالِمْنَا ٱلْمُسْتَـٔخِرِينَ ﴿٢٤﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَحْشُرُهُمْ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥﴾

[۱۶] او بې شکه مونږ په اسمان کښې ستورې ګرځولي (پیدا کړي) دي او اسمان مو (پرې) د کتونکو دپاره ښائسته کړی دی.

[۱۷] او (هم) اسمان مو (پرې) د هر رټلي شوي شیطان څخه ساتلی دی.

[۱۸] مګر (د شیطانانو څخه) چې هرڅوک د اورېدلو غلا وکړي (په پټه هلته غوږ ونیسي) نو په هغه پسې ښکاره شغله ورځي (او وربانديې ویشتل کېږي).

[۱۹] او ځمکه مونږ همدا خمکه (د فرش غوندې) غوړولې ده، او قوي غرونه مو پکښې اینبي (پیدا کړي) دي (چې د اضطراري حرکت څخه یې بچ کړي) او هم مو په ځمکه کښې د هر اندازه کړی شوي شي (نباتاتو) څخه (نباتات) رازرغون کړي دي.

[۲۰] او مونږ ستاسو دپاره په ځمکه کښې د ژوند سامان (اسباب) پیدا کړي دي او (هم مو درته پکښې) هغه څوک (هغه شیان پیدا کړي دي) چې تاسو هغه (هغو) ته روزي ورکوونکې نه یاست (خو ضرورت ورته لرئ، لکه څاروي او نور).

[۲۱] او (په دنیا کښې) هیڅ شی نه دی مګر زمونږ په نزد یې خزانې دي (څه کمبود پکښې نه واقع کېږي) او (خو) مونږ یې نه نازلوو (پیدا کوو) مګر په معلومې (ټاکلې) اندازې سره.

[۲۲] او مونږ په داسې حال کښې بادونه لېږلي دي چې (په پرېښک سره) بار درلودونکي دي (او هم وریځو ته په وربنت سره بارداره کوونکي دي) نو مونږ د اسمان څخه اوبه نازلې کړي دي نو (چې تاسو پرې خړوبوو (او هم یې ستاسو دپاره خزانه کوو) حال دا چې تاسو یې خزانه کوونکي نه یاست (تاسو یې بلې ورځې ته نه شئ ساتلی).

[۲۳] او یقیناً مونږ هرو مرو همدا مونږ ژوندي کول او (هم) مړکول کوو، او (همدا) مونږ همېشه پاتې کېدونکي یاستو (نور ټول فنا کېدونکي دي).

[۲۴] او بې شکه مونږ ستاسو څخه په وړاندېنیو باندې علم لرو او (هم) ستاسو په وروستنیو باندې پوهېږو.

[۲۵] او (ای پیغمبره!) یقیناً ستا رب ﷻ همدی به (د قیامت په ورځ) دوی (وړاندېني او وروستني) راغونډ کړي (ځکه چې) یقیناً همدی ﷻ د حکمت څښتن (او) د پوهې خاوند دی.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې دا خبره جوابه شوې وه چې کفارو د نبوت د اثبات دپاره د پرښتو نزول غوښتې وه او په دې ایتونو کښې هغوی د توحید د اثبات دپاره دلائلو ته متوجه کړی شوي دي، چې د نبوت د غوښتنې څخه یوه مهمه غوښتنه ده.

۲ـ هلته د قرآن کریم د حفاظت ذمه واري ته اشاره شوې وه او دلته یې د حفاظت یو مثال ښودلی دی، چې د قرآن کریم د نزول د پیل سره سم جني شیطانان د اسمانونو څخه بند کړی شوه.

Downloaded from: balwarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ هلته دا خبره ذکره شوې وه چې الله ﷻ د قرآن کريم حقانيت د معاندينو کفارو په زړونو کښې نښويستلی دی او دلته د هغو دلائلو څو مثالونه ذکر شوي دي په کومو باندې چې د هغوی زړونو ته د قرآن کريم حقانيت ورننويستلی شوی وه.

۴_ بالآخره هلته د نبوت د اثبات بحث وه او دلته ته د توحيد د اثبات بحث دی چې د نبوت دپاره اساس او بنياد دی، نو حاصل يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! که ستا د امت کفار د عناد څخه لاس واخلي نو دېته به اړ نه شي چې ستا د صداقت دپاره د پرښتو د نزول غوښتنه وکړي، دا ځکه چې مونږ هغه ټول مطالب په پوره اثبات باندې رسولي دي د کومو چې ته مطالبه کوې، مثلاً ستا د مطالبو څخه يو مهم مطلب توحيد دی چې زمونږ سره د دنيا په خلقت کښې هيڅوک شرکت نه لري، نو په عبادت کښې هم راسره هيڅوک شريک نه دی، د همدې مطلب د توضيح دپاره لاندې دلائل قرائت کړه:

۱_ مونږ په اسمان کښې په مختلفو کيفيتونو سره ستوري پيدا کړي دي چې لاندې مطالب پکښې د نظر لاندې نيولی شوي دي:

الف: ترڅو مونږ کتونکو ته اسمان ښه ډولي کړو او ترڅو دوی ترې په دريابونو او بيابانونو کښې د مثالونو کار واخلي او لارې پرې موندې کړي.

ب: ترڅو مونږ اسمانونه د هر رټلي شوي (مردود) شيطان څخه په حفظ کښې وساتو چې د قرآن کريم د نزول وخت ته د نورو وختونو څخه څه امتياز ورکړی شي، او دوی ونه کړی شي چې کاهنانو ته اطلاع ورکړي چې د دې ايت نزول را روان دی.

مګر هر يو جني شيطان چې وغواړي چې زمونږ په حفظ کښې څه خنډ واقع شي او د غلا په توګه هلته غوږ ونيسي نو هغه به په شغله باندې وولو چې په ځرګنده توګه به يې تعقيب کړي او ټول کتونکي به يې ګوري.

۲_ همدارنګه مونږ ځمکه خوره کړې ده چې ټول اوسېدونکي ترې استفاده کوي، ته به وايې چې د ټولو دپاره يو لوی فرش غوړولی شوی دی.

۳_ مونږ په ځمکه باندې ښه قوي او لوی غرونه نصب کړي دي ترڅو د ځمکې اضطراري حرکت د منځه يوسي او د خلکو د سکونت دپاره يې چمتو کړي.

۴_ همدارنګه مونږ په ځمکه کښې هر يو بوټی (نبات) زرغون کړی دی، البته هغه نبات کوم چې د ځمکې د اوسېدونکو دپاره په کار ورځي، او په زرغونولو باندې علاوه مو پکښې اندازه او معيار ساتلی دی چې په ځمکه کښې نه نباتات ختمېږي او نه د يوې زمانې خلک د بلې زمانې د خلکو د نباتاتو څخه استفاده کولی شي بلکې په هر وخت کښې د يو ټاکلي معيار لاندې نه نشا او نمو، کوي.

۵_ نو د همدې کبله مو په ځمکه کښې ستاسو دپاره د ژوند اسباب ځای په ځای کړي دي او هم

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مو د هغو شیانو دپاره د ژوند سامان پکښې پیدا کړی دی چې ستاسو په خدمت کښې مشغول دي خو تاسو ورته روزي نه شئ ورکولی. لکه ستاسو نوکران او مریان، وینځې، چارپایان او داسې نور.

۶ـ برسېره په دې زمونږ په نزد د هر شي خزانې دي، یو شی هم زمونږ سره کمبود نه شي مونډلی حو هر شی فقط په هغې اندازه باندې پیدا کوو او تاسو ته یې د غیبو څخه درکوو کومه چې زمونږ د حکمت غوښتنه وي.

۷ـ مونږ بادونه استوو چې د یو پلوه مېوودارو ونو ته لقاح (باردار کېدل) ورکوي او د بله پلوه داسې وریځې راپورته کوي چې د باراني اوبو څخه ډکې وي، نو بیا مونږ همدغه باراني اوبه د اسمان د پلوه په تاسو باندې وروو چې.

الف: تاسو هم ورباندې خړوبېږئ او ستاسو مالونه او څاروي هم ترې استفاده کوي.

ب: همدغه اوبه مونږ ستاسو دپاره په سړو غرونو کښې زخیره کوو چې د اوړي په موسم کښې ترې رودونه رابهېږي او تاسو ترې ګټې اخلئ.

ج: همدارنګه ذکرې شوې اوبه ستاسو دپاره د ځمکې په ګېډه کښې ساتو چې د چینو او کارېزونو په شکل او د څاګانو او ټیوبلونو په څېره کښې یې بېرته د ځمکې سرته راپورته کوو او ستاسو د استفادې دپاره یې چمتو کوو، که بالفرض ستاسو سره زمونږ ذکر شوی د خزانه کولو فضل نه وی نو تاسو به باراني اوبه نه د غرونو په څوکو کښې زخیره کړې وی او نه به مو د ځمکې په ګېډه کښې ساتلې وی.

۸ـ یقیناً همدا مونږ هم ژوندي کول کوو او هم مړکول، چې چاته روح ورکوو او د چا څخه روح بېرته اخلو او بالآخره داسې وخت هم راتلونکی دی چې د ټولو ژوندیو څخه به روحونه واخلو او زمونږ څخه په غیر به هیڅوک ژوندي پاتې نه شي، نو په حقیقت کښې همدا مونږ همېشه پاتې کېدونکي یاستو او بس.

۹ـ لکه څنګه چې زمونږ قدرت کامل دی همدارنګه زمونږ علم هم په کامله درجه کښې دی، حتی چې مونږ ته ستاسو پخواني او وړاندېني او هم ستاسو وروستني او پاتې کېدونکي ټول معلوم دي، برابره خبره چې ستاسو وړاندېوالی او وروستوالی په مړګ او ژوند کښې وي او که په نېکو او بدو کښې، او بالآخره برابره خبره ده چې د لمانځه په صفونو کښې وي او که د جهاد د غازیانو په لیکو کښې وي او یا په نورو شیانو کښې وي.

۱۰ـ بالآخره ای پیغمبره! ستا همدغه رب ﷻ به (چې وړاندې یې څه قدرتي او علمي صفات بیان شوه) یو وخت ټول مخلوقات د مړګ څخه وروسته راغونډ کړي او په خپل حضور کښې به یې ودروي، د دې کار څخه نه د ده قدرت عاجز دی او نه د ده ﷻ د علم او پوهې څخه وتلی دی، بلکې همدغه بیا راغونډول د حکمت غوښتنه ده او ستا رب ﷻ په همدې غوښتنه باندې پوه دی.

نو ای پیغمبره! که ستا د زمانې عنادي کفار د عناد څخه لاس واخلي او په خپلو ګرېوانونو کښې خپل سرونه ښکته کړي او بیا دغه د دلائلو لس فقره ئیزه مجموعه د تفکر لاندې ونیسي نو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ضرور او هرو مرو به یوه شي چې همدا دلائل ستا د تصدیق دپاره کفایت کوي او څه ارتیا نشته چې یا د پرښتو د نزول غوښتنه وکړي او یا ئانته د معجزاتو فرمایش درکړي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا ﴾ کښې د "بُرُوج" کلمه د "بُرْج" ـ لکه "قُفْل" ـ جمعه ده چې د "بُرْج" ـ لکه "شُرُف" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. "بُرْج" د یو شي هغې لوړې ځرګندې برخې ته ویلی کیږي کومه یې چې د نورو برخو څخه اوچته وي[۱] لکه د یوې قلا څلور برجونه چې د کلا د نورو بازوګانو څخه پورته وي او د لرې څایه لیدل کیږي.

په دې مقام کښې علماوو کرامو ذکره شوې کلمه په لاندې معناوو باندې تفسیره کړې ده[۲]:

الف "بُرُوج" د هغو دنګو ماڼیو څخه عبارت دي کومې چې الله ﷻ په اسمانونو کښې د پرښتو د حراست (څوکیدارۍ) دپاره جوړې کړې دي.

ب: "بُرُوج" هغه دولس منزلونه دي کوم چې لمر او سپوږمۍ یې د یوه کال په اوږدو کښې پوره کوي، یا د مثال په توګه د لمر تولو کلنۍ مسافه په دولسو برخو باندې ویشلې شوې ده چې تولو ته "بروج" ویل کیږي او د حمل څخه پیل کیږي او په حوت باندې اختتام مومي.

ج: ذکره شوې کلمه په دې مقام کښې د ستورو څخه عبارت ده.

مونږ ته همدغه دریمه معنی په زړه پورې برېښي ځکه چې په نورو ایتونو کښې ورباندې تقریباً صراحت شوی دی چې: ﴿ إِنَّا زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِزِينَةٍ ٱلْكَوَاكِبِ ﴾ [الصافات:۶] یعنې یقیناً مونږ نژدې اسمان په ښائست سره ښائسته کړی دی چې دې ښائست په ستورو سره صورت نیولی دی.

او یا لکه چې فرمایي: ﴿ وَلَقَدْ زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِمَصَـٰبِيحَ وَجَعَلْنَـٰهَا رُجُومًا لِّلشَّيَـٰطِينِ ﴾ [الملك: ۵] یعنې او بې شکه مونږ نژدې اسمان په ډیوو (ستورو) باندې ښائسته کړی دی او دا ډیوې مو د شیطانانو دپاره د ویشتلو سامان ګرځولی (جوړ کړي) دي.

## هیڅ یو کافر هم اسمان ته نه شي ختلی

۲ـ په دې مقام کښې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ مِن كُلِّ شَيْطَـٰنٍ رَّجِيمٍ ﴾ یعنې مونږ اسمان د هر بې لارې کوونکي (شیطان) رټلي شوي څخه ساتلی دی؛ او د [البقرة:۱۴] ایت لاندې تېر شوي دي چې د شیطان کلمه په جنیانو پورې اختصاص نه لري، نو د همدې کبله ځینو علماوو کرامو په ذکر شوي ایت باندې استدلال کړی دی او لیکلي یې دي چې[۳] لکه چې جني شیطانان اسمان ته نه شي

(۱) لسان العرب ج۲ ص۲۱۱

(۲) تفسیر القاسمي ج۱۰ ص۵۱، زاد المسیر ج۴ ص۲۸۴

(۳) اضواء البیان ج۳ ص۱۱۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

ختلی همدارنگه انسي شیطانان (کفار) هم د اسمان د ختلو څخه محروم دي، چې نه به ژوندی هلته وختلی شي او نه به د مرګ څخه وروسته د دوی ارواګانې هلته وخېژول شي.

که څه هم تر اوسه[١] پورې د دې زمانې کفار ستورو ته د ختلو دعوې کوي مګر اسمان ته د ختلو دعوه هیڅچا نه ده کړې، که بالفرض دغه ډول دعوه څوک وکړي نو هغه به هرو مرو دروغ وي او بس.

## شهاب څه معنی؟

٣_ په ﴿ فَأَتْبَعَهُۥ شِهَابٌ مُّبِينٌ ﴾ کښې د ﴿ شِهَابٌ ﴾ کلمه هغې شغلې ته ویل کېږي کومه چې د بل کړی شوي اور څخه پورته شي او یا کومه چې په هوا کښې د شپې د مخې د یوې اوږدې لکۍ په شکل څرګنده شي او بیا د سترګو په رپ کښې ورکه شي[٢].

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ذکر شوی ایت په یوه اوږده حدیث کښې تفسیر کړی دی چې: «وَقَدْ حِيلَ بَيْنَ الشَّيَاطِينِ وَبَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ وَأُرْسِلَتْ عَلَيْهِمُ الشُّهُبُ»[٣] (الحدیث) چې مونږ یې څو ټکې په لاندې ډول سره وړاندې کوو:

الف: د نبي کریم ﷺ د بعثت په اولو وختونو کښې شیطانان د اسمان څخه په کلکه توګه منعه کړی شوه او دوی نه شو کولی چې د اسماني وحې څخه څه معلومات ترلاسه کړي.

ب: د منعه کولو طریقه یې دا وه چې دوی به د اسمان د پلوه د اور په شغلو باندې ویشتل کېده او موقع به نه ورکول کېده چې د پرښتو هغه بحث ته غوږ ونیسي کوم چې دوی به د الهي فیصلې په باره کښې کاوه، چې مثلاً سبا ته به داسې کار وشي او بل سبا ته به دا کار صورت ونیسي او داسې نور.

ج: د شیطانانو ذکر شوې ټولګې خپلو خپلو قومونو ته او بالآخره ابلیس ته مراجعه وکړه ترڅو هغه وجه معلومه کړي د کومې د کبله چې دوی د وحې د اورېدلو څخه منعه کړی شوي دي.

د: ابلیس دوی ته وظیفه ورکړه چې د ځمکې په ټولو نقاطو کښې وګرځئ راوګرځئ ترڅو تاسو معلومه کړئ چې د منعه کولو وجه څه ده.

هـ: په همدې پلټنه کښې د پېریانو (شیطانانو) یوه ډله په نبي کریم ﷺ باندې په داسې حال کښې وربرابره شوه چې په "نخله" نومې ځای کښې د سبا په لمانځه باندې ولاړ وه او د قرآن کریم څه ایتونه یې لوستل.

و: کله چې د پېریانو پلټونکې ډلې قرآن کریم واورېد نو پوه شوه چې دا بشري کلام نه دی او د همدې الهي کلام د نزول د کبله مونږ منعه کړی شوي یاستو چې غیبي وحې ته غوږ ونیسو.

ز: بیا الله ﷻ د الجن سورت نازل کړ او د ذکر شوې ټولګې په هغو خبرو باندې یې نبي کریم ﷺ ته اطلاع ورکړه کومې چې د بېرته ستنېدلو په وخت کښې دوی خپلو- خپلو قومونو ته وکړې.

---

(١) ١٣٧٦/٧/٥ هـ ش نېټه

(٢) مفردات الراغب ص٢٧٤

(٣) صحیح البخاري ج٢ ص٧٣٢؛ صحیح مسلم ج١ ص١٨٤؛ جامع الترمذي ج٢ ص١٦٩، ١٧٠

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې د شیطانانو (یا سرکشه پیریانو) د وحې په اورېدلو کښې څه غرض وه؟
مونږ وایو چې: د هغوی غرض دا وه چې مثلاً په یوه غیبي خبره باندې علم حاصل کړي او هغه بیا کاهنانو او جادوګرانو ته ورسوي ترڅو هغوی ورسره یو کم سل دروغیني خبرې ضمیمه کړي او خلک پرې تېر باسي چې دوی په غیبو باندې علم لري[١].

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وایي چې: ایا د بعثت څخه وړاندې ذکر شوی شهاب (شغلې) د شپې په هوا کښې لېدې کېدې او که نه؟ یا په بل عبارت: په هغه وخت کښې هغه شي تحقق درلود کوم ته چې مونږ په پښتو کښې د ستوري لوېدل وایو؟
مونږ وایو چې:
الف: هلته ستوري نه لوېده[٢]. مګر دا قول کمزوری دی، لکه چې د الزهري علیه الرحمة څخه پوښتنه وشوه چې: "أَكَانَ يُرْمَى بِهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ"[٣] یعنې د جاهلیت په زمانه کښې ستوري لوېده؟ نوموړي جواب ورکړ چې: "نَعَمْ" هو.
ب: هلته ستوري لوېده خو شیطانان به وړاندې نه ویشتل کېده[۴].
خو دا قول هم ضعیف دی، څکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې یوه ورځې د خپلو صحابه وو کرامو ﷺ څخه پوښتنه وکړه[۵] چې د جاهلیت په زمانه کښې به تاسو د ستورو لوېدل څنګه تعبیرول؟ هغوی وویلې چې: مونږ ترې دا تعبیر کاوه چې کوم لوی سړی مړ شو او یا کوم لوی سړی وزېږېد.
نبي کریم ﷺ بیا یو کلام وفرمایل چې مضمون یې دا دی: دا کار د لوی سړي په مړه کېدو یا زېږېدلو پورې اړه نه لري، بلکې په دغو باندې هغه شیطانان ویشتل کېږي کوم چې اسمان ته د دې غرض دپاره پورته شوي وي چې هلته په غلا باندې څه واوري او بیا یې کاهنانو ته ور وړي ترڅو هغوی ورسره نورې دروغیني خبرې ضمیمه کړي.
ج: صحیح خبره دا ده چې په هغه وخت کښې هم وړاندې شیطانان ویشتل کېده او بندیز موجود وه، مګر د نبي کریم ﷺ په بعثت سره پکښې ډېر کلکوالي صورت ونیوه او پخوانی سهولت د منځه لاړ، همدې خبرې ته الله ﷻ اشاره کوي چې: ﴿ وَيُقْذَفُونَ مِن كُلِّ جَانِبٍ ﴾ [الصافات ٨] یعنې شیطانان پرښتو ته غوږ نه شي نیولی او د هر جانب څخه (د اور په شغلو باندې) ویشتلی کېږي.

---

(١) صحیح البخاري ج٢ ص٦٨٢
(٢) زاد المسیر ج۴ ص٢٨۴
(٣) مسند احمد بن حنبل ج١ ص۴٦٨
(۴) تفسیر القرطبي ج١٠ ص١۵٨
(۵) جامع الترمذي ج٢ ص١۵٨

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو څه لرې نه ده چې د بعثت څخه پخوا به هغوی د هر جانب څخه نه ویشتل کېده، بلکې د ځینو اطرافو څخه به وربانديې اور وربېده او بس.

## سوال جواب

۶_ که څوک وايي چې: شیطانان (پیریان) د ویشتلو څخه وروسته د څه حالت سره مخامخ کېږي؟ ایا وژل کېږي او که ژوندي پاتې کېږي؟

مونږ وایو چې: صحیح خبره داده چې وژل کېږي نه بلکې اندامونه یې سوزي او بدون د وژلو څخه زخمي کېږي، لکه چې همدا خبره د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه هم روایت شوې ده[۱].

## یادونه

۷_ د شیطانانو د مرجومیت په هکله که څوک اوږد بحث غواړي او زیاتو معلوماتو ته یې زړه کېږي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۲].

## یو نحوي تعریب

۸_ په ﴿وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَٰيِشَ وَمَن لَّسْتُمْ لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ﴾ کښې د ﴿مَعَٰيِشَ﴾ د کلمې صرفي تحلیل او لغوي معناوې د [الأعراف: ۱۰] ایت لاندې تېرې شوې دي چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو. او د ﴿وَمَن لَّسْتُمْ لَهُۥ بِرَٰزِقِينَ﴾ په تعریب (اعراب ورکولو) کښې علماء کرام لاندې دوه نظره لري:

الف: د "و" توری د عطف دپاره دی چې د ﴿لَكُمْ﴾ په محل باندې عطف دی[۳]. یعنې مونږ دپاره په ځمکې کښې د ژوند سامانونه پیدا کړي دي او د هغه چا (هر هغه شي) دپاره مو هم پکښې د ژوند اسباب خلق کړي دي کوم چې تاسو هغو ته په هیڅ حال کښې روزي ورکوونکي نه یاست. یا په بل عبارت: ستاسو غلامانو او وینځو ته او څارویو او وحشي ځناورو ته په ځمکه کښې د ژوند سازوسامان مونږ برابر کړي دي چې ستاسو په خدمت کښې چاپیر دي او یا مستعد دي چې استفاده ترې وکړئ خو تاسو ورته روزي نه شی ورکولی.

ب: ﴿وَمَن لَّسْتُمْ لَهُۥ﴾ کلمات د ﴿مَعَٰيِشَ﴾ په کلمه باندې عطفېږي[۴]. یعنې مونږ ستاسو دپاره په ځمکه کښې د ژوند سامان پیدا کړي دي او هم مو درته پکښې هغه شیان پیدا کړي دي چې تاسو روزي نه شئ ورکولی خو ضرورت ورته لرئ، که بالفرض مونږ ستاسو وینځو او غلامانو ته او کورنیو او سارانیو څارویو ته په ځمکه کښې روزي نه وی پیدا کړې نو تاسو به د یوه څخه هم استفاده نه وی کړې.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۱۴ ص۱۵

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۵۴۸؛ تفسیر البغوي ج۲ ص۴۶؛ روح المعاني ج۱۴ ص۱۳

(۳) البحر المحیط ج۶ ص۴۷۳

(۴) روح المعاني ج۱۴ ص۲۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که څه هم ذکرې شوې دواړه معناوې سره څه تضاد نه لري، د بدليت په اعتبار سره دواړه مرادېدلی شي، مګر مونږ ته دوهمه معنی خوندوره ښکاري.

## سوال جواب

٩_ که څوک وايي چې: د "مَنْ" توری د خبرو کوونکو دپاره وضعه شوی دی حال دا چې په ذکرو شوو دواړو معناوو کښې دغه توری غیر ناطقینو ته شامل کړی شو، لکه څاروي او وحشي ځناور؟

مونږ وایو چې: د ذکر شوي توري (مَنْ) اطلاق په غیر ناطقینو باندې نه کېږي خو کله چې پکښې ناطقین شامل نه وي[1]، او دلته خو پکښې وینځې او غلامان شامل دي چې خبرې کوونکي دي. یا په بل عبارت: په دې مقام کښې د "مَنْ" توری غیر ناطقینو ته د تغلیب په توګه شامل شوی دی.

## لَوَاقِحَ څه معنی؟

١٠_ په ﴿ وَأَرْسَلْنَا ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ ﴾ کښې د ﴿ لَوَٰقِحَ ﴾ کلمه د "لَقَاح" _لکه "شَرَاب"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "لَقَاح" د اوښې بارداره کېدلو (بلاربېدلو) ته وايي، نو کومه اوښه چې د نر اوښ څخه حمل واخلي هغې ته د "نَاقِح" لقب ورکولی کېږي[2].

## سوال جواب

که څوک وايي چې: بادونه خو وریځې په ورښت سره بارداره کوي چې د باران په شکل په ځمکه باندې راوربېږي، نه دا چې پخپله بار اخلي؟

مونږ وایو چې:

الف: بادونو ته په لاندې دوه وو لحاظونو سره کتلی شي[3]:

اول: چې د دریابونو څخه پرښک پورته کوي او خپله پرې بارداره کېږي، نو په دې لحاظ باندې ورته د "لَوَاقِح" لقب ورکولی کېږي. په دې مقام کښې همدغه لحاظ په نظر کښې نیولی شوی دی.

دوهم: بیا بادونه دغه پرښک په وریځو کښې ننباسي او هغه پرې بارداره کوي چې د ورښت (باران) په شکل دپاسه راوربېږي، نو په دې لحاظ سره بادونو ته "مُلاقِح" (بلاربوونکي) ویل کېږي چې د "ملقحة" جمعه ده. بالمقابل کوم باد چې د ورښت تومنه (پرښک) نه پورته کوي هغه ته عقیم باد (شنډ باد) وايي.

ب: خینو علماوو کرامو لیکلي دي چې د "لَقَاح" کلمه لکه چې په لازمه معنی کښې استعمالېږي همدارنګه کله-کله په متعدي معنی کښې هم استعمال مومي، چې د بلاربولو څخه عبارت ده[4]؛ او

---

(١) مفردات الراغب ص٤٩٥

(٢) تفسير القاسمي ج١٠ ص٥٣

(٣) المحرر الوجيز ج١٠ ص١٢٠، لسان العرب ج٢ ص٥٨٢

(٤) النهاية في غريب الأحاديث ج٤ ص٢٦٢

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په ایت شریف کښې د ﴿ لَوَٰقِحَ ﴾ کلمه د همدغه متعدي مصدر څخه اشتقاقه شوې ده، یعنې مونږ داسې بادونه استوو چې وریځې په وربنت سره بارداره کوي

ج او ځينې علماء وايي چې پخپله د ﴿ لَوَٰقِحَ ﴾ کلمه د "ملقحة" جمعه ده چې د "اِلْقَاحْ" څخه اخستلې شوې ده او د بلاربولو (بارداره کولو) معنی ورکوي، مګر په جمعه کښې د "م" توری غورزول شوی دی. لکه چې "طوائح" (هلاکوونکي مصيبتونه) د "مطيحة" (هلاکوونکی مصيبت) جمعه ده، او په جمعه کښې د "م" توری د نظره غورزولی شوی دی[١].

## د وارث معنی

١١ـ په ﴿ وَنَحْنُ ٱلْوَٰرِثُونَ ﴾ کښې د "وَارِثُونَ" کلمه د "وَارِثْ" جمعه ده، د الله ﷻ په نومونو کښې يو نوم "وَارِثْ" دی چې په دې مقام کښې د تعظيم دپاره جمعه شوی دی، يعنې الله ﷻ هغه باقي او دائم اقدس ذات دی چې ټول مخلوقات به هلاک او فنا شي او يوازې همدی ﷻ به پاتې وي چې هيڅکله ورباندې فنا او تغير نه ورځي[٢].

لکه چې فرمايي: ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَرِثُ ٱلْأَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا وَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ﴾ [مريم: ٤٠] يعنې يقيناً مونږ همدا مونږ د ځمکې او د هغه چا وارثان ياستو کوم چې په ځمکه باندې (ژوندي) دي او همدا مونږ ته به بېرته راتاو کړی شي.

## وړاندېني او ېبرتني څوک دي؟

١٢ـ په ﴿ وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَقْدِمِينَ مِنكُمْ وَلَقَدْ عَلِمْنَا ٱلْمُسْتَـْٔخِرِينَ ﴾ کښې علماوو کرامو د ﴿ ٱلْمُسْتَقْدِمِينَ ﴾، ﴿ ٱلْمُسْتَـْٔخِرِينَ ﴾ دواړه کلمې په متعددو معناوو سره تفسيري کړي دي[٣]، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: وړاندېني هغه څوک دي کوم چې مړه شوي دي، او وروستني هغه څوک دي کوم چې ژوندي دي او يا به په راتلونکي کښې ژوندي شي.

ب: څوک چې د پلرونو د شاګانو څخه را وتلي دي هغوی وړاندېني دي او څوک چې پکښې پاتې دي هغوی وروستني دي.

ج: وړاندېوالي او وروستوالي د تولد او عدم تولد په اعتبار سره دی.

د: په تقدم او تاخر کښې د جهاد صفونه په نظر کښې نيولی شوي دي.

هـ: تقدم او تأخر د لمانځه د صفونو په لحاظ سره دی، لکه چې ځينو کتابونو يې همدا شان نزول تاکلی دی[٤].

---

(١) زاد المسير ج٤ ص٢٨٨

(٢) لسان العرب ج٢ ص١٩٩

(٣) روح المعاني ج١٤ ص٣٢، زاد المسير ج٤ ص٢٨٩

(٤) اسباب النزول للواحدي ص١٨٦. جامع الترمذي ج٢ ص١٤٤

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و دغه تقدم او تاخر د کوزونو په اعتبار سره دی چې د چا کور جومات ته نژدې دی او د چا لرې

## تبصره

١٣ ـ که څه هم شیخ المفسرین العلامه الطبري علیه رحمه په ټولو اقوالو کښې لومړنی قول غوره کړی دی[۱] چې وړاندېني او وروستني ایتونه ورته اشاره کوي چې دواړه د ژوند او مرګ او هم د بیا ژوند څخه بحث کوي. مګر موږ ته بهتره برېښي چې ایت شریف په عموم سره پرېښودلی شي ترڅو هر ډول او په هر شي کښې تقدم (وړاندېوالي) او تاخر (وروستوالي) ته شامل شي. او په ذکرو شوو اقوالو کښې به د علماوو کرامو محض یوه-یوه مثال ته اشاره مطلب وي او حصر به یې مراد نه وي. والله ﷻ أعلم.

﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ مِن صَلْصَـٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٢٦﴾ وَٱلْجَآنَّ خَلَقْنَـٰهُ مِن قَبْلُ مِن
نَّارِ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾ وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَـٰٓئِكَةِ إِنِّى خَـٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن صَلْصَـٰلٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ
﴿٢٨﴾ فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَـٰجِدِينَ ﴿٢٩﴾ فَسَجَدَ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ
كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴿٣٠﴾ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰٓ أَن يَكُونَ مَعَ ٱلسَّـٰجِدِينَ ﴿٣١﴾ قَالَ يَـٰٓإِبْلِيسُ مَا
لَكَ أَلَّا تَكُونَ مَعَ ٱلسَّـٰجِدِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ لَمْ أَكُن لِّأَسْجُدَ لِبَشَرٍ خَلَقْتَهُۥ مِن صَلْصَـٰلٍ مِّنْ
حَمَإٍ مَّسْنُونٍ ﴿٣٣﴾ قَالَ فَٱخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٣٤﴾ وَإِنَّ عَلَيْكَ ٱللَّعْنَةَ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلدِّينِ
﴿٣٥﴾ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِىٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿٣٦﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلْمُنظَرِينَ ﴿٣٧﴾ إِلَىٰ يَوْمِ
ٱلْوَقْتِ ٱلْمَعْلُومِ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَغْوَيْتَنِى لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ
﴿٣٩﴾ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾ قَالَ هَـٰذَا صِرَٰطٌ عَلَىَّ مُسْتَقِيمٌ ﴿٤١﴾ إِنَّ
عِبَادِى لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَـٰنٌ إِلَّا مَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلْغَاوِينَ ﴿٤٢﴾ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوْعِدُهُمْ
أَجْمَعِينَ ﴿٤٣﴾ لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَٰبٍ لِّكُلِّ بَابٍ مِّنْهُمْ جُزْءٌ مَّقْسُومٌ ﴿٤٤﴾ ﴾

[٢٦] او یقیناً موږ انسان (آدم علیه السلام) د داسې کړنګېدونکي شي څخه پیدا کړی دی چې (هغه شی) د تور رنګې بوی ناکې خټې څخه (جوړ شوی) وه

---

۱ تفسیر الطبري ج۱۴ ص۲۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٢٧] او جان (ابلیس) چې وه مونږ د آدم ﷺ څخه وړاندې د صاف اور څخه پیدا کړی وه (چې لوګی پکښې نه وه).

[٢٨] او هغه وخت (ورياد کړه) چې ستا رب ﷻ پرښتو ته وویلې چې: یقیناً زه د داسې کړنګېدونکې شي څخه د بشر (انسان) پیدا کوونکی یم چې د تور رنګې بوی ناکې ختې څخه (جوړ شوی) وي.

[٢٩] نو کله چې ما هغه (پوره) برابر کړ او د خپل (ملکیت د خزانو) څخه مې پکښې روح پو کړ (واچاوه) نو تاسو ورته سجده کوونکې پرېوځئ (سجده ورته وکړئ).

[٣٠] نو (کله چې ژوندي کړی شو) ټولو پرښتو (ورته) په اجتماعي توګه سجده وکړه.

[٣١] مګر ابلیس (سجده ونه کړه)، ده (نوموړي د دې څخه) منعه خپله کړه چې د سجده کوونکو سره شي (او سجده وکړي).

[٣٢] ستا رب ﷻ (ورته) وویلې چې: ای ابلیسه! تا لره څه دي چې ته د سجده کوونکو (پرښتو) سره نه شوې (او سجده دې ورته ونه کړه)؟

[٣٣] ابلیس وویلې چې: زه (داسې) نه یم چې داسې بشر (انسان) ته سجده وکړم چې تا د داسې کړنګېدونکې شي څخه پیدا کړی دی چې د تور رنګې بوی ناکې ختې څخه جوړ شوی دی.

[٣٤] ستا رب ﷻ (ورته) وویلې چې: نو (د پرښتو) د ټولګې څخه ووځه ځکه چې یقیناً ته رټلی شوی یې

[٣٥] او یقیناً په تاباندې لعنت (د رحمت څخه لرېوالی) دی (چې آن) د جزا د ورځې پورې (به درباندې ویل کېږي).

[٣٦] ابلیس وویلې چې: ای ربه! ماته د هغې ورځې پورې مهلت راکړه چې مخلوقات راپورته (ژوندي) کړی شي

[٣٧] ستا رب ﷻ (ورته) وویلې چې: نو یقیناً ته د مهلت ورکړی شوو څخه یې (مهلت درکړی شو).

[٣٨] (خو نه د هغه وخته پورې چې ته یې غواړې بلکې) د معلوم (ټاکلي) وخت د ورځې پورې (چې ستا د مرګ نېټه ده).

[٣٩] ابلیس وویلې چې: ای ربه! په دې سبب چې زه دې ګمراه کړم (زما دې سوګند وي چې) زه به هرو مرو دوی (بنیادمانو) ته په ځمکه کښې (نافرماني) ښائسته کړم او هرو مرو زه به ضرور دوی ټول بې لارې کړم

[٤٠] مګر د دوی (د جملې) څخه ستا خالص کړی شوي بندګان (چې دوی به راڅخه بچ شي).

[٤١] ستا رب ﷻ (ورته) وویلې چې: دغه (راتلونکې خبره) برابره لاره ده چې (ما) په خپل اقدس ذات باندې لازمه کړې ده.

[٤٢] (هغه دا) چې یقیناً زما (خالص کړی شوي) بندګان چې دي تاته په دوی باندې هیڅ غلبه (او تسلط) نشته مګر هغه خوک چې ستا پیروي کوي چې د ګمراهانو څخه عبارت دی (نو په دوی

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې ستا تسلط شته دی او بس).

[۴۳] او (هغه دا چې) يقيناً دوزخ ستاسو د ټولو د وعدې (پوره کولو) ځای دی.

[۴۴] چې (دغه) دوزخ ته اوه دروازې دي او د هرې دروازې دپاره د دوزخيانو څخه برخه جدا کړی شوې ده (نو هيڅ يو ګمراه به ترې هم بچ پاتې نه شي).

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنيو ايتونو کښې تقريباً د سورت د اول سر څخه په عنادي کافرانو کښې بحث راروان دی او په دې ايتونو کښې د عناديانو د مشر (ابليس) څه حال بيان شوی دی چې هغوی ته د عناد د ډېرې ايښودونکی دی.

۲ـ په وړاندې ايتونو کښې افاقي دلائل بيان شوي وه او په دې ايتونو کښې د توحيد انفسي دلائلو ته اشاره شوې ده.

۳ـ هغه ايتونه د حشر په بيان باندې تمام شوي وه او دا ايتونه د انسان په اولني خلقت باندې پيل شوي دي؛ نو حاصل يې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! اوس په خپل امت باندې لاندې نکات قرائت کړه ترڅو دوی د يو پلوه متوجه شي چې په څومره عجيبه قدرت باندې مو انسانان او پيريان پيدا کړي دي. او د بله پلوه د عناديانو د مشر (ابليس) د حال څخه عبرت واخلي او د هغه تکبر او عناد څخه صرف نظر شي په کوم باندې يې چې ستا په مقابل کښې منګولې ښخې کړي دي. او يا ترې خپل ځانونه بچ وساتي. هغه دا چې

۱ـ يقيناً مونږ اولنی انسان (آدم ﷺ) د خاورو څخه پيدا کړی دی چې په ابتدا. کښې يې لاندې صفات درلوده

الف د آدم ﷺ خاوره مو په اوبو باندې خټه کړه بيا مو ښه وجه کلکه کړه چې د ډېر وچوالي د کبله يې ډنګار کاوه. تابه وېل چې کردونی دی او په اور باندې پوخ شوی دی

ب ذکړې شوې چقرې (خټې) د کلکوالي څخه وړاندې تک تور رنګ درلود

ج او همدغه خټه (چقره) بدبويه وه چې وروست بوی يې کاوه. خو کله چې مونږ پکښې روح واچاوه نو په هډوکي باندې پرته پسته (نرمه) غوښه ترې جوړه شوه او تور رنګ يې د غنمو په رنګ باندې بدل شو او بالآخره بد بوی يې د منځه لاړ

۲ـ بالمقابل مونږ د آدم ﷺ څخه لا وړاندې ځان (ابليس) د سوځه اور څخه پيدا کړی وه

۳ـ ای پيغمبره خپل امت ته هغه وخت هم وريه ياد کړه چې د آدم ﷺ د خلقت څخه وړاندې ستا رب ... ... پرښتو ... ... چې ابليس هم د دوی په مجموعه کښې شامل وه. داسې مخاطب کړه چې

الف يقيناً ... ... کړونکی ده چې د کړيکېدونکي، تورې چقرې بدبويه خټې څخه يو مخلوق پيدا کړم چې پېه ... بشر به ولري

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب. نو کله چې دا کار ما عملي کړ او د بدن اندامونه او کړه وړه مې وربرابر کړه او هم مې پکښې خپل هغه غیبي روح پو کړ د کوم علم چې یوازې ماته دی او تاسو پرې هیڅ علم نه لرئ؛ یا په بل عبارت کله مې چې ذکره شوې ماده په اروا باندې سرلوړې او ژوندۍ کړه، نو تاسو ټول ذکر شوي بشر ته په سجده باندې پرېوځئ او سرونه ورته په ځمکه کېږدئ.

په دغه وخت کښې زما امر هیڅا رد نه کړ، نه پکښې پرښتو څه خبره وکړه او نه ورباندې ابلیس څه اعتراض څرګند کړ بلکې ټولو په سکوت سره قبول کړ.

۴ـ مګر کله چې ستا رب ﷻ خپله نقشه عملي کړه او د ذکرې شوې وچې کلکې کړنګېدوکې ختې څخه یې ښانسته بشره جوړه کړه او اروا یې هم پکښې واچوله او د ذکر شوي سابق امر د تعمیل وخت راورسېد نو خبره داسې شوه چې:

الف: ټولو پرښتو په مجموعي توګه په خپل عهد باندې وفا وکړه چې ټولې ورته په سجده باندې پرېوتلې او یوې هم ناغیرې ونه کړه.

ب: مګر ابلیس د عمل په میدان کښې ستا د رب ﷻ امر منلو ته شا کړه او د سجدې کولو څخه یې خپل ځان په څنګ وساته.

## د ابلیس سوال جواب

۵ـ کله چې ابلیس ستا د رب ﷻ د فرمان د منلو څخه اباء وکړه نو لاندې سوال جواب واقع شو:

الف: ستا رب ﷻ ابلیس مخاطب کړ چې ته په څه دلیل په سجده کوونکو کښې شامل نه شوې؟

ب: ابلیس په جواب کښې وویلې چې: زه دومره مهان او سپک نه یم چې هغه چاته سجده وکړم کوم چې تا د کړنګېدونکې تور رنګې بدبویه ختې څخه پیدا کړی دی، حال دا چې زه دې د سوچه اوره پیدا کړی یم چې نه یې تور رنګ درلود او نه پکښې څه تعفن وه. لنډه دا چې زه د هغه څخه بهتر یم، په کار دا ده چې هغه ماته سجده وکړي او زما احترام په ځای کړي.

ج: ستا رب ﷻ ابلیس ته امر وکړ چې د پرښتو د دغه معزز ټولګې څخه ښکته شه، د نن څخه وروسته نه شې کولی چې ته د دوی خبرې واورې مګر په غلا سره، چې په سرو شغلو باندې به ویشتلی کېږې، او دا ځکه چې ته رټلی شوی یې او خپل مقبولیت دې د لاسه ورکړ. په دې باندې علاوه ته به د قیامت د ورځې پورې زمونږ د رحمت څخه لرې اوسې او د خلکو د ګمراه کولو په سبب به دې د جنایت پېټی درنېږي او روزمره به درباندې زمونږ لعنت غوښتلی کېږي.

د: ابلیس د ذکر شوي تهدید څخه ونه ډار شو بلکې غاړه یې ورته کېښوده چې الهي لعنت مې قبول دی خو دا توهین نه قبلوم چې د خپل ځان څخه ښکته مخلوق ته په سجده پرېوځم او احترام یې وکړم. نوموړي وویلې چې: ای ربه! زه تاته دا سوال نه کوم چې په ما باندې د لعنت باران مه کوه او د ... اط...تې عفوه راته وکړه، بلکې تاته فقط دا سوال کوم چې ماته ترهغه وخته پورې حیات راکړه ... کړه ... ې چې ټول مړه شوي مخلوقات بېرته را ژوندي شي او قیامت قائم شي. یا په بل عبارت:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ما هغې ورځې پورې ژوندی پرېږده چې مرګ ختم شي او زه د مرګ د ځکلو څخه بچ پاتې شم.

هـ: ستا رب ﷻ هغه ته جواب و رکړ چې: ستا غوښتنه تر دې خایه مقبوله ده چې تاته به اوږد مهلت درکړی شي، اما د هغه وخته پورې نه چې ته يې غواړې بلکې د هغه وخته پورې کوم چې تاته ټاکلی شوی دی او وړاندې ببرته کېدونکی نه دی.

## بیا ابلیس سوګند وخوړ

و: بیا ابلیس سوګند یاد کړ چې: ای ربه! په دې سبب چې زه دې د آدم ﷺ د سجدې د کبله اغواء کړم او د ګمراهانو په ډله کښې دې ودرولم، زما دې ستا په عزت باندې سوګند وي چې زه به ټولو بنیادمانو ته په ځمکه کښې هغه شیان ښائسته کړم په کومو باندې چې دوی د حقې لارې څخه اوړي، بلکې زه به دوی ټول ګمراهان کړم او خپله ډله به وربانديې ښه غټه کړم، مګر صرف ستا هغه بندګان به راڅخه بچ شي کوم چې تا د خپل عبادت ... سوچه ګرځولي دي او د ټولو منافي کارونو څخه دې پاک ساتلي دي.

ز: ای پیغمبره! ستا رب ﷻ ابلیس مخاطب کړ چې همدغه برابره لاره په ما باندې ده او ما يې التزام کړی دی چې زما مخلص بندګان ته نه شي ګمراه کولی، دا ځکه چې زما په مخلصو بندګانو باندې تاته هیڅکله غلبه نشته او ته نه شې کولی چې هغوی د حقې لارې څخه بې لارې کړې، مګر هرڅوک چې محض په دعوت سره ستا پیروي کوي او ستا غوښتنو ته لبیک وايي نو په هغوی باندې به ته خپله ډله غټه کړې چې د ګمراهانو څخه عبارت دي.

۶ـ ای پیغمبره! ستا د رب ﷻ په نزد باندې فیصله ده چې ابلیس او د ده پیروان به په دوزخ کښې اچوي دوی ټولو ته همدغه وخت ټاکلی شوی دی چې هیڅکله به پکښې تخلف واقع نه شي. دا داسې دوزخ دی چې اوه دروازې لري او د هرې دروازې دپاره د ابلیس او د ده د پیروانو څخه جدا کړی شوې برخه او ډله ده، چې هره ډله به د خپلې خپلې دروازې څخه هلته ورواچولی شي.

## توضیحات

١ـ الله ﷻ د آدم ﷺ د اصلیت په هکله (چې د څه شي څخه جوړ شوي دي) په قرآن کریم کښې لاندې کلمات نازل کړې دي:

الف: یوه د ﴿صَلۡصَٰلٖ﴾ کلمه ده، دا کلمه هغې ختې ته وضعه شوې ده کومه چې د ډېر وچوالي د کبله کړنګهار کوي مګر اور ورته نه وي رسېدلی، نو کله چې ورته اور ورسېږي او په اور باندې پخه شي نو بیا د "فخّار" په نامه یادېږي[١].

ب: بله د ﴿حَمَإٖ﴾ کلمه ده چې د تور رنګې ختې معنی ورکوي[٢].

---

(١) لسان العرب ج١١ ص٣٨٢

(٢) لسان العرب ج١ ص٦١

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: بله د «مَّسْنُون» کلمه ده، دغه کلمه په لاندې معناوو باندې تفسيره شوې ده[۱]:

اول په "مَصْبُوب" سره، يعني په سوان باندې ښويه کړې شوې.

دوهم په "مَصْقُول" سره، يعني اوبه ورباندې اچولې شوې.

دريم په "مُصَوَّر" سره، يعني صورت او شکل ورکړې شوې.

څلورم په "مُتَغَيِّر" سره، يعني تعفن درلودونکی چې بدبويي پکښې پيدا شوې وي.

د: بله د «تُرَابٍ» کلمه ده [آل عمران: ۵۹] چې د خاورو معنی ورکوي.

هـ: بله د «طِينٍ» کلمه ده [الأعراف: ۱۲] چې خټې ته وضعه شوې ده.

و: بله د «لَازِبٍ» کلمه ده [الصافات: ۱۱] دا کلمه هغه شي ته وضعه شوې ده د کوم اجزاء چې ښه کلک ارتباط ولري[۲] چې مونږ ترې په سلبښتناک شي سره تعبير کوو.

ز: بله د "فَخَّار" کلمه ده چې د «صَلْصَالٍ» کلمه ورسره تشبيه شوې ده: [الرحمن: ۱۴]. دا د هغې خټې نوم دی کومه چې په اور باندې پخه شي[۳]، کومه چې مونږ يې په پښتو کښې د منګي په نامه يادوو.

## تبصره

۲_ الله ﷻ د بر ښه پوهېږي خو د ذکرو شوو کلماتو څخه داسې معلومېږي چې د آدم ﷺ په کالبوت باندې په مختلفې مرحلې تېرې شوې وي، مثلاً خاوره خټه کړې شوې ده، بيا د بر وخت پرېښودله شوې ده چې رنګ يې تور اوښتی دی او د ډېرې اوږدې مودې د تېرېدلو د کبله پکښې تعفن (بد بوی) پيدا شوی دی، بيا ترې د الله ﷻ په امر د آدم ﷺ کالبوت جوړ کړی شوی دی چې په ښه ښانسته ښويه شکل باندې يې صورت نيولی دی، بيا د بر وخت پرېښودل شوی دی چې ښه وچ کلک او کړنګهار کوونکی ګرځېدلی دی، او بالآخره بيا پکښې روح اچولی شوی دی او ژوندی کړی شوی دی.

په هر تقدير، نبي کريم ﷺ د آدم ﷺ د خلقت په باره کښې داسې فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ تَعَالَى خَلَقَ آدَمَ مِنْ قَبْضَةٍ قَبَضَهَا مِنْ جَمِيعِ الْأَرْضِ فَجَاءَ بَنُو آدَمَ عَلَى قَدْرِ الْأَرْضِ فَجَاءَ مِنْهُمُ الْأَحْمَرُ وَالْأَبْيَضُ وَالْأَسْوَدُ وَبَيْنَ ذَلِكَ وَالسَّهْلُ وَالْحَزْنُ وَالْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ»[۴] يعني يقيناً الله ﷻ آدم ﷺ د يوه بلا کيفه موټي خاورې څخه پيدا کړی دی چې د ټولې ځمکې څخه يې اخستې وه، نو بنيادمان د ځمکې د رنګونو په اندازه باندې راغله (پيدا شوه)، چې خينې سره او سپين دي او خينې تور او ميانه حال دي او بالآخره خينې پاسته او زګه دي او خينې ناکاره او خينې ښه دي.

---

(۱) لسان العرب ج۱۳ ص ۲۲۴، ۲۲۷

(۲) مفردات الراغب ص ۴۷

(۳) مفردات الراغب ص ۳۸۸

(۴) جامع الترمذي ج۲ ص ۱۲۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## جان څوک دی؟

۳_ په ﴿ وَٱلۡجَآنَّ خَلَقۡنَٰهُ ﴾ کښې مفسرینو کرامو په لاندې ډول اختلاف کړی دی(۱):

الف: ځینې وايي چې جان د ابو الجان (د پیریانو د پلار) څخه عبارت دی، لکه چې انسان د ابو الانسان (آدم ﷺ) معنی ورکوي.

ب: ځینې وايي چې په دې مقام کښې جان د ابلیس څخه عبارت دي، لکه چې د ﴿ يَٰٓإِبۡلِيسُ ﴾ د خطاب څخه څرګندېږي.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: ایا ابو الجان او ابلیس یو شی نه دي؟ یا په بل عبارت: ایا ټول پیریان د ابلیس اولاده نه ده؟

مونږ وایو چې: د ابلیس په باره کښې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ كَانَ مِنَ ٱلۡجِنِّ ﴾ [الکهف: ۵۰] ابلیس د پیریانو د جملې څخه وه، مګر داسې یې نه دي فرمایلي چې هغه د پیریانو پلار وه

د همدې کبله ځینو علماوو کرامو د دواړو ترمنځ لاندې فرقونه لیکلي دي(۲):

الف: ابو الجن د پیریانو پلار دی، او ابلیس د شیطانانو پلار دی.

ب: د ابو الجن په اولاده کښې کافران او مسلمانان دواړه شته دي، مګر د ابلیس اولاده ټوله کافره ده او مسلمان پکښې نشته.

ج: پیریان د انسانانو غوندې روزمره مړه کېږي او ژوندي کېږي، اما شیطانان ټول ژوندي دي چې د خپل پلار ابلیس سره به په اجتماعي صورت مړه کېږي.

څرنګه چې په دې ایتونو کښې هغې قیصې ته اشاره شوې ده کومې چې د آدم ﷺ او ابلیس ترمنځ صورت نیولی وه نو په دې مقام کښې به د ﴿ وَٱلۡجَآنَّ ﴾ څخه ابلیس مراد وي.

## د سَمُوم معنی

۵_ په ﴿ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ﴾ کښې د "السَّمُوم" کلمه هغه تېز اورته وضعه شوې ده د کوم سره چې لوګی ملګری نه وي، د همدغه ډول اور څخه تندرونه هم جوړېږي(۳).

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶_ که څوک وايي چې: الله ﷻ په بل ایت کښې فرمایلي دي چې: ﴿ وَخَلَقَ ٱلۡجَآنَّ مِن مَّارِجٖ مِّن نَّارٖ ﴾ [الرحمن: ۱۵] یعنې او الله ﷻ ابلیس د مارج اور څخه پیدا کړی دی. "مَارِج" خو هغه اور ته

---

(۱) روح المعاني ج۱۴ ص۳۴؛ التفسیر الکبیر ج۱۹ ص۱۸۰؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۱۵۳

(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۹

(۳) تفسیر القرطبي ج۱۰ ص۲۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وايي چې د لوګي سره خلط وي[١]: نو پوښتنه دا ده چې ايا د دواړو ايتونو ترمنځ منافات نشته؟

موږ وايو که څه هم د ﴿ مَّارِجٍ ﴾ کلمه د مختلط اور معنی ورکوي، مګر هغه اور ته هم ويل کېږي کوم چې لوګی ونه لري[٢] چې دا بعينه د "سموم" معنی ده او په ايت شريف کښې همدغه مراده ده، والله ﷻ أعلم. د ښه وضاحت دپاره د نبي کريم ﷺ لاندې حديث شريف ولولئ چې:

«خُلِقَتِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ نُورٍ وَخُلِقَ الْجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ وَخُلِقَ آدَمُ مِمَّا وُصِفَ لَكُمْ»[٣] يعنې پرښتې د نور څخه پيدا کړی شوي دي، او جان (جنس پيريان) د داسې اور څخه پيدا کړی شوي دي کوم چې لوګی نه درلود. او آدم ﷺ د هغه شي څخه پيدا کړی شوی دی کوم چې تاسو ته (په قرآن کريم کښې) بيان شوی دی (چې خاورې دي).

## رُوح څه شی دی؟

٧ـ په ﴿ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي ﴾ کښې "رُوح" د هغه شي څخه عبارت دی په کوم باندې چې سړی ژوندي کېږي، چې اصل حقيقت يې د الله ﷻ څخه په غير بل چا ته معلوم نه دی، خو ځينو مفسرينوکرامو پکښې اوږد بحث کړی دی[۴] که څوک يې د لوستلو شوقمند وي نو هملته دې مراجعه وکړي خو په ذکرشوې جمله کښې بايد سړی لاندې دوه نکات په نظر کښې وساتي:

الف: د ﴿ وَنَفَخْتُ ﴾ کلمه د "نَفْخ" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "نَفْخ" هغه باد (هوا) يا پوکي ته ويل کېږي کوم چې په داسې شي کښې واچولی شي چې ګېډه لري او هوا پکښې ساتله کېږي او بلکې ورباندې پړسېږي[۵] لکه چې تېر د هوا څخه ډک کړی شي. په دې مقام کښې حقيقتاً پوکی مطلب نه دی بلکې د کنايې په توګه د سرعت معنی ورکوي[۶]، يعنې کله چې د آدم ﷺ په کالبوت کښې روح واچولی شو نو د باد په شان په سرعت سره پکښې خور شو او هرې برخې ته ورسېد.

ب: په ﴿ رُّوحِي ﴾ کښې اضافت د ملکيت دپاره دی، که څه هم لکه څنګه چې روح د الله ﷻ ملکيت دی همدارنګه هر مخلوق د ده ﷻ په ملکيت کښې شامل دی خو د تشريف دپاره په اضافت سره تخصيص ورکړی شوی، لکه چې د [البقرة:١٢٥] ايت کښې د کعبې شريفې څخه په ﴿ بَيْتِيَ ﴾ سره د همدې مطلب دپاره تعبير کړی شوي دي.

## يادونه

٨ـ په ﴿ قَالَ فَٱخْرُجْ مِنْهَا ﴾ کښې بارز ضمير د پرښتو ټولګي ته راجع دي چې پوره تحقيق يې د

---

(١) معردات الراغب ص ۴٨۶
(٢) لسان العرب ج٢ ص ٣۶۶
(٣) صحيح مسلم ج٢ ص ۴١٣
(۴) روح المعاني ج١۴ ص ٣٧
(۵) تفسير ابى السعود ج۵ ص ٧۴
(۶) البحر المحيط ج۶ ص ۴٧۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[الأعراف ١٣] ایت لاندې تېر شوی دی ـ لله الحمد ـ چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، مګر دلته وړباندې اضافه کوو چې:

الف: په دې قیصه کښې هغه عنادي کفار په غوږ باندې وهلې شوي دي کومو چې د نبي کریم ﷺ څخه د خپل قناعت حاصلولو دپاره د پرښتو نزول غوښتی وه. داسې چې ستاسو د قناعت مخه عناد بنده کړې ده. که بالفرض پرښتې رانېکته کړی شي هم ستاسو قناعت به حاصل نه شي لکه څنګه چې ستاسو د عنادي مشر (ابلیس) قناعت حاصل نه شو او آدم ؑ ته یې سجده ونه کړه حال دا چې هغه د بې شمېره پرښتو په منځکښې اوسېده.

ب: په دې مقام کښې د پرښتو د ټولګي څخه د ویستلو وجهې ته په ﴿ فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴾ سره اشاره شوې ده، چې لاندې دوه معناوې درلودلی شي:

اول: څکه چې ته د معزز ټولګي څخه د استخفاف په توګه غورزولی شوی یې، او ته د دې څخه وروسته استحقاق نه لرې چې په دوی کښې ناسته ولاړه وکړې.

دوهم: ای ابلیسه! ته به د هغه اور په شغلو باندې ویشتلی کېږې په کوم باندې چې تا افتخار وکړه او د کوم د کبله چې تا آدم ؑ ته سجده ونه کړه او د تکبر سبب دې جوړ شو.

## سوال جواب

٩ـ که څوک وایي چې: ایا د ﴿ وَإِنَّ عَلَيْكَ ٱللَّعْنَةَ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلدِّينِ ﴾ څخه د لعنت انتهاء نه معلومېږي چې په تا باندې د همدغې ورځې پورې لعنت دی او بس؟

مونږ وایو چې:

الف: د ﴿ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلدِّينِ ﴾ کلمه د دوام څخه کنایه ده[1] یعني ای ابلیسه! په تاباندې د همېشه دپاره زما لعنت دی.

ب: د ﴿ إِلَىٰ ﴾ توری د هغه لعنت دپاره غایه ده د کوم سره چې عذاب ملګری نه وي[2] یعني په تاباندې د قیامت د ورځې پورې لعنت دی چې عذاب ورسره ضمیمه نه دی، او د قیامت په ورځ به ورسره دائمي عذاب ملګري شي.

ج: دا هم څه لرې نه ده چې د ﴿ إِلَىٰ ﴾ توري د اکتساب دپاره غایه وي، یعني د قیامت د ورځې پورې به ستا پېټی درنېږي او د ګمراهانو د ګمراهۍ اثر به درباندې پرېوزي. یا په بل عبارت: د ټولو ملعونانو په لعنت کښې ته برخوال ګرځولی شوی یې ترڅو چې د تکلیف دوره ختمه شي او دنیا ورانه شي، او ګمراهان ټول مړه شي.

## د ابلیس مهلت تر څه وخته دی؟

١٠ـ علماء کرام د ﴿ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْوَقْتِ ٱلْمَعْلُومِ ﴾ په تفسیر کښې متعدد نظریات لري، یا په بل

---

(١) تفسیر الکشاف ج٢ ص٥٧٧

(٢) تفسیر الخازن ج٣ ص٥٦٢



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عبارت: دوی د هغه وخت په تعین کښې متعدد اقوال کړي دي ترکومه پورې چې ابلیس ته مهلت ورکړې شوی دی. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ځینې علماء کرام وایي چې په دې مقام کښې الله ﷻ درې ورځې ذکرې کړې دي ﴿ يَوْمِ ٱلدِّينِ ﴾، ﴿ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴾، ﴿ يَوْمِ ٱلْوَقْتِ ٱلْمَعْلُومِ ﴾ دغه درې واړه ورځې د یوه وخت څخه عبارت دي چې هغه د لومړنۍ شپېلۍ وخت دی[1] یعنې ابلیس ته ترهغه مهلت ورکړې شوی دی ترڅو چې د اولې شپېلۍ د وهلو وخت راورسېږي.

ب: ابلیس به ترهغه ژوندی وي ترڅو چې د بنیادمانو څخه یو کس هم ژوندی پاتې نه شي[2].

ج: ځینې نور علماء کرام وایي چې نوموړی به د اولنۍ شپېلۍ د وهلو څخه وروسته مړ شي، او په دې باره کښې یې د کعب الاحبار علیه الرحمة څخه ډېر اوږد حدیث رانقل کړی دی[3].

د: مګر مونږ ته بهتره برېښي چې ذکر شوي معلومات الله ﷻ ته ور وسپارلی شي. یا په بل عبارت: لکه څنګه چې د انسانانو بلکې د هر شي د مرګ وخت یوازې الله ﷻ ته معلوم دی او بس، همدارنګه د ابلیس د مرګ وخت هم د همده ﷻ په نزد باندې محفوظ دی چې دلته ورته په ﴿ ٱلْوَقْتِ ٱلْمَعْلُومِ ﴾ سره اشاره شوې ده، او څه ضرورت نشته چې مونږ پکښې بحث وکړو.

## یادونه

۱۱_ که څه هم د آدم علیه السلام او د ابلیس د مبارزې میدان د الله ﷻ د پلوه ځمکه ټاکلی شوې وه چې د اسمان څخه به دواړه دلته راښکته کېږي او د امتحان میدان به تشکیلېږي، څه حاجت نه وه چې د ځمکې په نامه باندې صراحت شوی وی، خو ابلیس ورباندې ځکه صراحت وکړ: ﴿ لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ ترڅو اشاره وکړي چې زه به بنیادمان په دارالخلافه کښې تېر باسم چې د خلافت مطلب به هېر کړي او د همدې خلافت څخه به ورته لوی مصیبت جوړ کړم.

## سوال جواب

۱۲_ که څوک وایي چې: په ﴿ هَـٰذَا صِرَٰطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيمٌ ﴾ کښې د ﴿ هَـٰذَا ﴾ د کلمې دپاره مشار إلیه څه شی دی؟

مونږ وایو چې: د ذکر شوې کلمې د مشار إلیه د تعین په هکله علماوو کرامو[4] زښت ډېر احتمالات لیکلي دي، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ﴿ هَـٰذَا ﴾ هغه اخلاص ته اشاره ده په کوم باندې چې د ﴿ ٱلْمُخْلَصِينَ ﴾ کلمه دلالت کوي[5].

---

(١) البحر المحيط ج۶ ص۴۷۷؛ تفسير القرطبي ج۱۰ ص۲۷

(٢) تفسير الطبري ج۱۴ ص۳۲

(٣) تفسير ابي السعود ج۵ ص۷۸

(۴) زاد المسير ج۴ ص۲۹۳؛ التفسير الكبير ج۱۹ ص۱۸۹

(۵) البحر المحيط ج۶ ص۴۷۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د ﴿ عليَّ ﴾ کلمه د "إلي" معنی ورکوي[١]. يعنې دغه د اخلاص لاره هغه برابره لاره ده چې ماته راغلې ده، هرڅوک چې په همدې لاره باندې روان وي هغه به د ضلالت او ګمراهۍ څخه بچ وي.

ب: ﴿ هذا ﴾ تخلص ته اشاره ده به کوم باندې چې په ﴿ إِلَّا عِبَادَكَ ﴾ کښې استثناء دلالت کوي[٢]. يعنې ما په خپل اقدس ذات باندې تفضلاً دغه برابره لاره واجبه کړې ده چې مراعات به يې کوم هغه دا چې مخلصينو ته به ستا د ګمراه کولو څخه نجات ورکوم.

ج: مګر مونږ ته بهتره برېښي چې د ﴿ هذا ﴾ کلمه به هغه کلام ته اشاره وي کوم چې وروسته په دوه وو ايتونو کښې راروان دی او په ﴿ إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنٌ ﴾ باندې پيل شوی دی.

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: ای ابليسه! زما سره خبره فيصله ده او ما په خپل اقدس ذات باندې واجبه کړې ده چې زما په بندګانو باندې به ستا تسلط نه وي او هم به تا او ستا پيروان ټول په دوزخ کښې اچوم، دا هغه برابره لاره ده چې هيڅ انحراف به پکښې واقع نه شي.

## د دوزخ اوه دروازې

١٣ـ په ﴿ لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَٰبٍ ﴾ کښې د ﴿ أَبْوَٰبٍ ﴾ کلمه د "باب" جمعه ده، په لاندې دوه وو معناوو باندې د "باب" اطلاق کېږي[٣]:

الف: "باب" اصلاً د هغه ځای دپاره نوم دی د کوم ځای څخه چې سړی کورونو او نورو ځايونو ته ورننوځي، لکه د کوټې باب (دروازه) يا لکه د ښار باب (دروازه) او داسې نور.

ب: په هغه شي باندې هم د باب (دروازې) اطلاق کېږي کوم چې بل شي ته د ورداخلېدلو سبب وي، لکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «أَنَا دَارُ الْحِكْمَةِ وَعَلِيٌّ بَابُهَا»[٤] زه د علم کور يم او علي ؓ يې دروازه ده، يعنې علي ؓ او نور صحابه کرام ؓ د علومو د زده کړې اسباب او لارې دي.

په دې مقام کښې علماوو کرامو د ﴿ لَهَا سَبْعَةُ أَبْوَٰبٍ ﴾ کلمات په لاندې دوه ډولونو باندې تفسير کړي دي:

اول: ځينې علماء کرام وايي چې دلته د اوو دروازو څخه اوه طبقات مطلب دي[٥]، چې ـ الله الحمد ـ مونږ يې نومونه د [النساء:١٤٥] ايت لاندې ليکلي دي. په همدې تفسير باندې لاندې حديث شريف دلالت کوي چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «مِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى كَعْبَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى رُكْبَتَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى حُجْزَتِهِ وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى تَرْقُوَتِهِ»[٦] يعنې د دوزخيانو څخه ځينې هغه کسان دي چې د دوزخ اور به د ښنګرو پورې نيولی وي، او ځينې

---

(١) تفسير الطبري ج١٤ ص٣٣
(٢) روح المعاني ج١٤ ص٥٠
(٣) مفردات الراغب ص٦٢
(٤) جامع الترمذي ج٢ ص٢١٣
(٥) تفسير الخازن ج٣ ص٥٦٤
(٦) صحيح مسلم ج٢ ص٣٨١ مسند احمد بن حنبل ج٧ ص٢٥٣

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ترې هغه دي چې زنګنونو پورې به يې نيولې وي او ځينې ترې هغه دي چې د ملا پورې به يې نيولې وي او (بالآخره) ځينې ترې هغه دي چې د غاړې د هډوکي (مرۍ) پورې به يې نيولې وي.

دوهم: ځينې نور وايي چې دلته پخپله اصلي معنی (دروازې) مراد دي[1] چې په همدې تفسير باندې لاندې احاديث دلالت کوي

الف نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لِجَهَنَّمَ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ بَابٌ مِنْهَا لِمَنْ سَلَّ السَّيْفَ عَلَى أُمَّتِي»[2] يعنې دوزخ اوه دروازې لري، يوه دروازه د هغه چا (د ورننويستلو) دپاره ده چې زما په امت باندې توره راوباسي.

ب: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «إِنَّ لِلنَّارِ لَسَبْعَةَ أَبْوَابٍ مَا مِنْهُنَّ بَابَانِ إِلَّا يَسِيرُ الرَّاكِبُ بَيْنَهُمَا سَبْعِينَ عَامًا وَإِنَّ لِلْجَنَّةِ لَثَمَانِيَةَ أَبْوَابٍ مَا مِنْهَا بَابَانِ إِلَّا يَسِيرُ الرَّاكِبُ بَيْنَهُمَا سَبْعِينَ عَامًا»[3] يعنې يقيناً دوزخ ته اوه دروازې دي د دغو دروازو څخه دوه دروازې نه دي مګر د دواړو ترمنځ به سور سړی اويا کاله مزل کوي، او همدارنګه جنت ته اته دروازې دي د دغو څخه دوه دروازې نه دي مګر د دواړو ترمنځ سور سړی اويا کاله مزل کوي. الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي خو د "بَابَانِ، بَابَانِ" څخه به دلته د يوې دروازې دوه پلې مطلب وي.

## تبصره

۱۴ ـ مونږ ته داسې برېښي چې ذکرې دواړه نظرونه سره يو تربله څه منافات نه لري، څه لري نه ده چې دوزخ هم اوه طبقات ولري او هم اوه دروازې ولري، والله ﷻ أعلم.

## سوال جواب

**۱۵ ـ که څوک وايي چې په دې کښې څه حکمت دی چې دوزخ اتمه دروازه نه لري لکه چې جنت اته دروازې لري، چې په وړاندېني حديث باندې علاوه لاندې نبوي احاديث همورباندې دلالت کوي:**

**الف: «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ فُتِحَتْ لَهُ ثَمَانِيَةُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ»[4] يعنې هرڅوک چې اودس وکړي ښه اودس بيا د شهادت دواړه کلمې ووايي نو ده ته به د جنت اته واړه دروازې پرانستلی شي چې هره يوه يې زړه غواړي په همغې به ورداخل شي.**

**ب: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ لَهُ ثَلاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ إِلَّا تَلَقَّوْهُ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةِ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ دَخَلَ»[5] يعنې يو مسلمان نه دی چې ده لره درې نفره اولادونه مړه شي چې لا بلوغ ته نه وي**

---

(۱) روح المعاني ج۱۴ ص۵۳
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۴
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۴۷۵
(۴) سنن النسائي ج۱ ص۳۵
(۵) سنن ابن ماجه ص۱۱۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رسېدلي مګر دوی به ورسره د جنت د اتو دروازو د پلوه ملاقي شي (ترڅو) په هغې دروازې باندې جنت ته ورداخل شي کومه يې چې زړه غواړي.

مونږ وايو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې د جنت او دوزخ اوه اوه دروازې د اعمالو په اعتبار سره درجه بندي شوي دي، نو څرنګه چې پرته د استحقاقه هيڅوک دوزخ ته نه شي داخلولی نو اتمه درجه هم هلته نشته، اما جنت ته ځيني خلک پرته د استحقاقه د الله ﷻ په فضل باندې ورداخلېږي نو د هغوی دپاره اتمه دروازه هم هلته درولې شوې ده، والله ﷻ اعلم.

﴿ إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ ﴿٤٥﴾ ٱدۡخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ ءَامِنِينَ ﴿٤٦﴾ وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلٍّ إِخۡوَٰنًا عَلَىٰ سُرُرٖ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴿٤٧﴾ لَا يَمَسُّهُمۡ فِيهَا نَصَبٞ وَمَا هُم مِّنۡهَا بِمُخۡرَجِينَ ﴿٤٨﴾ ۞نَبِّئۡ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ ٱلۡعَذَابُ ٱلۡأَلِيمُ ﴿٥٠﴾ وَنَبِّئۡهُمۡ عَن ضَيۡفِ إِبۡرَٰهِيمَ ﴿٥١﴾ إِذۡ دَخَلُواْ عَلَيۡهِ فَقَالُواْ سَلَٰمٗا قَالَ إِنَّا مِنكُمۡ وَجِلُونَ ﴿٥٢﴾ قَالُواْ لَا تَوۡجَلۡ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ عَلِيمٖ ﴿٥٣﴾ قَالَ أَبَشَّرۡتُمُونِي عَلَىٰٓ أَن مَّسَّنِيَ ٱلۡكِبَرُ فَبِمَ تُبَشِّرُونَ ﴿٥٤﴾ قَالُواْ بَشَّرۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡقَٰنِطِينَ ﴿٥٥﴾ قَالَ وَمَن يَقۡنَطُ مِن رَّحۡمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا ٱلضَّآلُّونَ ﴿٥٦﴾ قَالَ فَمَا خَطۡبُكُمۡ أَيُّهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٥٧﴾ قَالُوٓاْ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمٖ مُّجۡرِمِينَ ﴿٥٨﴾ إِلَّآ ءَالَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٥٩﴾ إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ قَدَّرۡنَآ إِنَّهَا لَمِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ﴿٦٠﴾ ﴾

[۴۵] يقينًا متقيان (چې دي دوی) په جنتونو او (ځلورو دولو) چينو کښې دي

[۴۶] (دوی ته به وويلی شي چې) جنتونو ته د سلامتيا سره (او د هرآفت څخه) د امن په حال کښې ورننوځئ.

[۴۷] او مونږ به د جنتيانو د زړونو څخه هغه شی وباسو کوم (چې به دنيا کښې د دوی به زړونو کښې وه) چې د کينې (او عداوت) څخه عبارت دی.

په داسې حال کښې (جنتونو ته ورننوځي) چې (ټول سره يو تربله خواږه) ورونه ياست (او ټول) په تختونو باندې (ناست) ياست (او چې ټول) يو د بل مخ ته کتوونکي ياست

[۴۸] جنتيانو ته به په جنت کښې ستوماني نه رسېږي او (هم) دوی به د جنت څخه نه وي ويستلی شوي (هلته به همېشه وي).

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۹] (ای پیغمبره!) زما بندګانو ته خبر ورکړه چې یقینًا زه همدا زه بښونکی (او) مهربان یم

[۵۰] او (په دې باندې هم خبر ورکړه چې) یقینًا زما عذاب همدا زما عذاب دردناک عذاب دی (خانونه ترې وساتئ).

[۵۱] او (ای پیغمبره!) زما بندګان د ابراهیم ﷺ په میلمنو باندې (هم) خبر کړه (چې څه حال یې درلود).

[۵۲] هغه وخت چې کله دوی په ابراهیم ﷺ باندې ورننوتل (ورغله) نو دوی وویلې چې (په تا باندې دې سلام وي) سلام.

ابراهیم ﷺ (د وعلیکم السلام څخه وروسته) وویلې چې: یقینًا مونږ ستاسو څخه ډارېدونکي یاستو (چې د خوسکې وریت کړی شوي غوښې ته یو هم لاس نه ورغزوئ).

[۵۳] پرښتو وویلې چې: ډارېږه مه (مونږ پرښتې یاستو او) یقینًا مونږ تاته په ښه پوه هلک (اسحق) باندې زېری درکوو.

[۵۴] ابراهیم ﷺ وویلې چې: ایا تاسو ماته په داسې حال کښې (په هلک سره) زیری راکوئ چې ماته بوډاتوب رسېدلی دی، نو (تاسو ښه فکر وکړئ چې) ماته په څه شي باندې زېری راکوئ؟ (دا څومره تعجبي زیری دی؟!).

[۵۵] پرښتو وویلې چې مونږ تاته په حقه زېری درکوو (چې دا کار د الله ﷻ قدرت ته څه تعجبي شی نه دی) نو ته د نااُمیدانو څخه مه کېږه (چې د خارق العاده کارونو څخه غافل وي).

[۵۶] ابراهیم ﷺ وویلې چې: هغه څوک دي چې د خپل رب ﷻ د رحمت څخه نااُمید شي (دا نه دي) مګر ګمراهان دي.

[۵۷] (بیا) ابراهیم ﷺ وویلې چې: نو ستاسو ډېر مهم کار (د بشارت څخه په غیر) څه شی دی ای رالېږلو شوو؟

[۵۸] پرښتو وویلې چې: یقینًا مونږ (د لوط ﷺ) د جنایتکار قوم دپاره استولي شوي یاستو (چې هلاک یې کړو).

[۵۹] مګر د لوط ﷺ کهول (ټبر)، بې شکه چې مونږ دوی ټولو ته نجات ورکوونکي یاستو.

[۶۰] مګر (د ده کهول څخه یوازې) د ده ماندینه (چې ده) مونږ (د الله ﷻ په هدایت دا خبره) مقرره کړې ده چې یقینًا دا د ببرته پاتې کېدونکو (هلاکېدونکو) څخه ده.

## ارتباطونه

۱ـ د سورت په اول سر کښې د کفارو هغه غوښتنه رد شوې وه کومه چې دوی د پلمې په توګه وړاندې کوله چې د نبي کریم ﷺ د تصدیق دپاره دې د اسمان څخه پرښتې رالښکته شي. په دې ایتونو کښې د خینو اړوندو مضامینو د بیان څخه وروسته یو خل بیا د همغې غوښتنې رد ته د کلام مخ وراړولی شوی دی چې د الله ﷻ دا عادت نه دی چې د پیغمبرانو علیهم السلام د تصدیق دپاره

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پرښتې راښکته کړي، بلکې پرښتې د نورو کارونو دپاره راښکته کوي لکه چې ابراهیم ﷺ ته یې بشارت ور وړ او د لوط ﷺ په قوم باندې یې مهلک عذاب ورنازل کړ.

۲ـ وراندې د ابلیس سوګند ته اشاره شوې وه چې زه به د خاصو کسانو څخه په غیر نور ټول خلک بې لارې کړم، او دلته د الله ﷻ بې انتها، مغفرت ته اشاره شوې ده چې د عنادیانو څخه په غیر به نورو ګنهګارانو ته مغفرت وکړي البته کله یې چې اراده وشي.

۳ـ بالآخره: هغه ایتونه د ګمراهانو د حالاتو په بیان باندې ختم شوي وه او بالمقابل دا ایتونه د متقیانو د حالاتو په بیان باندې پیل شوي دي چې حاصل یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! اوس د ګمراهانو د حال په مقابل کښې په خپل امت باندې د متقیانو اخروي حال په لاندې ټکو کښې بیان کړه:

۱ـ لکه څنګه چې د کفارو دپاره دوزخ تیار کړی شوی دی همدارنګه د مؤمنانو دپاره ـچې د کفر څخه یې پرهیز کړی دیـ جنتونه تیار کړی شوي دي چې:

الف: دوی به برسېره په جنتونو باندې په څلورو ډولونو چینو کښې اوسېږي، چې خالص اوبه، شوده، شات او شراب به د چینو په توګه بهېږي چې نه به یې رانیولو کښې څه تکلیف وي او نه به پکښې څه خبری او بدبویي موجودیت لري.

ب: دوی ته به ویل کېږي چې جنت ته به سلامتیا سره ننوځئ چې د هره طرفه به دربانډې سلامونه اچول کېږي او هم به تبریکۍ درکولی کېږي، او په دې باندې علاوه د هر آفت او مصیبت او هم د مرګ او مرضونو څخه به په امن کښې یاست.

ج: ای پیغمبره! مونږ به د جنتیانو د زړونو څخه هغه شکررنجي وباسو کومه به چې په دنیا کښې د دوی په زړونو کښې پېښېدله او یو به بل ته لږ څه په غُصه وه، دا د دې دپاره چې دوی هلته غمژن نه شي او د جنت د نعمتونو څخه ښه استفاده وکړي.

د: نو په همدې بنیاد جنتیان به هلته ټول لکه خواره ورونه په یوه زړه وي او یو به د بل څخه په هیڅ ډول زړه بدی نه وي، نو ټول به د پاچاهانو غوندې په تختونو باندې ناست وي او یو به د بل مخ ته ګوري او شا به نه وراړوي لکه چې په دنیا کښې دوه زړه بدي کسان یو بل ته شا وراړوي.

هـ: جنتیانو ته به هلته په هیڅ ډول تکلیف او مشقت نه وردمخه کېږي، چې مبوجات به نه راځنډلو ته اړتیا لري او نه به ونو ته د ورختلو حاجت وي.

و: په دې ټولو باندې علاوه دوی به هلته همېشه وي او هیڅکله به ترې ونه شي ویستلی او نه به د ویستلو خطره موجوده وي.

## یو مهم اعلان

۲ـ ای پیمغبره! زما بندګانو ته هغه ډېر مهم اعلان واوروه کوم چې په لاندې دوه برخو باندې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مشتمل دي، ترڅو دوی هم په تمه کښې اوسي او هم د خپلو زړونو څخه ډار ونه باسي، که نه نو په یوه صورت کښې به هم د بنې ورځې خاوندان نه شي، اعلان دا دی چې:

الف: زما بندګان خبر کړه چې: یقینًا همدا زه بښونکی او مهربان یم، که هرڅومره څوک په کفر کښې سابقه ولري خو چې توبه تائب شي نو هیڅکله به په وړاندېنیو کفریاتو باندې ونه نیولی شي، دوی باید په عجله سره د اعلان د دې برخې څخه استفاده وکړي او په کفریاتو باندې پښېمانه شي.

ب: دوی په دې باندې خبر کړه چې: یقینًا زما عذاب همدا زما عذاب ډېر دردناک عذاب دی، دوی ته په کار دي چې خپل خانونه تري بچ کړي او خپله پښېماني آخرت ته وروسته نه کړي چې هلته به دوی ته هیڅ ګټه ونه کړي، بلکې په دوی باندې لازمه ده چې د خپل پلار آدم ﷺ په قدم باندې قدم کېږدي او د شیطان د پیروۍ څخه لاس واخلي.

## د ابراهیم ﷺ څه حالات

۳_ ای پیغمبره! په خپل امت باندې عمومًا او په قریشو باندې خصوصًا د ابراهیم ﷺ د هغو مېلمنو سوال جواب هم بیان کړه کوم چې اصلاً پرښتې وې خو د مېلمنو په څېرو کښې ورسره ملاقي شوې وې، هغه دا چې:

الف: کله چې پرښتې ابراهیم ﷺ ته د مېلمنو په شکل کښې ورغلې نو د هرڅه څخه وړاندې یې وړباندې سلام واچاوه چې: السلام علیکم.

ب: ابراهیم ﷺ د "وعلیکم السلام" د ویلو څخه وروسته په دې بندوبس کښې شو چې خپلو ناآشنا مېلمنو ته څه خوراک او څښاک تهیه کړي.

ج: نو په عجله سره یې د دوی مخې ته د وریت کړی شوي خوسکي مزه ناکه غوښه وړاندې کړه او ویې ویل چې بسم الله کړئ د دغه خوراک څخه استفاده وکړئ.

د: څرنګه چې خوراک ته یوې پرښتې هم لاس وړاندې نه کړ نو د ابراهیم ﷺ سره تشویش پېښ شو چې دا عجیبه مېلمانه دي چې خوراک ته لاس نه وړاندې کوي، ایا دوی په مونږ باندې په غصه دي؟ ایا د دوی په خدمت کښې مونږ څه کمی وکړ؟ ایا په مونږ باندې بدګوماني کوي چې مونږ به ورته په خوراک کښې څه زهریات اچولي وي؟

دا هله که دوی انسانان وي، او که دا پرښتې وي نو په داسې بې سابقې راتګ کښې به څه مطلب مرموز وي؟ ایا الله ﷻ به زمونږ د امتحان دپاره دا ډول نزول غوره کړی وي او که بل څه حکمت به پکښې د نظر لاندې نیولی شوی وي؟

هـ: نو د همدغو تشویشونو د کبله ابراهیم ﷺ د خپل زړه حالت پرښتو ته څرګند کړ چې: یقینًا مونږ ستاسو څخه په ډار کښې یاستو چې تاسو په خلاف العاده توګه خوراک ته لاسونه وړاندې نه کړه.

و: پرښتو جواب ورکړ چې تشویش مه کوه مونږ پرښتې یاستو، انسانان نه یاستو چې خوراک څښاک وکړو، او د دې دپاره را استولی شوي یو چې تاته په یوه هلک باندې زیری درکړو چې د بنې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بوهم، خاوند به وي او شوده بوده به نه وي چې ستا خلافت ونه شي کړی، او نوم به يې اسحق وي

ز ابراهيم ﷺ تعجب وکړ چې ایا تاسو ماته د بوډاتوب په حال کښې زیری راکوئ؟ تاسو ښه فکر وکړئ چې ایا خبره همداسې ده؟ ایا تاسو ته دا عادت معلوم دی چې بوډاګان اولادونه نه شي زیږولی؟ نو ایا ستاسو زیری داسې نه دی لکه چې هیڅ زیری نه وي؟

ح پرښتو جواب ورکړ چې مونږ تاته په حقه زیری درکوو چې په واقعیت باندې ولاړ دی نو ته د ناأمیدانو د ډلې څخه مه کیږه، دا کار خارق العاده کار دی.

ط ابراهیم ﷺ وویلې چې د زیري څخه ما تعجب د دې کبله نه دی کړی چې زه د خپل رب ﷻ د رحمت څخه ناأمید یم، د ده ﷻ څخه خو ګمراهان او جاهلان ناأمیده کیږي. دا کار خو د ګمراهانو او جاهلانو دی، بلکې د لاندې وجوهو د کبله مې پکښې تحقیق وکړ:

اول: ترڅو ماته څرګنده شي چې د هوښیار هلک د تولد دپاره به زه بهرته خوان کړی شم او که د همدغه بوډاتوب په حال کښې به د زوی پلار جوړ شم.

دوهم: څرنګه چې دغه زیری ډیر لذیذ او خوندور وه نو ما وغوښتل چې بحث پکښې اوږد شي او په تکراري توګه یې ستاسو څخه واورم.

ی بیا نو ابراهیم ﷺ پرښتې مخاطبې کړې چې: ای د الله ﷻ د پلوه رالیږلو شوو پرښتو! د زیري راکولو څخه علاوه ستاسو بل عظیم الشان کار څه شی دی چې تاسو د هغه دپاره تشریف راوړی دی؟

یا پرښتو وویلې: کوم مهم کار چې مونږ یې د اجراء کولو دپاره را استولي شوي یاستو هغه دا دی چې:

اول: مونږ غواړو چې ستا د ملاقات څخه وروسته یو مجرم قوم هلاک کړو چې هغه د لوط ﷺ قوم دی، د دوی د هلاکت وخت رانژدې شوی دی.

دوهم: مګر ای ابراهیمه! ته غمژن کیږه مه، مونږ پوهېږو چې هلته څوک د هلاکت وړ دي او څوک د نجات، نو مونږ به ډېر ژر لوط ﷺ او د ده نور کهول ته نجات ورکړو چې دوی ته به هیڅ مصیبت ونه رسوو.

دریم: مګر د لوط ﷺ په کور کهول کښې یوازې د ده د ماندینې نوم د هلاکو شوو په لست کښې دی چې مونږ د الله ﷻ په هدایت نوموړې د هلاکېدونکو څخه ګڼلې ده، چې ته هم باید د هغې په هلاکت باندې غمژن نه شې او دا ځکه چې هغه د لوط ﷺ پیروه نه ده بلکې د خپل قوم په تګلارې باندې روانه ده.

## توضیحات

١ـ که څوک وایي چې د «آمنین» کلمه خو د "امن" څخه اشتقاقه شوې ده، نو پوښتنه دا ده چې: جنتیان به د څه شي څخه په امن کښې وي؟

مونږ وایو چې که څه هم علماوو کرامو د ډېرو هغو شیانو نومونه اخستي دي چې جنتیان به ترې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مامون وي لکه د الله ﷻ عذاب، د جنت څخه ويستل، دار او مرضونه؛ مگر مونږ ته يې په عموم سره پرېښودل ښه برېښي ترڅو د غمژن کېدلو ټولو اسبابو ته شامل شي.

مونږ غواړو چې په همدې اړه لاندې يو حديث محترمو لوستونکو ته وړيه زړه کړو، نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِذَا صَارَ أَهْلُ الْجَنَّةِ إِلَى الْجَنَّةِ وَأَهْلُ النَّارِ إِلَى النَّارِ جِيءَ بِالْمَوْتِ حَتَّى يُجْعَلَ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ ثُمَّ يُذْبَحُ ثُمَّ يُنَادِي مُنَادٍ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا مَوْتَ وَيَا أَهْلَ النَّارِ لَا مَوْتَ فَيَزْدَادُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَرَحًا إِلَى فَرَحِهِمْ وَيَزْدَادُ أَهْلُ النَّارِ حُزْنًا إِلَى حُزْنِهِمْ»[1] يعنې کله چې جنتيان جنت ته داخل شي او دوزخيان په دوزخ کښې واچول شي نو مرگ به د جنت او دوزخ ترمنځ راوستلی شي چې دواړو ډلو ته به ښکاربږي، نو هلته به ذبحه کړی شي او بيا به اواز وکړی شي چې: ای جنتيانو! د نن څخه وروسته مرگ نشته، او ای دوزخيانو! د دې کړی څخه وروسته مرگ نشته، نو د جنتيانو په خوشالۍ باندې به نوره خوشالي وراضافه شي او د دوزخيانو په غم باندې به نور غم هم ورزيات شي.

## يادونه

۲ـ د ﴿وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ﴾ غوندې کلمات د [الأعراف:۴۳] ايت کښې وړاندې تېر شوي دي چې مونږ د احاديثو په رڼا کښې د الله ﷻ په توفيق سره ښه تفسير کړي دي، چې بيا تفسيرولو ته يې اړتيا نه کورو. په دې مقام کښې ورباندې دومره اضافه کوو که څوک په همدې موضوع کښې اوږد بحث غواړي نو څيو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[2].

## نصب څه معنی؟

۳ـ په ﴿لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ﴾ کښې د ﴿نَصَبٌ﴾ کلمه د ستومانتيا او مشقت معنی ورکوي[3] يعنې جنتيانو ته به په جنت کښې هيڅ ډول ستوماني نه رسېږي. په يوه اوږده حديث کښې يوه ورځې جبرائيل ؑ نبي کريم ﷺ ته وفرمايل چې: «فَإِذَا هِيَ أَتَتْكَ فَاقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلَامَ مِنْ رَبِّهَا وَمِنِّي وَبَشِّرْهَا بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ مِنْ قَصَبٍ لَا صَخَبَ فِيهِ وَلَا نَصَبَ»[4] يعنې کله چې (ای پيغمبره!) تاته خديجه رضي الله عنها راغله، د خپل رب ﷻ د پلوه او زما د پلوه ورباندې سلام ووايه او هم په جنت کښې هغې ته په داسې کوټې باندې زيرې ورکړه چې د لوېې (عظيم الشاني) ملغلرې څخه به جوړه شوې وي، چې نه به پکښې شور او غوغا وي او نه به پکښې ستوماني او مشقت وي.

## مقبول ايمان د خوف او رجاء ترمنځ دی

۴ـ مونږ د [الأعراف:۵۶] ايت لاندې ليکلي دي ـلله الحمدـ چې ايمان د خوف او رجاء ترمنځ

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۹۶۹

(۲) روح المعاني ج۱۴ ص۵۸؛ تفسير ابن کثير ج۲ ص۵۵۲

(۳) مفردات الراغب ص۵۱۵

(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۵۳۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تحقق مومي، په دې مقام کښې ورباندې لاندې نکات وراضافه کوو چې:

الف په ذکر شوې مطلب باندې دغه دواړه ایتونه هم دلالت کوي چې ﴿ نَبِّئْ عِبَادِىٓ أَنِّىٓ أَنَا ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ۝ وَأَنَّ عَذَابِى هُوَ ٱلْعَذَابُ ٱلْأَلِيمُ ﴾ یعنې زما بندګان خبر کړه چې یقینا زه همدا زه بښونکی او مهربان یم، نو زما څخه خپله رجا (امید) مه پرېکوئ او مه نااُمیده کېږئ، او هم زما عذاب همدا زما عذاب ډېر دردناک دی، نو زما څخه مه په امن کښې کېږئ چې بالکل راڅخه ونه دار شئ.

نو د مقبول ایمان دپاره خوف او رجاء د دوه وو وزرونو مثال لري، لکه څنګه چې الوتونکی مرغه په یوه وزره باندې الوتنه نه شي کولی همدارنګه په یوازې خوف او یا یوازې رجاء باندې ایمان هم د قبول درجې ته نه شي پورته کېدلی.

ب: همدې مطلب ته د ابراهیم علیه السلام خبره اشاره کوي چې الله ﷻ مونږ ته راحکایت کړې ده چې: ﴿ وَمَن يَقْنَطُ مِن رَّحْمَةِ رَبِّهِۦٓ إِلَّا ٱلضَّآلُّونَ ﴾ یعنې د خپل رب ﷻ د رحمت څخه نه نااُمیده کېږي مګر ګمراهان، همدارنګه د خپل رب ﷻ د عذاب څخه نه په امن کښې کېږي مګر هغه کسان چې سمه لاره یې ورکه کړې وي.

ج: په دې مقام کښې الله ﷻ د خپل رحمت او د خپل عذاب دوه وو مثالونو ته هم اشاره کړې چې:

اول: کومې پرښتې چې ابراهیم علیه السلام ته ورغلې وې هغوی د ده دپاره الهي رحمت راوړی وه چې د زوی بشارت او زیری یې ورکړ، خو په عین حال کښې د لوط علیه السلام د قوم دپاره یې دردناک عذاب رانښکته کړی وه چې هغوی پرې پوپنا شوه.

دوهم: همدغه پرښتې که څه هم د لوط علیه السلام د ماندینې دپاره د مجرمانو په ضمن کښې د هلاکت سبب شوې خو خپله د لوط علیه السلام او د ده د متباقي کورنۍ دپاره د نجات سبب وګرځېدې.

د: د ذکرو شوو دواړو ایتونو په شان نزول کښې ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ د صحابه وو کرامو رضي الله عنهم په یوه ټولګي باندې تېرېده چې هغوی خندل، نو ورته ویې فرمایل چې: «أُذْكُرُوا الْجَنَّةَ وَاذْكُرُوا النَّارَ»[1] جنت یاد کړئ او دوزخ یاد کړئ، یعنې د نبي کریم ﷺ د خبرې د تصدیق دپاره ذکر شوي دواړه ایتونه نازل شوه.

هـ: همدارنګه نبي کریم ﷺ د ذکر شوي مطلب په تفسیر کښې فرمایلي دي چې: «لَوْ يَعْلَمُ الْمُؤْمِنُ مَا عِنْدَ اللهِ مِنَ الْعُقُوبَةِ مَا طَمِعَ فِي الْجَنَّةِ أَحَدٌ وَلَوْ يَعْلَمُ الْكَافِرُ مَا عِنْدَ اللهِ مِنَ الرَّحْمَةِ مَا قَنَطَ مِنَ الْجَنَّةِ أَحَدٌ»[2] یعنې که چرته ایماندار په هغه شي باندې پوهیدلی کوم چې د الله ﷻ په نزد باندې د عذاب څخه دي نو (د دوی څخه به) په جنت کښې هیڅا تمه (امید) نه وی کړی، او که چرته د کفري عقیدې خاوند په هغې شي باندې پوهېدلی کوم چې د الله ﷻ په نزد باندې د رحمت څخه دي نو (د دوی څخه به) هیڅا د جنت څخه خپله تمه نه وی پرې کړې.

(١) الدر المنثور ج٥ ص٨٦؛ تفسیر ابن کثیر ج١ ص٥٥٣
(٢) مسند احمد بن حنبل ج٣ ص٢٣٢

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و به همدې مطلب کښې که څوک زیات معلومات حاصلول غواړي نو د عقایدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۱].

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې په ﴿ قال فما خطبكم ﴾ کښې د "خطب" کلمه ـلکه "ضرب"ـ د هغه عظیم الشان کار دپاره وضعه شوې ده کوم چې ډېرو خبرو او ډېر بحث ته ضرورت لري[۲]. نو پوښتنه دا ده چې: ابراهیم ﷺ څنګه پوه شو چې د پرښتو سره د بشارت څخه په غیر بل مهم کار شته دی نو پوښتنه یې ترې وکړه چې هغه څه کار دی؟

مونږ وايو چې: ځینو علماوو کرامو خو د ذکرې شوې پوښتنې دپاره ډېرې وجهې لیکلې دي[۳] مګر مونږ ته بهتره برېښي چې ابراهیم ﷺ به د پرښتو د هغو خبرو اترو څخه معلومه کړې وي کومې چې الله ﷻ مونږ ته نه دي راحکایت کړي چې پرښتې بل څه مطلب هم لري. مونږ څکه همدا وجه غوره کړه چې په همدې باندې پخپله ایتونو کښې لاندې دلایل شته دي:

الف [۵٦ـ ۵۷] دواړه ایتونه د ابراهیم ﷺ د مبارکې خولې څخه راحکایت شوي دي او دواړه په ﴿ قال ، قال ﴾ باندې پیل شوي دي، که بالفرض په دې منځکښې پرښتو څه خبرې نه وی کړې او د هغه خبره یې نه وی قطعه کړې نو په دوهم ایت کښې به ﴿ قال ﴾ کلمه تکراراً نه وی نازله شوې.

ب ﴿ فما خطبكم ﴾ کښې د "ف" توری غوښتنه کوي چې وړاندې دې یو کلام موجود وي چې دا په هغه باندې تفریع شي، نو غالبه دا ده چې هغه به د پرښتو کلام وي چې په حکایت کښې نه دی رانازل شوی.

﴿ فَلَمَّا جَآءَ ءَالَ لُوطٍ ٱلْمُرْسَلُونَ ﴿٦١﴾ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ مُّنكَرُونَ ﴿٦٢﴾ قَالُواْ بَلْ جِئْنَٰكَ
بِمَا كَانُواْ فِيهِ يَمْتَرُونَ ﴿٦٣﴾ وَأَتَيْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٦٤﴾ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ
بِقِطْعٍ مِّنَ ٱلَّيْلِ وَٱتَّبِعْ أَدْبَٰرَهُمْ وَلَا يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ وَٱمْضُواْ حَيْثُ تُؤْمَرُونَ ﴿٦٥﴾
وَقَضَيْنَآ إِلَيْهِ ذَٰلِكَ ٱلْأَمْرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقْطُوعٌ مُّصْبِحِينَ ﴿٦٦﴾ وَجَآءَ أَهْلُ ٱلْمَدِينَةِ
يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٦٧﴾ قَالَ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ ضَيْفِى فَلَا تَفْضَحُونِ ﴿٦٨﴾ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ ﴿٦٩﴾
قَالُوٓاْ أَوَلَمْ نَنْهَكَ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٧٠﴾ قَالَ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِىٓ إِن كُنتُمْ فَٰعِلِينَ ﴿٧١﴾ لَعَمْرُكَ

---

(۱) شرح العقیدة الطحاویة ص ۳۳۰
(۲) مفردات الراغب ص ۱۵۲
(۳) تفسیر بیضاوي في هذا المقام

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ (٧٢) فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ (٧٣) فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ (٧٤) إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ (٧٥) وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ (٧٦) إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّلْمُؤْمِنِينَ (٧٧) ﴾

[۶۱] نو کله چې د لوط ﷺ تبر ته ورلیږلي شوي (ملائک) ورغله

[۶۲] نو لوط ﷺ (دوی ته) وویلې چې یقینا تاسو ناآشنا (ناپیژاندل شوي) قوم یاست.

[۶۳] پرښتو وویلې چې (مونږ انسانان نه یاستو) بلکې (پرښتې یاستو چې) تاته مو هغه شی راوړی دی په کوم کښې چې (دغه فاجران) شک کوي (چې د الهي عذاب څخه عبارت دی)

[۶۴] او مونږ تاته (عذاب) په حقه راوړی دی او یقینا مونږ رښتیني یاستو

[۶۵] نو خپل کهول دې (د نجات دپاره) د شپې څخه په یوه برخه کښې بوځه (روان کړه)، او پخپله د دوی وروسته روان اوسه (دوی تعقیب کړه) او هم ستاسو څخه دې یو کس هم بیرته نه ګوري او تاسو هغه خای ته لاړ شئ په کوم باندې چې تاسو ته امر درکړی شوی دی (چې د شام منطقه ده)

[۶۶] او (ای پیغمبره!) مونږ لوط ﷺ ته دغه کار (فیصله) وحې کړ چې یقینا د دغو (فاجرانو) بیخ په داسې حال کښې بربکړی شوی دی چې په سهار (سبا) کښې داخلېدونکي وي

[۶۷] او (ای پیغمبره!) د دوی د هلاکت نقشه داسې پیل شوه چې) د ټول ښار اوسېدونکي (د لوط ﷺ کورته) په داسې حال کښې ورغله چې (میلمنو نه) یې خوشالي کوله

[۶۸] لوط ﷺ وویلې چې یقینا دغه (ډله) زما میلمانه دي نو ما مه شرموئ (مه رسوا کوئ).

[۶۹] او (په دې قصد کښې) د الله ﷻ څخه ودار شئ او ما مه خجالت کوئ (مه بې عزته کوئ)

[۷۰] دوی (خلکو) وویلې چې ایا ته مونږ د عالمونو څخه نه وې منعه کړی (چې هیڅ مسافر ته په خپل کور کښې ځای مه ورکوه)

[۷۱] لوط ﷺ وویلې چې دغه (ستاسو میرمنې) زما لورګانې دي که تاسو (د دې کار) کوونکي یاست (نو همدوی ته مراجعه وکړی).

[۷۲] (ای پیغمبره!) ضرور ستا په عمر (ژوند) مې دې سوګند وي چې یقینًا د لوط ﷺ قوم (د شهوت) په بې هوشی کښې سرګردانه ګرځېده (لاس یې ترې نه اخست)

[۷۳] نو دوی لره په داسې حال کښې (هیبتناکې) چیغې ونیوه چې په لمرخاته کښې داخلېدونکي وه (په همدې وخت کښې یې د هلاکت نقشه انجام شوه).

[۷۴] نو مونږ د (دغه) ښار پاسنی حصې لاندېنی حصې وګرځولې (سرچپه مو کړه) او په دوی باندې مو ډبرې ووروَلې چې د ترټکانو څخه عبارت وې.

[۷۵] یقینًا په دغه (هلاکت) کښې د فراست د خاوندانو دپاره (ډیرې) نښې دي

[۷۶] او یقینًا دا (ښارونه) په دائمي لاره کښې دي (چې همېشه پرې خلک تګ راتګ کوي).

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷۷] یقینًا په دغه (بیان) کښې د مؤمنانو دپاره (لویه) نښه ده (چې عبرت ترې واخلي).

## د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د لوط ﷺ او د ده د قوم قیصې ته اشاره شوې ده او په دې ایتونو کښې وړاندې څه زیاته رڼا اچولې شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! کله چې د ابراهیم ﷺ څخه ور استولې شوې پرښتې رخصت شوې او د لوط ﷺ تبر ته ورغلې نو هلته لاندې خبرو او کیفیاتو صورت ونیوه:

۱ـ لکه څنګه چې ابراهیم ﷺ ته ذکرې شوې پرښتې د انسانانو په څېرو کښې ورغلې وې او په ابتدایي مرحله کښې یې نه وې پېژاندلې، همدارنګه لوط ﷺ هم په اول ملاقات کښې ونه پېژاندلې ترڅو چې هغوی ته یې وویلې چې: تاسو خو ناآشنا قوم یاست، چې مونږ مو نه پېژنو، او تاسو هم نابلده یاست د دې خلکو عادت درته معلوم نه دی، که نه نو تاسو به دلته نه وی راغلي.

۲ـ پرښتو خانونه ورمعرفي کړه چې: مونږ پرښتې یاستو، دا خلک نه شي کولی چې مونږ ته څه ضرر ورسوي بلکې مونږ به د دوی بېخ او بنیاد وباسو او ټول به پوپنا کړو، او دا خکه چې مونږ د خپلو خانونو سره هغه عذاب راوړی دی په کوم کښې چې دوی په مستمره توګه شک کاوه او ستا په خوله باندې یې یقین نه درلود.

۳ـ ای لوطه! کوم شی چې مونږ وایو هغه حقیقت دی چې مونږ تاته هغه شی راوړی دی کوم چې واقعیت لري او یقینًا مونږ رښتیا ویونکي یاستو (زمونږ په خبره کښې کوزو پاس نشته).

۴ـ نو څرنګه چې د عذاب وخت په توندۍ سره را روان دی نو تاته په کار دي چې لاندې هدایات عملي کړې:

الف: ته خپل ټول کور کهول د شپې په تیاره کښې د دې ښار څخه وباسه، بلکې د سپېده داغ څخه وړاندې تاسو دا ښار پرېږدئ.

ب: د وتلو په وخت کښې خپل ټول متعلقین په مخکښې کړه او ته د دوی په آخر کښې د سایق په توګه حرکت وکړه، چې د خپل فامیل یو فرد هم درڅخه پاتې نه شي.

ج: ستاسو څخه دې یو کس هم بېرته نه ګوري او په عجله سره دې مزل کوي او نه دې په دغه فاجر قوم باندې زړه سوی کوي چې د معلوماتو دپاره ورپسې مخ ورواړوي.

د: په همدغه ذکر شوي کیفیت سره ټول هغه وطن ته هجرت وکړئ او هلته ور روان شئ کوم چې تاسو ته ښودل شوی دی، چې د شام خاوره ده.

۵ـ ای پیغمبره! مونږ لوط ﷺ ته خپله فیصله وحي کړې وه چې د دغو فاجرانو بېخ د سبا په وخت کښې پرې کړی شوی دی او دوی به سهار مهال د هلاکت سره مخامخ شي او ټول به پوپنا کړی شي.

۶ـ دا وه د لوط ﷺ او د ده د قوم د انجام څه حالات چې په تاباندې قرائت شوه، او د دوی د ابتدایي حالاتو څخه لاندې ټکي قرائت کړه چې:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف کله چې پرښتې لوط ﷺ ته د ښائسته هلکانو په څېرو کښې ورغلې نو د ټول ښار خلک په ډېره بې شرمانه توګه د هغه ﷺ کور ته وروخغلېده او د ډېرې خوشالۍ په حال کښې یې ترې غوښتنه وکړه چې هله ژرشه خپل مېلمانه مونږ ته راوسپاره، ته خو پوهېږې چې مونږ څه غواړو او د څه دپاره په خغاسته راغلي یاستو؟

ب: لوط ﷺ ډېر غمژن شو او په ډېره خواشینۍ سره یې هغوی مخاطب کړه چې دغه خو زما مېلمانه دي، د دغې مطالبې څخه تېر شئ او دا ځکه چې:

اول: د دغو مېلمنو په درسپارلو کښې زما رسوایي ده، ما مه رسوا کوئ چې د نورو ښارونو خلک هم درباندې خبر شي چې تاسو زما په رسواکولو باندې ډېل نه یاست.

دوهم: د الله ﷻ څخه وډار شئ او ما خپلو مېلمنو ته مه خجالت کوئ چې زه د دوی آبرو او حرمت ونه شم ساتلی.

ج: فاجر قوم لوط ﷺ ته جواب ورکړه چې: مونږ خو تا نه رسوا کوو او نه دې خجالت کوو خو ته پخپله خپل خان هم رسوا کوې او هم یې د خجالت سره مخامخ کوې، که نه نو تا دغو مېلمنو ته ولې د شپې خای ورکاوه؟ ایا مونږ ته نه وې منعه کړې چې هیڅکله به د ټولې دنیا مسافرو او نااَشنا خلکو ته خای نه ورکوې، که بالفرض تا زمونږ دغه نصیحت منلی وی او دغه هلکان دې نه وی مېلمانه کړي نو نه به رسوا شوی وی او نه به خجالت شوی وی.

د: لوط ﷺ فاجر قوم ته یو بل مانع وړاندې کړ چې: دغه کار غیر انساني کار دی، د دې څخه تېر شئ، دغه دي (ستاسو مېرمني) زما لورګانې دي او ستاسو په کورونو کښې ناستې دې نو که تاسو ضرور د خپل شهوت د غوښتنې پوره کونکي یاست نو خپلو خپلو کورونو ته مراجعه وکړئ او د دغې مطالبې څخه تېر شئ.

٧ـ ای پیغمبره! ستا په مبارک عمر مې دې سوګند وي چې: یقینًا د لوط ﷺ قوم د شهوت رانۍ په نېشو کښې مست وه او هېڅ یوه نصیحت ته یې غوږ نه نیوه. نو ځکه یې د خپل پیغمبر یوه خبره هم ونه منله او د خپل مطلب د لاس ته راوړلو دپاره یې هر طرف ته تاند واهه، تا به ویل چې لیونیان دي او لاره ترې ورکه ده (سرګردانه منډې وهي).

٨ـ نو د لوط ﷺ فاجر قوم د لمرخاته په وخت کښې یوې هیبتناکې چیغې ونیوه او ټول هلاک او پوپنا شوه.

٩ـ په دې باندې علاوه مونږ د دوی ښار سرچپه کړ، چې اوچتې برخې یې ښکته شوې او ښکته برخې یې برسېره وګرځېدلې، او هم مو ورباندې د زیات توهین دپاره د قرتکانو باران وکړ.

١٠ـ ای پیغمبره! په ذکر شوي بیاناتو کښې د فراست او زیرکۍ د خاوندانو دپاره زمونږ د قدرت ډېرې لویې نښې او علامات نغښتې دي، نو دوی کولی چې عبرت ترې واخلي او په الهي ارشاداتو باندې سترګې پټې نه کړي.

١١ـ همدارنګه د لوط ﷺ د قوم کنډوالې ښارونه د هغې جارې لارې په سر باندې پراته دي

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کومه چې د مکې معظمې څخه شام ته غزېدلې ده او په دائمي توګه پرې خلک خې راخې.

۱۲_ ای پیغمبره! په یقیني توګه د دوی په کنډواله ښارونو کښې هم د عبرت لوی لوی درسونه پټ دي چې هر سترګور بې لیدلی شي، خو هغه کسان به ترې پند اخلي څوک چې ایمان او پخه عقیده د زړلودونکي وي، او نور خلک به وربانديې محض د ننداره‌چیانو په شکل تېرېږي او بس.

لنډه دا چې د لوط ﷺ د قوم د حالاتو په بیان کښې د بصیرت د خاوندانو دپاره، او د کنډواله ښارونو په لیدلو کښې د بصر (سترګو) خاوندانو دپاره د عبرت درسونه شته دي، نو په کار دي چې په ذکرو شوو ایتونو باندې د بصیرت خاوندان او په ذکرو شوو ښارونو باندې د بصر خاوندان پند واخلي او پرې زانده او کاڼه تېر نه شي.

## توضیحات

۱_ د لوط ﷺ او د ده قوم بشپړه او مرتبه قیصه د هود په سورت کښې د ابراهیم ﷺ د قیصې په تعقیب باندې ذکره شوې ده، په دې مقام کښې د قیصې خینو مهمو ټکو ته اشاره شوې ده او د وقوعي ترتیب مراعات یې په نظر کښې نه دی نیولی شوی، نو که څوک یې د مرتبو لوستلو شوق لري هیله ده چې هلته مراجعه وکړي او د [هود:۷۷] ایت څخه نیولې اوه ایتونه د دې کتاب (عزیز التفاسیر) په تفسیرونو کښې قرائت کړي.

## لوط ﷺ کوم وطن ته په ورتللو. مامور شوی وه؟

۲_ د ﴿ وَٱمۡضُواْ حَيۡثُ تُؤۡمَرُونَ ﴾ په تفسیر کښې مفسرینو کرامو متعدد اقوال لیکلي دي[۱] چې هغه کوم وطن وه چې لوط ﷺ هلته په ورتللو باندې مامور شوی وه، مګر عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ذکر شوی وطن د شام منطقه ښودلې ده[۲] چرته چې ابراهیم ﷺ اوسېده او د کوم ځای څخه چې لوط ﷺ د مجرمانو د دعوت دنده (وظیفه) اخستې وه.

نو په دې تقدیر یې د معنی حاصل بې داسې راخېژي چې: ای لوطه! تا خپله دنده او خپله فریضه په ډېره ښه وجه ترسره کړه، نو اوس ېېرته همغه ځای ته ورستون شه د کوم ځای څخه چې ته راغلی وې، یا په بل عبارت: بېرته د خپل تره (ابراهیم ﷺ) څنګ ته ورشه.

## د خِزْيٌ او خَزَايَة ترمنځ فرق

۳_ د ﴿ وَلَا تُخۡزُونِ ﴾ په جمله کښې د ﴿ تُخۡزُونِ ﴾ کلمه د اشتقاق په اعتبار سره لاندې دوه احتماله لري:

الف: چې د "خِزْيٌ" _لکه "عِلْمٌ"_ څخه اشتقاقه وګڼله شي چې د ذلت معنی ورکوي[۳] یعنې: ای قومه! د مېلمنو په بې عزتی باندې ما مه سپکوئ او په ذلت کښې مې مه واقع کوئ.

---

(۱) روح المعاني ج۱۴ ص۶۹
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۵۴
(۳) البحر المحیط ج۶ ص۴۸۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: چي د "خَزَايَة" _لکه "شَرَافَة"_ څخه مشتقه وګڼله شي چې د حياء او شرم معنى ورکوي[۱]
يعني: ای قومه! د الله ﷻ څخه وډار شئ او ما مه خجالت کوئ چې د خلکو سره د حياء او شرم د کبله سترګې مخامخې نه کړی شم چې د خپلو مېلمنو د پت په ساتنه کښې پاتې راشم.
په دې مقام کښې دواړه معناوې صحت لري او څه لرې نه ده چې د بدليت په اعتبار سره دواړه مرادې کړی شي.

## يادونې

۴_ د محترمو لوستونکو پام لاندې دوه ټکو ته را اړوو:
الف: مونږ _لله الحمد_ د [هود:۷۹] ايت لاندې ښه تحقيق کړی دی چې لوط ﷺ د ﴿ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِيٓ ﴾ په کلماتو سره د مجرمانو (جنايتکارانو) مېړمنو ته اشاره کړې ده او خپلې لورګانې يې مطلبې نه وې، نو په کار دي چې داطمنان دپاره هلته يوځل مراجعه وکړی شي.
ب: همدارنګه مو د الله ﷻ په توفيق د [هود:۸۲] ايت لاندې د ﴿ سِجِّيلٍ ﴾ کلمه ډېره ښه تحليله کړې ده چې دلته ترې کورتکانې مراد دي، نو بيا تحليلولو ته يې اړتيا نه ګورو.

## د نبي کريم ﷺ په حيات (عمر) باندې سوګند

۵_ د ﴿ لَعَمْرُكَ ﴾ په تفسير کښې علماء کرام په لاندې دوه وو نظرونو باندې ويشلی شوی دی:
الف: اکثره مفسرين کرام[۲] وايي چې: ﴿ لَعَمْرُكَ ﴾ مبتدأ ده او "ک" پکښې نبي کريم ﷺ ته خطاب دی چې خبر يې محذوف دی چې په "قسمي" سره ترې تعبير کوو، يعني: ای پيغمبره! ضرور ستا په ژوند (عمر) مې دې سوګند وي چې د لوط ﷺ قوم د ګمراهۍ په نبشه کښې سرګردانه دی.
نو د دوی پخوانی حال حاضر ګڼلی شوی دی، مونږ ته همدا نظر غوره برېښي چې په لاندې اثارو باندې تائيد شوی دی:
د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما، علي ﷺ او ابو هريره ﷺ درېواړو څخه روايت دی[۳] چې هيڅ نفس الله ﷻ دومره مکرم نه دی پيدا کړی لکه څومره يې چې د نبي کريم ﷺ مبارک نفس مکرم پيدا کړی دی. د همدې کبله يې د همده ﷺ د عمر څخه پرته د بل هيچا په عمر باندې سوګند نه دی ياد کړی.
ب: اما څينې مفسرين کرام وايي[۴] چې: ذکر شوی "ک" لوط ﷺ ته خطاب دی او د پرښتو قول الله ﷻ مونږ ته حکايت کړی دی. يعني پرښتو لوط ﷺ مخاطب کړ چې ستا په عمر دې زمونږ سوګند وي چې دغه قوم د خپل کفري شهوت په درياب کښې غرق دي او په هيڅ صورت باندې ترې وتونکي نه دي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۴۷
(۲) تفسير القرطبي ج۱۰ ص۳۹؛ المحرر الوجيز ج۱۰ ص۱۴۳
(۳) الدر المنثور ج۴ ص۹۰؛ تفسير ابن کثير ج۲ ص۵۵۵؛ تفسير الطبري ج۱۴ ص۴۴
(۴) البحر المحيط ج۶ ص۴۸۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

٦ـ که څوک وايي چې د لوط علیه السلام د قوم په هکله په ذکرو شوو ایتونو کښې د ﴿ مُصْبِحِينَ ﴾، ﴿ مُشْرِقِينَ ﴾ دوه کلمې نازلې شوې دي يعنې په هغوی باندې په داسې حال کښې عذاب ورنازل شو چې هغوی په سبا کښې داخلېدونکي وه او په داسې وخت کښې چې هغوی د لمرخاته په وخت کښې داخلېدونکي وه؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا ذکرې شوې دواړه کلمې سره څه منافات نه لري؟

مونږ وايو چې: څرنګه چې په هغوی باندې د عذاب نزول د سهار څخه پيل شو او په لمرخاته باندې ختم شو، نو په يوه ايت کښې يې ابتداء ته کتلی شوي دي او په بل ايت کښې يې انتهاء (انجام) په نظر کښې نيولی شوی دی، نو د دواړو ايتونو ترمنځ څه منافات نشته.

## د فراست معنی

۷ـ په ﴿ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ﴾ کښې د "مُتَوَسِّمِين" کلمه اصلاً د "وَسْم" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "وَسْم" داغ ته او يا هغه پرهر ته وايي کوم چې د داغولو څخه وروسته پاتې شي.

جابر رضی الله عنه وايي چې: «نَهَانَا رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ الْوَسْمِ فِي الْوَجْهِ وَالضَّرْبِ فِي الْوَجْهِ»[1] يعنې مونږ د الله ﷻ پيغمبر ﷺ په مخ باندې د داغولو او هم په مخ باندې د وهلو څخه منعه کړي ياستو.

اما "تَوَسُّم" دې ته ويل کېږي چې سړی يو شی په نښو او نښانو سره وپېژني[2].

په دې مقام کښې علماوو کرامو ذکره شوې کلمه په متعددو معناوو باندې تفسيره کړې ده لکه عبرت اخستونکي، فکر کوونکي او داسې نور[3]. مګر د يوه حديث شريف څخه څرګندېږي چې نبي کريم ﷺ نوموړې کلمه په فراست درلودونکو باندې تفسيره کړې ده، چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ وفرمايل: «اتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَإِنَّهُ يَنْظُرُ بِنُورِ اللهِ»[4] يعنې: د مؤمن د فراست څخه وډار شئ ځکه چې يقيناً هغه د الله ﷻ په نور باندې ليدل کوي، او بيا يې ذکر شوی ايت شريف قرائت کړ. ته به وايې چې همدا ايت يې تفسير کړی دی.

اما فراست د فکر د اصابت څخه عبارت دی چې سړی په کومه موضوع کښې څه تحليل وکړي نو هغه مطابقت مونده کوي او غلط نه خېژي. فراست په دوه ډوله دی:

الف: يو کسبي فراست دی چې د اوضاعو، حالاتو، علاماتو، اخلاقو او د څه علمي قواعدو او تجربو په رڼا کښې د سړي تحليل نه غلطيږي.

ب: بل غير کسبي فراست دی چې صرف په الهي امداد باندې د سړي خبره رښتيا کېږي، چې په

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۵ ص۶۰
(۲) مفردات الراغب ص۵۶۱
(۳) زاد المسير ج۴ ص۲۹۹
(۴) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شریعت کښې ورته د الهام لقب ورکولی کېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثال ولولئ:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَقَدْ كَانَ فِيْمَنْ قَبْلَكُمْ مِنَ الأُمَمِ نَاسٌ مُحَدَّثُونَ فَإِنْ يَكُ فِي أُمَّتِي أَحَدٌ فَإِنَّهُ عُمَرُ»[1] يعنې يقيناً ستاسو څخه وړاندې په نورو امتونو کښې داسې خلک وه چې تحليل به يې رښتيا کېده، تابه ويل چې د دوی سره خبره کړی شوې ده، نو که زما په امت کښې د دغسې خلکو څخه څوک وي نو هغه به عمر ﷺ وي (عمر ﷺ به يې په لومړي سر کښې واقع وي) چې تحليل او يا خبره يې رښتيا کېږي او واقعيت مونده کوي.

په همدې ارتباط ـإن شاء الله ﷻـ د [الأنبياء: ٧٩] ايت لاندې د سليمان ﷺ په هکله څه نور مثالونه هم راروان دي.

﴿ وَإِن كَانَ أَصْحَٰبُ ٱلْأَيْكَةِ لَظَٰلِمِينَ ﴿٧٨﴾ فَٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٍ مُّبِينٍ ﴿٧٩﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَٰبُ ٱلْحِجْرِ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٨٠﴾ وَءَاتَيْنَٰهُمْ ءَايَٰتِنَا فَكَانُوا۟ عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٨١﴾ وَكَانُوا۟ يَنْحِتُونَ مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا ءَامِنِينَ ﴿٨٢﴾ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّيْحَةُ مُصْبِحِينَ ﴿٨٣﴾ فَمَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿٨٤﴾ ﴾

[٧٨] او يقيناً (ای پيغمبره!) د الأيکة نومې ځای خاوندان هرومرو ظالمان وه.

[٧٩] نو مونږ د دوی څخه انتقام واخست (عذاب مو ورباندې ورنازل کړ).

او بې شکه دا (ښار الأيکة او د شعيب ﷺ د رسالت بل ښار مدين) دواړه په څرګنده لاره باندې (پراته) دي (چې د حجاز څخه شام ته غزېدلې ده او د عبرت اخستلو دپاره دواړه مساعد دي).

[٨٠] او يقيناً د الحجر نومې ځای خاوندانو (اوسېدونکو هم) ټولو پيغمبرانو ته (د صالح ﷺ په شمول) د درغو نسبت وکړ.

[٨١] حال دا چې مونږ هغوی ته (د ناقې په شمول ډېر) معجزات ورکړي وه نو دوی د معجزاتو څخه اعراض کوونکي (انکار کوونکي) وه.

[٨٢] او دوی وه چې د غرونو څخه به يې د اطمنان (او بې غمی) په حال کښې کوټې (ښارونه) تراشل (او غرونه به يې سوري کول).

[٨٣] نو دوی لره (د جبريل امين) يوې (هيبتي) چيغې په داسې حال کښې ونيول چې په سهار کښې داخلېدونکي وه.

[٨٤] نو د دوی څخه هغه شي (زمونږ د عذاب) مخه ونه نيوله شوه کوم شی چې دوی کاوه (نه يې بدني قوت په ګټه تمام شو او نه ورته د غرونو سوري کولو ګټه ورسوله).

---

(١) صحيح البخاري ج١ ص٥٢١

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

د ابراهيم ﷺ او د لوط ﷺ د څه حالاتو د بيان څخه وروسته په دې ايتونو کښې د شعيب ﷺ او د صالح ﷺ د خپلو قومونو سره د حالاتو څه لنډ بيان ته اشاره شوې ده، چې د الله ﷻ لوی رحمت او د ده ﷻ شديد عذاب پکښې دواړه انځور شوي دي.

## د مطلب خلاصه

يعنې ای پيغمبره! اوس په خپل امت باندې د شعيب ﷺ او د صالح ﷺ څه حالات په لاندې ډول قرائت کړه چې عبرت ترې واخلي:

١ـ مونږ شعيب ﷺ د "الأيكة" په نوم يوه ښار ته د پيغمبر په حيث وراستولی وه خو په يقيني توګه د ذکر شوي ښار اوسېدونکي ظالمان وه، چې د يو پلوه يې په خپلو ځانونو باندې ظلم کاوه چې کفر يې اختيار کړی وه او د بلې خوا څخه يې په خلکو باندې هم ظلم کاوه چې په کيل کښې يې کمبود کاوه او په تله کښې يې ډنډۍ وهله، نو مونږ شعيب ﷺ او د ده پيروانو ته نجات ورکړ او په هغوی باندې مو خپل عذاب ورنازل کړ او ټول مو پوپنا کړه.

همدارنګه مونږ د شعيب ﷺ د امتيانو يو بل ښار هم په کنډواله باندې بدل کړه چې مدين نومېده، دوی هم د هغوی غوندې په خپلو ځانونو باندې ظلم کاوه چې په کفر باندې کلک وه او په معاملاتو کښې هم په خلکو باندې ظالمان وه.

دغه دواړه ښارونه په لويه لاره باندې پراته دي چې کنډوالې ځايونه يې هرڅوک په ځرګنده توګه کتلی شي، نو په کار دي چې ستا د امت کافران ترې عبرت واخلي.

٢ـ همدارنګه د "حجر" نومې ځای خلکو ته (چې ثموديان وه) مونږ صالح ﷺ وراستولی وه چې نتيجه يې داسې شوه:

الف: هغوی يوازې صالح ﷺ ته د دروغو نسبت ونه کړ بلکې ټول پيغمبران ﷺ يې دروغژن وګڼل، چې د الله ﷻ د پلوه نه وړاندې کوم پيغمبر په حقه راغلی دی او نه به وروسته راشي.

ب: مونږ ذکرو شوو خلکو ته د معجزانه اوښې په شمول ډېرې معجزې ورکړې وې او د صالح ﷺ په لاس مو ورلېږلي وې.

ج: مګر دوی د ټولو معجزاتو څخه انکار وکړ او مخونه يې ترې واړول.

د: دوی څکه زمونږ د معجزاتو د تاثير لاندې واقع نه شوه چې په دنياوي عيش او عشرت کښې مست وه، او په خپلو دنياوي کارونو باندې مشغول وه.

هـ: د دوی ګومان نه وه چې زمونږ د پلوه به ورباندې څه عذاب ورنازلېږي، د همدې کبله يې د غرونو په داخل کښې ښارونه جوړ کړي وه او په اطمنان سره په سنګ تراشی باندې لګيا وه او کوټې يې ترې جوړولې.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و: مونږ په دوی باندې هم د لوط ﷺ د قوم غوندې په سهار کښې عذاب ورنازل کړ او د یوې هیبتي چیغې سره ټول پوپنا شوه.

ز: که څه هم دوی ډېر قوي قوي خلک وه او په ډېرو کلکو ابادیو کښې یې اوسېدانه کوله مګر کله چې زمونږ عذاب وربانديې ورنازل شو نو یوه شي هم ورته ګټه ونه شوه رسولی او د عذاب مخه یې ترې وانه اړولی شوه.

ح: مګر په عین حال کښې مونږ صالح ﷺ او د ده حقیقي پیروانو ته نجات ورکړ او د عذابونو څخه مو بچ وساتل.

## توضیحات

۱ـ مفسرینو کرامو دا جمله ﴿ وَإِنَّهُمَا لَبِإِمَامٍ مُّبِينٍ ﴾ په لاندې تفسیرونو باندې تفسیره کړې ده:

الف: د "هُمَا" ضمیر د لوط ﷺ د قوم ښارونو او د شعیب ﷺ د قوم ښارونو (الأَيْكَة) ته راجع دی[1] او د "إِمَام" کلمه د لارې معنی ورکوي[2]، یعنې دغه دواړه ډوله هلاک شوي ښارونه په څرګنده لاره باندې یو بل ته نژدې پراته دي[3] هرڅوک چې د حجاز څخه شام ته سفر کوي په همدغو کنډوالو باندې به ضرور تېرېږي.

مګر دا تفسیر مونږ ته خوندور نه برېښي، ځکه چې د لوط ﷺ د قوم کنډواله ښارونو ته یو ځل په وړاندې ایت شریف کښې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ﴾ او یقینًا دغه ښارونه په دائمي (جاري) لاره باندې پراته دي. نو بې ضرورته د تکرار التزام کول ښه کار نه دی.

ب: د "هُمَا" ضمیر ذکرو شوو دواړو پیغمبرانو علیهم السلام ته راجع دی او د "إِمَام" څخه د شریعت لاره مطلب ده، یعنې لوط ﷺ او شعیب ﷺ دواړه د الله ﷻ د پلوه په څرګنده شرعي لاره باندې روان وه خو د دوی قومونو وربانديې ایمان رانه وړ او وربانديې ټپ ړانده شوه.

مګر دا تفسیر هم مونږ ته غیر متبادر برېښي او څه ضرورت نشته چې غیر متبادر تفسیر غوره کړو.

ج: مونږ ته غوره ښکاري چې د "هُمَا" ضمیر به هغو دوه وو ښارونو ته راجع وي کومو ته چې شعیب ﷺ استولی شوی وه، چې یو "الأيكة" نومېده او بل "مَدْيَن"، چې د [هود:۸۴] ایت کښې ورته اشاره شوې ده. په دې مقام کښې که څه هم د مَدْيَن ذکر نشته مګر حکمًا مذکور ګڼلی کېږي چې د اندېوال ښار (الأيكة) ذکر وربانديې دلالت کوي.

نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: هغه هلاک شوي ښارونه کومو ته چې شعیب ﷺ وراستولی شوی وه دواړه د لویې څرګندې لارې په سر باندې پراته دي، نو کوم خلک چې د حجاز څخه شام ته سفر کوي د هغوی دپاره دواړه د عبرت اخستلو ځایونه دي، باید چې عبرت ترې واخلي.

---

(۱) روح المعاني ج۱۴ ص۷۵
(۲) لسان العرب ج۱۲ ص۲۶
(۳) في ظلال القرآن ج۴ ص۲۱۵۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## حِجر د کوم ځای نوم دی؟

٢ـ په ﴿ وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَٰبُ ٱلْحِجْرِ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ کښي د "حِجْرْ" کلمه د هغې منطقې نوم دی په کومه کښې چې ثمودیان (د صالح ﷺ قوم) اوسېده، دا منطقه هم د مدینې منورې څخه د شام په طرف په لویه لاره باندې تبوک ته نارسیده پرته ده[١]؛ کله چې نبي کریم ﷺ د تبوک غزا ته روان وه او ذکرې شوې منطقې ته ورسېد نو خپلو صحابه وو کرامو ﷺ ته یې توصیه وکړه چې: «لَا تَدْخُلُوا مَسَاكِنَ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ أَنْ يُصِيبَكُمْ مَا أَصَابَهُمْ إِلَّا أَنْ تَكُونُوا بَاكِينَ، ثُمَّ قَنَّعَ رَأْسَهُ وَأَسْرَعَ السَّيْرَ حَتَّى أَجَازَ الْوَادِيَ»[٢] یعني تاسو د هغو خلکو مساکنو ته مه ورداخلېږئ کومو چې په خپلو ځانونو باندې ظلم کړی وه، له دې کبله چې تاسو ته به هغه څه ورسېږي چې هغوی ته رسېدلی وه مګر په داسې حال کښې ورداخل شئ چې تاسو ژړېدونکي یاست (او عبرت اخستونکي یاست)، بیا نبي کریم ﷺ په خپل ځادر باندې خپل سر پټ کړ او مزل یې چالاکه کړ ترڅو چې د ذکرې شوې وادي (منطقې) څخه تېر شو.

## سوال جواب

٣ـ که څوک وایي چې د ﴿ وَءَاتَيْنَٰهُمْ ءَايَٰتِنَا ﴾ څخه څرګندېږي چې ثمودیانو ته ډېرې معجزې ورکړې شوې وې، ځکه چې "آیات" د "آیة" جمعه ده، حال دا چې په قرآن کریم کښې خو د هغوی د یوې معجزې ذکر راغلی دی چې د ناقې (اوښې) معجزه ده؟

مونږ وایو چې:

الف: څه لرې نه ده چې هغوی ته نورې معجزې هم ورکړې شوې وي خو په قرآن کریم کښې نه دي ذکرې شوې[٣].

ب: لکه چې یوازې د صالح ﷺ تکذیب د ټولو پیغمبرانو علیهم‌السلام تکذیب ګڼلی شوی دی چې د ﴿ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ کلمه نازله شوې ده، همدارنګه د یوې معجزې تکذیب دې ته متضمن دی چې د ټولو پیغمبرانو معجزات یې تکذیب کړي وي[٤]، ته به وایې چې دوی ویلي وي چې الله ﷻ نه هیڅ پیغمبر رالېږلی دی او نه یې څه معجزه را استولې ده.

ج: کومه معجزه چې صالح ﷺ ته ورکړه شوې وه که څه هم د شمېر په اعتبار سره یوه وه مګر په متعددو معجزاتو باندې مشتمله وه[٥]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: د کلکې ډبرې څخه د اوښې راوتل یوه معجزه وه.

دوهم: بیا دستي د جونګي زېږول یې بله معجزه وه.

---

(١) المحرر الوجیز ج١٠ ص١٤٧
(٢) صحیح البخاري ج٢ ص٦٣٧
(٣) تفسیر ابي السعود ج٥ ص٨٧
(٤) روح المعاني ج١٤ ص٧٦
(٥) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج ص١٦١

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دریم: لویه جثه یې بله معجزه وه چې د ټولو اوښانو څخه غټه وه.
څلورم: د شودو ډېروالی یې بله معجزه وه.
پنځم: په خپل نوبت کښې د ټولو اوبو څښل یې بله معجزه وه او داسې نور.

## یادونه

۴ـ د ثمودیانو د هغه عذاب تفصیل د هود په سورت کښې تېر شوی دی په کوم باندې چې هغوی پوپنا شوه، بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

﴿ وَمَا خَلَقْنَا ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۗ وَإِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَـَٔاتِيَةٌ ۖ فَٱصْفَحِ
ٱلصَّفْحَ ٱلْجَمِيلَ ﴿٨٥﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلْخَلَّـٰقُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٨٦﴾ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَـٰكَ سَبْعًا مِّنَ ٱلْمَثَانِى
وَٱلْقُرْءَانَ ٱلْعَظِيمَ ﴿٨٧﴾ لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ
وَٱخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾ وَقُلْ إِنِّىٓ أَنَا ٱلنَّذِيرُ ٱلْمُبِينُ ﴿٨٩﴾ كَمَآ أَنزَلْنَا عَلَى
ٱلْمُقْتَسِمِينَ ﴿٩٠﴾ ٱلَّذِينَ جَعَلُوا۟ ٱلْقُرْءَانَ عِضِينَ ﴿٩١﴾ فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٩٢﴾ عَمَّا
كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾ فَٱصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٩٤﴾ إِنَّا كَفَيْنَـٰكَ
ٱلْمُسْتَهْزِءِينَ ﴿٩٥﴾ ٱلَّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَـٰهًا ءَاخَرَ ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٩٦﴾ وَلَقَدْ
نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ ﴿٩٧﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ ٱلسَّـٰجِدِينَ ﴿٩٨﴾
وَٱعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ ٱلْيَقِينُ ﴿٩٩﴾ ﴾

[۸۵] او مونږ اسمانونه او ځمکې او هغه شیان چې د دواړو ترمنځ دي نه دي پیدا کړي مګر په حقه سره (او د حکمت مطابق)، او یقینًا د قیامت ورځ هرومرو راتلونکې ده، نو (ای پیغمبره! د کفارو څخه) په ښه مخ اړولو سره مخ واړوه (ناندرۍ ورسره مه وهه او د سپکو سپورو خبرو په مقابل کښې ورته بالمثل جواب مه ورکوه).

[۸۶] یقینًا ستا رب ﷻ همدې ښه پیدا کوونکی (او) د کره علم خاوند دی.

[۸۷] او بې شکه مونږ تاته اوه ایتونه درکړي دي چې (په لمانځه کښې) بیا بیا لوستلی کېږي او (هم مو تاته) لوی قرآن (درکړی دی).

[۸۸] نو هرومرو خپلې دواړه سترګې هغه شي ته مه اوږده وه په کوم شي باندې چې د کفارو د جملې څخه مونږ ځینو ټولګیو ته څه (لنډه او تنګه) ګټه رسولې ده، او (همدارنګه د) دوی (کفارو په

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کفر) باندې مه غمژن کېږه، او خپل (د رحمت) وزر مومنانو ته ښکته کړه (په دوی باندې زړه سوی وکړه).

[۸۹] او (ای پیغمبره! خلکو ته) ووایه چې: یقینًا زه همدا زه ښکاره ډاروونکی یم (شخصي مطلب نه لرم).

[۹۰] (مونږ په تاباندې د الفاتحې سورت داسې نازل کړی دی) لکه په تقسیموونکو باندې مو چې (کتاب) ورنازل کړی وه.

[۹۱] (تقسیموونکي) هغه کسان دي چې دوی (په خپل کتاب باندې علاوه) قرآن کریم (هم) اندامونه (برخې) ګرځولی دی (چې په ځینو باندې ایمان راوړي او په ځینو باندې کافر کېږي).

[۹۲] نو (ای پیغمبره!) ستا په رب ﷻ سوګند دی چې مونږ به د دوی (کفارو) ټولو څخه (د قیامت په ورځ) پوښتنه وکړو.

[۹۳] (البته) د هغه شي پوښتنه چې دوی دي چې کوي یې.

[۹۴] نو (ای پیغمبره!) هغه شی په ځرګنده توګه ابلاغ کړه د کوم په ابلاغ باندې چې ته مامور کړی شوی یې، او د مشرکانو څخه اعراض وکړه (ناندری ورسره مه وهه).

[۹۵] (ځکه تبلیغ ځرګند کړه چې) یقینًا مونږ تاته د مسخره کوونکو (په هکله) کفایت کوو (مونږ به یې درته چاره وکړو نو ته ترې مه ډارېږه).

[۹۶] (مسخره کوونکي) هغه کسان دي چې د الله ﷻ سره (په عبادت کښې) بل معبود ګرځوي (دروي) ، نو ډېر ژر دی چې دوی به (په خپله غلطۍ) پوه شي.

[۹۷] او بې شکه مونږ پوهېږو چې یقینًا ستا سینه (زړه) په هغه شي باندې تنګېږي چې کفار یې وایي (او ملنډې وهي).

[۹۸] نو ته د خپل رب ﷻ د حمد (ثناء) سره (جوخت) د پاکۍ نسبت هم کوه (تسبیحات وایه) او ته د سجده کوونکو (لمونځ کوونکو) څخه اوسه.

[۹۹] او (هم) ته (ترهغه وخته پورې) د خپل رب ﷻ عبادت کوه ترڅو چې تاته مرګ درشي (د وروستنۍ سلګۍ پورې په عبادت مشغول اوسه).

## ارتباطونه

۱_ په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ د عبرت دپاره د هلاکو شوو قومونو ذکر کړی وه، په دې ایتونو کښې یې د هغوی د هلاکت وجهې ته اشاره کړې ده چې دنیا عبث نه ده پیدا شوې د هغوی هلاکول د حکمت غوښتنه وه.

۲_ هلته د پخوانیو کفارو انجام ته اشاره شوې وه او په دې ایتونو کښې د نبي کریم ﷺ تسلي مرموزه ده، چې ته غمژن کېږه مه ستا د زمانې کفار هم د هلاکت سره مخامخ کېدونکي دي، که په دنیا کښې ورته مهلت ورکړی شي نو د آخرت د هلاکت څخه خو بالکل د خلاصون لاره نه شي موندلی.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ بالآخره د سورت د اول سر څخه د عنادیانو کفارو د حالاتو بیان را روان وه خو په پای کښې نبي کریم ﷺ ته د خپلې زمانې د عنادي کفارو په مقابل څه ارشادات ورکړی شوي دي، چې داسې کوه او داسې مه کوه، چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! مونږ اسمانونه، ځمکې او څه چې د دواړو ترمنځ دي په حقه پیدا کړي دي او عبثیات نه دي، نو د همدې کبله د حکمت په اقتضاء پخواني عنادي کفار هلاک کړی شوه او دنیا په نورو خلکو باندې اباده شوه، او د همدې کبله د قیامت د ورځې راتلل یقیني شی دی ترڅو هرچا ته د خپلو کړو وړو مطابق جزا یا سزا ورکړی شي.

نو ای پیغمبره! ته هم د پیغمبرانو علیهم السلام د جملې څخه یو پیغمبر یې، تاته به هم د خپلې زمانې د عنادي کفارو د پلوه هغه کړاوونه مخې ته درزي کوم چې هغوی ورسره مخامخ شوي وه، نو تاته توصیه کوو چې لاندې ارشادات په نظر کښې ونیسه او خپله حوصله مه خرابوه:

۱ـ ای پیغمبره! د خپلې زمانې د عنادي کفارو په کړنلارې باندې دومره مه غمژن کېږه چې خپل خان د هلاکت سره مخامخ کړې، تا خو خپله دنده په ډېر ښه صورت سره ترسره کړې ده، نو اوس د دوی څخه په ښه ډول سره مخ واړه وه، ناندرۍ ورسره مه وهه او خپل قیمتي وخت ورباندې مه ضائع کوه بلکې د دوی سره په احسنه توګه مجادله وکړه.

۲ـ یقینًا ستا رب ﷻ لکه څنګه چې یوازې همدی ﷻ په اول ځل پیدا کوونکی دی همدارنګه بیا پیدا کول او د قبرونو څخه راپورته کول هم د همده ﷻ کار دی، همده ﷻ ته د هر چا کړه وړه معلوم دي او هم ورته د هر مړه شوي خاورې شوې برخې څرګندې دي، نو دی ﷻ پوهېږي او کار یې، ته ډېر غمژن کېږه مه.

۳ـ او دا خکه چې مونږ تاته د نورو فضائلو څخه علاوه یو ډېر لوی فضیلت درکړی دی چې د الفاتحې سورت مو درباندې نازل کړی دی، دا سورت که څه هم فقط اوه ایتونه لري مګر په حقیقت کښې پکښې ټول قرآن کریم پروت دی، ته به وایې چې دا سورت دوهم قرآن کریم دی، د همدې کبله همدا سورت تاسو بیا-بیا په خپلو لمونځونو کښې قرائت کوئ.

نو ای پیغمبره! ته خپل خان ته په همدغه سورت او په نورو الهي فضائلو باندې ډاډ ورکوه او د خپل رب ﷻ عبادت کوه چې غم دی پرې سپکېږي.

۴ـ نو کوم شیان چې کفارو ته ورکړی شوي دي هغه د لږ وخت څخه علاوه بقاء نه لري، نو ته خپلې مبارکې سترګې د ډول-ډول کافرانو (لکه یهود، نصارا او نورو) هغو رنګارنګ ورکړی شوي دنیاوي فاني مالونو ته مه اوړدوه چې هغه درته ښه وبرېښي او تا په تعجب کښې واچوي.

۵ـ همدارنګه په هغوی باندې مه غمژن کېږه چې دنیاوي فاني مالونو د آخرت څخه غافل کړي

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي او ستا نصائحو ته غوږ نه نيسي، او دا څکه چې تا خو په خپل تبليغ کښې په هيڅ ډول سره قصور نه دی کړی.

٦ـ تاته په کار دي چې د خپل رحمت او مهربانۍ وزرونه په مؤمنانو باندې ورواچوې او همدوی ته په ښه پسته لهجه او موثره توګه الهي ارشادات ورزده کړې، ترڅو هغوی هم د کفارو په کر او فر باندې ونه غولېږي او آخرت هېر نه کړي.

٧ـ ای پيغمبره! ته يو خل بيا ټولې دنيا ته اعلان کړه چې زه په ښکاره توګه د الله ﷻ د پلوه د ډاروونکي په حيث رالېږلی شوی يم، ترڅو خلک پوه شي چې په تاباندې د ايمان د نه راوړلو په صورت کښې تاته هيڅ مسوليت نشته، هرڅوک پوهېږي او خپله بې ايماني يې. همدارنګه خپل دريغ خلکو ته اعلان کړه ترڅو ټوله دنيا تا وپېژني چې ستا هدف او غايه د مالونو راغونډول نه دی، که نه نو د هرچا څخه به ته ډېر مالدار وی او ډېره سرمايه به دې درلودی.

٨ـ لنډه دا چې مونږ تاته قرآن کريم داسې نازل کړی دی لکه څنګه مو چې په تقسيمونکو باندې کتابونه ورنازل کړي وه، چې دوی د اهل الکتابو او نورو څخه عبارت دي.

دغه تقسيمونکي هغه خلک دي چې خپل کتابونه يې د ايمان د راوړلو په اعتبار سره اندام اندام کړي وه، ځينې برخې يې منلې او ځنې يې د پښو لاندې کولې. دوی د قرآن کريم سره عين همدغه کړنلاره غوره کړې ده، چې په ځينو ايتونو ايمان راوړي او د نورو ايتونو څخه يې انکار کوي.

نو خپل امت ته توصيه وکړه چې د قيامت د ورځې پورې قرآن کريم خپل دستور العمل وګرځوي او په انتخابي توګه يې په تعميل باندې اکتفاء ونه کړه.

٩ـ نو ای پيغمبره! ستا په رب ﷻ مې دې سوګند وي چې هرو مرو او ضرور به د ټولو کفارو څخه د قيامت په ورځ د هغو کارونو پوښتنه وکړو کوم چې دوی لګيا دي په دنيا کښې يې کوي.

١٠ـ نو ای پيغمبره! په ډېرو ښکارندو کلماتو کښې هغه احکام خلکو ته ورابلاغ کړه د کومو په ابلاغ باندې چې ته مامور شوی يې، او د کفارو د غاښ چيچې څخه مخ واړوه هيڅ التفات ورته مه کوه، او هم يې په استهزاء او تمسخر باندې حوصله مه خرابوه او پرې غمژن کېږه مه، څکه چې:

١١ـ د دغو استهزاء کوونکو چاره به درته مونږ وکړو او همدا مونږ کفايت کوو چې عذاب ورباندې ورنازل کړو، نو بې غمه اوسه، دوی به تاته هيڅ ضرر ونه شي رسولی.

١٢ـ دوی خو هغه خلک دي کوم چې د بل چا سره نه بلکې د الله ﷻ سره په عبادت کښې شريکان دروي، عجيبه ده چې دوی په خپلې بوت پرستۍ باندې خندنی نه کوي چې د الله ﷻ سره يې د ده ﷻ مخلوق برابر کړی دی او په عبادت باندې ورته سرونه ټيټوي، او په تاباندې خندنی کوي چې بندګان د الله ﷻ عبادت ته رابلې او د بندګانو د بندګۍ څخه يې ژغورې، نو ډېر ژر دی چې دوی به په خپله غلطيا باندې پوه شي خو بې وخته پوهه به ورته ګټه ونه شي رسولی.

١٣ـ ای پيغمبره! مونږ پوهېږو چې د کفارو په خندنيو او چټي خبرو باندې، د دوی په کفرياتو او دوزخ ته په وردانګلو باندې ته خپه کېږې، زړه دې پرې سوزي او هم دې پرې حوصله تنګېږي، نو د

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه کیفیاتو څخه د خلاصون دپاره لاندې چارې خپلې کړه:

الف: د خپل رب ﷻ تسبیحات ډېر وایه او په حمد او ثناء باندې یې مشغول اوسه چې حوصله دې غټه شي.

ب: لمونځونه ډېر کوه او خپل رب ﷻ ته په سجدو باندې پرېوځه چې غمونه درڅخه لرې او مشکلات دې حل کړي.

ج: لنډه دا چې د خپل رب ﷻ عبادت ته ادامه ورکړه او په قوي حوصله او قوي استقامت سره د مرګ د وخته پورې (وروستنۍ سلګۍ پورې) پرې مشغول اوسه.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ فَٱصۡفَحِ ٱلصَّفۡحَ ٱلۡجَمِيلَ ﴾ کښې د "صَفح" کلمه "تثریب" پرېښېودلو ته وضعه شوې ده[۱] او مونږ د [یوسف: ۹۲] ایت لاندې لیکلي دي چې تثریب د ملامتیا، عقوبت او د پیغور معنی ورکوي. نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: ای پیغمبره! کفارو ته د هغوی د سپکو سپورو خبرو جواب مه ورکوه او هم یې د مثل پیغور ورکولو او ملامته کولو څخه ډډه وکړه، چې د یو پلوه دې ورباندې وخت ضائع کېږي او د بله پلوه ترې ناندرۍ او عبثیات جوړېږي.

ځینو مفسرینو کرامو د "صَفح" د کلمې معنی په مصالحې سره کړې ده چې جنګ ورسره مه کوه[۲]، نو په دې تقدیر ذکر شوی ایت منسوخ ګڼلی کېږي خکه چې وروسته د جهاد او مقاتلې ایت نازل شوی دی، مګر مونږ ته دا ډول تفسیر په زړه پورې نه برېښي.

## سَبْعًا مِنَ الْمَثَانِي څه معنی؟

۲ـ علماوو کرامو[۳] په ﴿ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَٰكَ سَبۡعٗا مِّنَ ٱلۡمَثَانِي وَٱلۡقُرۡءَانَ ٱلۡعَظِيمَ ﴾ کښې د سبع مثاني دپاره ډېر تفسیرونه کړي دي خو مونږ ته همغه تفسیر غوره برېښي کوم چې د نبي کریم ﷺ څخه په همدې هکله په یو اوږده حدیث کښې روایت شوی دی، هغه دا چې: «الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِي وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ الَّذِي أُوتِيتُهُ»[۴] یعني هغه سورت کوم چې په الحمد لله رب العالمین باندې پیل شوی دی (او یو نوم یې أم القرآن دی) همدغه سورت سبع المثاني او قرآن عظیم دی کوم چې ماته راکړی شوی دی، او په ذکر شوي ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

## د دغه نوم مناسبت او تحلیل

۳ـ د ﴿ سَبۡعٗا ﴾ کلمه خو د اوو عدد ته وضعه شوې ده، د "الفاتحة" سورت ته دا لقب خکه ورکړی

(۱) مفردات الراغب ص۲۹۰
(۲) البحر المحیط ج۶ ص۴۹۳
(۳) زاد المسیر ج۴ ص۳۰۲؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۵۷۴؛ التفسیر الکبیر ج۱۹ ص۲۰۷
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۶۴۲ او ص۶۸۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوی دی چې دا په فقط په اوو ایتونو باندې مشتمل دی.

په ﴿ مِّنَ ٱلْمَثَانِي ﴾ کښې د "من" تور د بیان دپاره دی[١] یعنې دا اوه ایتونه د المثاني څخه عبارت دي، د "مثاني" کلمې په صرفي تحلیل کښې ځینو مفسرینو کرامو ډېر اوږد بحث کړی دی[٢] مګر کوم تحلیل چې مونږ ته په زړه پوری بربښي هغه دا دی چې:

د "مثاني" کلمه د "مثنٰی" جمعه ده، چې په اصل کښې د مَفْعَل په وزن میمي مصدر یا اسم ظرف دی خو په دواړو تقدیرونو سره د مجاز په توګه د اسم مفعول معنی ورکوي، او یا په اصل کښې د اسم مفعول صیغه ده چې د تخفیف څخه وړاندې "مَثْنُويٌ" ـلکه "مَضْرُوبٌ"ـ وه خو د غیر قیاسي تخفیفونو د کبله ترې "مثنٰی" جوړه شوه او بیا په مثاني باندې جمعه شوه.

مونږ دغه تحلیل ځکه اختیار کړ چې دغه کلمه په شکل کښې "مَعْنٰی" ته ورته ده چې په معاني باندې جمعه شوې ده، او د "مَعْنٰی" په کلمه کښې ځینو نحوي کتابونو ذکر شوي درېواړه تحلیلونه لیکلي دي[٣] نو مونږ په دې مقام کښې عین تحلیلونه تطبیق وګڼل.

په ذکر شوي تقدیر سره د "مَثَانِي" کلمه د "ثِنِي" ـلکه "غِنِي"ـ څخه اشتقاق مونده کوي، "ثِنِي" د تکریر معنی ورکوي، نو د "الفاتحة" سورت ته ځکه د "مَثَانِي" نوم ایښودلی شوی دی چې په دې سورت کښې د ډېرو وجوهو د کبله تکریر شته دی[٤]، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: دا سورت دوه ځله نازل شوی دی، یو ځل په مکه معظمه کښې او بل ځل په مدینه منورة کښې.

ب: دا سورت په لمونځونو کښې په مکرره توګه قرائت کېږي حتی چې بدون د دې سورت څخه لمونځ ناقص دی.

ج: ځرنګه چې دا سورت د مضمون په اعتبار سره په ټول قرآن کریم باندې مشتمل دی نو د قرآن کریم په لوستلو سره دا سورت تکرارېږي، او داسې نور.

## سوال جواب

**۴ـ که څوک وایي چې په ذکر شوي ایت شریف کښې به د ﴿ وَٱلْقُرْءَانَ ٱلْعَظِيمَ ﴾ کلمات د لاندې دوه وو صورتونو څخه خالي نه وي:**

**الف: یا به ترې د "الفاتحة" سورت مراد وي، نو په دې تقدیر عطف صحت نه لري، په کار دي چې د معطوف او معطوف علیه دواړو ترمنځ تغایر موجود وي.**

---

(١) المحرر الوجیز ج١٠ ص١٤٩

(٢) روح المعاني ج١۴ ص٧٨

(٣) شرح ملا جامي في النحو ص٢٢

(۴) زاد المسیر ج۴ص٣٠٢: تفسیر الخازن ج٣ص۵٧۴: التفسیر الکبیر ج١٩ص٢٠٧: حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج٣ص١۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

ب: یا به ترې تېول قرآن کریم مطلب وي، په دې تقدیر د هغه حدیث شریف څخه مخالفت راځي کوم چې په دوهمه توضیح کښې وړاندې ذکر شو چې په لومړي صورت دلالت کوي.

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو دوهم شق اختیار کړی دی[1] یعني مونږ تاته د الفاتحة سورت او نور ټول قرآن کریم درنازل کړی دی او یا نژدې دی چې ټول دربانديې درنازل کړو؛ مګر بهتره دا ده چې اول شق اختیار کړی شي، اما د عطف دپاره ذاتي تغایر ضرور نه دی بلکې مفهومي تغایر هم کفایت کوي چې په عربي محاوراتو کښې مثالونه لري[2] او په قرآن کریم کښې الله ﷻ په همدې شکل باندې یو ایت شریف نازل کړی دی چې: ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ٱلْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَذِكْرًا لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ [الأنبياء:٤٨] او یقینًا مونږ موسی ؑ او هارون ؑ ته فرقان او ضیاء (رڼا) او د متقیانو دپاره پند ورکړی وه؛ چې دغه درېواړه کلمات (فرقان، ضیاء، ذکر) فقط په مفهوم کښې یو تربله متغایر دي او په مصداق کښې سره متحدې دي چې د تورات څخه عبارت دي.

نو په دې مقام کښې به د معنی حاصل داسې کېږي چې: ای پیغمبره! مونږ تاته داسې سورت درکړی دی چې د یو پلوه داسې فضیلت والا اوه ایتونه دي چې تاسو به په لمونځونو کښې تکرارًا قرائت کوئ، او د بله پلوه همدغه سورت لوی قرآن هم دی (د قرآن اطلاق لکه چې په ټول قرآن باندې کېږي همدارنګه یو سورت یا یو ایت ته هم قرآن ویل کېږي)[3].

## د دې ایتونو ارشاد

**٥**ـ په دې ایتونو کښې که څه هم نبي کریم ﷺ مخاطب ګرځولی شوی دی چې مونږ تاته د "الفاتحة" سورت درکړی دی چې د قرآن کریم په مضامینو باندې مشتمل دی، نو ته د کفارو ډول-ډول شتو او مالونو ته سترګې مه اوړده وه چې تمه ورته وکړې او عجیبه درته ښکاره شي؛ مګر په حقیقت کښې د قیامت د ورځې پورې ټول مؤمنان په غوږ باندې وهلی شوي دي چې د هغو ثروتونو او مفاداتو څخه ګټه پورته کړي کومو ته چې په قرآن کریم کښې اشاره شوې ده، ترڅو په دنیا کښې د کفارو څخه مستغني شي او د اقتصاد په اعتبار سره په پښو باندې ودرېږي.

همدارنګه دوی ته توصیه شوې ده چې یو په بل باندې د تواضع او ترحم وزرونه خواره کړي، د کفارو د مقابلې دپاره یو موټی شي او هم د هغوی د ښکاره او پټ تسلط څخه خپل ځانونه بچ کړي.

واقعیت همدا دی چې قرآن کریم لکه څنګه چې زمونږ دپاره د آخرت مشال دی همدارنګه زمونږ دپاره د دنیاوي ګټو وټو هم ضامن دی، مونږ په یوه حیث سره هم کفارو ته محتاج نه یاستو خو چې مونږ ټول متفق شو او قرآن کریم خپل دستور العمل وګرځوو. نن ورځ[4] چې مونږ در په در او خاوري

(١) تفسیر الخازن ج١٣ ص٥٧٦
(٢) تفسیر القاسمي ج١٠ ص٦٨
(٣) البحر المحیط ج٦ ص٤٩٤
(٤) ١٣٧٦/٧/٢٦ هـ ش

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په سر یاستو د دې خبرې اصلي وجه دا ده چې مونږ د قرآن کریم څخه لرې شوي یاستو، الله ﷻ دې مونږ په خپل کتاب باندې راټول کړي، ترڅو د دښمنانو لاسونه زمونږ څخه پرې شي او مونږ د ربښتیاني استقلال خاوندان جوړ شو.

ذکر شوي مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَتَغَنَّ بِالْقُرْآنِ»[١]، که څه هم علماوو کرامو دغه حدیث په اوه ډوله تفسیر کړی دی[٢] مګر په زړه پورې تفسیر چې وعید ورباندې دلالت کوي دا دی چې: زمونږ څخه هغه څوک نه دی کوم چې په قرآن کریم باندې (د کفارو او نورو څخه) مستغني او بې پروا نه شي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «اُنْظُرُوا إِلَى مَنْ أَسْفَلَ مِنْكُمْ وَلَا تَنْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَكُمْ فَهُوَ أَجْدَرُ أَنْ لَا تَزْدَرُوا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ»[٣] یعنې تاسو هغه چاته وګورئ کوم چې ستاسو څخه (په نعمتونو کښې) ښکته دي، او هغه چاته مه ګورئ کوم چې ستاسو څخه (پکښې) پورته دي، نو دا کار (طرز العمل) به د دې سبب شي چې تاسو د الله ﷻ نعمتونه په خپلو ځانونو باندې حقیر ونه ګڼئ.

## مُقْتَسِمِين څوک دي؟

٦ـ په ﴿ كَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَى ٱلۡمُقۡتَسِمِينَ ﴾ کښې د "مُقْتَسِمِين" کلمه د "إِقْتِسَام" څخه اشتقاقه شوې ده، خو ځینو کتابونو اشاره کړې ده چې دا کلمه لاندې دوه اصلونه درلودلی شي[٤]:

الف: چې مجرد یې "قسم" وي چې د سوګند معنی ورکوي.

ب: چې مجرد یې "قسمة" وي چې د وېشلو او برخه کولو معنی ترې اخستله کېږي.

نو د ذکر شوي ایت په تفسیر کښې علماء کرام په لاندې ګروپونو وېشلی شوي دي:

لومړي ګروپ علماء کرامو[٥] لومړنی اصل مراد کړی دی او د "مُقْتَسِمِين" کلمه یې په قسم خورو باندې تفسیره کړې ده، او پوره واضحه ده چې کفار ټول قسم خواره دي لکه چې الله ﷻ فرمایلي دي چې:

اول: ﴿ وَأَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ لَا يَبۡعَثُ ٱللَّهُ مَن يَمُوتُ ﴾ [النحل:٣٨] یعنې او کفار په الله ﷻ باندې ډېر کلک سوګندونه کوي چې الله ﷻ به هغه څوک راپورته (ژوندي) نه کړي کوم چې مړه شي.

دوهم: ﴿ قَالُواْ تَقَاسَمُواْ بِٱللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُۥ وَأَهۡلَهُۥ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِۦ مَا شَهِدۡنَا مَهۡلِكَ أَهۡلِهِۦ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴾ [النمل:٤٩] یعنې د صالح ؑ د زمانې کفارو سره یو تربله وویلې چې: د الله ﷻ په

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص١١٢٣
(٢) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج٤ ص٦٩٣
(٣) صحيح مسلم ج٢ ص٤٠٧
(٤) صحيح البخاري ج٢ ص٦٨٣
(٥) تفسير ابن كثير ج٢ ص٥٥٨

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نامه باندې قسمونه وکړئ چې خامخا او هرومرو به مونږ په صالح ﷺ او د ده په کور کهول باندې چپاو وروړو (او هلاک به يې کړو) بيا به د ده وارث (خپلوانو) ته ووايو چې مونږ د صالح ﷺ د کور کهول هلاک (وژنې) ته نه ياستو حاضر شوي (مونږ ترې خبر نه ياستو) او يقيناً مونږ په خپل قول کښې رښتيا ويونکي ياستو.

چا چې ذکر شوي اصل ته ترجيح ورکړې ده هغوی د ﴿ كَمَآ أَنزَلْنَا ﴾ کلمه د همدې نږدې ايت سره مربوطه ګڼي. نو د معنی حاصل يې داسې راوباسي چې: ای پيغمبره! خلکو ته يو ځل بيا اعلان کړه چې زه ستاسو دپاره څرګنده ډاروونکی يم، نو دوی د داسې عذاب څخه وډار کړه لکه چې مونږ په پخوانيو قسم خورو باندې ورنازل کړی وه چې ځينې مو په يو ډول عذاب باندې هلاک کړي وه او ځينې مو په بل ډول عذاب باندې.

دوهم ګروپ علماء کرامو دوهم اصل معتبر کړی دی[١] او د "مُقْتَسِمِين" د کلمې څخه يې د مکې معظمې هغه څلويښت (کمو زيات) کسان اخستي دي[٢] کومو به چې د حج په موسم کښې په خپلو منځو کښې لوېې لارې وېشلې چې تاسو د فلانۍ لارې په سرکښئ او مونږ به د فلانۍ لارې په سر ودرېږو، او هرڅوک چې د مکې حدودو ته راداخلېږي هغه ته به توصيه کوو چې د محمد خبرو ته غوږ ونه نيسي چې ليونی دی او اعصاب يې خراب دي او يا جادوګر او جوګی دی.

دوی دغه ايت د نږدې ايت سره تړلی دی او حاصل يې داسې اخستی دی چې: ای پيغمبره! خلک وډار کړه چې مونږ ورباندې داسې عذاب ورنازل کړو لکه چې د لارې په وېشونکو باندې مو چې ورنازل کړی وه چې د همدغو مشرکانو څخه عبارت دي.

که څه هم په دغو لارو وېشونکو باندې د ايت د نزول د وخته پورې عذاب نه وه نازل شوی بلکې وروسته ورباندې د بدر په مقام او نورو ځايونو کښې ورنازل شو، مګر څرنګه چې په هغوی باندې د عذاب نازلول يقيني وه نو داسې ګڼلی شوی دی لکه چې لا پخوا واقع شوی وي. د همدې جملې څخه د راتلونکي سورت لومړنی ايت دی چې: ﴿ أَتَىٰٓ أَمْرُ ٱللَّهِ فَلَا تَسْتَعْجِلُوهُ ﴾ [النحل: ١] يعنې د الله ﷻ امرراغلی دی (راروان دی) چې د قيامت د قيام څخه عبارت دی نو تاسو ورباندې تادي (عجله) مه کوئ.

بالآخره دريم ګروپ علماوو کرامو دوهم اصل معتبر کړی دی خو د "مُقْتَسِمِين" کلمه يې په اهل الکتابو باندې تفسيره کړې ده[٣] چې هغوی هم خپل-خپل کتابونه د منلو او نه منلو په اعتبار سره تقسيم کړي وه او په قرآن کريم باندې يې هم همدا عادت عملي کړی وه چې ځينې يې مانه (کوم چې د دوی د خواهشاتو سره متضاد نه وه) او متباقي يې نه مانه.

---

(١) تفسير الخازن ج٣ ص٥٧٧

(٢) التفسير الكبير ج١٩ ص٢١١؛ تفسير البغوي ج٣ ص٥٨

(٣) البحر المحيط ج٦ ص٤٩٦

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د بنه وضاحت دپاره لاندې ایتونه ولولی:

اول: ﴿أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ ٱلْكِتَٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ﴾ [البقرة:۸۵] یعنې ای پیغمبره! اهل الکتابو ته ووایه چې ایا نو تاسو د خپل کتاب په ځینو برخو باندې عقیده کوئ او په ځینو نورو باندې کفر غوره کوئ؟

دوهم: ﴿وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ﴾ [النساء: ۱۵۰] یعنې او اهل الکتاب وایي چې مونږ په ځینو رسولانو باندې ایمان راوړو او په ځینو باندې کافر کېږو.

اهل الکتابو همدغه د تبعیض طریقه د پیغمبرانو علیهم السلام غوندې د قرآن کریم په هکله هم غوره کړې وه[1].

د دریم ګروپ علماء کرام ذکر شوي ایت شریف ته د ﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَٰكَ سَبْعًا مِّنَ ٱلْمَثَانِى﴾ سره ارتباط ورکوي چې حاصل یې داسې راځېږي: ای پیغمبره! تاته مو د "الفاتحة" سورت درکړی دی (درنازل کړی دی) لکه څنګه مو چې اهل الکتابو (یهودو او نصاراوو) ته کتابونه (تورات او انجیل) ورنازل کړي وه، خو دوی خپل کتابونه په مجموعي توګه قبول نه کړه او په عمل کښې یې پیاده نه کړه، دوی په خپلو کتابونو باندې صرف په هغو برخو کښې عمل وکړ کومې برخې به چې د دوی د خواهشاتو سره برابرې وې او پاتې برخې یې د پښو لاندې کړې. یا په بل عبارت: دوی په ټول اسلام کښې ورداخل نه شوه.

نو خپل امت ته زمونږ د پلوه دا ارشاد او توصیه وکړه چې د خپل کتاب سره د پخوانیو اهل الکتابو چال چلند ونه کړي، که نه نو کومه استغناء چې په دې کتاب (قرآن کریم) کښې نغښتې ده د هغې څخه به محروم او بې برخې شي او کفارو ته به احتیاج شي.

څلورم ګروپ علماء کرام وایي چې: د ﴿ٱلْمُقْتَسِمِينَ﴾ کلمه د دوهم اصل "قِسْمَةٌ" څخه اشتقاقه شوې ده مګر په دې کښې ذکرې شوې درېواړه ډلې شاملې شوې دي او ضرورت نشته چې تخصیص ورکړو[2].

نو دوی یې د معنی حاصل داسې اخلي چې: ای پیغمبره! د داسې عذاب څخه خلک وډار کړه لکه څنګه مو چې په پخوانیو کفارو باندې نازل کړي وه، یا لکه څنګه عذاب مو چې ستا د زمانې معاندینو کفارو ته په نظر کښې نیولی دی او بالآخره لکه څنګه عذاب مو چې په اهل الکتابو باندې ورنازل کړی وه چې خنزیران او بېزوګان مو ترې جوړ کړي وه.

## تبصره

۷_ زمونږ په فکر _والله ﷻ أعلم_ د ﴿ٱلَّذِينَ جَعَلُوا۟ ٱلْقُرْءَانَ عِضِينَ﴾ ایت شریف د یو پلوه د

(۱) اضواء البیان ج۳ ص۱۷۹
(۲) تفسیر الطبري ج۱۴ ص۶۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ كَمَآ أَنزَلْنَا ﴾ د ارتباط موضوع څرګنده کړې ده چې د ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَٰكَ ﴾ سره ارتباط لري، او د بله پلوه يې د ﴿ ٱلْمُقْتَسِمِينَ ﴾ د کلمې معنى تشخيصه کړې ده چې د "قِسْمَةٌ" څخه اشتقاقه شوې ده. نو هرڅوک چې د دغه ايت په مفهوم کښې شامل وي هغوى ته د ﴿ ٱلْمُقْتَسِمِينَ ﴾ کلمه هم شامله ده. نو مونږ وايو چې:

د ﴿ عِضِينَ ﴾ کلمه د "عَضْو" يا "عَضَه" شاذه جمعه ده[1]. په دواړو تقديرونو سره د متفرق او اندام-اندام کولو معنى ورکوي[2]. همدارنګه مونږ د [الرعد: ٣١] ايت لاندې ليکلي دي چې په نورو اسماني کتابونو باندې هم د قرآن اطلاق کېږي. نو په دې اعتبار سره د ﴿ ٱلْمُقْتَسِمِينَ ﴾ په مفهوم کښې لاندې ډلې شاملېږي:

الف: يهود او نصارا، چې هم يې خپل کتابونه اندام-اندام کړي دي، ځينې به يې عملي کول او ځينې به يې د پښو لاندې کول، او هم يې د قرآن کريم په ځينو ايتونو باندې عقيده کوله او د نورو څخه يې انکار کاوه، مثلاً چې کله به يې د قرآن کريم څخه واورېدل چې موسى عليه السلام او عيسى عليه السلام پيغمبران وه نو دوى به ويل چې دا خبره رښتيا ده خو چې کله به يې د ﴿ مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِ ﴾ [الفتح: ٢٩] ايت شريف تر غوږ شو نو په اتفاق سره به يې غږ پورته کړ چې دا خبره دروغ ده.

ب: د کفارو او مشرکانو هغې ډلې کومې چې قرآن کريم په مختلفو نومونو باندې وېشلى وه، لاندې مثالونه يې ولولئ:

اول: چا به ويل چې دا قرآن جادو دى.

دوهم: چا به ويل چې د ليوني کلام دى.

درېم: چا به ويل چې د پخوانيو قومونو قيصې دي، او چا به ورته نور نومونه اېښودل.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٨ـ که څوک وايي چې: په کفارو او مشرکانو باندې خو د يهودو او نصاراوو غوندې کتاب نه وه نازل شوى، نو ايا صحت لري چې دوى د ذکر شوې کلمې په مفهوم کښې شامل شي؟

مونږ وايو چې: څرنګه چې قرآن کريم د قيامت د ورځې پورې د ټولو خلکو د هدايت دپاره نازل شوى دى نو دا خبره صحت لري چې په ټولو باندې قرآن کريم نازل شوى دى، خو چا قبول کړ او چا ترې انکار وکړ.

## يادونه

٩ـ په ذکرو شوو دواړو ايتونو کښې که څوک ډېر اوږد بحث کول غواړي نو مهرباني دې وکړي

(١) شرح ملا جامي ص٢٧٤

(٢) مفردات الراغب ص٣٥٠

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او ښېنو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[١] چې ډېر خوندور تشریحات یې ورکړي دي.

## د قیامت د ورځې پوښتنه

١٠ـ د ﴿ فَوَرَبِّكَ لَنَسْأَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴾ په څېر د [الأعراف: ٦] ایت لاندې څه سوال او جواب تېر شوي دي ـ لله الحمد ـ چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، مګر په دې مقام کښې ورپاندې لاندې معلومات ور اضافه کوو.

الف: څرنګه چې ذکر شوی ایت شریف د کفارو په متعلق نازل شوی دی نو په تفسیر کښې یې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «عَنْ قَوْلِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ»[١] یعنې د ایت تفسیر دا دی چې: ای پیغمبره! ستا په رب ﷻ مې دې سوګند وي چې د ټولو کافرانو څخه به په عامه توګه او د مقتسمینو څخه به په خاصه توګه د دې قول پوښتنه وکړو چې: د «لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ» په هکله ستاسو څه نظر وه؟ آیا تاسو پرې اقرار کړی وه او که ترې منکر وئ؟

ب: که څوک غواړي چې د هغو احادیثو یوه مجموعه ولولي کوم چې د قیامت د ورځې د پوښتنو په باره کښې روایت شوي دي نو ښېنو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[٣] چې ښه غټه مجموعه یې راغونډه کړې ده، الله ﷻ دې اجرونه ورکړي.

## د "صدع" معنی

١١ـ په ﴿ فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ ﴾ کښې د ﴿ فَاصْدَعْ ﴾ کلمه د "صَدْع" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده. "صَدْع" دې ته وایي چې په یوه کلک جسم کښې چاود (درز) وکړی شي[٤] او مات کړی شي لکه شیشه چې ماته کړی شي.

نو حاصل یې داسې کېږي چې: ای پیغمبره! خپل رسالت پوره څرګند کړه او د هیچا څخه مه دارېږه چې د سري (پټ) تبلیغ دوره ختمه شوه، د مسخره چیانو او ملنډې وهونکو چاره به درته مونږ وکړو.

علماء کرام وایي چې د ایت شریف د نزول د وخته پورې نبي کریم ﷺ په سري تبلیغ باندې مشغول وه او بس[٥].

## مسخره کوونکي څوک وه؟

١٢ـ په ﴿ إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ ﴾ کښې ښېنو علماوو کرامو د مسخره کوونکو او ملنډې

---

(١) تفسیر ابي السعود ج٥ ص٩٠؛ روح المعاني ج١٤ ص٨١

(٢) جامع الترمذي ج٢ ص١٤٥

(٣) تفسیر المظهري ج٥ ص٣١٦؛ تفسیر ابن کثیر ج٢ ص٥٥٨

(٤) مفردات الراغب ص٢٨٤

(٥) تفسیر القرطبي ج١٠ ص٦٢؛ روح المعاني ج١٤ ص٨٦

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وهونکو نوموړه اخستي دي چې شپږ اوه نفره دي، مګر موږ ته بهتره برېښي چې هغوی به د مثال په توګه ذکر کړي وي او حصر به يې مطلب نه وي.

د بېنه وضاحت دپاره موږ د لاندې يوه حديث په ذکر باندې اکتفاء کوو:

د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه د يوه اوږده حديث شريف[1] خينې مهم ټکي دا دي:

الف: نبي کريم ﷺ د بيت الله ترڅنګ لمونځ کاوه چې ابو جهل او ملګري يې هلته ناست وه.

ب: ټولو مشوره وکړه چې کله نبي کريم ﷺ په سجده باندې پرېوځي نو د لنګې اوښې پيروان دې راوړل شي او ده ته دې په مبارکه شا باندې ور واچولی شي.

ج: يوه بدبخته نفر پيروان راوړل او کله چې نبي کريم ﷺ په سجده شو نو د اوږو ترمنځ يې ورباندې ورواچاوه، کاشکې چې ما د کفارو د مقابلې توان درلودی.

د: کله چې هغوی دغه منظره وليده نو ټول په خندا شوه، تردې چې د ډېرې خندا څخه خينې په خينو نورو باندې ورچپه شوه.

هـ: آن تردې چې بي بي فاطمه رضي الله عنها (چې په هغه وخت کښې ماشومه وه) راغله او ذکر شوی پيروان يې د خپل پلار (نبي کريم ﷺ) د اوږو د منځ څخه لرې واچاوه.

و: بيا نبي کريم ﷺ د ذکرې شوې ډلې مشرانو ته په نامه-نامه ښېرا وکړه چې: ای الله! فلانی او فلانی هلاک کړې.

ز: زما دې سوګند وي چې نبي کريم ﷺ په خپله مقبوله ښېرا کښې د چا نوم اخستی وه هغوی ما د بدر په غزا کښې وليده چې وژل شوي کالبوتونه يې خام کوهي ته ورغورزولی شوه.

## د غمونو څخه د نجات طريقه

۱۳_ د ﴿ وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ ﴾ څخه د سورت تر پايه پورې الله ﷻ خپل پيغمبر ﷺ ته د زړه تنګيو او غمونو څخه د نجات دپاره درې شيان ښودلي دي او موږ يې په غوږ وهلي ياستو چې عمل پرې وکړو، هغه دا چې:

الف: د خپل رب ﷻ تسبيحات او تحميدات. لکه چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې کله به نبي کريم ﷺ کوم کار غمژن کړ نو دا کلمات به يې لوستل چې:

«لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ الْحَلِيمُ الْعَظِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ السَّمٰوَاتِ وَرَبُّ الْأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ»[2] بيا به يې الله ﷻ ته د سوال لاسونه پورته کړه.

ب: د الله ﷻ د رضاء دپاره لمونځ کول. نبي کريم ﷺ په يوه قدسي حديث کښې فرمايي او د الله ﷻ څخه حکايت کوي چې:

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۳۷؛ صحيح مسلم ج۲ ص۱۰۸

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۵۷۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



«ابْنَ آدَمَ ارْكَعْ لِي أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ مِنْ أَوَّلِ النَّهَارِ أَكْفِكَ آخِرَهُ»[١] يعني اى بنیادمه! زما دپاره څلور رکعته لمونځ د ورځې په اول (سبا) کښې وکړه نو زه به ستا (د احتیاجاتو دپاره) د ورځې د آخره پورې کفایت وکړم (او احتیاجات به دې پوره کړم).

ځ: د مرګ د ورځې پورې د خپل رب ﷻ عبادت ته ادامه ورکول. په دې مقام کښې د یقین څخه مرګ مطلب دی او دا ځکه چې مرګ داسې یقیني شی دی چې هیڅ شک پکښې نشته. ته به وایې چې ټول یقین دی.

پوه ورځې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې د عثمان بن مظعون ﷺ مړي ته اشاره وکړه او ویې فرمایل چې: «أَمَّا هُوَ فَقَدْ جَاءَهُ الْيَقِينُ وَاللهِ إِنِّي لَأَرْجُو لَهُ الْخَيْرَ»[٢] یعنې هر چې دا (مړی) دی نو بې شکه ده ته یقین (مرګ) ورغلی دی او په الله ﷻ مې دې سوګند وي چې زه ده ته د خیر امید کوم.

د الله ﷻ په توفیق او مرسته د "الحجر" سورت بشپړ شو. والحمد لله ﷻ و له الشکر.

١٣٧٦/٧/٢٧ هـ ش.

په همدې ځای باندې د "عزیز التفاسیر" شپږم ټوک د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

---

(١) جامع الترمذي ج١ ص١٠٨

(٢) صحیح البخاري ج١ ص١٦٦

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# د شپږم ټوک
# محتویات



Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د خو لغاتو معناوې ..... ۵
د "شأن" او د "عمل" څه فرق دی؟ ..... ۹
سوال جواب ..... ۹
"إفاضه" څه معنی؟ ..... ۹
د "أولياء" د کلمې معنی ..... ۱۱
اولياء الله څوک دي؟ ..... ۱۱
د تقوی مراتب او درجات ..... ۱۲
سوال جواب ..... ۱۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۱۲
یو مثال او یو نظیر ..... ۱۳
په اولیاء الله کښې د شمول دپاره عصمت شرط نه دی ..... ۱۳
په نفلي عبادت سره درجات لوړيږي ..... ۱۴
اولیاء الله څه نښې لري؟ ..... ۱۵
سوال جواب ..... ۱۵
په اولیاء الله باندې نه خوف شته او نه ډار ..... ۱۶
اولیاء الله ته بشارتونه ..... ۱۶
یادونه ..... ۱۷
د "مَن" کلمه په اکثره وختونو کښې په اولو العلم کښې استعمالیږي ..... ۱۹
د عربیت یو تحلیل ..... ۱۹
"سُلطان" څه معنی؟ ..... ۲۲
دنیا د آخرت په نسبت ډېره حقېره ده ..... ۲۶
"مقام" څه معنی؟ ..... ۲۶
د "اجماع" معنی ..... ۲۷
د "غُمّة" تفسیر ..... ۲۷
"قضاء" وپېژنئ! ..... ۲۷
د حق د مخنیوي دوه عوامل ..... ۲۸
سوال جواب ..... ۲۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۲۹
یو اعرابي تحلیل ..... ۳۱
"لفت" څه معنی؟ ..... ۳۲
"کبریاء" څه شي ته وايي ..... ۳۲
الهي دعوت ته یې سیاسي رنګ ورکړ ..... ۳۲
د جادوګرانو سره مقابله ..... ۳۴
سوال جواب ..... ۳۴
دلته د چا "ذُرِيَّة" مطلب ده ..... ۳۷
تبصره ..... ۳۸
سوال جواب ..... ۳۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۳۹
"فِتْنَة" څه معنی؟ ..... ۳۹
د ایت شریف ارشاد ..... ۴۰
فرعون د اسرائیلو جوماتونه رنګ کړه ..... ۴۳
"تَبَوَّأ" څه معنی؟ ..... ۴۳
د "قبلة" د کلمې معنی ..... ۴۴
په دغه وخت کښې د اسرائیلو قبله ..... ۴۴
"زِينَة" څه معنی؟ ..... ۴۵
سوال جواب ..... ۴۵
د "طمس" معنی ..... ۴۵
سوال جواب ..... ۴۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۴۷
سوال جواب ..... ۴۷
د بني اسرائیلو د قلزم په لور حرکت ..... ۵۲
تبصره ..... ۵۲
سوال جواب ..... ۵۲
فرعون د دنیا څخه کافر تیر شوی دی ..... ۵۳
سوال جواب ..... ۵۳
یادونه ..... ۵۴
د فرعون د لاش په هکله معلومات ..... ۵۴
"مُبَوَّأ صِدْقٍ" څه معنی؟ ..... ۵۵
د "شك" د کلمې معنی ..... ۵۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۵۷
د یونس ﷺ د قیصې څو ټکې ..... ۶۲
سوال جواب ..... ۶۳
د ایت شریف اشاره ..... ۶۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۶۴
سوال جواب ..... ۶۸


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## هود (۱۱)


سریزه ........................ ۷۱
سوال جواب ........................ ۷۲
دا ایتونه داسې دي لکه عنوان ........................ ۷۶
د "أُحْكِمَتْ" او "فُصِّلَتْ" معناوې ........................ ۷۶
یادونه ........................ ۷۶
سوال جواب ........................ ۷۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۷۷
تبصره ........................ ۷۹
د "ألا" معنی ........................ ۸۰
"ثناء" څه معنی؟ ........................ ۸۰
تبصره ........................ ۸۰
"دآبّة" څه معنی؟ ........................ ۸۱
"رزق" څه معنی؟ ........................ ۸۲
سوال جواب ........................ ۸۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۸۲
یوه عجیبه قیصه ........................ ۸۳
د "مستقر" او "مستودع" معناوې ........................ ۸۴
د یوه چینجي قیصه ........................ ۸۴
"عرش العظیم" په اوبو باندې وه ........................ ۸۷
سوال جواب ........................ ۸۸
"أمّة" څه معنی؟ ........................ ۸۹
د "صبر" معنی ........................ ۹۱
په غم او ښادۍ کښې د مؤمن حالت ........................ ۹۱
د "لَعَلَّ" د کلمې معنی ........................ ۹۳
یادونه ........................ ۹۶
دوه ډوله تفسیر ........................ ۹۸
تبصره ........................ ۹۸
"توفیة" او "بَخْس" معناوې ........................ ۹۸
سوال جواب ........................ ۹۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۹۹
"حَبط" څه معنی؟ ........................ ۱۰۰
سوال جواب ........................ ۱۰۰
د "بَیِّنَة" او "شاهد" مصداقات ........................ ۱۰۵
یو ماثور تفسیر ........................ ۱۰۶
"الأشهاد" څه معنی؟ ........................ ۱۰۶
یادونه ........................ ۱۰۷
سوال جواب ........................ ۱۰۷
د "لا جرمَ" د کلمې تحلیل ........................ ۱۰۸
"إخبات" څه معنی؟ ........................ ۱۰۸
د پیغمبرانو علیهم السلام د قیصو د نزول حکمتونه ۱۰۹
"أَرَاذِل" څه معنی؟ ........................ ۱۱۱
سوال جواب ........................ ۱۱۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۱۱۲
سوال جواب ........................ ۱۱۶
د مفسرینو دوه ګروپونه ........................ ۱۱۸
"أَعْیُن" څه معنی؟ ........................ ۱۲۰
یادونه ........................ ۱۲۱
د نوح علیه السلام د قوم مسخري ........................ ۱۲۲
په تفسیر کښې زمونږ خط السیر ........................ ۱۲۳
د "فَوْر" معنی ........................ ۱۲۶
"التَّنُّور" څه معنی؟ ........................ ۱۲۷
سوال جواب ........................ ۱۲۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۱۲۸
د عربیت یو تحلیل ........................ ۱۲۹
سوالونه او جوابونه ........................ ۱۲۹
"اقلاع" څه معنی؟ ........................ ۱۳۰
"غیض" څه معنی؟ ........................ ۱۳۱
"جودي" غر چرته واقع دی ........................ ۱۳۱
یادونه ........................ ۱۳۱
سوال جواب ........................ ۱۳۳
مفسرین کرام څه وایي؟ ........................ ۱۳۴
"عوق بن عنق" نجات نه دی موندلی ........................ ۱۳۵
ایا طوفان ټولې دنیا ته شامل وه ........................ ۱۳۵


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوال جواب ............ ۱۳۶
د الله ﷻ په نامه شروع ............ ۱۳۶
د "برکة" معنی ............ ۱۳۶
د ایت شریف ارشاد ............ ۱۳۸
هود ﷺ لومړنی عربي ژبی پیغمبر وه ............ ۱۴۰
"مِدْرَار" څه معنی؟ ............ ۱۴۰
هیڅ پیغمبر بې معجزو نه دی استولی شوی ............ ۱۴۲
د "اعتری" معنی ............ ۱۴۲
"نَاصِيَة" څه معنی؟ ............ ۱۴۴
دوه ډوله تفسیر ............ ۱۴۴
هود ﷺ سره څومره کسانو نجات مونده کړ ............ ۱۴۵
سوال جواب ............ ۱۴۵
عادیان په کوم ډول عذاب باندې هلاک شوه ............ ۱۴۶
سوال جواب ............ ۱۴۷
"عنید" څه معنی؟ ............ ۱۴۷
سوال جواب ............ ۱۴۸
د "اسْتَعْمَرَ" کلمه د اشتقاق په لحاظ ............ ۱۵۲
"مُرِيب" څه معنی؟ ............ ۱۵۲
سوال جواب ............ ۱۵۳
"عَقر" څه معنی؟ ............ ۱۵۳
یادونه ............ ۱۵۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۱۵۹
ابراهیم ﷺ ته د وراستولو شوو پرښتو تعداد ۱۵۹
"حَنِيذ" څه معنی؟ ............ ۱۶۰
"نَكِر" څه معنی؟ ............ ۱۶۰
سوال جواب ............ ۱۶۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۱۶۱
د "ضَحِكَ" د کلمې معنی ............ ۱۶۱
سوال جواب ............ ۱۶۲
د "يَاوَيْلَتَا" د کلمې معنی ............ ۱۶۲
"بَعل" څه معنی؟ ............ ۱۶۲
سوال جواب ............ ۱۶۶
د "سِيْئَ" کلمې تحلیل ............ ۱۶۶
د "ذرع" د کلمې معنی ............ ۱۶۶
"اهْرَاع" څه معنی؟ ............ ۱۶۶
"بنات" یا د لوپرانو ماندینې ............ ۱۶۷
سوال جواب ............ ۱۶۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۱۶۸
سوال جواب ............ ۱۶۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۱۶۹
"رُكن" څه معنی؟ ............ ۱۷۰
سوال جواب ............ ۱۷۰
"التفات" دوه معناوې لري ............ ۱۷۱
سوال جواب ............ ۱۷۲
یادونه ............ ۱۷۲
"سِجِّيل" څه معنی؟ ............ ۱۷۴
سوال جواب ............ ۱۷۴
"مَنضُود" څه معنی؟ ............ ۱۷۵
د دغو غضبې ډبرو نښې ............ ۱۷۵
سوال جواب ............ ۱۸۳
"بَقِيَّة" څه معنی؟ ............ ۱۸۴
"طنز" څه معنی؟ ............ ۱۸۵
د "حِلم" او "رُشد" معناوې ............ ۱۸۵
سوال جواب ............ ۱۸۶
"حسن رزق" څه معنی؟ ............ ۱۸۶
د "فقه" لغوي معنی ............ ۱۸۷
"ظِهْرِيًا" څه معنی؟ ............ ۱۸۷
یادونه ............ ۱۸۷
دلته د "سُلْطَانٍ مُبِينٍ" د کلماتو معناوې ............ ۱۸۹
"وِرْد" څه معنی؟ ............ ۱۸۹
سوال جواب ............ ۱۹۰
د "رِفْد" معنی ............ ۱۹۰
د قیامت په ورځ د خبرو کول ............ ۱۹۵
شقي او سعید څوک څوک دي ............ ۱۹۵
سوال جواب ............ ۱۹۵
د "زفیر" او "شهیق" معناوې ............ ۱۹۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوال جواب ........................ ۱۹۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۱۹۸
سوال جواب ........................ ۱۹۹
یادونه ........................ ۲۰۰
دوه ډوله تفسیر ........................ ۲۰۲
د عربیت یو قانون ........................ ۲۰۲
"اسْتِقَامَة" څه معنی؟ ........................ ۲۰۴
یادونه ........................ ۲۰۵
"رُکُون" څه معنی؟ ........................ ۲۰۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۰۶
ایا دلته پنځه واړه لمونځونه مطلب دي؟ .... ۲۰۷
"اذْهَاب" څه معنی؟ ........................ ۲۰۸
یادونه ........................ ۲۰۸
د عذاب څه د خلاصون اسباب ........................ ۲۰۹
یو ماثور تفسیر ........................ ۲۱۲
"بَقِيَّة" څه معنی؟ ........................ ۲۱۲
سوال جواب ........................ ۲۱۳
دلته "ذٰلِكَ" څه شي ته اشاره ده ........................ ۲۱۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۱۴
دلته په "هٰذِهٖ" کښې څه شي ته اشاره ده .... ۲۱۷

**یوسف (۱۲)**

سریزه ........................ ۲۱۹
دا کتاب د هر حیثه اشرف دی ........................ ۲۲۴
"قصص" څه معنی؟ ........................ ۲۲۴
سوال جواب ........................ ۲۲۵
د "یُوسُف" کلمه اعجمي ده ........................ ۲۲۸
یو صرفي تحلیل ........................ ۲۲۸
"رُؤْيَا" څه معنی؟ ........................ ۲۲۸
یادونه ........................ ۲۲۹
سوال جواب ........................ ۲۲۹
"تَأْوِيل الأَحَادِيث" څه معنی؟ ........................ ۲۳۰
سوال جواب ........................ ۲۳۱
"آيَات" څه معنی؟ ........................ ۲۳۲
د "ضَلَال" د کلمې معنی؟ ........................ ۲۳۵
سوال جواب ........................ ۲۳۵
څه یې چې ویلې وه هغه وشوه ........................ ۲۳۶
سوال جواب ........................ ۲۳۶
یوه صرفي قاعده ........................ ۲۳۷
"عُصْبَة" څه معنی؟ ........................ ۲۳۷
د شیطان یوه دسیسه ........................ ۲۳۷
د "غَيَابَتِ الْجُبّ" معنی ........................ ۲۳۸
د "رَتْع" او "لَعِب" معناوي ........................ ۲۴۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۴۳
سوال جواب ........................ ۲۴۳
تبصره ........................ ۲۴۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۴۴
د یوسف ﷺ د ورونو درې حالتونه ........................ ۲۴۵
"عِشَاء" څه معنی؟ ........................ ۲۴۵
دروغژن حافظه نه لري ........................ ۲۴۶
لیونی او خنګل ........................ ۲۴۶
"تسویل" څه معنی؟ ........................ ۲۴۷
سوال جواب ........................ ۲۴۷
"صبر جمیل" څه معنی؟ ........................ ۲۴۸
د څو خطراتو پورته کول ........................ ۲۴۸
د یوسف ﷺ کوهی چرته واقع وه؟ ........................ ۲۵۱
ځینې مفسرین کرام څه وایي؟ ........................ ۲۵۱
سوال جواب ........................ ۲۵۲
سوال جواب ........................ ۲۵۴
"أَشُدَّه" څه معنی؟ ........................ ۲۵۵
"حُكْم" او "عِلْم" څه معنی؟ ........................ ۲۵۵
"رَاوَدَ" څه معنی؟ ........................ ۲۶۰
سوال جواب ........................ ۲۶۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۶۰
د "هَيْتَ لَكَ" د کلماتو تحلیل ........................ ۲۶۱
"رَبّ" څه معنی؟ ........................ ۲۶۲
ټول پیغمبران علیهم السلام په عصمت کښې دي .. ۲۶۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




سوال جواب ..... ۲۶۳
سوال جواب ..... ۲۶۴
"برهان" د څه شي څخه عبارت دی؟ ..... ۲۶۴
سوال جواب ..... ۲۶۵
سوال جواب ..... ۲۶۵
شاهد څوک وه ..... ۲۶۶
تبصره ..... ۲۶۶
یو عجیب توافق ..... ۲۶۷
سوال جواب ..... ۲۶۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۲۶۷
د "امْرأة" کلمه درې جمعې لري ..... ۲۷۱
د "فتی" د کلمې معنی ..... ۲۷۲
"شغاف" څه ته وایي؟ ..... ۲۷۲
سوال جواب ..... ۲۷۲
"مُتکأ" څه صیغه ده؟ ..... ۲۷۲
"حَاشَ لِلّٰهِ" د کلماتو تحلیل ..... ۲۷۳
د یوسف ﷺ نوراني څېره ..... ۲۷۳
هغه په عشق کښې اول نمره شوه ..... ۲۷۳
"بداء" څه معنی؟ ..... ۲۷۴
سوال جواب ..... ۲۷۴
"فَتَیَان" څه معنی؟ ..... ۲۸۰
سوال جواب ..... ۲۸۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۲۸۱
دوه ډوله تفسیر ..... ۲۸۱
بیا هم دوه ډوله تفسیر ..... ۲۸۲
سوال جواب ..... ۲۸۲
یادونه ..... ۲۸۳
د "بِضع" د کلمې معنی؟ ..... ۲۸۳
د یوسف ﷺ د زمانې مصرې پاچا ..... ۲۸۷
د "سِمان" او "عِجَاف" معناوې ..... ۲۸۸
"أضغاثُ أحلام" څه معنی؟ ..... ۲۸۸
یو صرفي تحلیل ..... ۲۸۸
د یوسف ﷺ عجیبه حالت ..... ۲۹۱
د یوسف ﷺ صبر او حوصله ..... ۲۹۱
سوال جواب ..... ۲۹۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۲۹۲
نېک صورت او نېک سیرت ..... ۲۹۳
سوال جواب ..... ۲۹۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۲۹۴
سوال جواب ..... ۲۹۷
بشري نفس درې صفتونه لري ..... ۲۹۷
د یوسف ﷺ په هکله د پاچا نظر ..... ۲۹۹
سوال جواب ..... ۳۰۰
یوسف ﷺ په کوم منصب باندې مقرر شو ..... ۳۰۰
تبصره ..... ۳۰۱
څو عجیبې خبرې ولولئ ..... ۳۰۱
ایا یوسف ﷺ زلیخا په نکاح کړه؟ ..... ۳۰۲
په مصر کښې د یوسف ﷺ لومړني کارونه ..... ۳۰۵
سوال جواب ..... ۳۰۵
"کَیْل" څه معنی؟ ..... ۳۰۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۳۰۶
یادونه ..... ۳۱۰
"مَوْثِق" څه معنی؟ ..... ۳۱۰
یعقوب ﷺ په خپلو خامنو باندې د بد نظره وډار شو ..... ۳۱۲
د سترګو نظر حق دی ..... ۳۱۳
عجیبه ارشاد ..... ۳۱۵
"إیواء" څه معنی؟ ..... ۳۱۹
سوال جواب ..... ۳۲۰
"عِیْر" څه معنی؟ ..... ۳۲۰
سوال جواب ..... ۳۲۰
تبصره ..... ۳۲۱
"فَقْد" څه معنی؟ ..... ۳۲۱
د عربیت یو تحلیل ..... ۳۲۲
سوال جواب ..... ۳۲۲
د ذکر شوي مضمون یو ماثور مثال ..... ۳۲۳


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




سوال جواب ... ۳۲۴
دوه عجیبې خبرې ... ۳۲۵
سوال جواب ... ۳۲۶
"شَیْخ" څه معنی؟ ... ۳۲۸
سوال جواب ... ۳۲۹
د "نَجِيّ" معنی ... ۳۳۲
د عربیت یو تحلیل ... ۳۳۲
د "غیب" د کلمې تفسیرونه ... ۳۳۳
دلته د "الْقَرْيَة" کلمه څه معنی؟ ... ۳۳۳
یعقوب ؑ خپل نهه خامن ملامت کړه ... ۳۳۵
د "أَسَف" معنی ... ۳۳۶
یادونه ... ۳۳۷
سوال جواب ... ۳۳۷
ستړي سپېنډل څه معنی؟ ... ۳۳۷
"كَظِيم" څه معنی؟ ... ۳۳۸
سوال جواب ... ۳۳۸
د "شكاية" او "بث" معناوې ... ۳۳۸
یو عجیب سکوت ... ۳۳۹
یادونه ... ۳۳۹
"مُزْجَاة" څه معنی؟ ... ۳۴۲
سوال جواب ... ۳۴۲
د "تثريب" معنی ... ۳۴۳
سوال جواب ... ۳۴۴
دوه عجیبې خبرې ... ۳۴۵
یادونه ... ۳۴۷
"تفنيد" څه معنی؟ ... ۳۴۷
یادونه ... ۳۴۷
زېرې ورکوونکی څوک وه؟ ... ۳۴۷
ارتداد څه معنی؟ ... ۳۴۸
سوال جواب ... ۳۴۸
د یعقوب ؑ زامن په بهتره ډله کښې شامل شوه ... ۳۴۹
سوال جواب ... ۳۴۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ... ۳۵۰
"إِيوَاء" څه معنی؟ ... ۳۵۲
سوال جواب ... ۳۵۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ... ۳۵۳
انفرادي سجده او انحناء ... ۳۵۴
یادونه ... ۳۵۵
څومره کلونه وروسته خوب ربښتیا شو ... ۳۵۶
"الْبَدْوِ" څه معنی؟ ... ۳۵۶
دا د مرګ ارزو نه ده ... ۳۵۶
د یوسف ؑ د قیصې په ارتباط معلومات ... ۳۵۷
د یعقوب ؑ د فامیل تعداد ... ۳۵۸
د یعقوب ؑ عمر ... ۳۵۸
د یوسف ؑ عمر څومره وه ... ۳۵۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ... ۳۶۲
د عربیت یو اعتراض او د هغه جواب ... ۳۶۵
سوال جواب ... ۳۶۸
متعدد تفسیرونه ... ۳۶۹
تبصره ... ۳۷۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ... ۳۷۲


### الرعد (۱۳)


سریزه ... ۳۷۴
یو نحوي تحلیل ... ۳۷۶
د "رَفَعَ السَّمٰوٰتِ" معنی ... ۳۷۹
ایا اسمان ستنې لري ... ۳۸۰
یادونه ... ۳۸۰
سوال جواب ... ۳۸۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ... ۳۸۱
سوال جواب ... ۳۸۱
د "صِنْوَان" او "غَيْرُ صِنْوَان" معناوې ... ۳۸۲
د "أَغْلَال" معنی ... ۳۸۵
د "حَسَنَة" او "سَيِّئَة" معناوې ... ۳۸۵
"مَثُلَات" څه معنی؟ ... ۳۸۶
سوال جواب ... ۳۸۶


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د "هَادٍ" معنی ...... ۳۸۷
دلته "أنثى" څه معنی؟ ...... ۳۸۹
د "انثى" او "غَيْض" معناوې ...... ۳۸۹
سوال جواب ...... ۳۹۰
یادونه ...... ۳۹۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۳۹۱
"سَارِب" څه معنی؟ ...... ۳۹۲
د "مُعَقِّبَاتٌ" د کلمې معنی ...... ۳۹۲
یادونه ...... ۳۹۴
د څو لغاتو معناوې ...... ۴۰۰
سوال جواب ...... ۴۰۰
د ذکر شوې ایت په اړوند څو احادیث ...... ۴۰۱
"صَوَاعِق" څه معنی ...... ۴۰۲
د "مِحَال" معنی ...... ۴۰۲
څو یادونې ...... ۴۰۲
د بوټانو د حقارت یو مثال ...... ۴۰۷
په تمثیل باندې د کلام اثر زیاتیږي ...... ۴۰۷
"سُوءُ الْحِسَاب" د کوم حساب نوم دی؟ ...... ۴۱۰
"خشية" او "خوف" څه فرق لري ...... ۴۱۴
په نېکۍ سره د بدۍ مخنیوی ...... ۴۱۵
د "عُقْبَى الدَّار" تحلیل ...... ۴۱۵
سوال جواب ...... ۴۱۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۴۱۶
سوال جواب ...... ۴۱۷
یادونه ...... ۴۱۷
د دنیا او د آخرت نسبت ...... ۴۱۸
سوال جواب ...... ۴۲۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۴۲۱
د "طُوبَى" د کلمې تحلیل او تفسیر ...... ۴۲۲
دوه ډوله تفسیر ...... ۴۲۲
د "قرآن" د کلمې معنی ...... ۴۲۶
"تَقْطِيع" څه معنی؟ ...... ۴۲۷
سوال جواب ...... ۴۲۷
د "يَأْس" معنی ...... ۴۲۸
"قَارِعَة" څه معنی؟ ...... ۴۲۹
یادونه ...... ۴۲۹
مشرکانو ته یو تهدید ...... ۴۳۲
"مَثَل" څه معنی؟ ...... ۴۳۳
د "ظِلّ" او د "فَيْء" معناوې ...... ۴۳۳
د اهل کتابو څخه ځینې کسان په ایمان مشرف شوي دي ...... ۴۳۶
سوال جواب ...... ۴۳۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۴۳۷
یادونه ...... ۴۳۷
د "أمهات المؤمنين" په هکله معلومات ...... ۴۴۰
دلته "كتاب" څه معنی؟ ...... ۴۴۰
"أُمُّ الْكِتَاب" د کوم کتاب نوم دی؟ ...... ۴۴۱
سوال جواب ...... ۴۴۲
د الهي قضاء ډولونه ...... ۴۴۳
سوال جواب ...... ۴۴۳
یادونه ...... ۴۴۴
"أطراف" څه معنی؟ ...... ۴۴۶
سوال جواب ...... ۴۴۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۴۴۷
سوال جواب ...... ۴۴۸

**إبراهيم (١٤)**

سریزه ...... ۴۵۰
د "إِذْن" او "عِوَج" معناوې ...... ۴۵۳
د مشرکانو د ایمان نه راوړلو دپاره پلمې ...... ۴۵۴
سوال جواب ...... ۴۵۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۴۵۶
"أَيَّام الله" څه معنی؟ ...... ۴۶۰
یادونه ...... ۴۶۰
هیر مو نه شې! ...... ۴۶۰
"نَوْم" څه معنی؟ ...... ۴۶۱


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




یادونه ۴۶۱
د دې ایتونو ارشاد ۴۶۱
د بیان یو خاص اسلوب ۴۶۷
متعدد تفسیرونه ۴۶۸
سوال جواب ۴۶۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۶۸
سوال جواب ۴۶۹
د ورږو دم دواء ۴۶۹
یادونه ۴۶۹
"مَقَام" څه معنی؟ ۴۷۰
د "اسْتِفْتَاح" معنی ۴۷۰
د دوزخ عنق (غاړه) ۴۷۰
ماثور تفسیر ۴۷۱
سوال جواب ۴۷۷
د "صُرَاخ" او "اِصْرَاخ" معناوې ۴۷۷
سوال جواب ۴۷۸
طیبه کلمه او خبیثه کلمه ۴۸۰
سوال جواب ۴۸۱
څو اشتباهګانې ۴۸۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۸۲
دوه اشتباهګانې ۴۸۳
تبصره ۴۸۳
په دې مقام کښې "تثبیت" څه معنی؟ ۴۸۴
یادونه ۴۸۵
دلته "نِعْمَت" څه معنی؟ ۴۸۷
د عربیت یو تحلیل ۴۸۸
د "تسخیر" معنی ۴۹۰
یادونه ۴۹۰
سوال جواب ۴۹۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۹۱
"اِحْصَاء" څه معنی؟ ۴۹۱
د الله ﷻ د نعمتونو د بیان طرز ۴۹۲
سوال جواب ۴۹۳
د مکي مشرکان خپلو خطاګانو ته متوجه کړی شوي دي ۴۹۶
سوال جواب ۴۹۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ۴۹۷
د ابراهیم ؑ څه اجمالي حالات ۴۹۸
څو نکات ۴۹۹
دلته څوک مخاطب دی ۵۰۳
د څو لغاتو معناوې ۵۰۴
یادونه ۵۰۵
سوال جواب ۵۰۶
یادونه ۵۰۶
دلته د "أنْ" توري معنی ۵۰۶
"تَبْدِیْل" څه معنی؟ ۵۰۹
تبصره ۵۱۱
د څو لغاتو معناوې ۵۱۱
یادونه ۵۱۲
سوال جواب ۵۱۲


## الحجر (۱۵)


د "الحجر" سریزه ۵۱۴
"کُتُب" څه معنی؟ ۵۱۵
"اِبَانَة" څه معنی؟ ۵۱۵
د "رُبَ" کلمې په شکله سوال جواب ۵۱۸
سوال جواب ۵۱۸
تبصره ۵۱۹
"أَمَل" څه معنی؟ ۵۱۹
دلته د "حق" او "ذکر" معناوې ۵۲۴
یادونه ۵۲۴
تحریف او د الله ﷻ حفاظت ۵۲۵
یوه عجیبه قیصه ۵۲۵
یادونه ۵۲۶
که د اسمان دروازه خلاصه شي ۵۲۶
د "بُرج" معنی ۵۳۱


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




هیڅ یو کافر هم اسمان ته نه شي ختلی ...... ۵۳۱
"شهابٌ" څه معنی؟ ...... ۵۳۲
سوال جواب ...... ۵۳۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۵۳۳
سوال جواب ...... ۵۳۴
یو نحوي تعریب ...... ۵۳۴
سوال جواب ...... ۵۳۵
"لَوَاقِح" څه معنی؟ ...... ۵۳۵
سوال جواب ...... ۵۳۵
د "وَارِث" معنی ...... ۵۳۶
وړاندېني او ورستني څوک دي؟ ...... ۵۳۶
تبصره ...... ۵۳۷
د ادم ﷺ په اصلیت کښې د قران کریم
تعبیرات ...... ۵۴۱
تبصره ...... ۵۴۲
"جان" څوک دی؟ ...... ۵۴۳
سوال جواب ...... ۵۴۳
د "سَمُوم" معنی ...... ۵۴۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۵۴۳
"رُوح" څه شي ته وايي؟ ...... ۵۴۴
یادونه ...... ۵۴۴
سوال جواب ...... ۵۴۵
د ابلیس مهلت تر څه وخته؟ ...... ۵۴۵
یادونه ...... ۵۴۶
سوال جواب ...... ۵۴۶
د دوزخ اوه دروازې ...... ۵۴۷
تبصره ...... ۵۴۸
سوال جواب ...... ۵۴۸
دلته د "امن" معنی ...... ۵۵۳
یادونه ...... ۵۵۴
"نَصَب" څه معنی؟ ...... ۵۵۴
مقبول ایمان د خوف او رجاء ترمنځ ...... ۵۵۴
سوال جواب ...... ۵۵۶
لوط ﷺ کوم وطن ته وراستولی شوی وه ...... ۵۶۰
د "جُزْئِيٌّ" او "خَزَانَة" فرق ...... ۵۶۰
یادوني ...... ۵۶۱
د نبي کریم ﷺ په حیات (عمر) باندې سوګند ...... ۵۶۱
سوال جواب ...... ۵۶۲
"فراست" څه معنی؟ ...... ۵۶۲
متعدد تفسیرونه ...... ۵۶۵
"حجر" د کوم ځای نوم دی؟ ...... ۵۶۶
سوال جواب ...... ۵۶۶
"صَفْح" څه معنی؟ ...... ۵۷۱
"سَبْعًا مِنَ الْمَثَانِي" څه معنی؟ ...... ۵۷۱
د دغه نوم مناسبت او تحلیل ...... ۵۷۱
سوال جواب ...... ۵۷۲
د دې ایتونو ارشاد ...... ۵۷۳
"مُقْتَسِمِين" څوک دي؟ ...... ۵۷۴
تبصره ...... ۵۷۶
"عِضِين" څه معنی؟ ...... ۵۷۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۵۷۷
یادونه ...... ۵۷۷
د قیامت د ورځې پوښتنه ...... ۵۷۸
د "صَدْع" معنی ...... ۵۷۸
مسخره کوونکي څوک وه؟ ...... ۵۷۸
د غمونو څخه د نجات طریقه ...... ۵۷۹


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سک




Downloaded from ...com